# فتح الهداية

# هدایة

د اول ځل لپاره په آسانه معیاري پښتو
د هدایې یوه جامع شرحه

ژباړه او ترتیب

مولوي حبيب الرحمن مدني

صداقت کتبخانه
کندهار

وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ [القرآن]

# فتح الهداية

پښتو شرح

# هدايه

د اول ټل لپاره په آسانه معياري پښتو

د هدايې يوه جامع شرحه




ژباړه او ترتيب:


مولوی حبيب الرحمن مدني

فاضل وفاق المدارس العربية



صداقت کتب خانه- کندهار

بسم الله الرحمن الرحيم



## د کتاب پېژندنه


❁ د کتاب نوم : **فتح الهدايه پښتو شرح هدايه**

❁ ژباړه او ترتیب : مولوي حبيب الرحمن مدني

❁ ټوک : اتم

❁ خپرندوی : **صداقت کتب خانه**/ کندهار

❁ کمپوز/ ډيزاين : صداقت د کتاب چاپولو اداره

❁ د چاپ کال : ۱۳۹۸ ل./ ۱٤٤٠ هـ.ق. / ۲۰۱۹ م.

❁ چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه



د تر لاسه کولو ځای:

**صداقت کتب خانه**

کندهار - افغانستان

تليفون: ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

ايمېل: sadaqat.books@gmail.com

# فهرس



# بَابُ الْوَكَالَةِ بِالْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ

(دا) باب د خرڅولو او رانيولو د وكالت (په بيان كي) دى

## فَصْلٌ فِي الشِّرَاءِ

**تشريح**: څرنګه چي د وكالت په بابونو كي زيات ضرورت بيع وشراء ته پيښيږي، نو په همدې وجه صاحب د كتاب رَحِمَهُ الله "باب الوكالة بالبيع والشراء" د وكالت له نورو بابونو څخه مخكي كړى دى، او څرنګه چي په بيع وشراء كي زياتره وخت د شراء (رانيولو) لپاره وكيل ټاكل كيږي، نو ځكه يې "فصلٌ في الشّراء" تر "فصلٌ في البيع" مخكي بيان كړى دى. (عنايه وبنايه)

### د رانيولو په توكيل كي پر مؤكل د شي جنس او صفت بيانول ضروري دي

قَالَ: وَمَنْ وَكَّلَ رَجُلًا بِشِرَاءِ شَيْءٍ فرمايي: او كوم څوک چي يو سړى د يو شي د رانيولو وكيل جوړ كړي فَلَا بُدَّ مِنْ تَسْمِيَةِ جِنْسِهِ وَصِفَتِهِ أَوْ جِنْسِهِ وَمَبْلَغِ ثَمَنِهِ نو د هغه شي جنس او صفت يا د هغه جنس او د ثمن مقدار بيانول ضروري دي لِيَصِيرَ الْفِعْلُ الْمُوَكَّلُ بِهِ مَعْلُومًا د دې لپاره چي د كوم كار په باره كي چي وكيل جوړ سوى دى هغه كار معلوم وګرځي فَيُمْكِنُهُ الِائْتِمَارُ او [د مؤكل] د حكم پر ځاى كول ممكن سي [يعني د هغه كار كول ممكن وګرځي] إِلَّا أَنْ يُوَكِّلَهُ وَكَالَةً عَامَّةً فَيَقُولُ: ابْتَعْ لِي مَا رَأَيْتَ مګر دا چي مؤكل د عام وكالت په توګه هغه وكيل جوړ كړي او داسي ووايي: چي كوم څه ته مناسب وګڼې هغه زما لپاره رانيسه! لِأَنَّهُ فَوَّضَ الْأَمْرَ إِلَى رَأْيِهِ ځكه چي [په دې صورت كي] مؤكل معامله د وكيل رايي ته وسپارله فَأَيُّ شَيْءٍ يَشْتَرِيهِ يَكُونُ مُمْتَثِلًا نو ځكه كوم شى چي هم وكيل رانيسي، هغه به [د مؤكل] د حكم پر ځاى كونكى وي وَالْأَصْلُ فِيهِ أَنَّ الْجَهَالَةَ الْيَسِيرَةَ تُتَحَمَّلُ فِي الْوَكَالَةِ كَجَهَالَةِ الْوَصْفِ اسْتِحْسَانًا او د وكالت په باب كي قاعده دا ده چي معمولي جهالت استحسانًا په وكالت كي برداشت كيږي لِأَنَّ مَبْنَى التَّوْكِيلِ عَلَى التَّوْسِعَةِ ځكه چي د وكيل

جوړولو مدار پر وسعت [پراخی] دی لِأَنَّهُ اسْتِعَانَةٌ ځکه وکيل جوړول [ګواکي] مرسته غوښتل دي وَفِي اعْتِبَارِ هٰذَا الشَّرْطِ بَعْضُ الْحَرَجِ او د دې شرط په اعتبار کولو کي څه حرج دی وَهُوَ مَدْفُوعٌ او حرج [په شريعت کي] اليري کړی سوی دی.

**اللغات**: ﴿جنس﴾ منطقي لفظ دی، مثلاً غوا يو جنس دی چي په هغه کي مختلفه قسمه غواوي شاملي دي، لکه ولايتي غوا، جرمني غوا او داسي نور نسلونه، "نوع" يو قسم ته وايي، مثلاً ولايتي غوا يو نوع ده، "صفة" يعني ښه والي (اصلي والي) او بد والی چي دا غوا ښه ده يا د مينځوی درجې ده يا کمزوري غوا ده، وروسته به ذکر سي چي له صفة څخه مراد "نوع" ده، ﴿مبلغ﴾ مقدار، ﴿موکل به﴾ د کوم کار او شي لپاره چي يو څوک وکيل جوړ سوی وي، ﴿ايتمار﴾ په اصل کي إِئْتِمَار دی: امر منل (حکم منل)، اطاعت کول، حکم پر ځای کول، ﴿مبنٰی﴾ بنياد، مدار، ﴿ممتثل﴾ د افتعال د باب فاعل دی: حکم پر ځای کونکی، حکم پوره کونکی، ﴿تتحمّل﴾ د تفعّل له بابه د مضارع صيغه ده: زغمل کېدل، برداشت کېدل، ﴿توسعة﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: پراخي کول، پراختيا، ﴿استعانة﴾ د استفعال د باب مصدر دی: د مدد طلب کول، مرسته او کومک غوښتل.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی بل څوک د يو شي د رانيولو وکيل جوړ کړي (چي زما لپاره فلانکی شی رانيسه!)، نو د مؤکل لپاره ضروري ده چي وکيل ته د هغه شي جنس او صفت ور وښيي يا د هغه جنس او د قيمت مقدار ور وښيي، مثلاً که د موټر رانيولو وکيل يې جوړ کړي نو د هغه د ماډل (model) نوم دي ور وښيي چي فلانکی قسم موټر، او د کمپني نوم او جوړ دي ور وښيي چي د چين يا جاپان جوړ سوی موټر، يا مثلاً د هغه ماډل او قيمت دي ور وښيي چي په درې لکه يې رانيسه! (يا مثلاً د غوا د رانيولو وکيل يې جوړ کړي کوم چي مونږ ضمناً په لغاتو کي ذکر کړه)؛ دليل دا دی چي د کوم شي لپاره چي وکيل جوړ سوی وي او وکيل ته چي د کوم کار حکم سوی وي، د هغه تر سره کول په هغه وخت کي د وکيل لپاره ممکن دي کله چي وکيل ته هغه کار (موکّل به) معلوم وي، او ښکاره خبره ده چي د جنس او صفت يا د جنس او قيمت په بيانولو سره هغه معلوميږي، نو ځکه د مؤکل لپاره دا ضروري ده چي د شي جنس او صفت وکيل ته ور وښيي.

ها! که چيري مؤکل يو څوک د عام وکالت په توګه وکيل جوړ کړي او داسي ووايي چي "هر شی تا ته مناسب او خوندور معلوم سي هغه زما لپاره رانيسه!"، نو په دې صورت کي د مؤکل لپاره د

شي جنس او صفت بيانول ضروري نه دي او وكيل چي هر شى هم رانيسي نو هغه به د مؤكل د حكم پر ځاى كونكى او د وكالت پوره كونكى شمارل كيږي.

**والأصل فيه إلخ:** صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د وكالت په باب كي يوه قاعده بيانوي فرمايي چي په وكالت كي استحساناً معمولي (لږ غوندي) جهالت برداشت كيږي، له معمولي جهالت څخه مراد د وصف جهالت دى، مثلاً مؤكل وكيل ته ووايي چي فلانكى قسم موټر رانيسه لېكن د موټر د كمپنى نوم نه ورو ښيي، نو كه څه هم په دې كي د وصف جهالت سته لېكن دا جهالت د وكالت له صحت (صحيح والي) څخه مانع نه دى؛ دليل دا دى چي د وكالت دار ومدار پر وسعت دى، ځكه چي په وكالت كي له بل چا څخه مرسته غوښتل كيږي او په مرسته غوښتلو كي ډېر وسعت او آساني كيږي. لهذا اوس كه موږ په دې كي معمولي جهالت معاف نه كړو، نو حرج او ضرر به لازم سي، حال دا چي په شريعت كي د حرج ګنجايش نسته.

## د مبهم توكيل حكم

ثُمَّ إِنْ كَانَ اللَّفْظُ يَجْمَعُ أَجْنَاسًا أَوْ مَا هُوَ فِي مَعْنَى الْأَجْنَاسِ بيا كه [موكل به] لفظ څو جنسونو لره شامل وي يا هغه شي لره شامل وي كوم چي د څو جنسونو په معنىٰ سره وي لَا يَصِحُّ التَّوْكِيلُ نو دا توكيل [وكيل جوړول] نه صحيح كيږي وَإِنْ بَيَّنَ الثَّمَنَ كه څه هم ثمن بيان كړي لِأَنَّ بِذَلِكَ الثَّمَنِ يُوجَدُ مِنْ كُلِّ جِنْسٍ ځكه چي د دې ثمن په عوض كي له هر جنس څخه [شى] پيدا كيږي فَلَا يُدْرَى مُرَادُ الْآمِرِ نو ځكه د مؤكل مراد به معلوم نه وي لِتَفَاحُشِ الْجَهَالَةِ د فاحش [زيات] جهالت په وجه وَإِنْ كَانَ جِنْسًا يَجْمَعُ أَنْوَاعًا او كه داسي جنس وي كوم چي څو انواعو [اقسامو] لره شامل وي لَا يَصِحُّ إِلَّا بِبَيَانِ الثَّمَنِ أَوْ النَّوْعِ نو توكيل نه صحيح كيږي مګر د نوع يا ثمن په بيانولو سره لِأَنَّهُ بِتَقْدِيرِ الثَّمَنِ يَصِيرُ النَّوْعُ مَعْلُومًا ځكه چي د ثمن په اندازه كولو [بيانولو] سره نوع معلومه ګرځي وَبِذِكْرِ النَّوْعِ تَقِلُّ الْجَهَالَةُ او د نوع په ذكر كولو سره جهالت كميږي فَلَا تَمْنَعُ الِامْتِثَالَ نو ځكه دا جهالت به [د مؤكل د حكم له پوره كولو څخه] مانع نه وي مِثَالُهُ: إِذَا وَكَّلَهُ بِشِرَاءِ عَبْدٍ أَوْ جَارِيَةٍ د دې مثال دا دى: لكه كله چي مؤكل د غلام يا مينځي د رانيولو لپاره يو څوک وكيل جوړ كړي لَا يَصِحُّ نو دا توكيل صحيح نه دى لِأَنَّهُ يَشْمَلُ أَنْوَاعًا ځكه چي دا ډېرو انواعو لره شامل دى فَإِنْ بَيَّنَ النَّوْعَ كَالتُّرْكِيِّ أَوْ

الْحَبَشِيِّ أَوِ الْهِنْدِيِّ أَوِ السِّنْدِيِّ أَوِ الْمُوَلَّدِ [لېکن] که چیري مؤکل نوع بیان کړي مثلاً ترکي یا حبشي یا هندي یا سندي یا مولد غلام جَازَ نو دا توکیل جائز دی وَكَذَا إِذَا بَيَّنَ الثَّمَنَ او همدارنګه کله چې ثمن بیان کړي [نو هم توکیل جائز دی] لِمَا ذَكَرْنَاهُ د هغه دلیل په وجه کوم چې مونږ ذکر کړی وَلَوْ بَيَّنَ النَّوْعَ أَوِ الثَّمَنَ وَلَمْ يُبَيِّنِ الصِّفَةَ وَالْجَوْدَةَ وَالرَّدَاءَةَ وَالسِّطَةَ او که چیري نوع یا ثمن بیان کړي او صفت، ښه والی، بدوالی او متوسط والی بیان نه کړي جَازَ نو [هم] جائز دی لِأَنَّهُ جَهَالَةٌ مُسْتَدْرَكَةٌ ځکه چې دا جهالت قابل د تلافی دی [یعني د دې جهالت تلافي او تدارک ممکن دی، د مؤکل حالت ته په کتلو سره، مطلب دا چې دا معمولي جهالت (جهالت یسیره) دی] وَمُرَادُهُ مِنَ الصِّفَةِ الْمَذْكُورَةِ فِي الْكِتَابِ النَّوْعُ او په کتاب [متن] کې چې کوم "صفة" ذکر سوی دی له هغه څخه د امام قدوري رَحِمَهُ الله مراد "نوع" ده.

**اللغات**: ﴿لا يُدْرَى﴾ د ضرب د باب مضارع مجهوله ده: نه خبرېدل، نه معلومېدل، ﴿تفاحش﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: زیات واضح کېدل، ډېر بدېدل، ﴿سِطَةٌ﴾ له "وسط" څخه مشتق دی لکه عِدَةٌ چې له "وعد" څخه مشتق دی، متوسط والی (درمیانه والی)، متوسطه درجې والا، ﴿مستدركة﴾ د استفعال د باب مفعول دی: قابل د تدارک، هغه شی چې تلافي (جبران) یې ممکن وي، مراد ځني معمولي جهالت دی (احسن الهدایه، اثمار الهدایه)، ﴿مولّد﴾ مراد ځني هغه غلام دی کوم چې په دارُ الاسلام (اسلامي مملکت) کې پیدا سوی وي، هسې خو د دې لفظ څو تعریفونه ذکر سوي دي: ① هغه عجمي کس ته وایي چې تربیه او پالنه یې په عربو کې وسي او په عربو کې راغټ سي او د هغو په آدابو او طریقو سره مزین سي، ② نا خالص عربی (العربي غیر المحض)، چې فقط مور یا پلار یې عربی وي، ③ دوه تخمه کس چې مثلاً پلار یې هندی وي او مور یې حبشی وي.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که مؤکل مثلاً وکیل ته داسې ووایي چې زما لپاره یو "څاروی" (حیوان) رانیسه!، نو وکالت نه صحیح کېږي؛ ځکه چې د "څاروي" په لفظ کې ډېر اجناس شامل دي، مثلاً غوا، ګامېښه، آس، خر او داسې نور ټولو ته "څاروی" وایي او دا ټول جلا جلا جنسونه دي، یا مثلاً مؤکل داسې لفظ ذکر کړي چې د اجناسو په معنیٰ سره وي لکه کور (دَار)، لنډه دا چې په دې دواړو صورتونو کې توکیل صحیح نه دی، که څه هم مؤکل وکیل ته د ثمن مقدار ور وښیي چې مثلاً د پنځلس سوه درهمو څاروی یا کور (دَار) رانیسه!؛ ځکه مؤکل چې کوم ثمن بیان کړی دی په

هغه سره هم مطلب او مراد پوره نه ښکاره کيږي، ځکه چي د دومره ثمن شی په هر جنس کي سته (يعني په دومره ثمن سره ګران قيمته غوا هم پيداکيږي، آس هم پيدا کيږي او داسي نور)، لهذا تر څو چي د مؤکل مراد ښکاره نه سي تر هغه وخته د مؤکل پر حکم عمل کول مشکل دي، نو ځکه دا توکيل به صحيح نه وي.

وإن كان جنسا يجمع أنواعاً إلخ: فرمايي که مؤکل يو داسي لفظ ذکر کړي کوم چي ډېرو انواعو (اقسامو) لره شامل وي، نو د دې دوه صورتونه دي: ① مؤکل به د هغه لفظ يو نوع يا ثمن ذکر کړی وي، ② يا به يې نه وي ذکر کړی، که چيري دويم صورت وي يعني مؤکل يو نوع او ثمن نه وي ذکر کړی، نو توکيل نه صحيح کيږي، ځکه چي د مؤکل مراد مجهول پاته سو. او که چيري اول صورت وي يعني مؤکل د هغه لفظ يو نوع يا ثمن ذکر کړی وي، نو توکيل صحيح کيږي؛ ځکه چي د نوع په ذکر کولو سره جهالت ختميږي او د ثمن په ذکر کولو سره د نوع پته لګيږي (او اندازه يې معلوميږي) چي د مؤکل مراد او مطلب دغه شی دی، لهذا په دې صورت کي د وکيل لپاره د مؤکل پر حکم عمل کول ممکن ګرځي، نو ځکه دا توکيل به صحيح وي.

د دې مثال دا دی لکه يو سړی چي بل څوک د غلام رانيولو وکيل جوړ کړي (چي زما لپاره غلام رانيسه!)، نو د غلام لفظ جنس دی چي تر هغه لاندي ډېر انواع راځي مثلاً تُرکي غلام، حبشي، هندي، سندي، مولد غلام، نو که هغه سړی له پورتني دوو شيانو (نوع او ثمن) څخه يو شی ذکر کړي، مثلاً نوع ذکر کړي چي هندي غلام رانيسه! نو دا توکيل صحيح کيږي. يا د غلام قيمت بيان کړي چي درې سوه درهمو والا غلام رانيسه!، نو څرنګه چي په قيمت سره هم د نوع پته لګيږي چي مثلاً په درې سوه درهمه فقط هندي غلام رانيول کېدای سي، نو ځکه په دې صورت کي هم توکيل صحيح کيږي، ځکه چي اوس فقط معمولي جهالت پاته دی، او د وکالت په باب کي معمولي جهالت برداشت کيږي، لېکن که مؤکل له دغه دوو شيانو څخه يو شی هم ذکر نه کړي، فقط جنس ذکر کړي، نو توکيل نه صحيح کيږي؛ ځکه چي په دې صورت کي جهالت فاحش او کامل دی.

ومراده إلخ: فرمايي چي په قدوري (متن) کي چي کوم د "صفة" لفظ ذکر سوی دی، په هغه سره د امام قدوري رَحِمَهُ الله مراد "نوع" ده؛ او دغه وضاحت ته ځکه ضرورت پيښ سو چي صاحب د هدايې او نورو فقهاؤ د جنس او نوع بيانول ضروري ګرځولي دي، نو ځکه د "صفة" په لفظ سره به "نوع" مرادول کيږي، د دې لپاره چي د امام قدوري او د نورو فقهاؤ رايه سره متحده سي. (عنايه وبنايه)

## د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ: وَمَنْ قَالَ لِآخَرَ: اِشْتَرِ لِيْ ثَوْبًا أَوْ دَابَّةً أَوْ دَارًا او په جامع صغیر کې [ذکر سوي] دي: څوک چې بل چا ته ووايي: ته زما لپاره کپړه یا دابه یا کور رانیسه فَالْوَكَالَةُ بَاطِلَةٌ لِلْجَهَالَةِ الْفَاحِشَةِ نو د فاحش جهالت په وجه دا وکالت باطل دی فَإِنَّ الدَّابَّةَ فِي حَقِيقَةِ اللُّغَةِ اسْمٌ لِمَا يَدِبُّ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ ځکه چې د حقیقتِ لغوي په اعتبار سره "دابه" د [هر] هغه شي نوم دی کوم چې د ځمکې پر مخ ګرځي وَفِي الْعُرْفِ يُطْلَقُ عَلَى الْخَيْلِ وَالْحِمَارِ وَالْبَغْلِ او په عُرف کې د "دابه" اطلاق پر آس، خره او غاترې کیږي فَقَدْ جَمَعَ أَجْنَاسًا نو دا لفظ څو جنسونو لره شامل دی وَكَذَا الثَّوْبُ او کپړه هم داسې ده [یعنې هغه هم څو جنسولو لره شامله ده] لِأَنَّهُ يَتَنَاوَلُ الْمَلْبُوسَ مِنَ الْأَطْلَسِ إِلَى الْكِسَاءِ ځکه چې کپړه له ورېښمي کپړې څخه تر ادنیٰ کپړې پورې هر ډول جامې لره شامله ده [یعنې کپړه هم له اعلیٰ څخه واخله تر ادنیٰ پورې هر ډول کپړو لره شامله ده] وَلِهَذَا لَا يَصِحُّ تَسْمِيَتُهُ مَهْرًا او په همدې وجه کپړه د مهر په توګه ټاکل صحیح نه دي وَكَذَا الدَّارُ تَشْمَلُ مَا هُوَ فِي مَعْنَى الْأَجْنَاسِ او همدارنګه کور [یعنې د کور لفظ] هم هغه شیانو لره شامل دی کوم چې د څو جنسونو په معنیٰ سره دي لِأَنَّهَا تَخْتَلِفُ اخْتِلَافًا فَاحِشًا بِاخْتِلَافِ الْأَغْرَاضِ وَالْجِيْرَانِ وَالْمَرَافِقِ وَالْمَحَالِّ وَالْبُلْدَانِ ځکه چې کور د مقاصدو، همسایه ګانو، منافعو، محلو او ښارونو په اختلاف [بدلون] سره ډېر زیات مختلف کیږي فَيَتَعَذَّرُ الِامْتِثَالُ نو ځکه [د مؤکل] د حکم پر ځای کول به ناممکن وي.

**اللغات**: ﴿دابّة﴾ په عرف کې څاروي ته وايي، سپارلی. ﴿یدبّ﴾ د نصر مضاع ده: تلل، تګ کول. ﴿بغل﴾ غاتره (خچره). ﴿أطلس﴾ د دې لفظ څو معناوې دي چې له هغه څخه یوه معنیٰ ده: ورېښمي کپړه (له ورېښمو څخه جوړه سوې کپړه)، مراد ځنې اعلیٰ کپړه ده. ﴿کساء﴾ عامه کپړه (کوم چې هر ځای رائج ده)، مراد ځنې ادنیٰ کپړه یعنې کم قیمت والا کپړه ده. ﴿امتثال﴾ د افتعال د باب مصدر دی: حکم پر ځای کول (حکم پوره کول)، اطاعت کول.

**تشریح**: په تېر عبارت کې صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د قدوري په حواله سره دا خبره بیان کړه چې که مؤکل داسې لفظ ذکر کړي کوم چې اجناسو لره شامل وي یا هغه شي لره شامل وي کوم چې د اجناسو

په معنیٰ سره وي، نو توکيل صحيح نه دی، اوس په دې عبارت کې هماغه خبره او مضمون د جامع صغير په حواله سره بيانوي، نو فرمايي: په جامع صغير کې ذکر سوي دي چې که موکل وکيل ته داسي ووايي: ''ته زما لپاره کپړه يا دابّه يا کور رانيسه''. نو په دې صورت کې توکيل باطل دی؛ ځکه دلته چې کوم شی موکل بِهٖ دي يعني کپړه، دابّه او کور، دا هر شی ډېرو اجناسو لره شامل دی، او څرنګه چې د مؤکل له طرفه د هيڅ جنس تعيين نه دی سوی، نو د هغوی جهالت به فاحش وي او له اُمتثالُ الامر (حکم پر ځای کولو) څخه به مانع وي، او کله چې د هغوی جهالت (مجهول والی) له امتثالُ الامرِ څخه مانع دی، نو ښکاره خبره ده چې وکالت به هم صحيح نه وي.

''دابّه'' خو ځکه ډېرو اجناسو لره شامله ده چې د ''دَابّـةٌ'' لغوي معنیٰ ده ''هر هغه ساکښ کوم چې د ځمکي پر مخ ګرځي'' او ښکاره ده چې د ځمکي پر مخ بيخي ډېر شيان ګرځي، همدارنګه په عرف او اصطلاح کي د ''دَابّةٌ'' لفظ د مختلفو څارويو لپاره استعماليږي، مثلاً غوا، ګامېښه، آس، خر او داسي نور، او ښکاره خبره ده چې د دې ټولو جنسونه سره جلا ''مختلفُ الاجناس'' دي، همدارنګه د ''ثَوْب'' (کپړې) لفظ هم د هر ډول اغوستل کېدونکي کپړې لپاره استعماليږي، او تاسو ته معلومه چې په کپړه کي هم مختلف جنسونه سته کوم چې يو له بل څخه جلا دي او ځيني اعلیٰ او ځيني ادنیٰ دي، نو دا لفظ هم ''مختلفُ الاجناس'' شيانو لره شامل دی، نو ځکه د دې لفظ جهالت به هم فاحش او کامل وي. همدا وجه ده چې کپړه په مهر کي ټاکل صحيح نه دي.

همدارنګه د ''دَار'' (کور) لفظ که څه هم مختلف الاجناس (مختلفه اجناسو) لره شامل نه دی، خو هغه د داسي ځايو لپاره استعماليږي کوم چې د مختلف الاجناس په معنیٰ سره دي؛ ځکه چې د استوګني، جوړښت، ښايست په اعتبار سره، همدارنګه بازار ته د نږدې کېدلو، ليري کېدلو، د صحرا، ښار او د داسي نورو اغراضو په اعتبار سره کورونه هم يو له بل څخه ډېر جلا وي او د هغو قيمتونه هم ډېر سره جلا وي، لهذا د ''دَار'' په مطلق لفظ سره نه د مؤکل مراد ښکاره کيږي او نه د وکيل لپاره د هغه حکم پر ځای کول ممکن دي، همداسي د ''ثَوب'' او ''دَابّـه'' مطلق الفاظ هم داسي دي چې په هغه سره نه د مؤکل مراد ښکاره کيږي او نه د هغه د حکم پر ځای کول ممکن دي، حال دا چې د وکالت مقصد همدا دی، لهذا کله چې په دې صورت کي ګرسره د وکالت مقصد فوتيږي، نو ښکاره خبره ده چې وکالت به هم باطل او ناجائز وي.

## د ثمن او نوع بیانولو حکم

قَالَ: وَإِنْ سَمّٰى ثَمَنَ الدَّارِ وَوَصَفَ جِنْسَ الدَّارِ وَالثَّوْبِ فرمايي: او كه چيري موكل د كور ثمن بيان كړي او د كور او كپړې جنس بيان كړي جَازَ نو توكيل جائز دى مَعْنَاهُ نَوْعَهُ د دې معنىٰ ده د هغه نوع [يعني له وصف څخه نوع مراد ده] وَكَذَا إِذَا سَمّٰى نَوْعَ الدَّابَّةِ بِأَنْ قَالَ: حِمَارًا أَوْ نَحْوَهُ او همدارنګه كله چي د "دابه" نوع بيان كړي په دې توګه چي مؤكل ووايي: خر او داسي نور.

**اللغات**: ﴿ثمن﴾ قيمت، ﴿دابة﴾ څاروى، سپارلۍ.

**تشريح**: **صورت د مسئلي**: دا دى كه مؤكل د موكل به يعني د "دَار"، "دابه" او "ثوب" قيمت او نوع بيان كړي او وكيل ته مثلاً داسي ووايي چي دومره خونو (كمرو) والا او دومره قيمت والا كور په فلانكي ښار يا محله كي رانيسه!، يا د پنځلس سوه درهمو والا خر يا آس رانيسه!، يا سل ګزه د "اريش" كپړه رانيسه!، نو په دغو ټولو صورتونو كي توكيل جائز دى؛ دليل دا دى چي د ثمن او نوع په بيانولو سره د مؤكل مراد هم ښكاره سو او د موكل به جهالت هم كم سو، او كوم څه معمولي جهالت چي پاته دى هغه د وكالت له صحت څخه مانع نه دى، نو ځكه په دې صورت كي وكالت جائز او صحيح دى.

## د طعام په توكيل كي څه شي داخليږي؟

قَالَ: وَمَنْ دَفَعَ إِلٰى آخَرَ دَرَاهِمَ وَقَالَ: اِشْتَرِ لِي بِهَا طَعَامًا فرمايي: او څوك چي بل چا ته يو څو دراهم وركړي او ووايي: چي په دې سره زما لپاره "طعام" رانيسه! فَهُوَ عَلَى الْحِنْطَةِ وَدَقِيقِهَا اِسْتِحْسَانًا نو دا [لفظ او وكالت] استحساناً پر غنمو او د هغه پر اُوړو واقع كيږي وَالْقِيَاسُ أَنْ يَكُونَ عَلٰى كُلِّ مَطْعُومٍ اعْتِبَارًا لِلْحَقِيقَةِ او قياس دا دى چي پر هر خوړل كېدونكي شي واقع سي، د حقيقت په اعتبار كولو سره كَمَا فِي الْيَمِينِ عَلَى الْأَكْلِ لكه پر خوراک د قسم اخيستلو په صورت كي [يعني كه يو څوک قسم واخلي چي په الله قسم! "طعام" به نه خورم نو دا قسم پر هر مطعوم واقع كيږي] إِذِ الطَّعَامُ اسْمٌ لِمَا يُطْعَمُ ځكه چي "طعام" د [هر] هغه شي نوم دى كوم چي خوړل كيږي وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ الْعُرْفَ أَمْلَكُ ځكه چي عرف زيات قوي [او زيات راجح] دى [د قياس په نسبت] وَهُوَ عَلٰى مَا ذَكَرْنَاهُ إِذَا ذُكِرَ مَقْرُونًا بِالْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ او عرف پر هغه شي دى كوم چي موږ ذكر كړى [يعني حنطة او دقيق] كله چي [د

طعام لفظ ] د خرڅولو او رانیولو سره متصل ذکر سي وَلَا عُرْفَ فِي الْأَكْلِ او په "اکل" (خوړلو) کي هيڅ عرف نسته فَبَقِيَ عَلَى الْوَضْعِ نو ځکه هغه به پر خپل اصل وضع باقي پاتيږي وَقِيْلَ: إِنْ كَثُرَتِ الدَّرَاهِمُ فَعَلَى الْحِنْطَةِ او ويل سوي دي: چي که دراهم ډېر وي نو [وکالت] پر غنمو واقع کيږي وَإِنْ قَلَّتْ او که دراهم لږ وي فَعَلَى الْخُبْزِ نو پر ډوډيو واقع کيږي وَإِنْ كَانَ فِيمَا بَيْنَ ذٰلِكَ او که د ډېر او لږ په مينځ کي وي فَعَلَى الدَّقِيْقِ ❁ نو پر اُوړو واقع کيږي.

**اللغات**: ﴿دقيق﴾اوړه. ﴿خبز﴾ مفرد يې "خُبْزَةٌ" راځي: ډوډۍ (له اُوړو څخه پخه سوې روټۍ).

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی بل چا ته يو څو دراهم ورکړي او هغه ته ووايي چي "ته په دې سره ما ته طعام رانيسه!" يعني د "طعام" لفظ ووايي، نو په داسي وکيل جوړولو کي د استحسان او قياس دوې جلا نظريې دي، يعني استحساناً دا وکالت د غنمو او د هغه د اُوړو سره خاص دی او وکيل ته په دې دواړو کي ديوه شي د رانيولو اجازت سته، لېکن د قياس تقاضا دا ده چي وکيل ته د هر هغه شي د رانيولو اجازت سته کوم چي د غذا (خوراک) په توګه خوړل کيږي؛ ځکه چي د "طعام" لفظ د هر خوړل کېدونکي (مطعوم) شي لپاره استعماليږي او همدا د هغه لغوي حقيقت دی، نو ځکه د دې حقيقت په اعتبار کولو سره به پر هر مطعوم شي د هغه اطلاق کيږي، مثلاً که څوک دا قسم واخلي چي "لَا آكُلُ طَعَاماً" (زه به "طعام" نه خورم)، نو په دې قسم کي د "طعام" لفظ عام دی او د هر مطعوم شي په خوړلو سره قسم اخيستونکی سړی حانث کيږي، برابره هغه غنم يا اُوړه وي يا له دې څخه بغير نور مطعومات وي، نو له دې څخه هم معلومه سوه چي د "طعام" لفظ عام دی، لهٰذا څرنګه چي په قسم کي د "طعام" لفظ ټولو مطعوماتو لره شامل دی، همداسي به په وکالت کي هم قياساً هغه هر ډول مطعوماتو لره شامل وي.

د دې په خلاف په استحسان کي د "طعام" لفظ د غنمو او د اُوړو سره خاص کړل سوی دی، د استحسان دليل دا دی چي که په عرف عام کي د "طعام" د رانيولو يا خرڅولو خبره وسي نو له هغه څخه غنم يا اُوړه مراديږي، او څرنګه چي عرف له قياس څخه زيات قوي دی، نو ځکه دلته به د عرف اعتبار کيږي او له "طعام" څخه به غنم يا د هغه اُوړه مرادول کيږي او وکيل ته به فقط د همدې دوو شيانو د رانيولو اجازت وي. د دې په خلاف د "أَكْل" (خوړلو) په باره کي هيڅ عرف نسته يعني په

---

❁ **القول الراجح**: هو العمل بالعرف، كما قال صاحب الدر المختار:... وقع في عرفنا على المعتاد المهيّأ للأكل من كل مطعوم يمكن أكله بلا إدام وبه قالت الثلاثة وبه يُفتى (الدر المختار ج:۴، ص:۴۴۸). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۵۱]

"لَا آكُلُ طَعَاماً" كي هيڅ عرف نسته او هغه بله هيڅ عرفي معنیٰ نه لري، نو ځکه د "عدم اكل" (نه خوړلو) د قسم په صورت كي به د طعام لفظ پر خپل اصل وضع يعني پر "اِسمٌ لِمَا يُطعم" باقي پاتيږي او د هر مطعوم په خوړلو سره به قسم اخيستونكى حانث كيږي. لېكن دا خبره په يادلرئ! چي د هر ښار او د هري زمانې عرف جلا جلا وي، او صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله چي دلته كوم عرف بيان كړى دى، له هغه څخه د اهل كوفه (كوفيانو) عرف مراد دى چي هغو به د "طعام" لفظ د غنمو او اوړو لپاره استعمالوى او د "سوقُ الطعام" په نامه سره د هغو يو بازار هم وو چي په هغه كي به اوړه او غنم خرڅول كېدل. كنې د زياتره قومونو او ملكونو په عرف كي د "طعام" لفظ د هر مطعوم لپاره استعماليږي، لكه څرنگه چي همدا د قياس تقاضا ده. (بنايه ج: ٨. ص: ٢٩٠. وهكذا في فتح القدير)

وقيل إلخ: دا قول د فقيه ابو جعفر هندواني رَحِمَهُ الله وطرف ته منسوب دى. حاصل يې دا دى چي كه مؤكل يو څوك د "طعام" رانيولو وكيل جوړ كړي او ډېر دراهم وركړي، نو په دې صورت كي وكالت پر غنمو واقع كيږي. او كه لږ دراهم وركړي، نو وكالت پر ډوډيو (روټيانو) واقع كيږي. او كه درميانه مقدار والا دراهم وركړي، نو په دې صورت كي وكالت د اوړو پر رانيولو واقع كيږي. لېكن دا د فقيه ابو جعفر صاحب خپله ذاتي رايه ده او كېداى سي چي همداسي به د هغو عرف وو. والله أعلم

## د وكيل د خيارِ عيب بيان

قَالَ: وَإِذَا اشْتَرَى الْوَكِيْلُ وَقَبَضَ فرمايي: او كله چي وكيل يو شى رانيسي او [پر هغه] قبضه وكړي ثُمَّ اطَّلَعَ عَلَى عَيْبٍ بيا په يو عيب خبر سي فَلَهُ أَنْ يَرُدَّهُ بِالْعَيْبِ مَا دَامَ الْمَبِيعُ فِي يَدِهِ نو وكيل ته دا اختيار سته چي د عيب په وجه هغه شى [مبيع] واپس كړي، تر څو چي مبيع د هغه په قبضه كي وي لِأَنَّهُ مِنْ حُقُوقِ الْعَقْدِ ځكه چي دا [د عيب په وجه واپس كول] د عقد له حقوقو څخه دي وَهِيَ كُلُّهَا إِلَيْهِ او د عقد ټوله حقوق د وكيل وطرف ته راجع كيږي فَإِنْ سَلَّمَهُ إِلَى الْمُوَكِّلِ لېكن كه وكيل مبيع مؤكل ته وسپاري لَمْ يَرُدَّهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ نو [په دې صورت كي] وكيل هغه د مؤكل له اجازت څخه بغير نه سي واپس كولاى لِأَنَّهُ انْتَهَى حُكْمُ الْوَكَالَةِ ځكه چي د وكالت حكم پوره سو وَلِأَنَّ فِيهِ إِبْطَالَ يَدِهِ الْحَقِيقِيَّةِ او ځكه چي په واپس كولو كي د مؤكل د حقيقي قبضې باطلول سته فَلَا يَتَمَكَّنُ مِنْهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ نو ځكه هغه به فقط د مؤكل په اجازت سره پر دې [باطلولو] قادر كيږي وَلِهَذَا كَانَ خَصْمًا لِمَنْ

يَدَّعِيَ فِي الْمُشْتَرَى دَعْوَى كَالشَّفِيعِ وَغَيْرِهِ قَبْلَ التَّسْلِيمِ إِلَى الْمُوَكِّلِ او په همدې وجه مؤکل ته د مبيع تر ورسپارلو مخکې وکيل د هغه کس خصم ګرځي کوم چې په رانيول سوي شي [مبيع] کې يو دعویٰ وکړي لکه شفيع او داسې نور لَا بَعْدَهُ او تر ورسپارلو وروسته وکيل خصم [مدعیٰ عليه] نه ګرځي.

**اللغات:** ﴿يردّه﴾ د نصر د باب مضارع ده: واپس کول. ﴿ما دام﴾ تر څو چې وي. ﴿إذن﴾ اجازت، اجازه. ﴿انتهٰى﴾ د افتعال د باب ماضي ده: ختمېدل، پوره کېدل. ﴿لا يتمكّن منه﴾ د دغه باب په صِله کې چې "مِنْ" ذکر سي نو معنیٰ يې ده: قادر کېدل (قدرت پيدا کول)، کامياب کېدل. ﴿خصم﴾ د دعوې يو فريق، يعني مدعي يا مدعیٰ عليه. ﴿مشترٰى﴾ د افتعال د باب مفعول دی: رانيول سوی شی، يعني مبيع.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که وکيل له يو سړي څخه شی رانيوی او پر هغه يې قبضه وکړه، تر دې وروسته وکيل په هغه شي کې يو عيب وليدی، نو که چيري دا شی (مبيع) تر اوسه د وکيل په قبضه کې وي او مؤکل ته يې نه وي ورکړي، نو وکيل ته دا حق سته چې هغه (مبيع) د خيار عيب پر بناء بائع ته واپس کړي؛ ځکه چې د خيار عيب پر بناء مبيع واپس کول د عقد له حقوقو څخه يو حق دی، او د عقد ټوله حقوق د عاقد وطرف ته راجع کيږي او عاقد وکيل دی، نو ځکه وکيل ته به د هغه د واپس کولو حق او اجازت وي.

او که چيري وکيل هغه شی (مبيع) مؤکل ته وسپاری، نو په دې صورت کې د مؤکل له اجازت څخه بغير وکيل ته د هغه د واپس کولو حق نسته؛ ځکه چې مؤکل ته د مبيع په ورسپارلو سره د وکالت حکم پوره سو او وکالت ختم سو، نو ځکه اوس وکيل په دې بيع وشراء کې د اجنبي سړي (غيرِ عاقد) په څېر سو، او د اجنبي سړي لپاره دا اختيار نسته چې د بل چا په مال کې د هغه له اجازت څخه بغير تصرف وکړي، نو ځکه په دې مسئله کې به هم د مؤکل له اجازت څخه بغير د وکيل لپاره مبيع واپس کول صحيح او جائز نه وي.

دويم دليل دا دی چې کله وکيل مبيع مؤکل ته وسپارله نو پر مبيع د مؤکل حقيقي قبضه راغله، نو اوس که د مؤکل له اجازت څخه بغير وکيل دا مبيع وبائع ته وسپاري نو ښکاره خبره ده چې هغه به د مؤکل د حقيقي قبضې فوتونکی وګرځي، حالانکې د وکيل لپاره داسې کول صحيح نه دي، نو ځکه په دې حواله سره هم د مؤکل له اجازت څخه بغير وکيل هغه مبيع نه سي واپس کولای.

لهذا لو كان خصماً إلخ: څرنګه چي اوس ضمناً دا خبره ذکر سوه چي که مبيع د مؤکل په قبضه کي وي نو د عقد حقوق د هغه وطرف ته راجع کيږي او کله چي وکيل هغه مؤکل ته وسپاري نو وکالت ختميږي، نو اوس صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله پر همدې خبره تفريع کوي فرمايي چي که يو سړی د وکالت په مبيع (کور) کي د شفعي دعویٰ وکړي نو وکيل په هماغه صورت کي خصم (مدعیٰ عليه) ګرځي کله چي مبيع د هغه په قبضه کي وي، او که چيري مبيع د وکيل په قبضه کي نه وي بلکي د مؤکل په قبضه کي وي، نو په دې صورت کي وکيل خصم نه ګرځي بلکي هغه خلاصيږي او مؤکل خصم ګرځي.

## د بيع سَلم او بيع صَرف د توکيل بيان

قَالَ: وَيَجُوزُ التَّوْكِيلُ بِعَقْدِ الصَّرْفِ وَالسَّلَمِ فرمايي: او د بيع صَرف او بيع سَلم وکيل جوړول جائز دي لِأَنَّهُ عَقْدٌ يَمْلِكُهُ بِنَفْسِهِ ځکه چي دا يو داسي عقد دی کوم چي يې مؤکل په خپله [د کولو] ملکيت لري فَيَمْلِكُ التَّوْكِيلَ بِهِ نو ځکه د هغه د وکيل جوړولو ملکيت [اختيار] به هم لري عَلَىٰ مَا مَرَّ لکه مخکي چي تېر سوه وَمُرَادُهُ التَّوْكِيلُ بِالْإِسْلَامِ دُونَ قَبُولِ السَّلَمِ او د امام قدوري رَحِمَهُ الله مراد بيع سَلم کول دي، نه بيع سَلم قبلول لِأَنَّ ذٰلِكَ لَا يَجُوزُ ځکه چي دا جائز نه دي [يعني د بيع سَلم د قبول لپاره وکيل جوړول ناجائز او باطل دي] فَإِنَّ الْوَكِيلَ يَبِيعُ طَعَامًا فِي ذِمَّتِهِ عَلَىٰ أَنْ يَكُونَ الثَّمَنُ لِغَيْرِهِ ځکه [په دې صورت کي به] وکيل د هغه "طعام" خرڅونکي وي کوم چي د ده پر ذمه واجب وي پر دې شرط چي ثمن به د بل چا لپاره وي [يعني په دې صورت کي چي وکيل کوم شی خرڅوي هغه به د وکيل پر ذمه واجب وي او د هغه قيمت به د بل چا يعني د مؤکل لپاره وي] وَهٰذَا لَا يَجُوزُ او دا جائز نه دي.

**اللغات**: ﴿بيع صَرف﴾ بيع النقد بالنقد، يعني ثمن د ثمن په عوض کي خرڅول. ﴿بيع سلم﴾ بيع الاجل بالعاجل، يعني ځند من شی د نغد شي په عوض کي خرڅول. مثلاً يو سړی (بائع) له يو چا څخه ثمن في الحاله واخلي او د يوې مياشتي پر قرض غنم پر خرڅ کړي چي غنم يوه مياشت وروسته درکوم، په بيع سَلم کي ثمن ورکونکي (مشتري) ته ربُ السَلم وايي او خرڅونکي "غنم ورکونکي" (بائع) ته مسلم اليه وايي او په کوم شي کي چي بيع سَلم وسي لکه دلته چي غنم دي، هغه ته "مسلم فيه" وايي. په بيع سَلم او بيع صَرف کي دا ضروري ده چي په مجلس کي به دننه پر ثمن او عوض قبضه کېږي، کنی بيا هغه فسخ کيږي، ﴿طعام﴾ هر خوړل کېدونکی شی، هغه شی

چي خوراک څني حاصليږي لکه غنم، اوربشي او داسي نور. او د اهل حجار او اهل کوفه (عراق) په نېز "طعام" غنمو ته ويل کيږي کله چي دا لفظ مطلق ذکر سي. (مصباح منير، معجم وسيط)

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که يو سړی د بيع سَلم کولو يا د بيع صَرف کولو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي، نو دا توکيل جائز دی؛ ځکه کله چي مؤکل په خپله (بذات خود) د دې عقودو د کولو مالک دی (يعني دا ملکيت او اختيار لري چي په خپله دا عقدونه وکړي) نو ښکاره خبره ده چي هغه به د دې عقودو لپاره د وکيل جوړولو هم مالک وي او د هغه توکيل به جائز او صحيح وي؛ ځکه چي د مطلق بيع وشراء په څېر په دې عقدونو کي هم توکيل ته ضرورت پېښيږي، او د ضرورت پر بناء په ممنوعاتو کي هم جواز او روايښت سته نو په مباحاتو کي خو به په درجه اولیٰ جواز وي (يعني د ضرورت په وخت کي ممنوع امر هم جائز ګرځي نو ځکه مباح امر خو به په درجه اولیٰ جائز وي).

**ومرادہ التوكيل إلخ:** فرمايي: په متن کي چي د بيع سَلم د وکيل جوړولو (توکيل) کومه يادونه سوې ده، له هغه څخه د امام قدوري رَحِمَهُ الله مراد د بيع سَلم د کولو لپاره وکيل جوړول دي، نه د بيع سَلم د قبلولو لپاره، يعني ربُ السَلم د بيع سَلم د کولو لپاره بل څوک وکيل جوړولای سي، لېکن مسلم اليه د بيع سَلم د قبلولو لپاره بل څوک وکيل نه سي جوړولای؛ ځکه چي مسلم فيه د مسلم اليه پر ذمه قرض وي، لهذا اوس که مسلم اليه وکيل و ټاکل سي نو د هغه پر ذمه به هم مسلم فيه قرض وي او د وکيل او ربُ السَلم په مينځ کي به دا عقد پر دې شرط واقع سي چي د دې ثمن به د بل چا يعني د مؤکل لپاره وي او مبيع به د دې وکيل پر ذمه قرض وي، حالانکي داسي عقد کول جائز نه دي چي ثمن د بل چا لپاره وي او شی پر عاقد لازم وي، او څرنګه چي دا خرابي هغه وخت پيښيږي کله چي د بيع سَلم د قبلولو لپاره وکيل جوړ کړی سي، نو ځکه د هغه د قبلولو لپاره وکيل جوړول جائز نه دي.

## د پورتنی مسئلې بل صورت

فَإِنْ فَارَقَ الْوَكِيلُ صَاحِبَهُ قَبْلَ الْقَبْضِ او که [په بيع سَلم او بيع صَرف کي] تر قبضه کولو مخکي وکيل له خپل ملګري عاقد څخه جلا سي بَطَلَ الْعَقْدُ نو عقد باطليږي لِوُجُودِ الِافْتِرَاقِ مِنْ غَيْرِ قَبْضٍ ځکه چي [دلته] له قبضه کولو څخه بغير [د عاقدَينو] سره جلا کېدل موجود سوه وَلَا يُعْتَبَرُ مُفَارَقَةُ الْمُوَكِّلِ او د مؤکل جدايي لره هيڅ اعتبار نسته لِأَنَّهُ لَيْسَ بِعَاقِدٍ ځکه چي هغه عاقد نه دی وَالْمُسْتَحَقُّ بِالْعَقْدِ قَبْضُ الْعَاقِدِ او د عقد [بيع سَلم او بيع صَرف] په وجه چي کومه قبضه واجب ده هغه د عاقد قبضه ده [يعني د دې عقد په صورت کي د عاقد قبضه کول ضروري دي نه د غيرِ عاقد (مؤکل)] وَهُوَ الْوَكِيلُ او

عاقد وکیل دی فَیَصِحُّ قَبْضُهُ نو ځکه د هغه قبضه کول به صحیح وي وَإِنْ کَانَ لَا یَتَعَلَّقُ بِهِ الْحُقُوقُ که څه هم او وکیل داسې وي چې] د هغه سره حقوق نه متعلق کیږي کَالصَّبِيِّ وَالْعَبْدِ الْمَحْجُورِ عَلَیْهِ لکه کوچنی او محجور غلام بِخِلَافِ الرَّسُولِ په خلاف د قاصد لِأَنَّ الرِّسَالَةَ فِي الْعَقْدِ لَا فِي الْقَبْضِ ځکه چې قاصد کول په عقد کې واقع کیږي نه په قبضه کې وَیَنْتَقِلُ کَلَامُهُ إِلَی الْمُرْسِلِ او د قاصد کلام د استونکي وطرف ته منتقل کیږي فَصَارَ قَبْضُ الرَّسُولِ قَبْضَ غَیْرِ الْعَاقِدِ نو د قاصد قبضه د غیر عاقد قبضه وګرځېده فَلَمْ یَصِحَّ نو ځکه به [د قاصد قبضه] صحیح نه وي.

**اللغات**: ﴿فارق﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: جلا کېدل، جدا کېدل، ﴿محجور﴾ منع کړی سوی، یعني هغه غلام چې مالک له کاروبار او تجارت څخه منع کړی وي، ﴿الرسول﴾ هغه کس کوم چې یې یو څوک د خپل پیغام استولو لپاره بل چا ته واستوي، یعني پیغام رسونکی چې هغه ته قاصد ویل کیږي، ﴿مرسل﴾ استونکی (لېږونکی)، هغه کس کوم چې قاصد واستوي.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د بیع صَرف یا د بیع سَلم وکیل چې د کوم چا سره دا عقدونه وکړي او بیا دواړه تر قبضې مخکې یو له بل څخه جلا سي، نو دا عقدونه (سَلم او صَرف) باطلیږي؛ دلیل دا دی چې په بیع صَرف کې پر دواړو عوضونو د عقد په مجلس کې دننه قبضه کول شرط دي همدارنګه په بیع سَلم کې پر رأسُ المال په مجلس کې دننه قبضه کول شرط دي (چې مسلم إلیه به پر هغه قبضه کوي)، حالانکې دلته دواړه عاقدین تر قبضې مخکې سره جلا سوي دي، نو ځکه دا عقدونه باطلیږي.

د دې په خلاف که مؤکل تر قبضې مخکې د عقد له مجلس څخه جلا سي (ولاړ سي)، نو په دې سره د عقد پر صحت هیڅ اثر نه لویږي؛ ځکه چې د دې عقد په وجه فقط پر عاقد قبضه واجبیږي، او عاقد وکیل دی، نه مؤکل، نو ځکه د مؤکل جدایي لره به هیڅ اعتبار نه وي بلکې د وکیل په جدایي سره به عقد باطلیږي، او فقط د همدې وکیل قبضه به صحیح او معتبره وي، که څه هم وکیل له هغه کسانو څخه وي چې د عقد حقوق نه ور سره متعلق کیږي، لکه کوچنی او محجور غلام، ځکه چې عاقد (عقد کونکی) وکیل دی، نو ځکه فقط د هغه د قبضې اعتبار به کیږي.

بخلاف الرسول إلخ: د دې حاصل دا دی چې په وکیل او قاصد کې فرق دی، یعني که یو سړی د بیع صرف یا بیع سلم د کولو لپاره یو څوک قاصد جوړ کړي، نو قاصد ته فقط د عقد کولو حق ستر، نه د قبضه کولو؛ ځکه چې قاصد فقط د عقد د کولو (منعقد کولو) لپاره جوړول کیږي، نه د قبضه کولو

لېږاره، او د قاصد كلام هم د مرسل (استونكي) وطرف ته منتقل كيږي، نو ځكه د رسالت والا په صورت كي به عاقد (عقد كونكى) فقط مرسل وي او د هغه قبضه به معتبره وي، او قاصد به عاقد نه وي او كه هغه قبضه وكړي نو دا به د غير عاقد قبضه وي، او د غير عاقد يعني له عاقد ځخه بغير د بل چا قبضه صحيح نه ده، نو ځكه د هغه قبضه كول به صحيح نه وي.

## كه وكيل له خپل طرفه ثمن اداء كړي (حكم او تفصيل)

قَالَ: وَإِذَا دَفَعَ الْوَكِيْلُ بِالشِّرَاءِ الثَّمَنَ مِنْ مَالِهِ وَقَبَضَ الْمَبِيْعَ فرمايي: او كه چيري وكيل بالشراء له خپل مال ځخه ثمن اداء كړي او پر مبيع قبضه وكړي فَلَهُ أَنْ يَرْجِعَ بِهِ عَلَى الْمُوَكِّلِ نو هغه ته دا حق سته چي له مؤكل ځخه [اداء كړى سوى] ثمن واپس واخلي لِأَنَّهُ انْعَقَدَتْ بَيْنَهُمَا مُبَادَلَةٌ حُكْمِيَّةٌ ځكه چي د وكيل او مؤكل تر مينځ حكماً مبادله منعقد سوې ده وَلِهٰذَا إِذَا اخْتَلَفَا فِي الثَّمَنِ او همدا وجه ده چي كله وكيل او مؤكل په ثمن كي اختلاف وكړي يَتَحَالَفَانِ نو دواړه به قسم اخلي وَيَرُدُّ الْمُوَكِّلُ بِالْعَيْبِ عَلَى الْوَكِيْلِ [همدارنګه] د عيب په صورت كي به مؤكل وكيل ته مبيع واپس كوي وَقَدْ سَلِمَ الْمُشْتَرٰى لِلْمُوَكِّلِ مِنْ جِهَةِ الْوَكِيْلِ او [څرنګه چي] د وكيل له طرفه مؤكل ته مبيع سپارل سوې ده فَيَرْجِعُ عَلَيْهِ نو ځكه وكيل به له مؤكل ځخه ثمن واپس اخلي وَلِأَنَّ الْحُقُوقَ لَمَّا كَانَتْ رَاجِعَةً إِلَيْهِ او ځكه كله چي د عقد حقوق د وكيل وطرف ته راجع دي [الكه څرنګه چي دا معلومه خبره ده] وَقَدْ عَلِمَهُ الْمُوَكِّلُ او مؤكل په هغه خبر [هم] دى يَكُونُ رَاضِيًا بِدَفْعِهِ مِنْ مَالِهِ نو ځكه له خپل مال ځخه د ثمن په اداء كولو به مؤكل راضي وي فَإِنْ هَلَكَ الْمَبِيْعُ فِي يَدِهِ قَبْلَ حَبْسِهِ بيا كه چيري مبيع د وكيل په قبضه كي هلاكه سي مخكي د هغه له راګرځولو ځخه [يعني كه مبيع د وكيل سره وي لېكن هغه د ثمن اخيستلو (ترلاسه كولو) په نيت نه وي راګرځولې او په دې دوران كي هغه هلاكه سي] هَلَكَ مِنْ مَالِ الْمُوَكِّلِ نو هغه د مؤكل له مال ځخه هلاكيږي وَلَمْ يَسْقُطِ الثَّمَنُ او ثمن نه ساقطيږي لِأَنَّ يَدَهُ كَيَدِ الْمُوَكِّلِ ځكه چي د وكيل قبضه د مؤكل د قبضې په څېر ده فَإِذَا لَمْ يَحْبِسْهُ لهذا كله چي وكيل [د ثمن اخيستلو په نيت] مبيع نه راوګرځوي يَصِيْرُ الْمُوَكِّلُ قَابِضًا بِيَدِهِ نو د وكيل په قبضه كولو سره به مؤكل [هم] قبضه كونكى ګرځي.

**اللغات**: ﴿شراء﴾ دا لفظ له اضدادو ځخه دى، يعني اصل معنىٰ يې "رانيول" ده لېكن ځيني وخت د "خرڅول" معنىٰ هم وركوي، همدارنګه د بيع لفظ هم له اضدادو ځخه دى (مصباح منير)، ﴿انعقدت﴾ د

انفعال د باب ماضي ده: منعقد کېدل، تړل کېدل (تړون کېدل). ﴿يتحالفان﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: يو تر بله قسم سره اخيستل. ﴿يد﴾ قبضه. ﴿حَبس﴾ د ضرب د باب مصدر دی. د دغه باب اصل معنیٰ ده: منع کول، راګرځول (په خپل قبضه کي يو شی راګرځول).

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که يو سړی بل څوک د يو شي د رانيولو وکيل جوړ کړي (چي هغه ته وکيل بالشراء وايي)، بيا دا وکيل بالشراء هغه شی رانيسي او له خپل جېب (خپل مال) څخه ثمن اداء کړي او پر مبيع قبضه وکړي، نو په دې صورت کي وکيل ته دا حق سته چي له مؤکل څخه اداء کړی سوی ثمن واخلي؛ ځکه چي د وکيل بالشراء او د هغه د مؤکل تر مينځ دغه معامله (وکالت) په حقيقت کي حکماً مبادلةُ المال بالمال ده چي په هغه کي وکيل د بائع په څېر دی او مؤکل د مشتري په څېر دی، او تاسو ته معلومه ده که د بيع کولو په صورت کي بائع ومشتري ته مبيع ورکړي او مشتري پر هغه قبضه وکړي نو بائع ته دا حق حاصلېږي چي له مشتري څخه ثمن واخلي، نو همداسي به په دې صورت کي هم حکماً بائع يعني وکيل ته له مشتري يعني له مؤکل څخه د ثمن اخيستلو حق او اختيار وي.

او د دې خبري دليل "چي د وکيل او مؤکل تر مينځ وکالت حکماً مبادله ده" دا دی چي که چيري د ثمن د مقدار په هکله وکيل او مؤکل اختلاف سره وکړي او د يوه سره هم بيّنه نه وي، نو دواړه به قسم اخلي، همدارنګه که مؤکل په مبيع کي يو عيب ووينې، نو هغه به وکيل ته مبيع واپس کوي لکه څرنګه چي مشتري بائع ته مبيع واپس کوي، او ښکاره خبره ده چي د دواړو قسم اخيستل او د خيار عيب پر بناء وکيل ته مبيع واپس کول د دې خبري ښکاره دليل دی چي وکالت د دوی تر مينځ حکماً مبادله ده، او په مبادله کي له دواړو طرفونو څخه ورکړه راکړه کيږي (يعني يو طرف والا ثمن ورکوي او بل طرف والا مبيع ورکوي)، لهذا کله چي دلته وکيل پر مبيع قبضه وکړه (او د وکيل قبضي داسي ده لکه د مؤکل قبضه)، نو ځکه اوس به وکيل ته له مؤکل څخه د اداء کړی سوي ثمن د اخيستلو حق او اختيار وي.

دويم دليل دا دی چي په دې صورت کي وکيل متبرّع هم نه دی (يعني هغه له خپل جېب څخه احساناً د ثمن اداء کونکی نه دی)؛ ځکه چي هغه د مؤکل په اجازت سره د مؤکل له طرفه ثمن اداء کړی دی، په دې توګه چي د عقد ټوله حقوق د عاقد يعني د وکيل وطرف ته راجع کيږي، او د ثمن ورکول او اخيستل هم د عقد له حقوقو څخه يو حق دی، نو ځکه دا به هم د وکيل وطرف ته راجع کيږي، او څرنګه چي مؤکل په دې خبره بالکل خبر هم دی، نو ځکه د عقد په صورت کي به د وکيل له خپل طرفه اداء کړی سوی ثمن به د مؤکل په اجازت سره وي، او کله چي ثمن د مؤکل په اجازت سره اداء

سوی دی نو وکیل به "د مؤکل له طرفه د ثمن په اداء کولو کي" متبرّع هم نه وي، او کله چي هغه متبرّع (احساناً اداء کونکی) نه دی، نو ځکه هغه ته به له مؤکل څخه د ثمن اخیستلو اختیار وي.

فإن هلك المبيع إلخ: د دې حاصل دا دی که وکیل بالشراء له خپل جیب څخه ثمن اداء کړي او پر مبیع قبضه وکړي، لېکن مؤکل ته له ورسپارلو څخه مخکي هغه مبیع د وکیل په قبضه کي له څه تعدی او تجاوز څخه بغیر هلاکه سي، او وکیل هغه د ثمن اخیستلو په نیت هم نه وي را گرځولې، نو په دې صورت کي دا هلاکت د مؤکل له مال څخه شمارل کیږي (یعني گواکي د مؤکل په قبضه کي مبیع هلاکه سوه)، نو ځکه د مبیع تر هلاکېدلو وروسته به هم وکیل ته له مؤکل څخه د خپل هغه ثمن د اخیستلو حق وي کوم چي وکیل د مؤکل له طرفه حقیقي مشتري ته ورکړی دی؛ دلیل دا دی چي د وکیل قبضه د مؤکل قبضه شمارل کیږي، او څرنگه چي وکیل د ثمن اخیستلو په وجه مبیع نه ده راگرځولې، نو ځکه د وکیل په قبضه کي به د مبیع هلاکېدل داسي وي لکه د مؤکل په قبضه کي چي هلاکه سوې وي، او که چېري د مؤکل په قبضه کي مبیع هلاکه سي نو بنکاره خبره ده چي د وکیل د ثمن حق نه ختمیږي بلکي د هغه لپاره د ثمن اخیستلو حق باقي پاتیږي او اوس هم هغه ته له مؤکل څخه د ثمن اخیستلو حق او اختیار سته، نو ځکه په دې صورت کي به هم وکیل ته له مؤکل څخه د ثمن اخیستلو حق او اختیار وي.

## د ثمن اخیستلو (تر لاسه کولو) لپاره د مبیع راگرځولو بیان

وَلَهُ أَنْ يَحْبِسَهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ الثَّمَنَ او وکیل ته دا حق سته چي مبیع را وگرځوي تر دې چي [له مؤکل څخه] خپل ثمن اخلي لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْبَائِعِ مِنَ الْمُوَكِّلِ د هغه دلیل په وجه کوم چي مونږ بیان کړی چي وکیل پر بائع د خرڅونکی په شېر دی [یعني وکیل حکماً د بائع په شېر دی او مؤکل د مشتري په شېر دی، په بله وینا دا چي وکیل د بائع په حکم کي دی او مؤکل د مشتري په حکم کي دی] وَقَالَ زُفَرُ: لَيْسَ لَهُ ذٰلِكَ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي وکیل ته د مبیع راگرځولو حق نسته لِأَنَّ الْمُوَكِّلَ صَارَ قَابِضًا بِيَدِهِ ځکه چي مؤکل د وکیل په قبضه سره قابض وگرځېدی فَكَأَنَّهُ سَلَّمَهُ إِلَيْهِ نو گواکي وکیل مؤکل ته مبیع وسپارله فَيَسْقُطُ حَقُّ الْحَبْسِ نو ځکه د راگرځولو حق به ساقطیږي قُلْنَا: هٰذَا لَا يُمْكِنُ التَّحَرُّزُ عَنْهُ مونږ [په جواب کي] وایو: چي دا یو داسي شی دی چي له هغه څخه ځان ساتل [محفوظ کېدل] ممکن نه دي فَلَا يَكُونُ رَاضِيًا بِسُقُوطِ حَقِّهِ فِي الْحَبْسِ نو ځکه [د مبیع] راگرځولو په

هکله به وکیل د خپل حق په ساقطولو راضي نه وي عَلٰى أَنَّ قَبْضَهُ مَوْقُوفٌ سره د دې چې د وکیل قبضه موقوف [هم] ده فَيَقَعُ لِلْمُوَكِّلِ إِنْ لَمْ يَحْبِسْهُ [ځکه] که چیري هغه مبیع نه راوګرځوي نو دا قبضه به د مؤکل لپاره واقع کیږي وَلِنَفْسِهِ عِنْدَ حَبْسِهِ او د راګرځولو په صورت کي به د وکیل د خپل ځان لپاره واقع کیږي.

**اللغات**: ﴿یستوفي﴾ د استفعال د باب مضارع ده: (خپل حق) اخیستل، ترلاسه کول، وصولول.

﴿الحبس﴾ د ضرب مصدر دی: منع کول، راګرځول.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که مؤکل تر اوسه وکیل ته ثمن نه وي ورکړی، نو وکیل ته دا حق سته چې د خپل ثمن ترلاسه کولو لپاره مبیع د ځان سره راوګرځوي او له مؤکل څخه یې منع کړي؛ دلیل دا دی چې وکیل حکماً د بائع په څېر دی او مؤکل د مشتري په څېر دی او د دوی په مینځ کي حکماً مبادله سوې ده، لهذا څرنګه چې په مبادلهٔ حقیقي کي له ثمن اخیستلو څخه مخکي بائع ته د مبیع راګرځولو حق سته، همداسي به په مبادلهٔ حکمي کي هم له ثمن اخیستلو څخه مخکي وکیل ته د مبیع راګرځولو حق او اختیار وي.

د دې په خلاف امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي چې وکیل ته د مبیع راګرځولو حق نسته؛ دلیل یې دا دی چې د وکیل قبضه د مؤکل قبضه شمېرل سوې ده (لکه مخکي چې هم ضمناً ذکر سوه)، لهذا کله چې د وکیل قبضه د مؤکل د قبضې په څېر ده، نو داسي سوه لکه وکیل چې مؤکل ته حکماً مبیع وسپارله، او تاسو ته به معلومه وي که چیري وکیل مؤکل ته مبیع وسپاري نو د هغه د راګرځولو حق (حقُّ الحبس) ساقطیږي. نو ځکه د حکماً ورسپارلو په صورت کي به هم د وکیل حقُّ الحبس ساقطیږي.

**قلنا إلخ**: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله جواباً فرمایي چې د امام زفر رَحِمَهُ الله بیان سوی قول او دلیل موږ ته تسلیم نه دی؛ ځکه چې د وکیل قبضه د مؤکل د قبضې په څېر شمېرل یو غیر اختیاري شی دی چې له هغه څخه ځان ساتل (محفوظ کېدل) ناممکن دي، او د غیرِ اختیاري شي په وجه دیو چا ثابت سوی حق او اختیار نه ساقطیږي، نو ځکه د وکیل قبضه د مؤکل د قبضې په څېر کېدلو او شمېرلو په وجه د هغه د راګرځولو حق (حقُّ الحبس) نه سي ساقطول کېدای.

**علٰى أن إلخ**: د حقُّ الحبس نه ساقطېدلو دویم دلیل دا دی چې د وکیل قبضه علی الإطلاق د مؤکل د قبضې په څېر نه ده، بلکي په دې کي څه تفصیل دی او هغه دا دی چې د وکیل قبضه ابتداءً موقوف پاتیږي، یعني که وکیل تر قبضې وروسته د ثمن اخیستلو (ترلاسه کولو) په نیت مبیع را وګرځوي نو

دا قبضه د هغه د خپل ځان لپاره شمارل کیږي، او که چیرې په دې نیت سره یې نه را وګرځوي نو بیا هغه قبضه د مؤکل لپاره (او د مؤکل د قبضې په څیر) شمارل کیږي؛ نو ځکه په شروع کې د وکیل قبضه موقوف پاتیږي، او په موقوف شي سره د هیڅ حق هم نه ساقطیږي، نو ځکه په دې حواله سره به هم د وکیل د راګرځولو حق (حقُ الحبس) نه ساقطیږي او د ثمن ترلاسه کولو لپاره به هغه ته د مبیع راګرځولو پوره حق او اختیار وي.

## د وکیل په قبضه کې د مبیع هلاکېدلو حکم

فَإِنْ حَبَسَهُ فَهَلَكَ نو که چیرې وکیل [د خپل ثمن اخیستلو لپاره] مبیع راوګرځوي بیا هغه هلاکه سي كَانَ مَضْمُونًا ضَمَانَ الرَّهْنِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز دا مبیع د رهن د ضمان په څېر مضمون کیږي [یعني د رهن د ضمان په څېر یې ضمان واجبیږي] وَضَمَانَ الْبَيْعِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز د بیع د ضمان په څېر مضمون کیږي وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ او همدا د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی [یعني د طرفینو (امام صاحب او امام محمد رَحِمَهُمَا الله) په نیز د بیع د ضمان په څېر مضمون کیږي] وَضَمَانَ الْغَصْبِ عِنْدَ زُفَرَ* او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نیز د غصب د ضمان په څېر مضمون کیږي لِأَنَّهُ مَنْعٌ بِغَيْرِ حَقٍّ ځکه چې راګرځول [حبس] په ناحقه توګه منع کول دي [مطلب دا چې وکیل په ناحقه (بغیر له حقه) مبیع را ګرځولې ده] لَهُمَا: أَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْبَائِعِ مِنْهُ د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی: چې وکیل پر مؤکل د خرڅونکي په څېر دی [یعني وکیل حکماً د بائع په څېر دی] فَكَانَ حَبْسُهُ لِاسْتِيفَاءِ الثَّمَنِ نو د وکیل له طرفه [د مبیع] راګرځول به د ثمن اخیستلو [ترلاسه کولو] لپاره وي [لکه څرنګه چې بائع د ثمن اخیستلو لپاره مبیع راګرځوي] فَيَسْقُطُ بِهَلَاكِهِ نو ځکه د مبیع په هلاکېدلو سره به ثمن ساقطیږي وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ مَضْمُونٌ بِالْحَبْسِ لِلِاسْتِيفَاءِ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې مبیع د ثمن اخیستلو لپاره د راګرځولو په وجه مضمون سوې ده بَعْدَ أَنْ

* القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في العنايه (ج:۷، ص:۳۸)، والبحر الرائق (ج:۷، ص:۱۵۶)، وكذا قال العلامة فخر الدين قاضي خان: ...وإن هلك بعد الحبس، يسقط بالثمن ويسقط الثمن عن الموكل في قول أبي حنيفة (الخانيه ج:۳، ص:۱۶۲). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۵۲]

لَمْ يَكُنْ حال دا چي تر اوسه هغه مضمون نه وه وَهُوَ الرَّهْنُ بِعَيْنِهِ او بعينهٖ همدا د رهن معنیٰ ده [يعني د رهن صورت بعينهٖ همداسي دی] بِخِلَافِ الْمَبِيْعِ په خلاف د مبيع لِأَنَّ الْبَيْعَ يَنْفَسِخُ بِهَلَاكِهٖ ځکه چي د مبيع په هلاکېدلو سره بيع فسخ کيږي وَهٰهُنَا لَا يَنْفَسِخُ أَصْلُ الْعَقْدِ او دلته اصل عقد نه فسخ کيږي قُلْنَا: يَنْفَسِخُ فِي حَقِّ الْمُوَكِّلِ وَالْوَكِيلِ موږ [په جواب کي] وايو: چي د مؤکل او وکيل په حق کي عقد فسخ کيږي كَمَا إِذَا رَدَّهُ الْمُوَكِّلُ بِعَيْبٍ وَرَضِيَ الْوَكِيْلُ بِهِ لکه په هغه صورت کي [چي فسخ کيږي] کله چي مؤکل د عيب په وجه مبيع واپس کړي او وکيل په هغه راضي سي.

**اللغات:** ﴿حبسه﴾ د ضرب د باب ماضي ده: منع کول، راګرځول. ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: اخيستل، ترلاسه کول. ﴿مضمون﴾، د سمع د باب مفعول دی: د کوم شي ضمان (تاوان) چي پر ذمه واجب وي هغه ته "مضمون" وايي، (مضمون کيږي يعني ضمان يې واجبيږي). ﴿ضمان الرهن﴾ د مرهون شي ضمان، د دې تفصيل دا دی چي کله مرهون شی د مرتهن په قبضه کي هلاک شي، نو دې ته به کتل کيږي چي د مرهون شي قيمت څومره وو، او قرض څومره وو، بيا به د مرهون شي د قيمت په بدله کي قرض ساقطول کيږي، او تر ساقطولو وروسته که د قرض څه مقدار زائد پاته سي هغه به پر راهن واجب پاته وي او مرتهن به هغه له راهن څخه اخلي، مثلاً قرض دوه نيم سوه روپۍ وي او د مرهون شي قيمت دوه سوه روپۍ وي، بيا مرهون شی د مرتهن په قبضه کي هلاک سي، نو دوه سوه قرض به د دوه سو قيمت په بدله کي ساقطيږي او کوم پنځوس درهمه قرض چي زائد پاته سو، هغه به پر راهن واجب وي او مرتهن به هغه له راهن څخه اخلي، او که چيري قرض کم وي او د مرهون شي قيمت زيات وي، مثلاً قرض دوه سوه روپۍ وي او د مرهون شي قيمت دوه نيم سوه روپۍ وي، نو دوه سوه قرض به د دوه سوه قيمت په بدله کي ساقطيږي او د قيمت کوم مقدار چي زائد پاته سو، راهن هغه له مرتهن څخه نه سي اخيستلای يعني هغه پر مرتهن نه واجبيږي، ځکه چي پاته زائد مقدار د مرتهن سره د امانت په توګه دی، او د امانت هيڅ ضمان (تاوان) نه واجبيږي، نو ځکه پر مرتهن به د مرهون شي د قيمت زائد مقدار واجب نه وي. ﴿الثمن﴾ "ثمن" د شي هغه قيمت ته وايي کوم چي د بائع او مشتري تر مينځ وټاکل سي (يعني دوکاندار او مشتري چي دواړه پر کوم قيمت اتفاق او بيع وکړي او مشتري په هغه سره شی رانيسي، داسي قيمت ته ثمن وايي)، او د شي بازاري قيمت او نرخ ته "قيمة" وايي، (يعني په بازار کي چي په عامه توګه د يو شي کوم نرخ وي، هغه ته قيمت وايي). ﴿ينفسخ﴾ د انفعال د باب مضارع ده: فسخ کېدل، ماتېدل.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که وکیل د خپل ثمن اخیستلو (ترلاسه کولو) په نیت د ځان سره مبیع راګرځولې وي او په دې دوران کې هغه هلاکه سي، نو د مبیع ضمان (تاوان) واجبیږي، لیکن کوم ضمان یې واجبیږي؟ په دې باره کې د امامانو اختلاف دی، د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز د رهن ضمان واجبیږي، یعني د مبیع ثمن او د هغه بازاري قیمت ته به کتل کیږي چې د مبیع خپل ثمن څومره دی او د مبیع بازاري قیمت څومره دی، بیا به بازاري قیمت ساقطول کیږي. نو که د بازاري قیمت تر ساقطولو وروسته د ثمن څه مقدار زائد پاته سي (یعني ثمن تر بازاري قیمت زیات وي) نو هغه زائد مقدار به پر مؤکل د وکیل لپاره واجبیږي، مثلاً که د مبیع بازاري قیمت (نرخ) دوه سوه روپۍ وي او وکیل هغه په دوه نیم سوه روپۍ (ثمن) رانیولې وي، نو بازاري قیمت یعني دوه سوه روپۍ به ساقطیږي او اوس چې د ثمن کوم مقدار زائد پاته سو یعني پنځوس روپۍ، هغه به پر مؤکل واجب وي او وکیل به هغه له مؤکل څخه اخلي (د بازاري قیمت د زیاتېدلو یا کمېدلو نور حساب خپله ورته وکړئ! چې تر څه غور او فکر وروسته به تاسو ته خپله معلوم سي).

وضمان البيع عند محمد إلخ: فرمايي چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز دا مبیع (یعني د وکیل قبضه کې هلاکه سوې مبیع) د بیع د ضمان په څېر مضمون کیږي، یعني لکه کله چې مبیع د بائع سره هلاکه سي نو له مشتري څخه د هغه ثمن ساقطیږي او تر دې وروسته بائع له هغه څخه هیڅ ثمن نه سي اخیستلای برابره ده د مبیع بازاري قیمت (نرخ) له ثمن څخه کم وي او که زیات وي، همداسي به په دې مسئله کې هم د مؤکل له ذمې څخه ثمن ساقطیږي او وکیل به له هغه څخه هیڅ ثمن نه سي اخیستلای برابره ده د مبیع بازاري قیمت له ثمن څخه کم وي او که زیات وي، او همدا د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول هم دی.

وضمان الغصب إلخ: د دې حاصل دا دی چې د امام زفر رَحِمَهُ الله په نیز دا مبیع د غصب د ضمان په څېر مضمون کیږي، یعني که مبیع له ذواتُ الامثال څخه وي نو پر وکیل د هغه مثل واجبیږي او پر مؤکل ثمن واجبیږي، او که مبیع له ذواتُ القیم څخه وي نو پر وکیل د هغه بازاري قیمت (نرخ) واجبیږي، نو که د مبیع بازاري قیمت کم وي او د هغه ثمن زیات وي، مثلاً د مبیع بازاري قیمت دوه سوه روپۍ وي او ثمن دوه نیم سوه روپۍ وي، نو له قیمت څخه زائد مقدار یعني پنځوس روپۍ به وکیل له مؤکل څخه اخلي، او که بازاري قیمت زیات وي مثلاً هغه دوه نیم سوه روپۍ وي او ثمن دوه سوه روپۍ وي نو له ثمن څخه زائد مقدار به یعني پنځوس روپۍ به مؤکل له وکیل څخه اخلي. (اشرف الهدایه بحواله شرح الوقایه)

**د امام زفر دليل:** دا دی چي وکيل په نا حقه توګه مبيع راګرځولې ده؛ ځکه د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز پر مبيع د وکيل قبضه کول داسي دي لکه مؤکل چي قبضه پر کړې وي، نو ځکه وکيل ته د مبيع راګرځولو حق نسته، او کله چي وکيل ته د دې حق نسته نو بيا پر مبيع د هغه قبضه کول او راګرځول نا حق دي، او پر يو شي نا حقه قبضه کول داسي وي لکه هغه غصب کول، او تاسو ته به معلومه وي چي که مغصوب شی د غاصب په قبضه کي هلاک سي، نو پر هغه د غصب ضمان واجبيږي، همداسي به په دې مسئله کي هم پر وکيل د غصب ضمان واجب وي.

**د طرفينو دليل:** دا دی چي د وکيل او مؤکل تر مينځ حکماً بيع سوې ده، چي په هغه کي وکيل د بائع او مؤکل د مشتري په څېر دی، او دا ښکاره خبره ده چي که د بيع په وخت کي مشتري ثمن اداء نه کړي نو بائع ته د مبيع راګرځولو حق سته او که مبيع د بائع سره هلاکه سي نو د مشتري له ذمې څخه ثمن ساقطيږي، نو همداسي به په دې مسئله کي هم د مؤکل (حکماً مشتري) له ذمې څخه ثمن ساقطيږي.

**د امام ابو يوسف دليل:** دا دی چي کله د ثمن اخيستلو په نيت مبيع راوګرځول سي نو هغه مضمون وګرځي او تر دې نيت مخکي مبيع مضمون نه وي (لکه څرنګه چي دا هم يو ښکاره خبره ده)، نو څرنګه چي د ثمن اخيستلو په نيت مبيع راګرځول مبيع مضمون ګرځوي، همداسي د قرض اخيستلو په نيت رهن يعني مرهون شی راګرځول هم مرهون شی مضمون ګرځوي، او کله چي دا مبيع د مرهون شي په څېر ده، نو څرنګه چي د مرهون شي د هلاکېدلو په صورت کي د رهن ضمان واجبيږي، همداسي به د دې مبيع د هلاکېدلو په صورت کي هم د رهن ضمان واجبيږي.

بخلاف المبيع إلخ: په دې سره د طرفينو رَحِمَهُمَا الله د قياس جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چي دا مبيع (کوم چي د وکيل په قبضه کي هلاکه سوې ده) د بيع والا پر مبيع قياسول صحيح نه دي، ځکه چي دا مبيع بالکل د بيع د مبيع په څېر نه ده، ځکه چي د بيع د مبيع په هلاکېدلو سره عقد (بيع) فسخ کيږي لېکن د وکالت د مبيع په هلاکېدلو سره اصل عقد نه فسخ کيږي يعني کوم عقد چي د وکيل او بائع په مينځ کي واقع سوی دی هغه نه فسخ کيږي، نو ځکه دا مبيع د بيع پر مبيع قياسول صحيح نه دي.

لېکن صاحب د هدايي رَحِمَهُ الله د دې جواب دا ورکړی دی چي د وکيل په قبضه کي د مبيع د هلاکېدلو په صورت کي که څه هم د وکيل او بائع په مينځ کي عقد نه فسخ کيږي لېکن د وکيل او مؤکل په مينځ کي عقد (وکالت) فسخ کيږي، لکه څرنګه چي په هغه وخت کي فسخ کيږي کله چي مؤکل په مبيع کي يو عيب ويني او د خيار عيب پر بناء مؤکل هغه مبيع وکيل ته واپس کړي او وکيل په خپل خوښه او رضا سره هغه قبوله کړي (نو دلته هم د وکيل او مؤکل په مينځ کي عقد فسخ کيږي)

حال دا چي دلته د وكيل او بائع په مينځ كي عقد نه دى فسخ سوى. او تاسو ته به معلومه وي چي وكيل او مؤكل هم د بائع او مشتري په څېر دي. نو ځكه د دوى په مينځ كي عقد فسخ كېدل داسي دي لكه د بائع او مشتري په مينځ كي عقد فسخ كېدل. نو په دې حواله سره د وكالت او بيع په مبيع كي مماثلت موجود دى (يعني په دې حواله سره د وكالت مبيع داسي ده لكه د بيع مبيع). نو ځكه د وكالت مبيع به د هلاكېدلو په صورت كي د بيع د مبيع په څېر مضمون كيږي.

## د توكيل او وكيل په فعل كي د مخالفت بيان

قَالَ: وَإِذَا وَكَّلَهُ بِشِرَاءِ عَشَرَةِ أَرْطَالٍ لَحْمٍ بِدِرْهَمٍ فرمايي: او كه مؤكل يو څوک په يوه درهم سره د لس رطله غوښو د رانيولو وكيل جوړ كړي فَاشْتَرَى عِشْرِينَ رِطْلًا بِدِرْهَمٍ مِنْ لَحْمٍ يُبَاعُ مِنْهُ عَشَرَةُ أَرْطَالٍ بِدِرْهَمٍ بيا وكيل په يوه درهم سره شل رطله داسي غوښه رانيسي چي د هغه لس رطله په يوه درهم خرڅيږي [يعني په بازار كي په يوه درهم داسي لس رطله غوښه كيږي] لَزِمَ الْمُوَكِّلَ مِنْهُ عَشَرَةٌ بِنِصْفِ دِرْهَمٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز له دې [شل رطله] غوښو څخه پر مؤكل لس رطله غوښه د نيم درهم په عوض كي لازميږي وَقَالَا❁: يَلْزَمُهُ الْعِشْرُونَ بِدِرْهَمٍ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي شل رطله غوښه [ټوله] پر مؤكل د يوه درهم په عوض كي لازميږي وَذُكِرَ فِي بَعْضِ النُّسَخِ قَوْلُ مُحَمَّدٍ مَعَ قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ او په بعضي نسخو كي د امام محمد رَحِمَهُ الله قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره ذكر سوى دى وَمُحَمَّدٌ لَمْ يَذْكُرِ الْخِلَافَ فِي الْأَصْلِ او امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط كي اختلاف نه دى ذكر كړى لِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ أَمَرَهُ بِصَرْفِ الدِّرْهَمِ فِي اللَّحْمِ وَظَنَّ أَنَّ سِعْرَهُ عَشَرَةُ أَرْطَالٍ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي مؤكل دغه وكيل ته په غوښو كي د يوه درهم د خرچولو حكم كړى دى او مؤكل دا گومان كړى دى چي د هغه نرخ لس رطله دى [يعني د هغه خيال دا دى چي په يوه درهم لس رطله غوښه كيږي] فَإِذَا اشْتَرَى بِهِ عِشْرِينَ لېكن كله چي وكيل په يوه درهم سره شل رطله رانيوله فَقَدْ زَادَهُ خَيْرًا نو وكيل د مؤكل لپاره د خير اضافه وكړه [مطلب دا چي د هغه سره يې ډېر ښه لو ښېګي وكړه] وَصَارَ كَمَا إِذَا وَكَّلَهُ بِبَيْعِ عَبْدِهِ بِأَلْفٍ او دا داسي سوه لكه مؤكل چي يو څوک په زر

---

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، لأن قوله قول المتون، كما ذكر في الكنز (ص:٢٦٩)، وكذا في تنوير الأبصار (ج:٤، ص:٣٢٩). [القول الراجح ج:٢، ص: ١٥٢]

درهمه سره د خپل غلام د خرڅولو وکیل جوړ کړي فَبَاعَهُ بِأَلْفَيْنِ او وکیل هغه په دوه زره درهمه خرڅ کړي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ أَمَرَهُ بِشِرَاءِ عَشَرَةِ أَرْطَالٍ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې مؤکل وکیل ته [فقط] د لس رطله غوښو د رانیولو حکم کړی دی وَلَمْ يَأْمُرْهُ بِشِرَاءِ الزِّيَادَةِ او هغه ته یې اله دې شخص د زیات مقدار د رانیولو حکم نه دی فَيَنْفُذُ شِرَاؤُهَا عَلَيْهِ وَشِرَاءُ الْعَشَرَةِ عَلَى الْمُوَكِّلِ نو ځکه د زائد مقدار رانیول [بیع] به پر وکیل نافذیږي او د لس رطلو رانیول به پر مؤکل نافذیږي بِخِلَافِ مَا اسْتَشْهَدَ بِهِ په خلاف د هغه مثال چې په هغه سره امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله استشهاد کړی دی [یعني چې په هغه سره امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل نیولی دی] لِأَنَّ الزِّيَادَةَ هُنَاكَ بَدَلُ مِلْكِ الْمُوَكِّلِ ځکه چې هلته زائد مقدار د مؤکل د ملکیت بدل دی فَيَكُونُ لَهُ نو ځکه هغه به د مؤکل لپاره وي بِخِلَافِ مَا إِذَا اشْتَرَى مَا يُسَاوِي عِشْرِينَ رِطْلًا بِدِرْهَمٍ په خلاف د هغه صورت کله چې وکیل په یوه درهم شل رطله داسې غوښه رانیولې وي کوم چې د یوه درهم په عوض کې د شل رطلو سره برابره وي حَيْثُ يَصِيرُ مُشْتَرِيًا لِنَفْسِهِ بِالْإِجْمَاعِ نو [په دې صورت کې] وکیل بالاتفاق د خپل ځان لپاره رانیونکی ګرځي لِأَنَّ الْأَمْرَ يَتَنَاوَلُ السَّمِينَ وَهَذَا مَهْزُولٌ ځکه چې [د مؤکل] حکم د چاغ څاروي [غوښو] لره شامل دي او دا د ډنګر څاروي [غوښې] دي فَلَمْ يَحْصُلْ مَقْصُودُ الْآمِرِ نو ځکه د حکم کونکي [مؤکل] مقصود حاصل نه سو [حال دا چې په وکالت سره د مؤکل هدف همدا دی چې په دې سره د هغه مقصود حاصل سي].

**اللغات**: ﴿أرطال﴾ جمع د رِطْلٌ ده: یو خاص قسم وزن دی کوم چې تقریباً نیم کیلو کیږي، او د ګرام په حساب سره (۴۴۲) ګرامه کیږي (اثمار الهدایه)، ﴿سعر﴾ نرخ، رېټ، ﴿سمين﴾ چاغ (غوښور)، ﴿مهزول﴾ ډنګر. (احسن الهدایه)

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو څوک بل سړی د ځان وکیل جوړ کړي او هغه ته ووایې چې ''د دې یوه درهم په عوض کې ما ته لس رطله غوښه رانیسه!''، او وکیل د یوه درهم په عوض کې شل رطله غوښه رانیسي، نو د دې مسئلې دوه صورتونه دي: ① یو دا چې رانیول سوې غوښه به د چاغ څاروي ښه او تازه غوښه وي چې داسې غوښه په یوه درهم فقط لس رطله کیږي (یعني قصابان په یوه درهم هغسې لس رطله غوښه ورکوي، نه شل رطله). لیکن وکیل په خپل چالاکي سره د لسو پر ځای شل

رطله رانيولې وي، ② دويم دا چې هغه به د ډنګر څاروي کمزورې غوښه وي چې هغه په يوه درهم شل رطله کيږي.

که چيرې اول صورت وي يعني هغه خوندوره غوښه وي چې په يوه درهم فقط لس رطله کيږي لېکن وکيل له يو ساده او ناخبره کس څخه په يوه درهم شل رطله رانيولې وي، نو په دې صورت کې د امامانو مختلفه قولونه دي چې آيا دا بيع (رانيول سوې غوښه) پر مؤکل لازميږي، که نه؟، امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دې صورت کې پر مؤکل د نيمايي غوښو بيع لازميږي يعني هغه به د نيم درهم په عوض کې له وکيل څخه لس رطله غوښه اخلي او د پاته لس رطله غوښو بيع پر وکيل لازميږي يعني هغه به وکيل اخلي.

امام ابو يوسف او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې د پوره شل رطله غوښو بيع پر مؤکل لازميږي، يعني مؤکل به له وکيل څخه د هغه يوه درهم په عوض کې ټوله غوښه اخلي.

وذکر في بعض النسخ إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د قدوري په بعضې نسخو کې د امام محمد رَحِمَهُ الله قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره ذکر سوی دی، لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله په خپل کتاب "مسبوط" کې هيڅ اختلاف نه دی ذکر کړی، نو د قدوي د نسخو په اعتبار سره د امام محمد رَحِمَهُ الله قول مضطرب معلوميږي، همدا وجه ده چې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د دليل بيانولو په وخت کې صرف "وَلِأَبِي يُوسُف" ويلي دي او د امام محمد رَحِمَهُ الله نوم يې نه دی ذکر کړی.

**د امام ابو يوسف دليل**: دا دی چې دلته مؤکل هغه سړی د يوه درهم غوښو د رانيولو لپاره وکيل جوړ کړی دی او د مؤکل خيال او ګومان دا دی چې په يوه درهم لس رطله غوښه کيږي، لېکن کله چې وکيل په يوه درهم شل رطله خوندوره غوښه رانيوله، نو دا هغه د مؤکل سره ډېره ښه او زياته نېکي وکړه، نه بد، نو ځکه د وکيل دا فعل د مؤکل حکم عَين مطابق سو، او کله چې د وکيل فعل د مؤکل د حکم مطابق او موافق دی، نو ښکاره خبره ده چې پر مؤکل به د هغه ټولو غوښو بيع لازم وي.

د دې مثال دا دی لکه مؤکل چې يو سړی د غلام خرڅولو وکيل جوړ کړي چې زما غلام په زر درهمه خرڅ کړه!، او وکيل هغه غلام په دوه زره درهمه خرڅ کړي، نو دا بيع بالاتفاق د مؤکل په حق کې لازميږي؛ ځکه چې په دې کې د مؤکل ښکاره نفع ده او هيڅ نقصان يې نسته، او څرنګه چې په پورتني صورت کې هم د مؤکل ښکاره نفع ده او هيڅ نقصان يې نسته، نو ځکه د يوه درهم په عوض کې به د پوره شل رطله غوښو بيع پر مؤکل لازم وي.

**د امام صاحب دليل**: دا دی چي مؤکل وکیل فقط د لس رطله غوښو د رانیولو وکیل جوړ کړی دی، نو ځکه د زیاتو غوښو په رانیولو سره وکیل په زائد مقدار کي د مؤکل د حکم مخالفت وکړی، نو ځکه د زائد مقدار اخیستل به پر مؤکل لازم نه وي، ها! څرنګه چي د لس رطله غوښو په بیع کي وکیل د مؤکل د حکم موافقت کړی دی، نو ځکه د نیم درهم په عوض کي به د لس رطله غوښو اخیستل پر مؤکل لازم وي.

بخلاف ما استشهد إلخ: فرمايي په کوم مثال سره چي امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دليل نيولی دی (يعني په زر درهمو سره د غلام خرڅولو وکیل جوړول) هغه مثال د پورتنۍ مسئلې سره مناسبت نه لري؛ ځکه چي په دې مثال کي زائد مقدار يعني زر درهمه (او تړوله دوه زره درهمه) په دې وجه پر مؤکل لازم دي، ځکه چي هغه فقط د مؤکل د ملکيت يعني د غلام بدل دی، نو ځکه فقط مؤکل به د هغه مستحق وي، نه وکیل، لهذا د دې مثال په ذريعه به د پورتنۍ مسئلې په باره کي دليل صحيح نه وي.

بخلاف ما إذا اشترى إلخ: له دې ځایه هغه دویم صورت بیانوي کوم چي موږ په شروع کي ذکر کړی، حاصل یې دا دی که وکیل د یوه درهم په عوض کي داسي شل رطله غوښه رانیولې وي کوم چي د یو ډنګر څاروي کمزورې غوښه وي چي هغه په یوه درهم شل رطله هم په آسانۍ سره پیدا کېدای سي، نو په دې صورت کي بالاتفاق دا بيع پر وکیل لازمیږي او پر مؤکل د يوې ټوټې بيع هم نه لازمیږي؛ ځکه چي په دې صورت کي وکیل په هر اعتبار سره د مؤکل د حکم مخالفت کړی دی او د مؤکل مقصود نه دی حاصل سوی، نو ځکه دا ټوله غوښه به فقط وکیل خوري او پر مؤکل به هغه نه لازمول کیږي.

## د وکالت شی د خپل ځان لپاره رانیول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَلَوْ وَكَّلَهُ بِشِرَاءِ شَيْءٍ بِعَيْنِهِ فرمايي: او که مؤکل یو څوک د یو مُعيّن شي د رانیولو وکیل جوړ کړي فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَشْتَرِيَهُ لِنَفْسِهِ نو د هغه لپاره جائز نه دي چي دا شی د ځان لپاره رانیسي لِأَنَّهُ يُؤَدِّي إِلَى تَغْرِيرِ الْآمِرِ ځکه چي دا مؤکل ته د دوکه ورکولو سبب جوړیږي [يعني دا مؤکل ته دوکه ورکول دي] حَيْثُ اعْتَمَدَ عَلَيْهِ ځکه چي مؤکل پر هغه [وکیل] اعتماد کړی دی وَلِأَنَّ فِيهِ عَزْلَ نَفْسِهِ او ځکه چي په دې کي [د وکیل] د خپل ځان معزوله کول ستنه وَلَا يَمْلِكُهُ "عَلَى مَا قِيلَ" إِلَّا بِمَحْضَرٍ مِنَ الْمُوَكِّلِ حال دا چي وکیل د دې ملکيت [اختيار] نه لري (لکه څرنګه چي ويل سوي دي) مګر د مؤکل په موجوديت کي [يعني د مؤکل له حضور څخه بغير وکیل ته دا اختيار نسته چي خپل ځان له وکالت

ځځه معزوله کړي] فَلَوْ كَانَ الثَّمَنُ مُسَمًّى او که چیري ثمن متعن سوی [ذکر سوی] وي فَاشْتَرَى بِخِلَافِ جِنْسِهِ بیا مشتري د هغه ثمن د جنس په خلاف سره [شی] رانیسي أَوْ لَمْ يَكُنْ مُسَمًّى یا ثمن مُتعیّن سوی نه وي فَاشْتَرَى بِغَيْرِ النُّقُودِ او وکیل له نقودو ځځه بغیر په بل شي سره [شی] رانیسي أَوْ وَكَّلَ وَكِيلًا بِشِرَائِهِ یا وکیل بل څوک د هغه شي د رانیولو وکیل جوړ کړي فَاشْتَرَى الثَّانِي وَهُوَ غَائِبٌ او دویم وکیل په داسي حال کي هغه رانیسي چي اول وکیل غائب وي يَثْبُتُ الْمِلْكُ لِلْوَكِيلِ الْأَوَّلِ فِي هٰذِهِ الْوُجُوهِ نو په دې [ټولو] صورتونو کي د اول وکیل لپاره ملکیت ثابتیږي لِأَنَّهُ خَالَفَ أَمْرَ الْآمِرِ ځکه وکیل د مؤکل د حکم مخالفت وکړی فَنَفَذَ عَلَيْهِ نو ځکه دا رانیول [بیع] به پر هغه نافذیږي وَلَوِ اشْتَرَى الثَّانِي بِحَضْرَةِ الْوَكِيلِ الْأَوَّلِ او که چیري دویم وکیل د اول وکیل په موجودیت کي هغه شی رانیسي نَفَذَ عَلَى الْمُوَكِّلِ الْأَوَّلِ نو دا رانیول [بیع] به پر اول مؤکل نافذیږي لِأَنَّهُ حَضَرَهُ رَأْيُهُ ځکه چي په دې رانیولو کي د اول وکیل رایه شامله سوه فَلَمْ يَكُنْ مُخَالِفًا نو ځکه هغه به [دمؤکل دحکم] مخالفت کونکی نه وي.

**اللغات**: ﴿بعینه﴾ په مُعیّنه توګه هغه، ﴿تغریر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: دوکه ورکول، - ﴿مُسمّٰی﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: نومول سوی، ذکر سوی، ټاکل سوی، مُتعیّن، ﴿وجوه﴾ جمع د وَجْهٌ ده، د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغه ځځه یو معنیٰ د "صورت" ده، ﴿نُقود﴾ نغدي سکې کوم چي په ښار کي رائج وي، لکه دراهم او دنانیر، یا مثلاً زموږ په ښارو کي افغانۍ او کلداري، ﴿حضر﴾ د نصر د باب ماضي ده: حاضریدل، راتلل، مراد: شاملیدل.

**تشریح: صورت د مسئلي**: دا دی که خالد د یو مُتعیّن شي د رانیولو لپاره زید وکیل جوړ کړي (مثلاً زید ته ووایي چي زما لپاره خاص دغه پُسه رانیسه!)، نو د وکیل یعني د زید لپاره دا جائز نه دي چي هغه شی (متعیّن پُسه) د خپل ځان لپاره رانیسي؛ دلیل دا دی چي مؤکل پر وکیل اعتماد کړی دی او اعتماداً یې هغه د دې شي د رانیولو وکیل جوړ کړی دی، لهذا اوس که وکیل هغه شی د ځان لپاره رانیسي نو ښکاره خبره ده چي هغه به مؤکل ته دوکه ورکونکی وګرځي، او د هیڅ مسلمان لپاره دا جائز نه دي چي بل مسلمان ته دوکه ورکړي، نو ځکه د وکیل لپاره دا جائز نه دي چي هغه مُتعیّن شی د ځان لپاره رانیسي.

دويم دليل دا دی چي مؤكل (خالد) ديو مُتعيّن شي درانيولو لپاره هغه (زيد) وكيل جوړ كړی دی، اوس كه وكيل هغه د ځان لپاره رانيسي نو هغه به (له وكالت څخه) د خپل ځان معزوله كونكی وګرځي (يعني ګواكي هغه خپل ځان د مؤكل له وكالت څخه ويستی او وكالت يې ختم كړی)، حال دا چي د وكيل لپاره دا صحيح نه دي چي د مؤكل په ناموجوديت كي خپل ځان معزوله كړي، لېكن كه مؤكل په هغه مجلس كي موجود او حاضر وي نو بيا د مؤكل په موجوديت كي د وكيل لپاره دا جائز دي چي هغه مُتعيّن شی د ځان لپاره رانيسي؛ ځكه كه څه هم د ځان لپاره د رانيولو په وجه هغه (له وكالت څخه) خپل ځان معزوله كوي، خو څرنګه چي د هغه دا كار د مؤكل په موجوديت كي واقع كيږي، نو ځكه جائز او صحيح دی.

فلوكان الثمن إلخ: د دې حاصل دا دی چي كه خالد په مُتعيّن ثمن سره زيد ديو شي د رانيولو وكيل جوړ كړي، او وكيل (زيد) د هغه پر ځای بل ثمن وركړي چي د هغه جنس د مؤكل د ذكر سوي ثمن له جنس څخه مختلف وي، مثلاً مؤكل (خالد) ويلي وي چي ته په دوهړه دراهمو سره فلانكی شی رانيسه!، لېكن وكيل په دنانيرو سره شی رانيسي، نو ښكاره خبره ده چي په دې صورت كي وكيل د امر يعني د مؤكل د حكم مخالفت وكړی، نو ځكه دا بيع (رانيول سوی شی) به د وكيل لپاره وي او د مؤكل پر ذمه به نه لازميږي.

همدارنګه كه مؤكل هيڅ ثمن مُتعيّن نه كړي او مطلق ديو شي د رانيولو وكيل يې جوړ كړي، او وكيل هغه شی له نقودو څخه بغير د بل شي په عوض كي رانيسي، نو په دې صورت كي هم وكيل د امر يعني د مؤكل د حكم مخالفت وكړی، په دې توګه چي د مؤكل له طرفه ثمن نه مُتعيّن كېدل د هغه د ښار د رائج نقودو وطرف ته ګرځي يعني كله چي مؤكل ثمن مُتعيّن نه كړي نو په دې صورت كي د مؤكل مقصد همدا وي چي وكيل دي د نقودو په عوض كي هغه شی رانيسي، لېكن كله چي وكيل له نقودو څخه بغير د بل شي په عوض كي هغه رانيوی نو ښكاره خبره ده چي هغه د خپل وكيل مخالفت وكړی، نو ځكه په دې صورت كي به هم دا بيع د هغه لپاره وي او پر هغه به لازم وي، نه پر مؤكل.

د دې يو صورت دا دی چي خالد ديو مُتعيّن شي د رانيولو لپاره زيد وكيل جوړ كړي او زيد د هغه شي د رانيولو لپاره ادريس وكيل جوړ كړي، بيا ادريس د اول وكيل يعني د زيد په ناموجوديت كي هغه شی رانيسي، نو دا بيع هم پر اول وكيل (زيد) لازميږي او پر مؤكل يعني خالد نه لازميږي؛ ځكه چي خالد په دې غرض زيد وكيل جوړ كړی وو چي زيد په خپل رايه سره هغه شی زما لپاره رانيسي يعني چي زيد هغه ښه او ګوري، خوښ يې كړي بيا يې زما لپاره رانيسي، لېكن زيد دغه كار بل چا (ادريس) ته په لاس وركړی، نو ځكه د هغه لزوم به هم پر زيد يعني پر اول وكيل وي. ها! كه

چيري دويم وکيل (ادريس) د اول وکيل (زيد) په موجوديت کي هغه شی رانيسي، نو څرنګه چي په دې رانيولو کي د اول وکيل رايه او خوښه شامله سوه او د مؤکل غرض پوره سو (ځکه چي د اول مؤکل اخلاغرض همدا وو چي زيد په خپله رايه سره زما لپاره هغه رانيسي، او دلته د زيد ااول وکيل ارايه موجوده سوه)، نو ځکه هغه به د خپل مؤکل د حکم مخالفت کونکی نه وي او کله چي هغه مخالفت کونکی دی، نو ځکه دا رانيول او دا بيع به د مؤکل لپاره وي او پر هغه به لازم وي، نه پر وکيل.

## د غيرِ معين شي د وکالت په صورت کي به د شي مالک څوک وي؟ (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِنْ وَكَّلَهُ بِشِرَاءِ عَبْدٍ بِغَيْرِ عَيْنِهِ فرمايي: او که مؤکل يو څوک د يو غير مُعيّن غلام د رانيولو وکيل جوړ کړي فَاشْتَرَى عَبْدًا بيا وکيل يو غلام رانيسي فَهُوَ لِلْوَكِيلِ نو هغه د وکيل لپاره دی إِلَّا أَنْ يَقُولَ: نَوَيْتُ الشِّرَاءَ لِلْمُوَكِّلِ مګر دا چي وکيل [داسي] ووايي: چي ما د مؤکل لپاره د رانيولو نيت کړی دی أَوْ يَشْتَرِيَهُ بِمَالِ الْمُوَكِّلِ يا دا چي مؤکل هغه د مؤکل په مال سره رانيسي قَالَ: هٰذِهِ الْمَسْأَلَةُ عَلَى وُجُوهٍ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا مسئله پر څو صورتونو [مشتمله] ده إِنْ أَضَافَ الْعَقْدَ إِلَى دَرَاهِمِ الْآمِرِ [يو دا چي] که وکيل دا بيع د مؤکل د دراهمو وطرف ته منسوب کړي كَانَ لِلْآمِرِ نو دا بيع به د حکم کونکي [يعني د مؤکل] لپاره وي وَهُوَ الْمُرَادُ عِنْدِي بِقَوْلِهِ أَوْ يَشْتَرِيهِ بِمَالِ الْمُوَكِّلِ او د امام قدوري رَحِمَهُ الله په دې قول "أَوْ يَشْتَرِيْهِ بِمَالِ الْمُوَكِّل" سره زما په نيز همدا مراد دي دُونَ النَّقْدِ مِنْ مَالِهِ او د مؤکل له مال څخه اداء کول مراد نه دي لِأَنَّ فِيهِ تَفْصِيلًا وَخِلَافًا ځکه چي په هغه کي تفصيل او اختلاف دی وَهٰذَا بِالْإِجْمَاعِ او دا حکم په اجماع سره [متفق عليه] دی وَهُوَ مُطْلَقٌ حال دا چي هغه مطلق دی وَإِنْ أَضَافَهُ إِلَى دَرَاهِمِ نَفْسِهِ [دويم دا چي] که وکيل دا بيع د خپل دراهمو وطرف ته منسوب کړي كَانَ لِنَفْسِهِ نو دا به د وکيل د خپل ځان لپاره وي حَمْلًا لِحَالِهِ عَلَى مَا يَحِلُّ لَهُ شَرْعًا په حمل کولو سره د وکيل د حالت پر داسي شي کوم چي د هغه لپاره شرعاً حلال دی أَوْ يَفْعَلُهُ عَادَةً يا کوم چي وکيل د عادت [عرف] په توګه کوي إِذِ الشِّرَاءُ لِنَفْسِهِ بِإِضَافَةِ الْعَقْدِ إِلَى دَرَاهِمِ غَيْرِهِ مُسْتَنْكَرٌ شَرْعًا وَعُرْفًا ځکه چي د بل چا دراهمو ته د بيع په نسبت کولو سره د خپل ځان لپاره [يو شی] رانيول شرعاً او عرفاً دواړه ډوله ناخوښه [او بد] دي وَإِنْ أَضَافَهُ إِلَى دَرَاهِمَ مُطْلَقَةٍ [۳] او که

وکيل دا بيع د مطلق دراهمو وطرف ته منسوب کړي فَإِنْ نَوَاهَا لِلْآمِرِ نو که چيرې هغه د مؤکل لپاره د دې[بيع] نيت کړی وي فَهُوَ لِلْآمِرِ نو دا د مؤکل لپاره ده وَإِنْ نَوَاهَا لِنَفْسِهِ او که د خپل ځان لپاره يې د هغه نيت کړی وي فَلِنَفْسِهِ نو د هغه د خپل ځان لپاره ده لِأَنَّ لَهُ أَنْ يَعْمَلَ لِنَفْسِهِ وَيَعْمَلَ لِلْآمِرِ فِي هٰذَا التَّوْكِيلِ ځکه چې په دې توکيل [يعني د غير مُعيّن شي په توکيل کې] کې وکيل ته دا اختيار سته چې د خپل ځان لپاره کار وکړي او [دا اختيار هم ورته سته] چې د مؤکل لپاره کار وکړي وَإِنْ تَكَاذَبَا فِي النِّيَّةِ او که د نيت په هکله وکيل او مؤکل دواړه يو د بل تکذيب وکړي [يعني دواړه يو بل دروا غجن وشماري] يُحَكَّمُ النَّقْدُ بِالْإِجْمَاعِ نو بالاتفاق به ادا ينه حکَم [فيصله کونکې] ګرځول کيږي [يعني بالاتفاق به د ثمن پر اداء کولو فيصله کيږي، يعني دې ته به کتل کيږي چې وکيل ثمن له خپل مال څخه اداء کړی دی او که د مؤکل له مال څخه] لِأَنَّهُ دَلَالَةٌ ظَاهِرَةٌ عَلَىٰ مَا ذَكَرْنَا ځکه چې موږ د ذکر سوي بيان مطابق ادا ينه [له خپل يا د مؤکل له مال څخه اداء کول] ظاهري دليل دی وَإِنْ تَوَافَقَا عَلَىٰ أَنَّهُ لَمْ تَحْضُرْهُ النِّيَّةُ او که چيرې وکيل او مؤکل دواړه پر دې خبره اتفاق وکړي چې [د رانيولو په وخت کې] د وکيل هيڅ نيت نه وو [يعني وکيل ووايي چې ما د هيڅ نيت نه دی کړی او مؤکل هم دا خبره تسليم کړي] قَالَ: مُحَمَّدٌ: هُوَ لِلْعَاقِدِ نو امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې [په دې صورت کې] دا بيع د عاقد لپاره ده لِأَنَّ الْأَصْلَ أَنَّ كُلَّ أَحَدٍ يَعْمَلُ لِنَفْسِهِ ځکه اصل همدا دی چې هر انسان د خپل ځان لپاره کار کوي إِلَّا إِذَا ثَبَتَ جَعْلُهُ لِغَيْرِهِ مګر دا چې د بل چا لپاره کار کول ثابت سي [يعني دا ثابت سي چې هغه خپل کار د بل چا لپاره کړی دی] وَلَمْ يَثْبُتْ حالانکې [دلته] دا نه دي ثابت سوي [ځکه وکيل د هيڅ نيت نه دی کړی] وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ❁ يُحَكَّمُ النَّقْدُ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز به ادا ينه [د ثمن اداء کول] حکَم ګرځول کيږي لِأَنَّ مَا أَوْقَعَهُ مُطْلَقًا يَحْتَمِلُ الْوَجْهَيْنِ ځکه وکيل چې کوم کار [رانيول] مطلق واقع کړی دی هغه د دوو صورتونو احتمال لري [د مؤکل لپاره واقع کېدل او د وکيل لپاره واقع کېدل] فَيَبْقَىٰ مَوْقُوفًا لهذا دا کار [رانيول] به موقوف پاته وي فَمِنْ أَيِّ الْمَالَيْنِ نَقَدَ نو وکيل چې [د مؤکل او وکيل] په مالونو کې د

❁ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، وعليه عامة الشرّاح (نتائج الأفكار ج:۷، ص:۴۵)، وكذا في الكفاية (ج:۷، ص:۴۶). [القول الراجح ج:۲، ص۱۵۴]

کوم چا له مال څخه ثمن اداء کړی وي فَقَدْ فَعَلَ ذٰلِكَ الْمُحْتَمَلَ لِصَاحِبِهِ نو [ګواکي] هغه دا محتمل کار [رانيول] هم د هغه مال د خاوند لپاره کړی دی وَلِأَنَّ مَعَ تَصَادُقِهِمَا يَحْتَمِلُ النِّيَّةَ لِلْآمِرِ او ځکه چي [د نيت پر نښتوالي] د دواړو د اتفاق کولو باوجود د مؤکل لپاره د نيت کولو احتمال سته [په دې توګه چي وکيل به د مؤکل نيت کړی وي او بيا به څني هېر سوی وي] وَفِيمَا قُلْنَا حَمْلُ حَالِهِ عَلَى الصَّلَاحِ او کوم څه چي موږ [د امام ابويوسف له طرفه] ويلي دي په هغه کي د وکيل حالت پر صلاح حمل کول دي [يعني امام ابويوسف رَحِمَهُ الله چي کوم دا خبره کړې ده چي د ثمن پر اداء کولو به فيصله کيږي، په هغه کي د وکيل حالت پر صلاح او سمون حمل کړی سوی دی] كَمَا فِي حَالَةِ التَّكَاذُبِ لکه د تکاذب په حالت کي [يعني لکه په هغه حالت کي چي د ثمن پر اداء کولو فيصله کيږي کله چي مؤکل او وکيل يو د بل تکذيب وکړي] وَالتَّوْكِيلُ بِالْإِسْلَامِ فِي الطَّعَامِ عَلَى هٰذِهِ الْوُجُوْهِ او په غله [غنم او داسي نورو کي] د بيع سَلَم کولو لپاره وکيل جوړول هم پر دغه صورتونو [مشتمل] دي.

**اللغات:** ﴿تكاذبا﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده: يو بل دروغجن ګڼل (دروغجن شمارل)، يو بل دروغجن ګرځول. ﴿يُحَكَّم﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: حَكَم (فيصله کونکی) ګرځول، يو څوک په خپل مينځ کي د فيصله کولو لپاره ټاکل. ﴿نَقَدَ﴾ د نصر د باب ماضي ده: نغد اداء کول. قيمت اداء کول. ﴿إسلام﴾ د دې لفظ څو معناوي دي، خو کله چي د بيع په باره کي ذکر سي نو معنیٰ يې ده: بيع سَلَم کول. (معجم وسيط)

**أصول:** دا مسئله پر دې أصول مبني ده چي کله يو سړی بل څوک د غير مُتعيّن شي د رانيولو وکيل جوړ کړي، بيا وکيل هغسي يو شی رانيسي، نو دا رانيول سوی شی هغه د وخت د مؤکل لپاره ګرځي يعني هغه وخت د مؤکل حق کيږي کله چي د مؤکل لپاره د رانيولو علامت او نښه موجوده وي چي وکيل دا شی د مؤکل لپاره رانيولی دی.

**تشريح:** په دې عبارت کي فقط د يوې مسئلې څو صورتونه ذکر سوي دي چي هغه به انشاء الله موږ په ترتيب سره ذکر کړو، تر ټولو مخکي صورت د مسئلې ته ګورئ!:

**صورت د مسئلې:** دا دی که يو سړی بل څوک د يو غير مُعيّن غلام د رانيولو وکيل جوړ کړي (مثلا ورته ووايي چي ما ته يو غلام رانيسه! او غلام مُتعيّن نه کړي چي خاص دا غلام رانيسه!)، بيا وکيل يو غلام رانيسي، نو د دې مطلق حکم دا دی چي دا بيع (رانيول) د وکيل لپاره دي او همدا وکيل به د

هغه غلام مالک وي، لېکن که وکیل داسې ووايي چې ما د مؤکل لپاره د رانیولو نیت کړی وو، یا وکیل د مؤکل په مال سره هغه غلام رانیسي، نو په دې صورت کې دا بیع د مؤکل لپاره ده.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمایي چې ګورئ! په اصل کې د دې مسئلې درې صورتونه دي:

(۱)... اول صورت دا دی چې که وکیل دا بیع (رانیول) د مؤکل د مال وطرف ته منسوب کړي او داسې ووايي چې "ما د مؤکل په مال (دراهمو) سره دا غلام رانیولی دی"، نو په دې صورت کې دا بیع د مؤکل لپاره ده او همدا مؤکل د هغه غلام مالک کیږي. دلته تاسو په دې خبره ځان پوه کړئ! چې په متن کې د امام قدوري رَحِمَهُ الله د دې قول "أَوْ يَشْتَرِيَهِ بِمَالِ الْمُوَكِّلِ" دوه مطلبه دي: ① اول مطلب یې دا دی کوم چې مونږ ذکر کړی، یعنې وکیل دا بیع د مؤکل د مال (دراهمو) وطرف ته منسوب کړي چې ما دا غلام د مؤکل په مال سره رانیولی دی. ②... دویم مطلب یې دا دی چې وکیل دا بیع د مؤکل د مال وطرف ته منسوب نه کړي بلکې صرف د مؤکل له مال څخه د غلام ثمن اداء کړي او داسې نه ووايي چې ما دا غلام د مؤکل په مال سره رانیولی دی. په دې دواړو مطلبونو کې د شارح "علامه مرغیناني رَحِمَهُ الله" په نېز اول مطلب زیات صحیح او راجح دی، ځکه چې په هغه کې هیڅ اختلاف نشته او متفق علیه دی او د امام قدوري رَحِمَهُ الله عبارت "أَوْ يَشْتَرِيَهِ إلخ" هم مطلق دی یعنې په هغه کې هیڅ اختلاف نه دی ذکر سوی، نو ځکه هغه به پر متفق علیه صورت حمل کول کیږي، او د دې اول مطلب پر بناء د مذکوره غلام بیع د مؤکل لپاره واقع کیږي، نه د وکیل لپاره، نو ځکه په اول صورت کې به دا بیع (یعني رانیول سوی غلام) د مؤکل لپاره وي.

(۲)... د اصل مسئلې دویم صورت دا دی چې که وکیل دا بیع (رانیول) د خپل مال وطرف ته منسوب کړي او داسې ووايي چې "ما په خپل مال (دراهمو) سره دا غلام رانیولی دی"، نو په دې صورت کې دا بیع د وکیل لپاره ده او همدا وکیل د هغه غلام مالک کیږي.

حملاً لحاله ..شرعاً أو...عادتاً: په دې عبارت سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د پورتنۍ دوو صورتونو دوه دلیلونه بیان کړي دي چې له هغه څخه یو دلیل عرف دی او بل دلیل شرع ده، یعنې یو عرفي دلیل دی او دویم شرعي دلیل دی، عرفي دلیل په دواړو صورتونو کې جاري کیږي (بنایه)، او شرعي دلیل فقط د اول صورت سره خاص دی.

د عرفي دلیل حاصل دا دی چې په عرف عام کې چې کوم سړی د خپل مال (دراهمو) وطرف ته عقد منسوب کړي نو هغه د خپل ځان لپاره بیع کونکی (رانیونکی) وي، ها! کوم سړی چې د بل چا د مال وطرف ته بیع منسوب کړي نو هغه د بل چا لپاره بیع کونکی وي، لهذا د دغه دلیل په اعتبار سره به په اول صورت کې بیع (رانیول) د مؤکل لپاره وي او په دویم صورت کې به د وکیل لپاره وي.

پاته سو شرعي دليل نو هغه خاص داول صورت سره متعلق دی، ځکه چي په هغه صورت کي وکيل بيع (رانيول) دمؤکل دمال وطرف ته منسوب کړي دي، اوس که دا بيع دمؤکل لپاره واقع نه سي او دوکيل لپاره واقع سي، نو ښکاره خبره ده چي په دې صورت کي به وکيل دمؤکل د دراهمو غصبونکی وشمارل سي، او دبل چا مال غصب کول شرعاً حرام دی، نو ځکه دشرع (شريعت) له رويه به هم په اول صورت کي دغلام بيع دمؤکل لپاره وي او دوکيل لپاره به نه وي.

(۳)... دريم صورت دا دی چي وکيل بيع دمطلق مال(مطلق دراهمو) وطرف ته منسوب کړي او صرف داسي ووايي چي "ما په دوه سوه درهمه دا غلام رانيولی دی" (او مال يعني دراهم دهيچا وطرف ته منسوب نه کړي)، نو په دې صورت کي تفصيل دی او هغه دا چي که وکيل درانيولو نيت دمؤکل لپاره کړی وي نو بيع د مؤکل لپاره واقع کيږي، او که وکيل دهغه نيت د خپل ځان لپاره کړی وي نو بيع دهغه لپاره واقع کيږي؛ ځکه چي دا توکيل بالشراء دغير مُعيّن غلام سره متعلق دی (يعني په دې مسئله کي وکيل د غيرِ مُتعيّن غلام درانيولو وکيل جوړ سوی دی)، او دغير مُعيّن شي په توکيل کي وکيل ته اختيار وي که وغواړي نو هغه دي دخپل ځان لپاره رانيسي او که وغواړي نو دمؤکل لپاره دي يې رانيسي، نو ځکه په دې دريم صورت کي به دوکيل پر نيت فيصله کيږي او څنګه چي دهغه نيت وي هغسي حکم به کيږي.

وإن تكاذبا إلخ: ددې حاصل دا دی که دوکيل او مؤکل په مينځ کي دنيت په حواله سره اختلاف راسي يعني وکيل ووايي چي "ما دخپل ځان لپاره رانيولی دی"، او مؤکل ووايي چي "ته درواغ وايې، دا غلام تا زما لپاره لپاره رانيولی دی"، نو په دې صورت کي به د ثمن پر ادا ينه فيصله کيږي، يعني که چيري وکيل له خپل مال څخه ثمن اداء کړی وي نو دا بيع (رانيول) به دهغه لپاره وي او که دمؤکل له مال څخه يې ثمن اداء کړی وي نو بيع به دمؤکل لپاره وي.

وإن توافقا على أنه إلخ: فرمايي که وکيل او مؤکل اختلاف نه وکړي بلکي پر دې خبره اتفاق وکړي چي د رانيولو په وخت کي وکيل دهيچا نيت نه دی کړی، نو دا بيع او رانيول به دچا لپاره وي؟ په دې باره کي دصاحبينو رَحِمَهُمَاالله اختلاف دی، امام محمد رَحِمَهُالله فرمايي چي په دې صورت کي بيع دعاقد يعني دوکيل لپاره ده؛ ځکه چي اصل همدا دی چي انسان دخپل ځان لپاره کار کوي، ها! کوم کار چي هغه د بل وطرف ته منسوب کړي يا دبل چا لپاره يې نيت وکړي، نو دا کار دهغه بل چا لپاره واقع کيږي، او څرنګه چي په دې مسئله کي وکيل نه دبل چا وطرف ته هغه بنسوب کړی دی او نه يې دبل چا نيت کړی دی، نو ځکه دا بيع به په خپله دوکيل لپاره وي، ددې په خلاف امام ابو يوسف رَحِمَهُالله فرمايي چي په دې صورت کي به د ثمن پر ادا ينه فيصله کيږي او دچا له مال څخه چي ثمن اداء سوی وي، بيع

به هم د هغه لپاره وي؛ ځکه چي د وکيل دا بيع (رانيول) مطلق ده او په دې کي دوه احتماله دي: ① يو دا چي شايد دا بيع به د مؤکل لپاره وي، ② دويم دا چي د وکيل لپاره به وي، او له دې دواړو احتمالاتو څخه د ثمن دادايني په ذريعه يو احتمال راجح ګرځي، نو ځکه د ثمن پر ادا ينه به فيصله کيږي او ديوه لپاره به بيع مُتعيّن کيږي.

دويم دليل دا دی چيځ کله دلته وکيل او مؤکل پر دې خبره اتفاق وکړی چي د رانيولو په وخت کي د وکيل هيڅ نيت نه وو، نو په دې دا احتمال هم سته چي وکيل به د مؤکل لپاره نيت کړی وي لېکن بيا به ځني هېر سوی دی، نو ځکه فقط د ثمن پر اداء کولو به فيصله کيږي چي وکيل د چا له مال څخه ثمن اداء کړی دی. او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله چي څه ويلي دي په هغه کي د وکيل حالت پر صلاح او سمون حمل کړی سوی دی، ځکه که د امام محمد رَحِمَهُ الله په څېر د عاقد يعني د وکيل لپاره بيع (رانيول سوی غلام) مُتعيّن کړی سي په داسي حال کي چي ثمن هم د مؤکل له مال څخه اداء کړی سوی وي، نو په دې صورت کي به د وکيل غاصب کېدل لازم سي (يعني ګواکي وکيل هغه غلام غصب کړی) او دا قطعاً مناسب نه دي، نو ځکه غوره همدا ده چي د وکيل حالت پر صلاح او سمون حمل کړی سي او دا هغه وخت ممکن دي چي د ثمن پر ادا ينه فيصله وسي، نو ځکه د نيت پر نشتوالي د اتفاق کولو په صورت کي به د ثمن پر ادا ينه فيصله کيږي.

والتوکيل بالإسلام إلخ: فرمايي چي د توکيل بالشراء په هکله چي دلته کوم تفصيلات ذکر سول، دا تفصيلات په هغه صورت کي هم دي کله چي د غلې (يعني دغنم، اوربشو او داسي نورو) د بيع سَلم کولو لپاره يو څوک وکيل جوړ کړی سي، او کوم صورتونه چي دلته جاري دي هغه د بيع سَلم په توکيل کي هم جاري کيږي. مثلاً که وکيل بيع سَلم وکړي نو دې ته به کتل کيږي چي ① وکيل دا بيع د خپل مال و طرف ته منسوب کړې ده ② او که د مؤکل د مال و طرف ته ③ او که د مطلق مال و طرف ته . . . إلى آخره.

## د پورتني مسئلې نور وضاحت

قَالَ: وَمَنْ أَمَرَ رَجُلًا بِشِرَاءِ عَبْدٍ بِأَلْفٍ فرمايي: او چا چي يو سړي ته په زر درهمو سره د يو غلام رانيولو حکم وکړی فَقَالَ: قَدْ فَعَلْتُ وَمَاتَ عِنْدِيْ بيا هغه سړي [وکيل] وويل: چي ما دا کار وکړی [يعني غلام مي ستا لپاره رانيوی] لېکن هغه غلام زما سره مړ سو وَقَالَ الْآمِرُ: اشْتَرَيْتَهُ لِنَفْسِكَ او مؤکل وويل: چي تا هغه غلام د خپل ځان لپاره رانيولی وو فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْآمِرِ نو قول د مؤکل معتبر دی فَإِنْ كَانَ دَفَعَ إِلَيْهِ الْأَلْفَ لېکن که مؤکل و وکيل ته زر درهمه ورکړي وي فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمَأْمُوْرِ نو قول

د وکيل معتبر دی لِأَنَّ فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ أَخْبَرَ عَمَّا لَا يَمْلِكُ اسْتِئْنَافَهُ ځکه چي په اول صورت کي وکيل د داسي کار خبر ورکړی دی چي وکيل د هغه د راګرځولو [دوباره کولو] ملکيت نه لري [يعني هغه دوباره نه سي کولای] وَهُوَ الرُّجُوعُ بِالثَّمَنِ عَلَى الْآمِرِ او هغه له مؤکل ځخه ثمن اخيستل دي وَهُوَ يُنْكِرُ حال دا چي مؤکل له هغه ځخه منکر دی وَالْقَوْلُ لِلْمُنْكِرِ او قول د منکر معتبر وي وَفِي الْوَجْهِ الثَّانِي هُوَ أَمِينٌ يُرِيدُ الْخُرُوجَ عَنْ عُهْدَةِ الْأَمَانَةِ او په دويم صورت کي وکيل امين دی [او] هغه د امانت له ذمه واری ځخه وتل غواړي [يعني په خپل دې قول سره "چي غلام مي ستا لپاره رانيوی" د امانت له ذمه واری ځخه د ځان خلاصېدل او بري کېدل غواړي] فَيُقْبَلُ قَوْلُهُ نو ځکه د هغه به قبلول کيږي وَلَوْ كَانَ الْعَبْدُ حَيًّا حِينَ اخْتَلَفَا او که چيرې د وکيل او مؤکل د اختلاف کولو په وخت کي غلام ژوندی وي إِنْ كَانَ الثَّمَنُ مَنْقُودًا نو که چيري [د مؤکل له طرفه وکيل ته] ثمن ورکول سوی وي [يعني مؤکل د غلام رانيولو لپاره وکيل ته ثمن ورکړی وي] فَالْقَوْلُ لِلْمَأْمُورِ نو قول د وکيل معتبر دی لِأَنَّهُ أَمِينٌ ځکه چي هغه امين دی وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَنْقُودًا او که چيري ثمن ورکول سوی نه وي فَكَذٰلِكَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ نو هم د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دا حکم دی لِأَنَّهُ يَمْلِكُ اسْتِئْنَافَ الشِّرَاءِ ځکه چي [په دې صورت کي] وکيل د دوباره رانيولو ملکيت [اختيار] لري فَلَا يُتَّهَمُ فِي الْإِخْبَارِ عَنْهُ نو ځکه د شراء [رانيولو] په خبر ورکولو کي به هغه متهم نه وي وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ الْقَوْلُ لِلْآمِرِ❁ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز قول د مؤکل معتبر دی لِأَنَّهُ مَوْضِعُ تُهْمَةٍ ځکه چي دا د تهمت ځای دی بِأَنِ اشْتَرَاهُ لِنَفْسِهِ فَإِذَا رَأَى الصَّفْقَةَ خَاسِرَةً په دې توګه چي وکيل به هغه [غلام] د ځان لپاره رانيولی وي بيا چي کله وکيل دا سودا [ځان لپاره] تاواني وليدله أَلْزَمَهَا الْآمِرَ نو پر مؤکل به يې لازمه کړې وي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ الثَّمَنُ مَنْقُودًا په خلاف د هغه صورت کله چي ثمن ورکول سوی وي لِأَنَّهُ أَمِينٌ فِيهِ ځکه چي په دې صورت کي وکيل امين دی فَيُقْبَلُ قَوْلُهُ تَبَعًا لِذٰلِكَ نو ځکه دده قول به د هغه په متابعت کي قبلول کيږي وَلَا ثَمَنَ فِي يَدِهِ هٰهُنَا او دلته [په دې صورت کي] د وکيل په قبضه کي ثمن نسته.

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما هو ظاهر من صنيع المصنف رَحِمَهُ الله، وكذا ذكر في تبيين الحقائق (ج:۴، ص:۲۶۶)، وفي الدر المختار (ج:۴، ص:۴۵۰). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۵۵]

**اللغات**: ﴿آمر﴾ د نصر د باب فاعل دی: حکم کونکی، مراد ځني مؤکل (وکیل جوړونکي) دی، ﴿مأمور﴾ د نصر د باب مفعول دی: چا ته چي حکم سوی وي، مراد ځني وکیل دی، ﴿استیناف﴾ او اِسْتِئْنَاف: یو کار له نوي سره شروع کول، راګرځول، دوباره کول، ﴿منقود﴾ د نصر د باب مفعول دی: نغد اداء کړل سوی، ورکول سوی، ﴿لا یُتَّهم﴾ د افتعال د باب مضارع مجهوله ده: متهم کېدل، تورن کېدل (تومتي کېدل)، پر یو چا د یو شي تهمت کېدل.

**تشريح**: **صورت د مسئلي**: دا دی که یو څوک (مثلا خالد) بل سړی په زر درهمه د غلام رانیولو وکیل جوړ کړی چي زما لپاره په زر درهمه غلام رانیسه! (لېکن خالد هغه ته زر درهمه نه ورکړي)، بیا وکیل ووېل چي ما د مؤکل (خالد) حکم پر ځای کړی او غلام مي رانیوی لېکن هغه غلام زما سره مړ سو (یعني زما په قبضه کي وو او په همدې دوران کي مړ سو)، او مؤکل ووېل چي تا زما لپاره هغه نه وو رانیولی بلکي د خپل ځان لپاره دي رانیولی وو، نو په دې صورت کي بیع (رانیول) د وکیل لپاره واقع کیږي، نه د مؤکل لپاره، یعني وکیل به له مؤکل څخه د هغه غلام ثمن نه اخلي ځکه چي د غلام رانیول د وکیل لپاره واقع سوه، نه د مؤکل لپاره، لېکن که چیري مؤکل (خالد) و مامور (وکیل) ته مخکي زر درهمه ورکړي وي، نو په دې صورت کي بیع د مؤکل لپاره واقع کیږي، نه د وکیل لپاره.

د دې دواړو صورتونو په فرق کي صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي اول صورت، یعني کله چي مؤکل و وکیل ته ثمن (زر درهمه) نه وي ورکړي او وکیل ووایي چي ما دا غلام د موکل (خالد) لپاره رانیولی وو لېکن هغه مړ سو نو ځکه مؤکل دي ما ته خپل ثمن راکړي (کوم چي ما د هغه په غلام کي ورکړی دی)، صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي په دغه صورت کي وکیل د داسي بیع خبر ورکړی دی چي وکیل هغه دوباره نه سي کولای؛ ځکه چي غلام مړ سوی دی، او مړ غلام د بیع محل نه سي کېدای، په بله وینا دا چي که اوس وکیل دوباره دا غلام رانیول وغواړي، نو هغه یې نه سي رانیولای، یعني که مؤکل هغه ته وایي چي زه هغه غلام غواړم نو وکیل یې نسي ورکولای، او کله چي داسي ده، نو د هغه ثمن هم له مؤکل څخه نه سي اخیستلای (ځکه چي اوس وکیل مؤکل ته هغه غلام نه سي ورکولای). او بل دلیل دا دی چي دلته وکیل له مؤکل څخه د غلام د ثمن اخیستلو مدعي دی او مؤکل له دې څخه منکر دی، او څرنګه چي د مدعي یعني د وکیل سره بیّنه هم نسته، نو ځکه د منکر یعني د مؤکل قول به معتبر وي، یعني دا بیع به د وکیل لپاره وي، نه د مؤکل لپاره (لهذا وکیل ته به دا حق نه وي چي له مؤکل څخه د هغه ثمن واخلي)

د دې په خلاف څرنګه چي په دویم صورت کي مؤکل و وکیل ته ثمن ورکړی دی، نو ځکه په دې صورت کي وکیل امین دی او هغه غواړي چي په خپل دې قول سره "چي ما ستا لپاره غلام

رانيولو وو مګر هغه مړ سو" خپل ځان دامانت له ذمه واري څخه خلاص او بري کړي، او مؤکل په خپل دې قول سره د هغه نيول او ګيرول غواړي چي "تا زما لپاره نه، بلکي د خپل ځان لپاره رانيولی وو"، او حکم دا دی چي که دامين (امانت ساتونکي) او مالک په مينځ کي داسي اختلاف راسي، نو په دې صورت کي د امين قول معتبر وي، نو ځکه په دويم صورت کي د وکيل "کوم چي امين دی" قول به معتبر وي يعني د مذکوره غلام بيع به فقط د مؤکل لپاره واقع کيږي، نه د وکيل لپاره (لهذا په دې صورت کي به وکيل ته دا حق وي چي له مؤکل څخه ثمن واخلي او مؤکل به هغه ته خپل ثمن ورکوي).

ولو كان العبد حيًا: د دې حاصل دا دی که د وکيل او مؤکل د دغه اختلاف په وخت کي غلام ژوندی وي، يعني د غلام د ژوندون په صورت کي مؤکل ووېل چي وکيل دا غلام د خپل ځان لپاره رانيولی دی، لېکن وکيل ووېل چي ما د مؤکل لپاره رانيولی دی، نو په دې صورت کي برابره ده مؤکل و وکيل ته ثمن ورکړی وي، که نه، په هر صورت کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د وکيل قول معتبر دی؛ لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د ثمن نه ورکولو په صورت کي د مؤکل قول معتبر او مقبول دی.

**د صاحبينو دليل**: د ثمن ورکولو په صورت کي خو د وکيل د قول معتبر والی ښکاره دی چي هغه امين دی او قول د امين معتبر وي، او د ثمن نه ورکولو په صورت کي د صاحبينو دليل دا دی چي د وکيل او مؤکل د دغه اختلاف په صورت کي غلام ژوندی دی او د بيع و شراء (رانيولو) محل دی، همدارنګه وکيل د مؤکل لپاره دوباره د بيع پر کولو (رانيولو) قادر هم دی (يعني دلته هغه دوباره د مؤکل لپاره غلام رانيولای سي)، نو ځکه اوس که وکيل دا خبره کوي چي ما د مؤکل لپاره دا غلام رانيولی دی نو هغه به په خپل دې قول کي درواغجن او متهم نه وي، او کله چي د هغه په حق کي د تهمت او درواغو احتمال ختم سو، نو ځکه د وکيل د قول په معتبر والي کي به هيڅ شک وشبهه نه وي.

**د امام صاحب دليل**: دا دی چي د غلام د ژوندون په صورت کي هم وکيل په خپل قول او خبر کي متهم دی (يعني د هغه په قول او خبر کي د درواغو تهمت سته)، په دې توګه چي وکيل به اول د خپل ځان لپاره غلام رانيولی وي او بيا د غلام په دې بيع کي د نقصان او تاوان ليدلو په وجه به يې دا بيع د مؤکل صاحب وطرف ته منسوب کړې وي او پر هغه به يې لازم کړې وي، او تاسو ته به هم معلومه وي چي د وکيل او مؤکل په مينځ کي ځيني وخت داسي حالات او واقعات پيښيږي هم، نو ځکه په دې حواله سره د وکيل په قول کي تهمت سته او هغه په خپل خبر ورکولو کي متهم دی، او کله چي د هغه په قول او خبر کي تهمت سته، نو ښکاره خبره ده چي د هغه قول به معتبر نه وي بلکي د مؤکل قول به معتبر وي.

دي په خلاف کله چي مؤکل و وکيل ته ثمن ورکړی وي، نو څرنګه چي وکيل په دې صورت کي امين دی او د مؤکل لپاره د غلام رانيولو په خبره کولو سره هغه د امانت له ذمه واری څخه خپل ځان بري کېدل غواړي، نو ځکه په دې صورت کي به د امين يعني د وکيل قول معتبر وي، او کله چي له امانت څخه په بري کېدلو کي د هغه قول معتبر دی نو د دې په ضمن کي به د هغه دا قول هم معتبر وي چي ما د مؤکل لپاره غلام رانيولی دی. لېکن په کوم صورت کي چي مؤکل و وکيل ته ثمن نه دی ورکړی، په هغه صورت کي وکيل امين نه دی، نو ځکه په هغه صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مؤکل قول معتبر او مقبول دی، نه د وکيل؛ ځکه چي تهمت موجود دی.

## د متعيّن شي د رانيولو د وکالت يو صورت

وَإِنْ كَانَ أَمَرَهُ بِشِرَاءِ عَبْدٍ بِعَيْنِهِ او که چيري مؤکل وکيل ته د يو مُعيّن غلام د رانيولو حکم وکړي ثُمَّ اخْتَلَفَا وَالْعَبْدُ حَيٌّ بيا دواړه اختلاف وکړي په داسي حال کي چي غلام ژوندی وي فَالْقَوْلُ لِلْمَأْمُورِ نو قول د وکيل معتبر دی سَوَاءٌ كَانَ الثَّمَنُ مَنْقُودًا أَوْ غَيْرَ مَنْقُودٍ برابره ده [د مؤکل له طرفه وکيل ته] ثمن ورکول سوی وي او که نه وي ورکول سوی وَهٰذَا بِالْإِجْمَاعِ او دا [مسئله] متفق عليه ده لِأَنَّهُ أَخْبَرَ عَمَّا يَمْلِكُ اسْتِيْنَافَهُ ځکه چي وکيل د داسي کار خبر ورکړی دی چي وکيل د هغه د راګرځولو [دوباره کولو] ملکيت لري وَلَا تُهْمَةَ فِيهِ او په دې کي تهمت [هم] نسته لِأَنَّ الْوَكِيلَ بِشِرَاءِ شَيْءٍ بِعَيْنِهِ لَا يَمْلِكُ شِرَاءَهُ لِنَفْسِهِ بِمِثْلِ ذٰلِكَ الثَّمَنِ فِي حَالِ غَيْبَتِهِ ځکه چي د مُعيّن شي د رانيولو وکيل د مؤکل په غائب والي [ناموجوديت] کي په هغومره ثمن سره د هغه شي د رانيولو ملکيت [اختيار] نه لري عَلٰى مَا مَرَّ لکه [مخکي] چي تېر سوه بِخِلَافِ غَيْرِ الْمُعَيَّنِ په خلاف د نا مُعيّن غلام [او نا مُعيّن شي] عَلٰى مَا ذَكَرْنَاهُ لِأَبِيْ حَنِيفَةَ لکه څرنګه چي موږ د امام صاحب رَحِمَهُ الله په دليل کي ذکر کړه.

**اللغات**: ﴿حيّ﴾ ژوندی، ﴿منقود﴾ د نصر د باب مفعول دی: نغد اداء کړل سوی ثمن، ورکول سوی قيمت، ﴿غيبة﴾ ناموجوديت (ناموجودګي).

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی بل څوک د يو مُتعيّن غلام د رانيولو وکيل جوړ کړي او بيا د وکيل او مؤکل په مينځ کي اختلاف راسي، وکيل ووايي چي ما د موکل لپاره دا غلام رانيولی دی او موکل ووايي چي تا د ځان لپاره رانيولی دی، او غلام ژوندی وي، نو په دې صورت کي د امام صاحب او صاحبينو ټولو په نېز د وکيل (مامور) قول معتبر دی؛ برابره ده مؤکل (امر) هغه ته ثمن

ورکړې وي، که نه؛ دليل دا دی چې وکيل د بيع (رانيولو) په هکله د داسې کار خبر ورکړی دی چې وکيل في الحاله د هغه پر کولو قادر دی (يعني وکيل دا غلام دوباره رانيولای سي)؛ ځکه چې غلام ژوندی دی، لهذا د هغه په قول او خبر کي هيڅ تهمت هم نسته، او بل دا چې مؤکل هغه ته د مُتعيّن او مشخص غلام د رانيولو حکم کړی دی، او کوم څوک چې د يو مُتعيّن غلام د رانيولو وکيل جوړ کړی سي، د هغه لپاره دا صحيح نه دي چې د مؤکل په ناموجوديت کي هغه غلام د ځان لپاره رانيسي، ځکه چې په دې سره وکيل له وکالت څخه معزوله کيږي (لکه مخکي چې ذکر سوه چې د مؤکل د ناموجود والي په حالت کي د خپل ځان لپاره د هغه د مُتعيّن شي په رانيولو سره وکيل معزوله کيږي). نو ځکه دا تهمت معلوم او ختم سو چې وکيل به هغه د خپل ځان لپاره رانيولی وي، او د مؤکل لپاره د غلام رانيولو په خبر کي وکيل رېښتونی وختی، نو ځکه د هغه قول او خبر به معتبر وي.

د دې په خلاف که چيري هغه د نامُتعيّن غلام د رانيولو وکيل وای، نو په دې صورت کي به د هغه لپاره دا صحيح وای چې د ځان لپاره دا غلام رانيسي، لهذا هغه به په خپل قول او خبر ورکولو کي متهم وای، لکه څرنګه په تېر عبارت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دليل په ضمن کي موږ د دې وضاحت وکړی.

## د وکالت يو مسئله

وَمَنْ قَالَ لِآخَرَ: بِعْنِيْ هٰذَا الْعَبْدَ لِفُلَانٍ او څوک چې بل چا ته ووايي: ته پر ما د فلانکي لپاره دا غلام خرڅ کړه! [ځکه چې هغه ما ته د دې حکم کړی دی او زه يې د دې غلام د رانيولو وکيل جوړ کړی يم] فَبَاعَهُ نو هغه پر خرڅ کړی ثُمَّ أَنْكَرَ أَنْ يَكُوْنَ فُلَانٌ أَمَرَهُ بيا وروسته سړي [قائل] له دې خبر څخه انکار وکړی چې فلانکي ما ته د دې حکم کړی دی ثُمَّ جَاءَ فُلَانٌ وَقَالَ: أَنَا أَمَرْتُهُ بِذٰلِكَ بيا فلانکی راغلی او ويې ويل: چې ما هغه [قائل] ته د دې حکم کړی وو. فَإِنَّ فُلَانًا يَأْخُذُهُ نو فلانکی به له هغه څخه [غلام] اخلي لِأَنَّ قَوْلَهُ السَّابِقَ إِقْرَارٌ مِنْهُ بِالْوَكَالَةِ عَنْهُ ځکه چې د قائل مخکنی قول د هغه له طرفه د فلانکي د وکيل کېدلو اقرار دی [يعني د هغه دا قول چې "دا غلام پر ما د فلانکي لپاره خرڅ کړه!" د دې خبري اقرار دی چې زه د فلانکي له طرفه وکيل يم] فَلَا يَنْفَعُهُ الْإِنْكَارُ اللَّاحِقُ نو ځکه وروستنی انکار به هغه ته فايده نه کوي فَإِنْ قَالَ فُلَانٌ: لَمْ آمُرْهُ او که چيري فلانکی ووايي: چې ما هغه ته [د دې غلام د رانيولو] حکم نه دی کړی لَمْ يَكُنْ لَهُ نو غلام د هغه لپاره نه دی [يعني په دې صورت کي فلانکي ته د غلام اخيستلو حق

نسته] لِأَنَّ الْإِقْرَارَ ارْتَدَّ بِرَدِّهِ ځکه چي اقرار د هغه په ردّ کولو سره ردّ سو إِلَّا أَنْ يُسَلِّمَهُ الْمُشْتَرٰى لَهُ مګر دا چي وکيل [قائل] غلام هغه کس ته وسپاري چي د هغه لپاره غلام رانيول سوی وي [يعني مګر دا چي کله قائل و فلانکي ته غلام ورکړي او فلانکی هغه واخلي (له مشتریٰ لهٗ څخه فلان (فلانکی) مراد دی؛ ځکه چي غلام د هغه لپاره رانيول سوی دی] فَيَكُونُ بَيْعًا عَنْهُ نو [په دې صورت کي] دا بيع د فلانکي [فلان] له طرفه ده وَعَلَيْهِ الْعُهْدَةُ او پر هغه [د دې غلام داخيستلو او ثمن ورکولو] ذمه واري لازم ده [يعني هغه به دا غلام اخلي او هغه د دې بيع ذمه وار دی] لِأَنَّهُ صَارَ مُشْتَرِيًا بِالتَّعَاطِيْ ځکه چي د بيع تعاطي [ورکړه راکړي] په ذريعه فلانکی مشتري وګرځېدی [يعني کله چي قائل فلانکي ته غلام ورکړی او هغه واخيستی نو په دې سره فلانکی (فلان) مشتري وګرځېدی] كَمَنِ اشْتَرٰى لِغَيْرِهِ بِغَيْرِ أَمْرِهِ لکه يو مشتري [رانيونکي] چي د بل چا له حکم څخه بغير د هغه لپاره يو شی رانيسي حَتّٰى لَزِمَهُ تر دې چي دا شی پر هغه [مشتري] لازم سي ثُمَّ سَلَّمَهُ الْمُشْتَرٰى لَهُ بيا مشتري [رانيونکی] دا شی هغه چا ته وسپاري چي د چا لپاره يې دا رانيولی وي [نو په دې صورت کي هم پر "مشتریٰ لهٗ" بيع لازم ده] وَدَلَّتِ الْمَسْأَلَةُ عَلٰى أَنَّ التَّسْلِيمَ عَلٰى وَجْهِ الْبَيْعِ يَكْفِي لِلتَّعَاطِيْ او دا مسئله پر دې خبره دلالت کوي چي د بيع په توګه ورسپارل د بيع تعاطي لپاره کافي دي وَإِنْ لَمْ يُوجَدْ نَقْدُ الثَّمَنِ که څه هم د ثمن ورکول [اداء کول] موجود نه سي وَهُوَ يَتَحَقَّقُ فِي النَّفِيْسِ وَالْخَسِيْسِ او بيع تعاطي په زيات قيمت لرونکي شي او کم قيمته شي دواړو کي ثابتيږي لِاسْتِتْمَامِ التَّرَاضِيْ ځکه چي د بائع او مشتري رضا پوره ده وَهُوَ الْمُعْتَبَرُ فِي الْبَابِ او د بيع په باب کي همدا [رضا] معتبر ده.

**اللغات**: ﴿بِعْ﴾ د ضرب له بابه د واحد مذکر امر حاضر صيغه ده: خرڅول. ﴿العُهدة﴾ ذمه واري. ﴿سابق﴾ د ضرب د باب فاعل دی: مخکښی. ﴿لاحق﴾ د سمع د باب فاعل دی: وروستني (وروسته واقع سوی). ﴿مشترٰی لهٗ﴾ د "مشترى" په لفظ کي دوه روايتونه منقول دي ① بکسر الراء يعني فاعل. ② بفتح الراء يعني مفعول. موږ دويم روايت اختيار کړی دی. ځکه چي په اول روايت کي هم له دې څخه "فلان" مراد دی خو له تقدير او څه تفصيل څخه وروسته. او په دويم روايت کي هم "فلان" ځني مراد دی بغير له څه تقدير او تفصيل څخه. ځکه په دويم روايت کي يې معنیٰ ده "د

چاڼپاره چي (غلام) رانيول سوی" چي هغه فلان (فلانکی) دی. لنډه دا چي په اول روايت کي يې معنیٰ اوږديږي، نو ځکه موږ دويم اختيار کړی دی. ﴿تعاطي﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: ورکړه راکړه. دبيع تعاطي صورت دا دی چي بائع او مشتري ايجاب وقبول نه سره وکړي بلکي بائع مبيع ورکړي او مشتري هغه واخلي او ثمن ورکړي. او مشتري په ثمن (قيمت) خبر وي چي د دې مبيع دومره قيمت دی، نو دې ته "بيع تعاطي" وايي، دا په کوچني او کم قيمته شي کي هم جائز ده او په غټ شي کي هم جائز ده. ﴿النفيس﴾ ارزښتمن، زيات قيمت والا، غوره. ﴿خسيس﴾ کم، سپک، کم قيمت والا. ﴿استتمام﴾ د استفعال د باب مصدر دی: پوره کول، بشپړ کول. ﴿التراضي﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو له بل څخه راضي کېدل (يو تر بله راضي کېدل).

**تشريح: صورت د مسئلې**: دا دی که مثلاً زيد و خالد ته ووېل چي زه فلانکي سړي مثلاً ادريس ستا د غلام رانيولو وکيل جوړ کړی يم (په بله وينا دا چي زه د ادريس له طرفه ستا د غلام رانيولو وکيل يم)، نو ځکه ته د ادريس لپاره پر ما غلام خرڅ کړه!، نو خالد پر زيد هغه غلام خرڅ کړی، تر دې وروسته زيد ووېل چي زه ادريس ستا د غلام رانيولو وکيل نه يم جوړ کړی بلکي ما هغه د خپل ځان لپاره رانيولی دی، بيا ادريس راغلی او هغه ووېل چي هو! ما زيد د غلام رانيولو وکيل جوړ کړی دی، نو اوس ادريس ته دا حق سته چي له مشتري يعني له زيد څخه هغه غلام واخلي او هغه ته ثمن ورکړي؛ دليل دا دی چي دلته خو مشتري يعني زيد اول د خپل ځان د وکيل کېدلو او د ادريس لپاره د غلام رانيولو اقرار کړی دی او بيا يې د وکالت انکار کړی دی، او د هغه اقرار پر انکار مخکي دی، نو ځکه مخکني اقرار به په وروستني انکار سره نه باطليږي او د مذکوره غلام بيع به د موکل يعني د ادريس لپاره وي او د ثمن په عوض کي به هغه ته د غلام اخيستلو حق وي.

فإن قال إلخ: د دې حاصل دا دی چي که ادريس (فلان) انکار وکړی يعني هغه ووېل چي ما زيد د غلام رانيولو وکيل نه دی جوړ کړی، نو په دې صورت کي ادريس ته د مذکوره غلام د اخيستلو حق نسته؛ ځکه چي د وکيل اقرار د ادريس په ردّ کولو سره ردّ سو، او اوس په دې غلام کي د هغه هيڅ حق پاته نه سو.

إلا أن يسلمه إلخ: دا جمله د متن له دې جملې "لم يكن ذلك له إلخ" څخه استثناء کړی سوې ده، او حاصل يې دا دی چي په يوه صورت کي د انکار کولو باوجود ادريس (موکل [فلان]) ته د غلام اخيستلو حق سته او پر هغه بيع لازم ده. او هغه صورت دا دی چي زيد (وکيل) و ادريس ته غلام وسپاري او ادريس هغه قبول کړي، ځکه چي په دې صورت کي د دوی تر مينځ بيع تعاطي وسوه، نو ځکه غلام به د مؤکل (ادريس) وي او پر مؤکل به د هغه ثمن لازم وي يعني د هغه په عوض کي به وکيل ته ثمن ورکوي.

د دې مثال دا دی لکه يو څوک چي ديو سړي له حکم څخه بغير د هغه لپاره يو شی رانيسي، نو دا رانيول سوی شی پر مشتري (رانيونکي) لازميږي او پر هغه سړي نه لازميږي، لېکن که مشتري دا رانيول سوی شی هغه سړي ته وسپاري او هغه دا واخلي هم، نو څرنګه چي دا بيع تعاطي ده، او بيع تعاطي جائز ده، نو ځکه دا بيع او رانيول سوی شی به پر هغه سړي لازم وي او هغه به مشتري ته خپل ته ثمن ورکوي، همداسي په پورتنۍ مسئله کي چي کله وکيل رانيول سوی غلام و ادريس (فلان) ته وسپاري او ادريس هغه واخلي، نو دا بيع به پر ادريس لازم وي او هغه به وکيل ته خپل ثمن ورکوي، ځکه چي دا هم بيع تعاطي ده.

ودلت المسألة إلخ: فرمايي له پورتنۍ مسئلې څخه دا خبره ښکاره او مستنبط سوه چي که يو څوک د بيع په توګه يو شی بل سړي ته وسپاري، نو دا د بيع تعاطي لپاره کافي دي يعني فقط په همدې سره بيع تعاطي منعقد کيږي او ثابتيږي؛ که څه هم دا بل سړي تر اوسه ثمن نه وي ورکړی، ځکه چي په بيع تعاطي کي فقط د مشتري او بائع رضا معتبره ده يعني چي د بائع او مشتري په رضا سره راکړه ورکړه وسي بس همدا کافي ده، او فقط په همدې سره بيع تعاطي ثابتيږي، برابره ده دا بيع په زيات قيمت لرونکي (اعلیٰ) شي کي وي او که په کم قيمته (ادنیٰ) شي کي وي، بس شرط د بائع او مشتري رضا ده، او هغه دلته موجوده او پوره ده.

## د دوو متعيّنو شيانو د وکالت په صورت کي يو شی رانيول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ أَمَرَ رَجُلًا أَنْ يَشْتَرِيَ لَهُ عَبْدَيْنِ بِأَعْيَانِهِمَا فرمايي: او څوک چي يو سړی ته د دې حکم وکړي چي هغه د ده لپاره دوه مُعيّن غلامان رانيسي وَلَمْ يُسَمِّ لَهُ ثَمَنًا او حکم کونکی د هغه سړي [وکيل] مخته ثمن ذکر نه کړي فَاشْتَرَى لَهُ أَحَدَهُمَا بيا وکيل د ده [حکم کونکي (مؤکل)] لپاره له هغه دوارو څخه يو غلام رانيسي جَازَ نو [دا] جائز دي لِأَنَّ التَّوْكِيلَ مُطْلَقٌ ځکه چي وکيل جوړول مطلق دي وَقَدْ لَا يَتَّفِقُ الْجَمْعُ بَيْنَهُمَا فِي الْبَيْعِ او ځيني وخت په بيع کي د دواړو غلامانو جمع کول ممکن نه وي إِلَّا فِيمَا لَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِيهِ مګر په هغه صورت کي [داسي کول جائز نه دي] چي په هغه کي خلک نه دوکه کيږي [يعني که وکيل يو غلام په ګران قيمت او په دومره زيات تاوان [غبنِ فاحش] سره رانيسي چي عموماً خلک په هغومره تاوان نه مبتلا کيږي] لِأَنَّهُ تَوْكِيلٌ بِالشِّرَاءِ ځکه چي دا د رانيولو وکيل جوړول دي وَهَذَا كُلُّهُ بِالْإِجْمَاعِ او دا ټوله ازموږ د امامانو په مينځ کي] په اجماع سره دي.

**اللغات**: ﴿لم یسم﴾ د تفعیل د باب جحد صیغه ده: نومول، ذکر کول، مُتعین کول (ټاکل). ﴿لا یتغابن﴾ د تفاعل له بابه د نفي صیغه ده: یو بل ته دوکه ورکول، یو بل ته نقصان رسول، دوکه خوړل، دوکه کېدل. (احسن الهدایه، اشرف الهدایه)

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو څوک (مثلا خالد) بل سړي ته ووایي چې "ته زما لپاره فلانکی او فلانکی غلام رانیسه!" (یعني مُتعین غلامان وروښیي)، لېکن هغه (خالد) د یوه غلام ثمن هم ذکر نه کړي چې په دومره قیمت یې رانیسه!، بیا وکیل له هغو څخه یو غلام رانیسي، نو دا بیع (رانیول) جائز دي او پر مؤکل (خالد) لازم دي (یعني خالد به هغه رانیول سوی غلام اخلي)؛ ځکه چې دلته توکیل مطلق دی، یعني مؤکل دا وکیل نه د جلا جلا رانیولو وکیل جوړ کړی دی او نه یې د یو ځای سره رانیولو وکیل جوړ کړی دی (یعني خالد هغه سړي ته دا نه دي ویلي چې دواړه غلامان یو ځای رانیسه! یا یې جلا جلا رانیسه!)، نو ځکه دا توکیل به پر خپل اطلاق پاتېږي او وکیل که یو غلام رانیسي او که دواړه رانیسي، په هر صورت کې به دا بیع جائز وي او پر مؤکل به لازم وي.

وقد لایتفق إلخ: د دې حاصل دا دی چې ځیني وخت د وکیل لپاره دا مشکله وي چې دواړه غلامان یو ځای رانیسي او په یوه وخت کې دواړه سره جمع کړي، نو ځکه په دې حواله سره به هم د یوه غلام بیع جائز وي او پر مؤکل به لازم وي.

ها! که چیرې وکیل یو غلام په غبنِ فاحش (زیات تاوان) سره رانیولی وي، مثلاً د غلام خپل قیمت پنځه سوه درهمه وي او وکیل هغه په اته سوه درهمه رانیولی وي، نو په دې صورت کې دا بیع د وکیل لپاره واقع کېږي او پر وکیل لازمېږي. نه پر مؤکل؛ ځکه چې مؤکل دا وکیل د رانیولو وکیل (وکیل بالشراء) جوړ کړی دی، او د رانیولو په وکالت (وکالت بالشراء) کې غبنِ فاحش نه برداشت کېږي یعني د رانیولو په وکالت کې قاعده دا ده چې هغه د غبنِ یسیر (لږ تاوان) سره جائز دي، ځکه عموماً په لږ تاوان کې خلک مبتلا کېږي، لېکن غبنِ فاحش (زیات تاوان) چې په هغه کې خلک نه مبتلا کېږي د هغه سره دا وکالت جائز نه دی، نو ځکه د غبنِ فاحش په صورت کې به فقط وکیل ذمه وار وي. پر دې مسئله ټوله متفق دي.

## د پورتنی مسئلې بل صورت

| |
|---|
| وَلَوْ أَمَرَهُ بِأَنْ يَشْتَرِيَهُمَا بِأَلْفٍ او که مؤکل وکیل ته حکم وکړي چې هغه دواړه غلامان په زر درهمه رانیسي وَقِيمَتُهُمَا سَوَاءٌ او د دواړو غلامانو قیمت سره برابر وي فَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ إِنِ اشْتَرَى أَحَدَهُمَا بِخَمْسِمِائَةٍ أَوْ أَقَلَّ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز که وکیل له هغه دواړو څخه یو غلام په پنځه سوه |

درهمه يا تر دې په كمه رانيسي جَازَ نو جائز دي وَإِنِ اشْتَرَى بِأَكْثَرَ [ليكن] كه له پنځه سوو څخه يې په زياته رانيسي لَمْ يَلْزَمِ الْآمِرَ نو دا بيع پر مؤكل نه لازميږي لِأَنَّهُ قَابَلَ الْأَلْفَ بِهِمَا ځكه چې مؤكل د دواړو غلامانو په مقابله كي زر درهمه ذكر كړي دي وَقِيمَتُهُمَا سَوَاءٌ او د هغه دواړو قيمت سره برابر دى فَيُقَسَّمُ بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ دَلَالَةً نو دلالتاً به زر درهمه د هغه دواړو په مينځ كي تقسيمول كيږي فَكَانَ آمِرًا بِشِرَاءِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِخَمْسِمِائَةٍ نو ځكه مؤكل به په پنځه سوه درهمو د هر غلام د رانيولو حكم كونكى وي ثُمَّ الشِّرَاءُ بِهَا مُوَافَقَةٌ بيا په پنځه سوه درهمه رانيول [د مؤكل د حكم] موافقت كول دي وَبِأَقَلَّ مِنْهَا مُخَالَفَةٌ إِلَى خَيْرٍ او له پنځه سوو څخه په كمه رانيول د ښېګڼې [فايدې] وطرف ته [د هغه] مخالفت كول دي وَبِالزِّيَادَةِ إِلَى شَرٍّ او له پنځه سوو څخه په زياته رانيول د شر [نقصان] وطرف ته [د هغه] مخالفت كول دي قَلَّتِ الزِّيَادَةُ أَوْ كَثُرَتْ فَلَا يَجُوزُ برابره ده زائد مقدار كم وي او كه زيات وي [په هر صورت كي] جائز نه دي إِلَّا أَنْ يَشْتَرِيَ الْبَاقِيَ بِبَقِيَّةِ الْأَلْفِ قَبْلَ أَنْ يَخْتَصِمَا مګر دا چې وكيل باقي [دويم] غلام له زر درهمو څخه د پاته درهمو په عوض كي رانيسي مخكي تر دې چې مؤكل او وكيل مخاصمه [دعوىٰ] سره وكړي اسْتِحْسَانًا نو استحساناً جائز دي لِأَنَّ شِرَاءَ الْأَوَّلِ قَائِمٌ ځكه چې [په دې صورت كي] د اول غلام رانيول موجود دي [يعني هغه رانيول سوى دى؛ او تر هغه وروسته دويم غلام هم رانيول سو] وَقَدْ حَصَلَ غَرَضُهُ الْمُصَرَّحُ بِهِ او د مؤكل هغه مقصد حاصل سو چې د هغه صراحت سوى وو [يعني مؤكل چې د كوم مقصد صراحت او شرګندونه كړې وه چې دواړه غلامان په زر درهمه غواړم!. هغه حاصل او ترسره سو] وَهُوَ تَحْصِيلُ الْعَبْدَيْنِ بِالْأَلْفِ او هغه په زر درهمو سره د دواړو غلامانو حاصلول دي وَمَا ثَبَتَ الِانْقِسَامُ إِلَّا دَلَالَةً او تقسيم فقط دلالتاً ثابت سوي وو وَالصَّرِيحُ يَفُوقُهَا او صراحت پر دلالت لوړ [او بالا] دى.

**اللغات**: ﴿يختصما﴾ د افتعال د باب مضارع ده: جنګ او جنجال كول، دعوىٰ كول. ﴿يفوقها﴾ د نصر د باب مضارع ده: لوړېدل، بالا كېدل.

**تشريح: صورت د مسئلي**: دا دى كه يو سړى (مثلا خالد) بل څوك وكيل جوړ كړي او هغه ته ووايي چې ''ته د زر درهمو په عوض كي فلانكى او فلانكى غلام رانيسه!''، او د هغه دواړو قيمت سره برابر

وي. اوس که وکيل له هغو څخه يو غلام په پنځه سوه درهمه يا تر دې په کم قيمت رانيسي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا بيع جائز ده او پر مؤکل لازم ده. يعني برابره ده وکيل هغه په پنځه سوه رانيولی وي او که تر دې يې په کم قيمت رانيولی وي په هر صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا بائع جائز ده او دا بيع د مؤکل لپاره واقع کيږي او پر هغه لازميږي. ها! که چيري وکيل له پنځه سوه درهمو څخه په زيات قيمت يو غلام رانيولی وي، نو په دې صورت کي دا بيع د مؤکل لپاره نه واقع کيږي بلکي د وکيل لپاره واقع کيږي او پر هغه لازميږي. برابره ده له پنځه سوو څخه زائد مقدار کم وي مثلاً پنځويشت يا پنځوس درهمه زيات وي، يا دا مقدار ډير وي مثلاً سل، دوه سوه درهمه زيات وي.

په مجموعي توګه د دواړو صورتونو دليل دا دی چي مؤکل زر درهمه د دواړو غلامانو عوض ګرځولی دی، او څرنګه چي د دواړو قيمت برابر دی، نو ځکه دلالتاً دا خبره ثابته سوه چي دا زر درهمه به د دواړو په مينځ کي نيم، نيم تقسيمول کيږي، يعني مؤکل ګواکي وکيل ته په پنځه سوه درهمه د هر غلام د رانيولو حکم کړی دی، لهذا اوس که وکيل د پنځه سوه درهمو په عوض کي يو غلام رانيسي، نو ښکاره خبره ده چي دا بيع (رانيول) به د مؤکل د حکم موافق وي، نو ځکه به جائز وي، همدارنګه که وکيل تر دې په کم قيمت يو غلام رانيسي، نو که څه هم په دې صورت کي د مؤکل د حکم مخالفت سته خو څرنګه چي په دې کي د مؤکل فايده ده چي هغه ته له پنځه سوه درهمو څخه په کم قيمت غلام حاصل سو، نو ځکه په دې صورت کي به بيع جائز او صحيح وي او پر مؤکل به لازم وي. ليکن که وکيل له پنځه سوو څخه په زيات قيمت غلام رانيسي، نو څرنګه چي په دې صورت کي د مؤکل د حکم مخالفت هم سته او د هغه نقصان (تاوان) هم سته، نو ځکه دا بيع به پر مؤکل لازم نه وي او فقط وکيل به د دې ذمه وار وي.

او که چيري وکيل له پنځه سوو څخه په زيات قيمت مثلاً په اووه سوه درهمه يو غلام رانيسي او بيا مخکي تر دې چي مؤکل د قاضي په دربار کي دعوىٰ او مخاصمه وکړي دا وکيل دويم غلام هم په باقي قيمت (درې سوه درهمه) سره رانيسي، نو په دې صورت کي استحساناً د دواړو غلامانو بيع د مؤکل لپاره واقع کيږي؛ ځکه د اول غلام شراء (رانيول) قائم او موجود دي يعني هغه خو وکيل رانيولی دی او بيا چي له زر درهمو څخه کوم قيمت پاته سو د هغه په عوض کي وکيل دويم غلام هم رانيولی دی. لهذا د مؤکل چي کوم مقصد او غرض وو يعني په زر درهمه دواړه غلامان رانيول. هغه حاصل سو. او پاته سو زر درهمه پر دواړو غلامانو برابر تقسيمېدل. نو دا د مؤکل په کلام سره صراحتاً نه. بلکي دلالتاً ثابت سوي وه. او دا ښکاره او مسلمه خبره ده چي صراحت له دلالت څخه اعلىٰ او بالا دی. او څرنګه چي په دې مسئله کي صراحتاً په زر درهمو سره دواړه غلامان رانيول سوي دي. نو ځکه د دواړو بيع به صحيح وي او پر مؤکل به لازم

وي، او په دې باره کي به هيڅ بحث نه کيږي چي زر درهمه ولي پر دواړو برابر تقسيم نه سول؛ ځکه چي دا تقسيم دلالتاً ثابت دی، او د صراحت په مقابله کي دلالت لره هيڅ اهميت نسته. (احسن الهدايه)

## د پورتني مسئلې نور وضاحت

وَقَالَ: أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ ❁: إِنِ اشْتَرَى أَحَدَهُمَا بِأَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ الْأَلْفِ بِمَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِيْهِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: که چيري وکيل له هغه دواړو غلامانو څخه يو غلام د زر درهمو له نصف څخه [يعني له پنځه سوه درهمو څخه يې] د دومره زائد مقدار په عوض کي رانيسي چي په هغه کي خلګ دوکه کيږي [يعني په دومره تاوان سره يې رانيسي چي په داسي لږ تاوان عموماً خلګ مبتلا کيږي] وَقَدْ بَقِيَ مِنَ الْأَلْفِ مَا يُشْتَرَى بِمِثْلِهِ الْبَاقِيْ او [تر هغه وروسته هم] له زر درهمو څخه دومره پاته وي چي په هغومره دراهمو سره باقي [دويم] غلام رانيول کېدای سي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّ التَّوْكِيلَ مُطْلَقٌ ځکه چي وکيل جوړول مطلق دي لٰكِنَّهُ يَتَقَيَّدُ بِالْمُتَعَارَفِ ليکن هغه په متعارف سره مقيد دی وَهُوَ فِيمَا قُلْنَا او متعارف په هغه صورت کي دی کوم چي مو ذکر کړی وَلٰكِنْ لَا بُدَّ أَنْ يَبْقَى مِنَ الْأَلْفِ بَاقِيَةٌ يُشْتَرَى بِمِثْلِهَا الْبَاقِيْ ليکن دا ضروري ده چي له زر درهمو څخه به دومره پاته وي چي په هغومره دراهمو سره باقي [دويم] غلام رانيول کېدای سي لِيُمْكِنَهُ تَحْصِيْلُ غَرَضِ الْآمِرِ د دې لپاره چي وکيل لره د مؤکل مقصد حاصلول ممکن وي.

**تشريح**: په مخکني عبارت کي خو د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول او دليل بيان سو، اوس په دې عبارت کي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د صاحبينو قول او دليل بيانوي، فرمايي چي په تېره مسئله کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز حکم دا دی که وکيل له دواړو غلامانو څخه يو غلام په غبنِ يسير (لږ تاوان) سره رانيسي کوم چي عموماً خلګ په هغومره مقدار کي دوکه خوري، او چي تر هغه وروسته هم له زر درهمو څخه دومره دراهم پاته وي چي په هغه سره په آسانه دويم غلام رانيول کېدای سي، مثلاً د پنځه سوه درهمو والا غلام وکيل په پنځه سوه شل درهمه رانيسي، نو په داسي صورت کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا بيع (رانيول) د مؤکل لپاره واقع کيږي او پر هغه لازميږي.

❁ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما يظهر من داب المصنف رَحِمَهُ الله ترجيح قولهما وهو أنسب للفتوى، وقال ﷺ: "يَسِّرُوْا وَلَا تُعَسِّرُوْا"، وكذا ذكر في الدر المختار (ج:۴، ص:۴۵۱)، والبحر الرائق (ج:۷، ص:۱۶۳). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۵۶]

دليل يې دا دی چې مذکوره توکيل مطلق دی يعني په دې مسئله کې مؤکل هغه وکيل مطلق د دوو غلامانو د رانيولو وکيل جوړ کړی دی او دا شرط يې نه دی لګولی چې هر غلام په پنځه سوه دراهمه رانيسه!، خو بيا هم هغه د مطلق کېدلو باوجود په عرف او رواج سره مقيد دی او په عرف کې غبنِ يسير معاف شمارل کيږي، نو ځکه دلته به هم د وکيل په دې بيع کې واقع سوی غبنِ يسير معاف شمارل کيږي او دا بيع به د مؤکل لپاره وي او پر هغه به لازم وي، نه پر وکيل.

ليکن دا خبره په ياد لرئ! چې په غبنِ يسير سره د رانيولو په صورت کې به له زر درهمو څخه دومره دراهم خامخا پاته وي چې په هغه سره دويم غلام رانيول کېدای سي، د دې لپاره چې د مؤکل "مقصد" يعني "په زر درهمه دواړه غلامان رانيول" حاصل کړی سي او د هغه مطلب تر سره سي.

## مقروض (پور وړی) کس د قرض په عوض کې د يو شي د رانيولو وکيل جوړول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ لَهُ عَلَى آخَرَ أَلْفُ دِرْهَمٍ فرمايي: او د چا چې پر بل چا زر درهمه قرض باندي وي فَأَمَرَهُ أَنْ يَشْتَرِيَ بِهَا هٰذَا الْعَبْدَ بيا هغه و دا بل چا ته حکم وکړي چې په هغه زر درهمو سره دا [متعيّن] غلام رانيسي فَاشْتَرَاهُ او هغه دا غلام رانيسي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّ فِي تَعْيِيْنِ الْمَبِيْعِ تَعْيِيْنَ الْبَائِعِ ځکه چې د مبيع په مُتعيّن کولو کې د بائع تعيين [هم] سته [يعني د مبيع په مُتعينولو سره بائع هم مُتعيّن کيږي] وَلَوْ عَيَّنَ الْبَائِعَ او که چيري مؤکل بائع مُتعيّن کړي يَجُوْزُ نو جائز دي [لهذا کله چې هغه مبيع (غلام) مُتعيّن کړي نو دا به هم جائز وي] عَلَى مَا نَذْكُرُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى لکه څرنګه چې موږ به [وروسته] انشاء الله د دې بيان وکړو.

**تشريح**: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چې که د يو سړي مثلاً د خالد پر بل چا زر درهمه قرض باندي وي، بيا قرضخواه (خالد) و مقروض ته ووايي "زما چې پر تا کوم زر درهمه باندي دي، په هغه سره زما لپاره فلانکی غلام رانيسه!"، او مقروض (پور وړی) د قرضخواه حکم پر ځای کړي او هغه غلام رانيسي، نو دا بيع جائز ده او پر مؤکل (قرضخواه) لازم ده، يعني دا غلام د مؤکل "خالد" کيږي، نه د وکيل، او له وکيل (مقروض) څخه قرض ختميږي؛ دليل دا دی چې دلته مؤکل (قرضخواه) مبيع يعني غلام مُتعيّن کړی دی، او د مبيع په مُتعيّن کولو سره بائع هم مُتعيّن کيږي (يعني ګواکې مؤکل [قرضخواه] پر خپل قرض د قبضه کولو لپاره بائع مُتعيّن کړی دی). او که مؤکل بائع مُتعيّن کړي نو بيع جائز ده (او د مؤکل پر قرض د بائع قبضه کول جائز دي). نو ځکه د مبيع د مُتعين کولو په صورت کې به هم بيع جائز وي او پر مؤکل به لازم وي. د دې نور تفصيل او تشريح به انشاء الله وروسته ذکر سي.

## د پورتني مسئلې بل صورت

وَإِنْ أَمَرَهُ أَنْ يَشْتَرِيَ بِهَا عَبْدًا بِغَيْرِ عَيْنِهِ او که قرضخواه مقروض ته حکم وکړي چي په هغه زر درهمو سره يو غير مُعيّن [نا مُتعيّن غلام] رانيسي فَاشْتَرَاهُ نو مقروض هغه رانيسي فَمَاتَ فِي يَدِهِ قَبْلَ أَنْ يَقْبِضَهُ الْآمِرُ بيا هغه د مقروض [وکيل] په قبضه کي مړ سي مخکي تر دې چي مؤکل [قرضخواه] پر هغه قبضه وکړي مَاتَ مِنْ مَالِ الْمُشْتَرِيْ نو هغه د مشتري [مقروض] له مال څخه مړ سو [يعني هغه به د مقروض له مال څخه هلاک شمارل کيږي] وَإِنْ قَبَضَهُ الْآمِرُ او که چيري مؤکل پر هغه غلام قبضه وکړي فَهُوَ لَهُ نو [په دې صورت کي] غلام د مؤکل دی وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَا: هُوَ لَازِمٌ لِلْآمِرِ إِذَا قَبَضَهُ الْمَأْمُوْرُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي هغه د مؤکل لپاره لازم دی کله چي وکيل پر هغه قبضه کړې وي وَعَلٰى هٰذَا إِذَا أَمَرَهُ أَنْ يُسْلِمَ مَا عَلَيْهِ أَوْ يَصْرِفَ مَا عَلَيْهِ او پر همدغه اختلاف دي کله چي قرضخواه مقروض ته دا حکم وکړي چي کوم څه [زما] پر تا باندي دي په هغه سره بيع سَلم وکړه! يا بيع صَرف وکړه لَهُمَا: أَنَّ الدَّرَاهِمَ وَالدَّنَانِيْرَ لَا يَتَعَيَّنَانِ فِي الْمُعَاوَضَاتِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي په معاوضاتو کي دراهم او دنانير نه مُتعيّن کيږي دَيْنًا كَانَتْ أَوْ عَيْنًا برابره ده هغه قرض وي او که عَين شی وي أَلَا تَرٰى أَنَّهُ لَوْ تَبَايَعَا عَيْنًا بِدَيْنٍ آيا ته نه ګورې! چي که دوه خلګ يو عَين شی د قرض په عوض کي خرڅ کړي ثُمَّ تَصَادَقَا أَنْ لَا دَيْنَ بيا دواړه اتفاق وکړي چي قرض نه وو لَا يَبْطُلُ الْعَقْدُ نو بيع نه باطليږي فَصَارَ الْإِطْلَاقُ وَالتَّقْيِيْدُ فِيْهِ سَوَاءً لهذا په دې معامله کي اطلاق او تقييد دواړه برابر سول فَيَصِحُّ التَّوْكِيْلُ نو ځکه به توکيل [وکيل جوړول] صحيح وي وَيَلْزَمُ الْآمِرَ او بيع [رانيول] به پر مؤکل لازم وي لِأَنَّ يَدَ الْوَكِيْلِ كَيَدِهِ ځکه چي د وکيل قبضه د مؤکل د قبضې په څېر ده وَلِأَبِي حَنِيْفَةَ: أَنَّهَا تَتَعَيَّنُ فِي الْوَكَالَاتِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي دراهم او دنانير په وکالتونو کي مُتعيّن کيږي أَلَا تَرٰى أَنَّهُ لَوْ قَيَّدَ الْوَكَالَةَ بِالْعَيْنِ مِنْهَا أَوْ بِالدَّيْنِ مِنْهَا آيا ته نه ګورې! چي که مؤکل په عَين دراهمو سره يا د قرض په دراهمو سره وکالت مقيد کړي ثُمَّ اسْتَهْلَكَ الْعَيْنَ أَوْ أَسْقَطَ الدَّيْنَ بيا عَين دراهم

هلاک کړي يا قرض ساقط کړي بَطَلَتِ الْوَكَالَةُ نو وکالت باطليږي وَإِذَا تَعَيَّنَتْ لهذا کله چې [په وکالت کې] دراهم او دنانير مُتعيّن کيږي كَانَ هَذَا تَمْلِيكُ الدَّيْنِ مِنْ غَيْرِ مَنْ عَلَيْهِ الدَّيْنُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُوَكِّلَهُ بِقَبْضِهِ نو دا له مقروض څخه بغير د بل چا مالک جوړول سوه بغير له دې چې هغه د قبضه کولو وکيل جوړ کړي وَذٰلِكَ لَا يَجُوزُ حالانکې دا جائز نه دي كَمَا إِذَا اشْتَرٰى بِدَيْنٍ عَلٰى غَيْرِ الْمُشْتَرِيْ لکه يو سړی چې د داسي قرض په عوض کې يو شی رانيسي کوم چې له مشتري څخه بغير پر بل چا باندې وي أَوْ يَكُوْنُ أَمْرًا بِصَرْفِ مَا لَا يَمْلِكُهُ إِلَّا بِالْقَبْضِ قَبْلَهُ يا [مؤکل وکيل ته] د داسي مال د خرچولو [صرف کولو] حکم وکړي چې هغه يې په خپله مالک نه وي، مگر [په هغه وخت کې] چې تر حکم کولو مخکې پر هغه مال قبضه وکړي وَذٰلِكَ بَاطِلٌ او دا باطل دي كَمَا إِذَا قَالَ: أَعْطِ مَالِيْ عَلَيْكَ مَنْ شِئْتَ لکه په هغه صورت کې [چې باطل دي] کله چې ووايي: زما چې کوم مال پر تا باندې دی، دا چې ستا خوښه وي هغه چا ته يې ورکړه! بِخِلَافِ مَا إِذَا عَيَّنَ الْبَائِعَ په خلاف د هغه صورت کله چې مؤکل بائع مُتعيّن کړي لِأَنَّهُ يَصِيْرُ وَكِيْلًا عَنْهُ فِي الْقَبْضِ ثُمَّ يَتَمَلَّكُهُ ځکه چې [په دې صورت کې] بائع د مؤکل له طرفه د قبضه کولو وکيل ګرځي بيا بائع د هغه [قرض] مالک کيږي وَبِخِلَافِ مَا إِذَا أَمَرَهُ بِالتَّصَدُّقِ او په خلاف د هغه صورت کله چې مؤکل مقروض ته د مال صدقه کولو حکم وکړي لِأَنَّهُ جَعَلَ الْمَالَ لِلّٰهِ ځکه چې [په دې صورت کې] هغه د الله تعالیٰ لپاره مال وقف کړی دی وَهُوَ مَعْلُوْمٌ او هغه معلوم دی وَإِذَا لَمْ يَصِحَّ التَّوْكِيْلُ او کله چې توکيل صحيح نه دی نَفَذَ الشِّرَاءُ عَلَى الْمَأْمُوْرِ نو ځکه رانيول [يعني رانيول سوی غلام] په پر وکيل نافذيږي [او لازميږي] فَيَهْلِكُ مِنْ مَالِهِ او هغه غلام به د همدې وکيل له مال څخه هلاکيږي [يعني هغه به د وکيل له مال څخه هلاک شمارل کيږي] إِلَّا إِذَا قَبَضَهُ الْآمِرُ مِنْهُ مګر دا چې کله مؤکل د وکيل له طرفه قبضه وکړي لِانْعِقَادِ الْبَيْعِ تَعَاطِيًا ځکه چې [په دې صورت کې] بيع تعاطي وسوه.

**اللغات:** ﴿يُسلم ما عليه﴾ "يسلم" د تفعيل او افعال له بابه د مضارع صيغه ده، کله چې دا لفظ په بيع کې ذکر سي نو معنیٰ يې ده: بيع سَلم کول. ﴿يصرف﴾ د ضرب د باب مضارع صيغه ده، کله چې په بيع کې ذکر سي نو د "بيع صَرف کولو" معنیٰ ورکوي. ﴿عَيْنًا﴾ عين شی، مُتعيّن شی. ﴿دَيْن﴾

قرض، ﴿إطلاق﴾ د افعال د باب مصدر دی: مطلق لرل، مطلق کول، ﴿تقييد﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مقيد کول، قيد لګول، مثلاً مؤکل وکيل ته ووايي چې زما پر تا کوم زر درهمه باندې دي، په هغه سره غلام رانيسه!، نو دلته مؤکل زر درهمه مقيد کړل (د ځان سره)، او که هغه مطلق ووايي چې په زر درهمو سره غلام رانيسه! او داسي نه ووايي چې زما، نو هغه دا زر درهمه مطلق پرېښوول، همدې ته اطلاق او تقييد وايي، ﴿استهلك﴾ د استفعال د باب ماضي ده: هلاکول، ضايع کول، ﴿عَين﴾ مُتعيّن شی، ﴿يتملّك﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: مالک کېدل (مالک جوړېدل)، ﴿التصدّق﴾ د مخکښي باب مصدر دی: صدقه کول (خيراتول).

**تشريح: صورت د مسئلې**: دا دی که مثلاً د خالد پر ادريس زر درهمه قرض باندې وو، بيا خالد ادريس ته وويل چې "وروره! زما کوم زر درهمه چې پر تا باندې دي، په هغه سره يو غلام رانيسه!" يعني قرضخواه (خالد) غلام مُتعيّن نه کړی چې خاص فلانکی غلام رانيسه!، بيا مقروض (ادريس) د زر درهمو په عوض کې يو غلام رانيوی او تر رانيولو وروسته او د قرضخواه (خالد) له قبضه کولو څخه مخکې هغه غلام د مقروض (ادريس) په قبضه کې مړ سو (يعني تر اوسه ادريس هغه غلام خالد ته نه وو سپارلی او خالد پر غلام قبضه نه وه کړې بلکې غلام د ادريس په لاس کې وو، او په دې دوران کې هغه مړ سو)، نو دا غلام د مشتري يعني د مقروض (ادريس) له مال څخه هلاک شمارل کېږي يعني دا داسي ده لکه د ادريس خپل غلام چې مړ سو، نو د هغه له ذمې څخه د قرضخواه قرض نه ساقطيږي، يعني کله چې د هغه خپل غلام مړ سوی دی، نو ځکه د هغه له غاړې څخه د قرضخواه (خالد) قرض نه ساقطيږي، بلکې د مخکې په څېر پر هغه قرض باقي پاتېږي.

او که چېرې مؤکل يعني قرضخواه (خالد) پر هغه غلام قبضه وکړه، نو په دې صورت کې د غلام مرګ د قرضخواه له مال څخه شمارل کېږي او د مقروض (ادريس) له غاړې څخه د هغه قرض ساقطيږي، دا تفصيل د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی.

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي که د مشتري يعني د مقروض (ادريس) تر قبضې وروسته غلام مړ سوی وي، نو هغه د مؤکل يعني د قرضخواه (خالد) له مال څخه هلاک شمارل کېږي، برابره ده مؤکل پر هغه قبضه کړې وي، که نه وي، په دواړو صورتونو کې دا هلاکت د مؤکل له مال څخه شمارل کېږي او د وکيل يعني د مقروض (ادريس) له ذمې څخه د هغه قرض ساقطيږي.

وعلى هذا إذا أمره إلخ: فرمايي د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله دغه اختلاف په هغه صورت کې هم دی کله چې مؤکل و مقروض (وکيل) ته داسي ويلي وي "پر تا چې زما کوم قرض باندې دی په هغه سره بيع سَلم يا بيع صَرف وکړه!"، نو که مقروض په هغه سره بيع سَلم يا بيع صَرف وکړي او بيا

مسلم فيه يا بدل صرف د هغه په قبضه کې هلاک سي او تر اوسه مؤکل يعنې قرضخواه پر هغه قبضه نه وي کړې، نو دا هلاکت د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مقروض له مال څخه شمارل کيږي، او که مؤکل (قرضخواه) پر هغه قبضه کړې وي او د ده په قبضه کې هغه هلاک سوی وي، نو دا هلاکت د مؤکل يعنې د قرضخواه له مال څخه شمارل کيږي او د مقروض له ذمې څخه د هغه قرض ساقطيږي.

او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز که مقروض پر مسلم فيه او بدل صرف قبضه کړې وي، نو داهلاکت د مؤکل له مال څخه شمارل کيږي، برابره مؤکل پر هغه قبضه کړې وي، که نه وي؟.

**د صاحبينو دليل**: دا دی چې د معاوضې په عقدونو کې دراهم او دنانير په مُتعيّن کولو سره نه مُتعيّن کيږي (او وکالت هم حکماً د معاوضې عقد دی، او د معاوضې په عقد کې دراهم او دنانير نه مُتعيّن کيږي)، برابره ده هغه دَين وي يعنې د يو چا پر ذمه باندې وي (يعنې د يو سړي پر بل سړي باندې وي) او که عَين وي يعنې د يو چا پر ذمه باندې نه وي بلکې د عاقد سره موجود وي، په هر صورت کې هغه نه مُتعيّن کيږي؛ همدا وجه ده که خالد ووايي چې زما پر ادريس پنځه سوه درهمه قرض باندې دی او بيا خالد د هغه قرض په عوض کې له ادريس څخه يو شی رانيسي، تر دې وروسته دواړه پر دې خبره اتفاق وکړي چې د خالد پر ادريس قرض باندې نه وو بلکې خالد په خپل قول کې دروغجن وو (يعنې ادريس ووايي چې تا پر ما پنځه سوه درهمه قرض باندې نه وو، او خالد دا خبره تسليم کړي چې هو! زه په خپل قول کې دروغجن يم)، نو د خالد او ادريس تر مينځ دغه واقع سوی عقد (بيع) نه باطليږي، حالانکې که دراهم او دنانير په عقد معاوضه کې مُتعيّن کېدلای نو د قرض پر نشتوالي په اتفاق کولو سره به د خالد او ادريس دغه عقد (بَيع) باطل سوي وای، لېکن د هغه نه باطلېدل د دې خبر ښکاره دليل دی چې دراهم او دنانير په معاوضاتو کې نه مُتعيّن کيږي، او هر هغه شی کوم چې په مُتعيّن کولو سره نه مُتعيّن کيږي، په هغه کې اطلاق او تقييد دواړه سره برابر وي، يعنې برابره ده په دې مسئله کې قرضخواه و مقروض ته داسې ويلي وي " چې زما پر تا کوم قرض (زر درهمه) باندې دي، په هغه سره زما لپاره يو غلام رانيسه!"، دا د تقييد صورت دی، يا قرضخواه مطلق داسې ويلي وي "چې زما لپاره په زر درهمه يو غلام رانيسه!"، نو دا د اطلاق صورت دی ، لنډه دا چې په دې مسئله کې اطلاق او تقييد دواړه سره برابر دي، لهذا څرنګه چې د اطلاق په صورت کې توکيل صحيح دي، همداسې د تقييد په صورت کې هم توکيل صحيح دی، او کله چې توکيل (وکيل جوړول) صحيح دي، نو څکه د وکيل شراء (رانيول) به پر مؤکل لازم وي که چيرې وکيل پر غلام قبضه کړې وي؛ څکه چې د وکيل قبضه داسې ده لکه د مؤکل قبضه، نو څکه د وکيل په قبضه کې به د غلام مړ کېدل داسې وي لکه وکيل په قبضه کې مړ کېدل، او که چيرې د مؤکل په قبضه کې غلام مړ سوي وای، نو ښکاره خبره ده چې د وکيل

(مقروض) له ذمې څخه به د هغه قرض ساقطېدای، لهذا کله چې د وکیل په قبضه کې غلام مړ سي، نو هم به د هغه له ذمې څخه د مؤکل قرض ساقطیږي.

**د امام صاحب دلیل:** دا دی چې دا مسئله د وکالت ده، او په وکالت کې دراهم او دنانیر په مُتعیّن کولو سره مُتعیَن کیږي؛ همدا وجه ده که مؤکل په عَین دراهمو او دنانیرو سره وکالت مقید کړي (یعني مؤکل وکیل ته عَین [نغد] دراهم یا دنانیر ورکړي)، یا د قرض په دراهم او دنانیرو سره وکالت مقید کړي او داسې ووایي "زما چې پر تا کوم قرض (دراهم یا دنانیر) باندې دي، په هغه سره فلانکی شی رانیسه!" (لکه څرنګه چې صورت د مسئلې هم داسې دی)، بیا وکیل هغه عَین دراهم یا دنانیر هلاک کړي، یا مؤکل له وکیل څخه خپل قرض ساقط کړي او وکیل معاف کړي، نو په دې صورت کې وکالت باطلیږي. او د وکالت باطلېدل د دې خبرې دلیل دی چې په وکالت کې دراهم او دنانیر په مُتعیّن کولو سره مُتعیّن کیږي، نو څکه په پورتنی مسئله کې مقروض (وکیل) ته د قرضخواه (مؤکل) دا حکم کول "چې زما پر تا کوم قرض (زر درهمه) باندې دي، په هغه سره یو غلام رانیسه!"، د دې مطلب دا دی چې قرضخواه له مقروض څخه بغیر یو بل سړي یعني د غلام بائع د خپل قرض مالک جوړوي حال دا چې قرضخواه تر اوسه د غلام بائع پر خپل قرض د قبضه کولو وکیل نه دی جوړ کړی (همدې ته "تملیكُ الدَین مِن غیر مَن علیه الدَین مِن غیرِ أن یوکله" وایي)، او د قرضخواه لپاره دا جائز نه دي چې بائع د قبضې له وکیل جوړولو څخه بغیر د خپل قرض مالک جوړ کړي، څکه قرضخواه بلا واسطه بائع د خپل قرض مالک نه سي جوړولای؛ څکه چې قرضونه بامثالها اداء کیږي، نه باعیانها، او د مقروض له طرفه د قرضونو تر اداء کولو مخکې قرضخواه بالکل د هغه مالک نه وي بلکې هغه د مقروض په ملکیت کې وي، او کله چې قرضخواه د هغه مالک نه دی، نو ښکاره خبره ده چې قرضخواه بل څوک هم د هغه مالک نه سي جوړولای؛ څکه انسان چې په خپله د کوم شي مالک نه وي، هغه بل څوک د دې شي مالک نه سي جوړولای، او دا خرابي دلته پېښه سوې ده، یعني کله چې قرضخواه مقروض وکیل بالشراء جوړ کړی (یعني کله چې خالد ادریس په خپل قرض سره د غلام رانیولو وکیل جوړ کړی)، نو په دې وکیل جوړولو سره دا خرابي (یعني له مالک کېدلو څخه بغیر بل څوک مالک جوړول) لازمه سوه، نو څکه امام صاحب رَحِمَهُ الله ګرسره د دې خرابۍ بېخ او بنیاد یعني توکیل غلط او ناصحیح ګرځولی دی، او ښکاره خبره ده چې کله توکیل صحیح نه دی، نو د مذکوره غلام بیع د وکیل د خپل ځان لپاره واقع سوه او همدا وکیل د هغه ذمه وار سو، نو په همدې وجه د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې که د وکیل په قبضه کې غلام مړ سي، نو د هغه هلاکت (مرګ) د وکیل له مال څخه شمارل کیږي، ها! که چیرې وکیل هغه غلام مؤکل ته سپارلی وي او مؤکل هغه اخیستی

وي، نو بيا په دې صورت کې د هغه هلاکت د مؤکل له مال څخه شمارل کيږي، لېکن دا هم په دې وجه نه چې توکيل صحيح دی، بلکې په دې وجه چې اوس د وکيل او د مؤکل په مينځ کې بيع تعاطي واقع سوه (ځکه چې بيع تعاطي همدې ته وايي چې يو څوک د بيع په توګه بل چا ته يو شی وسپاري او هغه يې واخلي، لکه مخکې چې ذکر سوه)، او بيع تعاطي صحيح ده، نو ځکه د مؤکل لپاره به د دې غلام مالک کېدل هم صحيح وي او غلام به د مؤکل په قبضه کې هلاک سوی وي او د هغه له مال څخه به هلاک شمارل کيږي، لهذا د مقروض وکيل پر ذمه چې د مؤکل کوم قرض باندې وو (يعني هغه زر درهمه کوم چې د قرضخواه (خالد) پر مقروض وکيل (ادريس) باندې وو چې په هغه سره وکيل د قرضخواه لپاره دا هلاک سوی غلام رانيولی وو)، هغه قرض به د وکيل له ذمې څخه ساقطيږي.

كما إذا اشترى بدين: دا د پورتنۍ جملې "تمليكُ الدَّين مِن غير مَن عليه الدَّين مِن غيرِ أن يوكله" مثال دی، د دې جملې وضاحت خو پورته ذکر سو، اوس صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د دې يو مثال بيانوي، او هغه دا چې که يو سړی د داسې قرض په عوض کې يو شی رانيسي کوم چې له مشتري څخه بغير پر بل چا باندې وي، مثلاً د حامد پر زيد قرض باندې وو، بيا حامد له عمر څخه يو پُسه رانيوی او عمر ته يې وويل چې ته د دې پُسه روپۍ له زيد څخه واخله!، ځکه چې زما پر زيد قرض باندې دی، نو داسې معامله جائز نه ده، ځکه په دې کې هم هغه خرابي لازميږي کوم چې څه مخکې د "تمليكُ الدَّين مِن غير مَن عليه الدَّين إلخ" په عبارت سره بيان سوه، دويمه هغه خرابي لازميږي کوم چې موږ په دې عبارت سره بيان کړه چې "قرضونه بامثالها اداء کيږي"، يعني کله چې قرضونه بامثالها اداء کيږي، نو ښکاره خبره ده چې تر څو مقروض قرضخواه ته خپل قرض نه ورکړي تر هغه وخته به قرضخواه د هغه مالک هم نه وي، او په دې توګه به دا خرابي لازم سي چې قرضخواه به بل څوک يعني بائع (لکه په دې مثال کې عُمر) د هغه قرض مالک جوړ کړي، او دا هيڅکله صحيح نه دي، د دې بل مثال داسې دی لکه د يو سړي چې پر بل چا قرض باندې وي، مثلاً د نعمان پر سليم قرض باندې وو، بيا قرضخواه (نعمان) و خپل مقروض (سليم) ته وويل "چې زما کوم څه قرض پر تا باندې دی، دا قرض چې ستا خوښه وي هغه کس ته يې ورکړه!"، نو څرنګه چې په دې صورت کې هم قرضخواه د خپل قرض مالک نه دی، نو ځکه بل څوک د هغه مالک جوړول هم صحيح نه دي.

دا پورتنۍ خبري خو د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دليل په ضمن کې ذکر سوي وې، لېکن د نور وضاحت لپاره موږ د مصنف د بيان مطابق هغه جلا او په تفصيل سره ذکر کړې.

بخلاف ما إذا عين البائع إلخ: د دې حاصل دا دی که مؤکل يعني قرضخواه د غلام بائع مُتعيّن کړي او مقروض (وکيل) ته داسې ووايي چې ته د فلانکي سړي غلام رانيسه!، نو دا توکيل د امام صاحب

رَحِمَهُ الله په نېز هم صحيح دى او پر مؤكل لازم دى؛ ځكه چي د بائع د مُتعيّن كېدلو په وجه به هغه بائع اول د قرضخواه له طرفه پر قرض د قبضه كولو وكيل وګرځي او بيا به د بائع كېدلو په وجه د هغه قرض مالک هم وګرځي، لهذا نه به د ''تمليكُ الدَّين مِن غير مَن عليه الدَّين إلخ'' والا خرابي لازم سي او نه به قرضخواه د ''صَرفُ مَا لَا يَملِكُه'' حكم كونكى وي او دا توكيل به له دې دواړو خرابيو څخه پاک وي، نو ځكه به جائز او صحيح وي او پر مؤكل به لازم وي.

وبخلاف ما إذا أمره إلخ: فرمايي همدارنګه كه مؤكل (قرضخواه) و مقروض ته دا حكم وكړي ''چي زما پر تا كوم مال باندي دى، هغه غريبانو او مسكينانو ته صدقه كړه!''، نو په دې صورت كه هم توكيل صحيح دى؛ ځكه چي په دې صورت كي مؤكل د الله لپاره مال وقف كړى دى او د الله ذات معلوم دى، نو ځكه دا صورت د بائع د مُتعيّن كولو په څېر سو، او مخكي ذكر سوه چي د بائع د مُتعيّن كولو په صورت كي توكيل صحيح او جائز دى، نو ځكه په دې صورت كي به هم توكيل صحيح وي.

وإذا لم يصح إلخ: د دې حاصل دا دى چي كله په پورتني مسئله كي دا صحيح نه دي چي قرضخواه مقروض د نا مُتعيّن غلام د رانيولو وكيل جوړ كړي، نو ښكاره خبره ده چي كه مقروض (وكيل) غلام رانيسي، نو دا رانيول (يعني رانيول سوى غلام) به د هغه لپاره وي او پر هغه به لازم وي، نه پر مؤكل (قرضخواه). ها! كه چيري مقروض هغه غلام مؤكل ته وسپاري او مؤكل قبضه پر وكړي، نو په دې صورت كي به رانيول د مؤكل لپاره وي او د وكيل او مؤكل په مينځ كي به بيع تعاطي واقع سي (لكه مخكي چي ذكر سوه) نو وكيل به بائع او مؤكل به مشتري وي، او تاسو ته معلومه ده چي كه په عامه بيع كي مشتري پر مبيع قبضه وكړي او مبيع واخلي نو هغه د نفع او نقصان ذمه واره كيږي، همداسي به په دې مسئله كي هم مشتري يعني مؤكل (قرضخواه) د رانيول سوي غلام د نفع او نقصان ذمه وار وي، لهذا كه غلام هلاک سي نو دا به د هغه له مال څخه هلاک شمارل كيږي، او د وكيل يعني د مقروض له ذمې څخه به د مؤكل قرض ساقطيږي.

## كه وكيل او مؤكل د مبيع په قيمت كي اختلاف وكړي (حكم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ دَفَعَ إِلَى آخَرَ أَلْفًا وَأَمَرَهُ أَنْ يَشْتَرِيَ بِهَا جَارِيَةً فرمايي: او څوک چي بل چا ته زر درهمه وركړي او هغه ته حكم وكړي چي په دې دراهمو سره يوه مينځه رانيسي فَاشْتَرَاهَا نو هغه مينځه رانيول فَقَالَ: الْآمِرُ: اشْتَرَيْتَهَا بِخَمْسِ مِائَةٍ او مؤكل ووېل: چي تا دا مينځه په پنځه سوه درهمه رانيولې ده وَقَالَ الْمَأْمُورُ: اشْتَرَيْتُهَا بِأَلْفٍ او وكيل ووېل: چي ما په زر درهمه رانيولې ده فَالْقَوْلُ

قَوْلُ الْمَأْمُوْرِ نو قول د وکيل معتبر دی وَمُرَادُهُ إِذَا كَانَتْ تُسَاوِيْ أَلْفًا او د ماتن رَحِمَهُ الله مراد دا دی چې کله مينځه د زر درهمو په برابر وي [يعني د هغې ماليت او قيمت زر درهمه وي او په زر درهمه ارزي] لِأَنَّهُ أَمِينٌ فِيهِ ځکه چې وکيل په دې باره کې امين دی وَقَدِ ادَّعَى الْخُرُوجَ عَنْ عُهْدَةِ الْأَمَانَةِ او هغه د امانت له ذمه وارۍ څخه د وتلو دعویٰ کړې ده وَالْآمِرُ يَدَّعِي عَلَيْهِ ضَمَانَ خَمْسِ مِائَةٍ او مؤکل پر هغه د پنځه سوه درهمو د ضمان [تاوان] دعویٰ کړې ده وَهُوَ يُنْكِرُ او وکيل له دې څخه انکار کوي فَإِنْ كَانَتْ تُسَاوِيْ خَمْسَ مِائَةٍ [لېکن] که هغه مينځه د پنځه سوه درهمو په برابر وي فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْآمِرِ نو قول د مؤکل معتبر دی لِأَنَّهُ خَالَفَ ځکه چې وکيل [د مؤکل د حکم] مخالفت وکړی حَيْثُ اشْتَرَى جَارِيَةً تُسَاوِيْ خَمْسَ مِائَةٍ په دې توګه چې هغه داسې مينځه رانيوله کوم چې د پنځه سوه درهمو په برابر ده وَالْأَمْرُ تَنَاوَلَ مَا يُسَاوِيْ أَلْفًا او [د مؤکل] حکم داسې مينځې لره شامل وو کوم چې د زر درهمو په برابر وي فَيَضْمَنُ نو ځکه به وکيل ضامن وي.

**اللغات**: ﴿دفع﴾ د فتح د باب ماضي ده: ورکول، ورسپارل. ﴿تساوي﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: مساوي کېدل، برابرېدل. ﴿عهدة﴾ ذمه واري. ﴿تناول﴾ د تفاعل د باب ماضي ده: شاملېدل.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی بل چا ته زر درهمه ورکړي او هغه ته ووايي چې "ته په دې سره زما لپاره يوه مينځه رانيسه!"، نو وکيل د هغه سړي (مؤکل) حکم پر ځای کړي او د هغه لپاره يوه مينځه رانيسي، تر دې وروسته مؤکل ووايي چې "تا دا مينځه په پنځه سوه درهمه رانيولې ده" او وکيل ووايي چې "ما په زر درهمه رانيولې ده"، نو د داسې اختلاف په صورت کې به د مينځې ماليت او قيمت ته کتل کېږي، که چېرې هغه مينځه په زر درهمه ارزي يعني د هغې ماليت د زر درهمو په برابر وي، نو بيا د وکيل (مامور) قول معتبر دی؛ ځکه چې په دې سلسله کې وکيل امين دی او هغه په خپل دې قول سره "چې ما په زر درهمه مينځه رانيولې ده" د امانت له ذمه وارۍ څخه وتل غواړي، يعني هغه غواړي چې د امانت له ذمه وارۍ څخه ځان خلاص او بري کړي، او د امانت له ذمه وارۍ څخه د وتلو په باره کې د امين قول معتبر وي، نو ځکه د لته به هم د وکيل "کوم چې امين دی" قول به معتبر وي.

دویم دلیل دا دی چې مؤکل پر وکیل د پنځه سوه درهمو د ضمان (تاوان) مدعي دی او وکیل له دې څخه منکر دی، او څرنګه چې د مدعي یعني د مؤکل سره بیّنه هم نسته، نو ځکه د منکر یعني د وکیل قول به معتبر وي.

فإن كانت تساوي إلخ: فرمايي که د رانیول سوي مینځې قیمت فقط د پنځه سوه درهمو په برابر وي او بیا وکیل او مؤکل د هغې په قیمت کې اختلاف وکړي، نو په دې صورت کې د مؤکل قول معتبر دی؛ ځکه مؤکل و وکیل ته دا حکم کړی وو چې د زر درهمو والا مینځه رانیسه!، لېکن وکیل د پنځه سوه درهمو والا مینځه رانیولې ده، او ښکاره خبره ده چې په دې صورت کې هغه د مؤکل د حکم مخالفت کړی دی او په دې کې د مؤکل نقصان هم دی، نو ځکه د وکیل دعویٰ به معتبره وي او دا بیع یعني رانیول سوی غلام به د وکیل لپاره وي، او کله چې رانیول سوی غلام د وکیل لپاره دی او د مؤکل دعویٰ معتبره ده، نو ځکه پر وکیل به د مؤکل د زر درهمو ضمان (تاوان) واجب وي.

## د پورتنۍ مسئلې بل صورت

قَالَ: وَإِنْ لَمْ يَكُنْ دَفَعَ إِلَيْهِ الْأَلْفَ فرمايي: او که مؤکل وکیل ته زر درهمه نه وي ورکړي فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْآمِرِ نو قول د مؤکل معتبر دی أَمَّا إِذَا كَانَتْ قِيمَتُهَا خَمْسَ مِائَةٍ هر چې کله د مینځې قیمت پنځه سوه درهمه وي فَلِلْمُخَالَفَةِ نو [د مؤکل د حکم] د مخالفت کولو په وجه وَإِنْ كَانَتْ قِيمَتُهَا أَلْفًا او که د هغې قیمت زر درهمه وي فَمَعْنَاهُ أَنَّهُمَا يَتَحَالَفَانِ نو د هغه [یعني د مؤکل د قول معتبر کېدلو] مطلب دا دی چې وکیل او مؤکل به دواړه قسم اخلي لِأَنَّ الْمُوَكِّلَ وَالْوَكِيلَ فِي هَذَا يَنْزِلَانِ مَنْزِلَةَ الْبَائِعِ وَالْمُشْتَرِيْ ځکه په دې صورت کې وکیل او مؤکل د بائع او مشتري په درجه کې دي وَقَدْ وَقَعَ الِاخْتِلَافُ فِي الثَّمَنِ او [دلته] په ثمن کې اختلاف واقع سوی دی وَمُوجَبُهُ التَّحَالُفُ او د هغه حکم د [بائع او مشتري] دواړو قسم اخیستل دي [یعني د ثمن په مقدار کې د اختلاف واقع کېدلو حکم دا دی چې بائع او مشتري به دواړه قسمونه اخلي] ثُمَّ يُفْسَخُ الْعَقْدُ الَّذِيْ جَرَى بَيْنَهُمَا بیا به هغه عقد فسخ کول کیږي [ماتول کیږي] کوم چې د دوی تر مینځ واقع سوی دی فَتَلْزَمُ الْجَارِيَةُ الْمَأْمُوْرَ نو ځکه مینځه به پر وکیل لازمیږي.

**اللغات**: ﴿يتحالفان﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه مذكر غائب مضارع صيغه ده. تَحَالَفَ يَتَحَالَفُ تَحَالُفًا: يو تربله قسم اخيستل، يو بل ته قسم خوړل. ﴿ثمن﴾ قيمت. ﴿جَرٰى﴾ د ضرب د باب ماضي ده: جاري كېدل.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دى كه يو سړى بل چا ته ووايي چي "ته زما لپاره د زر درهمو يو مينځه رانيسه!" لېكن هغه سړى (يعني مؤكل) وكيل ته زر درهمه نه وركړي او وكيل په خپل مال سره د هغه لپاره يو مينځه رانيسي، تر دې وروسته وكيل او مؤكل د مينځې په قيمت كي اختلاف وكړي، مؤكل ووايي چي "تا دا مينځه په پنځه سوه درهمه رانيولې ده"، او وكيل ووايي چي "ما په زر درهمه رانيولې ده"، نو په دې صورت كي د مؤكل قول معتبر دى، برابره د مينځې ماليت او قيمت پنځه سوه درهمه وي او كه زر درهمه وي، كه چيري د مينځې ماليت پنځه سوه درهمه وي نو ښكاره خبره ده چي په دې صورت كي د مؤكل د حكم مخالفت سوى دى. او مخكي ذكر سوه چي كه وكيل د مؤكل د حكم مخالفت وكړي او بيا د دواړو په مينځ كي اختلاف راسي، نو د مؤكل قول معتبر دى، نو ځكه په دې صورت كي به هم د همدې مؤكل قول معتبر وي.

او كه چيري د مينځې قيمت د زر درهمو په برابر وي (يعني په زر درهمه ارزي)، نو په دې صورت كي د مؤكل د قول معتبر كېدلو مطلب دا دى چي وكيل او مؤكل به دواړه قسم اخلي؛ ځكه چي وكالت د وكيل او مؤكل تر مينځ حكماً مبادله او حكماً بيع ده لكه مخكي چي تېر سوه نو په وكالت كي وكيل حكماً د بائع په څېر دى او مؤكل د مشتري په څېر دى، نو ځكه د دوى پورتنى اختلاف داسي دى لكه په ثمن كي اختلاف كول، او تاسو ته به معلومه وي چي كه بائع او مشتري دواړه د ثمن (قيمت) په مقدار كي اختلاف وكړي، نو له دواړو څخه قسم اخيستل كيږي، لهذا په دې مسئله كي به هم له وكيل او مؤكل دواړو څخه قسم اخيستل كيږي، او كله چي دواړه قسم واخلي نو د دوى تر مينځ واقع سوى حكمي عقد (بيع) به فسخ كول كيږي، او كله چي د دوى ترمينځ عقد فسخ سو، نو ښكاره خبره ده چي مذكوره مينځه به پر وكيل لازمه وي او د هغه سره به پرېښوول كيږي. لنډه دا چي په دې صورت كي هم د مؤكل قول معتبر دى.

## د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

| |
|---|
| قَالَ: وَلَوْ أَمَرَهُ أَنْ يَشْتَرِيَ لَهُ هٰذَا الْعَبْدَ فرمايي: او كه مؤكل وكيل ته حكم وكړي چي هغه د ده لپاره دا غلام رانيسي وَلَمْ يُسَمِّ لَهُ ثَمَنًا او مؤكل د وكيل ته مخته ثمن ذكر نه كړي فَاشْتَرَاهُ بيا وكيل هغه رانيوى فَقَالَ الْآمِرُ: اِشْتَرَيْتَهُ بِخَمْسِ مِائَةٍ نو مؤكل ووېل: چي تا هغه په پنځه سوه درهمه رانيولى دى وَقَالَ الْمَأْمُوْرُ: |

بِأَلْفٍ او وكيل ووېل: چې په زر درهمه [مې رانيولې دی] وَصَدَّقَ الْبَائِعُ الْمَأْمُوْرَ او بائع د وكيل تصديق وکړی فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمَأْمُوْرِ مَعَ يَمِيْنِهِ نو قول د وكيل معتبر دی د قسم سره [يعني له هغه څخه به قسم اخيستل کيږي او په قسم سره به د هغه قول منل کيږي] قِيْلَ: لَا تَحَالُفَ هٰهُنَا ويل سوي دي: چې دلته تحالف نشته [يعني له وكيل او مؤكل دواړو څخه به قسم نه اخيستل کيږي] لِأَنَّهُ ارْتَفَعَ الْخِلَافُ بِتَصْدِيْقِ الْبَائِعِ ځکه چې د بائع د تصديق کولو په وجه [د بائع او مشتري] اختلاف ختم سو إِذْ هُوَ حَاضِرٌ ځکه بائع [په دې مسئله کې] حاضر دی وَفِي الْمَسْأَلَةِ الْأُوْلٰى هُوَ غَائِبٌ او په اوله [مخکنۍ] مسئله کې هغه غائب دی فَاعْتُبِرَ الِاخْتِلَافُ نو په دې وجه [هلته] اختلاف معتبر [او ثابت] سو وَقِيْلَ: يَتَحَالَفَانِ او ويل سوي دي: چې دواړه به قسم اخلي لِمَا ذَكَرْنَاهُ د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی دی وَقَدْ ذَكَرَ مُعْظَمَ يَمِيْنِ التَّحَالُفِ وَهُوَ يَمِيْنُ الْبَائِعِ او [دلته] امام محمد رَحِمَهُ الله ستر [اهم] قسم بيان کړی دی او هغه د بائع [يعني د وكيل] قسم دی وَالْبَائِعُ بَعْدَ اسْتِيفَاءِ الثَّمَنِ أَجْنَبِيٌّ عَنْهُمَا او اصل بائع تر قسم اخيستلو وروسته له [مؤكل او وكيل] دواړو څخه اجنبي دی وَقَبْلَهُ أَجْنَبِيٌّ عَنِ الْمُوَكِّلِ او تر ثمن اخيستلو مخکې له مؤكل څخه اجنبي دی إِذْ لَمْ يَجْرِ بَيْنَهُمَا بَيْعٌ ځکه چې د مؤكل او بائع تر مينځ بيع نه ده واقع سوې فَلَا يُصَدَّقُ عَلَيْهِ لهذا د مؤكل په خلاف به د هغه د قول تصديق نه کيږي فَبَقِيَ الْخِلَافُ نو اختلاف باقي پاته سو [نو ځکه له دواړو څخه به قسم اخيستل کيږي] وَهٰذَا قَوْلُ الْإِمَامِ أَبِي مَنْصُوْرٍ او دا د امام ابو منصور ماتريدي رَحِمَهُ الله قول دی وَهُوَ أَظْهَرُ او همدا زيات ظاهر دی.

**اللغات**: ﴿لم يسم﴾ د تفعيل له بابه د حجد صيغه ده: نومول، ذکر کول، مُتعيّن کول (ټاکل)، ﴿صدّق﴾ د تفعيل ماضي ده: تصديق کول، ﴿ارتفع﴾ د افتعال ماضي ده: پورته کېدل، ليرې کېدل، ختمېدل، ﴿مُعْظَم﴾ د افعال د باب مفعول دی: غټ، لوی، ستر (عظيم)، غټ ګڼل سوی، أَعْظَمَ يُعْظِمُ إِعْظَامًا: غټېدل، غټول، غټ ګڼل (مصباح اللغات)، ﴿استيفاء﴾ د استفعال مصدر دی: اخيستل، ترلاسه کول، حاصلول.

---

* القول الراجح: هو هذا القول، وهذا قول الإمام أبي منصور رَحِمَهُ الله، كذا ذكر في مجمع الأنهر (ج:٣، ص:٣٢٣)، وفي البحر الرائق (ج:٧، ص:١٦٥). [القول الراجح ج:٢، ص:١٥٨]

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که مؤکل څوک وکيل ته د مُعيّن غلام د رانيولو حکم وکړي لېکن مؤکل د غلام ثمن بيان نه کړي چې په دومره قيمت يې رانيسه!. بيا وکيل هغه غلام رانيسي، او له رانيولو څخه وروسته د وکيل او مؤکل تر مينځ اختلاف راسي، يعني مؤکل وايي چې "تا دا غلام په پنځه سوه درهمه رانيولی دی" او وکيل وايي چې "ما په زر درهمه رانيولی دی". او بائع حاضر وي او هغه هم د وکيل تصديق وکړي چې "هو! هغه زما څخه دا غلام په زر درهمه رانيولی دی". نو په دې صورت کې د وکيل (مامور) قول د قسم سره معتبر دی، او د تېر عبارت د مسئلې په څېر به دلته له وکيل او مؤکل دواړو څخه قسم نه اخيستل کيږي، دا د فقيه ابو جعفر هندواني رَحِمَهُ الله قول دی.

د دې قول دليل دا دی چې په دغه مسئله کې بائع حاضر او موجود دی او هغه د وکيل تصديق هم کړی دی، لهذا د هغه په تصديق سره د وکيل قول ته نور تقويت حاصل سو، نو ځکه هغه به راجح وي او د هغه اعتبار به کيږي، د دې په خلاف د تېر عبارت په مسئله کې چې څرنګه بائع هم حاضر نه دی او د وکيل په دعوىٰ کې د بائع تصديق هم شامل نه دی. نو ځکه هلته د وکيل او مؤکل په مينځ کې د اختلاف ثابتېدلو په وجه تحالف (د دواړو قسم اخيستل) واجب سوي دي.

وقيل يتحالفان إلخ: فرمايي چې د شيخ ابو منصور ما تريدي رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې د مخکنۍ مسئلې په څېر دلته هم تحالف واجب دی او مؤکل او وکيل به د مشتري او بائع په درجه ګرځول کيږي او له هغو څخه به قسم اخيستل کيږي، او تر قسم اخيستلو وروسته چې څرنګه په مخکنۍ مسئله کې عقد فسخ ګرځول سوی دی، همداسې به دلته هم هغه فسخ ګرځول کيږي.

وقد ذكر معظم يمين إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چې په متن کې امام محمد رَحِمَهُ الله ويلي دي "فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمَأْمُوْرِ مَعَ يَمِيْنِهٖ" يعني هغه فقط له وکيل څخه د قسم اخيستلو يادونه کړې ده. حال دا چې ابو منصور ما تريدي رَحِمَهُ الله تحالف واجب کړی دی او د تحالف په صورت کې له وکيل او مؤکل دواړو څخه قسم اخيستل کيږي، نو ځکه د امام محمد رَحِمَهُ الله په متن او د شيخ ابو منصور ماتريدي رَحِمَهُ الله په قول کې تعارض او اختلاف راغلی، حال دا چې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د امام منصور ماتريدي رَحِمَهُ الله قول ته "اظهر" ويلي دي؟

د دغه سوال جواب دی چې وکيل او مؤکل د بائع او مشتري په درجه کې دي او د بائع او مشتري په قسمونو کې د بائع قسم زيات اهم (مهم) وي؛ ځکه چې د ثمن د مقدار په اختلاف کې بائع د ثمن د زياتوب مدعي وي او مشتري له زياتوب څخه منکر وي (يعني بائع د زيات ثمن مدعي وي او مشتري د زيات ثمن منکر وي)، او پر مدعي فقط د تحالف په صورت کې قسم واجبيږي. حال دا چې پر منکر هر وخت قسم واجب وي (يعني د تحالف په صورت کې هم او له تحالف څخه بغير هم. لکه څرنګه چې همدا قاعده ده چې "واليمين على من أنكر")، نو په دې حواله سره په پورتنۍ مسئله کې چې کوم بائع دی يعني وکيل. د هغه قسم اهم او معظم دی. نو ځکه امام

محمد رَحِمَهُ الله فقط د وکیل د قسم یادونه کړې ده، او د هغه سره د مؤکل قسم هم تړلی دی (یعني کله چې له وکیل څخه د قسم اخیستلو یادونه وسوه نو د دې په ضمن کې دا خبره هم راغله چې له مؤکل څخه به قسم اخیستل کیږي)، ځکه کله چې پر وکیل "کوم چې مدعي" دی پر هغه قسم واجب دی، نو پر مؤکل به په درجه اولیٰ قسم واجب وي، ځکه چې هغه منکر دی.

لنډه دا چې امام محمد رَحِمَهُ الله که څه هم فقط د وکیل قسم ذکر کړی دی، لېکن مراد یې د مؤکل قسم هم دی (ځکه کله چې پر مدعي قسم واجب دی نو پر منکر به په درجه اولیٰ واجب وي)، لهذا کله چې د دواړو قسم مراد دی، نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په متن او د شیخ ابو منصور ماتریدي رَحِمَهُ الله په قول کې به هیڅ تعارض نه وي.

والبائع بعد استيفاء الثمن إلخ: په دې سره صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د شیخ ابو منصور ماتریدي رَحِمَهُ الله له طرفه د فقیه ابو جعفر رَحِمَهُ الله د قول د دلیل "لأنه ارتفع الخلاف بتصديق البائع" جواب ورکړی دی. حاصل یې دا دی چې کله په دې مسئله د غلام بائع له وکیل څه ثمن واخیستی نو هغه له وکیل او مؤکل دواړو څخه اجنبي سو، او تر ثمن اخیستلو مخکې له مؤکل څخه اجنبي وو؛ ځکه چې د بائع او مؤکل په مینځ کې هیڅ عقد نه دی سوی، لنډه دا چې بائع په دواړو صورتونو کې له مؤکل څخه اجنبي دی، او کله چې بائع له مؤکل څخه اجنبي دی، نو ځکه د مؤکل په خلاف به د هغه د قول تصدیق نه کیږي یعني د مؤکل په خلاف به د بائع قول معتبر نه وي او نه به د بائع په تصدیق سره د وکیل قول راجح کیږي، او کله چې د هغه قول او تصدیق معتبر نه سو، نو د ثمن په مقدار کې به د وکیل او مؤکل اختلاف باقي پاته وي، او کله چې اختلاف باقي پاته دی، نو پر دوی به تحالف هم واجب وي (یعني دواړه به قسم اخلي)، او له تحالف څخه وروسته به د دوی په مینځ کې واقع سوی حکمي عقد (بیع) فسخ کول کیږي او غلام به پر وکیل لازم وي، لکه څرنګه چې همدا د امام ابو منصور رَحِمَهُ الله قول دی، او همدا زیات ظاهر او غوره دی. والله أعلم وعلمهُ أتم



# فَصْلٌ فِي التَّوْكِيْلِ بِشِرَاءِ نَفْسِ الْعَبْدِ

(دا) فصل د نفسِ غلام د رانيولو د وکيل جوړولو په بيان کي دى

**تشريح**: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله په دغه فصل کي د دې مسئلي تفصيلي بيان کوي چي غلام يو بل څوک له مالک څخه د خپل ځان رانيولو وکيل جوړ کړي، يعني غلام يو چا ته ووايي چي "ته زما له مالک څخه ما رانيسه!"، او څرنګه چي له خپل مالک څخه ځان رانيول هم يو ډول بيع وشراء ده او د هغه سره جلا احکام متعلق دي، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله له "بَابُ الوكالة بالبيع والشراء" څخه وروسته اوس هغه په عليحده فصل کي بيانوي.

## که غلام د خپل ځان د رانيولو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ لِرَجُلٍ: اِشْتَرِلِيْ نَفْسِيْ مِنَ الْمَوْلٰى بِأَلْفٍ فرمايي: او که چيري غلام يو سړي ته ووايي: چي ته ما زما له مالک څخه د زرو درهمو په عوض کي رانيسه! وَدَفَعَهَا إِلَيْهِ او غلام هغه سړي ته زر درهمه ورکړي فَإِنْ قَالَ الرَّجُلُ لِلْمَوْلٰى: اشْتَرَيْتُهُ لِنَفْسِهِ نو که هغه سړي [وکيل] مالک ته ووايي: چي ما [ستا] غلام د هغه د ځان لپاره رانيولى دى [يعني که وکيل د غلام مالک ته ووايي چي "زه ستا غلام د هغه د خپل ځان لپاره رانيسم"، مطلب دا چي "ته ستا د غلام ځان (ذات) پر هغه خرڅ کړه"!] فَبَاعَهُ عَلٰى هٰذَا او مالک پر همدې شرط پر غلام د هغه خپل ځان خرڅ کړي فَهُوَ حُرٌّ نو هغه آزاد دى وَالْوَلَاءُ لِلْمَوْلٰى او [د هغه] ولاء د مالک لپاره ده لِأَنَّ بَيْعَ نَفْسِ الْعَبْدِ مِنْهُ إِعْتَاقٌ ځکه چي پر غلام د هغه ځان خرڅول [د هغه] آزادول دي وَشِرَاءُ الْعَبْدِ نَفْسَهُ قَبُوْلُ الْإِعْتَاقِ بِبَدَلٍ او د غلام لپاره خپل ځان رانيول د مال په بدله کي د آزادۍ قبلول دي وَالْمَأْمُوْرُ سَفِيْرٌ عَنْهُ او وکيل د غلام له طرفه سفير [استازى] دى [يعني فقط د غلام خبره نقلونکى دى] إِذْ لَا يَرْجِعُ عَلَيْهِ الْحُقُوْقُ ځکه چي پر داسي وکيل [د عقد] حقوق نه راجع کيږي فَصَارَ كَأَنَّهُ اشْتَرٰى بِنَفْسِهِ نو دا داسي سوه لکه غلام چي په خپله [خپل ځان] رانيولى وي وَإِذَا كَانَ إِعْتَاقًا او کله چي دا آزادول دي أَعْقَبَ الْوَلَاءَ نو تر هغه وروسته به ولاء ثابتيږي.

**اللغات**: ﴿ولاء﴾ مراد ځني دآزاد سوي غلام ميراث دی، يعني کله چي آزاد شُده غلام مړ سي نو د هغه پاته سوی ميراث د هغه دآزادونکي مالک حق کيږي، همدې ته ولاء وايي، ﴿إعتاق﴾ دافعال د باب مصدر دی: آزادول. ﴿أعقب﴾ دافعال د باب ماضي ده: وروسته راوړل، تر ځان وروسته ثابتول.

**تشريح: صورت د مسئلې**: دا دی که غلام يو سړي ته زر درهمه ورکړه او هغه ته يې وويل چي "ته د دې زرو درهمو په عوض کي زما له مالک څخه ما رانيسه!"، بيا هغه سړی (وکيل) د غلام د مالک سره په دې باره کي خبره وکړه او مالک ته يې وويل چي "زه ستا غلام په زر درهمه د هغه د خپل ځان لپاره رانيسم"، او مالک وويل چي "صحيح ده! زر درهمه راکړه! ما د غلام ځان (نفس) پر هغه خرڅ کړی"، نو هغه غلام آزاديږي او د هغه ولاء به همدې (خرڅونکي) مالک ته حاصليږي؛ دليل دا دی چي د غلام ځان پر غلام خرڅول د مالک له طرفه اعتاق علیٰ مال دی، يعني د مال په بدله کي د هغه آزادول دي، او خپل ځان له مالک څخه رانيول د غلام له طرفه اعتاق علیٰ مال قبلول دي، او ښکاره خبره ده چي کله يو مالک خپل غلام د مال په بدله کي آزاد کړي او غلام هغه قبول کړي، نو غلام آزاديږي، نو ځکه په دې مسئله کي به هم غلام (مؤکل) آزاديږي، ځکه چي هغه هم اعتاق علیٰ مال قبول کړی دی.

پاته سو د غلام وکيل، نو څرنګه چي هغه دا عقد د مؤکل يعني د غلام وطرف ته منسوب کړی دی، نو ځکه هغه فقط سفير (خبره نقلونکی) دی او د عقد حقوق د هغه وطرف ته راجع نه دي، بلکي د هغه د مؤکل يعني د غلام وطرف ته راجع دي، او دا داسي ده لکه غلام چي په خپله (بلا واسطه) خپل ځان له مالک څخه رانيسي، او تاسو ته به معلومه وي چي که غلام په خپله خپل ځان له مالک څخه رانيسي نو دا اعتاق دی (يعني ګواکي مالک هغه آزاد کړی)، نو ځکه د وکيل په ذريعه رانيول به هم اعتاق وي، او کله چي دا اعتاق دی، نو ځکه تر دې وروسته به د هغه ولاء د مُعْتِق (ازادونکي) يعني د مالک لپاره ثابتيږي (ځکه چي ولاء د اعتاق د لوازمو څخه ده، لهذا کله چي اعتاق ثابت سو، نو د هغه لوازم به هم ثابتيږي).

## د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَإِنْ لَمْ يُعَيِّنْ لِلْمَوْلَىٰ او که د غلام وکيل مالک ته [د رانيولو] وضاحت نه کړي [چي زه د چا لپاره غلام رانيسم، او مالک هغه پر خرڅ کړي] فَهُوَ عَبْدٌ لِلْمُشْتَرِيْ نو هغه د مشتري [وکيل] غلام دی [يعني په دې صورت کي هغه د وکيل غلام ګرځي] لِأَنَّ اللَّفْظَ حَقِيْقَةٌ لِلْمُعَاوَضَةِ ځکه چي [د اشتريتُ] لفظ د معاوضې لپاره حقيقت دی وَأَمْكَنَ الْعَمَلُ بِهَا إِذَا لَمْ يُبَيِّنْ او پر حقيقت عمل کول ممکن [هم] دي کله چي

وکيل [د رانيولو] وضاحت نه کړي فَيُحَافِظُ عَلَيْهَا نو ځکه د معاوضې [د معنیٰ] محافظت به کيږي بِخِلَافِ شِرَاءِ الْعَبْدِ نَفْسَهُ په خلاف د هغه صورت چې غلام خپل ځان رانيسي لِأَنَّ الْمَجَازَ فِيهِ مُتَعَيِّنٌ ځکه چې په هغه صورت کې مجاز مُتعيّن دی وَإِذَا كَانَ مُعَاوَضَةً او کله چې دا رانيول [شراء] معاوضه ده [مطلب دا چې کله د اشتريتُ لفظ د معاوضې په معنیٰ سره دی] يَثْبُتُ الْمِلْكُ لَهُ نو ځکه د مشتري [وکيل] لپاره به ملکيت ثابتيږي وَالْأَلْفُ لِلْمَوْلَى او هغه زر درهمه [کوم چې غلام خپل وکيل ته ورکړي دي] د مالک لپاره دی لِأَنَّهُ كَسْبُ عَبْدِهِ ځکه چې هغه د ده د خپل غلام ګټه ده وَعَلَى الْمُشْتَرِيْ أَلْفٌ مِثْلُهُ ثَمَنًا لِلْعَبْدِ او پر مشتري [وکيل] زر درهمه د هغه د مثل غلام ثمن لازم دي فَإِنَّهُ فِي ذِمَّتِهِ ځکه چې ثمن د مشتري پر ذمه پاته دي حَيْثُ لَمْ يَصِحَّ الْأَدَاءُ ځکه [د مشتري] اداء کول صحيح نه سوه بِخِلَافِ الْوَكِيلِ بِشِرَاءِ الْعَبْدِ مِنْ غَيْرِهِ په خلاف د هغه وکيل کوم چې د بل چا له طرفه د غلام رانيولو وکيل وي [نه د غلام له طرفه] حَيْثُ لَا يُشْتَرَطُ بَيَانُهُ نو [په هغه صورت کې] د وکيل وضاحت شرط نه دي لِأَنَّ الْعَقْدَيْنِ هُنَاكَ عَلَى نَمَطٍ وَاحِدٍ ځکه چې هلته دواړه عقدونه پر يوه طرز دي وَفِي الْحَالَيْنِ الْمُطَالَبَةُ تَتَوَجَّهُ نَحْوَ الْعَاقِدِ او په دواړو صورتونو کې مطالبه سته کوم چې د عاقد [وکيل] وطرف ته متوجه ده أَمَّا هٰهُنَا فَأَحَدُهُمَا إِعْتَاقٌ مُعَقِّبٌ لِلْوَلَاءِ او پاته سو دلته نو [دلته] يو عقد آزادول دي کوم چې [تر ځان وروسته] د ولاء ثابتونکی دی وَلَا مُطَالَبَةَ عَلَى الْوَكِيلِ او پر وکيل هيڅ مطالبه نسته وَالْمَوْلَى عَسَاهُ لَا يَرْضَاهُ وَيَرْغَبُ فِي الْمُعَارَضَةِ الْمَحْضَةِ او [ځيني وخت] کېدای سي چې مالک په دې [آزادولو] راضي نه وي او په صرف معاوضه [عقد بيع] کې رغبت کونکی وي [په بله وينا دا چې ځيني وخت مالک په ولاء راضي نه وي او له وکيل څخه د بدله (ثمن) په اخيستلو په راضي وي] فَلَا بُدَّ مِنَ الْبَيَانِ نو ځکه وضاحت کول ضروري دي.

**اللغات**: ﴿لم يبيّن﴾ د تفعيل له بابه د جحد صيغه ده: بيانول، ښکاره کول، وضاحت کول، ﴿اللفظ﴾ مراد ځني د "اِشْتَرَيْتُ" لفظ دی کوم چې په حقيقت کې د معاوضې (بدلې) او رانيولو لپاره استعماليږي، او کله چې پر دې معنیٰ عمل کول مشکل او ناممکن وي نو بيا د مجازي معنیٰ

"اعتاق علیٰ مال" لپاره استعماليږي، د "اعتاق علیٰ مال" معنیٰ ده: د مال په بدله کې آزادول. ﴿شِرٰی﴾ رانيول (خريد)، ﴿کسب﴾ ګټه. ګټل سوی مال، ﴿عساه﴾ ممکنه ده، کېدای سي. (احسن الهدايه)

**تشریح: صورت د مسئلې:** دا دی که د غلام وکيل هغه غلام له خپل مالک څخه رانيسي، لېکن دا خبره نه وکړي چې زه غلام د هغه د خپل ځان لپاره رانيسم، بلکې فقط داسې ووايي چې "زه په زره درهمه ستا غلام رانيسم" او مالک پر هغه غلام خرڅ کړي، نو دا رانيول په خپله د مشتري يعنې د وکيل لپاره واقع کيږي او همدا وکيل د غلام مالک کيږي او زر درهمه عليحده پر وکيل لازميږي؛ ځکه په دې صورت کې چې وکيل د رانيولو لپاره کوم لفظ ذکر کړی دی مثلاً "اِشْتَرَيْتُ عَبْدَكَ بِأَلْفٍ" (زه په زر درهمه ستا غلام رانيسم)، دا لفظ د "اشتريتُ" د معاوضې د معنیٰ لپاره حقيقت دی (يعني د دې حقيقي معنیٰ ده "رانيول"، نه "د مال په بدله کې آزادول)، او څرنګه چې دلته وکيل (مشتري) د دې خبرې هيڅ وضاحت نه دی کړی چې زه دا غلام د هغه د ځان لپاره رانيسم، نو ځکه د معاوضې پر حقيقي معنیٰ عمل کول ممکن هم دي، او قاعده دا ده چې تر څو پر حقيقت عمل کول ممکن وي، تر هغه وخته به د مجاز وطرف ته رجوع نه کيږي، نو ځکه په دې مسئله کې به د مجاز يعني د "اعتاق علیٰ مال" وطرف ته رجوع نه کيږي، او د دې غلام رانيول (شراء) به پر حقيقي معنیٰ يعني پر معاوضه حمل کيږي او غلام به د مشتري) يعني د وکيل مملوک (غلام) وي، او وکيل چې مالک ته کوم ثمن (زر درهمه) ورکړي دي، څرنګه چې هغه د غلام له طرفه وکيل ته ورکول سوی دی او تاسو ته معلومه ده چې غلام او د هغه مال ټوله د مالک په ملکيت کې داخليږي (او غلام پر خپل ځان هم ملکيت نه لري)، نو ځکه هغه زر درهمه خو به د مالک وي او هغه به د غلام ثمن نه ګرځول کيږي، او څرنګه چې وکيل (مشتري) د غلام مالک سو، نو ځکه پر مشتري د هغه په مثل نور زر درهمه د ثمن په توګه واجب وي.

بخلاف شِرٰی العبد نفسه إلخ: فرمايي په کوم صورت کې چې غلام خپل ځان له مالک څخه رانيسي، نو په هغه صورت کې پر حقيقت عمل کول ناممکن دي؛ ځکه چې نه غلام د خپل ځان مالک وي او نه د مال، لهذا د هغه له طرفه چې کوم رانيول (شراء) سوي دي، هغه معاوضه ګرځول ممکن نه دي، نو ځکه هلته به خامخا د مجاز يعني د "اعتاق علیٰ مال" وطرف ته رجوع کيږي، لېکن څرنګه چې په دغه پورتنۍ مسئله کې د بيع پر حقيقي معنیٰ يعني پر معاوضه عمل کول ممکن دي، نو ځکه دلته به د مجاز وطرف ته رجوع نه کيږي.

**بخلاف الوكيل بشراء العبد إلخ:** د دې حاصل دا دی چې که له غلام څخه بغير يو بل سړی د غلام رانيولو لپاره يو څوک وکيل جوړ کړي، مثلاً خالد زيد وکيل جوړ کړي او هغه ته ووايي چې "ته زما لپاره د ادريس غلام رانيسه!"، نو اوس پر زيد (وکيل) د دې خبرې وضاحت کول ضروري نه دي چې "زه ستا (ادريس) غلام د خالد (مؤکل) لپاره رانيسم"، ځکه که وکيل دا خبره وکړي، که نه، په هر صورت کې عقد (بيع) د مؤکل يعني د خالد لپاره واقع کيږي، يعني برابره ده که وکيل ووايي چې زه د مؤکل لپاره غلام رانيسم او که ووايي چې زه يې رانيسم، دا دواړه عقدونه د مؤکل لپاره او دواړه پر يوه طرز واقع کيږي يعني دواړه بيع واقع کيږي، نه اعتاق علیٰ مال، او په دې دواړو صورتونو کې به د عقد د حقوقو ذمه وار عاقد يعني وکيل وي؛ ځکه چې په بيع کې حقوق د عاقد طرف ته راجع کيږي او له عاقد څخه د هغه مطالبه هم کيږي (نو ځکه له وکيل څخه به د ثمن (زر درهمو) مطالبه کيږي).

**أما ههنا إلخ:** د پورتني صورت په خلاف که غلام د خپل ځان د رانيولو لپاره يو څوک وکيل جوړ کړي، نو په دې صورت کې ځکه پر وکيل دا وضاحت کول ضروري دي چې "زه غلام د هغه د ځان (نفس) لپاره رانيسم"، د دې يوه وجه او دليل دا دی چې دلته د بائع يعني د مالک په حق کې د دې عقد دوه جلا حيثيتونه دي، يا په بله وينا دا چې دلته دوه جلا عقدونه دي؛ ځکه که وکيل دا عقد د غلام وطرف ته منسوب کړي، نو دا به "اعتاق علیٰ مال" (د مال په بدله کې آزادول) وي او وکيل به محض سفير وي چې د ثمن مطالبه به له هغه څخه نه کيږي او په دې صورت کې به د غلام تر مرګ وروسته مالک ته فقط د غلام ولاء حاصليږي (ځکه په دې صورت کې که څه هم مالک ته زر درهمه حاصليږي خو هغه په حقيقت کې داسي دي لکه د مالک خپل زر درهمه. ځکه چې د غلام مال ټوله د مالک په ملکيت کې داخل وي، نو په يوه توګه دا صورت داسي دی لکه مالک چې هغه بغير له مال څخه (مفت) آزاد کړی وي. نو داسي سو لکه مالک ته چې په دې صورت کې فقط ولاء حاصليږي)، او که چيري وکيل دا عقد د خپل مؤکل (غلام) وطرف ته منسوب نه کړي يعني دا وضاحت نه وکړي چې "زه غلام د هغه د ځان (نفس) لپاره رانيسم"، نو په دې صورت کې به دا عقد معاوضه وي او وکيل (عاقد) به د خپل ځان لپاره د غلام رانيونکی وي او هم له هغه څخه به د ثمن (زر درهمو) مطالبه کيږي (نه له غلام څخه) نو مالک ته به عليحده زر درهمه حاصل سي. لنډه دا چې کله د دې عقد دوه جلا حيثيتونه دي، نو ځکه پر وکيل وضاحت کول ضروري دي (چې زه د غلام د ځان يا د خپل ځان لپاره هغه رانيسم).

او بل دليل دا دی چې ځيني وخت داسي وي چې مالک اعتاق علیٰ مال (د مال په بدله کې آزادول) نه خوښوي؛ ځکه چې د غلام ولاء ډېره لږ وي (ځکه څه مخکې ذکر سوه چې په يوه توګه دا اعتاق علیٰ مال په صورت کې مالک ته فقط د غلام ولاء حاصليږي. او ځيني وخت داسي وي چې ولاء ډېره لږ وي. نو ځکه مالک اعتاق

علیٰ مال نه خوښوي)، بلکې هغه محض معاوضه یعني پر مشتري (وکیل) د غلام خرڅول خوښوي (ځکه چې په دې صورت کې به د ثمن مطالبه له وکیل څخه وي او مالک ته به د وکیل له طرفه علیحده ثمن حاصل سي)، نو په دې وجه هم پر وکیل وضاحت کول ضروري دي. (اثمار الهدایه)

## غلام وکیل جوړول (حکم او تفصیل)

وَمَنْ قَالَ لِعَبْدٍ: اِشْتَرِ لِيْ نَفْسَكَ مِنْ مَوْلَاكَ او که یو سړي یو غلام ته وویل: چې ته ستا له مالک څخه زما لپاره خپل ځان رانیسه! فَقَالَ لِمَوْلَاهُ: بِعْنِيْ نَفْسِيْ لِفُلَانٍ بِكَذَا نو غلام خپل مالک ته وویل: چې ته زما ځان [ذات] پر ما د فلانکي لپاره په دومره قیمت خرڅ کړه! فَفَعَلَ او مالک [همداسې] وکړه فَهُوَ لِلْآمِرِ نو دا غلام د امر دی لِأَنَّ الْعَبْدَ يَصْلُحُ وَكِيْلًا عَنْ غَيْرِهِ فِيْ شِرَاءِ نَفْسِهِ ځکه چې غلام د ځان په رانیولو کې د بل چا له طرفه د وکیل جوړېدلو صلاحیت لري لِأَنَّهُ أَجْنَبِيٌّ عَنْ مَالِيَّتِهِ ځکه چې هغه له خپل مالیت څخه اجنبي دی وَالْبَيْعُ يَرِدُ عَلَيْهِ مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ مَالٌ او پر غلام د مال کېدلو په حیثیت سره بیع واردېږي إِلَّا أَنَّ مَالِيَّتَهُ فِيْ يَدِهِ لېکن د غلام مالیت د هغه په قبضه کې دی حَتّٰى لَا يَمْلِكَ الْبَائِعُ الْحَبْسَ بَعْدَ الْبَيْعِ لِاسْتِيْفَاءِ الثَّمَنِ همدا وجه ده چې بائع [مالک] له بیع څخه وروسته د ثمن اخیستلو لپاره [د غلام] د راګرځولو ملکیت نه لري اځیني شارحینو په بعضي ځایو کې د حتیٰ اصطلاحي ترجمه په "همدا وجه ده" سره کړې ده (دا خبره په یاد لرئ!)] فَإِذَا أَضَافَهُ إِلَى الْآمِرِ او کله چې غلام دا عقد د مؤکل وطرف ته منسوب کړي صَلُحَ فِعْلُهُ امْتِثَالًا نو د هغه فعل به [د مؤکل د حکم] پر ځای کولو صلاحیت لري فَيَقَعُ الْعَقْدُ لِلْآمِرِ نو ځکه دا عقد به د مؤکل لپاره واقع کېږي.

**اللغات**: ﴿یصلح﴾ د کَرُم د باب مضارع ده: صلاحیت لرل، وړتیا لرل. ﴿یَرِدُ﴾ د ضرب مضارع ده: واردېدل، واقع کېدل. ﴿حبس﴾ د ضرب مصدر دی: راګرځول، منع کول. ﴿استیفاء﴾ د استفعال مصدر دی: اخیستل، ترلاسه کول. ﴿أضاف﴾ د افعال د باب ماضي ده: نسبت کول، منسوب کول. ﴿امتثال﴾ د افتعال مصدر دی: اطاعت کول (حکم منل)، حکم پر ځای کول.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړي یو غلام ته وویل چې "ستا له مالک څخه زما لپاره خپل ځان رانیسه!"، نو غلام په دې باره کې د خپل مالک سره خبره وکړه او هغه ته یې وویل چې "ته زما ځان (ذات) د فلانکي لپاره پر ما خرڅ کړه!"، او مالک هغه خرڅ کړې، نو دا بیع صحیح ده او دا

غلام د مؤکل (امر) غلام ګرځي؛ دليل دا دی چې د خپل ځان د رانيولو لپاره د غلام وکيل کېدل صحيح دي؛ ځکه چې د غلام دوه حيثيتونه دي: (۱) يو دا چې هغه مال دی، (۲) دويم دا چې هغه انسان دی، او د مالک حق فقط په ماليت (مال والي) کې ستـه لېکن په انسانيت (انسان والي) کې نسته، او غلام له خپل ماليت ځخه اجنبي دی لېکن هغه په انسانيت (آدميت) کې اجنبي نه دی، او د وکالت تعلق د انسانيت سره دی، نه د ماليت سره، نو ځکه د بل چا له طرفه د غلام وکيل کېدل صحيح دي، او څرنګه چې دلته غلام دا عقد د خپل مؤکل وطرف تـه منسوب کړی دی (چې د فلانکي لپاره زما ځان (ذات) پر ما خرڅ کړه!) او د غلام له طرفه داسې نسبت کول صحيح هم دي، نو ځکه دا عقد (يعني د غلام د خپل ځان رانيول) به د مؤکل لپاره واقع کيږي او مؤکل به د غلام مالک کيږي. همدا خبره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د "فَإِذا أَضافَهُ..." څخه تر آخره پورې بيان کړې ده او په مينځ کې يې په "والبيع يرد عليه..." سره فصل راوستى دی، لېکن موږ ستاسو د اسانتيا لپاره عبارت سره متصل کړی دی او "والبيع يرد عليه" په آخر کې ذکر کوو.

والبيع يرد عليه إلخ: په دې سره د غلام دويم حيثيت يعني د هغه ماليت (مال والي) بيان سوی دی، حاصل يې دا دی چې په يوه حيثيت سره غلام مال هم دی، نو د دې حيثيت په اعتبار کولو سره د هغه خرڅول او رانيول (بيع وشراء) کيږي او د انسان کېدلو په وجه د هغه خرڅول او رانيول نه کيږي، لهذا د غلام دوه جلا حيثيتونه دي چې په هغوی کې د يوه حيثيت په اعتبار سره غلام وکيل جوړېدای سي او د دويم حيثيت په اعتبار سره د هغه بيع وشراء کېدای سي، لېکن د غلام ماليت د هغه په خپل قبضه کې وي، همدا وجه ده کله چې هغه له مالک څخه ځان رانيسي او مالک هغه خرڅ کړي او پر ثمن قبضه نه وکړي، نو د ثمن اخيستلو (ترلاسه کولو) په خاطر مالک هغه د ځان سره نه سي راګرځولای، ځکه غلام که څه هم د مالک په ملکيت کې وي لېکن داسې غلام مأذون لهٔ فی التجارة وي او د هغه ماليت د هغه په خپل قبضه کې وي، نه د مالک، او کله چې د هغه ماليت د مالک په قبضه کې نه دی، نو ښکاره خبره ده چې تر بيع وروسته به مالک لره د هغه د راګرځولو حق هم نه وي.

## د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

| |
|---|
| وَإِنْ عَقَدَ لِنَفْسِهِ او که غلام د خپل ځان لپاره عقد وکړي فَهُوَ حُرٌّ نو هغه آزاد دی لِأَنَّهُ إِعْتَاقٌ ځکه چې دا اعتاق [آزادول] دي وَقَدْ رَضِيَ بِهِ الْمَوْلَى دُونَ الْمُعَاوَضَةِ او مالک په همدې اعتاق راضي دی [او] په معاوضه راضي نه دی وَالْعَبْدُ وَإِنْ كَانَ وَكِيلًا بِشِرَاءِ مُعَيَّنٍ او دا غلام که څه هم د مُعَيَّن ذات [يعني د |

خپل ځان] د رانيولو وکيل دی وَلٰكِنَّهُ أَتَى بِجِنْسِ تَصَرُّفٍ آخَرَ لېکن هغه د بل تصرف په جنس سره راتګ کړی دی [يعني د بل انداز تصرف يې کړی دی، يعني خپل ذات يې د ځان لپاره رانيولی دی] وَفِي مِثْلِهِ يَنْفُذُ عَلَى الْوَكِيلِ او په داسې صورت کې تصرف [عقد] پر وکيل نافذيږي.

**اللغات**: ﴿عَقَدَ﴾ د ضرب د باب ماضي ده: عقد کول، معامله کول. ﴿إعتاق﴾ د افعال د باب مصدر دی: آزادول.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړي يو غلام وکيل جوړ کړی او هغه ته يې وويل چې "ستا له مالک څخه زما لپاره خپل ځان رانيسه!"، لېکن غلام د مؤکل لپاره د رانيولو پر ځای د خپل ځان لپاره بيع وکړه (يعني هغه له مالک څخه خپل ځان (ذات) د ځان لپاره رانيوی) او د مؤکل واسطه يې ختم کړه، نو په دې صورت کې غلام آزاديږي؛ دليل دا دی چې د غلام ځان پر غلام خرڅول د مالک له طرفه اعتاق علیٰ مال (د مال په بدله کې آزادول) دي، او له مالک څخه خپل ځان رانيول د غلام له طرفه د اعتاق قبلول دي، او بل دا چې کله دغه غلام د خپل مؤکل وطرف ته عقد منسوب نه کړی، نو ګواکې هغه مالک ته د اعتاق علیٰ مال خبر ورکړی (چې ما د مال په بدله کې آزاد کړه!) او ګواکې مالک دا عقد د اعتاق علیٰ مال په نيت وکړی، نو ځکه دا عقد (رانيول) به پر غلام واقع کيږي او نافذيږي او هغه به آزاديږي. (ځکه کله چې غلام خپل ځان رانيسي او مالک هغه پر خرڅ کړي، نو د دې معنیٰ "د مال په بدله کې آزادول" دي، کوم چې د "شراء" مجازي معنیٰ ده).

والعبد وإن كان وكيلا إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چې دلته مؤکل دا غلام د يو مُعيّن غلام يعني د خپل ځان (ذات) د رانيولو وکيل جوړ کړی دی، او مخکې تاسو ته معلومه سوه چې که يو سړی بل څوک د مُعيّن شي د رانيولو وکيل جوړ کړي، نو وکيل لره دا جائز نه دي چې هغه شی د ځان لپاره رانيسي، نو ځکه په دې مسئله کې وکيل يعني غلام لره هم د ځان لپاره د خپل ذات رانيول جائز نه دي.

د دې جواب دا دی چې دلته وکيل (غلام) د مؤکل د حکم مخالفت کړی دی، په دې توګه چې مؤکل دا غلام د خپل ځان لپاره د هغه د رانيولو وکيل جوړ کړی وو (چې زما لپاره ستا ځان [ذات] رانيسه!) لېکن هغه د ځان لپاره رانيوی او د مؤکل د حکم مخالفت يې وکړی. او مخکې ذکر سوه چې که وکيل د مؤکل د حکم مخالفت وکړي، نو په دې صورت کې عقد پر وکيل نافذيږي، نه پر مؤکل، نو ځکه دا رنيول به پر وکيل نافذيږي او په دې سره به هغه آزاديږي.

## د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَكَذَا لَوْقَالَ: بِعْنِيْ نَفْسِيْ او همدارنګه که غلام [مالک ته] ووايي: چي پر ما خپل ځان [ذات] خرڅ کړه! وَلَمْ يَقُلْ: لِفُلَانٍ او داسي نه ووايي: چي د فلانکي لپاره [پر ما خپل ځان [ذات] خرڅ کړه!] فَهُوَحُرٌّ نو [هم] هغه آزاد دی لِأَنَّ الْمُطْلَقَ يَحْتَمِلُ الْوَجْهَيْنِ ځکه چي [د هغه] مطلق کلام د دواړو صورتونو احتمال لري فَلَا يَقَعُ امْتِثَالًا بِالشَّكِّ لهذا د شک په وجه به دا [د مؤکل] د حکم پر ځای کول نه واقع کيږي [يعني کله چي د غلام مطلق کلام د دواړو صورتونو احتمال لري نو ګواکي هغه د خپل مؤکل حکم پر ځای نه کړی] فَيَبْقَى التَّصَرُّفُ وَاقِعًا لِنَفْسِهِ نو ځکه دا تصرف [عقد] به د غلام د خپل ځان لپاره واقع پاته سي.

**اللغات**: ﴿امتثال﴾ د افتعال د باب مصدر دی: اطاعت کول (حکم منل)، حکم پر ځای کول.

**تشريح**: فرمايي کوم غلام چي د ځان رانيولو وکيل جوړ سوی وي، که چيري هغه عقد مطلق وکړي او فقط داسي ووايي چي "زما ځان (ذات) پر ما خرڅ کړه!" او د مؤکل وطرف ته د عقد نسبت نه کړي، نو دا عقد (رانيول) هم اعتاق علىٰ مال دي او په دې سره غلام آزاديږي؛ ځکه چي هغه مطلق "بِعْنِيْ نَفْسِيْ" ويلي دي او په دې کي دوه احتماله دي: ① هغه به د مؤکل لپاره ځان رانيولی وي، ② د خپل ځان لپاره به يې رانيولی وي، لېکن د مؤکل وطرف ته د نسبت نه کولو په وجه د مؤکل لپاره په رانيولو کي شک دی، او د شک په وجه د غلام (وکيل) دا فعل د مؤکل د حکم منل او پر ځای کول نه سي شمارل کېدای، نو ځکه دلته اول احتمال ختم سو او دويم احتمال مُتعيّن سو چي غلام د ځان لپاره خپل ذات رانيولی دی، او بل دا چي د غلام د رقيت (غلام والي) په خاطر همدا احتمال زيات قوي دی، ځکه کېدای سي چي هغه به د خپل فايدې يعني د خپل آزادۍ په نيت د ځان لپاره بيع کړې وي چي زه آزاد سم.



# فَصْلٌ فِي الْبَيْعِ

(دا) فصل په بيع کي (د وکيل جوړولو په بيان کي) دی

**تشريح**: د توکيل بالشراء له بيان څخه وروسته اوس صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د توکيل بالبيع احکام او مسائل بيانوي، ځکه چي په شراء (رانيولو) کي د اثبات معنیٰ ده او په بيع کي د ازاله (زائلولو) معنیٰ ده يعني رانيول په مبيع کي د مشتري لپاره ملکيت ثابتوي او بيع (خرڅول) د بائع له ملکيت څخه مبيع زائلوي، او ښکاره خبره ده چي د وجود په اعتبار سره اثبات له ازاله څخه مخکي وي، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله په بيان کي هم اثبات له ازاله څخه مخکي کړی دی.

## وکيل بالبيع والشراء د کومو کسانو سره معامله نه سي کولای؟

قَالَ: وَالْوَكِيْلُ بِالْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ لَا يَجُوْزُ لَهُ أَنْ يَعْقِدَ مَعَ أَبِيْهِ وَجَدِّهِ وَمَنْ لَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ لَهُ فرمايي: او د بيع وشراء د خرڅولو او رانيولو] وکيل لره جائز نه دي چي د خپل پلار او نيکه سره عقد [معامله] وکړي يا يې د هغه کس سره وکړي چي ګواهي يې د ده په حق کي نه قبلول کيږي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَقَالَا ۞: يَجُوْزُ بَيْعُهُ مِنْهُمْ بِمِثْلِ الْقِيمَةِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي پر مثلي قيمت د دې کسانو سره د وکيل بيع کول جائز دي إِلَّا مِنْ عَبْدِهِ أَوْ مُكَاتَبِهِ مګر د خپل غلام او مکاتب سره لِأَنَّ التَّوْكِيلَ مُطْلَقٌ ځکه چي توکيل مطلق دی وَلَا تُهْمَةَ او تهمت نسته إِذِ الْأَمْلَاكُ مُتَبَايِنَةٌ وَالْمَنَافِعُ مُنْقَطِعَةٌ ځکه [د دوی] ملکيتونه سره جلا دي او منافع يې منقطع [او عليحده] دي بِخِلَافِ الْعَبْدِ په خلاف د غلام لِأَنَّهُ بَيْعٌ مِنْ نَفْسِهِ ځکه چي دا [يعني "د غلام سره بيع کول" داسي دي لکه] د خپل ځان سره بيع کول [يعني پر غلام يو شی خرڅول داسي دي لکه پر خپل ځان خرڅول] لِأَنَّ مَا فِي يَدِ الْعَبْدِ لِلْمَوْلَى ځکه کوم څه چي د غلام په قبضه کي دي هغه د مالک دي وَكَذَا لِلْمَوْلَى حَقٌّ فِي كَسْبِ الْمُكَاتَبِ همدارنګه د مکاتب په ګټه کي د مالک حق سته وَيَنْقَلِبُ حَقِيقَةً بِالْعَجْزِ

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، لأن قوله قول المتون، كذا ذكر في شرح عقود رسم المفتي (ص:۳۳)، وفي ملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۳۲۴). [القول الراجح ج:۲، ص: ۱۵۹]

او هغه حق [له بدلِ کتابت څخه د مکاتب] د عاجزه کېدلو په وجه په حقیقي ملکیت سره بدلیږي [یعني که مکاتب د "بدلِ کتابت" له اداء کولو څخه عاجزه سي نو هغه بیرته په حقیقت کي غلام ګرځي] وَلَهُ: أَنَّ مَوَاضِعَ التُّهْمَةِ مُسْتَثْنَاةٌ عَنِ الْوَكَالَاتِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي د تهمت ځایونه له وکالتونو څخه مستثنیٰ دي وَهٰذَا مَوْضِعُ التُّهْمَةِ او دا [هم] د تهمت ځای دی بِدَلِيلِ عَدَمِ قَبُولِ الشَّهَادَةِ په دې دلیل سره چي د دې کسانو ګواهي [د وکیل په حق کي] مقبوله نه ده وَلِأَنَّ الْمَنَافِعَ بَيْنَهُمْ مُتَّصِلَةٌ او ځکه چي د دوی په مینځ کي منافع متصل دي فَصَارَ بَيْعًا مِنْ نَفْسِهِ مِنْ وَجْهٍ نو ځکه دا په یوه اعتبار د خپل ځان سره بیع کول دي وَالْإِجَارَةُ وَالصَّرْفُ عَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ او اجاره او بیع صَرف پر همدغه اختلاف دي.

**اللغات**: ﴿وکیل بالبیع﴾ د یو شي د خرڅولو وکیل، وکیل بالشراء: د یو شي د رانیولو وکیل، ﴿مثل القیمة﴾ په بازار کي چي د یو شي څومره قیمت وي، هغه ته مثل قیمت (مثلي قیمت) وایي (اثمار الهدایه)، ﴿متباینة﴾ د تفاعل له بابه د مؤنث فاعل صیغه ده: یو له بل څخه جلا، سره جلا، ﴿منقطعة﴾ د انفعال له بابه مخکنی صیغه ده: پرې سوی او شکېدلی، یو له بل څخه جلا سوی، ﴿کسب﴾ ګټه، ګټل سوی مال، ﴿ینقلب﴾ د انفعال مضارع ده: اوښتل، بدلېدل.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی بل څوک د یو شي د بیع وشراء (خرڅولو او رنیولو) مطلق وکیل جوړ کړي، یعني یو سړی مطلقاً بل چا ته داسي ووایي چي "ته! دا شی خرڅ کړه! یا یې رانیسه!" او داسي نه ورته وایي چي "پر فلانکي او فلانکي یې مه خرڅوه! یا له فلانکي او فلانکي څخه یې مه رانیسه!"، یا مثلاً داسي ورته ووایي "چي ستا خوښه وي پر هغه چا یې خرڅ کړه!"، یعني مؤکل په دې وکالت کي هیڅ قید نه ولګوي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د دې وکیل لپاره نه د خپل پلار او نیکه سره بیع وشراء کول جائز دي او نه د خپل هغه قریبانو سره جائز دي چي د هغو ګواهي د ده په حق کي نه قبلول کیږي، مثلاً ځوی، لمسی، ښځه او داسي نور. صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چي له خپل غلام او مکاتب څخه بغیر د وکیل لپاره نور د ټولو خلګو سره پر مثلي قیمت بیع وشراء کول جائز دي، برابره ده هغه د ده پلار وي یا یو بل قریب وي.

د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي دلته توکیل مطلق دی، او کله چي توکیل مطلق دی او په هغه کي دا قید نسته چي د "فلانکي او فلانکي سره بیع وشراء مه کوه!"، نو ښکاره خبره ده چي د

وکيل لپاره به د هر چا سره د بيع وشراء کولو اجازت وي، برابره ده هغه د پلار او نيکه سره معامله وکړي يا د بل چا سره معامله وکړي، په هر صورت کي به د هغه دا معامله جائز او صحيح وي او په داسي کولو سره به د هغه وطرف ته هيڅ تهمت نه راجع کيږي؛ ځکه چي د ځوی او پلار، نيکه او لمسي ملکيتونه يو له بل څخه جلا وي او د هغو منافع هم جلا وي، نو ځکه د دې کسانو سره په بيع وشراء کولو کي پر وکيل دا تهمت نه سي کېدای چي هغه به د خپل نفع او فايدې په خاطر د هغو سره بيع وشراء کړې وي او په دې توګه به يې د مؤکل سره خيانت کړی وي (ځکه کله چي ملکيتونه او منافع سره جلا وي نو بيا به وکيل ته د هغو په بيع و شراء سره څه نفع ورسيږي او د مؤکل سره به څه خيانت وکړي)، نو بېله شکه به د هغه بيع او شراء هم جائز وي. (لېکن دا په هغه وخت کي کله چي په حقيقت کي هم د دوی منافع سره جلا وي، خو مونږ وينو چي عموماً د ځوی او پلار. نيکه او لمسي منافع سره متحد وي، لکه څرنګه چي همدا د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دی).

لېکن د خپل غلام او مکاتب سره د وکيل بيع وشراء کول د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز هم جائز نه دي؛ ځکه چي غلام خو د هيڅ شي مالک نه وي او کوم څه چي د غلام سره وي هغه ټوله د غلام د مالک (مولیٰ) وي، همدارنګه د مکاتب په ګټه (ګټل سوي مال) کي هم د هغه د مالک حق او حصه وي او که چيري هغه د بدل کتابت له اداء کولو څخه عاجز سي نو بيا هغه په پوره توګه د مالک په ملکيت کي داخل سي او د هغه غلام وګرځي او څرنګه چي د غلام هرڅه د مالک لپاره وي، همداسي د دې مکاتب هر څه هم د مالک لپاره وګرځي، لهذا د غلام او مکاتب سره عقد کول داسي دي لکه د خپل ځان سره عقد کول، او د وکيل لپاره دا جائز نه دي چي د خپل ځان سره عقد وکړي، نو ځکه د خپل غلام او مکاتب سره هم عقد کول جائز نه دي.

<u>وله أن مواضع إلخ</u>: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي دلته که څه هم توکيل مطلق دی لېکن له وکالت څخه د تهمت ځايونه مستثنیٰ دي، يعني د وکيل جوړولو مطلب دا دی چي د کومو کسانو سره په بيع وشراء کي د خيانت تهمت وي د هغو سره دي بيع او شراء نه کيږي (يعني د مؤکل مطلب دا وي چي وکيل دي د هغه خلکو سره بيع وشراء نه کوي چي په هغو کي دا تهمت موجود وي چي که وکيل بيع ورسره وکړي نو وکيل به د هغو سره د ښه کولو او نفع حاصلولو په خاطر د خپل مؤکل سره خيانت وکړي)، او د خپل پلار يا نيکه سره يا د داسي قريبانو سره چي د وکيل په حق کي د هغو ګواهي نه قبلول کيږي (د هغو سره) په بيع وشراء کولو کي دا تهمت سته؛ او بل دا چي عموماً د پلار او ځوی، نيکه او لمسي او داسي نورو منافع يو د بل سره متصل وي او دوی په آزاده توګه يو د بل له مال څخه نفع حاصلوي، نو په يوه اعتبار د دې کسانو سره د وکيل بيع وشراء کول داسي دي لکه د خپل ځان سره بيع وشراء کول، لهذا کله چي دا د

تهمت ځای هم دی او وکيل ته د خپل ځان سره بيع او شراء کول هم جائز نه دي، نو ځکه د دې کسانو سره به هم د هغه بيع وشراء کول جائز نه وي.

**والاجارة إلخ:** فرمايي که يو سړی د عقد اجاره او بيع صَرف لپاره يو څوک وکيل جوړ کړي، نو په دې صورت کې هم وکيل ته د خپل پلار، نيکه يا داسې نورو قريبانو سره معامله کول د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز جائز نه دي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د هغو سره پر مثلي قيمت معامله کول جائز دي.

## که وکيل بالبيع په غبنِ فاحش (زيات تاوان) سره بيع وکړي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَالْوَكِيلُ بِالْبَيْعِ يَجُوزُ بَيْعُهُ بِالْقَلِيلِ وَالْكَثِيرِ وَالْعَرَضِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ فرمايي: او د وکيل بالبيع لپاره د کم ثمن او زيات ثمن او سامان په عوض کې بيع کول [خرڅول] جائز دي، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز وَقَالَا ●: لَا يَجُوزُ بَيْعُهُ بِنُقْصَانٍ لَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِيهِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې په داسې نقصان [او کم ثمن سره] د هغه بيع کول جائز نه دي چې په هغه کې عام خلک دوکه نه خوري وَلَا يَجُوزُ إِلَّا بِالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ او [همدارنګه] له دراهم او دنانيرو څخه بغير د بل شي په عوض کې د هغه بيع کول [هم] جائز نه دي لِأَنَّ مُطْلَقَ الْأَمْرِ يَتَقَيَّدُ بِالْمُتَعَارَفِ ځکه چې مطلق حکم په متعارف [عرفي حکم] سره مقيد کيږي لِأَنَّ التَّصَرُّفَاتِ لِدَفْعِ الْحَاجَاتِ ځکه چې تصرفات د ضرورياتو د ليرې کولو لپاره وي فَيَتَقَيَّدُ بِمَوَاقِعِهَا نو ځکه مطلق حکم به د ضرورياتو په مواقعو [ځايو] سره مقيد کيږي وَالْمُتَعَارَفُ الْبَيْعُ بِثَمَنِ الْمِثْلِ وَبِالنُّقُودِ او متعارف په مثلي ثمن او نقودو سره بيع کول دي وَلِهَذَا يَتَقَيَّدُ التَّوْكِيلُ بِشِرَاءِ الْفَحْمِ وَالْجَمَدِ وَالْأُضْحِيَّةِ بِزَمَانِ الْحَاجَةِ او په همدې وجه د سکرو او يخې او د قربانۍ د څاروي رانيولو وکيل جوړول د ضرورت په موسم سره مقيد کيږي وَلِأَنَّ الْبَيْعَ بِغَبْنٍ فَاحِشٍ بَيْعٌ مِنْ وَجْهٍ وَهِبَةٌ مِنْ وَجْهٍ او ځکه چې په غبنِ فاحش سره بيع کول [خرڅول] په يوه اعتبار بيع ده او په يوه اعتبار هبه ده وَكَذَا الْمُقَايَضَةُ بَيْعٌ مِنْ وَجْهٍ وَشِرَاءٌ مِنْ وَجْهٍ او همدارنګه د سامان په عوض کې د سامان بيع په يوه اعتبار بيع ده او په يوه اعتبار شراء

● القول الراجح: قول الإمام أعظم رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الدر المختار (ج:۴، ص:۴۵۳)، وكذا في ملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۳۲۴). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۵۹]

[ارانیول] دي فَلَا يَتَنَاوَلُهُ مُطْلَقُ اسْمِ الْبَيْعِ نو ځکه د بيع مطلق لفظ به هغه لره نه شامليږي وَلِهٰذَا لَا يَمْلِكُهُ الْأَبُ وَالْوَصِيُّ او په همدې وجه پلار او وصي په غبنِ فاحش سره د بيع کولو ملکيت [اختيار] نه لري وَلَهُ: أَنَّ التَّوْكِيلَ بِالْبَيْعِ مُطْلَقٌ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي [دلته] توکيل بالبيع مطلق دی فَيَجْرِي عَلٰى إِطْلَاقِهِ فِي غَيْرِ مَوْضِعِ التُّهْمَةِ نو ځکه د تهمت له ځايه بغير په بل ځای کي به پر خپل اطلاق جاري کيږي وَالْبَيْعُ بِالْغَبْنِ أَوْ بِالْعَيْنِ مُتَعَارَفٌ عِنْدَ شِدَّةِ الْحَاجَةِ إِلَى الثَّمَنِ وَالتَّبَرُّمِ مِنَ الْعَيْنِ او په غبنِ فاحش سره بيع کول يا د سامان په عوض کي بيع کول هغه وخت متعارف دي کله چي [د انسان] ثمن ته سخت ضرورت وي او له سامان څخه نفس تنګه وي وَالْمَسَائِلُ مَمْنُوعَةٌ عَلٰى قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ او [د صاحبينو له طرفه پېش کړل سوي] مسئلې د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر قول ممنوع دي [يعني موږ ته تسليم نه دي، مطلب دا چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هغو حکم داسي نه دی لکه څرنګه چي صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي] عَلٰى مَا هُوَ الْمَرْوِيُّ عَنْهُ لکه څرنګه چي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی وَأَنَّهُ بَيْعٌ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ او په غبنِ فاحش سره بيع کول په هره توګه [يعني په پوره توګه] بيع ده حَتّٰى أَنَّ مَنْ حَلَفَ لَا يَبِيعُ همد وجه ده که يو څوک قسم واخلي چي بيع به نه کوي يَحْنَثُ بِهِ نو هغه د غبنِ فاحش په بيع سره حانث کيږي غَيْرَ أَنَّ الْأَبَ وَالْوَصِيَّ لَا يَمْلِكَانِهِ خو پلار او وصي [ځکه] د هغه ملکيت نه لري مَعَ أَنَّهُ بَيْعٌ سره د دې چي هغه [من کل وجه] بيع ده لِأَنَّ وِلَايَتَهُمَا نَظَرِيَّةٌ ځکه چي د دوی ولايت پر شفقت [او مصلحت] مبني دی وَلَا نَظَرَ فِيهِ او په غبنِ فاحش سره په بيع کولو کي هيڅ شفقت [او مصلحت] نسته وَالْمُقَايَضَةُ شِرَاءٌ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ وَبَيْعٌ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ او د سامان په عوض کي د سامان بيع په هره توګه شراء هم ده او په هره توګه بيع هم ده لِوُجُودِ حَدِّ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا ځکه چي [په هغه کي] له دې دواړو څخه د هر يوه تعريف موجود دی.

**اللغات**: ﴿وكيل بالبيع﴾ د يو شي د خرڅولو وکيل، ﴿عرض﴾ سامان، له ثمن او نقودو څخه بغير نور شيان، ﴿لا يتغابن﴾ د تفاعل له بابه د نفي صيغه ده: تاواني کېدل، دوکه خوړل (دوکه کېدل)، ﴿متعارف﴾ د تفاعل د باب مفعول دی: په عرف کي مشهوره او پېژندل سوی، په عرف کي رواج،

﴿ثمن﴾ قيمت، رېټ، ﴿مقايضه﴾ يو شى د سامان په عوض کي خرڅول. يعني د سامان بيع د سامان په عوض کي، مثلاً يو طرف ته لوښي وي او بل طرف ته هم لوښي وي. يا مثلاً يو طرف ته غنم وي او بل طرف ته هم غنم يا اوربشي يا وريجي وي، او په يوه طرف کي هم دراهم ودنانير نه وي. نو ته دې "بيع مقايضه" وايي (اثمار الهداية)، ﴿فحم﴾ سکاره. مشهوره شى دى کوم چي د لرګي او داسي نورو له جزئي سوځېدلو څخه وروسته پاتيږي، مړه سوي سکروټي (معجم وسيط)، اردو شارحينو د "فَحم" معنىٰ په "کُوله" سره کړې ده، کُوله هم مشهوره شى ده لکه ډېرين سکاره. او دا شيان عموماً په ژمي کي استعماليږي، خصوصاً په تېره زمانه کي چي هيڅ وسايل نه وو. ﴿التبرّم﴾ د تفعّل د باب مصدر دى: نفس تنګي (نفس تنګيا)، تنګېدل، ستومانه کېدل. ﴿من کل وجه﴾ په هر اعتبار سره، په هره توګه. ﴿شراء﴾ د ضرب د باب مصدر دى: رانيول.

**تشريح: صورت د مسئلي:** دا دى که يو څوک د خپل شي د خرڅولو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هغه وکيل ته په هره توګه د دې شي د خرڅولو حق او اختيار سته. يعني برابره ده وکيل دا په زيات ثمن سره خرڅ کړي يا په کم ثمن (غبنِ فاحش) سره. او برابره ده هغه دا په دراهم او دنانيرو سره خرڅ کړي يا يې د يو سامان په عوض کي خرڅ کړي. په هر صورت کي د هغه بيع (خرڅول) جائز او صحيح دي.

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي د هغه دا بيع په دوو صورتونو کي جائز نه ده: په غبنِ فاحش (کم ثمن) سره خرڅول او د سامان په عوض کي خرڅول (يعني بيع مقايضه کول)، او له دې څخه بغير په پاته صورتونو کي جائز ده. د غبنِ فاحش مطلب دا دى چي وکيل دا شى په دومره کم ثمن (قيت) سره خرڅ کړي چي عام خلک په هغه کي دوکه نه خوري، په بله وينا دا چي په دومره کم ثمن سره يې خرڅ کړي کوم چي په خلکو کي رواج نه وي، يعني خلک په دومره کم قيمت سره بالکل داسي شى نه خرڅوي بلکي له هغه څخه يې په زيات قيمت خرڅوي.

**د صاحبينو دليل:** دا دى چي دلته د مؤکل له طرفه وکيل ته د خرڅولو مطلق حکم سوى دى، او د مطلق حکم قاعده دا ده چي هغه په متعارف (او مروج) حکم سره مقيد کيږي؛ ځکه چي (د وکيل) تصرف د ضرورت ليري کولو لپاره مشروع سوى (جائز ګرځول سوى) دي، نو ځکه هغه به د ضرورت په موقع سره مقيد وي، او دا موقع په عرف او رواج سره معلومول کيږي، او په عرف کي هر شى په مثلي ثمن او په نقودو يعني په دراهم و دنانيرو سره خرڅول کيږي. نو ځکه دلته په دې مسئله کي به دغه مطلق توکيل او مطلق حکم په عرف سره مقيد کيږي (يعني په دې مطلق حکم سره د مؤکل مطلب دا دى

چې د خلکو په عُرف کې د دې شي څومره قيمت دی په هغومره قيمت يې خرڅ کړه!. او په دومره کم قيمت يې مه خرڅوه کوم چې په عُرف کې رواج نه دی. همدارنګه د هغه مطلب دا دی چې په هغه نقودو سره يې خرڅ کړه کوم چې په دې ښار کې رواج دي (چې هغه زموږ په ښارو کې کلداري او افغانۍ دي او د مصنف رَحِمَهُ الله په ښار کې دراهم او دنانير وه)، لهذا که وکيل په مثلي ثمن او په نقودو سره د وکالت شی خرڅ کړي، نو د هغه بيع به جائز وي، او که په غبنِ فاحش يا د يو سامان په عوض کې يې خرڅ کړي، نو د هغه بيع به جائز نه وي.

ولهذا يتقيّد إلخ: څرنګه چې صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په خپل دليل کې وفرمايل چې مطلق حکم په متعارف حکم سره مقيد کيږي، نو د هغو له طرفه د دې خبري مثال دا دی چې که يو څوک د سکرو د رانيولو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي (يعني يو چا ته ووايي چې زما لپاره سکاره. يا مثلاً کُوله يا ګوټکې رانيسه! لېکن دا نه ورته ووايي چې په ژمي کې يې رانيسه!)، نو په دې صورت کې د سکرو رانيول (شراء) د هغه کال د ژمي په موسم سره مقيد کيږي، لهذا که وکيل د ګرمۍ په موسم کې سکاره (يا مثلاً کُوله يا ګوټکې) رانيسي او مؤکل ته يې راوړي نو هغه پر مؤکل نه لازميږي، ځکه چې د کولې د ضرورت موقع ژمی دی، نه ګرمي، لهذا وکيل د مؤکل د حکم مخالفت وکړی، نو ځکه پر مؤکل به هغه نه لازميږي، يا مثلاً يو سړی د يخي يا د قربانۍ د څاروي رانيولو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي، نو د يخي رانيول (شراء) د هغه کال د دوبي په موسم سره مقيد کيږي، او د قربانۍ د څاروي رانيول د هغه کال د لوی اختر په ورځو سره مقيد کيږي (يعني وکيل به د لوی اختر تر ورځي مخکې يا د هغه په ورځو کې د قربانۍ څاروی رانيسي)؛ ځکه که څه هم دلته امر بالشراء مطلق دی، لېکن هغه د ضرورت په موقع سره مقيد دی، همداسي دلته (د عبارت په مسئله کې) که څه هم امر البيع مطلق دی، لېکن هغه د ضرورت په موقع او عرف سره مقيد دی.

ولأن البيع بغبن فاحش إلخ: د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دويم دليل دا دی چې په غبنِ فاحش سره خرڅول من وَجه بيع ده او من وَجه هبه ده؛ ځکه که يو سړی د پنځه سوه روپو شی په دوه نيم سوه روپۍ خرڅ کړي نو ښکاره خبره ده چې دوه نيم سوه تاوان د هغه له طرفه داسې دی لکه هبه (مفت ورکول)، يعني هغه په دوه نيم سوه دا شی خرڅ کړی او دوه نيم سوه يې مشتري (رانيونکي) ته هبه کړي، حال دا چې مؤکل هغه فقط د بيع وکيل جوړ کړی دی، نه د هبې. همدارنګه د سامان په عوض کې خرڅول من وجه بيع ده چې وکيل د مؤکل شی پر مشتري خرڅ کړی دی او من وَجه شراء ده چې وکيل د مشتري سامان رانيولی دی. حال دا چې مؤکل هغه فقط د بيع وکيل جوړ کړی دی، نه د شراء، لهذا د غبن فاحش او د بيع مقايضه په صورتونو کې د مؤکل د حکم مخالفت سته. او وکيل لره د مؤکل د حکم مخالفت کول جائز نه دي، نو ځکه په غبنِ فاحش او په بيع مقايضه سره به وکيل لره خرڅول هم جائز نه وي: ځکه چې د بيع (خرڅولو) مطلق لفظ د غه صورتونو لره شامل نه دی.

ولهذا لايملكه الأب إلخ: څرنګه چې په غبن فاحش سره د خرڅولو په صورت کې من وَجه هبه کول لازميږي، نو په همدې وجه د نابالغه بچي پلار او وصي لره دا اختيار نسته چې د هغه شی په غبن فاحش سره خرڅ کړي؛ ځکه چې په دې صورت کې هم هبه کول لازميږي، او پلار يا وصي لره دا حق او اختيار نسته چې د نابالغه بچي يو شی او مال هبه کړي.

**د امام صاحب دليل**: دا دی چې دلته توکيل مطلق دی، او د مطلق توکيل حکم دا دی چې هغه د تهمت له ځايو څخه بغير په بل ځای کې مطلق پاتيږي، او څرنګه چې دا هم د تهمت ځای نه دی (يعني په پورتنۍ مسئله کې دا تهمت نسته چې وکيل د خپل فايدې لپاره په غبن فاحش او په بيع مقايضه سره شی خرڅ کړی دی)، نو ځکه دا توکيل به مطلق پاتې وي او په هر هغه صورت کې به بيع جائز وي چې په هغه کې د بيع معنىٰ موجوده وي، او څرنګه چې په غبنِ فاحش او په بيع مقايضه سره د خرڅولو په صورت کې هم د بيع معنىٰ موجوده ده، نو ځکه په دې دوو صورتونو کې به هم بيع جائز وي.

والبيع بالغبن إلخ: په دې سره د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د دليل جواب ورکول سوی دی، حاصل يې دا دی چې د بيع تعارف (او مروّج کېدل) په مثلي ثمن او نقودو سره مقيد کول صحيح نه دي؛ ځکه چې ځيني وخت انسان سخت مجبوره او مفلسه وي يا له يو شي څخه هغه ډېر نفس تنګه او ستومانه وي، نو په دې صورت کې هغه په غبنِ فاحش سره هم دا شی خرڅوي او د سامان په عوض کې يې هم خرڅوي، يعني په خلکو کې د دې عرف او عادت سته چې ځيني وخت د نفس تنګۍ په وجه انسان داسې کوي، لهذا داسې کول هم د عرف او رواج حصه ده او په دې کې هيڅ حرج نسته.

والمسائل ممنوعة إلخ: په دې سره د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د مثال جواب ورکول سوی دی، حاصل يې دا دی چې د يخې، سکرو او د قرباني د څاروي رانيول (شراء) د ضرورت په موقع سره مقيد کول د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر قول ممنوع او تسليم نه دي. ځکه له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دا روايت نقل سوی دی چې (د هغه په نېز) په دې ټولو صورتونو کې اطلاق معتبر دی، يعني د هغه په نېز د دې شيانو رانيول د موسم سره مقيد نه دي، بلکې که وکيل له موسم څخه بغير هم دا شيان رانيسي نو هم هغه پر مؤکل لازميږي، ځکه چې دا توکيل مطلق دی يعني مؤکل د هيڅ وخت او موسم قيد نه دی لګولی.

لهذا دا مسئلې د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر قول موږ ته تسليم نه دي. نو ځکه په دې مسئلو سره د صاحبينو لپاره د امام صاحب په خلاف دليل نيول صحيح نه دي.

وأنه بيع من كل وجه إلخ: په دې سره د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د دويم دليل جواب ورکول سوی دی حاصل يې دا دی چې موږ دا خبره هم نه تسليمو چې د غبنِ فاحش بيع من وَجه بيع او من وَجه هبه ده، بلکې

هغه من کُل وجه بيع ده، همدا وجه ده که يو سړی قسم واخلي چي "په الله قسم! بيع به نه کوم" (وَاللهِ لَا أَبِيعُ)، او بيا هغه په غبنِ فاحش سره يو شی خرڅ کړي، نو هم هغه په خپل قسم کي حانث کيږي، حال دا چي که دا بيع مِن کُلِ وجه بيع نه وای نو قسم اخيستونکی سړی به نه حانث کېدای، لهذا د هغه حانث کېدل د دې خبري ښکاره دليل دی چي دا بيع مِن کُلِ وجه بيع ده او دې ته مِن وجه بيع ويل صحيح نه دي.

پاته سو دا سوال چي پلار او وصي لره د نابالغه بچي د مال خرڅولو اختيار ولي نسته، نو د هغه جواب دا دی چي پلار او وصي ولايت پر شفقت و مصلحت مبني دی، او په غبنِ فاحش سره په خرڅولو کي هيڅ شفقت و مصلحت نسته، بلکي ښکاره ظلم و نا انصافي ده، نو ځکه پلار يا وصي لره په غبنِ فاحش سره د نابالغه بچي د مال خرڅولو اجازت نسته.

همدارنګه بيع مقايضه ته هم مِن وَجه بيع ويل موږ نه تسليموو؛ ځکه چي په بيع مقايضه کي مِن کُلِ وجه د بيع معنیٰ هم سته او مِن کلِ وجه د شراء معنیٰ هم پکښي سته او پر هغه د بيع او شراء دواړه تعريفونه صادقيږي، لهذا هغه به په پوره توګه په دواړو سره متصف کيږي، نو ځکه مِن کلِ وجه بيع او شراء به ورته ويل کيږي او مِن وَجه بيع او مِن وَجه شراء ويل به غلط وي.

## د وکيل بالشراء د اختيار حدود

قَالَ: وَالْوَكِيْلُ بِالشِّرَاءِ يَجُوْزُ عَقْدُهُ بِمِثْلِ الْقِيْمَةِ فرمايي: او په مثلي قيمت سره د وکيل بالشراء عقد [معامله] کول جائز دي وَزِيَادَةٍ يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِيْ مِثْلِهَا [همدرانګه] په دومره زياتوب سره [د وکيل بالشراء عقد کول جائز دي] چي په هغه کي خلک دوکه خوري [مطلب دا چي په دومره زائد ثمن سره هم د هغه معامله کول جائز دي چي عموماً خلک داسي شی په هغومره ثمن رانيسي] وَلَا يَجُوْزُ بِمَا لَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِيْ مِثْلِهِ او په دومره زياتوب [زائد ثمن] سره جائز نه دي چي په هغه کي خلک دوکه نه خوري [يعني په غبنِ فاحش سره رانيول جائز نه دي] لِأَنَّ التُّهْمَةَ فِيهِ مُتَحَقِّقَةٌ ځکه چي په دې کي [يعني په غبنِ فاحش سره په رانيولو کي] تهمت موجود دی فَلَعَلَّهُ اشْتَرَاهُ لِنَفْسِهِ ځکه کېدای سي چي وکيل به هغه د خپل ځان لپاره رانيولی وي فَإِذَا لَمْ يُوَافِقْهُ لېکن کله چي دا عقد [او رانيول سوی] د هغه موافق نه سو [يعني خوښ يې نسو، يا يې تاوان پکښي وليدی] أَلْحَقَهُ بِغَيْرِهِ نو هغه دا د بل چا [يعني د مؤکل] سره يې ولګوی [يعني دلته دا تهمت سته چي وکيل به اول د خپل ځان لپاره شی رانيولی وي او د نه موافق کېدلو او تاوان

لېدلو په وجه به يې هغه شی د مؤکل پر غاړه اچولی وي] عَلٰى مَا مَرَّ لکه [مخکې] چې تېر سو حَتّٰى لَوْ كَانَ وَكِيلًا بِشِرَاءِ شَيْءٍ بِعَيْنِهِ همدا وجه ده که هغه د يو مُعيّن شي د رانيولو وکيل وي قَالُوا: يَنْفُذُ عَلَى الْآمِرِ نو مشايخو فرمايلي دي: چې [په غبنِ فاحش سره هم] عقد پر مؤکل نافذيږي لِأَنَّهُ لَا يَمْلِكُ شِرَاءَهُ لِنَفْسِهِ ځکه چې دا وکيل د خپل ځان لپاره د هغه د رانيولو ملکيت نه لري وَكَذَا الْوَكِيلُ بِالنِّكَاحِ إِذَا زَوَّجَهُ امْرَأَةً بِأَكْثَرَ مِنْ مَهْرِ مِثْلِهَا او همداسي وکيل بالنکاح دی کله چې هغه له مهرِ مثل څخه د زيات مهر په عوض کي د خپل مؤکل سره د يو ښځي نکاح وکړي جَازَ عِنْدَهُ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز جائز دي لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنَ الْإِضَافَةِ إِلَى الْمُوَكِّلِ فِي الْعَقْدِ ځکه چې په عقد نکاح کي د مؤکل وطرف ته نسبت کول ضروري دي فَلَا تَتَمَكَّنُ هٰذِهِ التُّهْمَةُ نو ځکه په هغه کي به دا تهمت ځای نه نيسي وَلَا كَذٰلِكَ الْوَكِيلُ بِالشِّرَاءِ [لېکن] وکيل بالشراء داسي نه دی لِأَنَّهُ يُطْلِقُ الْعَقْدَ ځکه چې هغه عقد مطلق کوي [يعني د مؤکل وطرف ته د عقد نسبت نه کوي، او نه پر هغه دا ضروري دي].

**اللغات**: ﴿ألحقه﴾ د افعال د باب ماضي ده: يو شی د بل شی سره يو ځای کول، لګول. ﴿لا تـتمكن﴾ د تفعّل له بابه د نفي صيغه ده: ځای نيول، قرار نيول.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که مؤکل د يو شي د رانيولو لپاره يو څوک وکيل جوړ کړي لېکن مؤکل هغه شی مُتعيّن نه کړي، نو د وکيل لپاره په مثلي ثمن سره رانيول هم جائز دي او په غبنِ يسير سره رانيول هم جائز دي، لنډه دا چې په دواړو صورتونو کي رانيول پر مؤکل لازميږي، مثلاً که هغه شی (موکل بهٖ) د پنځه سوه روپو شی وي او وکيل هغه په پنځه نيم سوه رانيسي، نو دا غبنِ يسير دی او جائز دي او دا رانيول (رانيول سوی شی) پر مؤکل نافذ او لازم دی. لېکن که وکيل هغه شی په غبنِ فاحش سره رانيسي يعني په دومره قيمت يې رانيسي چې عموماً خلک هغه په دومره قيمت نه رانيسي، مثلاً په اووه سوه روپۍ يې رانيسي، نو دا رانيول پر وکيل نافذيږي او لازميږي، نه پر مؤکل؛ ځکه چې په دې صورت کي د وکيل په هکله دا تهمت سته چې وکيل به هغه شی اول د ځان لپاره رانيولی وي او کله چې يې په هغه کي د ځان لپاره تاوان محسوس کړی وي نو هغه به يې پر مؤکل لازم کړی وي (چې دا ما ستا لپاره رانيولی دی). لکه ډېر مخکي چې هم داسي يو صورت تېر سو، او په داسي صورت کي عقد پر وکيل نافذيږي، نه پر مؤکل، نو ځکه په غبنِ فاحش سره د رانيولو په صورت کي به هم عقد (رانيول) پر وکيل نافذيږي، نه پر مؤکل.

لېکن که يو سړی د مُعيّن شي د رانيولو وکيل وي، بيا وکيل هغه شی په غبنِ فاحش سره رانيسي، نو هم دا رانيول پر مؤکل نافذيږي، نه پر وکيل؛ ځکه چي په دې صورت کي توکيل د مُعين شي د رانيولو دی، او تاسو ته معلومه ده چي د شي د مُتعيّن کېدلو په صورت کي وکيل لره دا جائز نه دي چي هغه د ځان لپاره رانيسي، نو ځکه په دې صورت کي به دا تهمت نه وي چي وکيل د ځان لپاره هغه شی رانيولی دی (ځکه د وکيل لپاره دا جائز نه دي)، او کله چي دلته تهمت نسته او وکيل په خپل فعل کي متهم نه دی، نو ځکه دا رانيول به پر مؤکل نافذيږي که څه هم وکيل په غبنِ فاحش سره هغه شی رانيولی وي.

همدارنګه که يو سړی بل څوک د خپل نکاح کولو (نکاح تړلو) وکيل جوړ کړي، او وکيل د يو ښځي سره د هغه نکاح وکړي لېکن په مهر کي د هغې له مهر مثل څخه زيات مهر وټاکي (يعني په غبنِ فاحش سره يې مهر وټاکي)، نو دا نکاح هم پر مؤکل (خاوند) نافذيږي؛ ځکه په دې کي د مؤکل وطرف ته د نکاح نسبت سوی دی او د نکاح په عقد کي داسي کول ضروري هم دي، نو ځکه دا نه سي ويل کېدای چي وکيل اول د ځان لپاره نکاح کړې وه او بيا چي کله هغه په ښځه کي يو نقصان وليدی نو د هغې نکاح يې د مؤکل سره وکړه، او کله چي دلته هيڅ تهمت نسته، نو ښکاره خبره ده چي دا نکاح به د مؤکل لپاره وي، نه د وکيل لپاره.

د دې په خلاف وکيل بالشراء (د رانيولو وکيل) عقد مطلق کوي او د خپل مؤکل وطرف ته د هغه نسبت نه کوي، او په شراء (رانيولو) کي دا ضروري هم نه ده، نو ځکه په شراء کي دا تهمت کېدای سي چي وکيل به اول د خپل ځان لپاره شی رانيولی وي او بيا په شي کي د نقصان ليدلو په وجه به يې هغه د مؤکل پر ذمه لازم کړی وي، او په همدې اعتبار سره د وکالت بالنکاح او وکالت بالشراء په مينځ کي فرق سوی دی او په وکالت بالنکاح کي له مهر مثل څخه پر زائد مهر هم نکاح جائز ګرځول سوې ده، لېکن د شراء (رانيولو) په صورت کي د غبنِ فاحش والا رانيول د وکيل پر ذمه لازم سوي دي او د مؤکل په حق کي هغه جائز نه دي ګرځول سوي.

## د غبنِ فاحش او غبنِ يسير تعريف

قَالَ: وَالَّذِي لَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِيهِ مَا لَا يَدْخُلُ تَحْتَ تَقْوِيمِ الْمُقَوِّمِينَ فرمايي: او هغه نقصان [تاوان] چي خلک يې نه زغمي [هغه] دا دی کوم چي د اندازه کونکو تر اندازې لاندي نه داخليږي [په بله وينا: هغه قيمت چي عموماً خلک دو که نه پکښې خوري. هغه دی کوم چي د قيمت لګونکو تر قيمت لاندي نه داخليږي]
وَقِيلَ: فِي الْعُرُوضِ "دهٔ نيم" او ويل سوي دي: چي په سامان کي "لسو" والا شی په "لس نيمه" [يعني د لسو درهمو يا لسو روپو والا شی په لس نيمه رانيول] وَفِي الْحَيَوَانَاتِ "دهٔ يازده" او په حيوانانو کي د

"لسو" والا حیوان په "یوولس" [یعني لسو درهمو والا حیوان په یوولس درهمه رانیول] وَفِي الْعَقَارَاتِ "ده دوازده" او په جایدادو کې د "لسو" والا په "دوولس" لِأَنَّ التَّصَرُّفَ يَكْثُرُ وُجُودُهُ فِي الْأَوَّلِ ځکه چې د تصرف وجود په اول [یعني په سامان] کې زیات وي [یعني د سامان عقد او د هغه رانیول زیات کیږي] وَيَقِلُّ فِي الْأَخِيرِ او په آخري [جایداد] کې د تصرف وجود ډیر کم وي وَيَتَوَسَّطُ فِي الْأَوْسَطِ او په مینځوي [حیوانانو] کې درمیانه وي وَكَثْرَةُ الْغَبْنِ لِقِلَّةِ التَّصَرُّفِ او د نقصان زیاتوب د تصرف د کموالي په وجه وي.

**اللغات**: ﴿لا يتغابن﴾ د تفاعل له بابه د نفي صيغه ده، تَغَابَنَ يَتَغَابَنُ تَغَابُنًا: د دې باب خپله معنی ده: یو بل ته نقصان رسول، یو بل ته دوکه ورکول، لېکن شارحینو یې دا معناوي هم ذکر کړي دي: دوکه خوړل (دوکه کېدل)، نقصان برداشت کول (تاوان زغمل)، ﴿تقويم﴾ د تفعیل د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوي وي او د صلې په بدلون سره یې معنیٰ هم بدلیږي: قیمت ټاکل، رېښ لګول، د یو شي اندازه بیانول (مثلا تقويمُ البلدان: د ښار طول او عرض بیانول)، ﴿العقارات﴾ جمع د عَقَارٌ ده: جایداد، هر غیرِ منقول شی (کوم چې له یوه ځایه بل ځای ته نسي نقلول کېدای. لکه ځمکه، کور، درختې او داسې نور)، ﴿عروض﴾ جمع د عَرَضٌ ده: سامان، له دراهم او دنانیرو (نقودو) څخه بغیر نور شیان، او د عَرَضٌ جمع أَعْرَاض راځي: سامان (معجم لغة الفقهاء)، ﴿غبن﴾ نقصان (تاوان)، دوکه ورکول.

**تشریح**: په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ الله د "لَا يَتَغَابَنُ النَّاس" تشریح او تعریف بیانوي او په "لَا يَتَغَابَنُ النَّاس" سره د مصنف رَحِمَهُ الله مراد غبنِ فاحش دی او د هغه له تعریف څخه د غبن یسیر تعریف په خپله معلومیږي. د غبنِ فاحش تعریف دا دی چې هغه تاوان او خساره کوم چې د ماهره تاجرانو (کاروباري حضراتو) تر اندازې لاندې نه داخلیږي، نو داسې تاوان او خساره غبنِ فاحش دی، یعني کوم خلک چې د کاروبار او تجارت مالکان دي، هغوی د دومره قیمت په عوض کې اندازه نه کوي.

نو معلومه سوه چې کومه تاوان او خساره چې د ماهره تجارانو تر اندازې لاندې راځي. هغه غبنِ یسیر دی.

**په بله وینا**: صاحب د اثمار الهدایې د دغه عبارت واضح او آسانه مطلب داسې بیان کړی دی: چې کوم خلک د شیانو د قیمت ټاکلو او لګولو ماهرین دي، له هغو څخه دوه خلک چې د یو شي کوم

قيمت ولګوي نو دا قيمت "غبن يسير" (ما يتغابن الناس) دی او له هغه څخه لوړ قيمت "غبن فاحش" (لا يتغابن الناس) دی، ځکه چي عموماً خلک په داسي لوړ قيمت کي دوکه نه خوري.

وقيل في العروض إلخ: له دې عبارت څخه په ښکاره دا معلوميږي چي دا د غبنِ فاحش بل تعريف او تشريح ده، لېکن صحيح خبره دا ده چي په دې سره د غبنِ يسير تشريح او تعريف بيان سوی دی، لکه څرنګه چي صاحب د فتح القدير او داسي نور شارحين وايي چي جمهورو فقهاؤ او عامو مشايخو همداسي ذکر کړي دي. (فتح القدير. نهايه. بنايه)

د دې عبارت حاصل دا دی چي که وکيل د لسو درهمو سامان په لس نيمه درهمه رانيسي، نو دا غبنِ يسير دی، همدارنګه که د لسو درهمو حيوان مثلاً پُسه په يوولس درهمه رانيول سي، نو دا هم غبنِ يسير دی، او که د لس درهمو جايداد په دوولس درهمه رانيول سي، نو دا هم غبنِ يسير دی، او غبنِ يسير معاف دی، او که وکيل له دې څخه په زيات قيمت هغه رانيسي مثلاً د لس درهمو پُسه په دوولس درهمه رانيسي، نو دا غبنِ فاحش دی چي وکيل ته د هغه اجازه نسته (د فيصد په اعتبار سره د دې حساب داسي دی: چي که په سامان کي پنځه فيصده زيات وي، نو دا غبنِ يسير دی، همدارنګه که په حيوان کي لس فيصده زيات وي، يا په جايداد کي شل فيصده زيات وي، نو دا غبنِ يسير دی، او که له دې څخه هم زيات وي، نو دا غبنِ فاحش دی (اثمار الهدايه))

لأن التصرف يكثر إلخ: دا د پورتني خبري دليل دی، يعني اوس چي دا خبره ذکر سوه چي مذکوره مقدار (يعني په سامان کي لس نيم درهمه او داسي نور) غبنِ يسير دی او له دې څخه زيات غبنِ فاحش دی، د هغه دليل دا دی چي د سامان تصرف (کاروبار) زيات پېښيږي، مطلب دا چي د جايداد او حيواناتو په نسبت سامان زيات رانيول کيږي، نو ځکه په هغه کي د انسان تجربه زياته وي او ډېره دوکه نه پکښي خوري (ښکاره دې وي چي د دغه دليل مدار پر تجربه دی، لهذا کله چي د سامان تجربه او معلومه انسان ته زيات وي، نو ځکه په هغه کي به لږ تاوان برداشت کيږي)، نو په دې وجه که د لسو درهمو والا سامان په لس نيمه دراهمه رانيسي (يعني نيم درهم دوکه وخوري [په بله وينا دا چي فقط په پنځه فيصده تاوان يې رانيسي])، نو دا غبنِ يسير دی او له دې څخه زيات غبنِ فاحش دی. او تر سامان وروسته دويم نمبر د حيواناتو بيع او کاروبار زيات وي، لهذا په هغه کي د انسان تجربه او معلومات درميانه وي، نو ځکه په هغه کي د سامان دوچنده مقدار يعني يو درهم (لس فيصده) غبنِ يسير ګرځول سوی دی او له دې څخه زيات غبنِ فاحش دی. او د سامان او حيوان په نسبت د جايداد بيع او کاروبار ډېر کم پېښيږي (ځکه چي عام انسانان په ټوله ژوند کي فقط يو ځل او دوه ځله کور. ځمکه او داسي نور رانيسي)، لهذا په هغه کي د انسان تجربه او معلومات ډېر کم وي، نو ځکه په هغه کي د حيوان دوچنده مقدار يعني ديوه درهم پر ځای دوه درهمه غبنِ يسير

گرځول سوي دي، چې په جايداد کې دوه درهمه (شل فيصده) غبنِ يسير دى او له دې ځخه زيات غبنِ فاحش دى.

## که د غلام په بيع کې وکيل نيم غلام خرڅ کړي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِذَا وَكَّلَهُ بِبَيْعِ عَبْدِهِ فرمايي: او که هغه د غلام خرڅولو وکيل جوړ کړي [يعني که يو سړى د خپل غلام خرڅولو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي] فَبَاعَ نِصْفَهُ او وکيل د غلام نيمه حصه خرڅه کړي جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز جائز دى لِأَنَّ اللَّفْظَ مُطْلَقٌ عَنْ قَيْدِ الِافْتِرَاقِ وَالِاجْتِمَاعِ ځکه چې [د خرڅولو] لفظ د افتراق او اجتماع له قيد ځخه مطلق دى [يعني مؤکل مطلق د غلام خرڅولو حکم کړى دى او دا قيد يې نه دى لګولى چې هغه نيم، نيم خرڅ کړه يا يې يو ځاى خرڅ کړه!] أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ بَاعَ الْكُلَّ بِثَمَنِ النِّصْفِ آيا ته نه ګورې! چې که وکيل په نيم ثمن [قيمت] سره پوره غلام خرڅ کړي يَجُوزُ عِنْدَهُ نو [هم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز جائز دي فَإِذَا بَاعَ النِّصْفَ بِهِ لهذا کله چې هغه په نيم ثمن سره نيم غلام خرڅ کړي أَوْلَى نو دا به په درجه اولىٰ جائز وي وَقَالَا*: لَا يَجُوزُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې نيم غلام خرڅول جائز نه دي لِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَعَارَفٍ ځکه چې دا متعارف [په عرف کې رواج] نه دي [حال دا چې مطلق حکم د متعارف وطرف ته راجع کيږي، نه د غيرِ متعارف وطرف ته] لِمَا فِيهِ مِنْ ضَرَرِ الشَّرِكَةِ ځکه چې په دې کې د شرکت [شراکت] ضرر سته إِلَّا أَنْ يَبِيعَ النِّصْفَ الْآخَرَ قَبْلَ أَنْ يَخْتَصِمَا مګر دا چې وکيل بله نيمه حصه [پاته نيم غلام] هم خرڅ کړي مخکې تر دې چې هغه او مؤکل خصومت [او دعوىٰ] سره وکړي لِأَنَّ بَيْعَ النِّصْفِ قَدْ يَقَعُ وَسِيلَةً إِلَى الِامْتِثَالِ ځکه چې د نصف غلام خرڅول ځينې وخت د مؤکل د حکم پر ځاى کولو [يعني د پوره غلام خرڅولو] ذريعه واقع کيږي بِأَنْ لَا يَجِدَ مَنْ يَشْتَرِيهِ جُمْلَةً په دې توګه چې وکيل داسي څوک پيدا نه کړي کوم چې پوره غلام [پريو ځاى] رانيسي فَيَحْتَاجُ إِلَى أَنْ يُفَرِّقَ نو ځکه هغه دې ته محتاج وي چې جلا، جلا يې خرڅ کړي [يعني دې ته مجبوره وي چې نصف غلام پريوه سړي خرڅ کړي او د هغه پاته نصف حصه پر بل چا خرڅه کړي، نو په داسي صورت کې چې کله هغه پاته نصف حصه خرڅه کړي نو د اول نصف بيع [خرڅول] د پاته نصف د خرڅولو ذريعه واقع سي او په دې توګه د مؤکل حکم پر ځاى سي (يعني تولله

---

* القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَاالله، كما قال صاحب الدر المختار:...وظاهره ترجيح قولهما إلخ. [القول الراجح ج:٢، ص:١٦٠]

غلام خرڅ سي)] فَإِذَا بَاعَ الْبَاقِيَ قَبْلَ نَقْضِ الْبَيْعِ الْأَوَّلِ نو كله چي وكيل د اول نصف له بيع ماتېدلو څخه مخكې [يعني تر خصومت كولو مخكې] پاته نصف خرڅ كړي تَبَيَّنَ أَنَّهُ وَقَعَ وَسِيْلَةً نو واضحه به سي چي د اول نصف بيع [د پاته نصف د خرڅولو او د مؤكل د حكم پر ځاى كولو] ذريعه واقع سوه وَإِذَا لَمْ يَبِعْ او كله چي يې خرڅ نه كړي ظَهَرَ أَنَّهُ لَمْ يَقَعْ وَسِيْلَةً نو ښكاره به سي چي هغه وسيله واقع نه سوه فَلَا يَجُوْزُ نو ځكه به هغه جائز نه وي وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ عِنْدَهُمَا او دا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز استحسان دى.

**اللغات:** ﴿افتراق﴾ د افتعال مصدر دى: جلا كېدل (بېلېدل). ﴿الكُل﴾ ټوله، پوره (بشپړ غلام). ﴿يختصما﴾ د افتعال له بابه د تثنيه مذكر غائب مضارع صيغه ده: جنګ كول، دعوىٰ كول (د قاضي دربار ته تلل او هلته دعوىٰ كول). ﴿امتثال﴾ د افتعال مصدر دى: اطاعت كول، حكم پر ځاى كول، حكم پوره كول. ﴿نقض﴾ د نصر مصدر دى: ماتول.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دى كه يو سړى د خپل غلام خرڅولو لپاره بل څوک وكيل جوړ كړي او هغه ته داسي نه وايي چي نيم يا پوره غلام خرڅ كړه! (يعني د نيم يا پوره غلام خرڅولو هيڅ قيد نه ولګوي)، او وكيل نيم غلام خرڅ كړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا بيع (خرڅول) جائز دي او پر مؤكل لازم دي، لېكن صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي د نيم غلام بيع د مؤكل په حق كي جائز نه ده او پر هغه به نه لازميږي.

**د امام صاحب دليل:** دا دى چي دلته مؤكل وكيل ته مطلق د غلام خرڅولو حكم كړى دى او هغه د نيم يا پوره غلام هيڅ قيد نه دى لګولى، لهذا څرنګه چي د پوره غلام خرڅول د وكيل لپاره جائز دي. همداسي به د نيم غلام خرڅول هم د وكيل لپاره جائز وي او هغه به پر مؤكل نافذ او لازم وي.

او بل دا چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز كه وكيل پوره غلام په نيم ثمن سره خرڅ كړي، نو هم جائز دى، لهذا كله چي وكيل نيم غلام په نيم ثمن سره خرڅ كړي، نو دا به په درجه اولىٰ جائز وي؛ ځكه چي په دې كي د مؤكل نفع ده او په نيم ثمن سره د پوره غلام په خرڅولو كي د مؤكل نقصان دى. لهذا كله چي د نقصان والا صورت جائز دى، نو د نفع والا صورت خو به په درجه اولىٰ جائز او صحيح وي.

**د صاحبينو دليل**: دا دی چې مطلق د متعارف وطرف ته راجع کیږي (لکه مخکې چې ذکر سوه)، نو ځکه دا مطلق حکم به د متعارف وطرف ته راجع کیږي، او متعارف د پوره غلام خرڅول دي، نه د نيم غلام (يعني په عُرف کي که يو څوک بل چا ته ووايي چې زما غلام خرڅ کړه!، نو د هغه مطلب دا وي چې پوره غلام خرڅ کړه!، نيم غلام مه خرڅوه!)، لهذا نيم غلام خرڅول د مؤکل د حکم مخالفت کول دي، او مخکې تاسو ته معلومه سوه چې که وکيل د مؤکل د حکم مخالفت وکړي نو عقد پر هغه لازميږي او نافذيږي، نه پر مؤکل، نو ځکه په دې مسئله کي د نيم غلام خرڅول به پر وکيل لازم وي، نه پر وکيل، او د مؤکل په حق کي به دا بيع جائز نه وي.

* ولما فيه من ضرر إلخ: دويم دليل يې دا دی چې د نيم غلام د خرڅولو په صورت کي غلام د مؤکل او مشتري په مينځ کي مشترک ګرځي، او په شرکت کي ښکاره نقصان دی، او وکيل ته د داسي کار اجازت نسته چې په هغه کي د مؤکل نقصان وي، نو ځکه په دې حواله سرهم د نيم غلام بيع د مؤکل په حق کي جائز نه ده.

لېکن که وکيل نيم غلام خرڅ کړي او بيا مخکي تر دې چې د وکيل او مؤکل په مينځ کي دعویٰ واقع سي، وکيل هغه پاته نصف غلام هم خرڅ کړي، نو په دې صورت کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د اول نصف بيع (خرڅول) جائز دي او د اول نصف بيع به د پاته نصف د بيع لپاره وسيله او ذريعه ګرځول کيږي، او که هغه پاته نصف غلام خرڅ نه کړي، نو د اول نصف بيع جائز نه ده (ځکه که اول نصف غلام خرڅ کړي نو دا ويل کېدای سي چې د دغه نصف بيع [خرڅول] د پاته نصف د خرڅولو وسيله ده، نو ځکه د اول نصف بيع [خرڅول] به جائز وي، لېکن که پاته نصف غلام خرڅ نه کړي، نو معلومه سوه چې د اول نصف بيع د پاته نصف د خرڅولو لپاره وسيله نه ده. نو ځکه د اول نصف بيع به جائز نه وي)، ځکه چې ځيني وخت داسي څوک نه پيدا کيږي چې ټوله غلام له وکيل څخه رانيسي او وکيل دې ته مجبوره وي چې هغه په نصف، نصف سره خرڅ کړي، لهذا اوس که د اول نصف تر خرڅولو وروسته او د مؤکل تر دعویٰ کولو مخکي وکيل پاته نصف هم خرڅ کړي، نو د اول نصف بيع به د پاته (دويم) نصف د بيع لپاره وسيله او ذريعه ګڼل کيږي او د غلام بيع به جائز وي، او که چيري وکيل دويم نصف خرڅ نه کړي نو د اول نصف بيع به د پاته نصف د بيع وسيله نه ګڼل کيږي، نو ځکه په دې صورت کي به د اول نصف بيع جائز نه وي (ځکه چې په دې صورت کي د مؤکل او مشتري تر مينځ شرکت واقع کيږي).

وهذا استحسان إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې له دعویٰ (خصومت) څخه مخکي د پاته نصف غلام د خرڅولو په صورت کي د اول نصف د بيع جائز کېدل د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د استحسان پر بناء دي. کنې د قياس له رويه د اول نصف بيع هم جائز نه ده.

## د نیم غلام رانیولو حکم

وَإِنْ وَكَّلَهُ بِشِرَاءِ عَبْدٍ او که مؤکل هغه د غلام رانیولو وکیل جوړ کړي فَاشْتَرَى نِصْفَهُ او وکیل د غلام نیمه حصه رانیسي فَالشِّرَاءُ نو [په دې صورت کې] رانیول موقوف پاتیږي فَإِنِ اشْتَرَى بَاقِيَهُ نو که [تر دې وروسته] وکیل د غلام پاته حصه [هم] رانیسي لَزِمَ الْمُوَكِّلَ نو رانیول [شراء] پر مؤکل لازمیږي لِأَنَّ شِرَاءَ الْبَعْضِ قَدْ يَقَعُ وَسِيلَةً إِلَى الِامْتِثَالِ ځکه چې [د غلام] د بعضي حصې رانیول ځیني وخت د مؤکل د حکم پر ځای کولو [یعني د پوره غلام رانیولو] ذریعه واقع کیږي بِأَنْ كَانَ مَوْرُوثًا بَيْنَ جَمَاعَةٍ په دې توګه چې غلام د جماعت [څو خلکو] په مینځ کې په میراث پرېښوول سوی وي فَيَحْتَاجُ إِلَى شِرَائِهِ شِقْصًا شِقْصًا نو [په داسي صورت کې] وکیل په حصه، حصه سره د هغه رانیولو ته محتاج دی فَإِذَا اشْتَرَى الْبَاقِيَ قَبْلَ رَدِّ الْآمِرِ الْبَيْعَ نو ځکه کله چې د مؤکل له طرفه د بیع له ردولو [ماتولو] څخه مخکي وکیل پاته حصه رانیوله تَبَيَّنَ أَنَّهُ وَقَعَ وَسِيلَةً نو ښکاره سوه چې [د اولي حصې] رانیول وسیله واقع سوه فَيَنْفُذُ عَلَى الْآمِرِ نو ځکه دا رانیول [شراء] به پر مؤکل نافذیږي وَهٰذَا بِالِاتِّفَاقِ او دا په اتفاق سره دي [یعني دا حکم د امام صاحب او صاحبینو په مینځ کې متفق علیه دی] وَالْفَرْقُ لِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّ فِي الشِّرَاءِ تَتَحَقَّقُ التُّهْمَةُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر قول فرق دا دی چې په رانیولو کې تهمت موجود وي عَلَىٰ مَا مَرَّ لکه مخکي چې تېر سو وَآخَرُ أَنَّ الْأَمْرَ بِالْبَيْعِ يُصَادِفُ مِلْكَهُ او بل فرق دا دی چې د خرڅولو حکم د مؤکل په ملکیت کې واقع کیږي فَيَصِحُّ نو هغه به صحیح وي فَيُعْتَبَرُ فِيهِ إِطْلَاقُهُ نو ځکه په هغه کې به د حکم مطلق والی معتبر وي وَالْأَمْرُ بِالشِّرَاءِ صَادَفَ مِلْكَ الْغَيْرِ او د رانیولو حکم د بل چا په ملکیت کې واقع سوی وي فَلَمْ يَصِحَّ نو هغه به صحیح نه وي فَلَا يُعْتَبَرُ فِيهِ التَّقْيِيدُ وَالْإِطْلَاقُ نو ځکه په هغه کې به تقیید او اطلاق معتبر نه وي.

**اللغات:** ﴿وکّله﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: وکیل جوړول، وکیل کول. ﴿شقص﴾ یوه ټوکړه، یوه حصه. ﴿یصادف﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: متصل کېدل، (ملاقي کېدل، واقع کېدل)، پیدا کول. ﴿ردّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: واپس کول، ردول.

**تشريح: صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی بل څوک د غلام رانیولو وکیل جوړ کړي، او وکیل نیم غلام رانیسي، نو د امام صاحب او صاحبینو ټولو په نیز دغه شراء (رانیول) موقوف پاتیږي، لهذا که تر دې وروسته وکیل پاته نصف هم رانیسي، نو د غلام بیع جائز ګرځي او پر مؤکل نافذیږي او لازمیږي؛ **دلیل**: د اول نصف رانیول ځکه موقوف پاتیږي چې ځینې وخت د نصف غلام رانیول د پاته نصف د رانیولو لپاره وسیله واقع کیږي، یعني ځیني وخت دې ته ضرورت پیښیږي چې غلام په نصف، نصف او په حصه، حصه سره رانیول سي، مثلاً یو غلام څو وارثانو ته په میراث کي حاصل سي، نو ښکاره خبره ده چې د داسي غلام د رانیولو لپاره به له هر وراث څخه جلا د هغه حصه رانیول کیږي، نو په دې صورت کي جلا، جلا رانیول یو د بل لپاره وسیله ده (یعني یوه حصه رانیول د بلي حصې د رانیولو وسیله ده. په دې شرط کله چې وکیل د مؤکل تر دعوې او بیع ماتولو مخکي بله حصې رانیسي)، لنډه دا چې کله وکیل "مخکي تر دې چې مؤکل بیع ردّ کړي او دعویٰ وکړي" د غلام پاته حصه هم رانیوله، نو معلومه سوه چې د اول نصف شراء د پاته حصې د شراء لپاره وسیله وګرځېده، نو ځکه په داسي صورت کي به د پوره غلام شراء (رانیول) د مؤکل په حق کي جائز او پر هغه به نافذ او لازم وي.

وهذا بالاتفاق إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې په دې صورت کي د نصف غلام شراء د امام صاحب او صاحبینو په اتفاق سره موقوف کیږي، د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز خو توقّف (موقوف کېدل) صحیح ښکاري، لیکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز دا صحیح نه ښکاري؛ ځکه امام صاحب رَحِمَهُ الله د نصف غلام بیع (خرڅول) نه دي موقوف کړي (لکه په تېر عبارت کي چې ذکر سوه چې د هغه په نیز د نصف غلام بیع [بغیر له توقف] جائز ده)، لیکن د نصف غلام شراء یې موقوف کړې ده، نو د دې څه وجه ده؟. صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د "والفرقُ لأبي حنيفة إلخ" په عبارت سره د بیع د نه موقوف کېدلو او د شراء د موقوف کېدلو په هکله دوه فرقونه بیان کړي دي: ① اول فرق دا دی چې د شراء په صورت کي د وکیل په حق کي دا تهمت کېدای سي چې هغه به نصف غلام اول د ځان لپاره رانیولی وي بیا به یې د تاوان لیدلو او نه خوښېدلو په وجه د هغه شراء پر مؤکل لازم کړې وي (چې ما دا نصف غلام ستا لپاره رانیولی دی)، نو ځکه د دې تهمت په خاطر امام صاحب رَحِمَهُ الله د نصف غلام رانیول موقوف کړي دي. او څرنګه چې د نصف غلام په بیع (خرڅولو) کي د ځان لپاره د خرڅولو تهمت نه سي کېدای، نو ځکه هغه امام صاحب رَحِمَهُ الله نه ده موقوف کړې بلکي بغیر له توقّف یې جائز کړې ده.

و آخر أن الأمر إلخ: ② دویم فرق دا دی چې د توکیل بالبیع په صورت کي د مؤکل حکم د هغه په خپل ملکیت کي واقع کیږي؛ ځکه ښکاره خبره ده چې مبیع یعني غلام د مؤکل ملکیت دی، نو ځکه د

مؤکل له طرفه د بيع (خرڅولو) حکم کول صحيح دي، او کله چي د بيع حکم صحيح دی، نو ځکه په هغه کي به اطلاق معتبر وي (يعني په هغه کي به توکيل مطلق لرل معتبر وي)، لهذا کله چي توکيل مطلق دی، نو ځکه وکيل ته به هم د نصف غلام د خرڅولو اجازت وي او هم د پوره غلام، او څرنګه چي د پوره غلام بيع بغير له توقف جائز ده، همداسي به د نصف غلام بيع هم بغير له توقف جائز وي. ددې په خلاف د توکيل بالشراء په صورت کي د مؤکل حکم د بل چا په ملکيت کي واقع کيږي؛ ځکه ښکاره خبره ده چي خپل ملکيت نه رانيول کيږي، او د بل چا د ملکيت د رانيولو حکم کول صحيح نه دي، محض د ضرورت په خاطر صحيح ګرځول سوي دي، او کله چي د رانيولو حکم (امر بالشراء) صحيح نه دی، نو ځکه په هغه کي به اطلاق يا تقييد (مطلق کول يا مقيد کول) معتبر نه وي، بلکي د عرف اعتبار به کيږي، او څرنګه چي عرف او رواج دا دی چي پوره غلام رانيول کيږي، او دلته وکيل نصف غلام رانيولی دی، نو ځکه امام صاحب رَحِمَهُ الله د نصف غلام رانيول (شراء) موقوف کړې ده او پر مؤکل يې نه ده لازم کړې.

(دويم فرق په آسانه او مختصره توګه داسي هم ويل کېدای سي چي کله مؤکل وکيل ته د خپل غلام د خرڅولو حکم وکړی نو دا خو د هغه خپل ملکيت دی. نو ځکه مطلق کول معتبر دي [يعني که وکيل نيم غلام خرڅ کړي يا پوره، په دواړو به مؤکل راضي وي، او د دواړو بيع به پر مؤکل لازم وي]. لېکن کله چي مؤکل وکيل ته له بل چا څخه د غلام د رانيولو حکم وکړی نو ښکاره خبره ده چي دا حکم د بل چا د ملکيت سره متصل دی. نو ځکه په دې صورت کي مؤکل د خپل ځان له طرفه د مطلق يا مقيد قيد نه سي لګولای. بلکي د خلکو د عُرف اعتبار به کيږي. او په عُرف کي پوره غلام رانيول کيږي. نو ځکه که وکيل پوره غلام رانيسي نو هغه به پر مؤکل لازميږي. او که نيم رانيسي نو هغه به نه پر لازميږي. بلکي موقوف به پاتيږي).

## د يو عيب په وجه وکيل بالبيع ته د مبيع واپس کېدلو حکم او تفصيل

قَالَ: وَمَنْ أَمَرَ رَجُلًا بِبَيْعِ عَبْدِهِ فرمايي: او که څوک يو سړي [وکيل] ته د خپل غلام خرڅولو حکم وکړي فَبَاعَهُ او هغه غلام خرڅ کړي وَقَبَضَ الثَّمَنَ أَوْ لَمْ يَقْبِضْ او پر ثمن قبضه وکړي يا يې نه وکړي فَرَدَّهُ الْمُشْتَرِيْ عَلَيْهِ بِعَيْبٍ لَا يَحْدُثُ مِثْلُهُ بيا مشتري د داسي عيب په وجه هغه غلام وکيل [بائع] ته واپس کړي چي [د مشتري په قبضه کي] هغسي عيب نه سي پيدا کېدای بِقَضَاءِ الْقَاضِيْ د قاضي په فيصله سره [يعني د قاضي په فيصله سره يې هغه ته واپس کړي] بِبَيِّنَةٍ أَوْ بِإِبَاءِ يَمِيْنٍ أَوْ بِإِقْرَارِهِ [او د قاضي دا فيصله] د بينې په وجه وي يا له قسم څخه [د وکيل] د انکار کولو په وجه وي يا [د وکيل] د اقرار کولو په وجه وي فَإِنَّهُ يَرُدُّهُ عَلَى الْآمِرِ نو [په دې صورت کي] وکيل هغه غلام مؤکل ته واپس

کولای سي لِأَنَّ الْقَاضِيَ تَيَقَّنَ بِحُدُوْثِ الْعَيْبِ فِيْ يَدِ الْبَائِعِ ځکه چي [په دې صورت کي] قاضي ته د بائع په قبضه کي د عيب پيدا کېدلو يقين دی فَلَمْ يَكُنْ قَضَاؤُهُ مُسْتَنِدًا إِلٰى هٰذِهِ الْحُجَجِ نو ځکه د هغه فيصله به د دغه حجتونو وطرف ته منسوب نه وي وَتَأْوِيْلُ اشْتِرَاطِهَا فِي الْكِتَابِ أَنَّ الْقَاضِيَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يَحْدُثُ مِثْلُهُ فِيْ مُدَّةِ شَهْرٍ مَثَلًا او په کتاب [متن] کي د دې حجتونو د شرط کېدلو تأويل دا دی چي قاضي په دې خبر دی چي داسي عيب مثلاً په يوه مياشت کي نه سي پيدا کېدای لٰكِنَّهُ اشْتَبَهَ عَلَيْهِ تَارِيْخُ الْبَيْعِ لېکن پر قاضي د بيع تاريخ مشتبه دی فَيَحْتَاجُ إِلٰى هٰذِهِ الْحُجَجِ لِظُهُوْرِ التَّارِيْخِ نو ځکه د تاريخ ښکاره کېدلو [متعين کېدلو] لپاره به قاضي دغه حجتونو ته محتاج وي أَوْ كَانَ عَيْبًا لَا يَعْرِفُهُ إِلَّا النِّسَاءُ أَوِ الْأَطِبَّاءُ يا هغه يو داسي عيب وي چي فقط ښځي يا طبيبان په هغه خبرېدای سي وَقَوْلُهُنَّ وَقَوْلُ الطَّبِيْبِ حُجَّةٌ فِيْ تَوَجُّهِ الْخُصُوْمَةِ لَا فِي الرَّدِّ او د ښځو قول او د طبيب قول [فقط] د خصومت په متوجه کېدلو [او شروع کېدلو] کي حجت دی، نه په واپس کولو [يعني د بائع وطرف ته د غلام واپس کولو په هکله حجت نه دی] فَيَفْتَقِرُ إِلَيْهَا فِي الرَّدِّ نو ځکه هغه به په واپس کولو کي دغه حجتونو ته محتاج وي حَتّٰى لَوْ كَانَ الْقَاضِيْ عَايَنَ الْبَيْعَ همدا وجه ده که قاضي په خپله بيع وويني وَالْعَيْبُ ظَاهِرٌ او عيب ښکاره وي لَا يَحْتَاجُ إِلٰى شَيْءٍ مِنْهَا نو هغه له دغه حجتونو څخه يوه حجت ته هم نه محتاج کيږي وَهُوَ رَدٌّ عَلَى الْمُوَكِّلِ او همدا [يعني د دې عيب په وجه واپس کول] مؤکل ته واپس کول دي فَلَا يَحْتَاجُ الْوَكِيْلُ إِلٰى رَدٍّ وَخُصُوْمَةٍ نو ځکه وکيل به واپس کولو او خصومت [دعویٰ] کولو ته محتاج نه وي.

**اللغات**: ﴿ثمن﴾ قيمت، رېټ، ﴿ردّه﴾ د ضرب ماضي ده: واپس کول. ﴿لا يحدث﴾ د نصر له بابه د نفي صيغه ده: پيدا کېدل، پېښېدل. ﴿إباء﴾ د فتح مصدر دی: انکار کول. ﴿يتيقّن﴾ د تفعّل مضارع ده: يقين کول. ﴿أطباء﴾ جمع د طَبِيْبٌ ده: ډاکټر، طبيب. ﴿خصومة﴾ جنګ، دعویٰ، مقدمه. (خصومت په اصل کي دې ته وايي چي يو سړی پر بل چا د حق دعویٰ کوي او دا بل څوک له هغه څخه انکار کوي).

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی بل څوک د خپل غلام خرڅولو وکيل جوړ کړي او وکيل هغه خرڅ کړي او مشتري ته يې وسپاري او وکيل پر ثمن قبضه وکړي يا يې نه وکړي، نو که

تر دې وروسته مشتري ديو داسي عيب په وجه هغه غلام وكيل (بائع) ته واپس كړي كوم چي د مشتري په قبضه كي نه سي پيدا كېداى، مثلاً د غلام د لاس يا پښې په ګوتو كي يوه ګوته زياته وي (يعني توله شپږ ګوتي وي)، يا يو بل داسي عيب وي كوم چي د بيع كولو او د غلام واپس كولو په دوران كي نه سي پيدا كېداى، او دغه واپس كول د قاضي په حكم او فيصله سره وي (يعني مشتري د قاضي په دربار كي د عيب دعوىٰ وكړي او قاضي د غلام واپس كولو فيصله وكړي)، برابره ده د قاضي فيصله د بيّنه يا انكار يا اقرار پر بناء وي، يعني برابره ده مشتري پر دې خبره بيّنه (ګواهي) پېش كړي چي دا عيب زما په قبضه كي نه دى پيدا سوى، يا د مشتري سره بيّنه نه وي او له وكيل (بائع) څخه د قسم اخيستلو نوبت راسي لېكن وكيل له قسم څخه انكار وكړي، يا وكيل د عيب اقرار وكړي (چي هو! دا عيب زما [يعني د مؤكل) په قبضه كي پيدا سوى دى)، نو په دې ټولو صورتونو كي وكيل دغه معيوب غلام له خصومت (دعوې) او د قاضي له فيصلې څخه بغير مؤكل ته واپس كولاى سي، يعني دې ته ضرورت نسته چي وكيل جلا د قاضي دربار ته ولاړ سي او هلته دعوىٰ پېش كړي چي "دا خو زما د مؤكل غلام دى، لهذا قاضي صاحب! ته دا فيصله هم وكړه چي زه يې مؤكل ته واپس كړم"؛ دليل دا دى چي دلته ديو داسي عيب په وجه غلام وكيل ته واپس سوى دى كوم چي د مشتري په قبضه كي نه سي پيدا كېداى، نو ځكه (د مشتري لپاره د فيصله كولو په وخت كي) قاضي ته دا يقين دى چي دا عيب د بائع په قبضه كي موجود وو، او كله چي قاضي ته د بائع (او مؤكل) په قبضه كي د مذكوره عيب پيدا كېدلو يقين دى (يعني هغه په دې يقيني خبر دى)، نو بيا جلا فيصله كولو ته څه ضرورت سته، ځكه قاضي د خپل يقين په رڼا كي د بائع (وكيل) وطرف ته د دغه معيوب غلام د واپس كولو فيصله كولاى سي، او ښكاره خبره ده چي كله د بائع يعني د وكيل وطرف ته غلام واپس كړى سي نو دا واپسي د مؤكل وطرف ته هم ده؛ ځكه چي عيب د مؤكل له طرفه راغلى دى.

فلم يكن قضاؤه إلخ: دا ديو اعتراض جواب دى، اعتراض دا دى چي كله مذكوره عيب د مشتري په قبضه كي نه سي پيدا كېداى، نو بيا ولي د قاضي فيصله پر مذكوره حجتونو يعني پر بيّنه او داسي نور موقوف كړل سوې ده، قاضي خو د خپل يقين (يقيني خبرېدلو) په وجه له دغه حجتونو څخه بغير هم فيصله كولاى سي.

نو صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په جواب كي فرمايي چي د قاضي فيصله (يعني د غلام واپس كولو فيصله) پر مذكوره حجتونو موقوف نه ده. لېكن اوس كه دا اعتراض وسي چي كله د قاضي فيصله پر دغه حجتونو موقوف نه ده او قاضي ته خپله د دې يقيني خبر سته چي دا عيب د بائع په قبضه كي موجود وو، نو بيا په متن (كتاب) كي د دې حجتونو د شرط لګولو او ذكر كولو څه فايده ده؟.

د جواب حاصل دا دی چي قاضي ته دا خبره معلومه ده چي داسي عيب مثلاً په يوه مياشت کي نه سي پيدا کېدای، لېکن پر قاضي د بيع تاريخ مشتبه دی چي بيع کله سوې ده، ځکه که بيع دوې، درې مياشتي مخکي سوې وي، نو کېدای سي چي دا عيب به د مشتري په قبضه کي پيدا سوی وي او د دې عيب په وجه به مشتري ته د غلام واپس کولو اجازت نه وي، او که د بيع يوه مياشت هم نه کيږي، نو معلومه خبره ده چي دا عيب به د بائع (او مؤکل) په قبضه کي پيدا سوی وي او مشتري ته به د دې عيب په وجه د غلام واپس کولو اجازت وي، نو ځکه د بيع د تاريخ د مُتعيّن کېدلو او ښکاره کېدلو لپاره به له مذکوره دريو حجتونو څخه يوه حجت ته ضرورت وي (يعني بيّنه، انکار يا اقرار، او د دې حجتونو په ضمن کي د بيع د تاريخ پته لګيږي)، لهذا کله چي د بيع د تاريخ ښکاره کېدلو لپاره د غه حجتونو ته ضرورت پرېوځي، نو ځکه په متن کي دا حجتونه شرط کړل سوي دي.

أو كان عيبًا لا يعرفه إلخ: دويم جواب دا دی چي د کوم عيب په وجه چي مشتري مبيع واپس کوي، هغه ځيني وخت داسي عيب وي چي فقط ښځي په خبرېدای سي (مثلا مبيع مينځه وي او د هغې په فرج کي يو مرض وي)، يا داسي عيب وي چي فقط ډاکټر (طبيب) په خبرېداسی سي (مثلا غلام په کينسر مبتلا وي)، او تاسو ته به معلومه وي چي د ښځو او ډاکټر دا قول فقط په دې باره کي حجت جوړېدای سي چي مشتري د بائع سره دعویٰ (خصومت) شروع کړي، لېکن د ښځو او ډاکټر د دې قول په وجه مبيع د بائع وطرف ته نه سي واپس کول کېدای، لهذا د مبيع واپس کولو لپاره به مذکوره حجتونو ضروت وي، نو په دې وجه په متن (کتاب) د مذکوره حجتونو شرط لګول سوی دی.

همدا وجه ده که قاضي بيع په خپله وويني، يعني بائع او مشتري د هغه مخته معامله سره وکړي او قاضي ته د هغه تاريخ هم معلوم وي او عيب بالکل ښکاره وي (يعني دا ښکاره وي چي هغه د وکيل (بائع) په قبضه کي پيدا سوی دی)، نو په دې صورت کي بالکل مذکوره حجتونو ته ضرورت نسته، بلکي قاضي به له حجت څخه بغير د غلام واپس کولو فيصله صادروي (چي وکيل [بائع] ته غلام واپس کړه!)، او د قاضي د دغه فيصلې په وجه به وکيل ته د غلام واپس کول د مؤکل وطرف ته واپس کول وي (يعني دا به داسي شمارل کيږي چي مشتري هغه د مؤکل وطرف ته واپس کړی، ځکه چي عيب اصلاً د مؤکل په قبضه کي پيدا سوی دی)، نو ځکه دې ته به ضرورت نه وي چي وکيل د قاضي په دربار کي جلا دعویٰ وکړي او د قاضي په فيصله سره مؤکل ته غلام واپس کړي.

## د پورتنۍ مسئلې بل صورت

قَالَ: وَكَذٰلِكَ إِنْ رَدَّهُ عَلَيْهِ بِعَيْبٍ يَحْدُثُ مِثْلُهُ فرمايي: او همدارنګه که مشتري د داسي عيب په وجه وکيل ته غلام واپس کړي چي [د مشتري په قبضه کي] هغسي عيب پيدا کېداى سي بِبَيِّنَةٍ أَوْ بِإِبَاءِ يَمِينٍ د ګواهۍ په ذريعه يا له قسم څخه د انکار کولو په ذريعه لِأَنَّ الْبَيِّنَةَ حُجَّةٌ مُطْلَقَةٌ ځکه چي بيّنه [ګواهي] کامل حجت دى وَالْوَكِيلُ مُضْطَرٌّ فِي النُّكُولِ او وکيل [له قسم څخه] په انکار کولو کي مجبوره دى لِبُعْدِ الْعَيْبِ عَنْ عِلْمِهِ ځکه چي عيب د هغه له علم [او خبر] څخه ليري دى بِاعْتِبَارِ عَدَمِ مُمَارَسَتِهِ الْمَبِيْعَ د مبيع سره د هغه د عدمِ ممارست [يعني د تعلق نه لرلو] په اعتبار کولو سره [يعني د مبيع (غلام) سره د وکيل هيڅ تعلق او واسطه نه ده راغلې] فَلَزِمَ الْآمِرَ نو ځکه پر مؤکل به غلام لازم وي.

**اللغات**: ﴿بُعْد﴾ ليري والى، ﴿ممارسة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دى، د دې باب څو معناوي دي: ځان په يو کار اخته کول (او تعلق ور سره پيدا کول)، مشق او محنت کول، همېشتوب کول، مهارت او تجربه ترلاسه کول. (مصباح اللغات)

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دى که مشتري د قاضي په فيصله سره د يو داسي عيب په وجه غلام وکيل (بائع) ته واپس کړي کوم چي د مشتري په قبضه کي پيدا کېداى سي، او د قاضي فيصله د بيّنه (ګواهۍ) پر بناء وي يا له قسم څخه د انکار پر بناء وي، نو په دې صورت کي هم د وکيل وطرف ته واپس کول د مؤکل وطرف ته واپس کول دي، نو ځکه دې ته ضرورت نسته چي وکيل جلا دعوىٰ وکړي او د قاضي فيصلې ته انتظار سي؛ ځکه کله چي مشتري د کامل حجت يعني د بيّنه (ګواهۍ) په ذريعه وکيل ته غلام واپس کړى او دا يې ثابته کړه چي عيب د وکيل (بائع) په قبضه کي موجود وو، نو په دې سره دا هم ثابته سوه چي دا عيب د مؤکل په قبضه کي هم موجود وو، نو ځکه جلا دعوې او فيصلې ته به ضرورت نه وي.

همدارنګه که وکيل له قسم څخه انکار وکړي او مشتري هغه ته غلام واپس کړي، نو دا هم د مؤکل وطرف ته واپس کول دي؛ ځکه چي وکيل له قسم څخه په انکار کولو کي مجبوره دى، ځکه غلام (مبيع) د مؤکل سره وو، او د غلام سره د وکيل واسطه او تعلق نه وو، لهذا وکيل ته د غلام د عيب هيڅ خبر نسته، نو هغه به خامخا له قسم څخه انکار کوي، او د دې انکار په وجه چي څرنګه هغه ته غلام واپس کيږي، همداسي د هغه د مؤکل وطرف ته هم واپس کيږي (لنډه دا چي د بيّنه او انکار په

دواړو صورتونو کې غلام د اصل مالک [مؤکل] وطرف ته واپس کيږي). او وکيل ته د جلا دعوې او فيصلې هيڅ ضرورت نسته.

## د وکيل د اقرار په وجه هغه ته د مبيع واپس کېدلو حکم

قَالَ: وَإِنْ كَانَ ذٰلِكَ بِإِقْرَارِهِ فرمايي: او که چيري د غلام واپس کول د وکيل د اقرار په وجه وي [يعني د وکيل د اقرار په وجه مشتري هغه ته غلام واپس کړی وي] لَزِمَ الْمَأْمُوْرَ نو غلام پر وکيل لازميږي لِأَنَّ الْإِقْرَارَ حُجَّةٌ قَاصِرَةٌ ځکه چي اقرار حجت قاصره دی وَهُوَ غَيْرُ مُضْطَرٍّ إِلَيْهِ او وکيل اقرار کولو ته مجبوره هم نه دی لِإِمْكَانِهِ السُّكُوْتَ وَالنُّكُوْلَ ځکه چي هغه لره چپ پاتېدل او [له قسم ځخه] انکار کول ممکن دي إِلَّا أَنَّ لَهُ أَنْ يُخَاصِمَ الْمُوَكِّلَ فَيُلْزِمَهُ بِبَيِّنَةٍ أَوْ بِنُكُوْلِهِ لېکن هغه ته دا حق سته چي د وکيل سره مخاصمه [او دعویٰ] وکړي او بيا هغه د بينې يا [له قسم ځخه] د انکار کولو په ذريعه غلام پر مؤکل لازم کړي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ الرَّدُّ بِغَيْرِ قَضَاءٍ بِإِقْرَارٍ وَالْعَيْبُ يَحْدُثُ مِثْلُهُ په خلاف د هغه صورت کله چي [د غلام] واپس کول د قاضي له فيصلې ځخه بغير [د وکيل] د اقرار کولو په وجه وي او هغسي عيب [د مشتري په قبضه کې] پيدا کېدای سي حَيْثُ لَا يَكُوْنُ لَهُ أَنْ يُخَاصِمَ بَائِعَهُ نو [په دې صورت کې] وکيل لره دا حق نسته چي د خپل بائع [يعني د مؤکل] سره مخاصمه وکړي لِأَنَّهُ بَيْعٌ جَدِيْدٌ فِيْ حَقِّ ثَالِثٍ ځکه چي دا دريېم کس په حق کې نوې بيع ده وَالْبَائِعُ ثَالِثُهُمَا او بائع [يعني مؤکل] د دوی دريېم دی [لنډه دا چي دا د مؤکل په حق کې نوې بيع ده] وَالرَّدُّ بِالْقَضَاءِ فَسْخٌ او د قاضي په فيصله سره واپس کول فسخ ده [يعني کله چي د قاضي په حکم سره غلام واپس کړی سي نو په دې سره د مشتري او مؤکل تر مينځ بيع فسخ کيږي (ماتيږي)] لِعُمُوْمِ وِلَايَةِ الْقَاضِيْ ځکه چي د قاضي ولايت عام دی غَيْرَ أَنَّ الْحُجَّةَ قَاصِرَةٌ وَهِيَ الْإِقْرَارُ مګر حجت قاصره دی يعني اقرار فَمِنْ حَيْثُ الْفَسْخُ كَانَ لَهُ أَنْ يُخَاصِمَهُ نو د فسخ په حيثيت سره وکيل لره دا حق سته چي د مؤکل سره مخاصمه وکړي وَمِنْ حَيْثُ الْقُصُوْرُ لَا يَلْزَمُ الْمُوَكِّلَ إِلَّا بِحُجَّةٍ [لېکن] د حجت د قاصره کېدلو په وجه له بل حجت [يعني له بينه او نکول] ځخه بغير دا واپسي [يعني د غلام واپس کول] پر مؤکل نه لازميږي وَلَوْ كَانَ الْعَيْبُ لَا يَحْدُثُ مِثْلُهُ وَالرَّدُّ بِغَيْرِ قَضَاءٍ بِإِقْرَارِهِ او که چيري هغه داسي عيب وي چي [د مشتري په قبضه کې]

هغسې عيب نه سي پيدا کېداى او واپسي [د غلام واپس کول] د قاضي له فيصلې څخه بغير [يعني] د اقرار په وجه وي يَلْزَمُ الْمُوَكِّلَ مِنْ غَيْرِ خُصُومَةٍ فِي رِوَايَةٍ نو [د مبسوط] په يوه روايت کي دا واپسي له خصومت [دعوې] څخه بغير پر مؤکل لازميږي لِأَنَّ الرَّدَّ مُتَعَيِّنٌ ځکه چي واپس کول مُتعيّن دي وَفِي عَامَّةِ الرِّوَايَاتِ لَيْسَ لَهُ أَنْ يُخَاصِمَهُ او [د مبسوط] په عام رواياتو کي [ذکر سوي] دي چي وکيل لره دا حق نسته چي د مؤکل سره مخاصمه وکړي [بلکي واپسي پر مؤکل لازميږي] لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړى وَالْحَقُّ فِي وَصْفِ السَّلَامَةِ ثُمَّ يَنْتَقِلُ إِلَى الرَّدِّ ثُمَّ إِلَى الرُّجُوعِ بِالنُّقْصَانِ او [د مشتري] حق [د مبيع] د سلامتيا په وصف کي دى بيا هغه د واپس کولو وطرف ته منتقل کيږي او بيا د رجوع بالنقصان وطرف ته منتقل کيږي فَلَمْ يَتَعَيَّنْ الرَّدُّ نو ځکه واپس کول مُتعيّن نه سوه [لهذا داسي ويل صحيح نه دي چي "واپس کول مُتعيّن دي"] وَقَدْ بَيَّنَّاهُ فِي الْكِفَايَةِ بِأَطْوَلَ مِنْ هَذَا او موږ دا [يعني د دغه مسئلو حکم] په کفاية المنتهي کي له دې څخه هم په زيات تفصيل سره بيان کړى دى.

**اللغات**: ﴿قاصرة﴾ د نصر د باب مؤنث فاعل دى: غير کامل (نابشپړ)، کمزوري. ﴿نكول﴾ د نصر د باب مصدر دى: له قسم څخه انکار کول. ﴿يخاصم﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: جنګ او خصومت کول، دعوىٰ کول.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دى که وکيل (بائع) دا اقرار وکړي چي "هو! غلام زما په قبضه کي عيبداره وو او په هغه کي عيب موجود وو"، او د هغه دا اقرار په وجه قاضي د غلام واپس کولو حکم او فيصله وکړي چي مشتري دي وکيل (بائع) ته غلام واپس کړي، نو دغه د واپس کولو حکم (امر بالرد) فقط پر وکيل واقع کيږي يعني د دې حکم په وجه صرف مشتري ته د غلام واپس کولو حق سته لېکن وکيل ته دا حق او اجازت نسته چي خپل مؤکل ته غلام واپس کړي؛ دليل دا دى چي د واپس کولو حکم (امر بالرد) د وکيل په اقرار سره ثابت سوى دى، او قاعده دا ده چي د مُقر اقرار او په هغه سره ثابتېدونکى حکم فقط د هغه په حق کي خاص وي او د بل چا وطرف ته نه متعدي کيږي، نو ځکه په دې مسئله کي چي د واپس کولو کوم حکم دى هغه به د وکيل (بائع) سره خاص وي او صرف مشتري به وکيل ته د غلام واپس کولو حقدار وي، ځکه چي صرف مشتري د غلام عيبداره کېدلو مُقر (اقرار کونکى) دى، او څرنګه چي مؤکل د دغه اقرار مُقِر نه دى، نو ځکه وکيل به خپل مؤکل ته د غلام واپس کولو حقدار نه وي.

لېکن وکيل ته دا حق سته چي هغه د خپل مؤکل سره په دې باره کي خصومت او دعویٰ وکړي، نو که چيري وکيل په بيّنه (ګواهی) سره دا ثابته کړي چي غلام د مؤکل په قبضه کي عيبداره سوی دی، يا د وکيل سره بيّنه نه وي او له مؤکل ځخه د قسم اخيستلو غوښتنه وسي (چي ته قسم واخله! چي "دا غلام زما په قبضه کي نه دی عيبدار سوی") لېکن مؤکل له قسم ځخه انکار وکړي، نو ځرنګه چي په دغه صورتونو کي دا ثابته سوه چي غلام د مؤکل په قبضه کي عيبداره سوی دی، نو ځکه اوس به وکيل ته دا حق وي چي هغه ته غلام واپس کړي.

بخلاف ما إذا كان الردّ بغير قضاء إلخ: د دې حاصل دا دی چي که وکيل (بائع) په خپله قبضه کي د غلام عيبداره کېدلو اقرار وکړي او د دې اقرار په وجه مشتري د قاضي له حکم ځخه بغير هغه غلام وکيل ته واپس کړي او په دې باره کي مشتري له قاضي ځخه د حکم او فيصله کولو غوښتنه نه وکړي، او عيب هم داسي وي چي د وکيل يا مشتري په قبضه کي هغسي عيب پيدا کېدای سي، نو په دې صورت کي وکيل لره د خپل مؤکل سره د خصومت (دعویٰ) کولو حق نسته؛ ځکه کله چي د قاضي له حکم او فيصلې ځخه بغير صرف د وکيل په اقرار په سره غلام واپس کړی سوی دی، نو دا واپسي صرف د وکيل او مشتري تر مينځ فسخُ البيع (د بيع ماتول) دي لېکن د وکيل د مؤکل (بائعُ البائع) په حق کي دا واپسي بيع جديد (نوې بيع) ده او دا واپسي داسي ده لکه مشتري چي پر وکيل غلام خرڅ کړی، او ښکاره خبره ده چي په دې صورت کي به وکيل مشتري وي، نو ځکه هغه ته به دا حق نه وي چي مؤکل ته غلام واپس کړي او نه به هغه ته د مؤکل سره د خصومت کولو حق وي.

ها! که چيري دا واپسي د قاضي په حکم سره سوې وای، نو په دې صورت کي به وکيل ته د خپل مؤکل سره د خصومت کولو حق وای؛ ځکه چي د قاضي ولايت عام دی او هر چا لره شامل دی، خو ځرنګه چي دلته صرف په اقرار سره واپسي سوې ده، نو ځکه دا واپسي به صرف د اقرار کونکي يعني د وکيل په حق کي ثابتيږي؛ ځکه چي اقرار حجت قاصره دی. لېکن که چيري وکيل په بيّنه سره دا ثابته کړي چي غلام د مؤکل په قبضه کي هم عيبدار وو، نو په دې صورت کي له نوي سره وکيل ته د خپل مؤکل سره د خصومت کولو حق او اختيار سته. (احسن الهدايه)

ولوكان العيب إلخ: فرمايي که په غلام (مبيع) کي داسي عيب وي چي د مشتري په قبضه کي هغسي عيب نه سي پيدا کېدای او د غلام واپسي د قاضي له حکم او فيصلې ځخه بغير صرف د وکيل د اقرار په ذريعه سوې وي، نو د مبسوط د کتابُ البيوع په روايت کي ذکر سوي دي چي دا واپسي پر مؤکل هم لازميږي او دې ته ضرورت نسته چي وکيل مؤکل ته د غلام واپس کولو لپاره بيّنه او دليل پېش کړي؛ ځکه کله چي عيب داسي دی چي د مشتري په قبضه کي نه سي پيدا کېدای نو دا خبره ثابته

سوه چي غلام د مؤکل په قبضه کي عيبداره وو. او د مؤکل په قبضه کي د غلام عيبداره کېدلو په صورت کي واپسي پر مؤکل مُتعيّن کيږي (يعني په داسي صورت کي چي وکيل ته غلام واپس کړی سي نو هغه مؤکل ته واپس کيږي او دا واپسي داسي شمارل کيږي لکه مؤکل ته واپس کول)، برابره ده واپسي د قاضي په حکم سره وي يا د قاضي له حکم څخه بغير وي؛ نو ځکه کله چي په دې صورت کي د وکيل په اقرار سره هغه ته غلام واپس کړی سي نو دا به پر مؤکل لازميږي، او وکيل ته به د بيّنه او دليل پېشولو ضرورت نه وي.

او د مبسوط په عامو رواياتو کي ذکر سوي دي چي په دې صورت کي هم صرف مُقِر يعني وکيل ته غلام واپس کيږي او پر مؤکل دا واپسي نه لازميږي؛ ځکه کله چي د وکيل د اقرار په وجه واپسي سوې ده نو دا واپسي د مؤکل په حق کي بيع جديد ده. لکه څه مخکي چي د دې تفصيل بيان سو.

والحق في وصف السلامة إلخ: په دې سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د مبسوط د کتابُ البيوع والا د روايت ضعف او کمزوري ثابتوي، نو فرمايي چي په پورتني صورت کي د غلام واپسي مُتعيّن ګرځول صحيح نه دي؛ ځکه چي د مشتري حق تر ټولو مخکي د سلامتيا په وصف کي ثابت دی، يعني د بيع تقاضا دا ده چي مشتري ته صحيح سالم مبيع (غلام) ورکول سي، ليکن که چيري مبيع عيبداره ري نو د هغه دا حق د "رد" يعني د واپسي وطرف ته منتقل کيږي (يعني بيا هغه ته د مبيع واپس کولو حق حاصليږي)، او که چيري د مشتري په قبضه کي بل عيب په دې عيبداره مبيع کي پيدا سي نو په دې صورت کي د هغه حقُ الردّ (د واپس کولو حق) د "رجوع بنقصان الثمن" وطرف ته منتقل کيږي (يعني په دې صورت کي مشتري ته دا اختيار حاصليږي چي له بائع څخه د عيب تاوان واخلي) او د هغه حقُ الردّ ختميږي. لهذا د مبيع عيبداره کېدلو په صورت کي فقط "رد" (واپسي) مُتعيّن کول صحيح نه دي. او د دغه مسئلو پوره وضاحت او تفصيل په کفايةُ المنتهي کي ذکر سوی دی.

## په نقد (نغد) او قرض کي د وکيل او مؤکل اختلاف

قَالَ: وَمَنْ قَالَ لِآخَرَ: أَمَرْتُكَ بِبَيْعِ عَبْدِيْ بِنَقْدٍ فرمايي: او که يو څوک بل چا [وکيل] ته ووايي: چي ما تا ته په نغدو سره د غلام خرڅولو حکم کړی وو فَبِعْتَهُ بِنَسِيْئَةٍ او تا هغه په قرض خرڅ کړی دی وَقَالَ: الْمَأْمُوْرُ أَمَرْتَنِيْ بِبَيْعِهِ وَلَمْ تَقُلْ شَيْئًا او وکيل ووايي: چي تا ما ته [مطلق] د خرڅولو حکم کړی وو او د نغد او قرض په باره کي دي تا هيڅ ويلي نه وه فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْآمِرِ نو قول د مؤکل معتبر دی لِأَنَّ الْأَمْرَ يُسْتَفَادُ مِنْ جِهَتِهِ ځکه چي حکم د هغه له طرفه مستفاد [او صادر سوی] دی وَلَا دَلَالَةَ

عَلَى الْإِطْلَاقِ او پر اطلاق [مطلق والي] هيڅ دلالت نسته.

**اللغات**: ﴿نسيئة﴾ تاخير، قرض، پور، ﴿يُستفاد﴾ د استفعال د باب مضارع مجهوله ده: حاصلېدل، ترلاسه کېدل، اخيستل، ﴿إطلاق﴾ د افعال د باب مصدر دى: مطلق کېدل، مطلق والى.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دى که وکيل او مؤکل د عقد په نغد والي او قرض والي کې اختلاف وکړي، يعني مؤکل ووايي چې "ما تا ته د نغد ثمن په عوض کې د غلام خرڅولو حکم کړى وو (چې زما غلام په نغدو پيسو خرڅ کړه!، په پوروېي مه خرڅوه!)" او وکيل ووايي چې "تا ما ته د مطلق خرڅولو حکم کړى وو او د نغد ثمن يا قرض هيڅ خبره دې نه وه کړې"، نو په دې صورت کې د مؤکل قول معتبر دى؛ ځکه چې د خرڅولو حکم د مؤکل له طرفه صادر سوى دى، نو د حکم د تفصيل او تشريح په هکله به صرف د هغه خبره او دعوىٰ معتبره وي، او څرنګه چې په دې مسئله کې د حکم پر اطلاق هيڅ دليل او علامت هم نسته (يعني د وکيل پر دې قول هيڅ دليل هم نسته چې مؤکل ما ته د مطلق خرڅولو حکم کړى دى)، نو ځکه دلته به د مؤکل حکم پر اطلاق نه حمل کيږي بلکې مؤکل چې د کوم قيد دعوىٰ کوي (يعني په نغدو سره د خرڅولو حکم کول) صرف هغه دعوىٰ به معتبره وي.

## په نغد او قرض کې د مضارب او ربُ المال اختلاف

قَالَ: وَإِنِ اخْتَلَفَ فِي ذٰلِكَ الْمُضَارِبُ وَرَبُّ الْمَالِ فرمايي: او که په دې باره کې مضارب او ربُ المال اختلاف وکړي فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُضَارِبِ نو قول د مضارب معتبر دى لِأَنَّ الْأَصْلَ فِي الْمُضَارَبَةِ الْعُمُوْمُ ځکه چې اصل په مضاربت کې عموم [او اطلاق] دى أَلَا تَرَىٰ أَنَّهُ يَمْلِكُ التَّصَرُّفَ بِذِكْرِ لَفْظَةِ الْمُضَارَبَةِ آيا ته نه ګورې! چې [فقط] د مضاربت د لفظ په ذکرلو کولو سره مضارب د تصرف مالک کيږي فَقَامَتْ دَلَالَةُ الْإِطْلَاقِ نو ځکه [دلته] پر اطلاق دلالت موجود سو بِخِلَافِ مَا إِذَا ادَّعٰى رَبُّ الْمَالِ الْمُضَارَبَةَ فِي نَوْعٍ وَالْمُضَارِبُ فِي نَوْعٍ آخَرَ په خلاف د هغه صورت کله چې ربُ المال په يو قسم کې د مضاربت دعوىٰ وکړي او مضارب په بل قسم کې د هغه دعوىٰ وکړي حَيْثُ يَكُوْنُ الْقَوْلُ لِرَبِّ الْمَالِ نو [په داسې صورت کې] د ربُ المال قول معتبر دى لِأَنَّهُ سَقَطَ الْإِطْلَاقُ فِيْهِ بِتَصَادُقِهِمَا ځکه په دې صورت کې د دوى دواړو په اتفاق سره د مضاربت اطلاق ساقط سو فَنَزَلَ إِلَى الْوَكَالَةِ الْمَحْضَةِ نو ځکه هغه د خالص وکالت و درجې ته شوه سو [په بله وينا: نو ځکه د وکالت په څېر به ګرځول کيږي (احسن

(الهدايه) ثُمَّ مُطْلَقُ الْأَمْرِ بِالْبَيْعِ يَنْتَظِمُهُ نَقْدًا وَنَسِيئَةً، بيا د خرڅولو مطلق حکم کول نغد او قرض دواړو لره شامليږي إِلَى أَيِّ أَجَلٍ كَانَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ برابره ده قرض که تر هر مودته پورې وي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [يعني د وکالت په صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د قرض لپاره ميعاد (مياد) تاکل شرط نه دي] وَعِنْدَهُمَا يَتَقَيَّدُ بِأَجَلٍ مُتَعَارَفٍ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هغه په متعارف مودت سره مقيد کيږي وَالْوَجْهُ قَدْ تَقَدَّمَ او [د دې] دليل مخکې تېر سو.

**اللغات**: ﴿مضاربة﴾ که مال د يوه سړي وي او په هغه سره کاروبار بل سړی کوي، نو دې ته مضاربت وايي، په دې کي چي مال د کوم سړي وي هغه ته "ربُ المال" وايي، او کاروبار او محنت چي کوم سړی کوي هغه ته "مُضارب" وايي، او دې مال ته "مالِ مضاربت" وايي، ﴿أجل﴾ ميعاد، مودت، ټاکل سوی وخت، ﴿تصادُق﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو د بل تصديق کول، د يو شي په باره کي د دوو خلکو اقرار کول او پر هغه اتفاق کول.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که مضارب او ربُ المال د عقد مضاربت په نغد والي او قرض والي کي اختلاف وکړي، يعني ربُ المال ووايي چي "ما تا ته په نغد ثَمن سره د خرڅولو حکم کړی وو (چي زما مال په نغدو پيسو خرڅ کړه! او د چا سره پور مه کوه!)" او مضارب ووايي چي "تا ما ته مطلق د مضاربت لپاره مال راکړی وو، نور دي هيڅ قيد نه وو لګولی"، نو په دې صورت کي د مضارب قول معتبر دی؛ ځکه چي دلته د مضارب پر قول يعني د مضاربت پر مطلق والي دليل او علامت سته، او هغه دا دی چي په مضاربت کي عام والی (مطلق والی) اصل دی، همدا وجه ده که ربُ المال فقط داسي ووايي چي "ما فلانکي ته د مضاربت لپاره مال ورکړی دی"، نو صرف په دغه خبره سره هم مضاربت شروع کيږي او مضارب ته د تصرف حق حاصليږي، له دې څخه معلومه سوه چي په مضاربت کي عموم اصل دی، او څرنګه چي مضارب د دغه اصل مدعي دی (يعني هغه د عموم او مطلق والي دعوىٰ کوي)، نو ځکه د هغه قول به معتبر وي.

د دې په خلاف که ربُ المال د کپړې په يو قسم مثلاً د وړېښمو په کپړه کي د مضاربت دعوىٰ وکړي (يعني ووايي چي "ما تا ته د وړېښمي کپړې د کاروبار کولو حکم کړی وو")، او مضارب د کپړې په بل قسم مثلاً په کاټن (يا اريش) کپړه کي د مضاربت دعوىٰ وکړي، نو په دې صورت کي د ربُ المال قول معتبر دی: ځکه دلته مضارب او ربُ المال دواړه پر دې خبره متفق دي چي مضاربت مطلق نه دی بلکي د کپړې په يو قسم سره مقيد دی (يعني مضارب د اصل مدعي نه دی)، نو ځکه دلته به عقد مضاربت

د وکالت په درجه کرځول کيږي او مضارب به وکيل او ربُ المال به مؤکل وي، او مخکښي دا خبره ذکر سوه چي که وکيل او مؤکل د وکالت په نوعيت او قسم کي اختلاف وکړي، نو د مؤکل قول معتبر دی، لهذا په دې مسئله کي هم مؤکل کوم چي د ربُ المال په درجه کي دی، د هغه قول به معتبر وي.

ثم مطلق الأمر بالبيع إلخ: د دې حاصل دا دی چي د وکالت په صورت کي د مطلق بيع (خرڅولو) حکم کول نغد خرڅولو او قرضاً خرڅولو دواړو لره شامليږي، يعني که مؤکل د نغد يا قرض صراحت نه وکړي بلکي مطلق د يو شي د خرڅولو حکم وکړي، نو وکيل هغه شی په نغدو هم خرڅولای سي او په قرض يې هم خرڅولای سي، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د قرضاً خرڅولو لپاره متعارف ميعاد شرط نه دی (يعني د امام صاحب په نيز دا ضروري نه ده چي وکيل به د معلوم او ټاکلي وخت لپاره هغه شی په قرض ورکوي، بلکي که وخت نه وټاکي، نو هم پروا نه لري)، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د قرضاً خرڅولو لپاره متعارف ميعاد شرط او ضروري دی، او د دې اختلاف دليل څه مخکښي تېر سو، يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وکيل بالبيع ته دا اختيار سته چي په لږ او ډېر ثمن سره يا د سامان په عوض کي مبيع خرڅه کړي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز مطلق حکم په متعارف سره مقيد دی يعني د وکيل اختيار په عرف سره مقيد دی (او تاسو ته معلومه ده چي په عُرف کي د قرض لپاره وخت ټاکل کيږي).

## که وکيل بالبيع د ثمن په عوض کي رهن قبول کړي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ أَمَرَ رَجُلًا بِبَيْعِ عَبْدِهِ فرمايي: او که څوک يو سړي ته د خپل غلام خرڅولو حکم وکړي فَبَاعَهُ وَأَخَذَ بِالثَّمَنِ رَهْنًا نو هغه سړی [وکيل] غلام خرڅ کړي او د ثمن په عوض کي [له مشتري څخه] رهن واخلي فَضَاعَ فِي يَدِهِ بيا رهن [مرهون شی] د هغه په قبضه کي ضايع سي أَوْ أَخَذَ بِهِ كَفِيلًا يا وکيل د ثمن لپاره [له مشتري څخه] کفيل واخلي فَتَوِيَ الْمَالُ عَلَيْهِ بيا پر کفيل مال هلاک سي فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ نو پر وکيل ضمان واجب نه دی لِأَنَّ الْوَكِيلَ أَصِيلٌ فِي الْحُقُوقِ ځکه چي وکيل د عقد په حقوقو کي [په خپله] اصيل دی [او په دې باره کي هغه د مؤکل نائب نه دی] وَقَبْضُ الثَّمَنِ مِنْهَا او پر ثمن قبضه کول [ثمن اخيستل] د عقد له حقوقو څخه يو حق دی وَالْكَفَالَةُ تَوَثُّقٌ بِهِ او کفيل اخيستل په ثمن سره مضبوطي ده وَالِارْتِهَانُ وَثِيقَةٌ لِجَانِبِ الِاسْتِيفَاءِ او رهن اخيستل [هم] د ثمن اخيستلو جانب لره مضبوطونکي دي فَيَمْلِكُهُمَا نو ځکه وکيل به د دې دواړو ملکيت [اختيار] لري بِخِلَافِ

الْوَكِيلِ بِقَبْضِ الدَّيْنِ په خلاف پر قرض د قبضه کولو وکيل لِأَنَّهُ يَفْعَلُ نِيَابَةً ځکه چي هغه د نائب په توګه کار کوي وَقَدْ أَنَابَهُ فِي قَبْضِ الدَّيْنِ دُونَ الْكَفَالَةِ وَأَخْذِ الرَّهْنِ او مؤکل هغه پر قرض د قبضه کولو وکيل جوړ کړی دی، نه د کفيل او رهن اخيستلو وَالْوَكِيلُ بِالْبَيْعِ يَقْبِضُ أَصَالَةً [لېکن] وکيل بالبيع د اصيل په توګه قبضه کوي وَلِهٰذَا لَا يَمْلِكُ الْمُوَكِّلُ حَجْرَهُ عَنْهُ او په همدې وجه مؤکل او په همدې مؤکل د دې ملکيت [اختيار] نه لري چي پر ثمن له قبضه کولو څخه وکيل منع کړي.

**اللغات**: ﴿فَتِوَيَ﴾ د سمع د باب ماضي ده: هلاکېدل، ضايع کېدل، بربادېدل، ﴿توثّق﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مضبوطېدل، ټينګېدل، ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: اخيستل، ترلاسه کول، ﴿وثيقه﴾ هغه څه چي د هغه په ذريعه معامله مضبوطه کړی سي، سند، تړون ليک (او رهن هم داسي دی، يعنی يو سړی چي له بل چا څخه د ثمن او قرض په عوض کي رهن واخلي نو په دې سره د هغه لپاره خپل ثمن او قرض اخيستل يقيني او مضبوط وګرځي)، ﴿أنابه﴾ د افعال د باب ماضي ده: نائب جوړول، قائم مقام جوړول، ﴿حَجْر﴾ د نصر د باب مصدر دی: منع کول.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی بل څوک د خپل غلام خرڅولو وکيل جوړ کړي، او وکيل غلام خرڅ کړي لېکن مشتري هغه ته ثمن نه ورکړي ① بلکي د ثمن په عوض کي په رهن (په ګرو) يو شی ورکړي او وکيل هغه واخلي (لنډه دا چي وکيل په رهن سره غلام خرڅ کړي)، بيا هغه مرهون شی د وکيل په قبضه کي هلاک سي، ② يا وکيل د ثمن په عوض کي له مشتري څخه يو کفيل واخلي، لېکن بيا پر کفيل مال هلاک سي، يعني کفيل او مشتري دواړه مفلسه (ډېوالي) سي او په همدې حالت کي مړه سي يا غائب سي، نو ښکاره خبره ده چي اوس د ثمن اخيستل ناممکن سوه، لېکن بيا هم په دې صورتونو کي پر وکيل ضمان (تاوان) نه واجبيږي؛ ځکه چي د عقد (بيع) حقوق د وکيل وطرف ته راجع کيږي او وکيل په دې باره کي اصيل دی، او پر ثمن قبضه کول هم د بيع له حقوقو څخه يو حق دی، او د ثمن په عوض کي رهن اخيستل يا کفيل اخيستل دا دواړه د ثمن اخيستلو سند او وثيقه ده (يعني په دې دواړو سره د ثمن اخيستل مضبوط او يقيني ګرځي)، نو ځکه څرنګه چي پر ثمن قبضه کول د عقد له حقوقو څخه يو حق دی همداسي د ثمن اخيستلو لپاره رهن يا کفيل اخيستل به هم د عقد له حقوقو څخه يو حق وي، او د عقد حقوق د وکيل وطرف ته راجع

کيږي، لهذا د وکيل له طرفه د رهن يا کفيل اخيستل به داسي وي لکه پر ثمن قبضه کول. او تاسو ته به معلومه وي چې که وکيل پر ثمن قبضه وکړي بيا دا ثمن د هغه په قبضه کي هلاک سي، نو پر هغه هيڅ ضمان نه واجبيږي، ځکه چي پر ثمن د وکيل قبضه "د امانت قبضه" وي، او د امانت قبضه نه مضمون کيږي (مطلب دا چي که د امانت شی د امانت ساتونکي [أمين] په قبضه کي هلاک سي، نو پر هغه ضمان نه لازميږي)، نو ځکه په دې مسئله کي به هم پر وکيل هيڅ ضمان لازم نه وي.

د دې په خلاف که يو څوک د خپل قرض اخيستلو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي (چي "ته له فلانکي مقروض څخه زما قرض واخله!")، نو په دې صورت کي وکيل لره دا صحيح نه دي چي د هغه قرض په عوض کي له مقروض څخه رهن يا کفيل واخلي، لېکن که وکيل د قرض په عوض کي رهن يا کفيل واخلي او بيا مرهون شی د وکيل په قبضه کي هلاک سي يا کفيل او مقروض دواړه د مفلسوالي په حالت کي غائب يا مړه سي، نو په دې صورتونو کي پر وکيل د قرض ضمان واجبيږي؛ ځکه چي مؤکل هغه د قرض اخيستلو وکيل جوړ کړی دی، نه د قرض په عوض کي د رهن يا کفيل اخيستلو، او بل دا چي وکيل د خپل اصيل او مؤکل نائب وي، نو ځکه د دې وکيل (وکيل بقبض الدَين) لپاره د قرض په عوض کي رهن يا کفيل اخيستل صحيح نه دي.

د دې په خلاف د عبارت مسئله د بيع سره متعلق ده، او وکيل بالبيع د ثمن په اخيستلو کي اصيل وي، نائب نه وي، نو ځکه د هغه لپاره د ثمن په عوض کي د رهن يا کفيل اخيستلو همدارنگه د هر هغه کار کولو اجازت سته چي په هغه سره د ثمن اخيستل مضبوط او يقيني سي. د وکيل بالبيع د اصيل کېدلو يو دليل دا هم دی چي که مؤکل وغواړي چي دا وکيل (وکيل بالبيع) پر ثمن له قبضه کولو څخه منع کړي چي (چي "ته پر ثمن قبضه مه کوه!" [يعني ثمن مه اخله!])، نو هغه يې نه سي منع کولای، لېکن د قرض اخيستلو وکيل (وکيل بقبض الدَين) چي هر کله مؤکل وغواړي، هغه منع کولای سي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



# فَصْلٌ (فِيْ تَوْكِيْلِ الرَّجُلَيْنِ)

(دا) فصل (د دوو خلکو د وکیل جوړولو په بیان کي) دی

**تشریح**: مخکي تر دې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د یوه سړي د وکیل جوړېدلو احکام او مسائل بیان کړل، اوس له دې ځایه د دوو کسانو د وکیل جوړېدلو احکام او مسائل بیانوي، او دا ښکاره خبره ده چي "الواحد یتقدمُ علی الإثنین".

## د یو کار لپاره دوه کسان وکیلان جوړول (حکم او تفصیل)

وَإِذَا وَكَّلَ وَكِيلَيْنِ او کله چي یو څوک دوه [کسان] وکیلان جوړ کړي فَلَيْسَ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَصَرَّفَ فِيمَا وُكِّلَا بِهِ دُونَ الْآخَرِ نو په هغو کي یوه ته دا اختیار نسته چي له بل یوه څخه بغیر په هغه کار کي تصرف وکړي د کوم کار لپاره چي هغوی وکیلان جوړ سوي دي وَهٰذَا فِي تَصَرُّفٍ يَحْتَاجُ فِيهِ إِلَى الرَّأْيِ او دا [حکم] په هغه تصرف کي دی چي په هغه کي رایي [او مشورې] ته ضرورت وي كَالْبَيْعِ وَالْخُلْعِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ لکه بیع، خلع او داسي نور لِأَنَّ الْمُوَكِّلَ رَضِيَ بِرَأْيِهِمَا لَا بِرَأْيِ أَحَدِهِمَا ځکه چي مؤکل د دواړو په رایه راضي سوی دی، نه د یوه په رایه [یعني په دې راضي نه دی چي صرف یو وکیل په خپل رایه سره دا تصرف او کار وکړي] وَالْبَدَلُ وَإِنْ كَانَ مُقَدَّرًا او عوض څه هم مُتعیّن [ټاکل سوی] وي وَلٰكِنَّ التَّقْدِيرَ لَا يَمْنَعُ اسْتِعْمَالَ الرَّأْيِ فِي الزِّيَادَةِ وَاخْتِيَارِ الْمُشْتَرِيْ لیکن مُتعیّن کول په زیاتوب کولو او د مشتري په اختیار کي د رایي له استعمال څخه مانع نه دي.

**اللغات**: ﴿وُكِّلَا﴾ د تفعیل له بابه د ماضي مجهولي صیغه ده: وکیل جوړول. ﴿مقدّر﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: اندازه کړی سوی، مُتعیّن، ټاکل سوی. ﴿تقدیر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: اندازه کول، ټاکل او مُتعیّن کول. (احسن الهدایه)

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو څوک د یو داسي کار لپاره دوه خلک وکیلان جوړ کړي چي په هغه کي رایي او مشورې ته ضرورت وي لکه خرڅول او رانیول، خلع کول او داسي نور، نو په دې صورت کي د یوه وکیل له رایي او مشورې څخه بغیر بل وکیل ته په هغه کار کي د تصرف کولو

اختيار نسته (يعني داسي کار به دواړه وکيلان په خپل مشترکه رايه او مشوره سره کوي)؛ ځکه کله چي مؤکل صرف ديوه کار لپاره دوه خلک وکيلان جوړ کړي دي، نو د دې مطلب دا دی چي هغه په داسي تصرف راضي دی کوم چي د دواړو په رايه او مشوره تر سره سي، نه د يوه په رايه (کنې هغه دوه وکيلان نه کوي)، او فقط د يوه په رايي سره تصرف کېدل هغه ته خوښ نه دي، نو ځکه د يوه وکيل له رايي او مشورې څخه بغير د بل وکيل لپاره تصرف کول داسي دي لکه د مؤکل د رضا او خوښي په خلاف کار کول، او هيڅ وکيل لره د مؤکل د رضا په خلاف تصرف کول صحيح نه دي.

والبدل وإن كان مقدرا إلخ: دا ديو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چي کله مؤکل عوض او بدل مُتعيّن کړي، مثلاً وکيلانو ته داسي ووايي چي "تاسو دا غلام په زر درهمه خرڅ کړئ!"، يا "تاسو په پنځه سوه درهمه خلع وکړئ"، نو په دې صورت کي د دواړو وکيلانو رايي ته هيڅ ضرورت نسته (ځکه چي عوض مُتعين سو)، او کله چي په داسي صورت کي رايي ته ضرورت نسته، نو بيا په دې صورت کي د يوه وکيل له رايي څخه بغير د بل وکيل لپاره تصرف صحيح کېدل پکار دي، لېکن تاسو مطلق په هر صورت کي د دواړو وکيلانو رايه ضروري ګرځولې ده.

د جواب حاصل دا دی چي د عوض د مُتعيّن کېدلو په صورت کي که څه هم په هغه (عوض) کي کمي کول ممکن نه دي، لېکن په هغه کي زياتوب کول ممکن دي، يعني د عوض تعيين که څه هم د کمي کولو لپاره مانع نه دی لېکن د زياتوب کولو (زيات ثمن ترلاسه کولو) په باره کي د دواړو وکيلانو له رايي استعمالولو څخه مانع نه دی، ځکه کله داسي وي چي يو وکيل ډېر تجربه کار او ښه معلومات لرونکی وي او هغه ته زيات ثمن والا او ښه مشتري معلومېږي (کوم چي په زيات ثمن سره شی رانيسي او د ثمن په اداء کولو کي ټال مټول او جنجال نه کوي)، لنډه دا چي د عوض د مُتعيّن کېدلو په صورت کي هم د زيات ثمن ترلاسه کولو او د ښه مشتري په اختيارولو کي د دواړو وکيلانو رايي او مشورې ته ضرورت سته، او کله چي د دواړو رايي ته ضرورت سته، نو ځکه د يوه وکيل له رايي څخه بغير د بل وکيل لپاره تصرف کول صحيح نه دي.

## د پورتنۍ مسئلې بل صورت

قَالَ: إِلَّا أَنْ يُوَكِّلَهُمَا بِالْخُصُوْمَةِ مګر دا چي يو سړی دوه خلک د خصومت [دعوىٰ پېشولو] وکيلان جوړ کړي لِأَنَّ الِاجْتِمَاعَ فِيْهَا مُتَعَذِّرٌ ځکه په خصومت کي د دواړو جمع کېدل مشکل دي لِلْإِفْضَاءِ إِلَى الشَّغْبِ فِي مَجْلِسِ الْقَضَاءِ ځکه چي دا د قاضي په مجلس کي د شور [او اضطراب] سبب جوړېږي وَالرَّأْيُ يُحْتَاجُ إِلَيْهِ سَابِقًا او رايي ته [له دعوې پېشولو څخه] مخکي ضرورت وي لِتَقْوِيْمِ الْخُصُوْمَةِ د

دعوې د سمولو [او مضبوطولو] لپاره. [يعني د دې لپاره چې د دعوې مضمون سره سم او آماده کړی سي].

**اللغات:** ﴿خصومة﴾ جنګ او نزاع، دعویٰ او مقدمه (خصومة په اصل کي دې ته وايي چې يو سړی پر بل چا د حق دعویٰ کوي او هغه له حق څخه انکار کوي)، ﴿إفضاء﴾ د افعال د باب مصدر دئ: رسول، رسېدل، سبب جوړېدل، ﴿شغب﴾ شور او ځوږ (غالمغال)، اضطراب، ﴿سابق﴾ د ضرب د باب فاعل دی: مخکنی، ﴿تقويم﴾ د تفعيل د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي چې د صلې په بدلون سره يې معنیٰ هم بدليږي: سمول او سيده کول (کږوالي ليري کول)، اندازه بيانول، قيمت ټاکل، دلته اوله معنیٰ مراد ده.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که يو څوک د خصومت او دعویٰ پېشولو لپاره دوه خلک وکيلان جوړ کړي (يعني دوو خلکو ته ووايي چې تاسو د قاضي دربار ته ولاړ سئ! او هلته [مثلاً] دا دعویٰ او مقدمه پېش کړئ! چې زما پر فلانکي سړي دومره حق [قرض] باندي دی او بيا دا دعویٰ ثابته کړئ!)، نو که په داسې صورت کي يو وکيل د قاضي مجلس ته ولاړ سي او هلته دعویٰ او مقدمه پېش کړي، نو دا جائز دي؛ ځکه چې دعویٰ د قاضي په مجلس کي پېشول کيږي، او ښکاره خبره ده که د قاضي په مجلس کي دوه خلک په مشترکه توګه دعویٰ او رايه پېش کړي، نو په مجلس کي به شور او بې نظمي جوړه سي (کوم چې د مجلس له آدابو څخه خلاف کار دی) او په دې توګه به د مؤکل مقصد "يعني حق ښکاره کول او ثابتول" حاصل نه سي، او څرنګه چې دا مقصد په يوه وکيل سره حاصليږي، نو ځکه دلالتاً به ګواکي مؤکل د يوه وکيل په تصرف راضي وي، او کله چې داسي ده، نو ځکه د يوه تصرف به صحيح وي.

والرأي يحتاج إليه سابقاً: په دې سره د امام زفر رَحِمَهُ الله د قول جواب ورکوي، هغه فرمايي چې صرف د يوه وکيل دعویٰ پېشول جائز نه دي، ځکه چې د دعویٰ پېشولو په صورت کي دې ته ضرورت سته چې هغه په رايي او مشوره سره سمه او مضبوطه پېش کړی سي، او مؤکل هم د دواړو په رايه راضي سوی دی، لهذا صرف د يوه وکيل په رايه اکتفاء کول به صحيح نه وي بلکي د دواړو د رايي جمع کېدل به ضروري وي.

نو د دې په جواب کي صاحب د رَحِمَهُ الله فرمايي چې د دواړو رايه جمع کېدل له دعوې پېشولو څخه مخکي ضروري دي، او کله چې داسي ده نو دواړه وکيلان دې د قاضي مجلس ته تر تللو مخکي

د دعوې پېشولو په باره کې مشوره سره وکړي او په خپل مشترکه رايه دې د دعوې مضمون سره سم او تيار کړي، بيا دې د قاضي مجلس ته يو وکيل ولاړ سي او دعویٰ دې پېش کړي، لنډه دا چې ثابته سوه چې د رايې جمع کېدلو ته له دعوې پېشولو څخه مخکې ضرورت سته او پاته سو د دعوې پېشول نو د هغه لپاره صرف يو وکيل کافي دی، د دواړو جمع کېدل ضروري نه دي.

## د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

قَالَ: أَوْ بِطَلَاقِ زَوْجَتِهِ بِغَيْرِ عِوَضٍ فرمايي: يا [يو سړی] بغير له عوضه خپلې ښځې ته د طلاق ورکولو [لپاره دوه خلک وکيلان جوړ کړي] أَوْ بِعِتْقِ عَبْدِهِ بِغَيْرِ عِوَضٍ يا بغير له عوضه د خپل غلام آزادولو [وکيلان يې جوړ کړي] أَوْ بِرَدِّ وَدِيعَةٍ عِنْدَهُ يا د هغه امانت د واپس کولو [وکيلان يې جوړ کړي] کوم چې د ده [مؤکل] سره وي أَوْ قَضَاءِ دَيْنٍ عَلَيْهِ يا د هغه قرض د اداء کولو [وکيلان يې جوړ کړي] کوم چې پر ده باندې وي لِأَنَّ هٰذِهِ الْأَشْيَاءَ لَا يُحْتَاجُ فِيهَا إِلَى الرَّأْيِ ځکه چې په دې شيانو کې رايې [او مشورې] ته ضرورت نسته بَلْ هُوَ تَعْبِيرٌ مَحْضٌ بلکې هغه محض [د مؤکل] خبره نقلول [او بيانول] دي وَعِبَارَةُ الْمَثْنٰى وَالْوَاحِدِ سَوَاءٌ او د دوو خلکو او د يوه سړي بيانول سره برابر دي وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ لَهُمَا: طَلِّقَاهَا إِنْ شِئْتُمَا او دا د هغه صورت په خلاف دي کله چې مؤکل دوو خلکو ته [داسې] ووايي: که تاسې وغواړئ! [که ستاسو خوښه وي] نو زما ښځې ته طلاق ورکړئ! أَوْ قَالَ: أَمْرُهَا بِأَيْدِيكُمَا يا هغه [دوو خلکو ته] ووايي: چې د هغې معامله ستاسو په لاس کې ده لِأَنَّهُ تَفْوِيضٌ إِلَى رَأْيِهِمَا ځکه چې دا د دواړو رايې ته سپارل دي أَلَا تَرَى أَنَّهُ تَمْلِيكٌ مُقْتَصِرٌ عَلَى الْمَجْلِسِ آيا ته نه ګورې! چې دا تمليک پر مجلس منحصر دی [يعني دا د طلاق مالک کول دي، نو ځکه دواړه وکيلان به په مجلس کې دننه طلاق ورکوي] وَلِأَنَّهُ عَلَّقَ الطَّلَاقَ بِفِعْلِهِمَا او ځکه چې مؤکل د دواړو پر فعل طلاق معلق کړی دی فَاعْتَبِرْهُ بِدُخُولِهِمَا نو ته هغه د دواړو پر دخول قياس کړه! [يعني دا داسې ده لکه يو سړی چې د دوو خلکو پر داخلېدلو د ښځې طلاق معلق کړي، مثال به يې د تشريح په آخر کې ذکر سي].

**اللغات:** ﴿وديعة﴾ امانت، ﴿العبارة﴾ د دې لفظ څو معناوې دي چې له هغه څخه يو معنیٰ ''بيانول'' دي، لکه څرنګه چې ويل کيږي ''فُلَانٌ حَسَنُ الْعِبَارَةِ'' (فلانکی ښه بيانونکی دی)، ﴿تمليك﴾ د يو

شي مالک جوړول، مالک کول. ﴿مقتصر﴾ د استفعال د باب مفعول دی: منحصر، موقوف.
﴿فاعتَبِرۡه﴾ د افتعال له بابه د واحد مذکر امر حاضر صيغه ده. د دې باب څو معناوي وي چې له هغه څخه يوه معنیٰ "قياسول" دي.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی دوه خلک وکيلان جوړ کړي او هغو ته ووايي چې "تاسو بېله عوضه زما ښځي ته طلاق ورکړئ!"، يا "تاسو بېله عوضه زما غلام آزاد کړئ!"، يا د مؤکل سره د يو سړي سامان امانتاً پروت وي او بيا مؤکل دوه خلک د هغه د واپس کولو او اداء کولو وکيلان جوړ کړي، يا پر مؤکل د يو چا قرض باندي وي او هغه د دې قرض اداء کولو لپاره دوه خلک وکيلان جوړ کړي، نو په دې ټولو صورتونو کي دا جائز دي چې يو وکيل د بل وکيل له رايي او مشورې څخه بغير کار وکړي؛ ځکه چې په دې ټولو صورتونو کي د وکيلانو فريضه دا ده چې هغوی صرف د مؤکل کلام نقل کړي او په خپله ژبه سره هغه بيان کړي، او د کلام نقل کولو او بيانولو لپاره عدد يعني دوه وکيلان شرط نه دی، بلکي يو وکيل هم کافي دی.

د دې په خلاف که يو څوک دوو خلکو ته ووايي چې "که تاسو وغواړئ! نو زما ښځي ته طلاق ورکړئ!"، يا ووايي چې "زما د ښځي د طلاق معامله ستاسو په لاس کي ده"، نو په دې صورتونو کي يوازي د يوه وکيل لپاره د مؤکل ښځي ته طلاق ورکول صحيح نه دي؛ ځکه چې مؤکل د دواړو رايي ته طلاق سپارلی دی، لهذا تر څو چې د دواړو رايه جمع نه سي، تر هغه وخته د يوه لپاره د طلاق ورکولو تصرف کول صحيح نه دي.

او بل دا چې د هغو دا تصرف فقط په مجلس کي دننه صحيح دی؛ ځکه چې مؤکل د "طَلِّقَاهَا إِنۡ شِئۡتُمَا" او "أَمۡرُهَا بِأَيۡدِيۡكُمَا" په ذريعه دوی د طلاق مالکان جوړ کړي دي، او تمليک پر مجلس موقوف او منحصر وي، نو ځکه د مذکوره دوو خلکو د طلاق ورکولو تصرف به هم د تمليک پر مجلس منحصر او موقوف وي او فقط په مجلس کي دننه به هغو ته د طلاق ورکولو اختيار وي.

ولأنه علّق الطلاق إلخ: دويم دليل دا دی چې مؤکل دا طلاق د دواړو وکيلانو پر فعل معلق کړی دی، لهذا کله چې د دواړو فعل صادر سي په هغه وخت کي به طلاق واقع کيږي، او يوازي د يوه په فعل (طلاق ورکولو) سره به طلاق نه واقع کيږي. د دې مثال داسي دی لکه يو سړی چې دوه خلک مخاطب کړي او هغو ته ووايي "إِنۡ دَخَلۡتُمَا الدَّارَ فَزَوۡجِيۡ طَالِقٌ" (که چيري تاسي دوه خلک دغه کور ته داخل سئ، نو زما ښځه طلاقه ده). نو په دې صورت کي ښکاره خبره ده چې تر څو دا دواړه خلک هغه کور ته داخل نه سي، تر

هغه وخته د دې سړي ښځه نه طلاقيږي، همداسي به په دې مسئله کي هم چي تر څو دواړه وکيلان تصرف نه وکړي، تر هغه وخته به د مؤکل ښځه نه طلاقيږي.

## د وکيل لپاره د بل چا د وکيل جوړولو حکم

قَالَ: وَلَيْسَ لِلْوَكِيلِ أَنْ يُوَكِّلَ فِيمَا وُكِّلَ بِهِ فرمايي: او وکيل لره دا جائز نه دي چي په هغه کار کي يو څوک وکيل جوړ کړي د کوم کار په باره کي چي هغه وکيل جوړ سوی دی لِأَنَّهُ فُوِّضَ إِلَيْهِ التَّصَرُّفُ دُونَ التَّوْكِيلِ بِهِ ځکه چي هغه ته [فقط] تصرف سپارل سوی دی، نه وکيل جوړول [يعني هغه ته فقط د تصرف کولو (خرڅولو) اختيار ورکول سوی دی. نه د وکيل جوړولو] وَهٰذَا لِأَنَّهُ رَضِيَ بِرَأْيِهِ او دا ځکه چي مؤکل [فقط] د هغه په رايه راضي سوی دی وَالنَّاسُ مُتَفَاوِتُونَ فِي الْآرَاءِ او خلک په رايو کي يو له بل څخه جلا وي [يعني د هر کس جلا جلا رايه وي] قَالَ: إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ الْمُوَكِّلُ مګر دا چي مؤکل هغه ته اجازت ورکړي لِوُجُودِ الرِّضَا ځکه چي [د هغه] رضا موجوده سوه أَوْ يَقُولَ لَهُ: اِعْمَلْ بِرَأْيِكَ يا دا چي مؤکل هغه ته ووايي: ته د خپل رايي مطابق عمل وکړه! لِإِطْلَاقِ التَّفْوِيضِ إِلَىٰ رَأْيِهِ د وکيل رايي ته د مطلقاً ورسپارلو په وجه [يعني ځکه چي په دې صورت کي د هغه رايي ته ورسپارل مطلق دي] وَإِذَا جَازَ فِي هٰذَا الْوَجْهِ او کله چي په دې صورت کي توکيل [وکيل جوړول] جائز دي يَكُونُ الثَّانِي وَكِيلًا عَنِ الْمُوَكِّلِ نو دويم وکيل به د مؤکل له طرفه وکيل وي [نه د اول وکيل له طرفه] حَتَّىٰ لَا يَمْلِكُ الْأَوَّلُ عَزْلَهُ همدا وجه ده چي اول وکيل د هغه د معزوله کولو [برطرفه کولو] مالک نه دی وَلَا يَنْعَزِلُ بِمَوْتِهِ او [همدا وجه ده چي] د هغه په مرګ سره دويم وکيل نه معزوله کيږي وَيَنْعَزِلَانِ بِمَوْتِ الْأَوَّلِ [لېکن] د مؤکل په مرګ سره دواړه وکيلان معزوله کيږي وَقَدْ مَرَّ نَظِيرُهُ فِي أَدَبِ الْقَاضِي او په "کتاب ادب القاضي" کي د دې مثال تېر سو.

**اللغات:** ﴿متفاوتون﴾ د تفاعل له بابه د جمع مذکر اسم فاعل صيغه ده: يو له بل څخه جلا (بېلابېل)، مختلف. ﴿عزل﴾ د ضرب د باب مصدر دی: معزوله کول، برطرفه کول (له منصبه لېري کول).

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که يو سړی د خپل غلام خرڅولو لپاره يو څوک وکيل جوړ کړي، نو وکيل لره دا جائز نه دي چي بل څوک د هغه غلام خرڅولو وکيل جوړ کړي؛ ځکه چي مؤکل (يعني د غلام مالک) وکيل ته فقط د غلام خرڅولو تصرف سپارلی دی، نه د وکيل جوړولو تصرف.

يعني مالک هغه ته صرف داسي ويلي دي چي "ته غلام خرڅ کړه!"، نه دا چي "ته بل څوک د دې وکيل جوړ کړه!"، نو ځکه وکيل لره خو دا جائز دي چي په خپله د خرڅولو تصرف وکړي لېکن دا جائز نه دي چي هغه بل څوک د دې وکيل جوړ کړي.

دويم دليل دا دی چي مؤکل فقط د خپل وکيل په رايه راضي سوی دی او له وکيل څخه بغير د بل چا په رايه هغه راضي نه دی، ځکه د هر کس رايه جلا جلا او يو له بل څخه مخالفه وي، او د وکالت په باب کي څو ځله دا خبره ذکر سوې ده چي د وکيل لپاره د مؤکل د رضا په خلاف کار کول صحيح نه دي، لېکن که مؤکل وکيل ته د دې اجازت ورکړي، يا هغه ته په مطلق توګه معامله وسپاري او داسي ووايي "اِعْمَلْ بِرَأْيِكَ" (ته په خپل رايه عمل وکړه! [يعني ستا چي څه خوښه وي هغسي وکړه!])، نو په دې صورت کي چي څرنګه په خپله وکيل لره بيع کول جائز دي، همداسي هغه ته دا هم جائز دي چي بل څوک د دې وکيل جوړ کړي؛ ځکه چي دلته مؤکل خپل وکيل ته د هر تصرف اجازت ورکړی دی او د هغه په هر تصرف راضي دی، او کله چي په دې صورت کي وکيل جوړول صحيح دي، نو دا په ياد لرئ! چي دويم وکيل د اصل مؤکل يعني د مالک له طرفه وکيل کيږي، همدا وجه ده چي اول وکيل نه د هغه د معزوله کولو مالک دی او نه د اول وکيل په مرګ سره هغه معزوله کيږي؛ ځکه چي هغه د اصل مؤکل له طرفه وکيل دی، نه د اول وکيل (دويم مؤکل) له طرفه. ها! که چيري اصل مؤکل مړ سي، نو دواړه وکيلان معزوله کيږي، ځکه دواړه د هغه وکيلان دي، لکه څرنګه چي په "كتاب أدب القاضي" کي د دې په څېر بحث ذکر سو.

## د پورتني مسئلې تفريع

قَالَ: فَإِنْ وَكَّلَ بِغَيْرِ إِذْنِ مُوَكِّلِهِ فرمايي: او که چيري اول وکيل د خپل مؤکل له اجازت څخه بغير [دويم کس] وکيل جوړ کړي فَعَقَدَ وَكِيلُهُ بِحَضْرَتِهِ او هغه [دويم وکيل] د اول وکيل په حضور [موجوديت] کي عقد وکړي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّ الْمَقْصُودَ حُضُورُ رَأْيِ الْأَوَّلِ ځکه چي [د مؤکل] مقصود د اول وکيل د رايي موجودېدل [او شاملېدل] دي وَقَدْ حَضَرَ او هغه [دلته] موجوده ده وَتَكَلَّمُوا فِي حُقُوقِهِ او مشايخو د دې عقد په حقوقو کي کلام کړی دی [يعني په دې باره کي د علماؤ دوې رايي دي] وَإِنْ عَقَدَ فِي حَالِ غَيْبَتِهِ او که چيري دويم وکيل د اول وکيل په نا موجوديت کي عقد وکړي لَمْ يَجُزْ نو جائز نه دي لِأَنَّهُ فَاتَ رَأْيُهُ ځکه چي [په دې صورت کي] د اول وکيل رايه فوت سوه إِلَّا أَنْ يَبْلُغَهُ فَيُجِيزَهُ مګر دا چي اول وکيل ته خبر ورسيږي او هغه د عقد اجازت ورکړي وَكَذَا لَوْ بَاعَ غَيْرُ الْوَكِيلِ

او همدارنګه که له دویم وکیل څخه بغیر بل څوک خرڅول وکړي فَبَلَغَهُ فَأَجَازَهُ بیا اول وکیل ته خبر ورسیږي او هغه د عقد اجازت ورکړي لِأَنَّهُ حَضَرَ رَأْيُهُ ځکه چي [په دې صورت کي هم] د هغه رایه موجوده سوه وَلَوْ قَدَّرَ الْأَوَّلُ الثَّمَنَ لِلثَّانِي او که چیري اول وکیل د دویم وکیل لپاره ثمن مُتعین کړي فَعَقَدَ بِغَيْبَتِهِ بیا دویم وکیل د هغه په نا موجودیت کي عقد وکړي يَجُوزُ نو [هم] جائز دي لِأَنَّ الرَّأْيَ يُحْتَاجُ إِلَيْهِ فِيهِ لِتَقْدِيرِ الثَّمَنِ ظَاهِرًا ځکه چي په ښکاره د ثمن د مُتعیّن کولو لپاره په عقد کي رایې ته ضرورت وي وَقَدْ حَصَلَ او رایه حاصله سوه وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا وَكَّلَ وَكِيلَيْنِ وَقَدَّرَ الثَّمَنَ او دا د هغه صورت په خلاف دي کله چي مؤکل دوه وکیلان جوړ کړي او ثمن مُتعیّن کړي لِأَنَّهُ لَمَّا فَوَّضَ إِلَيْهِمَا مَعَ تَقْدِيرِ الثَّمَنِ ځکه کله چي مؤکل د ثمن مُتعیّن کولو سره دواړو وکیلانو ته عقد وسپاری ظَهَرَ أَنَّ غَرَضَهُ اجْتِمَاعُ رَأْيِهِمَا فِي الزِّيَادَةِ وَاخْتِيَارِ الْمُشْتَرِيْ نو ښکاره سوه چي د مؤکل مقصد دا دی چي د ثمن په زیاتولو او د مشتري په اختیارلو کي د دواړو رایه جمع سي عَلَىٰ مَا بَيَّنَّاهُ لکه [مخکي] چي موږ د دې بیان وکړی أَمَّا إِذَا لَمْ يُقَدِّرِ الثَّمَنَ وَفَوَّضَ إِلَى الْأَوَّلِ لیکن کله چي مؤکل ثمن مُتعیّن نه کړي او عقد اول وکیل ته وسپاري كَانَ غَرَضُهُ رَأْيَهُ فِي مُعْظَمِ الْأَمْرِ وَهُوَ التَّقْدِيرُ فِي الثَّمَنِ نو د هغه مقصد دا وي چي په اهم شي یعني د ثمن په مُتعیّن کولو کي د اول وکیل رایه شامله سي.

**اللغات**: ﴿حضرة﴾ حضور، موجودیت (موجودګي)، ﴿غیبة﴾ غائب والی، نا موجودیت، ﴿یجیزه﴾ د افعال د باب مضارع ده؛ اجازت ورکول، نافذول، ﴿تقدیر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: اندازه کول، مُتعیّن کول، ټاکل.

**تشریح**: **صورت د مسئلي**: دا دی که خالد زید ته ووایي چي زما پُسه خرڅ کړه! یعني د پُسه خرڅولو وکیل یې جوړ کړي او زید د مؤکل یعني د خالد له پوښتني او اجازت څخه بغیر ادریس (د پُسه خرڅولو) وکیل جوړ کړي، نو که په داسي صورت کي دویم وکیل (ادریس) د اول وکیل (زید) په موجودیت کي هغه پُسه خرڅ کړي، نو دا خرڅول جائز دي؛ ځکه چي د مؤکل (خالد) مقصد دا دی چي د دې پُسه په خرڅولو کي دې د اول وکیل (زید) رایه شامله سي، او څرنګه چي دلته هغه په خپله حاضر دی او د هغه په حضور کي پُسه خرڅ کړی سوی دی، نو ښکاره خبره ده چي په دې خرڅولو

كي د هغه رايه شامله سوه، نو ځكه دا عقد به جائز وي او پر مؤكل به نافذ وي؛ ځكه چي د هغه مقصد حاصل سو.

پاته سوه دا مسئله چي د دې عقد حقوق د كوم وكيل وطرف ته راجع كيږي، نو په دې باره كي د مشايخو اختلاف دى، د ځيني حضراتو قول دا دى چي د عقد حقوق د اول وكيل وطرف ته راجع كيږي؛ ځكه مؤكل صرف د هغه په رايه راضي سوى دى، او ځيني حضرات وايي چي د عقد حقوق د دويم وكيل وطرف ته راجع كيږي؛ ځكه دا د بيع عقد دى، او په بيع كي ټوله حقوق د عاقد وطرف ته راجع كيږي.

وإن عقد في حال غيبة إلخ: فرمايي كه چيري دويم وكيل د اول وكيل په ناموجوديت كي هغه پَسه خرڅ كړي، نو دا عقد پر مؤكل نه نافذيږي (يعني د هغه لپاره نه واقع كيږي)؛ ځكه چي په دې عقد كي د اول وكيل رايه شامله نه سوه او د مؤكل مقصد فوت سو، ها! كه دويم وكيل د اول وكيل په ناموجوديت كي عقد وكړي او بيا چي اول وكيل ته د دې خبر ورسيږي نو هغه د عقد اجازت وركړي او نافذ يې كړي، نو په دې صورت كي عقد پر مؤكل نافذيږي؛ ځكه چي د مؤكل مقصد يعني د اول وكيل رايه په دې عقد كي شامله سوه. همدارنګه كه له دويم وكيل څخه بغير يو بل سړي د اول وكيل په نا موجوديت كي هغه پَسه خرڅ كړي. بيا اول وكيل ته د دې خبر ورسيږي او هغه دا نافذ كړي، نو په دې صورت كي هم عقد جائز كيږي او پر مؤكل نافذيږي.

ولو قدر إلخ: د دې حاصل دا دى چي كه اول وكيل د دويم وكيل لپاره د مبيع ثمن مُتعيَّن كړي، مثلاً هغه ته داسي ووايي چي ”دا پَسه په زر درهمه خرڅ كړه!“، او بيا دويم وكيل په هغومره ثمن سره پَسه خرڅ كړي، نو دا عقد هم جائز دى، برابره ده اول وكيل حاضر وي او كه نه وي؛ ځكه چي د اول وكيل رايه ظاهراً د ثمن مُتعيَّن كولو لپاره ېكار وي (لنډه دا چي په ښكاره د مؤكل مطلب دا وي چي اول وكيل د خپل رايي مطابق په مناسب ثمن سره شى خرڅ كړي. ځكه همدا په بيع كي اهم شى دى)، او څرنګه چي دلته اول وكيل ثمن مُتعيَّن كړى دى، نو ځكه په عقد كي د هغه رايه شامله سوه، لهذا برابره ده هغه د عقد په وخت كي حاضر وي او كه نه وي، په هر صورت كي به عقد جائز او صحيح وي.

وهذا بخلاف إلخ: فرمايي كه يو سړي د يو شي د خرڅولو لپاره دوه خلګ وكيلان جوړ كړي او هغه د مبيع ثمن هم مُتعيَّن كړي، نو په دې صورت كي يوازي يوه وكيل ته دا حق نسته چي د بل وكيل په ناموجوديت كي يا د هغه له رايي څخه بغير عقد وكړي؛ ځكه كله چي مؤكل د مبيع ثمن مُتعيَّن كړي او دوو خلګو ته يې د عقد ذمه واري وسپارله. نو ښكاره سوه چي د هغه مقصد د ثمن په زياتوب كولو (زيات ثمن ترلاسه كولو) او د ښه مشتري په انتخابولو كي د دواړو وكيلانو رايه جمع كېدل دي، نو

ځکه دا عقد به هغه وخت جائز وي کله چي د دواړو وکيلانو رايه په هغه کي شامله سي او يوازي د يوه وکيل لپاره به عقد کول صحيح نه وي.

او که مؤکل د ثمن له مُتعيّن کولو څخه بغير عقد اول وکيل ته سپارلی وي، نو په دې صورت کي د مؤکل مقصد دا وي چي د بيع په اهم شي يعني د ثمن په مُتعيّن کولو کي دي د اول وکيل رايه شامله سي، او دا مقصد هغه وخت حاصليږي کله چي اول وکيل ثمن مُتعيّن کړي، نو ځکه کله چي اول وکيل ثمن مُتعيّن کړي او بل څوک د عقد کولو وکيل جوړ کړي او بيا دا دويم وکيل عقد وکړي، نو دا عقد جائز او صحيح دی. برابره ده اول وکيل د عقد په وخت کي حاضر وي او که نه وي.

## پر خپل کوچني بچي د مکاتب، غلام او ذمي د ولايت حکم

قَالَ: وَإِذَا زَوَّجَ الْمُكَاتَبُ أَوِ الْعَبْدُ أَوِ الذِّمِّيُّ ابْنَتَهُ وَهِيَ صَغِيرَةٌ حُرَّةٌ مُسْلِمَةٌ فرمايي: او کله چي مکاتب يا غلام يا ذمي د خپل کوچنۍ لور نکاح [د يو چا سره] وکړي حال دا چي هغه آزاده او مسلمانه وي أَوْ بَاعَ أَوِ اشْتَرَى لَهَا يا د هغې لپاره رانيول او خرڅول وکړي لَمْ يَجُزْ نو جائز نه دي مَعْنَاهُ التَّصَرُّفُ فِي مَالِهَا د دې مطلب د هغې په مال کي تصرف کول دي لِأَنَّ الرِّقَّ وَالْكُفْرَ يَقْطَعَانِ الْوِلَايَةَ ځکه چي غلامتوب او کفر ولايت ختموي أَلَا يُرَى أَنَّ الْمَرْقُوقَ لَا يَمْلِكُ إِنْكَاحَ نَفْسِهِ آيا نه ګوري چي غلام د خپل ځان د نکاح کولو مالک نه دی [يعني د دې ملکيت [اختيار] نه لري چي پر خپل سر د يو ښځي سره نکاح وکړي] فَكَيْفَ يَمْلِكُ إِنْكَاحَ غَيْرِهِ نو هغه به څنګه د بل چا د نکاح کولو مالک وي وَكَذَا الْكَافِرُ لَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَى الْمُسْلِمِ او همدارنګه کافر لره پر مسلمان هيڅ ولايت نسته حَتَّى لَا تُقْبَلَ شَهَادَتُهُ عَلَيْهِ همدا وجه ده چي د مسلمان په خلاف د کافر ګواهي نه قبلول کيږي وَلِأَنَّ هٰذِهِ وِلَايَةٌ نَظَرِيَّةٌ او ځکه چي دا ولايت پر مصلحت [او شفقت] مبني دی فَلَا بُدَّ مِنَ التَّفْوِيضِ إِلَى الْقَادِرِ الْمُشْفِقِ نو ځکه هغه قادر او شفقت لرونکي کس ته ورسپارل ضروري دي لِيَتَحَقَّقَ مَعْنَى النَّظَرِ د دې لپاره چي د مصلحت [او شفقت] معنیٰ ثابته سي وَالرِّقُّ يُزِيلُ الْقُدْرَةَ او غلامتوب قدرت زائلوي وَالْكُفْرُ يَقْطَعُ الشَّفَقَةَ عَلَى الْمُسْلِمِ او کفر پر مسلمان شفقت ختموي فَلَا تُفَوَّضُ إِلَيْهِمَا نو ځکه دا ولايت به دې دواړو ته نه سپارل کيږي.

**اللغات:** ﴿زوّج﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: د بل چا نکاح کول، نکاح ورتړل، ﴿رقّ﴾ غلامتوب، غلام والی، ﴿إنکاح﴾ د افعال د باب مصدر دی: د بل چا نکاح کول، ﴿النظر﴾ شارحينو د دې لفظ دوې

معناوي ذکر کړي دي: مصلحت، شفقت (ښېګڼه)، ﴿لظريـة﴾ پر مصلحت مبني، پر شفقت مبني، ﴿تفويض﴾د تفعيل د باب مصدر دی: ورسپارل.

**تشريح: صورت د مسئلې**: دا دی چې مکاتب، غلام او ذمي لره پر خپل آزاد او مسلمان بچي ولايت نسته. نو ځکه دې کسانو (مکاتب، غلام او ذمي) لره نه دا جائز دي چې د خپلې کوچنۍ آزادې او مسلمانې لور په ذات کې تصرف وکړي يعني د هغې نکاح وکړي او نه دا جائز دي چې د هغې په مال کې تصرف وکړي يعني د هغې لپاره بيع وشراء وکړي؛ ځکه چې مذکوره تصرفات د ولايت له قبيلې څخه دي، او په دې کسانو کې يو ته هم پر خپل آزاده، مسلمانه کوچنۍ لور ولايت حاصل نه دی؛ ځکه چې غلامتوب او کفر ولايت ختموي، همدا وجه ده چې غلام د خپل ځان لپاره پر نکاح کولو قدرت نه لري، او کوم کس چې د خپل ځان لپاره د نکاح کولو قدرت او ملکيت نه لري، نو هغه به پر بل چا څنګه دنکاح کولو قدرت او ملکيت لري! ، همدارنګه کافر ته پر مسلمان هيڅ ولايت حاصل نه دی او نه د مسلمان په خلاف د هغه ګواهي مقبوله ده، ځکه په قرآن کريم کې په ښکاره لفظو سره دا اعلان سوی دی ﴿وَلَنْ يَّجْعَلَ اللهُ لِلْكَافِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا﴾ [سورة النساء: ۱۴۱]، لنډه دا چې کله مکاتب، غلام او ذمي ته پر خپل ځان هيڅ ولايت حاصل نه دی، نو پر بل چا به هم هغو ته ولايت حاصل نه وي او د صغيره حره مسلمه په حق کې به هغو لره هيڅ تصرف کول جائز نه وي.

ولأن هذه إلخ: دويم دليل دا دی چې پر خپل بچي او لور چې انسان ته کوم ولايت حاصل دی، هغه پر مصلحت او شفقت مبني دی، نو ځکه دا ولايت هغه انسان ته سپارل کيږي چې په هغه دا کار پوره وي يعني هغه پر تصرف کولو او د ولايت په پوره کولو قادر او مشفق (شفقت لرونکی) وي، حال دا چې مکاتب او غلام خو يوه ذره قدرت هم نه لري، ځکه چې په غلامتوب سره قدرت او ولايت ختميږي، او په کفر سره شفقت ختميږي يعني کافر پر مسلمان شفقت نه لري، نو په دې حواله سره به هم دغه کسانو ته پر خپل صغير او صغيره هيڅ ولايت حاصل نه وي او نه به دا ولايت هغو ته سپارل کيږي.

## د مرتد او حربي د ولايت حکم

قَالَ أَبُوْيُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: وَالْمُرْتَدُّ إِذَا قُتِلَ عَلٰى رِدَّتِهِ وَالْحَرْبِيُّ كَذٰلِكَ صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: او مرتد چې کله پر خپل ارتداد قتل کړی سي او حربي [دوی دواړه] هم دارنګه دي [يعني دوی هم پر خپل مسلمان بچي ولايت نه لري] لِأَنَّ الْحَرْبِيَّ أَبْعَدُ مِنَ الذِّمِّيِّ ځکه چې حربي له ذمي څخه بدتر [ډېر بد] وي فَأَوْلٰى بِسَلْبِ الْوِلَايَةِ نو ځکه د هغه ولايت به په درجه اولیٰ سلبول کيږي وَأَمَّا الْمُرْتَدُّ فَتَصَرُّفُهُ فِي مَالِهِ وَإِنْ كَانَ نَافِذًا عِنْدَهُمَا او پاته سو مرتد نو که څه هم د هغه تصرف په خپل مال کې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز نافذ دی لٰكِنَّهُ مَوْقُوْفٌ عَلٰى وَلَدِهِ وَمَالِ وَلَدِهِ بِالْإِجْمَاعِ لېکن د هغه د بچي او د بچي د مال په باره کې په اجماع سره د هغه تصرف

موقوف دی لِأَنَّهَا وِلَايَةٌ نَظَرِيَّةٌ ځکه چې دا ولايت پر مصلحت مبني دی وَذٰلِكَ بِاتِّفَاقِ الْمِلَّةِ او مصلحت د دين په اتحاد سره وي [يعني مصلحت او شفقت هغه وخت ثابتيږي کله چې د پلار او بچي دواړو مذهب سره يو وي] وَهِيَ مُتَرَدِّدَةٌ حال دا چې د مرتد دين شکمن [مشکوک] دی ثُمَّ تَسْتَقِرُّ جِهَةُ الِانْقِطَاعِ إِذَا قُتِلَ عَلَى الرِّدَّةِ [يعني] بيا چې کله هغه پر خپل ارتداد قتل کړی سي نو د هغه د ولايت منقطع کېدلو [او کافر کېدلو] طرف مضبوطيږي [ثابتيږي] فَيَبْطُلُ نو ځکه د هغه تصرف به باطل وي. وَبِالْإِسْلَامِ يُجْعَلُ كَأَنَّهُ لَمْ يَزَلْ مُسْلِمًا او د اسلام راوړلو په وجه به داسي ګڼل کيږي لکه هغه چې له همېشه څخه مسلمان وو [مطلب دا چې کله مرتد دويم وار اسلام راوړي، نو په دې سره هغه د خپل ارتداد په زمانه کي هم مسلمان شمارل کيږي] فَيَصِحُّ نو ځکه [په دې صورت کي] به د هغه تصرف صحيح وي.

**اللغات:** ﴿ردة﴾ ارتداد، مرتد کېدل. ﴿الأبعد﴾ د دې لفظ خپله معنیٰ ده: زيات لېري، لېکن د مذمت په وخت کي د اسم معنیٰ ورکوي يعني "بدتر" او داسي نور (معجم وسيط). ﴿نظرية﴾ په تېر عبارت کي د دې لفظ معنیٰ ذکر سوه. ﴿تستقر﴾ د استفعال د باب مصدر دی: مضبوطېدل، ثابتېدل.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که يو مسلمان (العياذ بالله) مرتد سي او د ارتداد په حالت کي قتل کړی سي نو هغه او حربي کافر دواړه پر خپل مسلمان بچي د ولايت او تصرف اهل نه دي؛ ځکه حربي کافر خو له ذمي کافر څخه هم بدتره دی، او مخکي ذکر سوه چې ذمي ته پر خپل مسلمان اولاد او د هغو په مال کي د ولايت او تصرف حق نسته، نو ځکه حربي ته خو به په درجه دا حق نه وي. او پاته سو مرتد، نو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز که څه هم په خپل مال کي د هغه تصرف نافذ دی، لېکن د هغه په اولاد او د اولاد په مال کي د هغه تصرف د صاحبينو په نيز موقوف دی، نو که تر تصرف کولو وروسته هغه د ارتداد په حالت کي مړ سي، نو ښکاره خبره ده چې د هغه تصرف به نه نافذيږي، ځکه پر خپل ارتداد د ټينګېدلو په وجه د هغه ولايت ختم سو. هاا که چېري مرتد دويم وار اسلام راوړي، نو بيا د هغه تصرف صحيح کيږي او نافذيږي؛ ځکه د دې حديث "الإِسْلَامُ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ" په وجه په اسلام راوړلو سره مرتد په تېر وخت کي هم مسلمان شمارل کيږي، لېکن له اسلام راوړلو څخه مخکي د مرتد حالت او مذهب دواړو طرفونو ته متردد او مشکوک دی (يعني که هغه دويم وار اسلام راوړي، نو هغه د ارتداد په زمانه کي هم مسلمان شمارل کيږي. او که وروسته د کفر په حالت کي مړ سي، نو معلومه خبره ده چې هغه به د خپل ارتداد په زمانه کي کافر وي)، حال دا چې مذکوره تصرفات د ولايت له قبيلې څخه دي او د ولايت لپاره د مذهب (ملت) اتحاد شرط دی، او هغه دلته نسته، نو ځکه مرتد ته به هم پر خپل مسلمان اولاد هيڅ د ولايت او تصرف حق نه وي. فقط والله أعلم وعلمهٔ أتم



# بَابُ الْوَكَالَةِ بِالْخُصُوْمَةِ وَالْقَبْضِ

(دا) باب د خصومت او قبضې د وکیل جوړولو (په بیان کې) دی

**تشریح**: صاحب د بنایې رَحِمَهُ الله لیکلي دي چې خصومت مهجور او متروک دی، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله هغه له "بَابُ الوكالة بالبيع والشراء" څخه وروسته بیان کړی دی، ځکه چې دا مهجور نه دی، او ښکاره خبره ده چې غیر مهجور پر مهجور مخکې وي. (بنایه ج:۸، ص:۳۵۴)

## وکیل بالخصومت وکیل بالقبض هم دی، که نه؟

قَالَ: الْوَكِيْلُ بِالْخُصُوْمَةِ وَكِيْلٌ بِالْقَبْضِ عِنْدَنَا فرمایي: زموږ په نېز د خصومت [دعوىٰ] کولو وکیل د قبضه کولو وکیل هم دی خِلَافًا لِزُفَرَ ۞ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله هُوَ يَقُوْلُ: رَضِيَ بِخُصُوْمَتِهِ هغه فرمایي چې مؤکل [صرف] په خصومت کولو راضي سوی دی وَالْقَبْضُ غَيْرُ الْخُصُوْمَةِ او قبضه له خصومت څخه جلا ده وَلَمْ يَرْضَ بِهِ او مؤکل په قبضه کولو نه دی راضي سوی وَلَنَا: أَنَّ مَنْ مَلَكَ شَيْئًا زموږ دلیل دا دی: چې کوم څوک د یو کار مالک سي مَلَكَ إِتْمَامَهُ نو هغه د دې کار د پوره کولو هم مالک کیږي وَإِتْمَامُ الْخُصُوْمَةِ وَانْتِهَاؤُهَا بِالْقَبْضِ او خصومت پوره کول او هغه انتهاء رسېدل په قبضې سره کیږي وَالْفَتْوَى الْيَوْمَ عَلَى قَوْلِ زُفَرَ [لېکن] نن سبا د امام زفر رَحِمَهُ الله پر قول فتوىٰ ده لِظُهُوْرِ الْخِيَانَةِ فِي الْوُكَلَاءِ ځکه چې په وکیلانو کې خیانت ښکاره سوی دی وَقَدْ يُؤْتَمَنُ عَلَى الْخُصُوْمَةِ مَنْ لَا يُؤْتَمَنُ عَلَى الْمَالِ او ځیني وخت د هغه کس پر خصومت اطمینان [او اعتماد] کیږي چې پر هغه د مال په باره کې [یعني پر مال د قبضه کولو کولو په باره] اطمینان نه کیږي وَنَظِيْرُهُ الْوَكِيْلُ بِالتَّقَاضِيْ او د دې مثل د قرض د تقاضا [مطالبه] کولو وکیل دی يَمْلِكُ الْقَبْضَ عَلَى أَصْلِ الرِّوَايَةِ چې

---

۞ القول الراجح: قول زفر رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة قاضي زاده آفندي رَحِمَهُ الله: والفتوى اليوم على قول زفر... ومشائخ بلخ افتوا بقول زفر رَحِمَهُ الله ...(نتائج الافكار ج:۷، ص:۱۰۰)، وكذا في المختار (ج:۴، ص:۴۵۸). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۶۱]

هغه د اصل روایت مطابق د قبضه کولو ملکیت [اختیار] هم لري لِأَنَّهُ فِي مَعْنَاهُ وَضْعًا ځکه چې د وضع په اعتبارِ سره "تقاضا کول" د قبضه کولو په معنیٰ سره دي إِلَّا أَنَّ الْعُرْفَ بِخِلَافِهِ لېکن عرف د دې په خلاف دی وَهُوَ قَاضٍ عَلَى الْوَضْعِ او عرف پر وضع غالب وي [مطلب دا چې عرفي معنیٰ پر وضعي معنیٰ راجح وي] فَالْفَتْوَى عَلَى أَنْ لَا يَمْلِكَ نو ځکه فتویٰ پر دې ده چې وکیل بالتقاضي [د قبضه کولو] ملکیت نه لري.

**اللغات**: ﴿خصومة﴾ جنګ، دعویٰ، مقدمه، (خصومت دې ته وايي چې يو سړی پر بل چا د حق دعویٰ کوي او دا بل څوک له هغه څخه منکر وي)، ﴿إتمام﴾ د افعال د باب مصدر دی: پوره کول، بشپړ کول، ﴿انتهاء﴾ انتهاء ته رسېدل، پوره کېدل، ﴿وضعًا﴾ د وضع په اعتبار سره، لغت جوړونکو چې يو لفظ د کومي معنیٰ لپاره جوړ کړی وي، هغه ته "وضعي معنیٰ" وايي، لېکن په عرف کې چې لفظ د کومي معنیٰ لپاره استعمالیږي، هغه ته "عرفي معنیٰ" وايي.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو څوک د بل سړي له طرفه د قرض يا داسي بل حق په هکله د خصومت (دعوې) پېشولو وکيل وي، نو هغه زموږ په نېز د قبضه کولو وکيل هم دی، يعني که چېري د هغه په دعویٰ سره قرض ثابت سي، نو هغه زموږ په نېز پر قرض د قبضه کولو وکيل او حقدار هم دی، لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز وکيل بالخصومت پر قرض د قبضه کولو وکيل او حقدار نه دی.

**د امام زفر دليل**: دا دی چې مؤکل د خصومت (دعوې) پېشولو لپاره ځېرک او چالاکه انسان وکيل جوړوي، حال دا چې پر قرض د قبضه کولو لپاره عام او ساده کس وکيل جوړول کيږي، نو ځکه که مؤکل د يو چا په وکيل بالخصومت کېدلو راضي وي، نو د دې مطلب دا نه دی چې مؤکل د هغه په وکيل بالقبض کېدلو هم راضي دی؛ ځکه چې په خصومت او قبضه کې فرق دی، ځکه خصومت (دعویٰ) قولي شی دی يعني دعویٰ په ژبه سره پېشول کيږي، حال دا چې قبضه کول فعل دی، او په قول او فعل کې ښکاره فرق او تضاد سته، نو ځکه وکيل بالخصومت وکيل بالقبض نه سي کېدای.

(احسن الهدايه)

**زموږ دليل**: دا دی چې کوم څوک د يو کار مالک جوړ کړی سي يعني چا ته چې د يو کار ملکيت او اختيار ورکول سي، نو هغه د دې کار د پوره کولو مالک هم وي يعني هغه ته دا اختيار هم وي چې هغه کار سر ته ورسوي، لهذا وکيل بالخصومت چې څرنګه (د مؤکل له طرفه) د قرض د دعویٰ کولو مالک جوړ سوی دی، همداسي به هغه پر دې قرض د قبضه کولو مالک هم وي؛ ځکه چې د قرض خصومت

(دعویٰ) هغه وخت پوره کیږي او انتهاء ته رسیږي کله چې پر قرض قبضه وسي، نو ځکه هغه به پر قرض د قبضه کولو مالک او حقدار هم وي.

والفتوی إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې فتویٰ د امام زفر رَحِمَهُ الله پر قول ده چې وکیل بالخصومت وکیل بالقبض نه دی؛ ځکه نن سبا په وکیلانو کي رشوت خوري او خیانت غالب سوی دی، چې د هغه په وجه: کیل جوړونکي خلک صرف د خصومت کولو لپاره پر وکیل اعتماد کوي لېکن د مال او قرض اخیستلو لپاره پر هغه اعتماد نه کوي، ځکه دا ټینګه خطره سته چې هغه به خیانت وکړي، نو ځکه د اوسني حالاتو په اعتبار کولو سره به وکیل بالخصومت ته فقط د خصومت کولو اختیار حاصل وي او هغه به د قبضې وکیل نه وي.

د دې مسئلې مثال دا دی لکه یو سړی چې بل شوک د قرض د تقاضا (مطالبه کولو) وکیل جوړ کړي، یعني یو چا ته ووایي چې "ته له فلانکي (مثلاً له خالد) څخه زما د قرض مطالبه وکړه!، نو د مبسوط د روایت مطابق هغه وکیل بالقبض هم کیږي، یعني کله چې د وکیل بالتقاضي پر مطالبه مقروض (خالد) قرض اداء کړي نو هغه ته دا اختیار هم حاصلیږي چې پر قرض قبضه وکړي؛ ځکه چې د تقاضا کولو وضعي معنیٰ قبضه کول هم دي، نو ځکه د وضعي معنیٰ په اعتبار سره به وکیل بالتقاضي وکیل بالقبض هم وي، لېکن په عرف عام کي تقاضا کول صرف د مطالبه کولو په معنیٰ سره استعمالیږي، او عرفي معنیٰ پر وضعي معنیٰ غالب او راجح وي، نو ځکه فتویٰ پر همدې ده چې وکیل بالتقاضي وکیل بالقبض نه دی، یعني د عرفي معنیٰ په اعتبار کولو سره به د تقاضا کولو وکیل د قبضه کولو وکیل نه وي، لکه څرنګه چې په اصل مسئله کي پر دې فتویٰ ورکول سوې ده چې وکیل بالخصومت وکیل بالقبض نه دی.

## د قبضه کولو په صورت کي د دواړو وکیلانو قبضه کول ضروري دي

| |
|---|
| قَالَ: فَإِنْ كَانَا وَكِيلَيْنِ بِالْخُصُومَةِ فرمایي: او که چیري دوه خلک د خصومت کولو وکیلان وي لَا يَقْبِضَانِ إِلَّا مَعًا نو هغوی دواړه به یو ځای قبضه کوي [یوازي یوه وکیل ته د قبضه کولو اجازت نسته] لِأَنَّهُ رَضِيَ بِأَمَانَتِهِمَا لَا بِأَمَانَةِ أَحَدِهِمَا ځکه چې مؤکل د دواړو په امانت راضي سوي دی او [فقط] د یوه په امانت نه دی راضي سوی وَاجْتِمَاعُهُمَا مُمْكِنٌ او د دواړو جمع کېدل ممکن [هم] دي بِخِلَافِ الْخُصُومَةِ په خلاف د خصومت کولو [دعویٰ پېشولو] عَلَىٰ مَا مَرَّ لکه مخکي چې تېر سو. |

**اللغات**: ﴿لا يقبضان﴾ د ضرب له بابه د تثنیه مذکر غائب نفي صیغه ده: پر یو شي قبضه کول، یعني اخیستل.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که يو سړی دوه خلک د خصومت کولو وکيلان جوړ کړي (چې تاسو د قاضي په مجلس کې زما د قرض دعویٰ او مقدمه پېش کړئ!) نو که څه هم په دې صورت کې دواړه وکيلان يو ځای خصومت (دعویٰ) نه سي پېشولای لېکن که پر قرض د قبضه کولو نوبت راسي نو پر هغه به دواړه يو ځای قبضه کوي، او يوازي ديوه وکيل لپاره د قبضه کولو اجازت نسته؛ ځکه چې مؤکل د دواړو په امانت راضي سوی دی (يعني هغه په دې راضي دی چې دواړه يو ځای قبضه پر وکړي) او ديوه په امانت راضي نه دی، نو ځکه ديوه قبضه کول به صحيح نه وي. او بل دا چې په قبضه کولو کې د دواړو وکيلانو جمع کېدل هم ممکن دي او په دې کې هيڅ بدي او ممانعت نسته، نو ځکه په دې حواله سره هم د دواړو وکيلانو قبضه کول ضروري دي.

د دې په خلاف څرنګه چې د خصومت (دعوی) پېشولو لپاره د قاضي په مجلس کې د دواړو وکيلانو جمع کېدل مشکل دي، ځکه چې هغه د مجلس د آدابو خلاف کار دی چې د هغه په وجه د قاضي په مجلس کې شور (غالمغال) او بې نظمي جوړېږي، نو ځکه هلته دواړه خصومت نه سي کولای بلکې د دې لپاره يوازي يو وکيل هم کافي دی.

## وکيل بالقبض ضمنًا وکيل بالخصومت کېدل (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَالْوَكِيْلُ بِقَبْضِ الدَّيْنِ يَكُوْنُ وَكِيْلًا بِالْخُصُوْمَةِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ فرمايي: او [پر قرض] د قبضه کولو وکيل د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د خصومت کولو وکيل هم ګرځي حَتّٰى لَوْ أُقِيْمَتْ عَلَيْهِ الْبَيِّنَةُ عَلَى اسْتِيْفَاءِ الْمُوَكِّلِ أَوْ إِبْرَائِهٖ تر دې که د هغه په خلاف دا بيّنه پېش کړی سي چې مؤکل [خپل قرض] اخيستی دی يا مؤکل مقروض [له خپل قرض څخه] بري کړی دی تُقْبَلُ عِنْدَهٗ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به د هغه بيّنه قبلول کېږي وَقَالَا ●: لَا يَكُوْنُ خَصْمًا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د قبضه کولو وکيل خصم نه ګرځي وَهُوَ رِوَايَةُ الْحَسَنِ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د حسن بن زياد رَحِمَهُ الله روايت دی لِأَنَّ الْقَبْضَ غَيْرُ الْخُصُوْمَةِ ځکه چې قبضه له خصومت څخه جلا ده وَلَيْسَ كُلُّ مَنْ يُؤْتَمَنُ عَلَى الْمَالِ يَهْتَدِيْ فِي الْخُصُوْمَاتِ او هر هغه کس چې پر هغه د مال په باره کې اعتماد کېږي هغه په خصوماتو [دعوو] کې تجربه نه لري [يعني دا ضروري نه ده چې کوم څوک پر مال د قبضه کولو په باره کې امين (امانت ساتونکی) وي نو هغه دې د خصومت او دعوې په

● القول الراجح: قول الإمام أعظم رَحِمَهُ الله، وعليه المتون، كما ذكر في متن كنز الدقائق (ص:۲۷۳)، و ملتقى الأبحر (۲، ص:۲۲۲). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۶۲]

پېشولو کي هم ماهر وي] فَلَمْ يَكُنِ الرِّضَاءُ بِالْقَبْضِ رِضَاءً بِهَا نو ځکه په قبضې راضي کېدل به په خصومت راضي کېدل نه وي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ وَكَّلَهُ بِالتَّمَلُّكِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي مؤکل دا وکيل د مالک جوړېدلو وکيل جوړ کړی دی لِأَنَّ الدُّيُونَ تُقْضٰى بِأَمْثَالِهَا ځکه چي قرضونه په خپل مثل سره اداء کيږي [يعني کله چي يو څوک قرض اداء کوي نو خاص هغه قرض نه ورکوي کوم چي ده اخيستی وي بلکي د هغه مثل ورکوي] إِذْ قَبْضُ الدَّيْنِ نَفْسِهِ لَا يُتَصَوَّرُ ځکه چي پر خودي قرض د قبضه کولو تصور نه سي کېدای [يعني پر اصل قرض قبضه کول ممکن نه دي] إِلَّا أَنَّهُ جُعِلَ اسْتِيفَاءً لِعَيْنِ حَقِّهِ مِنْ وَجْهٍ مګر هغه په يوه اعتبار سره د عَين حق [اصل قرض] اخيستل ګرځول سوي دي [يعني د قرض پر مثل قبضه کول په يوه اعتبار سره داسي دي لکه پر اصل قرض قبضه کول] فَأَشْبَهَ الْوَكِيلَ بِأَخْذِ الشُّفْعَةِ وَالرُّجُوعِ فِي الْهِبَةِ نو [پر قرض] د قبضه کولو وکيل د هغه وکيل سره مشابه سو کوم چي د شفعي د اخيستلو او په هبه کي د رجوع کولو وکيل وي وَالْوَكِيلَ بِالشِّرَاءِ وَالْقِسْمَةِ وَالرَّدِّ بِالْعَيْبِ او د هغه وکيل سره [مشابه سو] کوم چي د رانيولو او تقسيم کولو او د عيب په وجه د مبيع واپس کولو وکيل وي وَهٰذِهِ أَشْبَهُ بِأَخْذِ الشُّفْعَةِ او دغه وکالت [يعني پر قرض د قبضه کولو وکيل کېدل] د شفعي د اخيستلو د وکالت سره زيات مشابه دی حَتّٰى يَكُونَ خَصْمًا قَبْلَ الْقَبْضِ كَمَا يَكُونُ خَصْمًا قَبْلَ الْأَخْذِ هُنَالِكَ ځکه چي [پر قرض] د قبضه کولو وکيل له قبضه کولو څخه مخکي خصم ګرځي لکه څرنګه چي هلته [يعني د شفعي په اخيستلو کي] وکيل له اخيستلو څخه مخکي خصم ګرځي وَالْوَكِيلُ بِالشِّرَاءِ لَا يَكُونُ خَصْمًا قَبْلَ مُبَاشَرَةِ الشِّرَاءِ او د رانيولو وکيل له رانيولو څخه مخکي خصم نه ګرځي وَهٰذَا لِأَنَّ الْمُبَادَلَةَ تَقْتَضِي حُقُوقًا او دا [حکم] ځکه دی چي مبادله د حقوقو تقاضا کوي وَهُوَ أَصِيلٌ فِيهَا او وکيل د حقوقو په باره کي اصيل وي فَيَكُونُ خَصْمًا فِيهَا نو ځکه هغه به د حقوقو په باره کي خصم [هم] ګرځي.

**اللغات**: ﴿أقيمت﴾ د افعال له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي مجهولي صيغه ده: قائمول، پېشول، ﴿بيّنة﴾ ګواهي. ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: اخيستل، ترلاسه کول، ﴿إبراء﴾ د افعال

د باب مصدر دی: بري کول، معافول (بخښل)، ﴿مباشرة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو کار کول، قبل مباشرة الاداء: مخکې تر دې چې رانيول وکړي، يعني له رانيولو څخه مخکې.

**تشريح: صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی پر خپل قرض د قبضه کولو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا وکيل (وکيل بقبض الدَين) وکيل بالخصومت هم ګرځي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هغه وکيل بالخصومت نه ګرځي، ثمره د اختلاف په دې صورت کې ښکاره کيږي چې که مقروض د وکيل په خلاف پر دې خبره بيّنه (ګواهي) پېش کړي چې مؤکل خپل قرض مخکې لا اخيستی دی يا هغه ما ته قرض بخښلی دی او زه يې له قرض څخه بري کړی يم، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به د دې مقروض بيّنه قبلول کيږي، لېکن څرنګه چې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دا وکيل خصم يعني مدعیٰ عليه نه دی، نو ځکه د هغه په خلاف به د مقروض بيّنه نه قبلول کيږي.

**د صاحبينو دليل**: دا دی چې قبضه او خصومت يو له بل څخه جلا دي او په دواړو کې فرق او تغاير سته، نو ځکه پر قرض د قبضه کولو وکيل به وکيل بالخصومت نه ګرځي. دويمه خبره دا چې ضروري نه ده که يو سړی په قبضه کولو کې امين (امانت ساتونکی) وي، نو هغه به خامخا په خصومت کولو کې هم ماهر وي (ځکه عام خلک په اُصولي توګه خصومت [دعویٰ] نه سي پېشولای، لېکن پر قرض د قبضه کولو په باره کې عام خلک د امانت خيال ساتي او هغه په صحيح توګه مؤکل ته رسوي)، لهذا کله چې داسي ده، نو دا هم ضروري نه ده چې که مؤکل د يو چا پر "وکيل بالخصومت" کېدلو راضي وي، نو مؤکل به د هغه پر "وکيل بالقبض" کېدلو هم راضي وي (يعني که مؤکل پر خپل قرض د قبضه کولو لپاره يو څوک وکيل جوړ کړي، نو دا ضروري نه ده چې مؤکل دې د هغه پر خصومت کولو [دعویٰ پېشولو] هم راضي وي)، نو ځکه صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې وکيل بقبض الدين به وکيل بالخصومت نه ګرځي.

**د امام صاحب دليـــل**: دا دی چې که مؤکل يو څوک پر قرض د قبضه کولو وکيل جوړ کړي، نو مؤکل هغه په حقيقت کې د هغه قرض د مالک جوړېدلو وکيل جوړ کړي؛ ځکه چې قرضونه پر ذمه ثابتيږي او د هغو ادا ينه د مثل په ذريعه کيږي، نه د عَين په ذريعه، يعني که مثلاً خالد زيد ته قرض ورکړي، او زيد هغه مصرف کړي، نو ښکاره خبره ده چې کله زيد خالد ته خپل قرض ورکوي (اداء کوي)، نو بعينهٖ هغه قرض نه ورکوي کوم چې خالد زيد ته ورکړی وو، بلکې زيد د هغه قرض مثل ورکوي او دا په يوه اعتبار سره د عَين قرض اداء کول شمارل کيږي ځکه چې د قرض مثل د عَين قرض سره برابر وي (يعني څومره چې اصل قرض وي، هغومره د قرض مِثل هم وي)، او ښکاره خبره ده چې

کله وکیل د قرض پر مثل قبضه کوي، نو یقیناً به هغه د تملک (مالک جوړېدلو) په توګه د هغه د قبضه کولو مالک وي، او څرنګه چي مالک خصم یعني مدعیٰ علیه هم وي، نو ځکه وکیل به هم مدعیٰ علیه وي او د مقروض بیّنه به د هغه په خلاف قبلول کیږي.

فأشبه الوکیل بأخذ الشفعة إلخ: فرمایي چي وکیل بقبض الدین د خصم کېدلو (مدعیٰ علیه کېدلو) په حواله سره د شفعي اخیستلو د وکیل په څېر دی، یعني که یو سړی د شفعي په توګه د کور اخیستلو لپاره یو څوک وکیل جوړ کړي نو هغه د مشتري په مقابله کي خصم ګرځي، لهذا که مشتري پر دې خبره ګواهي پېش کړي چي مؤکل زه له شفعي څخه بري کړی یم نو د وکیل په خلاف د هغه (مشتري) ګواهي قبلول کیږي، نو څرنګه چي د شفعي اخیستلو وکیل خصم ګرځي، همداسي به وکیل بقبض الدین هم خصم (وکیل بالخصومت) ګرځي، همدارنګه که یو سړی د هبه کړی سوي شي د واپس اخیستلو لپاره یو څوک وکیل جوړ کړي نو دا وکیل هم د موهوب لهٗ په مقابله کي خصم ګرځي او د واهب و طرف ته د هبې واپس کولو په باره کي د دغه وکیل په خلاف د موهوب لهٗ بیّنه قبلول کیږي. همدارنګه وکیل بالشراء هم د بائع په مقابله کي خصم ګرځي. او د مشترک شي د تقسیمولو وکیل هم د مؤکل د شریک په مقابله کي خصم ګرځي، لهذا که د مؤکل شریک ووایي چي مؤکل خپله حصه مخکي لا اخیستې ده او پر دې بیّنه پېش کړي نو د هغه بیّنه قبلول کیږي. همدارنګه که مشتري د یو عیب په وجه د مبیع واپس کولو لپاره یو څوک وکیل جوړ کړي، نو دا وکیل هم خصم ګرځي، لهذا که بائع ووایي چي مؤکل (مشتري) په دې عیب راضي سوی وو، او هغه پر دې بیّنه پېش کړي نو د هغه دا بیّنه قبلول کیږي، لنډه دا چي څرنګه په دې صورتونو کي وکیل خصم یعني مدعیٰ علیه ګرځي، همداسي به په پورتنۍ مسئله (وکالت بالقبض) کي هم وکیل خصم ګرځي.

وهذه أشبه إلخ: صاحب د هدایې فرمایي چي د وکالت بقبض الدین مسئله د وکالت بالشراء په مقابله کي د وکالت باخذ الشفعه سره زیاته مشابه ده؛ ځکه چي وکیل بقبض الدین پر قرض له قبضه کولو څخه مخکي د مقروض خصم ګرځي لکه څرنګه چي وکیل باخذ الشفعه له شفعي اخیستلو څخه مخکي د مشتري خصم ګرځي. لېکن وکیل بالشراء له رانیولو څخه مخکي د بائع خصم نه ګرځي بلکي له رانیولو څخه وروسته د هغه خصم ګرځي، لهذا ښکاره خبره ده چي په کوم صورت کي وکیل مخکي خصم ګرځي. هغه به د پورتنۍ مسئلې سره زیات مشابه وي.

وهذا لأن المبادلة إلخ: د دې عبارت تعلق د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دليل سره دی، حاصل يې دا دی چې کله مقروض د قرض بدل او مثل ورکړي وکيل بقبض الدين پر هغه قبضه وکړي، نو دا مبادله سوه، او مبادله د ځينې حقوقو تقاضا کوي يعني د تسليم او تسلم (ورسپارلو او اخيستلو) تقاضا کوي، او د مبادلې وکيل د مبادلې په حقوقو کې اصيل وي، يعني د مبادلې حقوق د هغه وطرف ته راجع کيږي، او ښکاره خبره ده چې کوم څوک د حقوقو په باره کې اصيل وي هغه د حقوقو په باره کې خصم (مدعیٰ عليه) هم ګرځي، نو ځکه په دې حواله سره هم دا ثابته سوه چې پر قرض د قبضه کولو وکيل خصم (مدعیٰ عليه) ګرځي يعني هغه د خصومت وکيل ګرځي.

## د پورتنې مسئلې بل صورت

قَالَ: وَالْوَكِيْلُ بِقَبْضِ الْعَيْنِ لَا يَكُوْنُ وَكِيْلًا بِالْخُصُوْمَةِ بِالِاتِّفَاقِ فرمايي: او پر عَين شي د قبضه کولو وکيل د خصومت کولو [او دعویٰ پېشولو] وکيل نه ګرځي لِأَنَّهُ أَمِيْنٌ مَحْضٌ ځکه چې هغه محض امين دی وَالْقَبْضُ لَيْسَ بِمُبَادَلَةٍ او قبضه مبادله نه ده [په بله وينا دا چې دلته وکيل پر کوم شي قبضه کوي هغه بدل نه دی بلکې عَين شی دی] فَأَشْبَهَ الرَّسُوْلَ نو هغه د قاصد مشابه سو حَتّٰى أَنَّ مَنْ وَكَّلَ وَكِيْلًا بِقَبْضِ عَبْدٍ لَهُ تر دې که يو څوک پر غلام د قبضه کولو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي فَأَقَامَ الَّذِيْ هُوَ فِيْ يَدِهِ الْبَيِّنَةَ أَنَّ الْمُوَكِّلَ بَاعَهُ إِيَّاهُ بيا چې د کوم چا په قبضه کې غلام وي [يعني قابض] هغه پر دې خبره بيّنه پېش کړي چې مؤکل دا غلام پر هغه [يعني پر ما] خرڅ کړی دی وَقَفَ الْأَمْرُ نو دا معامله موقوف پاتيږي حَتّٰى يَحْضُرَ الْغَائِبُ تر دې چې غائب [مؤکل] حاضر سي فِيْ هٰذَا اسْتِحْسَانٌ [دا] په دې کې استحسان دی وَالْقِيَاسُ أَنْ يُدْفَعَ إِلَى الْوَكِيْلِ او قياس دا دی چې غلام به وکيل ته ورکول کيږي لِأَنَّ الْبَيِّنَةَ قَامَتْ لَا عَلٰى خَصْمٍ ځکه چې بيّنه پر خصم نه ده پېش کړل سوې فَلَمْ تُعْتَبَرْ نو ځکه هغه به معتبره نه وي وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّهُ خَصْمٌ فِيْ قَصْرِ يَدِهِ د استحسان دليل دا دی چې وکيل د خپل قبضې په ناقص والي [ناقصولو] کې خصم دی لِقِيَامِهِ مَقَامَ الْمُوَكِّلِ فِي الْقَبْضِ ځکه چې هغه په قبضه کولو کې د مؤکل قائم مقام دی فَيَقْتَصِرُ يَدُهُ نو ځکه د هغه قبضه به ناقصه وي [په بله وينا: نو ځکه هغه به له قبضې څخه منع کيږي] حَتّٰى لَوْ حَضَرَ الْبَائِعُ تر دې چې که غائب [مؤکل] حاضر سي

تُعَادُ الْبَيِّنَةُ عَلَى الْبَيْعِ نو پر بيع به بيّنه راګرځول کيږي [يعني پر بيع به دويم وار بيّنه پېشول کيږي] فَصَارَ كَمَا إِذَا أَقَامَ الْبَيِّنَةَ عَلَى أَنَّ الْمُوَكِّلَ عَزَلَهُ عَنْ ذٰلِكَ نو دا داسي سو لکه قابض چي پر دې خبره بيّنه پېش کړي چي مؤکل هغه له قبضې څخه معزوله کړی دی فَإِنَّهَا تُقْبَلُ فِي قَصْرِ يَدِهِ نو [په دې صورت کي] بيّنه د هغه د قبضې د ناقص والي په باره کي قبلول کيږي كَذَا هٰهُنَا همداسي به دلته هم وي.

**اللغات**: ﴿عَين﴾ مُتعيّن شی، ﴿رسول﴾ استول سوی کس، پيغام رسونکی، قاصد، ﴿أقام﴾ قائمول، درول، پېشول، ﴿بيّنة﴾ ګواهي، ﴿قَصْر﴾ د نصر مصدر دی: کوتاه کېدل، ناقص کېدل (کم کېدل، کوچنی کېدل)، صاحب د اثمار الهدايې داسي معنیٰ کړې ده: لاس له قبضې څخه منع کېدل، يقتصرُ له قَصْرٌ څخه مشتق دی او همدغه معنیٰ يې ده.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی بل څوک پر عَين مال او عَين شي د قبضه کولو وکيل جوړ کړي، نو دا وکيل بالقبض وکيل بالخصومت نه ګرځي؛ ځکه چي هغه محض (صرف) وکيل دی، او داسي وکيل امين وي، او د امين قبضه مبادله نه وي، نو ځکه دا وکيل به وکيل بالخصومت نه ګرځي، د دې مثال د قاصد (پيغام رسونکی) په څېر دی، او څرنګه چي قاصد وکيل بالخصومت نه ګرځي، همداسي به دا وکيل هم وکيل بالخصومت نه ګرځي، همدا وجه ده که يو سړی پر خپل غلام د قبضه کولو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي، لېکن قابض يعني د کوم سړي په قبضه کي چي غلام دی هغه پر دې خبره بيّنه پېش کړي چي مؤکل دا غلام پر ما خرڅ کړی دی، او مؤکل غائب وي، نو د مؤکل تر حاضرېدلو پوري به دا معامله موقوف پرېښوول کيږي او د غلام په باره کي به هيڅ فيصله نه کيږي.

دا حکم استحساناً دی، لېکن د قياس تقاضا دا ده چي غلام وکيل ته ورکول سي او قابض چي کومه بيّنه پېش کړې ده، هغه ردّ کړل سي، ځکه کله چي دا وکيل خصم او مدعیٰ عليه نه دی، نو ښکاره خبره ده چي د هغه به خلاف به د قابض پېش کړل سوې بيّنه هم نه قبلول کيږي او هغه ته به غلام ورکول کيږي.

وجه الاستحسان إلخ: د استحسان دليل دا دی چي د غلام رانيولو په حق کي خو د قابض بيّنه نه قبلول کيږي لېکن د دې بينې په وجه د وکيل قبضه ناقصه او کمزورې ګرځي او هغه د قبضه کولو مستحق نه پاتيږي. او تر دې وروسته ټوله مدار پر غائب مؤکل دی، لهذا که هغه حاضر سي نو قابض به پر دې خبره دويم وار بيّنه پېشوي چي مؤکل هغه پر ما خرڅ کړی دی، بيا که مؤکل د هغه تصديق وکړي نو

ښکاره ده چې د وکیل بالقبض د قبضې حق ختمیږي، لېکن که مؤکل له دې شخه انکار وکړي، نو بیا د هغه د قبضې حق مضبوطیږي. د دې مثال داسې دی لکه قابض چې پر دې خبره بیّنه پېش کړي چې مؤکل دا وکیل پر غلام له قبضه کولو څخه مخکې معزوله کړی دی، نو دا بیّنه صرف د قبضې د ناقصولو په هکله د وکیل په خلاف قبلول کیږي، لېکن په دې بیّنه سره وکیل نه معزوله کیږي، همداسې به په پورتنۍ مسئله کې هم د غلام رانیولو په هکله خود قابض بیّنه نه قبلول کیږي، لېکن د وکیل د قبضې د ناقصولو او له قبضې څخه د وکیل د منع کولو په هکله به دا بیّنه قبلول کیږي.

## د پورتنۍ مسئلې یو بل صورت

قَالَ: وَكَذٰلِكَ الْعَتَاقُ وَالطَّلَاقُ وَغَيْرُ ذٰلِكَ فرمایي: او همدا حکم د طلاق، عتاق او داسې نورو هم دی وَمَعْنَاهُ إِذَا أَقَامَتِ الْمَرْأَةُ الْبَيِّنَةَ عَلَى الطَّلَاقِ او د دې مطلب دا دی چې کله ښځه پر طلاق بیّنه پېش کړي وَالْعَبْدُ وَالْأَمَةُ عَلَى الْعَتَاقِ او غلام او مینځه پر آزادۍ بیّنه پېش کړي عَلَى الْوَكِيلِ بِنَقْلِهِمْ د هغه وکیل په خلاف کوم چې د دوی د بېولو [وکیل] وي [یعنې کله چې دوی د هغه وکیل په خلاف بیّنه پېش کړي کوم چې مؤکل د دوی د راوستلو لپاره وکیل جوړ کړی وي] تُقْبَلُ فِي قَصْرِ يَدِهِ نو دا بیّنه به د وکیل د قبضې د ناقص والي په باره کې قبلول کیږي حَتّٰى يَحْضُرَ الْغَائِبُ تر دې چې غائب [مؤکل] حاضر سي اسْتِحْسَانًا د استحسان په توګه [یعنې دا حکم استحساناً دی] دُوْنَ الْعِتْقِ وَالطَّلَاقِ نه په آزادۍ او طلاق کې [یعنې د آزادېولو او طلاقېدلو په باره کې به دا بیّنه نه قبلول کیږي].

**اللغات**: ﴿عتاق﴾ آزادي، آزادول. ﴿أقامت﴾ قائمول، درول، پېشول.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی د خپلې ښځې د راوستلو یا د خپل غلام یا مینځې د راوستلو لپاره بل څوک وکیل جوړ کړي، لېکن کله چې وکیل د ښځې یا نورو د راوستلو لپاره ولاړ سي نو ښځه د وکیل په خلاف دا بیّنه پېش کړي چې زما خاوند (مؤکل) ما ته طلاق راکړی دی، یا غلام او مینځه دا بیّنه پېش کړي چې مؤکل موږ آزاد کړي یو، نو په دې صورت کې به هم د طلاقېدلو او آزادېدلو په هکله بیّنه نه قبلول کیږي بلکې د مؤکل تر حاضرېدلو پورې به د مذکوره کسانو حکم موقوف پرېښوول کیږي. لېکن د دې بیّنې په وجه به د وکیل د قبضې حق ناقص او کمزوري ګرځي او هغه به د مذکوره کسانو د بېولو حقدار نه وي. او کله چې مؤکل حاضر سي، نو دا دعویٰ او مقدمه به له نوي سره شروع کیږي.

## د مؤکل په خلاف د وکیل اقرار کول (حکم اوتفصیل)

قَالَ: وَإِذَا أَقَرَّ الْوَكِيلُ بِالْخُصُومَةِ عَلَى مُوَكِّلِهِ عِنْدَ الْقَاضِي فرمايي: او كله چي وكيل بالخصومت د قاضي مخته د خپل مؤکل په خلاف اقرار وکړي جَازَ إِقْرَارُهُ عَلَيْهِ نو د مؤکل په خلاف د هغه اقرار جائز دی وَلَا يَجُوزُ عِنْدَ غَيْرِ الْقَاضِي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ اسْتِحْسَانًا او له قاضي څخه بغير د بل چا مخته [د مؤکل په خلاف اقرار کول] د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نیز استحساناً جائز نه دي إِلَّا أَنَّهُ يَخْرُجُ عَنِ الْوَكَالَةِ لیکن [په دې سره] وکیل له وکالت څخه وځي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ ❁: يَجُوزُ إِقْرَارُهُ عَلَيْهِ وَإِنْ أَقَرَّ فِي غَيْرِ مَجْلِسِ الْقَضَاءِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د مؤکل په خلاف د وکيل اقرار جائز دی که څه هم د قاضي له مجلس څخه بغير بل ځای هغه اقرار وکړي وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ فِي الْوَجْهَيْنِ امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي په دواړو صورتونو کي جائز نه دی وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ أَوَّلًا او همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اول قول دی وَهُوَ الْقِيَاسُ او همدا قياس دی لِأَنَّهُ مَأْمُورٌ بِالْخُصُومَةِ ځکه چي وکيل ته د خصومت حکم سوی دی وَهِيَ مُنَازَعَةٌ او خصومت جنګ [او دعویٰ پېښول] دي [يعني "خصومت" د يو حق په باره کي دعویٰ پېښولو او جنګ وجنجال کولو ته وايي] وَالْإِقْرَارُ يُضَادُّهُ او اقرار کول د دې ضد دی لِأَنَّهُ مُسَالَمَةٌ ځکه چي اقرار صلح ده وَالْأَمْرُ بِالشَّيْءِ لَا يَتَنَاوَلُ ضِدَّهُ او د يو شي حکم د هغه ضد لره نه شامليږي وَلِهَذَا لَا يَمْلِكُ الصُّلْحَ وَالْإِبْرَاءَ او په همدې وجه وکيل د صلح کولو او بري کولو نه مالک کيږي وَيَصِحُّ إِذَا اسْتَثْنَى الْإِقْرَارَ او كله چي مؤکل د اقرار استثناء وکړي نو دا [هم] صحيح دی [يعني په دې صورت کي هم توکيل صحيح دی] وَكَذَا لَوْ وَكَّلَهُ بِالْجَوَابِ مُطْلَقًا او همدارنګه که مؤکل يو څوک د مطلق جواب ورکولو وکيل جوړ کړي يَتَقَيَّدُ بِجَوَابٍ هُوَ خُصُومَةٌ نو دا توکيل [وکيل جوړول] په جواب سره يعني په خصومت سره مقيد کيږي [يعني په دې صورت کي وکيل صرف خصومت کولای سي لیکن د مؤکل په خلاف اقرار نه سي کولای] لِجَرَيَانِ

---

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، اذ هو الاستحسان كما لا يخفى، وكذا ذكر في الدر المختار (ج:۴، ص:۴۵۹)، ومجمع الأنهر (ج:۳، ص:۳۳۴). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۶۳]

الْعَادَةِ بِذٰلِكَ ځکه په همدې باره کې عادت جاري دی وَلِهٰذَا يُخْتَارُ فِيهَا الْأَهْدٰى فَالْأَهْدٰى او له همدې وجهې په خصومت کې هغه کس اختيارول کيږي کوم چې [په خصومت] پوه [او ماهر] وي او بيا چې تر هغه پوه وي [يعني په همدې وجه د خصومت کولو او دعوىٰ پېشولو لپاره هغه کس اختيارول کيږي کوم چې په دې باره کې زيات پوه او ماهر وي] وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّ التَّوْكِيلَ صَحِيحٌ قَطْعًا د استحسان دليل دا دی چې توکيل بالکل صحيح دی وَصِحَّتُهُ يَتَنَاوَلُهُ مَا يَمْلِكُهُ قَطْعًا او د دې صحيح والی هغه شي لره شامليږي چې مؤکل يقيناً د هغه مالک وي وَذٰلِكَ مُطْلَقُ الْجَوَابِ او هغه مطلق جواب ورکول دي [يعني اقرار هم او انکار هم] دُونَ أَحَدِهِمَا عَيْنًا نه له دوی څخه يو په مُتعيّنه توګه وَطَرِيقُ الْمَجَازِ مَوْجُودٌ او [دلته] د مجاز طريقه موجود ده عَلٰى مَا نُبَيِّنُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى چې هغه به موږ انشاء الله [وروسته] بيان کړو فَيُصْرَفُ إِلَيْهِ نو ځکه توکيل به د مجاز [يعني د مطلق جواب] وطرف ته ګرځول کيږي تَحَرِّيًا لِلصِّحَّةِ قَطْعًا په يقيني توګه د صحيح والي د طلب کولو لپاره [يعني د دې لپارهٔ چې د مؤکل کلام او د هغه توکيل په يقيني توګه صحيح وګرځي].

**اللغات**: ﴿يُضَادهُ﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: يو شی د بل شي ضد کېدل، مخالف کېدل. ﴿لا يتناول﴾ د تفاعل د باب نفي صيغه ده: شامليدل. ﴿أهدیٰ﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: هدايت يافته، لاره موندنکی، مراد ځني هغه کس دی چې د خصومت او دعوىٰ پېشولو په ترتيب ښه پوهيږي او په دې باره کې زيات ماهر وي، ﴿تحرّی﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: طلب کول ("تحرّي" په اصل کې "طلبُ الأحرىٰ" ته وايي يعني د زيات مناسب او غوره شي طلب کول).

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که وکيل بالخصومت د قاضي مخته د خپل مؤکل په خلاف پر مال د قبضه کولو اقرار وکړي (مثلا هغه داسې ووايي: مؤکل چې زه د کوم قرض د ثابتولو او دعوىٰ پېشولو وکيل جوړ کړی يم، پر هغه قرض مؤکل مخکې لا قبضه کړې ده)، نو د هغه دا إقرار جائز او صحيح دی، لېکن که وکيل له قاضي څخه بغير د بل چا مخته داسې اقرار وکړي، نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز استحساناً دا جائز نه دی، خو بيا هم د دې اقرار په وجه وکيل له وکالت څخه وځي او تر دې وروسته هغه د مدعي يعني د مؤکل له طرفه پر مال د قبضه کولو حقدار نه پاتيږي.

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې د مؤکل په خلاف د وکيل اقرار جائز دی، برابره ده هغه د قاضي مخته اقرار وکړي يا له قاضي څخه بغير د بل چا مخته اقرار وکړي، په هر صورت کې د هغه اقرار جائز او صحيح دی.

د امام شافعي او امام زفر رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چې د مؤکل په خلاف د وکيل اقرار هيڅکله هم جائز نه دی، برابره ده هغه د قاضي مخته اقرار وکړي، يا بل ځای اقرار وکړي، او همدا د قياس تقاضا هم ده.

**دليــــل**: د قياس (کوم چې د امام شافعي او امام زفر رَحِمَهُمَا الله قول دی) دليل دا دی چې وکيل بالخصومت د جنګ او دعوې پېشولو وکيل وي، حال دا چې د اقرار مطلب صلح کول (او تسليمول) دي، او قاعده دا ده چې د هيڅ شي حکم د هغه ضد لره نه شامليږي، نو ځکه دلته به وکيل بالخصومت ته د خصومت د ضد يعني د اقرار کولو حق نه وي او که هغه د خپل مؤکل په خلاف اقرار کړي نو د هغه اقرار به جائز نه وي، برابره ده هغه د قاضي مخته اقرار وکړي يا بل ځای اقرار وکړي. او څرنګه چې اقرار د خصومت ضد دی، همداسې صلح کول او مدعیٰ عليه بري کول هم د خصومت ضد دی، لهذا وکيل چې څرنګه د مؤکل په خلاف د اقرار کولو ملکيت (اختيار) نه لري، همداسې د مدعیٰ عليه سره د صلح کولو او له قرض څخه د هغه د بري کولو ملکيت هم نه لري.

ويصح إذا استثنى الإقرار إلخ: په دې عبارت سره هم د دې خبرې دليل بيان سوی دی چې د مؤکل په خلاف د وکيل اقرار جائز نه دی، حاصل يې دا دی چې که مؤکل له توکيل بالخصومت څخه د اقرار استثناء وکړي، يعني وکيل ته داسې ووايي: "زه پر دې شرط تا وکيل بالخصومت جوړوم چې ته به زما په خلاف د هيڅ شي اقرار نه کوې"، نو د دې استثناء باوجود هم دا توکيل (توکيل بالخصومت) صحيح دی، لهذا د توکيل صحيح کېدل د دې خبرې ښکاره دليل دی چې اقرار د توکيل بالخصومت د لوازماتو څخه نه دی او توکيل بالخصومت هغه لره شامل نه دی.

د دې تائيد په دغه مسئله سره هم کيږي چې که يو سړی بل څوک مطلقاً د جواب ورکولو وکيل جوړ کړي نو دا توکيل په خصومت يعني په انکار سره مقيد کيږي او د عرف او عادت پر بناء دغه وکيل ته د انکار حق هم سته، لېکن د اقرار حق هغه ته نسته، ځکه په عرف کې د مطلق جواب ورکولو توکيل خو په انکار سره مقيد وي، لېکن په اقرار سره مقيد نه وي. په همدې وجه د جواب ورکولو او خصومت لپاره داسې کس اختيارول کيږي کوم چې په دې باره کې ښه ماهر وي او پر بحث ومباحثه قادر وي.

وجه الاستحسان إلخ: د استحسان (کوم چې د طرفينو قول دی) دليل دا دی چې توکيل بالخصومت خو په يقيني او قطعي توګه صحيح دی او د هغه صحيح والی هغه شي لره شامل دی چې مؤکل د هغه ملکيت (اختيار) لري، او مؤکل د مطلق جواب ملکيت لري چې په هغه کې اقرار هم شامل دی او انکار هم شامل دی. او دا معلومه خبره ده چې وکيل د مؤکل نائب وي، لهذا کله چې مؤکل د اقرار او نکار

دواړو مالک دی نو د هغه نائب به هم د دواړو مالک وي، او کله چي مؤکل په مُتعيّنه توګه ديوه شي يعني د انکار يا اقرار مالک نه وي، نو د هغه وکيل به هم په مُتعيّنه توګه د انکار يا اقرار مالک نه وي. او له توکيل بالخصومت څخه مطلقاً جواب مرادول مجاز دی او د خصومت او مطلق جواب په مينځ کي د مجاز طريقه هم موجود ده او هغه په دې توګه چي خصومت (دعویٰ کول) د جواب ورکولو سبب دي او جواب ورکول مسبب دي، او تاسو ته به معلومه وي چي سبب ذکر کول او له هغه څخه مسبب مرادول د مجاز له طريقو څخه يو ښکاره طريقه ده، نو ځکه توکيل بالخصومت به مجازاً د مطلق جواب ورکولو وطرفِ ته ګرځول کيږي، د دې لپاره چي د مؤکل کلام په قطعي توګه صحيح وګرځي.

## د پورتني مسئلې نور وضاحت

وَلَوِ اسْتَثْنَى الْإِقْرَارَ او که چيري مؤکل د اقرار استثناء وکړي فَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ لَا يَصِحُّ نو له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي دا استثناء صحيح نه ده لِأَنَّهُ لَا يَمْلِكُهُ ځکه چي مؤکل د استثناء کولو مالک نه دی وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يَصِحُّ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي استثناء کول صحيح دي لِأَنَّ لِلتَّنْصِيصِ زِيَادَةَ دَلَالَةٍ عَلَى مِلْكِهِ إِيَّاهُ ځکه چي صراحت کول [يعني په صراحت سره استثناء کول] پر دې خبره زيات [ښکاره] دلالت کوي چي مؤکل د انکار مالک دی وَعِنْدَ الْإِطْلَاقِ يُحْمَلُ عَلَى الْأَوْلَى او د مطلقوالي [مطلق توکيل] په وخت کي به پر اولیٰ حمل کيږي وَعَنْهُ أَنَّهُ فَصَلَ بَيْنَ الطَّالِبِ وَالْمَطْلُوبِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دا روايت [هم] سوی دی چي هغه د مدعي او مدعیٰ عليه په مينځ کي فرق کړی دی وَلَمْ يُصَحِّحْهُ فِي الثَّانِي او په دويم [يعني په مدعیٰ عليه] کي هغه استثناء صحيح نه ده ګرځولې لِكَوْنِهِ مَجْبُورًا عَلَيْهِ ځکه چي مدعیٰ عليه د انکار پر پرېښوولو مجبوره وي وَيُخَيَّرُ الطَّالِبُ فِيهِ او مدعي ته په دې باره کي اختيار وي فَبَعْدَ ذٰلِكَ يَقُولُ أَبُو يُوسُفَ: إِنَّ الْوَكِيلَ قَائِمٌ مَقَامَ الْمُوَكِّلِ بيا امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي وکيل د مؤکل قائم مقام دی وَإِقْرَارُهُ لَا يَخْتَصُّ بِمَجْلِسِ الْقَضَاءِ او د مؤکل اقرار د قاضي د مجلس سره خاص نه وي فَكَذَا إِقْرَارُ نَائِبِهِ نو همداسي به د هغه د نائب [يعني د وکيل] اقرار هم د قاضي د مجلس سره خاص نه وي وَهُمَا يَقُولَانِ: إِنَّ التَّوْكِيلَ يَتَنَاوَلُ جَوَابًا يُسَمَّى خُصُومَةً حَقِيقَةً أَوْ مَجَازًا او طرفين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي توکيل بالخصومت [د خصومت وکيل جوړول] داسي جواب لره شامليږي کوم چي په حقيقت

كي خصومت دى يا مجازاً خصومت دى وَالْإِقْرَارُ فِي مَجْلِسِ الْقَضَاءِ خُصُومَةٌ مَجَازًا او د قاضي په مجلس كي اقرار كول مجازاً خصومت دى إِمَّا لِأَنَّهُ خَرَجَ فِي مُقَابَلَةِ الْخُصُومَةِ يا خو په دې وجه چي دا اقرار د خصومت په مقابله كي واقع سوى دى أَوْ لِأَنَّهُ سَبَبٌ لَهُ يا په دې وجه چي خصومت د اقرار سبب دى لِأَنَّ الظَّاهِرَ إِتْيَانُهُ بِالْمُسْتَحَقِّ عِنْدَ طَلَبِ الْمُسْتَحَقِّ ځكه ښكاره همدا ده چي د مستحق [حقدار كس] د مطالبې په وخت كي به په مستحق سره جواب وركول كيږي [په بله وينا: ځكه ښكاره همدا ده چي په مستحق سره به راتګ كوي (يعني اقرار به كوي) د مستحق د طلب كولو په وخت كي (يعني د خپل حق غوښتلو په وخت كي)] وَهُوَ الْجَوَابُ فِي مَجْلِسِ الْقَضَاءِ او مستحق د قاضي په مجلس كي جواب وركول دي فَيَخْتَصُّ بِهِ نو ځكه جواب وركول [يعني اقرار كول] به د قاضي د مجلس سره خاص وي لٰكِنْ إِذَا أُقِيمَتِ الْبَيِّنَةُ عَلَى إِقْرَارِهِ فِي غَيْرِ مَجْلِسِ الْقَضَاءِ لېكن كله چي د قاضي له مجلس څخه بغير بل ځاى د وكيل پر اقرار كولو بيّنه پېش كړى سي يَخْرُجُ مِنَ الْوِكَالَةِ نو [په دې صورت كي] وكيل له وكالت څخه وځي حَتّٰى لَا يُؤْمَرَ بِدَفْعِ الْمَالِ إِلَيْهِ حتى چي [په دې وجه] هغه ته به د مال وركولو حكم نه كيږي لِأَنَّهُ صَارَ مُنَاقِضًا ځكه چي هغه مناقض [تناقض كونكى] وګرځيدى وَصَارَ كَالْأَبِ أَوِ الْوَصِيِّ إِذَا أَقَرَّ فِي مَجْلِسِ الْقَضَاءِ او داسي سو لكه پلار يا وصي چي د قاضي په مجلس كي اقرار وكړي لَا يَصِحُّ وَلَا يُدْفَعُ الْمَالُ إِلَيْهِ نو [په داسي صورت كي هم] اقرار نه صحيح كيږي او هغه [يعني پلار يا وصي] ته به مال نه وركول كيږي.

**اللغات**: ﴿تنصيص﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: صراحت كول، په ښكاره توګه ذكر كول، په ښكاره لفظو كي ذكر كول. ﴿طالب﴾ مراد څني مدعي دى، ځكه چي هغه مطالبه كوي. ﴿مطلوب﴾ مراد څني مدعیٰ عليه دى، ځكه چي مطالبه له هغه څخه كيږي. ﴿يخير﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: اختيار كول. ﴿إتيان﴾ د ضرب د باب مصدر دى: راتلل، په يو شي سره راتګ كول، يو كار كول. (معجم وسيط)

**تشريح**: دا عبارت د مخكني عبارت تتمه ده، او د دې تعلق د مخكني عبارت د "وَيَصِحُّ إِذَا اسْتَثْنَى الْإِقْرَارَ إلخ" سره دى. حاصل يې دا دى چي امام شافعي او امام زفر رَحِمَهُمَا الله چي له توكيل

بالخصومت څخه د اقرار استثناء کړې ده، دا موږ نه تسليموو لکه څرنګه چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز دا صحيح نه دي؛ ځکه چي مؤکل د هغه مالک نه دی، ځکه که مؤکل د اقرار د استثناء کولو مالک وګرځول سي نو له دې څخه به دا خبره لازمه سي چي مؤکل دي فقط د انکار مالک وي او پر هره موقع دي هغه انکار کوي برابره ده هغه پر حق وي او که پر ناحقه، حال دا چي شرعاً دا صحيح نه دي.

له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي د مؤکل له طرفه د اقرار استثناء کول صحيح دي؛ ځکه د اقرار د استثناء صراحت کول د دې خبري ښکاره دليل دی چي مؤکل د انکار مالک دی، او کله چي هغه د انکار مالک دی نو ښکاره خبره ده چي هغه ته به دا حق هم وي چي بل څوک د انکار مالک جوړ کړي. لېکن که توکيل بالخصومت مطلق وي او په دې کي د اقرار او انکار هيڅ تفصيل نه وي، نو دا توکيل به پر اولیٰ او اعلیٰ توکيل حمل کيږي، او اولیٰ توکيل دا دی چي هغه پر مطلق جواب حمل کړی سي کوم چي انکار او اقرار دواړو لره شامل دی.

وعنه إلخ: او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دا روايت هم سوی دی چي هغه د مدعي او مدعیٰ عليه په مينځ کي فرق کړی دی، په دې توګه چي که د توکيل بالخصومت وکيل د مدعي له طرفه وي نو د مدعي لپاره د اقرار استثناء کول صحيح دي، لېکن که دا وکيل د مدعیٰ عليه له طرفه وي نو د مدعیٰ عليه لپاره د اقرار استثناء کول صحيح نه دي؛ ځکه چي مدعي ته په اصل خصومت کي د انکار او اقرار دواړو اختيار وي، لېکن مدعیٰ عليه په انکار کولو کي مجبوره وي، او د مجبوره کس فعل معتبر نه دی، نو ځکه د مدعیٰ عليه اقرار به هم معتبره نه وي.

فبعد ذلك إلخ: له دې ځايه د اختلاف و طرف ته رجوع کوي، حاصل يې دا دی چي کله دا خبره ثابته سوه چي له توکيل بالخصومت څخه مطلق جواب مراد دی، نو بيا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د وکيل بالخصومت لپاره د قاضي مخته هم د مؤکل په خلاف اقرار کول صحيح دي او بل ځای هم صحيح دي؛ ځکه چي وکيل د مؤکل نائب وي او مؤکل چي د کوم کار مالک وي، وکيل هم د هغه کار مالک وي (يعني مؤکل چي د کوم کار ملکيت [اختيار] لري. وکيل هم د هغه کار ملکيت لري)، او مؤکل هر ځای د اقرار کولو مالک دی (يعني د قاضي په مجلس کي هم اقرار کولای سي او بل ځای هم)، نو ځکه د هغه نائب يعني وکيل به هم هر ځای د دې مالک وي.

لېکن څرنګه چي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا صحيح نه دي چي وکيل د قاضي له مجلس څخه بغير بل ځای د مؤکل په خلاف اقرار وکړي؛ ځکه توکيل بالخصومت هغه جواب لره شامليږي کوم چي حقيقتاً خصومت دی يعني انکار او هغه جواب لره هم شامليږي کوم چي مجازاً خصومت

دي يعني اقرار، نو ځکه وکيل بالخصومت اقرار هم کولای سي او انکار هم کولای سي، مګر اقرار کوم چي مجازاً خصومت دی هغه صرف د قاضي په مجلس کي خصومت ګرځي، او د قاضي له مجلس څخه بغير بل ځای هغه هيڅ ډول خصومت نه ګرځي، نو په همدې وجه د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د قاضي له مجلس څخه بغير بل ځای د مؤکل په خلاف د وکيل اقرار معتبر نه دی.

پاته سو دا سوال چي اقرار د قاضي په مجلس کي څنګه مجازاً خصومت ګرځي، نو د هغه جواب دا دی چي يا خو په دې وجه د قاضي په مجلس کي اقرار مجازاً خصومت ګرځي چي هغه د خصومت په مقابله کي واقع سوی دی، او څرنګه چي د خصومت او اقرار په مينځ کي تقابل سته، نو ځکه له دې دواړو (متقابلينو) څخه د يوه اطلاق پر بل جائز او صحيح دی.

او يا په دې وجه چي خصومت د اقرار سبب دی او اقرار يې مسبب دی، نو ځکه مسبب يعني اقرار د سبب په نامه سره نومول سوی دی او هغه ته يې نسبت سوی دی. لېکن دا اقرار د قاضي د مجلس سره خاص دی، ځکه کله چي حقدار کس د خپل حق طلب او غوښتنه وکړي نو داسي جواب به ورکول کيږي چي دئ د هغه مستحق دی، او مستحق هماغه جواب دی کوم چي د قاضي د مجلس سره خاص وي (په بله وينا دا چي وکيل صرف د قاضي په مجلس کي د مؤکل د حق مطالبه او غوښته کړې ده نو ځکه صرف د قاضي په مجلس کي به جواب ورکوي [يعني اقرار به کوي])، نو ځکه موږ (طرفين) وايو چي د وکيل دا اقرار صرف د قاضي په مجلس کي صحيح او معتبر دی.

همدا وجه ده که مؤکل پر دې خبره بيّنه پېش کړي چي وکيل د قاضي له مجلس څخه بغير بل ځای اقرار کړی دی، نو د هغه اقرار نه معتبر کيږي او وکيل له وکالت څخه وځي نو ځکه د مؤکل مال به هغه ته نه ورکول کيږي؛ ځکه چي اوس د هغه اقرار غير معتبر وګرځېدی، لهذا که موږ اوس هغه وکيل بالانکار وشمېرو، نو د هغه په کلام کي به تناقض وي چي اول هغه اقرار کړی دی او اوس انکار کوي، او که هغه وکيل بالاقرار وشمېرو، نو هغه به د مطلق جواب وکيل نه وي بلکي د مقيد جواب وکيل به وي، حال دا چي مؤکل هغه د مطلق جواب وکيل جوړ کړی دی، لهذا اوس د هغه د وکيل پاتېدلو هيڅ صورت پاته نه سو، نو ځکه هغه به له وکالت څخه وځي.

د دې مثال داسي دی لکه د صغير پلار يا وصي چي پر مدعیٰ عليه د مال نه واجبېدلو اقرار وکړي (مثلا پلار داسي ووايي چي پر مدعیٰ عليه زما د کوچني ځوی يا زما د کوچني لور هيڅ قرض نسته)، يا مدعیٰ عليه له مال واجبېدلو څخه انکار وکړي او د صغير پلار يا وصي د هغه تصديق وکړي، نو د پلار يا د وصي دا تصديق او اقرار د صغير په خلاف صحيح نه دی، همدا وجه ده که وروسته په يو طريقه سره د صغير لپاره پر مدعیٰ عليه مال ثابت او واجب سي، نو بيا پلار يا وصي لره د هغه مال د

اخیستلو حق نسته؛ ځکه چې دوی یو ځل له هغه مال څخه انکار کړی دی. لهذا وروسته به د دوی لپاره د هغه اقرار کول څنګه صحیح وي!؟ (ځکه ښکاره خبره ده چې دا صحیح نه دي چې یو ځل انسان دیو شي انکار وکړي او بیا یې اقرار وکړي)، همداسې په پورتنۍ مسئله کې هم چې کله وکیل یو ځل د مؤکل په خلاف اقرار وکړي، نوروسته به د دې مؤکل په حق کې د هغه انکار څنګه صحیح او معتبر وي!؟.

## کفیل د قرض اخیستلو وکیل جوړول

قَالَ: وَمَنْ كَفَلَ بِمَالٍ عَنْ رَجُلٍ فرمايي: او كه څوک د يو سړي له طرفه د مال كفيل سي فَوَكَّلَهُ صَاحِبُ الْمَالِ بِقَبْضِهِ عَنِ الْغَرِيمِ بیا د مال خاوند له مقروض څخه د مال قبضه کولو [اخیستلو] لپاره هغه [کفیل] وکیل جوړ کړي لَمْ يَكُنْ وَكِيلًا فِي ذَٰلِكَ أَبَدًا نو کفیل په دې باره کې هیڅکله هم وکیل نه ګرځي لِأَنَّ الْوَكِيلَ مَنْ يَعْمَلُ لِغَيْرِهِ ځکه وکیل هغه کس ته وايي کوم چې د بل چا لپاره کار کوي وَلَوْ صَحَّحْنَاهَا او که موږ دا وکالت صحیح وګرځوو صَارَ عَامِلًا لِنَفْسِهِ فِي إِبْرَاءِ ذِمَّتِهِ نو هغه به د خپل ذمې [خپل ځان] په بري کولو کې د ځان لپاره کونکی وګرځي فَانْعَدَمَ الرُّكْنُ نو [د وکالت] رکن به موجود نه سي وَلِأَنَّ قَبُولَ قَوْلِهِ مُلَازِمٌ لِلْوَكَالَةِ او ځکه چې د وکیل د قول مقبول کېدل [معتبر کېدل] د وکالت لپاره لازم دي لِكَوْنِهِ أَمِينًا ځکه چې وکیل امین وي وَلَوْ صَحَّحْنَاهَا او که موږ وکالت صحیح وګرځوو لَا يُقْبَلُ نو د هغه قول به مقبول [معتبر] نه وي لِكَوْنِهِ مُبَرِّئًا نَفْسَهُ ځکه چې [په دې صورت کې] هغه به د خپل ځان بري کونکی وي فَيَنْعَدِمُ بِانْعِدَامِ لَازِمِهِ نو ځکه د خپل لازم د معدوم کېدلو [نه موجودېدلو] په وجه به توکیل [هم] معدوم کیږي وَهُوَ نَظِيرُ عَبْدٍ مَدْيُونٍ أَعْتَقَهُ مَوْلَاهُ او دا د هغه مقروض غلام په څېر دي کوم چې یې خپل مالک آزاد کړي حَتَّىٰ ضَمِنَ قِيمَتَهُ لِلْغُرَمَاءِ تر دې چې مالک د قرضخواهانو لپاره د هغه د قیمت ضامن سي [مطلب دا چې په دې صورت کې د قرض غوښتونکو لپاره پر مالک د غلام د قیمت ضمان (تاوان) واجبیږي] وَيُطَالِبُ الْعَبْدَ بِجَمِيعِ الدَّيْنِ او مالک به [بیا] له غلام څخه د ټوله قرض مطالبه کوي فَلَوْ وَكَّلَهُ الطَّالِبُ بِقَبْضِ الْمَالِ عَنِ الْعَبْدِ نو که [په داسې صورت کې] قرضخواه له غلام څخه د مال قبضه کولو [اخیستلو] لپاره هغه غلام وکیل جوړ کړي كَانَ بَاطِلًا تو دا توکیل به باطل وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ بیان کړی.

**اللغات**: ﴿الغريم﴾ دا لفظ له اضدادو څخه دی، مقروض (پور وړي) ته هم وايي، او قرضخواه ته هم وايي، قرضخواه د قرض مالک (قرض وركونكي) ته وايي كوم چي وروسته د خپل قرض غوښتنه كوي، دلته اوله معنیٰ مراد ده يعني مقروض، ﴿إبراء﴾ د افعال د باب مصدر دی: بري كول، خلاصول، ﴿ينعدم﴾ د انفعال د باب مضارع ده: نيستي كېدل، نه موجودېدل.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی كه پر يو سړي (مثلا پر خالد) د خلكو قرضونه باندي وي او د هغه له طرفه بل سړی كفيل بالمال سي يعني بل سړی د هغه خلكو (قرضخواهانو) د قرض اداء كولو كفالت او ذمه واري واخلي، بيا صاحب المال يعني له قرضخواهانو څخه يو قرضخواه دغه كفيل له مقروض (خالد) څخه د قرض اخيستلو وكيل جوړ كړي، نو دا وكالت صحيح نه دی او دا كفيل هيڅكله هم وكيل نه ګرځي، يعني برابره ده هغه په كفالت كي پاته وي يا له كفالت څخه بري كړی سي، لنډه دا چي كله كفيل د قرض اخيستلو وكيل جوړ كړی سي نو هغه هيڅكله هم وكيل نه ګرځي بلكي پر خپل كفالت باقي پاتيږي، دليل دا دی چي وكيل هغه كس ته وايي كوم چي د بل چا لپاره كار كوي، او كه چيري كفيل وكيل وګرځول سي، نو هغه به د خپل ځان لپاره كار كونكی وي او له دې وكالت څخه به هغه خپل ځان بري كړي او د وكالت چي كوم ركن دی يعني د بل چا لپاره كار كول هغه به موجود نه سي، نو ځكه دا توكيل صحيح نه دی.

د دې توكيل د نه صحيح كېدلو دويم دليل دا دی چي وكيل امين وي، او د اختلاف پر موقع د امين قول معتبر وي، نو ځكه د وكالت د صحيح والي لپاره د وكيل د قول مقبول والی (معتبر والی) شرط دی، او په داسي مسئله كي كه د كفيل توكيل صحيح وګرځول سي (يعني د هغه وكيل جوړېدل صحيح ومنل سي)، نو د خپل ځان په بري كولو كي به د كفيل قول معتبر وګرځي، حال دا چي د خپل ځان د بري كولو په باره كي هغه په خپل قول كي متهم دی، نو ځكه د هغه قول به معتبر او مقبول نه وي، او كله چي د هغه قول معتبر نه دی نو توكيل به هم صحيح نه وي، ځكه چي د توكيل د صحت لپاره د وكيل د قول معتبر كېدل او مقبول كېدل شرط دي، او كله چي شرط نسته نو مشروط يعني د توكيل صحت (صحيح والي) به هم معدوم كيږي او توكيل به نه صحيح كيږي.

د دې مثال داسي دی لكه يو مالک چي خپل غلام ته د تجارت او كاروبار اجازه وركړې وي او بيا پر دې غلام د خلكو قرضونه باندي سي او مالک هغه آزاد كړي، نو مالک د دې غلام د قيمت په اندازه د هغه خلكو (قرضخواهانو) لپاره ضامن كيږي (يعني د غلام چي څومره قيمت دی هغومره قرض به اداء كوي) او وروسته به مالک له غلام څخه د ټوله قرض مطالبه كوي، لېكن كه قرضخواهان دا مالک له غلام څخه د خپل قرض اخيستلو وكيل جوړ كړي، نو دا توكيل باطل دی؛ ځكه چي د غلام د قيمت په اندازه

مالک د قرضخواهانو لپاره ضامن دی، اوس که دا توکيل صحيح وګرځول سي (يعني د مالک وکيل جوړېدل صحيح ومنل سي)، نو مالک به په هغه مقدار کي له ضمان څخه د خپل ځان بري کونکي وګرځي او د مالک دا عمل به د خپل ځان لپاره وګرځي، حال دا چي د وکالت رکن د بل چا لپاره کار کول دي او هغه دلته موجود نه دی، نو ځکه په دې صورت کي هم توکيل باطل دی لکه څرنګه چي په پورتنۍ مسئله کي باطل دی. (احسن الهدايه)

## د غائب له طرفه د وکيل کېدلو دعویٰ کول

قَالَ: وَمَنِ ادَّعَى أَنَّهُ وَكِيلُ الْغَائِبِ فِي قَبْضِ دَيْنِهِ فرمايي: او که څوک دعویٰ وکړي چي زه د فلانکي غائب له طرفه د هغه پر قرض د قبضه کولو [قرض اخيستلو] وکيل يم فَصَدَّقَهُ الْغَرِيمُ او مقروض [پور وړي] د هغه تصديق وکړي أُمِرَ بِتَسْلِيمِ الدَّيْنِ إِلَيْهِ نو مقروض به هغه ته په قرض ورکولو سره امر کيږي [يعني مقروض ته به دا حکم کيږي چي مدعي ته قرض وسپاره!] لِأَنَّهُ إِقْرَارٌ عَلَى نَفْسِهِ ځکه چي دا پر خپل ځان [د خپل ځان په خلاف] اقرار کول دي لِأَنَّ مَا يَقْضِيهِ خَالِصُ مَالِهِ ځکه مقروض چي کوم مال [په قرض کي] اداء کوي هغه خالص د ده مال دی فَإِنْ حَضَرَ الْغَائِبُ فَصَدَّقَهُ بيا که غائب مؤکل حاضر سي او هغه د وکيل تصديق وکړي [نو صحيح ده] وَإِلَّا دَفَعَ إِلَيْهِ الْغَرِيمُ الدَّيْنَ ثَانِيًا کنې مقروض به مؤکل ته دويم وار قرض ورکوي [يعني که مؤکل د وکالت انکار وکړي، نو مقروض به هغه ته دوباره قرض ورکوي] لِأَنَّهُ لَمْ يَثْبُتِ الِاسْتِيفَاءُ حَيْثُ أَنْكَرَ الْوَكَالَةَ ځکه چي [د قرض] اخيستل ثابت نه سوه، ځکه مؤکل له وکالت څخه انکار وکړی [يعني کله چي مؤکل له وکالت څخه انکار وکړی، نو استيفاء ثابته نه سوه] وَالْقَوْلُ فِي ذَلِكَ قَوْلُهُ مَعَ يَمِينِهِ او په دې سلسله کي د قسم سره د مؤکل قول معتبر دی فَيَفْسُدُ الْأَدَاءُ نو ځکه [د مقروض] اداء کول به فاسد وي [يعني کوم مال چي مقروض وکيل ته ورکړی وي، هغه به صحيح نه وي] وَيَرْجِعُ بِهِ عَلَى الْوَكِيلِ إِنْ كَانَ بَاقِيًا فِي يَدِهِ او که د وکيل په قبضه کي هغه مال موجود وي [کوم چي مقروض وکيل ته ورکړی وي] نو مقروض به پر هغه د دې رجوع کوي [يعني مقروض به له وکيل څخه هغه مال واپس اخلي] لِأَنَّ غَرَضَهُ مِنَ الدَّفْعِ بَرَاءَةُ ذِمَّتِهِ ځکه چي د مقروض مقصد [وکيل ته] په مال ورکولو سره دا وو چي د مقرض ذمه بري سي [يعني مقروض په دې غرض سره وکيل ته مال ورکړی وو چي زه له قرض څخه بري سم او زما غاړي خلاصي سي] وَلَمْ تَحْصُلْ حالانکي د هغه دا مقصد

حاصل نه سو فَلَهُ أَنْ يَنْقُضَ قَبْضَهُ نو ځکه مقروض ته به دا حق وي چي د وکيل قبضه ماته کړي [يعني له هغه څخه خپل مال واخلي] وَإِنْ كَانَ ضَاعَ فِي يَدِهِ او که هغه مال د وکيل په قبضه کي ضايع سوی وي لَمْ يَرْجِعْ عَلَيْهِ نو مقروض به پر هغه رجوع نه کوي لِأَنَّهُ بِتَصْدِيقِهِ اعْتَرَفَ أَنَّهُ مُحِقٌّ فِي الْقَبْضِ ځکه چي مقروض د وکيل په تصديق کولو سره دا اقرار وکړی چي وکيل [پر مال] په قبضه کولو کي پر حق دی [يعني کله چي مقروض د وکيل تصديق وکړی نو ګواکي هغه دا اقرار وکړی...] وَهُوَ مَظْلُومٌ فِي هَذَا الْأَخْذِ او مقروض په دې کي [يعني قرضخواه ته د دوباره قرض ورکولو په وجه] مظلوم دی وَالْمَظْلُومُ لَا يَظْلِمُ غَيْرَهُ او مظلوم پر بل چا ظلم نه کوي.

**اللغات**: ﴿دَين﴾ قرض، قرضه، پور، ﴿غريم﴾ مراد ځني مقروض دی، کوم ته چي قرضدار او پور وړی هم ويل کيږي، ﴿حضر﴾ د نصر ماضي ده: حاضرېدل، موجودېدل، ﴿صدّقه﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: تصديق کول، رښتوني ګڼل.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی مثلاً ادريس دا دعویٰ وکړي چي پر زيد د خالد کوم قرض باندي دی زه د خالد له طرفه د هغه قرض د اخيستلو (قبضه کولو) وکيل يم او خالد په دې وخت کي حاضر نه وي او مقروض يعني زيد د ادريس د قول او دعویٰ تصديق هم وکړي، نو په دې صورت کي به مقروض (زيد) ته حکم کيږي چي د قرض په اندازه مال (پيسې) مدعي يعني ادريس ته ورکړي؛ ځکه قرضونه بامثالها اداء کيږي، لهذا مقروض چي مدعي ته کوم مال ورکوي، دا به خالص د هغه ذاتي مال وي، او څرنګه چي هغه د مدعي لپاره د دې مال اقرار او تصديق هم کړی دی، نو ځکه هغه به دا مال مدعي ته ورکوي، بيا چي کله قرضخواه (خالد) حاضر سي او د مدعي (ادريس) دعویٰ او وکالت صحيح وګرځوي، نو مقروض (زيد) له قرض څخه بري کيږي، لېکن که قرضخواه د وکالت انکار وکړي يعني داسي ووايي چي "ما ادريس د قرض اخيستلو وکيل نه دی جوړ کړی"، نو په دې صورت کي مقروض (زيد) له قرض څخه نه بري کيږي او هغه به قرضخواه (خالد) ته دوباره قرض ورکوي؛ ځکه کله چي قرضخواه د وکالت انکار وکړی نو د هغه له طرفه د قرض اخيستل ثابت نه سوه (يعني ګواکي وکيل [ادريس] د هغه لپاره قرض نه واخيستی)، او څرنګه چي له وکالت څخه په انکار کولو کي د قرضخواه (مؤکل) قول مع اليمين معتبر وي، نو ځکه په دې صورت کي به هم د هغه قول معتبر وي او مقروض چي وکيل ته کوم مال ورکړی وي هغه به فاسد وي او پر مقروض به دا لازم وي چي قرضخواه ته دوباره د قرض مال ورکړي.

او پاته سو دا مال کوم چي مقروض وکیل ته ورکړی دی، که چیري هغه د وکیل سره موجود وي نو مقروض به هغه له وکیل څخه واپس اخلي؛ ځکه مقروض د دې مقصد لپاره وکیل ته دا مال ورکړی وو چي له قرض څخه بري سي، لېکن هغه له قرض څخه بري نه سو، لهذا د هغه مقصد هم حاصل نه سو، نو ځکه هغه ته به دا حق وي چي له وکیل څخه خپل مال واپس واخلي. ها! که چیري هغه مال د وکیل سره موجود نه وي بلکي وکیل هغه مصرف کړی (ضایع کړی) وي، نو په دې صورت کي مقروض ته دا حق نسته چي له وکیل څخه مال واپس واخلي. ځکه د مال ورکولو په وخت کي هغه د وکیل د وکالت تصدیق وکړی او د وکیل اخیستل او قبضه کول یې پرحق ومنل، او دا تسلیم سوې خبره ده چي کوم کس په قبضه کولو او د مال په اخیستلو کي پر حق وي، له هغه څخه مقبوضه مال واپس نه اخیستل کیږي، نو ځکه په پورتني صورت کي به هم مقروض ته دا حق او اختیار نه وي چي له وکیل څخه هغه د قرض مال واپس واخلي. پاته سو دا اعتراض چي په دې صورت کي خو مقروض مظلوم وګرځېدی او دوباره د قرض اداء کولو په وجه هغه تاواني سو، نو د دې جواب دا دی چي که څه هم دلته مقروض تاواني سوی دی لېکن څرنګه چي دا تاوان د هغه د خپل عمل یعني د وکیل د تصدیق کولو په وجه هغه ته پېښ سوی دی، نو ځکه که مال د وکیل سره موجود وي نو مقروض ته به له وکیل څخه د هغه مال د واپس اخیستلو حق او اختیار نه وي، او که مال د وکیل سره موجود نه وي او مقروض مظلوم وګرځي، نو هغه ته به پر بل چا د ظلم کولو اختیار نه وي.

## د پورتني مسئلې نور وضاحت

قَالَ: إِلَّا أَنْ يَكُونَ ضَمَّنَهُ عِنْدَ الدَّفْعِ فرمايي: مګر دا چي مقروض د مال ورکولو په وخت کي وکیل ضامن [ذمه وار] ګرځولی وي لِأَنَّ الْمَأْخُوذَ ثَانِيًا مَضْمُونٌ عَلَيْهِ فِي زَعْمِهِمَا ځکه له مقروض څخه چي کوم مال دوباره اخیستل سوی دی هغه د [وکیل او مقروض] دواړو په ګومان کي پر قرضخواه مضمون دی [یعني د دواړو په ګومان کي پر قرضخواه د هغه ضمان (تاوان) لازم دی] وَهٰذِهِ كَفَالَةٌ أُضِيفَتْ إِلَى حَالَةِ الْقَبْضِ او دا داسي كفالت [کفیل کېدل] دي کوم چي د قبضې د حالت وطرف ته منسوب کړی سوي دي فَتَصِحُّ نو ځکه هغه صحیح دي بِمَنْزِلَةِ الْكَفَالَةِ بِمَا ذَابَ لَهُ عَلَى فُلَانٍ [او] دا د "ما ذاب له علی فلان" د کفالت په درجه کي دي [یعني لکه څرنګه چي داسي ویل صحیح دي: "پر فلانکي چي د چا قرض واجب سي زه د هغه کفیل یم". همداسي دا کفالت هم صحیح دی] وَلَوْ كَانَ الْغَرِيمُ لَمْ يُصَدِّقْهُ عَلَى الْوِكَالَةِ وَدَفَعَهُ إِلَيْهِ عَلَى ادِّعَائِهِ او که چیري مقروض پر وکالت د وکیل تصدیق نه وکړي او [فقط] د وکیل د

دعوې کولو په وجه هغه ته مال ورکړي فَإِنْ رَجَعَ صَاحِبُ الْمَالِ عَلَى الْغَرِيمِ نو که [په دې صورت کې] قرضخواه پر مقروض [دوباره] رجوع وکړي رَجَعَ الْغَرِيمُ عَلَى الْوَكِيلِ نو مقروض به پر وکيل رجوع کوي لِأَنَّهُ لَمْ يُصَدِّقْهُ عَلَى الْوَكَالَةِ وَإِنَّمَا دَفَعَهُ إِلَيْهِ عَلَى رَجَاءِ الْإِجَازَةِ ځکه چې مقروض د وکالت په هکله د وکيل تصديق نه وو کړی بلکې صرف د اجازت په اُميد يې هغه ته مال ورکړی وو [يعني په دې وجه يې وکيل ته د قرض مال ورکړی وو چې شايد قرضخواه به هغه ته د قرض اخيستلو اجازت ورکړی وي او هغه به يې د دې وکيل جوړ کړی وي] فَإِذَا انْقَطَعَ رَجَاؤُهُ لهذا کله چې د هغه اُميد ختم سو رَجَعَ عَلَيْهِ نو هغه به پر وکيل رجوع کوي وَكَذَا إِذَا دَفَعَهُ إِلَيْهِ عَلَى تَكْذِيبِهِ إِيَّاهُ فِي الْوَكَالَةِ او همدارنګه کله چې مقروض په وکالت کې د وکيل د تکذيب کولو په صورت کې هغه ته مال ورکړي وَهٰذَا أَظْهَرُ او دا صورت زيات ښکاره دی لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی وَفِي الْوُجُوهِ كُلِّهَا لَيْسَ لَهُ أَنْ يَسْتَرِدَّ الْمَدْفُوعَ حَتَّى يَحْضُرَ الْغَائِبُ او په دې ټولو صورتونو کې د غائب مؤکل له حاضرېدلو څخه مخکې مقروض ته دا اختيار نسته چې خپل ورکول سوی مال [له وکيل څخه] واخلي لِأَنَّ الْمُؤَدّٰى صَارَ حَقًّا لِلْغَائِبِ ځکه چې اداء کړی سوی [ورکول سوی] مال د غائب مؤکل حق ګرځېدلی دی إِمَّا ظَاهِرًا يا خو په ظاهري توګه [د هغه حق ګرځېدلی دی] أَوْ مُحْتَمَلًا يا په احتمالي توګه [يعني ياد دې احتمال سته چې دا د هغه ګرځېدلی دی] فَصَارَ كَمَا إِذَا دَفَعَهُ إِلَى فُضُولِيٍّ عَلَى رَجَاءِ الْإِجَازَةِ نو دا داسي سو لکه مقروض چې د اجازت په اُميد يو فضولي کس ته مال ورکړي لَمْ يَمْلِكِ الِاسْتِرْدَادَ لِاحْتِمَالِ الْإِجَازَةِ نو [په دې صورت کې] د اجازت د احتمال په وجه مقروض د واپس اخيستلو ملکيت [اختيار] نه لري وَلِأَنَّ مَنْ بَاشَرَ التَّصَرُّفَ لِغَرَضٍ او ځکه چې کوم څوک د يو مقصد لپاره يو تصرف وکړي لَيْسَ لَهُ أَنْ يَنْقُضَهُ مَا لَمْ يَقَعِ الْيَأْسُ عَنْ غَرَضِهِ نو د هغه لپاره دا صحيح نه دي چې دا تصرف مات کړي تر څو چې هغه له خپل مقصد څخه نا اميده نه سي [يعني تر څو چې هغه له خپل غرض او مقصد څخه نااُميده نه سي، تر هغه وخته هغه تصرّف نه سي ختمولای].

**اللغات**: ﴿ضمنه﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: ضامن او ذمه وار ګرځول، (ضمان پر لازمول)، ﴿ادعاء﴾ دعوىٰ، دعوه، ﴿تكذيب﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: دروغجن ګڼل، دروغجن ګرځول، ﴿ذاب﴾ د

نصر د باب ماضي ده، کله چي د دې باب په صله کي يو حق (مثلا قرض) ذکر سي، نو د "ثابتېدلو" او "واجبېدلو" معنیٰ ورکوي، ﴿رجاء﴾ اميد. ﴿يأس﴾ نا اميدي.

**تشريح**: مخکي دا مسئله ذکره سوه چي که مؤکل د وکالت انکار وکړي (چي ما مدعي وکيل نه دی جوړ کړی) او مقروض چي کوم د قرض مال وکيل ته ورکړی وي هغه ضايع سوی وي، نو په دې صورت کي مقروض ته دا حق نسته چي له وکيل څخه هغه واپس واخلي، اوس په دې عبارت کي دا مسئله ذکر کوي چي که مقروض د مال ورکولو په وخت کي له وکيل څخه ضمانت اخيستی وي يعني وکيل دا اقرار کړی وي چي که مؤکل ستا څخه دوباره مال واخلي نو زه ستا لپاره د هغه مال ضامن يم (يعني د هغه ضمان [تاوان] زه درکوم)، نو که په داسي صورت کي مؤکل د وکالت انکار وکړي او له مقروض څخه دوباره مال واخلي، نو مقروض به له وکيل څخه هغه مال واپس اخلي، برابره ده هغه مال د وکيل سره موجود وي او که نه وي؛ ځکه دغه مقروض خو يو وار وکيل ته مال ورکړی دی، اوس ښکاره خبره ده چي کله قرضخواه دوباره له هغه څخه مال واخلي نو د وکيل او مقروض په ګومان کي هغه مال مضمون دی، نو ځکه قرضخواه مضمون عليه دی او وکيل د هغه ذمه واري او ضمانت اخيستی دی، نو وکيل چي د مقروض لپاره د کوم ضمانت اقرار کړی دی هغه په حقيقت کي د وکيل له طرفه کفالت (کفيل کېدل) دي، يعني ګواکي وکيل مقروض ته داسي ويلي دي چي "که قرضخواه دوباره ستا څخه مال واخلي نو زه د هغه کفيل يم"، او داسي کفالت صحيح دی، مثلاً که يو څوک ووايي "پر فلاني کس چي د چا قرض واجب سي زه د هغه کفيل يم"، نو دا کفالت صحيح دی، لهذا په پورتنۍ مسئله کي به هم کفالت صحيح وي.

ولوکان الغريم إلخ: د دې حاصل دا دی چي که مقروض د وکيل د قول تصديق نه وکړي بلکي په دې باره کي سکوت اختيار کړي او فقط د وکيل د دعوې پر بناء هغه ته د قرض مال ورکړي او وروسته قرضخواه دوباره له مقروض څخه د قرض مال واخلي، نو په دې صورت کي هم مقروض ته دا حق سته چي له وکيل څخه هغه مال واپس واخلي؛ ځکه مقروض په دې اُميد او په دې مقصد وکيل ته د قرض مال ورکړی وو چي شايد قرضخواه به هغه د قرض اخيستلو وکيل جوړ کړی وي، لېکن کله چي قرضخواه د وکالت انکار وکړی او له مقروض څخه يې دوباره د قرض مال واخيستی نو د مقروض دغه اُميد او مقصد ختم سو، نو ځکه اوس به هغه ته دا حق او اختيار وي چي له وکيل څخه هغه د قرض مال واپس واخلي. همدارنګه که مقروض د وکيل تکذيب وکړي يعني مقروض هغه په خپل دعویٰ کي دروا غجن وګڼي او د هغه د وکالت انکار وکړي (چي ته قرضخواه د قرض اخيستلو وکيل نه يې جوړ کړی!) او بيا هغه ته د قرض مال ورکړي، نو په دې صورت کي هم مقروض ته دا حق سته چي له

وکیل څخه هغه مال واپس واخلي؛ ځکه چي په دې صورت کي هم د هغه اُمید ختم سو. او دا د تکذیب صورت له مخکنیو صورتونو څخه ښکاره دی (یعني د تکذیب په صورت کي مال واپس اخیستل د تصدیق مع التضمین او سکوت په صورتونو کي له مال واپس اخیستلو څخه زیات ښکاره دي)، ځکه د تکذیب په صورت کي د صراحت او دلالت دواړو په اعتبار سره د وکیل د تصدیق احتمال ختم سو (ځکه ښکاره خبره ده چي کله مقروض یو وار د هغه تکذیب وکړی نو بیا بالکل د هغه تصدیق نه سي کولای)، نو ځکه په دې صورت کي به په درجه اولیٰ مقروض ته له وکیل څخه د مال واپس اخیستلو حق وي.

وفي الوجوه كلها إلخ: په کومو صورتونو کي چي مقروض ته د مال واپس اخیستلو حق ورکول سوی دی، په هغه ټولو صورتونو کي د غائب مؤکل له حاضرېدلو څخه مخکي مقروض ته د واپس اخیستلو حق نسته؛ ځکه مقروض چي وکیل ته کوم مال ورکړی دی هغه د غائب مؤکل حق گرځېدلی دی، همدارنگه کله چي مقروض سکوت اختیار کړي یا هغه د وکیل تکذیب وکړي او وکیل ته مال ورکړي نو په دې صورت کي د دې احتمال سته چي هغه د غائب حق گرځېدلی دی، لهذا کله چي هغه د غائب حق دی، نو ښکاره خبره ده چي د غائب له حاضرېدلو څخه مخکي به د هغه مال په باره کي نه یو فیصله کیږي او نه به مقروض ته دا اختیار وي چي له وکیل څخه هغه واپس واخلي. د دې مثال داسي دی لکه مقروض چي یو فضولي کس (پردي سړي) ته په دې اُمید د قرض مال ورکړي چي شاید قرضخواه به هغه ته (د قرض اخیستلو) اجازت ورکړي وي او قرضخواه به له هغه څخه قرض واخلي، نو په دې صورت کي چي تر څو قرضخواه حاضر نه سي او له فضولي څخه د اخیستلو انکار نه وکړي (چي ته څوک یې!، زه ستا د لاس څخه قرض نه اخلم بلکي زه یې له مقروض څخه غواړم)، نو تر هغه وخته مقروض ته دا اختیار نسته چي له فضولي څخه د قرض مال واپس واخلي، همداسي په پورتني صورتونو کي هم چي تر څو مؤکل حاضر نه سي، تر هغه وخته مقروض ته دا اختیار نسته چي له وکیل څخه مال واپس واخلي.

دویم دلیل دا دی چي کله یو سړي د یو غرض او مقصد لپاره کار کړی وي، نو تر څو چي هغه د خپل غرض له پوره کېدلو څخه نا امیده نه سي، تر هغه وخته ده ته د خپل کار د ختمولو او تصرف ماتولو اختیار نسته. او څرنگه چي په پورتنی مسئله کي مقروض په دې غرض او په دې اُمید وکیل ته مال ورکړی دی چي زه له قرض څخه بري سم او زما غاړي خلاصي سي، لهذا تر څو چي هغه د دې غرض او مقصد له پوره کېدلو څخه نا امیده نه سي، تر هغه وخته ده ته د خپل تصرف ماتولو (یعني له وکیل څخه د مال واپس اخیستلو) اختیار نسته. او د غرض پوره کېدل او نه پوره کېدل هغه وخت معلومیږي کله چي قرضخواه حاضر سي، نو لنډه دا چي تر څو قرضخواه حاضر نه سي، تر هغه وخته مقروض ته دا اختیار نسته چي له وکیل څخه مال واپس واخلي.

## د امانت (وديعت) واپس اخيستلو د وکالت دعویٰ

وَمَنْ قَالَ إِنِّي وَكِيلٌ بِقَبْضِ الْوَدِيعَةِ او که څوک ووايي: چي زه [د دې] امانت د قبضه کولو وکيل يم فَصَدَّقَهُ الْمُودَعُ او مُودَع [امانت ساتونکی] د هغه تصديق وکړي لَمْ يُؤْمَرْ بِالتَّسْلِيمِ إِلَيْهِ نو مُودَع به هغه ته د امانت په ورسپارلو سره نه امر کيږي ايعني په دې صورت کي به مُودَع ته دا حکم نه کيږي چي مدعي ته امانت وسپاره!] لِأَنَّهُ إِقْرَارٌ بِمَالِ الْغَيْرِ ځکه چي دا د بل چا پر مال اقرار کول دي بِخِلَافِ الدَّيْنِ په خلاف د قرض وَلَوِ ادَّعَى أَنَّهُ مَاتَ أَبُوهُ وَتَرَكَ الْوَدِيعَةَ مِيرَاثًا لَهُ او که څوک دا دعویٰ وکړي چي زما پلار مړ سو او هغه [دا] امانت زما لپاره په ميراث کي پرېښوو وَلَا وَارِثَ لَهُ غَيْرُهُ حال دا چي له مدعي [ځوی] څخه بغير د هغه [ميّت] بل هيڅ وارث نه وي وَصَدَّقَهُ الْمُودَعُ او مُودَع د هغه تصديق وکړي أُمِرَ بِالدَّفْعِ إِلَيْهِ نو مُودَع به هغه ته د امانت په ورکولو سره امر کيږي لِأَنَّهُ لَا يَبْقَى مَالُهُ بَعْدَ مَوْتِهِ ځکه چي دا امانت د مودِع [ميّت] تر مرګ وروسته د هغه مال پاته نه سو [يعني کله چي مودِع (امانت ايښودونکی) مړ سو نو امانت مال د هغه له ملکيت څخه ووتی او د وارث (ځوی) وملکيت ته منتقل سو] فَقَدِ اتَّفَقَا عَلَى أَنَّهُ مَالُ الْوَارِثِ نو مُودَع او مدعي دواړو پر دې اتفاق وکړی چي هغه د وارث مال دی وَلَوِ ادَّعَى أَنَّهُ اشْتَرَى الْوَدِيعَةَ مِنْ صَاحِبِهَا او که څوک دعویٰ وکړي چي ما د امانت له خاوند [مودِع] څخه [دا] امانت رانيولی دی فَصَدَّقَهُ الْمُودَعُ او مُودَع د هغه تصديق وکړی لَمْ يُؤْمَرْ بِالدَّفْعِ إِلَيْهِ نو مودَع به مدعي ته په مال ورکولو سره نه امر کيږي [يعني هغه ته به دا حکم نه کيږي چي مدعي ته مال ورکړه!] لِأَنَّهُ مَا دَامَ حَيًّا كَانَ إِقْرَارًا بِمِلْكِ الْغَيْرِ ځکه تر څو چي مودِع ژوندی وي، دا به د بل چا د ملکيت اقرار کول وي لِأَنَّهُ مِنْ أَهْلِهِ ځکه چي مودِع د ملکيت اهل دی ايعني تر څو چي مودِع ژوندی وي، هغه د ملکيت دی اهل دی] فَلَا يُصَدَّقَانِ فِي دَعْوَى الْبَيْعِ عَلَيْهِ نو ځکه د مودِع په خلاف د بيع په دعویٰ کولو کي به د [مدعي او مودَع] دواړو تصديق نه کيږي.

**اللغات:** ﴿وديعة﴾ امانت، امانت مال. ﴿مودَع﴾ کوم چا ته چي امانت ايښوول سوی وي، هغه ته "مُودَع" وايي چي هغه ته په بله وينا "امانت ساتونکی (امين)" هم وايي. او چا چي امانت ورته ايښی وي يعني د امانت مالک، هغه ته "مُودِع" (بکسر الدال)" وايي. ﴿لم يؤمر﴾ د نصر له بابه د جحد صيغه ده: امر کول، حکم کول.

**تشريح: صورت د مسئلې**: دا دی که د زيد سره د خالد مال د امانت په توګه پروت وي، او ادريس دا دعوىٰ وکړي چي زه د خالد له طرفه پر دې امانت مال د قبضه کولو وکيل يم او مُودَع يعني زيد په دې باره کي د مدعي (ادريس) تصديق هم وکړي، نو د دغه تصديق باوجود به مودَع (زيد) ته دا حکم نه کيږي چي د امانت مال مدعي ته وسپاره!؛ ځکه چي د دې مال مالک مودِع (امانت اېښونکی) يعني خالد دی، لهذا د مودَع له طرفه د مدعي د قبضې تصديق کول په حقيقت کي داسي دي لکه د بل چا پر مال د قبضې اقرار کول، او بل چا پر مال د قبضې اقرار کول صحيح نه دي، او کله چي اقرار کول صحيح نه دي، نو ځکه دا حکم به هم نه کيږي چي مدعي ته امانت امال وسپارل سي.

د دې په خلاف که پر يو سړي قرض باندي وي، مثلاً د خالد پر زيد قرض باندي وي، بيا يو څوک دا دعوىٰ وکړي چي زه د قرضخواه (خالد) له طرفه پر دې قرض د قبضه کولو وکيل يم او مقروض (زيد) د هغه تصديق وکړي، نو په دې صورت کي به قاضي و مقروض ته حکم کوي چي قرض مدعي ته وسپاره!؛ ځکه چي قرضونه بامثالها اداء کيږي، لهذا د مقروض له طرفه د مدعي د دعوې او قبضې تصديق کول داسي دي لکه پر خپل ځان اقرار کول، او د خپل ځان په خلاف د انسان اقرار کول صحيح دي، نو ځکه په دې صورت کي به دا حکم کيږي چي قرض مدعي ته وسپارل سي.

ومن ادعى أنه إلخ: د دې حاصل دا دی که يو څوک دعوىٰ وکړي چي زما پلار (مثلا خالد) مړ سو او د فلانکي سړي سره د هغه مال امانتاً پروت دی او هغه دا مال زما لپاره په ميراث کي پرې اېښی دی، او له دغه مدعي څخه بغير د مړي (خالد) بل هيڅ ځوی او وارث نه وي، او مودَع د هغه د دعوې تصديق وکړي، نو په دې صورت کي به مودَع ته حکم کيږي چي دا امانت مال مدعي ته وسپاره!؛ ځکه د مودِع (خالد) له مرګ څخه وروسته دا مال د هغه له ملکيت څخه ووتی او د هغه د وارث ملکيت ته منتقل سو، او څرنګه چي له مدعي ځوی څخه بغير د هغه بل هيڅ وارث نسته او مدعي او مودَع دواړه وارث (مدعي) ته د مال په ورکولو متفق او راضي سوي دي، نو ځکه مودَع ته به حکم کيږي چي د امانت مال مدعي ته حواله کړي.

ولو ادعى أنه اشترى إلخ: د دې حاصل دا دی که د يو سړي (مثلا د خالد) مال د يو چا سره امانتاً پروت وي، او بيا يو څوک دعوىٰ وکړي چي ما له مودِع (خالد) څخه دا مال رانيولی دی او مودَع د هغه تصديق وکړي، نو په دې صورت کي به هم مودَع ته دا حکم نه کيږي چي مدعي ته امانت مال وسپاره!؛ ځکه تر څو چي مودِع ژوندی وي، هغه د دې مال مالک دی، لهذا د مودَع له طرفه د مدعي د قول تصديق کول داسي دي لکه د بل چا پر مال اقرار کول، او دا صحيح نه دي، نو ځکه د مودِع په خلاف به د مودَع او مدعي د قول

تصديق نه کيږي او بيع به نه ثابتيږي، او ښکاره خبره ده چي کله بيع ثابته نه سوه، نو مودَع ته به دا حکم هم نه کيږي چي امانت اومال مدعي ته وسپاري. (احسن الهدايه)

## د مقروض له طرفه د قرض اخيستلو دعوىٰ

قَالَ: فَإِنْ وَكَّلَ وَكِيْلًا بِقَبْضِ مَالِهِ فرمايي: كه يو سړى بل څوك پر خپل مال د قبضه كولو وكيل جوړ كړي [چي له فلانكي مقروض شخخه ته زما مال (قرض) واخله!] فَادَّعَى الْغَرِيمُ أَنَّ صَاحِبَ الْمَالِ قَدِ اسْتَوْفَاهُ بيا مقروض دا دعوىٰ وكړي چي د مال خاوند [قرضخواه] خو خپل مال اخيستى دى فَإِنَّهُ يَدْفَعُ الْمَالَ إِلَيْهِ نو [په دې صورت كې] به مقروض وكيل ته مال وركوي لِأَنَّ الْوَكَالَةَ قَدْ ثَبَتَتْ بِالتَّصَادُقِ څكه چي وكالت د دواړو په اتفاق سره ثابت سو وَالِاسْتِيفَاءُ لَمْ يَثْبُتْ بِمُجَرَّدِ دَعْوَاهُ او [د مال] اخيستل محض د مقروض په دعوىٰ سره ثابت نه سوه فَلَا يُؤَخَّرُ الْحَقُّ نو څكه حق به نه ځنډول كيږي قَالَ: وَيَتْبَعُ رَبُّ الْمَالِ فرمايي: او مقروض به په قرضخواه پسي كيږي فَيَسْتَحْلِفُهُ او له هغه شخخه به قسم اخلي رِعَايَةً لِجَانِبِهِ د دې لپاره چي د مقروض د طرف رعايت وسي وَلَا يَسْتَحْلِفُ الْوَكِيْلُ او له وكيل شخخه به قسم نه اخلي لِأَنَّهُ نَائِبُهُ څكه چي هغه د خپل مؤكل نائب دى.

**اللغات**: ﴿استوفاه﴾ د استفعال د باب ماضي ده، اِسْتَوْفَى يَسْتَوْفِيْ اِسْتِيْفَاءً: حق اخيستل، ترلاسه كول. ﴿تصادق﴾ د تفاعل د باب مصدر دى: يو د بل تصديق كول، پر يو خبره اتفاق كول. ﴿مجرد﴾ محض، صرف. ﴿يتبع﴾ له سمع او افتعال دواړو څخه ويل كېداى سي: په چا پسي تلل، په پسي كول، تابع كېدل. ﴿يستحلفه﴾ د استفعال د باب مضارع ده: د قسم اخيستلو مطالبه كول، له يو چا شخخه قسم اخيستل.

**تشريح**: **صورت د مسئلي**: دا دى كه يو قرضخواه د خپل قرض د اخيستلو (ترلاسه كولو) لپاره بل څوك وكيل جوړ كړي (چي ته ورسه! له فلانكي مقروض شخخه زما قرض واخله!)، او وكيل چي كله له مقروض شخخه د قرض مطالبه وكړه، نو مقروض وويل چي "قرضخواه خو مخكي لا زما شخخه خپل قرض اخيستى دى او پر هغه يې قبضه كړې ده"، نو په دې صورت كي اخيستل (استيفاء) نه ثابتيږي او صرف په دغه دعوىٰ سره مقروض نه بري كيږي بلكي هغه به وكيل ته د قرض مال وركوي؛ څكه

چي دلته د مقروض او وکيل دواړو په اتفاق سره وکالت ثابت سوی دی (يعني مقروض د وکيل سره پر دې خبره متفق دی چي هغه وکيل دی). لېکن مقروض چي کوم د اخيستلو دعویٰ کړې ده، هغه له دليل څخه خالي ده، نو ځکه اخيستل (استيفاء) به نه ثابتيږي، لهذا د وکيل چي کوم حق دی يعني له مقروض څخه قرض اخيستل، هغه حق به ده ته فوراً ورکول کيږي او مقروض ته به حکم کيږي چي د قرض مال وکيل ته وسپاري.

قال ويتبع إلخ: څرنګه چي په پورتني صورت کي د مقروض هيڅ رعايت نه دی سوی او په ظاهره د هغه سره زياتوب سوی دی، نو ځکه د مقروض د لحاظ ساتلو او رعايت کولو په خاطر به هغه ته دا اختيار وي چي وکيل ته له قرض ورکولو څخه وروسته سمدستي په قرضخواه پسې سي او تر څو چي له هغه څخه قسم نه واخلي، تر هغه وخته دي يې نه پرېږدي، نو که چيري قرضخواه قسم واخلي چي "ما له مقروض څخه قرض نه دی اخيستی"، نو د وکيل له طرفه اخيستل سوی مال به قرض شمارل کيږي يعني په هغه سره قرض اداء کيږي او مقروض بري کيږي. او که قرضخواه له قسم اخيستلو څخه انکار وکړي، يا داسي ووايي چي "ما له مقروض څخه مخکي لا خپل قرض اخيستی دی"، نو بيا به مقروض وکيل تر ګرېوان نيسي او له هغه څخه به خپل مال واپس اخلي، لېکن له وکيل څخه به قسم نه اخيستل کيږي (يعني وکيل ته به داسي نه ويل کيږي چي ته مثلاً دا قسم واخله! چي "زه په دې خبره نه يم چي قرضخواه خپل قرض اخيستی دی")؛ ځکه چي وکيل د قرضخواه نائب دی او په قسم کي نيابت نه چليږي، نو ځکه د قسم اخيستلو کار به قرضخواه کوي، نه وکيل.

## د عيب په وجه د مبيع واپس کولو لپاره وکيل جوړول

قَالَ: وَمَنْ وَكَّلَهُ بِعَيْبٍ فِيْ جَارِيَةٍ فرمايي: او که يو سړي بل څوک د عيب په وجه د مينځي واپس کولو وکيل جوړ کړي فَادَّعَى الْبَائِعُ رِضَا الْمُشْتَرِيْ او بائع د مشتري د رضا کېدلو دعویٰ وکړي [چي مشتري په دې عيب راضي سوی دی] لَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتّٰى يَحْلِفَ الْمُشْتَرِيْ نو وکيل هغه مينځه بائع ته نه سي واپس کولای تر دې چي مشتري قسم واخلي بِخِلَافِ مَسْأَلَةِ الدَّيْنِ په خلاف د قرض د مسئلې لِأَنَّ التَّدَارُكَ مُمْكِنٌ هُنَالِكَ ځکه چي هلته [د غلطۍ] تدارک ممکن دی بِاسْتِرْدَادِ مَا قَبَضَهُ الْوَكِيْلُ إِذَا ظَهَرَ الْخَطَأُ عِنْدَ نُكُوْلِهِ په واپس اخيستلو سره د هغه مال کوم چي وکيل قبضه کړی دی کله چي [له قسم څخه] د قرضخواه د انکار کولو په وخت کي غلطي ښکاره سي [يعني هلته په دې توګه د غلطۍ تدارک ممکن دی چي کله له قسم څخه د قرضخواه د انکار کولو په وخت کي غلطي ښکاره سي نو وکيل چي (له

مقروض ځخه) کوم مال اخيستی وي هغه دي له وکيل ځخه واپس واخيستل سي] وَهٰهُنَا غَيْرُ مُمْكِنٍ او دلته [د مينځي په مسئله کي] تدارک ممکن نه دی لِأَنَّ الْقَضَاءَ بِالْفَسْخِ مَاضٍ عَلَى الصِّحَّةِ وَإِنْ ظَهَرَ الْخَطَأُ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ ځکه چي د بيع د فسخ کېدلو [ماتېدلو] فيصله د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د بيع پر صحت نافذيږي، که ځه هم غلطي ښکاره سي كَمَا هُوَ مَذْهَبُهُ لکه ځرنګه چي همدا د هغه مذهب دی وَلَا يُسْتَحْلَفُ الْمُشْتَرِيْ عِنْدَهُ بَعْدَ ذٰلِكَ او تر دې وروسته به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز له مشتري ځخه قسم نه اخيستل کيږي لِأَنَّهُ لَا يُفِيدُ ځکه چي د دې هيڅ فايده نسته وَأَمَّا عِنْدَهُمَا* قَالُوا: يَجِبُ أَنْ يَتَّحِدَ الْجَوَابُ عَلَى هٰذَا فِي الْفَصْلَيْنِ وَلَا يُؤَخِّرُ او پاته سو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز نو مشايخو ويلي دي: چي [د هغو په نيز] په دواړو صورتونو [دواړو مسئلو] کي حکم يو کېدل پکار دي او [هغه دا چي په دواړو مسئلو کي] فيصله به نه ځنډول کيږي لِأَنَّ التَّدَارُكَ مُمْكِنٌ عِنْدَهُمَا لِبُطْلَانِ الْقَضَاءِ ځکه چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د فيصلې په باطلولو [ماتولو] سره تدارک ممکن دی وَقِيْلَ: الْأَصَحُّ عِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنْ يُؤَخِّرَ فِي الْفَصْلَيْنِ او ويل سوي دي: چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز صحيح دا ده چي په دواړو صورتونو کي به فيصله ځنډول کيږي لِأَنَّهُ يَعْتَبِرُ النَّظَرَ ځکه چي هغه [د مقروض او بائع] د مصلحت اعتبار کوي حَتّٰى يُسْتَحْلَفَ الْمُشْتَرِيْ لَوْ كَانَ حَاضِرًا مِنْ غَيْرِ دَعْوَى الْبَائِعِ تر دې چي که مشتري حاضر وي نو د بائع له دعوی ځخه بغير به له هغه ځخه قسم اخيستل کيږي [يعني همدا وجه ده چي که مشتري حاضر وي او د هغه وکيل د عيب په وجه مينځه بائع ته واپس کړي، نو که ځه هم په دې صورت کي بائع د راضي کېدلو دعوىٰ نه وکړي، بيا به هم له مشتري ځخه قسم اخيستل کيږي او د هغه تر قسم پوري به انتظار کيږي] فَيُنْتَظَرُ لِلنَّظَرِ نو ځکه د مصلحت لپاره به [دلته هم] انتظار کيږي.

**اللغات**: ﴿لم يردّ﴾ د نصر له بابه د جحد صيغه ده: واپس کول. ﴿يؤخر﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: مؤخر کول، ځنډول، وروسته کول. ﴿فصلين﴾ تثنيه د فَصْلٌ ده چي د هغه يو معنىٰ ده: صورت. ﴿النظر﴾ مصلحت (ښېګڼه)، شفقت.

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۴، ص:۴۶۱)، وملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۳۳۷). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۶۴]

**تشريح : صورت د مسئلې** : دا دی که يو سړي مينځه خرڅه کړه او بيا مشتري په مينځه کي يو عيب وليدی، او د هغه عيب په وجه مشتري بل څوک د مينځي د واپس کولو وکيل جوړ کړی (چي ته! دا مينځه بائع ته واپس کړه!)، او کله چي وکيل د مينځي د واپس کولو لپاره بائع ته ولاړی، نو بائع ورېل چي "مشتري خو په دې عيب راضي سوی دی، لهذا زه مينځه نه غواړم"، نو د بائع دا قول معتبر دی او تر څو چي مشتري په دې باره کي قسم نه واخلي، تر هغه وخته به دا حکم او فيصله نه کيږي چي وکيل هغه مينځه بائع ته واپس کړي، خلاصه دا چي په دې صورت کي به قاضي د مشتري تر قسم اخيستلو مخکي د بائع و طرف ته د مينځي د واپس کولو فيصله نه کوي.

د دې په خلاف د قرض والا په صورت کي به د قرضخواه له قسم اخيستلو څخه بغير مقروض ته دا حکم کيږي چي د قرض مال وکيل ته ورکړي (لکه مخکي چي ذکر سوه)، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دې دواړو مسئلو کي فرق دا دی چي که د قرض والا په مسئله کي د مقروض له طرفه وکيل ته مال ورکول غلط ثابت سي (يعني دا ثابته سي چي قرضخواه خو مخکي لا خپل قرض اخيستی دی، لهذا اوس له مقروض څخه دوباره د هغه اخيستل غلط دي)، نو د دې غلطۍ تدارک ممکن دی په دې توګه چي مقروض وکيل ته کوم مال ورکړی دی، هغه دي له وکيل څخه واپس واخلي، لېکن د مينځي والا مسئله کوم چي دلته بيان سوې ده، که په دې مسئله کي د مينځي واپس کول غلط ثابت سي، نو د هغه تدارک ممکن نه دی؛ ځکه کله چي بائع ته مينځه واپس کړی سي نو ښکاره خبره ده چي بيع فسخ سوه، او وروسته که څه هم دا ثابته سي چي وکيل په غلطه او ناحقه توګه بائع ته مينځه واپس کړې ده، نو بيا هم دا فسخ سوی بيع بيرته نه بحاله کيږي بلکي هغسي فسخ پاتيږي، ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په عقود او فسوخ کي د قاضي فيصله ظاهراً هم نافذيږي او باطناً هم نافذيږي، او څرنګه چي دلته د قاضي په فيصله سره مبيع (مينځه) د بائع و طرف ته واپس کيږي، نو ځکه وروسته به هغه نه مشتري ته واپس کېدای سي، او نه به له مشتري څخه قسم اخيستل کېدای سي، ځکه اوس له مشتري څخه قسم اخيستل هيڅ فايده نه کوي، ځکه چي اوس د مشتري و طرف ته مبيع واپس کول ممکن نه دي، که څه هم هغه په عيب راضي سي ، نو ځکه ورېل سوه چي د مشتري تر قسم اخيستلو مخکي به د واپس کولو حکم او فيصله نه کيږي.

أما عندهما إلخ: د دې حاصل دا دی چي په مذکوره دواړو مسئلو کي چي کوم فرق دی، هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی، کنې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د قرض او د مينځي دواړو صورتونو حکم يو دی، يعني څرنګه چي د قرض والا په مسئله کي د قرضخواه له قسم اخيستلو څخه بغير مقروض ته د مال ورکولو حکم کيږي (چي ته وکيل ته د قرض مال ورکړه!)، همداسي به د مينځي والا په

مسئله کي هم د مشتري له قسم اخيستلو څخه بغير د مينځي د واپس کولو حکم او فيصله کيږي؛ ځکه چي د صاحبينو په نيز د قاضي فيصله صرف ظاهراً نافذيږي، نه باطناً. نو ځکه د قرض والا مسئلې په شان دلته هم تدارک ممکن دی په دې توګه چي د قاضي فيصله ماته کړی سي او له بائع څخه مينځه واخيستل سي او بيرته مشتري ته واپس کړی سي، نو ځکه د هغو په نيز به د مشتري قسم ته انتظار نه کيږي بلکي د هغه تر قسم اخيستلو مخکي به د مينځي د واپس کولو حکم او فيصله کيږي.

قيل الأصح إلخ: فرمايي: د ځيني مشايخو قول دا دی چي د صحيح قول مطابق د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د قرض او مينځي والا په دواړو مسئلو کي به د قرضخواه او مشتري تر قسم اخيستلو پوري فيصله ځنډول کيږي (يعني په دواړو مسئلو کي به تر قسم اخيستلو مخکي حکم او فيصله نه کيږي، بلکي انتظار به کيږي)؛ ځکه چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د مقروض او بائع دواړو په حق کي د مصلحت و شفقت رعايت کوي، او مصلحت و شفقت هغه وخت ثابتيږي کله چي د قرض والا په مسئله کي د قرضخواه تر قسم اخيستلو مخکي مقروض ته د قرض ور کولو حکم او فيصله نه وسي (چي ته وکيل ته د قرض مال ور کړه!) او د مينځي په مسئله کي د مشتري تر قسم اخيستلو مخکي هغه ته د واپس کولو حکم او فيصله نه وسي (چي ته بائع ته مينځه واپس کړه!)، نو په دې توګه به د مقروض او بائع په حق کي مصلحت او شفقت هم ثابت سي او د قاضي فيصله به له بطلان څخه هم خوندي سي، همدا وجه ده که مشتري موجود وای نو د بائع له دعوې څخه بغير به اول له هغه څخه قسم اخيستل کېدای او بيا به فيصله کېدای، نو ځکه د مشتري د غائب والي په صورت کي (يعني د مينځي په مسئله کي) به هم د هغه تر قسم اخيستلو پوري د مبيع د واپس کولو فيصله ځنډول کيږي.

## د نفقه رانيولو د وکالت په صورت کي له خپل طرفه د ثمن اداء کولو حکم او تفصيل

قَالَ: وَمَنْ دَفَعَ إِلَىٰ رَجُلٍ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ لِيُنْفِقَهَا عَلَىٰ أَهْلِهِ فرمايي: او که څوک يو سړي ته لس درهمه ورکړي د دې لپاره چي هغه دا لس درهمه د هغه پر اهل وعيال خرچ کړي [يعني په دې سره هغو ته نفقه او خوراکه رانيسي] فَأَنْفَقَ عَلَيْهِمْ عَشَرَةً مِنْ عِنْدِهِ بيا هغه سړی له خپل طرفه پر هو لس درهمه خرچ کړي فَالْعَشَرَةُ بِالْعَشَرَةِ نو دا لس درهمه د هغه لس درهمو عوض ګرځي [مطلب دا چي دا سړی به د خپل

لس درهمو په بدله کي هغه لس درهمه اخلي] لِأَنَّ الْوَكِيلَ بِالْإِنْفَاقِ وَكِيلٌ بِالشِّرَاءِ ځکه چي د خرچ کولو وکيل د رانيولو [وکيل] هم وي وَالْحُكْمُ فِيهِ مَا ذَكَرْنَاهُ او د رانيولو [شراء] په باره کي هغه حکم دی کوم چي [مخکي] موږ ذکر کړی دی وَقَدْ قَرَّرْنَاهُ او هغه موږ ثابت کړی [هم] دی فَهٰذَا كَذٰلِكَ نو ځکه د دې به هم هغه حکم وي وَقِيلَ: هٰذَا اسْتِحْسَانٌ او ويل سوي دي: چي دا استحسان دی وَفِي الْقِيَاسِ لَيْسَ لَهُ ذٰلِكَ او په قياس کي هغه ته د دې حق نسته [چي د خپل لس درهمو په عوض کي هغه لس درهمه واخلي] وَيَصِيرُ مُتَبَرِّعًا او هغه متبرّع ګرځي وَقِيلَ: الْقِيَاسُ وَالِاسْتِحْسَانُ فِي قَضَاءِ الدَّيْنِ ❁ او ويل سوي دي: چي قياس او استحسان د قرض په اداء کولو کي دي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِشِرَاءٍ ځکه چي هغه رانيول نه دي [يعني په قرض اداء کولو کي د رانيولو معامله نسته] فَأَمَّا الْإِنْفَاقُ يَتَضَمَّنُ الشِّرَاءَ او کوم چي خرچ کول [نفقه رانيول] دي نو هغه رانيولو لره شامل دي فَلَا يَدْخُلَانِهِ نو ځکه په هغه کي به قياس او استحسان نه داخليږي.

**اللغات**: ﴿يُنفقها﴾ د افعال د باب مضارع ده: خرچول، خرچ کول، نفقه کول. ﴿يتضمن﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: ضمناً شاملېدل.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی بل څوک وکيل جوړ کړي او هغه ته لس درهمه ورکړي او حکم وکړي چي "ته په دې دراهمو سره زما د اهل وعيال لپاره نفقه رانيسه!"، لېکن وکيل د خپل جېب په لسو درهمو سره نفقه رانيسي، نو د وکيل دا لس درهمه د هغه لس درهمو عوض ګرځي کوم چي هغه سړي (مؤکل) وکيل ته ورکړي دي، او دا وکيل به په انفاق (خرچ کولو) يعني په نفقه رانيولو کي متبرّع نه شمارل کيږي (يعني دا حکم به نه کيږي چي وکيل د مؤکل د اهل وعيال سره د احسان

---


❁ القول الراجح: هو الاستحسان، قال العلامة قاضي زاده آفندي رَحِمَهُ الله: قالو في شروح الجامع الصغير أيضًا: مِن المشائخ مَن قال: ليس في قضاء الدين معنى الشراء، فورد فيه القياس والاستحسان الذان ذكرهما محمد في الأصل، أما الإنفاق ففيه شراء، فلم يختلف فيه وجه القياس والاستحسان، بل صح ذلك قياساً واستحساناً، حتى رجع الوكيل على الموكل بما أنفق قياساً واستحساناً، وتمامه في نتائج الأفكار تكملة فتح القدير (ج:٧، ص:١٢٧). [القول الراجح ج:٢، ص:١۶۵]

او تبرع کولو لپاره لس درهمه له خپل جيب څخه ورکړي دي نو ځکه هغه لس درهمه به د مؤکل د لس درهمو عوض نه ګرځي. بلکې هغه عوض ګرځي يعني وکيل به د خپل لس درهمو په عوض کې د مؤکل لس درهمه اخلي)؛ ځکه چي وکيل بالانفاق وکيل بالشراء وي (مطلب دا چي څوک د خرچ کولو او نفقه راوړلو وکيل وي. نفقه هغه رانيسي)، او تاسو ته معلومه ده چي کله د رانيولو وکيل (وکيل بالشراء) له خپل طرفه ثمن اداء کړي، نو هغه ته دا حق سته چي له مؤکل څخه خپل ثمن اخلي. نو ځکه د انفاق وکيل ته به هم دا حق او اجازه وي چي خپل خرچ کړل سوی ثمن له مؤکل څخه واخلي.

وقيل هذا استحسان إلخ: فرمايي: د ځيني مشايخو په نيز پورتنی حکم پر استحسان مبني دی، کنې د قياس تقاضا دا ده چي وکيل بالانفاق به په خپل خرچ کړل سوي دراهمو کي متبرع شمارل کيږي او هغه ته به دا حق نه وي چي د خپل دراهمو په عوض کي د مؤکل دراهم واخلي.

وقيل إلخ: لېکن د ځيني مشايخو رايه دا ده چي د قياس او استحسان تعلق د دې مسئلې سره نسته، بلکې هغه دواړه د قرض اداء کولو د وکالت سره متعلق دي، مثلاً که يو سړی وکيل ته زر درهمه ورکړي او هغه ته ووايي چي "په دې سره زما قرض اداء کړه!"، او بيا وکيل په خپل مال سره د هغه سړي (مؤکل) قرض اداء کړي، نو استحساناً د هغه لپاره دا جائز دي چي د مؤکل مال (زر درهمه) واخلي، لېکن قياساً د هغه لپاره دا صحيح نه دي او د قرض په اداء کولو کي قياساً هغه متبرع شمارل کيږي؛ ځکه چي قرض اداء کول شراء (رانيول) نه دي، نو ځکه که وکيل د مؤکل په مال سره قرض اداء کړي، نو دا خو صحيح دي، لېکن که هغه په خپل مال سره قرض اداء کړي، نو هغه به متبرع وي او پر هغه به دا لازم وي چي د مؤکل مال (زر درهمه) هغه ته واپس کړي.

د دې په خلاف وکيل بالانفاق د شراء يعني د رانيولو وکيل دی او انفاق شراء (رانيولو) لره متضمن او شامل دي، نو ځکه په هغه کي به استحسان او قياس نه جاري کيږي. او څرنګه چي وکيل بالشراء که له خپل طرفه ثمن اداء کړي، نو هغه ته له مؤکل څخه د ثمن اخيستلو حق حاصليږي، همداسي که وکيل بالانفاق له خپل طرفه ثمن اداء کړي، نو هغه ته به هم دا حق حاصل وي.



# بَابُ عَزْلِ الْوَكِيْلِ

(دا) باب د وکیل معزوله کولو (په بیان کې) دی

**تشریح**: څرنګه چې وکیل جوړول (وکیل مقرر کول) د هغه له معزوله کولو څخه مخکې وي، یعني اول یو څوک وکیل جوړول کیږي او تر هغه وروسته له وکالت څخه معزولول کیږي، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د ترتیب په رعایت کولو سره اول د وکیل جوړولو یعني د وکالت او توکیل ابواب بیان کړل، اوس تر هغه وروسته د وکیل معزوله کولو باب بیانوي.

## د عزل اختیار او د هغه عقلي دلیل

قَالَ: وَلِلْمُوَكِّلِ أَنْ يَعْزِلَ الْوَكِيلَ عَنِ الْوَكَالَةِ فرمايي: او مؤکل ته دا اختیار شته چې خپل وکیل له وکالت څخه معزوله کړي لِأَنَّ الْوَكَالَةَ حَقُّهُ ځکه چې وکالت دمؤکل حق دی فَلَهُ أَنْ يُبْطِلَهُ نو ځکه هغه ته به د دې اختیار وي چې خپل حق باطل کړي إِلَّا إِذَا تَعَلَّقَ بِهِ حَقُّ الْغَيْرِ مګر دا چې د وکالت سره د بل چا متعلق وي بِأَنْ كَانَ وَكِيلًا بِالْخُصُومَةِ بِطَلَبٍ مِنْ جِهَةِ الطَّالِبِ په دې توګه چې یو څوک د مدعي په غوښتنه [مطالبه] سره وکیل بالخصومت وي لِمَا فِيهِ مِنْ إِبْطَالِ حَقِّ الْغَيْرِ ځکه چې په دې صورت کې د بل چا د حق باطلول ستنه وَصَارَ كَالْوَكَالَةِ الَّتِي تَضَمَّنَهَا عَقْدُ الرَّهْنِ او دا د هغه وکالت په شان سو چې هغه لره عقد رهن متضمن وي.

**اللغات**: ﴿يعزل﴾ د ضرب مضارع ده: معزوله کول، برطرفه کول، ګوښه کول (له منصبه لیري کول)، ﴿خصومت﴾ جنګ، دعویٰ کول، دعویٰ پېشول، تفصیلي معنیٰ یې مخکې تېره سوې ده، ﴿تضمّن﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: ضمناً شاملېدل.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی چې مؤکل هر وخت وغواړي، خپل وکیل له وکالت څخه معزوله کولای سي؛ ځکه چې وکالت صرف د هغه حق دی، او صاحب الحق (د حق خاوند) ته د دې پوره اختیار ستنه چې خپل حق باطل کړي. ها! که د وکالت سره د بل چا حق متعلق وي، نو په دې صورت کې مؤکل د صاحب الحق له رضا څخه بغیر وکیل نه سي معزوله کولای، مثلاً مدعي د قاضي په مجلس کې دا غوښتنه وکړي چې د مدعیٰ علیه له طرفه دې یو څوک د خصومت وکیل مقرر کړی

سي (د دې لپاره چې زه د هغه سره خصومت وكړم)، او قاضي د مدعىٰ عليه له طرفه يو څوک وكيل مقرر كړي، نو اوس كه د دې وكيل مؤكل يعني مدعىٰ عليه د ده معزوله كول وغواړي، نو د صاحب الحق يعني د مدعي له رضا څخه بغيريې نه سي معزوله كولای؛ ځكه چې د دغه وكالت سره د صاحب الحق (مدعي) حق متعلق سوی دی، لهذا كه د هغه له رضا څخه بغير وكيل معزوله كړي سي نو د هغه حق به باطل سي، كوم چې صحيح نه دي. او دا دهغه وكالت په څېر دی كوم چې عقد رهن لره شامل وي، مثلاً زيد له خالد څخه څه مال په قرض واخلي او خالد ته خپل يو شی په رهن كښېږدي، بيا د مرتهن (خالد) په غوښتنه سره راهن (زيد) يو څوک د دې وكيل جوړ كړي چې كه راهن په دوو مياشتو كې دننه مرتهن ته خپل قرض نه وركړي نو وكيل به د راهن (زيد) شی خرڅوي او په هغه سره به د مرتهن قرض اداء كوي. نو په دې صورت كې راهن د مرتهن له اجازت څخه بغير مذكوره وكيل نه سي معزوله كولای، ځكه چې دا وكالت عقد رهن لره شامل دی او د دې سره د مرتهن حق متعلق سوی دی، نو په دې وجه راهن ته دا اختيار نسته چې د مرتهن له اجازت څخه بغير هغه وكيل معزوله كړي، همدغه ډول په پورتني صورت كې هم د وكالت سره د مدعي حق متعلق سوی دی، نو ځكه مدعىٰ عليه ته به دا اختيار نه وي چې د مدعي له رضا څخه بغير وكيل بالخصومت معزوله كړي.

## وكيل تر كومه وخته پر خپل وكالت پاتېږي؟

قَالَ: فَإِنْ لَمْ يَبْلُغْهُ الْعَزْلُ فرمايي: كه چيرو كيل ته د معزوله كولو خبر نه ورسيږي فَهُوَعَلٰى وَكَالَتِهِ نو هغه پر خپل وكالت باقي پاتيږي وَتَصَرُّفُهُ جَائِزٌ او د هغه تصرف جائز دی حَتّٰى يَعْلَمَ تر دې چې [په معزوله كېدلو] خبر سي لِأَنَّ فِي الْعَزْلِ إِضْرَارًا بِهِ مِنْ حَيْثُ إِبْطَالُ وِلَايَتِهِ ځكه چې په معزوله كولو كې د وكيل ضرر دی، په دې اعتبار سره چې د هغه ولايت باطلول كيږي أَوْ مِنْ حَيْثُ رُجُوعُ الْحُقُوقِ إِلَيْهِ يا په دې اعتبار سره چې حقوق د وكيل وطرف ته راجع دي فَيَنْقُدُ مِنْ مَالِ الْمُوَكِّلِ وَيُسَلِّمُ الْمَبِيْعَ [لهذا كه هغه وكيل بالشراء وي] نو هغه به د مؤكل له مال څخه ثمن اداء كوي او [كه وكيل بالبيع وي نو] مبيع به ورسپاري فَيَضْمَنُهُ فَيَتَضَرَّرُ بِهِ نو ځكه د دې ضامن به وګرځي او په دې سره به هغه ته ضرر ورسيږي وَيَسْتَوِي الْوَكِيْلُ بِالنِّكَاحِ وَغَيْرُهُ او وكيل بالنكاح او داسي نور [په دې كې] برابر دي لِلْوَجْهِ الْأَوَّلِ داولي وجهي پر بناء وَقَدْ ذَكَرْنَا اشْتِرَاطَ الْعَدَدِ أَوِ الْعَدَالَةِ فِي الْمُخْبِرِ او د خبر وركونكي كس په باره كې د عدد يا عدالت مشروط كېدل موږ [مخكې] ذكر كړي دي فَلَا نُعِيْدُهُ لهذا موږ هغه نه راګرځوو.

**اللغات**: ﴿عزل﴾ د ضرب د باب مصدر دی: معزوله کول. برطرفه کول. ﴿إضرار﴾ د افعال د باب مصدر دی: نقصان رسول. ﴿اشتراط﴾ د افتعال د باب مصدر دی: شرط لګول. شرط کېدل. مشروط کېدل.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که مؤکل خپل وکیل معزوله کړي لېکن وکیل په هغه خبر نه سي، نو تر څو چي وکیل ته د خپل عزل (معزولتیا) خبر نه ورسیږي. تر هغه وخته دا وکیل پر خپل وکالت باقي پاتیږي او د هغه هر تصرف صحیح او جائز ګرځي. ها! کله چي هغه په خپل عزل خبر سي، نو د هغه وکالت باطلیږي او تر دې وروسته د هغه هیڅ تصرف نه صحیح کیږي.

داولي مسئلې دلیل دا دی چي د وکیل په معزوله کولو کي په دوو وجهو سره د هغه ضرر سته: ① اول ضرر خو په دې وجه دی چي مؤکل په معزوله کولو سره د وکیل ولایت سلبوي. اوس که وکیل په عزل خبر نه وي، نو هغه به د خپل وکالت پر بنیاد یو کار وکړي. او مؤکل به د عزل په وجه د هغه تکذیب وکړي. او ښکاره خبره ده چي د یو چا تکذیب کول هغه ته ضرر او تکلیف رسول دي. نو ځکه تر څو چي وکیل په خپل عزل خبر نه وي. تر هغه وخته به وکیل پر خپل وکالت باقي پاته وي. ② دویم ضرر په دې وجه وکیل ته رسیږي چي هغه عاقد دی. او د عاقد کېدلو په وجه د عقد حقوق د هغه وطرف ته راجع دي. لهذا که هغه وکیل بالشراء وي (یعني د یو شي د رانیولو وکیل وي) نو د مؤکل له مال څخه به ثمن اداء کوي. او که وکیل بالبیع (د خرڅولو وکیل) وي نو د مؤکل مبیع به مشتري ته سپاري. اوس ښکاره خبره ده چي که مؤکل له خبر ور کولو څخه بغیر هغه معزوله کړي او دغه معزولتیا موږ معتبر ومنو. نو وکیل به د ثمن یا مبیع ضامن وګرځي یعني پر هغه به د ثمن یا مبیع ضمان (تاوان) واجب سي. او د ضمان د وجوب په وجه به هغه ته ضرر ورسیږي. لهذا په دې حواله سره هم چي تر څو وکیل په عزل خبر نه وي، تر هغه وخته به د هغه تصرف معتبر ګڼل کیږي.

ویستوی الوکیل بالنکاح إلخ: د دې حاصل دا دی چي داولي وجهي یعني د ولایت سلبولو او تکذیب په حواله سره بیان سوی ضرر عام او تام دی او په هغه کي نکاح، طلاق، بیع او شراء ټوله تصرفات داخل دي او په دې ټولو کي وکیل په عزل له خبرېدلو څخه مخکي نه معزوله کیږي. او دویمه وجه یعني د ضمان ضرر صرف د هغه تصرفاتو سره خاص دی چي په هغه کي د عقد حقوق د وکیل وطرف ته راجع کیږي لکه بیع او شراء.

وقد ذکرنا إلخ: فرمايي چي په خبر ورکولو کي د عدد او عدالت شرط کېدل مخکي ذکر سوه. د عدد مطلب دا چي خبر ورکونکي به دوه مستور الحاله خلک وي او د عدالت مطلب دا چي يا هغه به يو عادل سړی وي، لهذا کله چي وکيل ته دا خبر ورکول سي چي "ستا مؤکل ته معزوله کړی يې"، نو دا شرط دي چي خبر ورکونکی به دوه خلک وي يا يو عادل سړی به وي، او د دې پوره تفصيل په "کتاب ادب القاضي" کي تېر سو، لهذا دلته د هغه بيا راګرځولو ته څه ضرورت نسته.

## د مؤکل په کومو عوارضو سره وکالت باطليږي؟

قَالَ: وَيَبْطُلُ الْوَكَالَةُ بِمَوْتِ الْمُوَكِّلِ فرمايي: او وکالت باطليږي د مؤکل په مړه کېدلو سره وَجُنُوْنِهِ جُنُوْنًا مُطْبِقًا او د هغه په دائمي توګه مجنون کېدلو سره وَلَحَاقِهِ بِدَارِ الْحَرْبِ مُرْتَدًّا او د مرتد والي په حالت کي دارُ الحرب ته د هغه په تللو سره لِأَنَّ التَّوْكِيلَ تَصَرُّفٌ غَيْرُلَازِمٍ ځکه چي وکيل جوړول يو غير لازم تصرف دی [يعني د وکيل جوړولو تصرف همېشه لازم نه دی] فَيَكُوْنُ لِدَوَامِهِ حُكْمُ ابْتِدَائِهِ نو ځکه د دې تصرف بقاء لره به د هغه د ابتداء حکم حاصل وي [مطلب دا چي د وکيل جوړولو په شروع کي چي کوم څه شرط دي هغه (د وکالت باقي پاتېدلو لپاره) همېشه موجودېدل ضروري دي. کنې وکالت باقي نه پاتيږي] فَلَا بُدَّ مِنْ قِيَامِ الْأَمْرِ نو ځکه [د مؤکل] د حکم موجودېدل ضروري دي وَقَدْ بَطَلَ بِهٰذِهِ الْعَوَارِضِ حال دا چي د دې عوارضو په وجه [د مؤکل] حکم باطل سو وَشَرَطَ أَنْ يَكُوْنَ الْجُنُوْنُ مُطْبِقًا او دا شرط يې [ځکه] لګولی دی چي جنون به دائمي وي لِأَنَّ قَلِيلَهُ بِمَنْزِلَةِ الْإِغْمَاءِ ځکه چي لږ لېونتوب د بې هوښۍ په درجه کي دی وَحَدُّ الْمُطْبِقِ شَهْرٌ عِنْدَ أَبِي يُوْسُفَ او د مطبق جنون حد [اندازه] د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز يوه مياشت ده اِعْتِبَارًا بِمَا يَسْقُطُ بِهِ الصَّوْمُ پر هغه شي په قياس کولو سره چي په هغه سره روژه ساقطيږي وَعَنْهُ أَكْثَرُ مِنْ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي [د مطبق جنون حد] له يوې ورځي او يوې شپې څخه زيات مودت دی لِأَنَّهُ تَسْقُطُ بِهِ الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ ځکه چي په دې سره [ټوله] پنځه لمونځونه ساقطيږي فَصَارَ كَالْمَيِّتِ نو ځکه هغه د مړي په څېر سو وَقَالَ مُحَمَّدٌ*: حَوْلٌ كَامِلٌ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي:

* القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما ذكر في نتائج الأفكار (ج:۷، ص:۱۳۳)، وفي مجمع الأنهر (ج:۳، ص:۳۳۹). [القول الراجح، ج:۲، ص:۱۶۵]

چي اد مطبق جنون حدا پوره يو كال دى لِأَنَّهُ يَسْقُطُ بِهِ جَمِيعُ الْعِبَادَاتِ ځكه چي په دې سره ټوله عبادات ساقطيږي فَقُدِّرَ بِهِ اِحْتِيَاطًا نو ځكه د احتياط لپاره به هغه په يوه كال سره اندازه كول كيږي قَالُوا: الْحُكْمُ الْمَذْكُورُ فِي اللِّحَاقِ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ مشايخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي: چي دارُ الحرب ته د تللو په هكله چي كوم حكم ذكر سوى دى هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دى لِأَنَّ تَصَرُّفَاتِ الْمُرْتَدِّ مَوْقُوفَةٌ عِنْدَهُ ځكه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د مرتد تصرفات موقوف پاتيږي فَكَذَا وَكَالَتُهُ نو ځكه همداسي به د هغه وكالت هم موقوف پاتيږي فَإِنْ أَسْلَمَ بيا كه هغه اسلام راوړي نَفَذَ نو د هغه تصرف به نافذيږي وَإِنْ قُتِلَ أَوْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ او كه هغه قتل كړى سي يا دارُ الحرب ته ولاړ سي بَطَلَتِ الْوَكَالَةُ نو وكالت به باطليږي فَأَمَّا عِنْدَهُمَا* تَصَرُّفَاتُهُ نَافِذَةٌ ليكن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د مرتد تصرفات نافذيږي (موقوف نه پاتيږي) فَلَا تَبْطُلُ وَكَالَتُهُ إِلَّا أَنْ يَمُوتَ نو ځكه د هغه وكالت به نه باطليږي مگر دا چي هغه مړ سي أَوْ يُقْتَلَ عَلَى رِدَّتِهِ أَوْ يُحْكَمَ بِلَحَاقِهِ يا پر خپل ارتداد قتل كړى سي يا دارُ الحرب ته د هغه د تللو فيصله وسي وَقَدْ مَرَّ فِي السِّيَرِ او دا اختلاف په "كتاب السير" كي ذكر سوى دى وَإِنْ كَانَ الْمُوَكِّلُ امْرَأَةً او كه چيري مؤكل يو ښځه وي فَارْتَدَّتْ بيا هغه مرتده سي فَالْوَكِيلُ عَلَى وَكَالَتِهِ نو (په دې صورت كي) وكيل پر خپل وكالت باقي پاتيږي حَتَّى تَمُوتَ أَوْ تَلْحَقَ بِدَارِ الْحَرْبِ تر دې چي مؤكله ښځه مړه سي يا دارُ الحرب ته ولاړه سي لِأَنَّ رِدَّتَهَا لَا تُؤَثِّرُ فِي عُقُودِهَا ځكه چي د ښځي مرتد كېدل د هغې په معاملاتو كي اثر نه كوي عَلَى مَا عُرِفَ لكه څرنګه چي (په كتاب السير كي) معلوم سوي دي.

**اللغات**: ﴿جنون﴾ د نصرب د باب مصدر دى: لېونتوب، لېونى كېدل، مجنون كېدل. ﴿لحق﴾ د سمع د باب ماضي ده: متصل كېدل (ملاوېدل)، مراد ځني دارُ الحرب ته تلل دي (د حربيانو سره ملاوېدل). ﴿مطبق﴾ د افعال د باب اسم فاعل دى: دائمي (تر ډېر وخته پاتېدونكى)، لكه څرنګه چي ويل كيږي: مطرٌ مُطبِقٌ: دائمي باران كوم چي تر ډېر وخته اوريږي، او صاحب د اثمار الهدايې د "جنون

* القول الراجح. قول الإمام أعظم رَحِمَهُ الله، كما يعلم من عامة المتون ترجيحه، وكذا ذكر في ملتقى الأبحر مع المجمع (ج:٣، ص:٣٣٩)، ونتائج الأفكار (ج:٧، ص:١٣٢). [القول الراجح ج:٢، ص:١٦٦]

مُطبق" تعريف داسي كړى دى: عقل پټونكى جنون، يعني كامل او بشپړ لېونتوب كوم چي تر ډېره وخته نه ليرې كيږي (ځكه د يوه ساعت يا دوو ساعتو په لېونتوب سره وكالت نه باطليږي، او د مطبق جنون د حدّاو اندازې پوره تفصيل به په تشريح كي بيان سي)، ﴿إغماء﴾ د افعال د باب مصدر دى: بې هوښه كېدل، بې هوښي.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دى كه چيري مؤكل مړ سي يا په دائمي توګه لېونى سي يا مرتد وګرځي او دارُ الحرب ته ولاړ سي. نو په دې ټولو صورتونو كي وكالت (توكيل) باطليږي او د وكيل د تصرف كولو اختيار ختميږي، ځكه چي وكالت (توكيل) يو غير لازم تصرف دى، همدا وجه ده چي مؤكل هم وكالت ختمولاى سي او وكيل يې هم ختمولاى سي. او د غير لازم تصرف د بقاء او دوام لپاره هغه ټوله اُمور شرط او ضروري دي كوم چي د هغه د ابتداء لپاره شرط دي، او ښكاره خبره ده چي د وكالت د ابتداء لپاره د مؤكل د حكم قيام (موجودېدل) شرط دي (يعني يو شوك هغه وخت وكيل ګرځي كله چي مؤكل هغه ته حكم وكړي او هغه خپل وكيل جوړ كړي) نو ځكه د وكالت د بقاء لپاره به هم د مؤكل د حكم قيام ضروري وي، حال دا چي د مؤكل د مړه كېدلو يا مجنون كېدلو يا مرتد كېدلو او دارُ الحرب ته د تللو په وجه د هغه حكم باطل او معدوم سي. نو ځكه په دې ټولو صورتونو كي به وكالت هم باطليږي او ختميږي.

**وشرط أن يكون إلخ:** فرمايي: د وكالت باطلېدلو لپاره د دائمي (مطبق) جنون شرط او قيد احترازي قيد دى او په دغه قيد سره عارضي جنون خارجول مقصود دي. ځكه عارضي جنون يعني هغه لېونتوب كوم چي ځيني وخت وي او ځيني وخت نه وي. هغه د بې هوښي (اغماء) په درجه كي دى. او د مؤكل په بې هوښه كېدلو سره وكالت نه باطليږي. نو ځكه په عارضي جنون سره به هم وكالت نه باطليږي.

**وحدّ المطبق إلخ:** د دې حاصل دا دى چي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه د مطبق جنون د حد او اندازې په باره كي دوه قوله نقل سوي دي: ① اول قول دا دى چي د مطبق جنون حد د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز يوه مياشت ده، او دا اندازه د رمضان د مياشتي پر جنون قياس كړى سوې ده. يعني كه يو سړى د رمضان په ټوله مياشت كي لېونى وي، نو د هغه له ذمې څخه د رمضان روژې ساقطيږي: ځكه كله چي يو شوك په الهي عباداتو سره مكلف نه وي، نو هغه د دنياوي تصرفاتو او معاملاتو اهل هم نه شمارل كيږي، او كله چي د هغه اهليت ختم سو، نو ځكه وكالت به يې هم باطل وي. ② دويم قول دا دى چي كه يو شوك له يوې ورځي او يوې شپې څخه زيات وخت مجنون پاته سي، نو د هغه وكالت باطل دى: ځكه چي د دومره وخت په جنون سره د يوې ورځي فرائض يعني پنځه سره

لمونځونه ساقطیږي او تر دومره وخته مجنون پاتېدونکی سړی د مړي په څېر دی، او مړی د وکالت اهل نه دی، لهذا داسي مجنون به هم د وکالت اهل نه وي او د هغه وکالت به باطل وي.

وقال محمد إلخ: فرمايي چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د مطبق جنون حد پوره یو کال دی، ځکه چي دیوه کال په جنون سره هر ډول عبادات ساقطیږي. لهذا د دومره مودت په جنون سره به هر ډول تصرفات او معاملات هم ختمیږي او ساقطیږي. نو ځکه د احتیاط پر بناء به یو کال د مطبق جنون حد ګرځول کیږي.

قالوا الحکم المذکور إلخ: د دې حاصل دا دی چي مذکوره حکم یعني د مؤکل په مرتد کېدلو او دارُ الحرب ته په تللو سره د وکالت باطلېدل، دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دي: ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مرتد تصرفات موقوف پاتیږي، او څرنګه چي وکالت (توکیل) هم یو تصرف دی. نو ځکه د مرتد وکالت به هم موقوف پاته وي، که چیري هغه اسلام راوړي. نو د هغه وکالت به نافذیږي، او که د ارتداد په حالت کي قتل کړی سي یا دارُ الحرب ته ولاړ سي، نو د هغه وکالت به باطلیږي.

د دې په خلاف د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د مرتد ټوله تصرفات نافذیږي. نو ځکه محض په مرتد کېدلو سره به د مؤکل وکالت نه باطلیږي، ها! که چیري هغه د ارتداد په حالت کي مړ سي یا قتل کړی سي یا دارُ الحرب ته ولاړ سي او قاضي د هغه د تللو فیصله وکړي، نو بیا د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د هغه وکالت باطلیږي.

وإن کان المؤکل إلخ: فرمايي که مؤکل ښځه وي او هغه مرتده سي. نو د هغې وکالت نه باطلیږي: ځکه ښځه د مرتد کېدلو په وجه نه قتلول کیږي. نو ځکه د ښځي ارتداد. د هغې په معاملاتو او تصرفاتو کي نه مؤثر کیږي. او کله چي د ښځي ارتداد په معاملاتو او تصرفاتو کي نه مؤثر کیږي. نو ښکاره خبره ده چي د هغې وکالت به هم نه باطلیږي. ها! که چیري داسي ښځه تر مرتد کېدلو وروسته مړه سي یا دارُ الحرب ته ولاړه سي. نو په دې صورتونو کي د هغې وکالت باطلیږي.

## د مؤکل د غلام کېدلو په صورت کي وکالت باطلېدل

قَالَ: وَإِذَا وَكَّلَ الْمُكَاتَبُ ثُمَّ عَجَزَ فرمايي: او کله چي مکاتب اېل څوک ا وکیل جوړ کړي بیا مکاتب عاجز سي أَوِ الْمَأْذُونُ لَهُ ثُمَّ حُجِرَ عَلَيْهِ یا مأذون لهٔ فی التجارة غلام اېل څوک ا وکیل جوړ کړي بیا هغه اله تجارت څخه ا منع کړی سي ایعني د هغه مالک د تجارت اجازت (إذن) ختم کړي ا أَوِ الشَّرِيكَانِ فَافْتَرَقَا یا دوه شریکان وکیل جوړ کړي بیا هغوی دواړه سره جلا سي ایعني شرکت ختم کړي ا فَهَذِهِ الْوُجُوهُ

تُبْطِلُ الْوَكَالَةَ عَلَى الْوَكِيْلِ نو دغه أسباب [عوارض] پر وكيل وكالت باطلوي عَلِمَ أَوْ لَمْ يَعْلَمْ برابره ده وكيل خبر سي او كه خبر نه سي لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّ بَقَاءَ الْوَكَالَةِ يَعْتَمِدُ قِيَامَ الْأَمْرِ د هغه دليل په وجه كوم چي موږ ذكر كړى چي د وكالت باقي پاتېدل [د مؤكل] د حكم پر موجودېدلو موقوف دي وَقَدْ بَطَلَ بِالْحَجْرِ وَالْعَجْزِ وَالِافْتِرَاقِ او [دلته] د منع كېدلو، عاجزه كېدلو او سره جلا كېدلو په وجه [د مؤكل] حكم باطل سو وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْعِلْمِ وَعَدَمِهِ او [د وكيل] د خبرېدلو او نه خبرېدلو په مينځ كي هيڅ فرق نسته لِأَنَّ هَذَا عَزْلٌ حُكْمِيٌّ ځكه چي دا حكمي عزل دى فَلَا يَتَوَقَّفُ عَلَى الْعِلْمِ نو ځكه هغه به [د وكيل] پر خبرېدلو موقوف نه وي كَالْوَكِيلِ بِالْبَيْعِ إِذَا بَاعَهُ الْمُوَكِّلُ لكه [د يو شي] د خرڅولو وكيل چي كله مؤكل هغه خرڅ كړي.

**اللغات**: ﴿مأذون لهٔ﴾ هغه غلام چي مالک د تجارت او كاروبار كولو اجازت وركړى وي، ﴿حُجِرَ عليه﴾ د نصر د باب ماضي مجهوله ده: منع كول، بنديز پر لګول (پابندي پر لګول). ﴿حَجْـر﴾ د مخكني باب مصدر دى، ﴿عزل﴾ د ضرب د باب مصدر دى: معزوله كول، برطرفه كول.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دى كه مكاتب غلام بل ځوك خپل وكيل جوړ كړي او بيا هغه د بدل كتابت له اداء كولو څخه عاجزه سي او دوباره خالص غلام وګرځي، يا مأذون في التجاره غلام يو څوك خپل وكيل جوړ كړي او بيا هغه له تجارت څخه منع كړى سي. يا دوه خلګ د شركت په معامله كي يو څوك وكيل جوړ كړي او بيا دوى د شركت معامله ختمه كړي، نو له دغه صورتونو څخه په هر صورت كي وكالت باطليږي. برابره ده وكيل په دې عوارضو خبر سي او كه خبر نه سي؛ ځكه مخكي دا خبره تېره سوه چي د وكالت د بقاء (باقي پاتېدلو) مدار د مؤكل د حكم پر بقاء او قيام (موجودېدلو) دى. او د مؤكل په عاجزه كېدلو يا منع كېدلو يا معدوم الشركت كېدلو سره د مؤكل حكم (امر) باطليږي. او ښكاره خبره ده چي كله د مؤكل حكم باطل او ختم سو، نو وكالت به هم باطليږي.

ولا فرق بين العلم إلخ: فرمايي په پورتني صورتونو كي د وكالت باطلېدلو لپاره په مذكوره عوارضو د وكيل خبرېدل (علم) شرط نه دى؛ ځكه چي په دې صورتونو كي د وكالت باطلېدل "عزل حكمي" دى. او د وكيل خبرېدل په "عزل قصدي (عزل اختياري)" كي شرط دي، نه په "عزل حكمي" كي. نو ځكه په دغه عزل كي به د وكالت باطلېدل د وكيل پر خبرېدلو (علم) موقوف نه وي. لهذا كله چي هم له مذكوره دريو عوارضو څخه يو عارض موجود سي نو وكالت به باطليږي. برابره ده وكيل په هغه

عارض خبر سي، كه نه. د دې مثال داسي دى لكه يو سړى چي بل څوک ديو شي د خرڅولو وكيل جوړ كړي او بيا مؤكل په خپله هغه خرڅ كړي، نو دلته هم په "عزل حكمي" سره د وكيل وكالت ختميږي او د دې وكيل لپاره د مؤكل په خرڅولو خبرېدل شرط نه دي، خاص همدغه ډول د پورتنۍ مسئلې په دريو سره صورتونو كي هم د عزل حكمي پر بنياد وكيل معزوله كيږي او د معزولتيا په سبب د وكيل خبرېدل شرط نه دي.

## د وكيل په كومو عوارضو سره وكالت باطليږي؟

قَالَ: وَإِذَا مَاتَ الْوَكِيلُ أَوْ جُنَّ جُنُونًا مُطْبِقًا فرمايي: او كله چي وكيل مړ سي يا په دائمي توګه لېونى سي بَطَلَتِ الْوَكَالَةُ نو وكالت باطليږي لِأَنَّهُ لَا يَصِحُّ أَمْرُهُ بَعْدَ جُنُونِهِ وَمَوْتِهِ ځكه چي د وكيل تر لېونتوب او مرګ وروسته د هغه مامور كېدل نه صحيح كيږي [په بله وينا داسي هم ويل كېداى سي چي تر لېونتوب او مړه كېدلو وروسته وكيل هيڅ نه سي كولاى] وَإِنْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ مُرْتَدًّا او كه وكيل د مرتد والي په حالت كي دارُ الحرب ته ولاړ سي لَمْ يَجُزْ لَهُ التَّصَرُّفُ إِلَّا أَنْ يَعُودَ مُسْلِمًا نو د هغه لپاره تصرف كول جائز نه دي، مګر دا چي هغه د مسلمان والي په حالت كي [دارُ الاسلام] ته واپس راسي قَالَ: وَهٰذَا عِنْدَ مُحَمَّدٍ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: دا حكم د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دى فَأَمَّا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ❁ لَا يَعُودُ الْوَكَالَةُ ليكن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز [د هغه] وكالت واپس نه راګرځي لِمُحَمَّدٍ: أَنَّ الْوَكَالَةَ إِطْلَاقٌ د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي وكالت خو اطلاق [د تصرّف اجازت] دى [يعني وكالت د تصرّف اطلاق او اجازت ته وايي] لِأَنَّهُ رَفْعُ الْمَانِعِ ځكه چي هغه د مانع ليري كول دي [يعني ځكه چي په وكالت سره د تصرف كولو ممانعت (او عدم جواز) ختميږي] أَمَّا الْوَكِيلُ يَتَصَرَّفُ بِمَعَانٍ قَائِمَةٍ بِهِ او كوم چي وكيل دى نو هغه په داسي معانيو [صلاحيتونو] سره تصرف كوي كوم چي په هغه سره قائم دي [يعني د داسي صلاحيتونو په وجه تصرّف كوي كوم چي د هغه په ذات كي موجود دي (چي هغه عاقل كېدل، بالغ كېدل او آزاد كېدل دي)] وَإِنَّمَا عَجَزَ بِعَارِضِ اللَّحَاقِ او هغه صرف دارُ الحرب ته د تللو په وجه [له تصرّف څخه] عاجز سوى دى لِتَبَايُنِ الدَّارَيْنِ ځكه چي دواړه دارونه

---

❁ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما ذكر في نتائج الأفكار (ج:۷، ص:۱۳۸)، ورد المختار (ج:۴، ص:۲۶۲). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۶۷]

[یعني دارُ الاسلام او دارُ الحرب] یو له بل څخه جلا دي فَإِذَا زَالَ الْعَجْزُ وَالْإِطْلَاقُ بَاقٍ لهذا کله چي [د وکیل] عاجزي زائله سوه او اطلاق [د تصرّف اجازت] هم باقي دی عَادَ وَكِيْلًا نو ځکه وکیل به دوباره وکیل ګرځي وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ إِثْبَاتُ وِلَايَةِ التَّنْفِيذِ د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي وکالت [په اصل کي] د نافذولو ولایت ثابتول دي لِأَنَّ وِلَايَةَ أَصْلِ التَّصَرُّفِ بِأَهْلِيَّتِهِ ځکه چي د اصل تصرف کولو ولایت خو د وکیل د اهلیت په وجه [هغه ته حاصل] دی وَوِلَايَةُ التَّنْفِيذِ بِالْمِلْكِ او د نافذولو ولایت د ملکیت په وجه دی [یعني د تصرّف نافذولو ولایت د ملکیت (مالک جوړېدلو) په وجه هغه ته حاصلیږي] وَبِاللَّحَاقِ لَحِقَ بِالْأَمْوَاتِ وَبَطَلَتِ الْوِلَايَةُ لېکن دارُ الحرب ته د تللو په وجه وکیل د مړو سره لاحق سو [یعني ګواکي هغه مړ سو] او وکالت باطل سو فَلَا تَعُودُ نو ځکه هغه به واپس نه راګرځي كَمِلْكِهِ فِي أُمِّ الْوَلَدِ وَالْمُدَبَّرِ لکه په اُم ولد او مُدبر کي چي د هغه ملکیت واپس نه راګرځي وَلَوْ عَادَ الْمُوَكِّلُ مُسْلِمًا وَقَدْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ مُرْتَدًّا او که چیري مؤکل د مسلمان والي په حالت کي [دارُ الاسلام ته] واپس راسي حال دا چي [مخکي] هغه د مرتد والي په حالت کي دارُ الحرب ته تللی وي لَا تَعُودُ الْوَكَالَةُ فِي الظَّاهِرِ نو په ظاهر روایت کي د هغه وکالت واپس نه راګرځي وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهَا تَعُودُ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی چي واپس راګرځي كَمَا قَالَ فِي الْوَكِيلِ لکه څرنګه چي د وکیل په باره کي هغه [همداسي] فرمایلي دي وَالْفَرْقُ لَهُ عَلَى الظَّاهِرِ أَنَّ مَبْنَى الْوَكَالَةِ فِي حَقِّ الْمُوَكِّلِ عَلَى الْمِلْكِ او د ظاهر روایت مطابق د امام محمد رَحِمَهُ الله پر قول فرق دا دی چي د مؤکل په حق کي د وکالت بنیاد پر ملکیت دی وَقَدْ زَالَ او ملکیت زائل سوی دی وَفِي حَقِّ الْوَكِيلِ عَلَى مَعْنًى قَائِمٍ بِهِ او د وکیل په حق کي [د وکالت بنیاد] پر داسي معنیٰ دی کوم چي په هغه سره قائم ده [یعني د وکیل په حق کي د وکالت دار ومدار د هغه پر صلاحیت او اهلیت (عاقل وبالغ کېدلو...) دی] وَلَمْ يَزَلْ بِاللَّحَاقِ او دارُ الحرب ته د تللو په وجه دا معنیٰ [له هغه څخه] زائله نه سوه.

**اللغات:** ﴿جُنّ﴾ د نصر د باب ماضي مجهوله ده: لیونی کېدل، مجنون کېدل. ﴿مطبق﴾ د افعال د باب فاعل دی. تفصیلي معنیٰ یې له تېر عبارت څخه د مخکي عبارت په لغاتو کي ذکر سوه. ﴿یعود﴾ د نصر د باب مضارع ده: راګرځېدل. واپس کېدل (بیرته راګرځېدل)، واپس راتلل. ﴿إثبات﴾ د افعال د باب مصدر دی: ثابتول.

**تشريح**: مخکې تر دې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله هغه عوارض بيان کړل کوم چې مؤکل ته لاحق کيږي او په هغه سره وکالت (توکيل) باطليږي، اوس په دې عبارت کې هغه عوارض بيانوي کوم چې وکيل ته لاحق کيږي او په هغه سره وکالت باطليږي، نو فرمايي که چيرې وکيل مړ سي يا هغه ته دائمي جنون لاحق سي، نو د هغه وکالت باطليږي، ځکه چې د مړه کېدلو يا په دائمي توګه د مجنون کېدلو په صورت کې د مؤکل له طرفه د وکيل مامور کېدل نه صحيح کيږي (يعني په داسې صورت کې وکيل ته د مؤکل امر او حکم کول نه صحيح کيږي)، حال دا چې د وکالت صحيح کېدلو لپاره د وکيل مامور کېدل ضروري دي، لهذا کله چې د وکيل مامور کېدل صحيح نه دي، نو ښکاره خبره ده چې د هغه وکالت به هم صحيح نه وي.

وإن لحق إلخ: د دې حاصل دا دی چې که وکيل مرتد سي او دارُ الحرب ته ولاړ سي او بيا دوباره مسلمان سي او دارُ الاسلام ته راسي، نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د مخکني (سابق) وکالت په حکم سره د هغه تصرف جائز کيږي، لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د هغه تصرف نه جائز کيږي، يعني د مرتد کېدلو په وجه باطل سوی مخکنی (سابق) وکالت واپس نه راګرځي.

**د امام محمد ليل**: دا دی چې وکالت د تصرف اطلاق او اجازت ته وايي، ځکه د وکالت له وخت څخه مخکې د وکيل لپاره د مؤکل په معاملاتو کې تصرف کول شرعاً ممنوع وي لېکن له وکالت څخه وروسته دا ممانعت ختم سي او د وکيل لپاره د مؤکل په معاملاتو کې تصرف جائز وګرځي. او وکيل د آزاد کېدلو او عاقل و بالغ کېدلو په وجه د دې تصرف اهل هم دی، نو ځکه د هغه لپاره تصرف کول جائز دي، مګر د مرتد کېدلو او دارُ الحرب ته د تللو په وجه وکيل د يو عارض په وجه خپل د تصرف اهليت فوت کړی، ځکه په دارُ الاسلام او دارُ الحرب کې تباين او توپير سته (او د حکم په اعتبار سره دواړه عليحده ځايونه دي)، لهذا تر څو چې دغه عارض باقي پاته وي، تر هغه وخته به د وکيل لپاره تصرف کول ناجائز وي، لېکن کله چې هم هغه دوباره مسلمان سي او دارُ الاسلام ته واپس راسي، نو سمدستي به د هغه عارض ختم سي، او څرنګه چې د مؤکل له طرفه د توکيل حکم (امر) هم قائم او موجود دی، نو ځکه د فقهي قاعدې "إِذَا زَالَ الْمَانِعُ عَادَ الْمَمْنُوْعُ" پر بناء به د هغه تصرف جائز او صحيح وي او د مخکې په څېر به هغه د خپل مؤکل وکيل وي.

**د امام ابو يوسف دليل**: دا دی چې وکالت په اصل کې "ولايت تنفيذ" (د تصرف نافذولو ولايت) ته وايي، او تصرف ته نه وايي: ځکه د عاقل و بالغ کېدلو او آزاد کېدلو په وجه خو وکيل بالکل د تصرف

اهل دی، لېکن د مؤکل په مال کي د هغه تصرف په وکالت (وکیل جوړېدلو) سره نافذېږي. نو ځکه وکالت به له "ولایت تنفیذ" ځخه عبارت وي، او "ولایت تنفیذ" وکیل ته هغه وخت حاصلیږي کله چي مؤکل هغه د "ولایت تنفیذ" مالک جوړ کړي (مطلب دا چي مؤکل هغه خپل وکیل جوړ کړي)، او ځرنګه چي مؤکل له مرتد کېدلو ځخه مخکي هغه د "ولایت تنفیذ" مالک جوړ کړی وو، لېکن د مرتد کېدلو په وجه وکیل د مړو په حکم کي داخل سو او د هغه دا ولایت ختم او ساقط سو. او قاعده دا ده چي "السَّاقِطُ لَا يَعُوْدُ" (ساقط سوی شی واپس نه راګرځي)، نو ځکه د وکیل په دوباره مسلمان کېدلو او دارُ الاسلام ته په راتللو سره به د هغه مخکنی وکالت او "ولایت تنفیذ" واپس نه راګرځي او د مخکني وکالت په توګه به د هغه هیڅ تصرف هم جائز نه وي.

همدا وجه ده که له مرتد کېدلو او دارُ الحرب ته له تللو ځخه مخکي د وکیل په ملکیت کي اُم ولد یا مُدبر غلام وي، نو د وکیل په مرتد کېدلو او دارُ الحرب ته په نقل کېدلو سره هغه اُم ولد او مُدبر غلام آزادیږي او له هغو ځخه د وکیل ملکیت ساقطیږي، او د وکیل په دوباره مسلمان کېدلو او دارُ الاسلام ته په راتللو سره په هغو کي د وکیل ملکیت واپس نه راګرځي. لهذا کله چي د مرتد کېدلو او دارُ الحرب ته د تللو په وجه د هغه خپل ملکیت هم واپس نه راګرځي، نو ښکاره خبره ده چي د بل چا له طرفه ورکول سوی ملکیت (یعني وکالت) به په درجه اولیٰ بیرته نه راګرځي او هغه به باطلیږي.

ولوعاد المؤکل إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د وکیل پر ځای مؤکل مرتد سي او دارُ الحرب ته ولاړ سي او بیا دوباره مسلمان سي او دارُ الاسلام ته راسي، نو د ظاهر روایت مطابق د هیچا په نېز د هغه مخکنی وکالت واپس نه راګرځي (یعني زموږ په امامانو کي د یوه امام په نېز هم د هغه توکیل واپس جائز نه ګرځي)، لېکن په نوادر کي له امام محمد رَحِمَهُ الله ځخه نقل سوي دي چي د دوباره مسلمان کېدلو او دارُ الاسلام ته په را تللو سره د وکیل په څېر د مؤکل وکالت هم واپس راګرځي. یعني د دې روایت مطابق د وکیل او مؤکل د وکالت راګرځېدلو په هکله هیڅ فرق نسته. لېکن په ظاهر روایت کي فرق سته او هغه دا چي د مؤکل په حق کي د وکالت (توکیل) بنیاد او مدار پر ملکیت دی یعني د مؤکل لپاره هغه وخت یو ځوک د یو شي وکیل جوړول جائز دي کله چي هغه شی د مؤکل ملکیت وي (یعني مؤکل یې مالک وي). او ځرنګه چي د مرتد کېدلو او دارُ الحرب ته د تللو په وجه د مؤکل هر ملکیت ختم او زائل سو، نو ځکه د دوباره مسلمان کېدلو او دارُ الاسلام ته په راتللو سره چي ځرنګه د مؤکل نور ملکیتونه نه ثابتیږي، همداسي به د هغه د وکالت (توکیل) ملکیت هم نه ثابتیږي، او کله چي د مؤکل ملکیت نه ثابتیږي، نو د مؤکل وکالت به هم واپس نه راګرځي یعني هغه به جائز او صحیح نه ګرځي. ځکه چي پر همدې ملکیت د وکالت صحیح والی موقوف دی.

د دې په خلاف د وکیل په حق کې د وکالت بنیاد او مدار پر داسې معنیٰ یعني پر داسې صلاحیتونو دی کوم چې په وکیل سره قائم او په هغه کې موجود دي، یعني د هغه عاقل و بالغ کېدل او آزاد کېدل، او دارُ الحرب ته د تللو په وجه دا معنیٰ نه زائلیږي، نو ځکه د دوباره مسلمان کېدلو او دارُ الاسلام ته له راتللو څخه وروسته به هم هغه د تصرف اهل پاتـه وي او د مرتـد کېدلو او د دارُ الحرب د تللو وجه او مانع به هم زائل سي، نو ځکه اوس به دوباره د هغه وکالت هم واپس راګرځي او د هغه تصرف به هم جائز ګرځي.

## د وکالت باطلېدلو یو بل صورت

قَالَ: وَمَنْ وَكَّلَ آخَرَ بِشَيْءٍ ثُمَّ تَصَرَّفَ بِنَفْسِهِ فِيمَا وَكَّلَ بِهِ فرمايي: او كه يو سړي بل څوك د يو شي وكيل جوړ كړي بيا مؤكل په خپله په هغه څه كي تصرف وكړي چي د هغه په باره كي يې وكيل جوړ كړى وي بَطَلَتِ الْوَكَالَةُ نو وكالت باطليږي وَهٰذَا اللَّفْظُ يَنْتَظِمُ وُجُوهًا او دا عبارت څو صورتونو [مسئلو] لره شامل دى مِثْلَ أَنْ يُوَكِّلَهُ بِإِعْتَاقِ عَبْدِهِ أَوْ بِكِتَابَتِهِ مثلاً يو سړى بل څوك د خپل غلام آزادولو يا د هغه د مكاتب جوړولو وكيل جوړ كړي فَأَعْتَقَهُ أَوْ كَاتَبَهُ الْمُوَكِّلُ بِنَفْسِهِ بيا مؤكل په خپله هغه آزاد كړي يا يې مكاتب جوړ كړي أَوْ يُوَكِّلَهُ بِتَزْوِيجِ امْرَأَةٍ أَوْ بِشِرَاءِ شَيْءٍ يا هغه يو څوك د يو ښځي سره د نكاح كولو يا د يو شي د رانيولو وكيل جوړ كړي فَفَعَلَهُ بِنَفْسِهِ بيا هغه خپله دا كار وكړي أَوْ يُوَكِّلَهُ بِطَلَاقِ امْرَأَتِهِ يا خاوند يو څوك خپلي ښځي ته د طلاق وركولو وكيل جوړ كړي فَطَلَّقَهَا الزَّوْجُ ثَلَاثًا أَوْ وَاحِدَةً بيا خاوند [په خپله] هغې ته درې طلاقه يا يو طلاق وركړي وَانْقَضَتْ عِدَّتُهَا او د هغې عدت پوره سو أَوْ بِالْخُلْعِ يا [خاوند څوك د خپلي ښځي سره] د خلع كولو وكيل جوړ كړي فَخَالَعَهَا بِنَفْسِهِ بيا په خپله د هغې سره خلع وكړي [نو په دې ټولو صورتونو كي وكالت باطليږي] لِأَنَّهُ لَمَّا تَصَرَّفَ بِنَفْسِهِ ځكه كله چي مؤكل په خپله تصرف وكړى تَعَذَّرَ عَلَى الْوَكِيلِ التَّصَرُّفُ نو د وكيل لپاره تصرف كول نا ممكن سو فَبَطَلَتِ الْوَكَالَةُ نو ځكه وكالت به باطليږي حَتَّى لَوْ تَزَوَّجَهَا بِنَفْسِهِ وَأَبَانَهَا همدا وجه ده كه مؤكل په خپله د هغه ښځي سره نكاح وكړي بيا هغې ته طلاق بائن وركړي لَمْ يَكُنْ لِلْوَكِيلِ أَنْ يُزَوِّجَهَا مِنْهُ نو وكيل ته دا جائز نه دي چي د مؤكل سره د هغه ښځي نكاح

وكړي لِأَنَّ الْحَاجَةَ قَدِ انْقَضَتْ ځکه چي [د مؤکل] ضرورت پوره سو بِخِلَافِ مَا إِذَا تَزَوَّجَهَا الْوَكِيلُ وَأَبَانَهَا په خلاف د هغه صورت کله چي وکیل د هغې سره نکاح وکړي بیا طلاق بائن ورکړي لَهُ أَنْ يُزَوِّجَ الْمُوَكِّلَ نو [په دې صورت کي] هغه ته دا جائز دي چي د مؤکل سره [د هغې] نکاح وکړي لِبَقَاءِ الْحَاجَةِ ځکه چي [د مؤکل] ضرورت [اوس هم] باقي پاته دی وَكَذَا لَوْ وَكَّلَهُ بِبَيْعِ عَبْدِهِ فَبَاعَهُ بِنَفْسِهِ او همدارنګه که یو سړی بل څوک د خپل غلام خرڅولو وکیل جوړ کړي بیا په خپله هغه خرڅ کړي فَلَوْ رُدَّ عَلَيْهِ بِعَيْبٍ بِقَضَاءِ قَاضٍ نو که [تر دې وروسته] هغه غلام د یو عیب په وجه د قاضي په فیصله سره مؤکل ته واپس کړی سي فَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ لَيْسَ لِلْوَكِيلِ أَنْ يَبِيعَهُ مَرَّةً أُخْرَى نو له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی چي [په دې صورت کي] وکیل ته دا جائز نه دي چي هغه غلام بل وار [دوباره] خرڅ کړي لِأَنَّ بَيْعَهُ بِنَفْسِهِ مَنْعٌ لَهُ مِنَ التَّصَرُّفِ ځکه چي په خپله د مؤکل خرڅول وکیل له تصرف څخه منع کول دي [یعني کله چي مؤکل په خپله غلام خرڅ کړی نو هغه وکیل له تصرف کولو څخه منع کړی] فَصَارَ كَالْعَزْلِ نو دا د معزوله کولو په څېر سو [یعني ګواکي هغه وکیل معزوله کړی] وَقَالَ مُحَمَّدٌ ●: لَهُ أَنْ يَبِيعَهُ مَرَّةً أُخْرَى او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي وکیل ته دا جائز دي چي هغه غلام بل وار [دوباره] خرڅ کړي لِأَنَّ الْوَكَالَةَ بَاقِيَةٌ ځکه چي وکالت [اوس هم] باقي پاته دی لِأَنَّهُ إِطْلَاقٌ ځکه چي وکالت اطلاق دی وَالْعَجْزُ قَدْ زَالَ او عاجزي [هم] زائله سوه بِخِلَافِ مَا إِذَا وَكَّلَهُ بِالْهِبَةِ په خلاف د هغه صورت کله چي یو سړی بل څوک [د یو شي] د هبه کولو وکیل جوړ کړي فَوَهَبَ بِنَفْسِهِ بیا مؤکل په خپله هغه هبه کړي ثُمَّ رَجَعَ او بیا [له هبې څخه] رجوع وکړي [یعني هبه کړی سوی شی واپس واخلي] لَمْ يَكُنْ لِلْوَكِيلِ أَنْ يَهَبَ ثَانِيًا نو [په دې صورت کي] وکیل ته دا جائز نه دي چي هغه دوباره هبه کړي لِأَنَّهُ مُخْتَارٌ فِي الرُّجُوعِ ځکه چي مؤکل په رجوع کولو کي اختيار من دی [مطلب دا چي هغه ته د هبه کړی سوي شي د واپس اخیستلو اختیار سته] فَكَانَ ذَٰلِكَ دَلِيلُ

---

● القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في الدر المختار (ج:۴، ص:۴۶۵)، وفتح القدير (ج:۷، ص:۱۴۱، ۱۴۲).[القول الراجح ج:۲، ص:۱۶۸]

مَعَ مِ الْحَاجَةِ نو ځکه دا به د نه ضرورت دليل وي ايعني دا د دې خبري دليل دی چي اوس د هغه شئ هبه کولو ته د مؤکل ضرورت نسته ا أَمَّا الرَّدُّ بِقَضَاءٍ بِغَيْرِ اخْتِيَارِهِ فَلَمْ يَكُنْ دَلِيلُ زَوَالِ الْحَاجَةِ لېکن د مؤکل له اختيار څخه بغير د قاضي په فيصله سره غلام واپس کېدل د ضرورت زائلېدلو دليل نه دی فَإِذَا عَادَإِلَيْهِ قَدِيمُ مِلْكِهِ لهذا کله چي مؤکل ته خپل مخکنی ملکيت واپس را وګرځي [يعني کله چي د مؤکل د مخکني ملکيت پر بناء هغه غلام دوباره د مؤکل وطرف ته واپس راسي] كَانَ لَهُ أَنْ يَبِيعَهُ نو وکيل ته به دا جائز وي چي هغه خرڅ کړي.

**اللغات**: ﴿ينتظم﴾ د افتعال مضارع ده: شاملېدل، مشتمل کېدل، ﴿تزويج﴾ د تفعيل مصدر دی: نکاح ورکول، نکاح تړل، ﴿أبان﴾ د افعال د باب ماضي ده: بائنه کول، طلاق بائن ورکول، ﴿انقضت﴾ د انفعال ماضي ده: تېرېدل، ختمېدل، پوره کېدل، ﴿يهب﴾ د فتح د باب مضارع ده: هبه کول، هديه کول، بلا عوضه ورکول.

**تشريح**: **صورت د مسئلي**: دا دی که يو سړي بل څوک د يو کار وکيل جوړ کړي (چي ته زما لپاره فلانکی کار وکړه!) او بيا مؤکل په خپله هغه کار وکړي، نو وکالت باطلېږي. ښکاره دي وي چي د دې حکم ډېر قسمونه او صورتونه دي چي له هغه څخه دلته شپږ صورتونه ذکر سوي دي:

① مؤکل د خپل غلام آزادولو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي، او بيا مؤکل په خپله هغه آزاد کړي، ② مؤکل د خپل غلام د مکاتب جوړولو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي، او بيا مؤکل په خپله هغه مکاتب جوړ کړي، ③ مؤکل يو څوک د دې وکيل جوړ کړي چي د فلانۍ ښځي سره زما نکاح وکړه!. لېکن بيا مؤکل په خپله د هغې سره نکاح وکړي، ④ مؤکل د يو شي د رانيولو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي، او بيا مؤکل په خپله هغه شی رانيسي، ⑤ مؤکل خپلي ښځي ته د طلاق ورکولو لپاره يو څوک وکيل جوړ کړي، او بيا مؤکل په خپله هغې ته يو يا درې طلاقه ورکړي، ⑥ مؤکل د خپلي ښځي سره د خلع کولو لپاره وکيل جوړ کړي، او بيا په خپله خلع ور سره وکړي، نو په دې ټولو صورتونو کي وکالت باطلېږي او د وکيل د تصرف کولو اختيار ساقطېږي؛ ځکه چي د وکالت صحت (صحيح والی) پر حاجت او ضرورت موقوف دی (يعني وکالت د ضرورت پر بناء مشروع دی)، لېکن کله چي مؤکل په خپله تصرف وکړی نو وکالت ته ضرورت پاته نه سو او د مؤکل تر تصرف کولو وروسته د وکيل لپاره تصرف کول ناممکن سو. او څرنګه چي د وکيل کار فقط تصرف کول دي او هغه دلته ناممکن سو. نو ځکه وکالت به باطلېږي. همدا وجه ده که مؤکل په خپله د هغه ښځي سره

نکاح وکړي چې مؤکل د هغې سره د نکاح کولو لپاره بل څوک وکیل جوړ کړی وي او تر نکاح وروسته مؤکل هغې ته طلاق بائن کړي، نو په دې صورت کې د وکیل لپاره دا صحیح نه دي چې د هغې سره د مؤکل نکاح وکړي؛ ځکه چې مؤکل د ضرورت په وجه د هغه ښځې سره د نکاح کولو لپاره بل څوک وکیل جوړ کړی وو، او څرنګه چې د هغه په خپل فعل سره دا ضرورت پوره سو، نو ځکه اوس به د وکیل لپاره د هغې سره د مؤکل نکاح کول جائز نه وي.

ها! که چیري وکیل د هغه ښځې نکاح اول د ځان سره وکړي، بیا هغې ته طلاق بائن ورکړي او بیا د مؤکل سره د هغې نکاح وکړي، نو دا صحیح دي؛ ځکه چې په دې صورت کې اوس هم د مؤکل په حق کې د هغه ښځې سره د نکاح کولو ضرورت باقي پاته دی، او وکالت د ضرورت پر بناء مشروع دی، نو ګواکې وکالت هم باقي پاته دی، او کله چې وکالت باقي پاته دی، نو ځکه وکیل ته به دا جائز وي چې د هغه ښځې سره د مؤکل نکاح وکړي.

وكذا الورده إلخ: د دې حاصل دا دی چې که ادریس (مثلاً) د خپل غلام خرڅولو لپاره زید وکیل جوړ کړي، لېکن بیا مؤکل یعني ادریس په خپله هغه خرڅ کړي، او بیا مشتري دا غلام د یو عیب په وجه د قاضي په فیصله سره مؤکل (ادریس) ته واپس کړي، نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز وکیل ته دا جائز نه دي چې هغه دا غلام دوباره خرڅ کړي، ځکه کله چې مؤکل په خپله دا غلام خرڅ کړی، نو هغه وکیل له تصرف کولو څخه منع کړی، او د مؤکل دا فعل د وکیل د معزوله کولو په څېر دی، او ښکاره خبره ده چې که مؤکل صراحتاً وکیل معزوله کړي، نو د هغه د تصرف کولو حق ختمیږي، لهذا کله چې مؤکل په خپله غلام خرڅ کړي (او د وکالت کار په خپله وکړي)، نو په دې صورت کې به هم د وکیل د تصرف حق ختمیږي.

د دې په خلاف د امام محمد رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې په پورتني صورت کې وکیل لره د مذکوره غلام خرڅول جائز دي؛ ځکه د مؤکل له طرفه چې وکیل ته کوم وکالت پېش کړی سوی دی هغه مطلق دی او په هغه کې هیڅ قید یا شرط نسته، لېکن په خپله د مؤکل د خرڅولو په وجه د وکیل په حق کې تصرف کول ناممکن وګرځېدی، مګر کله چې هغه غلام دوباره د مؤکل وطرف ته واپس کړي سو، نو اوس د وکیل په حق کې تصرف کول ناممکن پاته نه سو او د تصرف په حواله سره د هغه عجز ختم سو، نو ځکه اوس به وکیل ته د دې پوره اجازت وي چې مذکوره غلام خرڅ کړي.

د دې په خلاف که مؤکل د يو شي د هبه کولو لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي چي ''ته زما دا شی (مثلاً) خالد ته هبه کړه!''، او بيا مؤکل په خپله هغه شی خالد ته هبه کړي، لېکن بيا مؤکل هغه شی بير ته له خالد (موهوب لهٗ) څخه واپس واخلي، نو په دې صورت کي وکيل ته دا جائز نه دي چي هغه دا شی دوباره هبه کړي؛ ځکه چي مؤکل د شي په هبه کولو او بيا د هغه په واپس اخيستلو کي خود مختاره (اختيار من) دی، او د مؤکل له طرفه د موهوب شي واپس اخيستل د دې خبري ښکاره دليل دی چي اوس د هغه شي هبه کولو ته د مؤکل ضرورت نسته (په بله وينا دا چي مؤکل اوس د هغه هبه کول نه غواړي)، لهذا کله چي د هغه شي هبه کولو ته ضرورت او حاجت نسته، نو ځکه اوس به وکيل ته دوباره د هغه هبه کول جائز نه وي.

او کوم چي په پورتني صورت کي د مؤکل وطرف ته د غلام واپس کېدل دي، نو دا واپسي د مؤکل په قصد او اختيار سره نه ده سوې، بلکي مؤکل د هغه غلام په واپس اخيستلو کي مجبوره دی، نو ځکه دا واپسي به د نه ضرورت (عدمِ حاجت) دليل نه وي بلکي د هغه غلام د خرڅولو په حواله سره به اوس هم د مؤکل ضرورت باقي پاته وي (يعني اوس هم هغه دا غواړي چي غلام خرڅ کړی سي)، نو ځکه کله چي هم د مؤکل د مخکني ملکيت پر بناء غلام د هغه وطرف ته واپس کړی سي، نو وکيل ته به د دې پوره اجازت وي چي هغه غلام خرڅ کړي. او همدا فرق دی د هبه کولو او خرڅولو په صورت کي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



# كِتَابُ الدَّعْوٰى

## (دا) کتاب د دعوې (د احکامو په بيان کې) دى

**تشريح**: د وکالت له بابونو څخه تر ټولو زيات مشهوره د وکالت بالخصومت باب دى کوم چې مخکې د "بَابُ الْوَكَالَةِ بِالْخُصُومَةِ" په عنوان سره بيان سو. او څرنګه چې وکالت بالخصومت (يعني د خصومت او دعوې وکيل کېدل) د دعوې سبب دى او دعوىٰ د خصومت مسبب دى. او تاسو ته معلومه ده چې مسبب تر سبب وروسته وي. نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله. کتاب الدعوىٰ د وکالت له بيان څخه وروسته بيان کړى دى.

**د دعوى لغوي او اصطلاحي معنى**: د "دعوىٰ" لغوي معنىٰ ده: "قَوْلٌ يُقْصَدُ بِهِ إِيْجَابُ حَقٍّ عَلَى الْغَيْرِ" (يعني داسې قول او خبره چې د هغه په ذريعه پر بل چا د يو حق ثابتولو اراده وکړى سي).

او د شريعت په اصطلاح کې د "دعوىٰ" معنىٰ ده: "مُطَالَبَةُ حَقٍّ فِيْ مَجْلِسٍ مَنْ لَهُ الْخَلَاصُ عِنْدَ ثُبُوْتِهِ" (يعني د داسې کس په مجلس کې د حق مطالبه کول کوم چې د حق ثابتېدلو په وخت کې د حق پر ورکولو قادر وي). په لنډه توګه چې د "دعوىٰ" اصطلاحي معنىٰ ده: د قاضي په مجلس کې د خپل حق مطالبه کول.

### د مدعي او مدعىٰ عليه تعريفونه

قَالَ: اَلْمُدَّعِيْ مَنْ لَا يُجْبَرُ عَلَى الْخُصُوْمَةِ إِذَا تَرَكَهَا فرمايي: مدعي هغه کس دى چې کله هغه خصومت [دعوىٰ کول] پرېږدي نو هغه پر خصومت نه مجبورول کېږي وَالْمُدَّعٰى عَلَيْهِ مَنْ يُجْبَرُ عَلَى الْخُصُوْمَةِ او مدعىٰ عليه هغه کس دى کوم چې پر خصومت مجبورول کېږي وَمَعْرِفَةُ الْفَرْقِ بَيْنَهُمَا مِنْ أَهَمِّ مَا يُبْتَنٰى عَلَيْهِ مَسَائِلُ الدَّعْوٰى او پر کومو اُمورو چې د دعوى مسائل مبني دي له هغوى ټولو څخه زيات اهم د مدعي او مدعىٰ عليه په مېنځ کې د فرق پېژندل دي [چې د هغو په مېنځ کې فرق څه دى؟ او د هغو تعريف څه دى؟] وَقَدِ اخْتَلَفَتْ عِبَارَاتُ الْمَشَايِخِ فِيْهِ او په دې باره کې د مشايخو رَحِمَهُمُ الله اقوال

مختلف دي فَمِنْهَا مَا قَالَ فِي الْكِتَابِ او له هغه اقوالو څخه يو قول هغه دی کوم چي امام قدوري رَحِمَهُ الله په قدوري کي ذکر کړی دی [کوم چي د هدايې متن دی] وَهُوَ حَدٌّ عَامٌّ صَحِيحٌ او هغه عام او صحيح تعريف دی وَقِيلَ: الْمُدَّعِي مَنْ لَا يَسْتَحِقُّ إِلَّا بِحُجَّةٍ او ويل سوي دي: چي مدعي هغه کس دی کوم چي صرف په حجت [دليل] سره مستحق ګرځي كَالْخَارِجِ لکه بهرنی [غير قابض] کس [يعني لکه هغه کس کوم چي د بل چا په قبضه کي د موجود شي مدعي وي] وَالْمُدَّعَى عَلَيْهِ مَنْ يَكُونُ مُسْتَحِقًّا بِقَوْلِهِ مِنْ غَيْرِ حُجَّةٍ او مدعیٰ عليه هغه کس دی کوم چي له حجت څخه بغير صرف په خپل قول سره مستحق ګرځي كَذِي الْيَدِ لکه قابض وَقِيلَ: الْمُدَّعِي مَنْ يَتَمَسَّكُ بِغَيْرِ الظَّاهِرِ او ويل سوي دي: چي مدعي هغه کس دی کوم چي د ظاهري حالت په خلاف سره دليل نيسي وَالْمُدَّعَى عَلَيْهِ مَنْ يَتَمَسَّكُ بِالظَّاهِرِ او مدعیٰ عليه هغه کس دی کوم چي په ظاهري حالت سره دليل نيسي وَقَالَ مُحَمَّدٌ فِي الْأَصْلِ: الْمُدَّعَى عَلَيْهِ هُوَ الْمُنْكِرُ او امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي فرمايلي دي: چي مدعیٰ عليه هغه کس دی کوم چي منکر [انکار کونکی] وي وَهٰذَا صَحِيحٌ او دا قول [که څه هم] صحيح دی لَكِنَّ الشَّأْنَ فِي مَعْرِفَتِهِ لېکن خبره د هغه د پېژندلو په باره کي ده وَالتَّرْجِيحُ بِالْفِقْهِ عِنْدَ الْحُذَّاقِ مِنْ أَصْحَابِنَا او د فقهي په ذريعه [يعني د معنیٰ په ذريعه] د ترجيح ورکولو حق زموږ ماهرينو علماؤ ته حاصل دی لِأَنَّ الِاعْتِبَارَ لِلْمَعَانِي دُونَ الصُّوَرِ ځکه چي اعتبار معانيو لره دی، نه صورتونو لره فَإِنَّ الْمُودَعَ إِذَا قَالَ: رَدَدْتُ الْوَدِيعَةَ همدا وجه چي کله مودَع ووايي: ما [مودِع ته] امانت واپس کړی دی فَالْقَوْلُ لَهُ مَعَ الْيَمِينِ نو د هغه قول د قسم سره معتبر دی [ځکه دلته د معنیٰ په اعتبار سره هغه د ضمان منکر دی، او د منکر قول د قسم سره معتبر وي] وَإِنْ كَانَ مُدَّعِيًا لِلرَّدِّ صُورَةً که څه هم د صورت په اعتبار سره هغه د واپس کولو مدعي دی لِأَنَّهُ يُنْكِرُ الضَّمَانَ مَعْنًى ځکه چي د معنیٰ په اعتبار سره هغه د ضمان منکر دی.

**اللغات:** ﴿مُدَّعِي﴾ د افتعال د باب فاعل دی، لفظي معنیٰ يې ده: دعویٰ کونکی کس (دعوه کونکی).

﴿مُدَّعٰى عَلَيه﴾ د مخکني باب مفعول دی، لفظي معنیٰ يې ده: هغه کس چي پر هغه د يو شي دعویٰ

وسي، (يعني چي مدعي پر هغه ديو شي يا ديو حق دعوىٰ وکړي)، ﴿خصومة﴾ جنګ او جنجال، دعوىٰ کول (په اصل کي هغه دعوىٰ ته وايي چي بل يو له هغه شخصه منکر وي، يعني چي يو سړى پر بل چا ديو شي دعوىٰ وکړي او دا بل څوک له هغه شخصه انکار کوي)، ﴿يبتني﴾ د افتعال د باب مضارع ده: مبني کېدل، مدار کېدل، ﴿حدّ﴾ تعريف، ﴿يتمسّك﴾ د تفعّل د باب مضارع ده، مراد: استدلال کول، دليل نيول، ﴿حذاق﴾ جمع د حَاذِقٌ ده: ډېر ماهر، ﴿مودَع﴾ کوم چا ته چي امانت شى ايښوول سوى وي، هغه ته "مُوْدَع" وايي، چي هغه ته په بله وينا "امانت ساتونکى (امين)" هم وايي، او چا چي امانت ورته ايښى وي يعني د امانت مالک، هغه ته "مُوْدِع" (بکسر الدال)" وايي.

**تشريح**: د کتاب الدعوىٰ د زياتره مسئلو تعلق د مدعي او مدعىٰ عليه سره دى، نو ځکه د دوى دواړو پېژندل او په دوى کي فرق کول د کتاب الدعوىٰ له اهمو مباحثو شخه دي او د مشايخو په مېنځ کي مختلف فيه هم دي، نو ځکه تر ټولو مخکي د دوى تعريف بيان سوى دى، ① نو د امام قدوري رَحِمَهُ الله په نېز د هغو تعريف دا دى چي مدعي هغه کس ته وايي کوم چي پر خصومت (دعوىٰ کولو) نه مجبورول کيږي يعني که له دعوىٰ کولو شخه وروسته هغه خپل دعوىٰ پرېږدي نو هغه بيرته پر دعوىٰ کولو نه مجبورول کيږي، اومدعىٰ عليه هغه کس ته وايي کوم چي پر خصومت مجبورول کيږي، يعني د مدعي له دعوى کولو شخه وروسته هغه د جواب پر ورکولو مجبورول کيږي او هغه ته له خصومت شخه د ځان کښلو اجازت نه وي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا تعريف صحيح هم دى او عام هم دى، صحيح خو ځکه دى چي دا تعريف خپل ټولو افرادو لره جامع دى، او عام ځکه دى چي د مدعي او مدعىٰ عليه په باره کي چي څومره تعريفونه سوي دي، دا تعريف هغه ټولو لره شامل دى. (بنايه:٨)

وقيل المدعي: ② دويم تعريف دا دى چي مدعي هغه کس ته وايي کوم چي له حجت او دليل شخه بغير د هغې شي نه مستحق کيږي د کوم شي په باره کي چي هغه دعوىٰ کوي (په لنډه توګه دا چي مدعي هغه کس دى کوم له حجّت شخه بغير د مُدعىٰ بِهٖ نه مستحق کيږي) بلکي صرف په حجت سره د هغه مستحق کيږي، د حجت مطلب دا چي هغه به يا ګواهي (بيّنه) پېشوي يا مدعىٰ عليه به اقرار کوي او يا مدعىٰ عليه به له قسم اخيستلو شخه انکار کوي، مثلاً هغه کس کوم چي د داسي شي دعوىٰ وکړي چي هغه د بل چا په قبضه کي وي، نو په دې صورت کي مدعي هغه وخت د دې شي مستحق کيږي کله چي

شرعي حجت موجود وي (يعني ګواهي [بينه] يا اقرار يا انکار). او مدعیٰ عليه هغه کس ته وايي کوم چې فقط په خپل قول سره د مقبوضه شي مستحق کيږي. مثلاً هغه کس کوم چې پر يو شي قابض وي (يعني شی د هغه په خپل قبضه کي وي)، نو که هغه داسي ووايي چې "دا شی زما ملکيت دی". نو فقط په دومره وينا سره د هغه حق ثابتيږي او هغه ته د هيڅ حجت او دليل ضرورت نسته. تر دې چې مدعي خپل استحقاق ثابت نه کړي.

③ دريم تعريف دا دی چې مدعي هغه کس ته وايي کوم چې په خلاف ظاهر (د ښکاره حالت په خلاف) سره دليل ونيسي يعني د هغه قول د ظاهر (ظاهري حالت) خلاف وي. او مدعیٰ عليه هغه کس ته وايي چې د هغه قول د ظاهر موافق وي.

④ څلورم تعريف کوم چې امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي ذکر کړی دی، دا دی چې مدعیٰ عليه منکر ته وايي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله وايي چې دا تعريف صحيح دي، ځکه چې دې ته د حديث تائيد حاصل دی. ځکه په يوه حديث کي ذکر سوي دي: "اَلْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِيْ" او په بل حديث کي ذکر سوي دي: "وَالْيَمِيْنُ عَلٰى مَنْ أَنْكَرَ"، نو د دواړو په جمع کولو سره دا معلوميږي چې کوم يو منکَر (انکار کونکی) وي هغه مدعیٰ عليه دی.

لکن الشأن في معرفته إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په دې قول سره هم خبره پوره نه ښکاره کيږي، ځکه زموږ خبره د همدې منکر د پېژندلو په باره کي ده چې له فريقينو څخه منکر (مدعیٰ عليه) کوم يو دی او مدعي کوم يو دی، ځکه د دوی په مينځ کي د فرق پېژندلو په حواله سره معامله ستونزمنه ده، ځکه چې ځيني وخت يو څوک صورتاً مدعي معلوميږي او معناً منکر معلوميږي. او ځيني وخت يو څوک صورتاً منکر معلوميږي او معناً مدعي معلوميږي، يعني ځيني وخت په يوه کس کي په يوه جهت سره دعویٰ او په يوه جهت سره انکار جمع سي، او کله چې په يوه کس کي دعویٰ او انکار دواړه جمع سي. نو د دې پېژندل به ضروري وي چې دا کس مدعي دی او که منکر (مدعیٰ عليه) دی.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې زموږ ماهرين علماء او مشايخ د معنیٰ په ذريعه ترجيح ورکوي او د معنیٰ په ذريعه د مدعي او مدعیٰ عليه په مينځ کي فرق کوي. مطلب دا چې کله د دعویٰ جهت او د انکار جهت سره متعارض سي، نو د معنیٰ په ذريعه به يې فرق کيږي او د معنیٰ جهت ته به ترجيح ورکول کيږي. يعني که د معنیٰ په اعتبار سره يو څوک مدعي وي نو هغه به مدعي ګرځول

کیږي او که د معنیٰ په اعتبار سره منکر وي نو هغه به مدعیٰ علیه ګرځول کیږي. ځکه چې اعتبار معانیو لره دی یعنې په حقیقت کې د معنیٰ اعتبار کیږي او د ظاهري صورت او لفظ اعتبار نه کیږي، همدا وجه ده که مودَع (امانت ساتونکی) دعویٰ وکړي چې ما مخکې لا مودع ته امانت واپس کړی دی، نو ځرنګه چې دلته مودَع صورتاً (د ظاهري صورت په اعتبار سره) د واپس کولو مدعي دی لیکن معناً هغه د ضمان له وجوب څخه منکر دی، یعنې په حقیقت کې د هغه د قول مطلب دا دی چې پر ما د امانت ضمان (تاوان) واجب نه دی، ځرنګه چې په دغه کس (مودَع) کې د صورت او معنیٰ دواړه جهتونه سره متعارض سول، نو ځکه د معنیٰ جهت ته به ترجیح ورکول کیږي او د هغه مطابق به فیصله کیږي. او دلته د معنیٰ په اعتبار سره مودَع منکر دی، نو ځکه د قسم (یمین) سره به د هغه قول معتبر وي.

## دعویٰ به کله قبلول کیږي؟

قَالَ: وَلَا يُقْبَلُ الدَّعْوٰى حَتّٰى يَذْكُرَ شَيْئًا مَعْلُومًا فِيْ جِنْسِهٖ وَقَدْرِهٖ فرمايي: او دعویٰ به نه قبلول کیږي تر دې چې مدعي داسې شی ذکر کړي چې د هغه جنس او مقدار معلوم وي لِأَنَّ فَائِدَةَ الدَّعْوٰى الْإِلْزَامُ بِوَاسِطَةِ إِقَامَةِ الْحُجَّةِ ځکه چې د دعویٰ فایده د حجت قائمولو [بینه پېشولو] په ذریعه [پر مدعیٰ علیه د مُدعیٰ به] لازمول دي وَالْإِلْزَامُ فِي الْمَجْهُوْلِ لَا يَتَحَقَّقُ او په مجهول شي کې لازمول ممکن نه دي فَإِنْ كَانَ عَيْنًا فِيْ يَدِ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ بیا که [مُدعیٰ به] عَین شی وي [او] د مدعیٰ علیه په قبضه کې وي كُلِّفَ إِحْضَارَهَا نو مدعیٰ علیه به د هغه شي په حاضرولو مُکلف کیږي [یعني قاضي به مدعیٰ علیه ته د هغه شي د حاضرولو حکم کوي] لِيُشِيْرَ إِلَيْهَا بِالدَّعْوٰى د دې لپاره چې په دعویٰ کولو کې د هغه وطرف ته اشاره وکړی سي وَكَذَا فِي الشَّهَادَةِ وَالْاِسْتِحْلَافِ او همدارنګه په ګواهي اداء کولو او قسم اخیستلو کې [به مدعیٰ علیه د هغه په حاضرولو ـ سره مکلف کیږي، د دې لپاره چې د هغه وطرف ته اشاره وکړی سي] لِأَنَّ الْإِعْلَامَ بِأَقْصٰى مَا يُمْكِنُ شَرْطٌ ځکه چې حتی الامکان خبر ورکول شرط دي وَذٰلِكَ بِالْإِشَارَةِ فِي الْمَنْقُوْلِ او داسې خبر ورکول په منقول شي کې په اشاره سره کیږي لِأَنَّ النَّقْلَ مُمْكِنٌ ځکه چې [د منقول شي] نقل کول ممکن دي وَالْإِشَارَةُ أَبْلَغُ فِي التَّعْرِيْفِ او اشاره په تعریف کولو [او ور پېژندلو] کې ابلغ ده وَيَتَعَلَّقُ بِالدَّعْوٰى وُجُوْبُ الْحُضُوْرِ او د صحیح دعویٰ سره [یو څو اُمور] متعلق کیږي [چې

له هغوی څخه یو] پر مدعیٰ علیه د حاضرېدلو واجبېدل دي وَعَلَىٰ هَذَا الْقُضَاةُ مِنْ آخِرِهِمْ فِي كُلِّ عَصْرٍ او پر همدې [طريقه] په هره زمانه کې له اول څخه تر آخره پورې قاضيان [عمل کونکي] دي وَوُجُوبُ الْجَوَابِ إِذَا حَضَرَ [۲] او پر مدعیٰ علیه د جواب واجبېدل کله چې هغه حاضر سي لِيُفِيدَ حُضُورُهُ د دې لپاره چې د هغه حاضرېدل فايده ورکړي وَلُزُومُ إِحْضَارِ الْعَيْنِ الْمُدَّعَاةِ [۳] او پر مدعیٰ علیه د هغه [منقول] شي د حاضرولو لازمېدل چې د هغه په باره کې دعویٰ سوې وي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی وَالْيَمِينِ إِذَا أَنْكَرَهُ [۴] او پر مدعیٰ علیه د قسم لازمېدل کله چې هغه له دعوی څخه انکار وکړي وَسَنَذْكُرُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَىٰ او دا به موږ انشاء الله ژر ذکر کړو قَالَ: وَإِنْ لَمْ تَكُنْ حَاضِرَةً فرمايي: که چيري هغه منقول شی حاضر نه وي ذَكَرَ قِيمَتَهَا نو د هغه قيمت به ذکر کوي لِيَصِيرَ الْمُدَّعَىٰ مَعْلُومًا د دې لپاره چې مدعیٰ بهٖ [يعني د کوم شي په باره کې چې دعویٰ سوې وي، هغه] معلوم وګرځي لِأَنَّ الْعَيْنَ لَا تُعْرَفُ بِالْوَصْفِ ځکه چې عَين شی د وصف په ذريعه نه معلومېږي وَالْقِيمَةُ تُعْرَفُ بِهِ او د قيمت په ذريعه معلومېږي وَقَدْ تَعَذَّرَ مُشَاهَدَةُ الْعَيْنِ حال دا چې [دلته] د عَين شي ليدل ناممکن دي وَقَالَ الْفَقِيهُ أَبُو اللَّيْثِ: يُشْتَرَطُ مَعَ بَيَانِ الْقِيمَةِ ذِكْرُ الذُّكُورَةِ وَالْأُنُوثَةِ او فقيه ابو الليث رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د قيمت بيانولو سره د مذکر والي او مؤنث والي ذکر کول هم شرط دي.

**اللغات**: ﴿إِلزام﴾ د افعال د باب مصدر دی: لازمول. ﴿عَين﴾ مُتعيّن شی. ﴿منقول﴾ نقل کېدونکی شی، کوم چې له يو ځايه بل ځای ته نقل کېدای سي. ﴿كُلّف﴾ د تفعيل د باب ماضي مجهوله ده: مکلف کول (مکلف جوړول)، حکم کول. ﴿إعلام﴾ د افعال د باب مصدر دی: خبرول. خبر ورکول (اطلاع ورکول). ﴿مُدَّعیٰ﴾ او مُدَّعیٰ بِهٖ: د کوم شي په باره کې چې دعویٰ سوې وي. يعني مدعي چې د کوم شي دعویٰ کړې وي، هغه شي ته مُدَّعیٰ بِهٖ وايي.

**تشريح**: صورت د مسئلې ډېر واضح او آسانه دی. حاصل يې دا دی چې د دعوې د صحيح کېدلو او قبلېدلو لپاره دا ضروري دي چې مدعي د مدعیٰ بهٖ جنس او مقدار هم ذکر کړي. يعني هغه چې د کوم شي دعویٰ کوي، د هغه جنس او مقدار به هم بيانوي، کنې د هغه دعویٰ به نه قبلول کيږي. مثلاً داسې

به وايي چي "پر فلانکي زما پنځه سوه روپۍ باندي دي يا زما پر هغه مثلاً پنځوس سېره غنم باندي دي"؛ ځکه چي د دعوی کولو فايده دا ده چي د حجت او بينې په ذريعه پر مدعیٰ عليه د مدعي حق لازم او واجب کړی سي، اوس که چيري مدعیٰ بِهٖ مجهول وي نو ښکاره خبره ده چي د هغه لازمول به ممکن نه وي، نو ځکه د مدعیٰ بِهٖ جنس او مقدار بيانول ضروري دي.

فإن كان عينا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که مدعیٰ بِهٖ عَين او منقول شی وي او د مدعیٰ عليه په قبضه کي موجود وي، نو مدعیٰ عليه به په دې سره مکلف کيږي چي هغه شی د قاضي مجلس (عدالت) ته حاضر کړي، د دې لپاره چي مدعي د خپل دعویٰ پېشولو په وخت کي يا د مدعي گواهان د گواهي ورکولو په وخت کي د هغه وطرف ته اشاره وکړی سي؛ ځکه د مدعیٰ بِهٖ په باره کي حتی الامکان خبر ورکول شرط دي، او د منقول شي په باره کي حتی الامکان او پوره خبر ورکول په اشاره سره کيږي، او د قاضي مجلس ته د منقول شي نقل کول (وړل) ممکن هم دي، او په اشاره سره د يو شي پوره او کامل تعريف کيږي، ځکه اشاره کول داسي دي لکه پر شي لاس ايښوول، او تر لاس ايښوولو وروسته د شي په پېژندنه کي هيڅ شبهه نه پاتيږي، نو ځکه کله چي مدعیٰ بِهٖ منقول شي وي، نو د قاضي مجلس ته د هغه حاضرول ضروري دي.

ويتعلق بالدعوى إلخ: فرمايي که چيري د مدعي دعویٰ صحيح وي، نو د هغه سره يو څو اُمور متعلق کيږي:

①... پر مدعیٰ عليه د قاضي په مجلس کي حاضرېدل واجبيږي، ځکه د نبي کريم ﷺ له زمانې څخه واخله! تر نن ورځي پوري همدا سلسله جاري ده، او د هري زمانې قاضيان پر همدې طريقه عمل کوي.

②... کله چي مدعیٰ عليه حاضر سي، نو پر هغه (په "نعم" يا "لا" سره) جواب ورکول واجبيږي، د دې لپاره چي د هغه حاضرېدل فايده ورکړي او مفيد ثابت سي؛ ځکه د مدعیٰ عليه د حاضرېدلو مقصد همدا جواب ورکول دي.

③... که مدعیٰ بِهٖ منقول شی وي، نو د هغه وطرف ته د اشاره کولو لپاره د هغه حاضرول هم لازميږي؛ لکه څه مخکي چي د دې دليل تېر سو.

④... که مدعیٰ علیه د مدعي له دعوې څخه انکار وکړي او بیا مدعي له ګواهۍ پېښولو څخه عاجزه سي، نو پر مدعیٰ علیه قسم اخیستل لازمیږي، د قسم لازمېدلو بیان به انشاء الله د دې باب په آخر کي راسي.

قال وإن لم تكن حاضرة إلخ: فرمايي مدعي چي د کوم منقول شي دعویٰ کوي، که چیري هغه د مدعي علیه په قبضه کي موجود نه وي بلکي له هغه څخه ضایع سوی وي، نو په دې صورت کي پر مدعي د هغه شي قیمت بیانول ضروري دي، د دې لپاره چي د هغه دعویٰ صحیح سي، او په دې صورت کي فقط د شي وصف بیانول کافي نه دي؛ ځکه چي د وصف په ذریعه عَین شی نه پېژندل کیږي؛ ځکه ځیني وخت یو وصف د ډېرو شیانو په مینځ کي مشترک وي، نو د مشترک والي په وجه د هغه وصف په ذریعه د شي پېژندنه نه سي کېدلای، او پاته سو قیمت، نو د هغه په ذریعه شی پېژندل کېدای سي، او څرنګه چي د هغه ضایع سوي شي مشاهده کول (لیدل) ناممکن دي نو ځکه صرف د قیمت ذکر کول به مفید وي، ځکه چي په داسي صورت کي د خبرو کولو آخري امکاني درجه صرف قیمت ذکر کول دي.

فقیه ابو اللیث رَحِمَهُ الله فرمايي چي که مدعیٰ بِهٖ د حیوان له قبیلې څخه وي، نو پر مدعي لازم دي چي د قیمت بیانولو سره، سره به دا هم ذکر کوي چي هغه مذکر دی یا مؤنث دی.

## د غیرِ منقول شي (جایداد) په باره کي د دعوې کولو شرطونه

قَالَ: فَإِنِ ادَّعٰى عَقَارًا فرمايي: که مدعي د غیر منقول شي [جایداد] دعویٰ وکړي حَدَّدَهُ نو مدعي به د هغه حدود ذکر کوي وَذَكَرَ أَنَّهُ فِي يَدِ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ وَأَنَّهُ يُطَالِبُهُ بِهِ او دا به [هم] ذکر کوي چي هغه شی د مدعیٰ علیه په قبضه کي دی او دا [به هم ذکر کوي] چي زه له مدعیٰ علیه څخه د هغه مطالبه کوم لِأَنَّهُ تَعَذَّرَ التَّعْرِيفُ بِالْإِشَارَةِ لِتَعَذُّرِ النَّقْلِ ځکه چي د نقل کولو د ناممکن والي په وجه [د غیرِ منقول شي] تعریف د اشارې په ذریعه کول ناممکن دي فَيُصَارُ إِلَى التَّحْدِيدِ نو ځکه د حدودو د ذکرولو وطرف ته به رجوع کیږي فَإِنَّ الْعَقَارَ يُعْرَفُ بِهِ ځکه چي جایداد د حدودو په ذکر کولو سره معلومیږي وَيَذْكُرُ الْحُدُودَ الْأَرْبَعَةَ وَيَذْكُرُ أَسْمَاءَ أَصْحَابِ الْحُدُودِ وَأَنْسَابَهُمْ او مدعي به څلور سره حدود ذکر کوي او د حدودو د مالکانو نومونه او نسبونه به [هم] ذکر کوي وَلَا بُدَّ مِنْ ذِكْرِ الْجَدِّ او د نیکه ذکر کول [هم] ضروري دي لِأَنَّ تَمَامَ التَّعْرِيفِ بِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ

الله په نېز تعريف د نيکه په ذکر کولو سره پوره کيږي عَلٰى مَا عُرِفَ لکه څرنگه چې معلوم سوي دي هُوَ الصَّحِيحُ او همدا صحيح ده وَلَوْ كَانَ الرَّجُلُ مَشْهُورًا او که چيري سړی [يعني د يوه حدٌ مالک] مشهوره وي يُكْتَفٰى بِذِكْرِهِ نو [صرف] د هغه په ذکر کولو سره [هم] اکتفاء کېدای سي فَإِنْ ذَكَرَ ثَلَاثَةً مِنَ الْحُدُودِ او که چيري مدعي درې حدود ذکر کړي يُكْتَفٰى بِهَا عِنْدَنَا نو زموږ په نېز په دې اکتفاء کېدای سي خِلَافًا لِزُفَرَ ۞ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله لِوُجُودِ الْأَكْثَرِ ځکه چې اکثره حدود موجود سوه بِخِلَافِ مَا إِذَا غَلِطَ فِي الرَّابِعَةِ په خلاف د هغه صورت کله چې مدعي د څلورم حد په ذکر کولو کې غلطي وکړي لِأَنَّهُ يُخْتَلَفُ بِهِ الْمُدَّعٰى ځکه چې په دې سره دعوىٰ مختلف کيږي وَلَا كَذٰلِكَ بِتَرْكِهَا او د هغه په پرېښوولو کې دا خبره نسته وَكَمَا يُشْتَرَطُ التَّحْدِيدُ فِي الدَّعْوٰى يُشْتَرَطُ فِي الشَّهَادَةِ او څرنگه چې په دعوىٰ کې د حدودو ذکر کول شرط دي همداسي په گواهي کې هم هغه شرط دي وَقَوْلُهُ فِي الْكِتَابِ ''وَذَكَرَ أَنَّهُ فِي يَدِ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ'' لَا بُدَّ مِنْهُ او په قدوري [متن] کې د امام رَحِمَهُ الله دا قول ''وَذَكَرَ أنهُ فِيْ يَدِ المُدعٰى عَلَيْه'' [ځکه] ضروري دي [يعني پر مدعي د دې خبري ذکر کول (چې هغه شی [عقار] د مدعىٰ عليه په قبضه کې دی) ځکه شرط او ضروري دي] لِأَنَّهُ إِنَّمَا يَنْتَصِبُ خَصْمًا إِذَا كَانَ فِي يَدِهِ ځکه چې مدعىٰ عليه [صرف] په هغه وخت کې مدعىٰ عليه گرځي کله چې مدعىٰ بهٖ [عقار] د هغه په قبضه کې وي وَفِي الْعَقَارِ لَا يُكْتَفٰى بِذِكْرِ الْمُدَّعِي وَتَصْدِيقِ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ أَنَّهُ فِي يَدِهِ او په عقار [جايداد] کې محض د مدعي پر ذکر کولو [دعوىٰ کولو] او د مدعىٰ عليه پر داسي تصديق کولو ''چې دا عقار زما په قبضه کې دی'' په اکتفاء نه کيږي بَلْ لَا تَثْبُتُ الْيَدُ فِيهِ إِلَّا بِالْبَيِّنَةِ أَوْ عِلْمِ الْقَاضِي بلکې په عقار کې قبضه نه ثابتيږي مگر په گواهي سره يا د قاضي په خبرېدلو [او معلومات حاصلولو] سره هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده نَفْيًا لِتُهْمَةِ الْمُوَاضَعَةِ د دې لپاره چې د موافقت کولو او سازش کولو تهمت نفي سي [يعني چې دا تهمت ختم سي چې شايد مدعي او مدعىٰ عليه د عقار (جايداد) پر لاندي کولو موافقت کړی وي او سازش به يې جوړ کړی وي] إِذِ الْعَقَارُ عَسَاهُ فِي يَدِ غَيْرِهِمَا ځکه کېدای سي چې عقار

---

۞ القول الراجح: قول الجمهور، كما قال فخر الدين قاضي خان رَحِمَهُ الله: ولو ذكر الحدود الثلاثة وسكت عن الرابع، لا يضر (الخانيه ج:۳، ص:۶۴)، وفي الدر المختار : ويكتفى بذكر ثلاثة، فلو ترك الرابع، صح. (ج:۳، ص:۴۶۹). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۶۹]

[جايداد] له دوی دواړو څخه بغير د بل چا په قبضه کي وي بِخِلَافِ الْمَنْقُولِ په خلاف د منقول شي [کوم چي له يوه ځايه بل ځای ته نقل کېدای سي] لِأَنَّ الْيَدَ فِيهِ مُشَاهَدَةٌ ځکه چي په هغه کي قبضه [په سترګو] ليدل کېدونکې وي وَقَوْلُهُ وَأَنَّهُ يُطَالِبُهُ بِهِ او د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول "وأَنَّهُ يُطَالِبُهُ بِهِ" [ځکه شرط او ضروري دي] لِأَنَّ الْمُطَالَبَةَ حَقُّهُ ځکه چي مطالبه د مدعي حق ده فَلَا بُدَّ مِنْ طَلَبِهِ نو ځکه د مدعي مطالبه کول ضروري دي وَلِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ أَنْ يَكُونَ مَرْهُونًا فِي يَدِهِ أَوْ مَحْبُوسًا بِالثَّمَنِ فِي يَدِهِ او ځکه چي دا احتمال سته چي عقار د مدعیٰ عليه په قبضه کي د رهن په توګه وي يا د هغه په قبضه کي د ثمن په خاطر محبوس وي [يعني يا مدعیٰ عليه به هغه د ثمن په بدله کي راګرځولی وي] وَبِالْمُطَالَبَةِ يَزُولُ هَذَا الِاحْتِمَالُ او په مطالبه کولو سره دا احتمال ختميږي وَعَنْ هَذَا قَالُوا: فِي الْمَنْقُولِ يَجِبُ أَنْ يَقُولَ: فِي يَدِهِ بِغَيْرِ حَقٍّ او له همدې کبله مشايخو ويلي دي: چي په منقول شي کي د مدعي لپاره دا ويل ضروري دي: چي هغه د مدعیٰ عليه په قبضه کي په ناحقه توګه دی [يعني مدعیٰ عليه په ناحقه (ظلماً) پر هغه قبضه کړې ده] قَالَ: وَإِنْ كَانَ حَقًّا فِي الذِّمَّةِ فرمايي: او که مدعیٰ به په ذمه کي يو حق [دين] وي [عَين شی نه وي] ذَكَرَ أَنَّهُ يُطَالِبُهُ بِهِ نو [هم] به مدعي دا ذکر کوي چي زه له مدعیٰ عليه څخه د هغه مطالبه کوم لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَهَذَا لِأَنَّ صَاحِبَ الذِّمَّةِ قَدْ حَضَرَ او دا ځکه چي صاحب الذمه [مدعیٰ عليه] خو حاضر سوی دی فَلَمْ يَبْقَ إِلَّا الْمُطَالَبَةُ نو ځکه [د مدعي] له مطالبې څخه بغير بل هيڅ شی پاته نه دی لَكِنْ لَا بُدَّ مِنْ تَعْرِيفِهِ بِالْوَصْفِ لېکن په وصف بيانولو سره د هغه حق [دين] تعريف کول ضروري دي لِأَنَّهُ يُعْرَفُ بِهِ ځکه چي هغه حق [دين] په وصف سره معلوميږي.

**اللغات:** ﴿عقار﴾ جايداد، غيرِ منقول (ثابت) شی کوم چي له يوه ځايه بل ځای ته نه سي نقل کېدای، لکه ځمکه، کور، لويه درخته او داسي نور. ﴿حدّده﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: حدود بيانول، حد بندي کول. ﴿يد﴾ لاس، مراد ځني قبضه ده. ﴿مواضعة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي چي له هغه څخه يوه معنیٰ ده: پر يو شي موافقت کول، مراد ځني سازش کول او پلان جوړول دي.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که مدعي ديو غيرِ منقول شي مثلاً د ځمکي دعویٰ وکړي، نو د هغه دعوی د صحيح کېدلو او قبلېدلو لپاره درې شيان شرط او ضروري دي: ① مدعي به د مدعیٰ بهٖ (ځمکي) څلور سره حدود ذکر کوي (چي مثلاً د ځمکي د مشرق وطرف ته د فلانکي سړي ځمکه ده او د شمال وطرف ته يې د فلانکي ځمکه ده او د مغرب وطرف ته...)، ② او مدعي به دا خبره هم کوي چي مدعیٰ بهٖ د مدعیٰ عليه په قبضه کي موجود دی، ③ او دا به هم وايي چي ماله مدعیٰ عليه څخه د مدعیٰ بهٖ مطالبه کړې ده.

د څلور سره حدودو د ذکر کولو دليل دا دی چي دلته مدعیٰ بهٖ د غيرِ منقول شيانو له قبيلې څخه دی (يعني مُدعیٰ بهٖ ځمکه ده)، او د قاضي مجلس ته د هغه نقل کول او حاضرول ناممکن دي، نو ځکه په اشاره سره د هغه پېژندنه او تعريف نه سي کېدای، او په کومو شيانو کي چي په اشاره سره تعريف او پېژندنه ناممکن وي، د هغوی پېژندنه د حدود اربعه په ذکر کولو سره کيږي، نو ځکه په پورتني صورت کي به مدعي حدود اربعه ذکر کوي او د هر حد د مالک نوم او نسب به هم ذکر کوي، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به د هر مالک د نيکه نوم هم ذکر کوي، مثلاً داسي به وايي چي د ځمکي د مغرب وطرف ته د خالد بن ادريس بن عمر ځمکه ده (يا مثلاً داسي به وايي مغربي حدّ د خالد بن ادريس بن عمر دی)؛ ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز تعريف د نيکه په ذکر کولو سره پوره کيږي، او همدا صحيح ده لکه څرنګه چي په نورو ځايو کي هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول داسي دی.

ولوكان الرجل إلخ: فرمايي که له حدود اربعه وو څخه ديوه حد مالک ډېر مشهوره وي او مدعي فقط د هغه پر نوم اکتفاء وکړي او د هغه نسب ذکر نه کړي، نو هم صحيح دي، همدارنګه که مدعي له حدود اربعه وو څخه درې حدود بيان کړي او د څلورم حد تذکره نه وکړي، نو هم زموږ په نيز په دې سره تعريف او پېژندنه پوره کيږي؛ ځکه چي درې د څلورو اکثر دي او د "لِلأَكْثَرِ حُكْمُ الكُلِّ" د قاعدې په وجه درې حدود بيانول داسي دي لکه څلور سره حدود بيانول، لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز درې حدود بيانول کافي نه دي، د هغه دليل قياس دی او هغه دا چي کله مدعي ديوه حد په ذکر کولو کي غلطي وکړي نو د هغه دعویٰ باطليږي، لهذا کله چي هغه ديوه حد ذکر او بيان پرېږدي (ترک کړي) نو هم به د هغه دعویٰ باطليږي.

زموږ له طرفه امام زفر رَحِمَهُ الله ته جواب دا دى چي غلطي کول له پرېښوولو (ترک کولو) څخه جلا شی دي، ځکه چي په غلطي کولو سره د مدعي دعوىٰ مختلف کیږي او د هغه په قول کي تعارض راځي، حالانکي په پرېښوولو سره نه دعوىٰ مختلف کیږي او نه په قول کي تعارض راځي، نو ځکه يو پر بل قياسول صحيح نه دي.

وكما يشترط التحديد إلخ: د دې حاصل دا دى چي څرنګه د دعوىٰ کولو په صورت کي د غير منقول شي (ځمکي) حدود اربعه بيانول شرط دي، همداسي د ګواهي اداء کولو په صورت کي هم د هغه حدود اربعه بيانول شرط دي، د دې لپاره چي ګواهي مِن کُلِّ وجه (په هر اعتبار) د دعوې سره موافقه او مطابقه سي.

وقوله في الكتاب إلخ: فرمايي په قدوري (متن) کي چي پر مدعي کوم دويم شرط لګول سوى دى چي مدعي به دا خبره هم کوي چي مدعىٰ بهٖ (ځمکه) د مدعىٰ عليه په قبضه کي موجوده ده، د هغه شرط دليل دا دى چي مدعىٰ عليه هغه وخت خصم (مدعىٰ عليه) ګرځي کله چي مدعىٰ بهٖ د هغه سره موجود وي، او دا موجود والى به په حجت او بيّنه سره ثابتول کیږي، همدا وجه ده که مدعي ووايي چي فلانى ځمکه د مدعىٰ عليه په قبضه کي ده او مدعىٰ عليه د هغه تصديق وکړي چي "هو! هغه ځمکه زما په قبضه کي ده"، نو محض د مدعي په دعوىٰ او د مدعىٰ عليه په تصديق سره به دا دعوىٰ نه قبلول کیږي، بلکي د دې د صحت او مقبوليت لپاره به بيّنه (ګواهي) پېشول کیږي، يا قاضي به په دې باره کي معلومات او خبر حاصلوي چي مدعىٰ بهٖ (ځمکه) د مدعىٰ عليه په قبضه کي موجوده ده، ځکه چي په داسي کولو سره به دا تهمت ختم سي چي مدعي او مدعىٰ عليه هسي پلان او سازش جوړوي او د درواغو په دعوىٰ سره هغه ځمکه لاندي کوي، ځکه کوم شى چي په بيّنه سره ثابت سي يا قاضي ته معلوم سي، نو په هغه کي د تهمت شبهه نه پاتیږي.

د دې په خلاف که مدعىٰ بهٖ منقول شى وي، نو پر هغه شي د مدعىٰ عليه د قبضې ثابتولو لپاره بينې پېشولو ته ضرورت نسته؛ ځکه په منقول شي کي قبضه مشاهده وي (يعني په سترګو سره ليدل کیږي چي هغه شى د مدعىٰ عليه قبضه کي دى، ځکه هغه د قاضي مجلس ته حاضرول کېداى سي)، او همدا قبضه د ملکيت دليل ده، نو ځکه په منقول شي کي به د قبضې ثابتولو لپاره عليحده دليل ته ضرورت نه وي.

وقوله وأنه يطالبه إلخ: فرمايي په قدوري (متن) کي چي پر مدعي کوم درېيم شرط لګول سوى دى چي هغه به د مدعىٰ به د مطالبه کولو خبره هم کوي، د هغه وجه دا ده چي کله د مدعي په نېز مدعىٰ بهٖ

(ځمکه) د هغه حق دی، نو ښکاره خبره ده چي د هغه مطالبه کول به هم د مدعي حق وي او له مطالبه کولو څخه بغير به هغه شی ده ته نه ورکول کيږي. او بل دا چي دلته دا احتمال هم سته چي کېدای سي مدعي به له مدعیٰ عليه څخه قرض اخيستی وي او هغه ته به يې ځمکه د رهن په توګه ورکړې وي يا مدعي به هغه ځمکه له مدعیٰ عليه څخه رانيولې وي لېکن ثمن به نه لري او د ثمن نه ورکولو په خاطر به مدعیٰ عليه هغه راګرځولې وي، او دا احتمال هغه وخت ختميږي کله چي مدعي د قاضي په مجلس کي د مدعیٰ عليه مخته د هغه ځمکي مطالبه وکړي (چي زه خپل ځمکه له مدعیٰ عليه څخه غواړم)، ځکه په مطالبه کولو سره به دا خبره ښکاره سي چي مدعي هغه ځمکه نه په رهن کي ورکړې ده او نه د ثمن په بدله کي مدعیٰ عليه له هغه څخه راګرځولې ده. لهذا د دغه احتمال د ختمولو لپاره پر مدعي د مدعیٰ بهٖ (ځمکي) مطالبه کول شرط دي.

او په همدې خاطر مشايخو دا خبره کړې ده چي که دعویٰ د منقول شي په باره کي وي، نو پر مدعي لازم دي چي د مطالبه کولو په وخت کي به دا خبره هم کوي چي مدعیٰ عليه په ناحقه پر هغه شي قبضه کړې ده، ځکه چي په دې خبري سره دا احتمال ختميږي چي هغه به مرهون شی وي يا مدعیٰ عليه به هغه د ثمن په بدله کي راګرځولی وي.

قال وإن كان حقًا في الذمة إلخ: فرمايي که مدعیٰ بهٖ عَين شی نه وي، بلکي د مدعیٰ عليه پر ذمه (غاړه) واجب سوی حق وي (په لنډه توګه دا چي که مُدعیٰ بهٖ معلوم شی نه وي، بلکي يو دَين [قرض] وي)، نو په دې کي صورت هم پر مدعي د هغه (دَين) مطالبه کول ضروري دي، يعني داسي به وايي چي زه له مدعیٰ عليه څخه د هغه حق (دَين) مطالبه کوم، دليل مخکي تېر سو چي مطالبه د مدعی حق ده. لهذا د هغه لپاره مطالبه کول ضروري دي، او دا ځکه چي کله صاحب الذمه (من عليه الحق) يعني مدعیٰ عليه د قاضي په مجلس کي حاضر وي، نو ښکاره خبره ده چي اوس د مدعي له مطالبه کولو څخه بغير بل شی پاته نه دی، نو ځکه مدعي ته پکار دي چي په خپل کار شروع وکړي يعني د حق مطالبه وکړي.

او څرنګه چي په پورتني صورت کي مدعیٰ بهٖ عَين شی نه دی بلکي دَين (قرض) دی او د هغه وطرف ته اشاره کول ممکن نه دي، نو ځکه پر مدعي لازم دي چي په وصف سره به هم د هغه تعريف کوي يعني د هغه وصف به بيانوي (مطلب دا چي د هغه کرَه والی، کوټه والی او داسي نور به هم بيانوي)، مثلاً داسي به وايي چي "زه له مدعیٰ عليه څخه د خپل پنځه سوه کرَه دراهمو مطالبه کوم". د دې لپاره چي هيڅ دول ستونزه او شبهه پيدا نه سي.

## له دعویٰ صحيح کېدلو او ثابتېدلو ځخه وروسته د قاضي ذمه واري

قَالَ: وَإِذَا صَحَّتِ الدَّعْوٰى فرمايي: او کله چي دعویٰ صحيح سي سَأَلَ الْقَاضِيْ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ عَنْهَا لِيَنْكَشِفَ لَهُ وَجْهُ الْحُكْمِ نو قاضي دي [اول] له مدعیٰ عليه ځخه د هغه دعوې په باره کي پوښتنه وکړي، د دې لپاره چي د حکم جهت واضح سي فَإِنِ اعْتَرَفَ نو که چيري مدعیٰ عليه [د دعوې] اقرار وکړي قَضٰى عَلَيْهِ بِهَا نو قاضي دي د هغه دعوې مطابق پر مدعیٰ عليه فيصله وکړي لِأَنَّ الْإِقْرَارَ مُوجِبٌ بِنَفْسِهِ ځکه چي اقرار بذاتِ خود واجبونکی دی فَيَأْمُرُهُ بِالْخُرُوجِ عَنْهُ نو ځکه قاضي به مدعیٰ عليه ته د دې اقرار له ذمه واري ځخه د وتلو حکم کوي وَإِنْ أَنْكَرَ او که چيري مدعیٰ عليه [د دعوې] انکار وکړي سَأَلَ الْمُدَّعِيَ الْبَيِّنَةَ نو قاضي دي له مدعي ځخه د بېنې مطالبه وکړي لِقَوْلِهِ عليه السلام [1]: «أَلَكَ بَيِّنَةٌ؟ د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه: "آيا ستا سره بيّنه سته؟ فَقَالَ: لَا نو هغه [مدعي] وويل: چي نه! فَقَالَ: لَكَ يَمِينُهُ» بيا نبي ﷺ وفرمايل: ستا لپاره د هغه [مدعیٰ عليه] قسم دی سَأَلَ وَرَتَّبَ الْيَمِينَ عَلَى فَقْدِ الْبَيِّنَةِ [په دې حديث کي] نبي کريم ﷺ له مدعي ځخه د بېنې مطالبه کړې ده او د بېنې پر نشتوالي يې قسم مُرتّب کړی دی [مطلب دا چي قاضي به اول له مدعي ځخه د بېنې (يعني د ګواهان) مطالبه کوي، او که د مدعي سره بيّنه (يعني ګواهان) نه وي نو بيا به له مدعیٰ عليه ځخه قسم اخلي] فَلَا بُدَّ مِنَ السُّؤَالِ لِيُمْكِنَهُ الِاسْتِحْلَافُ نو ځکه [قاضي لره] مطالبه کول ضروري دي، د دې لپاره چي د هغه لپاره [له مدعیٰ عليه ځخه] قسم اخيستل ممکن سي قَالَ: فَإِنْ أَحْضَرَهَا فرمايي: نو که مدعي بيّنه پېش کړي [يعني ګواهان پېش کړي] قُضِيَ بِهَا نو قاضي به د بېنې مطابق فيصله کوي لِانْتِفَاءِ التُّهْمَةِ عَنْهَا ځکه چي له دعوې ځخه تهمت ليري سو وَإِنْ عَجَزَ عَنْ ذٰلِكَ وَطَلَبَ يَمِينَ خَصْمِهِ او که چيري مدعي له بيّنه پېشولو ځخه عاجز سي او د خپل خصم [مدعیٰ عليه] ځخه د قسم مطالبه وکړي اسْتَحْلَفَهُ عَلَيْهَا نو قاضي به پر هغه دعوې له مدعی ځخه قسم اخلي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چي موږ روايت دی وَلَا بُدَّ مِنْ طَلَبِهِ او د مدعي مطالبه کول ضروري دي [يعني د

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الأيمان، باب وعيد من اقتطع حق المسلم، حديث رقم: ۲۳۴.

مدعي لپاره دا ضروري دي چي له مدعیٰ علیه څخه د قسم اخیستلو مطالبه به کوي] لِأَنَّ الْيَمِينَ حَقُّهُ ځکه چي قسم د مدعي حق دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ كَيْفَ أُضِيفَ إِلَيْهِ بِحَرْفِ اللَّامِ آيا ته نه ګورې! چي څنګه [په حديث کي] د مدعي وطرف ته په حرفِ لام سره د قسم اضافت [نسبت] سوی دی فَلَا بُدَّ مِنْ طَلَبِهِ نو ځکه د هغه مطالبه کول ضروري دي.

**اللغات**: ﴿لينكشف﴾ دانفعال د باب مضارع ده: واضح کېدل، ښکاره کېدل. ﴿موجب﴾ دافعال د باب فاعل دی: واجبونکی، ثابتونکی. ﴿بيّنة﴾ ګواهي، شواهد. ﴿يمين﴾ قسم. ﴿استحلاف﴾ د استفعال د باب مصدر دی: له بل چا څخه د قسم اخيستلو مطالبه کول. قسم ځني اخيستل. ﴿أُضيف﴾ دافعال د باب ماضي مجهوله ده: نسبت کول. منسوب کول.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی چي کله د دعوې ټوله شرطونه پوره سي او دعوىٰ صحيح سي، نو بيا به قاضي خپل کاروايي شروع کوي او تر ټولو مخکي به له مدعیٰ علیه څخه دا پوښتنه کوي چي "ته په دې دعوىٰ کي څه وايې!، آيا ته د هغه اقرار کوې، که انکار؟"، که چيري مدعیٰ علیه د هغه دعوې اقرار وکړی چي "هو! زه منم، د مدعي دعوىٰ صحيح ده"، نو قاضي به پر مدعیٰ علیه د هغه مطابق فيصله کوي؛ ځکه چي د مدعي عليه په اقرار سره په پوره توګه د دعوى صحت ښکاره سو، او څرنګه چي اقرار هم يو حجت دی او بذات خود پر مُقِر د هغه شي واجبونکي دی د کوم شي چي هغه اقرار کوي، نو ځکه له خپل ذمه واری څخه د مدعیٰ علیه د وتلو او بري کولو لپاره به قاضي پر هغه د دعوې مطابق فيصله کوي.

او که چيري مدعیٰ علیه له هغه دعوې څخه انکار وکړي چي "چي دا دعوىٰ غلطه ده"، نو بيا به قاضي له مدعي څخه د بينې (ګواهی) مطالبه کوي چي "ته پر خپل دعوىٰ ګواهان پېش کړه!"؛ ځکه چي په بخاري او مسلم کي د وائل بن حجر په حديث کي ذکر سوي ده چي نبي کريم ﷺ ته دوه خلک راغلل چي په هغو کي يو د "حضر موت" وو، او بل د "کنده" وو، حضرمي وويل: اې د الله رسول (ﷺ) دغه کندي سړي زما پر ځمکه په ناحقه قبضه کړې ده، کندي وويل: اې د الله رسول (ﷺ) هغه زما ځمکه ده او زما په قبضه کي ده، مطلب دا چي کندي سړي (يعني مدعیٰ علیه) د حضرمي (مدعي) له دعوې څخه انکار وکړ، نو نبي کريم ﷺ له حضرمي (مدعي) څخه پوښتنه وکړه "أَلَكَ بَيِّنَةٌ؟" (آيا ستا سره بيّنه سته)، نو هغه وويل چي نسته، بيا نبي کريم وفرمايل "لَكَ يَمِينُهُ" (ستا لپاره د هغه قسم دی، يعني اوس ستا دعوىٰ د مدعیٰ علیه پر قسم موقوف ده، هغه به قسم

اخلي)، نو په دې حديث کې نبي کريم ﷺ د مدعیٰ عليه د انکار کولو په صورت کې له مدعي څخه د بينې مطالبه کړې ده او بيا يې قسم د بينې پر نشتوالي مُرتّب کړی دی (يعني که د مدعي سره بيّنه نه وي، نو بيا به له مدعیٰ عليه څخه قسم اخيستل کيږي)، لهذا کله چې قسم د بينې پر نشتوالي (ناموجودوالي) مُرتّب دی، نو ځکه قاضي به اول له مدعي څخه د بينې مطالبه کوي، او که د هغه سره بيّنه نه وي نو آخر به قاضي له مدعیٰ عليه څخه قسم اخلي.

نو کله چې قاضي له مدعي څخه د بينې مطالبه وکړي، او مدعي بيّنه پېش کړي، نو قاضي به د هغه دعوې مطابق پر مدعیٰ عليه فيصله کوي، ځکه چې د بينې په وجه دا احتمال ختم سو چې د مدعي دعویٰ به غلطه او درواغجنه وي. او که چيرې مدعي له بيّنه پېشلو څخه عاجزه سي او له مدعیٰ عليه څخه د قسم اخيستلو مطالبه وکړي، نو د پورتني حديث پر بناء به قاضي له مدعیٰ عليه څخه قسم اخلي، که چيرې هغه قسم واخلي نو دعویٰ به ختمول کيږي او که له قسم څخه انکار وکړي نو د مدعي په حق کې به فيصله کيږي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې له مدعیٰ عليه څخه د قسم اخيستلو لپاره د مدعي مطالبه کول ضروري دي (يعني مدعي به له قاضي څخه دا مطالبه کوي چې "ته له مدعیٰ عليه څخه قسم واخله!")؛ ځکه چې دا قسم د مدعي حق دی، ځکه په پورتني حديث کې ذکر سوه "لَكَ يَمِيْنُه" (ستا لپاره د هغه قسم دی) يعني يمين د حرفِ لام په ذريعه د مدعي و طرف ته منسوب سوی دی، له دې څخه معلومه سوه چې د مدعیٰ عليه قسم د مدعي حق دی، او ښکاره خبره ده چې د حق مالک ته خپل حق هغه وخت ورکول کيږي کله چې هغه د خپل حق مطالبه وکړي، نو ځکه کله چې مدعي د خپل حق يعني د قسم اخيستلو مطالبه وکړي، نو بيا به قاضي له مدعیٰ عليه څخه قسم اخلي، او د مدعي له مطالبې څخه مخکې به قسم نه ځني اخلي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



# بَابُ الْيَمِيْنِ

(دا) باب د قسم (په بیان کي) دی

**تشريح**: څرنګه چي د مخکني باب په آخر کي د قسم مسئله بيان سوې ده، نو په همدې مناسبت صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله تر هغه وروسته اوس "بَابُ اليمين" بيانوي.

## له مدعیٰ علیه څخه به کله قسم اخيستل کيږي؟

وَإِذَا قَالَ الْمُدَّعِي: لِيْ بَيِّنَةٌ حَاضِرَةٌ او كله چي مدعي ووايي: زما سره بيّنه موجوده ده وَطَلَبَ الْيَمِيْنَ او هغه له مدعیٰ علیه څخه د قسم غوښتنه وکړي لَمْ يُسْتَحْلَفْ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ نو له هغه څخه به قسم نه اخيستل کيږي، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مَعْنَاهُ حَاضِرَةٌ فِي الْمِصْرِ د دې معنیٰ دا ده چي [زما سره] په ښار کي بيّنه موجوده ده وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ*: يُسْتَحْلَفُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي له هغه څخه به قسم اخيستل کيږي لِأَنَّ الْيَمِيْنَ حَقُّهُ بِالْحَدِيْثِ الْمَعْرُوْفِ ځکه د حديث مشهور پر بناء قسم د مدعي حق دی فَإِذَا طَالَبَهُ بِهِ لهذا كله چي مدعی له مدعیٰ علیه څخه د دې حق [قسم] مطالبه وکړي يُجِيْبُهُ نو مدعیٰ علیه به هغه قبلوي [او پوره کوي] وَلِأَبِيْ حَنِيْفَةَ: أَنَّ ثُبُوْتَ الْحَقِّ فِي الْيَمِيْنِ مُرَتَّبٌ عَلَى الْعَجْزِ عَنْ إِقَامَةِ الْبَيِّنَةِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي په قسم کي [د مدعي] د حق ثابتېدل له بيني څخه [د مدعي] پر عاجز والي مرتب دي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چي موږ روايت کړی فَلَا يَكُوْنُ حَقُّهُ دُوْنَهُ نو ځکه له هغه څخه بغير به قسم د مدعي حق نه کيږي كَمَا إِذَا كَانَتِ الْبَيِّنَةُ حَاضِرَةً فِي الْمَجْلِسِ لکه په هغه وخت کي چي [د هغه حق نه کيږي] كله چي بيّنه په مجلس کي موجوده وي وَمُحَمَّدٌ مَعَ أَبِيْ يُوْسُفَ فِيْمَا ذَكَرَهُ الْخَصَّافُ او امام محمد رَحِمَهُ الله د

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في تنوير الأبصار (ج:۴، ص:۴۷۴)، ومجمع الأنهر (ج:۳، ص:۳۵۳). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۷۰]

امام خصاف رَحِمَهُ الله د ذکر سوي قول مطابق د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله سره دی وَمَعَ أَبِي حَنِيْفَةَ فِيَا ذَكَرَهُ الطَّحَاوِيُّ او د امام طحاوي رَحِمَهُ الله د ذکر سوي قول مطابق د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی.

**اللغات:** ﴿يمين﴾ قسم، ﴿يستحلف﴾ د استفعال د باب مضارع مجهوله ده: له يو چا څخه د قسم اخيستلو مطالبه کول، قسم ځني اخيستل.

**تشریح: صورت د مسئلې:** دا دی که مدعي د قاضي په مجلس کي داسي ووايي چي "زما سره پر خپله دعوىٰ په ښار کي ګواهان موجود دي (يا زه په بل ځای کي پر خپله دعوىٰ ګواهان لرم)" او بيا مدعي له مدعىٰ عليه څخه د قسم اخيستلو غوښتنه او مطالبه وکړي، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حکم دا دی چي قاضي به له مدعىٰ عليه څخه قسم نه اخلي، ليکن امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي له هغه څخه به قسم اخلي.

**د امام ابو يوسف دليل:** دا دی چي په مشهور حديث "الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِيْ وَالْيَمِيْنُ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ" يا په مخکني حديث کي په دې جمله "لَكَ يَمِيْنُهُ" سره دا خبره ثابته ده چي قسم د مدعي حق دی، لهذا کله چي صاحب الحق يعني مدعي له مدعىٰ عليه څخه د خپل دغه حق مطالبه وکړي، نو مدعىٰ عليه به هغه قبلوي يعني قسم به اخلي، يا معنىٰ دا چي قاضي به هغه قبلوي يعني مدعىٰ عليه ته به د قسم اخيستلو حکم کوي.

**د امام صاحب دليل:** دا دی چي مخکني حديث کوم چي د حضرمي او کندي د دعوی په هکله وو يعني "أَلَكَ بَيِّنَةٌ، فَقَالَ: لَا. فَقَالَ: لَكَ يَمِيْنُه"، په دې حديث سره دا خبره ثابته ده چي قسم هغه وخت د مدعي حق ګرځي کله چي مدعي د بينې (ګواهی) له پېشولو څخه عاجزه سي، او څرنګه چي دلته د مدعي سره په ښار کي بيّنه سته او مدعي د هغه پر حاضرولو قادر دی، او عاجزه نه دی، نو ځکه څرنګه چي د قاضي په مجلس کي د بينې د حاضر والي په صورت کي قسم د مدعي حق نه دی، همداسي به په ښار کي د بينې د موجود والي په صورت کي هم قسم د مدعي حق نه وي، او ښکاره خبره ده چي کله په ښار کي د بينې د موجود والي په صورت کي قسم د مدعي حق نه دی، نو هغه ته به دا اختيار هم نه وي چي له مدعىٰ عليه څخه د قسم مطالبه وکړي.

ومحمد إلخ: فرمايي چي د امام خصاف د قول مطابق امام محمد رَحِمَهُ الله د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره دی، ليکن د امام طحاوي رَحِمَهُ الله د قول مطابق هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی. والله أعلم بحقيقة الحال

## له مدعي څخه د قسم نه اخيستلو بيان

قَالَ: وَلَا تُرَدُّ الْيَمِينُ عَلَى الْمُدَّعِي فرمايي: او پر مدعي به قسم نه واپس کيږي لِقَوْلِهِ عليه السلام: «الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينُ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ» ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چي بيّنه پر مدعي ده او قسم پر منکر [مدعیٰ عليه] ده قَسَمَ [په دې حديث کي] نبي کريم ﷺ تقسيم کړی دی وَالْقِسْمَةُ تُنَافِي الشَّرِكَةَ او تقسيم د شرکت منافي دی وَجَعَلَ جِنْسَ الْأَيْمَانِ عَلَى الْمُنْكِرِينَ او نبي ﷺ جنس د قسمونو پر منکرينو [مدعیٰ عليهم] مقرر کړی دی وَلَيْسَ وَرَاءَ الْجِنْسِ شَيْءٌ او له جنس څخه وروسته بل شی نسته وَفِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ او په دې کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی.

**اللغات:** ﴿لا ترد﴾ د نصر د باب مضارع مجهوله ده: واپس کول. ﴿بينة﴾ ګواهي. ﴿تنافي﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: منافي کېدل، مخالف کېدل. ﴿وراء﴾ وروسته، مخکي (خَلْف، أَمَام). (مصباح منير)

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی چي زموږ په نيز په هيڅ صورت کي هم له مدعي څخه قسم نه اخيستل کيږي، لهذا کله چي مدعي د بينې (ګواهي) له پېشولو څخه عاجزه سي او مدعیٰ عليه له قسم اخيستلو څخه انکار وکړي، نو داسي به نه کيږي چي له مدعي څخه قسم واخيستل سي او د هغه په حق کي فيصله وکړی سي؛ ځکه نبي کريم ﷺ د "الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينُ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ" په فرمان سره د مدعي او مدعیٰ عليه په مېنځ کي د دوو شيانو تقسيم کړی دی، يعني پر مدعي يې بيّنه لازم کړې ده او پر مدعیٰ عليه (منکر) يې قسم لازم کړی دی، او تقسيم د شرکت منافي دی، نو ځکه نه مدعیٰ عليه په هيڅ صورت کي بيّنه پېشولای سي او نه به له مدعي څخه په هيڅ صورت کي قسم اخيستل کيږي. او دويمه خبره دا ده چي نبي کريم ﷺ د "الْيَمِين" لفظ په الف لام جنسي سره ذکر کړی دی، نو مطلب دا چي د يمين (قسم) ټول جنس يې د مدعیٰ عليهم (منکرينو) لپاره خاص کړی دی، او له جنس يمين څخه وروسته د يمين بل هيڅ جزء نه پاتيږي چي د هغه پر بناء د مدعي لپاره د قسم اخيستلو لاره خلاصه سي، نو په دې حواله سره به په هيڅ صورت کي هم له مدعي څخه قسم نه اخيستل کيږي.

**وفيه خلاف الشافعي إلخ:** فرمايي چي په پورتني حکم کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی، يعني کله چي مدعي له بيّنه پېشولو څخه عاجزه سي او مدعیٰ عليه له قسم څخه انکار وکړي، نو امام

شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دې صورت کي به له مدعي څخه قسم اخيستل کيږي او کله چي هغه قسم واخلي نو د هغه په حق کي به فيصله کيږي، لېکن زموږ له طرفه پېش کړی سوی حديث او په هغه کي بيان سوی تقسيم د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت او دليل دی.

## د مطلق ملکيت په دعویٰ کي به د قابض بيّنه قبلول کيږي او که د غيرِ قابض؟

قَالَ: وَلَا تُقْبَلُ بَيِّنَةُ صَاحِبِ الْيَدِ فِي الْمِلْكِ الْمُطْلَقِ فرمايي: چي په مطلق ملکيت کي به د قابض بيّنه نه قبلول کيږي وَبَيِّنَةُ الْخَارِجِ أَوْلَىٰ او د غيرِ قابض بيّنه غوره [او معتبره] ده وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُقْضٰى بِبَيِّنَةِ ذِي الْيَدِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د قابض پر بيّنه به فيصله کيږي لِاعْتِضَادِهَا بِالْيَدِ ځکه چي هغه د قبضې په وجه قوي ده فَيَتَقَوَّى الظُّهُورُ نو ځکه ظهور [او ثبوت] به هم قوي وي وَصَارَ كَالنِّتَاجِ وَالنِّكَاحِ او دا د نکاح او نتاج په څېر سو وَدَعْوَى الْمِلْكِ مَعَ الْإِعْتَاقِ وَالِاسْتِيلَادِ وَالتَّدْبِيرِ او د اعتاق، استيلاد او تدبير سره د ملکيت د دعوې [په څير سو] وَلَنَا: أَنَّ بَيِّنَةَ الْخَارِجِ أَكْثَرُ إِثْبَاتًا أَوْ إِظْهَارًا او زموږ دليل دا دی: چي د غيرِ قابض بيّنه زياته ثابتونکې يا زياته ښکاره کونکې ده لِأَنَّ قَدْرَ مَا أَثْبَتَهُ الْيَدُ لَا يُثْبِتُهُ بَيِّنَةُ ذِي الْيَدِ ځکه څومره قدر چي قبضه ثابتوي، د قابض بيّنه هغه نه ثابتوي إِذِ الْيَدُ دَلِيلُ مُطْلَقِ الْمِلْكِ ځکه چي قبضه د مطلق ملکيت دليل دی بِخِلَافِ النِّتَاجِ په خلاف د نتاج لِأَنَّ الْيَدَ لَا تَدُلُّ عَلَيْهِ ځکه چي قبضه پر نتاج دلالت نه کوي وَكَذَا عَلَى الْإِعْتَاقِ وَأُخْتَيْهِ وَعَلَى الْوَلَاءِ الثَّابِتِ بِهَا او همدارنګه قبضه پر اعتاق، استيلاد، تدبير او د دوی په ذريعه پر ثابتېدونکي ولاء هم دلالت نه کوي.

**اللغات**: ﴿يد﴾ قبضه، ﴿اعتضاد﴾ د افتعال د باب مصدر دی: قوي کېدل، مضبوطېدل، ﴿نتاج﴾ د څاروي بچی، د څاروي بچی پيدا کېدل (احسن الهدايه)، ﴿استيلاد﴾ د استفعال د باب مصدر دی: أُم ولد جوړول، ﴿تدبير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مُدبر جوړول، د خپل غلام آزادي پر خپل مرګ معلق کول (يعني خپل غلام ته ويل چي "زما تر مرګ وروسته ته آزاد يې!").

**تشريح**: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی (مثلا) پر پُسه قابض وي يعني د هغه په قبضه کي يو پُسه وي او بل څوک مطلق دعویٰ وکړي چي دا پُسه زما ملکيت دی او زه يې مالک يم، او د ملکيت

سبب يعني رانيول، په ميراث يا هبه کي حاصلول او داسي نور ذکر نه کړي (يعني داسي نه وايي چي ما رانيولې دی يا ما ته يو چا هبه کړی دی او داسي نور... بلکي هسي مطلق وايي چي زه د دې پُسه مالک يم)، او قابض د خپل مالک کېدلو دعویٰ وکړي (چي زه د دې پُسه مالک يم)، او هر يو پر خپله دعویٰ بيّنه هم پېش کړي، نو زموږ په نېز د غيرِ قابض بيّنه معتبره ده يعني صرف د هغه بيّنه به قبلول کيږي او د هغه په حق کي به د پُسه فيصله کيږي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د قابض بيّنه معتبر ده او فيصله به د قابض په حق کي کيږي.

**د امام شافعي دليل:** دا دی چي پُسه د قابض په قبضه کي دی، نو د قبضې په وجه د هغه ګواهي (بيّنه) قوي او مضبوطه ده، لهذا کله چي د قابض ګواهي قوي ده، نو په هغه سره به د حق ظهور هم قوي وي، او په کومه ګواهۍ سره چي د حق ظهور (ثبوت) زيات قوي او واضح وي، نو صرف هغه ګواهي معتبره او مقبوله ده او پر هغه فيصله کول واجب دي، نو ځکه صرف د قابض ګواهي به قبلول کيږي او د هغه په حق کي به فيصله کيږي.

امام شافعي رَحِمَهُ الله د خپل قول په تائيد کي پنځه مثالونه پېش کړي دي:

① ... هغه فرمايي چي پورتنۍ صورت د نتاج په شېر دی، يعني که د يو سړي په قبضه کي مثلاً د بزې بچی (سېرلی) وي او هغه دعویٰ وکړي چي دا سېرلی زما ملکيت دی او دا زما له بزې (وزې) څخه پيدا سوی دی، او بل څوک هم دعویٰ وکړي چي دا سېرلی زما دی او زما له بزې څخه پيدا سوی دی، او دواړه بيّنه پېش کړي، نو په دې صورت کي د قابض بيّنه معتبره ده او هغه به قبلول کيږي.

② ... همدارنګه که د يو ښځي په باره کي دوه خلک د نکاح دعویٰ وکړي يعني هر يو وايي چي ما د هغې سره نکاح کړې ده او هغه زما ښځه ده، او دواړه پر خپله دعویٰ بيّنه پېش کړي، نو په دې صورت کي هم د قابض بيّنه معتبره ده، يعني د هغه کس بيّنه به قبلول کيږي چي ښځه د هغه په قبضه کي وي.

③ ... همدارنګه که د يو غلام په بار کي دوه خلک اختلاف وکړي او هر يو دا دعویٰ وکړي چي هغه ما آزاد کړی دی (لهذا د هغه ولاء زما ده)، او هر يو پر خپل دعویٰ بيّنه پېش کړي، نو په دې صورت کي هم د قابض بيّنه معتبره ده.

④... همدارنګه که يو مينځه ديو چا په قبضه کي وي او بل څوک دا دعویٰ وکړي چي ما هغه اُم ولد جوړه کړې ده (لهذا د مغې ولاء زماده) او قابض ووايي چي ما هغه اُم ولد جوړه کړې ده، او هر يو پر خپله دعویٰ پېش کړي، نو په دې صورت کي هم د قابض بيّنه معتبره ده.

⑤... همدارنګه که ديو غلام په مدبر جوړولو کي دوه خلک اختلاف وکړي، او هر يو دا دعویٰ وکړي چي ما هغه مدبر جوړ کړی دی (لهذا د هغه ولاء زماده)، او دواړه پر خپله دعویٰ بيّنه پېش کړي، نو په دې صورت کي هم د قابض بيّنه معتبره ده، لنډه دا چي څرنګه په دې پنځه مسئلو کي د قابض بيّنه معتبره او مقبوله ده، همداسي به په پورتني مسئله کي هم د قابض بيّنه معتبره او مقبوله وي.

**زموږ دليل:** دا دی چي د غيرِ قابض (خارج) بيّنه د هغه لپاره ملکيت ثابتوي؛ ځکه چي پُسه (مُدعیٰ به) د هغه په قبضه کي نه دی، او د قابض بيّنه د هغه لپاره ملکيت نه ثابتوي بلکي دا بيّنه د قابض هغه ملکيت مؤکد کوي (مضبوطوي) کوم چي د قبضې پر بناء هغه لره حاصل دی، ځکه چي پُسه د هغه په قبضه کي دی او د هغه لپاره ملکيت په دې قبضه سره ثابت سوی دی، نو ځکه د قابض بيّنه د هغه ملکيت مؤکد کوي، لهذا کله چي د غيرِ قابض بيّنه د هغه لپاره اصل ملکيت ثابتوي او د قابض بيّنه د هغه لپاره ملکيت مؤکد کوي، نو په دې اعتبار د غيرِ قابض په بيّنه سره د ملکيت اثبات يا اظهار زيات دی (يعني د قابض په مقابله کي د غيرِ قابض بيّنه د ملکيت لپاره زياته مُثبِته او مُظهِره ده)، نو ځکه د غيرِ قابض بيّنه ته به ترجيح ورکول کيږي او د هغه مطابق به فيصله کيږي.

<u>بخلاف إلخ</u>: د دې په خلاف پر نتاج چي کومه قبضه کيږي، هغه پر نتاج دلالت نه کوي (يعني په هغه سره نتاج نه ثابتيږي)، همدارنګه پر اعتاق، استيلاد، تدبير (او د دوی په ذريعه ثابتېدونکی ولاء) باندي هم قبضه دلالت نه کوي، بلکي په قبضه سره صرف ملکيت ثابتيږي، او نتاج، اعتاق او داسي نور په قبضه سره نه ثابتيږي (بلکي په بيّنه سره ثابتيږي)، لنډه دا چي دلته د قابض او غيرِ قابض دواړو په بيّنه سره نتاج، اعتاق او داسي نور ثابتيږي، لهذا اوس ترجيح ته ضرورت پېښ سو، او د قبضې په وجه ترجيح د قابض بيني لره ده، نو په دې وجه د نتاج، اعتاق او داسي نورو په مسئلو کي د قابض بيّنه قبلول کيږي.

(صاحب د أحسن الهدايې په مختصره توګه آخري عبارت "بخلاف إلخ" داسي تشريح کړی دی: د دې په خلاف د نتاج، نکاح، استيلاد او تدبير مسئلې دي، نو په دې مسئلو کي چي کومه قبضه کيږي هغه پر ملکيت دلالت نه کوي، نو ځکه د قابض او غير قابض دواړو بيّنه به د ملکيت ثابتونکې وي، او څرنګه چي د قبضې په وجه د قابض بينې لره ترجيح حاصله ده، نو ځکه په دې مسئلو کي د قابض بيّنه معتبره ګرځول سوې ده، لېکن پورتنۍ مسئله داسي نه ده، نو ځکه په هغه کي د غير قابض بيّنه معتبره ګرځول سوې ده).

## له قسم څخه د مدعیٰ عليه انکار کول

قَالَ: وَإِذَا نَكَلَ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ عَنِ الْيَمِيْنِ فرمايي: او كله چي مدعیٰ عليه له قسم څخه انكار وكړي قَضٰى عَلَيْهِ بِالنُّكُوْلِ وَأَلْزَمَهُ مَا ادَّعٰى عَلَيْهِ نو د انكار كولو په وجه به قاضي د هغه په خلاف فيصله كوي او مدعي چي پر هغه د كوم شي دعویٰ كړې وي هغه به پر لازموي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَقْضِيْ بِهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د انكار كولو په وجه به قاضي [د مدعیٰ عليه په خلاف] فيصله نه كوي بَلْ يَرُدُّ الْيَمِيْنَ عَلَى الْمُدَّعِيْ بلكي قسم به پر مدعي واپس كوي [پېښوي] فَإِذَا حَلَفَ نو كله چي هغه قسم واخلي يَقْضِيْ بِهِ نو قاضي به د هغه په حق كي فيصله كوي لِأَنَّ النُّكُوْلَ يَحْتَمِلُ التَّوَرُّعَ عَنِ الْيَمِيْنِ الْكَاذِبَةِ وَالتَّرَفُّعَ عَنِ الصَّادِقَةِ ځكه چي له قسم څخه [د مدعیٰ عليه] انكار كول د دې احتمال لري چي هغه د درواغو له قسم څخه ځان ساتي يا له رښتوني قسم څخه احتياط كوي وَاشْتِبَاهَ الْحَالِ [لنډه دا چي د مدعیٰ عليه انكار] د حالت مشتبه كېدلو احتمال لري فَلَا يَنْتَصِبُ حُجَّةً مَعَ الِاحْتِمَالِ نو ځكه د دې احتمال سره به [د هغه] انكار حجت نه ګرځي وَيَمِيْنُ الْمُدَّعِيْ دَلِيْلُ الظُّهُوْرِ او د مدعي قسم د حق ښكاره كېدلو علامت دى فَيُصَارُ إِلَيْهِ نو ځكه د هغه وطرف ته به رجوع كيږي وَلَنَا: أَنَّ النُّكُوْلَ دَلَّ عَلٰى كَوْنِهِ بَاذِلًا أَوْ مُقِرًّا او زموږ دليل دا دى: چي انكار پر دې دلالت كوي چي مدعیٰ عليه [پر مدعي د مُدعیٰ بِهٖ] خرچ كونكى يا اقرار كونكى دى [يعني هغه پر دې دلالت كوي او د دې احتمال لري چي مدعیٰ عليه مدعي ته په پراخ زړه سره مُدعیٰ بِهٖ شي وركوي يا پر دې دلالت كوي چي مدعیٰ عليه د مدعي د دعوى اقرار كوي] إِذْ لَوْلَا ذٰلِكَ ځكه كه دا [احتمالونه] نه واى لَأَقْدَمَ عَلَى الْيَمِيْنِ إِقَامَةً لِلْوَاجِبِ وَدَفْعًا لِلضَّرَرِ عَنْ نَفْسِهِ نو له خپل ځان څخه د ضرر ليري كولو او [د شريعت] د واجب سوي حق د اداء كولو لپاره به مدعیٰ عليه [خامخا] پر قسم اقدام كولاى فَتَرَجَّحَ هٰذَا الْجَانِبُ نو ځكه دا اړخ راجح سو وَلَا وَجْهَ لِرَدِّ الْيَمِيْنِ عَلَى الْمُدَّعِيْ او پر مدعي د قسم واپس كولو [پېښولو] هيڅ وجه نسته لِمَا قَدَّمْنَاهُ د هغه دليل په وجه كوم چي مخكي موږ ذكر كړى.

**اللغات:** ﴿نكل﴾ د نصر د باب ماضي ده: له قسم څخه انكار كول. ﴿تورع﴾ د تفعل د باب مصدر دى: پرېز كول. ځان ساتل. ﴿ترفع﴾ مخكنۍ صيغه ده: پورته كېدل. كله چي د دې باب په صله

کي "عَنْ" راسي لکه دلته چي راغلی دی. نو د احتياط کولو او ځان ساتلو معنیٰ ورکوي (معجم وسيط).
﴿حجة﴾ دليل. ﴿باذل﴾ د نصر د باب فاعل دی: خرچ کونکی (خرچونکی، مصرفونکی). ﴿أقدم﴾ د افعال د باب ماضي ده: اقدام کول، وړانديتوب کول (په يو کار شروع کول).

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که مدعي پر خپله دعویٰ بيّنه پېش نه کړی سي او بيا هغه له مدعیٰ عليه شخصه د قسم مطالبه وکړي لېکن مدعیٰ عليه له قسم اخيستلو شخصه انکار وکړي، نو په دې صورت کي زمونږ په نېز حکم دا دی چي قاضي به د مدعیٰ عليه په خلاف فيصله کوي او د مدعي دعویٰ به قبلوي او هغه به پر مدعیٰ عليه لازموي. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي قاضي به قسم پر مدعي واپس کوي (پېشوي) يعني له هغه شخصه به قسم اخلي، که چيري مدعي قسم واخلي، نو قاضي به د هغه په حق کي فيصله کوي او که مدعي هم له قسم شخصه انکار وکړي، نو بيا به قاضي دعویٰ او مقدمه ختموي.

**د امام شافعي دليل:** دا دی چي له قسم شخصه د مدعیٰ عليه د انکار کولو په صورت کي دا احتمال هم سته چي هغه د درواغو له قسم شخصه ځان ساتي، او دا احتمال هم سته چي هغه د احتياط او احترام په توګه له رښتوني قسم شخصه ځان ساتي، لنډه دا چي د انکار کولو په وجه د هغه حال مشتبه سو، او د اشتباه حال په وجه د مدعیٰ عليه انکار د مدعي په حق کي حجت او دليل نه سي ګرځېدای، خو کله چي مدعي قسم واخلي، نو په دې سره به د مدعي بر حق والی ښکاره سي (چي هغه پر حق دی). نو ځکه له مدعي شخصه به قسم اخيستل کيږي او د هغه د قسم مطابق به قاضي فيصله کوي.

**زمونږ دليل:** دا دی چي له قسم شخصه د مدعیٰ عليه انکار کول پر دې خبره دلالت کوي چي هغه مدعي ته (په پراخه زړه سره) د مدعیٰ به ورکول غواړي، او که څه هم هغه د مدعي دعویٰ درواغجنه ګڼي خو بيا هم د خپل ځان او عزت د ساتلو په خاطر داسي کوي، او دا احتمال هم سته چي هغه د مدعیٰ دعویٰ قبلوي او د درواغو له قسم شخصه ځان ساتي. او له قسم شخصه د مدعیٰ عليه په انکار کولو کي همدغه دوه احتماله اهم حيثيت لري، ځکه که له دې شخصه يو احتمال نه وای، نو هغه به خامخا قسم اخيستلای د دې لپاره چي په قسم اخيستلو سره د شريعت واجب سوی حق يعني "قسم اخيستل" اداء کړي او له خپل ځان شخصه ضرر ليري کړي، لېکن له قسم شخصه د هغه انکار کول يا د دې خبري دليل دی چي هغه په پراخه زړه سره مدعي ته مدعیٰ به ورکوي، يا د دې دليل دی چي هغه د مدعي د دعوی اقرار کوي او هغه قبلوي. نو ځکه له دغه دوو احتمالونو شخصه به يو احتمال راجح وي او د مدعي

په حق کي به د مدعیٰ په فیصله کیږي. او له مدعي څخه به خو په هیڅ حال کي هم قسم نه اخیستل کیږي، لکه څرنګه چي مخکي د حديث "البَيِّنَةُ عَلَى المُدَّعِيْ وَاليَمِيْنُ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ" په ضمن کي د دې پوره وضاحت تېر سو.

## پر مدعیٰ علیه د قسم پېښولو طریقه

قَالَ: وَيَنْبَغِي لِلْقَاضِيْ أَنْ يَقُوْلَ لَهُ: إِنِّيْ أَعْرِضُ عَلَيْكَ الْيَمِيْنَ ثَلَاثًا فرمایي: او قاضي ته پکار دي چي مدعیٰ علیه ته داسي ووايي: چي زه پر تا درې واره قسم پېښوم فَإِنْ حَلَفْتَ که چیري ته قسم واخلې! [نو صحیح ده] وَإِلَّا قَضَيْتُ عَلَيْكَ بِمَا ادَّعَاهُ کنې زه ستا په خلاف د هغه شي فیصله کووم چي مدعي د هغه دعویٰ کوي وَهٰذَا الْإِنْذَارُ لِإِعْلَامِهِ بِالْحُكْمِ او دا بېرول په حکم سره د هغه د خبرولو لپاره دي [یعني د دې لپاره دي چي مدعیٰ علیه له قسم څخه د انکار کولو په حکم خبر کړی سي] إِذْ هُوَ مَوْضِعُ الْخَفَاءِ ځکه چي دا پوشیدګۍ مقام دی قَالَ: فَإِذَا كَرَّرَ الْعَرْضَ عَلَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فرمایي: کله چي قاضي پر مدعیٰ علیه د قسم پېښول درې واره مکرر کړي [او مدعیٰ علیه درې واره انکار وکړي] قَضٰى عَلَيْهِ بِالنُّكُوْلِ نو د انکار په وجه به قاضي د هغه په خلاف فیصله کوي وَهٰذَا التَّكْرَارُ ذَكَرَهُ الْخَصَّافُ او دا تکرار [مکرر کول] امام خصاف رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي لِزِيَادَةِ الْاِحْتِيَاطِ وَالْمُبَالَغَةِ فِيْ إِبْلَاءِ الْعُذْرِ ځکه چي [په دې کي] احتیاط [هم] زیات دی او د عذر په ښکاره کولو کي مبالغه [هم] ده فَأَمَّا الْمَذْهَبُ أَنَّهُ لَوْ قَضٰى بِالنُّكُوْلِ بَعْدَ الْعَرْضِ مَرَّةً او کوم چي مذهب دی نو هغه دا دی چي که تر یوه وار پېښولو وروسته د انکار کولو په وجه قاضي فیصله وکړي جَازَ نو [هم] جائز دي لِمَا قَدَّمْنَاهُ د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ مخکي ذکر کړی هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحیح ده وَالْأَوَّلُ أَوْلٰى [لیکن] اول صورت غوره دی ثُمَّ النُّكُوْلُ قَدْ يَكُوْنُ حَقِيْقِيًّا بیا انکار کله حقیقي وي كَقَوْلِهِ: لَا أَحْلِفُ لکه د مدعیٰ علیه دا قول: زه قسم نه اخلم وَقَدْ يَكُوْنُ حُكْمِيًّا او کله حکمي وي بِأَنْ يَسْكُتَ په دې توګه چي مدعیٰ علیه خاموش پاته سي وَحُكْمُهُ حُكْمُ الْأَوَّلِ او د حکمي انکار حکم [هم] د اول [حقیقي انکار] د حکم په څېر دی إِذَا عَلِمَ أَنَّهُ لَا آفَةَ بِهِ مِنْ طَرَشٍ أَوْ خَرَسٍ په دې شرط کله چي دا خبره معلومه

سي چي مدعیٰ علیه د ګونګ والي يا کوڼ والي په آفت مبتلا نه دی هُوَالصَّحِيْحُ همدا صحيح ده.

**اللغات**: ﴿ينبغي﴾ دانفعال د باب مضارع ده: مناسب دي، پکار دي (پکار ده). ﴿أعرِضُ﴾ د ضربه له بابه د واحد متکلم مضارع صيغه ده: پېشول، وړاندي کول، ورښکاره کول. ﴿نکول﴾ د نصر د باب مصدر دی: له قسم څخه انکار کول. ﴿خفاء﴾ پټوالی، پوشيدګي. ﴿يسکت﴾ د ضرب د باب مضارع ده: چوپېدل، خاموش کېدل، چپ پاتېدل. ﴿طَرَش﴾ (د راء په فتحه سره): ګونګ والی، ګونګی والی، ګونګی کېدل. ﴿خَرَس﴾ (د راء په فتحه سره): کوڼ والی، کڼېدل.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی چي کله قاضي له مدعیٰ عليه څخه قسم اخلي، نو هغه ته پکار دي چي مدعیٰ عليه ته داسي ووايي: "زه پر تا درې واره قسم پېشوم، که ته قسم واخلې! نو صحيح ده، او که ته له قسم څخه انکار وکړې! نو زه ستا په خلاف فيصله کووم او مدعي چي د کوم شي دعویٰ کړې ده (يعني مُدعیٰ بِهٖ) هغه پر تا لازموم".

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د قاضي دا ېرول (دمکي ورکول) يعني مدعیٰ عليه ته ويل "چي له قسم څخه د انکار په صورت کي زه ستا په خلاف فيصله کوم" په دې غرض سره دي چي هغه له قسم څخه د انکار کولو په حکم خبر سي، ځکه چي دا د خفاء (پوشيدګی) مقام دی يعني ممکنه ده چي له هغه څخه دا خبره پټه وي او صرف د امام شافعي رَحِمَهُ الله په مذهب خبر وي چي له قسم څخه د انکار کولو په صورت کي قسم پر مدعي پېشول کيږي، نو ځکه قاضي به هغه په خپل مذهب خبروي (چي له قسم څخه د انکار په صورت کي ستا په خلاف فيصله کوم)، د دې لپاره چي پر مدعیٰ عليه دا خبره مخفي پاته نه سي.

**قال فإذا کرّر إلخ**: فرمايي کله چي قاضي پر مدعیٰ عليه درې واره قسم پېش کړي او هغه انکار وکړي، نو بيا به قاضي د مدعي په حق کي فيصله کوي. او درې واره قسم پېشول د امام خصاف رَحِمَهُ الله قول دی کوم چي د احتياط پر بناء اختيار کړی سوی دی، او بل دا چي په درې واره قسم اخيستلو کي د عذر په اظهار کي مبالغه راځي (لکه څرنګه چي مرتد ته درې ورځي مهلت ورکول کيږي)، لنډه دا چي درې واره قسم پېشول د احتياط په وجه دي، کنې د مفتیٰ به مذهب حکم دا دی چي که مدعیٰ عليه صرف يو وار له قسم څخه انکار وکړي، نو هم قاضي ته دا جائز دي چي د مدعیٰ عليه په خلاف فيصله وکړي، او همدا صحيح قول دی، لکه څرنګه چي په مخکنۍ په مسئله کي دليل بيان سو چي

له قسم څخه د مدعیٰ عليه انکار کول پر دې خبره دلالت کوي چې هغه په پراخه زړه سره مدعي ته مدعیٰ به ور کوي يا د مدعي د دعوی اقرار کوي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې اول صورت اولیٰ (غوره) دی، يعني تر يوه واره انکار کولو وروسته که څه هم فيصله کول جائز دي، لېکن غوره دا ده چې تر درې واره قسم پېشولو وروسته قاضي فيصله وکړي.

ثم النكول إلخ: د دې حاصل دا دی چې له قسم څخه د مدعیٰ عليه انکار کول څيني وخت حقيقي وي، مثلاً هغه په ښکاره لفظو سره داسي ووايي چې "زه قسم نه اخلم" (لَا أَحْلِفُ)، او څيني وخت حکمي وي، مثلاً هغه د قسم اخيستلو په وخت کي خاموش پاته سي او هيڅ نه ووايي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د حکمي انکار هغه حکم دی کوم چې د حقيقي انکار دی، يعني په دواړو صورتونو کي به قاضي د مدعیٰ عليه په خلاف فيصله کوي، په دې شرط چې د حکمي انکار کولو (خاموش پاتېدلو) په صورت کي دا خبره ثابته سي چې مدعیٰ عليه کوڼ يا ګونګی نه دی، ځکه که هغه کوڼ يا ګونګی وي نو د هغه خاموش پاتېدل انکار نه شمارل کيږي.

## په کومو صورتونو کي به له مدعیٰ عليه څخه قسم نه اخيستل کيږي؟

قَالَ: وَإِنْ كَانَتِ الدَّعْوٰى نِكَاحًا فرمايي: او که چيري دعویٰ د نکاح کولو وي لَمْ يُسْتَحْلَفُ الْمُنْكِرُ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به له منکر [مدعیٰ عليه] څخه قسم نه اخيستل کيږي وَلَا يُسْتَحْلَفُ عِنْدَهُ فِي النِّكَاحِ وَالرَّجْعَةِ وَالْفَيْءِ فِي الْإِيْلَاءِ وَالرِّقِّ وَالْاِسْتِيْلَادِ وَالنَّسَبِ وَالْوَلَاءِ وَالْحُدُوْدِ وَاللِّعَانِ [همدارنګه] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به په نکاح، رجعت، له ايلاء څخه په رجوع کولو، غلامتوب، استيلاد، نسب، ولاء، حدود او لعان کي به له منکر څخه قسم نه اخيستل کيږي وَقَالَا❀: يُسْتَحْلَفُ فِيْ ذٰلِكَ كُلِّهِ إِلَّا فِي الْحُدُوْدِ وَاللِّعَانِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې په دې ټولو کي به له هغه څخه قسم اخيستل کيږي مګر په حدود او لعان کي وَصُوْرَةُ الْاِسْتِيْلَادِ أَنْ تَقُوْلَ الْجَارِيَةُ أَنَا أُمُّ وَلَدٍ لِمَوْلَايَ وَهٰذَا ابْنِيْ مِنْهُ او د استيلاد صورت دا دی چې مينځه داسي ووايي: زه د خپل [دغه] مالک أم ولد يم

❀ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، کما ذکر في نتائج الأفکار:... والفتویٰ علیٰ قولهما (ج:۷، ص:۱۶۹)، وکذا في رد المحتار (ج:۴، ص:۴۷۳)، ومجمع الأنهر (ج:۳، ص:۳۵۱). [القول الراجح ج:۲، ص: ۱۷۰]

او دغه زما څوی له هغه څخه [يعني د هغه له نطفې څخه] دی وَأَنْكَرَ الْمَوْلَى او مالک انکار وکړي لِأَنَّهُ لَوِ ادَّعَى الْمَوْلَى ځکه که چيرې مالک [د استيلاد] دعوىٰ وکړي ثَبَتَ الِاسْتِيلَادُ بِإِقْرَارِهِ وَلَا يُلْتَفَتُ إِلَى إِنْكَارِهَا نو [په خپله] د هغه په اقرار سره استيلاد ثابتيږي او د مينځې د انکار وطرف ته به توجه نه کيږي لَهُمَا: أَنَّ النُّكُولَ إِقْرَارٌ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې له قسم څخه انکار کول اقرار دی لِأَنَّهُ يَدُلُّ عَلَى كَوْنِهِ كَاذِبًا فِي الْإِنْكَارِ ځکه چې د قسم انکار پر دې خبره دلالت کوي چې مدعىٰ عليه [د مدعي] د دعوی په انکار کولو کې درواغجن دی عَلَى مَا قَدَّمْنَاهُ لکه مخکې چې موږ ذکر کړه فَكَانَ إِقْرَارًا أَوْ بَدَلًا عَنْهُ لهذا له قسم څخه انکار کول به يا اقرار وي يا به د اقرار بدل وي وَالْإِقْرَارُ يَجْرِي فِي هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ او په دې شيانو [نکاح، رجعت او داسې نورو] کې اقرار جاري کيږي لٰكِنَّهُ إِقْرَارٌ فِيهِ شُبْهَةٌ لېکن هغه داسې اقرار دی چې په هغه کې شبهه ده وَالْحُدُودُ تَنْدَرِئُ بِالشُّبُهَاتِ او په شبهاتو سره حدود ساقطيږي وَاللِّعَانُ فِي مَعْنَى الْحَدِّ او لعان [هم] د حد په معنىٰ سره دی وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ بَذْلٌ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې له قسم څخه انکار کول خرڅ کول [په پراخ دلي سره مدعي ته د مُدعىٰ بِهٖ ورکول] دي لِأَنَّ مَعَهُ لَا تَبْقَى الْيَمِينُ وَاجِبَةً ځکه چې د بذل سره قسم واجب نه پاتيږي لِحُصُولِ الْمَقْصُودِ د مقصود حاصليدلو په وجه وَإِنْزَالُهُ بَاذِلًا أَوْلَى كَيْلَا يَصِيرَ كَاذِبًا فِي الْإِنْكَارِ .او مدعىٰ عليه د بازل په درجه کې شوه کول [يعني بازل گرځول او د هغه انکار پر بذل حمل کول] غوره دي، د دې لپاري چې هغه په انکار کې درواغجن نه وگرځي وَالْبَذْلُ لَا يَجْرِي فِي هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ او په دې شيانو کې بذل نه جاري کيږي وَفَائِدَةُ الِاسْتِحْلَافِ الْقَضَاءُ بِالنُّكُولِ او د قسم اخيستلو فايده دا ده چې پر انکار فيصله وکړی سي فَلَا يُسْتَحْلَفُ نو ځکه [له مدعىٰ عليه څخه] به قسم نه اخيستل کيږي إِلَّا أَنَّ هٰذَا بَذْلٌ لِدَفْعِ الْخُصُومَةِ لېکن دا بذل د خصومت [دعوی او جنگ] دفع کولو لپاره دی فَيَمْلِكُهُ الْمُكَاتَبُ وَالْعَبْدُ الْمَأْذُونُ نو ځکه مکاتب او مأذون لهٗ غلام [هم] د هغه مالک کيږي [يعني د هغه ملکيت او اختيار لري] بِمَنْزِلَةِ الضِّيَافَةِ الْيَسِيرَةِ د سپک مېلمستون په څېر [يعني لکه څرنګه چې مکاتب او عبد مأذون لهٗ د دې ملکيت او اختيار لري چې د مشتري او داسې نورو سپکه مېلمستيا وکړي] وَصِحَّتُهُ فِي

الدَّيْنِ بِنَاءً عَلَىٰ زَعْمِ الْمُدَّعِیْ او په قرض کي د هغه صحيح کېدل د مدعي د ګومان پر بناء دي وَهُوَ يَقْبِضُهُ حَقًّا لِنَفْسِهِ او هغه د خپل ذاتي حق په توګه پر هغه قبضه کوي وَالْبَذْلُ مَعْنَاهُ هٰهُنَا "تَرْكُ الْمَنْعِ" او دلته [يعني په قرض کي] د بذل معنیٰ ده: "د منع پرېښوول" وَأَمْرُ الْمَالِ هَيِّنٌ او د مال معامله آسانه [سپکه] ده.

**اللغات**: ﴿فيء﴾ د ضرب د باب مصدر دی: رجوع کول، ﴿ايلاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: دا قسم اخيستل چي "زه به (څلور مياشتي) ښځي ته نه نژدې کېږم"، ﴿رق﴾ غلامتوب، غلام والی، ﴿استيلاد﴾ أم ولد جوړول، ﴿ولاء﴾ د آزاد سوي غلام ميراث ته وايي، او دا ميراث د هغه کس حق کېږي چا چي هغه آزاد کړی وي، يعني د آزادونکي مالک حق کېږي، ﴿تندرئ﴾ د انفعال د باب مضارع ده: ليري کېدل، دفع کېدل، ساقطېدل، ﴿باذل﴾ د نصر د باب فاعل دی: خرڅ کونکی (خرڅونکی، په رضا سره خپل حق ورکولو ته آماده، په پراخ زړه [پراخ نيت] سره د خپل شي ورکونکی)، ﴿هيّن﴾ آسانه، سپک.

**تشريح**: مخکي دا خبره ذکر سوه چي که مدعیٰ عليه بيّنه پېش نه کړی سي (يعني له بيّنه پېشولو څخه عاجزه سي)، نو له هغه څخه به قسم اخيستل کيږي، لېکن نهه (۹) مسئلې داسي دي چي په هغه کي به له مدعیٰ عليه څخه قسم نه اخيستل کيږي: ① نکاح، ② رجعت، ③ د ايلاء رجعت، ④ رقيت (غلامتوب)، ⑤ استيلاد، ⑥ نسب، ⑦ ولاء، ⑧ حدود، ⑨ لعان.

① نو که له سړي او ښځي څخه يو د نکاح دعویٰ وکړي او بل د هغه انکار وکړي، ② يا په طلاقِ رجعي کي له خاوند او ښځي څخه يو د رجعت دعویٰ و کړي او بل د هغه انکار وکړي، ③ يا د ايلاء له مودت تېرېدلو څخه وروسته خاوند دعویٰ وکړي چي ما رجعت کړی دی او ښځه د هغه انکار وکړي، ④ يا يو څوک د مجهولُ النسب کس په باره کي دعویٰ وکړي چي "دا زما غلام دی"، او مجهولُ النسب کس انکار وکړي (چي زه ستا غلام نه يم)، ⑤ يا يو مينځه دعویٰ وکړي چي "زه خپل مالک اُم ولد جوړه کړې يم، يعني ما د مالک له نطفې څخه بچی زېږولی دی"، او مالک له دې څخه انکار وکړي، ⑥ يا يو څوک د يو مجهولُ النسب کس په باره کي دعویٰ وکړي چي "دا زما زوی دی"، او مجهولُ النسب کس انکار وکړي (چي زه ستا زوی نه يم)، ⑦ يا يو څوک د مجهولُ النسب کس په باره کي دعویٰ وکړي چي "ما هغه آزاد کړی دی او زه د هغه مالک يم لهذا د هغه ولاء زما ده"،

لېکن مجهولُ النسب کس انکار وکړي (چي ته زما آزادونکی مالک نه يې لهذا زما ولاء ستا نه ده)، ⑧ يا يو څوک پر يو سړي د داسي جرم دعویٰ وکړي کوم چي حد واجبوي، مثلاً د زنا يا غلا دعویٰ وکړي (چي تا زنا کړې ده، يا تا غلا کړې ده)، لېکن هغه سړی انکار وکړي، ⑨ يا يو ښځه پر خپل خاوند دعویٰ وکړي چي هغه پر ما داسي تهمت لګولی دی کوم چي لعان واجبوي (يا مثلاً داسي ووايي چي پر ما د تهمت لګولو په وجه زما پر خاوند لعان واجب دی)، لېکن خاوند انکار وکړي.

نو په دغو ټولو مسئلو کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي د انکار باوجود به له مدعیٰ عليه څخه قسم نه اخيستل کيږي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز حکم دا دی چي له حدود او لعان څخه بغير په نورو مسئلو کي به له مدعیٰ عليه څخه قسم اخيستل کيږي.

وصورة الاستيلاد إلخ: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله صرف د "استيلاد" صورت ځکه بيان کړی دی، چي په هغه کي عکس نه جاري کيږي، يعني که د مينځي پر ځای مالک دعویٰ وکړي چي ما خپل دغه مينځه اُمِ ولد جوړه کړې ده، نو په دې صورت کي په خپله د مالک د اقرار په وجه استيلاد ثابتيږي او د مينځي انکار لره هيڅ اعتبار نسته، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله خاص د استيلاد د مسئلې صورت بيان کړی دی، لېکن څرنګه چي له دې څخه بغير په نورو مسئلو کي عکس نه جاري کيږي، نو ځکه يې د هغوی صورتونه نه دي بيان کړي، لېکن موږ ستاسو د اسانتيا لپاره هغه هم بيان کړل.

**د صاحبينو دليل:** په مختلف فيه مسئلو کي د صاحبينو دليل دا دی چي له قسم څخه د مدعیٰ عليه (منکر) انکار کول داسي دي لکه د مدعي د دعوې اقرار کول. ځکه چي له قسم څخه انکار کول د دې خبري دليل دی چي مدعیٰ عليه د دعوې په انکار کولو کي بالکل درواغجن دی؛ ځکه که مدعیٰ عليه د دعوې په انکار کولو کي درواغجن نه وای نو هغه به خامخا قسم اخيستلای؛ ځکه په قسم اخيستلو کي درې فايدې دي، يو دا چي هغه (مدعیٰ عليه) به د شريعت د واجب سوي حق يعني د قسم اداء کونکی سي (يعني د شريعت حق به اداء کړي)، دويم دا چي له هغه څخه به د کذب تهمت ليري سي، دريم دا چي مدعیٰ بِهٖ شی به د هغه په ملکيت کي پاته سي، لنډه دا چي که مدعیٰ عليه په خپل قسم کي درواغجن نه وای، نو هغه به دغه فايدې هيڅکله نه پرېښوولای، لېکن د دغو فايدو باوجود له قسم څخه انکار کول د دې خبري ښکاره دليل دی چي مدعیٰ عليه د مدعي د دعوې په انکار کولو کي بالکل درواغجن دی او هغه د مدعي دعویٰ قبلوي (يعني ګواکي د دې خبري دليل دی چي هغه د مدعي دعویٰ تسليموي او مدعي په خپل دعویٰ کي رښتوني ګڼي)، لهذا له قسم څخه د هغه انکار کول به اقرار وي يا به د

اقرار بدل وي، او اقرار په مذکوره ټولو مسئلو کي جاري کيږي، نو ځکه انکار به هم پکښي جاري کيږي، او تاسو ته معلومه ده چي د انکار په صورت کي له مدعیٰ علیه څخه قسم اخيستل کيږي، نو ځکه په دغو مسئلو کي به هم له مدعیٰ علیه څخه قسم اخيستل کيږي. مګر د حدودو او لعان په مسئله کي به په دې وجه قسم نه ځني اخيستل کيږي؛ ځکه چي له قسم څخه د مدعیٰ علیه انکار کول که څه هم اقرار دی، خو هغه داسي اقرار دی چي څه شبهه پکښي سته، ځکه چي له قسم څخه انکار کول داسي دي لکه د دعوې په باره کي چپ پاتېدل، او چپ پاتېدل (سکوت) که څه هم اقرار دی خو په هغه کي شبهه سته، او تاسو ته ښه معلومه چي حدود په شبهاتو سره ساقطيږي، نو ځکه په دغه مشتبه اقرار سره به پر مدعیٰ علیه حد نه واجبيږي، او کله چي دا اقرار په حد کي مفيد نه دی نو انکار به هم په حد کي نه جاري کيږي او داسي به نه کيږي چي په حد کي مدعیٰ علیه منکر و ګڼل سي او له هغه څخه قسم واخيستل سي، او پاته سو لعان نو هغه هم د حد په معنیٰ سره دی، لهذا کله چي په حد کي له مدعیٰ علیه څخه قسم نه اخيستل کيږي، نو په لعان کي به هم له هغه څخه قسم نه اخيستل کيږي، لېکن له دې دوو څخه بغير په نورو مسئلو کي به قسم ځني اخيستل کيږي.

**د امام صاحب دليل:** دا دی چي له قسم څخه د مدعیٰ علیه انکار کول "بذل" دی يعني د مدعیٰ علیه انکار کول داسي دي لکه مدعي ته په پراخ زړه (په رضا) سره د مدعیٰ به ورکولو اراده کول، او څرنګه چي له قسم اخيستلو څخه وروسته دعویٰ او جنګ ختميږي، همداسي له "بذل" څخه وروسته هم هغه ختميږي، او مقصود همدا دي (چي دعویٰ، جنګ او جنجال ختم سي)، نو ځکه د "بذل" سره به قسم نه واجبيږي، او په پورتني ټولو مسئلو کي د مدعیٰ علیه انکار پر "بذل" حمل کول پر اقرار له حمل کولو څخه ډېر غوره دي؛ ځکه چي پر اقرار د حمل کولو په صورت کي هغه د مدعي د دعوې په انکار کولو کي دروا غجن ګرځي، حال دا چي د "بذل" په صورت کي هغه دروا غجن نه ګرځي، او يو مسلمان د کذب له تهمت څخه ساتل غوره کار دی، نو ځکه په دې حواله سره به د مدعیٰ علیه انکار پر "بذل" حمل کيږي، لېکن په پورتني مسئلو کي "بذل" (يعني له قسم څخه انکار کول) نه جاري کيږي، ځکه که مثلاً د نکاح په مسئله کي مدعیٰ علیها ښځه د نکاح انکار وکړي يعني مدعي سړي ته ووايي چي زما او ستا په مينځ کي هيڅ نکاح نه ده سوې لېکن زه په پراخ زړه سره تا ته خپل ځان درکوم (بذل کوم)، نو ښکاره خبره ده چي دا بذل صحيح نه دی، لنډه دا چي په پورتني مسئلو کي بذل جاري نه دی، او کله چي بذل جاري نه دی، نو د مدعیٰ علیه د انکار يعني د بذل په صورت کي به د

قاضي فيصله کول هم نه متصور کيږي، حال دا چې د قسم اخيستلو فايده دا ده چې له قسم څخه د انکار کولو په صورت کې قاضي د مدعیٰ عليه په خلاف فيصله وکړي، او په مذکوره مسئلو کې د هغه تصور نه سي کېدای، او کله چې په دغو مسئلو کې له قسم څخه د انکار کولو په صورت کې د قاضي فيصله نه متصور کيږي، نو ځکه د قسم د بې فايده کېدلو (مفيد نه کېدلو) په وجه به په مذکوره مسئلو کې له مدعیٰ عليه څخه قسم نه اخيستل کيږي.

إلا أن هذا بذل إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چې که چيري انکار عن المين (له قسم څخه انکار کول) "بذل" وي لکه څرنګه چې امام صاحب رَحِمَهُ الله وايي، نو بيا مکاتب او عبد مأذون لهٗ ته د انکار عن اليمين اجازت حاصلېدل پکار نه دي؛ ځکه چې په "بذل" کې د تبرّع معنیٰ سته، او دا کسان د تبرّع اهل نه دي، حال دا چې هغو ته د "بذل" (يعني له قسم څخه د انکار کولو) اجازت سته.

د دې جواب دا دی چې مکاتب او عبد مأذون لهٗ تجارت او کاروبار کوي، او د تجارت لپاره چې کوم شيان ضروري دي، دوی دواړه د هغه ملکيت او اختيار لري، مثلاً دوی ته دا اختيار حاصل دی چې د مشتري سپکه مېلمستيا (ضيافتِ يسيره) وکړي، لهذا څرنګه چې دوی ته د ضيافت يسره اختيار حاصل دی، همداسي به د "بذل" اختيار او اجازت هم ورته حاصل وي.

وصحته في بناءً: دا هم د يو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چې که چيري انکار عن اليمين "بذل" وي لکه څرنګه چې امام صاحب رَحِمَهُ الله وايي، نو په قرضونو کې هغه جاري کېدل پکار نه دي؛ ځکه چې د "بذل" محل اعيان (عَين شيان) دي، نه قرضونه (دُيون)، ځکه چې قرض وصف ته يعني پر ذمه واجب سوي حق ته وايي، او تاسو ته به معلومه وي چې بذل او عطاء په اوصافو کې نه جاري کيږي، لهذا په قرضونو کې هم بذل جاري کېدل پکار نه دي، حال دا چې ستاسو په نېز په قرضونو کې هم بذل جاري کيږي.

نو د دې جواب دا دی چې په قرضونو کې د بذل صحيح کېدل او جاري کېدل د مدعي د ګومان پر بناء دي، په دې توګه چې په قرض کې بذل د ترکُ المنع (د منع د پرېښودلو) په معنیٰ سره دي، يعني دلته د بذل مطلب دا دی چې مدعیٰ عليه د قرض پر مال له قبضه کولو څخه (د مدعي) منع کول پرېښوول او د قبضه کولو اجازت يې ورکړی، اوس ګواکي مدعي د خپل ګومان مطابق پر هغه مال د خپل ذاتي حق په توګه قبضه کوي او د مدعي لپاره پر هغه مال له قبضه کولو څخه هيڅ شی مانع دی، او ترک المنع (منع پرېښوول) چې څرنګه په اعيانو کې جائز او جاري کيږي، همداسي په مالونو او قرضونو

کي هم جائز او جاري کيږي؛ او بل دا چي د مالونو معامله زياته آسانه او سپکه ده. نو ځکه په مالونو کي به په درجه اولیٰ هغه جاري کيږي.

## له قسم څخه د غله انکار کول

قَالَ: وَيُسْتَحْلَفُ السَّارِقُ فرمايي: او له غله څخه به قسم اخيستل کيږي فَإِنْ نَكَلَ او که هغه انکار وکړي ضَمِنَ نو هغه ضامن کيږي [يعني پر هغه د غلا سوي شي ضمان (تاوان) واجبيږي] وَلَمْ يُقْطَعْ او د هغه لاس به نه پرېکول کيږي لِأَنَّ الْمَنُوْطَ بِفِعْلِهِ شَيْئَانِ: الضَّمَانُ ځکه چي د غله د فعل سره دوه شيان متعلق دي: (۱) يو د ضمان واجبېدل وَيَعْمَلُ فِيهِ النُّكُوْلُ او په دې کي انکار عمل [اثر] کوي وَالْقَطْعُ (۲) او بل د لاس پرېکول وَلَا يَثْبُتُ بِهِ او هغه په انکار سره نه ثابتيږي فَصَارَ كَمَا إِذَا شَهِدَ عَلَيْهَا رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ نو دا داسي سو لکه د غله په خلاف چي يو سړی او دوې ښځي ګواهي ورکړي.

**اللغات**: ﴿سارق﴾ د نصر د باب اسم فاعل دی: غل، ﴿منوط﴾ د نصر د باب اسم مفعول دی: معلق، متعلق.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو څوک پر يو سړي د غلا دعویٰ وکړي (چي [مثلاً] زما پَيسه تا غلا کړې دی) او بيا مدعي له بيّنه پېشولو څخه عاجزه سي او مدعیٰ عليه (غل) له قسم څخه انکار وکړي، نو هغه د غلا سوي شي (پَيسه) ضامن او د هغه لاس به نه پرېکول کيږي؛ ځکه چي د غله د فعل سره دوه شيان متعلق دي: (۱) د غلا سوي شي ضمان (تاوان)، (۲) قطع اليد (لاس پرېکول)، او د قسم په انکار سره صرف ضمان واجبيږي، قطع اليد نه ثابتيږي؛ ځکه چي قطع اليد حد دی، او د حد لپاره واضح ثبوت او دليل ضروري دی، نه انکار عن اليمين. د دې مثال داسي دی لکه يو سړی او دوې ښځي چي د يو سړي په خلاف د غلا ګواهي ورکړي، نو په دې ګواهی سره پر هغه سړي صرف مال واجبيږي لېکن په دې سره قطع اليد نه ثابتيږي يعني د هغه لاس نه پرېکول کيږي، همداسي په انکار عن اليمين سره به هم پر منکر صرف مال واجبيږي لېکن د هغه لاس به نه پرېکول کيږي.

## د طلاق نه ورکولو له قسم څخه انکار کول
## (او د دې په ضمن کې څو نورې مسئلې)

قَالَ: وَإِذَا ادَّعَتِ الْمَرْأَةُ طَلَاقًا قَبْلَ الدُّخُولِ فرمايي: او کله چې ښځه د طلاق قبل الدخول دعویٰ وکړي اُسْتُحْلِفَ الزَّوْجُ نو له خاوند څخه به قسم اخيستل کيږي فَإِنْ نَكَلَ او که خاوند له قسم څخه انکار وکړي ضَمِنَ نِصْفَ الْمَهْرِ فِيْ قَوْلِهِمْ جَمِيعًا نو هغه د ټولو امامانو په نيز د نيم مهر ضامن کيږي لِأَنَّ الِاسْتِحْلَافَ يَجْرِي فِي الطَّلَاقِ عِنْدَهُمْ ځکه چې د ټولو په نيز په طلاق کې قسم اخيستل جاري کيږي لَا سِيَّمَا إِذَا كَانَ الْمَقْصُودُ هُوَ الْمَالُ خصوصاً په هغه صورت کله چې مقصود مال وي وَكَذَا فِي النِّكَاحِ إِذَا ادَّعَتْ هِيَ الصَّدَاقَ او همدارنګه په نکاح کې کله چې ښځې د مهر دعویٰ کړې وي لِأَنَّ ذٰلِكَ دَعْوَى الْمَالِ ځکه چې دا د مال دعویٰ ده ثُمَّ يَثْبُتُ الْمَالُ بِنُكُولِهِ وَلَا يَثْبُتُ النِّكَاحُ بيا د خاوند په انکار سره مال خو ثابتيږي لېکن نکاح نه ثابتيږي وَكَذَا فِي النَّسَبِ إِذَا ادَّعٰى حَقًّا كَالْإِرْثِ وَالْحِجْرِ فِي اللَّقِيطِ وَالنَّفَقَةِ وَامْتِنَاعِ الرُّجُوعِ فِي الْهِبَةِ او همدا حکم په نسب کې هم دی کله چې هغه د يو حق دعویٰ وکړي لکه د ميراث دعویٰ او په لقيط کوچني کې د پالنې دعویٰ او د نفقې دعویٰ او په هبه کې د رجوع ممتنع کېدلو دعویٰ لِأَنَّ الْمَقْصُودَ هٰذِهِ الْحُقُوقُ ځکه چې مقصود همدا حقوق دي وَإِنَّمَا يُسْتَحْلَفُ فِي النَّسَبِ الْمُجَرَّدِ عِنْدَهُمَا إِذَا كَانَ يَثْبُتُ بِإِقْرَارِهِ او په محض نسب [خالي نسب] کې د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللهُ په نيز به هغه وخت له مدعیٰ عليه څخه قسم اخيستل کيږي کله چې نسب د هغه په اقرار سره ثابتيږي كَالْأَبِ وَالِابْنِ فِي حَقِّ الرَّجُلِ وَالْأَبِ فِي حَقِّ الْمَرْأَةِ لکه د سړي په حق کې د پلار او ځوی اقرار او د ښځې په حق کې د پلار اقرار [نه د ځوی اقرار] لِأَنَّ فِي دَعْوَاهَا الِابْنَ تَحْمِيلَ النَّسَبِ عَلَى الْغَيْرِ ځکه چې د ښځې د ځوی په دعویٰ کې پر بل چا د نسب بار اچول کيږي [يعنې که ښځه د يو سړي د ځوی والي دعویٰ او اقرار وکړي نو په دې سره پر بل چا (يعنې د هغې پر خاوند) د هغه کس نسب لازمول کيږي او د خاوند سره د هغه نسب تړل کيږي] وَالْمَوْلٰى وَالزَّوْجِ فِي حَقِّهِمَا او [لکه] د مالک او خاوند اقرار د سړي او ښځې په حق کې.

**اللغات**: ﴿استحلاف﴾ د استفعال د باب مصدر دی: له يو چا څخه د قسم مطالبه کول، قسم څني اخيستل، ﴿لا سيّما﴾ خصوصاً، په ځانګړې توګه، ﴿حجر﴾ غېږه، پالنه (پرورش او تربيه کول)، ﴿لقيط﴾ هغه کوچنی کوم چې په عامه لار کې پروت وي او يو څوک هغه راپورته کړي، ﴿تحميل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: د يو چا پر ذمه د يو شي بار او بوج اچول، باروول.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو ښځه د خپل خاوند په خلاف د طلاق قبل الدخول دعویٰ وکړي او خاوند له دې څخه انکار وکړي (چې ما تا ته قبل الدخول طلاق نه دی درکړی)، بيا له خاوند څخه د قسم اخيستلو مطالبه وسي او خاوند له قسم اخيستلو څخه انکار وکړي، نو په دې صورت کې پر ښځې طلاق واقع کيږي، او د ټولو امامانو په نيز په دې صورت کې پر خاوند د نيم مهر ضمان (تاوان) واجبيږي؛ ځکه چې د ټولو امامانو په نيز په طلاق کې استحلاف جاري کيږي، نو څرنګه چې د استحلاف په نورو ځايو کې له مدعیٰ عليه (منکر) څخه قسم اخيستل کيږي، همداسې به په پورتنۍ مسئله کې هم له مدعیٰ عليه يعنې له خاوند څخه قسم اخيستل کيږي.

وکذا في النکاح إلخ: فرمايي که يو ښځه دا دعویٰ وکړي چې "زما نکاح د فلاني سړي سره سوې ده، لهذا هغه ته دې حکم وسي چې ما ته خپل مهر راکړي"، نو په دې صورت کې هم که خاوند انکار وکړي، نو پر هغه مهر لازميږي لېکن نکاح نه ثابتيږي؛ ځکه چې نکاح په بيّنه سره ثابتيږي، نه په انکار عن اليمين سره.

وکذا في النسب إلخ: د دې حاصل دا دی چې که يو سړی د نسب پر بناء د يو حق مثلاً د ميراث يا داسې بل حق دعویٰ وکړي، مثلاً زيد پر خالد دا دعویٰ وکړي چې "هغه زما حقيقي ورور دی او زموږ پلار مړ سوی دی او د پلار ټوله ميراث د خالد سره دی، لهذا له هغه څخه دې ما ته خپل حق راکول سي"، لېکن کله چې مدعیٰ عليه (خالد) دغه دعویٰ واوري نو هغه انکار وکړي، نو اوس په دې صورت که مدعي (زيد) بيّنه پېش نه کړی سي، نو له مدعیٰ عليه څخه به قسم اخيستل کيږي، که هغه قسم واخلي، نو د مدعي دعویٰ ختميږي او باطليږي، او که هغه له قسم څخه انکار وکړي، نو د مدعي دعویٰ ثابتيږي او د مدعي لپاره د وراثت مال ثابتيږي لېکن نسب نه ثابتيږي؛ ځکه چې په انکار عن اليمين سره نسب نه ثابتيږي.

والحجر في اللقيط والنفقة إلخ: فرمايي که يو سړی په لاره کې يو کوچنی پيدا کړي او راپورته يې کړي، بيا يو ښځه دعویٰ وکړي چې "دا زما ورور دی او د دې د پالنې او تربيت حق ما ته حاصل دی"، او

راپورته کونکی سړی (مُلتقط) انکار وکړي، نو په دې صورت کې به هم له ملتقط څخه قسم اخيستل کيږي، که ملتقط له قسم څخه انکار وکړي، نو هغه بچی به مدعيه ښځې ته ورکول کيږي لېکن نسب نه ثابتيږي يعني د هغه بچي نسب او رشته د دې ښځې سره نه ثابتيږي.

همدارنګه که يو څوک د يو سړي په باره کې دا دعویٰ وکړي چې "هغه زما پلار دی او زه د هغه معذوره څوی يم، لهذا زما نفقه پر هغه واجب ده"، لېکن کله چې مدعیٰ عليه دا دعویٰ واوري نو هغه انکار وکړي (چې زه بالکل د ده پلار نه يم)، او مدعي پر خپله دعویٰ بيّنه پېش نه کړی سي، نو دلته به هم له مدعیٰ عليه څخه قسم اخيستل کيږي، او که هغه له قسم څخه انکار وکړي، نو پر هغه د مدعي نفقه واجبيږي لېکن نسب نه ثابتيږي.

همدارنګه که خالد ادريس ته يو شی هبه کړي، بيا واهب يعني خالد هغه شی له موهوب لهٗ (ادريس) څخه واپس اخيستل وغواړي، لېکن موهوب لهٗ (ادريس) دا دعویٰ وکړي چې "ته زما ورور يې!، لهذا ته زما څخه موهوب شی واپس نه سې اخيستلای"، او واهب (خالد) انکار وکړي، نو دلته هم که مدعي يعني موهوب لهٗ (ادريس) پر خپله دعویٰ بيّنه پېش نه کړی سي، نو له مدعیٰ عليه يعني له واهب (خالد) څخه به قسم اخيستل کيږي، او که هغه له قسم څخه انکار وکړي، نو پر هغه رجوع في الهبه (يعني د موهوب شي واپس اخيستل) ممنوع ګرځي لېکن نسب يعني د اخوت رشته نه ثابتيږي.

لأن المقصود هذه الحقوق: د پورتنی ټولو مسئلو مجموعي دليل دا دی چې په دې مسئلو کې نسب مقصود نه دی بلکې مالي حقوق مقصود دي، او په مالي حقوقو کې استحلاف جاري کيږي، نو ځکه په دې مسئلو کې به هم استحلاف جاري کيږي.

وإنما يستحلف في النسب إلخ: د دې حاصل دا دی چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د محض نسب (خالي نسب) په دعویٰ کولو کې استحلاف نه جاري کيږي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د نسب محض په دعویٰ کولو کې استحلاف جاري کيږي په دې شرط چې هغه نسب د مدعیٰ عليه په اقرار سره ثابتېدای سي. د دې مثال داسي دی لکي يو څوک چې د يو سړي په باره کې دا دعویٰ وکړي چې "هغه زما پلار يا زما څوی دي"، يا يو څوک د يو ښځې په باره کې دا دعویٰ وکړي چې "زه د هغې پلار يم"، لېکن مدعیٰ عليه له دې څخه انکار وکړي، او مدعي بيّنه پېش نه کړی سي، او بيا له مدعیٰ عليه څخه قسم واخيستل سي او هغه له قسم څخه انکار وکړي، نو په دې صورت کې په انکار عن اليمين سره نسب ثابتيږي، ځکه که چيري مدعیٰ عليه دعویٰ تسليم کړې وای او اقرار يې

کړي واى نو د هغه په اقرار سره به هم نسب ثابتېداى، او څرنګه چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز انکار عن اليمين اقرار دى، نو ځکه په هغه سره به هم نسب ثابتيږي.

د دې په خلاف که يو سړى دعوىٰ وکړي چي "زه د فلانکۍ ښځي ځوى يم"، لېکن هغه ښځه (مدعىٰ عليها) له دې څخه انکار وکړي، او مدعي بيّنه پېش نه کړى سي، نو له مدعىٰ عليها ښځي څخه به قسم نه اخيستل کيږي؛ ځکه که هغه ښځه د مدعي د دعوى اقرار وکړي نو هم د هغې په اقرار سره مدعي د هغې ځوى نه ګرځي؛ ځکه که مدعي د هغې ځوى وګرځول سي نو دا خبره لازميږي چي مدعي د هغې د خاوند هم ځوى دى، لهذا په دې کي پر بل چا (يعني پر خاوند) نسب لازمول کيږي او د هغه سره د مدعي نسب تړل کيږي، او حکم دا دى چي په کوم صورت کي پر بل چا نسب لازمول کيږي، هلته په صريح اقرار سره نسب نه ثابتيږي، نو ځکه په انکار اليمين سره خو به په درجه اولىٰ نسب نه ثابتيږي.

والمولى والزوج إلخ: د دې حاصل دا دى چي که يو څوک د يو سړي په باره کي دا دعوىٰ وکړي چي "هغه زما مالک (مولىٰ) دى" يا ښځه د يو سړي په باره کي دا دعوىٰ وکړي چي "هغه زما خاوند دى"، او مدعىٰ عليه (يعني مالک يا خاوند) انکار وکړي او مدعي بيّنه پېش نه کړى سي، بيا له مدعىٰ عليه څخه د قسم مطالبه وسي او هغه له قسم څخه انکار وکړي، نو د دغه انکار په وجه د مدعىٰ عليه مالک کېدل او خاوند کېدل ثابتيږي (يعني په اول صورت کي له قسم څخه د انکار کولو په وجه مدعىٰ عليه (مالک) د غلام مالک ګرځي او په دويم صورت کي مدعىٰ عليه (خاوند) د ښځي خاوند ګرځي)؛ ځکه که چيري مدعىٰ عليه د انکار پر ځاى اقرار کړي واى، نو په دې سره به هم د هغه مالک کېدل يا خاوند کېدل ثابتېداى، او څرنګه چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز انکار عن اليمين اقرار دى، نو ځکه په هغه سره به هم مالک کېدل يا خاوند کېدل ثابتيږي.

## د قتل نه کولو له قسم څخه انکار کول

قَالَ: وَمَنِ ادَّعَىٰ قِصَاصًا عَلَىٰ غَيْرِهِ فرمايي: او که يو سړى پر بل چا د قصاص دعوىٰ وکړي فَجَحَدَهُ او دا بل څوک [مدعىٰ عليه] له دې څخه انکار وکړي اُسْتُحْلِفَ بِالْإِجْمَاعِ نو بالاتفاق به له هغه [مدعىٰ عليه] څخه قسم اخيستل کيږي ثُمَّ إِنْ نَكَلَ عَنِ الْيَمِينِ فِيمَا دُونَ النَّفْسِ بيا که مدعىٰ عليه له نفس څخه په کم کي له قسم څخه انکار وکړي يَلْزَمُهُ الْقِصَاصُ نو پر هغه قصاص لازميږي وَإِنْ نَكَلَ فِي

النَّفْسِ او كه هغه په نفس كي له قسم څخه انكار وكړي حُبِسَ حَتّٰى يَحْلِفَ أَوْ يُقِرَّ نو هغه به قيدول كيږي تر دې چي قسم واخلي يا اقرار وكړي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ او دا [حكم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا❀: لَزِمَهُ الْأَرْشُ فِيهِمَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي په دواړو صورتونو كي پر مدعیٰ عليه ديت لازميږي لِأَنَّ النُّكُولَ إِقْرَارٌ فِيهِ شُبْهَةٌ عِنْدَهُمَا ځكه چي د صاحبينو په نېز له قسم څخه انكار كول داسي اقرار دی چي په هغه كي شبهه ده فَلَا يَثْبُتُ بِهِ الْقِصَاصُ نو ځكه په دې انكار سره به قصاص نه ثابتيږي وَيَجِبُ بِهِ الْمَالُ او په دې انكار سره مال واجبېدای سي خُصُوصًا إِذَا كَانَ امْتِنَاعُ الْقِصَاصِ لِمَعْنًى مِنْ جِهَةِ مَنْ عَلَيْهِ خصوصاً [په هغه صورت كي] كله چي د قصاص ممتنع كېدل د داسي معنیٰ په وجه وي كوم چي د من عليه القصاص له طرفه وي [يعني د هغه كس له طرفه وي پر كوم چي قصاص واجب وي [په لنډه توګه دا چي د قاتل له طرفه وي] كَمَا إِذَا أَقَرَّ بِالْخَطَأِ وَالْوَلِيُّ يَدَّعِي الْعَمْدَ لكه كله چي قاتل د قتلِ خطاء اقرار وكړي او [د مقتول] ولي د قتلِ عمد دعویٰ كوي وَلِأَبِي حَنِيْفَةَ: أَنَّ الْأَطْرَافَ يُسْلَكُ بِهَا مَسْلَكَ الْأَمْوَالِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي په اطرافو كي د مالونو په څېر معامله كيږي فَيَجْرِي فِيهَا الْبَذْلُ نو ځكه په اطرافو كي به "بذل" جاري كيږي بِخِلَافِ الْأَنْفُسِ به خلاف د نفوسِ فَإِنَّهُ لَوْ قَالَ: اِقْطَعْ يَدِيْ [همدا وجه ده] كه يو څوك [بل چا ته] ووايي: چي زما لاس پرېكړه! فَقَطَعَهَا او هغه يې پرېكړي لَا يَجِبُ الضَّمَانُ نو ضمان نه واجبيږي وَهٰذَا إِعْمَالٌ لِلْبَذْلِ او دا د بذل اثر دی إِلَّا أَنَّهُ لَا يُبَاحُ لِعَدَمِ الْفَائِدَةِ مګر دا چي د فايدې د نشتوالي په وجه مباح نه دی وَهٰذَا الْبَذْلُ مُفِيدٌ او دا بذل فايده من دی لِانْدِفَاعِ الْخُصُومَةِ بِهِ ځكه چي په هغه سره خصومت [دعویٰ او جنګ] ختميږي فَصَارَ كَقَطْعِ الْيَدِ لِلْآكِلَةِ وَقَلْعِ السِّنِّ لِلْوَجَعِ نو دا داسي سو لكه د خوړونكي زخم په وجه لاس پرېكول او د درد په وجه غاښ كښل وَإِذَا امْتَنَعَ الْقِصَاصُ فِي النَّفْسِ وَالْيَمِينُ حَقٌّ مُسْتَحَقٌّ عَلَيْهِ [حاصل دا چي] كله په نفس كي قصاص ممتنع سو او قسم پر

---

❀ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ظهر من داب المصنف رَحِمَهُ الله، وأيضا قوله قول المتون، وكذا ذكر قوله في تنوير الأبصار (ج:۴، ص:۲۷۴)، وملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۳۵۳)، و هكذا في الهندية (ج:۴، ص:۱۶). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۷۱]

مدعیٰ علیه يو واجب سوی حق دی يُحْبَسُ بِهِ نو د دې حق په وجه به مدعیٰ علیه قیدول کیږي كَمَا فِي الْقَسَامَةِ لکه څرنګه چې په قسامت کې کیږي.

**اللغات**: ﴿جحد﴾ د فتح د باب ماضي ده: انکار کول، ﴿حُبِس﴾ د ضرب د باب ماضي مجهوله ده: بندي کول، قیدول (بندیخانې ته اچول)، ﴿أَرْش﴾ دیت، جرمانه، هغه مال کوم چې له ما دون النفس څخه په کم جنایت کې واجبیږي (معجم لغة الفقهاء)، ﴿أطراف﴾ جمع د طرفٌ ده: اعضاء، اندامونه، لاسونه او پښې، ﴿آكلة﴾ هغه ژور زخم او هغه مرض کوم چې په ټوله اندام کې غوړیږي او ټوله اندام خوري او هغه وروست او بېکاره کوي، د خارښت مرض (کوم چې د وینې د خرابوالي له امله پیدا کیږي) (مصباح لغات، مصباح منیر)، ﴿قسامة﴾ صاحب د معجم د دې لفظ څو معناوي ذکر کړي دي چې له هغه څخه یو معنیٰ دا ده: "أيمان يحلفها أهل المحلة المتهمون بالقتل" (یعني هغه قسمونه کوم چې یې د مقتول په قتل سره متهمه محلې والا خلک اخلي)، صورت به یې په تشریح کې ذکر سي. (معجم لغة الفقهاء)

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی پر بل چا د نفس د قصاص یا له نفس څخه د کم (ما دون النفس) د قصاص دعویٰ وکړي، یعني داسي دعویٰ وکړي چې "هغه مثلاً زما ورور عمداً (قصداً) په ناحقه قتل کړی دی، یا هغه زما د ورور لاس پرېکړی دی، لهذا پر هغه قصاص لازم دي"، لېکن مدعیٰ علیه له دې څخه انکار وکړي او مدعي پر خپله دعویٰ بیّنه پېش نه کړی سي (یعني له بیّنه پېشولو څخه عاجزه سي)، نو په دې صورت کې بالاتفاق د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز به له مدعیٰ علیه څخه قسم اخیستل کیږي، که هغه قسم واخلي، نو له قصاص څخه بري کیږي، او که هغه له قسم اخیستلو څخه انکار وکړي، نو دلته دوه صورتونه دي: ① یو دا چې له نفس څخه په کم (یعني د اندام [لاس] پرېکولو په صورت) کې له قسم اخیستلو څخه انکار وکړي، ② دویم صورت دا چې د نفس په قصاص کې له قسم اخیستلو څخه انکار وکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په اول صورت کې پر هغه قصاص واجبیږي او په دویم صورت کې به هغه قیدول کیږي تر دې چې قسم واخلي یا د قصاص النفس اقرار وکړي. او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز برابره ده مدعیٰ علیه په نفس کې له قسم اخیستلو څخه انکار وکړي یا په ما دون النفس کې له قسم اخیستلو څخه انکار وکړي، په دواړو صورتونو کې (د صاحبینو په نېز) پر هغه دیت لازمیږي او په یوه صورت کې هم قصاص نه لازمیږي.

**د صاحبينو دليل**: دا دى چي انكار عن اليمين داسي اقرار دى چي په هغه كي شبهه ده (يعني هغه مشتبه اقرار دى) او قصاص يو حد دى، نو ځكه د شبهي سره به قصاص نه ثابتيږي، ځكه دا ښكاره خبره ده چي په شبهي سره حد ساقطيږي لكه څرنګه چي مخكي څو ځله ذكري سوي دي "الحُدُوْدُ تَنْدَرِئُ بِالشُبُهَاتِ"، لېكن د شبهي سره مال ثابتېداى سي او خصوصاً كله چي د قصاص عدم وجوب په يو داسي سبب سره وي كوم چي په خپله د من عليه القصاص يعني د قاتل (مدعىٰ عليه) له طرفه پيدا سوى وي، مثلاً هغه د قتلِ خطاء اقرار وكړي او د مقتول ولي د قتلِ عمد دعوىٰ كوي. نو په دې صورت كي پر قاتل (مدعىٰ عليه) ديت واجبيږي، قصاص نه پر واجبيږي، نو همداسي به دلته د مدعىٰ عليه د انكار عن اليمين په وجه هم پر هغه ديت واجبيږي، قصاص به نه پر واجبيږي.

**د امام صاحب دليل**: دليل دا دى چي د انسان په اعضاؤ او اندامونو كي د مال په څېر سلوك او معامله كيږي؛ ځكه څرنګه چي په مال سره د نفس حفاظت كيږي، همداسي په اعضاؤ سره هم د نفس حفاظت كيږي، (او مخكي ذكر سوه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز انكار عن اليمين "بذل" دى)، او دا معلومه خبره ده چي په مالونو كي "بذل" جاري دى، لهذا په اعضاؤ كي به هم هغه جاري وي نو كه چيري مدعىٰ عليه د يو اندام د پرېكولو له دعوىٰ څخه انكار وكړي او مدعي بيّنه پېش نه كړى سي نو په دې صورت كي به له مدعىٰ عليه څخه قسم اخيستل كيږي، او كه مدعىٰ عليه له قسم اخيستلو څخه انكار وكړي، نو له هغه څخه به د مذكوره اندام قصاص اخيستل كيږي.

د دې په خلاف كه يو سړى د نفس قتلولو دعوىٰ وكړي، نو په هغه كي بذل نه جاري كيږي.

همدا وجه ده كه يو څوك بل چا ته ووايي چي "ته زما لاس پرېكړه!"، او دا بل څوك د هغه لاس پرېكړي، نو پر قاطع (پرېكونكي) ضمان نه واجبيږي، نو په اعضاؤ او اطرافو كي ضمان نه واجبېدل د بذل اثر دى، يعني دا ضمان نه واجبېدل د دې خبري علامت دى چي په اعضاؤ او اطرافو كي بذل جاري كيږي، ځكه كه په هغوى كي بذل نه جاري كېداى نو ضمان به واجبېداى. د دې په خلاف كه يو څوك بل چا ته ووايي چي "ته ما قتل كړه!" او دا بل څوك هغه قتل كړي، نو پر قاتل قصاص واجبيږي يا د يوه روايت مطابق ديت پر واجبيږي، نو د قصاص يا ديت واجبېدل د دې خبري علامت دى چي په نفوسو كي بذل نه جاري كيږي، خو په اعضاؤ او اطرافو كي بذل جاري كيږي، لېكن بلا وجه د عضو او طرف په قطع (پرېكولو) كي هيڅ فايده نسته نو ځكه د هغه قطع مباح نه ده، خو بيا هم په هغه كي د بذل فايده سته او هغه دا چي په هغه سره (د مدعي او مدعىٰ عليه په مينځ كي) خصومت او جنګ ختميږي، نو د دې فايدې په خاطر امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د اطرافو (اعضاؤ) والا له دعوې

ځخه د انکار کولو په صورت کي پر مدعیٰ علیه قصاص واجب سوی دی، د دې مثال داسي دی لکه د يو چا په لاس کي چي خطرناک او سرايت کونکی زخم پيدا سي او د هغه په وجه ډاکټر د هغه لاس پرېکړي، يا د درد په وجه ډاکټر د يو چا غاښ وکاږي، نو څرنګه چي د دې فايدو په وجه د ډاکټر لپاره د لاس پرېکول او د غاښ کښل مباح (روا) دي، همداسي د خصومت دفع کولو او ختمولو لپاره هم په اطرافو کي قصاص واجب او مباح کړی سوی دی. (احسن الهدايه)

لېکن څرنګه چي په نفس کي بذل نه جاري کيږي، نو ځکه په هغه کي له انکار عن اليمين ځخه وروسته قصاص ممتنع سوی دی، خو بيا هم څرنګه چي قسم اخيستل پر مدعیٰ عليه يو واجب شُده حق دی، نو ځکه د دې حق په وجه به مدعیٰ عليه قيدول کيږي تر دې چي هغه قسم واخلي يا د مدعي د دعوی اقرار وکړي، لکه څرنګه چي په قسامت کي هم داسي کيږي، يعني که په يو محله او کلي کي وژل سوی کس (مقتول) وموندل سي او قاتل معلوم نه وي، نو د مقتول وليان به د هغه محلې له پنځوسو خلکو ځخه قسم اخلي، که چيري هغوی له قسم اخيستلو ځخه انکار وکړي، نو هغوی به قيدول کيږي تر دې چي قسم واخلي يا د قاتل معلومات ورکړي؛ ځکه چي د مدعیٰ عليه په څېر پر هغو هم قسم واجب شُده حق دی، لهذا څرنګه چي هغوی د انکار عن اليمين په وجه قيدول کيږي، همداسي به مدعیٰ عليه هم قيدول کيږي. (احسن الهدايه)

## له خصم (مدعیٰ عليه) ځخه د ضمانت طلب کول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِذَا قَالَ الْمُدَّعِيْ: لِيْ بَيِّنَةٌ حَاضِرَةٌ فرمايي: او کله چي مدعي ووايي: زما سره په ښار کي بيّنه [ګواهان] موجود دي قِيْلَ لِخَصْمِهِ: أَعْطِهِ كَفِيْلًا بِنَفْسِكَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ نو د هغه خصم [مدعیٰ عليه] ته به ويل کيږي: چي ته د دريو ورځو لپاره ده [مدعي] ته کفيل بالنفس ورکړه! كَيْ لَا يَغِيبَ نَفْسُهُ فَيَضِيْعَ حَقُّهُ د دې لپاره چي هغه [مدعیٰ عليه] غائب نه سي نو د مدعي حق به ضايع سي وَالْكَفَالَةُ بِالنَّفْسِ جَائِزَةٌ عِنْدَنَا او کفيل بالنفس اخيستل زموږ په نېز جائز دي وَقَدْ مَرَّ مِنْ قَبْلُ او دا مخکي تېر سو وَأَخْذُ الْكَفِيْلِ بِمُجَرَّدِ الدَّعْوَىٰ اسْتِحْسَانٌ عِنْدَنَا او محض [د مدعي] د دعوی پر بناء [له مدعیٰ عليه ځخه] کفيل اخيستل زموږ په نېز استحسان دی لِأَنَّ فِيهِ نَظَرًا لِلْمُدَّعِيْ ځکه چي په دې کي د مدعي لپاره مصلحت [ښېګڼه] سته وَلَيْسَ فِيهِ كَثِيْرُ ضَرَرٍ بِالْمُدَّعَىٰ عَلَيْهِ او په دې کي د مدعیٰ عليه زيات ضرر نسته وَهٰذَا لِأَنَّ الْحُضُوْرَ مُسْتَحَقٌّ عَلَيْهِ بِمُجَرَّدِ الدَّعْوَىٰ او دا ځکه چي محض [د مدعي] په دعویٰ سره

پر مدعیٰ علیه حاضرېدل واجب دي حَتّٰى يُعَدّٰى عَلَيْهِ وَيُحَالُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَشْغَالِهِ همدا وجه ده [که مدعیٰ علیه حاضر نه سي نو] د هغه پر حاضرولو له قاضي [او حاکم] څخه مرسته غوښتل کېږي او د هغه او د هغه د خپل کارونو په مينځ کي جدايي راوستل کېږي فَصَحَّ التَّكْفِيلُ بِإِحْضَارِهِ نو ځکه د مدعیٰ علیه پر حاضرولو کفيل اخيستل صحيح دي وَالتَّقْدِيرُ بِثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مَرْوِيٌّ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ او په درېو ورځو سره اندازه کول له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت سوي دي وَهُوَ الصَّحِيحُ او همدا صحيح دي وَلَا فَرْقَ فِي الظَّاهِرِ بَيْنَ الْخَامِلِ وَالْوَجِيهِ او په ظاهر روايت کي د بې قدره او قدرمن [مدعیٰ علیه] په مينځ کي هيڅ فرق نسته وَالْحَقِيرِ مِنَ الْمَالِ وَالْخَطِيرِ [همدارنګه] د کم مال او د زيات مال په مينځ کي هيڅ فرق نسته ثُمَّ لَا بُدَّ مِنْ قَوْلِهِ: لِي بَيِّنَةٌ حَاضِرَةٌ لِلتَّكْفِيلِ بيا [له مدعیٰ علیه څخه] د کفيل اخيستلو لپاره د مدعي [له طرفه] دا ويل "لي بيّنة حاضرة" ضروري دي وَمَعْنَاهُ فِي الْمِصْرِ او د دې معنیٰ ده په ښار کي [بيّنه موجوده ده] حَتّٰى لَوْ قَالَ الْمُدَّعِي: لَا بَيِّنَةَ لِي أَوْ شُهُودِي غُيَّبٌ همدا وجه ده که مدعي داسي ووايي: چي زما سره بيّنه نسته يا زما ګواهان غائب دي لَا يُكَفَّلُ نو [له مدعیٰ علیه څخه] به کفيل نه اخيستل کېږي لِعَدَمِ الْفَائِدَةِ ځکه چي [اوس په کفيل اخيستلو کي] فايده نسته قَالَ: فَإِنْ فَعَلَ وَإِلَّا أُمِرَ بِمُلَازَمَتِهِ فرمايي: بيا که مدعیٰ علیه دا کار وکړي [يعني مدعي ته کفيل ورکړي، نو صحيح ده] کني مدعي ته به دا حکم کېږي چي د مدعیٰ علیه سره لازم اووسه! [او له هغه څخه مه جلا کېږه!] كَيْلَا يَذْهَبَ حَقُّهُ د دې لپاره چي د مدعي حق ضايع نه سي إِلَّا أَنْ يَكُونَ غَرِيبًا مګر دا چي مدعیٰ علیه پردېس [مسافر] وي فَيُلَازِمَ مِقْدَارَ مَجْلِسِ الْقَاضِي نو [په دې صورت کي] به مدعي د قاضي د مجلس په اندازه د هغه سره لازم اووسي وَكَذَا لَا يُكَفَّلُ إِلَّا إِلَى آخِرِ الْمَجْلِسِ او همدارنګه له دغه مسافر مدعیٰ علیه څخه به صرف د مجلس تر آخره پوري کفيل اخيستل کېږي فَالِاسْتِثْنَاءُ مُنْصَرِفٌ إِلَيْهِمَا نو استثناء د دواړو وطرف ته راجع ده لِأَنَّ فِي أَخْذِ الْكَفِيلِ وَالْمُلَازَمَةِ زِيَادَةً عَلَى ذٰلِكَ إِضْرَارًا بِهِ بِمَنْعِهِ عَنِ السَّفَرِ ځکه چي له دې مقدار څخه د زيات وخت لپاره په کفيل اخيستلو او د مدعیٰ علیه سره په لازم اوسېدلو کي مدعیٰ علیه ته داسي ضرر رسول کېږي کوم چي هغه له سفر څخه منع کوي [په وينا دا چي: له دې څخه د زيات وخت لپاره کفيل اخيستل او په مدعیٰ علیه لازم پسي ګرځېدل داسي ضرر دی کوم

چي هغه له سفر څخه منع کوي] وَلَا ضَرَرَ فِي هٰذَا الْمِقْدَارِ ظَاهِرًا او په دې مقدار کې په ښکاره هيڅ ضرر نسته وَكَيْفِيَّةُ الْمُلَازَمَةِ نَذْكُرُهَا فِي كِتَابِ الْحَجْرِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى او د لازم اوسېدلو [په مدعیٰ عليه د لازم پسې کېدلو] کيفيت به موږ انشاء الله په کتاب الحجر کې ذکر کړو.

**اللغات:** ﴿کفيل﴾ ضامن، ذمه وار، ﴿يُعدیٰ عليه﴾ د افعال د باب ماضي ده، د دې باب څو معناوي دي چې له هغه څخه يوپ معنیٰ ده: مرسته او مدد کول، او د مجهول په صيغه سره د مرسته غوښتلو معنیٰ ورکوي، لکه څرنګه چې په حاشيه کې دې ته اشاره سوې ده، همدارنګه ابن فارس ويلي دي: العدوی: طَلَبُكَ إِلٰى والٍ لِيُعْدِيَكَ علىٰ من ظلمك أي (يُعِينك و) ينتقم منه (يعني "عدوی" دې ته وايي چې ته له يو حاکم او قاضي څخه د دې غوښتنه وکړې! چې کوم کس پر تا ظلم کړی دی د هغه کس په خلاف ستا مرسته وکړي او له هغه څخه انتقام واخلي) (مصباح منير)، ﴿يحال﴾ د دې باب هم څو معناوي دي چې له هغه څخه يو معنیٰ ده: د دوه شيانو په مينځ کې حائل کېدل، يعني د هغوی په مينځ کې جدايي راوستل، ﴿إحضار﴾ د افعال د باب مصدر دی: حاضرول، پېشول، ﴿خامل﴾ بې قدره (د خلکو له نظره لوېدلی)، ګمنامه، ﴿وجيه﴾ مخور، قدرمن، مشهور، ﴿خطير﴾ د قدر وړ (قابلِ قدر) مراد څني ګران او زيات مال دی، او له حقير څخه کم قيمت والا او لږ (معمولي) مال مراد دی، ﴿تکفيل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی، د دې باب دوې معناوي دي: کفيل جوړول، له يو چا څخه کفيل اخيستل (مصباح اللغات)، ﴿ملازمة﴾ د افعال د باب مصدر دی: د يو شي سره لازم او متصل اوسېدل، په يو چا لازم (ټينګ) پسې کېدل، ﴿إضرار﴾ د افعال د باب مصدر دی: ضرر رسول، نقصان رسول.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی چې کله مدعي د قاضي مجلس (عدالت) ته راسي او داسي ووايي "زما ګواهان په ښار کې دي او ما ته دې د هغوی د حاضرولو موقع راکول سي"، نو په دې صورت کې به قاضي مدعیٰ عليه ته ووايي چې "ته مدعي ته د دريو ورځو لپاره کفيل بالنفس ورکړه! يعني ته د دريو ورځو لپاره يو څوک د دې ضامن (ذمه وار) جوړ کړه! چې هغه به تا د قاضي مجلس ته حاضروي"، څکه که داسي نه وسي، نو کېدای سي چې مدعیٰ عليه يو خوا ته غائب سي او د مدعي حق نه ورکړي، نو څکه د مدعي د حق خوندي کولو لپاره به له مدعیٰ عليه څخه کفيل بالنفس

اخيستل کيږي، او زموږ په نيز کفاله بالنفس (کفيل بالنفس اخيستل) جائز دي، لکه څرنګه چي مخکي د دې تفصيل تېر سو.

وأخذ الكفيل إلخ: فرمايي که مدعي پر خپله دعوىٰ بيّنه پېش نه کړی سي، نو صرف د دعوى پر بنياد له مدعىٰ عليه څخه د کفيل اخيستلو جواز د استحسان پر بناء دی؛ ځکه چي په کفيل اخيستلو کي د مدعي لپاره مصلحت او پر هغه شفقت سته، ځکه د کفيل په وجه مدعىٰ عليه غائب کېدای نه سي نو په دې توګه به د مدعي حق خوندي پاته وي، او بل دا چي په دې کي د مدعىٰ عليه نقصان هم نسته؛ ځکه پر هغه خو صرف د مدعي د دعوىٰ په وجه د قاضي مجلس ته حاضرېدل واجب ګرځي، همدا وجه ده که هغه په دې باره کي کوتاهي او ټال مټول کوي، نو له حاکم او قاضي څخه د هغه پر حاضرولو مرسته غوښتل کيږي او هغه له خپل ذاتي او ضروري کارونو څخه منع کول کيږي او په هر حالت کي د قاضي مجلس ته حاضرول کيږي، او کله چي داسي ده، نو د هغه د حاضرولو لپاره به کفيل اخيستل هم صحيح وي.

او د کفيل اخيستلو په هکله چي کوم درې ورځي مودت ټاکل سوی دی، هغه له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی، او همدا صحيح هم دي.

د "هو الصحيح" په قيد سره صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله له هغه قول څخه احتراز کړی دی چي له مدعىٰ عليه څخه به د قاضي تر بل (رأروان) مجلس پوري کفيل اخيستل کيږي، نه درې ورځي. (يعني هغه د دې مودت صرف د قاضي تر بل مجلسه پوري ټاکلی دی).

ولا فرق إلخ: د دې حاصل دا دی چي په ظاهر روايت کي د مدعىٰ عليه د وجيه کېدلو او غير وجيه کېدلو او د مدعىٰ بهٖ مال د کمېدلو يا زياتېدلو په مينځ کي هيڅ فرق نسته، يعني برابره ده مدعىٰ عليه وجيه (قدرمن او مشهوره) وي، که نه وي، او برابره ده مدعىٰ بهٖ مال کم وي، که زيات وي، په هر صورت کي به له هغه څخه کفيل اخيستل کيږي او په دې باره کي به د هغه هيڅ رعايت نه کيږي.

ثم لا بد من قوله إلخ: فرمايي چي له مدعىٰ عليه څخه د کفيل اخيستلو لپاره دا ضروري دي چي مدعي به دا خبره کړې وي "زما ګواهان په ښار کي دي"، د دې لپاره چي کفاله (کفيل اخيستل) فايده ورکړي، همدا وجه که مدعي داسي ووايي چي "زما سره ګواهان نسته"، يا "زما ګواهان غائب دي"، نو په دې صورت کي به له مدعىٰ عليه څخه کفيل نه اخيستل کيږي؛ ځکه چي په دې صورت کي

كفيل اخيستل هيڅ فايده نه كوي، ځكه كله چي ګرسره ګواهان نسته، نو كفيل به پر كوم بنياد مدعیٰ عليه حاضروي.

قال فإن فعل إلخ: د دې حاصل دا دی چي كه چيري مدعیٰ عليه د قاضي خبره ومني او يو څوک د ځان حاضرولو كفيل جوړ كړي او مدعي ته كفيل بالنفس وركړي، نو صحيح ده. كنې قاضي به مدعي ته وايي چي "ورو ره! په مدعیٰ عليه پسې ځرک اووسه! او په هغه لازم پسې سه! چي يو خوا ته غائب نه سي، كنې ستا حق به ضايع سي"، لېكن كه چيري مدعیٰ عليه پردېسه او مسافر وي، نو بيا به مدعي ته ټوله وخت په مدعیٰ عليه د پسې كېدلو اجازت نه وركول كيږي، بلكي صرف د مجلس قاضي تر ختمېدلو پوري به هغه ته دا حق وي چي د مدعیٰ عليه سره لازم او متصل اووسي، او كله چي د قاضي له مجلس څخه د ولاړېدلو او د مجلس ختميدلو وخت راسي نو قاضي به له هغه څخه قسم اخلي او خپله فيصله به كوي.

همدارنګه كه له دغه مسافر مدعیٰ عليه څخه كفيل واخيستل سي، نو دا كفاله به هم د قاضي د مجلس تر ختمېدلو پوري باقي پاتيږي او تر مجلس وروسته به باطليږي. او په دغه اعتبار په "إلّا أن يكون غريبًا إلخ" سره چي كومه استثناء سوې ده، دا استثناء له مدعیٰ عليه څخه د كفيل اخيستلو او په هغه د پسې كېدلو دواړو وطرف ته راجع كيږي، ځكه چي د قاضي تر مجلس وروسته (د زيات وخت لپاره) له مسافر مدعیٰ عليه څخه د كفيل اخيستلو او په هغه د لازم پسې كېدلو اجازت وركول داسي ضرر دی كوم چي مدعیٰ عليه له سفر څخه منع كوي، لېكن صرف د قاضي تر مجلسه پوري د دې شيانو په اجازت وركولو كي له سفر څخه منع كونكی ضرر نسته.

صاحب د كتاب رَحِمَهُ الله په آخر كي فرمايي چي د ملازمت كيفيت يعني په مدعیٰ عليه د لازم پسې كېدلو طريقه او تفصيل به انشاء الله موږ په كتاب الحجر كي بيان كړو.



# فَصْلٌ فِيْ كَيْفِيَّةِ الْيَمِيْنِ وَالْاِسْتِحْلَافِ

دا فصل د قسم كولو او (له بل چا څخه) د قسم اخيستلو د كيفيت په بيان كي دی

## د قسم د الفاظو بيان

قَالَ: وَالْيَمِيْنُ بِاللهِ دُوْنَ غَيْرِهِ فرمايي: او قسم به په الله سره وي [يعني صرف د هغه په نامه سره به قسم اخيستل كيږي] نه په بل چا سره لِقَوْلِهِ عليه السلام: «مَنْ كَانَ مِنْكُمْ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللهِ أَوْ لِيَذَرْ» ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي: "كه په تاسو كي څوک قسم اخلي نو هغه دي په الله سره قسم واخلي، يا دي قسم پريږدي" وَقَالَ عليه السلام: «مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ فَقَدْ أَشْرَكَ» [همدارنكه] نبي ﷺ فرمايلي دي: "څوک چي له الله څخه بغير په بل چا سره قسم واخلي، نو هغه شرک وكړی" وَقَدْ تُؤَكَّدُ بِذِكْرِ أَوْصَافِهِ او قسم به د الله په صفتونو سره مؤكد كيږي وَهُوَ التَّغْلِيظُ او صفتونو ذكر كول د سختۍ لپاره دي [چي قسم سخت او مضبوط سي] وَذٰلِكَ مِثْلُ قَوْلِهِ: قُلْ: وَاللهِ الَّذِيْ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ او دا لكه [مدعیٰ عليه ته] د قاضي دا قول: ووايه!: په هغه الله سره قسم! چي له هغه څخه بغير بل هيڅ معبود نسته، هغه په پټو او ښكاره وو خبر دی الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ الَّذِيْ يَعْلَمُ مِنَ السِّرِّ وَالْخَفَاءِ مَا يَعْلَمُ مِنَ الْعَلَانِيَةِ مَا لِفُلَانٍ هٰذَا عَلَيْكَ وَلَا قِبَلَكَ هٰذَا الْمَالُ الَّذِيْ ادَّعَاهُ وَهُوَ كَذَا وَكَذَا وَلَا شَيْءَ مِنْهُ [هغه] زيات مهربانه او ډېر رحم والا دی كوم چي پټ او باطن د ظاهر په څېر پېژني [ووايه! په دغه الله سره زما قسم!] چي پر تا د فلانكي [مدعي] دا حق نسته يا ستا سره دغه مال نسته د كوم چي هغه دعویٰ كوي چي هغه دومره دی او نه د هغه مال هيڅ حصه در سره سته وَلَهُ أَنْ يَزِيْدَ فِي التَّغْلِيظِ عَلٰى هٰذَا او قاضي ته دا اختيار سته چي په تغليظ كي له دې څخه زياتوب وكړي وَلَهُ أَنْ يَنْقُصَ مِنْهُ او هغه ته دا اختيار هم سته چي له دې څخه كمي وكړي إِلَّا أَنَّهُ يَحْتَاطُ فِيْهِ كَيْلَا يَتَكَرَّرَ عَلَيْهِ الْيَمِيْنُ مكر

دا چي هغه به په دې باره کي احتياط کوي د دې لپاره چي پر مدعیٰ عليه قسم مکرر نه سي لِأَنَّ الْمُسْتَحَقَّ يَمِينٌ وَاحِدَةٌ ځکه چي [پر هغه] صرف يو قسم واجب دی وَالْقَاضِي بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ غَلَّظَ او قاضي ته اختيار دی که وغواړي نو تغليظ دي کوي وَإِنْ شَاءَ لَمْ يُغَلِّظْ فَيَقُولُ: قُلْ بِاللّٰهِ أَوْ وَاللّٰهِ او که وغواړي نو تغليظ دي نه کوي او [صرف] داسي دي وايي: ووايه!: بِاللّٰهِ يا وَاللّٰهِ (قسم په الله) وَقِيلَ: لَا يُغَلِّظُ عَلَى الْمَعْرُوفِ بِالصَّلَاحِ او ويل سوي دي: چي کوم څوک په صلاح او تقوی سره پېژندل سوی وي پر هغه به تغليظ نه کوي وَيُغَلِّظُ عَلَى غَيْرِهِ او له هغه څخه بغير پر بل چا به تغيلظ کوي وَقِيلَ: يُغَلِّظُ فِي الْخَطِيرِ مِنَ الْمَالِ دُونَ الْحَقِيرِ او ويل سوي دي: چي په زيات مال کي به تغليظ کوي او په کم مال کي به تغليظ نه کوي.

**اللغات:** ﴿يمين﴾ قسم، ﴿يذر﴾ د فتح د باب مضارع ده: پرېښوول، ﴿تغليظ﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: سختول، مضبوطه کول، مؤکد کول، پخول، ټينګول، يعني قسم د الله په صفتونو سره مؤکد کول و مضبوطول، ﴿قِبَلَكَ﴾ د "قِبَل" يوه معنیٰ ده "طرف" او بله معنیٰ به يې په دې مثال کي تاسو ته ښکاره سي، عرب وايي "لِيْ قِبَلَ فُلَانٍ دَيْنٌ" (زما د فلانکي سره قرض دی [ما پر هغه قرض باندي دی]). دلته د "سره" په معنیٰ سره دی، او د طرف د معنیٰ مثال دا دی "أَتَانِيْ مِن قِبَلِه" (د هغه له طرفه [د هغه له خوا] ما ته راغلی) (مصباح اللغات). ﴿المعروف﴾ د ضرب د باب مفعول دی: پېژندل سوی، مشهوره، ﴿صلاح﴾ نېکي، ﴿خطير﴾ قابلِ قدر، مراد ځني ګران او زيات مال دی، او له حقير څخه معمولي مال مراد دی.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی چي کله يو سړی په يو معامله کي قسم اخيستلو ته مجبوره سي (يا مثلاً کله چي قاضي له مدعیٰ عليه څخه د قسم اخيستلو مطالبه وکړي)، نو هغه به په الله تعالیٰ سره قسم واخلي، او له الله څخه بغير په بل شي سره به قسم نه اخلي؛ ځکه په حديث کي ذکر سوي دي چي کوم څوک قسم اخلي، هغه دي په الله سره قسم واخلي، کنې قسم دي نه اخلي، او په يو بل حديث کي ذکر سوي دي چي کوم څوک له الله څخه بغير په بل شي سره قسم واخلي، هغه مشرک ګرځي، نو ځکه په غير الله سره قسم اخيستل صحيح نه دي، او که يو څوک په غير الله سره قسم واخلي، نو د هغه قسم نه منعقد کيږي.

وقد يؤكد إلخ: د دې حاصل دا دی چې د الله په صفتونو سره به په قسم کې تاکيد او تغليظ کيږي يعني د هغه په صفتونو سره به قسم مؤکد کيږي، مثلاً د تاکيد لپاره به قاضي (له مدعیٰ عليه څخه) په دې الفاظو سره قسم اخلي: "وَاللهِ الذی لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ... إلخ".

او په کتاب (هدايه) کې چې کوم الفاظ ذکر سوي دي (يعني "وَاللهِ الذی لا إِلٰهَ إلّا هو عالم... إلخ")، خاص په دغه الفاظو سره تاکيد کول ضروري نه دي، بلکې د تاکيد معامله د قاضي پر رايه موقوف ده او د موقع وحالت په اعتبار سره قاضي په دې الفاظو کې کمي وزياتوب کولای سي؛ ځکه چې (له مدعیٰ عليه څخه) د قسم اخيستلو مقصد دا دی چې حق او باطل ښکاره سي او د مدعي او مدعیٰ عليه په مينځ کې پيدا سوی خصومت ختم سي، نو ځکه قاضي به د مدعیٰ عليه د حالت و شخصيت مطابق له هغه څخه قسم اخلي (که هغه متقي او پرهېزګاره معلوميږي، نو تأکيد ته ضرورت نسته، کنې په تأکيد سره به قسم ځني اخلي). او په قسم کې د تغليظ او تاکيد کولو په صورت کې به د الله په نومونو او صفتونو کې د "واو" لفظ زياتوي، يعني داسي به نه وايي "الرحمٰن الرحيم"، ځکه چې په دې سره په قسم کې تکرار راځي، حال دا چې پر مدعیٰ عليه صرف يو قسم واجب دی، نه ډېر قسمونه، نو ځکه قاضي به په داسي طريقه له مدعیٰ عليه څخه قسم اخلي چې په قسم کې تکرار پيدا نه سي.

والقاضي بالخيار إلخ: د دې حاصل دا دی چې په تغليظ کولو او نه کولو کې هم قاضي ته اختيار دی، يعني د هغه خوښه ده په تاکيد سره له مدعیٰ عليه څخه قسم اخلي او که صرف په "والله يا بالله" سره اکتفاء کوي او د الهي اوصافو او اسماؤ په تاکيد سره قسم نه ځني اخلي.

وقيل إلخ: ځيني حضرات وايي چې که مدعي د خپل صلاح، نيکي او تقویٰ په اعتبار سره په خلکو کې مشهوره وي، نو قاضي به پر هغه تغليظ نه کوي، او پر نورو به تغليظ کوي.

او ځيني حضرات وايي چې که دعویٰ د ډېر مال په باره کې وي، نو قاضي به پر مدعیٰ عليه تغليظ کوي، برابره ده مدعیٰ عليه نېک وي او که بد وي، او که د لږ مال په باره کې وي، نو قاضي به پر مدعیٰ عليه تغليظ نه کوي.

## په طلاق يا عتاق سره قسم اخيستل

قَالَ: وَلَا يُسْتَحْلِفُ بِالطَّلَاقِ وَلَا بِالْعَتَاقِ فرمايي: او په طلاق او عتاق سره به قسم نه [ځني] اخيستل کيږي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چي موږ روايت کړی وَقِيلَ: فِي زَمَانِنَا إِذَا أَلَحَّ الْخَصْمُ او ويل سوي دي: چي زموږ په زمانه کې چي کله مدعیٰ عليه زياته مبالغه کوي سَاغَ لِلْقَاضِي أَنْ يُحَلِّفَ بِذٰلِكَ نو قاضي لره دا ګنجايش سته چي هغه ته په طلاق او عتاق سره قسم ورکړي لِقِلَّةِ الْمُبَالَاةِ بِالْيَمِينِ بِاللهِ وَكَثْرَةِ الِامْتِنَاعِ بِسَبَبِ الْحَلِفِ بِالطَّلَاقِ د الله په قسم سره د کم پروايۍ په وجه او د طلاق د قسم په سبب سره د زيات منع کېدلو په وجه [يعني ځکه چي داسي مبالغه کونکي خلک د الله په قسم سره زيات پروا نه کوي (او د دروغو قسم اخلي) او په طلاق سره د قسم اخيستلو په سبب زيات (له دروغو څخه) منع کيږي.

**اللغات:** ﴿أَلَحَّ﴾ د افتعال د باب ماضي ده: ډېر ټينګار کول، اصرار کول. ﴿ساغ﴾ د نصر ماضي ده: ګنجايش کېدل، جائز کېدل. ﴿يُحلِّف﴾ د تفعيل د باب مضارع ده. حَلَّفَ يُحَلِّفُ تَحْلِيْفًا: بل څوک په قسم سره مکلف کول، قسم ورکول (مراد ځني قسم اخيستل دي)، ﴿مبالاة﴾ پروا، خيال، باک.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دي چي له مدعیٰ عليه څخه به په طلاق او عتاق سره قسم نه اخيستل کيږي او هغه ته به داسي نه ويل کيږي چي (مثلاً) ته داسي قسم واخله! "که مدعي په خپل دعویٰ کي رښتونی او صحيح وي، نو پر ما ښځه طلاق ده، يا زما غلام آزاد دی" (يا "ما د خپل ښځي په طلاق سره قسم دی چي د مدعي دعویٰ غلطه ده") او داسي نور، دا شرعاً صحيح نه دي؛ ځکه د مخکني احاديثو پر بناء په غير الله سره قسم اخيستل بالکل ناجائز او شرک دي، نو ځکه په طلاق او عتاق سره قسم اخيستل هم ناجائز دي.

د ځيني حضراتو رايه دا ده چي زموږ په زمانهٔ کي فسق وفجور عام سوی دی او د قسم اخيستلو بيره له زړونو څخه وتلې ده، خلک په عامه توګه د دروغو قسمونه اخلي، لهذا که مدعیٰ عليه زيات بې شرمه او بې باکه وي، نو قاضي له هغه څخه په طلاق يا عتاق سره قسم اخيستلای سي، ځکه خلک له طلاق واقع کېدلو او له مال (غلام) ضايع کېدلو څخه زيات بيربيږي او په داسي قسم کي ډېر احتياط کوي او له دروغو څخه ځان ساتي، نو ځکه د اوسني وخت د حالاتو په خاطر په طلاق او عتاق سره قسم اخيستل کېدای سي، خو بيا هم حتی الامکان په دې باره کي احتياط کول پکار دي.

## له يهودي او نصراني (عيسايي) څخه به څنګه قسم اخيستل کيږي؟

قَالَ: وَيُسْتَحْلَفُ الْيَهُودِيُّ بِاللهِ الَّذِىْ أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ عَلٰى مُوسٰى عليه السلام فرمايي: او له يهودي څخه به [داسي] قسم اخيستل کيږي چي په هغه الله سره قسم! کوم چي پر حضرت موسیٰ عليه السلام تورات نازل کړی دی وَالنَّصْرَانِيُّ بِاللهِ الَّذِىْ أَنْزَلَ الْإِنْجِيلَ عَلٰى عِيسٰى عليه السلام او له نصراني څخه به [داسي] قسم اخيستل کيږي چي په هغه الله سره قسم! کوم چي پر حضرت عيسی عليه السلام انجيل نازل کړی دی لِقَوْلِهِ عليه السلام لِابْنِ صُوْرِيَا الْأَعْوَرِ: «أَنْشُدُكَ بِاللهِ الَّذِىْ أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ عَلٰى مُوسٰى أَنَّ حُكْمَ الزِّنَا فِي كِتَابِكُمْ هٰذَا» ځکه نبي کريم ﷺ ابن صوريا اعور ته فرمايلي وه: "زه په هغه الله سره تا ته قسم درکووم چي هغه پر حضرت موسیٰ عليه السلام تورات نازل کړی دی چي ستاسو په کتاب کي د زنا همدغه حکم دی" وَلِأَنَّ الْيَهُوْدِيَّ يَعْتَقِدُ نُبُوَّةَ مُوسٰى وَالنَّصْرَانِيَّ نُبُوَّةَ عِيسٰى عَلَيْهِمَا السَّلَامُ او ځکه چي يهودي د حضرت موسیٰ عليه السلام د نبوت [نبي والي] او نصراني د حضرت عيسیٰ عليه السلام د نبوت عقيده لري فَيُغَلَّظُ عَلٰى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِذِكْرِ الْمُنَزَّلِ عَلٰى نَبِيِّهِ نو ځکه قاضي به له دوی څخه پر هر يوه د هغه کتاب په ذکر کولو سره تغليظ کوي کوم چي د هغه پر نبي نازل سوی دی.

**اللغات:** ﴿أَنْشُدُكَ﴾ د واحد متکلم مضارع صيغه ده، د نصر له باب څخه، نه د افعال له باب څخه، کله چي د دې باب په صله کي "الله" ذکر سي، نو معنیٰ يې ده: په الله سره قسم ورکول، په الله سره د قسم اخيستلو غوښتنه کول. (مصباح لغات، مصباح منير)

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که په يو معامله کي له يهودي يا نصراني څخه قسم اخيستلو ته ضرورت پېښ سي، نو قاضي ته پکار دي چي له يهودي څخه په تورات قسم واخلي او له نصراني څخه په انجيل قسم واخلي (يعني يهودي ته به وايي چي "ته په توارت سره قسم واخله! چي دغه خبره داسي ده يا داسي نه ده...")؛ دليل دا دی چي نبي ﷺ په زمانه کي يوه يهودي زناء وکړه او يهوديانو په سزا کي د هغه مخ تور کړی (يعني هغه ته يې صرف د مخ تورولو سزا ورکړه)، نو نبي کريم ﷺ له هغو څه پوښتنه وکړه چي آيا ستاسو په کتاب "تورات" کي د زنا سزا همدغه ده؟، نو هغو ورېل چي هو! د زنا همدا سزا ده، بيا نبي کريم ﷺ يوه يهودي عالم "عبدالله بن صوريا أعور" ته ورېل چي "زه تا ته په هغه الله سره قسم درکووم، کوم چي پر حضرت موسیٰ عليه السلام "تورات" نازل کړی دی آيا ستاسو په کتاب "تورات" کي د زنا سزا همدغه ده؟، نو هغه يهودي عالم ورېل چي "که تا ما ته په تورات سره قسم راکړي نه وای، نو ما به رښتيا ويلي نه وای، خو څرنګه چي اوس تا ما د تورات په حواله سره قسم راکړئ! نو رښتيا خبره دا ده چي زموږ په کتاب کي د زنا سزا

رجم دی، خو مونږ هغه پرې ایښی دی"، له دې واقعې څخه معلومه سوه چې له یهودي او نصراني څخه په تورات او انجیل سره قسم اخیستل کېدای سي.

دویمه خبره دا ده چې یهود د حضرت موسیٰ علیه السلام او نصاریٰ د حضرت عیسیٰ علیه السلام په نبوت ایمان او یقین لري، لهٰذا پر حضرت موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام چې کوم کتابونه نازل سوي دي. د همغه کتابونو په حواله سره به له یهودو او نصاریٰ وو څخه قسم اخیستل کیږي.

## له مجوسي (آتش پرست) او بُت پرست څخه به څنګه قسم اخیستل کیـږي؟

وَيُحَلَّفُ الْمَجُوسِيُّ بِاللهِ الَّذِىْ خَلَقَ النَّارَ او مجوسي ته به [داسي] قسم ورکول کیږي په هغه الله سره قسم! چي هغه اُور پیدا کړی دی وَهٰكَذَا ذَكَرَ مُحَمَّدٌ فِي الْأَصْلِ او همداسي امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي ذکر کړي دي وَيُرْوٰى عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ* أَنَّهُ لَا يَسْتَحْلِفُ أَحَدًا إِلَّا بِاللهِ خَالِصًا او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی چي قاضي به له هیچا څخه قسم نه اخلي مګر صرف په الله سره وَذَكَرَ الْخَصَّافُ أَنَّهُ لَا يَسْتَحْلِفُ غَيْرَ الْيَهُوْدِيِّ وَالنَّصْرَانِيِّ إِلَّا بِاللهِ او امام خصام رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي چي هغه به له یهودي او نصراني څخه بغیر له بل چا څخه په غیر الله سره قسم نه اخلي وَهُوَ اخْتِيَارُ بَعْضِ مَشَايِخِنَا او همدا زمونږ د ځیني مشایکو اختیار سوی [قول] دی لِأَنَّ فِيْ ذِكْرِ النَّارِ مَعَ اسْمِ اللهِ تَعَالٰى تَعْظِيْمًا ځکه چي د الله د نامه سره د اُور په ذکر کولو کي د اُور تعظیم سته وَمَا يَنْبَغِيْ أَنْ تُعَظَّمَ حال دا چي د هغه تعظیم کول پکار نه دي بِخِلَافِ الْكِتَابَيْنِ په خلاف د دوو کتابونو [انجیل او تورات] لِأَنَّ كُتُبَ اللهِ مُعَظَّمَةٌ ځکه چي د الله تعالیٰ [ټوله] کتابونه د تعظیم قابل دي وَالْوَثَنِيُّ لَا يُحَلَّفُ إِلَّا بِاللهِ او بت پرست ته به صرف په الله سره قسم ورکول کیږي لِأَنَّ الْكَفَرَةَ بِأَسْرِهِمْ يَعْتَقِدُوْنَ اللهَ تَعَالٰى ځکه چي تمام کافران د الله تعالیٰ اعتقاد لري قَالَ اللهُ تَعَالٰى: ﴿وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللهُ﴾ الله تعالیٰ فرمایلي دي: او که چیري ته له هغو [بُت پرستانو] څخه پوښتنه وکړي چي آسمانونه او ځمکه چا پیدا کړي دي نو هغوی به ضرور ووایي

---

* القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، لأن قوله ظاهر الرواية، وأيضاً هو قول أبي حنيفة، وأكثر المتون نقلوا قول محمد رَحِمَهُ الله بلا خلاف سوى الهداية...إلخ، مجمع الأنهر (ج:٣، ص:٣٥٦)، كنـز (ص:٢٧٨)، تنوير الأبصار (ج:٤، ص:٤٧٦)، بدائع الصنائع (ج:٦، ص:٢٢٨). [القول الراجح ج:٢، ص:١٧٢]

چي الله [پيدا كړي دي] قَالَ: وَلَا يُحَلَّفُوْنَ فِي بُيُوْتِ عِبَادَتِهِمْ فرمايي: او له بت پرستانو څخه د هغو په عبادت خانو كي قسم قسم نه اخيستل كيږي لِأَنَّ الْقَاضِيَ لَا يَحْضُرُهَا ځكه چي قاضي هلته نه حاضريږي بَلْ هُوَ مَمْنُوْعٌ عَنْ ذٰلِكَ بلكي هغه له دې څخه منع سوى دى.

**اللغات:** ﴿يحلّف﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: قسم وركول، په قسم سره مكلف كول (مراد ځني قسم اخيستل دي)، ﴿مجوسي﴾ د اُور عبادت كونكى (اُور لمانځونكى)، ﴿معظمة﴾ د تعظيم قابل (د تعظيم لايق)، تعظيم والا، ﴿وثني﴾ بت پرست، د بت عبادت كونكى (بت لمانځونكى)، ﴿بأسرهم﴾ هغوى ټوله.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دى چي كله قاضي له يو مجوسي څخه قسم اخلي نو هغه ته به وايي چي داسي قسم واخله! "زه په هغه الله سره قسم اخلم (ياما په هغه الله سره قسم دى) چي هغه اُور پيدا كړى دى"، دا امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط كي ذكر كړي دي، او دليل يې دا ليكلى دى چي مجوسي د اُور د حرمت او عظمت عقيده لري، نو ځكه د اُور د عظمت او تعظيم په خيال كولو سره به له دراغجن قسم څخه ځان ساتي. لېكن له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت سوى دى چي خالص په الله تعالىٰ سره قسم اخيستل صحيح دي او د الله د نامه سره به يو ځاى د اُور يا داسي بل شي ذكر نه كيږي، ځكه په دې كي د الله سره د شريك نيولو احتمال سته، كوم چي په هيڅ حال كي هم صحيح نه دي.

وذكر الخصاف إلخ: فرمايي: د امام خصاف رَحِمَهُ الله مذهب دا دى چي صرف يهودي او نصراني لره دا صحيح دي چي د الله د نامه سره تورات او انجيل يو ځاى كړي او قسم واخلي، لېكن له هغو څخه بغير مجوسيانو او داسي نورو لره دا صحيح نه دي چي د الله د نامه سره اُور يا د اُور تخليق يو ځاى كړي او قسم واخلي؛ ځكه په داسي كولو كي د شرك احتمال هم سته او د اُور تعظيم هم سته، حال دا چي اُور په هيڅ حال كي هم د تعظيم قابل نه دى، نو ځكه هغه په قسم كي شاملول صحيح نه دي، د دې په خلاف انجيل او تورات د الله له طرفه نازل شُده كتابونه ده، او ښكاره خبره ده چي الهي كتابونه ټوله د تعظيم قابل دي، نو ځكه په هغوى سره په قسم اخيستلو كي هيڅ حرج نسته.

والوثني لا يحلف إلا بالله إلخ: فرمايي: له بت پرست څخه به صرف د الله په نامه سره قسم اخيستل كيږي؛ ځكه ټول بت پرستان د الله پاك عقيده او په دې باور لري، لكه څرنگه چي قرآني آيت ﴿وَلَئِنْ

سَأَلْتَهُمْ . . . إِلَخ﴾ [سورة اللقمان،۲۵] پر دې ګواه دی، نو ځکه د الله په نامه سره د قسم اخيستلو په وجه به هغه له درواغو څخه ځان ساتي، او د قسم اخيستلو مقصد همدا دی چې په خبره کې درواغ نه وويل سي.

او له بت پرسته خلګو څخه به د هغو په عبادت خانو کې قسم نه اخيستل کيږي (کله چې دې ته ضرورت پيښ سي)، ځکه قاضي هلته نسي تللای او هغه له دې څخه منع سوی دی، نو ځکه له عبادت خانو څخه بغير بل ځای به قسم ځني اخيستل کيږي.

## د ځای يا وخت په تأکيد سره قسم اخيستل

قَالَ: وَلَا يَجِبُ تَغْلِيظُ الْيَمِيْنِ عَلَى الْمُسْلِمِ بِزَمَانٍ وَلَا مَكَانٍ فرمايي: چې پر مسلمان په زمان او مکان سره قسم مؤکد کول واجب نه دي لِأَنَّ الْمَقْصُودَ تَعْظِيمُ الْمُقْسَمِ بِهِ ځکه [په قسم اخيستلو سره] د هغه چا تعظيم مقصود وي په چا سره چې قسم اخيستل سوی وي وَهُوَ حَاصِلٌ بِدُوْنِ ذٰلِكَ او هغه له دې [تغليظ] څخه بغير هم حاصل دی وَفِي إِيجَابِ ذٰلِكَ حَرَجٌ عَلَى الْقَاضِي او د دې په واجبولو کې پر قاضي حرج دی حَيْثُ يُكَلَّفُ حُضُورَهَا په دې توګه چې قاضي هلته په حاضرېدلو سره مکلف کيږي وَهُوَ مَدْفُوعٌ حال دا چې حرج [په شريعت کې] ليري کړی سوی دی.

**اللغات**: ﴿تغليظ﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: سختول، مضبوطول، ټينګول، مؤکد کول. ﴿تغليظ اليمين بزمان﴾ قسم په زمانه سره مؤکد کول، يعني په يو ځانګړي (مبارک) وخت کې قسم ځني اخيستل، مثلاً تر لمانځه وروسته قسم ځني اخيستل او داسې نور. تغليظ بالمكان: مثلاً په کعبه کې يا په يو خاص ځای کې قسم ځني اخيستل (معجم لغة الفقهاء). ﴿مُقسم بِهِ﴾ د افعال د باب مفعول دی: په چا سره چې قسم اخيستل سوی وي (د چا په نامه چې قسم واخيستل سي) چې هغه د مسلمان په حق کې الله تعالیٰ دی. ﴿إيجاب﴾ د افعال د باب مصدر دی: واجبول.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د مسلمان قسم په زمان يا مکان سره مؤکد کول ضروري نه دي (يعني دا ضروري نه ده چې له هغه څخه په خاص وخت يا خاص ځای کې قسم واخيستل سي)، ځکه په قسم اخيستلو سره د مقسم به (الله تعالى) تعظيم مقصود وي، او د مقسم به تعظيم له مؤکد کولو څخه بغير هم حاصلیږي. يعني که څه هم په زمان يا مکان سره قسم مؤکد نه کړی سي، نو بيا هم د قسم مقصود (تعظيم) حاصلیږي، نو ځکه بلا وجه به په زمان يا مکان سره د قسم تغليظ او تاکيد نه کيږي.

دويمه خبره دا ده چي په زمان يا مکان سره د قسم مؤکد کولو په صورت کي قاضي په حرج او تکليف سره هم مبتلا کيږي، ځکه چي په دې صورت کي به پر قاضي په هغه زمان يا مکان کي حاضرېدل لازم وئي، حال دا چي په شريعت کي حرج ليري کړی سوی دی، نو په دې حواله سره به هم په زمان يا مکان سره قسم نه مؤکد کيږي.

## قسم به پر سبب اخيستل کيږي او که پر نتيجه (حاصلِ معنی)؟

قَالَ: وَمَنِ ادَّعٰى أَنَّهُ ابْتَاعَ مِنْ هٰذَا عَبْدَهُ بِأَلْفٍ فرمايي: او که څوک دعوىٰ وکړي چي ما له دغه سړي څخه د هغه غلام په زر درهمه رانيولی دی فَجَحَدَ ليکن هغه سړی [مدعىٰ عليه] انکار وکړي أُسْتُحْلِفَ بِاللهِ مَا بَيْنَكُمَا بَيْعٌ قَائِمٌ فِيهِ نو له هغه څخه به [داسي] قسم اخيستل کيږي چي "په الله قسم! ستاسو دواړو په مينځ کي په دې غلام کي بيع قائم نه ده [يعني مدعىٰ عليه به داسي قسم اخلي "په الله قسم! زما او د مدعي تر مينځ په دغه غلام کي هيڅ بيع موجوده نه ده (بيع نه ده سوې)] وَلَا يُسْتَحْلَفُ بِاللهِ مَا بِعْتُ او داسي قسم به نه ځني اخيستل کيږي چي "په الله قسم! ما [دا غلام] نه دی خرڅ کړی لِأَنَّهُ قَدْ يُبَاعُ الْعَيْنُ ثُمَّ يُقَالُ فِيهِ ځکه چي ځيني وخت يو عَين شی خرڅول کيږي بيا په هغه کي اقاله کيږي [يعني ځيني وخت داسي کيږي چي څوک يو شی خرڅ کړي او بيا پښېمانه سي، بيع ختم کړی او خپل شی واپس واخلي...] وَيُسْتَحْلَفُ فِي الْغَصْبِ بِاللهِ مَا يَسْتَحِقُّ عَلَيْكَ رَدَّهُ او په غصب کي به [داسي] قسم ځني اخيستل کيږي "په الله قسم! هغه پر تا د مغصوب شي د واپسي حق نه لري" وَلَا يُحَلَّفُ بِاللهِ مَا غَصَبْتُ او [داسي] قسم به نه ځني اخيستل کيږي چي "ما نه دی غصب کړی" لِأَنَّهُ قَدْ يَغْصِبُ ثُمَّ يَفْسَخُ بِالْهِبَةِ وَالْبَيْعِ ځکه چي انسان ځيني وخت غصب وکړي او بيا د هبې يا د بيع په ذريعه هغه غصب فسخ کړي [ختم کړي] وَفِي النِّكَاحِ بِاللهِ مَا بَيْنَكُمَا نِكَاحٌ قَائِمٌ فِي الْحَالِ او په نکاح کي به [داسي قسم ځني اخيستل کيږي] "په الله قسم! ستاسو دواړو په مينځ کي في الحاله [اوس] نکاح قائم نه ده" لِأَنَّهُ قَدْ يَطْرَأُ عَلَيْهِ الْخُلْعُ ځکه چي ځيني وخت پر نکاح خلع طاري کيږي [واقع کيږي] وَفِي دَعْوَى الطَّلَاقِ بِاللهِ مَا هِيَ بَائِنٌ مِنْكَ السَّاعَةَ بِمَا ذَكَرَتْ او د طلاق په دعوىٰ کي به [داسي قسم ځني اخيستل کيږي] "په الله قسم! دا ښځه اوس ګرځي په هغه سبب ستا څخه بائنه نه ده کوم چي هغې ذکر کړی دی" وَلَا يَسْتَحْلِفُ بِاللهِ مَا طَلَّقَهَا او له خاوند څخه به [داسي] قسم نه

اخيستل كيږي چي "په الله قسم! ده هغې ته طلاق نه دی ورکړی" لِأَنَّ النِّكَاحَ قَدْ يُجَدَّدُ بَعْدَ الْإِبَانَةِ ځکه چي ځيني وخت له بائنه کولو ښځه وروسته د نکاح تجديد کيږي فَيُحَلَّفُ عَلَى الْحَاصِلِ فِي هٰذِهِ الْوُجُوهِ نو ځکه په دې [ټولو] صورتونو کي به [له مدعیٰ عليه ښځه] پر حاصلِ مراد [حاصلِ معنیٰ] قسم اخيستل کيږي لِأَنَّهُ لَوْ حُلِّفَ عَلَى السَّبَبِ ځکه که چيري پر سبب قسم ځني واخيستل سي يَتَضَرَّرُ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ نو مدعیٰ عليه ته به ضرر ورسيږي وَهٰذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله قول دی أَمَّا عَلٰى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ ❀ يُحَلَّفُ فِي جَمِيعِ ذٰلِكَ عَلَى السَّبَبِ او پاته سو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله پر قول نو په دې ټولو صورتونو کي به پر سبب قسم ځني اخيستل کيږي إِلَّا إِذَا عَرَّضَ بِمَا ذَكَرْنَا مګر دا چي کله مدعیٰ عليه په هغه اُمورو سره تعريض وکړي کوم چي موږ ذکر کړل فَحِينَئِذٍ يُحَلَّفُ عَلَى الْحَاصِلِ نو په دې وخت کي به پر حاصلِ مراد قسم ځني اخيستل کيږي وَقِيلَ: يُنْظَرُ إِلَى إِنْكَارِ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ او ويل سوي دي: چي د مدعیٰ عليه انکار ته به کتل کيږي إِنْ أَنْكَرَ السَّبَبَ که چيري هغه د سبب انکار وکړي يُحَلَّفُ عَلَيْهِ نو پر سبب به قسم ځني اخيستل کيږي وَإِنْ أَنْكَرَ الْحُكْمَ او که هغه د حکم انکار وکړي يُحَلَّفُ عَلَى الْحَاصِلِ نو پر حاصلِ مراد [حاصلِ معنیٰ] به قسم ځني اخيستل کيږي فَالْحَاصِلُ هُوَ الْأَصْلُ عِنْدَهُمَا لهذا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز همدا حاصلِ مراد اصل دی [يعني د هغو په نيز اصل دا دی چي پر حاصلِ معنیٰ قسم ځني واخيستل سي] إِذَا كَانَ سَبَبًا يَرْتَفِعُ بِرَافِعٍ په دې شرط کله چي سبب په يو ليري کونکي شي سره ليري کېدای سي إِلَّا إِذَا كَانَ فِيهِ تَرْكُ النَّظَرِ فِي جَانِبِ الْمُدَّعِي مګر دا چي کله په دې کي د مدعي په طرف کي د مصلحت [او رعايت] پرېښوول لازميږي فَحِينَئِذٍ يُحَلَّفُ عَلَى السَّبَبِ بِالْإِجْمَاعِ نو په دې وخت کي [له مدعیٰ عليه ښځه] به بالاتفاق پر سبب قسم اخيستل کيږي وَذٰلِكَ مِثْلُ أَنْ تَدَّعِيَ مَبْتُوتَةٌ نَفَقَةَ الْعِدَّةِ او د دې مثال داسي دی لکه يو مطلقهٔ ثلاثه ښځه چي د عدت د نفقې دعویٰ کوي

❀ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في الهنديه (ج:۴، ص:۱۸)، وشرح المجلة (ج:۵، ص:۴۲۱، المادة:۱۷۴۹). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۷۳]

وَالزَّوْجُ مِمَّنْ لَا يَرَاهَا او [د مغې] خاوند له هغه كسانو څخه وي كوم چې د دې اعتقاد نه لري [مثلا شافعي المسلكه وي] أَوِ ادَّعٰى شُفْعَةً بِالْجِوَارِ يا [مثلا] يو سړى د همسايه توب پر بناء د شفعې دعوىٰ وكړي وَالْمُشْتَرِيْ لَا يَرَاهَا او مشتري د هغه اعتقاد نه لري لِأَنَّهُ لَوْحَلَفَ عَلَى الْحَاصِلِ ځكه كه چيرې هغه پر حاصلِ معنىٰ قسم واخلي يَصْدُقُ فِي يَمِينِهِ فِي مُعْتَقَدِهِ نو د خپل اعتقاد [عقيدې] مطابق به په خپل قسم كې رښتونى وګرځي فَيَفُوتُ النَّظَرُ فِي حَقِّ الْمُدَّعِي نو د مدعي په حق كې به مصلحت [او رعايت] فوت سي وَإِنْ كَانَ سَبَبًا لَا يَرْتَفِعُ بِرَافِعٍ او كه سبب داسې وي كوم چې په يو ليرې كونكې سره ليرې كېداى نه سي فَالتَّحْلِيفُ عَلَى السَّبَبِ بِالْإِجْمَاعِ نو بالاتفاق به پر سبب قسم څخې اخيستل كيږي كَالْعَبْدِ الْمُسْلِمِ إِذَا ادَّعَى الْعِتْقَ عَلٰى مَوْلَاهُ لكه مسلمان غلام چې كله پر خپل مالك د آزادۍ دعوىٰ وكړي [چې زه هغه آزاد كړى يم] بِخِلَافِ الْأَمَةِ وَالْعَبْدِ الْكَافِرِ په خلاف د مينځې او د كافر غلام لِأَنَّهُ يَتَكَرَّرُ الرِّقُّ عَلَيْهِمَا بِالرِّدَّةِ وَاللِّحَاقِ ځكه چې په مرتد كېدلو او دارُ الحرب ته په تللو سره په مينځه كې غلامتوب مكرر كيږي [او هغه دوباره مينځه ګرځي] وَعَلَيْهِ بِنَقْضِ الْعَهْدِ وَاللِّحَاقِ [همدارنګه] د عهد په ماتولو او دارُ الحرب ته په تللو سره پر كافر غلام [هم] غلامتوب مكرر كيږي وَلَا يَتَكَرَّرُ عَلَى الْعَبْدِ الْمُسْلِمِ [لېكن] پر مسلمان غلام هغه نه مكرر كيږي.

**اللغات:** ﴿ابتاع﴾ د افتعال د باب ماضي ده: رانيول، ﴿يُقَال﴾ د افعال د باب مضارع مجهوله ده: اقاله كول، بيع ختمول، ﴿لا يُحلّف﴾ د تفعيل له بابه د نفي صيغه ده، معنىٰ يې مخكې ذكر سوه، چې له دې څخه هم مراد (له مدعىٰ عليه څخه) قسم اخيستل دي، ﴿يُجدّد﴾ د تفعيل د باب مخكنۍ صيغه ده: نوي كول، تجديد كول (له نوي سره كول)، ﴿يطرأ﴾ د فتح د باب مضارع ده: طاري كېدل، پېښېدل، واقع كېدل، ﴿إبانة﴾ د افعال د باب مصدر دى: بائنه كول، جلا كول، طلاق بائن وركول، ﴿عَرَّض﴾ د تفعيل د باب ماضي ده، عَرَّضَ يُعَرِّضُ تَعْرِيضًا: د دې باب څو معناوې دي چې له هغه څخه يو معنىٰ ده، تعريض كول (يعني يو خبره په تصريح سره نه كول)، صاحب د معجم يې داسې تعريف كړى دى: إرادة المتكلم من كلامه معنًى يفهمه السامع من غير تصريح به (يعني بغير له تصريح كولو په خپل كلام سره داسې معنىٰ مرادول چې په هغه سره اورېدونكى [په خپله] پوه سي)، مثلاً يو څوك د

بخيل كس مخته داسي ووايي "بخل ډېر بد شی دی"، نو په دې سره د ده مراد او مطلب دا دی چي هغه بخيل دی لېکن ده خپل په کلام د دې تصريح نه ده کړې، يعني په صراحت سره يې دا نه دي ويلي چي هغه بخيل دی...(معجم لغة الفقهاء)، ﴿مبتوتة﴾ هغه ښځه چي درې طلاقه ورکول سوي وي چي هغه ته مطلقهٔ ثلاثه هم وايي، ﴿نفقة﴾ خرچه (خرڅه)، ﴿العهد﴾ ژمنه، وعده، تړون، مراد ځني ذمي والي تړون دی، ﴿اللحاق﴾ د سمع د باب مصدر دی: لاحق کېدل، ور سره يو ځای کېدل، مراد ځني دارُالحرب ته تلل او د کفارو سره يو ځای کېدل دي.

**تشريح**: په دغه اوږده عبارت کي څو مسئلې ذکر سوي دي، چي هغه به انشاء الله د مصنف رَحِمَهُ الله د بيان مطابق ستاسو په مخکي بيان کړل سي:

(۱)... اوله مسئله دا ده که يو سړی مثلاً زيد پر خالد دا دعویٰ وکړي چي "ما له خالد څخه د هغه دغه غلام په زر درهمه رانيولی دی"، او خالد انکار وکړي، نو دې ته به کتل کيږي چي د مدعي (زيد) سره بيّنه سته، که نه؟ که چيري د مدعي سره بيّنه وي، نو هغه دي بيّنه پېش کړي، او که د مدعي سره بيّنه نه وي، نو بيا به قاضي له مدعیٰ عليه (خالد) څخه داسي قسم اخلي چي "په الله قسم! زما او د مدعي (زيد) په مينځ کي په دې غلام کي هيڅ بيع موجوده نه ده (بيع نه ده سوې)"، او له هغه څخه به داسي قسم نه اخلي چي "په الله قسم! ما دا غلام نه دی خرڅ کړی"، ځکه چي دا پر سبب قسم اخيستل دي او په اول صورت کي پر حاصلِ مراد قسم اخيستل دي (يعني په اول صورت کي پر حاصلِ معنیٰ او نتيجه باندي قسم اخيستل سوی دی)، او د حاصلِ مراد قسم د سبب له قسم څخه زيات واضح او ښکاره وي، ځکه ځيني وخت داسي کيږي چي يو مُتَعيّن مال (عَين شی) خرڅ کړی سي او بيا په هغه کي اقاله وسي، او ښکاره خبره ده چي د حاصل مراد په قسم اخيستلو کي د اقالې صورت هم تر قسم (يمين) لاندي داخليږي او د سبب په قسم اخيستلو کي (يعني په "مابعتُ" سره په قسم اخيستلو کي) د اقالې صورت تر قسم لاندي نه داخليږي او په دې کي د بائع ضرر او تاوان وي، حال دا چي بائع له ضرر څخه ساتل ضروري دي، نو ځکه له بائع څخه د ضرر دفع کولو په خاطر صرف پر حاصلِ مراد قسم اخيستل کيږي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که يو سړی پر بل چا د غصب دعویٰ وکړي (چي تا زما فلانکی شی غصب کړی دی)، او مدعیٰ عليه انکار وکړي، اوس که د مدعي سره بيّنه نه وي، نو له مدعیٰ عليه څخه به په دې الفاظو قسم نه اخيستل کيږي چي "په الله قسم! ما نه دی غصب کړی"، ځکه چي ځيني وخت يو څوک د يو چا شی غصب کړي او بيا مالک (مغصوب منهُ) هغه شی غاصب ته هبه کړي يا يې پر

غاصب خرڅ کړي یا غاصب د هغه شي تاوان ورکړي او په خپله د هغه مالک سي، نو ځکه مدعیٰ علیه به په دې الفاظو سره قسم نه اخلي چي "ما نه دی غصب کړی"، بلکي داسي قسم به اخلي چي "مدعي پر ما د هغه شي (مغصوب شي) د واپس اخیستلو حق نه لري"، د دې لپاره چي د هبه کولو، خرڅولو او تاوان ورکولو په ذریعه د مدعیٰ علیه مالک کېدل په قسم کي داخل سي او هغه له ضرر او نقصان څخه محفوظ سي.

(۳)... درېیمه مسئله دا ده که یو سړی پر یو ښځي د نکاح دعویٰ وکړي او ښځه له هغه څخه انکار وکړي، او سړی پر خپله دعویٰ بیّنه پېش نه کړی سي، نو له مدعیٰ علیها ښځي څخه به په دې الفاظو قسم اخیستل کیږي "په الله قسم زموږ د دواړو په مینځ کي في الحاله نکاح موجوده نه ده (نکاح نه ده سوې)"، او له هغې څخه به داسي قسم نه اخیستل کیږي چي "په الله قسم! ما د هغه سره نکاح نه ده کړې"، ځکه په دې کي د قسم اخیستونکی ضرر دی، ځکه چي ځیني وخت تر خلع کولو وروسته نکاح کیږي، او ښکاره خبره دي چي تر خلع وروسته نکاح باقي نه پاتیږي.

(۴)... څلورمه مسئله دا ده که یو ښځه دعویٰ وکړي چي "زما خاوند ما ته طلاق راکړی دی"، لېکن خاوند انکار وکړي او د هغې دعویٰ بالکل ردّ کړي، اوس که د مدعیه ښځي سره بیّنه وي، نو له مدعیٰ علیه (خاوند) څخه به داسي قسم اخیستل کیږي "په الله قسم! دا ښځه په اوس وخت کي په هغه سبب زما څخه بائنه او جلا نه ده، د کوم سبب چي هغه دعویٰ کوي"، او له خاوند څخه به داسي قسم نه اخیستل کیږي چي "په الله قسم! ما هغې ته طلاق نه دی ورکړی"، ځکه په دې کي د قسم اخیستونکی ضرر دی، په دې توګه چي ځیني وخت له طلاق څخه وروسته د نکاح تجدید کیږي، لنډه دا چي په دغه ټولو مسئلو کي به پر حاصلِ مراد قسم اخیستل کیږي، د دې لپاره چي قسم په هره توګه جامع او مانع وګرځي، او پر سبب به قسم نه اخیستل کیږي، د دې لپاره چي مدعیٰ علیه ته ضرر او نقصان نه ورسیږي. دا حکم او تفصیل د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی.

د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چي په پورتنۍ مسئلو کي به پر سبب قسم اخیستل کیږي، نه پر حاصلِ مراد؛ ها! که چیري مدعیٰ علیه په مذکوره شیانو کي تعریض وکړي یعني داسي ووایي چي "قاضي صاحب! ما نه دی خرڅ کړی، لېکن تا ته خو معلومه ده چي په بیع کي ځیني وخته اقاله کیږي"، یا مثلاً د غصب په صورت کي داسي ووایي چي "ځیني وخت غاصب د هبه او تاوان په ذریعه د مغصوب شي مالک کیږي"، نو په دې وخت کي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز هم قاضي به له مدعیٰ علیه څخه پر حاصلِ مراد قسم اخلي، پر سبب به قسم نه ځني اخلي.

وقيل ينظر إلخ: د ځيني حضراتو رايه دا ده چي په قسم اخيستلو کي به د مدعیٰ عليه انکار ته کتل کيږي، که چيري هغه د سبب انکار کوي، نو پر سبب به قسم ځني اخيستل کيږي، او که د حکم انکار کوي، نو پر حاصلِ مراد به قسم ځني اخيستل کيږي.

فالحاصل إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دې ټولو مسئلو کي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز قاعده او ضابطه دا ده چي که د دعوې سبب داسي وي کوم چي په يو ليري کونکي سبب (رافع) سره ليري کېداى او ختمېداى سي، لکه بيع چي په اقاله سره ختميږي او لکه غصب چي په هبه او بيع سره ختميږي او لکه د طلاق معامله چي د نکاح په تجديد سره ختميږي، نو په دې ټولو صورتونو کي به پر حاصلِ مراد قسم اخيستل کيږي، لېکن که پر حاصل مراد په قسم اخيستلو کي د مدعي رعايت نه کېدى او د هغه سره د زياتوب کولو شبهه موجوده وي، نو په دې صورت کي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هم له مدعیٰ عليه څخه به پر سبب قسم اخيستل کيږي، صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د دې دوه مثالونه ذکر کړي دي: ① که د يو ښځي خاوند شافعي المسلکه وي او هغه خپلي ښځي ته درې طلاقه ورکړي، بيا هغه ښځه پر خپل خاوند د عدت د ورځو د نفقې دعویٰ وکړي (چي ما ته د عدت د ورځو نفقه راکړه!)، حال دا چي شافعي المسلکه خاوند د هغه اعتقاد نه لري، ② که يو سړى د همسايتوب (جِوَار) پر بناء د شفعي دعویٰ وکړي، لېکن مشتري شافعي المسلکه وي او د همسايتوب پر بناء د شفعي اعتقاد نه لري، نو په دې دواړو صورتونو کي به له مدعیٰ عليه يعني په اول صورت کي له خاوند او په دويم صورت کي له مشتري څخه پر سبب قسم اخيستل کيږي، نه پر حاصلِ مراد؛ ځکه که چيري پر حاصلِ مراد قسم واخيستل سي يعني داسي قسم واخلي چي "په الله قسم! په کوم سبب سره چي دا ښځه پر ما د نفقې دعویٰ کوي، په هغه سبب سره پر ما د هغې نفقه نسته"، يا که مشتري داسي قسم واخلي چي "په الله قسم! د همسايتوب پر بناء مدعي ته دا حق نسته چي زما څخه شفعه واخلي"، نو په دواړو صورتونو کي به د مدعي ضرر او نقصان وي او هغه به له خپل حقوقو څخه محروم سي؛ ځکه چي پر حاصلِ مراد په قسم اخيستلو کي به (شافعي المسلکه) مدعیٰ عليه د خپل اعتقاد په اعتبار سره رښتونى وي او هغه به په خپل حق کي قسم اخيستونکى وي او په دې قسم سره به مدعي ته نقصان ورسيږي، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په دې عبارت "فيفوت النظر في حق المدعي" سره همدا خبره بيان کړې ده.

وإن كان سببا إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د دعوې سبب داسي وي کوم چې په يو ليري کونکي سبب سره نه ليري کيږي، نو په دې صورت کي به بالاتفاق پر سبب قسم اخيستل کيږي، مثلاً که يو مسلمان غلام دا دعویٰ وکړي چي "زما مالک زه آزاد کړی يم"، او مالک له دې څخه انکار وکړي، نو اوس به له مالک څخه همداسي قسم اخيستل کيږي چي "په الله قسم! ما هغه نه دی آزاد کړی"، ځکه چي آزادول يو داسي سبب دی کوم چي په يو ليري کونکي سبب (رافع) سره نه سي ليري کېدای، نو ځکه دلته به پر سبب قسم اخيستل کيږي او پر حاصلِ مراد به قسم نه اخيستل کيږي.

د دې په خلاف که يو مينځه پر خپل مالک د آزادولو دعویٰ وکړي (چي زه خپل مالک آزاده کړې يم) يا کافر غلام د آزادولو دعویٰ وکړي، او مالک له دې څخه انکار وکړي، نو په دې صورت کي به له مالک څخه پر حاصلِ مراد قسم اخيستل کيږي يعني هغه داسي به وايي "په الله قسم! دا غلام (کافر) يا دا مينځه في الحاله آزاده نه ده"، او په دې صورت کي به له مالک څخه پر سبب قسم نه اخيستل کيږي، ځکه چي دلته سبب په رافع (ليري کونکي سبب) سره ليري کېدای سي، مثلاً که مينځه مرتده سي او دارُ الحرب ته ولاړه سي يا کافر غلام د ذمي والي عهد (تړون) مات کړي او دارُ الحرب ته ولاړ سي، نو د هغو آزادي ختميږي او پر هغو به دوباره رقيت (غلامتوب) جاري کيږي، معلومه سوه چي په دې صورت کي سبب پوخ او مضبوط نه دی او په رافع سره ختمېدای سي، او څه مخکي ذکر سوه چي که سبب په يو رافع سره ختمېدای سي، نو پر حاصلِ مراد به قسم ځني اخيستل کيږي، نو ځکه په دې صورت کي به هم له مدعیٰ عليه (مالک) څخه پر حاصلِ مراد قسم اخيستل کيږي.

د دې په خلاف د مسلمان غلام د دعوې سبب پوخ او مضبوط وي او که هغه يو وار آزاد سي، نو دوباره پر هغه رقيت نه جاري کيږي، نو ځکه د مسلمان غلام د دعوې کولو په صورت کي به د هغه له مالک څخه پر سبب قسم اخيستل کيږي.

## د ميراث د ملکيت دعویٰ کول

قَالَ: وَمَنْ وَرِثَ عَبْدًا فرمايي: او که څوک د يو غلام وارث سي [يعني په ميراث کي ورته حاصل سي] وَادَّعَاهُ آخَرُ او [بيا] بل څوک په هغه دعویٰ وکړي يُسْتَحْلَفُ عَلَىٰ عِلْمِهِ نو له وارث څخه به د هغه پر علم [خبر] قسم اخيستل کيږي لِأَنَّهُ لَا عِلْمَ لَهُ بِمَا صَنَعَ الْمُوَرِّثُ ځکه کوم څه چي مورث کړي دي وارث ته د هغه علم نسته فَلَا يُحَلَّفُ عَلَى الْبَتَاتِ نو ځکه له هغه څخه به په قطعي [يقيني] توګه قسم نه اخيستل کيږي وَإِنْ وُهِبَ لَهُ أَوِ اشْتَرَاهُ او که چيري هغه ته غلام هبه کړی سوی وي [يعني يو

چابلا عوضه (مُفت) ورکړی وي] یا هغه رانیولی وي يُحَلِّفُ عَلَى الْبَتَاتِ نو په قطعي توګه به قسم ځني اخیستل کیږي لِوُجُودِ الْمُطْلَقِ لِلْيَمِينِ ځکه چي د قسم اجازت ورکونکی سبب [او دلیل] موجود سو إِذِ الشِّرَاءُ سَبَبٌ لِثُبُوتِ الْمِلْكِ وَضْعًا ځکه چي رانیول د وضع په اعتبار سره د ملکیت ثابتېدلو سبب دي وَكَذَا الْهِبَةُ او همداسي هبه [هم د ملکیت سبب] ده قَالَ: وَمَنِ ادَّعٰى عَلٰى آخَرَ مَالًا فرمايي: او که څوک پر بل چا [مثلا پر خالد] د مال دعویٰ وکړي فَافْتَدٰى يَمِينَهُ أَوْ صَالَحَهُ مِنْهَا عَلٰى عَشْرَةٍ بیا هغه [خالد] د خپل قسم فدیه ورکړي یا پر لس درهمه د مدعي سره صلح وکړي فَهُوَ جَائِزٌ نو دا جائز دي وَهُوَ مَأْثُورٌ عَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دا له حضرت عثمان رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي. وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَسْتَحْلِفَهُ عَلٰى تِلْكَ الْيَمِينِ أَبَدًا او [تر دې وروسته] مدعي ته هیڅکله هم دا اختیار نسته چي له مدعیٰ علیه څخه هغه قسم واخلي لِأَنَّهُ أَسْقَطَ حَقَّهُ ځکه چي هغه خپل حق ساقط کړی.

**اللغات**: ﴿ورث﴾ د سمع د باب ماضي ده: وارث کېدل، يو شی په میراث کي حاصلول. ﴿صالحه﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: صلح کول. ﴿فافتدی﴾ د افتعال د باب ماضي ده: فدیه ورکول (مراد ځني د خپل قسم اخیستلو په مقابله کي تاکلی قیمت ورکول دي [چي له قسم اخیستو څخه خلاص سي]). ﴿مأثور﴾ د نصر له بابه د مفعول صیغه ده: منقول، نقل سوی.

**تشریح**: په دې عبارت کي دوې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که یو سړي ته په میراث کي غلام حاصل سي، لېکن پر هغه غلام بل څوک د خپل ملکیت دعویٰ وکړي (چي زه د دې غلام مالک یم)، اوس که د مدعي سره بیّنه نه وي، نو قاضي به له مدعیٰ علیه (وارث) څخه د هغه پر علم (خبر) قسم اخلي یعني مدعیٰ علیه به داسي قسم اخلي" په الله قسم! زه په دې خبر نه یم (ما ته معلومه نه ده) چي مدعي د دغه غلام مالک دی کوم چي ما ته په میراث کي حاصل سوی دی"، او داسي قسم به نه اخلي چي " په الله قسم! مدعي د دغه غلام مالک نه دی"، ځکه وارث (مدعیٰ علیه) ته دا معلومه نه ده چي د هغه مورث ته دا غلام څنګه حاصل سوی دی (او هغه له چا څخه اخیستی دی)، او ښکاره خبره ده چي کوم شی معلوم نه وي، د هغه په باره کي یقیني او قطعي قسم نه سي اخیستل کېدای.

وإن وهب له إلخ: د دې حاصل دا دی که يو سړي ته (مثلا خالد ته) يو څوک غلام هبه کړي، يا يو سړی (مثلا خالد) له بل چا څخه يو غلام رانيسي او بيا پر هغه غلام بل څوک دعویٰ وکړي او د مدعي سره بيّنه نه وي، نو په دې صورت کي به مدعیٰ عليه (خالد) په يقيني او قطعي توګه قسم اخلي او داسي به وايي چي "په الله قسم! مدعي د دې غلام مالک نه دی"، ځکه چي دلته د مدعیٰ عليه سره د عام او قطعي قسم سبب او دليل موجود دی، ځکه شراء (رانيول) صرف د ملکيت لپاره وضع سوې ده يعني د شراء (رانيولو) په ذريعه انسان د رانيول سوي شي مالک کيږي، همدارنګه په هبه سره هم بعد القبض موهوب لهٗ د موهوب شي مالک کيږي، لهذا کله چي په دې صورتونو کي د مدعیٰ عليه سره د خپل ملکيت (مالک کېدلو) ښکاره دليل او علامت موجود دی، نو ځکه د هغه لپاره په قطعي او يقيني قسم اخيستلو کي هيڅ حرج هم نسته.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که يو سړی پر بل چا د مال دعویٰ وکړي (چي زما پر تا مثلاً سل درهمه باندي دي)، لېکن د مدعي سره بيّنه نه وي، او کله چي له مدعیٰ عليه څخه د قسم اخيستلو نوبت راسي، نو هغه مثلاً لس درهمه د خپل قسم فديه وټاکي (يعني د خپل قسم اخيستلو په عوض کي مدعي ته لس درهمه ورکړي)، يا د مدعي سره پر لس درهمو صلح وکړي، نو دا فديه ټاکل او صلح کول جائز دي، فديه ټاکل له حضرت عثمان رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي، او په دې دواړو صورتونو کي مدعیٰ عليه له قسم څخه خلاصيږي او دآينده لپاره به هيڅکله هم له هغه څخه په دغه معامله کي قسم نه اخستل کيږي، ځکه چي په فديه اخيستلو او صلح کولو سره مدعي خپل د استحلاف (قسم اخيستلو) حق ساقط کړی، او قاعده دا ده چي "الساقطُ لا يعود" (ساقط سوی شی [حق] واپس نه راګرځي)، نو ځکه تر دې وروسته به مدعي ته هيڅکله هم له مدعیٰ عليه څخه د قسم اخيستلو حق او اختيار نه وي.



# بَابُ التَّحَالُفِ

(دا) باب له دواړو فريقينو څخه د قسم اخيستلو (په بيان کي) دی

**تشريح**: مخکي تر دې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله ديوه قسم يعني د مدعیٰ عليه د قسم احکام بيان کړل، اوس د دوو قسمونو يعني له دواړو فريقينو څخه د قسم اخيستلو احکام بيانوي، او تاسو ته معلومه ده چي يو (واحد) له دوو څخه مخکي وي، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله هم ديوه قسم بيان دوو قسمونو له بيان څخه مخکي کړی دی.

## د بائع او مشتري تر مينځ په ثمن يا مبيع کي د اختلاف بيان

قَالَ: وَإِذَا اخْتَلَفَ الْمُتَبَايِعَانِ فِي الْبَيْعِ فرمايي: او کله چي دواړه بيع کونکي [بائع او مشتري] په بيع کي اختلاف وکړي فَادَّعٰى أَحَدُهُمَا ثَمَنًا وَادَّعَى الْبَائِعُ أَكْثَرَ مِنْهُ او له هغو څخه يو د څه ثمن دعویٰ وکړي او بائع له هغه څخه د زيات ثمن دعویٰ وکړي أَوِ اعْتَرَفَ الْبَائِعُ بِقَدْرٍ مِنَ الْمَبِيعِ وَادَّعَى الْمُشْتَرِي أَكْثَرَ مِنْهُ يا بائع د مبيع ديوه مقدار اقرار وکړي او مشتري له هغه څخه د زيات مقدار دعویٰ وکړي وَأَقَامَ أَحَدُهُمَا الْبَيِّنَةَ او له هغو څخه [صرف] يو بيّنه پيش کړي قُضِيَ لَهُ بِهَا نو د هغه لپاره به د بينې مطابق فيصله کيږي لِأَنَّ فِي الْجَانِبِ الْآخَرِ مُجَرَّدَ الدَّعْوٰى ځکه چي په دويم طرف کي يوازي دعویٰ ده وَالْبَيِّنَةُ أَقْوٰى مِنْهَا او بيّنه له يوازي دعویٰ څخه زياته قوي ده وَإِنْ أَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةً او که له هغو څخه هر يو بيّنه پيش کړي كَانَتِ الْبَيِّنَةُ الْمُثْبِتَةُ لِلزِّيَادَةِ أَوْلٰى نو د زياتوب ثابتونکي بيّنه به اولیٰ [او معتبره] وي لِأَنَّ الْبَيِّنَاتِ لِلْإِثْبَاتِ ځکه چي بينې [ګواهياني] د ثابتولو لپاره وي وَلَا تَعَارُضَ فِي الزِّيَادَةِ او په زياتوب کي هيڅ تعارض نسته وَلَوْ كَانَ الْاِخْتِلَافُ فِي الثَّمَنِ وَالْمَبِيعِ جَمِيعًا او که اختلاف په ثمن او بيع دواړو کي وي فَبَيِّنَةُ الْبَائِعِ أَوْلٰى فِي الثَّمَنِ نو په ثمن کي د بائع بيّنه اولیٰ ده وَبَيِّنَةُ الْمُشْتَرِي أَوْلٰى فِي الْمَبِيعِ او په مبيع کي د مشتري بيّنه اولیٰ ده نَظَرًا إِلٰى زِيَادَةِ الْإِثْبَاتِ داثبات د زياتوب وطرف ته په نظر کولو سره وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةٌ او که چيري

د هر يوه لپاره بيّنه نه وي قِيْلَ لِلْمُشْتَرِيْ: إِمَّا أَنْ تَرْضٰى بِالثَّمَنِ الَّذِىْ ادَّعَاهُ الْبَائِعُ وَإِلَّا فَسَخْنَا الْبَيْعَ نو مشتري ته به ووېل کيږي چي: يا ته به په هغه ثمن راضي کيږې د کوم چي بائع دعوىٰ کوي [يا] کنې مونږ بيع فسخ کوو وَقِيْلَ لِلْبَائِعِ: إِمَّا أَنْ تُسَلِّمَ مَا ادَّعَاهُ الْمُشْتَرِيْ مِنَ الْمَبِيعِ وَإِلَّا فَسَخْنَا الْبَيْعَ او بائع ته به ووېل کيږي: يا ته به هغه مبيع [مشتري ته] ورسپارې! د کوم چي مشتري دعوىٰ کوي [يا] کنې مونږ بيع فسخ کوو لِأَنَّ الْمَقْصُودَ قَطْعُ الْمُنَازَعَةِ ځکه چي مقصود د جنګ [او اختلاف] ختمول دي وَهٰذِهِ جِهَةٌ فِيهِ او دا هم د جنګ ختمولو يوه طريقه ده لِأَنَّهُ رُبَّمَا لَا يَرْضَيَانِ بِالْفَسْخِ ځکه چي زياتره وخت بائع او مشتري په فسخ کولو نه راضي کيږي فَإِذَا عَلِمَا بِهِ يَتَرَاضَيَانِ لهذا کله چي هغوی په فسخ کولو خبر سي [چي... قاضي زمونږ بيع فسخ کوي] نو بيا به دواړه سره راضي سي.

**اللغات**: ﴿متبايعان﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه اسم فاعل صيغه ده: دواړه بيع کونکی (عاقدَين)، خرڅونکي او رانيونکی، بائع او مشتري، ﴿ثمن﴾ قيمت، نرخ (ربېټ)، ﴿مجرد﴾ د تفعيل د باب اسم مفعول دی: خالي، محض، يوازي، ﴿منازعة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: جنګ، جګړه، (اختلاف او جنجال)، ﴿يتراضيان﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه مذکر غائب صيغه ده: يو تربله راضي کېدل، دواړه سره راضي کېدل.

**تشريح: صورت د مسئلې**: که بائع او مشتري د ثمن په مقدار کي اختلاف وکړي، مشتري ووايي چي ثمن سل روپۍ دی او بائع ووايي چي نه! بلکي يو نيم سل روپۍ دی، يا دواړه د مبيع په مقدار کي اختلاف وکړي، بائع ووايي چي مبيع پنځوس (۵۰) کېلو غنم دي او مشتري ووايي چي اويا کېلو (۷۰) کېلو غنم دي، او په دوی کي صرف يو پر خپله دعوىٰ بيّنه پېش کړي او بل مدعي له بيّنه پېشولو څخه عاجز سي، نو کوم يو چي بيّنه پېش کړي، د هغه په حق کي به فيصله کيږي، ځکه چي د بيّنه پېشولو په وجه د هغه دعوىٰ مضبوطه سوه او د هغه په مقابله کي دويم طرف ته يوازي (خالي) دعوىٰ ده، نو ځکه د بيّنه پېشونکي فريق دعوىٰ به له محض دعوىٰ کونکي فريق څخه راجح وي.

**وإن أقام كل واحد إلخ**: د دې حاصل دا دی چي که بائع او مشتري دواړه پر خپله دعوىٰ بيّنه پېش کړي، نو د کوم يوه بيّنه چي زياتوب (زيادت) ثابتونکې وي، د هغه پر بيّنه به فيصله کيږي، ځکه چي بينات د اثبات (ثابتولو) لپاره وضع سوي دي، لهذا کله د کوم يوه بيّنه چي زياتوب لره مثبته

وي، صرف هغه به معتبره او مقبوله وي، او څرنګه چي دا بیّنه کوم چي زیاتوب ثابتوي د هغه بینې معارض هم نه ده کوم چي کمي (کمښت) ثابتوي، نو ځکه په دې حواله سره به هم مُثبِت للزیادة والا بیّنه معتبره وي او صرف هغه به قبلول کیږي.

ولوکان الاختلاف إلخ: فرمایي که چیري بائع او مشتري د ثمن او مبیع دواړو په هکله اختلاف وکړي، بایع ووایي چي ما دا غلام په زر درهمه پر مشتري خرڅ کړی دی او مشتري ووایي چي ما د دې غلام سره بله مینځه هم له بائع څخه رانیولې ده او هغه مي هم دواړه صرف په اته سوه ځني رانیولي دي، او هر یو پر خپله دعویٰ بیّنه پېش کړي، نو حکم دا دی چي د ثمن په مقدار کي به د بائع بیّنه قبلول کیږي، ځکه چي هغه په ثمن کي د زیاتوب ثابتونکې ده، او د مبیع په مقدار کي به د مشتري بیّنه قبلول کیږي، ځکه چي هغه په مبیع کي زیاتوب ثابتونکې ده.

او که صورت حال داسي وي چي د یوه سره هم بیّنه نه وي، نو قاضي به مشتري ته وایي چي "وروره! یا ته په هغه ثمن راضي سه! کوم چي یې بائع دعویٰ کوي یا بیا موږ دا بیع فسخ کوو"، او بائع ته به وایي چي "یا ته د مبیع په هغه مقدار راضي سي کوم چي یې مشتري دعویٰ کوي، یا د بیع فسخ کولو ته تیار سه!"، ځکه مقصود دا دی چي د دواړو په مینځ کي جنګ او ختلاف ختم کړل سي، او د بیع فسخ کولو دمکي ورکول هم د جنګ ختمولو یوه طریقه ده، ځکه چي عاقدین د بیع په فسخ کولو نه راضي کیږي او د قاضي له دمکی څخه وروسته هغوی دواړه په خپل مینځ کي صلح کولو ته تیاریږي او د فسخ له بیري یو د بل سره په صلح کولو راضي کیږي.

## په مخکنی مسئله کي د بیّنې د نشتوالي تفصیل

| |
|---|
| فَإِنْ لَمْ يَتَرَاضَيَا او که چیري دواړه سره راضي نه سي اِسْتَحْلَفَ الْحَاكِمُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلٰى دَعْوَى الْآخَرِ نو قاضي به په دوی کي له هر یوه څخه د بل یوه پر دعویٰ قسم اخلي وَهٰذَا التَّحَالُفُ قَبْلَ الْقَبْضِ عَلٰى وِفَاقِ الْقِيَاسِ او دا له دواړو څخه قسم اخیستل تر قبضې مخکي د قیاس موافق دي لِأَنَّ الْبَائِعَ يَدَّعِي زِيَادَةَ الثَّمَنِ وَالْمُشْتَرِي يُنْكِرُهُ ځکه چي بائع د ثمن د زیاتوالي دعویٰ کوي او مشتري له دې څخه انکار کوي وَالْمُشْتَرِي يَدَّعِي وُجُوبَ تَسْلِيمِ الْمَبِيعِ بِمَا نَقَدَ وَالْبَائِعُ يُنْكِرُهُ او مشتري چي کوم ثمن [بائع ته] ورکړی دی د هغه په عوض کي د مبیع سپارلو دعویٰ کوي او بائع له دې څخه انکار کوي فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مُنْكِرٌ نو له دوی څخه هر یو منکر دی فَيُحَلَّفُ نو ځکه له هر یوه څخه به |

قسم اخيستل کيږي فَأَمَّا بَعْدَ الْقَبْضِ فَمُخَالِفٌ لِلْقِيَاسِ او پاته سو تر قبضې وروسته [له دواړو څخه قسم اخيستل] نو هغه د قياس مخالف دي لِأَنَّ الْمُشْتَرِيَ لَا يَدَّعِيْ شَيْئًا ځکه چي مشتري د هيڅ شي دعوىٰ نه کوي لِأَنَّ الْمَبِيْعَ سَالِمٌ لَهُ ځکه چي د هغه لپاره مبيع صحيح سالم ده فَبَقِيَ دَعْوَى الْبَائِعِ فِي زِيَادَةِ الثَّمَنِ وَالْمُشْتَرِيْ يُنْكِرُهَا نو د بائع دعوىٰ د ثمن په زياتوب کي باقي پاته سوه او مشتري له هغه څخه انکار کوي فَيُكْتَفٰى بِحَلْفِهِ نو ځکه د مشتري پر قسم اخيستلو به اکتفاء کيږي لٰكِنَّا عَرَفْنَاهُ بِالنَّصِّ لېکن له دواړو څخه قسم اخيستل موږ په نص سره پېژندلي دي وَهُوَ قَوْلُهُ عليه السلام: «إِذَا اخْتَلَفَ الْمُتَبَايِعَانِ وَالسِّلْعَةُ قَائِمَةٌ بِعَيْنِهَا او هغه د نبي ﷺ دا فرمان دی: "کله چي دواړه بيع کونکي اختلاف وکړي او سامان [مبيع] بعينه موجود وي تَحَالَفَا وَتَرَادَّا نو دواړه به قسم اخلي او بيع به ردّ کوي.

**اللغات:** ﴿وفاق﴾ مواقت، مطابقت. ﴿التحالف﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو له بل څخه (يو تر بله) قسم اخيستل، له دواړو څخه قسم اخيستل. ﴿نَقَدَ﴾ د نصر د باب ماضي ده: اداء کول (نقد ورکول). ﴿سِلْعة﴾ سامان (تجارتي سامان). ﴿ترادّا﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده: يو بل ته (يو تر بله) واپس کول، يو تر بله ردول.

**تشريح: صورت د مسئلې:** که بائع او مشتري دواړه اختلاف سره وکړي، او د يوه سره هم بيّنه نه وي او د قاضي د دمکي باوجود دواړه په صلح کولو راضي نه سي، نو بيا به قاضي له بائع او مشتري دواړو څخه يو د بل پر دعوىٰ قسم اخلي او د دواړو تر قسم اخيستلو وروسته به بيع فسخ کوي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي له دواړو څخه د قسم اخيستلو دغه حکم که چيري (پر مبيع) د مشتري له قبضه کولو څخه مخکي وي، نو بيا دا حکم د قياس موافق دی، او که چيري (پر مبيع) د مشتري تر قبضه کولو وروسته وي، نو د قياس مخالف دی؛ تر قبضه کولو مخکي دا حکم په دې وجه د قياس موافق دی، ځکه چي بائع د ثمن د زياتوب دعوىٰ کوي او مشتري له دې څخه انکار کوي، همدارنګه مشتري چي بائع ته کوم ثمن ورکړی دی، مشتري د هغه په عوض کي پر بائع د تسليم المبيع د وجوب دعوىٰ کوي (يعني دا دعوىٰ کوي چي زما دې ثمن په عوض کي پر تا واجب دي چي

● تخريج: أخرجه ابن ماجه، باب البيعان يختلفان، حديث رقم:۲۱۸۶، بمعناه

ما ته مبيع وسپارې!) او بائع له دې څخه انکار کوي، نو په دې اعتبار سره بائع او مشتري دواړه منکر (انکار کونکي) دي، نو ځکه به له دواړو څخه قسم اخيستل کيږي، لکه څرنګه چې په دې حديث "البيّنةُ على المدّعي واليمينُ على مَن أنكر" سره پر منکر د قسم وجوب ثابت دی.

او که چيرې مشتري پر مبيع قبضه کړې وي، نو بيا له دواړو څخه قسم اخيستل په دې وجه د قياس مخالف دي، ځکه کله چې مشتري پر مبيع قبضه وکړه، نو ښکاره خبره ده چې مبيع صحيح سالم د هغه په قبضه کې راغله، او اوس هغه د تسليم المبيع د وجوب مدعي پاتـه نه سو چې بائع له هغه څخه انکار وکړي، بلکې اوس صرف بائع د ثمن د زياتوب مدعي دی او مشتري له هغه څخه منکر دی، نو ځکه د قياس او قاعدې پر بناء خو په دې صورت کې صرف له مشتري څخه قسم اخيستل پکار دي، لېکن مورډ د نص نبوي په وجه په دې صورت کې هم له دواړو څخه د قسم اخيستلو حکم کړی دی، لهذا دا حکم که هر څومره د قياس مخالف وي لېکن بيا به هم مورډ پر نص عمل کوو او له دواړو څخه به قسم اخلو، او نص دا دی "إذا اختلف المتبايعان والسلعة قائمةٌ بعينها تحالفا وترادّا" (يعني کله چې بائع او مشتري اختلاف وکړي او سامان (مبيع) بعينهٖ موجود وي، نو دواړه به قسم اخلي او بيع به ردوي).

## اول به له چا څخه قسم اخيستل کيـږي؟

قَالَ: وَيَبْتَدِئُ بِيَمِينِ الْمُشْتَرِي فرمايي: او قاضي به د مشتري په قسم سره شروع کوي وَهٰذَا قَوْلُ مُحَمَّدٍ او دا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی وَأَبِي يُوسُفَ آخِرًا او [همدا] د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله آخري قول دی وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ او دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت [هم] دی وَهُوَ الصَّحِيحُ او همدا صحيح قول دی لِأَنَّ الْمُشْتَرِيَ أَشَدُّهُمَا إِنْكَارًا ځکه چې له دوی دواړو څخه مشتري سخت انکار والا دی [يعني په بائع او مشتري کې د مشتري انکار زيات سخت دی] لِأَنَّهُ يُطَالِبُ أَوَّلًا بِالثَّمَنِ ځکه چې د ثمن مطالبه اول له هغه څخه کيږي أَوْ لِأَنَّهُ يَتَعَجَّلُ فَائِدَةَ النُّكُولِ وَهُوَ إِلْزَامُ الثَّمَنِ يا ځکه چې د انکار فايده يعني ثمن لازمول ژر ښکاره کيږي وَلَوْ بَدَأَ بِيَمِينِ الْبَائِعِ او که چيرې قاضي د بائع په قسم سره شروع کړي تَتَأَخَّرُ الْمُطَالَبَةُ بِتَسْلِيمِ الْمَبِيعِ إِلَى زَمَانِ اسْتِيفَاءِ الثَّمَنِ نو د مبيع سپارلو مطالبه د هغه د ثمن اخيستلو تر زمانې پورې ځنډيږي وَكَانَ أَبُو يُوسُفَ يَقُولُ أَوَّلًا: يَبْدَأُ

بِيَمِينِ الْبَائِعِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله به اول فرمايل: چي قاضي به د بائع په قسم سره شروع کوي لِقَوْلِهِ الطَّيِّلاً [1] : «إِذَا اخْتَلَفَ الْمُتَبَايِعَانِ فَالْقَوْلُ مَا قَالَهُ الْبَائِعُ» ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "کله چي بائع او مشتري اختلاف وکړي نو هغه خبره معتبره ده کوم چي يې بائع وايي" خَصَّهُ بِالذِّكْرِ [په دې حديث کي] نبي کريم ﷺ بائع په ذکر سره خاص کړی دی [يعني خاص د بائع ذکر او يادونه يې کړې ده] وَأَقَلُّ فَائِدَتِهِ التَّقْدِيمُ او د تخصيص کمتره فايده مخکي کول دي [يعني د تخصيص کمه فايده دا ده چي بايع مخکي کړی سي].

**اللغات**: ﴿يبتدئ﴾ د افتعال د باب مضارع ده: شروع کول، ﴿نُکُول﴾ د نصر د باب مصدر دی: له قسم څخه انکار کول، ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: پوره اخيستل، يو حق (مثلاً ثمن) اخيستل، ترلاسه کول، ﴿تقديم﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مخکي کول.

**تشريح**: **مسئله**: دا ده چي په کوم صورت کي له بائع او مشتري دواړو (عاقدَينو) څخه قسم اخيستل کيږي، په هغه صورت کي به قاضي له مشتري څخه د قسم شروع کوي يعني اول به له مشتري څخه قسم اخلي او بيا به يې له بائع څخه اخلي، دا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی او همدا د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله آخري قول دی او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه هم يو روايت داسي نقل سوی دی، او همدا صحيح قول دی؛ ځکه چي د مشتري انکار سخت دی، او سخت ځکه دی چي کله له مشتري څخه د ثمن مطالبه کيږي، نو هغه دوو شيانو انکار کوي: ① يو د اصل ثمن واجبېدلو انکار کوي، ② او دويم د وجوب اداء انکار کوي (يعني دويم د ثمن اداء کولو د واجبېدلو انکار کوي)، او کله چي داسي ده، نو د هغه انکار سخت سو، او بل دا چي اول له مشتري څخه د ثمن مطالبه کيږي، لهذا کله چي اول له مشتري څخه د ثمن مطالبه کيږي، نو د هغه انکار به هم اول او مخکي وي، او د انکار مخکي کېدل د هغه د سخت والي دليل دی، او بل دا چي د مشتري د انکار (نکول) فايده فوراً ښکاره کيږي، يعني کله چي مشتري له قسم څخه انکار وکړي نو پر هغه فوراً ثمن لازميږي، او د بائع د نکول فايده تر يو زماني پوري مؤخره کيږي، فوراً نه ښکاره کيږي، يعني کله چي قاضي اول له بائع څخه قسم واخلي او هغه انکار وکړي، نو د بائع د ثمن اخيستلو تر زماني پوري (يعني کله چي هغه له مشتري څخه ثمن واخلي، تر هغه وخته پوري) له بائع څخه د مبيع سپارلو مطالبه ځنډيږي، نو په دې وجه به هم اول له مشتري څخه قسم اخيستل کيږي.

---

[1] تخريج: أخرجه البيهقي، باب اختلاف المتبايعين، حديث رقم: ۱۱۱۲۰. بمعناه

امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي قسم به اول له بائع څخه اخيستل کيږي؛ ځکه په حديث کي ذکر سوي دي چي "کله عاقدين اختلاف وکړي، نو قول د بائع معتبر دی"، څرنګه چي په دې حديث کي نبي کريم ﷺ خاص بائع ذکر کړی دی، نو ځکه په دې تخصيص سره به کم از کم د تقديم (مخکي کولو) فايده ضرور حاصليږي او د بائع قسم به مخکي کول کيږي. لهذا ثابته سوه چي له بائع څخه به مخکي قسم اخيستل کيږي. ليکن له مشتري څخه په قسم اخيستلو کي هغه فايده ده کوم چي موږ مخکي ذکر کړه، نو ځکه د هغه فايدې په خاطر به اول له مشتري څخه قسم اخيستل کيږي (او بل دا چي حقيقي او اصلي منکر مشتري دی، او له منکر څخه قسم اخيستل د دې حديث "واليمين على من أنكر" په روی سره واضح دي. لهذا کله چي له مشتري څخه قسم اخيستل واضح دي، نو د هغه د قسم مقدم کول [مخکي کول] به هم واضح وي).

## د هغه صورتونو بيان چي په هغه کي اول له مشتري څخه قسم نه اخيستل کيږي، بلکي قاضي ته اختيار وي

وَإِنْ كَانَ بَيْعُ عَيْنٍ بِعَيْنٍ أَوْ ثَمَنٍ بِثَمَنٍ او که چيري د عَين شي بيع د عَين شي په عوض کي وي يا د ثمن بيع د ثمن په عوض کي وي بَدَأَ الْقَاضِي بِيَمِينِ أَيِّهِمَا شَاءَ نو قاضي چي د کوم يوه په قسم سره وغواړي شروع دي وکړي لِاسْتِوَائِهِمَا ځکه چي [په دې صورت کي] هغوی دواړه سره برابر دي وَصِفَةُ الْيَمِينِ أَنْ يُحَلَّفَ الْبَائِعُ بِاللهِ مَا بَاعَهُ بِأَلْفٍ وَيُحَلَّفَ الْمُشْتَرِيْ بِاللهِ مَا اشْتَرَاهُ بِأَلْفَيْنِ او د قسم طريقه دا ده چي له بائع څخه [داسي] قسم واخيستل سي "په الله قسم! ما پر مشتري دا شی په زر درهمه نه دی خرڅ کړی او له مشتري څخه [داسي] قسم واخيستل سي "په الله قسم! ما دا شی په دوه زره نه دی رانيولی" وَقَالَ فِي الزِّيَادَاتِ: يُحَلَّفُ بِاللهِ مَا بَاعَهُ بِأَلْفٍ وَلَقَدْ بَاعَهُ بِأَلْفَيْنِ او امام محمد رَحِمَهُ الله په "زيادات" کي فرمايلي دي: چي له بائع څخه به [داسي] قسم اخيستل کيږي "په الله قسم! ما دا شی په زر درهمه نه دی خرڅ کړی بلکي په دوه زره مي خرڅ کړی دی وَيُحَلَّفُ الْمُشْتَرِيْ بِاللهِ مَا اشْتَرَاهُ بِأَلْفَيْنِ وَلَقَدِ اشْتَرَاهُ بِأَلْفٍ او له مشتري څخه به [داسي] قسم اخيستل کيږي "په الله قسم! ما دا شی په دوه زره نه دی رانيولی بلکي په زر مي رانيولی دی يُضَمُّ الْإِثْبَاتُ إِلَى النَّفْيِ تَأْكِيدًا [يعني] د تاکيد لپاره به اثبات د نفي سره يو ځای کول کيږي وَالْأَصَحُّ الْاِقْتِصَارُ عَلَى النَّفْيِ [ليکن] زيات صحيح پر نفي اکتفاء کول دي لِأَنَّ الْأَيْمَانَ عَلَى ذٰلِكَ وُضِعَتْ ځکه چي قسمونه پر نفي وضع

سوي دي دَلَّ عَلَيْهِ حَدِيثُ الْقَسَامَةِ «بِاللهِ مَا قَتَلْتُمْ وَلَا عَلِمْتُمْ لَهُ قَاتِلًا» لکه څرنګه چي د قسامت حديث پر همدې دلالت کوي [چي په هغه کي په دې الفاظو سره قسم اخيستل سوی دی] "په الله قسم! نه تاسو [دا کس] قتل کړی دی او نه تاسو د هغه يو قاتل پېژنی".

**اللغات**: ﴿عَين﴾ مُتعيّن شی، ﴿يحلف﴾ په دې کي دوه احتماله سته يو دا چي د تفعيل له بابه وي چي د هغه معنیٰ ده: له بل چا څخه قسم اخيستل، او بل دا چي د ضربه له بابه وي (يعني لازمي وي) نو د هغه معنیٰ ده: په خپله قسم اخيستل فافهم. ﴿يُضم﴾ د نصر له بابه د مضارع مجهولي صيغه ده: ضمول، ور سره يو ځای کول.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی چي کله د يوه شي بيع د بل شي په عوض کي وسي (د ثمن په عوض کي نه وسي)، يا د ثمن بيع د ثمن په عوض کي وسي، او بيا بائع او مشتري اختلاف وکړي، نو په دې صورت کي قاضي ته اختيار دی که له هر يوه څخه اول قسم اخلي، ځکه په دې دواړو عقدونو کي په دعویٰ او د قسم په انکار کي بائع او مشتري دواړه (فريقين) سره برابر دي، نو ځکه په قسم کي به هم دواړه سره برابر وي او له هر يوه څخه به شروع کول برابر وي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: د قسم طريقه دا ده چي قاضي به پر نفي قسم اخلي، يعني له بائع څخه به داسي قسم اخلي "په الله قسم! ما پر مدعي فلانکی شی (مثلا) په سل درهمه نه دی خرڅ کړی" او له مشتري څخه به داسي قسم اخلي "په الله قسم! ما هغه (مثلا) په يو نيم سل درهمه نه دی رانيولی". لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله په "زيادات" کي فرمايلي دي چي په قسم اخيستلو کي د تاکيد پيدا کولو لپاره به د نفي سره اثبات هم يو ځای کول کيږي، يعني له بائع څخه به داسي قسم اخيستل کيږي "په الله قسم! ما هغه په سل درهمه نه دی خرڅ کړی بلکي په يو نيم سل مي خرڅ کړی دی"، او له مشتري څخه به داسي قسم اخيستل کيږي "په الله قسم! ما هغه په يو نيم سل نه دی رانيولی بلکي په سل مي رانيولی دی".

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي اصح او معتمد قول دا دی چي صرف پر نفي به قسم اخيستل کيږي، او د تاکيد لپاره د نفي سره د اثبات يو ځای کولو ته ضرورت نسته؛ ځکه د "قسامة" په حديث کي چي کوم د قسم اخيستلو خبره ذکر سوې ده، په هغه کي صرف نفي سته، تاکيد نسته. د قسامت د حديث حاصل دا دی چي که په يو محله (کلي) کي وژل سوی کس پيدا سي، او قاتل يې معلوم نه سي، نو د وژل سوي کس وليان به له هغه محلي څخه پنځوس خلک انتخابوي او له هغو څخه به داسي قسم اخلي "په الله قسم! نه موږ هغه قتل کړی دی او نه موږ د هغه قاتل

پېژنو "(يعني هريو به دا قسم اخلي، "په الله قسم! ما نه هغه قتل کړی دی او نه زه د هغه قاتل پېژنم")، لنډه دا چې د قسامت په حديث کې صرف پر نفي قسم اخيستل سوی دی، نه پر اثبات. نو له دې څخه معلومه سوه چې صرف پر نفي به قسم اخيستل کيږي.

## د بائع او مشتري دواړو د قسم اخيستلو حکم

قَالَ: فَإِنْ حَلَفَا فرمايي: که دواړه قسم واخلي فَسَخَ الْقَاضِي الْبَيْعَ بَيْنَهُمَا نو قاضي به د هغو په مينځ کې بيع فسخ کوي وَهٰذَا يَدُلُّ عَلَىٰ أَنَّهُ لَا يَنْفَسِخُ بِنَفْسِ التَّحَالُفِ او دا پر دې خبره دلالت کوي چې په نفس تحالف سره بيع نه فسخ کيږي لِأَنَّهُ لَمْ يَثْبُتْ مَا ادَّعَاهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا ځکه له دوی څخه چې هريو د کوم څه دعویٰ کړې وه هغه [په دې صورت کې] ثابته نه سوه فَيَبْقَىٰ بَيْعٌ مَجْهُولٌ نو ځکه دا به د مجهول شي بيع پاته سي [لنډه دا چې دا بيع مجهوله پاته سوه] فَيَفْسَخُهُ الْقَاضِي قَطْعًا لِلْمُنَازَعَةِ نو ځکه د جنګ [او اختلاف] د ختمولو لپاره به قاضي هغه فسخ کوي أَوْ يُقَالُ: إِذَا لَمْ يَثْبُتِ الْبَدَلُ يا داسې به ويل کيږي: چې کله بدل ثابت نه سي يَبْقَىٰ بَيْعًا بِلَا بَدَلٍ نو بيع به بلا عوضه پاته سي وَهُوَ فَاسِدٌ او داسې بيع فاسده ده وَلَا بُدَّ مِنَ الْفَسْخِ فِي الْبَيْعِ الْفَاسِدِ او د بيع فاسد فسخ کول ضروري دي قَالَ: وَإِنْ نَكَلَ أَحَدُهُمَا عَنِ الْيَمِينِ فرمايي: او که له دواړو عاقدينو [بائع او مشتري] څخه صرف يو له قسم څخه انکار وکړي لَزِمَهُ دَعْوَى الْآخَرِ نو پر هغه [منکر عاقد] د بل عاقد دعویٰ لازميږي لِأَنَّهُ جُعِلَ بَاذِلًا ځکه چې منکر بازل ګرځول سوی دی فَلَمْ يَبْقَ دَعْوَاهُ مُعَارِضًا لِدَعْوَى الْآخَرِ نو ځکه د هغه دعویٰ د بل عاقد د دعوې سره معارض پاته نه سوه فَلَزِمَ الْقَوْلُ بِثُبُوتِهِ لهذا د هغه د ثبوت قائل کېدل لازم سو.

**اللغات:** ﴿منازعة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: جنګ، جګړه، اختلاف او جنجال. ﴿باذل﴾ د نصر له بابه اسم فاعل دی: خرڅونکی (مصرفونکی، په رضا سره خپل حق ورکولو ته آماده).

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی چې کله بائع او مشتري دواړه پر خپله دعویٰ قسم واخلي، نو قاضي به د هغو بيع فسخ کوي. د متن له دغه حکم څخه دا خبره معلومه سوه چې محض د دواړو په قسم اخيستلو سره (په خپله) بيع نه فسخ کيږي، تر څو چې قاضي هغه فسخ نه کړي؛ ځکه کله چې دواړه قسم واخلي يعني هريو د بل يوه دعویٰ نه مني او هغه درواغجن ګڼي، نو د يوه دعویٰ هم ثابته نه

سوه، لهذا بيع (د ثمن يا مبيع يا د دواړو د مجهول کېدلو په وجه) مجهوله سوه، او مجهوله بيع د اختلاف او جنګ سبب جوړېږي، نو ځکه د اختلاف او جنګ ختمولو لپاره به قاضي دا بيع فسخ کوي.

په بله وينا داسي هم ويل کېداى سي چي دلته د بائع او مشتري په اقوالو کي تعارض راغلی او يو هم د بل يوه سره پر بدل (عوض) متفق او راضي نه دی، نو ځکه دا بيع بلا بدل (بېله بدله) پاته سوه، او بيع بلا بدل فاسده بيع ده (مطلب دا چي په کومه بيع کي بدل نه وټاکل سي نو هغه فاسدېږي)، او د بيع فاسد فسخ کول واجب دي، لېکن څرنګه چي هغوی دواړو دغه بيع نه ده فسخ کړي، نو ځکه قاضي به د هغوی د قائم مقام په توګه دا بيع فسخ کوي.

قال وإن نكل إلخ: فرمايي که له بائع او مشتري څخه صرف يو له قسم څخه انکار وکړي، نو پر منکر د هغه بل عاقد دعوی لازميږي (مثلا که مشتري له قسم څخه انکار وکړي، نو پر هغه د بائع دعوی لازميږي)، ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول مطابق منکر باذل دی (يعني په رضا سره د خپل حق ورکولو ته آماده دی)، او کله چي داسي ده، نو د هغه دعوی د بل عاقد د دعوې سره معارض پاته نه سوه او د جنګ او اختلاف دروازه بنده سوه، نو ګواکي منکر د بل يوه د دعوې د ثبوت قائل سو، نو ځکه پر منکر به د هغه بل عاقد (فريق ثاني) دعوی لازميږي او قاضي به د هغه (بل عاقد) د دعوی مطابق فيصله کوي.

## په کومو صورتونو کي به له عاقدينو څخه قسم اخيستل کيږي؟

قَالَ: وَإِنِ اخْتَلَفَا فِي الْأَجَلِ أَوْ فِي شَرْطِ الْخِيَارِ أَوْ فِي اسْتِيفَاءِ بَعْضِ الثَّمَنِ فرمايي: که چيري بائع او مشتري په ميعاد کي يا په خيار شرط کي يا د څه ثمن په اخيستلو کي اختلاف وکړي فَلَا تَحَالُفَ بَيْنَهُمَا نو د دوی په مينځ کي تحالف نسته لِأَنَّ هَذَا اخْتِلَافٌ فِي غَيْرِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ وَالْمَعْقُودِ بِهِ ځکه چي دا له معقود عليه او معقود به څخه بغير په بل شي کي اختلاف کول دي فَأَشْبَهَ الِاخْتِلَافَ فِي الْحَطِّ وَالْإِبْرَاءِ لهذا دا داسي سو لکه [د ثمن] په کمولو او بري کولو [معافولو] کي اختلاف کول وَهَذَا لِأَنَّ بِانْعِدَامِهِ لَا يَخْتَلُّ مَا بِهِ قِوَامُ الْعَقْدِ او دا ځکه چي د مذکوره شيانو په نشتوالي سره په هغه شي کي خلل نه راځي چي په هغه سره عقد قائم وي بِخِلَافِ الِاخْتِلَافِ فِي وَصْفِ الثَّمَنِ وَجِنْسِهِ په خلاف د ثمن په وصف يا د ثمن په جنس کي د اختلاف کولو حَيْثُ يَكُونُ بِمَنْزِلَةِ الِاخْتِلَافِ فِي الْقَدْرِ فِي جَرَيَانِ التَّحَالُفِ نو دا اختلاف د تحالف جاري کېدلو په اعتبار سره په مقدار کي د اختلاف کولو په څېر

دی لِأَنَّ ذٰلِكَ يَرْجِعُ إِلَىٰ نَفْسِ الثَّمَنِ ځکه چي دا اختلاف د نفس ثمن وطرف ته راجع کيږي فَإِنَّ الثَّمَنَ دَيْنٌ ځکه چي ثمن دَين [دراهم او دنانير] وي وَهُوَ يُعْرَفُ بِالْوَصْفِ او هغه په وصف سره پيژندل کيږي وَلَا كَذٰلِكَ الْأَجَلُ او ميعاد [مياد] داسي نه دی لِأَنَّهُ لَيْسَ بِوَصْفٍ ځکه چي هغه وصف نه دی أَلَا تَرَىٰ أَنَّ الثَّمَنَ مَوْجُودٌ بَعْدَ مُضِيِّهِ آيا ته نه ګوري! چي د ميعاد [مياد] له تېرېدلو څخه وروسته هم ثمن باقي پاتيږي قَالَ: وَالْقَوْلُ قَوْلُ مَنْ يُنْكِرُ الْخِيَارَ وَالْأَجَلَ مَعَ يَمِينِهِ فرمايي: او قول د هغه عاقد معتبر دی د قسم سره کوم چي د خيار شرط او ميعاد انکار کوي لِأَنَّهُمَا يَثْبُتَانِ بِعَارِضِ الشَّرْطِ ځکه چي خيار شرط او اجل د شرط د عارض په وجه ثابتيږي وَالْقَوْلُ لِمُنْكِرِ الْعَوَارِضِ او قول د هغه کس معتبر وي کوم چي د عوارضو انکار کونکی وي.

**اللغات**: ﴿أجل﴾ ټاکل سوی وخت، ميعاد (مياد)، ﴿استيفاء﴾ د استفعال مصدر دی: اخيستل، ترلاسه کول، ﴿تحالف﴾ د تفاعل مصدر دی: يو له بل څخه قسم اخيستل، له دواړو څخه قسم اخيستل، ﴿حطّ﴾ د نصر مصدر دی: کمول (له بيع کولو څخه وروسته ثمن کمول)، ﴿إبراء﴾ د افعال د باب مصدر دی: بري کول، معاف کول (معافول)، ﴿دَين﴾ قرض، د عَين ضد، يعني دراهم او دنانير (نقود، پيسې).

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که بائع او مشتري د مبيع يا ثمن تر اخيستلو وروسته په ميعاد کي اختلاف وکړي يا په خيار شرط کي اختلاف وکړي يا د بعضي ثمن اخيستلو په هکله اختلاف وکړي (مثلاً مشتري ووايي چي ما له ثمن څخه څه حصه تا ته درکړې ده او بائع انکار وکړي)، نو په دې ټولو صورتونو کي زموږ په نېز له دواړو څخه به قسم نه اخيستل کيږي، بلکي کوم يو چي د ميعاد يا خيار شرط يا د بعضي ثمن اخيستلو منکر وي، صرف له هغه څخه به قسم اخيستل کيږي، ځکه د ميعاد، خيار شرط او بعضي ثمن اخيستلو چي کوم اختلاف دی هغه د معقود عليه يعني د مبيع او د معقود به يعني د اصل ثمن له اختلاف څخه جلا دی، او د نص په روی سره تحالف (له دواړو څخه قسم اخيستل) د مبيع يا د ثمن په اختلاف کي واجب دی، نه د بل شي په اختلاف کي، نو ځکه په مذکوره شيانو کي به د عاقدينو په اختلاف سره پر دواړو قسم نه واجبيږي، بلکي صرف پر منکر به واجب وي. او لکه څرنګه چي د ثمن کمولو يا ثمن معافولو په هکله عاقدين (بائع او مشتري) اختلاف وکړي، نو په دې سره تحالف نه واجبيږي، همداسي به په پورتني اختلاف سره هم تحالف نه واجبيږي.

پاتـه سو دا سوال چي د ميعاد، خيار شرط او داسي نورو اختلاف د معقود عليه او معقود بهٔ له اختلاف څخه ولي جلا دی؟، نو د هغه جواب دا دی چي د ميعاد، خيار شرط او داسي نورو په نشتوالي (ناموجود والي) سره په اصل عقد کي هيڅ خرابي نه لازميږي بلکي له دوی څخه بغير هم عقد صحيح او جائز ګرځي، حال دا چي که له معقود عليه او معقود بهٔ څخه يو شی موجود نه وي، نو په دې سره اصل عقد ختميږي، نو ځکه د خيار شرط، ميعاد او داسي نورو اختلاف به د معقود عليه او معقود بهٔ د اختلاف په څېر نه وي او په هغه اختلاف سره به تحالف نه واجبيږي.

بخلاف الاختلاف في وصف إلخ: د دې حاصل دا دی چي که عاقدين د ثمن په وصف يعني د ثمن په کَرَه والي او کوټه والي کي اختلاف وکړي يا د ثمن په جنس يعني د ثمن په دراهم کېدلو يا دنانير کېدلو کي اختلاف وکړي، نو دا اختلاف داسي دی لکه د ثمن په مقدار کي اختلاف کول، او د ثمن د مقدار اختلاف تحالف واجبوي، نو ځکه د ثمن د وصف او د هغه د جنس په اختلاف سره به هم تحالف واجبيږي؛ ځکه چي د ثمن د وصف او جنس اختلاف د اصل ثمن (نفس ثمن) و اختلاف ته راجع دی، ځکه چي ثمن دَين وي (يعني ثمن دراهم او دنانير [پيسې] وي، عَين شی نه وي) او د وصف په ذريعه د هغه کَرَه والی او کوټه والی پېژندل کيږي، نو ځکه د وصف اختلاف به د ثمن د اختلاف په څېر وي، او د ثمن اختلاف تحالف واجبوي، نو ځکه د وصف اختلاف به هم تحالف واجبوي.

او د ميعاد حال داسي نه دی، يعني د ميعاد اختلاف نه د ثمن د اختلاف په څېر دی او نه د مقدار ثمن د اختلاف په څېر دی؛ ځکه چي ميعاد د ثمن وصف نه دی، همدا وجه ده چي له ميعاد تېرېدلو څخه وروسته هم ثمن باقي پاتيږي، حال دا چي که ميعاد (ميادم) د ثمن وصف وای نو د هغه په تېرېدلو سره به خامخا په ثمن کي خلل راتلای، لهذا له ميعاد تېرېدلو څخه وروسته د ثمن بقاء (باقي پاتېدل) دې خبرې ته اشاره کوي چي ميعاد د ثمن وصف نه دی، نو ځکه د ميعاد په اختلاف سره به تحالف نه واجبيږي.

قال والقول إلخ: فرمايي کله چي د ميعاد، خيار شرط او د بعض ثمن اخيستلو په اختلاف سره تحالف نه واجبيږي، نو ځکه کوم عاقد چي په دغه شيانو کي له يو شي څخه منکر (انکار کوونکی) وي، نو صرف د هغه قول به مع اليمين معتبر وي (او صرف له هغه څخه به پر خپل قول قسم اخيستل کيږي)، ځکه چي ميعاد، خيار شرط او داسي نور د شرط د عارض په وجه عقد لره شامليږي (يعني کله چي د خيار يا د ميعاد شرط ولګول سي نو بيا دوی موجوديږي، کنې نه موجوديږي)، او کوم څوک چي د عوارضو منکر وي د هغه قول مع اليمين معتبر وي، نو ځکه کوم عاقد چي د مذکوره شيانو منکر وي، نو د هغه قول به هم مع اليمين معتبر وي.

## له مبيع هلاکېدلو څخه وروسته د بائع او مشتري تر مينځ د اختلاف راتللو يو صورت

قَالَ: فَإِنْ هَلَكَ الْمَبِيْعُ ثُمَّ اخْتَلَفَا فرمايي: او که چيري مبيع هلاکه سي بيا عاقدين اختلاف وکړي لَمْ يَتَحَالَفَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به له دوی دواړو څخه قسم نه اخيستل کيږي وَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُشْتَرِيْ او قول به د مشتري معتبر وي وَقَالَ مُحَمَّدٌ*: يَتَحَالَفَانِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي له دواړو څخه به قسم اخيستل کيږي وَيُفْسَخُ الْبَيْعُ عَلَى قِيمَةِ الْهَالِكِ او د هلاک سوي پر قيمت به بيع فسخ کول کيږي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول [هم] دی وَعَلَى هَذَا إِذَا خَرَجَ الْمَبِيْعُ عَنْ مِلْكِهِ او پر همدغه اختلاف دي کله چي مبيع د مشتري له ملکيت څخه ووځي أَوْ صَارَ بِحَالٍ لَا يَقْدِرُ عَلَى رَدِّهِ بِالْعَيْبِ يا مبيع په داسي حالت سره سي چي د عيب په وجه مشتري د هغه پر واپس کولو قدرت [او اختيار] نه لري لَهُمَا: أَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَدَّعِي غَيْرَ الْعَقْدِ الَّذِي يَدَّعِيهِ صَاحِبُهُ د امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي په دوی دواړو کي هر يو له هغه عقد څخه بغير [د بل عقد] دعویٰ کوي کوم چي يې د هغه ملګری دعویٰ کوي وَالْآخَرُ يُنْكِرُهُ او بل عاقد له هغه څخه انکار کوي وَأَنَّهُ يُفِيدُ دَفْعَ زِيَادَةِ الثَّمَنِ او هغه د ثمن د زياتوب دفع کولو [ليري کولو] فايده ورکوي فَيَتَحَالَفَانِ نو ځکه به له دواړو څخه قسم اخيستل کيږي كَمَا إِذَا اخْتَلَفَا فِي جِنْسِ الثَّمَنِ بَعْدَ هَلَاكِ السِّلْعَةِ لکه په هغه صورت کي [چي له دواړو څخه قسم اخيستل کيږي] کله چي عاقدين د سامان [مبيع] تر هلاکېدلو وروسته د ثمن په جنس کي اختلاف وکړي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ التَّحَالُفَ بَعْدَ الْقَبْضِ عَلَى خِلَافِ الْقِيَاسِ د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي تر قبضې وروسته له دواړو څخه قسم اخيستل خلاف القياس دی لِأَنَّهُ سَلَّمَ لِلْمُشْتَرِيْ مَا يَدَّعِيهِ ځکه چي بائع مشتري ته هغه مال ورکړی دی د کوم چي هغه دعویٰ کوي وَقَدْ وَرَدَ الشَّرْعُ بِهِ فِي حَالِ قِيَامِ السِّلْعَةِ [لېکن] شريعت پر دې د سامان [مبيع] د موجود والي په حالت

---

* القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ظهر من دأب المصنف رَحِمَهُ الله وأجاب عن قول محمد والشافعي رَحِمَهُمَا الله، وكذا في نتائج الأفكار (ج:۷، ص:۲۰)، والدر المختار (ج:۴،ص:۴۷۹). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۷۵]

کي وارد سوی دی وَالتَّحَالُفُ فِيهِ يُفْضِي إِلَى الْفَسْخِ او په دې کي تحالف [له دواړو څخه قسم اخيستل] د فسخ سبب ګرځي وَلَا كَذٰلِكَ بَعْدَ هَلَاكِهَا او د سامان [مبيع] له هلاکيدلو څخه وروسته داسي نه ده لِارْتِفَاعِ الْعَقْدِ ځکه چي [د مبيع په هلاکيدلو سره] عقد ختم سو فَلَمْ يَكُنْ فِي مَعْنَاهُ نو ځکه [د مبيع] د هلاک والي حالت [د مبيع] د موجود والي د حالت په معنیٰ سره نه دی وَلِأَنَّهُ لَا يُبَالِي بِالِاخْتِلَافِ فِي السَّبَبِ بَعْدَ حُصُولِ الْمَقْصُودِ او ځکه چي له مقصود حاصلېدلو څخه وروسته د سبب په اختلاف سره پروا نه کيږي وَإِنَّمَا يُرَاعَى مِنَ الْفَائِدَةِ مَا يُوجِبُهُ الْعَقْدُ او فايده هغه ملحوظ [او معتبره] وي کوم چي يې عقد واجبوي [يعني کوم چي د عقد له موجباتو څخه وي] وَفَائِدَةُ دَفْعِ زِيَادَةِ الثَّمَنِ لَيْسَتْ مِنْ مُوجَبَاتِهِ او د ثمن د زياتوب دفع کولو فايده د عقد له مُوجباتو څخه نه ده وَهٰذَا إِذَا كَانَ الثَّمَنُ دَيْنًا او دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي ثمن دَين وي فَإِنْ كَانَ عَيْنًا لېکن که ثمن عَين وي يَتَحَالَفَانِ نو له دواړو څخه به قسم اخيستل کيږي لِأَنَّ الْمَبِيعَ فِي أَحَدِ الْجَانِبَيْنِ قَائِمٌ ځکه چي په يوه طرف کي مبيع موجوده ده فَيُوَفَّرُ فَائِدَةُ الْفَسْخِ نو ځکه د فسخ فايده به پوره کيږي [ښکاره کيږي] ثُمَّ يَرُدُّ مِثْلَ الْهَالِكِ بيا به د هلاک سوي مثل واپس کيږي إِنْ كَانَ لَهُ مِثْلٌ که چيري د هغه لپاره مثل وي [يعني له ذواتُ الأمثال څخه وي] أَوْ قِيمَتُهُ يا به د هغه قيمت واپس کيږي إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مِثْلٌ که د هغه لپاره مثل نه وي [يعني له ذواتُ القِيَم څخه وي].

**اللغات**: ﴿لم يتحالفا﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه مذکر غائب جحد صيغه ده: يو له بل څخه قسم اخيستل، له دواړو څخه قسم اخيستل، يو تر بله قسم کول. ﴿سِلْعَة﴾ سامان، مراد ځني مبيع ده. ﴿يفضي﴾ د افعال د باب مضارع ده: رسول، رسېدل، سبب جوړېدل. ﴿فيوفر﴾ د ضرب له بابه د مضارع مجهولي صيغه ده: پوره کول، پوره کېد، زياتېدل، د افعال له بابه هم راتلای سي.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که پر مبيع د مشتري له قبضه کولو څخه وروسته مبيع هلاکه سي او بيا د ثمن په مقدار کي بائع او مشتري اختلاف وکړي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز حکم دا دی چي له دواړو څخه به قسم نه اخيستل کيږي او د ثمن د مقدار په هکله صرف د مشتري قول معتبر دی. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز له دواړو څخه به قسم اخيستل کيږي، همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله

قول هم دی، همدارنګه که مبيع د مشتري له قبضې څخه وتلې وي، يا مبيع داسي ګرځېدلې وي چي د عيب په وجه مشتري (بائع ته) د هغه پر واپس کولو قادر نه وي، يعني په دې صورتونو کي هم د عاقدَينو د اختلاف کولو په وخت کي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د قسم سره د مشتري قول معتبر دی، لېکن د امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نيز تحالف واجب دی (يعني له دواړو څخه به قسم اخيستل کيږي).

**دليل**: د امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي دلته له عاقدَينو (بائع او مشتري) څخه هر يو د جلا عقد دعوىٰ کوي (يعني هر يو د غير او عليحده بيع دعوىٰ کوي)، مثلاً بائع د دوه زره درهمو (يا مثلاً د يو نيم سل درهمو) په عوض کي د بيع کولو دعوىٰ کوي او مشتري د زر درهمو (يا مثلاً د سل درهمو) په عوض کي د بيع کولو دعوىٰ کوي، او ښکاره خبره ده چي په زر او دوه زرو (يا په سل او يو نيم سلو) کي ښکاره تضاد دی، لېکن بيا هم دلته پر دواړو تحالف واجبول (يعني له دواړو څخه قسم اخيستل) فايده کوي، نو ځکه پر دواړو به تحالف واجب وي، او د تحالف فايده دا ده چي له دې دواړو عاقدَينو څخه چي کوم يو منکر وي، په تحالف سره به پر هغه د بل عاقد دعوىٰ لازمه سي، يعني که مشتري انکار کوي نو پر هغه به دوه زره ثمن واجب سي (کوم چي د بائع دعوىٰ ده)، او که بائع انکار کوي نو له مشتري څخه به د ثمن زياتوب دفع سي او پر هغه به زر درهمه ثمن واجب سي، لنډه دا چي کله تحالف فايده کوي نو ځکه له دواړو څخه به قسم اخيستل کيږي، او د دې مثال داسي دی لکه د مبيع تر هلاکېدلو وروسته چي عاقدين د ثمن په جنس کي اختلاف وکړي، مثلاً مشتري بائع ته داسي ووايي: زما او ستا په مينځ کي چي کوم ثمن ټاکل سوي وو هغه دراهم وه، او بائع ووايي چي دنانير وه، نو په دې صورت کي له دواړو څخه قسم اخيستل کيږي، لهذا همداسي به په پورتنۍ مسئله کي هم له دواړو څخه قسم اخيستل کيږي.

**د شيخينو دليل**: دا دی چي پر مبيع د مشتري له قبضه کولو څخه وروسته تحالف واجبول خلاف القياس دی؛ ځکه بائع مشتري ته هغه مال ورکړی دی د کوم چي مشتري دعوىٰ کوي، او شريعت په هغه صورت کي تحالف واجب کړی دی کله چي مبيع موجوده وي، لکه څرنګه چي په حديث کي ذکر سوي دي: "إِذَا اخْتَلَفَ الْمُتَبَايِعَانِ وَالسِّلْعَةُ قَائِمَةٌ بِعَيْنِهَا تَحَالَفَا وَتَرَادَّا"، ځکه د مبيع د موجود والي په صورت کي تحالف د فسخ سبب ګرځي، لېکن د مبيع د هلاک والي په صورت کي تحالف د فسخ سبب نه ګرځي؛ ځکه چي د مبيع په هلاکېدلو سره عقد ختم او ليري سو، نو ځکه تحالف (له

دواړو څخه قسم اخيستل) به هغه وخت واجب وي کله چي مبيع هلاکه سوې وي، لېکن که مبيع موجوده وي نو (د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز) به تحالف واجب نه وي.

ولأنه لا يبالي إلخ: په دې عبارت سره د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دويم دليل بيان سوی دی کوم چي د امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله د دليل جواب هم دی، هغه دا دی چي د مقصود له حاصلېدلو څخه وروسته د سبب د اختلاف اعتبار نه کيږي، او څرنګه چي دلته د بائع له طرفه مشتري ته مبيع سپارل سوې ده، نو ځکه د مشتري مقصود حاصل سوی دی، اوس صرف د دوه زره ثمن (يا مثلاً ديو نيم سل ثمن) په هکله د بائع دعویٰ باقي پاته ده او مشتري له هغه څخه منکر دی، نو ځکه په دې حواله سره به هم صرف پر مشتري قسم واجب وي.

وإنما يراعى إلخ: په دې سره د امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله د دليل جواب ورکوي چي هغو "دفع زيادة الثمن" د تحالف فايده ګرځولې وه، د جواب حاصل دا دی چي هغه فايده معتبره ده کوم چي د عقد له مُوجباتو څخه وي (يعني چي هغه په عقد سره واجبيږي او ثابتيږي)، او د ثمن د زياتوب دفع کولو فايده د عقد له مُوجباتو څخه نه ده، بلکي دا فايده د بائع له طرفه د انکار قسم له مُوجباتو څخه ده (يعني دا فايده د بائع په انکارِ قسم سره ثابتيږي، يعني هغه وخت ثابتيږي کله چي بائع له قسم څخه انکار وکړي)، او قسم د عقد له مُوجباتو څخه نه دی، نو ځکه د بائع انکار قسم به هم د عقد له مُوجباتو څخه نه وي، او کله چي د بائع انکار قسم د عقد له مُوجباتو څخه نه دی، نو د هغه د انکار قسم په وجه به هغه شی نه پرېښوول کيږي کوم چي د عقد له مُوجباتو څخه دی يعني پر مبيع د مشتري ملکيت او پر هغه د مشتري قبضه، او کله چي هغه نه پرېښوول کيږي نو صرف له مشتري څخه به قسم اخيستل کيږي، نه له بائع څخه (يعني پر دواړو به تحالف نه واجبول کيږي بلکي صرف له مشتري څخه به قسم اخيستل کيږي).

وهذا إذا كان إلخ: فرمايي: د شيخينو او د امام محمد رَحِمَهُ الله دغه اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي ثمن دَين وي، يعني دراهم او دنانير وي، لېکن که ثمن عَين شی وي او مبيع هم عَين شی وي (مثلاً غنم د اُوربشو په عوض کي خرڅ کړل سوي وي)، بيا يو عوض يعني ثمن يا مبيع هلاکه سي او تر دې وروسته عاقدين اختلاف وکړي، نو بالاتفاق تحالف واجب دی يعني په دې صورت کي د ټولو په اتفاق له دواړو څخه قسم اخيستل کيږي، ځکه چي په دې صورت کي يوه طرف ته مبيع موجوده ده (ځکه په داسي عقد کي دواړه عوضونه مبيع هم وي او ثمن هم وي)، نو ځکه عقد (بيع) ختم نه سو، او کله چي عقد ختم نه سو نو په تحالف سره به د فسخ فايده ښکاره سي، په دې توګه چي کوم عوض باقي پاته وي، هغه به د خپل مالک وطرف ته واپس کيږي، او کوم عوض چي هلاک سوی وي که هغه له ذواتُ

الامثال شخه وي، نو د هغه مثل به مالک ته واپس کيږي، او که هغه له ذوات القيم شخه وي، نو د هغه قيمت به مالک ته واپس کيږي.

## د مبيع د يوې حصې له هلاکېدلو څخه وروسته د بائع او مشتري تر مينځ اختلاف راتلل

قَالَ: وَإِنْ هَلَكَ أَحَدُ الْعَبْدَيْنِ فرمايي: او که چيري له دوو غلامانو څخه يو غلام هلاک سي ثُمَّ اخْتَلَفَا فِي الثَّمَنِ بيا عاقدين په ثمن [قيمت] کي اختلاف وکړي لَمْ يَتَحَالَفَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز له دواړو څخه به قسم نه اخيستل کيږي إِلَّا أَنْ يَرْضَى الْبَائِعُ أَنْ يَتْرُكَ حِصَّةَ الْهَالِكِ مګر دا چي بائع د هلاک سوي غلام [د قيمت] د حصې په پرېښوولو راضي سي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: "الْقَوْلُ قَوْلُ الْمُشْتَرِيْ مَعَ يَمِينِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او په جامع صغير کي [ذکر سوي] دي: چي [په دې صورت کي] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د مشتري قول د قسم سره معتبر دی إِلَّا أَنْ يَشَاءَ الْبَائِعُ أَنْ يَأْخُذَ الْعَبْدَ الْحَيَّ وَلَا شَيْءَ لَهُ مِنْ قِيمَةِ الْهَالِكِ" مګر دا چي بائع وغواړي چي ژوندی غلام واخلي او [په دې راضي سي چي] د هلاک سوي غلام له قيمت څخه د هغه لپاره هيڅ شی نه وي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ*: يَتَحَالَفَانِ فِي الْحَيِّ وَيُفْسَخُ الْعَقْدُ فِي الْحَيِّ وَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُشْتَرِيْ فِي قِيمَةِ الْهَالِكِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په ژوندي غلام کي به له دواړو څخه قسم اخيستل کيږي او په ژوندي غلام کي به بيع فسخ کول کيږي او د هلاک سوي غلام په قيمت کي به د مشتري قول معتبر وي وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَتَحَالَفَانِ عَلَيْهِمَا وَيَرُدُّ الْحَيَّ وَقِيمَةَ الْهَالِكِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي پر ژوندي او هلاک سوي دواړو غلامانو به له عاقدينو څخه قسم اخيستل کيږي او ژوندی غلام او د هلاک سوي غلام قيمت به [بائع ته] واپس کيږي لِأَنَّ هَلَاكَ كُلِّ السِّلْعَةِ لَا يَمْنَعُ التَّحَالُفَ عِنْدَهُ ځکه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د ټوله سامان [پوره مبيع] هلاکېدل تحالف نه منع کوي فَهَلَاكُ الْبَعْضِ أَوْلَى نو د بعضي حصې هلاکېدل به په درجه اولیٰ هغه نه منع کوي وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ امْتِنَاعَ

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في مجمع الأنهر (ج:۳، ص:۳۶۳)، والهندية (ج:۴، ص:۳۳). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۷۶]

التَّحَالُفِ لِلْهَلَاكِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د تحالف ممتنع کېدل د مبيع د هلاکېدلو په وجه وي فَيَتَقَدَّرُ بِقَدْرِهِ نو ځکه دا ممتنع کېدل به د هلاک سوي حصې په اندازه مُتعيّن کيږي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ التَّحَالُفَ عَلَى خِلَافِ الْقِيَاسِ فِي حَالِ قِيَامِ السِّلْعَةِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د سامان [مبيع] د موجو والي په حالت کي تحالف د قياس په خلاف دی وَهِيَ اسْمٌ لِجَمِيعِ أَجْزَائِهَا او سلعه [مبيع] د خپل ټولو اجزاؤ نوم دی فَلَا تَبْقَى السِّلْعَةُ بِفَوَاتِ بَعْضِهَا نو ځکه د بعضي حصې په فوتېدلو سره به سلعه [مبيع] باقي نه پاتيږي وَلِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ التَّحَالُفُ فِي الْقَائِمِ إِلَّا عَلَى اعْتِبَارِ حِصَّتِهِ مِنَ الثَّمَنِ او ځکه چي په موجوده مبيع کي تحالف ممکن نه دی مګر د هغه د ثمن د حصې په اعتبار کولو سره فَلَا بُدَّ مِنَ الْقِسْمَةِ عَلَى الْقِيمَةِ نو ځکه د هغه ثمن [د دواړو غلامانو] پر قيمت تقسيمول ضروري دي وَهِيَ تُعْرَفُ بِالْحَزْرِ وَالظَّنِّ او قيمت په اټکل او اندازه سره معلوميږي فَيُؤَدِّي إِلَى التَّحَالُفِ مَعَ الْجَهْلِ نو ځکه دا به د ثمن د مجهول والي باوجود د تحالف سبب وګرځي وَذٰلِكَ لَا يَجُوزُ إِلَّا أَنْ يَرْضَى الْبَائِعُ أَنْ يَتْرُكَ حِصَّةَ الْهَالِكِ أَصْلًا او دا جائز نه دي مګر دا چي بائع د هلاک سوي غلام د حصې په بالکل پرېښوولو راضي سي لِأَنَّهُ حِينَئِذٍ يَكُونُ الثَّمَنُ كُلُّهُ بِمُقَابَلَةِ الْقَائِمِ ځکه چي په دې صورت کي به ټوله ثمن د موجود غلام [ژوندي غلام] په مقابله کي وګرځي وَيَخْرُجُ الْهَالِكُ عَنِ الْعَقْدِ او هلاک سوی غلام به له عقد څخه ووځي فَيَتَحَالَفَانِ نو ځکه به دواړه قسم اخلي [يا: نو ځکه به له دواړو څخه قسم اخيستل کيږي] وَهٰذَا تَخْرِيجُ بَعْضِ الْمَشَايِخِ او دا د بعضي مشايخو تخريج ده وَيُصْرَفُ الِاسْتِثْنَاءُ عِنْدَهُمْ إِلَى التَّحَالُفِ او د هغو په نېز به استثناء د تحالف وطرف ته ګرځول کيږي [مطلب دا چي د هغو په نېز په متن کي ذکر سوې استثناء "إلا أن يرضى البائع...إلخ" د تحالف وطرف ته راجع کيږي] كَمَا ذَكَرْنَا لکه څرنګه چي موږ ذکر کړه وَقَالُوا: إِنَّ الْمُرَادَ مِنْ قَوْلِهِ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ "يَأْخُذُ الْحَيَّ وَلَا شَيْءَ لَهُ" مَعْنَاهُ: لَا يَأْخُذُ مِنْ ثَمَنِ الْهَالِكِ شَيْئًا أَصْلًا او دغه مشايخو ويلي دي: چي په جامع صغير کي د امام محمد رَحِمَهُ الله د دې قول "يأخذ الحيّ ولا شيء له" مراد او مطلب دا دی: چي بائع د هلاک سوي غلام له قيمت څخه بالکل هيڅ شی نه واخلي.

**اللغات**: ﴿الخرز﴾ له ډېر تلاش وروسته مو هم دا لفظ په دغه معنیٰ سره پیدا نه کړی، او ځیني شارحینو دا لفظ په حاء سره "حِرْز" ذکر کړی دی، خو دهغه هم دغه معنیٰ نه ده، ځکه چي د "خرز" خپله معنیٰ ده: کنډل او د "حرز" خپله معنیٰ ده: حفاظت کول، جمع کول، او پاته سو اټکل او تخمین نو دهغه لپاره په عربي کي يو لفظ خَرْص استعمالیږي، کوم چي د نصر او ضرب له بابه راځي، ﴿يصرف﴾ د ضرب د باب مضارع مجهوله ده: ګرځول.

**تشریح**: **صورت د مسئلي**: دا دی که يو سړی پر مشتري دوه غلامان خرڅ کړي او مشتري پر هغو قبضه وکړي، بيا يو غلام هلاک سي او تر دې وروسته بائع او مشتري د ثمن په مقدار کي اختلاف وکړي، مثلاً بائع ووايي چي "ما پر تا دواړه غلامان په دوه زره درهمه خرڅ کړي دي" او مشتري ووايي چي "نه! بلکي په زر درهمه دي راکړي دي"، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به له دواړو څخه قسم نه اخیستل کیږي، لیکن که بائع د هلاک سوي غلام د ثمن په پرېښودلو راضي سي (چي زه د هلاک سوي غلام زر درهمه نه غواړم)، نو له دواړو څخه به قسم اخیستل کیږي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي په جامع صغير کي دغه حکم داسي ذکر سوی دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مشتري قول د قسم سره معتبر دی، مګر دا چي بائع د ژوندي (مابقي) غلام په اخیستلو او د هلاک سوي غلام له قيمت څخه په هيڅ نه اخیستلو راضي سي (چي زه د هلاک سوي غلام له زر درهمو څخه يو درهم هم نه غواړم)، د جامع صغير او د قدوري د عبارتونو حاصل يو دی، بس فرق يې دا دی چي په جامع صغير کي صرف د مشتري قسم ذکر سوی دی او په قدوري کي عدم تحالف ذکر سوی دی (چي له دواړو څخه به قسم نه اخیستل کیږي)، او ښکاره خبره ده چي کله صرف له مشتري څخه قسم واخیستل سي نو همدا عدم تحالف دی.

**وقال أبويوسف إلخ**: په دې سلسله کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي په ژوندي (مابقي) غلام کي به له دواړو عاقدَينو څخه قسم اخیستل کیږي او د دوی تر قسم اخیستلو وروسته به په دې غلام کي عقد (بيع) فسخ کول کیږي او د هلاک سوي غلام د ثمن په باره کي به د مشتري قول د قسم سره معتبر وي.

**وقال محمد إلخ**: د امام محمد رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي په مړه او ژوندي دواړو غلامانو کي به له عاقدَينو څخه قسم اخیستل کیږي، او تر قسم اخیستلو وروسته چي کله عقد فسخ کړی سي، نو ژوندی غلام به بائع ته واپس کیږي او د هلاک سوي (مړه) غلام به قيمت به ورکول کیږي. (يعني مشتري به ژوندی غلام هغه ته واپس کوي او د مړه غلام قيمت به ورکوي).

**د امام محمد دليل:** دا دی چي کله د پوره مبيع هلاکېدل له تحالف څخه مانع نه دي (يعني کله چي ټوله مبيع [مثلا دواړه غلامان] هلاک سي نو هم له دواړو عاقدَينو څخه قسم اخيستل کيږي)، نو د مبيع يوه حصه (مثلا ديوه غلام) هلاکېدل به په درجه اولیٰ له تحالف څخه مانع نه وي، نو ځکه په مړه او ژوندي دواړو غلامانو کي به له عاقدَينو څخه قسم اخيستل کيږي.

**د امام ابو يوسف دليل:** دا دی چي تحالف په دې وجه ممتنع دی چي مبيع هلاکه سوې ده (يعني تحالف د مبيع په هلاکېدلو سره ممنوع ګرځي)، لهذا څومره مبيع چي هلاکه سوې وي، هغومره به تحالف ممتنع وي، او څرنګه چي په پورتنۍ مسئله کي د مبيع نصف يعني يو غلام هلاک سوی دی. نو ځکه صرف په دې يوه غلام کي به تحالف ممتنع وي لېکن په ژوندي غلام کي به اوس هم تحالف جاري وي او د هلاک سوي غلام د ثمن په باره کي به د مشتري قول د قسم سره معتبر وي.

**د امام صاحب دليـــل:** دا دی چي پر مبيع د مشتري له قبضه کولو څخه وروسته تحالف خلاف القياس (په دې حديث "والسِّلْعَةُ قَائِمَةٌ بِعَيْنِهَا...إلخ" سره) په هغه وخت کي ثابت دی کله چي مبيع موجوده وي، او مبيع د خپل ټولو اجزاو (دواړو غلامانو) مجموعې ته وايي، او څرنګه چي دلته د مبيع يو جزء (يو غلام) فوت سوی، نو ځکه مبيع باقي پاته نه سوه، ځکه چي د جزء انتفاء د کل انتفاء لره مستلزم وي، او کله چي مبيع باقي پاته نه سوه، نو ښکاره خبره ده چي په هغه کي به تحالف هم واجب نه وي.

<u>ولأنه لايمكن التحالف إلخ</u>: دويم دليل دا دی چي په ژوندي غلام کي تحالف ممکن نه دی مګر په دې توګه چي له ثمن څخه د هغه د حصې (د هغه د قيمت) اعتبار وکړی سي، او کله چي داسي ده نو د مړه او ژوندي دواړو غلامانو پر قيمت به دژوندي غلام قيمت تقسيمول کيږي، نو تر تحالف وروسته به ژوندی غلام د بائع وطرف ته واپس کيږي او د مړه (هلاک سوي) غلام په حصه کي چي کوم قيمت راسي هغه به هم بائع ته ورکول کيږي، لېکن تاسو ته معلومه ده چي په داسي صورت کي قيمت په تخمين (اټکل) او اندازه سره معلوميږي، په يقيني توګه نه معلوميږي، نو ځکه د قيمت د تخميني کېدلو په وجه به د هلاک سوي غلام قيمت (ثمن) مجهول وي، او د ثمن د مجهول والي په صورت کي تحالف ناجائز دي، نو ځکه په دې حواله سره هم په پورتنۍ مسئله کي تحالف ناجائز دی.

ها!... که چيري بائع په دې خبره راضي سي چي زه د هلاک سوي غلام له ثمن (زر درهمو) څخه هيڅ شی نه غواړم، نو په دې صورت کي به ټوله ثمن دژوندي غلام په مقابله کي راسي (يعني ټوله ثمن به دژوندي غلام عوض وګرځي) نو ګواکي مبيع همدا يو غلام دی، او هلاک سوی غلام به له عقد (بيع)

څخه خارج سي، او څرنګه چي دا يو غلام موجود هم دی او د هغه ثمن هم معلوم دی (ځکه چي اوس ټوله ثمن د هغه په عوض کي دی)، نو ځکه په هغه کي به تحالف واجب وي.

وهذا تخريج: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي دغه کوم څه چي موږ د امام صاحب رَحِمَهُ الله د مذهب او دليل په باره کي ذکر کړل، دا ټوله د بعضي مشايخو د تخريج مطابق دي، او د هغو په نيز د متن دا استثناء "إلّا أن يرضى البائع إلخ" د تحالف وطرف ته راجع ده، يعني په پورتنی مسئله کي به تحالف نه کيږي، مګر په هغه صورت کي تحالف کېدای سي کله چي بائع د هلاک سوي غلام په قيمت پرېښوولو (نه اخيستلو) راضي سي. او دغه بعضي مشايخو دا هم ويلي دي چي په جامع صغير کي چي امام محمد رَحِمَهُ الله کوم دا خبره کړې ده "إلّا إن شاء البائعُ أن يأخذ العبدَ الحيّ ولا شيء له مِن قيمة الهالك"، د دې مطلب دا دی چي بائع د هلاک سوي غلام له ثمن څخه هيڅ نه واخلي يعني د هغه په پرېښوولو راضي سي.

## د "إلّا أنْ يَّرضَى البَائِعُ" دويم تفسير او د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَقَالَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ: يَأْخُذُ مِنْ ثَمَنِ الْهَالِكِ بِقَدْرِ مَا أَقَرَّ بِهِ الْمُشْتَرِيْ او ځيني مشايخ فرمايي: چي بائع به د هلاک سوي غلام له ثمن څخه دومره قدر اخلي چي مشتري د هغه اقرار کوي وَإِنَّمَا لَا يَأْخُذُ الزِّيَادَةَ او زياتوب به نه اخلي وَعَلَى قَوْلِ هٰؤُلَاءِ يَنْصَرِفُ الِاسْتِثْنَاءُ إِلَى يَمِيْنِ الْمُشْتَرِيْ لَا إِلَى التَّحَالُفِ او د دغه مشايخو پر قول استثناء د مشتري د قسم وطرف ته راجع کيږي، نه د تحالف وطرف ته لِأَنَّهُ لَمَّا أَخَذَ الْبَائِعُ بِقَوْلِ الْمُشْتَرِيْ ځکه کله چي بائع د مشتري په قول [هغومره قدر ثمن] واخيستی فَقَدْ صَدَّقَهُ نو هغه د مشتري د قول تصديق وکړی فَلَا يُحَلَّفُ الْمُشْتَرِيْ نو ځکه له مشتري څخه به قسم نه اخيستل کيږي ثُمَّ تَفْسِيْرُ التَّحَالُفِ عَلَى قَوْلِ مُحَمَّدٍ مَا بَيَّنَّاهُ فِي الْقَائِمِ بيا د امام محمد رَحِمَهُ الله پر قول د تحالف تفسير هغه دی کوم چي موږ د موجود [ژوندي] غلام په باره کي بيان کړی وَإِذَا حَلَفَا وَلَمْ يَتَّفِقَا عَلَى شَيْءٍ او کله چي دواړه عاقدين [بائع او مشتري] قسم واخلي او د ثمن پر مقدار متفق نه سي فَادَّعٰى أَحَدُهُمَا الْفَسْخَ أَوْ كِلَاهُمَا او يا له دوی دواړو څخه يو د فسخ دعویٰ وکړي يا دواړه د فسخ دعویٰ وکړي يُفْسَخُ الْعَقْدُ بَيْنَهُمَا نو د دوی په مينځ کي به عقد فسخ کول کيږي وَيَأْمُرُ الْقَاضِي

الْمُشْتَرِیَ بِرَدِّ الْبَاقِیْ وَقِیْمَةِ الْهَالِكِ او قاضي به مشتري ته د باقي [ژوندي] غلام او د هلاک سوي غلام د قیمت واپس کولو حکم کوي وَاخْتَلَفُوْا فِیْ تَفْسِیْرِهِ عَلٰی قَوْلِ أَبِیْ یُوْسُفَ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله پر قول د تحالف په تفسیر کي مشایخو اختلاف کړی دی وَالصَّحِیْحُ أَنَّهُ یُحَلِّفُ الْمُشْتَرِیْ بِاللهِ مَا اشْتَرَیْتُهُمَا بِمَا یَدَّعِیْهِ الْبَائِعُ او صحیح دا ده: چي له مشتري څخه به [داسي] قسم اخیستل کیږي "په الله قسم! ما دا دواړه غلامان په هغومره ثمن نه دي رانیولي د کوم چي بائع دعویٰ کوي فَإِنْ نَکَلَ نو که مشتري له قسم څخه انکار وکړي لَزِمَهُ دَعْوَی الْبَائِعِ نو پر هغه به د بائع دعویٰ لازمیږي وَإِنْ حَلَفَ او که هغه قسم واخلي [قسم وکړي] یُحَلِّفُ الْبَائِعُ بِاللهِ مَا بِعْتُهُمَا بِالثَّمَنِ الَّذِیْ یَدَّعِیْهِ الْمُشْتَرِیْ نو له بائع څخه به [داسي] قسم اخیستل کیږي په الله قسم! ما دا دواړه غلامان په هغومره ثمن نه دي خرڅ کړي د کوم چي مشتري دعویٰ کوي" فَإِنْ نَکَلَ نو که بائع له قسم څخه انکار وکړي لَزِمَهُ دَعْوَی الْمُشْتَرِیْ نو پر هغه به د مشتري دعویٰ لازمیږي وَإِنْ حَلَفَ او که بائع [هم] قسم واخلي [او انکار نه وکړي] یَفْسَخَانِ الْعَقْدَ فِی الْقَائِمِ نو دوی دواړه به په موجود [ژوندي] غلام کي عقد فسخ کوي وَیَسْقُطُ حِصَّتُهُ مِنَ الثَّمَنِ او د موجود غلام د ثمن حصه به [له مشتري څخه] ساقطیږي وَیَلْزَمُ الْمُشْتَرِیَ حِصَّةَ الْهَالِكِ او د هلاک سوي غلام د ثمن حصه به پر مشتري لازمیږي وَیُعْتَبَرُ قِیْمَتُهُمَا فِی الْاِنْقِسَامِ یَوْمَ الْقَبْضِ او د منقسم کېدلو [یعني د دواړو غلامانو د حصه را ایستلو او قیمت معلومولو] په باره کي به د دوی قیمت د قبضې د ورځي معتبر وي [یعني په دې باره کي د قبضې د ورځې قیمت معتبر دی] وَإِنِ اخْتَلَفَا فِیْ قِیْمَةِ الْهَالِكِ یَوْمَ الْقَبْضِ او که عاقدین د هلاک سوي غلام د قبضې د ورځي په قیمت کي اختلاف وکړي فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْبَائِعِ نو د بائع قول معتبر دی وَأَیُّهُمَا أَقَامَ الْبَیِّنَةَ او په دوی کي چي کوم یو هم بیّنه پېش کړي تُقْبَلُ بَیِّنَتُهُ د هغه بیّنه به قبلول کیږي وَإِنْ أَقَامَاهَا او که دواړه بیّنه پېش کړي فَبَیِّنَةُ الْبَائِعِ أَوْلٰی نو د بائع بیّنه اولیٰ ده وَهُوَ قِیَاسُ مَا ذُکِرَ فِیْ بُیُوْعِ الْأَصْلِ او دا د مبسوط په کتاب البیوع کي د ذکر سوي مسئلې د قیاس مطابق دي اِشْتَرٰی عَبْدَیْنِ وَقَبَضَهُمَا [او هغه دا] چي یو سړی دوه غلامان رانیسي او پر دواړو قبضه وکړي ثُمَّ رَدَّ أَحَدَهُمَا بِالْعَیْبِ وَهَلَكَ الْآخَرُ

عِنْدَهُ بيا د عيب په وجه له هغه دواړو څخه يو غلام واپس کړي او بل غلام د ده [مشتري] سره هلاک سي يَجِبُ عَلَيْهِ ثَمَنُ مَا هَلَكَ عِنْدَهُ نو پر مشتري د هلاک سوي غلام ثمن [قيمت] واجبيږي وَيَسْقُطُ عَنْهُ ثَمَنُ مَا رَدَّهُ او د واپس کړی سوي غلام ثمن له هغه څخه ساقطيږي وَيَنْقَسِمُ الثَّمَنُ عَلَىٰ قِيمَتِهِمَا او ثمن به د هغوی دواړو پر قيمت تقسيميږي فَإِنْ اخْتَلَفَا فِي قِيمَةِ الْهَالِكِ بيا که عاقدين د هلاک سوي غلام په قيمت کي اختلاف وکړي فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْبَائِعِ نو قول د بائع معتبر دی لِأَنَّ الثَّمَنَ قَدْ وَجَبَ بِاتِّفَاقِهِمَا ځکه چي ثمن د دواړو عاقدينو په اتفاق سره واجب سوی وو ثُمَّ الْمُشْتَرِيْ يَدَّعِي زِيَادَةَ السُّقُوطِ بِنُقْصَانِ قِيمَةِ الْهَالِكِ بيا مشتري د هلاک سوي غلام د قيمت کمولو په وجه د زائد ثمن د ساقطېدلو دعویٰ کوي وَالْبَائِعُ يُنْكِرُهُ او بائع له دې څخه انکار کوي وَالْقَوْلُ لِلْمُنْكِرِ او قول د منکر معتبر وي وَإِنْ أَقَامَا الْبَيِّنَةَ او که دواړه بيّنه پېش کړي فَبَيِّنَةُ الْبَائِعِ أَوْلَىٰ نو [په دې صورت کي] د بائع بيّنه اولیٰ ده لِأَنَّهَا أَكْثَرُ إِثْبَاتًا ظَاهِرًا ځکه د هغه بيّنه په ظاهره زياته ثابتونکې ده لِإِثْبَاتِهَا الزِّيَادَةَ فِي قِيمَةِ الْهَالِكِ ځکه چي هغه د هلاک سوي غلام په قيمت کي زياتوب ثابتوي وَهٰذَا الْفِقْهِ او دا د يو فقه [او د يو راز] په وجه [يعني څرنګه چي د مبسوط په مذکوره مسئله کي د بيّنې د نشتوالي په صورت کي قسم هم د بائع معتبر دی او د مشتري او بائع دواړو له طرفه د بيّنې پېشولو په صورت کي بيّنه هم د بائع معتبره ده، نو د دې څه وجه ده؟ فرمايي چي په دې کي فقهي خبره يعني راز دا دی چي په قسمونو کي حقيت حال...] وَهُوَ أَنَّ فِي الْأَيْمَانِ تُعْتَبَرُ الْحَقِيقَةُ او هغه دا چي په قسمونو کي حقيقت حال معتبر وي لِأَنَّهَا تَتَوَجَّهُ عَلَىٰ أَحَدِ الْعَاقِدَيْنِ او دا ځکه چي قسمونه د احد العاقدين وطرف ته متوجه کيږي وَهُمَا يَعْرِفَانِ حَقِيقَةَ الْحَالِ او عاقدين حقيقت حال پېژني [يعني هغوی په حقيقت واقف وي] فَبُنِيَ الْأَمْرُ عَلَيْهَا نو ځکه د قسم معامله پر حقيقت حال مبني سوه وَالْبَائِعُ مُنْكِرٌ حَقِيقَةً او بائع د دې حقيقت منکر دی فَلِهٰذَا كَانَ الْقَوْلُ قَوْلَهُ نو ځکه به د هغه قول معتبر وي وَفِي الْبَيِّنَاتِ يُعْتَبَرُ الظَّاهِرُ او په بيناتو [ګواهيو] کي د ظاهر حال [ظاهري حالت] اعتبار کيږي لِأَنَّ الشَّاهِدَيْنِ لَا يَعْلَمَانِ حَقِيقَةَ الْحَالِ ځکه چي ګواهان حقيقت حال نه پېژني فَاعْتُبِرَ الظَّاهِرُ فِي حَقِّهِمَا نو ځکه د دوی [دواړو ګواهانو] په حق کي به ظاهر حال

معتبر وي وَالْبَائِعُ مُدَّعٍ ظَاهِرًا او په ظاهره کې بائع مدعي دی فَلِهَذَا تُقْبَلُ بَيِّنَتُهُ أَيْضًا نو ځکه بينه به هم د هغه قبلول کيږي وَتَتَرَجَّحُ بِالزِّيَادَةِ الظَّاهِرَةِ او د ظاهري زياتوب په وجه به د بائع بينه راجح وي عَلَى مَا مَرَّ لکه [مخکې] چې تېر سوه وَهَذَا يُبَيِّنُ لَكَ مَعْنَى مَا ذَكَرْنَاهُ مِنْ قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ او دا ستا لپاره د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قول هغه معنیٰ څرګندوي [ښکاره کوي] کوم چې موږ ذکر کړه.

**اللغات**: ﴿ثمن﴾ قيمت، ﴿ينصرف﴾ د انفعال د باب مضارع ده: ګرځېدل، راجع کېدل، ﴿يُفسَّر﴾ د تفعيل له بابه د مضارع مجهولي صيغه ده: وضاحت کول، تشريح کول، ﴿نكل﴾ د نصر د باب ماضي ده، د ضرب او سمع له بابه هم راځي: له قسم څخه انکار کول (له قسم څخه پر شا کېدل)، ﴿نقصان﴾ د نصر د باب مصدر دی: کمېدل، حق کمول، لږول. (مصباح اللغات)

**تشريح**: مخکې ذکر سوه چې د "إلّا أن يرضى البائع إلخ" استثناء د بعضي مشايخو په نېز د تحالف وطرف ته راجع ده، اوس په دې عبارت کې فرمايي چې د نورو بعضي مشايخو په نېز دا استثناء د مشتري د قسم وطرف ته راجع ده او د متن د عبارت مطلب دا دی چې بائع به ژوندی غلام اخلي او د هلاک سوي غلام له قيمت څخه به هغومره مقدار قيمت اخلي، د څومره مقدار چې مشتري اقرار کوي او د مشتري تر اقرار چې کوم مقدار زائد وي، هغه به نه اخلي، او په دې صورت کې به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز له مشتري څخه هم قسم نه اخيستل کيږي؛ ځکه کله چې بائع د هلاک سوي غلام له قيمت څخه د مشتري د اقرار کړده قيمت په اندازه واخلي، نو ګواکي بائع د مشتري تصديق وکړی، او کله چې بائع د مشتري تصديق وکړی، نو بيا دې ته ضرورت نسته چې له مشتري څخه قسم واخيستل سي؛ ځکه له مشتري څخه هغه وخت قسم اخيستل کيږي کله چې هغه د بائع د دعوې منکر وي، حالانکې دلته مشتري د هغه منکر نه دی، نو ځکه قسم به هم نه ځني اخيستل کيږي.

ثم تفسير التحالف إلخ: فرمايي: د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د تحالف تفسير هغه دی کوم چې موږ بيان کړی چې که عاقدين د ثمن پر مقدار متفق نه وي، نو له دواړو څخه به قسم اخيستل کيږي، او بائع به داسې قسم اخلي "په الله قسم! ما دا دواړه غلامان (پر مشتري) په زر درهمه نه دي خرڅ کړي" او مشتري به داسې قسم اخلي "په الله قسم! ما هغه په دوه زره نه دي رانيولي"، او تر قسم اخيستلو وروسته که چيرې يو عاقد يا دواړه د فسخ دعویٰ وکړي، نو د دوی په مينځ کې به عقد (بيع) فسخ کول کيږي او قاضي به مشتري ته وايي چې "بائع ته خپل ژوندی غلام واپس کړه! او د هلاک سوي غلام قيمت ورکړه!".

واختلفوا إلخ: د دې حاصل دا دی چې د امام ابویوسف رَحِمَهُ الله پر قول د تحالف په تفسیر کې که څه هم مشایخو اختلاف کړی دی، لېکن اصح او معتمد قول دا دی چې له مشتري څخه به داسې قسم اخیستل کیږي "په الله قسم! ما دا دواړه غلامان په هغومره ثمن نه دي رانیولي د کوم چې د بائع دعویٰ کوي"، نو که مشتري له قسم څخه انکار وکړي، نو پر هغه به د بائع دعویٰ لازمیږي، او که هغه قسم واخلي، نو بیا به له بائع څخه داسې قسم اخیستل کیږي "په الله قسم! ما دا دواړه غلامان په هغومره ثمن نه دي خرڅ کړي د کوم چې مشتري دعویٰ کوي"، نو که بائع له قسم څخه انکار وکړي، نو پر هغه به د مشتري دعویٰ لازمیږي، او که بائع هم قسم واخلي، نو په ژوندي غلام کې به دواړه عقدونه فسخ کول کیږي او له مشتري څخه به د هغه قیمت ساقطیږي او د هلاک سوي غلام قیمت به پر مشتري لازمیږي.

پاته سوه دا خبره چې د ژوندي او هلاک سوي غلام د حصهٔ ثمن را ایستلو (یعني د هغو د قیمت معلومولو) لپاره به د دواړو غلامانو د کومې ورځې د قیمت اعتبار کیږي، نو صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې په دې باره کې د یوم القبض والا د قیمت اعتبار کیږي (یعني مشتري چې په کومه ورځ پر هغو قبضه کړې وي، په دې باره کې د هغه ورځې قیمت معتبر دی)، لېکن که چیري د هلاک سوي غلام د یوم القبض والا په قیمت کې عاقدین اختلاف وکړي او د یوه سره هم بیّنه نه وي، نو د بائع قول د قسم سره معتبر دی؛ ځکه مشتري چې د کوم ثمن اقرار کوي، پر هغه خو دواړه متفق دي لېکن بیا چې مشتري د هلاک سوي غلام قیمت کم ښیي او د کم قیمت اقرار کوي، نو ګواکې هغه دا دعویٰ کوي چې زما له اقرار کرده قیمت څخه زائد مقدار (زما څخه) ساقط دی، او بائع د دغه دعوې انکار کوي، او تاسو ته معلومه ده چې د منکر قول د قسم سره معتبر وي، نو ځکه په دې صورت کې به هم د منکر یعني د بائع قول د قسم سره معتبر وي.

او که چیري صرف یو عاقد پر خپله دعویٰ بیّنه پېش کړي، نو د هغه بیّنه اولیٰ او معتبره ده، یعني د هغه بیّنه به قبلول کیږي او د هغه دعویٰ او قول معتبر دی؛ ځکه چې په بیّنه سره دعویٰ مضبوطیږي (مستحکم کیږي).

او که چیري دواړه پر خپله دعویٰ بیّنه پېش کړي، نو د بائع بیّنه اولیٰ او معتبره ده، ځکه چې د بائع بیّنه د زیاتوب ثابتونکې ده (یعني هغه د هلاک سوي غلام قیمت زیات ثابتوي)، او کومه بیّنه چې د زیاتوب ثابتونکې وي، صرف هغه مقبوله او معتبره وي، ځکه چې بینات د اثبات لپاره وضع سوي دي (لکه مخکې چې ذکر سوه).

وهو قياس ما ذكر إلخ: فرمايي: د تحالف د تفسير په هکله د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول او د هغه له طرفه مذکوره تفريعات ټوله په مبسوط کې د ذکر سوو تفصيلاتو سره مطابق او موافق دي يعني د مبسوط په کتاب البيوع کي هم دغه ټوله څه بيان سوي دي، کوم چي دلته مذکور دي.

وهذا الفقه إلخ: فرمايي: په مبسوط کي چي کوم دا مسئله بيان سوې ده چي ''که په عاقدينو کي د يوه سره هم بيّنه نه وي نو د بائع قول د قسم سره معتبر دى او که دواړه بيّنه پېش کړي نو هم د بائع بيّنه اولىٰ او معتبره ده''، په دې سلسله کي راز دا دى چي په قسمونو کي د حقيقت حال اعتبار کيږي؛ څکه چي قسم د احد العاقدين وطرف ته متوجه کيږي، او عاقدين په حقيقت حال سره واقف وي، نو څکه د قسم معامله به پر حقيقت مبني وي، او څرنګه چي بائع د ثمن د زياتوب ساقطېدلو منکر دى (يعني هغه وايي چي د مشتري له اقرار کرده قيمت څخه زائد مقدار له هغه څخه ساقط نه دى)، نو څکه بائع د حقيقت منکر دى، او د منکر قول د قسم سره معتبر وي، نو څکه بائع کوم چي منکر دى د هغه قول به د قسم سره معتبر وي. او په بيناتو (ګواهيو) کي د ظاهر حال اعتبار کيږي او بائع د ظاهر حال يعني د ثمن د زياتوب دعوىٰ کوي، نو څکه د دې فقهي قاعدې ''مَنْ سَاعَدَهُ الظَّاهِرُ فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ'' مطابق به هم د بائع قول معتبر وي، او د مخکي ذکر سوي ظاهري زياتوب پر بناء به د بائع بيّنه د مشتري له بينې څخه راجح وي.

وهذا يبيّن لك إلخ: فرمايي: په مبسوط کي چي کوم څه ذکر سوي دي، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قول بنياد پر هغه دى، او په هدايه کي ذکر سوې مسئله د همدې مبسوط پر مسئلې قياس کړى سوې ده.

## د اقاله کولو پر مهال د ثمن په مقدار کي د اختلاف کولو حکم

قَالَ: وَمَنِ اشْتَرَى جَارِيَةً وَقَبَضَهَا فرمايي: او که څوک مينځه رانيسي او پر هغې قبضه وکړي ثُمَّ تَقَايَلَا بيا عاقدين [بائع او مشتري] اقاله وکړي [يعني بيع ماته کړي] ثُمَّ اخْتَلَفَا فِي الثَّمَنِ [او] تر دې وروسته په ثمن کي اختلاف وکړي فَإِنَّهُمَا يَتَحَالَفَانِ نو دوى دواړه به قسم اخلي وَيَعُودُ الْبَيْعُ الْأَوَّلُ او اوله [مخکنى] بيع دوباره راګرځي وَنَحْنُ مَا أَثْبَتْنَا التَّحَالُفَ فِيهِ بِالنَّصِّ او په دغه [د اقالې] په صورت کي مورږ تحالف په نص سره نه دى ثابت کړى لِأَنَّهُ وَرَدَ فِي الْبَيْعِ الْمُطْلَقِ څکه چي نص د بيع مطلق په باره کي وارد سوى دى وَالْإِقَالَةُ فَسْخٌ فِي حَقِّ الْمُتَعَاقِدَيْنِ او اقاله د عاقدينو په حق کي فسخ [د بيع فسخ کول] دي وَإِنَّمَا أَثْبَتْنَاهُ بِالْقِيَاسِ بلکي مورږ [په اقاله کي] تحالف په قياس سره ثابت

کړی دی لِأَنَّ الْمَسْأَلَةَ مَفْرُوضَةٌ قَبْلَ الْقَبْضِ ځکه چي دا مسئله له قبضې څخه مخکي فرض کړل سوې ده وَالْقِيَاسُ يُوَافِقُهُ او قياس د دې موافق دی عَلىٰ مَا مَرَّ لکه [مخکي] چي تېر سو وَلِهٰذَا نَقِيسُ الْإِجَارَةَ عَلَى الْبَيْعِ قَبْلَ الْقَبْضِ او په همدې وجه موږ اجاره پر قبل القبض بيع اه قبضې څخه مخکي پر بيع] قياسوو وَالْوَارِثَ عَلَى الْعَاقِدِ او وارث پر عاقد قياسوو وَالْقِيمَةَ عَلَى الْعَيْنِ فِيمَا إِذَا اسْتَهْلَكَهُ فِي يَدِ الْبَائِعِ غَيْرُ الْمُشْتَرِيْ او قيمت پر عَين شي قياسوو په هغه صورت کي کله چي مبيع له مشتري څخه بغير بل چا د بائع په قبضه کي ضايع کړې وي قَالَ: وَلَوْ قَبَضَ الْبَائِعُ الْمَبِيْعَ بَعْدَ الْإِقَالَةِ فرمايي: او که چيري تر اقاله کولو وروسته بائع پر مبيع قبضه وکړي فَلَا تَحَالُفَ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوسُفَ ❀ نو [بيا] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز تحالف واجب نه دی خِلَافًا لِمُحَمَّدٍ په خلاف د امام محمد رَحِمَهُ الله لِأَنَّهُ يَرَى النَّصَّ مَعْلُولًا بَعْدَ الْقَبْضِ أَيْضًا ځکه چي امام محمد رَحِمَهُ الله تر قبضې وروسته هم نص معلول ګڼي.

**اللغات**: ﴿تقايلا﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده: اقاله کول، پښېمانه کېدل، د بائع او مشتري دواړو په خپل رضا سره بيع فسخ کول، ماتول (ختمول). ﴿يعود﴾ د نصر د باب مضارع ده: راګرځېدل (دوباره راګرځېدل)، عود کول، واپس راتلل. ﴿استهلکه﴾ د استفعال د باب ماضي ده: هلاکول، ضايع کول، بربادول. ﴿معلول﴾ د مفعول صيغه ده، له ضرب او نصر څخه راځي: علت والا، د علت خاوند.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی مينځه رانيسي او پر هغې قبضه وکړي، بيا بائع او مشتري اقاله وکړي او بيع فسخ کړي (ماته کړي)، لېکن پر مبيع (مينځې) د بائع له قبضه کولو څخه مخکي دواړه د ثمن په مقدار کي ختلاف وکړي، نو په دې صورت کي به له هر يوه څخه قسم اخيستل کيږي او کله چي دواړه قسم واخلي، نو اقاله ختميږي او کوم عقد (بيع) چي د دوی په مينځ کي سوې وه، هغه دوباره راګرځي. او پاته سو دا سوال چي په دې مسئله کي تحالف ولې واجب او ثابت کړی سوی دی، تحالف خو په مطلق بيع کي ثابت دی، نه په اقاله کي؛ ځکه چي اقاله خو د عاقدينو په حق کي فسخ البيع ده، نه بيع؟ (يعني په اقاله کولو سره د دوی بيع فسخ کيږي، او داسي نه ده چي هغه منعقد کيږي؟)، نو د دې سوال جواب دا دی چي دلته په نص نبوي سره تحالف نه دی ثابت کړی

---

❀ **القول الراجح**: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، کما ذکر في الهندية (ج:۴، ص:۳۴)، وکذا في المنتقیٰ (ج:۳، ص:۳۶۵). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۷۶]

سوی، بلکي په قياس سره ثابت کړی سوی دی، ځکه دا مسئله په هغه صورت کي فرض کړل سوې (وضع کړل سوې) ده چي تر اقاله کولو وروسته بائع پر مبيع قبضه نه ده کړي، او له قبضې څخه مخکي د تحالف ثبوت او وجوب د قياس مطابق دی، او څرنګه چي په مطلق بيع کي قبل القبض تحالف د قياس مطابق دی، نو ځکه په اقاله به کي هم قبل القبض تحالف د قياس مطابق وي. په همدې وجه اجاره قبل القبض پر بيع قياس کړل سوې ده، مثلاً که خالد و زيد ته آس په کرايه ورکړي او بيا دوی د اُجرت په مقدار کي اختلاف وکړي (مثلاً زيد ووايي چي دا اُجرت مقدار يوه مياشت دی، او خالد ووايي چي نه! بلکي يو نيمه مياشت دی) او مستأجر يعني زيد پر معقود عليه (اس) قبضه نه وي کړې، نو په دې صورت کي هم تحالف جاري کيږي (يعني له دواړو څخه به قسم اخيستل کيږي).

همدارنګه وارث پر عاقد قياس کړی سوی دی، يعني که د بائع او مشتري وارثان د ثمن په مقدار کي اختلاف وکړي، او مشتري يا د هغه وارث پر مبيع قبضه نه وي کړې، نو په دې صورت کي هم (د قياس په وجه) تحالف جاري کيږي؛ ځکه چي د قبل القبض اختلاف والا صورت دلته هم موجود دی.

همدارنګه قيمت پر عَين قياس کړی سوی دی، يعني کله چي مبيع د بائع قبضه کي وي او هغه له مشتري څخه بغير بل سړی ضايع کړي، او بيا ضايع کونکی سړی په ضمان (تاوان) کي د هغه مبيع قيمت ورکړي، نو دا قيمت د ضايع سوي مبيع قائم مقام کيږي، نو اوس که پر دغه قيمت د مشتري له قبضه کولو څخه مخکي بائع او مشتري د ضايع سوي مبيع د ثمن په مقدار کي اختلاف وکړي، نو په دې صورت کي هم تحالف جاري کيږي.

ولوقبض البائع إلخ: د دې حاصل دا دی چي که تر اقاله کولو وروسته بائع پر مبيع قبضه وکړي، نو په دې صورت کي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز تحالف نه جاري کيږي، ليکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز په دې صورت کي هم تحالف جاري کيږي.

د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي په کوم نص سره چي تحالف ثابت سوی دی يعني "اذا اختلف المتبايعان والسلعة قائمة تحالفا وترادا"، دا نص په انکار سره معلول دی (يعني په دې نص کي د تحالف علت دا ګرځول سوی دی چي هر عاقد د بل عاقد له دعوې څخه انکار وکړي)، او دا علت (يعني د عاقدَينو انکار) په دواړو صورتونو کي موجود دی، يعني برابره ده مشتري پر مبيع قبضه کړې وي، که نه وي (په دواړو صورتونو کي د عاقدَينو انکار موجود دی)، او کله چي علت په دواړو صورتونو کي موجود دی، نو ځکه تحالف به هم په دواړو صورتونو کي جاري کيږي.

او شیخین رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې تحالف صرف په قبل القبض والا صورت کې جاري کيږي، لکه څرنګه چې دا حديث "والسلعة قائمة بعينها إلخ" پر دې ګواه دی. لهذا بعد القبض به د تحالف جاري کېدلو حکم کول داسې يې لکه پر دې حديث زياتوب کول، کوم چې په هيڅ حال کې هم صحيح نه دي. (احسن الهدايه)

## د بيع سَلَم په اقاله کې د اختلاف کولو حکم

قَالَ: وَمَنْ أَسْلَمَ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ فِي كُرِّ حِنْطَةٍ فرمايي: او که څوک په يوه کُر غنمو کې لس درهمه د بيع سَلَم په توګه ورکړي ثُمَّ تَقَايَلَا بيا دواړه عاقدين اقاله وکړي ثُمَّ اخْتَلَفَا فِي الثَّمَنِ تر دې وروسته دواړه په ثمن کې اختلاف وکړي فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُسْلَمِ إِلَيْهِ نو قول د مسلم اليه معتبر دی وَلَا يَعُودُ السَّلَمُ او بيع سَلَم دوباره نه راګرځي لِأَنَّ الْإِقَالَةَ فِي بَابِ السَّلَمِ لَا تَحْتَمِلُ النَّقْضَ ځکه د سَلَم په باب کې اقاله د نقض [ماتېدلو] احتمال نه لري لِأَنَّهُ إِسْقَاطٌ ځکه چې اقاله د اسقاط [ساقطولو] له قبيلې څخه ده فَلَا يَعُودُ السَّلَمُ نو ځکه بيع سَلَم به دوباره نه راګرځي بِخِلَافِ الْإِقَالَةِ فِي الْبَيْعِ په خلاف په مطلق بيع کې د اقاله کولو أَلَا تَرَى أَنَّ رَأْسَ مَالِ السَّلَمِ لَوْ كَانَ عَرَضًا آيا ته نه ګورې! که چيرې د بيع سَلَم رأسُ المال يو سامان وي فَرَدَّهُ بِالْعَيْبِ بيا هغه [سامان] عيب په وجه واپس کړي وَهَلَكَ قَبْلَ التَّسْلِيمِ إِلَى رَبِّ السَّلَمِ او ربُ السَلَم ته له ورکولو څخه مخکې هغه د مسلم اليه په قبضه کې هلاک سي لَا يَعُودُ السَّلَمُ نو بيع سَلَم دوباره نه راګرځي وَلَوْ كَانَ ذَلِكَ فِي بَيْعِ الْعَيْنِ او که چيرې دا صورت د عَين شي په بيع [مطلق بيع] کې پېښ سي يَعُودُ الْبَيْعُ نو بيع دوباره راګرځي دَلَّ عَلَى الْفَرْقِ بَيْنَهُمَا او همدا د بيع سَلَم او مطلق بيع په مينځ کې پر فرق دلالت کوي.

**اللغات:** ﴿أسلم﴾ د افعال د باب ماضي ده، د دې باب څو معناوي دي چې له هغه څخه يوه معنیٰ ده: بيع سَلَم کول، ﴿بيع سلم﴾ بيع الاجل بالعاجل، يعني ځنډمن شی د نغد شي په عوض کې خرڅول، مثلاً يو سړی (بائع) له يو چا څخه ثمن في الحالِه واخلي او ديوې مياشتې پر قرض غنم پر خرڅ کړي چې غنم يوه مياشت وروسته درکوم. په بيع سَلَم کې ثمن ته رأسُ المال وايي، ثمن ورکونکي (مشتري) ته ربُ السَلَم وايي او خرڅونکي "غنم ورکونکي" (بائع) ته مسلم اليه وايي او په کوم شي کې چې بيع سَلَم وسي لکه دلته چې غنم دي، هغه ته "مسلم فيه" وايي، ﴿کُر﴾ دا په

عربو کې دیو غټې پیمانې (لوښي) نوم وو چې په هغه سره به غله پیمانه کېده، او داوسني وخت په اعتبار سره یو کُر تقریباً (۲۵۴۷) کېلو کیږي. ﴿لقض﴾ د نصر د باب مصدر دی: ماتېدل. ﴿عَرَض﴾ او عَرَض: سامان، له دراهم او دنانیرو څخه بغیر بل شی.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که (مثلاً) زید پر خالد د لس درهمو په عوض کې یو کُر غنم د بیع سَلم په توګه خرڅ کړي او ربُ السَلم یعني زید و مسلم الیه (خالد) ته لس درهمه ورکړي، بیا دواړه اقاله وکړي او بیع سَلم فسخ کړي، تر دې وروسته دواړه د ثمن (رأسُ المال) په مقدار کې اختلاف وکړي، مثلاً مسلم الیه ووایي چې رأسُ المال پنځه درهمه وو، او ربُ السَلم ووایي چې لس درهمه وو (یعني ما تا ته لس درهمه درکړي وه)، نو په دې صورت کې د مسلم الیه قول معتبر دی؛ ځکه چې ربُ السَلم د رأسُ المال د زیاتوب مدعي دی او مسلم الیه له هغه څخه منکر دی، او د یوه سره هم بیّنه نسته، نو ځکه د مسلم الیه قول به د قسم سره معتبر وي، او بیع سَلم (کوم چې د اقالې په وجه ختم سوه، هغه) دوباره نه راګرځي؛ ځکه د سَلم په باب کې اقاله د نقض (ماتېدلو) احتمال نه لري، ځکه چې د اقالې په ذریعه مسلم فیه ساقطول کیږي، حال دا چې د بیع سَلم د صحیح کېدلو لپاره دا ضروري ده چې مسلم فیه به د مسلم الیه پر ذمه پاته وي، لېکن کله چې په بیع سَلم کې اقاله وکړی سي، نو ښکاره خبره ده چې مسلم فیه به د مسلم الیه له ذمې څخه ساقط سي او بیع سَلم د همېشه لپاره ختم سي، نو ځکه د فقهي قاعدې "الساقطُ لا یعود" مطابق به دا بیع سَلم دوباره نه راګرځي.

د دې په خلاف په مطلق بیع کې چې کوم اقاله کیږي، هغه د نقض او فسخ احتمال لري؛ ځکه چې په مطلق بیع کې مبیع عَین وي (دَین نه وي)، لهذا د اقالې په فسخ کولو سره مبیع بیرته د مشتري وطرف ته واپس کېدای سي، او کله چې مبیع د مشتري وطرف ته واپس راسي نو بیع به دوباره را وګرځي، همدا وجه ده که په بیع سَلم کې رأسُ المال سامان وي (دراهم او دنانیر نه وي)، او بیا هغه سامان عیبداره وخیږي او د عیب په وجه قاضي د هغه د واپس کولو فیصله وکړي (یعني دا فیصله وکړي چې مسلم‌إلیه دې هغه سامان ربُ السلم ته واپس ورکړي)، لېکن ربُ السَلم ته له ورکولو څخه مخکې هغه سامان د مسلم الیه په قبضه کې هلاک سي، نو دا بیع سَلم دوباره نه راګرځي، حالانکې که په مطلق بیع کې دا صورت پېښ سي، نو بیع دوباره راګرځي، او همدا د بیع سَلم او مطلق بیع په مینځ کې فرق دی.

## د مهر په مقدار کې د اختلاف کولو حکم او تفصیل

قَالَ: وَإِذَا اخْتَلَفَ الزَّوْجَانِ فِي الْمَهْرِ فرمایي: کله چې خاوند او ښځه په مهر کې اختلاف وکړي فَادَّعَى الزَّوْجُ أَنَّهُ تَزَوَّجَهَا بِأَلْفٍ او خاوند دا دعویٰ وکړي چې ما د هغې سره په زر درهمه نکاح کړې ده وَقَالَتْ: تَزَوَّجْتَنِي بِأَلْفَيْنِ او ښځه ووایي: چې تا زما سره په دوه زره درهمه نکاح کړې ده فَأَيُّهُمَا أَقَامَ

الْبَيِّنَةَ نو په دوی کې چې کوم يو بيّنه پېش کړي تُقْبَلُ بَيِّنَتُهُ د هغه بيّنه به قبول کيږي لِأَنَّهُ نَوَّرَ دَعْوَاهُ بِالْحُجَّةِ ځکه چې هغه خپل دعوىٰ په دليل سره منوره [او مضبوطه] کړه فَإِنْ أَقَامَا الْبَيِّنَةَ او که خاوند او ښځه دواړه بيّنه پېش کړي فَالْبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ الْمَرْأَةِ نو [په دې صورت کې] د ښځې بيّنه معتبره ده لِأَنَّهَا تُثْبِتُ الزِّيَادَةَ ځکه چې د ښځې بيّنه زياتوب ثابتوي مَعْنَاهُ إِذَا كَانَ مَهْرُ مِثْلِهَا أَقَلَّ مِمَّا ادَّعَتْهُ د دې مطلب دا دی چې کله د ښځې مهر مثل د هغې له دعوىٰ کړده مهر څخه کم وي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمَا بَيِّنَةٌ او که د دواړو سره بيّنه نه وي تَحَالَفَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به له دواو څخه قسم اخيستل کيږي وَلَا يُفْسَخُ النِّكَاحُ او نکاح به نه فسخ کول کيږي لِأَنَّ أَثَرَ التَّحَالُفِ فِي انْعِدَامِ التَّسْمِيَةِ ځکه چې د تحالف اثر د تسميه [مهر ټاکلو] په معدوم کېدلو کې دی وَأَنَّهُ لَا يُخِلُّ بِصِحَّةِ النِّكَاحِ او هغه د نکاح د صحت [صحيح کېدلو] لپاره مخل نه دي لِأَنَّ الْمَهْرَ تَابِعٌ فِيهِ ځکه چې مهر په نکاح کې تابع وي بِخِلَافِ الْبَيْعِ په خلاف د بيع لِأَنَّ عَدَمَ التَّسْمِيَةِ يُفْسِدُهُ ځکه چې عدم تسميه [ثمن نه ټاکل (نه ذکر کول)] بيع فاسدوي عَلَىٰ مَا مَرَّ لکه مخکې چې تېر سو فَيُفْسَخُ نو ځکه بيع به فسخ کول کيږي وَلَكِنْ يُحَكَّمُ مَهْرُ الْمِثْلِ لېکن مهر مثل به حَکَم [فيصله کونکی] کرځول کيږي [يعني فيصله به پر مهر مثل کيږي] فَإِنْ كَانَ مِثْلَ مَا اعْتَرَفَ بِهِ الزَّوْجُ أَوْ أَقَلَّ نو که مهر مثل دومره قدر وي د څومره قدر چې خاوند اقرار کړی وي يا تر هغه کم وي قُضِيَ بِمَا قَالَ الزَّوْجُ نو پر هغه مقدار به فيصله کيږي کوم چې خاوند ذکر کړی وي لِأَنَّ الظَّاهِرَ شَاهِدٌ لَهُ ځکه چې ظاهر حال د هغه لپاره ګواه دی وَإِنْ كَانَ مِثْلَ مَا ادَّعَتْهُ الْمَرْأَةُ أَوْ أَكْثَرَ او که مهر مثل دومره قدر وي د څومره قدر چې ښځې دعوىٰ کړې وي يا تر هغه زيات وي قُضِيَ بِمَا ادَّعَتْهُ الْمَرْأَةُ نو پر هغه مقدار به فيصله کيږي د کوم چې ښځې دعوىٰ کړې وي [په لنډه توګه دا چې په دې صورت کې به د ښځې پر دعوىٰ کړده مقدار فيصله کيږي] وَإِنْ كَانَ مَهْرُ الْمِثْلِ أَكْثَرَ مِمَّا اعْتَرَفَ بِهِ الزَّوْجُ وَأَقَلَّ مِمَّا ادَّعَتْهُ الْمَرْأَةُ او که مهر مثل له هغه مقدار څخه زيات وي د کوم چې خاوند اقرار کړی وي او د ښځې له دعوىٰ کړده مهر څخه کم وي قُضِيَ لَهَا بِمَهْرِ الْمِثْلِ نو د ښځې لپاره به د مهر مثل فيصله کيږي لِأَنَّهُمَا لَمَّا تَحَالَفَا ځکه کله چې خاوند او

ښځي قسم واخيستی لَمْ تَثْبُتِ الزِّيَادَةُ عَلَى مَهْرِ الْمِثْلِ وَلَا الْحَطُّ عَنْهُ نو نه له مهر مثل څخه زائد مقدار ثابت سو او نه له هغه څخه کم قَالَ: ذَكَرَ التَّحَالُفَ أَوَّلًا ثُمَّ التَّحْكِيمَ صاحب د هدايي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي ماتن [امام قدوري رَحِمَهُ الله] اول وار تحالف ذکر کړی دی بيا يې تحکيم ذکر کړی دی وَهٰذَا قَوْلُ الْكَرْخِيِّ او دا د امام کرخي رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّ مَهْرَ الْمِثْلِ لَا اعْتِبَارَ لَهُ مَعَ وُجُودِ التَّسْمِيَةِ ځکه چي د مهر مسمیٰ په وجود کي مهر مثل لره هيڅ اعتبار نه وي وَسُقُوطِ اعْتِبَارِهَا بِالتَّحَالُفِ او د هغه د اعتبار ساقطېدل په تحالف سره کيږي وَلِهٰذَا يُقَدَّمُ فِي الْوُجُوهِ كُلِّهَا نو په همدې په ټولو صورتونو کي تحالف مخکي کول کيږي وَيُبْدَأُ بِيَمِينِ الزَّوْجِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به [قاضي] د خاوند په قسم سره شروع کوي تَعْجِيلًا لِفَائِدَةِ النُّكُولِ د دې لپاره چي [له قسم څخه] د انکار کولو فايده ژر ښکاره سي كَمَا فِي الْمُشْتَرِي لکه څرنګه چي په مشتري کي [دا حکم] دی وَتَخْرِيجُ الرَّازِيِّ بِخِلَافِهِ او د امام ابو بکر رازي رَحِمَهُ الله تخريج [او تشريح] د دې په خلاف ده وَقَدِ اسْتَقْصَيْنَاهُ فِي النِّكَاحِ او په کتاب النکاح کي موږ دا په پوره تفصيل سره ذکر کړي دي وَذَكَرْنَا خِلَافَ أَبِي يُوسُفَ ❁ او [هلته] موږ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اختلاف هم ذکر کړی دی فَلَا نُعِيدُهُ لهذا اوس موږ دوباره نه راګرځوو وَلَوِ ادَّعَى الزَّوْجُ النِّكَاحَ عَلَى هٰذَا الْعَبْدِ او که چيري خاوند دعویٰ وکړي چي نکاح پر دې غلام سوې وه وَالْمَرْأَةُ تَدَّعِيهِ عَلَى هٰذِهِ الْجَارِيَةِ او ښځه دعویٰ وکړي چي پر دغه مينځې سوې وه فَهُوَ كَالْمَسْأَلَةِ الْمُتَقَدِّمَةِ نو دا د مخکنۍ مسئلې په څېر ده إِلَّا أَنَّ قِيمَةَ الْجَارِيَةِ إِذَا كَانَتْ مِثْلَ مَهْرِ الْمِثْلِ مګر دا چي کله د مينځي قيمت د مهر مثل سره برابر وي يَكُونُ لَهَا قِيمَتُهَا دُونَ عَيْنِهَا نو [په دې صورت کي] د ښځي لپاره د مينځي قيمت دی [يعني په دې صورت کي به ښځي ته عين مينځه نه ورکول کيږي بلکي د مينځي قيمت به ورکول کيږي] لِأَنَّ تَمَلُّكَهَا لَا يَكُونُ إِلَّا بِالتَّرَاضِي ځکه چي د مينځي مالک کېدل [مالک جوړېدل] د مشتري او بائع دواړو له رضا څخه بغير نه ثابتيږي وَلَمْ يُوجَدْ او دلته رضا موجوده نه ده فَوَجَبَتِ الْقِيمَةُ نو ځکه به قيمت واجبيږي.

---

❁ القول الراجح: هو قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، وقدمرّ بيانه في كتاب النكاح.

**اللغات**: ﴿تزوجها﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: نکاح کول، واده کول. ﴿أقل﴾ د اسم تفضیل صیغه ده: کمتر، ډېر کم، ﴿نوّر﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: منور کول، روښانه کول، څرګندول. ﴿تسمیة﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: ټاکل، مقرر کول، ذکر کول (بیانول). ﴿یُحکّم﴾ د تفعیل د باب مضارع مجهوله ده: حَکَم جوړول (حَکَم ګرځول، فیصله کونکی (فیصله کُن) ګرځول). ﴿حطّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: کمول. ﴿تحالف﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: یو تربله قسم اخیستل (یو تربله قسم کول)، له دواړو څخه قسم اخیستل. ﴿تعجیل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: ژر کول، تلوار کول (یو کار په تېزي او تلوار سره کول). ﴿نکول﴾ د نصر د باب مصدر دی، د ضرب او سمع له بابه هم راځي: له قسم څخه انکار کول. ﴿تملّك﴾ د تفعّل د باب مصدر دیٰ: (دیو شي) مالک جوړېدل، مالک کېدل.

**تشریح: صورت د مسئلې**: دا دی که خاوند او ښځه د مهر په مقدار کي اختلاف وکړي، مثلاً خاوند ووایي چي "ما زر درهمه مهر ټاکلی دی" او ښځه ووایي چي "تا دوه زره درهمه مهر ټاکلی دی"، نو د داسي اختلاف په صورت کي چي له خاوند او ښځي څخه کوم یو هم بیّنه پېش کړي، د هغه دعویٰ معتبره او مقبوله ده او د هغه په حق کي به فیصله کیږي؛ ځکه په بیّنه سره دعویٰ مضبوطه (مؤکده) او راجح وګرځېده. او که چیري دواړه بیّنه پېش کړي، نو د ښځي بیّنه به قبلول کیږي؛ ځکه د ښځي بیّنه د زیاتوب (زیات مهر) ثابتونکې ده، او بینات د اثبات لپاره وضع سوي دي (لکه مخکي چي ذکر سوه)، لېکن دا په یاد لرئ! چي د ښځي بیّنه به هغه وخت قبلول کیږي کله چي د ښځي مهرِ مثل د هغې له دعویٰ کړده مهر څخه کم وي، او که چیري د ښځي مهر مثل د هغې له دعویٰ کړده مهر سره برابر وي یا تر هغه زیات وي، نو په دې صورت کي به د خاوند بیّنه قبلول کیږي. (بنایه، عنایه)

وإن لم تکن لهما بیّنة إلخ: د دې حاصل دا دی چي که له خاوند او ښځي څخه یو هم بیّنه پېش نه کړی سي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز حکم دا دی چي په دې صورت کي به له هر یوه څخه پر خپله دعویٰ قسم اخیستل کیږي، لېکن په دغه تحالف سره نکاح نه فسخ کیږي؛ ځکه چي دا تحالف صرف د خاوند او ښځي د مهر دعویٰ له منځه وړي او د هغو دعویٰ معدوم کوي، او له دغه تحالف څخه وروسته نکاح بغیر له مهره پاتېږي، او د مهر نشتوالي د نکاح د صحت لپاره مانع نه دی (یعني بغیر له مهر ذکر کولو هم نکاح صحیح کیږي)، ځکه چي مهر په نکاح کي تابع وي او د هغه په نشتوالي سره نکاح نه فسخ کیږي، نو ځکه په دغه مسئله کي به نکاح نه فسخ کیږي، د دې په خلاف د بیع معامله ده، ځکه که په بیع کي ثمن ذکر نه کړی سي (نه وټاکل سي)، نو بیع فاسدیږي، لکه څرنګه چي په کتابُ البیوع

کي د دې پوره تفصيل تېر سو، لېکن په نکاح کي که مهر ذکر نه کړی سي (نه وټاکل سي)، نو نکاح نه فاسدېږي. اوس که چيري د ښځي مهرِ مثل د خاوند د بيان کرده مهر سره برابر وي يا تر هغه کم وي، نو خاوند چي کوم مقدار مهر بيانوي، هغه مقدار به واجبيږي؛ ځکه چي ظاهر حال د خاوند په حق کي ګواه دی او ظاهر حال چي د چا په حق کي ګواه وي، صرف د هغه قول معتبر وي (لکه څرنګه چي همدا فقهي قاعده ده: "الأَصْلُ أَنَّ مَنْ سَاعَدَهُ الظَّاهِرُ فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ")، نو ځکه دلته به هم د خاوند قول معتبر وي او هغه چي د څومره مهر اقرار کوي، صرف هغومره مهر به واجب وي.

او که چيري مهرِ مثل د ښځي د دعوىٰ کرده مهر سره برابر وي، يا تر هغه زيات وي، نو په دې صورت کي د ښځي قول معتبر دی او د هغې پر بيان کرده مهر به فيصله کيږي؛ ځکه چي اوس ظاهر حال د ښځي په حق کي ګواه دی.

وإن كان مهر المثل أكثر إلخ: فرمايي: که د ښځي مهرِ مثل د خاوند له اقرار کرده مهر څخه زيات وي لېکن د ښځي له اقرار کرده مهر څخه کم وي، نو په دې صورت کي به د ښځي لپاره د مهرِ مثل فيصله کيږي؛ ځکه کله چي دواړه قسم واخلي، نو بيا معامله معلق سوه، يعني نه له مهرِ مثل څخه زيات مقدار ثابتيږي او نه له هغه څخه کم مقدار ثابتيږي، نو ځکه صرف د مهرِ مثل فيصله به کيږي.

قال ذكر التحالف إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي امام قدوري رَحِمَهُ الله په متن کي خو اولاً تحالف ذکر کړی دی او بيا يې په "وَلٰكِنْ يُحَكَّمُ مَهْرُ الْمِثْلِ" سره د مهرِ مثل د حَکَم جوړولو خبره کړې ده (يعني بيا يې ويلي دي چي پر مهرِ مثل به فيصله کيږي)، او د هغه دا تصريح د امام کرخي رَحِمَهُ الله د قول مطابق ده، ځکه چي د مهر مسمىٰ (ټاکل سوي مهر) په موجوديت کي مهرِ مثل لره هيڅ اعتبار نه وي، او په تحالف سره د مهر مسمىٰ اعتبار ساقطيږي، نو په دې وجه په ټولو صورتونو کي اول تحالف مخکي کړی سو، او د مهر مسمىٰ اعتبار ساقط کړی سو او بيا مهرِ مثل حَکَم وګرځول سو.

ويبدأ بيمين الزوج إلخ: فرمايي: په مهر کي د اختلاف کولو په صورت کي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز اول به له خاوند څخه قسم اخيستل کيږي، د دې لپاره چي ژر تر ژره د قسم فايده ښکاره سي او فيصله کول آسانه سي، لکه کله چي بائع او مشتري د ثمن په مقدار کي اختلاف وکړي، نو په دې صورت کي هم اول له مشتري څخه قسم اخيستل کيږي، همداسي به دلته هم اول له خاوند څخه قسم اخيستل کيږي.

او امام ابو بکر رازي رَحِمَهُ الله په دې سلسله کې د امام کرخي رَحِمَهُ الله مخالف دی، هغه اول مهر مثل حَکَم ګرځولی دی، یعني مهرِ مثل چې د چا په حق کې ګواه وي، د هغه په حق کې به فیصله کیږي، صاحب د هدایې فرمایي چې د امام ابو بکر رازي رَحِمَهُ الله استنباط موږ په کتاب النکاح کې په تفصیل سره بیان کړی دی، لهذا اوس د هغه راګرځولو ته ضرورت نشته.

ولو ادعى الزوج إلخ: فرمايي: که چیرې خاوند داسې ووایي چې "ما په مهر کې فلانکی غلام تا کلی وو" او ښځه ووایي چې "نه! بلکې په مهر کې فلانکۍ مینځه تا کل سوې وه"، نو دا اختلاف هم د مخکني اختلاف په شان دی. یعني د امام کرخي رَحِمَهُ الله په نیز به په ټولو صورتونو کې تحالف کیږي او بیا به مهرِ مثل حَکَم ګرځول کیږي، او د امام ابو بکر رازي رَحِمَهُ الله په نیز به اول (په شروع، شروع کې) مهرِ مثل حَکَم ګرځول کیږي.

لیکن که چیرې د مینځې قیمت د مهرِ مثل په اندازه وي، نو ښځې ته به د مینځې قیمت ورکول کیږي، عَین مینځه به نه ورکول کیږي، ځکه چې پر عَین مینځه ملکیت حاصلېدل (یعني د هغې مالک جوړېدل) هغه وخت ممکن دي کله چې خاوند او ښځه دواړه په دې راضي وي، او دلته د خاوند رضا موجوده نه ده، نو ځکه به صرف د مینځې قیمت واجب وي، مینځه به واجب نه وي.

## په اجاره کې اختلاف او د قسم موقع

وَإِنِ اخْتَلَفَا فِي الْإِجَارَةِ قَبْلَ اسْتِيفَاءِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ او که په اجاره کې مؤجر او مستأجر له معقود علیه [منفعت] حاصلولو څخه مخکې اختلاف وکړي تَحَالَفَا وَتَرَادَّا نو دواړه به قسم اخلي او اجاره به ردوي مَعْنَاهُ اخْتَلَفَا فِي الْبَدَلِ أَوْ فِي الْمُبْدَلِ او د دې معنیٰ دا ده چې دوی دواړه په اُجرت کې یا په مبدل [معقود علیه] کې اختلاف وکړي لِأَنَّ التَّحَالُفَ فِي الْبَيْعِ قَبْلَ الْقَبْضِ عَلَى وِفَاقِ الْقِيَاسِ ځکه چې په بیع کې تر قبضې مخکې تحالف [له دواړو څخه قسم اخیستل] د قیاس مطابق دي عَلَى مَا مَرَّ لکه [مخکې] چې تېر سو وَالْإِجَارَةُ قَبْلَ قَبْضِ الْمَنْفَعَةِ نَظِيرُ الْبَيْعِ قَبْلَ قَبْضِ الْمَبِيعِ او پر منفعت له قبضه کولو [منفعت حاصلولو] څخه مخکې اجاره داسې ده لکه پر مبیع له قبضه کولو څخه مخکې بیع وَكَلَامُنَا قَبْلَ اسْتِيفَاءِ الْمَنْفَعَةِ او زموږ کلام [هم] له منفعت حاصلولو څخه مخکې دی فَإِنْ وَقَعَ الِاخْتِلَافُ فِي الْأُجْرَةِ نو که اختلاف په اُجرت کې واقع سوی وي يُبْدَأُ بِيَمِينِ الْمُسْتَأْجِرِ نو د مستأجر

په قسم به شروع کوي لِأَنَّهُ مُنْكِرٌ لِوُجُوبِ الْأُجْرَةِ ځکه چي هغه د اُجرت واجبېدلو منکر دی وَإِنْ وَقَعَ فِي الْمَنْفَعَةِ او که په منفعت کي واقع سوی وي يَبْدَأُ بِيَمِينِ الْمُؤَجِرِ نو د مؤجر په قسم به شروع کوي وَأَيُّهُمَا نَكَلَ او په دوی دواړو کي چي کوم يو له قسم څخه انکار وکړي لَزِمَهُ دَعْوَى صَاحِبِهِ نو پر هغه د خپل ملګري دعویٰ لازميږي وَأَيُّهُمَا أَقَامَ الْبَيِّنَةَ او په دوی کي چي کوم يو بيّنه پېش کړي قُبِلَتْ نو د هغه بيّنه به قبول کيږي وَلَوْ أَقَامَاهَا او که دواړه بيّنه پېش کړي فَبَيِّنَةُ الْمُؤَجِرِ أَوْلَى إِنْ كَانَ الِاخْتِلَافُ فِي الْأُجْرَةِ نو د مؤجر بيّنه اولیٰ ده، که چيري اختلاف په اُجرت کي وي وَإِنْ كَانَ فِي الْمَنَافِعِ او که اختلاف په منافعو کي وي فَبَيِّنَةُ الْمُسْتَأْجِرِ أَوْلَى نو د مستأجر بيّنه اولیٰ ده وَإِنْ كَانَ فِيهِمَا او که اختلاف په دواړو کي وي قُبِلَتْ بَيِّنَةُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِيمَا يَدَّعِيهِ مِنَ الْفَضْلِ نو له دوی څخه د هر يوه بيّنه به په هغه زياتوب [زائد مقدار] کي قبول کيږي د کوم چي هغه دعویٰ کوي نَحْوُ أَنْ يَدَّعِيَ هَذَا شَهْرًا بِعَشَرَةٍ وَالْمُسْتَأْجِرُ شَهْرَيْنِ بِخَمْسَةٍ مثلاً مؤجر دا دعویٰ وکړي چي ما [مثلا دغه کور] د يوې مياشتي لپاره په لس درهمه درکړی دی او مستأجر دا دعویٰ وکړي چي د دوو مياشتو لپاره دي په پنځه درهمه راکړی دی [نو په دې صورت کي به د مؤجر بيّنه د لس درهمو په باره کي قبول کيږي او د مستأجر بيّنه به د دوو مياشتو په باره کي قبول کيږي] يُقْضَى بِشَهْرَيْنِ بِعَشَرَةٍ نو دوو مياشتو لپاره په لس درهمه [د اجارې] فيصله به کيږي [يعني دا فيصله به کيږي چي مؤجر دا کور په لس درهمه د دوو مياشتو لپاره ورکړی دی].

**اللغات**: ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: ترلاسه کول، اخيستل، ﴿تحالفا﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه مذکر غائب صيغه ده: يو له بل څخه (يو تر بله) قسم اخيستل، يو تر بله قسم کول، له دواړو څخه قسم اخيستل، ﴿ترادّا﴾ د تفاعل له بابه مخکني صيغه ده: يو تر بله واپس کول، ردول، ﴿مستأجر﴾ د استفعال د باب فاعل دی: په اُجرت اخيستونکی، په کرايه نيونکی، ﴿مُؤجِر﴾ او مُؤجِر: په اُجرت ورکونکی، په کرايه ورکونکی، ﴿بيّنة﴾ ګواهي، شواهد، ﴿اجرة﴾ اُجرت، کرايه، ﴿فضل﴾ اضافه، زياتوب.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که خالد مثلاً يو کور زيد ته په اُجرت (کرايه) ورکړي، بيا دوی د اُجرت په مقدار کي اختلاف وکړي يا د معقود عليه يعني د منفعت (اوسېدلو) په مقدار کي اختلاف

وکړي او دا اختلاف له منفعت حاصلولو څخه مخکي واقع سي (يعني تر اوسه زيد پر کور قبضه نه وي کړې او تر اوسه پکښې اوسېدلی نه وي چي په دې دوران کي د خالد او زيد تر مينځ اختلاف واقع سي)، نو په دې صورت کي به له دواړو څخه قسم اخيستل کيږي او دا عقد اجاره به فسخ کول کيږي؛ ځکه چي په بيع کي پر مبيع د مشتري له قبضه کولو څخه مخکي د بائع او مشتري تر مينځ د اختلاف راتللو په صورت کي تحالف (له دواړو څخه قسم اخيستل) د قياس مطابق دي لکه مخکي چي ذکر سوه. او پر منفعت له قبضه کولو څخه مخکي اجاره هم داسي ده لکه دغه بيع يعني بَيعٌ قَبْلَ قَبْضِ المَبِيْعِ. ځکه چي دواړه عقد معاوضه دي (يعني بيع او اجاره دواړه د معاوضې عقدونه دي. ځکه څرنګه چي په بيع کي د ثمن په عوض کي مبيع ورکول کيږي همداسي په اجاره کي هم يو شی د ثمن [کرايه] په عوض کي په کرايه ورکول کيږي)، او څرنګه چي زموږ بحث او کلام هم له منفعت حاصلولو څخه د مخکي اجارې په باره کي دی، نو ځکه دا اجاره د بيع قبل قبض المبيع سره مشابه ده. او د بيع قبل قبض المبيع په صورت کي د اختلاف کولو پر مهال تحالف جاري کيږي، نو ځکه په دې مسئله کي به هم تحالف جاري کيږي.

فإن وقع الاختلاف إلخ: فرمايي که د مؤجر (خالد) او مستأجر (زيد) اختلاف د أجرت په مقدار کي وي، نو اول به له مستأجر څخه قسم اخيستل کيږي، او که د دوی اختلاف په منفعت کي وي، نو بيا به اول له مؤجر څخه قسم اخيستل کيږي؛ ځکه چي په اول صورت کي مستأجر د منفعت د زياتوب منکر دی، او د قسم د فايدې دژر ښکاره کېدلو لپاره اول له منکر څخه قسم اخيستل کيږي. بيا که په دوی کي يو له قسم څخه انکار وکړي، نو پر هغه د خپل ملګري دعویٰ لازميږي (مثلاً که مستأجر له قسم څخه انکار وکړي نو پر هغه د مؤجر دعویٰ لازميږي)، همدارنګه که له دوی څخه يو بيّنه پېش کړي، نو د هغه بيّنه به قبلول کيږي او د بينې په وجه به صرف د هغه دعویٰ راجح او معتبره وي.

او که دواړه بيّنه پېش کړي، نو د اختلاف نوعيت ته به کتل کيږي چي اختلاف په أجرت کي دی او که په منفعت کي؟، که اختلاف په أجرت کي وي، نو د مؤجر بيّنه به قبلول کيږي، ځکه چي د هغه بيّنه د أجرت زياتوب (زيات أجرت) ثابتوي، او بينات د اثبات لپاره وضع سوي دي، لهذا د کوم يوه بيّنه چي د زياتوب (يعني دزيات أجرت) مثبته وي، صرف هغه به معتبره وي. او که چيري اختلاف په منفعت کي وي، نو د مستأجر بيّنه به قبلول کيږي؛ ځکه چي د هغه بيّنه د منفعت زياتوب ثابتوي. او که چيري په أجرت او منفعت دواړو کي اختلاف وي، نو د هر يوه بيّنه به په هغه زياتوب کي قبلول کيږي د کوم چي هغه دعویٰ کوي، مثلاً که مؤجر ووايي چي "ما دا کور تا ته په لس درهمه د يوې مياشتي لپاره په کرايه درکړی دی" او مستأجر ووايي چي "تا ما ته دا کور په پنځه درهمه د وو مياشتو لپاره په کرايه راکړی دی"، نو څرنګه چي د مستأجر په دعویٰ کي دوې مياشتي زياتي

دي او د مؤجر په دعویٰ کې لس درهمه زیات دي، نو څکه قاضي به دا فیصله کوي چې مؤضر دا کور په لس درهمه د دوو میاشتو لپاره په کرایه ورکړی دی.

## د پورتنۍ مسئلې بل صورت

قَالَ: وَإِنِ اخْتَلَفَا بَعْدَ الِاسْتِيفَاءِ فرمايي: او که له معقود علیه [منفعت] حاصلولو څخه وروسته دواړه اختلاف وکړي لَمْ يَتَحَالَفَا نو دواړه به قسم نه اخلي وَكَانَ الْقَوْلُ قَوْلَ الْمُسْتَأْجِرِ او قول به د مستأجر معتبر وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ ظَاهِرٌ او د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز خو دا ښکاره دي لِأَنَّ هَلَاكَ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ يَمْنَعُ التَّحَالُفَ عِنْدَهُمَا څکه چې د دوی په نیز د معقود علیه ضایع کېدل [معدوم کېدل] تحالف نه منع کوي وَكَذَا عَلَى أَصْلِ مُحَمَّدٍ او همدارنګه د امام محمد رَحِمَهُ الله پر اصل هم [ښکاره] دي لِأَنَّ الْهَلَاكَ إِنَّمَا لَا يَمْنَعُ عِنْدَهُ فِي الْمَبِيْعِ لِمَا أَنَّ لَهُ قِيمَةً تَقُومُ مَقَامَهُ څکه چې [د معقود علیه] هلاکېدل د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز په دې وجه تحالف نه منع کوي چې د مبیع قیمت د مبیع قائم مقام کیږي [په بله وینا دا چې: د معقود علیه په هلاکېدلو سره د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز په بیع کې د تحالف نه ممتنع کېدل په دې وجه دي چې د مبیع قیمت د بیع قائم مقام وي] فَيَتَحَالَفَانِ عَلَيْهَا نو څکه [په بیع کې] به دوی دواړه پر اُجرت قسم اخلي وَلَوْ جَرَى التَّحَالُفُ هٰهُنَا وَفُسِخَ الْعَقْدُ او که چیرې دلته [په اجاره کې] تحالف جاري سي او عقد فسخ کړی سي فَلَا قِيمَةَ نو [منافعو لره] هیڅ قیمت نه پاتیږي [یعني په دې صورت کې منفعت (معقود علیه) بلا قیمته پاتیږي] لِأَنَّ الْمَنَافِعَ لَا تَتَقَوَّمُ بِنَفْسِهَا څکه چې منافع بذات خود نه قائمیږي بَلْ بِالْعَقْدِ بلکې په عقد سره قائمیږي وَتَبَيَّنَ أَنَّهُ لَا عَقْدَ او دا به ښکاره سي چې عقد نسته وَإِذَا امْتَنَعَ او کله چې تحالف ممتنع سو فَالْقَوْلُ لِلْمُسْتَأْجِرِ مَعَ يَمِينِهِ نو د مستأجر قول به د قسم سره معتبر وي لِأَنَّهُ هُوَ الْمُسْتَحِقُّ عَلَيْهِ څکه چې هغه مدعیٰ علیه دی.

**اللغات**: ﴿تبیّن﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: څرګندېدل، واضح کېدل، ښکاره کېدل.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که په عقد اجاره کې له منفعت حاصلولو څخه وروسته د مؤجر او مستأجر تر مینځ اختلاف واقع سي (مثلا مستأجر د دوو میاشتو لپاره کور په کرایه نیولی وي. بیا مستأجر په هغه کې پوره دوې میاشتې و اوسیږي او تر دې وروسته د هغه او مؤجر تر مینځ اختلاف راسي)، نو په دې صورت کې به له دواړو څخه قسم نه اخیستل کیږي، بلکې په دې صورت کې د مستأجر قول د قسم سره

معتبر دی (يعني صرف له مستأجر څخه به قسم اخيستل کيږي او کله چي قسم واخلي، نو د هغه قول معتبر او مقبول دی)؛ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا د عدم تحالف حکم يعني له دواړو څخه د قسم نه اخيستلو حکم د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز ښکاره دی، ځکه چي د هغو په نېز د معقود عليه په نشتوالي (معدوم کېدلو) سره تحالف ممتنع کيږي، او په دې مسئله کي معقود عليه منفعت دی او منفعت حاصل سوی دی نو ځکه هغه معدوم سو (ختم سو)، لهذا تحالف به هم ممتنع او معدوم ګرځي او له مؤجر او مستأجر دواړو څخه به قسم نه اخيستل کيږي.

او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په څير د امام محمد رَحِمَهُ الله پر اصل هم د تحالف ممتنع کېدل ښکاره دي؛ ځکه د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د تحالف نه ممتنع کېدل په دې وجه دي چي د مبيع قيمت د مبيع قائم مقام کيږي او که چيري مبيع (معقود عليه) معدوم سي نو بيا له دواړو عاقدينو څخه د مبيع پر قيمت قسم اخيستل کيږي، لېکن که په عقد اجاره کي له دواړو عاقدينو څخه قسم واخيستل سي او اجاره فسخ کړی سي، نو ښکاره خبره ده چي منافعو لره به هيڅ قيمت نه وي؛ ځکه چي منافع بذات خود قائم نه وي، بلکي په عقد اجاره سره قائم وي، لهذا کله چي اجاره فسخ کړی سي، نو ښکاره به سي چي عقد اجاره باقي پاته نه سو، او کله چي عقد اجاره ختم سو، نو نه به د اجارې منفعت باقي پاته سي او نه به د هغه قيمت موجود سي، او کله چي منفعت او قيمت دواړه معدوم دي، نو ښکاره خبره ده چي تحالف به هم معدوم ګرځي او اوس به د قسم سره د مستأجر قول معتبر وي؛ ځکه چي همدا مستأجر مدعیٰ عليه دی او صرف پر هغه استحقاق ثابت سوی دی، او دا خبره تسليم سوې ده چي د اختلاف کولو پر مهال د بينې د نشتوالي په صورت کي د قسم سره د مدعیٰ عليه قول معتبر وي، نو ځکه په پورتنۍ مسئله کي به هم د قسم سره د مدعیٰ عليه يعني د مستأجر قول معتبر وي.

## د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

وَإِنِ اخْتَلَفَا بَعْدَ اسْتِيفَاءِ بَعْضِ الْمَعْقُوْدِ عَلَيْهِ او که له څه معقود عليه [څه منفعت] حاصلولو څخه وروسته دواړه اختلاف وکړي تَحَالَفَا نو دواړه به قسم اخلي وَفُسِخَ الْعَقْدُ فِيمَا بَقِيَ او په باقي حصه کي به عقد اجاره فسخ کول کيږي وَكَانَ الْقَوْلُ فِي الْمَاضِيْ قَوْلَ الْمُسْتَأْجِرِ او د تېر سوي وخت په باره کي به د مستأجر قول معتبر وي لِأَنَّ الْعَقْدَ يَنْعَقِدُ سَاعَةً فَسَاعَةً ځکه چي عقد اجاره په کراره، کراره [په لړ لړ سره] منعقد کيږي فَيَصِيْرُ فِي كُلِّ جُزْءٍ مِنَ الْمَنْفَعَةِ كَأَنَّ ابْتِدَاءَ الْعَقْدِ عَلَيْهَا نو د منفعت په هر جزء کي به عقد داسي وګرځي ګواکي پر هغه [يعني د منفعت پر هر جزء] نوی عقد وارد سوی دی

بِخِلَافِ الْبَيْعِ په خلاف د بيع لِأَنَّ الْعَقْدَ فِيهِ دَفْعَةً وَاحِدَةً ځکه چي په بيع کي په يوه ځل عقد منعقد کيږي فَإِذَا تَعَذَّرَ فِي الْبَعْضِ لهذا کله چي په څه حصه کي فسخ ناممکن وګرځي تَعَذَّرَ فِي الْكُلِّ نو په ټوله حصه [ټوله مبيع] کي به ناممکن وګرځي.

**اللغات:** ﴿ساعةً فساعةً﴾ ګړي په ګړي، په کراره، کراره. ﴿دفعة﴾ په يوه ځل، په يوه ګړي، په يوه وار. ﴿تعذر﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: ناممکن کېدل، مشکل کېدل.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که له څه منفعت حاصلولو څخه وروسته (يعني د منفعت د يوه جزء [څه حصې] تر حاصلولو وروسته) د مؤجر او مستأجر تر مينځ اختلاف واقع سي، نو په دې صورت کي به له دواړو څخه قسم اخيستل کيږي، او تر قسم اخيستلو وروسته به په ما بقي حصه کي (د را روان وخت لپاره) عقد اجاره فسخ کول کيږي، او کوم وخت چي تېر سوی دی، د هغه په باره کي د مستأجر قول معتبر دی؛ ځکه چي عقد اجاره په يوه ځل ټوله نه منعقد کيږي، بلکي په کراره، کراره منعقد کيږي، يعني کله چي هم د منفعت يو، يو جزء او حصه حاصلول کيږي، نو د هغه سره سم عقد اجاره هم ثابتيږي او د منفعت په هر، هر جزء کي نوی عقد واردېږي، نو په دې حواله سره چي کوم اختلاف له څه منفعت حاصلولو څخه وروسته واقع سي، هغه داسي دی لکه تر منفعت حاصلولو مخکي اختلاف واقع کېدل، او تر منفعت حاصلولو مخکي د اختلاف واقع کېدلو په صورت کي تحالف جاري کيږي، نو ځکه په پورتني صورت کي به هم تحالف جاري کيږي يعني له دواړو څخه به قسم اخيستل کيږي او په مابقي حصه کي به عقد اجاره فسخ کول کيږي او کوم منافع چي حاصل سوي دي، د هغه په باره کي به د مستأجر قول د قسم سره معتبر وي.

بخلاف البيع إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي بيع له اجارې څخه جلا ده؛ ځکه په بيع کي په يوه ځل عقد منعقد کيږي، لهذا که په بيع کي مشتري پر څه مبيع (د مبيع پر څه حصه) قبضه وکړي او هغه د مشتري سره هلاکه او ضايع سي، نو ښکاره خبره ده چي په دغه څه مبيع کي د بيع فسخ کول ناممکن سوه، او کله چي په بعض (څه حصه) کي د بيع فسخ ناممکن سوه، نو په کل کي به هم فسخ ناممکن وي؛ ځکه په بيع کي ټوله عقد په يوه ځل منعقد کيږي (په کراره، کراره نه منعقد کيږي)، او کله چي فسخ ناممکن ده، نو تحالف به هم ناممکن وي؛ ځکه چي تحالف د همدې فسخ لپاره واجبيږي.

## په بدلِ کتابت کې د اختلاف کولو پر مهال به قسم له چا څخه اخیستل کیږي؟

قَالَ: وَإِذَا اخْتَلَفَ الْمَوْلَى وَالْمُكَاتَبُ فِي مَالِ الْكِتَابَةِ فرمایي: او کله چې مالک او مکاتب د کتابت په مال [بدلِ کتابت] کې اختلاف وکړي لَمْ يَتَحَالَفَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز به دواړه قسم نه اخلي وَقَالَا●: يَتَحَالَفَانِ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چې دواړه به قسم اخلي وَتُفْسَخُ الْكِتَابَةُ او کتابت به فسخ کول کیږي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول [هم] دی لِأَنَّهُ عَقْدُ مُعَاوَضَةٍ يَقْبَلُ الْفَسْخَ ځکه چې کتابت داسې عقدِ معاوضه دی کوم چې فسخ قبلوي فَأَشْبَهَ الْبَيْعَ نو هغه د بیع سره مشابه سو وَالْجَامِعُ أَنَّ الْمَوْلَى يَدَّعِي بَدَلًا زَائِدًا يُنْكِرُهُ الْعَبْدُ او جامع علت دا دی چې مالک د داسې زائد بدل [زیات بدلِ کتابت] دعویٰ کوي چې غلام د هغه انکار کوي وَالْعَبْدُ يَدَّعِي اسْتِحْقَاقَ الْعِتْقِ عَلَيْهِ عِنْدَ أَدَاءِ الْقَدْرِ الَّذِي يَدَّعِيهِ او غلام پر خپل مالک د آزادۍ د مستحق کېدلو دعویٰ کوي [چې زه د آزادۍ مستحق یم] د دومره مقدار د اداء کولو پر مهال د کوم چې هغه دعویٰ کوي وَالْمَوْلَى يُنْكِرُهُ حال دا چې مالک د دې انکار کوي فَيَتَحَالَفَانِ نو ځکه دواړه به قسم اخلي كَمَا إِذَا اخْتَلَفَا فِي الثَّمَنِ لکه هغه صورت کې [چې دواړه قسم اخلي] کله چې دواړه په ثمن کې اختلاف وکړي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْبَدَلَ مُقَابَلٌ بِفَكِّ الْحَجْرِ فِي حَقِّ الْيَدِ وَالتَّصَرُّفِ لِلْحَالِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې بدلِ کتابت د قبضې او د في الحاله تصرف په حق کې د ممانعت [بندیز] لیرې کولو مقابل دی وَهُوَ سَالِمٌ لِلْعَبْدِ او دا د غلام لپاره سالم دی وَإِنَّمَا يَنْقَلِبُ مُقَابَلًا بِالْعِتْقِ عِنْدَ الْأَدَاءِ او بدلِ کتابت د اداء کولو په وخت کې د عتق مقابل ګرځي فَقَبْلَهُ لَا مُقَابَلَةَ نو د هغه تر اداء کولو مخکې مقابله نسته ایعني: نو د بدلِ کتابت تر اداء کولو مخکې هغه د عتق مقابل نه دی] فَبَقِيَ اخْتِلَافًا فِي قَدْرِ الْبَدَلِ لَا غَيْرُ نو ځکه [اوس] صرف د بدلِ کتابت په مقدار کې اختلاف باقي پاته سو فَلَا يَتَحَالَفَانِ نو ځکه به دواړه قسم نه اخلي.

**اللغات:** ﴿لم يتحالفا﴾ د تفاعل له بابه د جحد صیغه ده: یو له بل څخه قسم اخیستل (یو تر بله قسم کول)، له دواړو څخه قسم اخیستل. ﴿الثمن﴾ قیمت. ﴿ينقلب﴾ د انفعال د باب مضارع ده: اوښتل، ګرځېدل.

---

● القول الراجح: قول الإمام أعظم رَحِمَهُ الله، كما ذكر في ملتقى الأبحر (ج:٣، ص:٣٦٦)، ونتائج الأفكار (ج:٧، ص:٢١٩). [القول الراجح ج:٢، ص:١٧٨]

**تشريح : مسئله** : دا ده که مالک (مولیٰ) او د هغه مکاتب غلام د بدل کتابت په مقدار کي اختلاف وکړي، مثلاً مالک ووايي چي "بدل کتابت پنځه سوه درهمه وو" او غلام ووايي چي "درې سوه درهمه وو"، نو په دې اختلاف کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز تحالف نسته بلکي د قسم سره د مکاتب قول معتبر دی (يعني صرف له مکاتب څخه به قسم اخيستل کيږي او کله چي قسم واخلي، نو د هغه قول معتبر دی)، لېکن صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي له مالک او غلام دواړو څخه به قسم اخيستل کيږي او تر قسم اخيستلو وروسته به عقد کتابت فسخ کول کيږي، همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول هم دی.

**د صاحبينو دليل** : دا دی چي عقد کتابت يو داسي عقد دی کوم چي فسخ قبلوي، او څرنګه چي عقد بيع هم فسخ قبلوي، نو ځکه عقد کتابت د عقد بيع سره مشابه سو، او که په بيع کي د بائع او مشتري تر مينځ د ثمن په مقدار کي اختلاف راسي، نو له عاقدينو څخه قسم اخيستل کيږي، لهذا که په عقد کتابت کي د مالک او مکاتب تر مينځ د بدل کتابت په مقدار کي اختلاف راسي، نو له دوی څخه به هم قسم اخيستل کيږي؛ ځکه چي مالک د زائد بدل (زيات بدل کتابت) مدعي دی او غلام له دې څخه منکر دی، لهذا اوس د فيصلې يوازينۍ لاره تحالف دی، نو ځکه به له دواړو څخه قسم اخيستل کيږي.

**د امام صاحب دليل** : دا دی چي بدل کتابت في الحاله د عتق (آزادېدلو) مقابل نه دی بلکي د هغه ممانعت (بنديز) د ليري کولو او ختمولو مقابل دی کوم چي د قبضې او تصرف په سلسله کي مکاتب لره حاصل سوی دی، او د قبضې او تصرف ممانعت د مکاتب په حق کي معدوم دی، ځکه چي د مکاتب مالک هم د هغه په مکاتب کېدلو راضي دی، نو ځکه بدل کتابت في الحاله د همدې شي (يعني د تصرّف د ممانعت ليري کولو) مقابل دی او د عتق مقابل نه دی، ځکه بدل کتابت خو هغه وخت د عتق مقابل ګرځي، کله چي مکاتب بدل کتابت اداء کړي، او مکاتب اوس ګړی بدل کتابت نه اداء کوي، لنډه دا چي کله دا شی يعني د تصرف د ممانعت ليري کېدل د بدل کتابت مقابل دي او هغه مکاتب لره حاصل دی، نو اوس د هغه او د مالک اختلاف صرف د بدل کتابت په مقدار کي سو، او په دې اختلاف کي مالک د زيات بدل کتابت مدعي دی او غلام پر هغه د هيڅ شي مدعي نه دی بلکي هغه د دې زائد مقدار منکر دی، لهذا کله چي يو مدعي دی او بل يو منکر دی، نو تحالف به څنګه واجب سي، تحالف خو په هغه صورت کي واجبيږي، کله چي دواړه منکر (انکار کونکي) وي، نو ځکه دلته به تحالف واجب نه وي. بلکي کوم يو چي منکر دی يعني مکاتب، صرف د هغه قول به د قسم سره معتبر وي.

## د ښځي او خاوند تر مينځ د کورني سامان په هکله د اختلاف واقع کېدلو حکم

قَالَ: وَإِذَا اخْتَلَفَ الزَّوْجَانِ فِي مَتَاعِ الْبَيْتِ فرمايي: کله چي خاوند او ښځه د کور په سامان کي اختلاف وکړي فَمَا يَصْلُحُ لِلرِّجَالِ نو کوم شيان چي د خلکلو لايق [وي] وي فَهُوَ لِلرَّجُلِ نو د هغه د سړي [خاوند] لپاره دي كَالْعِمَامَةِ لکه لنګوټه لِأَنَّ الظَّاهِرَ شَاهِدٌ لَهُ ځکه چي ظاهر حال د هغه لپاره ګواه دی وَمَا يَصْلُحُ لِلنِّسَاءِ او کوم شيان چي د ښځو لايق وي فَهُوَ لِلْمَرْأَةِ نو هغه د ښځي لپاره دي كَالْوِقَايَةِ لکه د پوړني سربند لِشَهَادَةِ الظَّاهِرِ لَهَا ځکه چي ظاهر حال د هغي لپاره ګواه دی وَمَا يَصْلُحُ لَهُمَا كَالْآنِيَةِ او کوم شيان چي د دواړو لايق وي لکه لوښي فَهُوَ لِلرَّجُلِ نو هغه د سړي لپاره دي لِأَنَّ الْمَرْأَةَ وَمَا فِي يَدِهَا فِي يَدِ الزَّوْجِ ځکه ښځه او کوم څه چي د هغي په قبضه کي وي هغه ټوله د خاوند په قبضه کي دي وَالْقَوْلُ فِي الدَّعَاوَى لِصَاحِبِ الْيَدِ او په دعواوو [دعوه ګانو] کي د قابض قول معتبر وي بِخِلَافِ مَا يَخْتَصُّ بِهَا په خلاف د هغه شيانو کوم چي د ښځو سره مختص وي لِأَنَّهُ يُعَارِضُهُ ظَاهِرٌ أَقْوَى مِنْهُ ځکه چي [په دې صورت کي] د خاوند د قبضې د ظاهر حال سره داسي ظاهر حال معارض دی کوم چي تر هغه زيات قوي دی وَلَا فَرْقَ بَيْنَ مَا إِذَا كَانَ الِاخْتِلَافُ فِي حَالِ قِيَامِ النِّكَاحِ أَوْ بَعْدَمَا وَقَعَتِ الْفُرْقَةُ او په دې کي هيڅ فرق نشته چي دا اختلاف د نکاح د بقاء په حالت کي وي يا له فرقت [طلاق] واقع کېدلو څخه وروسته وي.

**اللغات:** ﴿متاع﴾ سامان، ﴿وقايـة﴾ د دې لفظ څو معناوي دي: يو دا چي "وقايه" هر هغه شي ته وايي کوم چي د بل شي د حفاظت ذريعه وي، او صاحب د معجم يې داسي تعريف کړی دی: هغه ټوکر کوم چي يې ښځه د نقاب د پاسه اچوي چي د هغه په ذريعه له يخ او ګرمی څخه ځان وساتي (معجم لغة الفقهاء)، او د هدايې په حاشيه کي يې داسي تعريف سوی دی: هغه څه کوم چي يې ښځه (د پټي په څير) پر خپل سر شاوخوا تړي، او دې ته ځکه "وقايه" وايي چي دا پوړنی له شوه کېدلو څخه ساتي، نو په دې اعتبار سره د "وقايه" مختصره معنیٰ ده "د پوړني سربند"، ﴿آنيـة﴾ لوښي، ﴿يـد﴾ لاس، مراد څني قبضه ده، ﴿فرقة﴾ جدايي، عليحدګي.

**تشريح:** صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چي که د خاوند او ښځي ترمينځ د کورني سامان په هکله اختلاف راسي او په دوی کي هريو پر هر سامان خپله دعویٰ وکړي (چي دا هر سامان زما دی)، نو

فیصله به داسي کیږي چي کوم شیان د خاوند لایق وي یعني صرف نارینه کس هغه استعمالوي لکه څادر (پټو)، لنګوټه، خولۍ او داسي نور، نو په هغوی کي د خاوند قول معتبر دی، او کوم شیان چي د ښځي لایق وي او صرف ښځه هغه استعمالوي لکه پوړنی (پړونی)، شال، چادري، زېوارت او داسي نور، نو په هغوی کي د ښځي قول معتبر دی؛ ځکه چي په لنګوټه، څادر او داسي نورو کي ظاهر حال د خاوند موافق دی، او په پوړني او داسي نورو کي د ښځي موافق دی، او قاعده دا ده چي ظاهر حال د کوم چا موافق وي، صرف د هغه قول معتبر دی، لهذا په کومو شیانو کي چي ظاهر حال د سړي موافق وي، هغه به د سړي لپاره وي، او په کوم سامان کي چي ظاهر حال د ښځي موافق وي، هغه به د ښځي لپاره وي، او پاته سو هغه شیان کوم چي د دواړو لایق وي او دواړه یې استعمالوي، لکه د خوراک، چښاک لوښي او داسي نور، نو په هغوی کي د سړي (خاوند) قول معتبر دی؛ ځکه چي ښځه او د ښځي مقبوضه شیان ټوله د سړي په قبضه کي دي، یعني ښځه هم د سړي په قبضه کي وي او د ښځي چي کوم څه په قبضه کي وي، هغه هم د سړي په قبضه کي وي، او په دعواوو (دعوه ګانو) کي د قابض قول معتبر وي (یعني په دعویٰ کي د هغه کس قول معتبر وي چي مُدّعیٰ بهٖ شی د هغه په قبضه کي وي)، نو ځکه په دې صورت کي به هم صرف د سړي قول معتبر وي. ها! کوم شیان چي د ښځي سره مختص وي یعني صرف د ښځي لپاره خاص وي او په هغه کي د سړي هیڅ حصه نه وي، نو د هغوی په هکله صرف د ښځي دعویٰ او قول معتبر دی او هغه به صرف ښځي ته ورکول کیږي؛ ځکه که څه هم د خاوند ظاهري قبضه د هغه په حق کي ګواه ده، لیکن د ښځي اختصاص له هغه څخه هم زیات قوي او مضبوط دی، او ترجیح په هر صورت کي زیات قوي (اقویٰ) لره وي، نو څرنګه دچي دلته هم د ښځي اختصاص د خاوند له ظاهري قبضې څخه اقویٰ دی، نو ځکه صرف هغه به راجح او معتبر وي.

ولا فرق إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي د خاوند او ښځي تر مینځ پورتنی اختلاف که د نکاح د بقاء په حالت کي وي او که د خاوند او ښځي له فرقت څخه وروسته وي، په دواړو صورتونو کي هغه حکم دی کوم چي اوس ذکر سو، د دوی په حکم کي هیڅ فرق نسته. (احسن الهدایه)

## د خاوند یا ښځي تر مرګ وروسته د کورني سامان په هکله د وارثانو د اختلاف کولو حکم

| |
|---|
| فَإِنْ مَاتَ أَحَدُهُمَا وَاخْتَلَفَتْ وَرَثَتُهُ مَعَ الْآخَرِ بیا که چیري له خاوند او ښځي څخه یو مړ سي او د مړي وارثان د هغه بل یوه [ژوندي] سره اختلاف وکړي فَمَا يَصْلُحُ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ نو کوم شیان چي د خلکو او ښځو لایق دي فَهُوَ لِلْبَاقِي مِنْهُمَا هغه [ټوله] په دوی دواړو کي د پاته یوه [ژوندي] لپاره دي لِأَنَّ الْيَدَ لِلْحَيِّ دُونَ الْمَيِّتِ ځکه چي قبضه ژوندي کس لره وي، نه مړي لره [ځکه د مرګ په وجه د مړي |

قبضه ختمه سوه او هغه لره هيڅ ملکيت او قبضه پاته نه سوه] وَهٰذَا الَّذِي ذَكَرْنَاهُ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ او دا کوم څه چي موږ ذکر کړي دي، دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ*: يُدْفَعُ إِلَى الْمَرْأَةِ مَا يُجَهَّزُ بِهِ مِثْلُهَا او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي ښځي ته به هغه سامان ورکول کيږي کوم چي د هغې په څېر ښځي ته په جهيز کي ورکول کيږي [مطلب دا چي کوم ضروري سامان ښځه د پلار له کوره د ځان سره راوړي (کوم ته چي "جهيز" وايي)، هغه به ښځي ته ورکول کيږي] وَالْبَاقِي لِلزَّوْجِ مَعَ يَمِينِهِ او پاته سامان به خاوند ته د هغه د قسم سره ورکول کيږي لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ الْمَرْأَةَ تَأْتِي بِالْجِهَازِ ځکه چي ظاهر حال همدا دی چي جهيز ښځه راوړي وَهٰذَا أَقْوٰى او دا ظاهر حال زيات قوي دی فَيَبْطُلُ بِهِ ظَاهِرُ يَدِ الزَّوْجِ نو ځکه په دې سره به د خاوند ظاهري قبضه باطليږي ثُمَّ فِي الْبَاقِي لَا مُعَارِضَ لِظَاهِرِهِ بيا په پاته سامان کي د خاوند د ظاهر حال هيڅ معارض نسته فَيُعْتَبَرُ نو ځکه هغه به معتبر وي وَالطَّلَاقُ وَالْمَوْتُ سَوَاءٌ او [په دې حکم کي] طلاق او مرګ دواړه سره برابر دي لِقِيَامِ الْوَرَثَةِ مَقَامَ مُوَرِّثِهِمْ ځکه چي وارثان د خپل مورث قائم مقام وي وَقَالَ مُحَمَّدٌ: مَا كَانَ لِلرِّجَالِ فَهُوَ لِلرَّجُلِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي کوم سامان د خلکو لايق وي نو هغه د سړي [خاوند] لپاره دی وَمَا كَانَ لِلنِّسَاءِ فَهُوَ لِلْمَرْأَةِ او کوم چي د ښځو لايق وي نو هغه د ښځي لپاره دی وَمَا يَكُونُ لَهُمَا فَهُوَ لِلرَّجُلِ أَوْ لِوَرَثَتِهِ او کوم چي د دواړو لايق وي نو هغه د سړي يا [د هغه د مړه کېدلو صورت کي] د هغه د وارثانو لپاره دی لِمَا قُلْنَا لِأَبِي حَنِيفَةَ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ د امام صاحب رَحِمَهُ الله لپاره ذکر کړی وَالطَّلَاقُ وَالْمَوْتُ سَوَاءٌ او طلاق او مرګ سره برابر دي لِقِيَامِ الْوَارِثِ مَقَامَ الْمُوَرِّثِ ځکه چي وارث د خپل مورث قائم مقام وي وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا مَمْلُوكًا او که له خاوند او ښځي څخه يو مملوک وي فَالْمَتَاعُ لِلْحُرِّ فِي حَالَةِ الْحَيَاةِ نو د ژوند په حالت کي سامان د آزاد لپاره دی لِأَنَّ يَدَ الْحُرِّ أَقْوٰى ځکه چي د آزاد قبضه زياته قوي ده وَلِلْحَيِّ بَعْدَ الْمَمَاتِ او تر مرګ وروسته د ژوندي لپاره دی [برابره ده هغه آزاد وي او که

---

* القول الراجح: قول الإمام أعظم رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الخانية (ج:۱، ص:۱۸۳)، وكذا في شرح المجلة (ج:۵، ص:۵۰۰، المادة:۱۷۷۱). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۷۹]

مملوک وي] لِأَنَّهُ لَا يَدَ لِلْمَيِّتِ ځکه چې مړي لره هيڅ قبضه نه وي فَخَلَتْ يَدُ الْحَيِّ عَنِ الْمُعَارِضِ نو ځکه د ژوندي قبضه له معارض څخه خالي سوه وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَا*: الْعَبْدُ الْمَأْذُونُ لَهُ فِي التِّجَارَةِ وَالْمُكَاتَبُ بِمَنْزِلَةِ الْحُرِّ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې کوم غلام ته [د مالک له طرفه] د تجارت اجازه ورکول سوې وي هغه او مکاتب غلام د آزاد کس په درجه کې دي لِأَنَّ لَهُمَا يَدًا مُعْتَبَرَةً فِي الْخُصُومَاتِ ځکه چې په خصوماتو کې د دوی دواړو قبضه معتبره وي.

**اللغات:** ﴿يد﴾ لاس، مراد ځني قبضه ده، ﴿يُجهز﴾ د تفعيل له بابه د مضارع مجهولي صيغه ده: تيارول، چمتول کول، د ښځي لپاره د جهيز سامان تيارول، ﴿الجهاز﴾ (د جيم په کسره سره): په اصل کې هغه ضروري سامان ته وايي کوم چې يې انسان د ځان سره په سفر او داسي بل وخت کې وړي، او کله چې دا لفظ د ښځي سره ذکر سي يعني "جِهازُ المرأة" نو جهيز ته وايي، يعني هغه ضروري سامان کې چې د پلار له کوره د ښځي سره استول کيږي، او کله چې د مړي (ميّت) سره ذکر سي يعني "جِهازُ الميّت" نو کفن ته وايي، ﴿خلت﴾ د نصر د باب ماضي ده: خالي کېدل، ﴿ورثة﴾ جمع د وارثٌ ده: ميراث خور، ﴿مورث﴾ د فاعل صيغه ده، له افعال او تفعيل دواړو بابونو څخه راځي، ميراث پرېښوونکی، مراد ځني مړی دی کوم چې خپل تر شا ميراث پرېږدي، ﴿مملوك﴾ هغه شی او هغه کس کوم چې د بل چا په ملکيت کې وي، هغه کس کوم چې د يو چا تر غلامۍ لاندي وي (د مذکر او مؤنث دواړه لپاره استعماليږي).

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که له خاوند او ښځي څخه يو مړ سي او بيا د مړي وارثان او د ژوندی پاته سوی کس تر مينځ د کورني سامان په هکله اختلاف واقع سي (مثلا خاوند مړ سي، بيا د خاوند وارثان او ښځه په کورني سامان کې اختلاف وکړي)، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به ټوله سامان ژوندي کس ته ورکول کيږي (چې هغه په پورتني مثال کې ښځه ده)؛ ځکه چې قبضه د ژوندي کس معتبره وي او مړي لره هيڅ قبضه نه وي، نو ځکه سامان به هم ژوندي ته ورکول کيږي او په دې سامان کې به د مړي او د هغه د وارثانو لپاره هيڅ حصه نه وي.

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې د پلار له کوره چې ښځه کوم سامان د ځان سره راوړي کوم ته چې "جهيز" وايي، هغه سامان خو به ښځي ته ورکول کيږي، يا که هغه مړه سوې وي نو د

---

* القول الراجح: قول الإمام أعظم رَحِمَهُ الله: كما ذكر في الخانية (ج:١، ص:١٨٤)، وكذا في نتائج الأفكار (ج:٧، ص:٢٢٢)، وتنوير الأبصار (ج:٤، ص:٤٨٢)، والدر المنتقى (ج:٣، ص:٣٦٩). [القول الراجح ج:٢، ص:١٨٠]

هغې وارثانو ته به ورکول کیږي؛ ځکه دا ظاهره خبره ده چې "جهیز" ښځه راوړي، نو د ښځې دغه ظاهر حال ته په کتلو سره به د خاوند ظاهري قبضه فوت سي او د ښځې ظاهري حال به پر هغه غالب وګرځي، نو ځکه د "جهیز" د سامان په څېر سامان خو به ښځې ته ورکول کیږي او تر دې وروسته چې کوم سامان پاته سي، څرنګه چې په هغه کي د خاوند د ظاهري قبضې هیڅ معارض نسته، نو ځکه هغه باقي مانده سامان به خاوند ته ورکول کیږي.

او په پورتني حکم کي مرګ او طلاق دواړه سره برابر دي، یعني برابره ده له خاوند او ښځې څخه یو مړ سي یا خاوند ښځې ته طلاق ورکړي، په هر صورت کي هغه حکم دی کوم چې اوس بیان سو؛ ځکه چې وارثان د خپل مورث قائم مقام دي، لهذا کوم حکم چې د مورث دی، هغه حکم به د وارث هم وي.

او په پورتنی مسئله کي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز هغه حکم دی کوم چې په تېر عبارت کي بیان سو، یعني کوم شیان چې د خلکو لایق وي، هغه به خاوند ته ورکول کیږي، او کوم چې صرف د ښځو لایق وي، هغه به ښځې ته ورکول کیږي، او کوم چې د دواړو لایق وي، هغه به هم خاوند ته ورکول کیږي؛ او دلیل هغه دی کوم چې په تېر عبارت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله لپاره بیان سو یعني ښځه او د ښځې مقبوضه شیان ټول د سړي (خاوند) په قبضه کي دي، او قول د قابض معتبر دی، نو ځکه په دې شیانو کي به هم د قابض یعني د سړي (خاوند) قول معتبر وي. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز هم د مرګ او طلاق دواړو حکم سره برابر دی؛ ځکه چې وارث د خپل مورث قائم مقام وي.

<u>وإن كان أحدهما مملوكًا إلخ</u>: د دې حاصل دا دی چې که له خاوند او ښځې څخه یو مملوک وي (یعني خاوند دیو چا غلام وي یا ښځه دیو چا مینځه وي)، نو ټول سامان به آزاد ته ورکول کیږي؛ ځکه چې د مملوک په نسبت د آزاد کس قبضه زیاته قوي ده، ها! که چیري له دوی څخه یو مړ سي، نو بیا به ټول سامان ژوندي کس ته ورکول کیږي، برابره ده ژوندی کس مملوک وي او که آزاد وي، ځکه چې مړي (میت) لره هیڅ قبضه نه وي، لهذا د ژوندي کس د قبضې هیڅ معارض پاته نه سو، نو ځکه ټول سامان به هغه ته ورکول کیږي، دا حکم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی.

صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چې مأذون لهٔ فی التجارة غلام او مکاتب دواړه د آزاد کس په درجه کي دي، ځکه چې په خصوماتو (دعوه ګانو) کي د هغو قبضه معتبره ده، نو ځکه کوم حکم چې د آزاد کس دی، هغه حکم به د دوی هم وي. (احسن الهدایه)



# فَصْلٌ فِيْ مَنْ لَا يَكُوْنُ خَصْمًا

دا فصل د هغه خلکو په بيان کي دی کوم چي خصم نه وي

**تشريح**: مخکي د هغه خلکو بيان وو کوم چي خصم (مدعیٰ عليه) وي، اوس له دې ځايه د هغه خلکو بيان دی کوم چي خصم نه وي، او څرنګه چي د کتاب الدعویٰ په مناسبت سره خصم کېدل (مدعیٰ عليه کېدل) اصل دي، نو ځکه اول د خصم خلکو احکام بيان سوي دي.

## که مدعیٰ عليه دعویٰ وکړي چي دا شی د بل سړي دي (حکم او تفصيل)

وَإِذَا قَالَ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ: هٰذَا الشَّيْءُ أَوْدَعَنِيْهِ فُلَانٌ الْغَائِبُ او کله چي مدعیٰ عليه ووايي: چي دا شی ما ته فلانکي غائب امانتاً راکړی دی أَوْ رَهَنَهُ عِنْدِيْ يا دا هغه ما ته په رهن ايښی دی أَوْ غَصَبْتُهُ مِنْهُ يا دا شی ما له هغه څخه غصب کړی دی وَأَقَامَ بَيِّنَةً عَلٰى ذٰلِكَ او مدعیٰ عليه پر دې بيّنه پېش کړي فَلَا خُصُوْمَةَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمُدَّعِيْ نو د هغه او مدعي ترمينځ هيڅ خصومت نه پاتيږي [يعني د دوی په مينځ کي خصومت دفع کيږي او ختميږي او هغه د مدعي خصم نه ګرځي] وَكَذَا إِذَا قَالَ: آجَرَنِيْهِ وَأَقَامَ الْبَيِّنَةَ او همدارنګه [خصومت دفع کيږي] کله چي مدعیٰ عليه ووايي: چي فلانکی غائب دا شی ما ته په اجاره راکړی دی او بيّنه پېش کړي لِأَنَّهُ أَثْبَتَ بِبَيِّنَتِهِ أَنَّ يَدَهُ لَيْسَتْ بِيَدِ خُصُوْمَةٍ ځکه چي هغه په بيّنه سره دا ثابته کړه چي د هغه قبضه د خصومت قبضه نه ده وَقَالَ ابْنُ شُبْرُمَةَ: لَا تَنْدَفِعُ الْخُصُوْمَةُ او ابن شبرمه رَحِمَهُ الله فرمايي: چي خصومت نه دفع کيږي لِأَنَّهُ تَعَذَّرَ إِثْبَاتُ الْمِلْكِ لِلْغَائِبِ لِعَدَمِ الْخَصْمِ عَنْهُ ځکه چي د غائب له طرفه د خصم د نشتوالي په وجه د غائب لپاره د ملکيت ثابتول ناممکن سوه [يعني دلته مدعیٰ عليه د غائب له طرفه خصم نه دی نو په دې وجه هغه د غائب لپاره ملکيت نه سي ثابتولای] وَدَفْعُ الْخُصُوْمَةِ بِنَاءً عَلَيْهِ او د خصومت دفع کېدل پر همدې [يعني د غائب لپاره پر ملکيت ثابتولو] مبني دي قُلْنَا: مُقْتَضَى الْبَيِّنَةِ شَيْئَانِ موږ [په جواب کي] وايو: چي بيّنه د دوو شيانو تقاضا کوي ثُبُوْتُ الْمِلْكِ لِلْغَائِبِ [۱] د غائب لپاره ملکيت ثابتېدل وَلَا خَصْمَ فِيْهِ او په دې کي [د غائب]

هيڅ خصم نسته فَلَمْ يَثْبُتْ نو ځکه د غائب لپاره به ملکيت نه ثابتيږي وَدَفَعَ خُصُومَةَ الْمُدَّعِيْ [۲] او [دويم] د مدعي د خصومت دفع کيږي وَهُوَ خَصْمٌ فِيهِ او هغه په دې کي خصم دی فَيَثْبُتُ نو ځکه دا به ثابتيږي وَهُوَ كَالْوَكِيلِ بِنَقْلِ الْمَرْأَةِ وَإِقَامَتِهَا الْبَيِّنَةَ عَلَى الطَّلَاقِ او دا د ښځي د منتقل کولو د وکيل او پر طلاق د ښځي د بينې پېشولو په شان دي [يعني دا داسي ده لکه يو شوک چي ديو خاوند له طرفه د هغه د ښځي د راوستلو وکيل وي لېکن کله چي دا وکيل ښځي ته ورسيږي نو ښځه پر دې بينه پېش کړي چي هغه ما ته طلاق راکړی دی] كَمَا بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ لکه مخکي چي موږ د دې بيان وکړی وَلَا تَنْدَفِعُ بِدُوْنِ إِقَامَةِ الْبَيِّنَةِ كَمَا قَالَهُ ابْنُ أَبِي لَيْلَى او له بينه پېشولو څخه بغير خصومت نه دفع کيږي لکه څرنګه چي ابن ابي ليلیٰ رَحِمَهُ الله ويلي دي لِأَنَّهُ صَارَ خَصْمًا بِظَاهِرِ يَدِهِ ځکه چي مدعیٰ عليه د خپل ظاهري قبضې په وجه خصم ګرځېدلی دی فَهُوَ بِإِقْرَارِهِ يُرِيدُ أَنْ يُحَوِّلَ حَقًّا مُسْتَحَقًّا عَلَى نَفْسِهِ نو هغه په خپل اقرار سره دا غواړي چي د هغه پر ذمه کوم حق واجب سوی دی هغه [د بل چا ذمې ته] منتقل کړي فَلَا يُصَدَّقُ إِلَّا بِحُجَّةٍ نو ځکه له حجت [بينې] څخه بغير به د هغه تصديق نه کيږي كَمَا إِذَا ادَّعَى تَحْوِيْلَ الدَّيْنِ مِنْ ذِمَّتِهِ إِلَى ذِمَّةِ غَيْرِهِ لکه کله چي يو شوک له خپل ذمې څخه د بل چا ذمې ته د قرض منتقل کولو دعویٰ وکړي وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ ۞: إِنْ كَانَ الرَّجُلُ صَالِحًا او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: که چيري قابض نېک سړی وي فَالْجَوَابُ كَمَا قُلْنَاهُ نو حکم هغه دی کوم چي موږ بيان کړی وَإِنْ كَانَ مَعْرُوفًا بِالْحِيَلِ لېکن که هغه په حيلو کي مشهوره وي [يعني په خلکو کي هغه مشهوره وي چي حيله باز (چل باز) سړی دی] لَا تَنْدَفِعُ عَنْهُ الْخُصُومَةُ نو له هغه څخه به خصومت نه دفع کيږي لِأَنَّ الْمُحْتَالَ مِنَ النَّاسِ قَدْ يَدْفَعُ مَالَهُ إِلَى مُسَافِرٍ يُوْدِعُهُ إِيَّاهُ وَيُشْهِدَ عَلَيْهِ الشُّهُوْدَ ځکه چي په خلکو کي حيله باز سړی ځيني وخت مسافر ته خپل مال ورکوي [د دې لپاره] چي مسافر هغه ده ته په امانت ورکړي او مسافر پر دې [امانت ورکولو] ګواهان پېش کړي فَيَحْتَالُ لِإِبْطَالِ حَقِّ غَيْرِهِ نو [په دې توګه] هغه د بل چا د حق باطلولو لپاره حيله کوي فَإِذَا اتَّهَمَهُ الْقَاضِي بِهِ لهذا کله چي قاضي هغه په

۞ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، قال شيخ الاسلام خواهرزاده في مبسوطه: ما ذهب إليه أبو يوسف رَحِمَهُ الله استحسانٌ، ذهب إليه بعد ما ابتلى بالقضاء (نتائج الأفكار ج:۷، ص:۲۲۵)، وكذا في الدر المختار (ج:۴، ص:۴۸۴). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۸۲]

دي [يعني په حيله کولو] سره متهم وګڼي لَا يَقْبَلُهُ نو قاضي به د هغه حجت [بينه] نه قبلوي وَلَوْ قَالَ الشُّهُودُ: أَوْدَعَهُ رَجُلٌ لَا نَعْرِفُهُ او که چيرې ګواهان ووايي: چې دغه قابض ته داسې سړي [هغه شی] په امانت ورکړی دی چې موږ هغه نه پېژنو لَا تَنْدَفِعُ عَنْهُ الْخُصُومَةُ نو په دې سره به خصومت نه دفع کيږي لِاحْتِمَالِ أَنْ يَكُونَ الْمُودِعُ هُوَ هَذَا الْمُدَّعِي د دې احتمال په وجه چې امانت ورکونکی به همدا مدعي وي وَلِأَنَّهُ مَا أَحَالَهُ إِلَى مُعَيَّنٍ يُمْكِنُ لِلْمُدَّعِي اتِّبَاعُهُ او ځکه چې قابض دا مدعي د يو مُعيّن سړي وطرف ته نه دی حواله کړی چې د مدعي لپاره په هغه پسې کېدل ممکن سي فَلَوِ انْدَفَعَتْ نو که چيرې خصومت دفع سي لَتَضَرَّرَ بِهِ الْمُدَّعِي نو په دې سره به مدعي ته نقصان ورسيږي وَلَوْ قَالُوا: نَعْرِفُهُ بِوَجْهِهِ وَلَا نَعْرِفُهُ بِاسْمِهِ وَنَسَبِهِ او که ګواهان ووايي: چې موږ هغه سړی [امانت ورکونکی] په شکل سره پېژنو لېکن په نوم او نسب سره يې نه پېژنو فَكَذٰلِكَ الْجَوَابُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ نو هم د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دا حکم دی لِلْوَجْهِ الثَّانِي د دويم دليل په وجه [يعني ځکه چې قابض دا مدعی د مُعيّن سړي وطرف ته...] وَعِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ[*] تَنْدَفِعُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز خصومت دفع کيږي لِأَنَّهُ أَثْبَتَ بِبَيِّنَتِهِ أَنَّ الْعَيْنَ وَصَلَ إِلَيْهِ مِنْ جِهَةِ غَيْرِهِ ځکه چې قابض په خپل بيّنه سره دا ثابته کړه چې دا عَين شی ما ته د بل چا له طرفه رسېدلی دی [نه د مدعي له طرفه] حَيْثُ عَرَفَهُ الشُّهُودُ بِوَجْهِهِ ځکه چې ګواهان هغه [بل څوک] په شکل سره پېژني بِخِلَافِ الْفَصْلِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول صورت فَلَمْ يَكُنْ يَدُهُ يَدَ خُصُومَةٍ نو ځکه د هغه [مدعیٰ عليه] قبضه د خصومت قبضه نه سوه وَهُوَ الْمَقْصُودُ او همدا مقصود دي وَالْمُدَّعِي هُوَ الَّذِي أَضَرَّ بِنَفْسِهِ او مدعي خپل ځان ته خپله نقصان رسولی دی حَيْثُ نَسِيَ خَصْمَهُ ځکه چې هغه خپل خصم [مدعیٰ عليه] هېر کړی دی أَوْ أَضَرَّهُ شُهُودُهُ يا د مدعیٰ عليه ګواهانو هغه ته نقصان رسولی دی دُوْنَ الْمُدَّعٰى عليه او مدعیٰ عليه [قابض] هغه ته نقصان نه دی رسولی وَهٰذِهِ الْمَسْأَلَةُ مُخَمَّسَةُ كِتَابِ الدَّعْوٰى او دا مسئله د کتاب الدعویٰ "مخمسه"

[*] القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الدر المختار (ج:۴، ص:۴۸۳)، وكذا في مجمع الأنهر (ج:۳، ص:۳۷۰). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۸۲]

مسئله ده [مطلب دا چي په كتابُ الدعوىٰ كي دا مسئله په "مخمسه" سره نومول سې ده] وَقَدْ ذَكَرْنَا الْأَقْوَالَ الْخَمْسَةَ او موږ [په دې مسئله كي] پنځه اقوال ذكر كړل.

**اللغات:** ﴿أَوْدَعَ﴾ د افعال د باب ماضي صيغه ده: په امانت ايښوول، په امانت وركول (امانتاً وركول)، ﴿خصومة﴾ جنګ (جګړه)، مراد ځني دعوىٰ ده. ﴿خصم﴾ په دعوىٰ كي هر فريق ته خصم وايي، يعني مدعىٰ عليه او مدعي يو د بل خصم دي، ﴿آجَرَ﴾ د افعال د باب ماضي صيغه ده: په اجاره وركول، په كرايه وركول. ﴿يد﴾ لاس، مراد ځني قبضه ده. ﴿تندفع﴾ د انفعال د باب مضارع ده: دفع كېدل، ليري كېدل، ختمېدل، ساقطېدل. ﴿يحوّل﴾ د تفعيل د باب مضارع ده. حَوَّلَ يُحَوِّلُ تَحْوِيْلًا: اړول، ګرځول، منتقل كول (نقلول)، بدلول. ﴿يُشْهِد﴾ د افعال د باب مضارع ده: ګواه درول، ګواه پېشول، ګواه جوړول. ﴿الشهود﴾ جمع د شَاهِدٌ ده: ګواه، شاهدي اداء كونكى. ﴿مُودِع﴾ د افعال د باب فاعل دى: په امانت ايښوونكى، په امانت وركونكى (امانتاً وركونكى).

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دى كه ديو سړي (مثلاً د خالد) په قبضه كي يو پُسه وي او بل څوک (مثلاً زيد) په هغه دعوىٰ وكړي چي "دا پُسه زما دى او زه يې مالک يم"، بيا قابض (خالد) داسي ووايي چي "دا پُسه د فلانكي سړى (مثلاً د ادريس) دى كوم چي اوس غائب دى او هغه ما ته امانتاً راكړى دى، يا هغه ما ته درهن په توګه راكړى دى، يا ما دا پُسه له هغه ځخه غصب كړى دى، يا هغه ما ته په اجاره (په مزدروي) راكړى دى" او قابض (خالد) پر خپل قول بيّنه هم پېش كړي، نو په دې ټولو صورتونو كي به د قابض بيّنه قبلول كيږي او په دې بيّنه سره د هغه او مدعي (زيد) تر مينځ خصومت دفع كيږي (ختميږي)، يعني دا قابض د مدعي خصم (مدعىٰ عليه) نه ګرځي يعني قاضي به د هغه په خلاف د مدعي دعوىٰ نه اوري او له مدعي ځخه به د بيّنې مطالبه نه كوي؛ د مذكوره ټولو صورتونو دليل دا دى چي قابض (خالد) په بيّنه سره دا ثابته كړه چي زما قبضه د خصومت قبضه نه ده (يعني زما په قبضه كي چي كوم شى دى هغه زما نه دى، لهذا زما سره خصومت او دعوىٰ كول بالكل صحيح نه دي)، او كوم څوک چي دا ثابته كړي چي زما قبضه د خصومت قبضه نه ده، نو هغه د مدعي خصم نه ګرځي، نو ځكه دغه قابض (خالد) به د مدعي (زيد) خصم نه ګرځي او په دې ټولو صورتونو كي به د مدعي قول او دعوىٰ نه اورېدل كيږي.

ابن شبرمه (كوم چي د كوفې قاضي وو) فرمايي چي د قابض له طرفه د بيّنه پېشولو باوجود خصومت نه دفع كيږي بلكي هغه د مدعي خصم (مدعىٰ عليه) ګرځي او قاضي به د مدعي قول او

دعویٰ اوري؛ دليل دا دی چي دلته قابض (خالد) په خپل بينه سره د غائب (ادریس) لپاره ملکيت ثابت کړی او دا اقرار يې وکړی چي "دا پُسه د فلانکي غائب (ادریس) دی". حال دا چي غائب کس لپاره د ملکيت ثابتولو په باره کي دا ضروري ده چي قابض به د هغه له طرفه خصم وي (يعني دا ضرري ده چي غائب [ادریس] به هغه د دې وکيل جوړ کړي وي چي "ته زما لپاره ملکيت ثابت کړه!"). لېکن دلته قابض (خالد) د هغه (ادریس) له طرفه خصم نه دی، لهذا کله چي قابض يعني مدعیٰ عليه د غائب له طرفه خصم نه دی، نو د غائب لپاره ملکيت ثابتول ناممکن سوه (ځکه چا ته دا حق نسته چي ديو چا له رضا څخه بغير د هغه لپاره ملکيت ثابت کړي او د هغه په ملکيت کي يو شی داخل کړي). لنډه دا چي ثابته سوه چي دلته د غائب لپاره ملکيت نه ثابتيږي، او څرنګه چي له قابض څخه د خصومت دفع کېدل (او د هغه نه خصم کېدل) د غائب لپاره پر ملکيت ثابتېدلو مبني دي (يعني د هغه نه خصم کېدل پر دې مبني دي چي د غائب لپاره د پُسه ملکيت ثابت سي)، او دلته د غائب لپاره ملکيت ثابتول ممکن نه دي، او پر ناممکن شي چي کوم شی مبني وي هغه هم ناممکن ګرځي، نو ځکه له قابض څخه د خصومت دفع کېدل به هم ناممکن وي او هغه به په هر صورت کي د مدعي خصم ګرځي.

قلنا إلخ: دا زموږ له طرفه د ابن شبرمه رَحِمَهُ الله د دليل جواب دی، زموږ د جواب حاصل دا دی چي قابض (مدعیٰ عليه) چي کومه بينه پېش کړې ده: هغه د دوو شيانو تقاضا کوي: ① د غائب کس لپاره ملکيت ثابتېدل، مګر څرنګه چي په دې باره کي د غائب هيڅ خصم نسته، نو ځکه د غائب لپاره خو ملکيت نه ثابتيږي، ② دويم د دې خبري تقاضا کوي چي له قابض څخه خصومت دفع سي (ختم سي) او په دې خبره کي قابض په خپله خصم دی، نو ځکه د قابض په به حق کي به د خصومت دفع کېدل ثابتيږي او هغه به د مدعي خصم نه ګرځي.

د دې مثال دا دی چي د يو خاوند (مثلا د زيد) ښځه د پلار په کور کي وي او بيا يو څوک ووايي چي "زه د خاوند (زيد) له طرفه د دې وکيل جوړ سوی يم چي زه دا ښځه هغه ته منتقل کړم" (يعني هغه ما ته ويلي دي چي "زما ښځه ته راوله!")، لېکن کله چي ښځه د هغه خبره واوري نو ښځه پر دې بينه پېش کړي چي هغه (زيد) ما ته طلاق راکړی دی، نو د ښځي په دغه بينه سره که څه هم طلاق نه ثابتيږي تر څو چي غائب خاوند (زيد) را نه سي، لېکن په دې بينه سره د وکيل حق ختميږي او هغه بالکل ښځه نه سي بېولای، نو همداسي په پورتنۍ مسئله کي که څه هم د قابض (خالد) په بينه سره د غائب کس (ادریس) لپاره ملکيت نه ثابتيږي، لېکن په دې سره به خصومت خامخا دفع کيږي او هغه به د مدعي خصم نه ګرځي.

**ولاتندفع... كما قال ابن أبي ليلىٰ إلخ:** قاضي ابن ابي ليلىٰ فرمايي چې محض د قابض په دې اقرار سره چې "دا پسه د فلانکي غائب دی" خصومت دفع کیږي (یعني محض په دې اقرار سره هغه د مدعي خصم نه ګرځي). که څه هم هغه بینه پېش نه کړي. لنډه دا چې زموږ په نېز بغیر له بینه پېشولو خصومت نه دفع کیږي لېکن د ابن ابي ليلىٰ په نېز بغیر له بینه پېشولو هم خصومت دفع کیږي.

**دليل:** د ابن ابي ليلىٰ دليل دا دی چې قابض د غائب کس (ادریس) لپاره د ملکیت اقرار کړی دی او اقرار بذات خود ثابتونکی حجت دی. لهذا د قابض په اقرار سره دا خبره ثابته سوه چې پسه د غائب کس په ملکیت کي دی او هغه د پسه مالک دی او د قابض قبضه صرف د حفاظت په توګه ده (یعني هغه فقط د پسه حفاظت کوي). لهذا کله چې محض په اقرار سره د غائب لپاره ملکیت ثابت سو، نو بیا به بینه پېشولو ته هم ضرورت نه وي، بلکي بغیر له بینه پېشولو به له قابض څخه خصومت دفع کیږي او هغه به د مدعي خصم نه ګرځي.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د هغه په جواب کي فرمايي چې قابض د خپل ظاهري قبضې په وجه خصم ګرځېدلی دی نو څکه هغه په خپل زباني اقرار سره دا غواړي چې له خپل غاړي څخه د مدعي حق ایسته کړي او د غائب پر غاړه یې واچوي، نو څکه هغه به په خپل دغه اقرار کي متهم وي، او بغیر له حجته د متهم کس د قول تصدیق نه کیږي، نو څکه د دې قابض (خالد) د قول تصدیق به هم بغیر له حجته نه کیږي بلکي هغه به پر خپل قول حجت یعني بینه پېشوي. د دې مثال داسي دی لکه یو سړی چې له خپل غاړي څخه قرض د بل چا غاړي ته حواله کړي، مثلاً داسي ووايي چې ما د دې قرض مطالبه فلانکي کس ته حواله کړه (لهذا ته له هغه څخه د قرض مطالبه وکړه!). نو د دغه حواله کونکي کس د قول تصدیق بغیر له حجته نه کیږي، همداسي به دلته هم د قابض د قول تصدیق بغیر له حجته نه کیږي.

**وقال أبويوسف إلخ:** د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله آخري قول دا دی چې که قابض یو صالح او نېک سړی وي، نو د دې حکم هغه دی کوم چې موږ بیان کړی، یعني په بینه پېشولو سره به له هغه څخه خصومت دفع کیږي، او که د هغه مکر او چل بازي په خلکو کي مشهوره وي او قاضي په هغه خبر وي چې مکرجن او چل باز سړی دی، نو له هغه څخه به خصومت نه دفع کیږي که څه هغه بینه پېش کړي. لکه څرنګه چې ابن شبرمه فرمايلي دي؛ څکه کوم سړي چې چل باز (حیله باز) وي، هغه څیني وخت د بل چا د حق باطلولو لپاره خپل مال یو مسافر (غائبېدونکي کس) ته ورکړي او هغه ته ووايي چې "ته د خلکو په مخکي ما ته دا مال په امانت کېښېږده! چې هغوی پر دې ګواهان جوړ سي"، او دا حیله هغه د دې لپاره کوي چې د بل چا یعني د مدعي حق باطل سي او مدعي د بینه په

ذريعه هم خپل حق ثابت نه کړی سي، اوس ښکاره خبره ده چي که قاضي د هغه په مکاري او چل بازي خبر وي نو هغه به په خپل قول کي متهم ګڼي او بالکل به د هغه بيّنه او حجت نه قبلوي.

ستاسو د اسانتيا لپاره به د پورتني خبري صورت ذکر کړو، د هغه صورت دا دی چي مثلاً زيد يو مکرجن او حيله باز سړی دی او پر هغه د نورو خلکو حقونه او قرضونه بانذي دي، او حقداره خلک دا اراده لري چي د زيد له مال څخه خپل حقونه او قرضونه واخلي، نو زيد د خپل ځان خلاصولو لپاره دا پلان او حيله جوړه کړه چي خپل مال يې په پټه يو مسافر ته ورکړی او هغه ته يې وويل چي "ته ګواهان راوغواړه! او د هغو مخته دا مال ما ته امانتاً راکړه، يا يې په رهن کښېږده!"، نو په دې سره به زيد ته دا فايده ورسيږي چي مسافر خو به ولاړ سي لېکن کله چي حقداره خلک په هغه دعویٰ وکړي چي موږ ته خپل حقوق او قرضونه راکړه!، نو دا حيله باز (زيد) به هغه ګواهان پېش کړي چي دا زما مال نه دی بلکي فلانکي غائب (مسافر) ما ته امانتاً راکړی دی، نو په دې توګه به هغه د حقداره خلکو له خصومت (دعویٰ) څخه خلاص سي. نو ځکه امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي کله قابض (مدعیٰ عليه) حيله باز او مکرجن وي نو قاضي به د پورتني تهمت په وجه له هغه څخه خصومت نه دفع کوي که څه هم هغه بيّنه پېش کړي.

ښکاره دي وي چي مذکوره حکم په هغه صورت کي دی کله چي ګواهانو د مسافر (غائب کس) نوم او نسب بيان کړی وي. او که ګواهان داسي وواييي چي "دغه قابض ته يو سړي هغه شی (پسه) په امانت ورکړی دی لېکن موږ هغه سړی په شکل او صورت سره نه پېژنو او د هغه په نوم او نسب واقف نه يو"، نو په دې صورت کي بالاجماع له قابض څخه خصومت نه دفع کيږي؛ ځکه په دې صورت کي دا ممکنه ده چي امانت ورکونکی (مودِع) به همدا مدعي وي لېکن ګواهان به هغه نه پېژني، او بل دا چي قابض دغه مدعي د يو مُعيّن کس وطرف ته هم نه دی حواله کړی چي مدعي هغه تلاش کړي او په هغه پسې سي، لهذا اوس که په داسي صورت کي له قابض (مدعیٰ عليه) څخه خصومت دفع کړی سي، نو مدعي ته به نقصان ورسيږي، نو ځکه په دې صورت کي به له هغه څخه خصومت نه دفع کيږي بلکي هغه به د مدعي خصم ګرځي.

او که ګواهان داسي وواييي چي موږ هغه امانت ورکونکی (مُودِع) په شکل او صورت سره خو پېژنو لېکن د هغه په نوم او نسب واقف نه يو، نو هم د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز خصومت نه فع کيږي؛ ځکه چي په دې صورت کي هم د مدعي لپاره د هغه تلاش کول او په هغه پسې کېدل ممکن نه دي او په خصومت دفع کولو کي د هغه نقصان دی. لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په دې صورت کي خصومت دفع کيږي؛ ځکه قابض د ګواهانو په ذريعه دا خبره ثابته کړه چي "امانت

راکونکی مدعي نه دی بلکي ما ته له مدعي څخه بغير بل چا دا شی (پسه) په امانت راکړی دی" او گواهان هغه بل څوک په شکل او صورت سره پېژني هم، نو ځکه په دې صورت کې به خصومت دفع کیږي، د دې په خلاف په اول صورت کې ځکه خصومت نه دفع کیږي چې په هغه صورت کې له مدعي څخه بغیر د بل چا له طرفه قابض ته امانت ورکول ثابت نه دي او نه په هغه صورت کې د بل چا پېژندل ممکن دي. لنډه دا چې په دویم صورت کې (یعني کله چې د قابض [مدعیٰ علیه] گواهان داسې ووايي چې مودِع امانت ورکونکی په شکل سره پېژنو، په دې صورت کې) د قابض قبضه د خصومت قبضه نه ده، بلکې د حفاظت قبضه ده، او د خصومت دفع کولو لپاره همدا مقصود دي. او پاتې شو د خصومت دفع کولو په وجه چې کوم نقصان مدعي ته ورسیږي، نو د هغه ذمه وار په خپله مدعي دی؛ ځکه هغه په خپله خپل خصم هېر کړی دی او ځان ته یې نقصان رسولی دی، یا د مدعیٰ علیه گواهانو هغه ته نقصان رسولی دی، لنډه دا چې مدعي ته په نقصان رسولو کې د مدعیٰ علیه (قابض) لاس نشته.

وهذه المسألة إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې په کتاب الدعویٰ کې دا مسئله په "مخمسه" سره نومول سوې ده، او په دې مسئله کې پنځه اقوال نقل سوي دي کوم چې مورډ ذکر کړل چې هغه دا دي: ① د ابن شبرمه رَحِمَهُ الله قول، ② د ابن ابي ليلیٰ رَحِمَهُ الله قول، ③ د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله قول، ④ د امام محمد رَحِمَهُ الله قول، ⑤ د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول.

## د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَإِنْ قَالَ: اِبْتَعْتُهُ مِنَ الْغَائِبِ او که [قابض] ووايي: چې ما دا له غائب څخه رانیولی دی فَهُوَ خَصْمٌ نو هغه خصم [مدعیٰ علیه] گرځي لِأَنَّهُ لَمَّا زَعَمَ أَنَّ يَدَهُ يَدُ مِلْكٍ ځکه کله چې هغه دا گومان وکړی زما قبضه د ملکیت قبضه ده اِعْتَرَفَ بِكَوْنِهِ خَصْمًا نو هغه د خپل خصم کېدلو اقرار وکړی وَإِنْ قَالَ الْمُدَّعِيْ: غَصَبْتَهُ مِنِّيْ أَوْ سَرَقْتَهُ مِنِّيْ او که مدعي ووايي: چې تا هغه زما څخه غصب کړی دی یا تا هغه زما څخه غلا کړی دی لَا تَنْدَفِعُ الْخُصُوْمَةُ نو خصومت نه دفع کیږي وَإِنْ أَقَامَ ذُو الْيَدِ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْوَدِيْعَةِ که څه هم قابض پر امانت بیّنه پېش کړي [چې فلانکي غائب هغه ما ته په امانت راکړی دی] لِأَنَّهُ إِنَّمَا صَارَ خَصْمًا بِدَعْوَى الْفِعْلِ عَلَيْهِ لَا بِيَدِهِ ځکه چې قابض د فعل [غصب یا غلا] د دعوې په وجه خصم گرځېدلی دی، نه د خپل قبضې په وجه بِخِلَافِ دَعْوَى الْمِلْكِ الْمُطْلَقِ په خلاف د ملک مطلق د دعوې لِأَنَّهُ خَصْمٌ فِيهِ بِاعْتِبَارِ يَدِهِ ځکه چې په هغه کې قابض د خپل قبضې په وجه خصم

دی حَتّٰی لَا یَصِحَّ دَعْوَاهُ عَلٰی غَیْرِ ذِی الْیَدِ وَیَصِحُّ دَعْوَی الْفِعْلِ همدا وجه ده چې پر غیرِ قابض د ملک مطلق دعویٰ صحیح نه ده او [پر هغه] د فعل دعویٰ صحیح ده.

**اللغات**: ﴿ابتعته﴾ د افتعال له بابه د واحد متکلم ماضي صیغه ده: رانیول. ﴿ودیعة﴾ امانت (په امانت ورکول سوی شی).

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که په مخکنۍ مسئله کې قابض (خالد) داسي ووایي چي "ما دا پُسه له فلانکي غائب (ادریس) څخه رانیولی دی (لهذا د پُسه مالک زه یم)"، نو په دې صورت کي له هغه څخه خصومت نه دفع کیږي یعني هغه خصم (مدعیٰ علیه) ګرځي او قاضي به د هغه په خلاف د مدعي قول او دعویٰ اوري؛ ځکه کله چي قابض دا اقرار او دا ګومان وکړی چي "زه په مالکانه توګه پر دې پُسه قابض یم او زه یې مالک یم"، نو ګواکي هغه د خپل ځان د خصم کېدلو اقرار هم وکړی، نو ځکه به هغه خصم ګرځي او له هغه څخه به خصومت نه دفع کیږي.

او که چیري مدعي قابض ته ووایي چي "تا دا پُسه زما څخه غصب کړی دی، یا زما څخه دي غلا کړی دی"، نو هم له هغه څخه خصومت نه دفع کیږي؛ او که بیا قابض په بیّنه سره دا ثابته کړي چي "دا پُسه فلانکي غائب (ادریس) ما ته امانتاً راکړی دی"، نو هم خصومت نه دفع کیږي بلکي هغه خصم ګرځي؛ ځکه چي په دې صورت کي قابض په دې وجه خصم ګرځېدلی دی چي پر هغه د غصب یا د غلا د فعل دعویٰ سوې ده او هغه دلته د خپل قبضې په وجه خصم نه دی ګرځېدلی. لهذا کله چي هغه د خپل فعل (غصب یا غلا) په وجه خصم دی، نو ښکاره خبره ده چي له هغه څخه به خصومت نه دفع کیږي.

د دې په خلاف د مطلق ملکیت چي کومه دعویٰ ده، یعني کله چي قابض داسي ووایي چي "زه د پُسه مالک یم"، نو په دې دعویٰ کي قابض د خپل قبضې په وجه خصم ګرځېدلی دی، نه د فعل په وجه، همدا وجه ده چي پر غیرِ قابض د مطلق ملکیت دعویٰ کول صحیح نه دي، لېکن د غصب یا د غلا د فعل دعویٰ کول پر غیرِ قابض هم صحیح او جائز ده.

## د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَإِنْ قَالَ الْمُدَّعِي: سُرِقَ مِنِّيْ او که مدعي ووایي: چي هغه زما څخه غلا سوی دی وَقَالَ صَاحِبُ الْیَدِ: أَوْدَعَنِیْهِ فُلَانٌ وَأَقَامَ الْبَیِّنَةَ او قابض ووایي: چي هغه ما ته فلانکي کس امانتاً راکړی دی لَمْ تَنْدَفِعِ الْخُصُومَةُ نو خصومت نه دفع کیږي وَهٰذَا قَوْلُ أَبِیْ حَنِیْفَةَ وَأَبِیْ یُوْسُفَ او دا د شیخینو رَحِمَهُمَا اللهُ قول

دی وَهُوَ اسْتِحْسَانٌ او همدا استحسان دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ ۞: تَنْدَفِعُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي خصومت دفع كيږي لِأَنَّهُ لَمْ يَدَّعِ الْفِعْلَ عَلَيْهِ ځکه چي مدعي پر قابض د فعل [غلا] دعویٰ نه ده کړې فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: غُصِبَ مِنِّي عَلَى مَا لَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهُ نو دا داسي سو: لکه مدعي چي ووايي: غصب مني په داسي صيغه سره چي د فعل فاعل ذکر نه کړي [یعني داسي سو لکه مدعي چي د مجهول په صيغه سره ووايي: غُصِبَ مِنِّيْ (زما څخه هغه شی غصب سوی دی)] وَلَهُمَا: أَنَّ ذِكْرَ الْفِعْلِ يَسْتَدْعِي الْفَاعِلَ لَا مَحَالَةَ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي د فعل ذکر کول د فاعل تقاضا کوي وَالظَّاهِرُ أَنَّهُ هُوَ الَّذِي فِي يَدِهِ او ظاهر حال دا دی چي فاعل [غل] هغه کس دی د کوم په قبضه کي چي [هغه شی] دی إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يُعَيِّنْهُ دَرْءًا لِلْحَدِّ لیکن مدعي ځکه هغه فاعل [غل] نه دی مُتعین کړی چي [له هغه څخه] حد لیري سي شَفَقَةً عَلَيْهِ وَإِقَامَةً لِحِسْبَةِ السَّتْرِ پر هغه د شفقت کولو او د پرده ساتلو د ثواب حاصلولو په خاطر فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: سَرَقْتَ نو دا داسي سو لکه مدعي چي [قابض] ته ويلي وي: تا غلا کړې دی بِخِلَافِ الْغَصْبِ په خلاف د غصب لِأَنَّهُ لَا حَدَّ فِيهِ ځکه چي په غصب کي حد نسته فَلَا يَحْتَرِزُ عَنْ كَشْفِهِ نو ځکه مدعي به د هغه له ښکاره کولو څخه ځان نه ساتي.

**اللغات:** ﴿سُرِق﴾ د نصر له بابه د واحد مذکر غائب مجهولي صيغه ده: غلا کېدل. ﴿صاحب اليد﴾ د قبضې خاوند (قبضې والا)، قابض، د چا په قبضه کي چي شی وي. ﴿درء﴾ د فتح د باب مصدر دی: ليري کول، دفع کول. ﴿حِسبة﴾ اجر او ثواب، داسي کار چي پر هغه د ثواب حاصلېدلو ګومان وي. د نصر د باب مصدر دی: پټول، عيب پټول، پرده ساتل (پرده پوشي). ﴿سَتْر﴾ د نصر د باب مصدر دی: پټول، عيب پټول، پرده ساتل (پرده پوشي).

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که مدعي ووايي چي "دا پُسه کوم چي د قابض (خالد) په قبضه کي دی، زما څخه غلا سوی دی" او داسي نه ووايي "چي تا (قابض) زما څخه غلا کړی دی"، او قابض داسي ووايي چي "دا ما ته فلانکي غائب (ادريس) امانتاً راکړی دی" او هغه پر دې خبره بيّنه هم

---

۞ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَاالله، كما ذكر في رد المختار (ج:۴، ص:۴۸۵)، وكذا في الهندية (ج:۴، ص:۴۹). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۸۳]

پېش کړي، نو په دې صورت کې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز خصومت نه دفع کيږي بلکې قابض د مدعي خصم ګرځي، او همدا استحسان دی، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز خصومت دفع کيږي، او همدا قياس دی.

**د امام محمد ليل:** دا دی چې مدعي د مطلق غلا دعویٰ کړې ده او پر قابض يې د غلا د فعل دعویٰ نه ده کړې (چې تا غلا کړې دی) نو ځکه د هغه دا دعویٰ باطله ده، او کله چې مدعي د قابض په خلاف دعویٰ نه ده کړې، نو ښکاره خبره ده چې قابض به د هغه خصم هم نه ګرځي، او د دې مثال دا دی لکه مدعي چې ووايي: "دا پُسه زما څخه غصب سوی دی" لېکن هغه د غاصب نوم نه واخلي، نو ښکاره خبره ده چې په دې صورت کې هم قابض خصم نه ګرځي، همداسې به په پورتنۍ مسئله کې هم قابض خصم نه ګرځي او خصومت به دفع کيږي.

**د شيخينو دليل:** د شيخينو د دليل حاصل دا دی چې کله مدعي د غلا خبره ذکر کړه چې زما څخه غلا سوې ده، نو ښکاره خبره ده چې غلا کونکی خامخا يو څوک دی؛ ځکه چې هيڅ فعل هم له فاعل څخه بغير نه سي کېدای، او په پټو ځايو کې ظاهر حال ګواه او دليل ګرځول کيږي؛ نو څرنګه چې په دې مسئله کې هم فاعل پټ او نا معلوم دی، او د ظاهر حال مطابق هغه کس غل دی چې د چا په قبضه کې غلا سوی شی (پُسه) دی، لهذا د ظاهر حال مطابق به دا قابض (خالد) غل وي، نو ځکه په دې صورت کې به له هغه څخه خصومت نه دفع کيږي بلکې هغه به خصم ګرځول کيږي.

پاته سو دا سوال چې مدعي خو دا قابض غل نه دی مُتعيّن کړی (يعني دا يې نه دي ويلي چې هغه زما څخه غلا کړی دی)؟، نو د دې جواب دا دی چې کېدای سي مدعي به د شفقت پر بنآء د غله قابض نوم نه وي اخيستی د دې لپاره چې هغه د غلا له حد او سزا څخه خلاص سي، او د ثواب حاصلولو په نيت به هغه د قابض پرده ساتلې وي او خالي (محض) د غلا دعویٰ به يې کړې وي، نو ځکه د هغه دعویٰ کول به د "سَرَقْتَ" ويلو په درجه کې وي (يعني ګواهي هغه قابض ته ويلي دي چې: "تا پُسه غلا کړی دی")، او د "سَرَقْتَ" ويلو په صورت کې خصومت نه دفع کيږي، نو ځکه په پورتنۍ مسئله کې به هم خصومت نه دفع کيږي بلکې قابض به خصم ګرځي. د دې په خلاف د غصب معامله ده، ځکه چې په غصب کې هيڅ حد نسته. نو ځکه هلته مذکوره احتمال نه سي کېدای بلکې د غصب په صورت کې به مدعي په ښکاره توګه "غَصَبْتَ" وايي او د غصب د اظهار په باره کې به احتياط نه کوي، لهذا غلا پر غصب قياسول صحيح نه دي لکه څرنګه چې امام محمد رَحِمَهُ الله پر غصب قياس کړې ده. (احسن الهدايه)

## د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

وَإِنْ قَالَ الْمُدَّعِيْ: اِبْتَعْتُهُ مِنْ فُلَانٍ او که مدعي ووايي: چې ما هغه له فلانکي شخصه رانيولی دی وَقَالَ صَاحِبُ الْيَدِ: أَوْدَعَنِيْهِ فُلَانٌ ذٰلِكَ او قابض ووايي: چې هغه ما ته فلانکي امانتاً راکړی دی سَقَطَتِ الْخُصُوْمَةُ بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ نو خصومت بغير له بينې ساقطيږي لِأَنَّهُمَا لَمَّا تَوَافَقَا عَلٰى أَنَّ أَصْلَ الْمِلْكِ فِيهِ لِغَيْرِهِ ځکه کله چې دواړو پر دې اتفاق وکړی چې په دې شي کې اصل ملکيت د بل چا دی فَيَكُوْنُ وُصُوْلُهَا إِلٰى يَدِ ذِي الْيَدِ مِنْ جِهَتِهِ نو د قابض و قبضې ته به د دې شي رسېدل د هغه [بل چا] له طرفه وي فَلَمْ تَكُنْ يَدُهٗ يَدَ خُصُوْمَةٍ نو ځکه د قابض قبضه به د خصومت قبضه نه وي إِلَّا أَنْ يُقِيْمَ الْبَيِّنَةَ أَنَّ فُلَانًا وَكَّلَهٗ بِقَبْضِهٖ مګر دا چې مدعي پر دې خبره بيّنه پېش کړي چې فلانکي زه پر دې شي د قبضه کولو وکيل جوړ کړی يم لِأَنَّهٗ أَثْبَتَ بِبَيِّنَتِهٖ كَوْنَهٗ أَحَقَّ بِإِمْسَاكِهَا ځکه چې [په دې صورت کې] هغه په خپل بيّنه سره دا ثابته کړه چې هغه د دې دعوىٰ کړده شي د ساتلو زيات مستحق دی.


**اللغات:** ﴿يد﴾ لاس، مراد ځنې قبضه او ملکيت دی، ﴿صاحب اليد﴾ قابض، د کوم کس په قبضه کې چې شی وي، ﴿خصومة﴾ جنګ (جګړه)، مراد ځنې دعوىٰ ده، ﴿بيّنة﴾ ګواهي، شواهد، ﴿إمساك﴾ د افعال د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوې دي چې له هغه ځخه ځينې دا دي: منع کول، راګرځول، ساتل، حفاظت کول.

**تشريح:** صورت د مسئلې بالکل واضح او آسانه دی، مختصره تشريح يې دا ده چې که مثلاً د خالد په قبضه کې يو پُسه وي او زيد په هغه دعوىٰ وکړي چې "دا پُسه زما دی او ما هغه له ادريس شخصه رانيولی دی"، او قابض يعني خالد ووايي چې "ادريس دا پُسه ما ته امانتاً راکړی دی"، نو په دې صورت کې له بيّنه او حجت شخه بغير خصومت ساقطيږي (ختميږي) يعني دې ته ضرورت نسته چې قابض (خالد) په دې هکله بيّنه پېش کړي چې "ادريس دا پُسه ما ته امانتاً راکړی دی" بلکې له دې شخه بغير خصومت دفع کيږي؛ ځکه چې مدعي هم له هغه کس شخه د پُسه رانيولو دعوىٰ کوي

د کوم کس په باره کې چې قابض د امانت دعوىٰ کوي (چې هغه ادريس دی)، نو په دې حواله سره دواړه پر دې خبره متفق دي چې دا پُسه د بل چا يعني د ادريس ملکيت دی او د هغه له طرفه قابض ته رسېدلی دی، لهذا پر دې پُسه چې د قابض کومه قبضه ده، هغه د خصومت قبضه نه ده، او کله چې هغه د خصومت قبضه نه ده، نو د خصومت دفع کولو لپاره به بيّنه پېشولو ته ضرورت هم نه وي.

ها! که چيرې مدعي دا دعوىٰ وکړي چې "ادريس زه پر دې پُسه د قبضه کولو وکيل جوړ کړی يم (يعني هغه ما ته ويلي دي چې ته له خالد څخه زما پُسه واخله!) او مدعي پر دې خبره بيّنه هم پېش کړي، نو په دې صورت کې د مدعي دعوىٰ معتبره ده او هغه ته به د مذکوره پُسه دورکولو فيصله کيږي؛ ځکه په دې صورت کې مدعي دا خبره ثابته کړه چې اوس پر دې پُسه د قبضه کولو او د هغه د ساتلو زيات مستحق زه يم. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم

الحمد لله! نن د جمادي الثاني په يويشتمه (۲۱) نېټه ۱۴۴۰ھ په مطابق د فروري د اوويشتمې (۲۷) نېټې ۲۰۱۹ء د چهار شنبې په ماخوستن دا فصل پای ته ورسېدی.



# بَابُ مَا يَدَّعِيْهِ الرَّجُلَانِ

(دا) باب د هغه شي (په بيان کي) دی کوم چي يې دوه خلک دعویٰ کوي

**تشريح**: مخکي تر دې د يوه مدعي او د هغه د دعوې په هکله احکام او مسائل بيان سول، او اوس له دې ځايه د دوو مدعيانو او د هغوی د دعوو په هکله مسائل بيانيږي، او دا خبره خو د ادنیٰ درجې طالب هم ته معلومه ده چي يو (مفرد) له دوو (مرکب) څخه مخکي وي، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د يوه مدعي احکام او مسائل د دوو مدعيانو له احکامو او مسائلو څخه مخکي بيان کړي دي.

## د يوه شي په باره کي د دوو کسانو دعویٰ کول او بيّنه پېښول

قَالَ: وَإِذَا ادَّعَى اثْنَانِ عَيْنًا فِيْ يَدِ آخَرَ فرمايي: او کله چي دوه خلک په داسي شي دعویٰ وکړي کوم چي د بل چا په قبضه کي وي كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَزْعُمُ أَنَّهَا لَهُ [او] له دوی څخه هر يو دا ګومان کوي چي هغه شی زما دی وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ او دوی دواړه بيّنه پېش کړي قُضِيَ بِهَا بَيْنَهُمَا نو د دوی په مينځ کي به د هغه شي فيصله کيږي [او په نصف، نصف سره به تقسيمول کيږي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ فِيْ قَوْلٍ: تَهَاتَرَتَا وَفِيْ قَوْلٍ: يُقْرَعُ بَيْنَهُمَا او امام شافعي رَحِمَهُ الله په يوه قول کي فرمايلي دي: چي دواړې بيني ساقطيږي او په بل قول کي [يې فرمايلي دي]: چي د دوی په مينځ کي به قرعه اندازي کيږي لِأَنَّ إِحْدَى الْبَيِّنَتَيْنِ كَاذِبَةٌ بِيَقِيْنٍ ځکه چي له دواړو بينو څخه يوه بيّنه په يقيني توګه درواغجنه ده لِاسْتِحَالَةِ اجْتِمَاعِ الْمِلْكَيْنِ فِي الْكُلِّ فِيْ حَالَةٍ وَاحِدَةٍ ځکه چي په يوه حالت کي په ټوله شي کي د دوو ملکيتونو جمع کېدل ناممکن دي وَقَدْ تَعَذَّرَ التَّمْيِيْزُ او [د دوی په مينځ کي] توپير کول هم مشکل دي [چي کومه بيّنه درواغجنه ده او کومه يوه رښتونې ده] فَيَتَهَاتَرَانِ نو ځکه به دواړه ساقطيږي أَوْ يُصَارُ إِلَى الْقُرْعَةِ يا به د قرعه اندازۍ وطرف ته رجوع کيږي «لِأَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَقْرَعَ»[1] فِيْهِ وَقَالَ: اللّٰهُمَّ أَنْتَ

---

[1] تخريج: أخرجه الهيثمى فى مجمع الزوائد (ج:۴، ص:۲۰۳).

الْحَكَمُ بَيْنَهُمَا» ځکه [روايت سوی دی چې] نبي کريم ﷺ په داسې معامله کې قرعه اندازي وکړه او دا دعاء يې وکړه: "اې الله! ته د دوی په مينځ کې فيصل يې!" وَلَنَا حَدِيثُ تَمِيمِ بْنِ طَرَفَه[1] «أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي نَاقَةٍ وَأَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ فَقَضَى بِهَا بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ» او زموږ دليل د تميم بن طرفه ﷺ دا حديث دی: "چې دوو خلکو د نبي ﷺ په حضور کې د يو اوښې په باره کې دعویٰ وکړه او له دوی ځخه يوه بيّنه پېش کړه نو نبي ﷺ د دواړو په مينځ کې د نيمي، نيمي اوښې فيصله وکړه" وَحَدِيثُ الْقُرْعَةِ كَانَ فِي الِابْتِدَاءِ ثُمَّ نُسِخَ او د قرعه اندازي کولو حديث د اسلام په شروع کې وو بيا منسوخ کړی سو وَلِأَنَّ الْمُطْلَقَ لِلشَّهَادَةِ فِي حَقِّ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مُحْتَمَلُ الْوُجُودِ او ځکه چې له دوی دواړو ځخه د هر ګواه په حق کې د ګواهۍ د جائز ګرځونکي شي موجودېدل احتمال لري بِأَنْ يَّعْتَمِدَ أَحَدُهُمَا سَبَبَ الْمِلْكِ وَالْآخَرُ الْيَدَ په دې توګه چې يوه ګواه د ملکيت پر سبب او بل ګواه پر قبضې اعتماد کړی وي فَصَحَّتِ الشَّهَادَتَانِ نو دواړې ګواهۍ صحيح سوې فَيَجِبُ الْعَمَلُ بِهِمَا مَا أَمْكَنَ نو ځکه پر دواړو به حتی الامکان عمل کول ضروري وي وَقَدْ أَمْكَنَ بِالتَّنْصِيفِ او په نيمولو [نصف، نصف کولو] سره عمل کول مکن دي إِذِ الْمَحَلُّ يَقْبَلُهُ ځکه چې محل تنصيف قبلوي وَإِنَّمَا يُنَصَّفُ لِاسْتِوَائِهِمَا فِي سَبَبِ الِاسْتِحْقَاقِ او تنصيف به ځکه کېږي [يعني په نصف، نصف سره به ځکه تقسيمول کېږي] چې د استحقاق په سبب کې دواړه سره برابر دي.

**اللغات**: ﴿عَين﴾ مُتعيّن شی، ﴿يد﴾ قبضه، ﴿يزعم﴾ د مضارع صيغه ده، له نصر او فتح دواړو بابونو ځخه ويل کېدای سي: ګومان کول (احسن الهدايه)، ﴿يُقرع﴾ د افعال د باب مضارع مجهوله ده: قرعه اندازي کول، قرعه کشي کول، ﴿استحالة﴾ د استفعال د باب مصدر دی: نامکن کېدل، ﴿يتهاتران﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: ساقطېدل، ﴿الحَكَم﴾ فيصله کونکی، فيصل (فيصله کُن).

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی چې کله د خالد په قبضه کې (مثلاً) يو پُسه وي، بيا زيد او عمر داوړه په هغه دعویٰ وکړي او هر وروايي چې "دا پُسه زما دی"، او کله چې قاضي له هغو ځخه بيّنه

[1] تخريج: اخرجه البيهقی فی السنن الکبری، کتاب المعرفة (ج:۱۰، ص:۴۳۶).

يعني ګواهان طلب کړي، نو دواړه ګواهان پېش کړي، نو په دې صورت کي زموږ په نيز حکم دا دی چي هغه ډسه به د دواړو مدعيانو په مينځ کي نيم، نيم تقسيمول کيږي. او له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه دوه قوله نقل سوي دي: ①... اول قول دا دی چي د يوه مدعي په حق کي به هم هيڅ فيصله نه کيږي او د دواړو پېش کړل سوې بيّنه به د "إِذَا تَعَارَضَا تَسَاقَطَا" د قاعدې پر بنياد ردول کيږي.
②... دويم قول دا دی چي په دواړو مدعيانو کي به قرعه اندازي کيږي او د چا په نامه چي قرعه وخيږي، د هغه په حق کي به د مدعیٰ بهٖ شي (ډسه) فيصله کيږي.

**دليل**: د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دواړو قولونو مجموعي دليل دا دی چي صرف يو شی په يوه وخت کي د خپل ټولو اجزاؤ سره د دوو خلکو په ملکيت کي جمع کېدل ناممکن دي، نو ځکه له دواړو بيّنو (ګواهيو) څخه يوه بيّنه خو په يقيني توګه درواغجنه او مبني بر کذب ده. او څرنګه چي دا معلومات کول هم ډېر مشکل دي چي کومه بيّنه رښتونې ده او کومه درواغجنه ده. نو ځکه اوس د قاضي مخته صرف دوې لارې دي: ① يو دا چي قاضي دواړې بيّنې ساقط او بې اعتباره وګرځوي او دعویٰ ختم او ردّ کړي، ② يا دا چي د دواړو په مينځ کي د قرعه اندازۍ په ذريعه فيصله وکړي، او قرعه اندازي کول له نبي کريم ﷺ څخه هم ثابت دي، لکه څرنګه چي په معجم طبراني کي له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه دا روايت نقل سوی دی: "أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِيْ شَيْءٍ، فَأَقَامَا كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ، فَأَقْرَعَ بَيْنَهُمَا. وَفِيْ رِوَايَةٍ: قَالَ: اللّٰهُمَّ اقْضِ بَيْنَهُمَا أَوْ قَالَ: اللّٰهُمَّ أَنْتَ الْحَكَمُ بَيْنَهُمَا" (يعني دوو خلکو په يوه معامله کي دعویٰ او ختلاف وکړی او د فيصلې لپاره يې هغه دعویٰ د نبي ﷺ په حضور کي وړاندي کړه او هر يوه پر خپله دعویٰ بيّنه هم پېش کړه، نو نبي کريم ﷺ د قرعه اندازۍ په ذريعه د هغوی په مينځ کي فيصله وکړه... الخ).

**زموږ دليل**: د حضرت تميم بن طرفه رضي الله عنه دا حديث دی کوم چي مصنف ابن ابي شيبه رَحِمَهُ الله روايت کړی دی: "أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِيْ نَاقَةٍ وَأَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةً فَقَضٰى بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ" (يعني دوو خلکو د يوې اوښې په هکله اختلاف او دعویٰ وکړه چي د فيصلې لپاره يې هغه دعویٰ د نبي ﷺ په حضور کي پېش کړه، نو نبي کريم ﷺ هغه اوښه د دواړو په مينځ کي نيمه، نيمه تقسيم کړه". دا حديث د دې خبرې ښکاره دليل دی چي په پورتنۍ کي مسئله کي به د تنصيف (نيم، نيم تقسيمولو) په طريقه حکم او فيصله کيږي، نه د قرعه اندازۍ په توګه.

پاته سو هغه حديث چي په هغه کي د نبي کريم ﷺ له طرفه د قرعه اندازي کولو حکم ذکر سوی دی، نو د هغه جواب دا دی چي دا حکم د اسلام په شروع کي وو، لېکن کله چي خمار حرام کړی سو، نو دا حکم منسوخ کړی سو؛ ځکه چي د مستحق کس (حقدار کس) تعيين ابتداءً د استحقاق په درجه کي دی، او څرنګه چي د قرعه اندازي په ذريعه د استحقاق په تعيين (متعين کولو) کي خمار سته، همداسي د قرعه اندازي په ذريعه د مستحق په تعيين کي هم د خمار معنیٰ سته، او خمار حرام او ناجائز دی، لهذا په کوم شي کي چي د خمار بوی وي، هغه به هم ناجائز وي، نو ځکه اوس دا صورت منسوخ سوی دی.

ولأن المطلق للشهادة إلخ: زموږ دويم او عقلي دليل دا دی چي په دې مسئله کي د دواړو مدعيانو د بيني (ګواهانو) د قبلولو او معتبر کېدلو وجه دا ده چي دواړو ګواهانو داسي ګواهي ورکړې ده کوم چي قبلول کېدای سي، مثلاً دا ممکنه ده چي يوه ګواه به هغه پُسه د خپل مدعي په قبضه کي ليدلی وي او بل ګواه به خپل مدعي د هغه پُسه پر رانيولو ليدلی وي (يعني بل ګواه به د ملکيت پر سبب [رانيولو] اعتماد کړی وي) او په دې حواله سره د دواړو ګواهي (بينه) صحيح ده، او کله چي ګواهي صحيح ده، نو ښکاره خبره ده چي پر هغه عمل کول هم ضروري دي، او د عمل کولو صحيح او رښتونی صورت همدا دی چي مدعیٰ به يعني دعوه داره شی (پُسه) د دواړو په مينځ کي نصف، نصف تقسيم کړی سي؛ ځکه چي د استحقاق په سبب کي دواړه برابر دي او محل يعني مدعیٰ به تنصيف هم قبلوي.

## د يوې ښځي په باره کي د دوو کسانو دعویٰ کول او بينه پېښول

قَالَ: فَإِنِ ادَّعٰى كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِكَاحَ امْرَأَةٍ وَأَقَامَا بَيِّنَةً فرمايي: او که له دوو کسانو څخه هر يو د ښځي د نکاح کولو دعویٰ وکړي او دواړه بينه پېښ کړي لَمْ يُقْضَ بِوَاحِدَةٍ مِنَ الْبَيِّنَتَيْنِ نو له دواړو بينو [ګواهيو] څخه به پر يوه بينه هم فيصله نه کيږي لِتَعَذُّرِ الْعَمَلِ بِهِمَا ځکه چي پر دواړو عمل کول نا ممکن دي لِأَنَّ الْمَحَلَّ لَا يَقْبَلُ الِاشْتِرَاكَ ځکه چي دا محل [ښځه] اشتراک نه قبلوي قَالَ: وَيُرْجَعُ إِلَى تَصْدِيقِ الْمَرْأَةِ لِأَحَدِهِمَا او له دواړو [مدعيانو] څخه به د يوه په حق کي د ښځي د تصديق وطرف ته رجوع کيږي لِأَنَّ النِّكَاحَ مِمَّا يُحْكَمُ بِهِ بِتَصَادُقِ الزَّوْجَيْنِ ځکه چي نکاح داسي شی ده چي د خاوند او ښځي دواړو په اتفاق سره د هغه فيصله کيږي وَهٰذَا إِذَا لَمْ تُوَقَّتِ الْبَيِّنَتَانِ او دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي دواړو ګواهيو وخت [تاريخ] نه وي بيان کړی فَأَمَّا إِذَا وَقَّتَا لېکن که

دوارو وخت بیان کړی وي فَصَاحِبُ الْوَقْتِ الْأَوَّلِ أَوْلٰی نو د اول وخت [مخکني تاریخ] والا ګواهي اولیٰ [او معتبره] ده وَإِنْ أَقَرَّتْ لِأَحَدِهِمَا قَبْلَ إِقَامَةِ الْبَيِّنَةِ او که له بیّنه پېشولو څخه مخکي هغه ښځه د یوه مدعي لپاره اقرار وکړي فَهِيَ امْرَأَتُهُ نو دا د هغه مدعي [مقرلهٔ] ښځه ګرځي لِتَصَادُقِهِمَا د دوی دوارو د اتفاق [او تصدیق] په وجه وَإِنْ أَقَامَ الْآخَرُ الْبَيِّنَةَ او [بیا] که دویم مدعي بیّنه پېش کړي قُضِيَ بِهَا نو د هغه پر بیّنه به فیصله کیږي لِأَنَّ الْبَيِّنَةَ أَقْوَى مِنَ الْإِقْرَارِ ځکه چي بیّنه له اقرار څخه زیاته قوي ده وَلَوْ تَفَرَّدَ أَحَدُهُمَا بِالدَّعْوٰى او که په دوی کي یوازي یو کس دعویٰ وکړي وَالْمَرْأَةُ تَجْحَدُ او ښځه انکار کوي فَأَقَامَ الْبَيِّنَةَ وَقَضٰى بِهَا الْقَاضِي لَهُ بیا هغه بیّنه پېش کړي او قاضي پر بیّنه د هغه لپاره فیصله وکړي ثُمَّ ادَّعَى الْآخَرُ وَأَقَامَ الْبَيِّنَةَ عَلٰى مِثْلِ ذٰلِكَ تر دې وروسته دویم یو دعویٰ وکړي او په هغه توګه بیّنه پېش کړي لَا يُحْكَمُ بِهَا نو د هغه پر بیّنه به فیصله نه کیږي لِأَنَّ الْقَضَاءَ الْأَوَّلَ قَدْ صَحَّ ځکه چي اول فیصله صحیح سوه فَلَا يُنْقَضُ بِمَا هُوَ مِثْلُهُ بَلْ هُوَ دُوْنَهُ لهذا هغه به په داسي بیّنه سره نه ماتول کیږي کوم چي د اولي بیني په څېر ده، بلکي تر هغه هم کمه ده إِلَّا أَنْ يُوَقِّتَ شُهُوْدُ الثَّانِي سَابِقًا مګر دا چي د دویم مدعي ګواهان [د اول مدعي له ګواهانو څخه] مخکي والا تاریخ بیان کړي لِأَنَّهُ ظَهَرَ الْخَطَأُ فِي الْأَوَّلِ بِيَقِيْنٍ ځکه چي په اوله فیصله کي په یقیني توګه خطاء ښکاره سوه وَكَذَا إِذَا كَانَتِ الْمَرْأَةُ فِي يَدِ الزَّوْجِ وَنِكَاحُهُ ظَاهِرٌ او همدارنګه که ښځه د خاوند په نکاح کي وي او د هغه نکاح ښکاره وي لَا تُقْبَلُ بَيِّنَةُ الْخَارِجِ إِلَّا عَلٰى وَجْهِ السَّبْقِ نو د غیرِ قابض بیّنه به نه قبلول کیږي مګر د وخت [تاریخ] مخکي کېدلو پر بنیاد.

**اللغات:** ﴿لم تُوقت﴾ (لم تؤقت) د تفعیل له بابه د جحد مضارع صیغه ده: وقت ټاکل، وقت ښوول، تاریخ بیانول. ﴿تصادق﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: یو د بل تصدیق کول، پر یو شي د دوو کسانو اتفاق کول. ﴿لا یُنقَض﴾ د نصر له بابه د نفي مجهول صیغه ده: ماتول. ﴿خارج﴾ غیرِ قابض، هغه مدعي چي په قبضه کي یې مدعیٰ بهٖ (دعوه داره شی) نه وي. ﴿سَبْق﴾ د ضرب او نصر د باب مصدر دی: مخکي کېدل، وړاندي کېدل.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که دوه خلک د يو ښځې په باره کې دعویٰ وکړي او هريو ووايي چې "ما د هغې سره نکاح کړې ده او هغه زما ښځه ده" او پر دې بيّنه هم پېش کړي، نو په دې صورت کې به د هيڅ يو په حق کې هم فيصله نه کيږي؛ ځکه چې دا محل يعني ښځه اشتراک نه قبلوي يعني يوازې يوه ښځه په يوه وخت کې د دوو خلکو ماينه (زوجه) نه سي ګرځېدای، نو ځکه د "إِذَا تَعَارَضَا تَسَاقَطَا" پر بنياد به د دواړو دعویٰ او بيّنه ردول کيږي، او بيا به له ښځې څخه پوښتنه کيږي چې "ته د کوم يوه ښځه يې!" نو هغه چې د کوم يوه په حق کې تصديق وکړي، د هغه په حق کې به فيصله کيږي او د هغه سره به د ښځې نکاح ثابتيږي؛ ځکه کله چې بغير له دعوې هم د خاوند او ښځې په اتفاق او تصديق سره نکاح ثابتيږي، نو د دعوې او بينې او تصديق په صورت کې خو به په درجه اولیٰ نکاح ثابتيږي. لېکن دا حکم په هغه صورت کې دی کله چې له دواړو ګواهانو څخه يوه هم د نکاح تاريخ نه وي ذکر کړی، او که دواړو د نکاح وخت او تاريخ ذکر کړی وي، نو د کوم يوه تاريخ چې مخکې وي، صرف د هغه بيّنه به قبلول کيږي؛ ځکه چې د "الْفَضْلُ لِلْمُتَقَدِّم" قاعده مشهوره ده.

وإن أقرّت لأحدهما إلخ: د دې حاصل دا دی چې که په پورتني صورت کې د دواړو مدعيانو له بيّنه پېشولو څخه مخکې ښځه د يوه لپاره اقرار وکړي چې "زه د دې سړي ښځه يم"، نو هغه د دې سړي (مقر لهٗ) ښځه ګرځي او د هغې اقرار معتبر دی؛ بيا که د هغې تر اقرار کولو وروسته دويم مدعي پر خپله دعویٰ بيّنه پېش کړي، نو د هغه پر بيّنه به د هغه په حق کې فيصله کيږي او ښځه به د هغه سره استول کيږي؛ ځکه چې د حجت متعديه کېدلو په وجه بيّنه له اقرار څخه زياته قوي ده، لهذا د بينې پېشولو سره به سمدستي اقرار ختميږي.

ولو تفرّد أحدهما إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د يو ښځې په باره کې اول صرف يو سړی د نکاح کولو دعویٰ وکړي (چې ما د هغې سره نکاح کړې ده)، لېکن ښځه د هغه دعویٰ بالکل رد کړي او هغه سړی (مدعي) په بيّنه پېشولو سره خپله دعویٰ مؤکده او مضبوطه کړي، نو قاضي به د هغه په حق کې فيصله کوي؛ او تر دې وروسته که يو بل سړی هم د هغه ښځې سره د نکاح کولو دعویٰ وکړي او بيّنه پېش کړي، نو د هغه پر بيّنه به فيصله نه کيږي؛ ځکه چې اوله فيصله هم پر بيّنه وسوه او دا هم بيّنه ده او د اولي بينې سره مشابه ده، نو ځکه په دې بيّنه سره به اوله بيّنه نه باطليږي؛ ځکه قاعده دا ده چې "الشَّيْءُ لَا يُنْقَضُ بِمِثْلِهِ" (يعني شی په خپل مثل سره نه باطلول کيږي)، بلکې دلته اوله بيّنه له

دویمي بینې څخه اقویٰ هم ده؛ ځکه چي د هغې سره د قاضي فیصله متصل ده، نو ځکه هغه به په درجه اولیٰ په دویمي بینې سره نه باطلیږي.

ها! که چیري د دویم مدعي ګواهان د اول مدعي د ګواهانو له تاریخ څخه په مخکي تاریخ کي د نکاح کېدلو ګواهي ورکړي (مثلا د اول مدعي ګواهانو ویلي وي چي زموږ مُدعي د رجب د میاشتي په لسمه ورځ د هغې سره نکاح کړې ده او دویم مدعي ګواهان ووایي چي زموږ مُدعي د رجب د میاشتي په دویمه ورځ د هغې سره نکاح کړې ده)، نو په دې صورت کي به د دویم مدعي بیّنه (ګواهان) قبلول کیږي؛ ځکه چي د تاریخ مخکي کېدلو په وجه د اول مدعي د بینې غلط کېدل ښکاره سوه، او کله چي اوله بیّنه غلطه ښکاره او ثابته سوه، نو ښکاره خبره ده چي اوس پر هغه بیّنه فیصله باقي ساتل ناممکن دي، نو ځکه دا فیصله به اوس د دویمي بینې سره متعلق کول کیږي.

همدارنګه که ښځه د یو سړي په نکاح کي وي او د هغه نکاح په خلکو کي مشهوره او معروفه هم وي، بیا یو سړی د هغې سره د نکاح کولو دعویٰ وکړي (چي د دې ښځي سره خو ما نکاح [کوزده] کړې ده، ته څوک یې!)، نو په دې صورت کي به هم د وخت او تاریخ د مخکي کېدلو پر بنیاد د هغه بیّنه قبلول کیږي، کنې نه به قبلول کیږي. (احسن الهدایه)

## له قابض (صاحبُ الید) څخه د شي رانیولو په باره کي د دوو کسانو دعویٰ کول او بیّنه پېښول

| |
|---|
| قَالَ: وَلَوِ ادَّعَى اثْنَانِ كُلٌّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنَّهُ اشْتَرَى مِنْهُ لهٰذَا الْعَبْدَ مَعْنَاهُ مِنْ صَاحِبِ الْيَدِ فرمایي: او که له دوو کسانو څخه هر یو دا دعویٰ وکړي چي ما له هغه څخه یعني له قابض څخه دا غلام رانیولی دی وَأَقَامَا بَيِّنَةً او دواړه [مدعیان] بیّنه پېش کړي فَكُلٌّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَ نِصْفَ الْعَبْدِ بِنِصْفِ الثَّمَنِ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُ نو له دوی دواړو څخه هر یوه ته اختیار دی که وغواړي نو په نیم قیمت سره دي نیم غلام واخلي او که وغواړي نو هغه دي پرېږدي لِأَنَّ الْقَاضِيَ يَقْضِي بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ لِاسْتِوَائِهِمَا فِي السَّبَبِ ځکه چي په سبب کي د مساوي کېدلو په وجه به قاضي د دوی په مینځ کي د نیم، نیم غلام فیصله کوي فَصَارَ كَالْفُضُولِيَّيْنِ إِذَا بَاعَ كُلٌّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنْ رَجُلٍ وَأَجَازَ الْمَالِكُ الْبَيْعَيْنِ نو دا داسي سوه لکه له دوو فضولیانو څخه چي هر یو پر جلا سړي [د یو مالک غلام] خرڅ کړي او مالک د دواړو بیعو اجازت ورکړي يُخَيَّرُ كُلٌّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نو هر سړي ته اختیار ورکول کیږي [یعني |

هر يوه ته د نصف غلام اخيستلو او نه اخيستلو اختيار حاصليږي] لِأَنَّهُ تَغَيَّرَ عَلَيْهِ شَرْطُ عَقْدِهِ ځکه چي پر هر سړي د هغه د عقد شرط متغيّر سوی دی فَلَعَلَّ رَغْبَتَهُ فِي تَمَلُّكِ الْكُلِّ ځکه کېدای سي چي د هغه خواهش [او خوښه] د ټوله غلام په مالک کېدلو کي وي [يعني د هغه خوښه او منشاء به دا وي چي د ټوله غلام مالک سي] فَيَرُدُّهُ وَيَأْخُذُ كُلَّ الثَّمَنِ لَوْ أَرَادَ نو ځکه به مبيع [نصف غلام] واپس کوي او ټوله ثمن به اخلي که چيري هغه وغواړي وَإِنْ قَضَى الْقَاضِي بِهِ بَيْنَهُمَا فَقَالَ أَحَدُهُمَا: لَا أَخْتَارُ او که قاضي د دواړو [مشتريانو (مدعيانو)] په مينځ کي د نصف، نصف غلام فيصله وکړي، لېکن يو مشتري ووايي: چي زه نصف غلام نه غواړم [يعني له نصف غلام اخيستلو څخه انکار وکړي] لَمْ يَكُنْ لِلْآخَرِ أَنْ يَأْخُذَ جُمْلَتَهُ نو دويم مشتري [مدعي] لره دا ختيار نسته چي ټوله غلام واخلي لِأَنَّهُ صَارَ مَقْضِيًّا عَلَيْهِ فِي النِّصْفِ ځکه چي د هغه په خلاف په نصف غلام کي فيصله سوې ده فَانْفَسَخَ الْبَيْعُ فِيهِ نو ځکه په دې نصف کي بيع فسخ سوه وَهٰذَا لِأَنَّهُ خَصَمَ فِيهِ او دا ځکه چي هغه په دې نصف کي خصم دی لِظُهُورِ اسْتِحْقَاقِهِ بِالْبَيِّنَةِ لَوْلَا بَيِّنَةُ صَاحِبِهِ ځکه که چيري د هغه د ملګري [بل مشتري] بيّنه نه وای نو د بينې په وجه به د ده استحقاق [په ټوله غلام کي] ښکاره کېدای بِخِلَافِ مَا لَوْ قَالَ ذٰلِكَ قَبْلَ تَخْيِيرِ الْقَاضِي په خلاف د هغه صورت کله چي يوه مشتري د قاضي له إختيار ورکولو څخه مخکي دا ويلي وي [يعني د هغه له فيصلې څخه مخکي يې انکار کړی وي] حَيْثُ يَكُونُ لَهُ أَنْ يَأْخُذَ الْجَمِيعَ نو په دې صورت کي دويم مشتري ته دا اختيار سته چي ټوله غلام واخلي لِأَنَّهُ يَدَّعِي الْكُلَّ ځکه چي هغه د ټوله غلام مدعي دی وَلَمْ يَفْسَخْ سَبَبَهُ او د هغه سبب نه دی فسخ سوی وَالْعَوْدُ إِلَى النِّصْفِ لِلْمُزَاحِمَةِ او د نصف وطرف ته رجوع کول د مزاحمت [مزاحم کېدلو] په وجه دي وَلَمْ تُوجَدْ او [دلته] مزاحمت نسته وَنَظِيرُهُ تَسْلِيمُ أَحَدِ الشَّفِيعَيْنِ قَبْلَ الْقَضَاءِ او د دې مثال د قاضي تر فيصلې مخکي له دواړو شفيع ګانو څخه د يوه شفيع [دويم شفيع ته] شفعه ورکول دي [يعني د دې مثال دا دی چي د قاضي له طرفه د نصف، نصف شفعي تر فيصله کولو مخکي يو شفيع خپل نصف شفعه دويم شفيع ته وسپاري يعني د خپل نصف شفعي له اخيستلو څخه انکار وکړي (نور وضاحت به يې په تشريح کي وسي)] وَنَظِيرُ الْأَوَّلِ تَسْلِيمُهُ بَعْدَ الْقَضَاءِ او د اول مثال د قاضي تر فيصلې وروسته له دواړو څخه د يوه شفيع [دويم شفيع ته] شفعه ورکول دي.

**اللغات**: ﴿صاحب اليد﴾ قبضې والا، قابض، دچا په قبضه کي چي شي وي. ﴿استواء﴾ دافتعال دباب مصدر دی: برابرېدل، مساوي کېدل. ﴿يُخيّر﴾ د تفعيل دباب مضارع مجهوله ده: اختيار ورکول. ﴿تملّك﴾ د تفعّل دباب مصدر دی: مالک کېدل، مالک جوړېدل. ﴿فضولي﴾ د فضول وطرف ته منسوب دی (يعني هغه کس کوم چي بې ځايه [بې اجازې] کار وکړي)، دفقهاؤ په اصطلاح کي هغه سړي ته وايي کوم چي د مالک له اجازې څخه بغير دهغه په حق کي تصرف وکړي. ﴿مقضيًا﴾ مقضي: دضرب دباب مفعول دی. مقضيًا عليه: دچا په خلاف چي فيصله سوې وي. ﴿مزاحمة﴾ د مفاعلې دباب مصدر دی: مزاحم کېدل، مقابل کېدل. ﴿تسليم﴾ د تفعيل دباب مصدر دی: ورسپارل، ورکول. يو شی دبل چا لپاره خالص ګرځول (او خپله هيڅ حصه نه پکښي اخيستل).

**تشريح**: **مسئله**: دا ده که د خالد په قبضه کي يو غلام موجود وي، بيا زيد او حامد دواړه د هغه د رانيولو دعویٰ وکړي يعني هريو ووايي چي "ما له قابض (خالد) څخه دا غلام رانيولی دی" او دواړه بيّنه هم پېش کړي، لېکن يو هم د غلام رانيولو تاريخ ذکر نه کړي، نو په دې صورت کي به قاضي د دوی په مينځ کي هغه غلام نيم، نيم تقسيموي او هر مدعي ته اختيار دی که خوښه يې وي نو په نيم ثمن (قيمت) سره دي نيم غلام واخلي او که خوښه يې نه وي نو هغه دي پرېږدي؛ ځکه کله چي دواړه دغلام رانيولو دعویٰ کوي او دواړو بيّنه هم پېش کړې ده، نو ښکاره خبره ده چي په هغه کي به د دواړو حصه وي او دواړه به د نصف، نصف غلام اخيستلو حقداره وي.

د دې مثال داسي دی لکه دوه فضوليان چي پر دوو جلا خلکو دبل چا غلام خرڅ کړي او هغه بل څوک (دغلام مالک) د بيع اجازت هم ورکړي، نو په دې صورت کي هم دواړو خلکو ته د نصف، نصف غلام اخيستلو اختيار سته؛ ځکه چي پر هر سړي (مشتري) دا عقد مختلف سو، ځکه د هر يوه خوښه او منشاء دا وه چي ټوله غلام هغه رانيسي، لېکن په تنصيف (يعني دغلام په نصف کېدلو) سره د هغه دا خوښه او منشاء باطله سوه، نو ځکه هريوه ته به د نصف غلام اخيستلو او نه اخيستلو اختيار وي.

وإن قضى القاضي إلخ: د دې حاصل دا دی چي کله قاضي د دواړو مشتريانو (مدعيانو) په مينځ کي غلام تقسيم کړي او د دواړو لپاره د نصف، نصف غلام فيصله وکړي، تر دې وروسته يو مشتري ووايي چي "زه نيم غلام نه اخلم، بلکي ټوله غواړم"، نو په دې صورت کي دويم مشتري ته دا اختيار نسته چي ټوله غلام واخلي (رانيسي)؛ ځکه چي هغه مقضي عليه ګرځېدلی دی (دهغه په خلاف فيصله سوې ده) يعني دهغه لپاره صرف د نصف غلام د بيع فيصله سوې ده، نو ځکه اوس په دې نصف کي بيع فسخ سوې ده. او بيع چي کله د قاضي په فيصله سره فسخ کېږي نو هغه له تجديد څخه بغير نه راګرځي. او دلته تجديد نه دی سوی.

وهذا لأنه خصم إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چي دا دويم مشتري خو مدعي دی نو بيا هغه څنګه مقضي عليه کېدای سي، نو د دې جواب دا دی چي هغه په دې نصف کي خصم دی، ځکه په دې نصف کي د بل (اول) مشتري مستحق کېدل د بينې په ذريعه ثابت سوي دي، همدا وجه ده که د هغه لپاره بيّنه نه وای نو دا دويم مشتري به د ټوله غلام مستحق کېدای، نو ځکه اوس به هغه ته د ټوله غلام اخيستلو اختيار نه وي. ها! که چيري د قاضي تر فيصلې مخکي يو مشتري له نصف اخيستلو څخه انکار وکړي، نو په دې صورت کي دويم مشتري ته د ټولو غلام اخيستلو اختيار سته؛ ځکه چي هغه خو له مخکي څخه هم د ټوله غلام اخيستلو نعرې وهي او د اول مدعي د انکار کولو په وجه د هغه لپاره لاره هم صفا سوه، نو ځکه په دې صورت کي به هغه ته د ټوله غلام اخيستلو اختيار وي او هغه ته به پوره غلام ورکول کيږي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د اولي مسئلې مثال دا دی چي که په يو کور کي دوه کسان د شفعي حق لري، او قاضي د هغوی دواړو په مينځ کي د نصف، نصف شفعي يعني د نصف، نصف کور فيصله کول وغواړي، لېکن له هغو څخه يو کس (يو شفيع) له نصف کور اخيستلو څخه انکار وکړي، نو په دې صورت کي دويم شفيع ته د ټوله کور اخيستلو اختيار سته. او د دويمي مسئلې مثال دا دی چي قاضي د دواړو شفيع ګانو په مينځ کي د نصف، نصف فيصله وکړي او تر فيصلې وروسته يو شفيع (يو مدعي) له نصف اخيستلو څخه انکار وکړي، نو په دې صورت کي دويم شفيع ته د ټوله کور اخيستلو اختيار نسته.

## د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلَوْ ذَكَرَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا تَارِيخًا او که له دواړو مدعيانو څخه هر يو تاريخ بيان کړي فَهُوَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا نو هغه غلام د اول [مخکني] تاريخ والا دی لِأَنَّهُ أَثْبَتَ الشِّرَاءَ فِي زَمَانٍ لَا يُنَازِعُهُ فِيهِ أَحَدٌ ځکه هغه په داسي وخت کي شراء [رانيول] ثابت کړي دي چي په هغه کي هيڅوک د ده مزاحم [مقابل] نه دی فَانْدَفَعَ الْآخَرُ بِهِ نو ځکه په دې سره به د دويم شراء دفع کيږي وَلَوْ وَقَّتَتْ إِحْدَاهُمَا وَلَمْ يُوَقِّتِ الْأُخْرَى او که له دواړو بينو [ګواهيو] څخه د يوه [مدعي] بيّنه وخت بيان کړي او بله وخت بيان نه کړي فَهُوَ لِصَاحِبِ الْوَقْتِ نو هغه غلام د وخت والا [تاريخ بيانونکي مدعي] دی لِثُبُوتِ مِلْكِهِ فِي ذٰلِكَ الْوَقْتِ ځکه چي په هغه وخت کي د ده ملکيت ثابت دی وَاحْتَمَلَ الْآخَرُ أَنْ يَكُونَ قَبْلَهُ أَوْ بَعْدَهُ او په دويم کي احتمال دی چي تر هغه وخت به مخکي وي او که وروسته وي فَلَا يُقْضَى لَهُ بِالشَّكِّ نو ځکه د شک

په وجه به د هغه لپاره فيصله نه کيږي وَإِنْ لَمْ يَذْكُرَا تَارِيخًا وَمَعَ أَحَدِهِمَا قَبْضٌ او که دواړه تاريخ بيان نه کړي او په دوی کي د يوه سره قبضه وي فَهُوَ أَوْلَىٰ نو هغه [قبضې والا] زيات حقداره دی وَمَعْنَاهُ: أَنَّهُ فِي يَدِهِ او د دې [ومع أحدهما قبض] معنیٰ دا ده: چي هغه غلام د يوه په قبضه کي وي لِأَنَّ تَمَكُّنَهُ مِنْ قَبْضِهِ يَدُلُّ عَلَىٰ سَبْقِ شِرَائِهِ ځکه چي پر قبضې د هغه قادر کېدل د هغه د رانيولو پر مخکي والي دلالت کوي [يعني پر دې دلالت کوي چي هغه مخکي غلام رانيولی دی] وَلِأَنَّهُمَا اسْتَوَيَا فِي الْإِثْبَاتِ او ځکه چي دواړه مدعيان د دعوې په اثبات کي برابر دي فَلَا يُنْقَضُ الْيَدُ الثَّابِتَةُ بِالشَّكِّ نو ځکه ثابته سوې قبضه به د شک په وجه نه ماتول کيږي وَكَذَا لَوْ ذَكَرَ الْآخَرُ وَقْتًا او همدا حکم دی که چيري دويم مدعي وخت [تاريخ] بيان کړي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی إِلَّا أَنْ يَشْهَدُوا أَنَّ شِرَاءَهُ كَانَ قَبْلَ شِرَاءِ صَاحِبِ الْيَدِ مګر دا چي ګواهان دا ګواهي ورکړي چي د هغه رانيول د قابض له رانيولو څخه مخکي دي لِأَنَّ الصَّرِيحَ يَفُوقُ الدَّلَالَةَ ځکه چي صراحت له دلالت څخه بالا [او مخکي] وي.

**اللغات**: ﴿شراء﴾ د ضرب د باب مصدر دی: رانيول، خريداري، ﴿لا ينازعه﴾ د مفاعلې د باب نفي صيغه ده: جنګ او اختلاف کول، خصومت او دعویٰ کول، ﴿اندفع﴾ د انفعال د باب ماضي ده: دفع کېدل، لېري کېدل، ختمېدل، ﴿تمكّن﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: پر يو شي قادر کېدل، قدرت پيدا کول، ممکن کېدل، ﴿اثبات﴾ د افعال د باب مصدر دی: ثابتول، ﴿صريح﴾ واضح، په ښکاره لفظو کي مذکور، ﴿يفوق﴾ د نصر د باب مضارع ده: بالا کېدل، افضل کېدل، راجح کېدل، مخکي کېدل. (مصباح منير)

**تشريح**: فرمايي که په مخکنۍ مسئله کي دواړه دعویٰ کونکي (زيد او حامد) د غلام رانيولو تاريخ بيان کړي او دواړه د هغه تاريخ مطابق بيّنه پېش کړي، نو مدعیٰ به غلام د هغه يوه حق کيږي چي د هغه د رانيولو تاريخ مخکي (مُقدَم) وي؛ ځکه چي په هغه تاريخ کي به دا غلام صرف د هغه مملوک وي او دويم مدعي به د هغه مقابل او د هغه سره دعویٰ کونکی نه وي، نو ځکه د دويم مدعي دعویٰ به ختمه سي. همدارنګه که يو مدعي د رانيولو تاريخ بيان کړي او بل يو يې بيان نه کړي، نو ښکاره خبره ده چي کوم يوه تاريخ بيان کړی وي، غلام د هغه حق کيږي؛ ځکه چي په مذکوره بيان سوي تاريخ کي د هغه ملکيت په يقيني توګه ثابت دی او د دويم مدعي د ملکيت په ثبوت کي دا احتمال سته

چي آيا هغه به د تاريخ بيانونکي مدعي له شراء (رانيولو) څخه مخکي غلام رانيولی وي او که وروسته، او قاعده دا ده چي "مَا ثَبَتَ بِيَقِيْنٍ لَا يَزُوْلُ بِالشَّكِّ"، نو ځکه په دې صورت کي به هم د دويم مدعي دعویٰ ختمه سي.

وإن لم يذكرا تاريخا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که دواړه مدعيان (زيد او حامد) تاريخ بيان نه کړي، لېکن په دوی کي يو پر غلام قابض وي (يعني غلام د يوه مدعي په قبضه کي وي)، نو د هغه په حق کي به فيصله کيږي؛ ځکه چي د هغه قابض کېدل د هغه د مخکي رانيولو دليل دی. او بل دا چي کله دواړه مدعيان په دعویٰ او بيّنه کي برابر دي او يوه هم تاريخ نه دی بيان کړی، نو د کوم يوه په قبضه کي چي غلام بالفعل موجود دی، د شک په وجه به د هغه قبضه نه ماتول کيږي. همدا حکم په هغه صورت کي هم دی کله چي دويم مدعي خپل د شراء (رانيولو) تاريخ بيان کړي؛ ځکه چي اوس هم د قابض قبضه د هغه د مخکي رانيولو دليل دی، ها! که چيري دويم مدعي په ګواهانو سره دا ثابته کړي چي "ماله قابض څخه مخکي دا غلام رانيولی دی"، نو بيا مذکوره غلام د هغه حق کيږي (هغه ته به ورکول کيږي)؛ ځکه چي په دې صورت کي د دويم مدعي د شراء مخکي والی په صريح دليل (بيّنه) سره ثابت سوی دی او د قابض د شراء مخکي والي دلالتاً په قبضه سره ثابت سوی دی، او صراحتاً ثابت سوی شی له دلالتاً ثابت سوي شي څخه مخکي وي، نو ځکه به اوس دا دويم مدعي د هغه غلام مستحق وي.

## د يوه شي په باره کي د دوو کسانو د شراء او هبه مع القبض دعویٰ کول

قَالَ: وَإِنِ ادَّعٰى أَحَدُهُمَا شِرَاءً وَالْآخَرُ هِبَةً وَقَبْضًا فرمايي: او که له دوی دواړو څخه يو د رانيولو دعویٰ وکړي او بل د هبه او قبضې [هبه مع القبض] دعویٰ وکړي مَعْنَاهُ مِنْ وَاحِدٍ يعني له يو سړي څخه وَأَقَامَا بَيِّنَةً وَلَا تَارِيخَ مَعَهُمَا او دواړه بيّنه پېش کړي حال دا چي د دواړو سره تاريخ نه وي فَالشِّرَاءُ أَوْلٰى نو رانيول اولیٰ [او معتبر] دي لِأَنَّ الشِّرَاءَ أَقْوٰى ځکه چي رانيول [له هبې څخه] زيات قوي دي لِكَوْنِهِ مُعَاوَضَةً مِنَ الْجَانِبَيْنِ ځکه چي رانيولو له دواړو طرفونو څخه معاوضه [او معامله] ده وَلِأَنَّهُ يُثْبِتُ الْمِلْكَ بِنَفْسِهِ او ځکه چي رانيول بذات خود ملکيت ثابتوي وَالْمِلْكُ فِي الْهِبَةِ يَتَوَقَّفُ عَلَى الْقَبْضِ حال دا چي په هبه کي ملکيت پر قبضه موقوف وي وَكَذَا الشِّرَاءُ وَالصَّدَقَةُ مَعَ الْقَبْضِ او همدا حکم د رانيولو او د صدقه مع القبض هم دی ايعني که له دوو کسانو څخه يو دا دعویٰ وکړي چي "ماله

فلانکي څخه دا شی (مثلاً پُسه) رانيولی دی" او بل يو ووايي چي "دا شی ما ته هغه فلانکي صدقه کړی دی او ما قبضه هم پر کړې وه". نو په دې صورت کي هم شراء اولیٰ ده] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَالْهِبَةُ وَالْقَبْضُ وَالصَّدَقَةُ مَعَ الْقَبْضِ سَوَاءٌ او هبه مع القبضه او صدقه مع القبض دواړه سره برابر دي حَتَّى يُقْضَى بَيْنَهُمَا تر دې چي د دواړو مدعيانو په مينځ کي به [د نصف، نصف] فيصله کيږي لِاسْتِوَائِهِمَا فِي وَجْهِ التَّبَرُّعِ ځکه چي د تبرّع په وجه کي دواړه برابر دي [ځکه هبه او صدقه دواړه د تبرع (احسان) عقدونه دي (يعني په دواړو کي مفت او د احسان په توګه شی ورکول کيږي)] وَلَا تَرْجِيحَ بِاللُّزُومِ او د لازم کېدلو په وجه [صدقې لره] ترجيح نسته لِأَنَّهُ يَرْجِعُ إِلَى الْمَآلِ ځکه چي لزوم د مال [انجام] وطرف ته راجع دی [يعني لزوم په آخر کي ثابتيږي] وَالتَّرْجِيحُ بِمَعْنًى قَائِمٍ فِي الْحَالِ حال دا چي ترجيح د داسي سبب په وجه وي کوم چي في الحاله موجود وي وَهٰذَا فِيمَا لَا يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ صَحِيحٌ او دا حکم په هغه شيانو کي صحيح دی کوم چي تقسيم نه قبلوي وَكَذَا فِيمَا يَحْتَمِلُهَا عِنْدَ الْبَعْضِ او همدارنګه د ځيني مشايخو په نيز په هغه شيانو کي هم صحيح دی کوم چي تقسيم قبلوي لِأَنَّ الشُّيُوعَ طَارِئٌ ځکه چي اشتراک وروسته واقع سوی دی وَعِنْدَ الْبَعْضِ لَا يَصِحُّ او د ځيني مشايخو په نيز صحيح نه دی لِأَنَّهُ تَنْفِيذُ الْهِبَةِ فِي الشَّائِعِ ځکه چي دا په مشترک شي کي هبه نافذول دي.

**اللغات**: ﴿معاوضة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: د عوض په بدله کي عوض ورکول، يو شي په بل شي سره بدلول، معامله کول. ﴿تبرّع﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: نېکي او احسان کول، بلا عوضه (مفت) يو شی ورکول. ﴿يحتملها﴾ زغمل، برداشتول. ﴿شيوع﴾ اشتراک، (نا تقسيم سوی شرکت). ﴿مآل﴾ انجام، وروستنی حالت، آخري حالت. ﴿طارئ﴾ د فتح د باب فاعل دی: طاري کېدونکی، وروسته واقع کېدونکی (وروسته پېښېدونکی)، غير اصلي. ﴿شائع﴾ او مشاع: مشترک (هغه شی کوم چي مشترک وي لېکن تر اوسه تقسيم سوی نه وي [يعني د هر شريک حصه پکښي معلومه نه وي]).

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که له دوو خلکو څخه يو داسي دعویٰ وکړي چي "ما دا پُسه له نعمان څخه رانيولی دی" او بل يو دا دعویٰ وکړي چي "دا پُسه ما ته نعمان هبه کړی دی او ما پر هغه قبضه هم کړې وه". بيا دواړه پر خپله دعویٰ بيّنه پېش کړي، لېکن د يوه سره هم تاريخ درج نه وي.

نو په دې صورت کې چې کوم يو د رانيولو دعوىٰ کوي، د هغه بينې ته به ترجيح ورکول کيږي؛ ځکه په رانيولو (شراء) کې د بائع او مشتري دواړو له طرفه معامله کيږي او په رانيولو سره بذات خود ملکيت ثابتيږي، ليکن هبه (هديه) صرف له يوه طرفه ورکول کيږي او تر قبضې وروسته په هغه کې ملکيت ثابتيږي (يعني انسان هغه وخت د هبه سوي شي مالک کيږي کله چې هغه شی له واهب [هبه کونکي] څخه واخلي او قبضه پر وکړي)، نو ځکه په دې حواله سره به شراء له هبې څخه مخکې وي او کوم يو چې د شراء مدعي وي، صرف د هغه دعوىٰ به معتبره او مقبوله وي.

وكذا الشراء والصدقة إلخ: فرمايي: کوم حکم چې د شراء او هبه مع القبض د مدعيانو دی، هغه حکم د شراء او صدقه مع القبض د مدعيانو هم دی، يعني په دې صورت کې به هم شراء ته ترجيح ورکول کيږي او صرف د شراء د مدعي دعوىٰ به معتبره او مقبوله وي. ها! که چيري يو مدعي د هبه مع القبض دعوىٰ وکړي او بل مدعي د صدقه مع القبض دعوىٰ وکړي او د يوه سره هم تاريخ نه وي، نو مدعىٰ به (پُسه) به دواړو ته نصف، نصف ورکول کيږي؛ ځکه چې په احسان او تبرّع کې دواړه برابر دي او هبه او صدقه دواړه په قبضه سره پوره کيږي، نو ځکه دلته به يوه ته هم پر بل هيڅ ترجيح نه وي او دواړو ته به برابر (نصف، نصف) ورکول کيږي.

ولا ترجيح باللزوم إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چې صدقه او هبه مساوي ګرځول صحيح نه دي؛ ځکه چې صدقه پر صدقه کونکي لازميږي يعني که څوک يو شی صدقه او خيرات کړي نو بيا په هغه کې رجوع نه سي کولای (واپس يې نه سي اخيستلای)، ليکن هبه نه لازميږي او په هغه کې رجوع کېدای سي، نو په دې حواله سره صدقه له هبې څخه راجح او افضله ده، لهذا کوم يو چې د صدقې دعوىٰ کوي، د هغه دعوىٰ راجح کېدل او مخکې کېدل پکار دي، ليکن تاسو دواړه مساوي (برابر) ګرځولي دي، آخر د دې څه وجه ده؟

نو د هغه جواب دا دی چې که څه هم صدقه لازميږي ليکن لزوم (لازمېدل) د ترجيح وجه او علامت نه دی؛ ځکه چې لزوم د مال سره متعلق وي ليکن ترجيح في الحاله د يو سبب په وجه وي، نو ځکه د لزوم په وجه به د صدقې د مدعي دعوىٰ ته هيڅ ترجيح نه وي.

وهذا فيما لا يحتمل إلخ: فرمايي چې د دواړو مدعيانو په مينځ کې د نصف، نصف حکم او فيصله کول په هغه شيانو کې صحيح دي کوم چې تر تقسيمولو وروسته هم د انتفاع (نفع اخيستلو) قابل نه پاتيږي، لکه حمام (غسل خانه) او داسي نور، صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د "فيما لا يحتمل القسمة" په جمله سره همدا خبره مراد کړې ده، ليکن د ځيني مشايخو په نيز په هغه شيانو کې هم تنصيف

کېدای سي کوم چي تر تقسيمولو وروسته دانتفاع قابل پاتېږي؛ لکه کور، باغ او داسي نور؛ ځکه چي د هبې دا شيوع (اشتراک) طاري دی يعني وروسته واقع سوی دی (يعني يو مدعي خو اول د ټوله پُسه مستحق سوی وو، مګر د دويم مدعي په مزاحم کېدلو سره هبه په نصف مشترک کي پاته سوه)، او وروسته واقع کېدونکي شيوع له تنصيف څخه مانع نه وي، او د ځيني مشايخو په نېز تنصيف صحيح نه دی؛ ځکه چي په تنصيف سره په مشترک شي کي هبه کول لازميږي او په مشترک شي کي هبه صحيح نه ده، نو ځکه د هغه تنصيف (نيمول) به هم صحيح نه وي. دا قول امام صاحب رَحِمَهُ الله ته منسوب دی. (بنايه ج:۸، ص:۴۳۸)

## د يوه غلام په باره کي د رانيولو او په مهر کي د ټاکل کېدلو دعوىٰ کېدل (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِذَا ادَّعَى أَحَدُهُمَا الشِّرَاءَ وَادَّعَتْ امْرَأَةٌ أَنَّهُ تَزَوَّجَهَا عَلَيْهِ فرمايي: او کله چي په دوی کي يو مدعي [له قابض څخه د غلام] د رانيولو دعوی وکړي او ښځه دا دعوىٰ وکړي چي قابض زما سره پر هغه غلام نکاح کړې ده فَهُمَا سَوَاءٌ نو دواړه دعوىٰ کونکي سره برابر دي لِاسْتِوَائِهِمَا فِي الْقُوَّةِ ځکه چي په قوت کي دواړه برابر دي فَإِنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَقْدُ مُعَاوَضَةٍ يُثْبِتُ الْمِلْكَ بِنَفْسِهِ ځکه له شراء او نکاح څخه هر يو د معاوضې عقد دی کوم چي بذات خود ملکيت ثابتوي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ او دا حکم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ*: الشِّرَاءُ أَوْلَى او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي رانيول اولىٰ [او مخکي] دي وَلَهَا عَلَى الزَّوْجِ الْقِيمَةُ او پر خاوند د ښځي لپاره د غلام قيمت واجب دی لِأَنَّهُ أَمْكَنَ الْعَمَلُ بِالْبَيِّنَتَيْنِ بِتَقْدِيمِ الشِّرَاءِ ځکه چي د شراء په مخکي کولو سره پر دواړو بينو [ګواهيو] عمل کول ممکن دي إِذِ التَّزَوُّجُ عَلَى عَيْنٍ مَمْلُوكَةٍ لِلْغَيْرِ صَحِيحٌ ځکه پر غير مملوک شي نکاح کول صحيح دي وَتَجِبُ قِيمَتُهُ عِنْدَ تَعَذُّرِ تَسْلِيمِهِ او د هغه شي د ورسپارلو د ناممکن والي په وخت کي د هغه قيمت واجبيږي وَإِنِ ادَّعَى أَحَدُهُمَا رَهْنًا وَقَبْضًا وَالْآخَرُ هِبَةً وَقَبْضًا او که يو مدعي د رهن مع القبض دعوىٰ وکړي او بل د هبه مع القبض دعوىٰ وکړي وَأَقَامَا بَيِّنَةً او دواړه بيّنه پېش کړي

* القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الدر المنتقى (ج:۳، ص:۳۷۶)، وكذا في تنوير الأبصار (ج:۲، ص:۴۸۸). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۸۴]

فَالرَّهْنُ أَوْلٰى نو رهن اولیٰ دی وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَفِي الْقِيَاسِ الْهِبَةُ أَوْلٰى او په قياس کي هبه اولیٰ ده لِأَنَّهَا تُثْبِتُ الْمِلْكَ وَالرَّهْنُ لَا يُثْبِتُهُ ځکه چي هبه ملکيت ثابتوي او رهن ملکيت نه ثابتوي وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ الْمَقْبُوضَ بِحُكْمِ الرَّهْنِ مَضْمُونٌ وَبِحُكْمِ الْهِبَةِ غَيْرُ مَضْمُونٍ د استحسان دليل دا دی: چي پر کوم شي د رهن په تګه قبضه سوی وي د هغه ضمان [تاوان] واجبيږي او پر کوم شي چي د هبې په توګه قبضه سوې وي د هغه ضمان نه واجبيږي وَعَقْدُ الضَّمَانِ أَقْوٰى او د ضمان والا عقد زيات قوي دی بِخِلَافِ الْهِبَةِ بِشَرْطِ الْعِوَضِ په خلاف د هغه هبې کوم چي د عوض په شرط سره وسي لِأَنَّهُ بَيْعٌ انْتِهَاءً ځکه چي هغه انتهاءً [نتيجتاً] بيع ده وَالْبَيْعُ أَوْلٰى مِنَ الرَّهْنِ او بيع له رهن څخه اولیٰ ده لِأَنَّهُ عَقْدُ ضَمَانٍ يُثْبِتُ الْمِلْكَ صُورَةً وَمَعْنًى ځکه چي بيع د ضمان والا عقد دی کوم چي د صورت او معنیٰ دواړو په اعتبار سره ملکيت ثابتوي وَالرَّهْنُ لَا يُثْبِتُهُ إِلَّا عِنْدَ الْهَلَاكِ مَعْنًى لَا صُورَةً او رهن ملکيت نه ثابتوي مګر د هلاکېدلو [ضايع کېدلو] په صورت کي [او هغه خو هم صرف] معناً [ملکيت ثابتوي]. نه صورتاً فَكَذَا الْهِبَةُ بِشَرْطِ الْعِوَضِ نو همداسي به هبه بشرط العوض هم له رهن څخه اقویٰ وي وَإِنْ أَقَامَ الْخَارِجَانِ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمِلْكِ وَالتَّارِيخِ او که دوه غير قابض مدعيان پر ملکيت او تاريخ بيّنه پېش کړي فَصَاحِبُ التَّارِيخِ الْأَقْدَمِ أَوْلٰى نو مخکني تاريخ والا اولیٰ دی لِأَنَّهُ أَثْبَتَ أَنَّهُ أَوَّلُ الْمَالِكَيْنِ ځکه چي هغه دا ثابته کړه چي زه له دواړو مالکانو څخه اول مالک يم فَلَا يَتَلَقَّى الْمِلْكُ إِلَّا مِنْ جِهَتِهِ نو ځکه ملکيت صرف د هغه له طرفه [دويم مدعي ته] حاصلېدایٰ سي وَلَمْ يَتَلَقَّ الْآخَرُ مِنْهُ حال دا چي دويم مدعي له هغه څخه ملکيت نه دی حاصل کړی.

**اللغات**: ﴿تزوجها﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: نکاح کول، واده کول. ﴿تعذر﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: نا ممکن کېدل، مشکل کېدل. ﴿ضمان﴾ تاوان، جرمانه. ﴿يتلق﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: حاصلول، اخيستل.

**تشريح**: په دې عبارت کي درې مسئلې ذکر سوي دي، چي هغه به انشاء الله على الترتيب ستاسو په مخکي کي پېش کړل سي:

(١)... اوله مسئله دا ده که يو غلام د خالد په قبضه کي وي او زيد دا دعویٰ وکړي چي "ما له زيد څخه دا غلام رانيولی دی" او بل طرف ته يوه ښځه دا دعویٰ وکړي چي "قابض يعني زيد زما سره پر

دې غلام نکاح کړې ده يعني دا غلام يې په مهر کي ټاکلی دی" او دواړه پر خپله دعوی' بيـنه پېش کړي، نو په دې صورت کي د مدعي (زيد) او مدعيه ښځي دواړو دعوی' او بيـنه په قوت او طاقت کي سره برابري دي، او هغه غلام به دواړو ته نصف، نصف ورکول کيـږي، يعني دواړه به له قابض (زيد) څخه د غلام نصف، نصف قيمت اخلي (په دې شرط کله چي مشتري هغه ته پوره قيمت ورکړی وي)؛ او دليل د دې خبري چي د دواړو دعوی' او بيـنه سره برابري (مساوي) دي، دا دی چي شراء او نکاح دواړه عقدِ معاوضه دي او بذات خود مثبت الملک (د ملکيت ثابتونکي) دي، يعني په شراء (رانيولو) سره مشتري د مبيع مالک کيـږي او په نکاح سره خاوند د ښځي مالک کيـږي او ښځه د مهر مستحق کيـږي؛ لهذا دا دواړه عقدونه په قوت کي سره برابر دي، نو ځکه په حکم کي به هم دواړه سره برابر وي.

دا حکم د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز دی.

د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د دې حکم دا دی چي دلته پر نکاح شراء لره ترجيح حاصله ده يعني هغه غلام به مشتري ته ورکول کيـږي، بيا به ښځي ته ويل کيـږي چي "ته له خپل مدعی' عليه خاوند (زيد) څخه د غلام قيمت واخله!"، او نکاح پر شراء مخکي کول او پر دواړو بينو عمل کول ممکن هم دي. او د دې مثال دا دی لکه يو شوک چي د بل چا پر غلام نکاح وکړي نو دا صحيح دي او که په مهر کي د هغه غلام ورسپارل مشکل او ناممکن وي نو بيا د هغه قيمت ورکول کيـږي، همداسي دلته هم مذکوره غلام د شراء (رانيول کېدلو) په وجه په مهر کي ورکول مشکل دي، نو ځکه اوس به د هغه قيمت په مهر کي ورکول کيـږي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که يو سړی دا دعوی' وکړي چي " دا شی ما ته فلانکي سړی (مثلا نعمان) د رهن په توګه راکړی دی او ما پر هغه قبضه کړې ده، لهذا اوس زه د هغه مالک يم"، او بل سړی دا دعوی' وکړي چي " دا شی هغه فلانکي سړي (نعمان) ما ته هبه کړی دی او ما پر هغه قبضه کړې ده، لهذا زه د هغه مالک يم"، او دواړه بيـنه هم پېش کړي، نو استحسان دا دی چي په دې صورت کي به د رهن فيصله کيـږي لېکن قياس دا دی چي هبه به له رهن څخه مخکي کول کيـږي او د هبې فيصله به کيـږي؛ ځکه چي هبه مثبت الملک ده لېکن په رهن سره ملکيت نه ثابتيـږي، نو ځکه په دې حواله سره به د هبې د مدعي دعوی' د رهن له مدعي څخه راجح او مخکي وي.

د استحسان دليل دا دی چي مقبوض بحکم الرهن يعني پر کوم شي چي د رهن په توګه قبضه سوې وي، هغه مضمون کيـږي، يعني که مرهون شی له قابض (مرتهن) څخه ضايع سي نو پر هغه د دې شي ضمان (تاوان) واجبيـږي، لېکن پر کوم شي چي د هبې په توګه قبضه سوې، هغه نه مضمون

کيږي، يعني که هغه له قابض (موهوب لهٔ) څخه ضايع سي نو ضمان نه پر واجبيږي، او د ضمان والا عقد (يعني د رهن عقد) د غير ضمان (يعني د هبې) له عقد څخه زيات قوي دی؛ ځکه چي هغه د دوو عوضونو يعني د مرهون شي او د قرض دواړو مثبت (ثابتونکي) وي، نو ځکه مقبوض بحکم الرهن به له مقبوض بحکم الهبه څخه اقوىٰ او راجح وي. ها! که چيري هبه بشرط العوض وي، نو هغه په هر حال کي له رهن څخه راجح ده؛ ځکه چي هبه بشرط العوض انتهاءً بيع وي، او بيع داسي عقد ضمان دی چي په هغه کي صورتاً او معناً دواړه ډوله ملکيت ثابتيږي لېکن په رهن کي صرف د مرهون شي د ضايع کېدلو په صورت کي ملکيت ثابتيږي او هغه هم معناً وي، يعني خاص د مرهون شي ضمان نه واجبيږي بلکي د هغه د بازاري قيمت ضمان واجبيږي، نو ځکه په دې حوالو سره به هبه بشرط العوض له رهن څخه مخکي وي.

وإن أقام الخارجان إلخ: (٣)... د دې حاصل دا دی چي که يو شی د خالد په قبضه کي وي، بيا زيد او ادريس په هغه دعوىٰ وکړي او هر يو ووايي چي "زه د هغه مالک يم"، لېکن يو هم د ملکيت سبب يعني شراء، هبه او داسي نور ذکر نه کړي (يعني يو هم داسي نه ووايي چي ما رانيولی دی يا ما ته چا هبه کړی دی او داسي نور)، خو پر ملکيت او تاريخ بيّنه پېش کړي چي "زه د فلانکی مياشتي له فلان تاريخ څخه د دې مالک يم"، نو د دې صورت حکم هم د مخکي په څېر دی چي د کوم يوه تاريخ مخکي وي، د هغه دعوىٰ او بيّنه به راجح او معتبره وګرځول کيږي او د هغه په حق کي به فيصله کيږي؛ ځکه د تاريخ مخکي والي دا ثابته کړه چي هغه (مخکني تاريخ والا مدعي) اول مالک دی، نو ښکاره خبره ده چي اوس دويم مدعي ته صرف د هغه اول مالک (تاريخ والا مدعي) له طرفه ملکيت حاصلېدای سي، حالانکي دويم مدعي د ملکيت سبب نه دی ذکر کړی (چي ما له اول مالک [تاريخ والا مدعي] څخه دا شی رانيولی دی او داسي نور) او د هغه تاريخ هم د اول مالک له تاريخ څخه وروسته دی، نو ځکه به د هغه دعوىٰ رد ول کيږي او د اول مدعي په حق کي به فيصله کيږي.

## له يوه کس څخه په دوو مختلفه اوقاتو کي د رانيولو دعوىٰ کول

قَالَ: وَلَوِادَّعَيَا الشِّرَاءَ مِنْ وَاحِدٍ مَعْنَاهُ مِنْ غَيْرِ صَاحِبِ الْيَدِ فرمايي: او که دوه خلک له يوه کس يعني له غير قابض څخه د رانيولو دعوىٰ وکړي وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ عَلىٰ تَارِيخَيْنِ او دوی دواړه پر دوو جلا تاريخونو بيّنه پېش کړي فَالْأَوَّلُ أَوْلىٰ نو اول [مخکني] تاريخ والا مدعي اولىٰ دی لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی أَنَّهُ أَثْبَتَهُ فِي وَقْتٍ لَا مُنَازِعَ لَهُ فِيهِ ځکه چي هغه په داسي وخت

کي خپل ملکيت ثابت کړی دی چي په هغه کي هيڅوک د ده مقابل نسته وَإِنْ أَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ عَلَى الشِّرَاءِ مِنْ آخَرَ وَذَكَرَا تَارِيخًا او که له دوی څخه هر يو له بل چا څخه پر رانيولو بيّنه پيش کړي او دواړه تاريخ بيان کړي فَهُمَا سَوَاءٌ نو دواړه سره برابر دي لِأَنَّهُمَا يُثْبِتَانِ الْمِلْكَ لِبَائِعَيْهِمَا ځکه چي دواړه د خپل، خپل بائع لپاره ملکيت ثابتوي فَيَصِيرُ كَأَنَّهُمَا حَضَرَا نو دا به داسي وګرځي لکه دواړه بائعين چي حاضر سي ثُمَّ يُخَيَّرُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بيا به هر مدعي ته [د نصف. نصف اخيستلو] اختيار ورکول کيږي كَمَا ذَكَرْنَا مِنْ قَبْلُ لکه مخکي چي موږ ذکر کړه وَلَوْ وَقَّتَتْ إِحْدَى الْبَيِّنَتَيْنِ وَقْتًا وَلَمْ تُوَقِّتِ الْأُخْرَى او که له دواړو بينو [ګواهيو] څخه صرف يوه بيّنه تاريخ بيان کړي او بله بيّنه تاريخ بيان نه کړي قُضِيَ بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ نو د دوی په مينځ کي به د نصف، نصف فيصله کيږي لِأَنَّ تَوْقِيتَ إِحْدَاهُمَا لَا يَدُلُّ عَلَى تَقَدُّمِ الْمِلْكِ ځکه چي د يوې بينې تاريخ بيانول د ملکيت پر مخکي والي دلالت نه کوي لِجَوَازِ أَنْ يَكُونَ الْآخَرُ أَقْدَمَ ځکه دا ممکنه ده چي بل يو مخکي وي [يعني کېدای سي چي د بل مدعي ملکيت تر ده مخکي وي او هغه تر ده مخکي د مُدعیٰ بِهٖ شي مالک وي] بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ الْبَائِعُ وَاحِدًا په خلاف د هغه صورت کله چي بائع يو وي لِأَنَّهُمَا اتَّفَقَا عَلَى أَنَّ الْمِلْكَ لَا يَتَلَقَّى إِلَّا مِنْ جِهَتِهِ ځکه چي [په دې صورت کي] دواړه مدعيان پر دې خبره متفق دي چي صرف د همدغه بائع له طرفه ملکيت حاصل سوی دی فَإِذَا أَثْبَتَ أَحَدُهُمَا تَارِيخًا نو کله چي له دوی څخه يو [په خپل بيّنه سره] تاريخ ثابت کړی يُحْكَمُ بِهِ نو د هغه په حق کي به فيصله کيږي حَتَّى يَتَبَيَّنَ أَنَّهُ تَقَدَّمَ شِرَاءُ غَيْرِهِ تر دې چي دا څرګنده سي چي د بل مدعي رانيول [تر هغه] مخکي دي وَلَوِ ادَّعَى أَحَدُهُمَا الشِّرَاءَ مِنْ رَجُلٍ وَالْآخَرُ الْهِبَةَ وَالْقَبْضَ مِنْ غَيْرِهِ او که په دوی دواړو کي يو کس له يوه سړي څخه د رانيولو دعویٰ وکړي او بل [دويم کس] د بل چا له طرفه د هبه مع القبض دعویٰ وکړي [چي ما ته دا شی بل چا هبه کړی دی او ما قبضه هم پر کړې وه] وَالثَّالِثُ الْمِيرَاثَ مِنْ أَبِيهِ او دريم کس له خپل پلار څخه د ميراث [په ميراث کي د حاصلېدلو] دعویٰ وکړي وَالرَّابِعُ الصَّدَقَةَ وَالْقَبْضَ مِنْ آخَرَ او څلورم کس د بل چا له طرفه د هبه مع القبض دعویٰ وکړي قُضِيَ بَيْنَهُمْ أَرْبَاعًا نو قاضي به د هغو په مينځ کي د څلورو

حصو فيصله كوي (يعني قاضي به هغه شی د دوی په مینځ کي څلور حصې کوي) لِأَنَّهُمْ يَتَلَقَّوْنَ الْمِلْكَ مِنْ بَاعَتِهِمْ ځکه چي دوی ټوله له خپل مُمَلِّكِينو څخه د ملکيت حاصلولو دعوىٰ كوي فَيُجْعَلُ كَأَنَّهُمْ حَضَرُوا وَأَقَامُوا الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمِلْكِ الْمُطْلَقِ نو داسي به ګرځول کيږي لکه څلور سره مملکين چي په خپله حاضر سي او هغوی پر مطلق ملكيت بيّنه پېش کړي.

**اللغات**: ﴿منازع﴾ د مفاعلې د باب فاعل دی: جنګ او اختلاف کونکی، مزاحم، مقابل، ﴿باعتهم﴾ بَاعَةٌ جمع د بَائِعٌ ده: خرڅونکي ته وايي، دلته ځني مراد مُمَلِّك (مالک جوړونکی) دی، يعني په پورتني صورت کي له څلورو مدعيانو څخه هر يو دا دعوىٰ كوي چي زه کوم چا د دې شي مالک جوړ کړی يم (يعني کوم چا چي ما ته دا شی راکړی دی) ما له هغه شخه ملکیت حاصل کړی دی، دلته له بَاعَةٌ څخه د تغليب په توګه مُمَلِّكِيْن مراد کړل سوي دي، ځکه له دې مملکينو څخه يو بائع دی، لکه څرنګه چي د هدايې په حاشيه کي ذکر سوي دي.

**تشريح**: د دې عبارت مسئلې هم د مخکني عبارت د مسئلو په څېر دي، حاصل يې دا دی که زيد او حامد دا دعوىٰ وکړي چي مورد دا شی (يا مثلاً دا غلام يا پسه) له نعمان څخه رانيولی دی او هغه شی د نعمان په قبضه کي نه وي، بيا هر مدعي پر خپله دعوىٰ د جلا تاريخ مطابق بيّنه پېش کړي، نو ښکاره خبره ده چي د کوم مدعي د رانيولو تاريخ مخکي وي، د هغه دعوىٰ او بيّنه معتبره ده او د هغه په حق کي به فيصله کيږي؛ ځکه چي په هغه تاريخ کي د دې مدعي (مشتري) هيڅ مزاحم او مقابل نسته. او كه په دواړو مدعيانو (زيد او حامد) کي هر يو له جلا، جلا بائع څخه د رانيولو دعوىٰ وکړي، لېکن د رانيولو تاريخ صرف يو بيان کړي، نو په هغه شي کي دواړه برابر دي يعني دواړو ته به نصف، نصف ورکول کيږي او دوی ته به هغه دا خيستلو او نه اخيستلو اختيار وي، ځکه له دوی دواړو څخه هر يو د خپل بائع لپاره ملكيت ثابتوي، نو داسي به وګرځي لکه دواړه بائعين چي په خپله حاضر سي او دا واضحه سي چي دوی دواړو (مدعيانو) له هغو څخه شی رانيولی دی، نو ځکه به دوی ته دا اختيار ورکول کيږي چي که وغواړي نو نصف، نصف دي واخلي، کني هغه دي پرېږدي.

همدا حکم په هغه صورت کي هم دی، کله چي د يوه مدعي بيّنه (ګواهان) تاريخ بيان کړي او د بل مدعي بيّنه تاريخ بيان نه کړي، يعني په دې صورت کي به هم مدعىٰ بِهٖ شی د دوی په مينځ کي نصف، نصف تقسيمول کيږي؛ ځکه چي د يوې بيّنې په تاريخ بيانولو سره دا نه لازميږي چي د دغه تاريخ بيانونکي مدعي ملكيت به له بل مدعي څخه مخکي وي، نو ځکه دا به د ترجيح وجه نه

وي او دواړه مدعيان به د نصف، نصف حقداره وي، هـا! كه چيري دواړه صرف له يـوه بائع شخصه د رانيولو دعویٰ کوي، نو په دې صورت کې چې کوم مدعي او د هغه بيّنه تاريخ بيان کړي، د هغه په حق کې به فيصله کيږي؛ ځکه چې پر يوه بائع د دواړو (مدعيانو) په اتفاق کولو سره دا خبره څرګنده سوه چې دواړو له هغه شخصه ملکيت حاصل کړی دی، نو ځکه د کوم يوه د رانيولو تاريخ چې مخکي وي، د هغه دعویٰ به هم مخکي او راجح وي.

ولوادعى أحدهما الشراء إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د يوه شي په باره کې څلور کسان دعویٰ وکړي: ① يو کس دا دعویٰ وکړي چې "دا شی ما له خالد شخصه رانيولی دی"، ② دويم دا دعویٰ وکړي چې "دا شی ما ته نعمان هبه کړی دی او ما پر هغه قبضه هم کړې وه"، ③ درېيم دا دعویٰ وکړي چې "دا شي ما ته خپل پلار په ميراث کې پرې ايښی دی (ما ته يې په ميراث کې راکړی دی)، ④ څلورم کس دا دعویٰ وکړي چې "ما ته ادريس دا شی صدقه کړی دی (په خيرات کې يې راکړی دی) او ما پر هغه قبضه هم کړې وه"، نو په داسي صورت کې به هغه شی د دې څلور سره مدعيانو په مينځ کې تقسيمول کيږي؛ ځکه چې دوی ټوله له جلا، جلا خلکو شخصه د ملکيت حاصلولو دعویٰ کوي، نو داسي سوه لکه هغه ټوله خلک (خالد، نعمان او داسي نور) چې په خپله حاضر سي او هغوی ټوله پر دې خبره بيّنه پېش کړي چې "دا شی زموږ دی"، نو قاضي به هغه پر څلورو حصو تقسيموي، همداسي به په دغه مسئله کې هم هغه د څلور سره مدعيانو په مينځ کې تقسيمول کيږي.

## په قابض او غيرِ قابض کې د ملکيت اختلاف

قَالَ: فَإِنْ أَقَامَ الْخَارِجُ الْبَيِّنَةَ عَلَى مِلْكٍ مُؤَرَّخٍ فرمايي: که غيرِ قابض په تاريخ والا [تاريخ داره] ملکيت باندي بيّنه پېش کړي وَصَاحِبُ الْيَدِ بَيِّنَةً عَلَى مِلْكٍ أَقْدَمَ تَارِيخًا او قابض [له هغه شخصه] په مخکني تاريخ والا ملکيت باندي بيّنه پېش کړي كَانَ أَوْلَى نو د قابض بيّنه اولیٰ ده وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ او دا حکم د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ مُحَمَّدٍ او همدا له امام محمد رَحِمَهُ الله شخصه يو روايت دی وَعَنْهُ* أَنَّهُ لَا يُقْبَلُ بَيِّنَةُ ذِي الْيَدِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله شخصه بل روايت دا دی چې د قابض بيّنه به نه قبلول کيږي رَجَعَ إِلَيْهِ [او] امام محمد رَحِمَهُ الله خپل دغه

---

* القول الرجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في الدر المنتقى (ج:۳، ص:۳۷۷)، وكذا في تنوير الأبصار (ج:۴، ص:۴۹۰). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۸۵]

قول ته رجوع کړي ده لِأَنَّ الْبَيِّنَتَيْنِ قَامَتَا عَلٰى مُطْلَقِ الْمِلْكِ ځکه چې دواړي بينې پر مطلق ملکيت پېش سوي دي وَلَمْ يَتَعَرَّضَا لِجِهَةِ الْمِلْكِ او دواړو بينو د ملکيت د جهت [سبب] نه دی ښکاره کړی [يعني دواړو بېنو او د هغو مدعيانو هيڅ د ملکيت سبب نه دی ذکر کړی] فَكَانَ التَّقَدُّمُ وَالتَّأَخُّرُ سَوَاءً نو ځکه مخکي کېدل او وروسته کېدل به دواړه سره برابر وي وَلَهُمَا: أَنَّ الْبَيِّنَةَ مَعَ التَّارِيخِ مُتَضَمِّنَةٌ مَعْنَى الدَّفْعِ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې تاريخ والا بېّنه د دفع کولو معنیٰ لره شامله ده فَإِنَّ الْمِلْكَ إِذَا ثَبَتَ لِشَخْصٍ فِي وَقْتٍ ځکه کله چې په يوه وخت کي د يو کس لپاره ملکيت ثابت سي فَثُبُوتُهُ لِغَيْرِهِ بَعْدَهُ لَا يَكُونُ إِلَّا بِالتَّلَقِّيْ مِنْ جِهَتِهِ نو تر دې وروسته د بل چا لپاره د دې ملکيت ثابتېدل ممکن نه دي مګر د هغه کس له طرفه په حاصلېدلو سره وَبَيِّنَةُ ذِي الْيَدِ عَلَى الدَّفْعِ مَقْبُولَةٌ او د دفع کولو په حواله سره د قابض بېّنه مقبوله وي وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ لَوْ كَانَتِ الدَّارُ فِي أَيْدِيهِمَا او پر همدغه اختلاف دي کله چې يو کور دوو مدعيانو په قبضه کي وي وَالْمَعْنٰى مَا بَيَّنَّا او وجه هغه ده کوم چې موږ بيان کړه وَلَوْ أَقَامَ الْخَارِجُ وَذُو الْيَدِ الْبَيِّنَةَ عَلٰى مِلْكٍ مُطْلَقٍ او که چيري خارج او قابض دواړه پر مطلق ملکيت بېّنه پېش کړي وَوُقِّتَ إِحْدَاهُمَا دُونَ الْأُخْرٰى او له دواړو څخه صرف د يوې بينې لپاره تاريخ بيان کړی سي، نه د بلي بينې لپاره فَعَلٰى قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ الْخَارِجُ أَوْلٰى نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله د قول مطابق خارج [غير قابض] اولیٰ دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ* وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: صَاحِبُ الْوَقْتِ أَوْلٰى او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي (او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی): چې تاريخ والا اولیٰ دی لِأَنَّهُ أَقْدَمُ ځکه چې هغه مخکنی دی وَصَارَ كَمَا فِي دَعْوَى الشِّرَاءِ إِذَا أُرِّخَتْ إِحْدَاهُمَا كَانَ صَاحِبُ التَّارِيخِ أَوْلٰى او دا داسي سوه لکه د رانيولو په دعویٰ کي چې د يوې بينې لپاره تاريخ بيان کړی سي نو [په دې صورت کي هم] تاريخ والا اولیٰ دی وَلَهُمَا أَنَّ بَيِّنَةَ ذِي الْيَدِ إِنَّمَا تُقْبَلُ لِتَضَمُّنِهَا مَعْنَى الدَّفْعِ او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې د

* القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في الدر المنتقى (ج:۳، ص:۳۷۸)، وكذا في رد المحتار (ج:۴، ص:۴۸۹). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۸۶]

قابض بيّنه په دې وجه قبلول کيږي چي هغه د دفع کولو معنىٰ لره شامله وي وَلَا دَفْعَ هٰهُنَا او دلته دفعيه نسته حَيْثُ وَقَعَ الشَّكُّ فِي التَّلَقِّيْ مِنْ جِهَتِهٖ ځکه چي د قابض له طرفه په ملکيت حاصلېدلو کي شک واقع دى وَعَلٰى هٰذَا إِذَا كَانَتِ الدَّارُ فِيْ أَيْدِيْهِمَا او پر همدغه اختلاف دي کله چي يو کور د دوو کسانو [مدعيانو] په قبضه کي وي وَلَوْ كَانَتْ فِيْ يَدِ ثَالِثٍ او که چيري کور د درېيم کس [بل چا] په قبضه کي وي وَالْمَسْأَلَةُ بِحَالِهَا او مسئله همداسي وي فَهُمَا سَوَاءٌ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ نو [په دې صورت کي] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دواړه مدعيان سره برابر دي وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ❁: الَّذِيْ وَقَّتَ أَوْلٰى او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي تاريخ بيانونكى مدعى اولىٰ دى وَقَالَ مُحَمَّدٌ: الَّذِيْ أَطْلَقَ أَوْلٰى او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي کوم مدعي [ملکيت] مطلق پرېږدي اينبى دى هغه اولىٰ دى لِأَنَّهُ ادَّعٰى أَوَّلِيَّةَ الْمِلْكِ ځکه چي هغه د ملکيت د اول والي [مخکي والي] دعوىٰ کوي بِدَلِيْلِ اسْتِحْقَاقِ الزَّوَائِدِ وَرُجُوْعِ الْبَاعَةِ بَعْضِهِمْ عَلَى الْبَعْضِ د زوائدو [اضافياتو] د مستحق کېدلو په دليل سره او د بائعينو يو پر بل د رجوع کولو په دليل سره وَلِأَبِيْ يُوْسُفَ: أَنَّ التَّارِيْخَ يُوْجِبُ الْمِلْكَ فِيْ ذٰلِكَ الْوَقْتِ بِيَقِيْنٍ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي تاريخ په هغه وخت [تاريخ] کي په يقيني توګه ملکيت ثابتوي وَالْإِطْلَاقُ يَحْتَمِلُ غَيْرَ الْأَوَّلِيَّةِ او اطلاق د نا مخکي والي احتمال لري وَالتَّرْجِيْحُ بِالتَّيَقُّنِ او ترجيح په يقيني کېدلو سره وي [په بله وينا دا چي ترجيح هغه شي لره وي کوم چي په يقيني توګه ثابت وي او په هغه کي احتمال نه وي] كَمَا لَوِ ادَّعَيَا الشِّرَاءَ لکه کله چي دواړه د شراء دعوىٰ وکړي وَلِأَبِيْ حَنِيْفَةَ: أَنَّ التَّارِيْخَ يُضَامُّهُ احْتِمَالُ عَدَمِ التَّقَدُّمِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي د تاريخ سره د نه مخکي کېدلو احتمال ضم [او مزاحم] دى فَسَقَطَ اعْتِبَارُهُ لهذا د تاريخ اعتبار ساقط سو فَصَارَ كَمَا لَوْ أَقَامَا الْبَيِّنَةَ عَلٰى مِلْكٍ مُطْلَقٍ نو دا داسي سوه لکه دواړه چي پر مطلق ملکيت بيّنه پېش کړي بِخِلَافِ الشِّرَاءِ په خلاف د رانيولو لِأَنَّهُ أَمْرٌ حَادِثٌ ځکه چي هغه نوې معامله ده فَيُضَافُ

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في الخانية (ج:٣، ص:٥٨)، وكذا في الدر المنتقى (ج:٣، ص٣٧٩).[القول الراجح ج:٢، ص:١٨٧]

إِلَىٰ أَقْرَبِ الْأَوْقَاتِ او هغه د نژدې وخت وطرف ته منسوب کيږي فَيَتَرَجَّحُ جَانِبُ صَاحِبِ التَّارِيخِ نو ځکه د تاريخ والا جانب به راجح وي.

**اللغات:** ﴿مُؤَرِّخ﴾ د تفعيل د باب مفعول دی: تاريخ والا، تاريخ داره (نېټه داره)، د کوم شي لپاره چې وخت او تاريخ بيان کړی سي، ﴿ذی اليد﴾ قابض، هغه مدعي چې په قبضه کې يې دعوه داره شی وي، ﴿يتعرضا﴾ د تفعّل له باب د تثنيه غائب مضارع صيغه ده، تَعَرَّضَ يَتَعَرَّضُ تَعَرُّضًا لِلأَمْر: د يو شي طلب کول، په يو شي پسې کېدل، يو طرف ښکاره کول (مصباح اللغات)، ﴿دفع﴾ د فتح د باب مصدر دی: دفع کول، ليري کول، ﴿أُرِّخت﴾ د تفعيل د باب ماضي مجهوله ده: تاريخ بيانېدل، د معلومي په صيغه سره: تاريخ بيانول، ﴿يُضَامّه﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: يو شی د بل شي سره ضم کېدل (يو ځای کېدل)، ضمول، ﴿التقدّم﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مخکي کېدل، مخکي والی، ﴿حادث﴾ نوی پېښېدونکی، جديد.

**تشريح:** په دې عبارت کې درې مسئلې بيان سوي دي، چې هغه به انشاء الله د مصنف رَحِمَهُ الله د بيان مطابق ستاسو په خدمت کې پېش کړل سي:

(۱)... که دوه خلک د يوه شي په باره کې دعوىٰ وکړي او له دوی څخه يو خارج (غيرِ قابض) وي او بل قابض وي، يعني د يوه مدعي په قبضه کې هغه مدعىٰ بهٖ (دعوه داره) شي نه وي او د بل مدعي په قبضه کې هغه وي، بيا له دوی څخه خارج (غيرِ قابض) پر دې خبره بيّنه پېش کړي چې "(زه مثلاً له ۲۰/محرم ۱۴۴۱ھ څخه د دې مدعىٰ بهٖ شي مالک يم"، او قابض پر دې خبره بيّنه پېش کړي چې "زه له ۲۰/شوال ۱۴۴۰ھ څخه پر دې شي قابض يم (زما په قبضه کې دی)"، نو په دې صورت کې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د قابض بيّنه راجح ده، همدا له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله اصل قول دا دی چې د قابض بيّنه به نه قبلول کيږي بلکې په دې صورت کې قابض او خارج دواړه سره برابر دي (يعني هغه شی به د دواړو په مينځ کې نصف، نصف تقسيمول کيږي).

**د امام محمد دليل:** دا دی چې د قابض او خارج دواړو بيّنه د ملکيت له سبب څخه خالي ده، يعني هر يوه د مطلق ملکيت دعوىٰ کړې ده (او دا يې نه دي ويلي چې زه يې څنګه مالک سوی يم، آيا د رانيولو په ذريعه. په ميراث کې د حاصلولو په ذريعه او داسې نور)، نو ځکه د دواړو دعوىٰ به سره برابره وي او يو به هم پر بل فائق او بالا نه وي.

**د شیخینو دلیل**: دا دی چي دلته د قابض بیّنه په دوو (۲) وجهو سره راجح او معتبره ده، یو خو په دې وجه چي د هغه تاریخ مخکي دی، او دویم په دې وجه چي د قابض په بیّنه کي د بل چا د دفع کولو (لیري کولو) صلاحیت موجود وي (مطلب دا چي په هغه سره د غیرِ قابض دعویٰ دفع کیږي)؛ ځکه کله چي په یوه وخت کي د یو سړي لپاره پر یو شي ملکیت ثابت سي، نو بیا پر هغه شي د بل چا ملکیت په هغه وخت کي ثابتیږي کله چي دا بل څوک د ملکیت سبب ذکر کړي چي "ما دا شی له هغه څخه رانیولی دی یا هغه ما ته هبه کړی دی او داسي نور"، او دلته د بل چا (غیرِ قابض) له طرفه د ملکیت سبب نه دی ذکر سوی، نو ځکه د هغه بیّنه به معتبره نه وي او د مخکني تاریخ والا بیّنه به معتبره او مقبوله وي.

د امام محمد او شیخینو رَحِمَهُمُ الله دغه اختلاف په هغه صورت کي هم دی، کله چي دوه کسان پر یو کور قابض وي او بیا دواړه په هغه دعویٰ وکړي او دواړه بیّنه پېش کړي، نو په دې صورت کي هم د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د مخکني تاریخ والا بیّنه راجح او معتبره ده، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به پر نصف، نصف فیصله کیږي.

ولو أقام الخارج و ذو اليد إلخ: (۲)... دویمه مسئله دا ده چي که قابض او خارج دواړه مدعیان پر مطلق ملکیت بیّنه پېش کړي لېکن په دوی کي صرف یو مدعي او د هغه بیّنه (ګواهان) تاریخ بیان کړي، نو په دې صورت کي د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د خارج بیّنه راجح ده، که څه هم هغه تاریخ نه وي بیان کړی، لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د تاریخ بیانونکي مدعي بیّنه راجح ده؛ ځکه چي هغه اقدم او مخکنی دی او په هغه وخت کي دویم مدعي د ده مزاحم نه دی.

د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي د قابض بیّنه په دې وجه قبلول کیږي چي د هغه په بیّنه کي د بل چا د دفع کولو صلاحیت وي یعني په هغه سره د غیرِ قابض دعویٰ دفع کیږي، حالانکي دلته د قابض په بیّنه کي داخبره (دفعیه) نسته؛ ځکه چي دلته دا شک او احتمال سته چي غیرِ قابض به له تاریخ بیانونکي مدعي څخه ملکیت حاصل کړی وي (یعني دا کېدای سي چي هغه به له قابض څخه ملکیت حاصل کړی وي)، لهذا دلته د قابض په بیّنه کي داسي شی نسته کوم چي د ترجیح وجه او دلیل وګرځي، نو ځکه به د خارج بیّنه قبلول کیږي، همدا اختلاف په هغه صورت کي هم دی کله چي دوه کسان د یو کور په باره کي دعویٰ وکړي او هغوی دواړه پر کور قابض وي (یعني کور د دواړو په قبضه کي وي) او له دوی څخه صرف یو مدعي او د هغه بیّنه تاریخ بیان کړي، نو په دې صورت کي هم د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز تاریخ لره اعتبار نسته، لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د تاریخ بیانونکي مدعي بیّنه راجح او معتبره ده.

ولو كانت لى يد ثالث إلخ: (۳)... د پـيـمه مسئله دا ده كه يو كور د خالد په قبضه كي وي او زيـد او حامد دواړه په هغه دعوىٰ وكړي او دواړه پر خپله دعوىٰ بيّـنه پـېش كړي، لېكن له دوی څخه صرف يو تاريخ بيان كړي، نو پـه دې صورت كي هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله پـه نېز د دواړو حكـم برابر دی، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د تاريخ بيانونكي مدعي بيّـنه راجح او معتبره ده، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د تاريخ نه بيانونكي كوم چي خپله دعوىٰ او ملكيت مطلق پرې ايښي وي، د هغه بيّـنه اولىٰ او معتبره ده؛ د امام محمد رَحِمَهُ الله دليـل دا دی چي كېداى سي د هغه بيّـنه د تاريخ بيـانونكي مدعي لـه بينې څخه هم اولىٰ وي، او بل دا چي د مطلق ملكيت دعوىٰ كونكي د مدعىٰ بہٖ شي د اضافيـاتو (زائد شيانو) او حاصلاتو هم مستحق كيـږي (مثلا كه مدعىٰ بہٖ شي مېنځه وي نو د هغې بچيان هم د ده حق كيـږي او داسي نور)، همدارنګه كه مدعىٰ بہٖ شی د بل چا مستحق وخيږي او هغه شی له ده څخه واخلي ، نو تر استحقاق مخكي چي په هغه شي كي د څومره خلګو بيع او معامله سوې وي، هغوی به ټوله پر خپـل، خپل بائع رجوع كوي، نو معلومه سوه چي مطلق ملكيت اقوىٰ دی، نو ځكه كوم مدعي چي د مطلق ملكيت دعوىٰ كوي، د هغه بيّـنه به هم مقبوله او معتبره وي.

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي په تاريخ بيانولو سره ملكيـت يقيني ګرځـي او په هغه تاريخ كي د تاريخ بيانونكي مدعي لپاره په يقيني توګه ملكيـت ثابتيږي، او پـه مطلق ملكيـت كي چي څرنګه د اوليت (مخكي والي) احتمال سته، همداسي د غير اوليت احتمال هم پكښي ستي، او د فقهي قاعده دا ده "إِذَا جَاءَ الاِحْتِمَالُ بَطَلَ الاِسْتِدْلَال"، نو ځكه فيصله به پر تاريخ كيـږي نه پر اطلاق (مطلق ملكيت)، لكه څرنګه چي په شراء (رانيولو) كي پر تاريخ فيصله كيږي.

د امام صاحب دليل دا دی چي كله صرف له يوه طرفه تاريخ بيان سوی وي، نو كېداى سي چي د اطلاق والا طرف له هغه تـاريخ څخه مخكي وي (يعني كيداى سي چي د مطلق پرېښوونكي [تاريخ نه بيانونكي] ملكيت د تاريخ بيانونكي مدعي له ملكيت څخه مخكي وي)، لهذا دا خبره يقيني نه سوه چي د تاريخ بيانونكي مدعي ملكيت به د مطلق ملكيت له مدعي څخه مخكي وي، نو ځكه د تـاريخ اعتبار ساقط سو، لهذا دا داسي سوه لكه دواړه مدعيان چي بلا تاريخه پر مطلق ملكيـت بيّـنه پـېش كړي، او په داسي صورت كي د دواړو پـه مينځ كـي د برابر والي (يعني د نصف. نصف) فيـصله كيـږي، نو همداسي به په دې مسئله كي هم دا فيصله كيږي.

او دا مسئله پر شراء قیاسول صحیح نه دي؛ ځکه چي شراء يو نوی (جدید) معامله وي؛ ځکه کله چي دواړه مدعیان پر شراء متفق دي، نو ښکاره خبره ده چي دواړه پر نوي معامله هم متفق دي، او په نوي معامله کي پر تاریخ اعتماد کیږي او هلته تاریخ ته اعتبار ورکول کیږي، نو ځکه دا مسئله پر شراء قیاسول صحیح نه دي لکه څرنګه چي امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله پر شراء قیاس کړی ده. (احسن الهدایه)

## په "نتاج" کي د قابض او خارج اختلاف

قَالَ: وَإِنْ أَقَامَ الْخَارِجُ وَصَاحِبُ الْيَدِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةً عَلَى النِّتَاجِ فرمايي: او که له خارج او قابض څخه هر يو پر نتاج بيّنه پېش کړي فَصَاحِبُ الْيَدِ أَوْلَى نو قابض اولیٰ دی [یعني د هغه دعویٰ او بيّنې ته به ترجیح ورکول کیږي او د هغه په حق کي به فیصله کیږي] لِأَنَّ الْبَيِّنَةَ قَامَتْ عَلَى مَا لَا تَدُلُّ عَلَيْهِ ځکه چي بيّنه پر هغه څه پېش سوې ده چي پر هغه قبضه دلالت نه کوي فَاسْتَوَيَا نو ځکه دواړه بيّنې به سره برابري وي وَتَرَجَّحَتْ بَيِّنَةُ ذِي الْيَدِ بِالْيَدِ او د قبضې په وجه به د قابض بيّنه راجح وي فَيُقْضَى لَهُ نو ځکه د هغه په حق کي به فیصله کیږي وَهٰذَا هُوَ الصَّحِيحُ او همدا صحیح ده خِلَافًا لِمَا يَقُولُهُ عِيسَى بْنُ أَبَانَ أَنَّهُ تَتَهَاتَرُ الْبَيِّنَتَانِ وَيُتْرَكُ فِي يَدِهِ لَا عَلَى طَرِيقِ الْقَضَاءِ په خلاف د هغه څه کوم چي عیسی بن ابان رَحِمَهُ الله وايي چي دواړي بيّنې به ساقطیږي او مدعیٰ بِهٖ شی د قاضي له فیصلې څخه بغیر د قابض په قبضه کي پرېښوول کیږي وَلَوْ تَلَقَّى كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْمِلْكَ مِنْ رَجُلٍ او که چیري له قابض او خارج څخه هر یو له یو بل سړي څخه د ملکیت حاصلولو دعویٰ وکړي وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ عَلَى النِّتَاجِ عِنْدَهُ او دواړه د هغه سره پر نتاج [یعني د نتاج پر پیدا کېدلو] بيّنه پېش کړي فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ إِقَامَتِهَا عَلَى النِّتَاجِ فِي يَدِ نَفْسِهِ نو دا په خپله قبضه کي پر نتاج [پیدا کېدلو] د بيّنه پېشولو په څېر دي وَلَوْ أَقَامَ أَحَدُهُمَا الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمِلْكِ وَالْآخَرُ عَلَى النِّتَاجِ او که له دوی څخه یو پر ملکیت بيّنه پېش کړي او بل پر نتاج بيّنه پېش کړي فَصَاحِبُ النِّتَاجِ أَوْلَى نو نتاج والا اولیٰ دی أَيُّهُمَا كَانَ برابره ده هغه که له دوی څخه هر یو وي [یعني برابره ده قابض وي او که غیر قابض (خارج) وي] لِأَنَّ بَيِّنَتَهُ قَامَتْ عَلَى أَوَّلِيَّةِ الْمِلْكِ ځکه چي د هغه بيّنه د ملکیت پر اول والي [مخکي والي] پېش سوې ده فَلَا يَثْبُتُ

لِلاَّ خَرِ إلَّا بِالتَّلَقِّيْ مِنْ جِهَتِهِ نو ځکه دبل يوه لپاره به صرف د هغه له طرفه ملکيت ثابتيږي وَكَذٰلِكَ إِذَا كَانَتِ الدَّعْوٰى بَيْنَ خَارِجَيْنِ او همدارنګه کله چي دا دعوىٰ د دوو غيرِ قابض کسانو په مينځ کي وي فَبَيِّنَةُ النِّتَاجِ أَوْلٰى نو د نتاج والا بيّنه اولىٰ ده لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَلَوْ قُضِيَ بِالنِّتَاجِ لِصَاحِبِ الْيَدِ او که چيري د قابض لپاره د نتاج فيصله وسي ثُمَّ أَقَامَ ثَالِثٌ الْبَيِّنَةَ عَلَى النِّتَاجِ بيا دريم کس پر نتاج بيّنه پېش کړي يُقْضٰى لَهُ نو د هغه لپاره به د نتاج فيصله کيږي إِلَّا أَنْ يُعِيْدَهَا ذُو الْيَدِ مګر دا چي قابض دوباره بيّنه پېش کړي [نو د هغه لپاره به فيصله کيږي] لِأَنَّ الثَّالِثَ لَمْ يَصِرْ مَقْضِيًّا عَلَيْهِ بِتِلْكَ الْقَضِيَّةِ ځکه چي په مخکنۍ فيصله سره دريم کس مقضي عليه نه وو ګرځېدلی وَكَذَا الْمَقْضِيُّ عَلَيْهِ بِالْمِلْكِ الْمُطْلَقِ إِذَا أَقَامَ الْبَيِّنَةَ عَلَى النِّتَاجِ او همدارنګه که د ملک مطلق مقضى عليه [يعني پر کوم مدعي چي د مطلق ملکيت فيصله سوې وي، هغه] پر نتاج بيّنه پېش کړي تُقْبَلُ نو د هغه بيّنه به قبلول کيږي وَيُنْقَضُ الْقَضَاءُ او اوله فيصله به ماتول کيږي لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ النَّصِّ ځکه چي دويمه فيصله [قضاء] د نص په درجه کي ده وَالْأَوَّلُ بِمَنْزِلَةِ الْاِجْتِهَادِ او اوله فيصله د اجتهاد په درجه کي ده.

**اللغات**: ﴿نتاج﴾ د څاروي نوي پيدا سوی بچی، د څاروي د بچي پيدا کېدلو (زېږيدلو) حالت، ﴿تتهاتر﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: ساقطېدل، ﴿تلقّي﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: حاصلول، ترلاسه کول، اخيستل، ﴿خارج﴾ غيرِ قابض، هغه مدعي چي د هغه په قبضه کي مدعىٰ به شی نه وي، ﴿قضية﴾ فيصله، د قضاء نتيجه.

**تشريح**: په دې عبارت کي څلور مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که له قابض او خارج دواړو څخه هر يو دا دعوىٰ وکړي چي "دا مرغومی زما له بزې (وزې) څخه پيدا سوی دی" او هر يوه پر خپله دعوىٰ بيّنه هم پېش کړي، نو د قابض دعوىٰ او بيّنه به قبلول کيږي، او دا مقبوليت د بينې په وجه نه دی، بلکي د قبضې په وجه دی؛ ځکه چي د يوه مدعي بيّنه هم د ملک د اوليت خبر نه دی ورکړی (چي د کوم يوه ملکيت اول دی)، نو د دواړو بيّنه به سره مساوي وي او د قبضې په وجه به د قابض بينې لره ترجيح حاصله وي او هغه به قبلول کيږي. د دې په خلاف عيسىٰ بن ابان رَحِمَهُ الله وايي چي په دې مسئله کي به د دواړو بينې ساقطيږي او د قاضي له فيصلې

څخه بغير به مدعیٰ به شی (مرغومی) د قابض سره پرېښوول کيږي؛ ځکه که چيري قاضي فيصله وکړي هم، نو همدا فيصله به وکړي چې مدعیٰ به شی دي د قابض سره پرېښوول سي؛ ځکه چې له دوو څارويو څخه ديوه بچي پيدا کېدل ناممکن او محال دي، نو ځکه د دواړو مدعيانو بيّنه پېشول د بيّنه نه پېشولو په څېر سوه، او د بيّنه نه پېشولو په صورت کي د قابض په حق کي د پرېښوولو فيصله کيږي، نو په دې صورت کي به هم د قابض په حق کي د پرېښوولو فيصله کيږي. لېکن دا قول صحيح نه دی، يعني دواړه بيني به نه ساقطيږي، بلکي د قابض بيّنه به معتبره منل کيږي.

ولوتلقی إلخ: (٢)... دويمه مسئله دا ده که خارج او قابض دواړه له يو بل سره څخه د ملکيت حاصلولو دعویٰ وکړي، مثلاً له دوی څخه هر يو دا دعویٰ وکړي چې "دا زما د هغه بزې مرغومی دی کوم چې ما له فلانکي سړي څخه رانيولې وه"، نو دا مسئله د هغه مسئلې په څېر ده چې بزه صرف د يوه مدعي په قبضه کي وي او يو مدعي دا بيّنه پېش کړي چې له دغه بزې څخه چې کوم بچي (مرغومی) پيدا سوی دی دا زما دی، او هغه پر دې بچي قابض هم وي، نو په دې صورت کي به د قابض په حق کي فيصله کيږي.

(٣)... که يو مدعي پر ملکيت بيّنه پېش کړي او بل مدعي پر نتاج بيّنه پېش کړي، نو د نتاج والا مدعي بيّنه اولیٰ او معتبره ده، برابره ده هغه خارج وي او که قابض؛ ځکه چې د نتاج والا بيّنه د ملکيت تقدم بيانوي يعني د ملکيت د مخکي والي (اوليت) خبر ورکوي. لهذا کله چې د نتاج والا مدعي ملکيت مخکي سو، نو ښکاره خبره ده چې دا بل مدعي به له هغه څخه ملکيت حاصلونکی وي، حالانکي بل مدعي د ملکيت سبب نه دی ذکر کړی، نو ځکه د هغه دعویٰ او بيّنه به دواړه ساقطيږي.

او که چيري دواړه مدعيان خارج وي يعني يو هم قابض نه وي، نو په دې صورت کي د نتاج والا بيّنه راجح او معتبره ده؛ ځکه چې هغه د ملکيت د مخکي والي (اوليت) خبر ورکوي.

(٤)... څلورمه مسئله دا ده که په مخکنی مسئله کي د قابض لپاره د نتاج فيصله وسي. بيا يو دريم کس په دې نتاج دعویٰ وکړي او بيّنه هم پېش کړي، نو په دې صورت کي د هغه قول او بيّنه راجح گرځي او د هغه په حق کي به فيصله کيږي. ها! که چيري قابض دويم وار بيّنه پېش کړي او په بيّنه پېشولو سره خپله دعویٰ مؤکده او مضبوطه کړي، نو بيا به د ثالث (دريم کس) په حق کي فيصله نه کيږي، بلکي د قابض په حق کي چې کومه فيصله سوې وه، هغه به باقي پاتيږي. او که چيري قابض بيّنه پېش نه کړي، نو د ثالث په حق کي به فيصله کيږي؛ ځکه چې دغه ثالث کس خو بالکل تر مخکنی فيصلې لاندي داخل نه وو چې هغه مقضي عليه او مدعیٰ عليه وگرځول سي. و

هغه له مقدمې او دعوې څخه خارج کړی سي، هغه خو وروسته مختته راغلی دی، نو ځکه قاضي به د هغه خبره په غور سره اوري نو که د هغه خبره صحيح او معتبره وي، نو د هغه په حق کي به فيصله کوي.

وكذا المقضي عليه إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د نعمان په قبضه کي يوه بزه وي او حامد په هغه دعویٰ وکړي چي دا "بزه زما ده" او بيّنه هم پېش کړي او د بينې پر بناء قاضي د خارج يعني د حامد په حق کي د هغه بزې فيصله وکړي، نو حامد مقضي لهٔ سو او نعمان مقضي عليه سو. اوس که چيري له هغه بزې څخه بچی (مرغومی) پيدا سي او نعمان دعویٰ وکړي چي "دا مرغومی زما د هغه بزې نتاج (بچی) دی چي د حامد لپاره د هغې فيصله سوې وه" او نعمان پر دې خبره بيّنه هم پېش کړي، نو قاضي به خپل اوله فيصله ماتوي او بيا به د نعمان (کوم چي د نتاج دعویٰ کوي) په حق کي د بزې او مرغومي دواړو فيصله کوي؛ ځکه پر نتاج چي کوم بيّنه پېش کړل سوې ده، هغه د نص حکم او درجه لري او مخکي چي کومه بيّنه او فيصله سوې وه، هغه د اجتهاد په حکم کي وه، او دا خو هر چا ته معلومه ده چي نص له اجتهاد څخه اقویٰ او اعلیٰ وي، نو ځکه په دې مسئله کي به اوله فيصله ماتول کيږي او دويمه فيصله به نافذول کيږي.

## د "نتاج" په خير حکم والا يو خو نور شيان

قَالَ: وَكَذٰلِكَ النَّسْجُ فِي الثِّيَابِ الَّتِي لَا تُنْسَجُ إِلَّا مَرَّةً فرمايي: او همدارنګه د هغه کپړو د اودلو [جوړولو] هم دا حکم دی کوم چي صرف يو وار اودل کيږي كَغَزْلِ الْقُطْنِ لکه له پمبې څخه جوړه سوې کپړه وَكَذٰلِكَ كُلُّ سَبَبٍ فِي الْمِلْكِ لَا يَتَكَرَّرُ او همدا حکم د هر هغه سبب الملک دی کوم چي نه مکرر کيږي لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى النِّتَاجِ ځکه چي هغه د نتاج په معنیٰ سره دی كَحَلْبِ اللَّبَنِ لکه شيدې لوښل وَاتِّخَاذِ الْجُبْنِ وَاللِّبَدِ او پنير [پوڅه] او کراسته جوړول وَالْمِرْعِزَّى وَجَزِّ الصُّوفِ او لکه وجغوني او وړی سکستل [پرېکول] وَإِنْ كَانَ يَتَكَرَّرُ او که هغه مکرر کيږي قُضِيَ بِهِ لِلْخَارِجِ نو د غير قابض لپاره به د هغه فيصله کيږي بِمَنْزِلَةِ الْمِلْكِ الْمُطْلَقِ د مطلق ملکيت په څېر [يعني لکه څرنګه چي د مطلق ملکيت په دعویٰ کي د خارج لپاره فيصله کيږي] وَهُوَ مِثْلُ الْخَزِّ وَالْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ وَزِرَاعَةِ الْحِنْطَةِ وَالْحُبُوبِ او هغه لکه وريښمي کپړه جوړول، وداني جوړول، بوټي لګول، د غنمو او دانو کښت کرل

فَإِنْ أَشْكَلَ او که چيرې معامله مشتبه وي يُرْجَعُ إِلَى أَهْلِ الْخِبْرَةِ نو خبر لرونکو [ماهرينو] ته به رجوع کيږي لِأَنَّهُمْ أَعْرَفُ بِهِ ځکه چې هغوی د دې زيات پېژندونکي وي فَإِنْ أَشْكَلَ عَلَيْهِمْ او که پر هغو هم معامله مشتبه وي قُضِيَ بِهِ لِلْخَارِجِ نو د خارج لپاره به فيصله کيږي لِأَنَّ الْقَضَاءَ بِبَيِّنَتِهِ هُوَ الْأَصْلُ ځکه چې د خارج پر بيّنه فيصله کول اصل دي وَالْعُدُولُ عَنْهُ بِخَبَرِ النِّتَاجِ او له هغه څخه عدول [د هغه پرېښوول] د نتاج د خبر په وجه کيږي فَإِذَا لَمْ يَعْلَمْ او کله چې هغه معلوم نه وي يُرْجَعُ إِلَى الْأَصْلِ نو د اصل وطرف ته به رجوع کيږي.

**اللغات**: ﴿نسج﴾ د نصر او ضرب مصدر دی: کپړه (ټوکر) جوړول، له تارونو څخه ټوکر وودل (اوبدل)، ﴿غزل﴾، په معنیٰ سره د مَغْزُوْل: يعني هغه تارونه او سپنسيان کوم چې له پمبې او وړی څخه جوړ سوي وي (لکه پخوا چې به دلاسي څرخې په ذريعه له پمبې څخه تارونه جوړېدل بيا به له هغه تارونو څخه ټوکر او کپړه جوړېده)، ﴿قطن﴾ پمبه، پنبه، ﴿غزل القطن﴾ مراد ځني د پنمبې له تارونو (سپنسيانو) څخه جوړه سوې کپړه ده، ﴿حَلَب﴾ او حَلَب: د نصر او ضرب مصدر دی: لوېشل، ﴿جبن﴾ له تازه شيدو څخه جوړه سوې پوڅه، پنير، ﴿لِبد﴾ او لَبَد او لِبْدَةٌ: کراسته، نيمڅې، لمڅه، هغه فرش او ټوکر چې له وړيو څخه جوړ سوی وي، ﴿مِرْعِزّٰی﴾ او مَرْعَز: نور لغات هم پکښې سته: په اصل کې هغه نرې او کوچنې وړېښتو ته وايې کوم چې د بزې تر وجغونو لاندې وي (مصباح منير)، ﴿جَزّ﴾ د نصر د باب مصدر دی، جَزَّ يَجُزُّ جَزًّا: وړی پرېکول (غچې کول)، سکستل، ﴿صوف﴾ وړی (د پسه وېښته)، ﴿الخَزّ﴾ او قزّ: په دې لفظ کې دوه قوله مذکور دي: ① هغه کپړه کوم چې له وربښمو څخه جوړه سوې وي، ② هغه کپړه کوم چې له وربښمو او وړيو (صوف) دواړو څخه جوړه سوې وي، ﴿بناء﴾ د ضرب د باب مصدر دی: وداني جوړول (مثلاً دېوال يا داسي بل شی جوړول)، تعميرول، ﴿غرس﴾ د ضرب د باب مصدر دی: بوټي او درختي لګول، راشين کول، ﴿حنطة﴾ غنم، ﴿حبوب﴾ غله، داني، ﴿عُدُول﴾ د ضرب د باب مصدر دی: ګرځېدل، اوښتل، ليرې کېدل، پرېښوول. (معجم لغة الفقهاء)

**تشريح**: **صورت د مسئلي**: دا دی چې هغه کپړه کوم چې صرف يو ځل وودل کيږي (جوړول کيږي) لکه عامه کپړه، يا هر هغه سبب الملک (د ملکيت سبب) کوم چې نه مکرر کيږي، هغه د نتاج په حکم

کي دي، مثلاً د يو سړي (خالد) په قبضه کي يو کپړه وي او بل څوک په هغه دعویٰ وکړي چي "دا کپړه زما ده، او ما په خپل ملکيت کي هغه جوړه کړې ده" لېکن قابض (خالد) ووايي چي "دا زما کپړه ده او ما هغه جوړه کړې ده"، نو د نتاج په څېر به دلته هم د قابض په حق کي فيصله کيږي او د خارج (غير قابض) دعویٰ او بيّنې ته به هيڅ اهميت نه ورکول کيږي.

او هغه سبب الملک کوم چي نه مکرر کيږي، د هغه مثالونه دا دي: شيدې لوښل، پنير جوړول، کراسته جوړول. د پُسه وړي او د بزې وجغوني سکستل. څرنګه چي دا ټوله اسباب الملک په يوه وخت کي صرف يو وار موجوديږي، نو ځکه دا ټوله د نتاج په حکم کي دي او په دې ټولو کي به د قابض په حق کي فيصله کيږي.

او که چيري سبب الملک (د ملکيت سبب) داسي وي چي په هغه کي د مکرر کېدلو امکان وي، لکه ورېښمي کپړه جوړول، کور جوړول، بوټي او درختي اېښول، د غنمو او داسي نورو غله جاتو کښت کرل، څرنګه چي په دې ټولو کي تکرار ممکن دی؛ ځکه چي کښت وريېل سي او دوباره را شين کړی سي او داسي نور... ، نو که چيري د داسي شيانو په هکله د خارج او قابض تر مينځ اختلاف راسي، نو فيصله به د خارج په حق کيږي، لکه څرنګه چي د مطلق ملکيت د دعوی کولو په صورت کي د خارج په حق کي فيصله کيږي.

فإن إشكل إلخ: د دې حاصل دا دی چي که يو شي يا يو سبب الملک مشتبه وي او دا معلومه نه وي چي په هغه کي تکرار کيږي او که نه، نو په داسي صورت به کي د هغه شي د ماهرينو وطرف ته رجوع کيږي او د هغو د قول او خبر مطابق به فيصله کيږي؛ ځکه چي ماهرين د هغه شي په جرړه هم واقف وي، لېکن که هغوی هم په دې باره کي پوره خبر نه لري، نو دلته به هم د خارج په حق کي فيصله کيږي؛ ځکه چي زموږ په نېز د خارج پر بيّنه فيصله کول اصل دي، او په نتاج او داسي نورو شيانو کي اصل ته رجوع کيږي، لهذا په کوم صورت کي چي د نتاج او مثل نتاج معامله وي نو هلته به د قابض حکومت وي او چيري چي د نتاج او مثل نتاج معامله نه وي، هلته به خارج بازي ګټي. (احسن الهدايه)

## د مطلق ملکيت او رانيولو په دعوو کي اختلاف

قَالَ: وَإِنْ أَقَامَ الْخَارِجُ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمِلْكِ الْمُطْلَقِ فرمايي: او که چيري خارج [غيرِ قابض] پر مطلق ملکيت بيّنه پېش کړي وَصَاحِبُ الْيَدِ الْبَيِّنَةَ عَلَى الشِّرَاءِ مِنْهُ او قابض له خارج څخه پر رانيولو بيّنه پېش کړي كَانَ صَاحِبُ الْيَدِ أَوْلَى نو قابض اولیٰ دی لِأَنَّ الْأَوَّلَ إِنْ كَانَ يَدَّعِي أَوَّلِيَّةَ الْمِلْكِ ځکه

خارج که څه هم د ملکیت د اول والي دعویٰ کوي فَهٰذَا تَلَقّٰى مِنْهُ لیکن قابض له همدې خارج شخصه د ملکیت حاصلېدل ثابت کړي دي وَفِي هٰذَا لَا تَنَافِيَ او په دې کې هیڅ منافات نسته فَصَارَ كَمَا إِذَا أَقَرَّ بِالْمِلْكِ لَهُ ثُمَّ ادَّعَى الشِّرَاءَ مِنْهُ نو داسې سوه لکه قابض چې د خارج د ملکیت اقرار وکړي بیا له هغه شخصه د رانیولو دعویٰ وکړي.

**اللغات**: ﴿خارج﴾ غیر قابض، ﴿اولیة﴾ اول والي، مخکي والی، ﴿تَلَقّٰى﴾ د تفعل د باب ماضي ده: حاصلول، حاصلېدل، ترلاسه کول، اخیستل، ﴿تنافي﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: تعارض، یو د بل مخالف کېدل.

**تشریح**: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چې کله خارج پر مطلق ملکیت بیّنه پېش کړي، نو د اصل کېدلو په وجه به د هغه بیّنه قبلول کیږي، بیا که قابض له همدې خارج شخصه د رانیولو دعویٰ وکړي (چې ما له هغه شخصه دا شی رانیولی دی) او پر دې بیّنه پېش کړي، نو د هغه بیّنه د خارج له بینې څه اولیٰ او معتبره ده او هغه به قبلول کیږي، لکه کله چې خارج پر مطلق ملکیت بیّنه پېش کړي او بیا قابض د خارج لپاره د ملکیت اقرار وکړي او تر دې وروسته له هغه شخصه د رانیولو دعویٰ وکړي، نو د هغه دا دعویٰ قبلول کیږي، نو همداسې به په دغه مسئله کې هم د قابض دعویٰ قبلول کیږي.

## له بل چا څخه د رانیولو دعوی کول

قَالَ: وَإِنْ أَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ عَلَى الشِّرَاءِ مِنَ الْآخَرِ وَلَا تَارِيخَ مَعَهُمَا او که په دواړو مدعیانو کې هر یو له بل شخصه پر رانیولو بیّنه پېش کړي او د هغو سره تاریخ نه وي تَهَاتَرَتِ الْبَيِّنَتَانِ نو دواړې بینې ساقطیږي وَتُتْرَكُ الدَّارُ فِي يَدِ ذِي الْيَدِ او کور به د قابض په قبضه کې پرېښوول کیږي قَالَ: وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ فرمایي: دا حکم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَعَلٰى قَوْلِ مُحَمَّدٍ ❀ يُقْضٰى بِالْبَيِّنَتَيْنِ وَيَكُونُ لِلْخَارِجِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول مطابق به پر دواړو بینو [ګواهیو] فیصله کیږي او مدعیٰ بهٖ [کور] به د خارج لپاره وي لِأَنَّ الْعَمَلَ بِهِمَا مُمْكِنٌ ځکه چې پر دواړو بینو

---

❀ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَاالله، لأن قولهما قول المتون، كما ذكر في كنـز الدقائق (ص:۲۸۳)، وملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۳۸۱). [القول الراجح ج:۲، ۱۸۸]

عمل كول ممكن دي فَيُجْعَلُ كَأَنَّهُ اشْتَرَى ذُو الْيَدِ مِنَ الْآخَرِ وَقَبَضَ ثُمَّ بَاعَ وَلَمْ يُسَلِّمْ نو مسئله به داسي گرځول کیږي [فرض کیږي] لکه قابض چي له بل چا [خارج] څخه هغه [کور] رانیوی او قبضه يې پر وکړه او بیا يې [پر خارج] خرڅ کړی لېکن [هغه ته يې] نه وسپاری لِأَنَّ الْقَبْضَ دَلَالَةُ السَّبْقِ ځکه چي قبضه [د ملکيت] د مخکي والي دلیل دی عَلَى مَا مَرَّ لکه مخکي چي تېر سوه وَلَا يُعْكَسُ الْأَمْرُ او معامله د دې نه برعکس کیږي لِأَنَّ الْبَيْعَ قَبْلَ الْقَبْضِ لَا يَجُوزُ ځکه [پر مبیع] له قبضه کولو څخه مخکي [د مبیع] خرڅول جائز نه دي وَإِنْ كَانَ فِي الْعَقَارِ که څه هم هغه په جایداد [کور] کي وي عِنْدَهُ د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز [يعني دا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی] وَلَهُمَا أَنَّ الْإِقْدَامَ عَلَى الشِّرَاءِ إِقْرَارٌ مِنْهُ بِالْمِلْكِ لِلْبَائِعِ او د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی: چي پر رانیولو اقدام کول [په حقیقت کي] د مشتري له طرفه د بائع لپاره د ملکيت اقرار کول دي فَصَارَ كَأَنَّهُمَا قَامَتَا عَلَى الْإِقْرَارَيْنِ نو داسي سوه لکه دواړي گواهیاني [بینې] چي پر دوو اقرارنو قائم سي [پېش سي] وَفِيهِ التَّهَاتُرُ بِالْإِجْمَاعِ او په داسي صورت کي بالاتفاق گواهیاني ساقطیږي كَذَا هٰهُنَا نو همداسي به دلته هم وي وَلِأَنَّ السَّبَبَ يُرَادُ لِحُكْمِهِ وَهُوَ الْمِلْكُ او ځکه چي له سبب [شراء] څخه د سبب حکم یعني ملکيت مرادیږي وَلَا يُمْكِنُ الْقَضَاءُ لِذِي الْيَدِ إِلَّا بِمِلْكٍ مُسْتَحَقٍّ او [دلته] له مستحق ملکيت څخه بغير د قابض لپاره د ملکيت فیصله کول ممکن نه دي فَبَقِيَ الْقَضَاءُ لَهُ بِمُجَرَّدِ السَّبَبِ نو ځکه د قابض لپاره د محض سبب [شراء] فیصله وسوه وَأَنَّهُ لَا يُفِيدُهُ او د محض سبب فیصله حکم [ملکيت] نه فایده کوي ثُمَّ لَوْ شَهِدَتِ الْبَيِّنَتَانِ عَلَى نَقْدِ الثَّمَنِ بیا که دواړي بینې د ثمن پر اداء کولو گواهي ورکړي [يعني د خارج او قابض دواړو گواهان دا گواهي ورکړي چي په دوی کي هر یوه زر درهمه ثمن اداء کړی دی] فَالْأَلْفُ بِالْأَلْفِ قِصَاصٌ عِنْدَهُمَا نو د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نيز زر درهمه د زر درهمو په عوض کي تبادله کیږي [مقاصه کیږي] إِذَا اسْتَوَيَا په دې شرط کله چي دواړه ثمنونه [په جنس او صفت کي] سره برابر وي لِوُجُودِ قَبْضٍ مَضْمُونٍ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ ځکه چي له هر طرفه ضمان والا قبضه موجوده ده وَإِنْ لَمْ يَشْهَدُوا عَلَى نَقْدِ الثَّمَنِ او که گواهان د ثمن اداء کولو گواهي نه ورکړي فَالْقِصَاصُ مَذْهَبُ مُحَمَّدٍ نو تبادله

کېدل د امام محمد رَحِمَهُ الله مذهب دی لِلْوُجُوبِ عِنْدَهُ ځکه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز ثمن واجبیږي وَلَوْ شَهِدَ الْفَرِيقَانِ بِالْبَيْعِ وَالْقَبْضِ او که د خارج او قابض دواړو ګواهان د بیع مع القبض ګواهي ورکړي تَهَاتَرَتَا بِالْإِجْمَاعِ نو بالاتفاق دواړي بينې ساقطيږي لِأَنَّ الْجَمْعَ غَيْرُ مُمْكِنٍ عِنْدَ مُحَمَّدٍ ځکه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز جمع کول ناممکن دي لِجَوَازِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْبَيْعَيْنِ ځکه چې دواړي بيع جائز دي بِخِلَافِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول صورت وَإِنْ وَقَّتَتِ الْبَيِّنَتَانِ فِي الْعَقَارِ وَلَمْ تُثْبِتَا قَبْضًا او په که جایداد کي [یعني د جایداد په دعوىٰ کي] دواړو بينې تاريخ بيان کړي لېکن دواړي قبضه ثابته نه کړي وَوَقْتُ الْخَارِجِ أَسْبَقُ او د خارج تاريخ [له قابض څخه] مخکي وي يُقْضَى لِصَاحِبِ الْيَدِ عِنْدَهُمَا نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نیز به د قابض لپاره فيصله کيږي فَيُجْعَلُ كَأَنَّ الْخَارِجَ اشْتَرَى أَوَّلًا ثُمَّ بَاعَ قَبْلَ الْقَبْضِ مِنْ صَاحِبِ الْيَدِ نو مسئله به داسي ګرځول کيږي لکه خارج چي اول له قابض څخه مدعىٰ به [کور] رانيوى او بيا يې [پر کور] له قبضه کولو څخه مخکي هغه پر قابض خرڅ کړی وَهُوَ جَائِزٌ فِي الْعَقَارِ عِنْدَهُمَا او دا [بيع قبل القبض] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نیز په جايداد کي جائز ده وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ* يُقْضَى لِلْخَارِجِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز به د خارج لپاره فيصله کيږي لِأَنَّهُ لَا يَصِحُّ بَيْعُهُ قَبْلَ الْقَبْضِ ځکه چې [د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز] قبل القبض [د خارج لپاره] د جايداد بيع جائز نه ده فَبَقِيَ عَلَىٰ مِلْكِهِ نو ځکه مدعىٰ به [کور] د خارج په ملکيت کي پاته سو وَإِنْ أَثْبَتَا قَبْضًا او که ګواهان قبضه هم ثابته کړي يُقْضَى لِصَاحِبِ الْيَدِ نو بيا [د شيخينو او امام محمد په اتفاق سره] به د قابض لپاره فيصله کيږي لِأَنَّ الْبَيْعَيْنِ جَائِزَانِ عَلَى الْقَوْلَيْنِ ځکه چې [په دې صورت کي] د دواړو قولونو مطابق دواړي بيع جائز دي وَإِنْ كَانَ وَقْتُ صَاحِبِ الْيَدِ أَسْبَقَ او که د قابض تاريخ مخکي وي يُقْضَى لِلْخَارِجِ فِي الْوَجْهَيْنِ نو په دواړو صورتونو کي به د خارج لپاره فيصله کيږي فَيُجْعَلُ كَأَنَّهُ اشْتَرَاهُ ذُو الْيَدِ وَقَبَضَ ثُمَّ بَاعَ وَلَمْ يُسَلِّمْ نو مسئله به داسي ګرځول کيږي لکه قابض چې مدعىٰ به

---

* القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في ملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۳۸۱)، وكذا في البحر الرائق (ج:۷، ص:۲۴۶). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۸۹]

اکور] رانیوی او پر هغه یې قبضه وکړه بیا یې پر [خارج] خرڅ کړی لېکن [هغه ته یې] نه وسپاری أَوْ سَلَّمَهُ ثُمَّ وَصَلَ إِلَيْهِ بِسَبَبٍ آخَرَ یا [هغه ته یې] وسپاری بیا هغه [کور] په یو بل سبب سره د قابض لاس ته ورسېدی.

**اللغات**: ﴿تهاترت﴾ د تفاعل له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: ساقطېدل، باطلېدل، ﴿سَبُق﴾ د ضرب او نصر د باب مصدر دی: مخکې کېدل، وړاندې کېدل، ﴿عقار﴾ غيرِ منقوله جايداد. لکه کور، ځمکه او داسې نور. ﴿إقدام﴾ د افعال د باب مصدر دی: وړاندېتوب کول، په یو کار لاس پورې کول. ﴿قصاص﴾ مقاصه، تبادله کول، ادل بدل کول (مثلاً پر زید د خالد لس درهمه قرض باندې وي. او بیا د خالد هم پر زید لس درهمه قرض باندې سي، نو دوی خپل قرضونه سره مقابله او ادل بدل کړي، دې ته مقاصه وايي)، په برابرۍ سره یو شی د بل شي په مقابله کي راتلّل، ﴿وقتت﴾ د تفعيل له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: وخت بيانول (تاريخ بيانول).

**تشریح**: په دې عبارت کي څلور مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده که د یو کور په باره کي دوه خلک مثلاً زید او حامد یو له بل څخه د رانیولو دعویٰ وکړي، یعني زید ووايي چي "ما دا کور له حامد څخه رانیولی دی" او حامد ووايي چي "ما دا کور له زید څخه رانیولی دی" او دواړه پر دې بیّنه پېش کړي، لېکن له دوی څخه یو مدعي او د هغه بیّنه تاریخ بیان نه کړي، نو په دې صورت کي د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دواړي بینې ساقطیږي او باطلیږي او هغه کور چي في الحاله د کوم مدعي په قبضه کي وي، د هغه سره به پرېښوول کیږي. د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي دلته به د خارج (غیرِ قابض) په حق کي فیصله کیږي، او د مسئلې تخریج به داسې وي چي قابض هغه کور له خارج څخه رانیوی او پر هغه یې قبضه وکړه، بیا خارج پر همدې قابض هغه کور خرڅ کړی لېکن هغه ته یې نه وسپاری، نو اوس به قابض ته ویل کیږي چي وروره! د خارج کور هغه ته وسپاره!. ځکه چي ستا پر هغه کور قبضه کول د دې خبري علامت دی چي اول تا رانیولی دی او وروسته خارج رانیولی دی، او وروستني رانیول د مخکني اېستلو لپاره ناسخ گرځي. لهذا ته په سمه خارج ته د هغه رانیول سوی کور ورکړه!، او دلته به دا نه ...ل کیږي چي اول خارج رانیولی وو او بیا هغه پر قابض خرڅ کړی؛ ځکه چي دا بیع قبل القبض ... بیع قبل القبض جائز نه ده، نو ځکه دا صورت ممکن نه دی.

ولهما إلخ: د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي پر شراء د قابض اقدام کول (یعني له خارج څخه د قابض رانیول) د دې خبري دلیل دی چي د مدعیٰ بهٖ (کور) اصل مالک بائع یعني قابض دی. او څرنګه چي قابض او خارج دواړه یو له بل څخه د شراء (رانیولو) دعویٰ کوي، نو ځکه د دواړو دعویٰ او بیّنه به باطله وي، د دې مثال لکه دواړه چي ووایي "هغه د دې کور مالک دی"، یعني خارج ووایي: قابض د دې کور مالک دی او قابض یا د هغه ګواهان ووایي: خارج د دې کور مالک دی. او په دې صورت کي دعویٰ او بیّنه باطله ده. نو ځکه په پورتنۍ مسئله کي به هم د دواړو مدعیانو بینې باطله وي او مدعیٰ بهٖ (کور) به د قابض په قبضه کي پرېښوول کیږي.

د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دویم دلیل دا دی چي سبب هغه وخت معتبر ګرځي کله چي هغه د حکم فایده ورکوي، او په دې مسئله کي سبب (شراء) د حکم (ملکیت) فایده نه ورکوي، نه د خارج په حق کي او نه د قابض په حق؛ د خارج په حق کي خو په دې وجه د حکم فایده نه ورکوي چي که د هغه په حق کي سبب یعني شراء تسلیم کړی سي (یعني د هغه رانیول تسلیم کړی سي) نو بیع المبیع قبل القبض به لازم سي، او بیع المبیع قبل القبض صحیح نه ده. او د قابض په حق کي سبب یعني شراء په دې وجه د حکم فایده نه ورکوي چي که د هغه په حق کي شراء تسلیم کړی سي نو د خارج لپاره به پر هغه مدعیٰ بهٖ (کور) قبضه کول لازم وي، او دا ناممکن دي؛ ځکه چي پر مدعیٰ بهٖ (کور) خو په خپله د قابض قبضه ده. نو ځکه د هغه په حق کي به صرف د سبب یعني د شراء فیصله کیږي لېکن د شراء د حکم یعني د ملکیت فیصله به نه کیږي، او محض د سبب فیصله حکم نه فایده کوي، نو ځکه غوره فیصله دا ده چي دواړي بینې ساقط کړل سي او مُدعیٰ بهٖ (کور) د قابض په قبضه کي پرېښوول سي.

(۲)... او که د دواړو فریقو ګواهان یعني د خارج او قابض ګواهان دا ګواهي ورکړي چي خارج او قابض دواړو زر، زر درهمه د مدعیٰ بهٖ (کور) ثمن اداء کړی دی او هر یوه بل ته دا ثمن سپارلی دی، نو که چیري دواړه ثمنونه په جنس او صفت کي سره برابر وي، نو د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د دواړو ثمنونو په مینځ کي مقاصه کیږي، یعني یو د بل په بدله کي راځي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز په هغه صورت کي هم مقاصه کیږي، کله چي ګواهانو د ثمن اداء کولو ګواهي نه وي ورکړې؛ ځکه کله چي هغو د شراء (رانیولو) ګواهي ورکړه نو په هغه سره ثمن هم ثابت او واجب سو، نو ځکه مقاصه به هم واجب وي.

ولو شهد الفريقان إلخ: (۳)... او كه د دواړو فريقو ګواهان دا ګواهي وركړي چي هر فريق مدعىٰ بهٖ (كور) خرڅ كړى دى او مشتري پر هغه قبضه هم كړې ده، نو بالاتفاق دواړي ګواهي باطليږي؛ ځكه چي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا ګواهي داسي ده لكه د هر فريق له طرفه د بل فريق په حق كي د ملكيت اقرار كول كول، او دا باطل دي.

او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په دې وجه باطليږي چي كله دواړي بيع بعد القبض دي، نو ښكاره خبره ده چي دواړي بيع صحيح دي، خو څرنګه چي د دواړو تاريخ معلوم او واضح نه دى، نو ځكه يوه بيع له بلي څخه اولىٰ هم نه ده او دواړي سره متعارض دي او د فقهي قاعدې "إِذَا تَعَارَضَا تَسَاقَطَا" په وجه باطل دي. د دې په خلاف په اول صورت يعني كله چي ګواهان صرف د شراء ګواهي وركړي او د قبضې ګواهي نه وركړي، نو هلته به د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د خارج په حق كي فيصله كيږي، لكه څرنګه په اوله مسئله كي د دې تخريج او تشريح تېره سوه.

وإن وقتت إلخ: (۴)... د دې حاصل دا دى چي كه دواړه بينې (ګواهان) دا ګواهي وركړي چي هر فريق يو پر بل په فلانكي تاريخ دا كور خرڅ كړى دى او د قبضې ګواهي نه وركړي (يعني دا نه ووايي چي هغه قبضه پر كړې ده)، لېكن د خارج د بيع تاريخ د قابض له تاريخ څخه مقدم وي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز حكم دا دى چي په دې صورت كي به د قابض په حق كي د مدعىٰ بهٖ (كور) فيصله كيږي (يعني قابض ته به هغه وركول كيږي) او د مسئلې تخريج به داسي كيږي چي خارج اول هغه كور له قابض څخه رانيوى بيا پر هغه له قبضه كولو څخه مخكي يې بيرته پر قابض خرڅ كړى، نو ځكه اوس به خارج هغه كور قابض ته واپس كوي، او داسي ممكن هم دي؛ ځكه چي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز بيع العقار قبل القبض صحيح او جائز ده. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز حكم دا دى چي خارج په حق كي به د هغه كور فيصله كيږي؛ ځكه چي د هغه په نېز قبل القبض د عقار بيع صحيح نه ده.

او كه چيري ګواهان د بيع مع القبض ګواهي وركړي، نو بيا د ټولو په نېز حكم دا دى چي د قابض په حق كي به فيصله كيږي؛ ځكه چي د قبضه كولو په وجه د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز هم بيع جائز ده، او څرنګه چي د خارج د شراء (رانيولو) تاريخ مخكي دى، نو ځكه هغه به خامخا وروسته خرڅونكى وي او پر هغه به دا لازم وي چي قابض ته مدعىٰ بهٖ (كور) وسپاري.

د دې په خلاف كه چيري د قابض د شراء تاريخ مخكي وي، نو په دواړو صورتونو كي به د خارج په حق كي فيصله كيږي، يعني برابره ده ګواهان د قبضې ګواهي وركړي او كه نه، په دواړو

صورتو کي به صرف د خارج په حق کي فيصله کيږي او د مسئلې تخريج به داسي کيږي چي قابض اول له خارج شخصه مدعیٰ بهٔ کور رانيوی او پر هغه يې قبضه وکړه، بيا يې هغه (کور) بيرته پر خارج خرڅ کړی لېکن هغه ته يې نه وسپاری يا هغه ته خوييې وسپاری لېکن بيا د عاريتاً يا اجارتاً اخيستلو په وجه بيرته هغه د ده (قابض) قبضې ته راغلی، نو ځکه به اوس قابض دا کور خارج ته واپس کوي. (احسن الهدايه)

## د دعوې پر ثبوت د ګواهانو د کثرت او قلت اثر

قَالَ: وَإِنْ أَقَامَ أَحَدُ الْمُدَّعِيَيْنِ شَاهِدَيْنِ وَالْآخَرُ أَرْبَعَةً فرمايي: او که له دواړو مدعيانو څخه يو دوه ګواهان پېش کړي او بل څلور ګواهان پېش کړي فَهُمَا سَوَاءٌ نو [هم] دواړه سره برابر دي لِأَنَّ شَهَادَةَ كُلِّ الشَّاهِدِينَ عِلَّةٌ تَامَّةٌ ځکه چي د هر دوو ګواهانو ګواهي بشپړ علت دی كَمَا فِي حَالَةِ الِانْفِرَادِ لکه څرنګه چي د انفراد په حالت کي [د دوو ګواهي بشپړ علت تامه دی] وَالتَّرْجِيحُ لَا يَقَعُ بِكَثْرَةِ الْعِلَلِ او د علتونو په زياتوب سره ترجيح نه ثابتيږي بَلْ بِقُوَّةٍ فِيهَا بلکي د علتونو په قوت سره ثابتيږي [يعني د علت په قوت سره ترجيح ثابتيږي] عَلَى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چي معلومه سوې ده.

**اللغات**: ﴿شهادة﴾ ګواهي، ﴿علة تامة﴾ بشپړ علت، پوره سبب.

**تشريح**: **مسئله**: دا ده که له قابض او خارج څخه يو مدعي څلور ګواهان پېش کړي او بل يو دوه ګواهان پېش کړي، نو په دې صورت کي هم دواړه مدعيان (خارج او قابض) سره برابر دي او د څلورو ګواهانو مدعي پر دوو ګواهانو والا مدعي فضيلت او فوقيت نه لري؛ ځکه چي د شهادت اصل نصاب دوه عدد (دوه ګواهان) دئ، او دا نصاب په هر طرف کي موجود دی، لهذا څرنګه چي په انفرادي حالت کي يعني د يوه مدعي له طرفه د دوو ګواهانو شهادت علت تامه دی، همداسي به په اجتماعي حالت کي هم د دوو ګواهانو شهادت علت تامه وي او د ګواهانو کثرت به د ترجيح وجه نه ګرځي. ها! د ګواهانو قوت به د ترجيح وجه ګرځي، مثلاً د يوه مدعي ګواهان مستور الحاله وي او د بل مدعي ګواهان ظاهر العدالته وي، نو عادله ګواهان به له مستور الحاله ګواهانو څخه مخکي کول کيږي. همدا د فقهي ضابطه او قاعده ده.

## د ټوله او نيم كور د دعوې كولو يو صورت

قَالَ: وَإِذَا كَانَتْ دَارٌ فِي يَدِ رَجُلٍ ادَّعَاهَا اثْنَانِ فرمايي: او كه ديو سړي په قبضه كي يو كور وي چي په هغه دوه كسان دعوىٰ وكړي أَحَدُهُمَا جَمِيعَهَا وَالْآخَرُ نِصْفَهَا يو كس د ټوله كور دعوىٰ وكړي او بل د نيم كور دعوىٰ وكړي وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ او دواړه بيّنه پېش كړي فَلِصَاحِبِ الْجَمِيعِ ثَلَاثَةُ أَرْبَاعِهَا نو د ټوله كور د مدعي لپاره د كور درې څلورمې حصې دي وَلِصَاحِبِ النِّصْفِ رُبْعُهَا او د نصف كور د مدعي لپاره يوه څلورمه حصه ده عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز اعْتِبَارًا بِطَرِيقِ الْمُنَازَعَةِ د منازعت د طريقې په اعتبار كولو سره فَإِنَّ صَاحِبَ النِّصْفِ لَا يُنَازِعُ الْآخَرَ فِي النِّصْفِ ځكه د نصف كور مدعي په [بل] نصف كي د دويم مدعي سره منازعت [دعوىٰ] نه كوي [يعني د نصف كور مدعي په بل نصف كي د كُل كور د مدعي سره تنازع او دعوىٰ نه لري] فَسَلَّمَ لَهُ بِلَا مُنَازِعٍ نو د ځكه دا نصف د هغه [كُل كور د مدعي] لپاره سالم پاته سو وَاسْتَوَتْ مُنَازَعَتُهُمَا فِي النِّصْفِ الْآخَرِ او په بل نصف كي د دوی منازعت [دعوىٰ] برابره ده فَيُنَتَصَفُ بَيْنَهُمَا نو ځكه هغه به د دوی په مينځ كي نيمول كيږي وَقَالَا❁: هِيَ بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي هغه كور دوی په مينځ كي د درېو حصو په حساب سره مشترک دی [يعني هغه به د دوی په مينځ كي د درېو حصو په حساب سره تقسيمول كيږي] فَاعْتَبَرَا طَرِيقَ الْعَوْلِ وَالْمُضَارَبَةِ نو صاحبينو د عول او مضاربت د طريقې اعتبار كړی دی فَصَاحِبُ الْجَمِيعِ يَضْرِبُ بِكُلِّ حَقِّهِ سَهْمَيْنِ وَصَاحِبُ النِّصْفِ بِسَهْمٍ وَاحِدٍ نو ځكه د كل كور مدعي به خپل ټوله حق په دوو حصو كي اخلي او د نصف مدعي به خپل حق په يوه حصه كي اخلي فَيُقَسَّمُ أَثْلَاثًا نو [په دې توګه] به كور د درېو حصو په حساب سره تقسيم كړی سي وَلِهَذِهِ الْمَسْأَلَةِ

---

❁ القول الراجح: قول الإمام أعظم رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المختار (ج:۴، ص:۴۹۰)، وكذا في ملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۳۸۳). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۹۰]

نَظَائِرُ وَأَضْدَادٌ لَا يَحْتَمِلُهَا هٰذَا الْمُخْتَصَرُ او د دغه مسئلې لپاره ډېر مثالونه او اضداد سته چې دا مختصر کتاب د هغه ګنجايش نه لري وَقَدْ ذَكَرْنَاهَا فِي الزِّيَادَاتِ او هغه موږ په "زيادات" کې ذکر کړي دي.

**اللغات**: ﴿يد﴾ قبضه. ﴿منازعة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: جنګ او اختلاف کول. دعوىٰ کول. ﴿بطريق المنازعة﴾ د دې مطلب دا دی چې کله يوه مدعي د نصف کور مدعي دعوىٰ وکړه نو دويم نصف د بل مدعي لپاره سالم پاتې سو او صرف په يوه نصف کې د دواړو منازعت موجود سو. په تشريح کې به هم د دې وضاحت وسي. ﴿عَوْل﴾ پر تاکل سوي مقدار د حصو زياتېدل. د حصو په شمېر کې زياتوب او کمي راتلل (معجم لغة الفقهاء). ﴿سهم﴾ حصه. برخه. ﴿بطريق العول﴾ د دې مطلب به په تشريح کې بيان سي. ﴿أثلاثاً﴾ جمع د ثُلث ده. د ثلث معنىٰ ده: يوه درېيمه حصه. أثلاثاً: د درېو ثلثو په حساب سره. ﴿نظائر﴾ جمع د نَظِيرٌ ده: مثل. مثال. مساوي. ﴿أضداد﴾ جمع د ضِدٌّ ده: مخالف. نظير. (مصباح منير)

**تشريح**: **مسئله**: دا ده که يو کور د خالد په قبضه کې وي. بيا ادريس او زيد په هغه دعوىٰ وکړي، ادريس ووايي چې "دا کور زما دی" او زيد ووايي چې "په دې کور کې نصف (نيمه حصه) زما ده"، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چې په دې صورت کې به د منازعت په طريقه سره د دې کور تقسيم کېږي. مطلب دا چې دا کور به څلور حصې ګرځول کېږي، او کوم مدعي چې د ټوله کور دعوىٰ کوي يعني ادريس، هغه ته به درې حصې (درې ربع) ورکول کېږي او د نصف کور مدعي (زيد) ته به يوه حصه ورکول کېږي؛ ځکه چې يو کس (ادريس) د کل کور مدعي دی او بل يو د نصف کور مدعي دی، نو دويم نصف به د کل کور مدعي لره سالم پاتې وي او په هغه کې به د ده هېڅ مقابل او منازع نه وي او د دواړو اختلاف به صرف په دويم نصف کې وي. نو ځکه هغه نصف به دوې حصې ګرځول کېږي او هر مدعي ته به يوه. يوه حصه ورکول کېږي چې په دې توګه به د کل کور د مدعي په قبضه کې درې حصې راسي او د نصف کور د مدعي په قبضه کې به يوه حصه راسي.

او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز حکم دا دی چې د دوی په مېنځ کې به د عول او مضاربت په طريقه سره تقسيم کېږي؛ ځکه چې د عول په څېر دلته هم مخرج کم دی او حصې زائد دي، نو ځکه د صحيح او کسر د بغير تقسيم لپاره يو داسي عدد ته ضرورت دی کوم چې کامل نصف لري، او څرنګه چې په دې سلسله کې تر ټولو کم (اقلّ) عدد "دوه" دی چې د هغه کامل نصف "يو" دی، نو ځکه د کل کور مدعي به خپله حصه د دوو سره ضرب ورکوي او د نصف کور مدعي به د يوه سره چې د هغه حاصل ضرب "۳" دی او له دې څخه به د کل کور مدعي "۲" حصې (دوه ثلثه) اخلي او د نصف مدعي به يوه حصه (يو ثلث) اخلي. نو په دې اعتبار سره به دا تقسيم اثلاثاً وي. (احسن الهدايه ج:۱۱، ص:۳۴)

صاحب د اشرف الهدايې د پورتني عبارت "أثلاثاً... بطريق العول والمضاربة" مختصره تشريح داسي کړې ده چي: د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به د عول و مضاربت په طريقه سره کور اثلاثاً تقسيمېږي، يعني د کل کور مدعي ته به دوه ثلثه ورکول کيږي او د نصف کور مدعي ته به يو ثلث ورکول کيږي؛ ځکه چي په دې مسئله کي کل او نصف دواړه سره جمع دي، نو مسئله به له "دوو" څخه وي؛ ځکه چي د نصف مخرج "دوه" دی، او د "۲" عدد د "۳" وطرف ته عول کوي، نو دوې حصې د ټوله کور د مدعي سوې او يوه حصه د نصف کور د مدعي سوه. (اشرف الهدايه ج:۱۱، ص:۲۷)

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د دغه مسئلې نور هم ډېر مثالونه سته چي په دې مختصر کتاب "هدايه" کي د هغوی ذکر کول ممکن نه دي او مونږ هغه په خپل بل کتاب "زيادات" کي ذکر کړي دي، که څوک نور طلب لري نو هغه دي زيادات ته رجوع وکړي.

## د پورتني مسئلې نور وضاحت

قَالَ: وَلَوْكَانَتْ فِي أَيْدِيهِمَا فرمايي: او که کور د دواړو په قبضه کي وي سُلِّمَ لِصَاحِبِ الْجَمِيعِ نِصْفُهَا عَلَى وَجْهِ الْقَضَاءِ وَنِصْفُهَا لَا عَلَى وَجْهِ الْقَضَاءِ نو کور به د کل کور مدعي ته ورکول کيږي، نيم کور د قضاء په توګه او نيم کور بغير له قضاء لِأَنَّهُ خَارِجٌ فِي النِّصْفِ ځکه چي د [غير مقبوضه] نصف په باره کي هغه خارج دی فَيُقْضَى بِبَيِّنَتِهِ نو ځکه [د هغه نصف په هکله به] به د ده پر بيّنه فيصله کيږي وَالنِّصْفُ الَّذِي فِي يَدَيْهِ او کوم نصف چي د ده په قبضه کي دی صَاحِبُهُ لَا يَدَّعِيهِ د ده ملګری [دويم مدعي] د هغه دعویٰ نه کوي لِأَنَّ مُدَّعَاهُ النِّصْفُ ځکه چي د هغه دعویٰ صرف په نصف کي ده وَهُوَ فِي يَدِهِ سَالِمٌ لَهُ او هغه نصف د ده په قبضه کي سالم دی وَلَوْلَمْ يَنْصَرِفْ إِلَيْهِ دَعْوَاهُ او که چيري د کل کور د مدعي دعویٰ د دې نصف [کوم چي د نصف کور د مدعي په قبضه کي دی] وطرف ته نه وګرځول سي كَانَ ظَالِمًا بِإِمْسَاكِهِ نو هغه به د دې نصف په راګرځولو کي ظالم وي [په بله وينا: هغه به د نصف په راګرځولو سره ظالم وګرځي] وَلَا قَضَاءَ بِدُونِ الدَّعْوَى او [څرنګه چي] له دعویٰ څخه بغير هيڅ فيصله نه کيږي فَيُتْرَكُ فِي يَدِهِ نو ځکه هغه [بلا دعویٰ] نصف به د کل کور د مدعي په قبضه کي پرېښول کيږي.

**اللغات**: ﴿إمساك﴾ د افعال د باب مصدر دی: (د ځان سره) راګرځول، منع کول، بند ساتل.

**تشريح: مسئله**: دا ده که دعوىٰ داره کور د دواړو مدعيانو (ادريس او زيد) په قبضه کي وي، او له دوی څخه يو مدعي د پوره کور دعوىٰ کوي (چي ټوله زما دی) او بل مدعي د نصف دعوىٰ کوي (چي نيم زما دی)، نو په دې صورت کي به ټوله کور هغه مدعي ته ورکول کيږي کوم چي د پوره کور دعوىٰ کوي، يعني يو نصف به اول هغه ته قضاء (د قاضي په فيصله) سره ورکول کيږي او بل نصف به هغه ته بغير له قضاء ورکول کيږي؛ ځکه چي پر يوه نصف هغه قابض دی او پر بل هغه قابض نه دی، لهذا پر کوم نصف چي هغه قابض نه دی، د هغه په هکله خو به د ده بيّنه مقبوله او معتبره وي، او پر کوم نصف چي هغه په خپله قابض دی، د ده ملکړی د هغه نصف مدعي نه دی؛ ځکه چي شريک خو صرف د بل نصف کور مدعي دی او دا بل نصف کور د هغه په قبضه کي هم دی، لهذا کوم نصف چي د کل کور د مدعي په قبضه کي دی، د هغه سره د ملګري (بل مدعي) هيڅ کار نسته، نو ځکه دا نصف خو به بلا دعوىٰ او بلا قضاء د هغه (يعني د ټوله کور د مدعي) سره پرېښوول کيږي او کوم نصف چي د ملګري (بل مدعي) په قبضه کي دی، د هغه په باره کي د کل کور مدعي خارج (غير قابض) دی، نو ځکه په دې سلسله کي به د هغه بيّنه قبلول کيږي او د دې نصف فيصله به هم د کل کور د مدعي لپاره کيږي، نو په دې اعتبار سره به يو نصف هغه ته قضاء حاصل سي او بل نصف به هغه ته بغير له قضاء حاصل سي.

## د خاروي په ملکيت کي د اختلاف کولو پر مهال د خاروي پر عُمر د فيصله کولو بيان

قَالَ: وَإِذَا تَنَازَعَا فِي دَابَّةٍ فرمايي: او که په يو خاروي کي دوه کسان جنګ [يعني اختلاف او دعوىٰ] وکړي وَأَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةً أَنَّهَا نُتِجَتْ عِنْدَهُ او له دوی دواړو څخه هر يو پر دې خبره بيّنه پېش کړي چي دا خاروی زما سره پيدا سوی دی وَذَكَرَا تَارِيخًا او دواړه تاريخ بيان کړي وَسِنُّ الدَّابَّةِ يُوَافِقُ أَحَدَ التَّارِيخَيْنِ او د خاروي عمر په دواړو تاريخونو کي د يوه تاريخ سره موافق وي فَهُوَ أَوْلَىٰ نو هغه مدعي اولىٰ دی [د کوم يوه تاريخ چي د خاروي د عمر سره موافق وي] لِأَنَّ الْحَالَ يَشْهَدُ لَهُ ځکه چي ظاهر حال د هغه په حق کي ګواهي ورکوي فَيَتَرَجَّحُ نو ځکه هغه ته به ترجيح ورکول کيږي

وَإِنْ أَشْكَلَ ذٰلِكَ او که د ځاروي عمر مشتبه ابهام وي كَانَتْ بَيْنَهُمَا نو هغه ځاروی د دواړو په مینځ کي مشترک ګرځي لِأَنَّهُ سَقَطَ التَّوْقِيتُ ځکه چي د تاريخ بيان ساقط سو فَصَارَ كَأَنَّهُمَا لَمْ يَذْكُرَا تَارِيخًا نو داسي سوه لکه هغوی دواړو چي هيڅ تاريخ نه وي بيان کړی وَإِنْ خَالَفَ سِنُّ الدَّابَّةِ الْوَقْتَيْنِ او که د ځاروي عمر د دواړو تاريخونو مخالف وي [او ديوه تاريخ سره هم مطابقت نه لري] بَطَلَتْ الْبَيِّنَتَانِ نو دواړي بينې باطليږي كَذَا ذَكَرَهُ الْحَاكِمُ همداسي حاکم شهيد رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي لِأَنَّهُ ظَهَرَ كَذِبُ الْفَرِيقَيْنِ ځکه چي [په دې صورت کي] د دواړو فريقو دروغ ښکاره سول فَيُتْرَكُ فِي يَدِ مَنْ كَانَتْ فِي يَدِهِ نو ځکه [اوس] به هغه ځاروی د هغه کس په قبضه کي پرېښوول کيږي د کوم يوه په قبضه کي چي هغه [له مخکي څخه] موجود وي قَالَ: وَإِذَا كَانَ الْعَبْدُ فِي يَدِ رَجُلٍ فرمايي: او که يو غلام ديو سړي په قبضه کي وي أَقَامَ رَجُلَانِ عَلَيْهِ الْبَيِّنَةَ [او] دوه خلک پر هغه بيّنه پېش کړي أَحَدُهُمَا بِغَصْبٍ وَالْآخَرُ بِوَدِيعَةٍ يو سړی د غصب کولو [بينه پېش کړي] او بل د امانتا ورکولو فَهُوَ بَيْنَهُمَا نو هغه غلام د دواړو په مينځ کي مشترک دی لِاسْتِوَائِهِمَا ځکه چي دوی دواړه [د استحقاق په سبب کي] سره برابر دي.

**اللغات**: ﴿دابة﴾ ځاروی، حيوان، چارپای، ﴿نتجت﴾ د ضرب له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: بچي پيدا کېدل، زېږول (د حيوان لپاره استعماليږي)، ﴿سن﴾ عمر، ﴿أشكل﴾ د افعال د باب ماضي ده: مشتبه کېدل، مشکوک کېدل، مبهم کېدل.

**تشريح**: **مسئله**: دا ده که يو ځاروی مثلاً سېرلی د خالد په قبضه کي وي، بيا زيد او ادريس دواړه په هغه دعویٰ وکړي او هر وواييي چي "دا زما دی او زما له بزې څخه پيدا سوی دی" او دواړه مدعيان د پيدايش تاريخ هم بيان کړي. نو دې ته به کتل کيږي چي آيا د ځاروي (سېرلي) عمر په دوی کي ديوه د بيان کرده تاريخ سره موافق دی، که نه؟، که چيري د هغه عمر (سِن) ديوه مدعي د تاريخ سره موافق وي، نو د هغه په حق کي به د ځاروي فيصله کيږي؛ ځکه چي ظاهر حال د هغه په حق کي ګواه دی،

نو ځکه د فقهي قاعدې "أَنَّ مَنْ سَاعَدَهُ الظَّاهِرُ فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ" پر بناء به څاروی د هغه وي. او که چيري د څاروي عمر مشتبه وي او د مدعيانو د بيان کرده تاريخ په لحاظ سره د څاروي عمر معلومول مشکل وي، نو په دې صورت کي هغه څاروی د دواړو مدعيانو (زيد او ادريس) په مينځ کي مشترک گرځي؛ ځکه کله چي د څاروي عمر مشتبه وي او د هغه معلومول مشکل وي، نو د تاريخ ذکر کول او نه ذکر کول به سره برابر وي او يو مدعي به هم له بل څخه اولیٰ نه وي، نو ځکه به هغه د دواړو په مينځ کي مشترک پاتيږي.

وإن خالف إلخ: فرمايي که د څاروي عمر د مدعيانو د بيان کرده وخت او تاريخ سره موافق نه وي بلکي په تاريخ او عمر کي ډېر فرق او اختلاف وي، نو د دواړو دعویٰ به ردول کيږي او څاروی چي د چا په قبضه کي وي، د هغه سره به پرېښوول کيږي، همدا د حاکم شهيد رَحِمَهُ الله فتویٰ ده او همدا صحيح قول دی (بنايه ج:۸، ص:۵۰۶)، ځکه چي په دې صورت کي دواړه مدعيان درواغجن ثابت سول او د دوی درواغ څرگند سول، نو ځکه اوس به دوی له څاروي څخه محروموول کيږي.

قال وإذا كان العبد إلخ: مسئله دا ده که يو غلام د خالد په قبضه کي وي، او دوه کسان مثلاً حامد او راشد په هغه دعویٰ وکړي، حامد ووايي چي "دا زما غلام دی او خالد زما څخه غصب کړی دی" او راشد ووايي چي "دا زما غلام دی او ما هغه زيد ته امانتاً ورکړی وو"، او دواړه پر خپله دعویٰ بيّنه هم پېش کړي، نو دا غلام د دواړو په مينځ کي مشترک گرځي؛ ځکه کله چي مُودَع (خالد) د مُودِع (راشد) له خبري څخه انکار کوي نو هغه هم غاصب شمارل کيږي، لهذا په دې حواله سره د دواړو دعویٰ پر غصب مبني ده، نو ځکه دواړه به د استحقاق په سبب کي برابر وي، او کله چي دواړه د استحقاق په سبب کي برابر او مساوي دي، نو په نفسِ استحقاق کي به هم مساوي او مشترک وي. والله أعلم وعلمهٗ أتمّ



# فَصلٌ فِي التَّنَازُعِ بِالأَيْدِي

(دا) فصل د قبضو په حواله سره د اختلاف کولو (په بیان کې) دی

**تشریح:** مخکې تر دې د بینې (ګواهۍ) په ذریعه د ملکیت حاصلولو بیان وو، او په دې فصل کې د قبضې په ذریعه د ملکیت حاصلولو بیان دی، او ښکاره خبره ده چې بیّنه له قبضې څخه اقویٰ دلیل دی، نو ځکه د هغې بیان د قبضې له بیان څخه مخکې کړی سوی دی. (بنایه ج:۸، ص:۵۰۶)

## که د څاروي د دعوې په صورت کې یو مدعي پر څاروي سپور وي او بل د هغه قیزه نیولې وي (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَإِذَا تَنَازَعَا فِي دَابَّةٍ أَحَدُهُمَا رَاكِبُهَا وَالآخَرُ مُتَعَلِّقٌ بِلِجَامِهَا فرمایي: او که د یو داسې څاروي په باره کې دوه کسان اختلاف [او دعویٰ] وکړي چې یو پر هغه سپور وي او بل د څاروي قیزه نیولې وي فَالرَّاكِبُ أَوْلَى نو سپور کس اولیٰ دی [یعني په دې صورت کې سپور کس د هغه زیات مستحق دی] لِأَنَّ تَصَرُّفَهُ أَظْهَرُ ځکه چې د هغه تصرف غالب [زیات] دی فَإِنَّهُ يَخْتَصُّ بِالْمِلْكِ ځکه رکوب [سپرتیا] د ملکیت سره مختص ده وَكَذَلِكَ إِذَا كَانَ أَحَدُهُمَا رَاكِبًا فِي السَّرْجِ وَالآخَرُ رَدِيفُهُ او همدارنګه کله چې یو کس پر زین سپور وي او دویم د هغه تر شا ناست وي فَالرَّاكِبُ فِي السَّرْجِ أَوْلَى نو پر زین سپور کس اولیٰ دی بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَا رَاكِبَيْنِ په خلاف د هغه صورت کله چې دواړه پر زین سپاره وي حَيْثُ تَكُونُ بَيْنَهُمَا نو په دې صورت کې هغه څاروی د دواړو په مینځ کې مشترک ګرځي لِاسْتِوَائِهِمَا فِي التَّصَرُّفِ ځکه چې [په دې صورت کې] دواړه په تصرف کې سره برابر دي وَكَذَا إِذَا تَنَازَعَا فِي بَعِيرٍ وَعَلَيْهِ حِمْلٌ لِأَحَدِهِمَا وَلِلآخَرِ كُوزٌ مُعَلَّقٌ او همدارنګه که د یو داسې اوښ کې په باره کې دوه کسان اختلاف وکړي چې پر هغه د یوه کس بار پروت وي او د بل کوزه [په هغه] راځړول سوې وي فَصَاحِبُ الْحِمْلِ أَوْلَى نو بار والا اولیٰ دی لِأَنَّهُ هُوَ الْمُتَصَرِّفُ ځکه چې هغه متصرف [تصرف کونکی] دی وَكَذَا إِذَا تَنَازَعَا

فِي قَمِيصٍ أَحَدُهُمَا لَابِسُهُ وَالْآخَرُ مُتَعَلِّقٌ بِكُمِّهِ همدارنګه که د يو داسي کميس په باره کي دوه کسان اختلاف وکړي چي يوه کس هغه اغوستی وي او بل کس د هغه لستوڼی نيولی وي فَاللَّابِسُ أَوْلَى نو اغوستونکی اولیٰ دی لِأَنَّهُ أَظْهَرُهُمَا تَصَرُّفًا ځکه چي په دوی دواړو کي د هغه تصرف غالب [زيات] دی وَلَوْ تَنَازَعَا فِي بِسَاطٍ أَحَدُهُمَا جَالِسٌ عَلَيْهِ وَالْآخَرُ مُتَعَلِّقٌ بِهِ او که دوه کس د يو داسي فرش په باره کي اختلاف وکړی چي يو پر هغه ناست وي او بل کس هغه نيولی وي فَهُوَ بَيْنَهُمَا نو هغه فرش د دوی په مينځ کي مشترک دی [ځکه چي کښېنستل پر هغه د قبضې دليل نه دی] مَعْنَاهُ لَا عَلَى طَرِيقِ الْقَضَاءِ د دې معنیٰ دا ده چي دا د قضاء په طريقه سره نه دی [يعني قضاءً مشترک نه ګرځي] لِأَنَّ الْقُعُودَ لَيْسَ بِيَدٍ عَلَيْهِ ځکه چي کښېنستل پر هغه د قبضې دليل نه دی فَاسْتَوَيَا نو ځکه به دواړه برابر وي [او يوه ته به پر بل ترجيح وي نه بلکي فرش به په دواړو کي مشترک وي] قَالَ: وَإِذَا كَانَ ثَوْبٌ فِي يَدِ رَجُلٍ وَطَرَفٌ مِنْهُ فِي يَدِ آخَرَ فرمايي: او که چيري د يو سړي په قبضه کي يوه کپړه وي او د هغې يو طرف د بل سړي په قبضه کي وي فَهُوَ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ نو هغه کپړه د دواړو په مينځ کي نصف، نصف ده [يعني هر يوه ته به نصف، نصف ورکول کيږي] لِأَنَّ الزِّيَادَةَ مِنْ جِنْسِ الْحُجَّةِ ځکه چي کوم زياتوب دی هغه د دليل له جنس څخه دی فَلَا تُوجِبُ زِيَادَةً فِي الِاسْتِحْقَاقِ نو ځکه دا زياتوب به د استحقاق زياتوب نه ثابتوي.

**اللغات:** ﴿لجام﴾ قيزه، لګام، واګي، ﴿سَرْج﴾ د آس يا خره زين، جمع: سُرُوْج، ﴿رديف﴾ شاته کښېنستونکی، ﴿حِمْل﴾ بار، بوج، ﴿كوز﴾ کوزه، هغه خاورين يا مسين لوښی چي د چنباک او به پکښي ساتل کيږي، ﴿مُعَلَّقٌ﴾ د تفعيل د باب اسم مفعول دی: ځوړند، راځړېدلی، ﴿كُمّ﴾ لستوڼی، ﴿بساط﴾ هر هغه څه چي پر ځمکه هواريږي، بستره، فرش، ټاټ، چټايي، ﴿لا توجب﴾ د افعال د باب نفي صيغه ده: واجبول، ثابتول.

**تشريح:** په دې عبارت کي د قبضې په هکله څو مسئلې ذکر سوي دي:

(۱).... که دوه کسان د داسي څاروي په باره کي اختلاف وکړي چي له دوی څخه يو پر څاروي سپور وي او بل د څاروي قيزه نيولې وي او هر وايي چي "دا زما څاروی دی" لېکن ګواه د يوه سره هم نه وي، نو په دې صورت کي به د سپاره کس (راکب) په حق کي فيصله کيږي؛ ځکه عموماً دا ډول

سپرلي (سپرتیا) مالک کوي او د هغه غلام او خادم د څاروي قیضه نیولې وي، لهذا د راکب تصرف د قیزه نیونکي پر تصرف غالب او زیات دی، نو ځکه همدا راکب به د څاروي مستحق وي.

(۲)... او که له دوی څخه یو د څاروي پر زین سپور وي او بل د هغه تر شا ناست وي، نو کوم مدعي چې پر زین سپور وي، د هغه تصرف غالب او زیات دی او هغه د څاروي مستحق دی. ها! که چیري دواړه پر زین سپاره وي، نو څرنګه چې په دې صورت کې د دواړو تصرف سره برابر دی، نو ځکه څاروی به د دوی په مینځ کې مشترک ګرځي.

(۴)... که دوه کسان د یو اوښ په باره کې دعویٰ وکړي او هر یو ووایي چې "دا زما دی" او له دوی څخه یوه کس پر هغه اوښ خپل بار پر اینبی وي (خپل سامان یې پر اینبی وي) او بل کس خپل د اوبو لوښی مثلاً چاګله د هغه اوښ پر زین یا کجاوه راځړولې وي، نو په دې صورت کې بار والا (سامان اینبونکی) مدعي د اوښ مستحق دی، ځکه چې د هغه تصرف زیات او غالب دی.

د باقي مسئلو تشریح څرګنده ده.

قال: وإذا كان ثوب إلخ: د دې حاصل دا دی که د یو سړي په قبضه کې کپړه وي او د هغه کپړې یو طرف د بل کس په قبضه کې وي او دواړه په هغه دعویٰ کوي، نو په دې صورت کې دا کپړه د دواړو په مینځ کې په نصف، نصف سره مشترکه ګرځي؛ ځکه چې دواړه پر کپړې قابض دي، فرق صرف دومره دی چې د یوه مدعي قبضه زیاته ده، لیکن څرنګه چې دا زیاتوب د قبضې له جنس څخه دی او قبضه د بل مدعي په حق کې هم موجوده ده، نو ځکه په دې سره به استحقاق برابر ثابتیږي او زیاتوب به نه ثابتیږي.

## که کوچنی هلک د خپل آزاد والي دعویٰ وکړي

قَالَ: وَإِذَا كَانَ الصَّبِيُّ فِي يَدِ رَجُلٍ وَهُوَ يُعَبِّرُ عَنْ نَفْسِهِ فرمایي: او که چیري د یو سړي په قبضه کې یو کوچنی وي او هغه د خپل ځان په باره کې اظهار کولای سي [یعني د ځان په باره کې معلومات ورکولای سي] فَقَالَ: أَنَا حُرٌّ او هغه ووایي: چې زه آزاد یم فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ نو قول د هغه معتبر دی لِأَنَّهُ فِي يَدِ نَفْسِهِ ځکه چې هغه د خپل ځان په قبضه کې دی [د خپل ځان مالک دی] وَلَوْ قَالَ: أَنَا عَبْدٌ لِفُلَانٍ او که چیري هغه ووایي: زه د فلانکي کس غلایم وي فَهُوَ عَبْدٌ لِلَّذِي هُوَ فِي يَدِهِ نو [په دې صورت کې] دا کوچنی د هغه کس غلام دی د کوم یوه په قبضه کې چې هغه وي [یعني د قابض غلام دی، نه د فلانکي] لِأَنَّهُ أَقَرَّ بِأَنَّهُ لَا يَدَ لَهُ ځکه [په دې صورت کې] هغه اقرار وکړی چې ما لره ذاتي قبضه نسته حَيْثُ أَقَرَّ بِالرِّقِّ

ځکه چي هغه د خپل غلام والي اقرار وکړی وَإِنْ كَانَ لَا يُعَبِّرُ عَنْ نَفْسِهِ او که هغه د خپل ځان په باره کي اظهار نه سي کولای فَهُوَ عَبْدٌ لِلَّذِي هُوَ فِي يَدِهِ نو [هم] د هغه کس غلام دی د کوم یوه په قبضه کي چي وي لِأَنَّهُ لَا يَدَ لَهُ عَلَى نَفْسِهِ ځکه هغه ته پر خپل ځان قبضه نسته لِمَا كَانَ لَا يُعَبِّرُ عَنْهَا ځکه چي هغه د خپل ځان په باره کي اظهار نه سي کولای وَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الْمَتَاعِ نو هغه د سامان په څېر دی بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ يُعَبِّرُ په خلاف د هغه صورت کله چي هغه اظهار کولای سي فَلَوْ كَبِرَ وَادَّعَى الْحُرِّيَّةَ بیا که هغه غټ سي او د آزاد والي دعویٰ وکړي لَا يَكُونُ الْقَوْلُ قَوْلَهُ نو د هغه قول به معتبر نه وي لِأَنَّهُ ظَهَرَ الرِّقُّ عَلَيْهِ فِي حَالِ صِغَرِهِ ځکه چي پر هغه د خپل کوچني والي په حالت کي غلامتوب ښکاره سو.

**اللغات:** ﴿يعبر﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: تعبير کول، اظهار کول، ښرګندول، د زړه خبره ښکاره کول، اظهار ما في الضمير کول. ﴿يعبر عن نفسه﴾ يعني چي د ځان په باره کي معلومات ورکولای سي چي زه غلام یم، که نه یم. ﴿رِقّ﴾ غلامتوب، غلام والی، مملوک کېدل. ﴿كَبِرَ﴾ د سمع د باب ماضي ده: د کوچني غټېدل، عمر ډېرېدل، او کبر: په مرتبه کي غټېدل. (مصباح اللغات)

**تشريح: مسئله:** دا ده که د یو سړي په قبضه کي یو کوچنی (بچی) وي او د هغه عمر دومره وي چي خبري کولای سي او د خپل ځان په باره کي معلومات ورکولای سي، بیا یو بل سړی په هغه دعویٰ وکړي چي "دا زما غلام دی" او کوچنی ووايي چي "زه آزاد یم، غلام نه یم"، نو په دې صورت کي د کوچني قول معتبر دی او هغه به آزاد شمارل کیږي، ځکه چي هغه د خپل نفس مالک او پر خپل نفس قابض دی، او قول د قابض معتبر وي، نو ځکه د هغه قول به هم معتبر وي.

او که داسي کوچنی ووايي چي "زه د فلانکي غلام یم" او فلانکی پر هغه قابض نه وي (يعني هغه د فلانکي په قبضه کي نه وي)، نو په دې صورت کي دا کوچنی د فلانکي غلام نه ګرځي بلکي د قابض غلام ګرځي؛ ځکه چي اوس هغه دا اقرار وکړی چي "پر خپل ذات زما قبضه نسته" (ځکه د غلام پر خپل ذات هیڅ قبضه نه وي). لهذا اوس چي دا کوچنی د کوم سړي په قبضه کي وي، هغه به د ده مالک وي.

او که هغه دومره کوچنی وي چي د خپل ځان په باره کي هیڅ معلومات نه سي ورکولای او خپل مقصد نه سي بيانولای او بل سړی په هغه دعویٰ وکړي چي "دا زما غلام دی"، نو په دې صورت کي

هم هغه د قابض غلام ګرځي، او بيا چې کله هغه غټ سي او د خپل آزاد والي دعوىٰ وکړي چې "زه آزاد يم"، نو د هغه دا دعوىٰ معتبره نه ده؛ ځکه په کوچنيوالي کې پر هغه رقيت (غلامتوب) واقع سوى دى او په هغه کې د قابض ملکيت ثابت سوى دى، نو ځکه بلا دليله به دا ثابت سوى ملکيت او رقيت نه زائليږي.

## پر کوم دېوال چې د يو چا تيران وي يا د يو چا عمارت (ځای) ورسره متصل وي، نو هغه د چا حق کيږي؟

قَالَ: وَإِذَا كَانَ الْحَائِطُ لِرَجُلٍ عَلَيْهِ جُذُوعٌ أَوْ مُتَّصِلٌ بِبِنَائِهِ فرمايي: او که د يو سړي پر دېوال د هغه تيران وي يا دېوال د هغه د عمارت [وداني] سره متصل وي وَلِلْآخَرِ عَلَيْهِ هَرَادِيُّ او پر هغه د دېوال د بل سړي لرګيان وي فَهُوَ لِصَاحِبِ الْجُذُوعِ وَالِاتِّصَالِ نو هغه دېوال د تيرانو او اتصال والا کس لپاره دی وَالْهَرَادِيُّ لَيْسَتْ بِشَيْءٍ او لرګيان هيڅ نه دي [يعني هغه لره هيڅ اعتبار نسته] لِأَنَّ صَاحِبَ الْجُذُوعِ صَاحِبُ اسْتِعْمَالٍ ځکه چې تيرانو والا [د دېوال] استعمالونکی دی وَالْآخَرُ صَاحِبُ تَعَلُّقٍ او بل کس [صاحب الهرادي] تعلق والا دی فَصَارَ كَدَابَّةٍ تَنَازَعَا فِيهَا وَلِأَحَدِهِمَا حِمْلٌ عَلَيْهَا وَلِلْآخَرِ كُوزٌ مُعَلَّقٌ نو داسي سوه لکه د يو څاروي په هکله چې دوه کسان اختلاف وکړي او په دوی کي پر څاروي د يوه بار [سامان] وي او د بل کس [په هغه] کوزه راځړېدلې وي وَالْمُرَادُ بِالِاتِّصَالِ مُدَاخَلَةُ لِبْنِ جِدَارِهِ فِيهِ وَلِبْنِ هَذَا فِي جِدَارِهِ او د اتصال مطلب دا دی چې د هغه سړي [د عمارت] د دېوال خښتي د مدعىٰ بهٖ [دعوه داره] دېوال په خښتو دننه سوي وي او د دې د دې خښتي د هغه د دېوال په خښتو دننه سوي وي وَقَدْ يُسَمَّى اتِّصَالَ تَرْبِيعٍ او دغه اتصال ته "اتصال تربيع" [هم] ويل کيږي وَهَذَا شَاهِدٌ ظَاهِرٌ لِصَاحِبِهِ او دا اتصال د عمارت د مالک په حق کي ظاهري ګواهي دی لِأَنَّ بَعْضَ بِنَائِهِ عَلَى بَعْضِ بِنَاءِ هَذَا الْحَائِطِ ځکه چې د هغه د عمارت څه حصه د مدعىٰ بهٖ دېوال په څه حصه کي داخله ده وَقَوْلُهُ الْهَرَادِيُّ لَيْسَتْ بِشَيْءٍ يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ لَا اعْتِبَارَ لِلْهَرَادِيِّ أَصْلًا او [په متن کي] د امام محمد رَحِمَهُ الله دا قول "الهراوي ليست بشيء" پر دې دلالت کوي چې لرګيو لره هيڅ اعتبار نسته وَكَذَا الْبَوَارِيُّ او همدا حکم د بوريو [او کېړو] هم دی لِأَنَّ الْحَائِطَ لَا تُبْنَى لَهُمَا أَصْلًا ځکه چې دېوال بالکل د هغوی لپاره نه جوړول

کيږي حَتّٰى لَوْ تَنَازَعَا فِي حَائِطٍ وَلِأَحَدِهِمَا عَلَيْهِ هَرَاوِيٌّ وَلَيْسَ لِلْآخَرِ عَلَيْهِ شَيْءٌ تر دې که دوه خلک د داسي دېوال په هکله اختلاف وي چې پر هغه ديوه کس لرګي وي او د بل کس هيڅ شی نه وي فَهُوَ بَيْنَهُمَا نو [بيا هم] هغه دېوال د دوی په مينځ کي مشترک ګرځي.

**اللغات:** ﴿حائط﴾ دېوال، ﴿بِناء﴾ عمارت، ودانی، تعمير، ځای، (مراد ځني کور او د هغه دېوالونه او خوني دي)، ﴿جُذُوع﴾ جمع د جِذْعٌ ده: د خرما دوني تنه، تېر، شاتير، ﴿هراوي﴾ د لغت په کتابو کي دا لفظ په واو سره يعني "الهَرَاوِيُّ" ذکر سوی دی، جمع د هِرَاوَةٌ ده: پنډ لرګی، پنډه لکړه، تخته کوم چي د بام په تعمير کي استعماليږي (معجم وسيط، مصباح منير، احسن الهدايه)، ﴿حِمْل﴾ بار، ﴿اللَّبِن﴾ او اللَّبِن (لکه کَتِف) او اللِّبِن: کچه خښتي، واحد: لبنةٌ، ﴿بَوَارِي﴾ جمع د بوريه ده: پوزی، چټايي، بوريا (احسن الهدايه)، (د خاشو او لرګيو څخه جوړه کېږه).

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که د ادريس په قبضه کي يو دېوال وي چي پر هغه ده خپل تيران ايښي وي يا هغه دېوال د ادريس د کور او عمارت (ودانی) سره متصل او لګېدلی وي، او پر هغه دېوال خالد هم لرګيان او تختې ايښي وي، او هر يو وايي چي "دا زما دېوال دی"، نو په دې صورت کي به د صاحب الجذوع والاتصال (يعني د ادريس) لپاره د هغه دېوال فيصله کيږي، او د لرګيانو والا (خالد) دعوی به ردول کيږي، ځکه چي تيرانو او متصل عمارت والا (ادريس) د دې دېوال مستعمل او متصرف دی او لرګيانو والا (خالد) صرف د دې سره متعلق دی، او مخکي دا خبره تېره سوه چي متصرف مالک شمارل کيږي، نو ځکه صاحب الجذوع (ادريس) کوم چي په حقيقت کي د دېوال متصرف دی، هغه به د دې مالک وي، لکه کوم مدعي چي پر څاروي سامان بار کړی وي، هغه د زيات متصرف کېدلو په وجه پر څاروي د اوبو اېښونکي کس څخه مخکي او زيات مستحق وي، نو ځکه دلته به هم چي کوم يو متصرف دی، هغه به مخکي او زيات مستحق وي.

**والمراد بالاتصال إلخ:** فرمايي: دلته د "اتصال" مراد او مطلب دا دی چي د عمارت خښتي او د دېوال خښتي يو په بل ننوتلي وي، يعني د دېوال د خښتو نيمه حصه د عمارت په خښتو کي پټه وي، او داسي اتصال ته د فقهاؤ په اصطلاح کي "اتصال تربيع" وايي. (بنايه ج:۸، ص:۵۱۱)

**وقوله الهراوی إلخ:** فرمايي په متن کي د دې قول "الهراوي ليست بشیء" مطلب دا دی چي هرواي (لرګي او تختې) نه په استحقاق کي څه اعتبار لري او نه د استحقاق په زياتوب کي څه ارزښت لري، او همدا حکم د چټايي او کېږې هم دی، مثلاً که پر يو دېوال د يوه کس کېږه پرته وي او د بل کس کېږه

پر هغه نه وي، نو دا کېږه ايښوول د ترجيح وجه نه ګرځي؛ ځکه چې دېوال بالکل د هَـرَاوِيْ او بَـوَارِيْ لپاره نه جوړېږي. (احسن الهدايه)

## د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَلَوْكَانَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَيْهِ جُذُوعٌ ثَلَاثَةٌ او که له دواړو مدعيانو څخه د هر يوه پر هغه دېوال درې، درې تيران وي فَهُوَ بَيْنَهُمَا نو هغه دېوال د دوی په مينځ کې مشترک ګرځي لِاسْتِوَائِهِمَا ځکه چې دوی دواړه [د استحقاق په سبب کې] سره برابر دي وَلَا مُعْتَبَرَ بِالْأَكْثَرِ مِنْهَا بَعْدَ الثَّلَاثَةِ او تر دريو وروسته زائد تيرانو لره هيڅ اعتبار نسته وَإِنْ كَانَ جُذُوعُ أَحَدِهِمَا أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثَةٍ او که د يوه مدعي تيران له دريو څخه کم وي فَهُوَ لِصَاحِبِ الثَّلَاثَةِ نو هغه دېوال د دريو والا لپاره دی وَلِلْآخَرِ مَوْضِعُ جِذْعِهِ او د بل د مدعي لپاره د خپل تير ځای دی [يعني هغه ته به صرف د تير ايښوولو ځای ورکول کېږي] وَفِي رِوَايَةٍ: لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَا تَحْتَ خَشَبِهِ او په يوه روايت کې [ذکر سوي] دي: چې په دوی کې د هر يوه لپاره د خپلو لرګي [تيرانو] د ايښوولو ځای دی ثُمَّ قِيلَ: مَا بَيْنَ الْخَشَبِ إِلَى الْخَشَبِ بَيْنَهُمَا بيا ويل سوي دي: چې د يوه تير او بل تېر په مينځ کې چې کوم ځای وي هغه د دوی په مينځ کې مشترک دی وَقِيلَ: عَلَى قَدْرِ خَشَبِهِمَا او ويل سوي دي: چې دوی ته د خپلو تيرانو په اندازه ځای دی وَالْقِيَاسُ أَنْ يَكُونَ بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ او قياس دا دی چې هغه دېوال د دواړو په مينځ کې نصف، نصف وي [يعني د دوی په مينځ کې نصف، نصف مشترک وي] لِأَنَّهُ لَا مُعْتَبَرَ بِالْكَثْرَةِ فِي نَفْسِ الْحُجَّةِ ځکه چې په نفس حجت کې کثرت [ډېرښت] لره هيڅ اعتبار نسته وَجْهُ الثَّانِي: أَنَّ الِاسْتِعْمَالَ مِنْ كُلِّ وَاحِدٍ بِقَدْرِ خَشَبَتِهِ د دويم روايت دليل دا دی: چې د هر مدعي له طرفه استعمال د هغه د تيرانو په اندازه دی [يعني هر مدعي (په دې دېوال کې) د خپل تيرانو په اندازه متصرف دی] وَوَجْهُ الْأَوَّلِ: أَنَّ الْحَائِطَ يُبْنَى لِوَضْعِ كَثِيرِ الْجُذُوعِ دُونَ الْوَاحِدِ وَالْمُثَنَّى او د اول روايت دليل دا دی: چې دېوال د ډېرو تيرانو د ايښوولو لپاره جوړول کېږي نه د يوه او دوو تيرانو لپاره فَكَانَ الظَّاهِرُ شَاهِدًا لِصَاحِبِ الْكَثِيرِ نو ځکه ظاهر حال به د ډېرو تيرانو والا په حق کې ګواه وي إِلَّا أَنَّهُ يَبْقَى لَهُ حَقُّ الْوَضْعِ لېکن د دويم مدعي [يو، دوه

تیرانو لپاره به هم د تېر ایښوولو حق پاتېږي لِأَنَّ الظَّاهِرَلَيْسَ بِحُجَّةٍ فِي اسْتِحْقَاقِ يَدِهِ ځکه چي ظاهر حال د هغه د قبضې په استحقاق کي حجت نه دی.

**اللغات**: ﴿استواء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: برابرېدل، برابري، ﴿خشب﴾ لرګي، ﴿حجة﴾ دلیل.

**تشریح**: **مسئله**: دا ده که پر یو دېوال د دوو خلکو درې، درې تیران وي، نو هغه دېوال د دوی په مینځ کي مشترک ګرځي؛ ځکه چي عموماً پر دېوال درې تیران ایښوول کیږي، او څرنګه چي دوی دواړه د دریو تیرانو مالکان دي، نو ځکه د استحقاق په سبب کي دواړه سره برابر دي، او کله چي دا سي ده، نو په نفس استحقاق کي به هم دواړه مساوي او سره برابر وي.

او له دریو څخه په زیاتو تیرانو کي مساوات ضروري نه دي بلکي درې تیران د مساوات فی سبب الاستحقاق لپاره کافي دي، لهذا که د یوه مدعي تیران له دریو څخه ډېر وي او د بل مدعي درې تیران وي، نو بیا هم دواړه په استحقاق کي مساوي او برابر پاتېږي او دېوال د دوی په مینځ کي مشترک ګرځي. لېکن که یوه مدعي له دریو څخه کم مثلاً یو یا دوه تیران ایښي وي او بل مدعي له دریو څخه ډېر ایښي وي، نو بیا ډېرو تیرانو والا د دېوال مستحق او مالک دی، خو بیا هم په دې صورت کي به کمو تیرانو والا ته د خپل تیرانو د ایښوولو ځای ورکول کیږي. دا په مبسوط کي د "کتاب الاقرار" روایت دی، او د "کتاب الدعوی" روایت دا دی چي دغه دواړو مدعیانو ته د خپل، خپل تیرانو د ایښوولو په اندازه د ځای حق ستته. او بیا یو قول دا دی چي د دواړو تیرانو په مینځ کي چي کوم ځای دی هغه د دوی په مینځ کي مشترک دی، او دویم قول دا دی چي د دې ځای تقسیم به د هغو د تیرانو په حساب سره کیږي، د هر قول دلیل مخته را روان دی.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي: د قیاس تقاضا دا ده چي دا دېوال د دواړو په مینځ کي مشترک وګرځي، ځکه کله چي دواړو پر هغه خپل تیران ایښي دي او په دې حواله سره دواړه پر هغه قابض دي، نو بیا به د قلت او کثرت (کمو او ډېرو تیرانو) هیڅ اعتبار نه کیږي او کثرت به د ترجیح وجه نه ګرځي.

ووجه الثاني إلخ: فرمایي: د مبسوط د "کتاب الدعوی" چي کوم روایت دی چي هر یوه ته بد تیرانو په اندازه د ځای حق ستته، د هغه دلیل دا دی چي هر مدعي د تیرانو په اندازه دېوال استعمالوي، لهذا څومره چي د تیرانو جثه او حصه ده، هغومره ځای به ورکول کیږي. او د "کتاب الاقرار" د روایت دلیل دا دی چي دېوال د یوه تېر د ایښوولو لپاره نه جوړېږي بلکي د ډېرو تیرانو د ایښوولو لپاره جوړېږي، نو ځکه د تیرانو د کثرت (ډېرښت) پر بناء به ظاهر حوال د ډېرو تیرانو والا په حق کي ګواه وي او دا به د هغه لپاره د ترجیح وجه ګرځي او صرف هغه به د دېوال مالک وي لېکن دا ظاهر حال به د

دویم مدعي (یو. دوه تیرانو والا) د حق لپاره دافع نه ګرځي او هغه ته به په دې دېوال کې د هغه د تیرانو د ایښوولو په اندازه ځای خامخا ورکول کیږي.

## د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَلَوْكَانَ لِأَحَدِهِمَا جُذُوعٌ وَلِلْآخَرِ اتِّصَالٌ او که د یوه مدعي تیران وي او د بل مدعي لپاره [صرف] اتصال وي فَالْأَوَّلُ أَوْلَى نو اول اولیٰ دی [یعني په دې صورت کې تیرانو والا حقداره دی] وَيُرْوٰى: الثَّانِيْ أَوْلَى او روایت سوی دی: چې دویم [اتصال والا] اولیٰ دی وَجْهُ الْأَوَّلِ أَنَّ لِصَاحِبِ الْجُذُوعِ التَّصَرُّفَ د اول روایت دلیل دا دی: چې تیرانو لپاره تصرف دی [یعني هغه په دې دېوال کې متصرف دی] وَلِصَاحِبِ الِاتِّصَالِ الْيَدُ او اتصال والا لره قبضه ده وَالتَّصَرُّفُ أَقْوٰى او تصرف زیات قوي دی وَجْهُ الثَّانِيْ: أَنَّ الْحَائِطَيْنِ بِالِاتِّصَالِ يَصِيْرَانِ كَبِنَاءٍ وَاحِدٍ د دویم روایت دلیل دا دی: چې د اتصال په وجه دواړه دیوالونه د یوه عمارت [ودانۍ] په څېر دي وَمِنْ ضَرُوْرَةِ الْقَضَاءِ لَهُ بِبَعْضِهِ الْقَضَاءُ بِكُلِّهِ او د هغه لپاره د بعضي دېوال فیصله کېدل بالضرور د دې تقاضا کوي چې د ټوله دېوال فیصله د هغه لپاره وسي [په بله وینا: د اتصال والا لپاره د بعضي دېوال په فیصله کولو سره بداهتاً د هغه لپاره د ټوله دېوال فیصله کیږي] ثُمَّ يَبْقٰى لِلْآخَرِ حَقُّ وَضْعِ جُذُوْعِهٖ بیا به د بل مدعي [صاحب الجذوع] لپاره د خپل تیرانو د ایښوولو ځای پاتېږي لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ [مخکې] ذکر کړی وَهٰذِهٖ رِوَايَةُ الطَّحَاوِيِّ وَصَحَّحَهَا الْجُرْجَانِيُّ او دا د امام طحاوي رَحِمَهُ الله روایت دی او امام جرجاني رَحِمَهُ الله هغه صحیح ګرځولی دی.

**اللغات:** ﴿اتصال﴾ د افتعال د باب مصدر دی: متصل کېدل، لګېدل. ﴿بناء﴾ عمارت. ودانې. ځای.

**تشریح:** مسئله خو بالکل ښکاره ده چې که پر دېوال د یوه مدعي تیران پراته وي او د بل مدعي دېوال (یعني د هغه د کور یا خوني دېوال) د دغه مدعیٰ به دېوال سره متصل وي یعني دواړه دېوالونه یو په بل سره نه ایستل سوي وي (کوم ته چې اتصال تربیع وایي)، نو یو روایت دا دی چې د تیرانو والا حق مخکې او هغه حقدار دی او دویم روایت دا دی چې د اتصال والا (متصل دېوال والا) حقدار دی؛ د اول روایت دلیل واضح دی. او د دویم روایت دلیل دا دی چې د متصل کېدلو په وجه دواړه دېوالونه یعني مدعیٰ به (دعویٰ داره) دېوال او د اتصال والا مدعي دېوال د یوه عمارت (ودانۍ) شکل اختیار کړی دی، او

ځرنګه چي د دې نصف د اتصال والا دعي دی، لهذا کله چي دواړه سره متصل او لګېدلي دي، نو خامخا به د ما بقي فیصله هم د اتصال والا مدعي لپاره کیږي. خو بیا هم په دې صورت کي به د تیرانو والا ته د خپل تیرانو د اېښوولو حق او اختیار وي؛ ځکه د دې دویم روایت مطابق د اتصال والا په حق کي چي کوم ظاهر حال ګواه دی، هغه د دویم فریق (تیرانو والا) حق نه سي ختمولای. دا د امام طحاوي رَحِمَهُ الله روایت دی او همدا روایت امام ابو عبد الله جرجاني رَحِمَهُ الله صحیح ګرځولی دی. صاحب د نتائج الافکار د تصحیح وجه دا بیان کړې ده چي د اتصال والا چي کوم اتصال دی هغه "اتصال تربیع" دی، او داسي اتصال د بناء (جوړېدلو) په حالت کي کیږي، او د بناء په حالت کي د اتصال ثبوت د دې خبري دلیل دی چي اتصال والا له صاحب الجذوع څخه مخکي پر دغه دېوال قابض دی، نو ځکه د هغه حق به هم له صاحب الجذوع څخه مخکي وي.

## په مشترک کور کي صحن (غولی) د چا حق کیږي؟

قَالَ: وَإِذَا كَانَتْ دَارٌ فِيهَا فِي يَدِ رَجُلٍ عَشَرَةُ أَبْيَاتٍ وَفِي يَدِ آخَرَ بَيْتٌ فرمايي: او که چیري یو کور [داسي] وي چي په هغه کي د یوه سړي په قبضه کي لس خوني [کمرې] وي او د بل سړي په قبضه کي یوه خونه [کمره] وي فَالسَّاحَةُ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ نو [د هغه] کور صحن د دوی په مینځ کي نصف، نصف [مشترک] دی لِاسْتِوَائِهِمَا فِي اسْتِعْمَالِهَا ځکه چي دوی دواړه د صحن په استعمال کي سره برابر دي وَهُوَ الْمُرُورُ فِيهَا او له استعمال څخه مراد په صحن کي تېرېدل دي [همدارنګه په صحن کي سامان اېښوول او داسي نور کارونه پکښي کول] قَالَ: وَإِذَا ادَّعَى الرَّجُلَانِ أَرْضًا او که چیري دوه خلک په یو ځمکه دعویٰ وکړي يَعْنِي يَدَّعِي كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنَّهَا فِي يَدِهِ یعني له دوو خلکو څخه هر یو دا دعویٰ کوي چي هغه ځمکه زما په قبضه کي ده لَمْ يُقْضَ أَنَّهَا فِي يَدِ وَاحِدٍ مِنْهُمَا حَتَّى يُقِيمَا الْبَيِّنَةَ أَنَّهَا فِي أَيْدِيهِمَا نو دا فیصله به نه کیږي چي هغه [ځمکه] له دوی څخه د یوه په قبضه کي ده تر دې چي دواړه پر دې خبره بیّنه پېش کړي چي هغه زموږ په قبضه کي ده لِأَنَّ الْيَدَ فِيهَا غَيْرُ مُشَاهَدَةٍ ځکه چي قبضه په ځمکه کي نالیدل کېدونکې ده [یعني په ظاهري توګه نه معلومیږي] لِتَعَذُّرِ إِحْضَارِهَا ځکه چي [د قاضي

مجلس ته] د هغې حاضرول ناممکن دي وَمَا غَابَ عَنْ عِلْمِ الْقَاضِي او کوم څه چي د قاضي له خبر [او معلومات] څخه ليري وي فَالْبَيِّنَةُ تُثْبِتُهُ نو هغه بيّنه ثابتوي وَإِنْ أَقَامَ أَحَدُهُمَا الْبَيِّنَةَ او که له دوی څخه يو بيّنه پېش کړي جُعِلَتْ فِي يَدِهِ نو ځمکه به د هغه په قبضه کي ورکول کيږي لِقِيَامِ الْحُجَّةِ ځکه دليل قائم سو لِأَنَّ الْيَدَ حَقٌّ مَقْصُودٌ ځکه چي قبضه مقصود حق ده وَإِنْ أَقَامَا الْبَيِّنَةَ او که دوی دواړه بيّنه پېش کړي جُعِلَتْ فِي أَيْدِيهِمَا نو هغه ځمکه به د دواړو په قبضه کي ورکول کيږي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی فَلَا تَسْتَحِقُّ لِأَحَدِهِمَا مِنْ غَيْرِ حُجَّةٍ نو [اوس] به بغير له حجته يو د هغه مستحق نه ګرځول کيږي [په بله وينا: نو له بل حجت څخه بغير به د يوه لپاره د هغه د استحقاق فيصله نه کيږي] وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا قَدْ لَبَّنَ فِي الْأَرْضِ أَوْ بَنَى أَوْ حَفَرَ او که يوه مدعي په ځمکه کي خښتي جوړي کړي وي يا يې ځای [پکښي] جوړ کړی وي يا يې څاه [پکښي] کيندلې وي فَهِيَ فِي يَدِهِ نو ځمکه د هغه په قبضه کي ده لِوُجُودِ التَّصَرُّفِ وَالِاسْتِعْمَالِ فِيهَا ځکه چي په دې ځمکه کي [د هغه] تصرف او استعمال موجود سو.

**اللغات**: ﴿أبيات﴾ جمع د بَيْتٌ ده: خونه، کمره، ﴿الساحة﴾ خالي ميدان چي پر هغه د پاسه بام نه وي، صحن، غولی، انګړ، ﴿مرور﴾ د ضرب د باب مصدر دی: تېرېدل، ﴿إحضار﴾ د افعال د باب مصدر دی: حاضرول، پېشول، ﴿لَبَّن﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: د ځای او ودانۍ لپاره خښتي جوړول (معجم وسيط)، ﴿بنی﴾ د ضرب د باب ماضي ده: ځای جوړول، وداني (عمارت) جوړول، ﴿حفر﴾ دا هم د ضرب د باب ماضي ده: کيندل، کښل.

**تشريح**: په دې عبارت کي درې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که يو غټ کور وي چي په هغه کي يوولس خوني (کمرې) وي او له هغه څخه لس خوني د خالد په قبضه کي وي او يوه خونه د زيد په قبضه کي وي، نو د دې کور صحن د خالد او زيد دواړو په مينځ کي مشترک ګرځي او د کوم يوه خوني چي زياتي دي (يعني خالد)، هغه په دې صحن کي د

زياتي حصې حق نه لري؛ ځکه چي په صحن کي د تګ راتګ کولو، ګرځېدلو او داسي نورو کارونو په حواله سره د دوی دواړو استعمال برابر دی، نو ځکه د دواړو استحقاق (مستحق کېدل) به هم په هغه کي برابر وي او يو به هم د زياتي حصې مستحق نه وي.

(۲)... که د يو ځمکي په هکله دوه خلک دعویٰ وکړي او هر يو ووايي چي "دا زما ځمکه ده او زما په قبضه کي ده"، نو تر څو چي دوی دواړه بيّنه پېش نه کړي، تر هغه وخته به د يوه لپاره هم فيصله نه کيږي؛ ځکه چي قبضه يو غيرِ محسوس او غيرِ مشاهد (ناليدل کېدونکې) شی ده، او بل دا چي ځمکه هم د قاضي په مجلس کي پېښول (حاضرول) ناممکن دي، نو ځکه دلته د قاضي د فيصلې يوازيني لاره بيّنه ده. بيا که په دوی کي يو مدعي بيّنه پېش کړي، نو د هغه په حق کي به د ټوله ځمکي فيصله کيږي، او که دواړه بيّنه پېش کړي، نو ځکمه به د دوی په مينځ کي مشترکه ګرځي؛ ځکه چي دواړو په بيّنه سره په هغه کي خپل حق ثابت کړی دی، لهذا اوس به له يو بل حجت او دليل څخه بغير په دوی کي د يوه لپاره د ټولي ځمکي فيصله نه کيږي.

(۳)... او که له دوی څخه يوه مدعي په دغه ځمکه کي تصرف کړی وي، مثلاً هغه په دې ځمکه کي څاه کنبلې وي، يا يې يو ځای پکښي جوړ کړی وي، نو په دې صورت کي ځمکه د هغه په قبضه کي شمارل کيږي؛ ځکه چي هغه په دې ځمکه کي متصرف ګرځېدلی دي او تصرف د قبضې او ملکيت دليل دی، نو ځکه د بل مدعي دعویٰ به ردول کيږي او متصرف به د دې ځمکي مالک ګرځول کيږي. فقط والله أعلم وعلمهٔ أتم



# بَابُ دَعْوَى النَّسَبِ

(دا) باب د نسب د دعوې کولو (په بيان کي) دی

**تشريح**: مخکي تر دې د مال په هکله د دعوه کولو بيان وو، او اوس له دې ځايه د نسب په هکله د دعوه کولو مسائل بيانيږي، او څرنګه چي مال کثيرُ الوقوع دی، نو ځکه د هغه بيان له نسب څخه مخکي کړی سوی دی. (بنايه ج:۸، ص:۵۱۶)

## د مينځي تر خرڅولو وروسته د پيدا کېدونکي بچي د نسب دعوىٰ کول

قَالَ: وَإِذَا بَاعَ جَارِيَةً او که چيري [يوخوک(بائع)] مينځه خرڅه کړي فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ بيا هغه مينځه بچی وزېږوي فَادَّعَاهُ الْبَائِعُ او بائع د هغه [د نسب] دعوىٰ وکړي فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ يَوْمِ بَاعَ نو که هغې د بيع له ورځي څخه تر شپږو مياشتو په کم مودت کي بچی زېږولی وي فَهُوَ ابْنُ الْبَائِعِ وَأُمُّهُ أُمُّ وَلَدٍ لَهُ نو هغه د بائع بچی ګرځي او د هغه مور د بائع اُم ولد ګرځي وَفِي الْقِيَاسِ وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ وَالشَّافِعِيِّ دَعْوَتُهُ بَاطِلَةٌ● او په قياس کي (او همدا د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله قول دی) د هغه دعوىٰ باطله ده لِأَنَّ الْبَيْعَ اعْتِرَافٌ مِنْهُ بِأَنَّهُ عَبْدٌ ځکه چي [د بائع] بيع کول د هغه له طرفه د دې خبري اقرار کول دي چي هغه بچی غلام دی فَكَانَ فِي دَعْوَاهُ مُنَاقِضًا نو ځکه هغه په خپل دعوىٰ کي تناقض کونکی سو وَلَا نَسَبَ بِدُونِ الدَّعْوَى او له دعوى څخه بغير نسب نه ثابتيږي وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ اتِّصَالَ الْعُلُوقِ بِمِلْكِهِ شَهَادَةٌ ظَاهِرَةٌ عَلَى كَوْنِهِ مِنْهُ د استحسان دليل دا دی: چي د بائع د ملکيت سره د علوق متصل کېدل د دې خبري ښکاره ګواهي ده چي هغه بچی له ده څخه دی لِأَنَّ الظَّاهِرَ عَدَمُ الزِّنَا ځکه ظاهر حال زنا نه کول دي [يعني ښکاره همدا ده چي يو مسلمان زنا نه کوي]

● القول الراجح: قول الجمهور. قال العلامة التمرتاشي: مبيعة ولدت لأقل من ستة أشهر مذ بيعت، فادعاه البائع، ثبت نسبه منه استحسانا (تنوير الأبصار ج:۲، ص:۲۹۲)، وكذا في ملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۳۸۸). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۹۱]

وَمَبْنَى النَّسَبِ عَلَى الْخَفَاءِ او د نسب مدار پر پټوالي (مخفي والي) دی فَيُعْفَى فِيهِ التَّنَاقُضُ نو ځکه په هغه کي به تناقض معاف کول کيږي وَإِذَا صَحَّتِ الدَّعْوَى او کله چي (د بائع) دعوی صحيح ده اسْتَنَدَتْ إِلَى وَقْتِ الْعُلُوقِ نو دا دعوی به د علوق د وخت وطرف ته منسوبه کيږي فَتَبَيَّنَ أَنَّهُ بَاعَ أُمَّ وَلَدِهِ نو دا به ښکاره سي چي بائع خپل اُم ولد مينځه خرڅ کړې ده (او د اُم ولد خرڅول جائز نه دي) فَيُفْسَخُ الْبَيْعُ نو ځکه بيع به فسخ کول کيږي لِأَنَّ بَيْعَ أُمِّ الْوَلَدِ لَا يَجُوزُ ځکه چي د اُم ولد بيع جائز نه ده وَيَرُدُّ الثَّمَنَ او بائع به (مشتري ته) ثمن واپس کوي لِأَنَّهُ قَبَضَهُ بِغَيْرِ حَقٍّ ځکه چي (اوس) بائع په ناحقه پر هغه قبضه کړې ده وَإِنْ ادَّعَاهُ الْمُشْتَرِي مَعَ دَعْوَةِ الْبَائِعِ أَوْ بَعْدَهُ او که د بائع د دعوې سره يو ځای يا تر هغه وروسته مشتري هم د بچي دعویٰ وکړي فَدَعْوَةُ الْبَائِعِ أَوْلَى نو د بائع دعویٰ اولیٰ ده لِأَنَّهَا أَسْبَقُ لِاسْتِنَادِهَا إِلَى وَقْتِ الْعُلُوقِ ځکه چي د علوق د وخت وطرف ته د منسوبه کېدلو په وجه هغه (د مشتري له دعوې څخه) مخکي ده وَهٰذِهِ دَعْوَةُ اسْتِيلَادٍ او دا (د بائع دعویٰ) د استيلاد دعوی ده.

**اللغات**: ﴿جارية﴾ مينځه. ﴿عُلوق﴾ د سمع د باب مصدر دی: عَلِقَتِ الْمَرْأَةُ بِالْوَلَدِ: حامله کېدل. له نطفې څخه بچي جوړېدل. حمل نيول کېدل (مصباح منير). ﴿يُعفىٰ﴾ د نصر د باب مضارع مجهوله ده: معافول (معاف کول). بخښل. ﴿أسبق﴾ د نصر او ضرب له بابه د اسم تفضيل صيغه ده: زيات مخکي. ﴿استناد﴾ د استفعال د باب مصدر دی: منسوب کېدل. نسبت کېدل. ﴿استيلاد﴾ مخکنۍ صيغه ده: اُم ولد جوړول.

**تشريح: صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی خپله مينځه خرڅ کړي او هغه مينځه د بيع له ورځي څخه تر شپږو مياشتو په کم مودت کي بچی وزېږوي، بيا بائع دا دعویٰ وکړي چي "دا زما بچی دی او زما له وطي او نطفې څخه پيدا سوی دی". نو استحساناً حکم دا دی چي د بائع دعویٰ به قبلول کيږي او د ده سره به د هغه بچي نسب ثابتيږي او بيع به فسخ کول کيږي او مشتري چي کوم ثمن بائع ته ورکړی دی. بائع به هغه مشتري ته واپس ورکوي. لېکن قياس دا دی چي د بائع دا دعویٰ به رد ول کيږي او بيع به نه فسخ کول کيږي؛ ځکه بائع چي مينځه خرڅه کړه نو دا د هغه له طرفه د دې خبري اقرار او دليل دی چي پيدا سوی بچی غلام دی. حال دا چي د نسب په دعوه کولو سره اوس هغه د استيلاد دعوه کوي (چي دا بچی زما دی او مور يې زما اُم ولد ده). لهذا د هغه په فعل او قول کي تناقض

راغلی او تناقض والا دعویٰ ردول کیږي، او څرنګه چې له دعویٰ څخه بغیر نسب نه ثابتیږي، نو ځکه د مذکوره بائع سره به د بچي نسب نه ثابتیږي.

وجه الاستحسان إلخ: د استحسان دلیل دا دی چې د دغه بچي علوق (یعني له نطفې څخه د ده جوړېدل) هغه وخت ترسره سوي دي کله چې د ده مور د بائع په ملکیت کي وه؛ ځکه چې د یو مسلمان ظاهر حال همدا دی چې هغه به د خپل مملوکه مینځي سره وطي کړي وي، نه زناء، لهذا د مذکوره بچي حمل به بالکل د بائع له نطفې څخه وي، خو څرنګه چې حامله کېدل او علوق (یعني له نطفې څخه د بچي جوړېدل) یو پټ او مخفي کار دی نو کېدای سي چې بائع به په هغه خبر سوی نه وي او هغه به ناخبري کي خپله مینځه خرڅه کړې وي، او ښکاره خبره ده چې په دې صورت کي هم په بیع او د نسب په دعویٰ کي تناقض یقیناً سته، لېکن دا تناقض به معاف وي او د بائع له طرفه به د نسب دعویٰ صحیح وي او هغه مینځه به د ده اُم ولد ګرځي، او څرنګه چې د اُم ولد بیع جائز نه ده، نو ځکه دا بیع به استحساناً فسخ کول کیږي او مشتري چې بائع ته کوم ثمن ور کړی وي، بائع به هغه ثمن مشتري ته واپس کوي.

وإن ادّعاه المشتری إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د بائع د دعوه کولو پر مهال یا تر هغه وروسته مشتري هم د هغه بچي د نسب دعوه وکړي، نو په دې صورت کي هم د بائع دعوه اولیٰ ده او هغه د بچي مستحق دی؛ ځکه چې د هغه دعوه د علوق د وخت وطرف ته منسوبه ده نو په دې حواله سره د هغه دعوه د مشتري له دعوې څخه مخکي ده او د فقهاؤ په اصطلاح کي دا دعوه "دعویٰ استیلاد" ده، او څرنګه چې دا دعوه د علوق وخت ته یعني د بائع د ملکیت وخت ته منسوبه ده، نو ځکه اوس دغه دعوې ته في الحاله د ملکیت ضرورت نسته او بغیر له ملکیته هم هغه مقبوله او معتبره ده. (احسن الهدایه)

## د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِأَكْثَرَ مِنْ سَنَتَيْنِ مِنْ وَقْتِ الْبَيْعِ او که مینځه د بیع له وخت څخه تر دوو کالو په زیات مودت کي بچی وزېږوي لَمْ تَصِحَّ دَعْوَةُ الْبَائِعِ نو د بائع دعویٰ نه صحیح کیږي لِأَنَّهُ لَمْ يُوجَدْ اتِّصَالُ الْعُلُوقِ بِمِلْكِهِ تَيَقُّنًا ځکه چې [په دې صورت کي] د هغه د ملکیت سره د عُلوق متصل کېدل موجود نه سوه وَهُوَ الشَّاهِدُ وَالْحُجَّةُ حال دا چې همدا [د عُلوق متصل کېدل] ګواه او دلیل دی إِلَّا إِذَا صَدَّقَهُ الْمُشْتَرِيْ مګر دا چې کله مشتري د بائع تصدیق وکړي فَيَثْبُتُ النَّسَبُ نو بیا نسب ثابتیږي وَيُحْمَلُ عَلَى الِاسْتِيلَادِ بِالنِّكَاحِ وَلَا يَبْطُلُ الْبَيْعُ او دا به پر استیلاد بالنکاح حمل کیږي او بیع به نه باطلیږي

لِأَنَّا تَيَقَّنَّا أَنَّ الْعُلُوقَ لَمْ يَكُنْ فِي مِلْكِهِ ځکه چې مونږ ته دا يقين سو چې عُلوق د بائع په ملکيت کې نه دی واقع سوی فَلَا يَثْبُتُ حَقِيقَةُ الْعِتْقِ وَلَا حَقُّهُ نو ځکه به نه د عتق [آزادی] حقيقت ثابتيږي او نه به د عتق حق ثابتيږي وَهٰذِهِ دَعْوَةُ تَحْرِيرٍ او دا دعویٰ به د تحرير [آزادولو] دعویٰ وي وَغَيْرُ الْمَالِكِ لَيْسَ مِنْ أَهْلِهِ او نا مالک کس د تحرير د دعوې اهل نه وي وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِأَكْثَرَ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ وَقْتِ الْبَيْعِ وَلِأَقَلَّ مِنْ سَنَتَيْنِ او که مينځه د بيع له وخت څخه تر شپږو مياشتو په زيات مودت کې او تر دوو کالو په کم مودت کې بچی وزيږوي لَمْ تُقْبَلْ دَعْوَةُ الْبَائِعِ فِيهِ نو د نسب په هکله به د بائع دعویٰ نه قبلول کيږي إِلَّا أَنْ يُصَدِّقَهُ الْمُشْتَرِيْ مگر دا چې مشتري د هغه تصديق وکړي لِأَنَّهُ احْتَمَلَ أَنْ لَا يَكُونَ الْعُلُوقُ فِي مِلْكِهِ ځکه چې ، په دې صورت کې] دا احتمال سته چې علوق به د بائع په ملکيت کې نه وي واقع سوی فَلَمْ تُوجَدِ الْحُجَّةُ نو دليل موجود نه سو فَلَا بُدَّ مِنْ تَصْدِيقِهِ لهذا [اوس] د مشتري له تصديق څخه چاره نسته وَإِذَا صَدَّقَهُ او کله چې مشتري د هغه تصديق وکړي يَثْبُتُ النَّسَبُ وَيَبْطُلُ الْبَيْعُ وَالْوَلَدُ حُرٌّ وَالْأُمُّ أُمُّ وَلَدٍ لَهُ نو نسب ثابتيږي او بيع باطليږي او بچی به آزاد وي او [د بچي] مور به د بائع اُمِ ولد وي كَمَا فِي الْمَسْأَلَةِ الْأُولٰى لکه په اوله مسئله کې [چې همدا حکم دی] لِتَصَادُقِهِمَا وَاحْتِمَالِ الْعُلُوقِ فِي الْمِلْكِ د بائع او مشتري د تصادق او [د بائع] په ملکيت کې د عُلوق واقع کېدلو د احتمال په وجه [يعني ځکه چې بائع او مشتري يو د بل تصديق وکړی او ځکه چې په دې صورت کې د بائع په ملکيت کې د علوق ترسره کېدلو احتمال سته].

**اللغات**: ﴿علوق﴾ د سمع د باب مصدر دی: حمل نيول کېدل، له نطفې څخه بچی جوړېدل، حامله کېدل. ﴿تَيَقَّنَّا﴾ په يقيني توګه. ﴿استيلاد﴾ د استفعال مصدر دی: خپله مينځه اُمِ ولد جوړول، اُمِ ولد ګرځول. ﴿تحرير﴾ د تفعيل مصدر دی: آزادول. ﴿حجة﴾ دليل. ﴿تصديق﴾ د تفعيل مصدر دی: رښتونی ګڼل، خبره ور سره منل. ﴿تصادق﴾ د تفاعل مصدر دی: يو د بل تصديق کول، پر يو خبره متفق کېدل.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که هغه مينځه د بيع له ورځې څخه تر دوو کالو په زيات مودت کې بچی وزيږوي او بيا بائع د دې بچي د نسب دعویٰ وکړي (چې دا زما بچی دی)، نو د هغه دعویٰ معتبره

نه ده: ځکه چې د بائع دعوىٰ په هماغه صورت کې صحيح کيږي کله چې د هغه په ملکيت کې د مينځې حامله کېدل او علوق تر سره کېدل يقيني وي. حال دا چې تر دوو کالو وروسته د بچې زېږولو په وجه دا خبره يقيني سوه چې دا علوق د بائع په ملکيت کې نه دی تر سره سوی. نو ځکه به د هغه دعوىٰ معتبره نه وي.

ها! که چېرې مشتري په خپله د دې خبرې تصديق وکړي چې دا علوق د بائع په ملکيت کې تر سره سوی دی او بچی د هغه له نطفې څخه دی. نو بيا به د بائع دعوىٰ قبلول کيږي او د بائع د دعوې د صحيح ګرځولو او د زناء له تهمت څخه د هغه د ساتلو لپاره به دا ويل کيږي چې بائع د دې مينځې سره نکاح کړې ده او په دې وجه مذکوره مينځه حامله سوې ده. او بيع به نه باطليږي او نه به فسخ کول کيږي: ځکه چې دا مينځه د بائع په ملکيت کې نه ده حامله سوې. نو ځکه نه به حقيقت عتق ثابتيږي او نه به حق عتق ثابتيږي يعني نه به هغه بچی آزاد شمارل کيږي او نه به د هغه مور د بائع اُمِ ولد ګرځي. بلکې هغه بچی به د مشتري غلام وي او د بائع له طرفه د بچې د نسب کولو دعوىٰ به د تحرير (آزادولو) دعوىٰ وي، او د "دعوىٰ تحرير" لپاره ملکيت ضروري دی. حال دا چې بائع د هغه مالک نه دی. نو ځکه د مشتري تصديق ضروري سو او د مشتري په تصديق کولو سره به د بائع دعوىٰ بالکل معتبره او مقبوله ګرځي.

وإن جاءت إلخ: د دې حاصل دا دی چې که دغه مينځه تر دوو کالو په کم مودت او تر شپږو مياشتو په زيات مودت کې بچی وزېږوي او بائع د هغه د نسب دعوىٰ وکړي. نو په دې صورت کې به هم د هغه دعوىٰ نه قبلول کيږي: ځکه دلته دا احتمال سته چې دا علوق به د بائع په ملکيت کې نه وي تر سره سوی. ها! که چېرې مشتري د بائع تصديق وکړي نو په دې صورت کې هم د بائع دعوىٰ معتبره ګرځي او د بائع سره د هغه بچې نسب ثابتيږي. او په دې صورت کې بيع باطليږي. او کله چې بيع باطله سوه نو هغه بچی آزاد ګرځي او د هغه مور د بائع اُمِ ولد ګرځي، لکه څرنګه چې د باب په اوله مسئله کې هم دغه حکم دی.

## د بچې يا د مينځې د مرګ په صورت کې د نسب دعوىٰ کول

قَالَ: فَإِنْ مَاتَ الْوَلَدُ فَادَّعَاهُ الْبَائِعُ فرمايي: او که چېرې بچی مړ سي بيا بائع د هغه [د نسب] دعوىٰ وکړي وَقَدْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ حال دا چې مينځې هغه تر شپږو مياشتو په کم مودت کې زېږولی وي لَمْ يَثْبُتِ الِاسْتِيلَادُ فِي الْأُمِّ نو په مور [مينځه] کې استيلاد نه ثابتيږي لِأَنَّهَا تَابِعَةٌ لِلْوَلَدِ

ځکه چي هغه د بچي تابع ده وَلَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ بَعْدَ الْمَوْتِ او تر مرګ وروسته د هغه نسب [د بائع سره] نه دی ثابت سوی لِعَدَمِ حَاجَتِهِ إِلَى ذٰلِكَ ځکه چي تر مرګ وروسته نسب ثابتېدلو ته ضرورت نسته فَلَا يَتْبَعُهُ اسْتِيلَادُ الْأُمِّ نو ځکه د مور استيلاد [أم ولد جوړېدل] به د هغه نه تابع کيږي وَإِنْ مَاتَتِ الْأُمُّ فَادَّعَاهُ الْبَائِعُ او که چيري مور مړه سي او بائع د بچي [د نسب] دعوىٰ وکړي وَقَدْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ حال دا چي مور تر شپږو مياشتو په کم مودت کي بچی زېږولی وي يَثْبُتُ النَّسَبُ فِي الْوَلَدِ وَأَخَذَهُ الْبَائِعُ نو په بچي کي نسب ثابتيږي او بائع به هغه اخلي لِأَنَّ الْوَلَدَ هُوَ الْأَصْلُ فِي النَّسَبِ ځکه چي د نسب په سلسله کي بچی اصل دی فَلَا يَضُرُّهُ فَوَاتُ التَّبَعِ نو ځکه د تابع [مور] فوتېدل به هغه ته ضرر نه کوي وَإِنَّمَا كَانَ الْوَلَدُ أَصْلًا لِأَنَّهَا تُضَافُ إِلَيْهِ يُقَالُ: "أُمُّ الْوَلَدِ" او بچی په دې وجه اصل دی ځکه چي مور د هغه وطرف ته منسوبه کيږي او ويل کيږي "ام ولد" (د بچي مور) وَتَسْتَفِيدُ الْحُرِّيَّةَ مِنْ جِهَتِهِ او [ځکه چي] مور د همدې بچي له طرفه آزادي حاصلوي لِقَوْلِهِ ﷺ: « أَعْتَقَهَا وَلَدُهَا » ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "هغه [ماريه قبطيه] خپل بچي آزاده کړه" وَالثَّابِتُ لَهَا حَقُّ الْحُرِّيَّةِ وَلَهُ حَقِيقَتُهَا او د مور لپاره د حريت حق ثابتيږي [يعني أم ولد د آزادی مستحق ګرځي] او د بچي لپاره حقيقي حريت ثابتيږي وَالْأَدْنَى يَتْبَعُ الْأَعْلَى او ادنى د اعلىٰ تابع کيږي وَيَرُدُّ الثَّمَنَ كُلَّهُ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول مطابق به بائع ټوله ثمن واپس کوي وَقَالَا[*]: يَرُدُّ حِصَّةَ الْوَلَدِ وَلَا يَرُدُّ حِصَّةَ الْأُمِّ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي صرف د بچي حصه به واپس کوي او د مور حصه به نه واپس کوي لِأَنَّهُ تَبَيَّنَ أَنَّهُ بَاعَ أُمَّ وَلَدِهِ ځکه دا ښکاره سوه چي بائع خپل ام ولد خرڅه کړې ده وَمَالِيَّتُهَا غَيْرُ مُتَقَوِّمَةٍ عِنْدَهُ فِي الْعَقْدِ وَالْغَصْبِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په عقد او غصب کي د ام ولد ماليت متقوم نه دی فَلَا يَضْمَنُهَا الْمُشْتَرِي نو ځکه مشتري به د هغې د ماليت نه ضامن کيږي وَعِنْدَهُمَا مُتَقَوِّمَةٌ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز هغه متقوم دی فَيَضْمَنُهَا نو ځکه مشتري به د هغه ضامن کيږي.

---

[*] القول الراجح: قول الإمام أعظم رَحِمَهُ الله، كما ذكر فى الهندية (ج:۴، ص:۱۱۵)، وكذا فى نتائج الأفكار (ج:۷، ص:۲۷۸). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۵۲]

**اللغات**: ﴿استيلاد﴾ د استفعال مصدر دی: خپله مينځه اُم ولد جوړول، اُم ولد ګرځول. ﴿لا يضره﴾ د نصر له بابه د نفي صيغه ده: ضرر او نقصان رسول. ﴿لا تضاف﴾ د افعال له بابه د نفي مجهول صيغه ده: منسوب کېدل، اضافت کېدل (نسبت کېدل). ﴿تستفيد﴾ د استفعال مضارع ده: حاصلول، ترلاسه کول، اخيستل. ﴿مُتقوّمة﴾ د تفعيل د باب اسم مفعول مؤنث دی: مالي قيمت والا، قيمتداره (قيمت لرونکی)، يو شی د دې قابل کېدل چې په عقد کې د هغه لپاره قيمت وټاکل سي.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که خرڅه کړی سوې مينځه تر شپږو مياشتو په کم مودت کي بچی وزېږوي او هغه بچی مړ سي، بيا بائع د هغه د نسب دعوىٰ وکړي (چي دا زما بچی دی)، نو نه نسب ثابتيږي او نه هغه مينځه د بائع اُم ولد ګرځي؛ ځکه چي اُم ولد جوړېدل د نسب د ثبوت تابع دي (يعني مينځه هغه وخت اُم ولد ګرځي کله چي د هغې د بچي نسب ثابت سي)، او په دې مسئله کي د بچي د مرګ په وجه د ثبوت النسب معامله ختمه سوه نو ځکه د استيلاد معامله به هم ختميږي.

او که د بچي مور (مينځه) مړه سي، نو بيا په بچي کي د مدعي (بائع) نسب ثابتيږي؛ ځکه چي د نسب په معامله کي بچی اصل دی او هغه په دې صورت کي موجود دی، نو ځکه د تابع ناموجوديت به د دعوې له مقبويت او له ثبوت النسب څخه مانع نه ګرځي. او د بچي د اصل کېدلو وجه دا ده چي مور د هغه وطرف ته منسوبه کيږي او ويل کيږي "اُمِ ولد" (د بچي مور) او د همدې بچي په وجه مور هم د عتق (آزادۍ) مستحقه کيږي. لکه څرنګه چي نبي کريم ﷺ د ماريه قبطيه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په هکله فرمايلي دي "أَعْتَقَهَا وَلَدُهَا" (يعني د هغې بچي "ابراهيم" هغه آزاده کړه)، او په دې مسئله کي بچی حقيقتاً آزاديږي او د هغه مور د عتق مستحقه کيږي يعني کله چي مالک (بائع) مړ سي نو سمدستي هغه آزاديږي او د مالک تر مرګ وروسته هغه د بيع محل نه پاتيږي، لهذا په دې حواله سره دلته بچی اعلیٰ دی او مور ادنیٰ ده، او ادنیٰ د اعلیٰ تابع کيږي ليکن اعلیٰ د ادنیٰ نه تابع کيږي، نو ځکه بچی اصل دی.

ويراد الثمن الخ: فرمايي: بائع چي له مشتري څخه د دې مينځي په عوض کي کوم ثمن اخيستی وي، هغه ثمن به توله مشتري ته واپس ورکوي او يوه روپۍ به هم نه راګرځوي. دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله فيصله ده؛ ځکه چي د بائع سره د بچي د نسب ثابتېدلو په وجه دا خبره ښکاره سوه چي هغه خپله اُم ولد مينځه خرڅه کړې ده، حال دا چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د اُم ولد ماليت په غصب کي هم متقوّم (قيمت لرونکی) نه دی، عقد خو هلته پرېږده! (په عقد کي خو بالکل متقوّم نه دی)، نو ځکه د

مشتري په قبضه کې دأم ولد مينځې د مړه کېدلو باوجود به پر مشتري د هغې ضمان (تاوان) نه واجبيږي او هغه ته به خپل ټوله ثمن واپس ورکول کيږي.

لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز أم ولد متقوّم مال دی او هغه دلته د مشتري په قبضه کې مړه سوې ده، نو ځکه بائع به د مشتري له ثمن څخه د هغه مينځې د قيمت په اندازه ثمن راګرځوي، او پاته سو بچی نو څرنګه چې هغه د بائع بچی سو، نو ځکه بائع به د بچې د قيمت په اندازه مشتري ته ثمن ورکوي، لنډه دا چې بائع به د مينځې حصه راګرځوي او د بچې حصه به ورکوي. (احسن الهدايه)

## د مشتري له طرفه د مينځې يا بچې تر آزادېدلو وروسته د بائع له طرفه د بچې د نسب دعویٰ کېدل

قَالَ: وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَإِذَا حَبِلَتِ الْجَارِيَةُ فِي مِلْكِ رَجُلٍ فرمايي: او په جامع صغير کې [ذکر سوي] دي: چې که د يو سړي په ملکيت کې مينځه حامله سي فَبَاعَهَا بيا هغه مينځه خرڅ کړي فَوَلَدَتْ فِي يَدِ الْمُشْتَرِيْ او مينځه د مشتري په قبضه کې بچی وزېږوي فَادَّعَى الْبَائِعُ الْوَلَدَ وَقَدْ أَعْتَقَ الْمُشْتَرِيْ الْأُمَّ او بائع د هغه بچې دعویٰ وکړي حال دا چې مشتري [د بچې] مور آزاده کړې وي فَهُوَ ابْنُهُ نو هغه بچی د بائع ځوی ګرځي وَيَرُدُّ عَلَيْهِ بِحِصَّتِهِ مِنَ الثَّمَنِ او بائع به مشتري ته د هغه د حصې ثمن واپس کوي وَلَوْ كَانَ الْمُشْتَرِيْ إِنَّمَا أَعْتَقَ الْوَلَدَ او که چيرې مشتري بچی آزاد کړی وي فَدَعْوَاهُ بَاطِلَةٌ نو [په دې صورت کې] د بائع دعویٰ باطله ده وَوَجْهُ الْفَرْقِ أَنَّ الْأَصْلَ فِي هَذَا الْبَابِ الْوَلَدُ وَالْأُمُّ تَابِعَةٌ لَهُ او وجه د فرق دا ده چې په دې باب کې بچی اصل دی او مور د هغه تابع ده عَلَى مَا مَرَّ لکه [مخکې] چې تېر سوه وَفِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ قَامَ الْمَانِعُ مِنَ الدَّعْوَةِ وَالِاسْتِيلَادِ او په اول صورت کې له دعویٰ او استيلاد څخه مانع موجود دی وَهُوَ الْعِتْقُ فِي التَّبَعِ وَهُوَ الْأُمُّ او هغه په تابع يعني په مور کې آزادي ده فَلَا يَمْتَنِعُ ثُبُوتُهُ فِي الْأَصْلِ وَهُوَ الْوَلَدُ نو ځکه دا عتق به په اصل يعني په بچې کې له ثبوت النسب څخه مانع نه وي وَلَيْسَ مِنْ ضَرُورَاتِهِ او د بچې د آزادېدلو سره د هغه د مور آزادېدل ضروري نه دي [يا: د مور په حق کې د استيلاد ثبوت د ثبوت نسب الولد له ضروریاتو څخه نه دی] كَمَا فِي وَلَدِ الْمَغْرُورِ لکه د دوکه ورکړل سوي کس په بچې کې [چې هم دا حکم دی] فَإِنَّهُ حُرٌّ وَأُمُّهُ أَمَةٌ لِمَوْلَاهَا ځکه هغه

بچی آزاد دی او د هغه مور د خپل مالک مینځه ده وَكَمَا فِي الْمُسْتَوْلَدَةِ بِالنِّكَاحِ او لکه د نکاح په ذریعه له مینځي څخه په پیدا سوي بچي کي [چي هم دا حکم دی] وَفِي الْفَصْلِ الثَّانِي قَامَ الْمَانِعُ بِالْأَصْلِ وَهُوَ الْوَلَدُ او په دویم صورت کي د اصل یعني د بچي په وجه مانع موجود دی فَيَمْتَنِعُ ثُبُوتُهُ فِيهِ وَفِي التَّبَعِ نو ځکه د نسب ثبوت به په اصل [بچي] او تابع [مور] دواړو کي ممتنع وي [په بله وینا: نو ځکه دا به په بچي او تابع (مور) دواړو کي له ثبوتُ النسب والعتق څخه مانع وي] وَإِنَّمَا كَانَ الْإِعْتَاقُ مَانِعًا لِأَنَّهُ لَا يَحْتَمِلُ النَّقْضَ او اعتاق [آزادول] په دې وجه مانع دی ځکه چي هغه د ماتېدلو [باطلېدلو] احتمال نه لري كَحَقِّ اسْتِحْقَاقِ النَّسَبِ وَحَقِّ الِاسْتِيلَادِ لکه د نسب د استحقاق حق او د استیلاد حق فَاسْتَوَيَا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ نو ځکه په دې اعتبار سره دواړه برابره سول ثُمَّ الثَّابِتُ مِنَ الْمُشْتَرِيْ حَقِيقَةُ الْإِعْتَاقِ بیا د مشتري له طرفه حقیقي اعتاق ثابت دی وَالثَّابِتُ فِي الْأُمِّ حَقُّ الْحُرِّيَّةِ لېکن په مور [مینځه] کي صرف د آزادۍ حق ثابت دی وَفِي الْوَلَدِ لِلْبَائِعِ حَقُّ الدَّعْوَةِ او په بچي کي د بائع لپاره [د نسب] د دعوی حق موجود دی وَالْحَقُّ لَا يُعَارِضُ الْحَقِيقَةَ او حق د حقیقت نه معارض کېږي وَالتَّدْبِيرُ بِمَنْزِلَةِ الْإِعْتَاقِ او مدبر جوړول د اعتاق [آزادولو] په درجه کي دي لِأَنَّهُ لَا يَحْتَمِلُ النَّقْضَ ځکه چي تدبیر د ماتېدلو [باطلېدلو] احتمال نه لري وَقَدْ ثَبَتَ بِهِ بَعْضُ آثَارِ الْحُرِّيَّةِ او په تدبیر سره هم د آزادۍ بعضي اثار ثابتیږي وَقَوْلُهُ فِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ يَرُدُّ عَلَيْهِ بِحِصَّتِهِ مِنَ الثَّمَنِ قَوْلُهُمَا او په اول صورت کي د امام محمد رَحِمَهُ الله دا قول "یردّ علیه بحصته من الثمن" د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله قول دی وَعِنْدَهُ بِكُلِّ الثَّمَنِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به [بائع] ټوله ثمن واپس کوي هُوَ الصَّحِيحُ او همدا صحیح ده كَمَا ذَكَرْنَا فِي فَصْلِ الْمَوْتِ لکه څرنګه چي موږ [د مینځي] د مرګ په صورت کي ذکر کړي دي.

**اللغات:** ﴿حَبِلَتْ﴾ د سمع د باب ماضي ده: حامله کېدل، بلاربېدل (مصباح منير. مصباح اللغات)، ﴿مَغْرُور﴾ د نصر له بابه د اسم مفعول صیغه ده: دوکه سوی، فریب خورده (چا ته چي دوکه ورکول سوې وي). "وَلَدُ الْمَغْرُوْر" (د دوکه سوي پلار بچی) ځکه چي د ده پلار ته د ده مور (مینځي) دوکه ورکړې وي،

چي زه آزاده یم. ﴿مستولدة﴾ د استفعال له بابه د مؤنث اسم مفعول صیغه ده: هغه مینځه چي مالک وطي ور سره کړي وي او هغه بچی راوړي، هغه مینځه کوم چي اُم ولد جوړه کړی سوې وي.

﴿تدبیر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: مدبر جوړول، د غلام آزادي پر خپل مرګ معلق کول. یعني خپل غلام ته ویل چي "زما تر مرګ وروسته ته آزاد یې"، ﴿عتق﴾ د ضرب د باب مصدر دی: آزادېدل، آزادي، ﴿حریّة﴾ آزادي، آزاد والی.

**تشریح**: په دې عبارت کي چي کومه مسئله ذکر سوې ده. هغه د جامع صغیر مسئله ده. حاصل یې دا دی که (مثلاً) د خالد په ملکیت کي د هغه مینځه حامله سوه او بیا خالد هغه پر زید خرڅه کړه او هغه مینځي د زید په قبضه کي د بیع له ورځي څخه تر شپږو میاشتو په کم مودت کي بچی وزېږوی، بیا بائع (خالد) د هغه بچي د نسب دعویٰ وکړه او په همدې دوران کي مشتري (زید) د هغه بچي مور یعني مینځه آزاده کړې وه. نو په دې صورت کي هم د بائع دعویٰ معتبره ده او هغه بچی د ده سره ثابت النسب ګرځي، او د مینځي چي کوم ثمن وو، هغه به د مینځي او د هغې د بچي پر قیمت تقسیمول کیږي او د مینځي په حصه کي چي کوم ثمن راسي، هغه به پر مشتري لازم وي یعني بائع به هغه مشتري نه ور کوي او کوم ثمن چي د بچي په حصه کي راسي، هغه به له مشتري څخه ساقطیږي یعني بائع به هغه مشتري ته واپس کوي.

د دې په خلاف که مشتري د مینځي پر ځای د هغې بچی آزاد کړی وي، نو په دې صورت کي د بائع دعویٰ باطلیږي.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دې دواړو صورتونو کي د فرق وجه دا ده چي د "استیلاد" د دعویٰ په باب کي بچی اصل دی او مور (مینځه) د بچي تابع ده. اوس په اول صورت کي یعني کله چي مشتري مور یعني مینځه آزاده کړې وي (په دې صورت کي چي) له دعویٰ او استیلاد څخه کوم شی مانع دی یعني عتق هغه په تابع (مور) کي موجود سو، او تابع ادنیٰ دی. نو ځکه دا به په اصل یعني په بچي کي د دعویٰ له ثبوت څخه مانع نه وي او د هغه په باره کي به د بائع دعویٰ ثابتیږي او بچی به آزادیږي، لیکن د بچي د آزادېدلو سره دا ضروري نه ده چي د هغه مور دي هم د آزادۍ مستحقه (یعني د بائع اُم ولد) وګرځي، لکه څرنګه چي "ولد مغرور" او "ولد مستولده" آزادیږي لیکن د هغو مور نه آزادیږي (یعني اُم ولد نه ګرځي) بلکي مینځه پاتیږي.

د "ولد مغرور" صورت دا دی چي یوه مینځه آزاد سړي ته دوکه ور کړي چي "زه آزاده ښځه یم، زما سره نکاح وکړه!"، کله چي سړی د هغه مینځي سره نکاح وکړي او د هغې بچی پیدا سي، نو د

هغې مالک راسي او دا ثابته کړي چې "دا زما مينځه" ده، نو هغه مينځه د مشتري اُم ولد نه ګرځي او د هغې بچی آزاديږي او مشتري ته به ورکول کيږي (کوم ته چې مينځې دو که ورکړې وه) او مشتري به د بچي قيمت مالک ته ورکوي، نو دلته بچی آزاد سو لېکن د هغه مؤر آزاده نه سوه يعني د مشتري اُم ولد نه سوه بلکي د خپل مالک مينځه وګرځېده.

د "ولد مستولده" صورت دا دی چې يو سړی مثلاً خالد د بل چا د مينځې سره نکاح وکړي او له هغې څخه بچی پيدا سي، نو د بچي نسب د خالد سره ثابتيږي او آزاديږي، لېکن مينځه د خالد اُم ولد نه ګرځي، لنډه دا چې څرنګه په دې دوو صورتونو کي بچی آزاديږي او د هغه مور مينځه پاتيږي، همداسي به په پورتنۍ مسئله کي هم بچی آزاديږي او د هغه مور به مينځه پاتيږي.

وفي الفصل الثاني إلخ: فرمايي: په دويم صورت کي يعني کله چې مشتري بچی آزاد کړي وي، نو په دې صورت کي د اصل يعني د بچي په حق کي د دعویٰ له ثبوت څخه مانع موجود دی، او مور (اُم ولد [مينځه]) د هغه تابع ده، نو ځکه د اصل سره، سره به په تابع يعني په اُم ولد کي هم دا مانع اثر کوي.

او د مشتري له طرفه د مينځې يا بچي آزادول "اعتاق" په دې وجه له "دعویٰ استيلاد" او "ثبوت النسب" څخه مانع دي چې په اعتاق کي د نقض (ماتېدلو) احتمال نسته او هغه د نقض قابل نه دی، لکه څرنګه چې (په بچي کي) د نسب د استحقاق حق او (په مينځه کي) د استيلاد حق قابل نقض نه دی، نو دا دواړه يعني د مشتري اعتاق او د بائع د استحقاق او استيلاد حق په نه ماتېدلو (نه باطلېدلو) کي سره برابر دي لېکن د مشتري فعل يعني اعتاق د حريت له حق څخه راجح دی؛ ځکه چې مشتري حقيقت اعتاق ثابتوي او بائع حق عتق ثابتوي، يعني د مشتري اعتاق ته په دې معنیٰ ترجيح حاصله ده چې د مشتري له طرفه حقيقي اعتاق دی او د بائع له طرفه په مينځ کي صرف د ازای حق او په بچي کي د نسب د دعویٰ حق دي، او د آزادۍ او نسب حق د حقيقي آزادۍ نه سي معارض کېدای، او حقيقت له حق څخه اقویٰ دی، نو په همدې وجه که مشتري بچی آزاد کړي نو دا آزادي به په مور کي اثر نه کوي.

او په پورتنۍ مسئله کي چې کوم حکم د اعتاق دی هغه حکم د تدبير (مدبر جوړولو) هم دی؛ ځکه چې د اعتاق په څېر په هغه کي هم د نقض احتمال نسته او په تدبير سره هم د اعتاق بعضي اثار (مثلا د بيع عدم جواز او داسي نور) ثابتيږي.

وقوله في الفصل الأول إلخ: فرمايي چې د پورتنۍ مسئله په اول صورت کي چې امام محمد رَحِمَهُ الله "يَرُدُّ عَلَيْهِ بِحِصَّتِهِ مِنَ الثَّمَنِ" ويلي دي، دا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول دی، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله

په نېز حکم دا دی چي بائع به مشتري ته تړوله ثمن واپس کوي، همدا صحيح ده، لکه څرنګه چي د مينځي دمړه کېدلو په صورت کي هم دامام صاحب رَحِمَهُ الله همدا قول بيان سو.

## د غلام تر خرڅولو وروسته د هغه د بچي کېدلو دعویٰ کول

قَالَ: وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا وُلِدَ عِنْدَهُ فرمايي: او که څوک داسي غلام خرڅ کړي کوم چي د هغه په قبضه کي پيدا سوی وي وَبَاعَهُ الْمُشْتَرِي مِنْ آخَرَ او مشتري هغه پر بل چا خرڅ کړي ثُمَّ ادَّعَاهُ الْبَائِعُ بيا اول بائع دَ هغه [د نسب] دعویٰ وکړي فَهُوَ ابْنُهُ وَيَبْطُلُ الْبَيْعُ نو هغه غلام د ده څوی ګرځي او بيع باطليږي لِأَنَّ الْبَيْعَ يَحْتَمِلُ النَّقْضَ ځکه چي بيع د ماتېدلو [باطلېدلو] احتمال لري وَمَا لَهُ مِنْ حَقِّ الدَّعْوَةِ لَا يَحْتَمِلُهُ ليکن بائع لره چي کوم د دعوی حق دی هغه د نقض [باطليدلو] احتمال نه لري فَيَنْتَقِضُ الْبَيْعُ لِأَجْلِهِ نو ځکه د دې په وجه به بيع باطليږي وَكَذَا إِذَا كَاتَبَ الْوَلَدَ أَوْ رَهَنَهُ أَوْ آجَرَهُ أَوْ كَاتَبَ الْأُمَّ أَوْ رَهَنَهَا أَوْ زَوَّجَهَا ثُمَّ كَانَتِ الدَّعْوَةُ همدارنګه که مشتري دا بچی مکاتب جوړ کړي يا هغه په رهن کي ورکړي يا هغه په أجرت ورکړي يا د هغې مور مکاتبه جوړه کړي يا هغه په رهن کي ورکړي يا [ديو چا سره] د هغې نکاح وکړي بيا دعویٰ پېښه سي [يعني تر دې وروسته بائع دعویٰ وکړي] لِأَنَّ هٰذِهِ الْعَوَارِضَ تَحْتَمِلُ النَّقْضَ ځکه چي دا عوارض د نقض [باطلېدلو] احتمال لري فَيَنْتَقِضُ ذٰلِكَ كُلُّهُ وَتَصِحُّ الدَّعْوَةُ نو ځکه دا ټوله به باطليږي او دعویٰ به صحيح کيږي بِخِلَافِ الْإِعْتَاقِ وَالتَّدْبِيرِ په خلاف د آزادولو او مدبر جوړولو عَلٰى مَا مَرَّ لکه [مخکي] چي تېر سوه وَبِخِلَافِ مَا إِذَا ادَّعَاهُ الْمُشْتَرِي أَوَّلًا ثُمَّ ادَّعَاهُ الْبَائِعُ او په خلاف د هغه صورت کله چي اول مشتري د بچي [د نسب] دعویٰ وکړي بيا بائع د هغه دعویٰ وکړي وَحَيْثُ لَا يَثْبُتُ النَّسَبُ مِنَ الْبَائِعِ نو د بائع سره [د بچي] نسب نه ثابتيږي لِأَنَّ النَّسَبَ الثَّابِتَ مِنَ الْمُشْتَرِي لَا يَحْتَمِلُ النَّقْضَ ځکه د مشتري سره ثابت سوی نسب د نقض احتمال نه لري فَصَارَ كَإِعْتَاقِهِ نو دا د مشتري د آزادولو په څېر سو.

**اللغات**: ﴿نَقْض﴾ د نصر د باب مصدر دی: ماتول، ختمول، باطلول (معجم لغة الفقهاء)، شارحينو لازمي استعمال کړی دی يعني: ماتېدل، باطلېدل، ﴿كَاتَبَ﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: مکاتب جوړول،

مکاتب ګرځول، ﴿آجر﴾ د افعال د باب ماضي ده: په اُجرت (په مزدوري) ورکول، په کرايه ورکول، ﴿تدبير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی، د تېر عبارت په لغاتو کي د دې معنیٰ ذکر سوه.

**تشريح : صورت د مسئلې** : دا دی که د خالد مينځه بچی وزېږوي او خالد هغه پر زيد خرڅ کړي، بيا زيد هغه پر ادريس خرڅ کړي، تر دې وروسته اول بائع (يعني خالد) ووايي چي "دا زما بچی دی او زما له نطفې څخه پيدا سوی دی"، نو د خالد دا دعویٰ به قبلول کيږي او بيع به باطليږي؛ ځکه چي په بيع کي د نقض او باطلېدلو احتمال سته او د بائع په دعویٰ کي د دې احتمال نسته، نو ځکه غير محتمل به له محتمل څخه راجح وي او بيع به باطليږي.

او که مشتري (زيد) دا بچی يا د هغه مور مکاتبه جوړه کړي، يا يې په رهن او اُجرت کي ورکړي، نو هم پورتنی حکم دی؛ ځکه چي په دې عوارضو يعني په کتابت، اُجرت او داسي نورو کي هم د نقض او بطلان احتمال سته، نو ځکه د مدعي د دعوې مخته به دا ټوله باطليږي او دعویٰ به پر دې ټولو غالبه وي.

ها! که مشتري دا بچی آزاد کړي يا يې مدبر جوړ کړي، نو بيا د بائع دعویٰ معتبره نه ده؛ ځکه چي اعتاق او تدبير له دې دعوې څخه قوي دي او په هغوی کي د نقض احتمال نسته، نو ځکه د هغوی مخته به د بائع دعوې لره هيڅ اثر نه وي. همدارنګه که د بائع له دعوې څخه مخکي مشتري په خپله د هغه بچي د نسب دعویٰ کړې وي، نو په دې صورت کي هم د بائع دعویٰ بې اثره ګرځي؛ ځکه چي د مشتري په دعویٰ سره هغه بچی د مشتري سره ثابت النسب وګرځېدی او څرنګه چي په دې کي د نقض امکان نسته، نو ځکه څرنګه چي د مشتري د اعتاق په صورت کي د بائع دعویٰ معتبره او مقبوله نه ګرځي، همداسي به د مشتري د دعویٰ کولو په صورت کي هم د بائع دعویٰ نه قبلول کيږي. (احسن الهدايه)

## په دوو غبرګولي بچيانو کي د يوه د نسب دعویٰ کول

قَالَ: وَمَنْ ادَّعٰی نَسَبَ أَحَدِ التَّوْأَمَيْنِ فرمايي: او که څوک له دوو غبرګوليو څخه د يوه بچي د نسب دعویٰ وکړي ثَبَتَ نَسَبُهُمَا مِنْهُ نو د دواړو نسب د هغه سره ثابتيږي لِأَنَّهُمَا مِنْ مَاءٍ وَاحِدٍ ځکه چي دوی دواړه له يوې نطفې څخه [پيدا سوي] دي فَمِنْ ضَرُورَةِ ثُبُوتِ نَسَبِ أَحَدِهِمَا ثُبُوتُ نَسَبِ الْآخَرِ نو د يوه د نسب ثابتېدلو سره د بل يوه نسب ثابتېدل ضروري دي [يعني په دوی کي د يوه غبرګولي د نسب په ثابتېدلو سره خامخا د بل غبرګولي نسب هم ثابتيږي] وَهٰذَا لِأَنَّ التَّوْأَمَيْنِ وَلَدَانِ بَيْنَ وِلَادَتِهِمَا أَقَلُّ مِنْ سِتَّةِ

أَشْهُرٍ او دا حکم ځکه دی چې غبرګولیان هغه بچیو ته وایې چې د هغوی دواړو د پیدایښت په مینځ کې تر شپږو میاشتو کمه فاصله وي فَلَا يُتَصَوَّرُ عُلُوقُ الثَّانِي حَادِثًا نو ځکه د دویم بچي حمل نیول کېدل به نه متصور کیږي [په بله وینا: نو ځکه د دویم بچي علوق وروسته ممکن نه دی] لِأَنَّهُ لَا حَبَلَ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ ځکه چې تر شپږو میاشتو په کم مودت کې حامله کېدل نشته [په بله وینا: ځکه چې د حمل مودت له شپږو میاشتو څخه کم نه دی] وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: إِذَا كَانَ فِي يَدِهِ غُلَامَانِ تَوْأَمَانِ وُلِدَا عِنْدَهُ او په جامع صغیر کې [ذکر سوي دي]: که چیرې د یو سړي په قبضه کې دوه غلامان وي او دوی دواړه د هغه سره پیدا سوي وي فَبَاعَ أَحَدَهُمَا وَأَعْتَقَهُ الْمُشْتَرِي او هغه له دوی څخه یو غلام خرڅ کړي او مشتري هغه آزاد کړي ثُمَّ ادَّعَى الْبَائِعُ الَّذِي فِي يَدِهِ بیا بائع د هغه غلام [د نسب] دعویٰ وکړي کوم چې د ده په قبضه وي فَهُمَا ابْنَاهُ نو هغه دواړه د ده [بائع] ځامن ګرځي وَبَطَلَ عِتْقُ الْمُشْتَرِي او د مشتري آزادي باطلیږي لِأَنَّهُ لَمَّا ثَبَتَ نَسَبُ الْوَلَدِ الَّذِي عِنْدَهُ لِمُصَادَفَةِ الْعُلُوقِ وَالدَّعْوَةِ مِلْكَهُ إِذِ الْمَسْأَلَةُ مَفْرُوضَةٌ فِيهِ ځکه کله چې د بائع [مدعي] په ملکیت کې د علوق او دعویٰ د واقع کېدلو په وجه د هغه بچي [غلام] نسب ثابت سو کوم چې د بائع په قبضه کې دی (ځکه چې مسئله په همدې صورت کې فرض سوې ده [چې علوق او دعویٰ دواړه د بائع په ملکیت کې واقع سوي دي]) ثَبَتَ بِهِ حُرِّيَّةُ الْأَصْلِ فِيهِ نو په دې سره په هغه بچي کې اصلي حریت [پیدایښتي آزادي] ثابته سوه فَيَثْبُتُ نَسَبُ الْآخَرِ وَحُرِّيَّةُ الْأَصْلِ فِيهِ ضَرُورَةً نو ځکه د بل بچي نسب او په هغه کې اصلي حریت به هم بالضرور ثابتیږي لِأَنَّهُمَا تَوْأَمَانِ ځکه چې دوی دواړه غبرګولیان دي فَتَبَيَّنَ أَنَّ عِتْقَ الْمُشْتَرِي وَشِرَاءَهُ لَاقَى حُرِّيَّةَ الْأَصْلِ نو [اوس] دا ښکاره سوه چې د مشتري آزادول او د هغه رانیول د اصل آزاد سره ملاقي سول فَبَطَلَ نو ځکه به د مشتري آزادول [اعتاق] باطلیږي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ الْوَلَدُ وَاحِدًا په خلاف د هغه صورت کله چې بچی یو وي لِأَنَّ هُنَاكَ يَبْطُلُ الْعِتْقُ فِيهِ مَقْصُودًا لِحَقِّ دَعْوَةِ الْبَائِعِ ځکه چې په دې صورت کې د بائع د دعوې د حق په وجه قصداً عتق باطلیږي وَهُنَا ثَبَتَ تَبَعًا لِحُرِّيَّتِهِ فِيهِ حُرِّيَّةُ الْأَصْلِ او دلته [د غبرګولیو په مسئله کې] د اصلي حریت په وجه د مشتري د اعتاق

باطلېدل تبعاً ثابت سوه فَافْتَرَقَا لهذا دواړه مسئلې سره جلا سوې [يعني په دواړو کې فرق ثابت سو] وَلَوْ لَمْ يَكُنْ أَصْلُ الْعُلُوقِ فِي مِلْكِهِ او که چيرې اصل علوق د بائع په ملکيت نه وي واقع سوی ثَبَتَ نَسَبُ الْوَلَدِ الَّذِي عِنْدَهُ نو د هغه بچي نسب [د بائع سره] ثابتيږي کوم چي د ده سره وي وَلَا يَنْقُضُ الْبَيْعَ فِيمَا بَاعَ او په خرڅ کړده غلام کې بيع نه باطليږي لِأَنَّ هٰذِهِ دَعْوَةُ تَحْرِيرٍ ځکه چي دا د تحرير [آزادولو] دعویٰ ده لِانْعِدَامِ شَاهِدِ الِاتِّصَالِ د شاهد اتصال د نشتوالي په وجه [يعني ځکه چي په دې صورت کې د بائع د ملکيت سره د علوق متصل کېدل نسته] فَيَقْتَصِرُ عَلٰى مَحَلِّ وِلَايَتِهِ نو ځکه دا دعویٰ به د بائع پر محل ولايت منحصر وي [يعني صرف د هغه د ولايت تر محل پوري به محدود وي].

**اللغات:** ﴿تـوأمين﴾ غبرګوليان، دوه غبرګولي بچيان. ﴿حَبَل﴾ د سمع د باب مصدر دی: حامله کېدل، بلاربېدل. ﴿مصادفة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: واقع کېدل، يو شی د بل شي سره مخامخ کېدل. ﴿لاقٰی﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: ملاقي کېدل، ور سره يو ځای کېدل، ور سره مخامخ کېدل، (واقع کېدل). ﴿تحرير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: آزادول. ﴿انعدام﴾ د انفعال د باب مصدر دی: نه کېدل، نه موجودېدل، نشتوالی.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که يو سړی په دوو غبرګوليو بچيانو کې د يوه بچي د نسب دعویٰ وکړي چي "صرف دا يو زما بچی دی"، نو د هغه سره د دواړو بچيانو نسب ثابتيږي؛ ځکه چي دواړه "غبرګوليان" دي او له يوې نطفې څخه پيدا سوي دي، نو ځکه د دويم بچي علوق به نوی (حادث) نه وي او کوم حکم چي د يوه بچي وي هغه به د دويم بچي هم وي، يعني کله چي يو بچی د هغه سړي سره ثابت النسب ګرځي نو خامخا به دويم بچی هم د هغه سره ثابت النسب ګرځي.

په دې سلسله کې د جامع صغير روايت دا دی چي که د يو سړي دوه غبرګولي غلامان وي کوم چي د ده په قبضه کې پيدا سوي وي (يعني د هغو عُلوق د ده په ملکيت کې تر سره سوی وي)، او هغه سړی له دوی څخه يو غلام خرڅ کړي او مشتري هغه آزاد کړي، بيا هغه سړی (بائع) د نا خرڅ کړی سوي غلام په هکله دا دعویٰ وکړي چي "دا زما بچی دی"، نو په دې صورت کې هم دا دواړه غلامان (بچيان) د هغه سره ثابت النسب ګرځي او د مشتري اعتاق (آزادول) باطليږي؛ ځکه کله چي په يوه غبرګولي غلام (نا خرڅ کړی سوي غلام) کې د بائع نسب ثابت سي او هغه آزاد و ګرځي نو د هغه په وجه په دويم غبرګولي غلام (خرڅ کړی سوي غلام) کې هم خامخا د هغه نسب ثابتيږي او هغه آزاد ګرځي؛ ځکه چي دواړه له يوې نطفې څخه پيدا سوي دي.

او څرنګه چې دوی له مخکې څخه آزاد دي، نو ځکه د مشتري له طرفه د دويم غلام آزادول باطل دي؛ ځکه په هغه کې هم د بائع دعوىٰ مؤثره ده او د بائع سره يې نسب ثابت دی.

او که غلام صرف يو وي يعني دوه غبرګولي غلامان نه وي بلکې يوازې غلام وي، او مالک هغه خرڅ کړي، بيا مشتري هغه آزاد کړي او تر دې وروسته بائع (مالک) د هغه د نسب دعوىٰ وکړي، نو په دې صورت کې هم عتق باطليږي، ليکن په دې صورت کې د بائع د دعوىٰ کولو په وجه قصداً (او اصالتاً) عتق باطليږي، او د غبرګوليو په مسئله کې د نا خرڅ کړی سوي غلام په متابعت کې عتق باطليږي، او همدا په دواړو مسئلو کې فرق دی، يعني په يوه مسئله کې د عتق بطلان اصالةً دی او په بله مسئله کې تبعاً دی.

او که چيري د غبرګولي غلامانو علوق د بائع په ملکيت کې نه وي ترسره سوی (يعني د دوی مور د هغه په ملکيت کې نه وي حامله سوې) بلکې صرف د دوی پيدايش د بائع په ملکيت کې سوی وي، او بائع له دوی څخه يو خرڅ کړی او مشتري هغه آزاد کړي، بيا بائع په دوی کې د يوه د نسب دعوىٰ وکړي، نو په دې صورت کې د بائع سره د هغه غلام نسب ثابتيږي کوم چې د ده په قبضه کې وي (يعني په دې صورت کې نا خرڅ کړی سوی غلام د بائع سره ثابتُ النسب ګرځي)، او کوم غلام چې بائع خرڅ کړی وي، په هغه کې د بائع دعوىٰ مؤثره نه ګرځي او نه د هغه بيع باطليږي؛ ځکه په هغه غلام کې چې کومه دعوىٰ ده، هغه د تحرير دعوىٰ ده، د استيلاد دعوىٰ نه ده، ځکه علوق کوم چې د استيلاد علامت دی، هغه د بائع د ملکيت سره متصل نه دی (يعني عُلوق د بائع په ملکيت کې نه دی تر سره سوی)، نو ځکه د بائع دعوىٰ به صرف د بائع تر محل ولايت يعني د هغه په قبضه کې د موجود غلام تر ذات پوري محدود پاتيږي او بل غلام ته به نه متعدي کيږي.

## د نسب په اقرار کې رجوع کول

قَالَ: وَإِذَا كَانَ الصَّبِيُّ فِي يَدِ رَجُلٍ فرمايي: او که چيري يو کوچنی د يو سړي په قبضه کې وي فَقَالَ: هُوَ ابْنُ عَبْدِي فُلَانٍ الْغَائِبِ او هغه سړی [قابض] ووايي: چې دا زما د فلانکي غائب غلام ځوی دی ثُمَّ قَالَ: هُوَ ابْنِي بيا هغه [قابض] ووايي: چې دا زما ځوی دی لَمْ يَكُنِ ابْنَهُ أَبَدًا نو دا بچی هيڅکله هم د هغه [قابض] ځوی نه ګرځي وَإِنْ جَحَدَ الْعَبْدُ أَنْ يَكُونَ ابْنَهُ که څه هم غلام له دې څخه انکار وکړي چې هغه زما ځوی دی وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا●:

● القول الراجح: قول الإمام أعظم رَحِمَهُ الله، لأن قول الإمام قول المتون، وأيضا ظهر من دأب المصنف رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الكنز (ص:٢٨٥)، وكذا في تنوير الأبصار (ج:٤، ص:٤٩٦). [القول الراجح ج:٢، ص:١٩٤]

إِذَا جَحَدَ الْعَبْدُ او صاحبيين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي كه غلام انكار وكړي فَهُوَ ابْنُ الْمَوْلَى نو هغه د مالك [قابض] ځوى ګرځي وَعَلَى هَذَا الْخِلَافِ إِذَا قَالَ: هُوَ ابْنُ فُلَانٍ وُلِدَ عَلَى فِرَاشِهِ ثُمَّ ادَّعَاهُ لِنَفْسِهِ او پر همدغه اختلاف دي كله چي هغه [قابض] داسي ووايي: چي دا د فلانكي سړي بچی دی او د هغه پر بستر [يعني د هغه له نطفې څخه] پيدا سوى دى بيا د خپل ځان لاره د هغه دعوىٰ وكړي لَهُمَا: أَنَّ الْإِقْرَارَ يَرْتَدُّ بِرَدِّ الْعَبْدِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چي اقرار د غلام په ردولو سره رديږي فَصَارَ كَأَنْ لَمْ يَكُنِ الْإِقْرَارُ نو داسي سوه لكه اقرار چي سوى نه وي وَالْإِقْرَارُ بِالنَّسَبِ يَرْتَدُّ بِالرَّدِّ او د نسب اقرار په ردولو سره رديږي وَإِنْ كَانَ لَا يَحْتَمِلُ النَّقْضَ كه څه هم هغه د نقض [باطلېدلو] احتمال نه لري أَلَا تَرَى أَنَّهُ يَعْمَلُ فِيهِ الْإِكْرَاهُ وَالْهَزْلُ آيا ته نه ګورې! چي په دې كي اكراه او هزل خپل عمل كوي فَصَارَ كَمَا إِذَا أَقَرَّ الْمُشْتَرِي عَلَى الْبَائِعِ بِإِعْتَاقِ الْمُشْتَرَى نو دا داسي سوه لكه مشتري چي پر بائع د رانيول سوي غلام د آزادولو دعوىٰ وكړي [يعني داسي سوه لكه مشتري چي دا اقرار وكړي چي بائع خپل مبيع غلام له خرڅولو څخه مخكي آزاد كړى دى] فَكَذَّبَهُ الْبَائِعُ لېكن بائع د هغه تكذيب وكړي ثُمَّ قَالَ: أَنَا أَعْتَقْتُهُ بيا مشتري ووايي: چي ما هغه آزاد كړى دى يَتَحَوَّلُ الْوَلَاءُ إِلَيْهِ نو ولاء د مشتري وطرف ته منتقل كيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا صَدَّقَهُ په خلاف د هغه صورت كله چي غلام د مالك تصديق وكړي [نو په دې صورت كي هم د مالك دعوىٰ معتبره نه ده او د هغه سره د بچي نسب نه ثابتيږي] لِأَنَّهُ يَدَّعِي بَعْدَ ذَلِكَ نَسَبًا ثَابِتًا مِنَ الْغَيْرِ ځكه چي هغه تر دې وروسته [يعني د غلام له تصديق كولو څخه وروسته] د داسي نسب مدعي دى كوم چي د بل چا [يعني د غلام] سره ثابت دى وَبِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يُصَدِّقْهُ وَلَمْ يُكَذِّبْهُ او په خلاف د هغه صورت كله چي غلام نه د مالك تصديق وكړي او نه د هغه تكذيب وكړي لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِهِ حَقُّ الْمُقَرِّ لَهُ عَلَى اعْتِبَارِ تَصْدِيقِهِ ځكه چي [په دې صورت كي] د بچي سره د مقرلهٔ [غلام] حق متعلق سو، د هغه [غلام] د تصديق كولو په اعتبار سره فَيَصِيرُ كَوَلَدِ الْمُلَاعَنَةِ فَإِنَّهُ لَا يَثْبُتُ نَسَبُهُ مِنْ غَيْرِ الْمُلَاعِنِ نو هغه بچی به داسي وي لكه د ملاعنه ښځي بچی، چي له ملاعن څخه بغير د هغه نسب [د بل چا سره] نه ثابتيږي لِأَنَّ لَهُ أَنْ يُكَذِّبَ نَفْسَهُ ځكه چي ملاعن ته دا اختيار وي

چي د خپل ځان تکذيب وکړي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ النَّسَبَ مِمَّا لَا يَحْتَمِلُ النَّقْضَ بَعْدَ ثُبُوتِهِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي نسب له هغه شيانو څخه دى کوم چي تر ثابتېدلو وروسته د باطليدلو احتمال نه لري وَالْإِقْرَارُ بِمِثْلِهِ لَا يَرْتَدُّ بِالرَّدِّ او د هغه په مثل سره چي کوم اقرار وي هغه [هم] په ردولو سره نه رديږي فَبَقِيَ نو ځکه اقرار به باقي پاته وي فَيَمْتَنِعُ دَعْوَتُهُ نو د مُقِر دعوى به ممتنع وګرځي كَمَنْ شَهِدَ عَلَى رَجُلٍ بِنَسَبِ صَغِيرٍ لکه څوک چي د يو سړي په خلاف د يو کوچني د نسب ګواهي ورکړي فَرُدَّتْ شَهَادَتُهُ لِتُهْمَةٍ بيا يو د تهمت په وجه د هغه ګواهي رد کړی سي ثُمَّ ادَّعَاهُ لِنَفْسِهِ تر دې وروسته هغه [ګواهي ورکونکی] د خپل ځان لپاره د هغه کوچني د نسب دعوىٰ وکړي وَهٰذَا لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِهِ حَقُّ الْمُقَرِّ لَهُ عَلَى اعْتِبَارِ تَصْدِيقِهِ او دا ځکه چي د مقرلهٗ د تصديق په وجه د هغه بچي سره د ده [مقرلهٗ] حق متعلق سو حَتّٰى لَوْصَدَّقَهُ بَعْدَ التَّكْذِيبِ تر دې که مقرلهٗ تر تکذيب وروسته د هغه تصديق وکړي يَثْبُتُ النَّسَبُ مِنْهُ نو هم د هغه سره نسب ثابتيږي وَكَذَا تَعَلَّقَ بِهِ حَقُّ الْوَلَدِ او همدارنګه د اقرار په وجه [د هغه سره] د بچي حق هم متعلق سو فَلَا يَرْتَدُّ بِرَدِّ الْمُقَرِّ لَهُ نو ځکه د مقرلهٗ په ردولو سره به نسب نه رديږي وَمَسْأَلَةُ الْوَلَاءِ عَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ او د ولاء مسئله هم پر دغه اختلاف ده وَلَوْسُلِّمَ او که هغه تسليم کړی سي [يعني که بيا هم موږ هغه متفق عليها ومنو] فَالْوَلَاءُ قَدْ يَبْطُلُ بِاعْتِرَاضِ الْأَقْوٰى نو ولاء ځيني وخت د اقوى [زيات قوي] په پېښ کېدلو سره باطليږي كَجَرِّ الْوَلَاءِ مِنْ جَانِبِ الْأُمِّ إِلٰى قَوْمِ الْأَبِ لکه د مور له طرفه د پلار د قوم طرف ته د ولاء کشېدل [منتقل کېدل] وَقَدِ اعْتَرَضَ عَلَى الْوَلَاءِ الْمَوْقُوفِ مَا هُوَ أَقْوٰى او [دلته] پر موقوفه ولاء داسي شی واقع سوی دی کوم چي اله هغه څخه [زيات قوي دی وَهُوَ دَعْوَى الْمُشْتَرِيْ او هغه د مشتري دعوىٰ ده فَيَبْطُلُ بِهِ نو ځکه د دې دعوې په وجه به موقوفه ولاء باطليږي بِخِلَافِ النَّسَبِ په خلاف د نسب عَلٰى مَا مَرَّ لکه اصغکي] چي تېر سوه وَهٰذَا يَصْلُحُ مَخْرَجًا عَلٰى أَصْلِهِ فِيمَنْ يَبِيعُ الْوَلَدَ وَيَخَافُ عَلَيْهِ الدَّعْوَةَ بَعْدَ ذٰلِكَ او دا مسئله د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر أصول د هغه کس په حق کي د وتلو لاره [حيله] جوړېدای سي کوم چي خپل يو کوچنی غلام خرڅ کړي او ده ته دا بېره وي چي تر بيع [اخرڅولو] وروسته به پر

هغه د نسب دعویٰ وسي فَيَقْطَعُ دَعْوَاهُ إِقْرَارُهُ بِالنَّسَبِ لِغَيْرِهِ نو هغه کس د بل چا لپاره د نسب په اقرار کولو سره د هغه [مُدعي] دعویٰ قطع کړي.

**اللغات**: ﴿جحد﴾ د فتح د باب ماضي ده: انکار کول، ﴿فراش﴾ بستر، بستره، ﴿يرتدّ﴾ د افتعال د باب مضارع ده: رد کېدل، واپس کېدل، ختمېدل، ﴿إكراه﴾ د افعال د باب مصدر دی: په یو چا په زوره یو کار کول، مجبوره کول، ﴿هزل﴾ د ضرب د باب مصدر دی: ټوکي او مسخرې کول، د مسخرو په توګه یوه خبره کول، ﴿مشترٰى﴾ د افتعال د باب مفعول دی: رانیول سوی، ﴿كذّبه﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: تکذیب کول، د یو چا خبره درواغ ګرځول، درواغجن ګرځول، ﴿مُقَرّ لَهٗ﴾ هغه کس چي د هغه لپاره (دیو شي) اقرار سوی وي، چي هغه دلته غلام دی، ﴿يتحوّل﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: ګرځېدل، اوښتل، منتقل کېدل، ﴿ولاء﴾ د غلام میراث (باقي مانده ترکه)، ﴿ملاعنة﴾ د مفاعلې له بابه د اسم فاعل مؤنث صیغه ده: لعان کونکې ښځه، ﴿اعتراض﴾ د افتعال د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي چي له هغه څخه ځیني دا دي: پېښ کېدل، مخته راتلل، واقع کېدل.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که د یو سړي (مثلاً د خالد) په قبضه کي یو کوچنی وي او هغه اول داسي ووایي چي "دا کوچنی زما د فلانکي غلام ځوی دی کوم چي اوس غائب دی (یو خوا ته تللی دی)"، تر دې وروسته ووایي چي "دا زما ځوی دی"، نو په دې صورت کي هغه کوچنی د ده (خالد) ځوی نه ګرځي، که څه هم د کوم غائب غلام لپاره چي ده اقرار کړی وي، هغه انکار وکړي او ووایي چي "دا زما ځوی نه دی". او د دې غائب (مقرلهٗ) له طرفه دلته درې احتمالات سته: ① تصدیق، ② تکذیب، ③ سکوت، د تصدیق او سکوت په صورت کي خو په هیڅ حال کي هم هغه کوچنی د مدعي (خالد) ځوی نه ګرځي، او د تکذیب په صورت کي اختلاف دی، یعني د امام صاحب رَحِمَهُ اللہ په نېز هغه د مدعي (خالد) ځوی نه ګرځي لېکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا اللہ په نېز په دې صورت کي هغه کوچنی د مدعي ځوی ګرځي.

**د صاحبینو دلیل**: دا دی چي کله مدعي اول د خپل غلام لپاره د دې بچي اقرار وکړی او هغه دغه اقرار رد کړی، نو اقرار رد سو، او کله چي اقرار رد او ختم سو، نو د مدعي د دعوې د مقبولیت لاره بالکل صفا سوه. او پاته سو دا سوال چي په نسب کي د نقض او بطلان احتمال نسته لېکن په اقرار بالنسب کي خو د رد او نقض احتمال سته لکه څرنګه چي په دې کي د اکراه او هزل امکان سته، یعني که یو څوک په بل چا په زوره دا اقرار وکړي چي ته ووایه! "فلانکی کوچنی زما ځوی دی" یا یو څوک د مسخرو

په توګه ديو کوچني په هکله ووايي چې "هغه زما ځوی دی"، نو دا اقرار باطليږي او نسب نه ثابتيږي، همداسي به په دې مسئله کې هم دمقرلهٔ يعني دغلام په ردولو سره د مالک (مدعي) له طرفه د نسب اقرار باطليږي او هغه بچی به دغلام سره ثابت النسب نه ګرځي او د نسب ثابتېدلو په حواله سره به دمدعي (خالد) دعوی معتبره وي.

ددې يو مثال دا هم دی چې که زيد له حامد څخه يو غلام رانيسي، بيا مشتري يعني زيد ووايي چې "بائع (حامد) له بيع څخه مخکې دا غلام آزاد کړی دی" لېکن بائع دهغه تکذيب وکړي، نو په دغه تکذيب سره د مشتري اقرار بالاعتاق باطليږي او تر دې وروسته که مشتري په خپله ووايي چې "ما هغه آزاد کړی دی"، نو دا اعتاق (آزادول) معتبر ګرځي (يعني غلام آزاديږي) او د دې غلام ولاء مشتري ته حاصليږي. لنډه دا چې څرنګه دبائع په تکذيب سره دلته دمشتري اقرار بالاعتاق باطليږي، همداسي به په پورتنۍ مسئله کې هم دمقرلهٔ (غلام) په تکذيب سره دمدعي يعني د مالک (خالد) اقرار بالنسب باطليږي.

بخلاف ما إذا صدقه إلخ: فرمايي: که چيري مقرلهٔ (غلام) دخپل مالک تصديق وکړي او داسي ووايي چې "هو! واقعتاً دا زما ځوی دی" يا مقرلهٔ سکوت اختيار کړي، نو په دې دواړو صورتونو کې د مالک (خالد) سره دهغه بچي نسب نه ثابتيږي؛ ځکه چې د تصديق په صورت کې کوچنی دمقرلهٔ ځوی وګرځېدی او هغه له نسب ثابتېدلو څخه مستغني سو. او پاته سو سکوت نو هغه هم تصديق ګرځول کيږي او دهغه سره دمقرلهٔ حق متعلق کيږي او دسکوت په صورت کې هم بچی دهغه ځوی ګرځي. لکه څرنګه چې دملاعنه ښځې دبچي نسب له ملاعن څخه بغير دبل چا سره نه ثابتيږي: ځکه چې ملاعن ته دا اختيار دی چې دخپل ځان تکذيب وکړي او لعان باطل کړي او هغه بچی واخلي، نو همداسي به د تصديق او سکوت په صورت کې هم دمذکوره کوچني نسب له مقرلهٔ څخه بغير دبل چا سره نه ثابتيږي.

**دامام صاحب دليل**: دا دی چې په نسب کې بالاتفاق دنقض او بطلان احتمال نسته، لهذا دنسب په باره کې چې کوم اقرار کيږي، هغه به هم له نقض او بطلان څخه پاک وي، او که څه هم مقرلهٔ هغه رد کړي، لېکن هغه به نه رديږي، يعني دمقرلهٔ په حق کې خو به رديږي لېکن دمُقِر په حق کې به معتبر وي؛ ځکه همدا دفقه قاعده ده چې "إِقْرَارُ الْمُقِرِّ حُجَّةٌ فِيْ حَقِّهِ خَاصَّةً" (يعني داقرار کونکي اقرار صرف دهغه په حق کې حجت وي)، نو ځکه په دې مسئله کې به هم د مالک اقرار بالنسب لغيره د

هغه په حق کي حجت وي او د دې کوچني په هکله به د مالک د نسب دعویٰ ردول کيږي. د دې مثال داسي دی لکه نعمان او سلمان چي سره ورونه وي بيا مثلاً سلمان دا ګواهي ورکړي چي "ادريس د نعمان ځوی دی". څو ځرنګه چي سلمان د نعمان ورور دی او دا تهمت سته چي سلمان به د هغه د فايدې لپاره د دروغو ګواهي ورکړې وي، نو ځکه د تهمت په وجه د نعمان په حق کي د هغه ګواهي ردول کيږي لېکن په خپله د سلمان په حق کي هغه ګواهي باقي ده او که سلمان په خپله دا دعویٰ وکړي چي "ادريس زما ځوی دی" نو د هغه دا دعویٰ باطليږي، لهذا همداسي به په پورتنۍ مسئله کي هم د مُقر د نسب دعویٰ باطليږي. او په اقرار بالنسب کي د ردّ او نقض د احتمال نه کېدلو يوه وجه دا هم ده چي که مورږ د مقرلهٔ تصديق ومنو، نو د اقرار په وجه د مُقربهٖ (کوچني) سره د مقرلهٔ حق متعلق کيږي همدارنګه مُقر بهٖ هم د مقرلهٔ سره متعلق کيږي، همدا وجه ده که مقرلهٔ تر تکذيب وروسته د مُقر تصديق وکړي، نو بيا هم د مقرلهٔ سره هغه کوچنی ثابتُ النسب ګرځي. لنډه دا چي په پورتنۍ مسئله کي د مقرلهٔ سره د کوچني د نسب ثابتېدلو امکان او احتمال زيات دی، نو په دې وجه به هم د مدعي دعویٰ معتبره نه وي او هغه کوچنی به د ده ځوی نه ګرځي.

ومسألةُ الولاء إلخ: صاحبينو رَحِمَهُمَا الله پورتنۍ مسئله د ولاء پر مسئله قياس کړې وه، په دې عبارت سره د هغه قياس او استدلال جواب ورکوي، فرمايي چي د ولاء مسئله هم د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله په مينځ کي مختلف فيها ده، لهذا په هغې سره د امام صاحب رَحِمَهُ الله په خلاف دليل نيول صحيح نه دي، او که بيا هم مورږ هغه متفق عليها ومنو، نو د ولاء حکم دا دی چي که پر يوه ولاء بله زياته قوي ولاء واقع سي نو اوله (ضعيفه) ولاء باطليږي. مثلاً که يوه آزاده ښځه د بل چا (مثلاً د نعمان) د غلام سره نکاح وکړي او له هغې ځخه بچی پيدا سي، نو د دې بچي چي کوم ولاء ده، هغه مور ته حاصليږي. لېکن کله چي د بچي پلار يعني غلام آزاد کړی سي (يعني نعمان هغه آزاد کړي)، نو هغه (پلار) د بچي ولاء ځان ته راکشوي او د خپل آزادونکي قوم يعني د آزادونکي مالک (نعمان) وطرف ته يې منتقل کوي او تر دې وروسته د بچي ولاء د پلار قوم (مالک) ته حاصليږي. نو معلومه سوه چي کله پر ضعيفه ولاء قوي ولاء واقع سي نو هغه ضعيفه ولاء باطلوي. لنډه دا چي ولاء باطلېدای سي، لېکن نسب نه سي باطلېدای.

او دلته د ولاء په مسئله کي چي د بائع له طرفه کومه ولاء ده. هغه موقوفه ده او پر هغه د مشتري دعویٰ وارده سوې ده کوم چي له دې موقوفه ولاء ځخه زياته قوي (اقویٰ) ده. نو ځکه په دې اقویٰ سره

په اوله ولاء باطليږي، حالانکي د نسب حکم دا دی چي هغه تر ثابتېدلو وروسته بيا هيڅکله هم نه باطليږي.

وهذا يصلح مخرجا الخ: فرمايي چي د بائع مذکوره اقرار "هذا ابن عبدي فلان الغائب" د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر اُصول په را روان صورت کي د ځان خلاصولو حيله جوړېدای سي چي که يو څوک (مثلا حميد) پر يو مشتري خپل يو غلام خرڅول غواړي لېکن ده ته (يعني حميد ته) ته دا ېېره وي چي که زه پر هغه مشتري غلام خرڅ کړم نو هغه به د دې غلام سره د خپل نسب دعوىٰ وکړي (چي دا زما ځوی دی) او په دې توګه به بيع باطله سي، نو په دې صورت کي د مشتري د دعوې د قطع کولو او ماتولو طريقه دا ده چي مالک (حميد) دي د يو بل سړي سره د دې بچي د نسب اقرار وکړي (چي دا بچی د فلانکي سړي ځوی دی) نو په دې توګه به مشتري د هغه د نسب دعوىٰ نه وکړی سي او د مالک ېېره به زائل سي.

## د يو کوچني په باره کي د مسلمان او کافر د اختلاف کولو بيان

قَالَ: وَإِذَا كَانَ الصَّبِيُّ فِي يَدِ مُسْلِمٍ وَنَصْرَانِيٍّ فرمايي: او که چيري د يو مسلمان سړي او نصراني سړي په قبضه کي يو کوچنی وي فَقَالَ النَّصْرَانِيُّ: هُوَ ابْنِي نو نصراني ووايي: چي دا زما ځوی دی وَقَالَ الْمُسْلِمُ: هُوَ عَبْدِي او غلام ووايي: چي دا زما غلام دی فَهُوَ ابْنُ النَّصْرَانِيِّ وَهُوَ حُرٌّ نو هغه د نصراني ځوی دی او هغه آزاد ګرځي لِأَنَّ الْإِسْلَامَ مُرَجِّحٌ ځکه چي اسلام ترجيح ورکونکی دی فَيَسْتَدْعِي تَعَارُضًا [لېکن] ترجيح د تعارض تقاضا کوي وَلَا تَعَارُضَ او [دلته] تعارض نسته لِأَنَّ نَظَرَ الصَّبِيِّ فِي هٰذَا أَوْفَرُ ځکه چي په دې کي [يعني د نصراني په ځوی کولو کي] د بچي لپاره بشپړ شفقت دی [په بله وينا: په دې کي د بچي لپاره زياته ښېګڼه ده] لِأَنَّهُ يَنَالُ شَرَفَ الْحُرِّيَّةِ حَالًا وَشَرَفَ الْإِسْلَامِ مَآلًا ځکه چي هغه به في الحاله د آزادۍ شرف حاصل کړي او وروسته به د اسلام شرف حاصل کړي إِذْ دَلَائِلُ الْوَحْدَانِيَّةِ ظَاهِرَةٌ ځکه چي د الله تعالىٰ د وحدانيت دلائل ښکاره دي وَفِي عَكْسِهِ الْحُكْمُ بِالْإِسْلَامِ تَبَعًا وَحِرْمَانُهُ عَنِ الْحُرِّيَّةِ او د دې په برعکس صورت کي ايعني که هغه غلام وګرځول سي ا د اسلام حکم تبعاً دی او د آزادۍ له شرف څخه د هغه محرومېدل دي ايعني که هغه د مسلمان غلام وګرځول سي نو د خپل مسلمان مالک په متابعت کي به مسلمان وګرځي او د آزادۍ له نعمت څخه به محروم سي ا لِأَنَّهُ لَيْسَ فِي وُسْعِهِ

اُكْتِسَابُهَا ځکه چې د آزادۍ حاصلول د هغه په وس [او اختيار] کې نه دي وَلَوْ كَانَتْ دَعْوَتُهُمَا دَعْوَةَ الْبُنُوَّةِ او که د دواړو دعویٰ د ځوی والي دعویٰ وي [يعني له دوی څخه هر يو ووايي: چې دا زما ځوی دی] فَالْمُسْلِمُ أَوْلَىٰ نو مسلمان اولیٰ دی تَرْجِيحًا لِلْإِسْلَامِ اسلام ته په ترجيح ورکولو سره وَهُوَ أَوْفَرُ النَّظَرَيْنِ او له دواړو شفقتونو څخه همدا بشپړ شفقت دی.

**اللغات**: ﴿مُرجح﴾ د تفعيل د باب اسم فاعل دی: ترجيح ورکونکی، ﴿يستدعي﴾ د استفعال د باب مضارع ده: تقاضا کول، ﴿نظر﴾ شفقت، مصلحت (ښېګڼه)، يو چا ته اعتبار او اهميت ورکول، ﴿أوفر﴾ د ضرب د باب اسم تفضيل دی: زيات بشپړ (زيات پوره)، اکمل، ﴿ينال﴾ د فتح د باب مضارع ده: حاصلول، ترلاسه کول، ﴿مآل﴾ انجام، وروستنی حالت، ﴿وسع﴾ وس، طاقت، ﴿بنوة﴾ ځوی والی، ځوی کېدل.

**تشريح**: صورت د مسئلې خو ښکاره دی چې که يو کوچنی د مسلمان او نصراني په قبضه کې وي، نصراني هغه خپل ځوی ګرځوي چې "دا زما ځوی دی" او مسلمان هغه خپل غلام ګرځوي، نو هغه به د نصراني ځوی ګرځول کيږي او هغه به آزادېږي؛ وجه دا ده چې اسلام پر هره موقع (مسلمان ته پر نصراني او داسې نورو) ترجيح ورکونکی دی، لېکن د ترجيح لپاره يو تعارض موجودېدل پکار دي او دلته هيڅ تعارض نسته، ځکه چې د نصراني په ځوی ګرځولو کې د هغه کوچني لپاره دوه نعمتونه دي: يو في الحاله آزادېدل او بل وروسته مسلمان کېدل، او په غلام ګرځولو کې په کامله توګه يو نعمت هم هغه ته نه حاصلېږي، نو ځکه په دې صورت کې به هغه د نصراني ځوی ګرځول کيږي، ها! که چېرې مسلمان او نصراني دواړه د هغه کوچني د ځوی والي دعویٰ وکړي او هر يو ووايي چې "دا زما ځوی دی"، نو په دې صورت کې به هغه د مسلمان ځوی ګرځول کيږي او د نصراني دعویٰ به بالکل ردول کيږي، لأن الاسلام يعلو ولا يُعلى. (احسن الهدايه)

## د يو کوچني په باره کې د ښځې دعویٰ کول

قَالَ: وَإِذَا ادَّعَتْ امْرَأَةٌ صَبِيًّا أَنَّهُ ابْنُهَا فرمايي: او که يوه ښځه د يو کوچني په هکله دعویٰ وکړي چې هغه زما ځوی دی لَمْ تَجُزْ دَعْوَاهَا نو د هغې دعویٰ جائز نه ده حَتَّى تَشْهَدَ امْرَأَةٌ عَلَى الْوِلَادَةِ تر دې چې يو ښځه پر پيدايښت ګواهي ورکړي وَمَعْنَى الْمَسْأَلَةِ أَنْ تَكُونَ الْمَرْأَةُ ذَاتَ زَوْجٍ او د مسئلې مطلب دا دی چې ښځه د خاوند والا وي لِأَنَّهَا تَدَّعِي تَحْمِيلَ النَّسَبِ عَلَى الْغَيْرِ ځکه چې هغه پر بل چا [يعني پر

خاوند] د نسب د بوج اچولو دعوىٰ کوي فَلَا تُصَدَّقُ إِلَّا بِحُجَّةٍ نو ځکه له دليل شخه بغير به د هغې د قول تصديق نه کيږي بِخِلَافِ الرَّجُلِ په خلاف د سړي [د دعوىٰ کولو] لِأَنَّهُ يُحَمِّلُ نَفْسَهُ النَّسَبَ ځکه چي هغه خپله پر خپل ځان د نسب بوج اچوي ثُمَّ شَهَادَةُ الْقَابِلَةِ كَافِيَةٌ فِيهَا بيا په دې سلسله کي د دايي ګواهي کافي ده لِأَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى تَعْيِينِ الْوَلَدِ ځکه [دلته] صرف د بچي مُتعيّن کولو ته ضرورت دی أَمَّا النَّسَبُ فَيَثْبُتُ بِالْفِرَاشِ الْقَائِمِ پاته سو نسب نو هغه په موجوده زوجيت [نکاح] سره ثابتيږي وَقَدْ صَحَّ: « أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَبِلَ شَهَادَةَ الْقَابِلَةِ عَلَى الْوِلَادَةِ » او دا په صحيح روايت سره ثابت دي: "چي نبي کريم ﷺ د ولادت په باره کي د دايي ګواهي قبوله کړه" وَلَوْ كَانَتْ مُعْتَدَّةً او که مدعيه ښځه معتده [عدت تېرونکې] وي فَلَا بُدَّ مِنْ حُجَّةٍ تَامَّةٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز بشپړ دليل [شهادت کامله] ضروري دی وَقَدْ مَرَّ فِي الطَّلَاقِ او دا په کتاب الطلاق کي تېر سوه وَإِنْ لَمْ تَكُنْ مَنْكُوحَةً وَلَا مُعْتَدَّةً او که هغه ښځه نه معتده وي او نه منکوحه وي قَالُوا: يَثْبُتُ النَّسَبُ مِنْهَا بِقَوْلِهَا نو مشايخو فرمايلي دي: چي [په دې صورت کي] محض د هغې په قول سره نسب ثابتيږي لِأَنَّ فِيهِ إِلْزَامًا عَلَى نَفْسِهَا دُونَ غَيْرِهَا ځکه چي په دې کي د هغې پر خپل ځان [د نسب] لازمول سته، نه پر بل چا وَإِنْ كَانَ لَهَا زَوْجٌ وَزَعَمَتْ أَنَّهُ ابْنُهَا مِنْهُ او که د ښځي خاوند وي او هغه دعوىٰ وکړي چي دا زما ځوی له دغه خاوند شخه دی وَصَدَّقَهَا او خاوند د هغې تصديق وکړي فَهُوَ ابْنُهُمَا نو هغه د دوی دواړو ځوی ګرځي وَإِنْ لَمْ تَشْهَدْ امْرَأَةٌ که شه هم يو ښځه [مثلا دايي] ګواهي نه ورکړي لِأَنَّهُ الْتَزَمَ نَسَبَهُ ځکه چي خاوند په خپله د هغه نسب پر ځان لازم کړی دی فَأَغْنَى ذَلِكَ عَنِ الْحُجَّةِ نو دې له دليل شخه استغناء پيدا کړه [يعني اوس بيّنه پېشولو ته ضرورت پاته نه سو] وَإِنْ كَانَ الصَّبِيُّ فِي أَيْدِيهِمَا او که کوچنی د دواړو په قبضه کي وي وَزَعَمَ الزَّوْجُ أَنَّهُ ابْنُهُ مِنْ غَيْرِهَا او خاوند دعوىٰ وکړي چي دا زما ځوی له بلي ښځي شخه دی وَزَعَمَتْ أَنَّهُ ابْنُهَا مِنْ غَيْرِهِ او ښځه دعوىٰ وکړي چي دا زما ځوی له بل خاوند شخه دی فَهُوَ ابْنُهُمَا نو هغه د دواړو ځوی ګرځي لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ الْوَلَدَ

مِنْهُمَا ځکه چي ظاهر حال همدا دی چي هغه له دوی دوو شخصه پیدا سوی دی لِقِيَامِ أَيْدِيهِمَا أَوْ لِقِيَامِ الْفِرَاشِ بَيْنَهُمَا د دوی د قبضي یا د دوی په مینځ کي د بستر [زوجیت] د موجودوالي په وجه [یعني ځکه چي هغه بچی د دوی په قبضه کي دی یا په دې وجه چي د دوی په مینځ کي د زوجیت (خاوند او ښځي) رشته موجوده ده] ثُمَّ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يُرِيدُ إِبْطَالَ حَقِّ صَاحِبِهِ بیا له دوی شخصه هر یو د خپل ملګري د حق باطلول غواړي فَلَا يُصَدَّقُ عَلَيْهِ نو ځکه د یوه په خلاف به د بل تصدیق نه کیږي وَهُوَ نَظِيرُ ثَوْبٍ فِي يَدِ رَجُلَيْنِ يَقُولُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا: هُوَ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ آخَرَ غَيْرِ صَاحِبِهِ او دا د هغه کپړې په شان دي کوم چي د دوو کسانو په قبضه کي وي چي له هغوی شخصه هر یو وایي: دا کپړه زما له ملګري شخصه بغیر زما او د بل سړي په مینځ کي مشترکه ده يَكُونُ الثَّوْبُ بَيْنَهُمَا نو [په دې صورت کي] هغه کپړه د دواړو په مینځ کي مشترکه ګرځي إِلَّا أَنَّ هُنَاكَ يَدْخُلُ الْمُقَرُّ لَهُ فِي نَصِيبِ الْمُقِرِّ مګر هلته [یعني په دې صورت کي] مقرلهٔ د مُقِر په حصه کي داخلیږي [یعني په دې صورت کي مقرلهٔ د مقر په حصه کي حصه دار ګرځي] لِأَنَّ الْمَحَلَّ يَحْتَمِلُ الشَّرِكَةَ ځکه چي دا محل [کپړه] د شرکت احتمال لري وَهٰهُنَا لَا يَدْخُلُ او دلته [یعني د کوچني د نسب په دعویٰ کي] مقرلهٔ د مُقِر په حصله کي نه داخلیږي لِأَنَّ النَّسَبَ لَا يَحْتَمِلُهَا ځکه چي نسب د شرکت احتمال نه لري.

**اللغات**: ﴿ولادة﴾ د ضرب د باب اسمِ مصدر دی: پیدا ینښت، بچی پیدا کېدل، بچی زېږول، ﴿تحميل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: پر یو چا د یو شي بوج او بار اچول، د یو شي مکلف کول، ذمه وار ګرځول، ﴿قابلة﴾ دایي، دایه، هغه ښځه کوم چي د یو ښځي د لنګېدلو (بچي زېږولو) پر مهال د مرستي لپاره د هغې سره موجوده وي، ﴿الفراش﴾ بستر، مرادِ ځني زوجیت او نکاح ده، ﴿حجة تامة﴾ بشپړ دلیل (پوره دلیل)، مراد ځني شهادت کامله دی، یعني د دوو خلکو یا د یوه سړي او دوو ښځو ګواهي، ﴿معتدة﴾ د افتعال له بابه د اسم مفعول مؤنث صیغه ده: عدت تېرونکې ښځه (عده تېرونکې، کوم چي د طلاق یا د خاوند د وفات عده تېروي)، ﴿التزم﴾ د افتعال د باب ماضي ده: پر خپل ځان لازمول، په خپله ذمه اخیستل، ﴿مُقِر﴾ د افعال د باب فاعل دی: اقرار کونکی.

**تشريح**: په دې عبارت کي په مجموعي توګه څلور (۴) مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که د یو بچي په هکله د خاوند والا ښځه دعویٰ وکړي چي "دا زما ځوی دی" لېکن خاوند د هغې له دعوې شخصه انکار وکړي، نو تر څو چي د هغې په حق کي بله ښځه مثلاً دایي دا ګواهي نه

ورکړي چي "دا بچی د همدغه مدعیه ښځي ځوی دی"، تر هغه وختــه دا بچی د هغې سره ثابت النسب نه ګرځي؛ لکه څرنګه چي له نبي کریم ﷺ څخه دا روایت سوی دی چي هغه د یوې دایي ګواهي قبوله کړه؛ ځکه دلته ښځه پر خاوند د نسب بوج اچوي او څرنګه چي خاوند له دې څخه منکر دی، نو ځکه بلا دلیله (بېله ګواهی) به د هغې قول او دعوی مقبوله نه وي. هـا! که چیري د ښځي پر ځای خاوند دعوی وکړي، نو د هغه د دعوې قبلولو لپاره حجت او دلیـل تـه ضرورت نسته؛ ځکه چي په دې صورت کي هغه خپله د خپل ځان سره د بچي نسب تړي.

(۲)... که مدعیه ښځه معتده وي، برابره ده هغه د وفات په عدت کي وي یا د طلاق په عدت کي وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز له حجت کامله یعني له شهادت کامله څخه بغیر به د هغې دعوی نه قبلول کیږي، ها! که چیري هغه ښځه نه منکوحه وي او نه معتده وي، نو محض په ویلو او دعوی کولو سره به د هغې قول او دعوی قبلول کیږي او د کوچني نسب به د هغې سره ثابتیږي؛ ځکه چي دا پر خپل ځان اقرار کول او د خپل ځان سره د بچي نسب لازمول دي او د بل چا سره د دې هیڅ تعلق نسته، نو ځکه په دې صورت کي به بغیر له دلیله د هغې قول او دعوی مقبوله وي.

(۳)... که مدعیه ښځه منکوحه وي او هغه دا دعوی وکړي چي "دا بچی زما له دغه خاوند څخه دی" او خاوند د هغې تصدیق وکړي، نو د خاوند په تصدیق سره هغه بچی د دوی دواړو سره ثابت النسب ګرځي، او نور بل حجت او دلیل ته ضرورت نسته.

(۴)... که یو کوچنی د خاوند او ښځي په قبضه کي وي، خاوند ووایي چي "دا زما ځوی دی، خو زما له بلي ښځي څخه دی، نه له قابضه ښځي څخه"، او ښځه ووایي چي دا "زما ځوی دی او زما له مخکني خاوند څخه دی"، نو په دې صورت کي به هغه کوچنی د همدې ښځي او خاوند ځوی ګرځول کیږي کوم چي في الحاله پر بچي قابضین دي؛ ځکه چي پر بچي د دوی قابض کېدل او د دوی په مینځ کي د خاوند او ښځي رشته او تعلق موجودېدل د دې خبري دلیل دی چي دا کوچنی د همدوی ځوی دی لېکن دوی قصداً د بل چا وطرف ته په نسبت کولو سره یو د بل حق باطلول غواړي، نو ځکه په دې حواله سره به د دوی تصدیق نه کیږي.

د دې مثال داسي دی لکه دوه خلک مثلاً خالد او زید پر یو تان قابض وي (یعني د هغو په قبضه کي د کېږي تاذ وي)، لېکن له دوی څخه هر یو دعوی کوي چي "دا زما تان دی، او دا زما او د حامد په مینځ کي مشترک دی"، نو په دې صورت کي هم هغه تان د دواړو قابضینو یعني د خالد او زید په مینځ کي مشترک ګرځي، او دوی چي د کوم کس لپاره د اشتراک او حصې اقرار کړی دی (یعني حامد)، هغه د دوی سره په خپله، خپله حصه کي حصه داره ګرځي یعني د هر یوه سره د هغه په حصه کي مشترک

ګرځي؛ ځکه چي دلته په محل يعني په کېږه کي د شرکت احتمال سته، لېکن په نسب کي د شرکت احتمال نسته، نو ځکه د نسب والا په مسئله کي به مقرلهٔ حصه دار نه ګرځي. (احسن الهدايه)

## که مينځه تر أمِ ولد ګرځېدلو وروسته د بل چا مستحقه وخيږي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنِ اشْتَرٰى جَارِيَةً فَوَلَدَتْ وَلَدًا عِنْدَهُ فرمايي: او که څوک يو مينځه رانيسي او هغه مينځه د ده [مشتري] سره بچی وزېږوي فَاسْتَحَقَّهَا رَجُلٌ بيا يو سړی د هغې مينځي مستحق وخيږي غَرِمَ الْأَبُ قِيمَةَ الْوَلَدِ يَوْمَ يُخَاصِمُ نو پلار [مشتري] د خصومت والا د ورځي د قيمت ضامن کيږي لِأَنَّهُ وَلَدُ الْمَغْرُورِ ځکه چي دا "ولد مغرور" دی فَإِنَّ الْمَغْرُورَ مَنْ يَطَأُ امْرَأَةً مُعْتَمِدًا عَلٰى مِلْكِ يَمِينٍ أَوْ نِكَاحٍ فَتَلِدُ مِنْهُ ثُمَّ تُسْتَحَقُّ او مغرور هغه کس دی کوم چي پر ملک يمين يا پر نکاح په اعتماد کولو سره د يو مينځي سره وطي وکړي او هغه مينځه له ده څخه [يعني د ده له نطفې څخه] بچی وزېږوي بيا هغه مينځه مستحقه وخيږي وَوَلَدُ الْمَغْرُورِ حُرٌّ بِالْقِيمَةِ بِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او "ولد مغرور" د صحابه وو په اجماع سره د قيمت په عوض کي آزاد دی وَلِأَنَّ النَّظَرَ مِنَ الْجَانِبَيْنِ وَاجِبٌ او په دې وجه هم چي د دواړو طرفونو [مغرور پلار او مستحق کس] لحاظ ساتل [رعايت کول] ضروري دي فَيُجْعَلُ الْوَلَدُ حُرَّ الْأَصْلِ فِي حَقِّ أَبِيهِ رَقِيقًا فِي حَقِّ مُدَّعِيهِ نو ځکه بچی به د پلار په حق کي اصلي آزاد ګرځول کيږي او د مدعي په حق کي به هغه غلام ګرځول کيږي نَظَرًا لَهُمَا د دې لپاره چي د دواړو لحاظ وساتل سي ثُمَّ الْوَلَدُ حَاصِلٌ فِي يَدِهِ مِنْ غَيْرِ صُنْعِهِ بيا دا بچی د پلار له يو فعل [تعدی] څخه بغير د هغه په قبضه کي راغلی دی فَلَا يَضْمَنُهُ إِلَّا بِالْمَنْعِ نو ځکه له منع کولو [بچي راګرځولو] څخه بغير به پلار د هغه نه ضامن کيږي كَمَا فِي وَلَدِ الْمَغْصُوبَةِ لکه د مغصوبه ښځي په بچي کي [چي هم دا حکم دی] فَلِهٰذَا تُعْتَبَرُ قِيمَةُ الْوَلَدِ يَوْمَ الْخُصُومَةِ نو له همدې کبله د بچي هغه قيمت معتبر دی کوم چي د خصومت د ورځي وي لِأَنَّهُ يَوْمُ الْمَنْعِ ځکه چي د منع [يعني د بچي د راګرځولو] ورځ همدا يوم الخصومت ده وَلَوْ مَاتَ الْوَلَدُ او که دا بچی مړ سي لَا شَيْءَ عَلَى الْأَبِ نو پر پلار هيڅ شی نه لازميږي لِانْعِدَامِ الْمَنْعِ ځکه چي منع موجود نه سوه وَكَذَا لَوْ تَرَكَ مَالًا او همدارنګه که بچی [په ميراث کي] مال پرېږدي انو هم پر پلار ضمان نه لازميږي] لِأَنَّ الْإِرْثَ لَيْسَ بِبَدَلٍ عَنْهُ وَالْمَالُ لِأَبِيهِ ځکه

چي میراث د دې بچي بدل [عوض] نه دی او [د بچي] مال د هغه د پلار دی لِأَنَّهُ حُرُّ الْأَصْلِ فِي حَقِّهِ ځکه چي دا بچی د پلار په حق کي حُرّ الاصل دی فَيَرِثُهُ نو ځکه پلار به د هغه وارث کیږي وَلَوْ قَتَلَهُ الْأَبُ او که چیري پلار دا بچی قتل کړي يَغْرَمُ قِيمَتَهُ نو پلار د هغه د قیمت ضامن کیږي لِوُجُودِ الْمَنْعِ ځکه چي منع موجود سوه وَكَذَا لَوْ قَتَلَهُ غَيْرُهُ فَأَخَذَ دِيَتَهُ او همدارنګه [پلار د هغه ضامن کیږي] که چیري له پلار څخه بغیر بل څوک دا بچی قتل کړي او پلار د هغه دیت واخلي لِأَنَّ سَلَامَةَ بَدَلِهِ كَسَلَامَتِهِ لَهُ وَمَنْعَ بَدَلِهِ كَمَنْعِهِ ځکه چي پلار ته د بچي د بدل سالم پاتېدل د بچي د سالم پاتېدلو په څېر دي او د بچي د بدل منع کول [راګرځول] د بچي د منع کولو په څېر دي [په بله وینا: ځکه چي پلار ته د بچي عوض حاصلېدل په خپله د بچي د حاصلېدلو په څېر دي او د دیت راګرځول د بچي د راګرځولو په څېر دي] فَيَغْرَمُ قِيمَتَهُ نو ځکه به پلار د هغه د قیمت ضامن کیږي كَمَا إِذَا كَانَ حَيًّا لکه کله چي بچی ژوندی وي [نو هم پلار ضامن کیږي] وَيَرْجِعُ بِقِيمَةِ الْوَلَدِ عَلَى بَائِعِهِ او مشتري [مغرور پلار] به له خپل بائع څخه د بچي قیمت واپس اخلي لِأَنَّهُ ضَمِنَ لَهُ سَلَامَتَهُ ځکه چي بائع د مشتري لپاره د مبیع د سلامتیا ذمه واري اخیستې وه كَمَا يَرْجِعُ بِثَمَنِهِ لکه څرنګه چي پلار به د مبیع [د بچي د مور] ثمن هم له هغه څخه واپس اخلي بِخِلَافِ الْعُقْرِ په خلاف د عُقر لِأَنَّهُ لَزِمَهُ لِاسْتِيفَاءِ مَنَافِعِهَا ځکه د مینځي د منافعو د حاصلولو په وجه پر مشتري عُقر لازم سو فَلَا يَرْجِعُ بِهِ عَلَى الْبَائِعِ نو ځکه مشتري به هغه له بائع څخه نه اخلي.

**اللغات**: ﴿استحق﴾ د استفعال د باب ماضي ده: مستحق کېدل، مستحق ختل، ﴿غرم﴾ د سمع د باب ماضي ده: ضامن کېدل، ضمان (تاوان) پر لازمېدل، ﴿يخاصم﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: جنګ او اختلاف کول، خصومت کول، دعویٰ کول، ﴿مغرور﴾ د نصر له بابه د اسم مفعول صیغه ده: دوکه سوی، فریب خورده (چا ته چي دوکه ورکول سوې وي). "وَلَدُ الْمَغْرُوْر" (د دوکه سوي پلار بچی) ځکه چي دده پلار د ملک یمین یا نکاح پر اعتماد دوکه سوی وي، یعني د هغه اعتماد او یقین دا وي چي دا زما خپل مملوکه یا منکوحه مینځه ده (ځکه چي د هغې مالک ورته ویلي وي چي دا د هیچا مینځه نه ده، لهذا ته بې غمه هغه رانیسه!. یا ته بې غمه نکاح ور سره وکړه) لیکن وروسته هغه د بل چا مستحقه وخته.

﴿ملك يمين﴾ د رقبې ملکیت (د غلام یا مینځي مالک کېدل)، یعني چي غلام یا مینځه د انسان په

ملکیت کي راسي. ﴿نظر﴾ شفقت، مصلحت، یو چا ته اعتبار ورکول. ﴿صنع﴾ فعل، عمل، کاروایي. ﴿عُقْر﴾ د وطي معاوضه، د وطي جرمانه. هغه مال (مهر) کوم چې د غیرِ صحیح وطي په عوض کي پر وطي کونکي لازم سي (داسي غیرِ صحیح وطي کوم چې د حد مُوجِب نه وي). (معجم لغة الفقهاء)

**تشریح**: **مسئله**: دا ده که یو سړی (مثلاً زید) یو مینځه رانیسي او د هغې سره وطي وکړي چې د هغه په نتیجه کي له مینځي څخه بچی پیدا سي، بیا هغه مینځه د بل چا (مثلاً د خالد) مستحقه وخیږي یعني بل څوک (خالد) په هغې دعویٰ وکړي چې "دا زما مینځه ده" او خپله دعویٰ ثابته کړي، نو په دې صورت کي پر مشتري یعني پر پلار (زید) د هغه بچي قیمت واجبیږي کوم چې له مینځي څخه پیدا سوی دی او بچی آزادیږي؛ ځکه چې دا بچی "ولد مغرور" دی (یعني "د دوکه ورکړل سوي سړي څوی دی" ځکه چې د هغه پلار ته دا دوکه ورکول سوې ده چې دا مینځه (د بچي مور) د بل چا نه ده لهذا ته بې غمه هغه رانیسه!. لیکن وروسته هغه د بل چا وخته)، او "ولد مغرور" د صحابه وو په اتفاق سره د قیمت په عوض کي آزادیږي، نو ځکه دا بچی به هم د قیمت په عوض کي آزادیږي.

ولأن النظر من الجانبين إلخ: عقلي دلیل دا دی چې په داسي صورت کي د پلار (زید) او د مستحق کس (خالد) دواړو رعایت کول ضروري دي، نو د پلار په رعایت کولو سره به دا بچی حُرَّ الاصل ګرځول کیږي (یعني دا به وبل کیږي چې هغه له پیدایښته آزاد دی؛ ځکه که پلار ته دا معلومه وای چې دا مینځه به د بل چا وي او زما بچی به غلام وګرځي. نو هغه به هیڅکله د دې بل چا (خالد) د مینځي سره وطي نه کولای)، او د مستحق کس یعني د مور د مالک (خالد) په رعایت کولو سره به هغه بچی غلام ګرځول کیږي یعني پر پلار (مشتري) به د هغه ثمن لازمول کیږي. لنډه دا چې د دواړو رعایت او خیال ساتل په دې توګه ممکن دي چې هغه کوچنی د قیمت په عوض کي آزاد وګرځول سي (یعني چې مستحق کس ته د بچي د قیمت ضمان [تاوان] ورکول سي)، نو ځکه هغه به د قیمت په عوض کي آزادیږي.

او څرنګه چې مذکوره بچی د پلار په قبضه کي بلا تعدی راغلی دی. نو پر هغه صرف په دې وجه د بچي قیمت (ضمان) واجب دی چې هغه دا کوچنی له مستحق کس څخه راګرځوي او هغه ته یې نه ورکوي (نو ځکه هغه ته به د بچي قیمت ورکوي). لکه څرنګه چې د مغصوبه مینځي په بچي کي هم داسي کیږي، لهذا پر پلار (مشتري) به د هغه ورځې قیمت واجب وي، کوم قیمت چې د خصومت په ورځ د هغه وي (یعني د مستحق کس د دعویٰ کولو په ورځ چې بچی په بازار کي څومره قیمت لري. پلار به مستحق کس ته هغومره قیمت ورکوي)؛ ځکه چې پلار (یعني مشتري [زید]) په هغه ورځ بچی له مستحق کس څخه راګرځولی دی. لکه څرنګه چې د مغصوبه مینځي په بچي کي هم د خصومت د ورځې قیمت واجبیږي.

ولو مات الولد إلخ: فرمايي که چيري له ستحقاق او خصومت څخه مخکي بچی مړ سي، نو هغه نه مضمون کيږي يعني پر پلار د هغه هيڅ ضمان (تاوان) نه واجبيږي، بلکي پلار به مستحق کس ته صرف هغه مينځه ورکوي. ځکه که چيري دا بچی حقيقتاً د مستحق کس غلام سوي وای، نو هم به هغه نه مضمون کېدای، نو د ملک حقيقي د نشتوالي په صورت کي خو به په طريقه اولیٰ هغه نه مضمون کيږي. همدارنګه که دا مړه بچي څه مال (ميراث) پرېږ ايښی وي، نو صرف پلار د هغه وارث او مالک ګرځي؛ ځکه چي د پلار په حق کي بچی حُرّ الاصل دی.

ولوقتله الأب إلخ: فرمايي: که چيري پلار (مشتري) دغه بچی قتل کړي، نو په دې صورت کي پر هغه د بچي د قيمت ضمان واجبيږي؛ ځکه چي په دې صورت کي د هغه له طرفه د بچي راګرځول (مستحق کس ته نه ورکول) موجود سوه، همدارنګه که بل څوک هغه قتل کړي او پلار له هغه څخه ديت واخلي، نو په دې صورت کي هم پر پلار ضمان واجبيږي؛ ځکه چي ديت د بچي بدل دی، او د بدل راګرځول د اصل (بچي) د راګرځولو په څېر دي، نو ځکه د اصل په څېر د بدل راګرځولو په صورت به کي هم پر پلار د قيمت ضمان (تاوان) واجبيږي يعني هغه به مستحق کس ته د بچي قيمت ورکوي.

او کله چي پلار مستحق کس ته د بچي قيمت ورکړي، نو بيا به هغه خپل بائع تر غاړه نيسي او له هغه څخه به د بچي قيمت هم اخلي او د مينځي (مبيع) قيمت به هم ځني اخلي، ځکه چي بائع د مينځي د سلامتيا ذمه واري اخيستې وه (چي دا مينځه د بل چا نه ده) او پلار (مشتري) ته يې دوکه ورکړې ده، ځکه چي مينځه د بل چا مستحقه ثابته سوه.

لېکن د دې مينځي چي کوم عُقر وي يعني هغه مال کوم چي مستحق کس له مشتري (پلار) څخه د مينځي د وطي په عوض کي اخيستی وي، هغه مال مشتري (پلار) له بائع څخه نه سي اخيستلای، ځکه چي مشتري د هغه په عوض کي مينځه او د هغې بضع استعمال کړې ده او پر هغې يې خوندونه اخيستي دي، نو ځکه مشتري به هغه مال (عُقر) په خپله زغمي او له بائع څخه به يې نه اخلي. والله أعلم وعلمهٗ أتم



# كِتَابُ الْإِقْرَارِ

(دا) کتاب داقرار کولو (داحکامو په بیان کي) دی

**تشريح:** له کتاب الدعویٰ څخه تر فراغت وروسته اوس صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله کتاب الاقرار بیانوي؛ په دعویٰ او اقرار کي مناسبت په دې توګه دی چي مدعیٰ علیه به یا د مدعي د دعوې اقرار کونکی وي یا به د هغه له دعوې څخه منکر وي، که هغه اِقرار کونکی (مُقِر) وي نو معامله او دعویٰ به ژر حل سي، لېکن د منکر کېدلو په صورت کي به له څو مراحلو څخه وروسته یو حل را ووځي، لندې دا چي د اقرار او انکار مرحله پر دعوې موقوف ده، او موقوف تر موقوف علیه وروسته وي، نو ځکه موقوف یعني اقرار له دعویٰ څخه وروسته بیان کړی سوی دی. (بنایه)

## د اقرار حکم او شرائط

قَالَ: وَإِذَا أَقَرَّ الْحُرُّ الْبَالِغُ الْعَاقِلُ بِحَقٍّ فرمایي: او کله چي آزاد، عاقل او بالغ کس [پر خپل ځان] د یو حق اقرار وکړي لَزِمَهُ إِقْرَارُهُ نو پر هغه خپل اقرار لازمیږي مَجْهُولًا كَانَ مَا أَقَرَّ بِهِ أَوْ مَعْلُومًا برابره ده هغه حق مجهول وي چي د هغه په باره کي ده اقرار کړی وي او که معلوم وي اِعْلَمْ أَنَّ الْإِقْرَارَ إِخْبَارٌ عَنْ ثُبُوتِ الْحَقِّ پوه سه! چي اقرار د یو حق ثابتېدلو په باره کي خبر ورکولو ته وایي [چي پر ما د فلانکي یو حق باندي دی] وَأَنَّهُ مُلْزِمٌ او اقرار پر مُقِر [د اقرار کړه شي (مخبر بِهٖ)] لازمونکی دی لِوُقُوعِهِ دَلَالَةً ځکه چي اقرار پر مخبر بهٖ دلیل جوړیږي أَلَا تَرَى كَيْفَ أَلْزَمَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَاعِزًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ الرَّجْمَ بِإِقْرَارِهِ آیا ته نه ګورې! چي نبي کریم ﷺ پر ماعز رضی الله عنه د خپل اقرار [یعني د زنا د اقرار کولو] په وجه رجم لازم کړی وو وَتِلْكَ الْمَرْأَةَ بِاعْتِرَافِهَا او پر هغه ښځه [غامدیه] یې د خپل اقرار په وجه لازم کړی وو وَهُوَ حُجَّةٌ قَاصِرَةٌ او اقرار حجت قاصره [ناقص دلیل] دی لِقُصُورِ وِلَايَةِ الْمُقِرِّ عَنْ غَيْرِهِ پر بل چا د مُقِر د ولایت قاصر کېدلو په وجه [یعني ځکه مُقِر ته له خپل ځان څخه بغیر پر بل چا ولایت نه وي] فَيَقْتَصِرُ عَلَيْهِ نو ځکه اقرار به صرف پر هغه منحصر وي [یعني صرف تر هغه پوري به محدود پاتېږي]

وَشَرَطَ الْحُرِّيَّةِ لِيَصِحَّ إِقْرَارُهُ مُطْلَقًا او امام قدوري رَحِمَهُ الله ځکه [د مُقر] د آزاد والي شرط لګولی دی چي د هغه اقرار مطلقا صحيح سي فَإِنَّ الْعَبْدَ الْمَأْذُونَ لَهُ وَإِنْ كَانَ مُلْحَقًا بِالْحُرِّ فِي حَقِّ الْإِقْرَارِ لَكِنَّ الْمَحْجُورَ عَلَيْهِ لَا يَصِحُّ إِقْرَارُهُ بِالْمَالِ ځکه مأذون لهٗ غلام که څه هم د اقرار په حق کي د آزاد سره ملحق دی لېکن د محجور غلام [لپاره] د مال اقرار صحيح نه دی وَيَصِحُّ بِالْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ ها! په حد یا قصاص کي د محجور غلام اقرار صحيح دی لِأَنَّ إِقْرَارَهُ عُهِدَ مُوْجِبًا ځکه د هغه اقرار هم لازمونکی معلوم سوی دی لِتَعَلُّقِ الدَّيْنِ بِرَقَبَتِهِ ځکه چي قرض د هغه د غاړي [ذات] سره متعلق کيږي وَهِيَ مَالُ الْمَوْلَىٰ حال دا چي د هغه غاړه [ذات] د مالک مال دی فَلَا يُصَدَّقُ عَلَيْهِ نو ځکه د مالک په خلاف به د هغه [د اقرار] تصديق نه کيږي بِخِلَافِ الْمَأْذُونِ په خلاف د مأذون غلام لِأَنَّهُ مُسَلَّطٌ عَلَيْهِ مِنْ جِهَتِهِ ځکه چي هغه د همدې مالک له طرفه [د مالک] پر مال ګومارل سوی وي وَبِخِلَافِ الْحَدِّ وَالدَّمِ او په خلاف د حد او قصاص د اقرار کولو لِأَنَّهُ مُبْقًى عَلَىٰ أَصْلِ الْحُرِّيَّةِ فِي ذَٰلِكَ ځکه چي په حد او قصاص کي هغه پر خپل اصلي آزادۍ باقي پاتيږي حَتَّىٰ لَا يَصِحَّ إِقْرَارُ الْمَوْلَىٰ عَلَى الْعَبْدِ فِيهِ تر دې چي په حد او قصاص کي د غلام په خلاف د هغه د مالک اقرار [هم] صحيح نه دی وَلَا بُدَّ مِنَ الْبُلُوغِ وَالْعَقْلِ لِأَنَّ إِقْرَارَ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ غَيْرُ لَازِمٍ او [د مُقر] بالغ والی او عاقل والی [په دې وجه] ضروري دی ځکه چي د کوچني او لېوني اقرار لازم نه دی لِانْعِدَامِ أَهْلِيَّةِ الِالْتِزَامِ ځکه چي [په دوی کي] د التزام اهليت نسته إِلَّا إِذَا كَانَ الصَّبِيُّ مَأْذُونًا لَهُ مګر دا چي کله کوچنی مأذون لهٗ وي [يعني د تجارت او تصرف کولو اجازه ورکول سوې وي] لِأَنَّهُ مُلْحَقٌ بِالْبَالِغِ بِحُكْمِ الْإِذْنِ ځکه چي د اجازت [اجازې] په وجه هغه د بالغ په درجه کي وي وَجَهَالَةُ الْمُقَرِّ بِهِ لَا تَمْنَعُ صِحَّةَ الْإِقْرَارِ او د مقر به [اقرار کړه شي] جهالت د اقرار صحيح والی نه منع کوي [يعني د اقرار له صحت څخه مانع نه دی] لِأَنَّ الْحَقَّ قَدْ يَلْزَمُهُ مَجْهُولًا ځکه ځيني وخت پر انسان مجهول حق هم لازميږي بِأَنْ أَتْلَفَ مَالًا لَا يَدْرِي قِيمَتَهُ په دې توګه چي انسان داسي شی ضايع کړي چي د هغه قيمت نه پېژني أَوْ يَجْرَحَ جِرَاحَةً لَا يَعْلَمُ أَرْشَهَا يا داسي زخم جوړ کړي چي د هغه په جرمانه خبر نه وي أَوْ تَبْقَىٰ عَلَيْهِ بَاقِيَةُ حِسَابٍ لَا يُحِيطُ بِهِ عِلْمُهُ يا

پر هغه څه داسي حساب باقي پاته وي كوم چي ده ته معلوم نه وي وَالْإِقْرَارُ إِخْبَارٌ عَنْ ثُبُوتِ الْحَقِّ او اخرنګه چي اقرار د حق ثابتېدلو په باره کي خبر ورکولو ته وايي اچي پر ما د فلانکي يو حق باندي دی] فَيَصِحُّ بِهِ نو ځکه د مجهول شي اقرار به [هم] صحيح وي بِخِلَافِ الْجَهَالَةِ فِي الْمُقَرِّ لَهُ په خلاف د هغه جهالت كوم چي په مقرلهٔ کي وي لِأَنَّ الْمَجْهُولَ لَا يَصْلُحُ مُسْتَحِقًّا ځکه چي مجهول کس د مستحق جوړېدلو صلاحيت نه لري [يا: ځکه چي مجهول کس مستحق نه سي جوړېدای] وَيُقَالُ لَهُ: بَيِّنِ الْمَجْهُولَ او مُقِر ته به ويل کيږي: چي د مجهول وضاحت وکړه! [چي هغه څه شي دي او ستا مراد څه دی] لِأَنَّ التَّجْهِيلَ مِنْ جِهَتِهِ ځکه چي مجهول پرېښوول د هغه له طرفه دي فَصَارَ كَمَا إِذَا أَعْتَقَ أَحَدَ عَبْدَيْهِ نو داسي سوه لکه هغه چي له خپل دوو غلامانو څخه يو [غيرِ مُعيَن] غلام آزاد کړي فَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ او كه مُقِر [د جهالت] وضاحت نه کوي أَجْبَرَهُ الْقَاضِي عَلَى الْبَيَانِ نو قاضي به هغه پر وضاحت کولو مجبوره کوي لِأَنَّهُ لَزِمَهُ الْخُرُوجُ عَمَّا لَزِمَهُ بِصَحِيحِ إِقْرَارِهِ ځکه د مُقِر د صحيح اقرار کولو په وجه چي پر مُقِر كوم شی لازم سوی دی له هغه څخه وتل [ځان خلاصول] هم پر ده لازم دي وَذَلِكَ بِالْبَيَانِ او دا [يعني له هغه څخه وتل] د وضاحت کولو په ذريعه کېدای سي.

**اللغات:** ﴿رجم﴾ د ضرب د باب مصدر دی: سنګسارول، په کاڼو او ډبرو سره قتل کول. ﴿قاصرة﴾ ناکافي، کمزوري، ناقص. ﴿يقتصر﴾ د افتعال د باب مضارع ده: مراد ځني منحصر کېدل او محدود کېدل دي. ﴿عبد مأذون لهٔ﴾ هغه غلام چي د مالک له طرفه د تجارت (کاروبار) کولو اجازه ورکول سوې وي. ﴿محجور عليه﴾ هغه غلام کوم چي له تجارت کولو څخه منع سوی وي (د تجارت او تصرف نه کولو پابندي پر لګول سوې وي). ﴿رقبة﴾ غاړه، د غلام ذات. ﴿مُقِر﴾ اقرار کونکی. ﴿مُقَر بِهٖ﴾ د کوم شي اقرار چي سوی وي (هغه شی چي د هغه په باره کي اقرار سوی وي). ﴿مُقَر لهٗ﴾ د چا لپاره چي اقرار سوی وي (هغه کس چي د هغه لپاره د يو شي اقرار سوی وي). ﴿التزام﴾ د افعال د باب مصدر دی: پر ځان يو شی لازمول. په خپله ذمه اخيستل. پر خپله غاړه د يو شي ذمه واري اخيستل. ﴿تجهيل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مجهول کول. مجهول پرېښوول. ﴿أجبره﴾ د افعال د باب ماضي ده: مجبوره کول. اړ ايستل.

**تشريح:** د عبارت مطلب خو له ترجمې څخه هم معلومېږي، خو مختصراً عرض دا دی چې د اقرار د صحت لپاره دا شرط او ضروري دي چې اقرار کونکی (مُقر) به آزاد. بالغ او عاقل وي؛ آزاد والی خو ځکه ضروري دي چې د مال او غير مال دواړو اقرار صحيح سي. ځکه چې د غير مأذون غلام لپاره دا صحيح نه دي چې د مال اقرار وکړي؛ ځکه که د هغه اقرار صحيح وګرځول سي نو د هغه پر مالک به د قرض په زياتوب کي اضافه وسي کوم چې له "تحميلُ الدَّين على الغَير بغير إذنه" له قبيلې څخه دي او دا صحيح نه دي. لېکن د مأذون (اجازت ورکول سوي) غلام مالي او غير مالي دواړه اقرارونه صحيح دي؛ ځکه چې د اجازت په وجه مأذون غلام د آزاد په فهرس کي داخلېږي، او بيا هغه د همدې خپل مالک له طرفه په تصرف کولو امر سوی دی، نو ځکه به د هغه مالي او غير مالي دواړه اقرارونه معتبر وي. او د محجور (غيرِ مأذون) غلام لپاره غير مالي اقرار مثلاً د حد يا قصاص اقرار کول صحيح دي، ځکه چې د حد او قصاص په حق کي محجور غلام پر خپل اصلي حريت باقي پاتېږي، او د آزاد کس لپاره د حد يا قصاص اقرار کول صحيح او معتبر دي، نو ځکه د محجور غلام لپاره به هم د حد يا قصاص اقرار صحيح وي او په دې باره کي به د هغه اقرار هم معتبر وي.

**ولا بد من البلوغ والعقل إلخ:** فرمايي: د بالغ کېدلو او عاقل کېدلو شرط ځکه لګول سوی دی چې په مُقِر کي د اقرار او د التزام اهليت وي، او څرنګه چې په بچي او مجنون کي د اقرار او التزام اهليت نسته، نو ځکه د هغو اقرار لره به هيڅ حيثيت هم نه وي. ها! که چيري يو بچي ته د خپل ولي او سرپرست له طرفه د تجارت (کاروبار) او تصرف کولو اجازت حاصل وي، نو د هغه اقرار معتبر دی؛ ځکه چې د اجازت په وجه هغه په دې باره کي د بالغانو په صف کي درېږي.

**وجهالة المقربه إلخ:** په دې عبارت سره د متن د دې جملې "مَجْهولًا كَانَ مَا أَقَرَّ بِهِ أَوْ مَعْلُوْمًا" وضاحت کوي، فرمايي چې د اقرار د صحت لپاره د مقربهٖ معلوم والی (متعين والی) ضروري نه دی، بلکي که مقربهٖ مجهول وي، نو بيا هم اقرر صحيح دی او انسان مجهول شی هم پر ځان لازمولای سي، مثلاً که يو سړی د بل چا شی ضايع کړي لېکن د هغه قيمت ده ته معلوم نه وي يا مثلاً يو سړی په بل چا کي يو زخم جوړ کړي لېکن د هغه تاوان (أرش) ده ته معلوم نه وي چې څومره کيږي، او بيا دغه ضايع کونکی او زخمي کونکی سړی د خپل فعل اقرار وکړي، نو د دوی دغه اقرار معتبر او صحيح دی. لېکن له دوی څخه به د هغه فعل د وضاحت او تعيين غوښتنه کيږي، او که دوی په سمه د هغه وضاحت او تعيين نه کوي، نو قاضي به د وهلو او ډنډو په زور په دوی د هغه وضاحت بيانوي.

د دې په خلاف که مقرلهٔ مجهول وي نو اقرار صحيح نه دی، مثلاً که يو څوک داسي ووايي "لِرَجُلٍ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ" (پر ما ديو سړي زر درهمه باندي دي) او سړی معلوم نه کړي، نو څرنګه چي په دې صورت کي مقرلهٔ مجهول دی، نو ځکه دا اقرار صحيح نه دی؛ ځکه چي مجهول کس د حق او مال مستحق کېدای نه سي.

## د مجهول اقرار بيان

فَإِنْ قَالَ: لِفُلَانٍ عَلَيَّ شَيْءٌ فرمايي: او که څوک ووايي: چي د فلانکي پر ما يو شی باندي دی لَزِمَهُ أَنْ يُبَيِّنَ مَا لَهُ قِيمَةٌ نو پر ده لازم دي چي داسي شی بيان کړي چي هغه لره يو قيمت وي لِأَنَّهُ أَخْبَرَ عَنِ الْوُجُوبِ فِي ذِمَّتِهِ ځکه چي ده پر خپله ذمه [ديو شي] واجبېدلو اقرار کړی دی وَمَا لَا قِيمَةَ لَهُ لَا يَجِبُ فِيهَا او کوم شي لره چي قيمت نه وي هغه پر ذمه نه واجبيږي فَإِذَا بَيَّنَ غَيْرَ ذٰلِكَ لهذا کله چي هغه غير قيمت والا شی بيان کړي يَكُونُ رُجُوعًا نو دا به رجوع وي قَالَ: وَالْقَوْلُ قَوْلُهُ مَعَ يَمِينِهِ إِنْ ادَّعَى الْمُقَرُّ لَهُ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ او قول د مُقر معتبر دی که چيري مقرلهٔ د مُقر له اقرار کرده مقدار څخه د زيات مقدار اقرار وکړي لِأَنَّهُ هُوَ الْمُنْكِرُ فِيهِ ځکه چي په دې سلسله کي همدا مُقر انکار کونکی دی وَكَذَا إِذَا قَالَ: لِفُلَانٍ عَلَيَّ حَقٌّ او همدارنګه کله چي هغه ووايي: د فلانکي پر ما يو حق باندي دی لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَكَذَا لَوْ قَالَ: غَصَبْتُ مِنْهُ شَيْئًا او همدارنګه که هغه ووايي: ما له فلانکي څخه يو شی غصب کړی دی وَيَجِبُ أَنْ يُبَيِّنَ مَا هُوَ مَالٌ يَجْرِي فِيهِ التَّمَانُعُ نو ضروري ده چي هغه يو داسي شی بيان کړي کوم چي مال وي او په هغه کي تمانع [يو د بل منع کول] جاري وي [يعني هغه يو مفت شی نه وي لکه عام کاڼي (ډبري) او داسي نور، بلکي قيمت لرونکی شی وي چي خلک په خپل مينځ کي يو بل د هغه له اخيستلو څخه منع کوي] تَعْوِيلًا عَلَى الْعَادَةِ پر عادت [عرف] په اعتماد کولو سره وَلَوْ قَالَ: لِفُلَانٍ عَلَيَّ مَالٌ او که چيري ووايي: د فلانکي پر ما مال باندي دی فَالْمَرْجِعُ إِلَيْهِ فِي بَيَانِهِ نو د مال د وضاحت په باره کي د هغه وطرف ته رجوع کيږي لِأَنَّهُ الْمُجْمِلُ ځکه هغه اجمال کونکی دی وَيُقْبَلُ قَوْلُهُ فِي الْقَلِيلِ وَالْكَثِيرِ او په کم او زيات دواړو کي به د هغه قول منل کيږي لِأَنَّ كُلَّ ذٰلِكَ مَالٌ ځکه چي دا ټوله مال دی [يعني قليل هم مال دی او کثير هم مال دی] فَإِنَّهُ

اسْمٌ لِمَا يَتَمَوَّلُ بِهِ ځکه مال هغه شي ته وايي چي په هغه سره مالداري حاصليږي إِلَّا أَنَّهُ لَا يُصَدَّقُ فِي أَقَلَّ مِنْ دِرْهَمٍ لېکن تر يوه درهم په کم مقدار کي به د هغه تصديق نه کيږي لِأَنَّهُ لَا يُعَدُّ مَالًا عُرْفًا ځکه چي تر يوه درهم کم په عرف کي مال نه شمارل کيږي وَلَوْ قَالَ: مَالٌ عَظِيمٌ او که مُقر ووايي: ستر مال لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ نو تر دوو سوو درهمو په کم مقدار کي به د هغه تصديق نه کيږي لِأَنَّهُ أَقَرَّ بِمَالٍ مَوْصُوفٍ ځکه چي هغه د موصوف مال اقرار کړی دی [يعني ځکه هغه د داسي مال اقرار کړی دی کوم چي د "عظيم" په صفت سره متصف دی] فَلَا يَجُوزُ إِلْغَاءُ الْوَصْفِ نو ځکه [دا] صفت لغو ګرځول صحيح نه دي وَالنِّصَابُ عَظِيمٌ او نصاب [يعني د نصاب په اندازه مال] عظيم دی حَتَّى اُعْتُبِرَ صَاحِبُهُ غَنِيًّا بِهِ همدا وجه ده چي د نصاب خاوند د هغه په وجه مالدار ګڼل کيږي وَالْغَنِيُّ عَظِيمٌ عِنْدَ النَّاسِ او مالدار کس د خلکو په نيز عظيم [ستر] وي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ لَا يُصَدَّقُ فِي أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چي تر لسو درهمو په کم مقدار کي به د هغه تصديق نه کيږي وَهِيَ نِصَابُ السَّرِقَةِ او لس درهمه د غلا نصاب دی لِأَنَّهُ عَظِيمٌ حَيْثُ يُقْطَعُ بِهِ الْيَدُ الْمُحْتَرَمَةُ ځکه چي هغه په دې حيثيت سره عظيم دي چي د هغه په غلا کولو سره محترم لاس پرېکول کيږي وَعَنْهُ مِثْلُ جَوَابِ الْكِتَابِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دويم روايت د قدوري د حکم په څېر نقل سوی دی وَهَذَا إِذَا قَالَ: مِنَ الدَّرَاهِمِ او دا [حکم] په هغه صورت کي دی کله چي هغه ويلي وي: "مِنَ الدَّرَاهِم" أَمَّا إِذَا قَالَ: مِنَ الدَّنَانِيرِ لېکن که هغه ويلي وي: "مِنَ الدَّنَانِير" فَالتَّقْدِيرُ فِيهَا بِالْعِشْرِينَ نو په دنانيرو کي به شلو سره اندازه کيږي [يعني په دې صورت کي به شل دنانير مُتعينول کيږي] وَفِي الْإِبِلِ بِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ او په اوښانو کي به په پنځويشت سره اندازه کيږي لِأَنَّهُ أَدْنَى نِصَابٍ يَجِبُ فِيهِ مِنْ جِنْسِهِ ځکه چي دا ادنیٰ نصاب دی چي په هغه کي [زکاة] د هغه له جنس څخه واجبيږي [ځکه له دنانيرو څخه په شلو کي زکاة واجبيږي او له دراهمو څخه په دوو سوو کي زکاة واجبيږي او له اوښانو څخه په پنځويشتو کي (د له هغه له جنس څخه يعني) يو اوښ واجبيږي] وَفِي غَيْرِ مَالِ الزَّكَاةِ بِقِيمَةِ النِّصَابِ او د زکاة له مال څخه بغير په بل کي مال کي به د نصاب د قيمت اعتبار کيږي.

**اللغات:** ﴿يبيّن﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: بيانول. د يو شي وضاحت كول. ﴿تمانع﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو بل منع كول. ﴿تعويل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: اعتماد كول. بروسه كول. ﴿المَرجِع﴾ دا د ضرب له بابه مصدرِ ميمي دی او اسم ظرف هم پر دغه وزن راځي: رجوع كول. ﴿مُجمِل﴾ د افعال د باب فاعل دی: اجمال كونكی. اختصار كونكی. أَجْمَلَ يُجْمِلُ إِجْمَالًا: په مختصره او مبهمه توګه خبره كول. په كلام كي اختصار كول. ﴿عظيم﴾ ستر. غټ. ﴿لا يُصدق﴾ د تفعيل له بابه د نفي مجهول صيغه ده: تصديق كول. رښتونی ګڼل. خبر ورسره منل. ﴿سرقة﴾ غلام. ﴿المحترمة﴾ د افتعال له بابه د اسم مفعول مؤنث صيغه ده: احترام او عظمت والا. هغه څه چي د بل چا لپاره د هغه اخيستل او په هغه تېری كول ناجائز وي. لكه څرنګه چي دا د "المال المحترم" په تعريف كي ذكر سوي دي.

**تشريح:** په دغه عبارت كي څلور (۴) مسئلې ذكر سوي دي:

(۱)... كه يو سړی ووايي چي "پر ما د فلانكي سړي يو شی باندي دی" لېكن دا ښكاره نه كړي چي هغه څه شي دی، نو پر هغه لازم دي چي د شي داسي وضاحت وكړي كوم چي قيمت والا (قيمت لرونكی) شی وي؛ ځكه چي صرف قيمت والا شی پر ذمه واجبېږي. او كه هغه ووايي چي "د هغه فلانكي سړي (مقرلهٗ) پر ما له اسلامي حقوقو څخه يو حق باندي دی" نو دا د ده (مُقر) له طرفه د خپل اقرار څخه رجوع ده؛ ځكه چي د اسلامي حق هيڅ ماليت او قيمت نه وي. او كه مُقِر ووايي چي "د فلانكي (مقرلهٗ) پر ما سل روپۍ قرض باندي دی"، لېكن فلانكی (مقرلهٗ) ووايي چي "قرض دوه سوه روپۍ دی"، نو په دې صورت كي به هغه فلانكی (مقرلهٗ) پر خپله دعوىٰ بيّنه پېشوي او كه هغه بيّنه پېش نه كړی سي، نو له مُقِر څخه به قسم اخيستل كيږي او تر قسم اخيستلو وروسته به د هغه په حق كي فيصله كيږي يعني پر هغه به فقط د سل روپيو اداء لازمول كيږي؛ ځكه چي په دې حديث "البَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِيْ وَالْيَمِيْنُ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ" كي پر مدعىٰ عليه قسم لازم سوی دی.

كه چيري مُقِر ووايي د "فلانكي پر ما يو حق باندي دی (لفلانٍ عليّ حقٌّ)"، نو بيا هم پر هغه د داسي شي وضاحت كول لازم دي كوم چي متقوّم (قيمت لرونكی) وي؛ ځكه چي په دې جمله سره هم د داسي شي خبر وركول سوی دی كوم چي پر ذمه واجب وي، او پر ذمه صرف متقوّم شی واجبيږي.

(۲)... كه مُقِر ووايي چي "ما د فلانكي يو شی غصب كړی دی"، نو په دې صورت كي هم پر مُقِر په متقوّم شي سره د هغه وضاحت كول لازم دي؛ ځكه چي په عرف كي په غصب سره عموماً د متقوّم مال غصب مراديږي، ځكه چي صرف همدا متقوّم شی پر ذمه واجبيږي.

(۳)... که مُقِر داسې ووايي چې " پر ما د فلانکي مال باندي دی (لفلان عليَّ مال)". نو څرنګه چې مال مجمل دی او دا اجمال په خپله د مُقِر له طرفه پيدا سوی دی، نو ځکه پر مُقر د هغه وضاحت کول لازم دي، او هغه چې تريوه درهم زيات کوم مقدار هم بيان کړي، نو د هغه قول به منل کيږي، لېکن که هغه يو درهم يا تر هغه کم مقدار بيان کړي، نو د هغه قول معتبر نه دی؛ ځکه چې تريوه درهم کم مقدار نه عرفاً مال شمال کيږي او نه د هغه په ورکېدلو او غلا کېدلو څه پروا کيږي.

(۴)... او که مُقِر داسې ووايي چې "پر ما د فلانکي عظيم (ستر) مال دی". نو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز حکم دا دی چې تر دوه سوو درهمو په کم مقدار کي به د هغه قول نه منل کيږي. يعني که هغه دوه سوه درهمه يا تر دې زيات مقدار بيان کړي، نو بيا خو د هغه قول معتبر دی، کنې نه دی؛ ځکه چې دلته مُقِر د "عظيم" په وصف سره مال متصف کړی دی. لهذا د دې وصف اعتبار کول ضروري دي؛ او څرنګه چې دوه سوه درهمه د نصاب مال دی او په هغه کي زکاة واجب دی او دا مقدار په عرف کي عظيم ګڼل کيږي؛ ځکه څوک چې دوه سوه درهمه لري. نو هغه مالدار شمارل کيږي او پر هغه زکاة واجبيږي، نو ځکه له عظيم مال څخه به د دوه سوه درهمو مقدار مرادول کيږي.

او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه په دې سلسله کي دوه روايتونه نقل سوي دي: ① يو روايت د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په څېر دی، ② او دويم روايت دا دی چې د عظيم اقل (کمترين) مقدار لس درهمه دي، نو په لس درهمو يا تر دې په زيات مقدار کي به د هغه قول منل کيږي او تر دې په کم مقدار کي به د هغه قول نه منل کيږي؛ ځکه چې لس درهمه د غلا نصاب دی يعني د دومره مال په غلا کولو سره د غله لاس پرېکول کيږي، کوم چې محترم اندام دی. لهذا پر کوم مقدار چې لاس پرېکول کيږي، هغه مقدار به هم محترم او عظمت والا وي. دا دوارو قولونه (يعني د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُم الله اقوال) په هغه صورت کي دي کله چې مُقِر داسې ويلي وي: "لفلان عليّ مالٌ عظيمٌ من الدراهم".

او که چيري هغه د دراهم پر ځای دنانير ويلي وي، نو په دې صورت کي د هغه اقل مقدار شل ديناره دي؛ ځکه چې د دينار په حساب سره د نصاب مقدار شل ديناره دي. او که مُقِر "من الإبل" ووايي، نو پنځويشت اوښان اقل مقدار دی، ځکه چې په اوښانو کي پنځويشت عدده د نصاب مقدار دی. لنډه دا چې مُقِر که د هر جنس نوم اخيستی وي، د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به د هغه جنس د زکاة نصاب مقربه ګرځول کيږي او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به د لس درهمو مقدار مقربه ګرځول کيږي.

شمس الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول زيات صحيح معلوميږي. نو په دې کي به د اقرار کونکي (مُقِر) مالي حالت ته کتل کيږي. لهذا که هغه غريب او تنګلاسی وي، نو

د هغه لپاره لږ دراهم هم ډېر او عظيم مال دی او که هغه مالدار وي، نو د هغه لپاره ډېر دراهم هم هيڅ حيثيت نه لري، لهذا له حالت کتلو څخه بغير په داسي صورتونو کي فوراً دوه سوه درهمه لازمول مناسب نه دي. (احسن الهدايه)

## د يو څو مبهمو الفاظو د اقرار حکم او تفصيل

وَلَوْقَالَ: أَمْوَالٌ عِظَامٌ او که مُقِر ووايي: عظيم مالونه [يعني داسي ووايي: پر ما د فلانکي عظيم (ستر) مالونه باندي دي] فَالتَّقْدِيرُ بِثَلَاثَةِ نُصُبٍ مِنْ جِنْسٍ مَا سَمَّاهُ نو هغه چي د کوم جنس والا مالونه ذکر کړي وي د هغه په دريو نصابو سره به اندازه کيږي اعْتِبَارًا لِأَدْنَى الْجَمْعِ د ادنیٰ جمع په اعتبار کولو سره وَلَوْقَالَ: دَرَاهِمُ كَثِيرَةٌ او که مُقِر ووايي: زيات دراهم لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةٍ نو تر لسو درهمو په کم مقدار کي به د هغه تصديق نه کيږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دي وَعِنْدَهُمَا❁ لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ مِائَتَيْنِ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به تر دوو سوو درهمو په کم مقدار کي د هغه تصديق نه کيږي لِأَنَّ صَاحِبَ النِّصَابِ مُكْثِرٌ ځکه چي صاحب د نصاب زيات مال والا وي [او نصاب دوه سوه درهمه دی] حَتَّى وَجَبَ عَلَيْهِ مُوَاسَاةُ غَيْرِهِ همدا وجه ده چي پر هغه د بل چا سره مالي همدردي کول واجب دي بِخِلَافِ مَا دُونَهُ په خلاف تر نصاب د کم مال وَلَهُ: أَنَّ الْعَشَرَةَ أَقْصٰى مَا يَنْتَهِي إِلَيْهِ اسْمُ الْجَمْعِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي "لس" هغه آخري عدد دی چي پر هغه د جمع نوم منتهي کيږي [په بله وينا: د امام صاحب دليل دا دی چي د لسو عدد دِاسم جمع آخري (نهائي) عدد دی] يُقَالُ: عَشَرَةُ دَرَاهِمَ ثُمَّ يُقَالُ: أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا ويل کيږي: عشرة دراهم [د جمع په صيغه سره] تر هغه وروسته ويل کيږي: احد عشر درهمًا [د مفرد په صيغه سره] فَيَكُونُ هُوَ الْأَكْثَرَ مِنْ حَيْثُ اللَّفْظُ لهذا د لفظ په اعتبار سره "لس" [عشرة] اکثر دی فَيَنْصَرِفُ إِلَيْهِ نو ځکه د هغه وطرف ته به رجوع کيږي وَلَوْقَالَ: دَرَاهِمُ او که مُقِر ووايي: دَرَاهِم [يعني داسي ووايي:

---

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۴، ص:۵۰۱)، وملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۳۹۸). وقال المفتي غلام قادر النعماني: لو حملت هذه المسئلة على العرف لكانت أولى، لأن كل متكلم يتكلم باصطلاحه. [القول الراجح ج:۲، ص:۱۹۵]

پر ما د فلانکي دراهم باندي دي] فَهِيَ ثَلَاثَةٌ نو هغه درې درهمه دي [يعني له هغه شخصه به درې درهمه مرادول کيږي] لِأَنَّهَا أَقَلُّ الْجَمْعِ الصَّحِيحِ ځکه چي درې [ثلاثة] د جمع صحيح کمترين فرد دی إِلَّا أَنْ يُبَيِّنَ أَكْثَرَ مِنْهَا مګر دا چي مُقِر په ځپله تر دريو زيات دراهم بيان کړي لِأَنَّ اللَّفْظَ يَحْتَمِلُهُ ځکه چي [د جمع لفظ] د دې احتمال هم لري وَيَنْصَرِفُ إِلَى الْوَزْنِ الْمُعْتَادِ او د دراهم به د معتاد [رائج] وزن وطرف ته ګرځي [په بله وينا: او د دراهمو د معروف وزن وطرف ته به رجوع کيږي (کوم چي په ښار کي رائج وي)] وَلَوْ قَالَ: كَذَا كَذَا دِرْهَمًا او که مُقِر ووايي: دومره دومره دراهم لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا نو تر يوولس درهمو په کم مقدار کي به د هغه تصديق نه کيږي لِأَنَّهُ ذَكَرَ عَدَدَيْنِ مُبْهَمَيْنِ لَيْسَ بَيْنَهُمَا حَرْفُ الْعَطْفِ ځکه چي هغه دوه داسي مبهم عددونه ذکر کړي دي چي د هغوی په مينځ کي حرفِ عطف نشته وَأَقَلُّ ذٰلِكَ مِنَ الْمُفَسَّرِ أَحَدَ عَشَرَ او د تفسير [وضاحت کولو] په صورت کي د هغه کمترين مقدار يوولس دی وَلَوْ قَالَ: كَذَا وَكَذَا او که هغه ووايي: دومره او دومره دراهم لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ أَحَدٍ وَعِشْرِينَ نو تر يو ويشت درهمو په کم مقدار کي به د هغه تصديق نه کيږي لِأَنَّهُ ذَكَرَ عَدَدَيْنِ مُبْهَمَيْنِ بَيْنَهُمَا حَرْفُ الْعَطْفِ ځکه چي مُقِر دوه داسي عددونه ذکر کړي دي چي د هغوی په مينځ کي حرفِ عطف سته وَأَقَلُّ ذٰلِكَ مِنَ الْمُفَسَّرِ أَحَدٌ وَعِشْرُونَ او د تفسير په صورت کي د هغه کمترين مقدار يوولس دی فَيُحْمَلُ كُلُّ وَجْهٍ عَلَى نَظِيرِهِ نو ځکه هر وجه به د هغه پر نظير [مشابه عدد] حمل کول کيږي وَلَوْ قَالَ: كَذَا دِرْهَمًا او که هغه ووايي: دومره درهم [د مفرد په صيغه سره. په بله وينا: دومره از روپۍ درهم] فَهُوَ دِرْهَمٌ نو هغه يو درهم دی لِأَنَّهُ تَفْسِيرٌ لِلْمُبْهَمِ ځکه دا [درهما] د مبهم تفسير دی [يعني د مبهم شي تمييز دی او هغه "كذا" دی. ځکه له "كذا" څخه مبهم عدد مراد دی چي د هغه أقل "يو" دی. نو ځکه پر يوه درهم به حمل کول کيږي] وَلَوْ ثَلَّثَ كَذَا بِغَيْرِ وَاوٍ او که مُقِر درې واره د "كَذَا" لفظ له "واو" څخه بغير ووايي فَأَحَدَ عَشَرَ نو هغه يوولس درهمه دي لِأَنَّهُ لَا نَظِيرَ لَهُ سِوَاهُ ځکه چي له "يوولس" څخه بغير د هغه بل مشابه عدد نشته وَإِنْ ثَلَّثَ بِالْوَاوِ او که مُقِر درې واره د "واو" سره د "كَذَا" لفظ ووايي فَمِائَةٌ وَأَحَدٌ وَعِشْرُونَ نو هغه يو سل و يو ويشت [۱۲۱] درهمه دي وَإِنْ رَبَّعَ او

که هغه څلور واره د "كذا" لفظ ووايي يُزَادُ عَلَيْهَا أَلْفٌ نو پر [۱۲۱] به زر درهمه اضافه كول كيږي لِأَنَّ ذٰلِكَ نَظِيرُهُ ځکه چي د هغه مشابه همدا عدد دی.

**اللغات**: ﴿عظام﴾ جمع د عَظِيمٌ ده: ستر، غټ. ﴿مواساة﴾ او مُؤَاسَاة. د مفاعلې د باب مصدر دی: آسَى يُوَاسِيْ مُوَاسَاةً: د يو چا سره مالي همدردي كول، غم خوري، خواخوږي. (مصباح اللغات). ﴿أقصى﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات لري، آخري درجه. ﴿أقل﴾ دا هم د اسم تفضيل صيغه ده: زيات كم، كمتر (كمترين). ﴿معتاد﴾ د افتعال د باب اسم مفعول دی: هغه څه چي په عرف كي د هغه عادت او رواج وي، رائج (مروج). ﴿يحمل﴾ د ضرب مضارع مجهوله ده: حمل كول. ﴿ثلث﴾ د تفعيل د باب ماضي صيغه ده: يو كار درې واره كول (يو لفظ درې واره ذكر كول). ﴿نظير﴾ مثل، مثال، مشابه.

**تشريح**: په دې عبارت كي د جمع په لفظ سره د اقرار كولو تقريباً شپږ صورتونه ذكر سوي دي:

(۱)... که مُقِر ووايي چي "عليّ أموال عِظَام لفلان". نو هغه چي د مال كومه نوع بيان كړې وي، د هغه نوع او جنس درې نصابه به مرداول كيږي او پر مُقِر به درې نصابه واجبُ الاداء وي، نو که مُقِر "من الدراهم" ويلي وي، نو پر هغه به شپږ سوه درهمه واجب وي او که هغه "من الدنانير" ويلي وي، نو شپږ سوه ديناره به پر واجب وي وقِس على هذا: ځکه چي عِظَام جمع د عظيمٌ ده او د جمع كمترين (اقلّ) فرد "درې" دی. نو ځکه مُقِر چي د كوم مال وضاحت كړی وي، د هغه درې نصابه به پر مُقِر واجب وي.

(۲)... او که مُقِر "دراهم كثيرة" ووايي، نو په دې صورت كي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هغه اقل مقدار لس درهمه دي او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د هغه اقل مقدار دوه سوه درهمه دي؛ ځکه چي هغه "كثيرة" ويلي دي او "كثيرة" (ډېر دراهم) صرف د نصاب والا سره وي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د جمع آخري عدد "عشرة" (لس درهمه) دي، لکه څرنګه چي تر لسو پوري "عشرة دراهم" ويل كيږي او تر هغه د زائد مقدار لپاره "أحد عشر درهمًا" ويل كيږي. لهذا "عشرة" به په لفظي اعتبار سره اكثر وي او پر همدې به عمل كيږي.

(۳)... که مقر ووايي "لفلان عليّ دراهم". نو د دې اقل مقدار درې درهمه دي؛ ځکه چي د جمع صحيح اقل فرد "درې" دی. نو ځکه کم از کم په دريو سره د هغه وضاحت كول ضروري دي، ها! که مُقِر په خپله تر دريو په زيات دراهمو سره د هغه وضاحت وكړي (يعني هغه ووايي چي ماله "دراهم" څخه

مراد [مثلا] نهه درهمه دي)، نو په دې صورت کي به هم د هغه تصديق کيږي؛ ځکه چي "دراهم" جمع ده او په هغه کي له دريو څخه د زائد مقدار احتمال هم سته.

او له دراهمو څخه به هماغه دراهم مراد وي کوم چي د مُقِر په ښار کي رائج وي؛ ځکه چي هغه د مطلق دراهمو اقرار کړی دی، او مطلق پر هغه ثمن حمل کيږي کوم چي په ښار کي رائج او غالب الاستعمال وي.

(۴)... که مُقِر "کذا، کذا درهمًا" ووايي، نو د هغه اقل مقدار يوولس (۱۱) درهمه دي؛ ځکه چي "کذا، کذا" دوه عدده دي او دواړه مبهم دي او څرنګه چي د دوی په مينځ کي حرفِ عطف هم نسته. او هغه مرکب اعداد چي د هغوی په مينځ کي حرف عطف نه وي، د هغوی اقل شمېر "يوولس" دی، نو ځکه له پورتني اعدادو څخه به يوولس درهمه مرادول کيږي. د دې په خلاف که مُقِر په حرفِ عطف سره "کذا وکذا درهمًا" ووايي، نو بيا به له هغه څخه يو ويشت (۲۱) درهمه مرادول کيږي؛ ځکه چي د حرفِ عطف په ذريعه د دوه مرکب اعدادو اقل شمېر همدا دی؛ او څرنګه چي اقل متيقن وي، نو ځکه هغه به مُتعيّن کيږي.

(۵)... که مُقِر "کذا درهمًا" ووايي، نو له دې څخه به يو درهم مرادول کيږي؛ ځکه چي "درهمًا" واحد دی او د هغه اقل فرد "يو" دی.

(۶)... او که مُقِر له حرفِ عطف څخه بغير درې واره "کذا، کذا، کذا درهمًا" ووايي، نو له دې څخه به يوولس درهمه مرادول کيږي؛ ځکه چي له حرفِ عطف څخه بغير د دريو لفظونو لپاره يو واضح عدد نسته؛ نو ځکه له دريو څخه به يو لفظ مکرر او اضافي شمارل کيږي او د مُقِر له طرفه به صرف دوه ځله "کذا، کذا درهمًا" ويل ثابتيږي؛ او تاسو ته معلومه سوه چي بغير له حرفِ عطفه د "کذا، کذا درهمًا" ويلو په صورت کي يوولس درهمه واجبيږي، نو ځکه په دې صورت کي به هم يوولس درهمه واجب وي.

او که مُقِر په حرفِ عطف سره درې واره "کذا وکذا وکذا درهمًا" ووايي، نو د دې اقل مقدار يو سل و يوويشت (۱۲۱) درهمه دي؛ ځکه چي په حرفِ عطف سره د دريو لفظونو اقل شمېر "مائة وأحد وعشرون" دی. او که مُقِر څلور واره په حرفِ عطف سره "کذا وکذا وکذا وکذا درهمًا" ووايي، نو د دې اقل شمېر "ألف ومائة وأحد وعشرون" دی يعني يو زور او يو سل و يوويشت (۱۱۲۱) درهمه.

# په داسي الفاظو سره اقرار کول چي په هغوی کي صراحتاً اقرار ذکر نه وي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ أَوْ قِبَلِي فرمايي: او که مُقر ووايي: د هغه [فلانکي] پر ما يا زما سره [دراهم دي] فَقَدْ أَقَرَّ بِالدَّيْنِ نو هغه د قرض اقرار وکړی لِأَنَّ ''عَلَيَّ'' صِيغَةُ إِيجَابٍ ځکه چي ''عَلَيَّ'' د ايجاب صيغه ده وَقِبَلِي يُنْبِئُ عَنِ الضَّمَانِ او ''قِبَلِيْ'' د ضمان خبر ورکوي عَلَى مَا مَرَّ فِي الْكَفَالَةِ لکه په ''كتاب الكفاله'' کي چي تېر سوه وَلَوْ قَالَ الْمُقِرُّ: هُوَ وَدِيعَةٌ وَوَصَلَ او که مُقر ووايي: چي هغه وديعت دی [يعني د فلانکي پر ما يا زما سره د امانت دراهم دي] او هغه متصل کړي [يعني ''هو وديعة'' د ''علي'' يا ''قبلي'' سره متصل ووايي] صُدِّقَ نو د هغه تصديق به کيږي لِأَنَّ اللَّفْظَ يَحْتَمِلُهُ مَجَازًا ځکه چي [دا] لفظ مجازاً د وديعت احتمال لري حَيْثُ يَكُونُ الْمَضْمُونُ عَلَيْهِ حِفْظَهُ ځکه چي مودَع [أمين] د وديعت د حفاظت کولو ضامن [ذمه وار] وي وَالْمَالُ مَحَلُّهُ او مال د حفاظت محل دی فَيُصَدَّقُ مَوْصُولًا لَا مَفْصُولًا نو ځکه [صرف] موصولا به د هغه تصديق کيږي، نه مفصولا قَالَ: وَفِي نُسَخِ الْمُخْتَصَرِ فِي قَوْلِهِ قِبَلِي: إِنَّهُ إِقْرَارٌ بِالْأَمَانَةِ او صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د مختصر القدوري په بعضي نسخو کي د مُقر د دې قول ''قِبَلِيْ'' په هکله نقل سوي دي: چي دا د امانت اقرار دی لِأَنَّ اللَّفْظَ يَنْتَظِمُهُمَا ځکه چي دا لفظ امانت لره هم شامل دی حَتَّى صَارَ قَوْلُهُ: ''لَا حَقَّ لِي قِبَلَ فُلَانٍ'' إِبْرَاءً عَنِ الدَّيْنِ وَالْأَمَانَةِ جَمِيعًا همدا وجه ده چي د يو چا دا قول ''د فلانکي سره زما هيڅ حق نسته'' له قرض او امانت دواړو څخه بري کول ګرځي وَالْأَمَانَةُ أَقَلُّهُمَا او په دې دواړو [امانت او قرض] کي امانت اقل دی وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ لېکن اول قول زيات صحيح دی وَلَوْ قَالَ: عِنْدِي أَوْ مَعِي أَوْ فِي بَيْتِي أَوْ فِي كِيسِي أَوْ فِي صُنْدُوقِي او که چيري مُقر ووايي: زما سره [د فلانکي دراهم دي] يا زما په کور کي يا زما په خلته يا زما په صندوق کي فَهُوَ إِقْرَارٌ بِأَمَانَةٍ فِي يَدِهِ نو دا د هغه په قبضه کي د امانت کېدلو اقرار دی لِأَنَّ كُلَّ ذَلِكَ إِقْرَارٌ بِكَوْنِ الشَّيْءِ فِي يَدِهِ ځکه چي دا ټوله د دې خبري اقرار کول دي چي هغه شی د ده په قبضه کي دی وَذَلِكَ يَتَنَوَّعُ إِلَى مَضْمُونٍ وَأَمَانَةٍ او قبضه [يا مقبوض شی] د مضمون او امانت وطرف ته

تقسيميږي [يعني قبضه پر دوه قسمه ده: د ضمانت قبضه، د امانت قبضه] فَيَثْبُتُ أَقَلُّهُمَا نو ځکه له دوی څخه به اقل [يعني امانت] ثابتيږي وَلَوْقَالَ لَهُ رَجُلٌ: لِي عَلَيْكَ أَلْفٌ او که يو څوک بل چا ته ووايي: زما پر تا زر درهمه باندي دي فَقَالَ: اتَّزِنْهَا أَوِ انْتَقِدْهَا نو هغه [بل څوک] ووايي: چي ته هغه وزن کړه! يا ته د هغه کره او کوټه سره جلا کړه! أَوْ أَجِّلْنِي بِهَا أَوْ قَدْ قَضَيْتُكَهَا يا [ووايي] ما ته د هغه دراهمو په باره کي مهلت راکړه! يا ما تا ته هغه درکړل [يعني هغه به زه تا ته درکړم (اداء کړم)] فَهُوَإِقْرَارٌ نو دا اقرار دی لِأَنَّ الْهَاءَ فِي الْأَوَّلِ وَالثَّانِي كِنَايَةٌ عَنِ الْمَذْكُورِ فِي الدَّعْوٰى ځکه په اوله او دويمه جمله کي چي کومه "هاء" ده دا له هغو دراهمو څخه کنايه ده کوم چي په دعوىٰ کي مذکور [ذکر سوي] دي فَكَأَنَّهُ قَالَ: اتَّزِنِ الْأَلْفَ الَّتِي لَكَ عَلَيَّ نو ګواکي هغه داسي وويل: ته هغه دراهم وزن کړه! کوم چي ستا پر ما باندي دي حَتّٰى لَوْلَمْ يَذْكُرْ حَرْفَ الْكِنَايَةِ حتیٰ که هغه حرفِ کنايه ذکر نه کړي لَا يَكُونُ إِقْرَارًا نو دا اقرار نه ګرځي لِعَدَمِ انْصِرَافِهِ إِلَى الْمَذْكُورِ ځکه چي [په دې صورت کي] هغه د مذکور وطرف ته ګرځول ممکن نه دي وَالتَّأْجِيلُ إِنَّمَا يَكُونُ فِي حَقٍّ وَاجِبٍ او مهلت ورکول په واجب سوي حق کي کيږي وَالْقَضَاءُ يَتْلُو الْوُجُوبَ او اداء کول تر وجوب وروسته کيږي وَدَعْوَى الْإِبْرَاءِ كَالْقَضَاءِ او د برې کولو دعوىٰ داسي ده لکه د اداء کولو دعوىٰ کول لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَكَذَا دَعْوَى الصَّدَقَةِ وَالْهِبَةِ او همدارنګه د صدقه کولو او هبه کولو دعوىٰ [داسي] ده [لکه د اداء کولو دعوىٰ کول] لِأَنَّ التَّمْلِيكَ يَقْتَضِي سَابِقَةَ الْوُجُوبِ ځکه چي تمليک [مالک جوړول] د مخکي واجبېدلو تقاضا کوي وَكَذَا لَوْقَالَ: أَحَلْتُكَ بِهَا عَلٰى فُلَانٍ او همدارنګه که هغه ووايي: ما ته د هغه درهمو په هکله پر فلانکي حواله کړې! لِأَنَّهُ تَحْوِيلُ الدَّيْنِ ځکه چي دا [د بل چا ذمې ته] د قرض منتقل کول دي.

**اللغات**: ﴿قبلي﴾ د "قِبَل" يوه معنىٰ ده "طرف" او بله معنىٰ يې ده "سره" (زما په قبضه). لکه څرنګه چي عرب وايي "لِي قِبَلَ فُلَانٍ دَيْنٌ" (زما د فلانکي سره قرض دی [د فلانکي په قبضه کي زما قرض دی]). دلته د "سره" په معنىٰ سره دی. او د ضمان (ضامن کېدلو) په معنىٰ سره هم راځي چي د هغه وضاحت

به په تشريح کي وي، او د طرف د معنیٰ مثال يې دا دی "أَتَانِيْ مِنْ قِبَلِه" (دهغه له طرفه [دهغه له خوا] ماته راغلی) (مصباح اللغات)، ﴿إيجاب﴾ د افعال د باب مصدر دی: واجبول، لازمول. ﴿يلبي﴾ د افعال د باب مضارع ده: خبر ورکول. ﴿الوديعة﴾ امانت ايښوول سوی مال، د بل چا سره پرېښوول سوی مال. ﴿الامانة﴾ امانت، هغه څه چي د عقد په ذريعه يا بغير له عقده د هغه حفاظت کول واجب وي، د عقد په ذريعه لکه وديعت، او بغير له عقده لکه لقطه (په لاره کي پيدا کړی سوی شی). ﴿يتنظمها﴾ د افتعال د باب مضارع ده: شاملېدل، مشتمل کېدل. ﴿كِيْس﴾ خلته، تېلی. ﴿يتنوّع﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: قسما قسم کېدل، يو شی څو اقسامو ته تقسيمېدل. ﴿اتزنها﴾ د افتعال له بابه د واحد مذکر امر حاضر صيغه ده: وزن کول، تلل. ﴿انتقدها﴾ د افتعال له بابه د واحد مذکر امر حاضر صيغه ده: پر دراهمو د دې لپاره قبضه کول چي د هغه اصل او کوټه سره جلا کړی سي، يو شي ته د دې لپاره کتل چي د هغه ښه او بد سره وپېژندل سي، ازمايل، معلومول. ﴿أجّلني﴾ د تفعيل له بابه مخکني صيغه ده: مهلت ورکول. ﴿قضيتُ﴾ د ضرب له بابه د واحد متکلم ماضي صيغه ده: اداء کول، ورکول. ﴿يتلو﴾ د نصر له بابه د مضارع صيغه ده: يو شی په بل شي پسې کېدل، ورسره متصل کېدل. ﴿سابق﴾ د ضرب له بابه د مؤنث اسم فاعل صيغه ده: مخکني. ﴿أحلتك﴾ د افعال له بابه د واحد متکلم ماضي صيغه ده: يو څوک پر بل چا حواله کول. ﴿تحويل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: له يو ځايه بل ځای ته منتقل کول، نقلول (له يوې ذمې څخه بلي ذمې ته اړول). (مصباح اللغات)

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که يو څوک په دې الفاظو سره اقرار وکړي "لَهُ عَلَيَّ دَرَاهِمُ" يا "لَهُ مِنْ قِبَلِيْ دَرَاهِمُ" (د هغه فلانکي پر ما څه دراهم باندي دي. يا د فلانکي زما سره څه دراهم دي)، نو دا د قرض (دَين) اقرار دی او پر مُقِر د وضاحت سره هغومره دراهم واجب دي؛ ځکه چي "عليّ" پر خپل ځان ديوشي د واجبولو لپاره وضع سوی دی، او "قِبَلي" هم د ضمان (او پر ځان ديوشي د تاوان لازمولو) لپاره وي، لکه څرنګه چي "قَبِلَ فلانٌ عن فلان" د "ضَمِن عنه" په معنیٰ سره دی او "قَبِيْل" د ضامن (كفيل) په معنیٰ سره دی.

او که چيري مُقِر د "علی دراهم" سره "هو وديعة" متصل ووايي او د دوی په مينځ کي فصل نه وکړي، نو د هغه تصديق به کيږي او دغه دراهم به د امانت دراهم شمارل کيږي؛ ځکه چي په دې

جمله کي د همدې خبرې احتمال هم سته او بل دا چې د امانت مال حفاظت کول د مودَع (أمين) پر ذمه وي، نو ځکه په دې پورتني صورت کې به د مُقِر تصديق کيږي، او دا به د "تسمية المحل بإسم الحال" له قبيلې څخه وي، لېکن څرنګه چې له دې څخه امانت مرادول د حقيقت خلاف (خلاف الحقيقة) دي، لهذا فقط د وصل کولو په صورت کې (موصولاً) به د مُقِر تصديق کيږي، مفصولاً به د هغه تصديق نه کيږي. (احسن الهدايه)

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د قدوري په بعضې نسخو کې "لَهُ مِنْ قِبَلِيْ دَرَاهِمُ" اقرار بالامانت شمارل سوی دی؛ ځکه چې د "قِبَلِي" په لفظ کې د امانت احتمال هم سته (ځکه د دې معنیٰ ده: زما سره د فلانکي دراهم دي)، او څرنګه چې په امانت کې ضمان نه واجبيږي (يعني که له أمين څخه د امانت شی هلاک سي نو پر هغه تاوان نه لازميږي) نو په دې وجه امانت له دَين څخه اقل دی، او اقل متيقَن وي، نو ځکه دا لفظ به پر امانت حمل کول متيقَن وي، لېکن صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې "قِبَلِي" پر قرض (دَين) حمل کول زيات صحيح دي؛ ځکه چې د دې لفظ استعمال په قرضونو کې زيات او غالب وي، نو پر هغه به حمل کول زيات مناسب وي.

که چيرې مقرلهٗ ووايي "عِنْدِيْ يا مَعِيْ مَالًا" يا "فِيْ صُنْدُوْقِيْ مَالًا" يا داسې نور، نو په دې ټولو صورتونو کې هغه د امانت اقرار دی؛ ځکه چې دغه هر صورت د مُقِر پر قبضه دليل دی يعني له دې څخه مراد دا دی چې د هغه په قبضه کې د بل چا (مقرلهٗ) مال دی. او د بل چا پر مال قبضه پر دوه قسمه ده: ① د امانت قبضه، ② د ضمانت قبضه، او په دې دواړو کې د امانت قبضه اقل ده، نو ځکه هغه به مرادول کيږي.

ولوقال له رجل إلخ: مسئله دا ده که زيد و خالد ته ووايي چې "زما پر تا زر درهمه باندې دي"، او خالد د زيد په جواب کې ووايي "اتّزنها، يا انتقدها..."، يعني "ته هغه وزن کړه! يا د هغه کره او کوټه سره جلا کړه! يا ما ته د هغه د اداء کولو لپاره څه مهلت راکړه! يا زه هغه درکوم (اداء کوم)"، نو دا د خالد له طرفه د قرض (دَين) اقرار دی؛ ځکه چې په "اتّزنها او انتقدها" کې چې کومه "هاء" (د ضمير هاء) ده، دا له هغو زر درهمو څخه کنايه ده کوم چې په دعویٰ کې ذکر سوي دي (لکه څرنګه چې دا ښکاره خبره ده) او د خالد اصل جواب داسې دی چې "هغه زر درهمه کوم چې ستا پر ما باندې دي، ته هغه وزن کړه يا يې کره او کوټه سره جلا کړه...!"، ګواکې دغه هاء د ضمير ذکر کول په حقيقت کې د اقرار علامت دی او که چيرې د ضمير هاء نه وای نو دا به اقرار هم نه وای. او مهلت غوښتل او د قضاء

(اداء كولو) دعوىٰ كول دواړه د دې خبرې دليل دى چې له مخکې څخه زما پر ذمه ستا قرض واجب دى، ځكه كه قرض نه وي، نو نه به مهلت غوښتل صحيح وي او نه به د اداء كولو دعوىٰ كول صحيح وي.

وكذا دعوى الصدقة إلخ: او كه خالد دعوىٰ وكړي چې "تا هغه دراهم ما ته صدقه كړل (په خيرات كې دې راكړل!) يا ما ته دې هبه كړل"، نو دا هم اقرار دى؛ ځكه چې د صدقې او هبې دعوىٰ كول د دې خبرې تقاضا كوي چې مخكې د خالد پر ذمه د زيد قرض (زر درهمه) واجب وه. همدارنګه كه مدعىٰ عليه يعني خالد ووايي چې "ما د هغه زر درهمو په باره كې ته ادريس ته حواله كړې! (او د دې اداء كول مې د هغه پر غاړه واچول او ته په دې راضي سوې!)، نو دا هم د خالد له طرفه اقرار دى، ځكه چې د دې معنىٰ دا ده: زما پر ذمه چې كوم قرض واجب وو، ما هغه له خپل ذمې (غاړې) څخه د ادريس ذمې ته منتقل كړى.

## په اقرار كې د مقرلهٗ سره جزئي اختلاف كول

قَالَ: وَمَنْ أَقَرَّ بِدَيْنٍ مُؤَجَّلٍ فرمايي: او كه څوک د مؤجل [ميعادي] قرض اقرار وكړي فَصَدَّقَهُ الْمُقَرُّ لَهُ فِي الدَّيْنِ وَكَذَّبَهُ فِي التَّأْجِيلِ او مقرلهٗ د قرض په باره كې د هغه تصديق وكړي لېكن د ميعاد ټاكلو په هکله هغه دروغجن وګڼي لَزِمَهُ الدَّيْنُ حَالًا نو پر مُقِر في الحاله قرض لازميږي لِأَنَّهُ أَقَرَّ عَلَى نَفْسِهِ بِمَالٍ وَادَّعَى حَقًّا لِنَفْسِهِ فِيهِ ځكه چې هغه پر ځان د مال اقرار وكړى او په هغه كې يې د ځان لپاره ديو حق [تاجيل] دعوىٰ وكړه فَصَارَ كَمَا إِذَا أَقَرَّ بِعَبْدٍ فِي يَدِهِ وَادَّعَى الْإِجَارَةَ نو دا داسي سوه لكه مُقِر چې [د بل چا لپاره] د داسي غلام اقرار وكړي كوم چې د ده په قبضه كې وي او [د اقرار سره] د اجارې دعوىٰ هم وكړي بِخِلَافِ الْإِقْرَارِ بِالدَّرَاهِمِ السُّودِ په خلاف د تور دراهمو د اقرار كولو لِأَنَّهُ صِفَةٌ فِيهِ ځكه چې تور والى په درهم كې صفت دى وَقَدْ مَرَّتِ الْمَسْأَلَةُ فِي الْكَفَالَةِ او دا مسئله په كتاب الكفاله كې تېره سوې ده قَالَ: وَيُسْتَحْلَفُ الْمُقَرُّ لَهُ عَلَى الْأَجَلِ فرمايي: او د ميعاد پر انكار كولو به له مقرلهٗ څخه قسم اخيستل كيږي لِأَنَّهُ مُنْكِرٌ حَقًّا عَلَيْهِ ځكه چې هغه پر خپل ځان له حق لازمېدلو څخه منكر دى وَالْيَمِينُ عَلَى الْمُنْكِرِ او قسم پر منكر وي.

**اللغات**: ﴿مؤجل﴾ ميعادي (ميادي)، د كوم شي لپاره چې وخت ټاكل سوى وي، نېټه داره، ﴿كذبه﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: تكذيب كول، دروغجن ګڼل، دروغجن ګرځول، ﴿إجارة﴾ د

افعال د باب مصدر دی: په اُجرت ورکول، په کرایه ورکول. ﴿سُوْد﴾ جمع د اَسْوَد ده: تور، بد. کوته (احسن الهدایه). ﴿یستحلف﴾ د استفعال د باب مضارع مجهوله ده: له بل چا څخه د قسم کولو مطالبه کول، قسم ځني اخیستل.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که (مثلا) خالد ووایي چې "پر ما د نعمان قرض باندي دی لیکن هغه میعادي نه دی (یعني د هغه قرض لپاره زما او د نعمان په مینځ کي میاد (مودت) نه دی ټاکل سوی. بلکي هر وخت چې زما خوښه وي. هغه وخت قرض ورکوم)، او نعمان د قرض تصدیق وکړي لیکن د میعاد په دعویٰ کي مُقِر (خالد) درواغجن وګڼي او د میعاد انکار وکړي، نو په دې صورت کي پر مُقِر فوراً (فی الحاله) دا قرض واجبُ الاداء ګرځي؛ ځکه چې هغه پر خپل ځان د بل چا (نعمان) لپاره د قرض د اقرار کولو سره، سره د خپل ځان لپاره د میعاد دعویٰ هم کوي، نو په اقرار کي به د هغه قول معتبر وي لیکن د میعاد دعویٰ به معتبره نه وي. د دې مثال دا دی لکه یو څوک چې ووایي "زما سره چې کوم غلام دی، هغه د زید دی او ما هغه له زید څخه په اجاره (کرایه) اخیستی دی"، نو په دې صورت کي حکم دا دی چې په اقرار کي به د هغه تصدیق کیږي لیکن په دعویٰ (اجاره) کي به د هغه تصدیق نه کیږي؛ نو همداسي به دلته هم په اقرار (قرض) کي د مُقِر تصدیق کیږي لیکن په دعویٰ (میعاد) کي به د هغه تصدیق نه کیږي.

د دې په خلاف که مُقِر د یو چا لپاره د تور (سیاه) دراهمو اقرار وکړي (چې د فلانکي پر ما تور دراهم باندي دي. نه سپین)، لیکن مقرلهٗ (فلانکی) د سپینو دراهمو دعویٰ وکړي، نو په دې صورت کي د مُقِر قول معتبر دی؛ ځکه چې تور والی په دراهمو کي صفت اصلیه دی (ځکه دراهم له کوټ [غش] څخه بغیر نه سي جوړېدای)، لیکن میعاد په قرض کي عارضي شی (کوم چې له شرط لګولو څخه بغیر نه ثابتیږي)، او په صفت کي د مُقِر قول معتبر وي لیکن په عارض کي د منکر قول معتبر وي. نو ځکه موږ هم د صفت په صورت کي د مُقِر قول ته اعتبار ورکړی دی او د عارض یعني د میعاد په صورت کي مو د منکر یعني د مقرلهٗ قول ته ترجیح ورکړې ده. لیکن د دې سره، سره دا هم شرط دي چې مقرلهٗ به قسم اخلي؛ ځکه چې هغه منکر دی. او قاعده دا ده چې "البَيِّنَةُ عَلَى المُدَّعِيْ وَالْيَمِيْنُ عَلٰى مَنْ أَنْكَرَ".

## په اقرار کي مبهم اعداد ذکر کول (حکم او تفصيل)

وَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ مِائَةٌ وَدِرْهَمٌ او که يو څوک وواييې: چي د هغه [فلانکي] پر ما سل او يو درهم دي لَزِمَهُ كُلُّهَا دَرَاهِمُ نو پر هغه ټوله [يو سل ويو] درهمه لازميږي وَلَوْ قَالَ: مِائَةٌ وَثَوْبٌ او که چيري هغه وواييې: [د هغه پر ما] سل او يوه کپړه ده لَزِمَهُ ثَوْبٌ وَاحِدٌ نو پر هغه يوه کپړه لازميږي وَالْمَرْجِعُ فِي تَفْسِيرِ الْمِائَةِ إِلَيْهِ او د سلو د تفسير [او وضاحت] په باره کي به هغه ته رجوع کيږي وَهُوَ الْقِيَاسُ فِي الْأَوَّلِ او همدا په اول صورت کي قياس دی [يعني د "مائة ودرهم" په صورت کي هم قياس دا دی چي صرف يو درهم لازميږي] وَبِهِ قَالَ الشَّافِعِيُّ او امام شافعي رَحِمَهُ الله د همدې قائل دی لِأَنَّ الْمِائَةَ مُبْهَمَةٌ وَالدِّرْهَمَ مَعْطُوفٌ عَلَيْهَا بِالْوَاوِ الْعَاطِفَةِ لَا تَفْسِيرًا لَهَا ځکه چي مائه مبهم دی او درهم پر هغه معطوف دی، په واو عاطفه سره دې لره تفسير نسته [د تغاير په وجه] فَبَقِيَتِ الْمِائَةُ عَلَى إِبْهَامِهَا نو ځکه "مائة" [سل] پر خپل ابهام باقي پاته سو كَمَا فِي الْفَصْلِ الثَّانِي لکه په دويم صورت کي وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ وَهُوَ الْفَرْقُ: أَنَّهُمُ اسْتَثْقَلُوا تَكْرَارَ الدِّرْهَمِ فِي كُلِّ عَدَدٍ وَاكْتَفَوْا بِذِكْرِهِ عَقِيبَ الْعَدَدَيْنِ د استحسان دليل (او همدا [په دواړو صورتونو کي] فرق دی) دا دی چي هغوی په هر عدد کي د درهم تکرار ثقيل [درون] گڼي وَهٰذَا فِيمَا يَكْثُرُ اسْتِعْمَالُهُ او دا په هغه څه کي چي استعمال يې زيات وي وَذٰلِكَ عِنْدَ كَثْرَةِ الْوُجُوبِ بِكَثْرَةِ أَسْبَابِهِ او د استعمال زياتوب هماغه وخت وي کله چي د اسبابو د زياتوب په وجه وجوب زيات وي وَذٰلِكَ فِي الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ وَالْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ او دا خبره په دراهمو، دنانيرو، کيلي او وزني شيانو کي وي أَمَّا الثِّيَابُ وَمَا لَا يُكَالُ وَلَا يُوزَنُ او پاته سو کپړې او هغه شيان کوم چي نه کيل کيږي او نه تلل کيږي فَلَا يَكْثُرُ وُجُوبُهَا نو د هغوی وجوب هم زيات نه وي فَبَقِيَ عَلَى الْحَقِيقَةِ لهذا دلته "مائة" پر حقيقت باقي پاته سو [احسن الهدايه] وَكَذَا إِذَا قَالَ: مِائَةٌ وَثَوْبَانِ او همدارنګه کله چي هغه وواييې: سل او دوې کپړې لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: مِائَةٌ وَثَلَاثَةُ أَثْوَابٍ په خلاف د هغه صورت کله چي وواييې: سل او درې کپړې لِأَنَّهُ ذَكَرَ عَدَدَيْنِ مُبْهَمَيْنِ وَأَعْقَبَهُمَا تَفْسِيرًا ځکه چي هغه د دوو مبهم عددونو له ذکر کولو څخه وروسته د

هغوی تفسیر هم بیان کړی دی إِذِ الْأَثْوَابُ لَمْ تُذْكَرْ بِحَرْفِ الْعَطْفِ ځکه چي [دلته] "اثواب" په حرف عطف سره نه دي ذکر سوي فَانْصَرَفَ إِلَيْهِمَا نو ځکه دا تفسير به هغه دواړو عددونو ته راجع کيږي لِاسْتِوَائِهِمَا فِي الْحَاجَةِ إِلَى التَّفْسِيرِ ځکه چي تفسير ته په احتياج کي دوی دواړه برابر دي فَكَانَتْ كُلُّهَا ثِيَابًا نو ځکه هغه ټوله به کپړې وي.

**اللغات**: ﴿استثقلوا﴾ د استفعال له بابه د جمع مذكر غائب ماضي صيغه ده: ثقيل (درون) ګڼل، دروند ګڼل، بوج محسوسول. ﴿لا يُكال﴾ د ضرب له بابه د نفي مجهول صيغه ده: كَيل كول. په كَيل (معلوم لوښي او ظرف) سره پيمانه كول. ﴿أعقبها﴾ د افعال د باب مضارع ده: وروسته راوړل. ﴿استواء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: برابر يدل، برابري.

**تشريح: صورت د مسئلي**: دا دی که يو شوک ووايي "لِفُلَانٍ عَلَيَّ مِائَةٌ وَ دِرْهَمٌ" يعني "د فلانکي پر ما سل او يو درهم باندي دی"؛ نو استحسانا حکم دا دی چي له سلو شخه به دراهم مرادول کيږي او پر هغه پوره يو سل ويو (۱۰۱) درهمه لازميږي. او که هغه ووايي "د فلانکي پر ما سل او يوه کپړه ده"، نو پر هغه صرف يوه کپړه لازميږي او د سلو په باره کي به له هغه شخه د وضاحت غوښتنه کيږي (چي له سلو شخه ستا مراد شه دی؟).

او په اول صورت کي يعني د "لِفُلَانٍ عَلَيَّ مِائَةٌ وَدِرْهَمٌ" په صورت کي د قياس حکم دا دی چي پر هغه صرف يو درهم لازميږي لکه شرنګه چي د کپړې والا په صورت کي صرف يوه کپړه لازميږي؛ د قياس دليل دا دی چي "مائة" مبهم دي، لهذا د "مائة" او "درهم" په مينځ کي تغاير سته، نو ځکه "درهم" د "مائة" تفسير نه سي کېدای، نو ځکه "مائة" به پر خپل ابهام باقي پاته وي؛ او کله چي داسي ده نو د "مِائَةٌ وَثَوْبٌ" په شير به د "مِائَةٌ وَدِرْهَمٌ" په صورت کي هم له مُقِر شخه د "مائة" د وضاحت او تفسير غوښتنه کيږي.

د استحسان (او په دواړو صورتونو کي د فرق) دليل دا دی چي عرب د هر عدد سره "دِرْهَمًا" مکرر کول ثقيل او نا مناسب ګڼي او د دوو اعدادو يا له دوو شخه د زائد اعدادو په آخر کي صرف يو وار "درهم" ذکر کوي. مثلاً "أَحَدٌ وَعِشْرُوْنَ دِرْهَمًا" يا "مِائَةٌ وَأَحَدٌ وَعِشْرُوْنَ دِرْهَمًا"، او شرنګه چي د درهم، دينار، کَيلي او وزني شيانو ضرورت هم زيات وي او پر ژبو د هغوی استعمال او اطلاق هم زيات وي، نو ځکه په هغوی کي صرف يو وار ذکر کول به ټولو لره شامليږي او له "مِائَةٌ وَدِرْهَمٌ"

شخه به يو سل وي(۱۰۱) درهمه مراديږي. لېکن د "ثوب" د لفظ او د غير کيلي او غير وزني شي استعمال او اطلاق کم دی او هغه ته زيات ضرورت هم نه پرېوځي، نو ځکه د "مِائَةٌ وَثَوْبٌ" په صورت کي به "ثوب" سره د "مائه" تفسير نه کيږي بلکي دلته به "مائة" پر حقيقت باقي پاته وي او له مُقر څخه به د هغه د تفسير غوښتنه کيږي.

او که چيري مقر "مِائَةٌ وَثَوْبَانِ" ووايي، نو هم دغه حکم دی، يعني په "ثوبان" سره د "مائة" تفسير نه کيږي، بلکي له مُقر څخه به د هغه د وضاحت او تفسير غوښتنه کيږي.

ها! که چيري مُقر "مِائَةٌ وَثَلَاثَةُ أَثْوَابٍ" ووايي، نو په "أثواب" سره د "ثلاثة" او "مائة" دواړو تفسير کيږي؛ ځکه چي دلته "أثواب" په حرف عطف سره يعني "ثلاثة وأثواب" نه دي ذکر سوي، نو ځکه په "أثواب" سره به د "ثلاثة" تفسير کيږي او په هغه سره به د "مائة" تفسير هم کيږي؛ ځکه چي دواړه تفسير او وضاحت ته محتاج دي، نو ځکه له ټولو څخه به کپړه مرادول کيږي.

## هغه شيان چي د هغوی په اقرار کي ضمناً نور شيان هم واجبيږي

قَالَ: وَمَنْ أَقَرَّ بِتَمْرٍ فِي قَوْصَرَةٍ فرمايي: او که څوک په يو ټوکري کي د خرماوو [د غصب کولو] اقرار وکړي لَزِمَهُ التَّمْرُ وَالْقَوْصَرَةُ نو پر هغه خرما او ټوکري [دواړه] لازميږي [يعني د خرماوو سره ټوکري هم پر لازميږي] وَفَسَّرَهُ فِي الْأَصْلِ بِقَوْلِهِ: غَصَبْتُ تَمْرًا فِي قَوْصَرَةٍ او په مبسوط کي امام محمد رَحِمَهُ الله د هغه تفسير په دې قول سره کړی دی: ما په ټوکري کي [اېښوول سوي] خرماوي غصب کړي دي وَوَجْهُهُ: أَنَّ الْقَوْصَرَةَ وِعَاءٌ وَظَرْفٌ لَهُ او د دې دليل دا دی چي ټوکري د خرماوو لپاره لوښی دی وَغَصْبُ الشَّيْءِ وَهُوَ مَظْرُوفٌ لَا يَتَحَقَّقُ بِدُونِ الظَّرْفِ او د شي يعني د مظروف غصب بغير له ظرفه نه ثابتيږي [نه موجوديږي] فَيَلْزَمَانِهِ نو ځکه خرما او ټوکري دواړه به پر مُقر لازميږي وَكَذَا الطَّعَامُ فِي السَّفِينَةِ وَالْحِنْطَةُ فِي الْجَوَالِقِ او همدا حکم دی په کښتۍ کي د [اېښوول سوي] غلې او په جوال کي د [اېښوول سوي] غنمو بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: غَصَبْتُ تَمْرًا مِنْ قَوْصَرَةٍ په خلاف د هغه صورت کله چي مُقر داسي ووايي: ما له ټوکري څخه خرماوي غصب کړي دي لِأَنَّ كَلِمَةَ مِنْ لِلِانْتِزَاعِ ځکه چي د "مِنْ" کلمه د را ايستلو [کښلو] لپاره وضع سوې ده فَيَكُونُ الْإِقْرَارُ بِغَصْبِ الْمَنْزُوعِ نو ځکه دا به د را ايستل

سوي شي د غصب اقرار وي قَالَ: وَمَنْ أَقَرَّ بِدَابَّةٍ فِي إِصْطَبْلٍ فرمايي: او که څوک په طبیله کي د يو ځاروي د غصب کولو اقرار وکړي لَزِمَهُ الدَّابَّةُ خَاصَّةً نو پر هغه صرف ځاروی لازميږي لِأَنَّ الْإِصْطَبْلَ غَيْرُ مَضْمُونٍ بِالْغَصْبِ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ ځکه چي د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز په غصب کولو سره د تبیلي ضمان نه لازميږي وَعَلَى قِيَاسِ قَوْلِ مُحَمَّدٍ❁ يَضْمَنُهُمَا او د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول مطابق مُقر د ځاروي او طبيله دواړو ضامن کيږي [يعني د دواړو ضمان (تاوان) پر لازميږي].

وَمِثْلُهُ الطَّعَامُ فِي الْبَيْتِ او په خونه [کمره] کي د غلي د غصب کولو هم دا حکم دی قَالَ: وَمَنْ أَقَرَّ لِغَيْرِهِ بِخَاتَمٍ فرمايي: او که څوک د بل چا لپاره د ګوتمۍ اقرار وکړي لَزِمَهُ الْحَلَقَةُ وَالْفَصُّ نو پر هغه د ګوتمۍ حلقه او غمی [دواړه] لازميږي لِأَنَّ اسْمَ الْخَاتَمِ يَشْمَلُ الْكُلَّ ځکه چي لفظ د "خاتم" دې ټولو لره شامل دی وَمَنْ أَقَرَّ لَهُ بِسَيْفٍ او که څوک د بل چا لپاره د توري اقرار وکړي فَلَهُ النَّصْلُ وَالْجَفْنُ وَالْحَمَائِلُ نو د هغه [بل چا] لپاره د توري اوسپنه، پوښ او د راځړولو تناو ټوله لازم دي [يعني د توري په اقرار کي پر مُقِر دا ټوله شيان لازميږي] لِأَنَّ الِاسْمَ يَنْطَوِي عَلَى الْكُلِّ ځکه چي لفظ د "سيف" پر دې ټولو مشتمل وي وَمَنْ أَقَرَّ بِحَجَلَةٍ او که څوک [د بل چا لپاره] د پېلار اقرار وکړي فَلَهُ الْعِيدَانُ وَالْكِسْوَةُ نو د هغه لپاره لرګيان [لکړي] او پردې ټوله لازم دي لِانْطِلَاقِ الِاسْمِ عَلَى الْكُلِّ عُرْفًا ځکه چي په عرف کي لفظ د "حجله" پر دغه ټولو ويل ... .

**اللغات**: ﴿تمر﴾ خرماوي، کجوري، وا حد: تَمْرَةٌ، ﴿قَوْصَرَةٌ﴾ او قَوْصَرَّةٌ: له مزرو او داسي نورو لرګيو څخه جوړه سوې ټوکرۍ چي په هغه کي خرماوي ساتل کيږي، ﴿وعاء﴾ لوښی، ﴿ظرف﴾ لوښی، هر هغه څه چي په هغه کي بل شی قرار نيسي، هر هغه څه چي په هغه کي بل شی ایښول کيږي، ﴿مظروف﴾ هغه شی کوم چي په ظرف کي ایښول سوی وي، ﴿جوالق﴾ مفرد دی، جمع يې جَوَالِيقُ راځي: جوال، ګونی، ﴿انتزاع﴾ د فتعال د باب مصدر دی: راکښل، را ايستل، ﴿طعام﴾ مخکي ذکر سوه چي د دې لفظو له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: غله، يعني غنم، اوربشي او داسي نور،

❁ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في ملتقى الأبحر مع مجمع الأنهر (ج:٣، ص:٢٠٢)، وكذا في تنوير الأبصار (ج:٤ ص:٥٠٥). [القول الراجح ج:٢، ص:١٩٦]

﴿بیت﴾ خونه. ﴿دابة﴾ څاروی. ﴿اصطبل﴾ د اسونو او خرو د تړلو او ساتلو ځای (کوټه)، طبیله، تبیله، طویله. ﴿حلقة﴾ د ګوتمې کړۍ، خالي ګوتمې. ﴿نصل﴾ د توري اوسپنه، د توري د اوسپنې حصه، د لاس څخه بغیر د توري نوره ټېره اوسپنه. ﴿جفن﴾ د توري پوښ، نیام. ﴿حمائل﴾ جمع د حِمَالةٌ ده: د راځړولو تناو، دسته. ﴿ینطوي﴾ د انفعال د باب مضارع ده: مشتمل کېدل. ﴿حجلة﴾ د دې مختلف تعریفونه سوي دي چي له هغه څخه یو په حاشیه کي ذکر سوی دی او دوه دا دي: ① سَاتِرٌ کَالقبَةِ یُزَیَّنُ بِالثِّیَابِ وَالسُّتُوْرِ لِلعُرُوْسِ. ② سَتْرٌ یُضْرَبُ لِلعُرُوْسِ فِيْ جَوْفِ البَیْتِ. لکه زموږ په علاقو کي چي خاوند او ناوې ښځه (عروس) د ګرمۍ په موسم کي د دبانديني خوب لپاره پېلار استعمالوي، کوم چي د لرګیو او پردو څخه جوړ وي. ﴿عیدان﴾ جمع د عُوْدٌ ده: هر ډول لرګي او لکړي ته وایي، برابره ده هغه نری وي او که پنډ (معجم وسیط). ﴿کسوة﴾ څادر، پرده. اللِّبَاسُ الَّذِيْ یُسْتَتَرُ بِه.

**تشریح**: په دغه عبارت کي اصلاً څلور مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که یو سړی داسي اقرار وکړي: "فلانکي سړي چي په ټوکرۍ کي کومي خرماوي ایښي وې، هغه ما غصب کړي دي"، نو پر مُقر د خرماوو سره، سره د هغه ټوکرۍ ضمان (تاوان) هم لازمیږي؛ ځکه چي ټوکرۍ ظرف ده او خرماوي مظروف دي، او مظروف له ظرف څخه بغیر نه موجودیږي (نه متحقق کیږي)، نو ځکه ظرف او مظروف دواړه به پر هغه لازم وي. همدارنګه که یو څوک ووایي "په کنبتۍ یا په ګونۍ کي چي کوم غنم ایښوول سوي وه، هغه ما غصب کړي دي"، نو دلته هم پر هغه د غنمو سره، سره د کنبتۍ او ګونۍ ضمان هم لازمیږي؛ ځکه چه دا شیان هم د غنمو لپاره ظرف دي او له دوی څخه بغیر مذکوره غنم نه متحقق کیږي. ها! که چیري مُقِر داسي ووایي چي "ما هغه خرماوي له ټوکرۍ څخه غصب کړي دي"، نو په دې صورت کي پر هغه صرف د خرماوو ضمان لازمیږي؛ ځکه چي د "مِنْ" کلمه د اخراج او انتزاع لپاره ده او د دې مطلب دا دی چي "ما له ظرف څخه مظروف راویستی او غصب مي کړی"، نو ځکه په دې صورت کي به پر مُقِر د ټوکرۍ ضمان نه لازمیږي.

(۲)... که یو سړی اقرار وکړي چي "ما د فلانکي په اصطبل کي د هغه آس غصب کړی دی"، نو د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر هغه صرف د څاروي (آس) ضمان لازمیږي؛ ځکه چي د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د عقار او غیرِ منقوله شیانو ضمان نه لازمیږي. لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د عقار او

غیرِ منقوله شیانو ضمان لازمیږي؛ نو ځکه په پورتني صورت کي د هغه په نیز د اصطبل ضمان هم لازمیږي.

د امام محمد او شیخینو رَحِمَهُمُ الله دغه اختلاف د ''الطعام في البیت'' د غصب کولو په صورت کي هم دی؛ یعني د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز په دې صورت کي صرف د طعام (غلې) ضمان لازمیږي، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز د طعام او بیت دواړو ضمان لازمیږي.

(۳)... که یو شوک د بل چا لپاره د ګوتمۍ اقرار وکړي مثلاً زید ووايي چي ''د نعمان د سپینو زرو ګوتمۍ زما سره ده'' نو پر مُقِر یعني پر زید لازم دي چي نعمان ته به ګوتمۍ او د ګوتمۍ غمۍ دواړه ورکوي؛ ځکه چي د ''خَاتَم'' لفظ دواړو لره شامل دی، همدا وجه ده چي بغیر له ذکر کولو د ګوتمۍ په بیع کي غمۍ داخلیږي، نو ځکه د ''خَاتَم'' په اقرار کي به د هغه اقرار هم شامل وي.

(۴)... که یو شوک د بل چا لپاره د توري اقرار وکړي، نو د توري سره مربوط هر شی یعني تېره او سپنه (توره) د هغې دسته (تناو)، پوښ او داسي نور ټول به په دې اقرار کي شاملیږي؛ ځکه چي لفظ د ''سَیف'' پر دې ټولو شیانو صادقیږي، نو ځکه پر مُقِر به هغه ټول لازم وي.

همدارنګه که شوک د یو چا لپاره د پېلار اقرار وکړي، نو پر هغه د پېلار لرګیان او پردې ټول لازمیږي؛ ځکه چي په عرف کي د دې دواړو (یعني د پردې او لرګیو) مجموعې ته پېلار (حجله) وايي، نو ځکه دواړه شیان به په اقرار کي شامل وي او پر مُقِر به واجبُ الاداء وي.

## هغه شیان چي د هغوی په اقرار کي ضمناً نور شیان هم واجبیږي

| |
|---|
| وَإِنْ قَالَ: غَصَبْتُ ثَوْبًا فِي مِنْدِيلٍ او که یو شوک ووايي: ما په دسمال کي [پېچل سوې] کپړه غصب کړې ده لَزِمَاهُ جَمِيعًا نو پر هغه کپړه او دسمال دواړه لازمیږي لِأَنَّهُ ظَرْفٌ ځکه [دلته] دسمال ظرف دی لِأَنَّ الثَّوْبَ يُلَفُّ فِيهِ ځکه چي کپړه په هغه کي پېچل کیږي وَكَذَا لَوْ قَالَ: عَلَيَّ ثَوْبٌ فِي ثَوْبٍ او همدارنګه که هغه ووايي: پر ما [د فلانکي] کپړه په کپړه کي باندي ده لِأَنَّهُ ظَرْفٌ ځکه چي [دلته هم] دویمه کپړه ظرف ده بِخِلَافِ قَوْلِهِ: دِرْهَمٌ فِي دِرْهَمٍ په خلاف د هغه د دې قول: درهم په درهم کي دی حَيْثُ يَلْزَمُهُ وَاحِدٌ نو په دې صورت کي پر هغه یوه کپړه لازمیږي لِأَنَّهُ ضَرْبٌ لَا ظَرْفٌ ځکه چي دا د حساب ضرب دی، ظرف نه دی وَإِنْ قَالَ: ثَوْبٌ فِي عَشَرَةِ أَثْوَابٍ او که هغه ووايي: یوه کپړه په لسو کپړو کي ده لَمْ يَلْزَمْهُ إِلَّا ثَوْبٌ وَاحِدٌ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز پر هغه صرف یوه |

کپړه لازميږي وَقَالَ مُحَمَّدٌ ۞: لَزِمَهُ أَحَدَ عَشَرَ ثَوْبًا او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر هغه يوولس کپړې لازميږي لِأَنَّ النَّفِيسَ مِنَ الثِّيَابِ قَدْ يُلَفُّ فِي عَشَرَةِ أَثْوَابٍ ځکه چې قيمتي کپړه ځيني وخت په لسو کپړو کي پېچل کيږي فَأَمْكَنَ حَمْلُهُ عَلَى الظَّرْفِ لهذا "عشرة أثواب" پر ظرف حمل کول ممکن دي وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ حَرْفَ "فِي" يُسْتَعْمَلُ فِي الْبَيْنِ وَالْوَسَطِ أَيْضًا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې حرف د "في" د مينځ [منځ] په معنیٰ سره هم استعماليږي قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ: ﴿فَادْخُلِي فِي عِبَادِي﴾ أَيْ بَيْنَ عِبَادِي الله تعالیٰ فرمايلي دي: "او داخل سه! زما په بندګانو کي" يعني زما د بندګانو په مينځ کي فَوَقَعَ الشَّكُّ نو ځکه شک واقع سو وَالْأَصْلُ بَرَاءَةُ الذِّمَمِ او اصل د ذمو بري کېدل [د غاړو خلاصېدل] دي عَلَىٰ أَنَّ كُلَّ ثَوْبٍ مُوعًى وَلَيْسَ بِوِعَاءٍ سره د دې چې هره کپړه مظروف ده او ظرف نه ده فَتَعَذَّرَ حَمْلُهُ عَلَى الظَّرْفِ نو هغه پر ظرف حمل کول ناممکن دي فَتَعَيَّنَ الْأَوَّلُ مَحْمَلًا نو نو ځکه د محمل کېدلو لپاره اوله معنیٰ متعينه سوه.

**اللغات:** ﴿منديل﴾ رومال، دسمال. ﴿بين﴾ مينځ، منځ. ﴿نفيس﴾ قيمتي، ارزښتمن. ﴿براءة﴾ بري کېدل، غير مشغول کېدل. ﴿موعًى﴾ مظروف.

**تشريح: مسئله:** دا ده که يو څوک ووايي چې "ما په دسمال کي پېچل سوې کپړه غصب کړې ده". يا داسي ووايي "پر ما د فلانکي يوه داسي کپړه باندي ده کوم چې په بله کپړه کي ده". نو په دې دوو صورتونو کي پر مُقِر دواړه شيان (يعني په اول صورت کي ثوب مع المنديل او په دويم صورت ثوب فی الثوب) واجبيږي؛ ځکه چې په اول صورت کي دسمال (منديل) د کپړې لپاره او په دويم صورت کي کپړه د کپړې لپاره ظرف ده. او مظروف بغير له ظرفه نه موجوديږي (نه متحقق کيږي)، نو ځکه پر مُقِر به ظرف او مظروف دواړه شيان واجب وي. لېکن که مُقِر ووايي "درهم فی درهم". نو پر هغه صرف يو درهم واجبيږي؛ ځکه چې "في درهم" د "درهم" لپاره ظرف نه دی بلکي ضرب او حساب دی.

او که مُقِر ووايي "ما په لسو کپړه کي پېچل سوې کپړه غصب کړې ده". نو د امام ابو يوسف او امام صاحب رَحِمَهُمَا الله په نيز پر هغه صرف يوه کپړه واجبيږي. لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه يوولس (۱۱) کپړې واجبيږي.

۞ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما ذكر في نتائج الأفكار (ج:۷، ص:۳۱۹)، وكذا في الدر المختار (ج:۴، ص:۵۰۵). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۹۷]

**د امام محمد ليل**: دا دی چي ځيني وخت يو کپړه ډېره قيمتي وي او په ډېرو کپړو کي پېچل سوې وي، نو ځکه "عشرة أثواب" د "ثواب واحد" لپاره ظرف جوړېدل ممکن دي. او څرنګه چي ظرفهاو مظروف دواړه يو ځای متحقق کيږي، نو ځکه پر مُقِر به يوولس سره کپړې واجب وي.

**د امام ابو يوسف دليل**: کوم چي بقول کافي د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل هم دی، دا دی چي دلته مُقِر "في عشرة أثواب" ويلي دي او د "فِيْ" حرف د وسط او مينځ په معنیٰ سره هم مستعمل دی. لکه د قرآن کريم په دې آيت کي: ﴿فَادْخُلِيْ فِيْ عِبَادِيْ﴾ [سورة الفجر: ۲۹] يعني "بَيْنَ عِبَادِيْ". لهذا کله چي د "فِيْ" حرف د مينځ په معنیٰ سره هم راځي، نو په دې باره کي شک واقع سو چي په "فِي عشرة أثواب" کي "في" په يقيني توګه ډ ظرف په معنیٰ سره ده، که نه؟، او د شک په صورت کي پر اقل عمل کيږي او دلته اقل يوه کپړه ده. نو ځکه پر مُقِر به صرف يوه کپړه واجب وي. او څرنګه چي د يوې کپړې په واجبولو سره مُقِر په آسانه توګه بريءُ الذمه هم ګرځي (يعني غاړې يې خلاصيږي). او د ذمې برائت اصل دی، نو په دې وجه به هم پر هغه صرف يوه کپړه واجب وي.

على أن كل ثوب إلخ: د دې حاصل دا دی چي په پورتني قول "ثوب في عشرة أثواب" کي د لسو کپړو مجموعه د يوې کپړې لپاره ظرف نه ده. بلکي هره کپړه مظروف ده؛ ځکه کله چي يوه کپړه په څو کپړو کي پېچل سوې وي، نو هره کپړه د خپل ماوراء کپړې په حق کي مظروف وي، او ظرف صرف هغه کپړه وي کوم چي پر ټولو د پاسه وي، او کله چي د يوې کپړې لپاره د لسو کپړو نه ظرف کېدل ثابت سوه، نو "في" پر ظرف حمل کول ناممکن دي. لهذا دا مُتعيّنه سوه چي مُقِر د لسو څخه يوه کپړه ايستلې او غصب کړې ده، او ښکاره خبره ده چي په داسي صورت کي صرف يوه کپړه واجبيږي، نه يوولس کپړې.

## د "فِيْ"، "مِنْ" او "مَا بَيْنَ" د اقرار حکم

وَلَوْ قَالَ: لِفُلَانٍ عَلَيَّ خَمْسَةٌ فِيْ خَمْسَةٍ يُرِيْدُ الضَّرْبَ وَالْحِسَابَ فرمايي: او که يو څوک ووايي: د فلانکي پر ما پنځه په پنځه کي دي او هغه د ضرب او حساب اراده لري لَزِمَهُ خَمْسَةٌ نو پر هغه پنځه درهمه لازميږي لِأَنَّ الضَّرْبَ لَا يُكَثِّرُ الْمَالَ ځکه چي ضرب مال نه زياتوي [په بله وينا: ځکه چي په ضرب سره په مال کي اضافه نه راځي] وَقَالَ الْحَسَنُ: يَلْزَمُهُ خَمْسَةٌ وَعِشْرُونَ او امام حسن رَحِمَهُ الله فرمايي: ځکه پر

هغه پنځویشت درهمه لازمیږي وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِي الطَّلَاقِ او په کتاب الطلاق کې موږ د دې بیان کړی دی وَلَوْ قَالَ: أَرَدْتُ خَمْسَةً مَعَ خَمْسَةٍ او که هغه وواېي: چې ما د پنځو سره د پنځو اراده کړې ده لَزِمَهُ عَشَرَةٌ نو پر هغه لس درهمه لازمیږي لِأَنَّ اللَّفْظَ يَحْتَمِلُهُ ځکه چې لفظ د دې احتمال [هم] لري وَلَوْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ مِنْ دِرْهَمٍ إِلَى عَشَرَةٍ او که هغه وواېي: د فلانکي پر ما له یوه څخه تر لسو درهمو پورې دي أَوْ قَالَ: مَا بَيْنَ دِرْهَمٍ إِلَى عَشَرَةٍ یا وواېي: چې له یوه څخه د لسو درهمو په مینځ کې دي لَزِمَهُ تِسْعَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو پر هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز نهه دراهم لازمیږي فَيَلْزَمُهُ الِابْتِدَاءُ وَمَا بَعْدَهُ وَتَسْقُطُ الْغَايَةُ لهذا پر هغه د ابتداء او تر هغه وروسته والا دراهم لازمیږي او غایت [آخري درهم] ساقطیږي وَقَالَا ۞: يَلْزَمُهُ الْعَشَرَةُ كُلُّهَا او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې پر هغه ټوله لس درهمه لازمیږي فَيَدْخُلُ الْغَايَتَانِ نو دواړه غایتونه [ابتداء او انتهاء] داخلیږي وَقَالَ زُفَرُ: يَلْزَمُهُ ثَمَانِيَةٌ وَلَا يَدْخُلُ الْغَايَتَانِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر هغه اته درهمه لازمیږي او دواړه غایتونه نه داخلیږي وَلَوْ قَالَ: لَهُ مِنْ دَارِي مَا بَيْنَ هَذَا الْحَائِطِ إِلَى هَذَا الْحَائِطِ او که یو څوک وواېي: د فلانکي لپاره زما له کور څخه هغه حصه ده کوم چې د دې او دې دېوال په مینځ کې ده فَلَهُ مَا بَيْنَهُمَا نو د ده [مقرله] لپاره هغه حصه ده کوم چې د دواړو دېوالونو په مینځ کې واقع ده وَلَيْسَ لَهُ مِنَ الْحَائِطَيْنِ شَيْءٌ او له دواړو دېوالونو څخه د هغه لپاره هیڅ حصه نشته وَقَدْ مَرَّتِ الدَّلَائِلُ فِي الطَّلَاقِ او په کتاب الطلاق کې د دې دلیلونه تېر سوي دي.

**اللغات**: ﴿تسقط﴾ د نصر د باب مضارع ده: ساقطېدل. ﴿غاية﴾ انتهاء، آخر. (د هر شي آخر ته واېي).

﴿حائط﴾ دېوال، جمع: حِيْطَان.

---

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في ملتقى الأبحر (ج:۳، ص۴۰۳)، وكذا في رد المختار (ج:۴، ص:۵۰۶). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۹۸]

**تشريح**: په دې عبارت کې درې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که يو څوک ووايي "د فلانکي سړي پر ما پنځه په پنځه کې واجب دي" او د هغه نيت د ضرب او حساب وي، نو پر هغه صرف پنځه درهمه لازميږي؛ ځکه چې په ضرب او حساب سره په اصل مال کې اضافه نه کيږي، بلکې د هغه په اجزاوو کې اضافه کيږي. او د اجزاوو د اضافې سره د اصل هيڅ تعلق نسته. ها! که چيري هغه ووايي چې زما نيت د "خمسة مع الخمسة" (د پنځه سره پنځه) دى، نو پر هغه لس درهمه لازميږي؛ ځکه چې په دې جمله کې د "خمسة مع الخمسة" احتمال هم سته.

(۲)... که يو سړى ووايي چې "پر ماله يوه څخه تر لسو پوري د فلانکي دراهم باندي دي" يا "د يوه او لسو په مينځ کې پر ما د هغه دراهم باندي دي"، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په دې اقرار کې د ابتداء او تر هغه وروسته والا دراهم شامليږي او غايت والا يعني لسم درهم نه پکښې شامليږي نو په مجموعي توګه پر هغه نهه درهمه واجبيږي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز ابتداء او انتهاء والا او متوسط ټوله دراهم پکښې داخليږي او پر هغه ټوله لس درهمه واجبيږي، او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز د ابتداء او انتهاء والا څخه بغير د مينځ اته دراهم پر واجبيږي.

(۳)... او که يو سړى داسي ووايي چې "زما په کور کې له دې دېوال څخه تر هغه دېواله پوري د فلانکي حصه ده"، نو په دې اقرار کې صرف هغه حصه (ځمکه) داخليږي کوم چې د هغه دوو دېوالونو په مينځ کې وي او د دېوالونو يوه حصه هم نه پکښې داخليږي بلکې فلانکي (مقر لهٗ) ته به صرف د مينځ حصه (ځمکه) ورکول کيږي. والله أعلم وعلمهٗ أتم



# فَصْلٌ

(دا) فصل (د حمل د مسائلو په بيان کې) دی

**تشريح:** څرنګه چې د حمل مسائل صورتاً او معناً له نورو مسئلو څخه جلا دي، نو ځکه هغوی په جلا فصل کې بيان سوي دي، او د مبسوط په اتباع کې د خيار يوه مسئله هم په دې فصل کې ذکر سوې ده.

## د حمل لپاره اقرار کول (حکم او تفصيل)

وَمَنْ قَالَ: لِحَمْلِ فُلَانَةَ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ فرمايي: او که څوک ووايي: چې د فلانکۍ ښځې د حمل لپاره پر ما زر درهمه دي فَإِنْ قَالَ: أَوْصَى لَهُ فُلَانٌ أَوْ مَاتَ أَبُوهُ فَوَرِثَهُ نو [اوس] که هغه ووايي چې فلانکي سړي د هغه حمل لپاره وصيت کړی دی يا د هغه حمل پلار مړ سو او هغه د دې زر درهمو وارث سوی دی فَالْإِقْرَارُ صَحِيحٌ نو اقرار صحيح دی لِأَنَّهُ أَقَرَّ بِسَبَبٍ صَالِحٍ لِثُبُوتِ الْمِلْكِ لَهُ ځکه چې مُقر د داسي سبب اقرار کړی دی کوم چې د هغه حمل لپاره د ملکيت ثابتېدلو صلاحت لري ثُمَّ إِذَا جَاءَتْ بِهِ فِي مُدَّةٍ حَيًّا يُعْلَمُ أَنَّهُ كَانَ قَائِمًا وَقْتَ الْإِقْرَارِ بيا که هغه فلانکۍ ښځه دا حمل په دومره مودت کې ژوندی وزېږوي چې له هغه څخه معلومه سي چې د اقرار په وخت کې دا حمل موجود وو لَزِمَهُ نو اقرار [زر درهمه] پر مُقر لازميږي فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ مَيِّتًا او که هغه ښځه دا حمل مړ وزېږوي فَالْمَالُ لِلْمُوصِي وَالْمُوَرِّثِ حَتَّى يُقْسَمُ بَيْنَ وَرَثَتِهِ نو مال د موصي او مورث لپاره دی او هغه به د وارثانو په مينځ کې تقسيمول کيږي لِأَنَّهُ إِقْرَارٌ فِي الْحَقِيقَةِ لَهُمَا ځکه چې دا په حقيقت کې د موصي او مورث لپاره اقرار دی وَإِنَّمَا يَنْتَقِلُ إِلَى الْجَنِينِ بَعْدَ الْوِلَادَةِ او د بچي وطرف ته خو تر پيداکېدلو وروسته هغه منتقل کيږي وَلَمْ يَنْتَقِلْ حالانکي [د بچي د مړه پيدا کېدلو په وجه د هغه وطرف ته] منتقل نه سو وَلَوْ جَاءَتْ بِوَلَدَيْنِ حَيَّيْنِ او که هغه ښځه دوه ژوندي بچيان وزېږوي فَالْمَالُ بَيْنَهُمَا نو مال [زر درهمه] د هغه دواړو په مينځ کې مشترک ګرځي وَلَوْ قَالَ: الْمُقِرُّ بَاعَنِي أَوْ أَقْرَضَنِي او که مُقر [داسي] ووايي:

چې هغه حمل دا مال پر ما خرڅ کړی دی یا ما ته یې په قرض راکړی دی لَمْ يَلْزَمْهُ شَيْءٌ نو پر هغه هیڅ شی نه لازمیږي لِأَنَّهُ بَيَّنَ مُسْتَحِيلًا ځکه چې هغه یو محال [ناممکن] سبب بیان کړی دی قَالَ: فَإِنْ أَبْهَمَ الْإِقْرَارَ فرمايي: او که مُقر اقرار مبهم وساتي [او هیڅ سبب بیان نه کړي] لَمْ يَصِحَّ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز دا اقرار صحیح نه دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ۞: يَصِحُّ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې صحیح دی لِأَنَّ الْإِقْرَارَ مِنَ الْحُجَجِ ځکه چې اقرار هم له حجتونو څخه [یو حجت] دی فَيَجِبُ إِعْمَالُهُ نو ځکه اقرار ته عمل ورکول [او پر هغه عمل کول] به واجب وي وَقَدْ أَمْكَنَ بِالْحَمْلِ عَلَى السَّبَبِ الصَّالِحِ او دا ممکن دي، پر سبب صالح په حمل کولو سره [یعني دلته پر اقرار عمل کول ممکن دي. په دې توګه چې اقرار پر صلاحیت لرونکي سبب حمل کړی سي] وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ الْإِقْرَارَ مُطْلَقَهُ يَنْصَرِفُ إِلَى الْإِقْرَارِ بِسَبَبِ التِّجَارَةِ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې مطلق اقرار د هغه اقرار وطرف ته راجع کیږي کوم چې د تجارت په سبب سره وي وَلِهَذَا حُمِلَ إِقْرَارُ الْعَبْدِ الْمَأْذُونِ لَهُ وَأَحَدِ الْمُتَفَاوِضِينَ عَلَيْهِ او په همدې وجه د مأذون لهٗ غلام او د یوه مفاوض شریک اقرار پر همدې اقرار بسبب التجارت حمل کیږي فَيَصِيرُ كَمَا إِذَا صَرَّحَ بِهِ نو دا به داسې وي لکه مُقر چې د هغه تصریح وکړي [یعني لکه مُقر چې صراحتاً د سببِ تجارت اقرار وکړي] قَالَ: وَمَنْ أَقَرَّ بِحَمْلِ جَارِيَةٍ أَوْ حَمْلِ شَاةٍ لِرَجُلٍ فرمايي: او که یو څوک د بل سړي لپاره د مینځې یا د بزې د حمل اقرار وکړي صَحَّ إِقْرَارُهُ نو د هغه اقرار صحیح دی وَلَزِمَهُ او دا اقرار پر هغه لازم دی لِأَنَّ لَهُ وَجْهًا صَحِيحًا وَهُوَ الْوَصِيَّةُ بِهِ مِنْ جِهَةِ غَيْرِهِ ځکه چې د دې اقرار لپاره صحیح وجه موجود ده او هغه د بل چا له طرف د دې حمل وصیت دی [یعني صحیح وجه دا ده چې بل چا به د هغه سړي لپاره د دې حمل وصیت کړی وي] فَحُمِلَ عَلَيْهِ نو ځکه دا اقرار به پر هغه محمول کیږي قَالَ: وَمَنْ أَقَرَّ بِشَرْطِ الْخِيَارِ فرمايي: او که څوک د خیار شرط اقرار وکړي بَطَلَ الشَّرْطُ نو شرط [خیار] باطلیږي لِأَنَّ الْخِيَارَ لِلْفَسْخِ ځکه چې خیار د فسخ

۞ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما ذكر في ملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۲۰۴)، وكذا في نتائج الأفكار (ج:۷، ص:۳۳۵). [القول الراجح ج:۲، ص:۱۹۹]

لپاره وي وَالْإِخْبَارُ لَا يَحْتَمِلُهُ او إخبار (اقرار) د فسخ احتمال نه لري وَلَزِمَهُ الْمَالُ او پر مُقِر به مال لازمیږي لِوُجُودِ الصِّيغَةِ الْمُلْزِمَةِ ځکه چي لازمونکی لفظ "عَلَيَّ" موجود دی وَلَمْ يَنْعَدِمْ بِهَذَا الشَّرْطِ الْبَاطِلِ او دا لزوم د دغه باطل شرط په وجه نه باطلیږي.

**اللغات**: ﴿حمل﴾ هغه بچی چي د مور په خېټه (نس) کي وي، او همدا د جنين معنیٰ ده. ﴿إعمال﴾ د افعال د باب مصدر دی: عمل ورکول. ﴿متفاوضين﴾ د شرکت مفاوضه کونکي. ﴿إخبار﴾ د افعال د باب مصدر دی: خبر ورکول. او اقرار إخبار دی ځکه چي مُقِر پر ځان د يو حق ثابتېدلو خبر ورکوي (چي پر ما د فلانکي دا حق باندي دی).

**تشريح**: په دې عبارت کي ټوله څلور مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که يو سړی ووايي "د فلانکۍ ښځي په نس کي چي کوم حمل دی، د هغه لپاره پر ما زر درهمه واجبُ الاداء دي"، او دا سړی د واجبېدلو سبب هم بيان کړي او داسي ووايي چي "دا زر درهمه هغه حمل ته د خپل پلار له ميراث څخه حاصل سوي دي" يا داسي ووايي چي "فلانکي سړي (مثلا خالد) د هغه لپاره د دې دراهمو وصيت کړی وو"، نو څرنګه چي دلته مُقِر د حمل د ملکيت په حواله سره د سبب صحيح (سببِ صالح) اقرار کړی دی، نو ځکه دا اقرار صحيح دی، بيا که تر اقرار وروسته هغه فلانکۍ ښځه په دومره مودت کي دا حمل (بچی) وزېږوي چي له هغه څخه دا معلومه سي چي د اقرار په وخت کي حمل موجود وو، يعني تر شپږو مياشتو په کم مودت کي هغه ښځه بچی وزېږوي، نو پر مُقِر د هغه بچي لپاره زر درهمه لازميږي. او که چيري بچی مړ پيدا سي، نو هغه دراهم به يا موصي (وصيت کونکي) ته ورکول کيږي يا به د مورث (پلار) وارثانو ته ورکول کيږي؛ ځکه چي تر ولادت مخکي هغه مال په حقيقت کي صرف د موصي يا د مورث دی، او حمل (بچی) تر ولادت وروسته صرف د ژوند په صورت کي د هغه مستحق ګرځي او د مړه پيدا کېدلو په صورت کي د ده وطرف ته د هغه انتقال ناممکن او محال دی. نو ځکه په دې صورت کي به دا بچی د هغه مستحق نه ګرځي.

او که هغه ښځه دوه بچيان وزېږوي او دواړه ژوندي وي، نو مُقِر به مال د دواړو په مينځ کي مشترک ګرځي؛ ځکه چي اقرار د حمل لپاره دی، او هغوی دواړه د اقرار په وخت کي حمل وه؛ ځکه دواړه يو حمل دی.

او که مُقِر داسي ووايي چي "پر ما د دې حمل لپاره زر درهمه واجب دي، په دې وجه چي هغه زما څخه د دې دراهمو په عوض کي شی رانيولی دی يا ما ته يې هغه په قرض راکړي دي"، نو په دې صورت پر مُقِر هيڅ شی نه لازميږي: ځکه چي د حمل بيع وشراء کول او د هغه قرض ورکول

ناممكن دي (ځكه دا ښكاره خبره ده چي په نس كي موجود حمل كاروبار او تجارت نه سي كولای او نه چا ته قرض وركولای سي)، نو ځكه د مُقر كلام به لغو او باطل وي او د هغه وطرف ته به هيڅ توجه نه كيږي.

(۲)... او كه چيري مُقِر د حمل لپاره صرف اقرار وكړي او سبب بيان نه كړي بلكي هغه مبهم پريږدي، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د هغه اقرار صحيح نه دی همدا د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د هغه اقرار صحيح دی همدا د امام شافعي او امام مالك رَحِمَهُمَا الله قول دی. (بنايه ج:۸. ص:۵۶۱).

د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي اقرار له شرعي حجتونو څخه يو حجت دی او څرنګه چي هغه دلته د عاقل او بالغ كس له طرفه صادر سوی دی، نو ځكه حتى الامكان به پر هغه عمل كيږي، او دلته سبب صالح (وصيت يا ميراث) د اقرار سبب ګرځول او په اقرار عمل كول ممكن دي (لكه په اوله مسئله كي چي همداسي سوي دي)، نو ځكه په دې حواله سره به اقرار صحيح منل كيږي.

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي دلته مُقر مطلق اقرار كړی دی. او مطلق اقرار د سبب تجارت وطرف ته ګرځي. نو ځكه دا اقرار به هم د سبب تجارت وطرف ته منتقل كيږي او داسي به وي لكه صراحتاً د سبب تجارت اقرار كول. حال دا چي د حمل تجارت (بيع وشراء) كول ناممكن دي. نو ځكه به دا اقرار لغو او باطل وي.

(۳)... كه چيري (مثلا) نعمان داسي اقرار وكړي چي "زما د مينځي يا زما د بزې په نس كي چي كوم بچی دی هغه د خالد دی". نو دا اقرار بالاتفاق صحيح دی كه څه هم مُقر (نعمان) د هغه هيڅ سبب بيان نه كړي: ځكه چي د دې اقرار صحيح وجه ممكن ده: په دې توګه چي كېدای سي يو ميت (مړسوي كس) به د دې وصيت كړی وي او د هغه وارث (مثلا ادريس) به اقرار كړی وي چي دا حمل د فلانكي (خالد) دی. نو ځكه دا صورت به پر جواز حمل كيږي.

(۴)... كه چيري ادريس ووايي چي پر "ما د زيد سل روپۍ قرض باندي دی "يا" ما له هغه څخه سل روپۍ غصب كړي دي لېكن په دې شرط چي ما ته به په خپل اقرار كي درې ورځي اختيار وي. كه چيري په دغه دريو ورځو كي زما خوښه سي نو هغه روپۍ به پر ما لازميږي. كنې نه به لازميږي". نو فرمايي چي په دې صورت كي اقرار صحيح كيږي (يعني پر هغه سل روپۍ لازميږي) او خيار باطليږي: ځكه چي د هغه خيار تر اقرار وروسته د اقرار فسخ كولو لپاره دی (يعني په دې سره ادريس خپل ثابت سوی اقرار فسخ كوي). حال دا چي تر ثابتېدلو وروسته اقرار نه فسخ كيږي. نو ځكه د مُقر (ادريس) خيار شرط به فسخ كيږي او اقرار به باقي پاته وي. نو نتيجه به دا سي چي مُقر كوم د التزام لفظ "عَلَيَّ" ويلی دی. پر هغه په عمل كولو سره به پر مُقِر سل روپۍ واجبُ الاداء وي.



# بَابُ الإِسْتِثْنَاءِ

(دا) باب د استثناء کولو (په بيان کي) دی

**تشريح**: کوم کلام چي له استثاء څخه بغير وي، ښکاره خبره ده چي په هغه کي تغير نه وي، او په کوم کلام کي چي استثناء وي، په هغه کي تغير وي، او له تغير څخه د کلام خالي والي اصل دي، نو ځکه يې غيرِ استثناء والا اقرار له استثناء والا اقرار څخه مخکي بيان کړی دی.

## د استثناء حکم او شرط

قَالَ: وَمَنِ اسْتَثْنٰى مُتَّصِلًا بِإِقْرَارِهٖ فرمايي: او که څوک د خپل اقرار سره متصل استثناء وکړه صَحَّ الِاسْتِثْنَاءُ وَلَزِمَهُ الْبَاقِيْ نو دا استثناء صحيح کيږي او باقي [مابقی مقربه] پر هغه لازميږي لِأَنَّ الِاسْتِثْنَاءَ مَعَ الْجُمْلَةِ عِبَارَةٌ عَنِ الْبَاقِيْ ځکه چي استثناء د ټوله [صدر] سره له باقي [مابقي] څخه عبارت ده وَلٰكِنْ لَا بُدَّ مِنَ الِاتِّصَالِ لېکن [د استثناء د صحيح والي لپاره] متصل کېدل ضروري دي [يعني دا ضروري دي چي هغه به د اقرار سره متصل وي] وَسَوَاءٌ اسْتَثْنَى الْأَقَلَّ أَوِ الْأَكْثَرَ او برابره ده مُقر د کم مقدار استثناء وکړي يا د زيات [يعني د استثناء د صحيح والي لپاره متصلاً کېدل ضروري دي، برابره ده استثناء د قليل مقدار او که د کثير] فَإِنِ اسْتَثْنَى الْجَمِيعَ او که هغه د کل استثناء وکړي لَزِمَهُ الْإِقْرَارُ وَبَطَلَ الِاسْتِثْنَاءُ نو پر هغه اقرار لازميږي او استثناء باطليږي لِأَنَّهُ تَكَلُّمٌ بِالْحَاصِلِ بَعْدَ الثُّنْيَا ځکه تر استثناء [مستثنیٰ] وروسته چي کوم مقدار باقي پاته سي په هغه سره تکلم کولو [د هغه ويلو] ته استثناء وايي وَلَا حَاصِلَ بَعْدَهُ او د کل له استثناء څخه وروسته هيڅ باقي نه پاتيږي فَيَكُونُ رُجُوعًا نو ځکه د کل استثناء کول به [له خپل اقرار څخه] رجوع کول وي وَقَدْ مَرَّ الْوَجْهُ فِي الطَّلَاقِ او په کتاب الطلاق کي د دې دليل تېر سوی دی.

**اللغات**: ﴿استثناء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: جلا کول، خارجول. د استثناء اصطلاحي معنیٰ ده: تَكَلُّمٌ بِالْبَاقِيْ بَعْدَ الثُّنْيَا. ﴿عبارة﴾ بيان. ﴿الثُّنْيَا﴾ والثَّنْوٰی: استثناء (استثناء کول). ﴿مستثنیٰ﴾ د کوم څه استثناء چي وسي، کوم څه چي جلا کړی سي، مستثنیٰ منه: له کوم شي څخه چي

استثناء وسي، مثلاً که يو څوک ووايي: لِفُلَانٍ عَلَيَّ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ إِلَّا خَمْسَةً (پر ما د فلانکي لس درهمه باندې دي ماسواله پنځو درهمو) نو په دې جمله کې "عشرة" (لس درهمه) مستثنیٰ منه ده او "خمسة" (پنځه درهمه) مستثنیٰ ده.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی چې له اقرار څخه استثناء کول صحيح او جائز دي، لېکن د استثناء د صحت (صحيح والي) لپاره دوه شيان شرط دي: ① استثناء به متصل وي. ② او د کل استثناء به نه وي؛ د استثناء د صحيح کېدلو وجه او علت دا دی چې استثناء هم د متکلم د اول عبارت (صدر) جزء او حصه ګرځي، مثلاً که يو څوک ووايي "لِفُلَان عَلَيَّ عَشَرَة دَرَاهِمَ إِلَّا خَمْسَةً"، نو دا پوره يوه جمله ده او د دې مطلب دا دی چې د لسو درهمو څخه پر ما د فلانکي پنځه درهمه باندې دي يعني پر ما صرف پنځه درهمه لازم دي.

د دويم شرط حاصل دا دی چې له کل څخه به د کل استثناء نه وي، مثلاً داسې به نه وايي "لِفُلَانٍ عَلَيَّ عَشَرَة دَرَاهِمَ إِلَّا عَشَرَة" (پر ما د فلانکي لس درهمه باندې دي ما سوا له لسو درهمو)؛ ځکه چې تر استثناء وروسته څه مقدار باقي پاتېدل پکار دي چې له هغه څخه مستثنیٰ او مستثنیٰ منه معلوم کړی سي، او له کل څخه د کل استثناء کول په حقيقت کې رجوع او انکار دی، استثناء نه ده، نو ځکه هغه صحيح نه دي.

## مستثنیٰ د مستثنیٰ منه له جنس څخه کېدل

وَلَوْقَالَ: لَهُ عَلَيَّ مِائَةُ دِرْهَمٍ إِلَّا دِينَارًا أَوْ إِلَّا قَفِيزَ حِنْطَةٍ او که يو څوک ووايي: چې د هغه [فلانکي] پر ما سل درهمه دي ما سوا له يوه ديناره يا ما سوا له يوه قفيز غنمو لَزِمَهُ مِائَةُ دِرْهَمٍ إِلَّا قِيمَةَ الدِّينَارِ أَوِ الْقَفِيزِ نو پر هغه [مُقر] د يوه دينار يا قفيز له قيمت څخه بغير نور ټوله سل درهمه لازميږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ او دا [حکم] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَلَوْقَالَ: لَهُ عَلَيَّ مِائَةُ دِرْهَمٍ إِلَّا ثَوْبًا او که ووايي: چې د هغه پر ما سل درهمه دي ما سوا له يوې کپړې لَمْ يَصِحَّ الاِسْتِثْنَاءُ نو دا استثناء صحيح نه ده وَقَالَ مُحَمَّدٌ*: لَا يَصِحُّ فِيهِمَا او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: په دې دواړو صورتونو

* القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَاالله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۴، ص:۵۱۰)، وكذا في مجمع الأنهر (ج:۳، ص:۴۰۷). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۰۰]

کي استثناء نه صحيح کيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَصِحُّ فِيهِمَا او مام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: په دواړو صورتونو کي صحيح کيږي وَلِمُحَمَّدٍ: أَنَّ الِاسْتِثْنَاءَ مَا لَوْلَاهُ د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي استثناء داسي شی ده چي که هغه نه وای لَدَخَلَ تَحْتَ اللَّفْظِ نو مستثنیٰ به تر لفظ لاندي داخل سوی وای [په بله وينا: د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي که استثناء نه وسي نو د هغه ما بعد په ماقبل کي داخليږي] وَهٰذَا لَا يَتَحَقَّقُ فِي خِلَافِ الْجِنْسِ او دا خبره په مختلف جنس والا شيانو کي نه سي ثابتېدای وَلِلشَّافِعِيِّ: أَنَّهُمَا اتَّحَدَا جِنْسًا مِنْ حَيْثُ الْمَالِيَّةُ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي مستثنیٰ او مستثنیٰ منه دواړه د ماليت په اعتبار سره متحد الجنس دي وَلَهُمَا: أَنَّ الْمُجَانَسَةَ فِي الْأَوَّلِ ثَابِتَةٌ مِنْ حَيْثُ الثَّمَنِيَّةُ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي په اول کي د ثمنيت په اعتبار سره مجانست ثابت دی وَهٰذَا فِي الدِّينَارِ ظَاهِرٌ او دا د دينار په حق کي ښکاره ده وَالْمَكِيلُ وَالْمَوْزُونُ أَوْصَافُهُمَا أَثْمَانٌ او د مکيلي او موزوني شي اوصاف ثمن وي أَمَّا الثَّوْبُ فَلَيْسَ بِثَمَنٍ أَصْلًا او پاته سو ثوب [کپړه] نو هغه بالکل ثمن نه ده وَلِهٰذَا لَا يَجِبُ بِمُطْلَقِ عَقْدِ الْمُعَاوَضَةِ او په همدې وجه په مطلق عقد معاوضه کي ثوب نه واجبيږي وَمَا يَكُونُ ثَمَنًا صَلُحَ مُقَدَّرًا لِلدَّرَاهِمِ او کوم شی چي ثمن کېدای سي، په دراهمو سره د هغه اندازه هم کېدای سي [په بله وينا: او کوم شی چي ثمن وي. هغه په دراهمو سره د اندازه کېدلو (متعين کېدلو) صلاحيت لري] فَصَارَ مُسْتَثْنًى مِنَ الدَّرَاهِمِ نو ځکه له دراهمو څخه هغومره مقدار مستثنیٰ سو وَمَا لَا يَكُونُ ثَمَنًا لَا يَصْلُحُ مُقَدَّرًا او کوم شی چي ثمن نه سي جوړېدای، په دراهمو سره د هغه اندازه هم نه سي کېدای فَبَقِيَ الْمُسْتَثْنٰى مِنَ الدَّرَاهِمِ مَجْهُولًا نو ځکه له دراهمو څخه مستثنیٰ کړده شی مجهوله پاته سو فَلَا يَصِحُّ لهذا استثناء به صحيح نه وي.

**اللغات**: ﴿قفيز﴾ د پخوا زمانې يو پېمانه ده، شرعي قفيز تقريباً ۱۲ صاعه کيږي. ﴿اتّحدا﴾ د افتعال له بابه د تثنيه مذکر غائب ماضي صيغه ده: متحد کېدل، يو کېدل. ﴿مکيل﴾ هغه شی کوم چي په کَيل (معلوم لوښي او ظرف) سره اندازه کيږي (پېمانه کيږي). ﴿موزون﴾ هغه شی کوم چي په وزن سره اندازه کيږي (تلل کيږي).

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که يو څوک ووايي چې "پر ما د فلانکي سل درهمه باندي دي ما سوا له يوه ديناره. يا ما سوا له يوه قفيز غنمو". نو استثناء صحيح کيږي. او د يوه دينار يا د يوه قفيز د قيمت په اندازه دراهم به له مستثنیٰ منه يعني له سلو څخه درهمو څخه ايستل کيږي او مابقي دراهم به پر هغه واجبُ الاداء وي.

او که هغه داسي ووايي: "د فلانکي پر ما سل درهمه باندي دي ما سوا له يوې کپړې". نو استثناء نه صحيح کيږي او پر مُقِر پوره سل درهمه واجبيږي. دا حکم د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی. لېکن دامام محمد رَحِمَهُ الله په نيز په دواړو صورتونو کي استثناء نه صحيح کيږي او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز په دواړو صورتونو کي صحيح کيږي.

**د امام محمد دليل:** دا دی چي په دواړو صورتونو کي مستثنیٰ منه د مستثنیٰ له جنس څخه نه ده؛ ځکه ښکاره خبره ده چي نه دينار د درهم له جنس څخه دی او نه کپړه د درهم له جنس څخه ده. او صورت حال دا دی چي که هغوی مستثنیٰ سوي نه وای نو هغوی به هم په مستثنیٰ منه يعني په "مائة درهم" کي داخل وای. لېکن په استثناء کولو سره هغوی جلا سول. نو ځکه دلته به مستثنیٰ په مستثنیٰ منه کي داخليږي او پر مُقِر به صرف سل درهمه واجبيږي.

**د امام شافعي دليل:** دا دی چي په دې مسئله کي مستثنیٰ منه هم مال دی او مستثنیٰ هم مال دی. او د ماليت (مال کېدلو) په اعتبار سره دواړه متحد الجنس دي. نو ځکه په دواړو صورتونو کي به د ماليت په اعتبار سره استثناء صحيح ګرځول کيږي.

**د شيخينو دليل:** دا دی چي په اول صورت يعني د "إِلَّا دِيْنَارًا، او إِلَّا قَفِيْزَ حِنْطَةٍ" په صورت کي د ثمنيت (ثمن کېدلو) په اعتبار سره اتحاد الجنس موجود دی؛ ځکه څرنګه چي دينار ثمن دی، همداسي د ما وجب في الذمه په اعتبا سره قفيز هم ثمن دی: ځکه چي حِنْطَة (غنم) مکيلي دي يا موزوني دي. او مکيلي او موزوني دواړه د اوصافو په اعتبار سره مُعيّن وي. مثلاً که يو څوک مکيلي يا موزوني شی ثمن وګرځوي. نو د هغه سره عقد متعلق کيږي. او دا د ثمنيت واضح دليل دی. په خلاف د ثوب؛ ځکه چي په هغه کي هيڅ ډول هم ثمنيت نسته. همدا وجه ده چي ثوب په مطلق عقد معاوضه کي هم د ثمن په توګه نه واجبيږي. او قاعده دا ده چي کوم شی ثمن جوړېدای سي، هغه د دراهمو لپاره مقدر هم کېدای سي يعني د ثمنيت او ماليت په اعتبار د دراهمو سره د هغه موازنه کېدای سي. لهذا د دينار او حنطه والا په صورت کي به د ماليت په اعتبار مستثنیٰ له مستثنیٰ منه څخه جلا کول کيږي او استثناء به صحيح کيږي. لېکن څرنګه چي د ثوب والا په صورت کي تقدير

(اندازه کول) مشکل او متعذر دي، نو ځکه مستثنیٰ کرده دراهم به مجهول پاته وي او په خپله مستثنیٰ منه به هم مجهول پاته وي، او دا ښکاره خبره ده چې د مستثنیٰ او مستثنیٰ منه جهالت د استثناء له صحت څخه مانع دی، نو ځکه په دې صورت کې استثناء صحیح نه ده.

## له اقرار کولو څخه وروسته "انشاء الله" ویل

قَالَ: وَمَنْ أَقَرَّ بِحَقٍّ وَقَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ مُتَّصِلًا بِإِقْرَارِهِ فرمايي: او که څوک د يو حق اقرار وکړي او د خپل اقرار سره متصل ووايي "انشاء الله" (که چيرې د الله خوښه وي) لَا يَلْزَمُهُ الْإِقْرَارُ نو پر هغه اقرار نه لازميږي لِأَنَّ الِاسْتِثْنَاءَ بِمَشِيئَةِ اللهِ إِمَّا إِبْطَالٌ أَوْ تَعْلِيقٌ ځکه چې په الهي مشيت [خوښه] سره استثناء کول يا ابطال دی يا تعليق دی [يعني له هغه څخه به يا ابطال مراد وي يا تعليق] فَإِنْ كَانَ الْأَوَّلَ که چيرې اول وي [يعني ابطال ځنې مراد وي] فَقَدْ بَطَلَ نو اقرار باطل سو وَإِنْ كَانَ الثَّانِيَ او که دويم وي [يعني تعيلق ځنې مراد وي] فَكَذَلِكَ نو هم اقرار باطليږي إِمَّا لِأَنَّ الْإِقْرَارَ لَا يَحْتَمِلُ التَّعْلِيقَ بِالشَّرْطِ يا خو په دې وجه چې اقرار پر شرط د معلق کېدلو احتمال نه لري أَوْ لِأَنَّهُ شَرْطٌ لَا يُوقَفُ عَلَيْهِ يا په دې وجه چې هغه [يعني د الهي مشيت شرط] داسې شرط دی چې پر هغه وقوف [خبر] نه سي حاصلېدای [يعني هغه نه سي معلومېدای او په هغه څوک واقف کېدای نه سي] كَمَا ذَكَرْنَا فِي الطَّلَاقِ لکه څرنګه چې په طلاق کې مورږ ذکر کړه بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: لِفُلَانٍ عَلَيَّ مِائَةُ دِرْهَمٍ إِذَا مِتُّ أَوْ إِذَا جَاءَ رَأْسُ الشَّهْرِ أَوْ إِذَا أَفْطَرَ النَّاسُ په خلاف د هغه صورت کله چې مُقِر [داسې] ووايي: د فلانکي پر ما سل درهمه دي کله چې زه مړسم يا کله چې د مياشتي سرَ راسي يا کله چې خلګ روژه ماته کړي لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى بَيَانِ الْمُدَّةِ ځکه چې دا د مودت بيانولو په معنیٰ سره دي فَيَكُونُ تَأْجِيلًا لَا تَعْلِيقًا نو دا به تاجيل وي، نه تعليق حَتَّى لَوْ كَذَّبَهُ الْمُقَرُّ لَهُ فِي الْأَجَلِ همدا وجه ده که مقر لهٗ د اجل [ميعاد] په هکله د مُقِر تکذيب وکړي يَكُونُ الْمَالُ حَالًّا نو مال في الحاله واجبيږي.

**اللغات**: ﴿مشيئة﴾ او مشيّة: خوښه. ﴿أفطر﴾ د افعال د باب ماضي ده: روژه ماتول. ﴿تعليق﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: معلق کول. ﴿تأجيل﴾ دا هم مخکنی صيغه ده: مؤجل کول، ميعادي کول، د يو شي لپاره ميعاد (مودت) ټاکل.

**تشریح: صورت د مسئلې**: دا دی که یو څوک د بل چا لپاره دیو حق اقرار وکړي لیکن د اقرار سره متصل "إنشاء الله" ووایي، مثلاً داسي ووایي "لِفُلَانٍ عَلَيَّ عَشَرَةُ دِيْنَارٍ إِنْ شَاءَ الله". نو دا استثناء صحیح کیږي او اقرار باطلیږي یعني پر مُقر یو دینار هم نه لازمیږي؛ ځکه چي د الله په مشیت او خوښي سره د استثناء کولو دوه حالتونه ده: ① یو دا چي په دې استثناء سره د مخکني کلام باطلول مقصود وي، ② او بل دا چي د الله پر مشیت د هغه معلق کول مقصود وي، او دا دواړه باطل دي: ځکه په اول صورت (یعني د ابطال په صورت) کي ښکاره خبره ده چي مُقر خپل کلام باطلوي، او د تعلیق په صورت کي په دې وجه اقرار باطل دی چي اقرار إخبار دی (یعني مُقر پر ځان دیو حق واجبېدلو خبر ورکوي. لکه دلته چي هغه د لسو دینارو خبر ورکوي)، او إخبار (خبر ورکول) پر شرط نه معلق کیږي بلکي په خبر ورکولو کي یا صدق وي یا کذب وي او معامله واضحه وي. دویمه خبره دا ده چي د الله پر مشیت معلق کول داسي شرط دی چي په هغه واقف کېدل (خبرېدل) ممکن نه دي، لهذا په دې حواله سره د هغه تعلیق صحیح نه دی. ها! که مُقر داسي ووایي چي "پر ما د فلانکي سل درهمه واجب دي کله چي زه مړ سم یا کله چي د میاشتي اوله شپه راسي یا کله چي اختر سي"، نو حکم دا دی چي کله ذکر سوی وخت راسي نو سمدستي پر مُقر سل درهمه واجبیږي؛ ځکه چي "إِذَا مِتُّ" او داسي نور د مودت بیانولو (مودت ټاکولو) لپاره دي او دا تاجیل دی، تعلیق نه دی: همدا وجه ده که مُقر لهٗ د مودت (میعاد) په باره کي د مُقر تکذیب وکړي یعني مُقر ته ووایي چي "زما في الحاله پر تا سل درهمه واجب دي، نه تر مرګ وروسته..."، نو د مقر لهٗ قول معتبر دی او پر مُقر في الحاله مال (سل درهمه) واجبیږي.

## د کور د اقرار کولو په صورت کي د هغه د عمارت (ودانۍ) استثناء کول (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَمَنْ أَقَرَّ بِدَارٍ وَاسْتَثْنٰى بِنَاءَهَا لِنَفْسِهِ فرمایي: او که څوک [د بل چا لپاره] د کور اقرار وکړي او د خپل ځان لپاره د هغه کور د بناء [ودانۍ] استثناء وکړي فَلِلْمُقَرِّ لَهُ الدَّارُ وَالْبِنَاءُ نو کور او د هغه بناء دواړه د مقر لهٗ لپاره دي لِأَنَّ الْبِنَاءَ دَاخِلٌ فِي هٰذَا الْإِقْرَارِ مَعْنًى لَا لَفْظًا ځکه چي په دې اقرار کي بناء معناً داخله ده، لفظاً داخله نه ده وَالِاسْتِثْنَاءُ تَصَرُّفٌ فِي الْمَلْفُوْظِ حالانکي استثناء په ملفوظ [ظاهري الفاظو کي] تصرف کول دي وَالْفَصُّ فِي الْخَاتَمِ وَالنَّخْلَةُ فِي الْبُسْتَانِ نَظِيْرُ الْبِنَاءِ فِي الدَّارِ او په ګوتمۍ کي غمی او په باغ کي درخته داسي دي لکه بناء په کور کي لِأَنَّهُ يَدْخُلُ فِيهِ تَبَعًا لَا لَفْظًا ځکه چي هغه

ایعني غمی او درخته] په دې [کوټمې او باغ] کې تبعاً داخلیږي، نه لفظاً بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: إِلَّا ثُلُثَهَا أَوْ إِلَّا بَيْتًا مِنْهَا په خلاف د هغه صورت کله چې مُقِر ووایي: ماسوا د کور له دریمې حصې یا ما سوا د کور له یوې خونې لِأَنَّهُ دَاخِلٌ فِيهِ لَفْظًا ځکه چې هغه [دریمه حصه او خونه] په کور کې لفظاً داخل دي نه تبعاً] وَلَوْ قَالَ: بِنَاءُ هٰذَا الدَّارِ لِي وَالْعَرْصَةُ لِفُلَانٍ او که چیرې مُقِر [داسې] ووایي: د دې کور بناء زما ده او صحن [غولی] د فلانکي دی فَهُوَ كَمَا قَالَ نو دا به د مُقِر د قول مطابق وي [یعني بناء د هغه لپاره ده او صحن د فلانکي لپاره دی] لِأَنَّ الْعَرْصَةَ عِبَارَةٌ عَنِ الْبُقْعَةِ دُونَ الْبِنَاءِ ځکه چې "عرصه" له خالي ځمکې څخه عبارت ده، نه له بناء څخه [یعني "عرصه" خالي میدان [صحن] ته وایي. د کور ودانۍ ته نه وایي] فَكَأَنَّهُ قَالَ: بَيَاضُ هٰذِهِ الْأَرْضِ دُونَ الْبِنَاءِ لِفُلَانٍ نو ګواکې هغه وویل: چې د دې ځمکې خالي ځای د فلانکي لپاره دی، نه بناء بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: مَكَانَ الْعَرْصَةِ أَرْضًا په خلاف د هغه صورت کله چې هغه د "عرصة" [صحن] پر ځای "أرض" ووایي حَيْثُ يَكُونُ الْبِنَاءُ لِلْمُقَرِّ لَهُ نو په دې صورت کې بناء هم د مقر لهٗ لپاره ده لِأَنَّ الْإِقْرَارَ بِالْأَرْضِ إِقْرَارٌ بِالْبِنَاءِ ځکه چې د ځمکې اقرار کول د بناء اقرار هم دی كَالْإِقْرَارِ بِالدَّارِ لکه د کور اقرار کول [چې د بناء اقرار هم دی].

**اللغات**: ﴿بناء﴾ د کور عمارت او ودانۍ، یعني په کور کې جوړ سوي ځایونه لکه خونې (کمرې) او داسې نور. ﴿نخلة﴾ د خرما درخته. ﴿بستان﴾ باغ. ﴿عَرْصَة﴾ د کور صحن، غولی، هغه خالي ځای (میدان) کوم چې د کور په مینځ کې وي. ﴿بُقْعَة﴾ د ځمکې ټوټه (ټوکړه). ﴿بیاض﴾ سپین والي. مراد: خالي ځمکه.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی د بل چا (مثلاً د خالد) لپاره د کور اقرار وکړي لیکن د کور بناء د ځان لپاره استثناء کړي، نو دا اقرار صحیح کیږي او استثناء باطلیږي یعني کور او بناء دواړه د مقرلهٗ (خالد) لپاره ګرځي؛ ځکه چې په کور کې بناء تبعاً داخله ده او د کور اقرار کول د بناء اقرار هم دی؛ لهذا کله چې بناء په کور کې تبعاً او معناً داخله ده، نه لفظاً. حال دا چې استثناء د هماغه شي صحیح کیږي چې هغه لره مستثنیٰ منه لفظاً شامله وي. نو په دې وجه دلته استثناء نه صحیح کیږي، لهذا کله چې استثناء صحیح نه سوه، نو ځکه کور او بناء به دواړه مقرلهٗ ته ورکول کیږي.

همدا حکم په هغه صورت کې هم دی کله چې يو څوک په اقرار کې له ګوتمۍ څخه د غمي استثناء وکړي يا له باغ څخه د درختې استثناء وکړي. يعنې په دې دواړو صورتونو کې هم اقرار صحيح کيږي او استثناء باطليږي؛ ځکه چې په ګوتمۍ کې غمی او په باغ کې درخته تبعاً داخل دي، نه لفظاً. ها! که چيرې مُقر داسې ووايي "هٰذِهِ الدَّارُ لِفُلَانٍ إِلَّا ثُلُثَهَا أَوْ إِلَّا بَيْتًا مِنْهَا" (له دريمې حصې يا له يوې خونې څخه بغير ټوله کور د فلانکي دی)، نو استثناء صحيح کيږي؛ ځکه چې ثلث (دريمه حصه) او بيت (خونه) دواړه لفظاً په دَار کې داخل دي او د مستثنیٰ منه (دَار) په ذات او ماهيت کې شامل دي. نو ځکه د هغوی استثناء صحيح کيږي.

ولوقال بناء هذه الدار إلخ: فرمايي که مُقر داسې ووايي چې "د دې کور بناء زما ده او صحن يې د فلانکي دی"، نو د هغه قول صحيح او معتبر دی او استثناء صحيح کيږي. يعنې بناء د هغه ده او صحن د فلانکي دی؛ ځکه چې صحن د خالي ځمکې (ميدان) نوم دی او خالي ځمکه په دَار کې داخله نه ده، نو ګواکې مُقِر داسې ووېل چې "د دې کور خالي ځمکه د فلانکي ده او بناء زما ده". لېکن که هغه د "عرصة" (صحن) پر ځای "أرض (ځمکه) ووايي، نو په دې صورت کې بناء هم د مقر لهٗ ده؛ ځکه چې د ځمکې په اقرار کې د بناء اقرار هم شامل دی لکه څرنګه چې د کور (دَار) په اقرار کې د بناء اقرار شامل دی.

## تر اقرار وروسته د اقرار په سبب کې اختلاف کول (حکم او تفصيل)

وَلَوْقَالَ: لَهُ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ اشْتَرَيْتُهُ مِنْهُ وَلَمْ أَقْبِضْهُ او که يو څوک ووايي: چې د فلانکي پر ما د هغه غلام د ثمن زر درهمه باندې دي کوم چې ما له ده څخه رانيولی وو لېکن پر هغه مې قبضه کړې نه وه فَإِنْ ذَكَرَ عَبْدًا بِعَيْنِهِ نو که [په دې صورت کې] مُقر يو مُعين غلام ذکر کړي قِيلَ لِلْمُقَرِّ لَهُ: إِنْ شِئْتَ فَسَلِّمِ الْعَبْدَ وَخُذِ الْأَلْفَ وَإِلَّا فَلَا شَيْءَ لَكَ نو مقرلهٗ ته به ويل کيږي: چې که ستا خوښه وي نو غلام [هغه ته] وسپاره! او زر درهمه واخله!، کنې ستا لپاره هيڅ شی نسته قَالَ: وَهٰذَا عَلَى وُجُوهٍ: أَحَدُهَا هٰذَا وَهُوَ أَنْ يُصَدِّقَهُ وَيُسَلِّمَ الْعَبْدَ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا مسئله پر څو صورتونو [منقسم] ده: [۱] يو صورت خو همدا دی چې مقرلهٗ د مُقر تصديق وکړي او [هغه ته] غلام وسپاري وَجَوَابُهُ مَا ذَكَرْنَا او د دې جواب هغه دی کوم چې موږ ذکر کړی [يعنې: قيل للمقرلهٗ...] لِأَنَّ الثَّابِتَ بِتَصَادُقِهِمَا كَالثَّابِتِ مُعَايَنَةً ځکه چې د مُقر او مقر لهٗ دواړو په تصديق [او

اتفاق [سره ثابت سوی شی داسي دی لکه په مشاهده [ليدني] سره ثابت سوی شی وَالثَّانِي: أَنْ يَقُولَ الْمُقَرُّ لَهُ: الْعَبْدُ عَبْدُكَ مَا بِعْتُكَهُ وَإِنَّمَا بِعْتُكَ عَبْدًا غَيْرَ هٰذَا [۲] او دويم صورت دا دی چي مقرلهٗ [داسي] ووايي: دا غلام ستا دی او ما هغه پر تا نه دی خرڅ کړی بلکي ما پر تا له هغه څخه بغير بل غلام خرڅ کړی دی وَفِيهِ الْمَالُ لَازِمٌ عَلَى الْمُقِرِّ او په دې صورت کي پر مُقِر مال لازم دی لِإِقْرَارِهِ بِهِ عِنْدَ سَلَامَةِ الْعَبْدِ لَهُ ځکه چي هغه د مال اقرار کړی دی، د هغه لپاره د غلام د سالم پاتېدلو په صورت کي [يعني مُقِر په هغه صورت کي د مال مُقِر دی کله چي د ده مُتعين سوی غلام سالم پاته وي او ده ته سالم وسپارل سي] وَقَدْ سَلِمَ او هغه غلام [د ده لپاره] سالم دی [او ده ته سپارل سوی دی] فَلَا يُبَالِي بِاخْتِلَافِ السَّبَبِ بَعْدَ حُصُولِ الْمَقْصُودِ نو ځکه له مقصود حاصلېدلو څخه وروسته به د سبب په اختلاف هيڅ پروا نه کيږي وَالثَّالِثُ: أَنْ يَقُولَ: الْعَبْدُ عَبْدِي مَا بِعْتُكَ [۳] او درېيم صورت دا دی چي مُقِر داسي ووايي: دا غلام زما دی او ما پر تا نه دی خرڅ کړی وَحُكْمُهُ أَنْ لَا يَلْزَمَ الْمُقِرَّ شَيْءٌ او د دې حکم دا دی چي پر مُقِر هيڅ شی نه لازميږي لِأَنَّهُ مَا أَقَرَّ بِالْمَالِ إِلَّا عِوَضًا عَنِ الْعَبْدِ ځکه چي هغه د دې مال اقرار نه دی کړی مګر د غلام په عوض کي فَلَا يَلْزَمُهُ دُونَهُ نو ځکه له غلام څخه بغير به پر هغه مال نه لازميږي وَلَوْ قَالَ مَعَ ذٰلِكَ: إِنَّمَا بِعْتُكَ غَيْرَهُ او که د هغه سره مُقِر دا هم ووايي: چي ما له دې څخه بغير بل غلام پر تا خرڅ کړی دی يَتَحَالَفَانِ نو دواړه به قسمونه اخلي لِأَنَّ الْمُقِرَّ يَدَّعِي تَسْلِيمَ مَنْ عَيَّنَهُ ځکه چي مُقِر د خپل مُتعيّن کړه غلام د ورسپارلو مدعي دی [يعني هغه د دې دعویٰ کوي چي پر مقرلهٗ واجب دي چي ما ته زما مُتعيّن سوی غلام وسپاري] وَالْآخَرُ يُنْكِرُ او بل يو [يعني مقر لهٗ] انکار کوي وَالْمُقَرُّ لَهُ يَدَّعِي عَلَيْهِ الْأَلْفَ بِبَيْعِ غَيْرِهِ او مقر لهٗ پر مُقِر د بل غلام د خرڅولو دعویٰ کوي وَالْآخَرُ يُنْكِرُهُ او بل يو [مقر] انکار کوي وَإِذَا تَحَالَفَا او کله چي دواړه قسمونه واخلي بَطَلَ الْمَالُ نو مال به باطليږي هٰذَا إِذَا ذَكَرَ عَبْدًا بِعَيْنِهِ دا [حکم] په هغه صورت کي دی کله چي مُقِر يو مُتعيّن غلام ذکر کړی وي وَإِنْ قَالَ: مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ وَلَمْ يُعَيِّنْهُ او که هغه "مِن ثمن عبد" ووايي ليکن غلام مُتعيّن نه کړي لَزِمَهُ الْأَلْفُ نو پر هغه زر درهمه لازميږي وَلَا يُصَدَّقُ فِي قَوْلِهِ مَا قَبَضْتُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د امام

صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به په دې قول کې د هغه تصديق نه کيږي چې "ما [پر غلام] قبضه نه ده کړې" وَصَلَ أَمْ فَصَلَ برابره ده هغه دا قول متصلاً ووايي او که منفصلاً لِأَنَّهُ رُجُوعٌ ځکه دا [له اقرار څخه] رجوع کول دي فَإِنَّهُ أَقَرَّ بِوُجُوبِ الْمَالِ رُجُوعًا إِلَى كَلِمَةِ عَلَيَّ ځکه چې هغه د مال د وجوب [واجبېدلو] اقرار کړی دی لکه څرنګه چې د "عَلَيَّ" کلمه پر دې دلالت کوي وَإِنْكَارُهُ الْقَبْضَ فِي غَيْرِ الْمُعَيَّنِ يُنَافِي الْوُجُوبَ أَصْلًا او په غير مُعين غلام کې د قبضې انکار کول بالکل د وجوب منافي دی لِأَنَّ الْجَهَالَةَ مُقَارِنَةً كَانَتْ أَوْ طَارِئَةً بِأَنِ اشْتَرَى عَبْدًا ثُمَّ نَسِيَاهُ عِنْدَ الِاخْتِلَاطِ بِأَمْثَالِهِ تُوجِبُ هَلَاكَ الْمَبِيعِ ځکه چې جهالت که متصل وي او که طاري [وروسته واقع سوی] وي د مبيع هلاکت لره مستلزم وي، [د طارئ مثال دا دی] چې يو څوک يو غلام رانيسي بيا د بل چا په غلامانو د ګډېدلو په وجه هغه له بائع او مشتري څخه هير سي [لهذا کله چې جهالت د مبيع هلاکت لره مستلزم دی] فَيَمْتَنِعُ وُجُوبُ نَقْدِ الثَّمَنِ نو ځکه د ثمن اداء کولو وجوب به ممتنع وي [ځکه ښکاره خبره ده چې د مبيع هلاکېدل (ضايع کېدل) د ثمن له وجوب څخه مانع دي] وَإِذَا كَانَ كَذَٰلِكَ او کله چې خبره داسې ده كَانَ رُجُوعًا نو د مُقر دا قول به [له اقرار څخه] رجوع کول وي فَلَا يَصِحُّ وَإِنْ كَانَ مَوْصُولًا نو ځکه به صحيح نه وي که څه هم متصلاً وي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ ❁: إِنْ وَصَلَ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې که مُقر دا قول متصلاً ووايي صُدِّقَ وَلَمْ يَلْزَمْهُ شَيْءٌ نو د هغه تصديق به کيږي او پر هغه به هيڅ شی نه لازميږي وَإِنْ فَصَلَ او که منفصلاً دا قول ووايي لَمْ يُصَدَّقْ إِذَا أَنْكَرَ الْمُقَرُّ لَهُ أَنْ يَكُونَ ذَٰلِكَ مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ نو د هغه تصديق به نه کيږي [په دې شرط] کله چې مقر لهٗ د دې څخه انکار وکړي چې هغه زر درهمه د غلام قيمت دی وَإِنْ أَقَرَّ أَنَّهُ بَاعَهُ مَتَاعًا او که مقر لهٗ د دې اقرار وکړي چې ما پر مُقر سامان خرڅ کړی دی فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُقِرِّ نو قول د مُقر معتبر دی وَوَجْهُ ذَٰلِكَ أَنَّهُ أَقَرَّ بِوُجُوبِ الْمَالِ عَلَيْهِ وَبَيَّنَ سَبَبًا وَهُوَ الْبَيْعُ او د دې وجه دا ده چې مُقر پر خپل ځان د مال واجبېدلو اقرار کړی دی او د هغه

---

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الدر المنتقى (ج:۳، ص:۴۱۰)، وكذا في ملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۴۱۰). [القول الراجح ج:۲، ص: ۲۰۱]

سبب یې هم بیان کړی دی یعني بیع فَإِنْ وَافَقَهُ الطَّالِبُ فِي السَّبَبِ نو اوس که طالب یعني مقر لهٔ [د وجوب] په سبب کې د هغه موافقت وکړي وَبِهِ لَا يَتَأَكَّدُ الْوُجُوبُ إِلَّا بِالْقَبْضِ حال دا چې بغیر له قبضې صرف په سبب [بیع] سره د ثمن وجوب نه مؤکد کیږي وَالْمُقِرُّ يُنْكِرُهُ او مُقر له قبضې څخه انکار کوي [ځکه هغه وایي: ما قبضتُه (ما قبضه نه ده پر کړې)] فَيَكُونُ الْقَوْلُ لَهُ نو ځکه د هغه قول به معتبر وي وَإِنْ كَذَّبَهُ فِي السَّبَبِ او که چیرې مقر لهٔ [د وجوب] په سبب کې د مُقِر تکذیب وکړي كَانَ هَذَا مِنَ الْمُقِرِّ بَيَانًا مُغَيِّرًا نو دا بیان به د مُقر له طرفه مُغیِّر [د هغه د کلام بدلونکی] وي لِأَنَّ صَدْرَ كَلَامِهِ لِلْوُجُوبِ مُطْلَقًا ځکه چې د هغه د کلام شروع مطلقاً د وجوب لپاره ده وَآخِرُهُ يَحْتَمِلُ انْتِفَاءَهُ عَلَى اعْتِبَارِ عَدَمِ الْقَبْضِ حالانکې د هغه د کلام آخر د قبضې د نشتوالي په اعتبار سره د وجوب نفي کېدلو احتمال لري وَالْمُغَيِّرُ يَصِحُّ مَوْصُولًا لَا مَفْصُولًا او مُغیِّر صرف متصلاً صحیح کیږي، نه منفصلاً وَلَوْ قَالَ: ابْتَعْتُ مِنْهُ بَيْعًا إِلَّا أَنِّي لَمْ أَقْبِضْهُ او که چیرې مُقر وایي: ما له مقر لهٔ څخه مُعیَّن مال رانیولی دی لېکن پر هغه مې قبضه کړې نه ده فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ بِالْإِجْمَاعِ نو بالاتفاق د مُقر قول معتبر دی لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ ضَرُورَةِ الْبَيْعِ الْقَبْضُ ځکه چې قبضه د بیع د لوازماتو څخه نه ده [یعني د بیع ثابتېدلو لپاره قبضه ضروري نه ده] بِخِلَافِ الْإِقْرَارِ بِوُجُوبِ الثَّمَنِ په خلاف د ثمن واجبېدلو د اقرار.

**اللغات**: ﴿ثمن﴾ قیمت، ﴿تصادق﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: یو د بل تصدیق کول، پر یو خبره د دوو کسانو اتفاق کول، ﴿یتحالفان﴾ د تفاعل له بابه د تثنیه مذکر غائب مضارع ده: یو تر بله قسم کول، د دوو کسانو قسم اخیستل، ﴿وصل﴾ د ضرب د باب ماضي ده: متصل کول (یو ځای کول)، متصل ذکر کول، ﴿فصل﴾ دا هم د ضرب د باب ماضي ده: جلا کول، قطع کول، جلا ذکر کول، ﴿مقارنة﴾ د مفاعلې له بابه د اسم فاعل مؤنث صیغه ده: متصل، جوخت، یو د بل سره یو ځای، ﴿طارئة﴾ د فتح له بابه مخکنی صیغه ده: طاري کېدونکی، وروسته واقع کېدونکی (بعد کې راتلونکی)، ﴿متاع﴾ سامان، ﴿مُغیِّر﴾ د تفعیل له بابه د اسم فاعل مذکر صیغه ده: بدلونکی، متغیر کونکی، ﴿الصّدر﴾ د هر شي اولې حصې ته وایي (د شروع حصه)، ﴿ابتعتُ﴾ د افتعال له بابه د واحد

متکلم ماضي صيغه ده: رانيول، ځکه د بيع ماده چي د افتعال په باب سره ذکر سي نو د "رانيولو" معنیٰ ورکوي.

**تشريح:** په دې مسئله کي د يوې مسئلې په هکله څو صورتونه بيان سوي دي. اصل مسئله دا ده که يو څوک دا اقرار وکړي چي "پر ما د خالد زر درهمه واجب دي او دا زر درهمه د هغه غلام ثمن (قيمت) دی کوم چي ما له خالد څخه رانيولی وو ليکن پر هغه مي قبضه نه وه کړې"، (۱) اوس که مُقِر يو مُتعيّن غلام ذکر کړي چي "هغه دا غلام دی کوم چي ما له خالد څخه رانيولی وو"، نو مقر لهٔ (خالد) ته دوه اختيار حاصليږي: ① يو دا چي هغه د مُقِر مُتعيّن سوی غلام مُقِر ته وسپاري او ثمن (زر درهمه) واخلي، ② بل دا چي نه غلام واخلي او نه ثمن (زر درهمه)؛ ځکه د دوی دواړو په خپل مينځوي تصديق او اتفاق سره چي کومه خبره او معامله ثابت سوه هغه داسي ده لکه په مشاهده او عيني ليدنه سره چي ثابت سوې وي، نو ګواکي دوی خاص پر همدغه مقدار (زر درهمه) معامله کړې ده، ځکه کله چي معامله وسي نو بيا پر مُقِر واجبيږي. دا اول صورت دی.

(۲) دويم صورت دا دی چي مقر لهٔ د مُقِر تصديق وکړي او داسي ووايي "چي کوم غلام تا ذکر کړی دی هغه خو ستا دی ليکن ما هغه پر تا نه دی خرڅ کړی بلکي بل غلام مي پر تا خرڅ کړی دی او هغه مي تا ته سپارلی هم دی"، نو دا اقرار صحيح او معتبر دی او پر مُقِر د مقر لهٔ لپاره زر درهمه (أَلف) واجبيږي؛ ځکه مُقِر صرف د غلام د سالم پاتېدلو او مُقِر ته د ورسپارل کېدلو په صورت کي د مقر لهٔ لپاره د زر درهمو اقرار کوي او مقر لهٔ هم دوايي چي ما هغه ته غلام سپارلی دی، نو په دې حواله سره دواړه د ثمن پر وجوب متفق دي، نو ځکه پر مُقِر به د مقر لهٔ ثمن واجبيږي او د وجوب د سبب په مختلف کېدلو به پروا نه کيږي. يعني که څه هم مقر لهٔ وايي چي پر تا د بل غلام ثمن (زر درهمه) واجب دی او مُقِر وايي چي پر ما د دې غلام ثمن واجب دی. نو په دې اختلاف سره به پروا نه کيږي او په دې سره د اقرار پر صحت هيڅ اثر نه پرېوځي.

(۳) درېيم صورت دا دی چي مقر لهٔ د مُقِر دعویٰ رد کړي او داسي ووايي چي "دا خو زما غلام دی او ما هيڅکله پر تا نه دی خرڅ کړی"، نو په دې صورت کي معامله ختميږي او پر مُقِر هيڅ شی نه واجبيږي؛ ځکه چي هغه د غلام په عوض کي د زر درهمو د وجوب مُقِر دی (يعني هغه وايي چي پر ما د دغه غلام په عوض کي زر درهمه واجب دي) او مقر لهٔ د هغه غلام ور کولو څخه انکار کوي، نو بلا عوضه به پر مُقِر هيڅ نه لازميږي. ها! که چيري مقر لهٔ د "العَبْدُ عَبْدِيْ مَا بِعْتُكَ" سره دا هم ووايي "إِنَّمَا

بِعْتُكَ غَيْرَه" چې "ما بل غلام پر تا خرڅ کړی دی"، نو بیا به دواړه قسمونه اخلي. یعني مُقر به داسې قسم اخلي چې "په الله قسم! تا پر ما دغه غلام خرڅ کړی دی" او مقر لهٔ به وايي "په الله قسم! ما پر تا بل فلانکی غلام خرڅ کړی دی"، ځکه چې مُقِر د يو مُتعيّن غلام د رانيولو او د هغه د ورسپارلو مدعي دی (چې ما دا غلام رانيولی دی لهذا ته ما ته خاص دغه غلام وسپاره!) او مقر لهٔ له دې څخه منکر دی او هغه د بل فلانکي غلام او پر مُقِر د زرو درهمو مدعي دی او مُقِر له دې څخه منکر دی، نو دلته مُقِر او مقر لهٔ دواړه په يوه اعتبار سره مدعيان دي او په يوه اعتبار سره منکرين دي، نو ځکه به له دواړو څخه قسم اخيستل کيږي او دواړه به پر خپل قول او دعویٰ قسمونه اخلي، نو که چيري يو له قسم څخه انکار وکړي، نو د هغه په خلاف د به د هغه د ملګري قول او دعویٰ منل کيږي؛ او که دواړه قسمونه واخلي، نو معامله به ختمول کيږي؛ ځکه چې د دواړو په تحالف سره تعارض پيدا سو، لهذا پر "إِذَا تَحَالَفَا تَسَاقَطَا" په عمل کولو سره به د دواړو قول او دعویٰ ساقطيږي.

وهذا إذا ذكر عبدًا بعينه إلخ: فرمايي په پورتني صورتونو کې چې کوم حکم دی دا په هغه وخت کې دی کله چې مُقِر يو مُتعيّن غلام ذکر کړی وي، ليکن که هغه غلام مُتعيّن نه کړي بلکې مطلق "مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ" ووايي نو پر هغه زر درهمه لازميږي او د هغه دا قول "مَا قَبَضْتُهُ" (لَمْ أَقْبِضْهُ) به نه منل کيږي؛ برابره ده هغه "مَا قَبَضْتُهُ" د "مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ" سره متصل ووايي يا څه وخت وروسته بيا "مَا قَبَضْتُهُ" ووايي؛ ځکه چې د "عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ" په ويلو سره هغه مخکې د زر درهمو د وجوب اقرار کړی دی او اوس د "مَا قَبَضْتُهُ" په ويلو سره هغه له خپل اقرار څخه رجوع کول غواړي، نو ځکه د هغه رجوع به نه صحيح کيږي؛ ځکه د "مَا قَبَضْتُهُ" په ويلو سره په مبيع کې جهالت پيدا کيږي او د مبيع جهالت د ثمن له وجوب څخه مانع دی، او همدا ممانعت د دې خبرې دليل دی چې تر اقرار وروسته د مقر "مَا قَبَضْتُهُ" ويل رجوع عن الاقرار ده، نو ځکه د وصل او فصل په دواړو حالتونو کې به دا رجوع معتبره نه وي، دا حکم او تفصيل د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی.

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: دلته به دې ته کتل کيږي چې که مُقر متصلاً "مَا قَبَضْتُهُ" ووايي، نو د هغه د قول تصديق به کيږي او پر هغه به مال (زر درهمه) نه لازميږي؛ او که هغه څه وخت وروسته يا په يو بله جمله سره فصل وکړي او بيا "مَا قَبَضْتُهُ" ووايي، نو د هغه تصديق به نه کيږي او پر هغه به زر درهمه لازميږي،

او که مقر لهٗ د وجوب په سبب کي د مُقِر تصدیق وکړي او د قبضې په انکار (ما قبضتُه) کي د هغه تکذیب وکړي یعني داسي ووایي چي "هو! ما پر مُقِر متاع (یعني غلام یا داسي بل څه) خرڅ کړی دی لېکن هغه قبضه پر کړې ده او هغه د قبضې په انکار کي درواغجن دی"، نو په دې صورت کي به د مقر لهٗ قول نه منل کیږي بلکي د مُقِر قول به منل کیږي او قبضه به نه ثابتیږي؛ ځکه چي مُقِر د "عليّ ألف" په وینا سره پر خپل ځان د مال د وجوب اقرار کړی دی او د "من ثمن عبد اشتریته منه" په وینا سره یې د هغه سبب هم بیان کړی دی، لېکن ځرنګه چي هغه له قبضې څخه منکر دی او قول د منکر معتبر وي، نو اوس که طالب (مقرلهٗ) د هغه د قول تصدیق هم وکړي چي "هو! ما پر مُقِر غلام خرڅ کړی دی" نو محض په دې تصدیق سره قبضه نه ثابتیږي او نه په دې سره پر مُقِر (مشتري) د ثمن وجوب مؤکد کیږي؛ ځکه کېدای سي چي تر رانیولو وروسته او له قبضه کولو څخه مخکي مبیع (غلام) د بائع په قبضه کي هلاک سوی وي، او په دې صورت کي د مشتري له ذمې څخه ثمن ساقطیږي. او ثمن صرف د قبضې په ذریعه مؤکد کیږي (مضبوطیږي)، او دلته مقر لهٗ د قبضې دعوی کوي او مُقِر له هغه څخه منکر دی، نو ځکه د منکر (مُقِر) قول به قبلول کیږي.

د دې په خلاف که مقر لهٗ په مذکوره سبب کي د مُقِر تکذیب وکړي مثلاً داسي ووایي "چي هغه مال (زر درهمه) د بیع ثمن نه دی بلکي زما د فلانکی سامان قیمت دی کوم چي تا غصب کړی وو" او داسي نور، نو په دې صورت کي د مُقِر د کلام آخر یعني د هغه دا قول "مَا قَبَضْتُهُ" (ما قبضه نه ده پر کړې) د هغه د کلام د اولي حصې یعني د "لَهُ عَلَيَّ أَلفُ دِرْهَم" لپاره مُغیر دی؛ ځکه چي د کلام په شروع (لهُ علیه ألف درهم) سره مطلقاً وجوب ثابتیږي او د کلام د آخر په وجه دا احتمال را وځي چي (بتقدیرِ عدم قبضه) وجوب نه ثابتیږي؛ ځکه چي هغه په آخر کي (د ما قبضتُهٗ په وینا سره) له قبضې څخه انکار کوي او په دې توګه له خپل ځان څخه د ثمن وجوب دفع کوي. نو د هغه د کلام آخر د کلام د شروع لپاره مُغیر سو، او مُغیر بیان صرف متصلاً صحیح کیږي، نه منفصلاً. نو ځکه صاحبینو رَحِمَهُمَا الله د وصل او فصل په صورتونو کي جلا، جلا احکام بیان کړي دي.

ولوقال إلخ: د دې حاصل دا دی که یو سړی داسي ووایي چي "ما له زید څخه یو مُتعین غلام یا سامان رانیولی دی لېکن پر هغه مي قبضه نه ده کړې"، نو د هغه قول معتبر دی او پر هغه به فوراً ثمن نه لازمول کیږي؛ ځکه چي دا د بیع اقرار دی، د ثمن د وجوب (واجبېدلو) اقرار نه دی او دلته د مشتري د کلام آخر "اِنِّي لَمْ أَقْبِضْهُ" د کلام د شروع "اِبْتَعْتُ مِنْهُ عَيْنًا" لپاره مُغیر نه دی او د بیع د اقرار لپاره

قبضه لازمي او ضروري نه ده؛ ځکه کېداى سي چي بيع بشرط الخيار وي، او په بيع بشرط الخيار کي نه في الحاله قبضه کيږي او نه ثمن واجبيږي، لېکن د ثمن د وجوب په اقرار کي قبضه ضروري ده؛ ځکه چي بغير له قبضې د ثمن وجوب نه ثابتيږي، نو په دې حواله سره د بيع د اقرار او د وجوب الثمن د اقرار په مينځ کي فرق دى. (احسن الهدايه)

## په ناجائز سبب سره د حق واجبېدلو اقرار کول

قَالَ: وَكَذَا لَوْقَالَ: مِنْ ثَمَنِ خَمْرٍأَوْ خِنْزِيرٍ فرمايي: او همدارنګه که هغه ووايي: د شراب او خنزير له قيمت څخه وَمَعْنَى الْمَسْأَلَةِ إِذَا قَالَ: لِفُلَانٍ عَلَيَّ أَلْفٌ مِنْ ثَمَنِ خَمْرٍأَوْ خِنْزِيرٍ او د مسئلې معنىٰ دا ده چي کله يو څوک داسي ووايي: د فلانکي پر ما د شراب او خنزير د قيمت زر درهمه دي لَزِمَهُ الْأَلْفُ نو پر هغه زر درهمه لازميږي وَلَمْ يُقْبَلْ تَفْسِيرُهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه تفسير [بيان] به نه منل کيږي وَصَلَ أَمْ فَصَلَ برابره ده هغه متصلاً ووايي او که منفصلاً [يعني برابره ده متصلاً تفسير وکړي او که منفصلاً] لِأَنَّهُ رُجُوعٌ ځکه چي دا [له اقرار څخه] رجوع کول دي لِأَنَّ ثَمَنَ الْخَمْرِ وَالْخِنْزِيرِلَا يَكُونُ وَاجِبًا ځکه د شراب او خنزير قيمت نه واجبيږي وَأَوَّلُ كَلَامِهِ لِلْوُجُوبِ حالانکي د مُقِر د کلام اوله حصه د وجوب لپاره ده وَقَالَا: إِذَا وَصَلَ لَا يَلْزَمُهُ شَيْءٌ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي که هغه متصلاً ووايي نو هيڅ شى نه پر لازميږي لِأَنَّهُ بَيَّنَ بِآخِرِ كَلَامِهِ أَنَّهُ مَا أَرَادَ بِهِ الْإِيجَابَ ځکه چي هغه د خپل کلام په آخر سره دا بيان کړى دى چي هغه د ايجاب اراده نه وه کړې [يعني هغه د خپل کلام په آخري حصه سره دا خبره بيان کړې ده چي زما مراد واجبېدل نه وو] وَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ فِي آخِرِهِ: إِنْ شَاءَ اللهُ او دا داسي سوه لکه هغه چي د خپل کلام په آخر کي ووايي: انشاء الله قُلْنَا: ذَاكَ تَعْلِيقٌ وَهٰذَا إِبْطَالٌ موږ [جواباً] وايو: چي هغه [انشاء الله] تعليق دى او دا [د دې عبارت مسئله] ابطال دى.

**اللغات**: ﴿ثمن﴾ قيمت، ﴿إيجاب﴾ د افعال د باب مصدر دى: واجبول، ﴿إبطال﴾ د مخکني باب مصدر دى: باطلول.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دى که يو څوک ووايي چي "د فلانکي پر ما د خنزير يا شرابو د قيمت زر درهمه باندي دي"، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه صرف زر درهمه لازميږي او برابره ده

هغه د خپل دې قول سره يو ځای "مَا قَبَضْتُه" ووايي يا وروسته، په دواړو صورتونو کې د هغه دا قول معتبر نه دی (يعني هغه به نه منل کيږي)؛ ځکه چې دا له خپل اقرار څخه رجوع کول دي، حال دا چې د "لِفُلَانٍ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ" په ذريعه هغه پر خپل ځان زر درهمه لازم کړي دي، نو ځکه د رجوع په هکله به د هغه قول معتبر نه وي او هغه به نه منل کيږي. او بيا د خنزير او شرابو ثمن پر ذمه واجبيږي هم نه؛ نو ځکه په دې حواله سره به د هغه "مَا قَبَضْتُه" ويل معتبر نه وي.

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې که هغه "مَا قَبَضْتُه" متصلاً ووايي، نو بيا د هغه قول معتبر دی او پر هغه به زر درهمه نه لازميږي؛ ځکه که څه هم د هغه ابتدائي کلام د وجوب سره متعلق دی لېکن د هغه آخري کلام د وجوب منافي دی، او څرنګه چې د متصلاً "إن شاء الله" ويلو په صورت کې وجوب نه ثابتيږي، همداسې به په دې صورت کې هم پر مُقِر زر درهمه نه واجبيږي. لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله له طرفه صاحبينو ته جواب دا دی چې صورتِ مسئله د "إن شاء الله" پر صورت قياسول صحيح نه دي؛ ځکه د "إن شاء الله" والا په صورت کې تعليق دی او تعليق لره بيان (تفسير) لاحق کېدای سي، لېکن په صورتِ مسئله کې بيان (تفسير) خپل اقرار باطلول او له اقرار څخه رجوع کول دي، او په اقرار کې رجوع نه صحيح کيږي. (احسن الهدايه)

## تر اقرار وروسته د شي يو صفت يا قيد بيانول

وَلَوْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ أَلْفٌ مِنْ ثَمَنِ مَتَاعٍ او که چيرې ووايي: د فلانکي پر ما د سامان د قيمت زر درهمه دي أَوْ قَالَ: أَقْرَضَنِيْ أَلْفَ دِرْهَمٍ يا ووايي: چې هغه ما ته زر درهمه په قرض راکړي وه ثُمَّ قَالَ: هِيَ زُيُوفٌ أَوْ نَبَهْرَجَةٌ بيا ووايي: چې هغه دراهم کوټه يا نبهرجه وه وَقَالَ: الْمُقَرُّ لَهُ جِيَادٌ او مقر لهٗ ووايي: چې هغه کره [اصلي] دراهم وه لَزِمَهُ الْجِيَادُ فِيْ قَوْلِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه کره دراهم لازميږي وَقَالَا*: إِنْ قَالَ مَوْصُولًا يُصَدَّقُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: که مُقِر متصلاً دا ويلي وي نو د هغه تصديق به کيږي وَإِنْ قَالَ مَفْصُولًا لَا يُصَدَّقُ او که منفصلاً يې ويلي وي نو تصديق به يې نه کيږي وَعَلَىٰ هٰذَا الْخِلَافِ إِذَا قَالَ: هِيَ سَتُّوْقَةٌ أَوْ رَصَاصٌ او پر همدغه اختلاف دي

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في ملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۴۱۰)، وكذا في الدر المختار (ج:۶، ص:۵۱۲). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۰۲]

که هغه ووايي: چي هغه ستوقه دراهم وه يا هغه ژړ وه [يعني صرف له ژړو څخه جوړ وه، دراهم نه وه] وَعَلَىٰ هَذَا إِذَا قَالَ: إِلَّا أَنَّهَا زُيُوفٌ او پر همدې اختلاف دي که هغه ووايي: لېکن هغه کوټه اجعلي] وه وَعَلَىٰ هَذَا إِذَا قَالَ: لِفُلَانٍ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ زُيُوفٍ مِنْ ثَمَنِ مَتَاعٍ او پر همدې اختلاف دي که هغه ووايي: پر ما د سامان د قيمت زر کوټه درهمه دي لَهُمَا: أَنَّهُ بَيَانٌ مُغَيِّرٌ د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللهُ دليل دا دی: چي د مُقر آخري قول [يعني د مُقِر د کلام آخر] مُغير بيان دی فَيَصِحُّ بِشَرْطِ الْوَصْلِ نو ځکه هغه به د وصل [متصل والي] په شرط سره صحيح وي كَالشَّرْطِ وَالِاسْتِثْنَاءِ لکه شرط او استثناء [چي د وصل په شرط سره صحيح دي] وَهَذَا لِأَنَّ اسْمَ الدَّرَاهِمِ يَحْتَمِلُ الزُّيُوفَ بِحَقِيقَتِهِ وَالسَّتُّوقَةَ بِمَجَازِهِ او دا ځکه چي لفظ د "دراهم" د خپل حقيقت په اعتبار سره د کوټه دراهمو احتمال لري او مجازاً د ستوقه دراهمو احتمال لري إِلَّا أَنَّ مُطْلَقَهُ يَنْصَرِفُ إِلَى الْجِيَادِ لېکن مطلق لفظ د "دراهم" د کَره دراهمو وطرف ته راجع کيږي فَكَانَ بَيَانًا مُغَيِّرًا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ نو ځکه په دې اعتبار سره به د هغه آخري قول مُغيّر بيان وي وَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: إِلَّا أَنَّهَا وَزْنُ خَمْسَةٍ او دا داسي سوه لکه مُقِر چي ووايي: هغه د "وزن خمسه" دراهم وه وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ هَذَا رُجُوعٌ د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دليل دا دی: چي دا [له خپل اقرار څخه] رجوع کول دي لِأَنَّ مُطْلَقَ الْعَقْدِ يَقْتَضِي وَصْفَ السَّلَامَةِ عَنِ الْعَيْبِ ځکه چي مطلق عقد له عيب څخه د سالم کېدلو تقاضا وي وَالزِّيَافَةُ عَيْبٌ او کوټه والی عيب دی وَدَعْوَى الْعَيْبِ رُجُوعٌ عَنْ بَعْضِ مُوجِبِهِ او د عيب دعویٰ کول د عقد له بعضي مُوجب څخه رجوع کول دي وَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: بِعْتُكَهُ مَعِيبًا وَقَالَ: الْمُشْتَرِي بِعْتَنِيهِ سَلِيمًا او دا داسي سوه لکه هغه چي ووايي: ما هغه پر تا عيبداره خرڅ کړی وو او مشتري ووايي: تا هغه پر ما صحيح سالم خرڅ کړی وو فَالْقَوْلُ لِلْمُشْتَرِي نو قول د مشتري معتبر دی لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَالسَّتُّوقَةُ لَيْسَتْ مِنَ الْأَثْمَانِ او ستوقه ثمن نه دي وَالْبَيْعُ يَرِدُ عَلَى الثَّمَنِ حال دا چي بيع صَرف پر ثمن وارديږي فَكَانَ رُجُوعًا نو ځکه به دا رجوع وي وَقَوْلُهُ "إِلَّا أَنَّهَا وَزْنُ خَمْسَةٍ" يَصِحُّ اسْتِثْنَاءً او د مُقر دا قول "إلّا أنها وزن خمسة" د استثناء په اعتبار سره صحيح دي لِأَنَّهُ مِقْدَارٌ ځکه چي "وزن

خمسه" د دراهمو يو مقدار دی بِخِلَافِ الْجَوْدَةِ په خلاف د کره والي لِأَنَّ اسْتِثْنَاءَ الْوَصْفِ لَا يَجُوزُ ځکه چي د وصف استثناء جائز نه ده كَاسْتِثْنَاءِ الْبِنَاءِ فِي الدَّارِ لکه له کور څخه د بناء (ودانۍ) استثناء کول بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: عَلَيَّ كُرُّ حِنْطَةٍ مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ إِلَّا أَنَّهَا رَدِيئَةٌ ددې په خلاف که مُقر ووايي: پر ما د غلام د قيمت يو کُر غنم دي لېکن هغه ردي [کمزوري] دي لِأَنَّ الرَّدَاءَةَ نَوْعٌ لَا عَيْبٌ ځکه چي ردي والي يو قسم دی. عيب نه دی فَمُطْلَقُ الْعَقْدِ لَا يَقْتَضِي السَّلَامَةَ عَنْهَا نو ځکه مطلق عقد له ردي والي څخه د سالم کېدلو تقاضا نه کوي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ فِي غَيْرِ رِوَايَةِ الْأُصُولِ أَنَّهُ يُصَدَّقُ فِي الزُّيُوفِ إِذَا وَصَلَ او په غير ظاهر روايت کي له امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ څخه دا روايت سوی دی چي که مُقر متصلاً ووايي نو د کوټه دراهمو په هکله به د هغه تصديق کيږي لِأَنَّ الْقَرْضَ يُوجِبُ رَدَّ مِثْلِ الْمَقْبُوضِ ځکه چي قرض د هغه شي د مثل واپس کول واجبوي کوم چي قبضه کړی سوی وي [يعني مقروض چي له قرض ورکونکي څخه څنګه شی اخيستی وي. په قرض کي د هغسي شي واپس کول (اداء کول) واجب دي] وَقَدْ يَكُونُ زَيْفًا كَمَا فِي الْغَصْبِ حال دا چي مقبوض کله کوټه اجعلي] وي لکه په غصب کي چي کيږي وَوَجْهُ الظَّاهِرِ: أَنَّ التَّعَامُلَ بِالْجِيَادِ او د ظاهر روايت دليل دا دی: چي معامله [عموماً] په کره دراهمو سره کيږي فَانْصَرَفَ مُطْلَقُهُ إِلَيْهَا نو ځکه مطلق دراهم به د هغه وطرف ته راجع کيږي وَلَوْ قَالَ: لِفُلَانٍ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ زُيُوفٍ او که چيري ووايي: د فلانکي پر ما زر کوټه درهمه دي وَلَمْ يَذْكُرِ الْبَيْعَ وَالْقَرْضَ لېکن بيع او قرض ذکر نه کړي قِيلَ: يُصَدَّقُ بِالْإِجْمَاعِ نو ويل سوي دي: چي بالاتفاق به د هغه تصيق کيږي لِأَنَّ اسْمَ الدَّرَاهِمِ يَتَنَاوَلُهَا ځکه چي لفظ د "دراهم" کوټه دراهمو لره هم شامليږي وَقِيلَ: لَا يُصَدَّقُ او ويل سوي دي: چي د هغه تصديق به نه کيږي لِأَنَّ مُطْلَقَ الْإِقْرَارِ يَنْصَرِفُ إِلَى الْعُقُودِ ځکه چي مطلق اقرار د عقدونو وطرف ته راجع کيږي لِتَعَيُّنِهَا مَشْرُوعَةً لَا إِلَى الِاسْتِهْلَاكِ الْمُحَرَّمِ ځکه چي عقدونه مشروع مُتعيّن سوي دي. نه د هلاکولو [ضايع کولو] وطرف ته کوم چي حرام دي.

**اللغات**: ﴿زُيوف﴾ جمع د زَيْفٌ ده: کوټه درهم. يعني هغه درهم کوم چي خالص سپين زر نه وي بلکي بل شی (مثلاً ژړ يا ګيلټ يا داسي بل فلز) هم په ګډ وي لېکن سپين زر پکښي غالب وي. مخکي صاحب د هدايې رَحِمَهُ اللهُ د هغه داسي تعريف کړی وو چي "زيف" هغه درهم ته وايي کوم چي يې بيتُ المال کوټه وشماري لېکن کاروباري حضرات هغه قبلوي. ﴿نبهرجة﴾ دا هم يو قسم کوټه درهم وو يعني کوټ (ژړ يا داسي بل فلز) به په ګډ وو. او سپين زر به يې غالب وو. لېکن تاجرانو به هغه

نه قبلوی، ګواکي نبهرجه دراهم له زیوف څخه هم کمزوري وه. ﴿جِیاد﴾ جمع د جَیِّدٌ ده: کَره درهم، یعني هغه درهم کوم چي له خالص سپینو زرو څخه جوړ وي. ﴿ستوقة﴾ د دې لغوي معني ده: "درې طاقه والا"، هغه درهم ته وایي کوم چي له ژړو یا داسي بل فلز او معدن څخه جوړ وي او فقط د پاسه د سپینو زرو رنګ ورکول سوی وي، یعني ستوقه درهم دننه ټوله کوټ وي. ﴿رصاص﴾ ژړ، مشهوره فلز دی. ﴿مُغیِّر﴾ د تفعیل د باب فاعل دی: بدلونکی، متغیر کونکی. ﴿وزن خمسه﴾ د دراهمو یو قسم وو چي د هغه لپاره یو معلوم وزن وو. لکه "وزن عشره" او "وزن عشرین" چي هم د دراهمو اقسام وه او بیا په آخر کي "وزن سبعه" مشهور او رائج پاته سو. ﴿الرداءة﴾ بد والی، خراب والی، فاسد والی (معجم لغة الفقهاء). ﴿معیب﴾ د ضرب د باب مفعول دی: عیبداره، عیبجن. ﴿سلیم﴾ د سمع د باب صفت مشبه صیغه ده: صحیح سالم، بې عیبه. ﴿کُر﴾ دا په عربو کي د یو غټې پیمانې نوم وو چي په هغه سره به وریجي، غنم او داسي نور پیمانه کېدل. مخکي چي د هدایې په حاشیه کي د دې کوم مقدار لیکل سوی وو، د هغه په اعتبار سره یو کُر تقریباً (۲۵۴۷) کېلو کیږي. ﴿یتناول﴾ د ضرب د باب مضارع ده: شاملېدل.

**تشریح**: په دې عبارت کي د یوې مسئلې سره اړوند څو صورتونه بیان سوي دي. مسئله دا ده که یو سړی اقرار وکړي چي د "فلانکي پر ما دیو شي زر درهمه باندي دي کوم چي ما له هغه څخه اخیستی وو"، یا داسي ووایي چي "فلانکي ما ته په قرض زر درهمه راکړي وه"، بیا ووایي چي "هغه زر درهمه کوټه وه یا تاجرانو هغه نه قبلول"، لېکن مقر لهٗ (فلانکی) ووایي چي "هغه کَرَه دراهم وه"، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي په دې صورت کي به د مُقِر قول نه منل کیږي او پر هغه به کَرَه دراهم لازمیږي، برابره ده مُقِر "هِيَ زُیُوْف، یا هِيَ نَبَهْرَجة" د "عَلَيَّ أَلْفُ..." سره متصلاً (یو ځای) ویلي وي یا یې منفصلاً ویلي وي. لېکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز په وصل او فصل کي فرق دی، هغوی فرمایي چي که مُقِر متصلاً دا ووایي، نو بیا د هغه قول معتبر دی او پر هغه به هیڅ شی نه لازمیږي. د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ الله دغه اختلاف په هغه صورت کي هم دی کله چي مُقِر د "هِيَ زُیُوْفٌ" پر ځای "هِيَ سَتُوْقَة" یا "هِيَ رَصَاص" ویلي وي یا یې په حرف استثناء سره "إِلَّا أَنَّهَا زُیُوْفٌ" ویلي وي یا یې په وضاحت سره "عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ مِنْ ثَمَنِ مَتَاعٍ" ویلي وي، نو په دې ټولو

صور تونو کي پر هغه کراه دراهم لازميږي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا لزوم صرف د فصل په صورت کي ثابتيږي او د وصل په صورت کي پر هغه هيڅ شی نه لازميږي.

**د صاحبينو دليل**: دا دی چي تر "عَلَيَّ أَلْفٌ" وروسته د مُقر "هِيَ زُيُوْفٌ" او داسي نور ويل د هغه د کلام او بيان مُغيِر (بدلونکی) دي، او د مُغيِر په هکله زموږ قاعده دا ده چي هغه صرف د وصل په صورت کي صحيح دي لکه څرنګه چي په شرط او استثناء کي هم زموږ قاعده همدا ده چي صرف د وصل په صورت کي صحيح دی، همداسي دا مُغيِر هم صرف متصلاً صحيح دی، منفصلاً صحيح نه دی.

**وهذا لأن إلخ**: د دې حاصل دا دی چي په پورتنۍ مسئله کي "هِيَ زُيُوْفٌ" ته د مُغيِر ويلو وجه دا ده چي لفظ د "دراهم" د حقيقت په اعتبار سره زُيُوف (کوټه دراهمو) لره هم شامل دی او ستوقه دراهمو لره مجازاً شامل دی، لېکن څرنګه چي دلته مُقر د مطلق دراهمو اقرار کړی دی، او له مطلق څخه فرد کامل مراديږي لکه څرنګه چي همدا قاعده ده "إِذَا أُطْلِقَ يُرَادُ بِهِ الْفَرْدُ الْكَامِلُ"، او فرد کامل کَرَه دراهم دي، نو ځکه دا مطلق دراهم د مذکوره قاعدې پر بناء کَرَه دراهمو لره شامليږي، لهذا د مُغيِر له راتګ څخه مخکي خو پر مُقر کَرَه دراهم لازم وه، لېکن مُغيِر هغه بدل کړل او اوس به د کَرَه دراهمو پر ځای پر هغه کوټ دراهم (زَيوف) لازم وي. د دې مثال داسي دی لکه څرنګه چي له مطلق دراهمو څخه د وزن سبعه والا دراهم مراديږي، لېکن که مُقر د وزن خمسه صراحت وکړي، نو ښکاره خبره ده چي پر هغه همدا وزن خمسه والا دراهم لازميږي.

**د امام صاحب دليل**: دا دی چي له اقرار کولو څخه وروسته د مُقر "هِيَ زُيُوْفٌ" او داسي نور ويل رجوع عن الاقرار دی؛ ځکه چي عقد مطلق دی، او مطلق عقد د دې خبري تقاضا کوي چي مبيع او ثمن دواړه له عيب څخه پاک او صحيح سالم وي (په بله وينا دا چي د سلامتيا په وصف سره متصف وي)، او د دراهمو کوټه والی يو عيب دی، او څرنګه چي مُقر د دغه عيب مدعي دی، نو ځکه ګواکي هغه د اصل عقد له تقاضا څخه په بله وينا له عقد څخه رجوع کول غواړي. نو ځکه د هغه دا دعویٰ به نه قبلول کيږي، د دې مثال داسي دی لکه يو بائع چي مشتري ته ووايي "ما فلانکی شی پر تا عيبداره خرڅ کړی دی" او مشتري ووايي چي "ما هغه صحيح سالم رانيولی دی"، نو په دې صورت کي هم د مشتري قول معتبر دی ځکه چي له عيب څخه د مبيع پاکېدل (صحيح سالم کېدل) اصل دي.

پاته سوه د ستوقه دراهمو مسئله، نو هغه له نبهرجه دراهمو څخه هم بدتر دي او هغوی په هیڅ حال کي هم ثمن نه سي جوړېدای، نو د ستوقه دراهمو دعویٰ کول به له اقرار څخه رجوع کول وي، نو ځکه دا به هم صحیح نه وي.

وقوله إلا أنها وزن خمسة إلخ: په دې سره د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله د استثناء جواب ورکوي، حاصل یې دا دی چي د ''إِلَّا أنها وزن خمسة'' مسئله د پورتني مسئلې سره تعلق نه لري؛ ځکه چي ''وزن خمسه'' یو مقدار دی، وصف نه دی، او د بعضي مقدار استثناء کول صحیح دي؛ ځکه چي د کلام شروع (ابتدائي کلام) مقدار لره شامل وي، نو دا د ملفوظ استثناء سوه، کوم چي بېله شکه صحیح ده. لېکن جودت (کَرَه والی) یو وصف دی او د وصف استثناء صحیح نه ده لکه څرنګه چي له کور څخه د بناء (ودانۍ) استثناء صحیح نه ده.

همدارنګه په ''رداءت'' سره دلیل نیول او اعتراض کول صحیح نه دي؛ ځکه چي رداءت یو نوع ده، عیب نه دی، او مطلق عقد له رداءت څخه د سلامتیا تقاضا نه کوي، نو ځکه که یو سړی تر ''عَلَيَّ كُر حِنْطَةٍ مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ'' تر ویلو وروسته ''إِلَّا أَنَّهَا رَدِيْئَةٌ'' ووایي، نو دا صحیح دي.

وعند أبي حنيفة إلخ: فرمایي چي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه په غیر ظاهر روایت کي یو قول دا نقل سوی دی چي د قرض په صورت کي که مُقِر متصلاً ''أَنَّهَا زُيُوْف'' ووایي، نو د هغه تصدیق به کیږي او پر هغه به زیوف یعني کوټه دراهم لازمیږي؛ ځکه په قرض کي چي څرنګه مال واخیستل سي، هغسي واپس کول لازم وي، او دا ممکنه ده چي اخیستونکی به صرف کوټه دراهم په قرض اخیستي وي لهذا هغه به صرف کوټه دراهم واپس کوي، لکه څرنګه چي په غصب کي کیږي چي ځیني وخت مغصوبه دراهم کوټه وي، نو پر غاصب صرف د کوټه دراهمو واپس کول لازمیږي. د دې په مقابله کي د ظاهر روایت دلیل دا دی چي معامله عموماً په کَرَه دراهمو سره کیږي لهذا له مطلق دراهمو څخه به صرف کَرَه دراهم مرادیږي.

ولو قال إلخ: د دې حاصل دا دی چي که یو څوک مطلق ووایي ''لِفُلَانٍ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ زُيُوْف'' لېکن د بیع او قرض خبره نه وکړي، نو یو قول دا دی چي که هغه ''زُیوف'' متصلاً ویلي وي، نو بالاتفاق به د مُقِر تصدیق کیږي؛ ځکه چي لفظ د ''دراهم'' زیوف یعني کوټه دراهمو لره هم شامل دی. دویم قول دا دی چي د هغه تصدیق به نه کیږي؛ ځکه چي مطلق عقد د عقدونو وطرف ته منسوب کیږي. لهذا دغه اقرار به هم د نو عقد وطرف ته منسوبول کیږي؛ ځکه چي عقود مشروع دي او دا به ویل کیږي چي مُقِر د دراهمو د وجوب سبب تجارت بیان کړی دی (یعني هغه ګواکي داسي ویلي دي چي پر ما مثلاً د

بيع کولو په وجه د فلانکي زر درهمه باندي دي)، او دا اقرار به د هلاکولو، غصب کولو يعني د حرام کار وطرف ته نه منسوبول کيږي.

## په پورتني صورت کي د غصب يا امانت اقرار کول

وَلَوْقَالَ: اِغْتَصَبْتُ مِنْهُ أَلْفًا أَوْ قَالَ: أَوْدَعَنِيْ او که يو څوک ووايي: چي ما له فلانکي څخه زر درهمه غصب کړي دي يا ووايي: چي فلانکي ما ته زر درهمه په امانت ايښي دي ثُمَّ قَالَ: هِيَ زُيُوفٌ أَوْ نَبَهْرَجَةٌ بيا ووايي: چي هغه کوټه دي يا نبهرجة دي صُدِّقَ نو د هغه تصديق به کيږي وَصَلَ أَمْ فَصَلَ برابره ده هغه دا متصلاً ووايي او که منفصلاً لِأَنَّ الْإِنْسَانَ يَغْصِبُ مَا يَجِدُ وَيُوْدِعُ مَا يَمْلِكُ ځکه انسان چي کوم څه پيدا کړي هغه غصب کوي او د کوم څه چي مالک وي هغه په امانت ورکوي فَلَا مُقْتَضٰى لَهُ فِي الْجِيَادِ نو ځکه په کره کېدلو کي دوی لره تقاضا نسته [يعني نو ځکه د امانت او د غصب والا دراهمو کَرَه کېدل ضروري نه دي] وَلَا تَعَامُلَ او په دې [امانت او غصب] کي د کَرَه دراهمو تعامل هم نسته فَيَكُوْنُ بَيَانَ النَّوْعِ نو ځکه د مُقر دا بيان [قول] به د نوع بيان وي فَيَصِحُّ وَإِنْ فَصَلَ نو ځکه به صحيح وي که څه هم منفصلاً يې بيان کړي وَلِهٰذَا لَوْ جَاءَ رَادُّ الْمَغْصُوْبِ وَالْوَدِيْعَةِ بِالْمَعِيْبِ او همدا وجه ده که د مغصوب او امانت واپس کونکی سړی عيبداره دراهم راوړي كَانَ الْقَوْلُ قَوْلَهُ نو قول د هغه معتبر دی وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّهُ لَا يُصَدَّقُ فِيْهِ مَفْصُوْلًا او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي د منفصلاً ويلو په صورت کي به د هغه تصديق نه کيږي اِعْتِبَارًا بِالْقَرْضِ پر قرض په قياس کولو سره إِذِ الْقَبْضُ فِيْهِمَا هُوَ الْمُوْجِبُ لِلضَّمَانِ ځکه چي په غصب او قرض کي همدا قبضه د ضمان واجبونکې ده وَلَوْقَالَ: هِيَ سَتُّوْقَةٌ أَوْ رَصَاصٌ بَعْدَمَا أَقَرَّ بِالْغَصْبِ وَالْوَدِيْعَةِ وَوَصَلَ او که مُقر د غصب او امانت له اقرار کولو څخه وروسته متصلاً ووايي: چي هغه ستوقه دراهم وه صُدِّقَ نو تصديق به يې کيږي وَإِنْ فَصَلَ او که هغه منفصلاً دا ووايي لَمْ يُصَدَّقْ نو تصديق به يې نه کيږي لِأَنَّ السَّتُّوْقَةَ لَيْسَتْ مِنْ جِنْسِ الدَّرَاهِمِ ځکه چي ستوقه د دراهمو له جنس څخه نه دي لٰكِنَّ الْاِسْمَ يَتَنَاوَلُهَا مَجَازًا ليکن اسم [لفظ] مجازاً هغه لره شامل دی فَكَانَ بَيَانًا مُغَيِّرًا لهذا دا به مُغير بيان وي فَلَا بُدَّ مِنَ الْوَصْلِ نو ځکه [د هغه] متصل والی ضروري دی وَإِنْ قَالَ فِيْ هٰذَا كُلِّهِ أَلْفًا او که مُقر په دې

ټولو صورتونو کې ووايي چې زر درهمه دي ثُمَّ قَالَ: إِلَّا أَنَّهُ يَنْقُصُ كَذَا بيا ووايي: لېکن له زرو درهمو څخه دومره کم دي لَمْ يُصَدَّقْ نو د هغه تصديق به نه کيږي وَإِنْ وَصَلَ او که متصلاً دا ووايي صُدِّقَ نو تصديق به يې کيږي لِأَنَّ هَذَا اسْتِثْنَاءُ الْمِقْدَارِ ځکه چې دا د مقدار استثناء ده وَالِاسْتِثْنَاءُ يَصِحُّ مَوْصُولًا او استثناء متصلاً صحيح کيږي بِخِلَافِ الزِّيَافَةِ په خلاف د کوټه والي لِأَنَّهَا وَصْفٌ ځکه چې هغه [په دراهمو کې] يو وصف دی وَاسْتِثْنَاءُ الْأَوْصَافِ لَا يَصِحُّ او د اوصافو استثناء نه صحيح کيږي وَاللَّفْظُ يَتَنَاوَلُ الْمِقْدَارَ دُونَ الْوَصْفِ او لفظ د "أَلْف" [يعني زر] مقدار لره شامل دی، نه وصف لره وَهُوَ تَصَرُّفٌ لَفْظِيٌّ او دا لفظي تصرف دی كَمَا بَيَّنَّا لکه څرنګه چې موږ بيان کړه وَلَوْ كَانَ الْفَصْلُ ضَرُورَةَ انْقِطَاعِ الْكَلَامِ او که چيرې فصل کول [منفصلاً ويل] د خبرو بندېدلو [ساه درېدلو] د ضرورت په وجه وي فَهُوَ وَاصِلٌ نو هغه وصل کونکی [متصل ويونکی] دی لِعَدَمِ إِمْكَانِ الِاحْتِرَازِ عَنْهُ ځکه چې له دې څخه ځان ساتل ممکن نه دي.

**اللغات**: ﴿نبهرجة﴾ د دې لفظ او نورو الفاظو تعريفونه د تېر عبارت په لغاتو کې ذکر سول، ﴿انقطاع﴾ د انفعال د باب مصدر دی: قطع کېدل، درېدل، بندېدل. ﴿احتراز﴾ د افتعال د باب مصدر دی: ځان ساتل (بچ کېدل).

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو څوک اقرار وکړي چې "ما د فلانکي زر درهمه غصب کړي دي"، يا داسي ووايي "زما سره د فلانکي زر درهمه امانتاً پراته دي"، او بيا ووايي "هغه دراهم کوټه دي، يا نبهرجه دي"، نو د مُقر دا قول معتبر دی، برابره ده هغه دا متصلاً ووايي او که منفصلاً، په هر صورت کې د هغه قول معتبر او مقبول دی؛ ځکه غل او غاصب چې کوم څه ومونډي هغه غصب کوي او کله چې د امانت (وديعت) معامله وي، نو څه چې د انسان سره موجود وي، هغه يو چا ته په امانت ورکوي. او په دې وختونو کې د کره او کوټه تحقيق نه کيږي، او عموماً په غصب او داسي نورو کې د کَره دراهمو تعامل هم نسته. نو ځکه د مُقر دا قول "هِيَ زُيُوف" به بيان نوع وي، لهذا دا بيان به صحيح وي. برابره ده هغه متصلاً وي او که منفصلاً. امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې که مُقر منفصلاً "هِيَ زُيُوفٌ" ووايي، نو د هغه تصديق به نه کيږي، لکه څرنګه چې په قرض کې د منفصلاً قول تصديق نه

کيږي؛ ځکه چي په غصب او قرض کي صرف قبضه د ضمان مُوجب ده يعني پر قرض د غصب د قياسولو وجه صرف قبضه ده. (احسن الهدايه)

ولو قال هي ستوقة إلخ: تشريح واضحه ده.

وإن قال إلخ: د دې حاصل دا دی چي که مُقِر په دې ټولو صورتونو کي صرف د زرو درهمو اقرار وکړي مثلاً هغه داسي ووايي "لِفُلَانٍ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ" يا ووايي "أَوْدَعَنِيْ أَلْفَ دِرْهَمٍ" يا ووايي "أَقْرَضْتَنِيْ أَلْفَ دِرْهَمٍ" يا ووايي "غَصَبْتُ أَلْفَ دِرْهَمٍ" او پر خپل دې قول د هيڅ شي اضافه نه وکړي، صرف په آخر کي داسي ووايي "إِلَّا إِنَّهُ يَنْقُصُ" يعني "پر ما د فلانکي زر درهمه باندي دي خو هغه له زرو څخه کم دي"، يا "ما زر درهمه غصب کړي دي خو هغه له زرو څخه کم دي"، نو په دې ټولو صورتونو کي حکم دا دی چي که هغه منفصلاً دا ويلي وي نو د هغه تصديق به نه کيږي. لېکن که متصلاً يې ويلي وي، نو د هغه تصديق به کيږي؛ ځکه چي "إِلَّا أَنَّهُ يَنْقُصُ" د مقدار استثناء ده. او د استثناء په هکله تاسو ته ښه معلومه ده چي هغه صرف متصلاً صحيح کيږي. ها! که چيري مُقِر "إِلَّا أَنَّهَا زُيُوْفَةٌ" ويلي وای، نو صحيح به نه وای؛ ځکه چي زيافت (کوټه والی) د دراهمو وصف دی او د وصف استثناء صحيح نه ده. همدارنګه مستثنیٰ منه يعني "أَلْفُ دِرْهَم" مقدار لره شامل دي، نه وصف لره. دی او څرنګه چي په استثناء سره صرف په ملفوظ کلام کي تصرف کيږي. لهذا لفظ يعني مستثنیٰ منه چي کوم شي لره شامل وي، صرف د هغه استثناء به صحيح وي او کوم څه لره چي لفظ شامل نه وي، د هغه استثناء به هم صحيح نه وي.

## تر مطلق اقرار وروسته يو خاص قيد والا شی پېښول

وَمَنْ أَقَرَّ بِغَصْبِ ثَوْبٍ ثُمَّ جَاءَ بِثَوْبٍ مَعِيْبٍ او که څوک د يو کپړې د غصب کولو اقرار وکړي بيا عيبداره کپړه راوړي [او د قاضي مجلس ته حاضر سي] فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ نو قول د هغه معتبر دی لِأَنَّ الْغَصْبَ لَا يَخْتَصُّ بِالسَّلِيْمِ ځکه چي غصب کول د صحيح سالمي کپړې سره خاص نه دي وَمَنْ قَالَ لِآخَرَ: أَخَذْتُ مِنْكَ أَلْفَ دِرْهَمٍ وَدِيْعَةً فَهَلَكَتْ او که څوک بل چا ته ووايي: ما ستا څخه زر درهمه د امانت په توګه اخيستي وه او هغه هلاک سوه [ضايع سوه] فَقَالَ: لَا بَلْ أَخَذْتَهَا غَصْبًا او هغه بل څوک [مقر لهٗ] ووايي: نه! بلکي تا هغه غصب کړي وه فَهُوَ ضَامِنٌ نو مُقِر ضامن ګرځي [يعني د هغه زر درهمو ضمان

(تاوان) پر لازميږي] وَإِنْ قَالَ: أَعْطَيْتَنِيهَا وَدِيعَةً او که مُقِر ووايي: تا ما ته زر درهمه د امانت په توګه راکړي وه فَقَالَ: لَا بَلْ غَصَبْتَهَا او هغه [مقر لهٗ] ووايي: چي نه! بلکي هغه تا غصب کړي وه لَمْ يَضْمَنْ نو نه ضامن کيږي وَالْفَرْقُ أَنَّ فِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ أَقَرَّ بِسَبَبِ الضَّمَانِ وَهُوَ ''الْأَخْذُ'' او [په دې دواړو صورتو کي] فرق دا دی چي په اول صورت کي مُقِر د ضمان د سبب يعني د ''اخيستلو'' اقرار کړی دی ثُمَّ ادَّعَى مَا يُبْرِئُهُ وَهُوَ الْإِذْنُ او بيا مُقِر د داسي شي دعوىٰ کړې ده کوم چي مُقِر [له ضمان څخه] بري کوي چي هغه اجازت دی وَالْآخَرُ يُنْكِرُهُ او بل يو [يعني مقرلهٗ] د دې انکار کوي فَيَكُونُ الْقَوْلُ لَهُ مَعَ الْيَمِينِ نو ځکه د قسم سره به د هغه قول معتبر وي وَفِي الثَّانِي أَضَافَ الْفِعْلَ إِلَى غَيْرِهِ او په دويم صورت کي مُقِر فعل د بل چا [مقر لهٗ] وطرف ته منسوب کړی دی وَذَاكَ يَدَّعِي عَلَيْهِ سَبَبَ الضَّمَانِ وَهُوَ الْغَصْبُ او هغه [مقر لهٗ] پر هغه د ضمان د سبب يعني د غصب دعوىٰ کوي فَكَانَ الْقَوْلُ لِمُنْكِرِهِ مَعَ الْيَمِينِ نو ځکه د قسم سره به د غصب د منکر قول معتبر وي وَالْقَبْضُ فِي هٰذَا كَالْأَخْذِ او په دې سلسله کي قبضه کول د اخيستلو په څېر دي وَالدَّفْعُ كَالْإِعْطَاءِ او ورکول د عطا کولو په څېر دي [يعني ''دفعتُ'' ويل د ''اعطيتُ'' د ويلو په څېر دي، په حکم کي يې فرق نسته] فَإِنْ قَالَ قَائِلٌ: إِعْطَاؤُهُ وَالدَّفْعُ إِلَيْهِ لَا يَكُونُ إِلَّا بِقَبْضِهِ او که يو ويونکی ووايي [يعني که يو څوک اعتراض وکړي]: چي مُقِر ته ورکول او عطا کول د هغه له قبضه کولو څخه بغير نه ثابتيږي فَنَقُولُ: قَدْ يَكُونُ بِالتَّخْلِيَةِ وَالْوَضْعِ بَيْنَ يَدَيْهِ نو موږ [جواباً] وايو چي: ورکول او عطا کول ځيني وخت په ور پرېښوولو [ورسپارلو] او د مُقِر مخته په اېښوولو سره هم کيږي وَلَوِ اقْتَضَى ذٰلِكَ او که چيري ورکول او عطا کول د قبضې تقاضا کوي فَالْمُقْتَضَى ثَابِتٌ ضَرُورَةً نو مقتضىٰ [قبضه] ضرورتاً ثابته ده فَلَا يَظْهَرُ فِي انْعِقَادِهِ سَبَبُ الضَّمَانِ نو ځکه د ضمان د سبب په انعقاد کي به دا مقتضىٰ نه ثابتيږي وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: أَخَذْتُهَا مِنْكَ وَدِيعَةً وَقَالَ: الْآخَرُ لَا بَلْ قَرْضًا او دا د هغه صورت په خلاف دي کله چي مُقِر ووايي: ما ستا څخه د امانت په توګه زر درهمه اخيستي وه او بل يو [مُقرلهٗ] ووايي: نه! بلکي تا د قرض په توګه اخيستي وه حَيْثُ يَكُونُ الْقَوْلُ لِلْمُقِرِّ نو [په دې صورت کي] قول د مُقِر معتبر دی وَإِنْ أَقَرَّ بِالْأَخْذِ که څه هم هغه د

اخیستلو اقرار کوي لِأَنَّهُمَا تَوَافَقَا هُنَاكَ عَلَى أَنَّ الْأَخْذَ كَانَ بِالْإِذْنِ ځکه چې هلته ایعني په دې صورت کې] دوی واړو پر دې خبره موافقت کړی دی چې اخیستل په اجازت سره وه إِلَّا أَنَّ الْمُقَرَّ لَهُ يَدَّعِيْ سَبَبَ الضَّمَانِ وَهُوَ الْقَرْضُ وَالْآخَرُ يُنْكِرُهُ مګر دا چې مقر لهٔ د ضمان د سبب دعویٰ کوي او بل یو [مُقِر] د دې انکار کوي فَافْتَرَقَا نو ځکه دواړه صورتونو سره جلا سوه [یعني په دواړو کې فرق ثابت سوا.

**اللغات:** ﴿ضمان﴾ تاوان، جرمانه، ضمانت (ذمه واري)، ﴿ما يبرئه﴾ د افعال د باب مضارع ده، په شروع کې یې "ما" نافیه دی: بري کول، ﴿تخلية﴾ د تفعیل د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي چې د صلې په بدلون سره یې معنیٰ هم بدلیږي: آزادول، پرېښوول او داسي نور، کله چې د مبیع سره ذکر سي، نو د "ورسپارلو" معنیٰ ورکوي، یعني له مبیع څخه خپل قبضه ختمول او د مشتري لپاره په هغه کې تصرف مباح کول، ﴿إذن﴾ اجازت، اجازه، ﴿مقتضى﴾ د افتعال د باب مفعول دی: د کوم څه چې تقاضا سوې وي، مطلوب.

**تشريح:** د عبارت اوله مسئله "ومن أقرّ بغصب" خو واضحه ده. دویمه مسئله دا ده که یو سړی بل ته ووایي چې "ما ستا څخه امانتاً (ودیعتاً) زر درهمه اخیستي وه او هغه ضایع سوه"، او دا بل څوک یعني مقر لهٔ ووایي چې "تا هغه زما څخه غصبا اخیستي وه"، نو د قسم سره د مقر لهٔ قول معتبر دی او مُقِر د ده لپاره د زرو درهمو ضامن دی (یعني هغه به ده ته په ضمان [تاوان] کې زر درهمه ورکوي)؛ ځکه چې مُقِر اول د "أَخَذْتُ مِنْكَ" په وینا سره د ضمان د سبب دعویٰ کړې ده او بیا یې د "وَدِيْعَةٌ" په وینا سره له ضمان څخه د بري کېدلو دعویٰ کړې ده. حال دا چې مقر لهٔ د دې منکر دی، او قول د منکر معتبر وي د قسم سره، نو ځکه به د قسم سره د مقر لهٔ قول معتبر وي. د دې په خلاف که مُقِر داسي ووایي چې "تا ما ته زر درهمه امانتاً راکړي وه" او مقر لهٔ ووایي چې "تا هغه غصب کړي وه. نو په دې صورت کې د مُقِر قول معتبر دی؛ ځکه چې دلته مُقِر د فعل نسبت د مقر لهٔ وطرف ته کړی دی یعني هغه د دراهمو د امانتاً ورکولو فعل د مقر لهٔ وطرف ته منسوب کړی دی او مقر لهٔ د هغه قول تسلیموي او پر هغه د ضمان د سبب دعویٰ کوي، حال دا چې مُقِر د دې منکر دی، نو ځکه به د قسم سره د مُقِر قول معتبر وي. یعني په دواړو صورتونو کې چې کوم یو منکر وي، د هغه قول معتبر دی.

والقبض إلخ: فرمايي کوم حکم چې د اخيستلو "أخذ" دی هغه حکم د قبضه کولو هم دی. يعني د "أَخَذْتُ" او "قَبَضْتُ" دواړو په صورت کې مُقِر ضامن کيږي. همدارنګه کوم حکم چې د دفع يعني "دَفَعْتُ" دی هغه حکم د اعطاء يعني د "أَعْطَيْتُ" هم دی يعني د دواړو د ويلو په صورت کې مُقِر نه ضامن کيږي. اوس که يو څوک اعتراض وکړي چې په اعطاء او دفع کې هيڅ فرق نشته؛ ځکه چې مُقِر ته ورکول او عطاء کول د هغه له قبضې څخه بغير نه پوره کيږي او په دې توګه د اعطاء او دفع په صورت کې هم پر هغه ضمان لازميدل پکار دي، حال دا چې د اعطاء او دفع په صورت کې مُقِر له ضمان څه بري کړی سوی دی.

د دې جواب دا دی چې د اعطاء او دفع لپاره قبضه ضروري نه ده، بلکې ځيني وخت مُقِر ته په سامان ورسپارلو يا د مُقِر مخته په سامان ايښوولو سره هم اعطاء او دفع ثابتيږي. او که بيا هم مونږ دا تسليم کړو چې په اعطاء او دفع کې قبضه ضروري ده، نو په دې صورت کې جواب دا دی چې قبضه ضرورتاً ثابتيږي. يعني د مُقِر مخته په مال ايښوولو سره ضرورتاً قبضه ثابتيږي. لهذا پر مُقِر د ضمان واجبيدلو په حواله سره به دا قبضه ثابته نه منل کيږي؛ ځکه قاعده دا ده چې "الضَّرُوْرَةُ لَا يَتَعَدّٰی عَمَّا عَدَاهُ" (ضرورت خپل ماسوا ته نه متعدي کيږي).

د دې په خلاف که مُقِر ووايي چې "ما ستا څخه امانتاً (وديعتاً) زر درهمه اخيستي وه" او مقر لهٗ ووايي چې "تا په قرض اخيستي وه"، نو په دې صورت کې که څه هم مُقِر د اخيستلو "أَخَذْتُ" اقرار کړی دی خو بيا هم د هغه قول معتبر دی؛ ځکه چې دلته مُقِر او مقر لهٗ دواړه پر دې خبره متفق دي چې معامله په اجازت سره سوې وه، ليکن مقر لهٗ د ضمان د سبب مدعي دی او مُقِر د دې منکر دی، نو ځکه د انکار وجه به د قسم سره د مُقِر قول معتبر وي. او د مقر لهٗ د دې قولونو "بَلْ غَصَبْتَهَا" او "بَلْ أَخَذْتَهَا" په مينځ کې همدغه فرق دی. (احسن الهدايه)

## د بل چا لپاره د قبضې اقرار کول او د هغه د استحقاق انکار کول (حکم او تفصيل)

| |
|---|
| فَإِنْ قَالَ: هٰذِهِ الْأَلْفُ كَانَتْ وَدِيْعَةً لِيْ عِنْدَ فُلَانٍ فَأَخَذْتُهَا او که يو څوک ووايي: دغه زر درهمه زما د فلانکي سره امانتاً پراته وه او ما هغه [ځني] واخيستل فَقَالَ فُلَانٌ: هِيَ لِيْ او فلانکی ووايي: چې هغه زما دي فَإِنَّهُ يَأْخُذُهَا نو همدا فلانکی [مقر لهٗ] به هغه دراهم اخلي لِأَنَّهُ أَقَرَّ بِالْيَدِ لَهُ وَادَّعَى اسْتِحْقَاقَهَا عَلَيْهِ ځکه مُقِر د قبضې اقرار د فلانکي لپاره کړی دی او [بيا] پر هغه يې د خپل استحقاق دعویٰ کړې ده وَهُوَ يُنْكِرُ حال دا |

چي فلانکی امقر لهٔ د دې استحقاق انکار کوي وَالْقَوْلُ لِلْمُنْكِرِ او قول د منکر معتبر دی وَلَوْ قَالَ: آجَرْتُ دَابَّتِيْ هٰذِهٖ فُلَانًا فَرَكِبَهَا وَرَدَّهَا او که یو څوک ووايي: ما فلانکي ته زما دغه څاروی [مثلا آس] په کرایه ورکړی او هغه پر سپور سو او بيا يې ما ته واپس کړی أَوْ قَالَ: آجَرْتُ ثَوْبِيْ هٰذَا فُلَانًا فَلَبِسَهٗ وَرَدَّهٗ یا داسي] ووايي: ما فلانکي ته زما دغه کپړه په أجرت ورکړه او هغه واغوستله او بيا يې ماته واپس کړه وَقَالَ فُلَانٌ: كَذَبْتَ وَهُمَا لِيْ او فلانکی ووايي: چي ته درواغ وايې! او هغه دواړه [يعني څاروی يا کپړه] زما دي فَالْقَوْلُ قَوْلُهٗ نو قول د مُقر معتبر دی وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ ❁: اَلْقَوْلُ قَوْلُ الَّذِيْ أُخِذَ مِنْهُ الدَّابَّةُ وَالثَّوْبُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: قول د هغه کس معتبر دی چي له هغه څخه دا څاروی او کپړه اخيستل سوي وي وَهُوَ الْقِيَاسُ او همدا قياس دی وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ الْإِعَارَةُ وَالْإِسْكَانُ او پر همدغه اختلاف دي عاريتاً ورکول او اسول [يعني داوسېدلو لپاره کور ورکول] وَلَوْ قَالَ: خَاطَ فُلَانٌ ثَوْبِيْ هٰذَا بِنِصْفِ دِرْهَمٍ ثُمَّ قَبَضْتُهٗ او که يو څوک ووايي: چي فلانکي زما دغه کپړه په نيم درهم ګنډلې [جوړه کړې] ده او ما پر هغه قبضه هم کړې ده وَقَالَ فُلَانٌ: اَلثَّوْبُ ثَوْبِيْ او فلانکی ووايي: چي دا خو زما کپړه ده فَهُوَ عَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ فِي الصَّحِيْحِ نو د صحيح قول مطابق دا صورت هم پر مذکوره اختلاف دی وَجْهُ الْقِيَاسِ مَا بَيَّنَّاهُ فِي الْوَدِيْعَةِ او د قياس دليل هغه دی کوم چي موږ د وديعت په باره کي بيان کړی وَجْهُ الْاِسْتِحْسَانِ وَهُوَ الْفَرْقُ: أَنَّ الْيَدَ فِي الْإِجَارَةِ وَالْإِعَارَةِ ضَرُوْرِيَّةٌ تَثْبُتُ ضَرُوْرَةَ اسْتِيْفَاءِ الْمَعْقُوْدِ عَلَيْهِ وَهُوَ الْمَنَافِعُ او د استحسان دليل (او همدا د فرق وجه ده) دا دی: چي په اجاره او اعاره کي قبضه د ضرورت پر بناء وي کوم چي د معقود عليه يعني د منافعو د حاصلولو په ضرورت سره ثابتيږي فَيَكُوْنُ عَدَمًا فِيْمَا وَرَاءَ الضَّرُوْرَةِ نو ځکه له ضرورت څخه بغير به دا قبضه معدومه وي فَلَا يَكُوْنُ إِقْرَارًا لَهٗ بِالْيَدِ مُطْلَقًا لهذا د مُقر د عاريتاً او اجارتاً ورکولو اقرار به د هغه لپاره د مطلق قبضې اقرار نه وي بِخِلَافِ الْوَدِيْعَةِ په خلاف د امانت لِأَنَّ الْيَدَ فِيْهَا مَقْصُوْدَةٌ ځکه چي په امانت کي قبضه مقصود وي وَالْإِيْدَاعُ إِثْبَاتُ الْيَدِ قَصْدًا او امانتاً ورکول قصداً قبضه ثابتوي فَيَكُوْنُ الْإِقْرَارُ بِهٖ اعْتِرَافًا بِالْيَدِ لِلْمُوْدِعِ نو ځکه د امانت اقرار به د مودع [امانتاً اېښوونکي] لپاره د

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المختار (ج:۴، ص:۵۱۳د)، وكذا في نتائج الأفكار (ج:۷، ص:۳۵۱). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۰۳]

قبضې اقرار وي وَوَجْهٌ آخَرُ: أَنَّ فِي الْإِجَارَةِ وَالْإِعَارَةِ وَالْإِسْكَانِ أَقَرَّ بِيَدٍ ثَابِتَةٍ مِنْ جِهَتِهِ او بل دليل دا دی: چي په اجاره، اعاره او اسکان کي مُقِر د داسي قبضې اقرار کوي کوم چي د هغه له طرفه ثابته ده فَيَكُونُ الْقَوْلُ قَوْلَهُ فِي كَيْفِيَّتِهِ نو ځکه د قبضې د کيفيت په هکله به صرف د مُقِر قول معتبر وي وَلَا كَذٰلِكَ فِي مَسْأَلَةِ الْوَدِيعَةِ او د امانت والا په مسئله کي داسي نه دي لِأَنَّهُ قَالَ فِيهَا: كَانَتْ وَدِيعَةً ځکه په دې کي مُقِر ويلي دي: هغه د امانت په توګه وو [يعني د امانت په مسئله کي مُقِر صرف د امانت کېدلو اقرار کړی دی] وَقَدْ تَكُونُ مِنْ غَيْرِ صُنْعِهِ او امانت کله د مودِع [امانتا ايښوونکي] له فعل څخه بغير هم ثابتيږي حَتّٰى لَوْ قَالَ: أَوْدَعْتُهَا همدا وجه ده: که مُودِع [داسي] ويلي وای: ما هغه ته امانتاً ورکړی وو كَانَ عَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ نو دا به هم پر دغه اختلاف وای وَلَيْسَ مَدَارُ الْفَرْقِ عَلٰى ذِكْرِ الْأَخْذِ فِي طَرَفِ الْوَدِيعَةِ وَعَدَمِهِ فِي الطَّرَفِ الْآخَرِ وَهُوَ الْإِجَارَةُ وَأُخْتَاهُ او د فرق مدار د امانت په جانب کي د "اخذ" پر ذکر کولو او په بل جانب يعني په اجاره، اعاره او د هغوی په خور [اسکان] کي پر نه ذکر کولو نه دی [يعني د فرق او اختلاف مدار پر دې خبره نه دی چي د امانت په صورت کي مُقِر د اخيستلو وضاحت کړی دی او په اجاره او داسي نورو کي يې دا وضاحت نه دی کړی] لِأَنَّهُ ذَكَرَ الْأَخْذَ فِي وَضْعِ الطَّرَفِ الْآخَرِ فِي كِتَابِ الْإِقْرَارِ أَيْضًا ځکه چي امام محمد رَحِمَهُ الله په "کتاب الاقرار کي په بل جانب [يعني په اجاره کي] هم د "اخذ" لفظ ذکر کړی دی [يعني د جامع صغير په کتاب الاقرار کي امام محمد رَحِمَهُ الله د اجارې په صورت کي هم د "أخذ" (اخيستلو) يادونه کړې ده] وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: اِقْتَضَيْتُ مِنْ فُلَانٍ أَلْفَ دِرْهَمٍ كَانَتْ لِي عَلَيْهِ أَوْ أَقْرَضْتُهُ أَلْفًا ثُمَّ أَخَذْتُهَا مِنْهُ او دا د هغه صورت په خلاف دي کله چي مُقِر داسي ووايي: ما له فلانکي څخه هغه زر درهمه واخيستل کوم چي ما پر هغه باندي وه. يا ما هغه ته زر درهمه په قرض ورکړي وه بيا مي له هغه څخه واخيستل وَأَنْكَرَ الْمُقَرُّ لَهُ او مقر لهٔ انکار وکړي حَيْثُ يَكُونُ الْقَوْلُ قَوْلَهُ نو [په دې صورت کي] قول د منکر معتبر دی لِأَنَّ الدُّيُونَ تُقْضٰى بِأَمْثَالِهَا ځکه چي قرضونه په خپل مثل سره اداء کيږي وَذٰلِكَ إِنَّمَا يَكُونُ بِقَبْضٍ مَضْمُونٍ او دا صرف په مضمونه [ضمان والا] قبضه سره کيږي فَإِذَا أَقَرَّ بِالِاقْتِضَاءِ نو کله چي هغه د اخيستلو اقرار وکړی فَقَدْ أَقَرَّ بِسَبَبِ الضَّمَانِ نو هغه د ضمان د سبب اقرار [هم] وکړی ثُمَّ ادَّعٰى تَمَلُّكَهُ عَلَيْهِ بِمَا يَدَّعِيهِ مِنَ الدَّيْنِ مُقَاصَّةً بيا ده پر مقر لهٔ د قرض په دعویٰ کولو سره د مقاصه [تبادله] په توګه د خپل ځان د مالک کېدلو دعویٰ وکړه وَالْآخَرُ يُنْكِرُهُ او بل يو [مقر لهٔ] د دې انکار کوي انو ځکه به د هغه قول معتبر وي] أَمَّا هٰهُنَا الْمَقْبُوضُ عَيْنُ مَا ادَّعٰى فِيهِ الْإِجَارَةَ وَمَا أَشْبَهَهَا ليکن دلته [يعني په اجاره او داسي نورو کي] مقبوض

بعینه هغه شی دی چي په هغه کي د اجارې او داسي نورو دعوىٰ ده فَافْتَرَقَا نو ځکه دواړه یو له بل څخه جلا سول وَلَوْ أَقَرَّ أَنَّ فُلَانًا زَرَعَ هٰذِهِ الْأَرْضَ أَوْ بَنٰى هٰذِهِ الدَّارَ أَوْ غَرَسَ هٰذَا الْكَرْمَ وَذٰلِكَ كُلُّهُ فِي يَدِ الْمُقِرِّ او که یو څوک اقرار وکړي چي فلانکي دغه ځمکه وکرل یا هغه دغه کور جوړ کړی یا هغه دغه [بوټي د] انګور ولګول حال دا چي دغه ټوله شیانو د مُقِر په قبضه کي وي فَادَّعَاهَا فُلَانٌ بیا فلانکی د دې شیانو دعوىٰ وکړي اچي دا خو زما دي ا وَقَالَ الْمُقِرُّ: لَا بَلْ ذٰلِكَ كُلُّهُ لِي اِسْتَعَنْتُ بِكَ فَفَعَلْتَ أَوْ فَعَلْتَهُ بِأَجْرٍ او مُقِر ووايي: چي نه! بلکي دا ټوله زما دي او ما [صرف] په دې کارو کي ستا څخه د مدد غوښتنه کړې وه نو تا [زما مددا] وکړی یا تا په مزدوري کار وکړی فَالْقَوْلُ لِلْمُقِرِّ نو قول د مُقِر معتبر دی لِأَنَّهُ مَا أَقَرَّ لَهُ بِالْيَدِ وَإِنَّمَا أَقَرَّ بِمُجَرَّدِ فِعْلٍ مِنْهُ ځکه چي مُقِر د فلانکي لپاره د قبضې اقرار نه دی کړی بلکي د هغه له طرفه یې ضرف د کار اقرار کړی دی وَقَدْ يَكُونُ ذٰلِكَ فِي مِلْكٍ فِي يَدِ الْمُقِرِّ حال دا چي کار کله په هغه ملکیت کي کیږي کوم چي د مُقِر په قبضه کي وي وَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: خَاطَ لِي الْخَيَّاطُ قَمِيصِي هٰذَا بِنِصْفِ دِرْهَمٍ او دا داسي سوه لکه یو څوک چي ووايي: خیاط زما دغه کمیس په نیم درهم ګنډلی اجوړ کړی ا دی وَلَمْ يَقُلْ: قَبَضْتُهُ مِنْهُ لیکن دا نه ووايي: چي ما له هغه څخه قبضه کړی [اخیستی] دی. لَمْ يَكُنْ إِقْرَارًا بِالْيَدِ نو دا [هم] د قبضې اقرر نه ګرځي وَيَكُونُ الْقَوْلُ لِلْمُقِرِّ او قول د مُقِر معتبر دی لِأَنَّهُ أَقَرَّ بِفِعْلٍ مِنْهُ ځکه چي مُقِر د خیاط د فعل اقرار کړی دی وَقَدْ يَخِيطُ ثَوْبًا فِي يَدِ الْمُقِرِّ او خیاط کله د مُقِر په قبضه کي [هم] کمیس ګنډي اجوړوي ا كَذَا هٰذَا همداسي به دا هم وي.

**اللغات:** ﴿اليد﴾ قبضه. ﴿إعارة﴾ د افعال د باب مصدر دی: عاریتاً ورکول. خواست کونکي ته شی ورکول. (مثلاً که څوک بل څا خواست وکړي: دا شی ما ته قرضاً یو څو وخت راکړه! زما ضروري پکار دی. نو که هغه ته شی ورکول سي نو دې ته "إعاره" او "عاریتاً ورکول" وايي). ﴿إسكان﴾ د افعال د باب مصدر دی: اسول. په یو ځای او کور کي یو څوک بېله اُجرته (مفت) اسول. استوګنه ورکول. ﴿خاط﴾ د ضرب د باب ماضي ده: ګنډل. کپړه ګنډل (جوړول). ﴿استیفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: پوره اخیستل. ترلاسه کول. ﴿إيداع﴾ د افعال د باب مصدر دی: امانتاً ایښوول. امانتاً ورکول. ﴿اقتضيت﴾ د افتعال له بابه د واحد متکلم ماضي صیغه ده. کله چي د دې باب په صله کي یو حق مثلاً "قرض" ذکر سي نو معنیٰ یې ده: اخیستل. وصولول. ترلاسه کول. ﴿مُودِع﴾ د افعال د باب فاعل دی: امانتاً ایښوونکی (امانت پرېښوونکی). او مُودَع (بفتح الدال): امانت ساتونکی. امین. ﴿تملّكه﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مالک جوړېدل. مالک کېدل. ﴿مقاصة﴾ تبادله. ﴿زرع﴾ د فتح د باب ماضي ده: کرل. کښتګري کول. تخم کرل. ﴿بنٰى﴾ د ضرب د باب ماضي ده: جوړول. تعمیرول.

﴿غرس﴾ دا هم د ضرب د باب ماضي ده: درخته او نيالګی په ځمکه کي ايښوول (لګول). ﴿ګرْم﴾ انګور. مراد ځني د انګورو بوټي او نيالګي دي، ﴿استعنتُ﴾ د استفعال له بابه د واحد متکلم ماضي صيغه ده: د مدد طلب کول، مرسته غوښتل، ﴿خياط﴾ درزي، کپړه ګنډونکی (کالي جوړونکی).

**تشريح**: په دې عبارت کي څو مسئلې ذکر سوي دي چي هغه به انشاء الله على الترتيب ستاسو په خدمت کي پېش کړل سي:

اوله مسئله دا ده که زيد ووايي چي "زما زر درهمه د خالد سره د امانت په توګه پراته وه، او اوس ما له خالد څخه هغه دراهم واخيستل"، لېکن خالد (مقر لهٗ) ووايي "چي هغه دراهم زما دي (او زما څخه زيد غصب کړي دي)"، نو په دې صورت کي د مقر لهٗ يعني د خالد قول معتبر دی او زيد به هغه دراهم خالد ته واپس کوي؛ ځکه د "كَانَتْ وَدِيْعَةً لِيْ عِنْدَهُ" په ويناسره مُقِر (زيد) د مقر لهٗ لپاره قبضه ثابته کړه او د "وَدِيْعَة" په ويناسره پر هغه دراهمو خپل استحقاق ثابتوي، حال دا چي مقر لهٗ له دې استحقاق څخه منکر دی، او قول د منکر معتبر وي، نو ځکه دلته به هم د منکر (کوم چي مقر لهٗ [خالد] دی) قول به معتبر وي. د دې په خلاف که مُقِر ووايي چي "ما خالد ته خپل آس د سپرتيا لپاره ورکړی وو او خالد تر سپرېدلو او خپل کار کولو وروسته ما ته هغه واپس کړی"، يا "دا کپړه ما هغه ته د اغوستولو لپاره ورکړې وه او هغه تر اغوستلو وروسته ما ته کپړه واپس کړه"، او مقر لهٗ (خالد) ووايي چي "ته دروغجن يې، دا آس او کپړه خو زما دي"، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مُقِر قول معتبر دی، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د مقر لهٗ قول معتبر دی (لېکن دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي دا مشهوره وي چي دآس او کپړې مالک مُقِر دی، او که چيري پر دې شيانو د مقر لهٗ ملکيت مشهوره وي، نو بيا صرف د مقر لهٗ قول معتبر دی (عنايه ج:٨، ص:٥٨٣)، همدا د قياس تقاضا ده.

د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مذکوره اختلاف په هغه صورت کي هم دی کله چي يو سړي يو چا ته د عاريتاً يو شي ورکولو يا د استوګني لپاره د کور ورکولو او بيا د واپس اخيستلو مُقِر وي، او مقر لهٗ وايي چي دا شی يا کور زما دی، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مُقِر قول معتبر دی او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د مقر لهٗ قول معتبر او راجح دی.

ولو قال خاط لي فلان إلخ: دا مسئله هم مختلف فيه ده. د قياس او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل هغه دی کوم چي په اوله مسئله کي د وديعت په باره کي بيان کړی سو. د استحسان او د امام صاحب رَحِمَهُ الله

دليل دا دی چي د اجاره او اعاره په صورت کي د مقر لهٗ قبضه ضرورتاً ثابتيږي؛ ځکه چي بغير له قبضې له هغه څخه فايده اخيستل ممکن نه دي، او قاعده دا ده چي کوم شی ضرورتاً ثابت وي، هغه صرف د ضرورت په اندازه عمل کوي، لهذا د منافعو له استيفاء څخه بغير د ملکيت او داسي نورو په حواله سره په عاريتاً يا اجارتاً اخيستل سوي شي کي به د مقر لهٗ قبضه معدومه وي، او استيفاء منافع والا قبضه به د ملکيت قبضه نه شمارل کيږي، لهذا اصل مالک به همدا مقر وي، او د ملکيت په حواله سره به د هغه قول مقبول او معتبر وي. د دې په خلاف د وديعت (امانت) په صورت کي چي څرنګه صرف قبضه اصل ده او مُودِع بذات خود د مُودَع قبضه ثابتوي او قبضه د ملکيت دليل ده. لهذا کله چي په خپله مُودَع د خپل ملکيت دعویٰ کوي، نو ځکه د هغه دعویٰ به مقبوله او معتبره وي.

وجه آخر إلخ: د وديعت، اجاره او اعاره په مينځ کي بل فرق دا هم دی چي په اجاره او اعاره کي صرف د مُقر له طرفه قبضه ورکول کيږي، نو ځکه د قبضې د حالت او کيفيت په هکله به صرف د مُقر قول منل کيږي، او مُقر چي د څه ډول قبضې دعویٰ کوي، د هغه دعویٰ به معتبره وي. حال دا چي د وديعت په مسئله کي د مُقر له طرفه قبضه ورکول ضروري نه دي؛ ځکه چي هغه "كَانَتْ وَدِيْعَةً" ويلي دي، "أَوْدَعْتُهَا" يې نه دي ويلي، چي له دې څخه دا احتمال راوځي چي هغه مال به لقطه وي او مُودَع به هغه راپورته کړی وي او د وديعت په توګه به يې د ځان سره ايښی وي، لهذا دلته د قبضې او د قبضې د کيفيت او نوعيت په هکله د مُقر قول منل ضروري نه دي. بلکي مقر لهٗ کوم چي د مُقِر د استحقاق منکر دی د قسم سره به د هغه قول منل کيږي.

وليس مدار الفرق إلخ: فرمايي چي په وديعت، اجاره او اعاره کي د فرق دار ومدار پر دې خبره نه دی چي مُقر د وديعت په صورت کي "فَأَخَذْتُهُ مِنْه" ويلي دي او په اجاره او اعاره کي يې "وَرَدَّهَا" ويلي دي او "فَأَخَذْتُهَا" يې نه دي ذکر کړي، يعني د فرق په سلسله کي د اخذ او عدمِ اخذ هيڅ کار نسته؛ ځکه امام محمد رَحِمَهُ الله د جامع صغير په کتاب الاقرار کي د اجاره په ضمن کي د "أَخَذْتُهَا مِنْه" تذکره کړې ده. د دې په خلاف که مُقر ووايي چي "اِقْتَضَيْتُ مِنْ فُلَانٍ إلخ" ("ما له فلانکي هغه څخه زر درهمه واخيستل کوم چي زما پر هغه باندي وه"، يا "ما هغه ته زر درهمه په قرض ورکړي وه بيا مي له هغه څخه واخيستل")، ليکن مقر لهٗ (فلانکی) له دې څخه انکار کوي، نو په دې صورت کي د منکر يعني د مقر لهٗ قول معتبر دی؛ ځکه چي قرض بالمثل اداء کيږي (لکه مخکي چي شو

ځله ذکر سوي دي)، او دا په هماغه صورت کي ممکن دي کله چي مقر لهٔ پر داسي شي قبضه کړې وي کوم چي مضمون وي، يعني مقر لهٔ په هر اعتبار سره پر هغه قابض سوی وي، د دې لپاره چي پر مقر لهٔ د هغه اداء کول واجب وګرځي، بيا چي کله مُقِر د اخيستلو اقرار وکړی نو هغه د دې خبري اقرار هم وکړی چي پر ما د ضمان سبب لازم سو، لېکن تر دې وروسته هغه پر مقر لهٔ د قرض اخيستلو په دعویٰ کولو سره خپل ځان د ضمان له سبب څخه بري کول غواړي، حال دا چي مقر لهٔ له دې څخه منکر دی، او قول د منکر معتبر وي د قسم سره، نو ځکه به دلته د مقر لهٔ قول د قسم سره معتبر وي.

د دې په خلاف په اجاره او اعاره کي بعينهٖ پر مدعیٰ بهٖ قبضه کيږي او د هغه پر مثل قبضه نه کيږي، نو ځکه د دې قبضې او دعوې په وجه به مُقِر د مقر لهٔ لپاره د ملکيت اقرار کونکی نه وي او په دې صورت کي به د مقر لهٔ دعویٰ معتبره نه وي. نو په دې حواله سره د قرض اخيستلو او د اجارتاً او عاريتاً ورکولو په احکامو کي فرق ثابت سو.

ولو أقرّ أن فلاناً إلخ: د دې حاصل دا دی چي که زيد ووايي "دا ځمکه زما ده او خالد په هغه کي کښتکري کړې ده". يا "دا کور زما دی او خالد په هغه کي خوني [کمرې] جوړې کړې دي". يا "دا ځمکه زما ده او خالد په هغه کي د انګورو بوټي ايښي دي". لېکن خالد ووايي چي "دا ټوله شيان زما دي. او مُقِر (زيد) ووايي چي "نه! بلکي زما دي او ما صرف ستا څخه د کار او خدمت په باره کي د مدد غوښتنه کړې وه". يا "تا په مزدوري دا کار کړی وو"، نو په دې صورت کي د مُقِر قول معتبر دی؛ ځکه چي مُقِر د مقر لهٔ لپاره صرف د کار اقرار کړی دی او د قبضې اقرار يې نه دی کړی، او صورت حال همداسي وي چي د ځمکي مالک په اُجرت او مزدوري سره د خپل کښت کرنه او داسي نور کارونه په بل چا کوي، او کار په کول د کار کونکي لپاره د قبضې او ملکيت دليل نه وي، لهذا دلته به د مقر لهٔ (خالد) فعل د هغه په حق کي د قبضې دليل نه وي. د دې مثال دا دی لکه يو سړی چي داسي ووايي "خياط زما دا کميس په نصف درهم سره جوړ کړی دی" او دا نه ووايي چي "قَبَضْتُهُ مِنْهُ". نو دا هم د مقر لهٔ لپاره صرف د فعل اقرار دی او د قبضې اقرار نه دی. همداسي په پورتنۍ مسئله کي هم د مُقِر اقرار د هغه له طرفه صرف د فعل اقرار دی، د قبضې اقرار نه دی. لهذا په دې سره به د مقر لهٔ لپاره ملکيت نه ثابتيږي. والله أعلم وعلمه أتم



# بَابُ إِقْرَارِ الْمَرِيْضِ

(دا) باب د مريض د اقرار کولو (په بيان کي) دی

**تشريح:** مخکي تر دې د صحيح او روغ کس د اقرار احکام او مسائل بيان سول، او اوس په دغه باب کي د مريض کس د اقرار په هکله احکام بيانول کيږي، ځکه چي صحت اصل دی او مرض فرع دی او اصل له فرع څخه مخکي وي، نو ځکه د روغ کس اقرار د مريض کس له اقرار څخه مخکي بيان کړی سوی دی. (بنايه)

## د مرضُ الموت اقرار (حکم او تفصيل)

وَإِذَا أَقَرَّ الرَّجُلُ فِيْ مَرَضِ مَوْتِهِ بِدُيُوْنٍ فرمايي: او که څوک په خپل مرضُ الموت کي د څو قرضونو اقرار وکړي وَعَلَيْهِ دُيُوْنٌ فِيْ صِحَّتِهِ او پر هغه د خپل صحت [روغتيا] په زمانه کي څه قرضونه باندي وي وَدُيُوْنٌ لَزِمَتْهُ فِيْ مَرَضِهِ بِأَسْبَابٍ مَعْلُوْمَةٍ او څه قرضونه داسي وي کوم چي پر هغه په مرضُ الموت کي په معلومه اسبابو سره لازم سوي وي فَدَيْنُ الصِّحَّةِ وَالدَّيْنُ الْمَعْرُوْفَةُ الْأَسْبَابِ مُقَدَّمٌ نو صحت او معلومه اسبابو والا قرضونه مخکي دي [يعني هغه به مخکي اداء کول کيږي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: دَيْنُ الْمَرَضِ وَدَيْنُ الصِّحَّةِ يَسْتَوِيَانِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د مرض او صحت قرضونه سره برابر دي لِاسْتِوَاءِ سَبَبِهِمَا ځکه چي د دوی سبب سره برابر دی وَهُوَ الْإِقْرَارُ الصَّادِرُ عَنْ عَقْلٍ وَدِيْنٍ او هغه داسي اقرار دی کوم چي له عقل او دين والا کس څخه صادر سوی دی وَمَحَلُّ الْوُجُوْبِ الذِّمَّةُ الْقَابِلَةُ لِلْحُقُوْقِ او د وجوب [واجبېدلو] محل هغه ذمه ده کوم چي د حقوقو قابله ده [يعني کوم چي حقوق قبلولای سي] فَصَارَ كَإِنْشَاءِ التَّصَرُّفِ مُبَايَعَةً وَمُنَاكَحَةً نو دا داسي سوه لکه هغه چي [د بل چا سره] د بيع او نکاح تصرف کړی وي وَلَنَا: أَنَّ الْإِقْرَارَ لَا يُعْتَبَرُ دَلِيْلًا إِذَا كَانَ فِيْهِ إِبْطَالُ حَقِّ الْغَيْرِ زموږ دليل دا دی: چي که په اقرار کي د بل چا د حق باطلول اضايع کول] وي نو هغه اقرار دليل نه ګرځي وَفِيْ إِقْرَارِ الْمَرِيْضِ ذٰلِكَ او د مريض په اقرار کي دا خبره سته [چي په هغه سره د بل چا حق باطليږي] لِأَنَّ

حَقَّ غُرَمَاءِ الصِّحَّةِ تَعَلَّقَ بِهٰذَا الْمَالِ اسْتِيفَاءً ځکه چي د صحت والا [زماني] د قرضخواهانو حق د استيفاء په توګه د دې مال سره متعلق سوی دی وَلِهٰذَا مُنِعَ مِنَ التَّبَرُّعِ وَالْمُحَابَاةِ إِلَّا بِقَدْرِ الثُّلُثِ او په همدې وجه مريض له تبرّع او محابات څخه منع کول کيږي مګر د ثلث مال په اندازه [يعني هغه د ميراث له دريمي حصې مال څخه په زائد مال کي تبرع نه سي کولای او نه محابات کولای سي چي يو شی له خپل قيمت څخه په کم قيمت خرڅ کړي. بلکي هغه دا کارونه صرف د ميراثي مال په دريمه حصه کي کولای سي] بِخِلَافِ النِّكَاحِ په خلاف د نکاح لِأَنَّهُ مِنَ الْحَوَائِجِ الْأَصْلِيَّةِ وَهُوَ بِمَهْرِ الْمِثْلِ ځکه چي نکاح کول له اصلي حاجتونو څخه دي د مهرِ مثل په عوض کي وَبِخِلَافِ الْمُبَايَعَةِ بِمِثْلِ الْقِيمَةِ او په خلاف پر مثلي قيمت د بيع کولو لِأَنَّ حَقَّ الْغُرَمَاءِ تَعَلَّقَ بِالْمَالِيَّةِ لَا بِالصُّورَةِ ځکه چي [په دې صورت کي] د قرضخواهانو حق د ماليت سره متعلق دی، نه د صورت سره وَفِي حَالَةِ الصِّحَّةِ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِالْمَالِ او د صحت په زمانه کي د هغو حق د مال سره نه متعلق کيږي لِقُدْرَتِهِ عَلَى الِاكْتِسَابِ ځکه چي مريض [د صحت په زمانه کي] پر مال ګټلو [کار کولو] قادر وي فَيَتَحَقَّقُ التَّثْمِيرُ نو د هغه په مال کي اضافه [زياتوب] راتلای سي وَهٰذِهِ حَالَةُ الْعَجْزِ او دا د عاجزۍ حالت دی وَحَالَتَا الْمَرَضِ حَالَةٌ وَاحِدَةٌ او د مرض دواړه حالتونه سره يو دي لِأَنَّهُ حَالَةُ الْحَجْرِ ځکه چي هغه د ممانعت [او مجبورۍ] حالت دی بِخِلَافِ حَالَتَيِ الصِّحَّةِ وَالْمَرَضِ په خلاف د صحت او مرض د حالتونو لِأَنَّ الْأُولَى حَالَةُ إِطْلَاقٍ وَهٰذِهِ حَالَةُ عَجْزٍ ځکه چي اول د اباحت [جواز] حالت دی او دا بل د عاجزۍ حالت دی فَافْتَرَقَا نو دواړه حالتونه يو له بل څخه جلا سول وَإِنَّمَا تُقَدَّمُ الدُّيُونُ الْمَعْرُوفَةُ الْأَسْبَابِ لِأَنَّهُ لَا تُهْمَةَ فِي ثُبُوتِهَا او معلومه اسبابو والا قرضونه په ځکه مخکي کول کيږي چي د هغوی په ثابتېدلو کي هيڅ تهمت نسته إِذِ الْمُعَايَنُ لَا مَرَدَّ لَهُ ځکه په سترګو ليدل سوي شي [يعني معلوم قرض] الره واپس ګرځېدل نسته [يعني د هغه د واپس کولو او شاته کولو هيڅ ګنجايش نسته] وَذٰلِكَ مِثْلُ بَدَلِ مَالٍ مَلَكَهُ أَوِ اسْتَهْلَكَهُ وَعُلِمَ وُجُوبُهُ بِغَيْرِ إِقْرَارِهِ او د دې [معروفة الأسباب قرضونو] مثال دا دی لکه مريض چي د يو مال د بدل مالک سوی وي يا يې هغه هلاک کړی وي او د هغه وجوب د ده له اقرار څخه بغير په بل دليل سره معلوم سوی وي أَوْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً بِمَهْرِ مِثْلِهَا يا هغه د يو ښځي سره د هغې پر مهرِ مثل نکاح کړې وي وَهٰذَا الدَّيْنُ

مِثْلُ دَيْنِ الصِّحَّةِ او دا قرض د صحت والا [زماني] د قرض په شان دی لَا يُقَدَّمُ أَحَدُهُمَا عَلَى الْآخَرِ يو په بل نه مخکې کول کيږي لِمَا بَيَّنَّا د هغه ليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی وَلَوْ أَقَرَّ بِعَيْنٍ فِي يَدِهِ لِآخَرَ او که مريض د بل چا لپاره د داسې عَين شي اقرار وکړي کوم چې د ده په قبضه کې وي لَمْ يَصِحَّ فِي حَقِّ غُرَمَاءِ الصِّحَّةِ نو د صحت والا قرضخواهانو په حق کې دا اقرار نه صحيح کيږي لِتَعَلُّقِ حَقِّهِمْ بِهِ ځکه د دې شي سره د هغو حق متعلق سوی دی وَلَا يَجُوزُ لِلْمَرِيضِ أَنْ يَقْضِيَ دَيْنَ بَعْضِ الْغُرَمَاءِ دُونَ الْبَعْضِ او د مريض لپاره دا جائز نه دی چې هغه د ځيني قرضخواهانو قرض اداء کړي او د ځينو قرض اداء نه کړي لِأَنَّ فِي إِيثَارِ الْبَعْضِ إِبْطَالُ حَقِّ الْبَاقِينَ ځکه ځينو ته په ترجيح ورکولو کې د باقي قرضخواهانو د حق باطلول [ضايع کول] سته وَغُرَمَاءُ الصِّحَّةِ وَالْمَرَضِ فِي ذٰلِكَ سَوَاءٌ او په دې سلسله کې د صحت او مرض والا قرضخواهان سره برابر دي إِلَّا إِذَا قَضٰى مَا اسْتَقْرَضَ فِي مَرَضِهِ أَوْ نَقَدَ ثَمَنَ مَا اشْتَرٰى فِي مَرَضِهِ مگر دا چې مريض يو داسې قرض اداء کړي کوم چې هغه د خپل مرض په زمانه کې اخيستی وي يا د داسې شي ثمن اداء کړي کوم چې هغه د خپل مرض په زمانه کې رانيولی وي وَقَدْ عُلِمَ بِالْبَيِّنَةِ او دا په بيّنه [گواهی] سره معلومه سوې وي.

**اللغات**: ﴿مرض موت﴾ هغه مرض او ناروغي کوم چې انسان له ولاړي او تګ راتګ څخه عاجزه کړي او د مرګ سره متصل سي، ﴿غرماء﴾ جمع د غَرِيْمٌ ده؛ قرضخواه (قرض غوښتونکي)، د قرض مالک، يعني هغه کس چې مقروض ته يې قرض ورکړی وي، (ښکاره دي وي چې موږ دلته د غرماؤ لپاره د قرضخواهانو لفظ استعمالوو)، ﴿مبايعة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو د بل سره بيع کول (يو تر بله بيع کول)، ﴿تبرّع﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: احسان کول، بلا عوضه (مفت) شی ورکول، داسې کار کول کوم چې د انسان پر ذمه واجب نه وي لکه وصيت، هبه او داسې نور، ﴿محاباة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوې دي: يو چا ته ميلان کول، يو څوک په مال سره خاصول، د يو چا سره په ثمن يا مبيع کې ښه کول، يعني يو شی په ډېر کم (ارزانه) قيمت سره خرڅول يا بائع (دوکاندار) ته پر ارزانه شي ډېر قيمت ورکول، ﴿تثمير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: زياتول، اضافه

کول. التثمير: اضافه. ﴿مرة﴾ د نصر د باب مصدر ميمي دی: واپس کول. بيرته ګرځېدل (واپس کېدل). ﴿استقرض﴾ د استفعال د باب ماضي ده: په قرض اخيستل. په پور اخيستل.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که يو سړی په خپل مرضُ الموت کې دا اقرار وکړي چې "پر ما د څو خلګو قرضونه باندې دي" لېکن د قرض اسباب او نوعيت ذکر نه کړي، لېکن پر هغه د صحت په زمانه کې هم د خلګو قرضونه باندې وي او د مرض په زمانه کې هم هغه د څو خلګو مقروض سوی وي او دا قرض خلګو ته معلوم وي او د هغه اسباب هم معلوم وي. نو په دې صورت کې به د صحت والا قرضونه او معروفةُ الاسباب والا قرضونه د دې سړي له اقرار کرده قرضونو څخه مخکې اداء کول کېږي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د صحت او مرض دواړو زمانو قرضونه سره برابر او مساوي دي، برابره ده د هغوی اسباب معلوم وي او که نه وي؛ ځکه چې هغه دواړه قرضونه د عاقل او بالغ کس په اقرار سره ثابت سوي دي او د دواړو محل داسې کس کوم چې حقوق قبلولای سي، او څرنګه چې د هغوی سبب هم يو دی، نو ځکه په اداء کې به هم هغوی سره برابر وي او د يوه حالت (زمانې) قرض به د بل حالت له قرض څخه نه مخکې کول کېږي. د دې مثال دا دی لکه يو سړی چې بيع او نکاح کوي نو د هغه د صحت او مرض د حالتونو تصرّف برابر شمارل کېږي، او اقرار هم يو تصرّف دی، لهذا په دې دواړو حالتونو کې به د هغه اقرار هم برابر ګرځول کېږي.

ولنا أن الإقرار إلخ: زموږ دليل دا دی چې په کوم اقرار سره د بل چا حق باطلېږي. هغه دليل نه سي جوړېدای، او په پورتنۍ مسئله کې د مريض په مذکوره اقرار سره د بل چا حق يعني د حالت صحت د قرضخواهانو حقوق باطلېږي؛ ځکه چې د حالت صحت د قرضخواهانو حقوق د دې مريض د مال سره متعلق سوي دي، او دا تعلق دومره قوي دی چې هغه له ثُلث المال څخه په زائد مال کې له تبرع او محابات کولو څخه منع سوی دی. حال دا چې له ثُلث څخه په زائد مال کې د وارثانو حق دی او د وارثانو حق د قرضخواهانو له حقوقو څخه زيات ضعيف (أضعف) دی. لهذا کله چې د أضعف حق د رعايت کولو لپاره پر مريض پابندي لګول سوې ده، نو د أقویٰ (زيات قوي) حق د رعايت کولو په حواله سره به سختي او پابندي نوره هم زياته وي. نو په همدې وجه موږ د حالت صحت قرضونو ته پر اقرار کرده (مقر بها) قرضونو د ترجيح ورکولو او مخکې اداء کولو فيصله کړې ده.

او امام شافعي رَحِمَهُ الله چې پورتنۍ مسئله پر نکاح او بيع کولو قياس کړې ده، دا صحيح نه دي: ځکه چې پر مهر مثل نکاح کول د انسان له بنيادي او اصلي ضروریاتو څخه اهم ضرورت دی او د نفقې او خرچې لپاره بيع کول هم يو ضروري کار دی، او بل دا چې د قرضخواهانو حق د مطلق ماليت

سره متعلق کيږي. د يو مخصوص او مُتعيّن مال سره نه متعلق کيږي؛ ځکه چي د صحت زمانه د انسان د کاروبار زمانه وي او په دې زمانه کي هغه په خپل محنت او تجارت کولو سره په مال کي اضافه کولای سي، لهذا په دې زمانه کي د هغه د يو مُتعيّن مال سره د قرضخواهانو حق متعلق کول په حقيقت کي هغه په نقصان او تاوان کي اچول دي، نو ځکه په حالتِ صحت کي موږ صرف د هغه د مطلق ماليت سره د قرضخواهانو حق متعلق کړی دی، او څرنګه چي حالت مرض د عاجزۍ او مجبورۍ حالت دی او په دې حالت کي د مقروض له طرفه تجارت کول او مال اضافه کول ناممکن دي، نو ځکه د مرضُ الموت په حالت کي د مريض د مال سره موږ د قرضخواهانو حقوق متعلق کوو او د حالتِ صحت قرضونو ته پر مُقَر بها قرضونو ترجيح ورکوو. د صحت او مرض د حالتونو په مېنځ کي د تجارت کولو او په مال کي د اضافه کولو او نه کولو په اعتبار سره فرق دی. لکه څرنګه چي معلومه سوه.

وانما تقدم إلخ: فرمايي: د معروفةُ الأسباب قرضونو د مخکي اداء کولو وجه دا ده چي د هغوی په ثبوت کي هيڅ تهمت نه وي او هغوی د قاضي په حضور کي ثابتيږي او عام خلک په دې واقف وي او د هغوی په لزوم کي هيڅ شبهه نه وي. نو ځکه به دا قرضونه د حالت مرض پر قرضونو او پر مقر بها قرضونو مخکي وي لېکن د حالت صحت د قرضونو سره به مساوي او برابر وي. د معروفةُ الأسباب قرضونو مثال دا دی چي مريض له يو سړي څه يو شی رانيسي يا د يو سړي يو شی هلاک کړي (ضايع کړي) او پر هغه د رانيول سوي شي ثمن يا د هلاک کړه شي ضمان (تاوان) باقي پاته سي او په بينه يا د قاضي په فيصله سره هغه معلوم سي، نو دا معروفُ السبب قرض دی.

ولو أقر بعين إلخ: د دې حاصل دا دی که د مريض سره مثلاً يو موټر وي او هغه وايي چي "دا موټر د فلانکي دی، زما نه دی"، نو د حالت صحت والا قرضخواهانو په حق کي دا اقرار نه صحيح کيږي، ځکه چي د دې شي (موټر) سره خو مخکي لا د هغو حق متعلق سوی دی، نو ځکه به د هغو په هکله دا اقرار صحيح او معتبر نه وي.

ولا يجوز للمريض إلخ: پر مريض لازم دي چي د قرض ورکولو پر مهال ټولو قرضخواهانو ته قرض ورکړي، برابره ده د حالت صحت د قرضخواهانو نوبت وي او که د حالت مرض د قرضخواهانو نوبت وي، او داسي دي نه کوي چي ځينو ته قرض ورکړي او ځينو ته يې نه ورکړي؛ ځکه په دې کي ترجيح بلا مُرجّح لازميږي، او ترجيح بلا مُرجح باطله ده. ها! که چيري مريض په حالت مرض کي له يو چا څخه قرض اخيستی وی، يا هغه يو شی رانيولی وي او ثمن يې باقي پاته وي ، او دا په بينه سره ثابت سوي وي، نو د هغه اداء مخکي کولای سي؛ ځکه چي په دې کي د قرضخواهانو د حق

ابطال نسته او انسان د خپل علاج او دوا لپاره په داسي قرض اخيستلو او معامله کولو کي مجبوره او معذوره وي. (احسن الهدايه)

## د مخکني قرضونو تر اداء وروسته پاتېدونکی مال

قَالَ وَإِذَا قُضِيَتْ يَعْنِي الدُّيُونَ الْمُتَقَدِّمَةَ او کله چي اداء کړل سي يعني مخکني قرضونه وَفَضَلَ شَيْءٌ او څه مال پاته سي يُصْرَفُ إِلَى مَا أَقَرَّ بِهِ فِي حَالَةِ الْمَرَضِ نو هغه مال به په هغه قرض کي ورکول کيږي د کوم چي مريض د خپل مرض په زمانه کي اقرار کړی وي لِأَنَّ الْإِقْرَارَ فِي ذَاتِهِ صَحِيحٌ ځکه چي اقرار بذات خود صحيح وو وَإِنَّمَا رُدَّ فِي حَقِّ غُرَمَاءِ الصِّحَّةِ لیکن د صحت والا [زماني] د قرضخواهانو د حق په رعايت کي دا اقرار ردّ کړی سوی وو فَإِذَا لَمْ يَبْقَ حَقُّهُمْ نو کله چي د هغو حق باقي پاته نه سو [يعني پوره سو] ظَهَرَتْ صِحَّتُهُ نو د اقرار صحت [صحيح والی] ښکاره سو قَالَ: فَإِذَا لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ دُيُونٌ فِي صِحَّتِهِ فرمايي: او که پر مريض په خپل صحت کي [يعني دروغتيا په زمانه کي] هيڅ قرض نه وي جَازَ إِقْرَارُهُ نو د هغه د قرض اقرار جائز دی لِأَنَّهُ لَمْ يَتَضَمَّنْ إِبْطَالَ حَقِّ الْغَيْرِ ځکه چي دا اقرار د بل چا د حق باطلولو لره شامل نه دی وَكَانَ الْمُقَرُّ لَهُ أَوْلَى مِنَ الْوَرَثَةِ او مقر لهٗ به له وارثانو څخه اولیٰ [مقدم] وي [يعني هغه به تر وارثانو مخکي کول کيږي] لِقَوْلِ عُمَرَ رضي الله عنه: "إِذَا أَقَرَّ الْمَرِيضُ بِدَيْنٍ جَازَ ذَلِكَ عَلَيْهِ فِي جَمِيعِ تَرِكَتِهِ" ځکه چي حضرت عمر رضي الله عنه فرمايلي دي: "کله چي مريض د يو قرض اقرار وکړي نو دا پر هغه جائز دی د هغه په ټوله ميراث کيږي" وَلِأَنَّ قَضَاءَ الدَّيْنِ مِنَ الْحَوَائِجِ الْأَصْلِيَّةِ او ځکه چي قرض اداء کول له اصلي حاجتونو څخه دي وَحَقُّ الْوَرَثَةِ يَتَعَلَّقُ بِالتَّرِكَةِ بِشَرْطِ الْفَرَاغِ او د وارثانو حق په دې شرط د ميراث سره متعلق کيږي چي ميراث [د بل چا له حق څخه] فارغ وي وَلِهَذَا تُقَدَّمُ حَاجَتُهُ فِي التَّكْفِينِ او له همدې کبله د مړي د تکفين [او تدفين] ضرورت هم [د وارثانو له حق څخه] مخکي کول کيږي.

**اللغات:** ﴿متقدمة﴾ د تفعّل د باب اسم فاعل دی: مخکنی، پخوانی. ﴿فَضَلَ﴾ د نصر د باب ماضي ده: باقي پاتېدل، اضافه کېدل، زياتېدل (مصباح منير). ﴿تکفين﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مړي ته کفن ورکول (د مړي لپاره کفن رانيول او ور اغوستل).

**تشریح: صورت د مسئلې**: دا دی چې کله مخکښې قرضونه یعني د حالت صحت او معلومه اسبابو والا قرضونه اداء کړل سي او تر دې وروسته د مریض څه مال باقي پاته سي، نو په دې سره به د حالت مرض والا قرضونه اداء کول کیږي؛ ځکه د حالت مرض والا قرضونو اقرار هم صحیح وو، لېکن هغوی د حالت صحت والا قرضونو په رعایت کې رد کړل سوي او مؤخر کړل سوي وه، او اوس چې کله دا مخکښې قرضونه ټوله اداء کړل سوه، نو د هغوی د اداء او مقبولیت لاره خلاصه سوه.

دویمه مسئله دا ده که پر مریض په حالت صحت کې هیڅ قرض هم باندې نه وي او پر هغه صرف د مرض په حالت کې قرض لازم سي، نو د دې قرض اقرار هم جائز دی او د مریض له مال څخه د هغه اداء کول صحیح دي؛ ځکه چې په دې سره د بل چا حق نه باطلیږي.

وکان المقرلهٔ أولی إلخ: د پاته عبارت تشریح ښکاره ده.

## په مرضُ الموت کې د وارث لپاره د اقرار کولو حکم

قَالَ: وَلَوْ أَقَرَّ الْمَرِيضُ لِوَارِثِهِ فرمایي: او که چیري مریض د خپل وارث لپاره اقرار وکړي لَا يَصِحُّ إِلَّا أَنْ يُصَدِّقَهُ فِيهِ بَقِيَّةُ وَرَثَتِهِ نو هغه صحیح نه دی مګر دا چې باقي [نور] وارثان د ده تصدیق وکړي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ فِي أَحَدِ قَوْلَيْهِ: يَصِحُّ او امام شافعي رَحِمَهُ الله له خپل دوو قولونو څخه په یوه قول کې فرمایلي دي: چې صحیح دی لِأَنَّهُ إِظْهَارُ حَقٍّ ثَابِتٍ ځکه چې دا د یو ثابت سوي حق ښکاره کول [څرګندول] دي لِتَرَجُّحِ جَانِبِ الصِّدْقِ د صدق د جهت راجح کېدلو په وجه [یعني د دې لپاره چې د رښتیا والي جانب راجح سي] وَصَارَ كَالْإِقْرَارِ لِأَجْنَبِيٍّ وَبِوَارِثٍ آخَرَ وَبِوَدِيعَةٍ مُسْتَهْلَكَةٍ لِلْوَارِثِ او دا داسې سوه لکه د پردي کس لپاره یا د بل وارث یا د وارث د هلاک کرده [ضایع کړی سوي] امانت اقرار کول وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: «لَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ وَلَا إِقْرَارَ لَهُ بِالدَّيْنِ» او زموږ دلیل د نبي ﷺ دا قول دی: "د وارث لپاره وصیت صحیح نه دی او نه د هغه لپاره د قرض اقرار صحیح دی" وَلِأَنَّهُ تَعَلَّقَ حَقُّ الْوَرَثَةِ بِمَالِهِ فِي مَرَضِهِ او ځکه چې د مریض په مرضُ الموت کې د هغه د مال سره د وارثانو حق متعلق کیږي وَلِهَذَا يُمْنَعُ مِنَ التَّبَرُّعِ عَلَى الْوَارِثِ أَصْلًا او په همدې وجه هغه پر وارث له تبرع کولو [احسان کولو] څخه بالکل منع کول کیږي فَفِي تَخْصِيصِ الْبَعْضِ بِهِ إِبْطَالُ حَقِّ الْبَاقِينَ لهذا په اقرار سره د بعضې وارثانو په خاصولو کې د باقي وارثانو د حق باطلول سته [یعني صرف د یوه وارث لپاره په اقرار کولو سره د

نورو وارثانو حق باطليږي] وَلِأَنَّ حَالَةَ الْمَرَضِ حَالَةَ الِاسْتِغْنَاءِ او ځکه چې د مرض حالت د مستغني والي حالت دی وَالْقَرَابَةِ سَبَبُ التَّعَلُّقِ او قرابت د تعلق سبب دی إِلَّا أَنَّ هٰذَا التَّعَلُّقَ لَمْ يَظْهَرْ فِي حَقِّ الْأَجْنَبِيِّ لِحَاجَتِهِ إِلَى الْمُعَامَلَةِ فِي الصِّحَّةِ ليکن د اجنبي کس په حق کې دا تعلق [په دې وجه] ښکاره نه سو ځکه چې د صحت په حالت کې د هغه سره معامله کولو ته ضرورت وي [په بله وينا: ځکه چې د صحت په زمانه کې مريض ته د اجنبي سره معامله کولو ته ضرورت وي] لِأَنَّهُ لَوِ انْحَجَرَ عَنِ الْإِقْرَارِ بِالْمَرَضِ ځکه که چيرې د مرض په وجه مريض له اقرار کولو څخه منع کړی سي يَمْتَنِعُ النَّاسُ عَنِ الْمُعَامَلَةِ مَعَهُ نو خلک به د هغه سره له معامله کولو څخه منع سي [يعني د هغه سره به معامله نه کوي] وَقَلَّمَا تَقَعُ الْمُعَامَلَةُ مَعَ الْوَارِثِ او د وارث سره معامله ډېر کم واقع کيږي وَلَمْ يَظْهَرْ فِي حَقِّ الْإِقْرَارِ بِوَارِثٍ آخَرَ او د بل چا د وارث کېدلو د اقرار په حق کې هم دا تعلق ښکاره نه سو لِحَاجَتِهِ أَيْضًا ځکه چې هغه ته هم ضرورت وي ثُمَّ هٰذَا التَّعَلُّقُ حَقُّ بَقِيَّةِ الْوَرَثَةِ بيا دغه تعلق د باقي وارثانو حق دی فَإِذَا صَدَّقُوهُ نو کله چې باقي وارثانو د هغه تصدق وکړی فَقَدْ أَبْطَلُوهُ نو هغوی خپل حق [په خپله] باطل کړی فَيَصِحُّ إِقْرَارُهُ نو ځکه به د مريض اقرار صحيح کيږي وَإِنْ أَقَرَّ لِأَجْنَبِيٍّ جَازَ وَإِنْ أَحَاطَ بِمَالِهِ او که چيرې مريض د يو اجنبي کس لپاره اقرار وکړي نو جائز دي که څه هم دا اقرار د هغه پر ټوله مال احاطه وکړي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړي وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا يَجُوزَ إِلَّا فِي الثُّلُثِ او قياس دا دی چې دا صرف [د مال] په ثلث [درېيمه حصه] کې جائز سي لِأَنَّ الشَّرْعَ قَصَرَ تَصَرُّفَهُ عَلَيْهِ ځکه چې شريعت د مريض تصرف [د مال] پر ثلث منحصر کړی دی إِلَّا أَنَّا نَقُولُ: لَمَّا صَحَّ إِقْرَارُهُ فِي الثُّلُثِ كَانَ لَهُ التَّصَرُّفُ فِي ثُلُثِ الْبَاقِي ليکن موږ [جوابا] وايو: چې کله په ثلث [درېيمه حصه] کې د هغه اقرار [او تصرف] صحيح دی نو په باقي ثلث کې به هم هغه ته د تصرف حق وي لِأَنَّهُ الثُّلُثُ بَعْدَ الدَّيْنِ ځکه چې تر قرض وروسته ثلث سته [په بله وينا: ځکه چې تر قرض وروسته هم ثلث (درېيمه حصه) پاتيږي] ثُمَّ وَثُمَّ حَتَّى يَأْتِيَ عَلَى الْكُلِّ بيا د هغه باقي ثلث او بيا باقي ثلث تر دې چې اقرار به پر ټوله مال واقع او جاري اسي.

**اللغات**: ﴿ورثة﴾ جمع د وَارِثٌ ده: وارثان، ميراث خوره. ﴿مستهلكة﴾ د استفعال د باب اسم مفعول دی: هلاک کړی سوی، ضايع کړی سوی، هغه شی کوم چې يې انسان قصداً هلاک کړي (ضايع

کري)، ﴿أجنبي﴾ پردی، بېګانه. ﴿استغناء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: مستغني کېدل، بې نيازه کېدل. ﴿قلما﴾ ډېر کم کيږي. ﴿ثُلُث﴾ او ثُلْث: دريمه حصه.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که يو مريض په مرضُ الموت کي د خپل يوه وارث لپاره د عين (متعين شي) يا دَين (قرض) اقرار وکړي، نو زموږ په نېز دا اقرار صحيح نه دی. ها! که چيري نور وارثان يعني د مقر لهٔ شريکان د هغه تصديق وکړي، نو بيا اقرار صحيح دی. له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه په دې باره کي دوه قوله نقل سوي دي: ① صحيح نه دی، ② صحيح دی. همدا دويم قول اصح دی: ځکه چي اقرار د ثابت سوي او لازم سوي حق اظهار دی، او له يو مسلمان څخه په ښکاره همدا توقع ده چي هغه به درواغ نه وايي او کله چي هغه د مرګ پر بستره پروت وي نو د هغه له طرفه بيخي د درواغو امکان نسته. نو ځکه د هغه د صدق جانب ته په ترجيح ورکولو سره به د هغه اقرار معتبر وي. د دې مثال دا دی چي که هغه مريض د يو اجنبي کس لپاره اقرار وکړي يا د بل چا د وارث کېدنې اقرار وکړي. يا د يو وارث د امانت ضايع کولو او د هغه د ضمان (تاوان) ورکولو اقرار وکړي. نو د هغه دا ټول اقرارونه صحيح دي، همداسي به په پورتنۍ مسئله کي هم د وارث لپاره د هغه اقرار صحيح وي.

**ولنا قوله ﷺ:** زموږ دليل دا حديث دی "لَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ وَلَا إِقْرَارَ لَهُ بِالدَّيْنِ"، په دې حديث کي په ښکاره توګه ذکر سوي دي چي نه د وارث لپاره وصيت کول صحيح دي او نه د هغه لپاره د قرض اقرار کول صحيح دي. عقلي دليل دا دی چي په مرضُ الموت کي د مريض د مال سره د وارثانو حق متعلق کيږي، اوس ښکاره خبره ده که د يوه وارث لپاره موږ د مريض اقرار صحيح وګرځوو، نو په دې سره به د نورو وارثانو حق ضايع سي او دا صحيح نه دي.

دويم عقلي دليل دا دی چي د مرض حالت له مال څخه د بې نيازۍ او مستغني والي حالت وي (ځکه د مرګ د علاماتو په ښکاره کېدلو سره ټوله اميدونه ختميږي)، او د مريض د مال سره د وارثانو د حق متعلق کېدلو سبب قرابت دی. نو ځکه د قريب (وارث) لپاره هيڅکله هم د مريض اقرار صحيح نه دی. لېکن د اجنبي کس په حق کي دا تعلق (د مريض د مال سره د هغه د حق متعلق کېدل) نه ښکاره کيږي (بلکي د هغه لپاره اقرار صحيح دی)؛ ځکه چي د صحت په حالت کي مريض ته د اجنبي سره د معامله کولو ضرورت پېښيږي، او د وارثانو سره معامله کول ډېر کم واقع کيږي. زياتره وخت د اجنبي کس سره واقع کيږي. او که چيري د اجنبي کس لپاره د مريض اقرار صحيح نه وګرځول سي نو خلک به د هغه سره معاملات نه کوي او د هغه د ضرورياتو دروازه به بنده سي. نو په دې وجه د اجنبي کس په حق کي اقرار صحيح دی. همدارنګه دغه مذکوره تعلق د بل کس په نسبت د وارث کېدلو د اقرار په حق کي هم نه ښکاره کيږي؛ ځکه چي انسان ته د دې ضرورت هم وي. د دې لپاره چي د هغه ټوله

وارثان معلوم او باقي پاته سي، نو ځکه د وارث لپاره اقرار کول د دې کسانو لپاره پر اقرار کولو قیاسول صحیح نه دي. او د مقر لهٔ د شریکانو یعني د باقي (نورو) وارثانو په حق کي قرابت او تعلق موجود دی، نو ځکه موږ وایو چي د وارثانو تر تصدیق کولو وروسته د وارث لپاره هم اقرار صحیح دی، ځکه چي دا ممانعت صرف د هغو د حق په وجه دی، او هغو په تصدیق کولو او اجازت ورکولو څخه خپل دا حق ساقط او باطل کړی.

وإن أقر الأجنبي إلخ: فرمايي که مریض د یو اجنبي کس لپاره د قرض اقرار وکړي، نو دا اقرار جائز دی، که څه هم دا اقرار د هغه پر ټوله مال احاطه وکړي او د وارثانو لپاره هیڅ مال پاته نه سي؛ ځکه چي د قرض اداء کول له حوائج اصلیه څخه دي، نو ځکه استحساناً د اجنبي کس لپاره اقرار کول صحیح دي، لېکن د قیاس تقاضا دا ده چي صرف د مال په ثلث (دریمه حصه) کي د مریض اقرار صحیح دی او له هغه څخه په زائد مال کي صحیح نه دی؛ ځکه چي شریعت د مورث تصرف صرف تر ثلث المال پوري محدود کړی دی، لېکن زموږ له طرفه جواب دا دی چي کله په یوه ثلث کي اقرار صحیح دی نو تر یوه قرض اداء کولو وروسته چي کوم مال باقي پاته سي د هغه په ثلث کي به هم د مریض تصرف جائز وي او هغه به ابتدائي ثلث وي، تر دې وروسته چي کله د بل قرض یا بل حق اداء کولو نوبت راسي او هغه اداء کړی سي، نو دریم وار ثلث به ابتدائي ثلث او په ټوله مال کي به همدا معامله جاري وي، لهذا پر یوه ځای او په یوه واره جائز ګرځول غوره دي، د دې لپاره چي د حصه، حصه کولو نوبت رانه سي. (احسن الهدایه)

## په مرضُ الموت کي تر اقرار وروسته د نسب دعوی کول

قَالَ: وَمَنْ أَقَرَّ لِأَجْنَبِيٍّ فرمایي: او که مریض د یو اجنبي [پردي] کس لپاره اقرار وکړي ثُمَّ قَالَ: هُوَ ابْنِيْ بیا ووایي: چي هغه زما ځوی دی ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ نو د مریض [مُقِر] سره د هغه نسب ثابتیږي وَبَطَلَ إِقْرَارُهُ لَهُ او د هغه لپاره د مریض [مُقِر] اقرار باطلیږي فَإِنْ أَقَرَّ لِأَجْنَبِيَّةٍ ثُمَّ تَزَوَّجَهَا او که مریض د یو اجنبي ښځي لپاره اقرار وکړي بیا د هغې سره نکاح وکړي لَمْ يَبْطُلْ إِقْرَارُهُ لَهَا نو د هغې لپاره دده اقرار باطلیږي وَوَجْهُ الْفَرْقِ أَنَّ دَعْوَةَ النَّسَبِ تَسْتَنِدُ إِلَى وَقْتِ الْعُلُوقِ او وجه د فرق دا ده چي د نسب دعویٰ د علوق د وخت وطرف ته منسوب کیږي فَتَبَيَّنَ أَنَّهُ أَقَرَّ لِابْنِهِ نو ښکاره سوه چي مُقِر د خپل

ځوی لپاره اقرار کړی دی فَلَا يَصِحُّ نو ځکه به هغه صحيح نه وي وَلَا كَذٰلِكَ الزَّوْجِيَّةُ او زوجيت [نکاح] داسي نه ده لِأَنَّهَا تَقْتَصِرُ عَلٰى زَمَانِ التَّزَوُّجِ ځکه چي هغه د نکاح کولو پر وخت منحصر [او محدود] وي فَبَقِيَ إِقْرَارُهُ لِأَجْنَبِيَّةٍ لهذا د هغه اقرار صرف د اجنبي ښځي لپاره اقرار پاته سو قَالَ: وَمَنْ طَلَّقَ زَوْجَتَهُ فِي مَرَضِهِ ثَلَاثًا ثُمَّ أَقَرَّ لَهَا بِدَيْنٍ فرمايي: او که څوک په خپل مرضُ الموت کي خپلي ښځي ته دري طلاقه ورکړي بيا د هغې لپاره د يو قرض اقرار وکړي فَلَهَا الْأَقَلُّ مِنَ الدَّيْنِ وَمِنْ مِيرَاثِهَا مِنْهُ نو له قرض او د خاوند له ميراث څخه چي کوم يو کم وي هغه د ښځي لپاره دی [يعني په قرض او ميراث کي چي کوم يو کم (لږ) وي هغه به دې ښځي ته ورکول کيږي] لِأَنَّهُمَا مُتَّهَمَانِ فِيهِ ځکه چي هغوی دواړه په دې اقرار کي متهم دي لِقِيَامِ الْعِدَّةِ د عدت پاتېدلو په وجه وَبَابُ الْإِقْرَارِ مَسْدُودٌ لِلْوَارِثِ او د وارث لپاره د اقرار دروازه بنده ده فَلَعَلَّهُ أَقْدَمَ عَلٰى هٰذَا الطَّلَاقِ لِيَصِحَّ إِقْرَارُهُ لَهَا زِيَادَةً عَلٰى مِيرَاثِهَا نو کېدای سي چي خاوند پر دغه طلاق ځکه اقدام کړی وي چي د ښځي لپاره د ده اقرار صحيح سي او هغې ته له خپل ميراث څخه زيات ميراث حاصل سي وَلَا تُهْمَةَ فِي أَقَلِّ الْأَمْرَيْنِ او له قرض او ميراث څخه په کم [ورکولو] کي هيڅ تهمت نسته فَيَثْبُتُ نو ځکه به هغه ثابتيږي.

**اللغات:** ﴿تستند﴾ د استفعال د باب مضارع ده: منسوبېدل (نسبت کېدل)، مضاف کېدل. ﴿علوق﴾ د سمع د باب مصدر دی: عَلِقَتِ الْمَرْأَةُ بِالْوَلَدِ: حامله کېدل، له نطفې څخه بچی جوړېدل، حمل نيول کېدل (مصباح منير). ﴿زوجية﴾ زواج، سړی او ښځه سره يو ځای کېدل (يو د بل خاوند او ښځه کېدل)، واده، نکاح. ﴿تقتصر﴾ د افتعال د باب مضارع ده، مراد: منحصر کېدل، محدود کېدل. ﴿مسدود﴾ د نصر له بابه اسم مفعول دی: بند کړی سوی.

**تشريح: مسئله:** دا ده که مريض د يو اجنبي کس لپاره د قرض تر اقرار کولو وروسته ووايي چي "هغه (اجنبي) زما ځوی دی"، نو اجنبي کس د هغه ځوی ګرځي او مريض چي د هغه لپاره کوم د قرض اقرار کړی دی، هغه باطليږي. د دې په خلاف که مريض د يو اجنبيه ښځي لپاره اقرار وکړي او

بيا د هغې سره نکاح وکړي، نو اقرار نه باطليږي بلکې صحيح پاتې کيږي. په دې دواړو صورتونو کې فرق دا دی چې د نسب دعویٰ د علوق د وخت وطرف ته منسوب کيږي او اجنبي کس ته دعوی ويلو مطلب دا را وځي چې مقر د خپل وارث ځوی لپاره اقرار کړی وو، حال دا چې د وارث لپاره اقرار کول صحيح نه دي، نو ځکه د اجنبي کس د ځوی والي د اقرار کولو په صورت کې د هغه لپاره مخکنی (د قرض) اقرار باطليږي. ليکن د نکاح والا په صورت کې په دې وجه اقرار اقرار نه باطليږي، چې زوجيت ديو مخکني وخت وطرف ته نه منسوب کيږي او په حقيقت کې د اجنبيه ښځې لپاره مخکنی اقرار د همدې اجنبيه ښځې لپاره واقع کيږي، نو ځکه به هغه نه باطليږي.

<u>ومن طلق زوجته إلخ</u>: او که څوک په مرضُ الموت کې خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړي، بيا د عدت په زمانه کې د هغې لپاره د قرض اقرار وکړي او مړ سي، نو په دې صورت کې حکم دا دی چې د خاوند په ميراث او د هغه په اقرار کړده قرض کې چې کوم يو کم وي، هغه به ښځې ته ورکول کيږي (مثلا که د ښځې ميراث دوه سوه درهمه وي او قرض درې سوه درهمه وي. نو ميراث به ورکول کيږي)، ځکه چې ښځه په عدت (عده) کې ده او د هغې لپاره په اقرار کولو کې دوی دواړه (خاوند او ښځه) متهم دي؛ ځکه دلته دا تهمت کيدای سي چې شايد خاوند به هغې ته له ميراث څخه د زيات مال ورکولو اراده کړې وي او په دې توګه به يې دا پلان جوړ کړی وي چې زه به ستا لپاره د زيات قرض اقرار وکړم او طلاق به درکړم چې زما اقرار صحيح سي (ځکه د خپلې ښځې لپاره د قرض اقرار کول صحيح نه دي) او په دې توګه به تا ته له خپل ميراث څخه ډېر مال حاصل سي، او په کم (اقل) مال کې دا تهمت نسته، نو ځکه مونږ د ښځې لپاره اقل المالين ثابت کړی دی. والله أعلم وعلمه أتم



# فَصْلٌ (فِي الْإِقْرَارِ بِالنَّسَبِ)

## (دا) فصل (د نسب د اقرار کولو په بيان کي) دی

**تشريح**: مخکي تر دې دا اقرار بالمال بيان وو، او اوس په دې فصل کي اقرار بالنسب بيانول کيږي، ځرنګه چي د مال په هکله اقرار زيات واقع کيږي، نو ځکه هغه تر اقرار بالنسب مخکي بيان کړی سوی دی.

## د نسب د اقرار (اقرار بالنسب) د صحيح کېدلو شرطونه

وَمَنْ أَقَرَّ بِغُلَامٍ يُولَدُ مِثْلُهُ لِمِثْلِهِ وَلَيْسَ لَهُ نَسَبٌ مَعْرُوفٌ أَنَّهُ ابْنُهُ او که يو کس [مُقر] د داسي هلک په باره کي اقرار وکړي چي هغسي هلک د ده په څېر کس لپاره پيدا کېدای سي او د هغه هلک لپاره يو معلوم نسب نه وي [دا اقرار وکړي] چي هغه زما ځوی دی وَصَدَّقَهُ الْغُلَامُ او هلک د ده تصديق وکړي ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ نو د ده [مُقر] سره د هغه نسب ثابتيږي وَإِنْ كَانَ مَرِيضًا که څه هم مقر مريض وي لِأَنَّ النَّسَبَ مِمَّا يَلْزَمُهُ خَاصَّةً ځکه چي نسب خاص پر مقر لازميږي فَيَصِحُّ إِقْرَارُهُ بِهِ نو ځکه د مقر لپاره به د هغه اقرار کول صحيح وي وَشَرَطَ أَنْ يُولَدَ مِثْلُهُ لِمِثْلِهِ كَيْلَا يَكُونَ مُكَذَّبًا فِي الظَّاهِرِ او امام قدوري رَحِمَهُ الله دا شرط "چي هغسي هلک به د مقر په څېر کس لپاره پيدا کېدای سي" د دې لپاره لګولی دی چي په ظاهر کي هغه درواغجن نه وګرځي وَشَرَطَ أَنْ لَا يَكُونَ لَهُ نَسَبٌ مَعْرُوفٌ لِأَنَّهُ يَمْنَعُ ثُبُوتَهُ مِنْ غَيْرِهِ او د نسب نه معروف کېدلو شرط يې په دې وجه لګولی دی چي معروف نسب د بل چا [مُقر] سره د نسب ثبوت منع کوي [يعني ځکه چي د هلک نسب معلومېدل له دې څخه مانع دی چي د مُقر (مريض) سره د هغه نسب ثابت سي] وَإِنَّمَا شَرَطَ تَصْدِيقَهُ لِأَنَّهُ فِي يَدِ نَفْسِهِ او د هلک د تصديق کولو شرط يې په دې وجه لګولی دی چي هغه د خپل ځان په قبضه کي دی إِذِ الْمَسْأَلَةُ وَضْعُهَا فِي غُلَامٍ يُعَبِّرُ عَنْ نَفْسِهِ ځکه دا مسئله د همداسي هلک په باره کي وضع سوې افرض سوې] ده کوم چي د خپل ځان په باره کي اظهار کولای سي [يعني پر اظهار مافی الضمير قادر وي] بِخِلَافِ الصَّغِيرِ په خلاف د کوچني

هلک [کوم چې پر اظهار ما في الضمير قادر نه وي] عَلىٰ مَا مَرَّ مِنْ قَبْلُ لکه مخکې چې تېر سوه وَلَا يَمْتَنِعُ بِالْمَرَضِ او د مرض په وجه اقرار [له قبوليت څخه] نه ممتنع کيږي لِأَنَّ النَّسَبَ مِنَ الْحَوَائِجِ الْأَصْلِيَّةِ ځکه چې نسب له اصلي حاجتونو څخه دی وَيُشَارِكُ الْوَرَثَةَ فِي الْمِيرَاثِ او هغه هلک د نورو وارثانو سره په میراث کې شریک ګرځي لِأَنَّهُ لَمَّا ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ ځکه کله چې د مریض سره د هغه نسب ثابت سو صَارَ كَالْوَارِثِ الْمَعْرُوفِ نو هغه د معلوم وارث په شان وګرځېدی فَيُشَارِكُ وَرَثَتَهُ نو ځکه به هغه د مریض د وارثانو سره شریک کیږي.

**اللغات**: ﴿يُولد﴾ د ضرب د باب مضارع مجهوله ده: پیدا کېدل. ﴿معروف﴾ د ضرب د باب اسم مفعول دی: پېژندل سوی، معلوم، مشهور. ﴿يعبر﴾ اظهار کول (څرګندول)، تعبیر کول. يعبر عن نفسه: د زړه خبره ښکاره کول، اظهار ما في الضمير کول، د ځان په باره کې معلومات ورکول.

**تشريح**: **مسئله**: دا ده که ادریس د زید په باره کې دا اقرار وکړي چې "زید زما ځوی دی" او د ادریس عمر دومره وي چې له هغه څخه د زید په شېر هلک پیدا کېدای سي او د بل چا سره د زید نسب ثابت او معروف هم نه وي، همدارنګه زید دېر کوچنی نه وي بلکې د زړه خبره ښکاره کولای سي او هغه د مقر (ادریس) تصدیق کوي، نو د ادریس دا اقرار صحیح کیږي او زید د هغه ځوی ګرځي، او په عبارت کې د مذکوره قیودو په رڼا کې هغه د ادریس وارث (میراث خور) هم ګرځي او د باقي وارثانو سره په میراث کې شریک کیږي.

## د يو چا په باره کې د مور وپلار کېدلو، بچي کېدلو او داسي نورو د اقرار کولو حکم

قَالَ: وَيَجُوزُ إِقْرَارُ الرَّجُلِ بِالْوَالِدَيْنِ وَالْوَلَدِ وَالزَّوْجَةِ وَالْمَوْلَىٰ فرمايي: [د يو چا] د مور وپلار کېدلو، بچي کېدلو، ښځه او مالک کېدلو په باره کې د سړي اقرار جائز دی لِأَنَّهُ أَقَرَّ بِمَا يَلْزَمُهُ ځکه چې هغه د داسي شي اقرار وکړی کوم چې خاص پر هغه لازميږي وَلَيْسَ فِيهِ تَحْمِيلُ النَّسَبِ عَلَى الْغَيْرِ او په دې کې پر بل چا د نسب اچول الازمول] نسته [يعني د نسب په اقرار کې مُقر وروسته د بل چا سره نسب نه سي ترلای بلکې په خپله پر هغه لازميږي] وَيُقْبَلُ إِقْرَارُ الْمَرْأَةِ بِالْوَالِدَيْنِ وَالزَّوْجِ وَالْمَوْلَىٰ او [د يو چا] د مور وپلار کېدلو، خاوند او مالک کېدلو په باره کې به د ښځي اقرار قبلول کیږي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی وَلَا يُقْبَلُ بِالْوَلَدِ لیکن [د يو چا] د بچي کېدلو په باره کې به د ښځي اقرار نه

قبلول کیږي لِأَنَّ فِيهِ تَحْمِيلَ النَّسَبِ عَلَى الْغَيْرِ وَهُوَ الزَّوْجُ ځکه په دې کې پر بل چا يعني پر خاوند د نسب اچول [الازمول] سته لِأَنَّ النَّسَبَ مِنْهُ ځکه چي نسب د خاوند له طرفه ثابتيږي إِلَّا أَنْ يُصَدِّقَهَا الزَّوْجُ مگر دا چي خاوند د هغې تصديق وکړي لِأَنَّ الْحَقَّ لَهُ ځکه چي دا د هغه حق دی أَوْ تَشْهَدَ بِوِلَادَتِهِ قَابِلَةٌ يا يوه دايي [دايه] د هغه بچي د ولادت گواهي ورکړي لِأَنَّ قَوْلَ الْقَابِلَةِ فِي هٰذَا مَقْبُولٌ ځکه چي په دې سلسله کې د دايي قول مقبول دی وَقَدْ مَرَّ فِي الطَّلَاقِ او په کتاب الطلاق کې دا تېر سوه وَقَدْ ذَكَرْنَا فِي إِقْرَارِ الْمَرْأَةِ تَفْصِيلًا فِي كِتَابِ الدَّعْوٰى او موږ د ښځي د اقرار په باره کې څه تفصيل په کتاب الدعوىٰ کې ذکر کړی دی وَلَا بُدَّ مِنْ تَصْدِيقِ هٰؤُلَاءِ او [د اقرار صحيح کېدلو لپاره] د دې کسانو [مقر لهم] تصديق ضروري دی وَيَصِحُّ التَّصْدِيقُ فِي النَّسَبِ بَعْدَ مَوْتِ الْمُقِرِّ او د مقر تر مرگ وروسته هم د نسب د اقرار په هکله تصديق صحيح دی لِأَنَّ النَّسَبَ يَبْقٰى بَعْدَ الْمَوْتِ ځکه چي نسب تر مرگ وروسته [هم] باقي پاتيږي وَكَذَا يَصِحُّ تَصْدِيقُ الزَّوْجَةِ همدارنگه [د خاوند تر مرگ وروسته] د ښځي تصديق هم صحيح دی لِأَنَّ حُكْمَ النِّكَاحِ بَاقٍ ځکه چي د نکاح حکم باقي دی وَكَذَا يَصِحُّ تَصْدِيقُ الزَّوْجِ بَعْدَ مَوْتِهَا او همدارنگه د ښځي تر مرگ وروسته د خاوند تصديق هم صحيح دی لِأَنَّ الْإِرْثَ مِنْ أَحْكَامِهِ ځکه چي ميراث د نکاح له احکامو څخه [يو حکم] دی وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ لَا يَصِحُّ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [د ښځي تر مرگ وروسته د خاوند تصديق] صحيح نه دی لِأَنَّ النِّكَاحَ انْقَطَعَ بِالْمَوْتِ ځکه چي د مرگ په وجه نکاح منقطع سوه وَلِهٰذَا لَا يَحِلُّ لَهُ غُسْلُهَا عِنْدَنَا او په همدې وجه زموږ په نيز د خاوند لپاره ښځي ته غسل ورکول روا نه دي وَلَا يَصِحُّ التَّصْدِيقُ عَلَى اعْتِبَارِ الْإِرْثِ او د وراثت [وارث کېدلو] په اعتبار سره [د خاوند] تصديق صحيح نه دی لِأَنَّهُ مَعْدُومٌ حَالَةَ الْإِقْرَارِ ځکه چي د اقرار په وخت کې وراثت معدوم دی وَإِنَّمَا يَثْبُتُ بَعْدَ الْمَوْتِ [ځکه] ميراث خو تر مرگ وروسته ثابتيږي وَالتَّصْدِيقُ يَسْتَنِدُ إِلٰى أَوَّلِ الْإِقْرَارِ حال دا چي تصديق د اقرار د ابتداء وطرف ته منسوب کيږي.

**اللغات**: ﴿تحميل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: د يو چا پر ذمه د يو شي بوج او بار اچول، په يو شي مکلف کول، يو شی پر لازمول. ﴿مولی﴾ آزادونکی مالک. ﴿قابلة﴾ دايي، دايه، هغه ښځه کوم چي د

يو ښځي د لنګېدلو (بچي زېږولو) پر مهال د مرستي لپاره د هغې سره موجوده وي. ﴿إرث﴾ وراثت، ميراث.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که يو څوک مثلاً ادريس ووايي چي "فلانکی سړی زما پلار دی، يا فلانۍ ښځه زما مور ده، يا فلانکی زما ځوی دی، يا فلانۍ ښځه زما ماينه (زوجه) ده، يا فلانکی سړی زما مالک دی"، نو د ادريس دا اقرار جائز او صحيح دی؛ ځکه چي دا اقرار يعني د پورتني کسانو نسب صرف پر مقر (ادريس) لازمېږي او له هغه څخه بغير بل پر هيچا نه لازمېږي، نو ځکه هغه معتبر او صحيح دی. همدارنګه که ښځه اقرار وکړي، نو هم صحيح دی، لېکن که ښځه د يو هلک په باره کي ووايي چي دا زما ځوی دی، نو د هغې دا اقرار صحيح نه دی؛ ځکه چي په دې اقرار کي پر خاوند نسب لازمېږي، لهذا د خاوند له تصديق څخه بغير به دا اقرار صحيح نه وي. ها! که دايي (دايه) وايي چي دا هلک د همدې ښځي ځوی دی او د فلانکي سړي سره يې نسب ثابت دی، نو د هغې په تصديق او تائيد سره دا اقرار صحيح کيږي؛ ځکه ولادت يو مخفي معامله ده چي په هغه صرف ښځي صحيح خبرېدای سي، لهذا په دې باره کي د هغو پر خبره فيصله کېدای سي.

ولا بد من تصديق هولاء إلخ: فرمايي چي په مذکوره ټولو صورتونو کي د مقر لهم کسانو (پلار، مور، ځوی...) له طرفه دا تصديق ضروري دی چي هو! مو‌ږ د مقر (ادريس) پلار، يا مور، يا ځوی او داسي نور يو؛ ځکه چي دا ټوله د خپل نفس او د خپل ځان مالکان دي، لهذا د دوی سره د نسب ثابتېدلو لپاره د دوی تصديق ضروري دی.

ويصح التصديق إلخ: مسئله دا ده که مقر يو څوک خپل پلار يا ځوی (يا داسي نور) وګرځوي، بيا مړ سي او مقر لهٗ (پلار يا ځوی...) د هغه تر مرګ وروسته د هغه تصديق وکړي، نو دا تصديق هم معتبر دی؛ ځکه چي نسب تر مرګ وروسته هم باقي پاتېږي، همدارنګه که خاوند مړ سي او ښځه تر مرګ وروسته د هغه تصديق وکړي، نو دا تصديق هم معتبر دی؛ ځکه چي تر مرګ وروسته د عدت په حق کي د زوجيت رشته هم باقي پاتېږي.

وكذا إلخ: د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز که ښځه مړه سي او تر مرګ وروسته خاوند د هغې تصديق وکړي، نو څرنګه چي خاوند د ښځي وارث کيږي، نو په دې حواله سره دا تصديق معتبر دی، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا تصديق معتبر نه دی؛ ځکه چي د مرګ په وجه نکاح ختمېږي، په همدې وجه خو زموږ په نېز خاوند خپل وفات شُده ښځي ته غسل نه سي ورکولای، او د وارث کېدلو په حواله سره اقرار ته صحيح نه سي ويل کېدای؛ ځکه د اقرار په وخت کي وراثت معدوم وي،

وراثت خو تر مرګ وروسته ثابتيږي، او اقرار تر مرګ مخکښي واقع کيږي، نو ځکه وراثت (وارث کېدل) د اقرار ثابتېدلو لپاره معيار نه سي جوړېدای. (احسن الهدايه)

## د پورتني مسئلې بل صورت

قَالَ: وَمَنْ أَقَرَّ بِنَسَبٍ مِنْ غَيْرِ الْوَالِدَيْنِ وَالْوَلَدِ نَحْوَ الْأَخِ وَالْعَمِّ فرمايي: او که څوک له مور و پلار څخه بغير د بل چا د نسب اقرار وکړي لکه ورور او اکا لَا يُقْبَلُ إِقْرَارُهُ فِي النَّسَبِ نو د نسب په باره کي به د هغه اقرار نه قبلول کيږي لِأَنَّ فِيهِ حَمْلَ النَّسَبِ عَلَى الْغَيْرِ ځکه په دې کي پر بل چا د نسب اچول [لازمول] سته فَإِنْ كَانَ لَهُ وَارِثٌ مَعْرُوفٌ بيا که د هغه [مُقِر] يو معلوم وارث وي قَرِيبٌ أَوْ بَعِيدٌ برابره ده هغه نژدې وارث وي او که ليري فَهُوَ أَوْلَى بِالْمِيرَاثِ مِنَ الْمُقَرِّ لَهُ نو هغه وارث له مقر لهٗ [ورور او اکا] څخه زيات د ميراث مستحق دی لِأَنَّهُ لَمَّا لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ مِنْهُ ځکه کله چي د مقر سره د مقر لهٗ نسب ثابت نه سو لَا يُزَاحِمُ الْوَارِثَ الْمَعْرُوفَ نو مقر لهٗ به د معلوم وارث مزاحم [مقابل] نه وي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَارِثٌ او که چيري د مقر هيڅ وارث نه وي اِسْتَحَقَّ الْمُقَرُّ لَهُ مِيرَاثَهُ نو بيا مقر لهٗ د هغه د ميراث مستحق کيږي لِأَنَّ لَهُ وِلَايَةَ التَّصَرُّفِ فِي مَالِ نَفْسِهِ عِنْدَ عَدَمِ الْوَارِثِ ځکه چي د وارث د نشتوالي په صورت کي مقر ته په خپل مال کي د تصرف کولو ولايت [او اختيار] ستة أَلَا تَرَى أَنَّ لَهُ أَنْ يُوصِيَ بِجَمِيعِهِ آيا ته نه ګورې! چي [د وارث د نشتوالي په صورت کي] هغه ته دا اختيار ستة چي د خپل ټوله مال وصيت وکړي فَيَسْتَحِقُّ جَمِيعَ الْمَالِ نو ځکه مقر لهٗ به د ټوله مال مستحق کيږي وَإِنْ لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ مِنْهُ که څه هم د مقر سره د هغه نسب نه ثابتيږي لِمَا فِيهِ مِنْ حَمْلِ النَّسَبِ عَلَى الْغَيْرِ ځکه چي په دې کي پر بل چا د نسب اچول [لازمول] ستة وَلَيْسَتْ هٰذِهِ وَصِيَّةً حَقِيقَةً او دا اقرار حقيقي وصيت نه دی حَتّٰى أَنَّ مَنْ أَقَرَّ بِأَخٍ ثُمَّ أَوْصٰى لِآخَرَ بِجَمِيعِ مَالِهِ همدا وجه ده که يو څوک [د يو چا] د ورور کېدلو اقرار وکړي بيا د بل چا لپاره د خپل ټوله مال وصيت وکړي كَانَ لِلْمُوصٰى لَهُ ثُلُثُ جَمِيعِ الْمَالِ نو د موصیٰ لهٗ لپاره د ټوله مال دريمه حصه ده وَلَوْ كَانَ الْأَوَّلُ وَصِيَّةً نو که چيري اول [يعني مذکوره اقرار] وصيت وای لَاشْتَرَكَا نِصْفَيْنِ نو دوی دواړه به په نصف، نصف مال کي مشترک وای لٰكِنَّهُ بِمَنْزِلَتِهِ

لېکن دا اقرار [فقط] د وصیت په درجه کي دی حَتَّى لَوْ أَقَرَّ فِي مَرَضِهِ بِأَخٍ همدا وجه ده که مقر په خپل مرضُ الموت کي [ديو چا] دورور کېدلو اقرار وکړي وَصَدَّقَهُ الْمُقَرُّ لَهُ او مقر لهٔ د هغه تصدیق وکړي ثُمَّ أَنْكَرَ الْمُقِرُّ قَرَابَتَهُ ثُمَّ أَوْصَى بِمَالِهِ كُلِّهِ لِإِنْسَانٍ بیا مقر د هغه د قرابت [ورور والي] انکار وکړي بیا دیو انسان لپاره د خپل ټوله مال وصیت وکړي كَانَ الْمَالُ لِلْمُوصَى لَهُ نو [د مُقِر] مال د موصیٰ له کیږي وَلَوْ لَمْ يُوصِ لِأَحَدٍ او که د هیچا لپاره وصیت نه وکړي كَانَ لِبَيْتِ الْمَالِ نو هغه مال د بیتُ المال کیږي لِأَنَّ رُجُوعَهُ صَحِيحٌ ځکه چي د مقر رجوع صحیح ده لِأَنَّ النَّسَبَ لَمْ يَثْبُتْ ځکه [کله] چي نسب ثابت نه سو فَبَطَلَ الْإِقْرَارُ نو اقرار باطل سو.

**اللغات:** ﴿لا يزاحم﴾ د مفاعلې د باب نفي صیغه ده: مقابل کېدل. ﴿موصٰى لهٔ﴾ د چا لپاره چي وصیت سوی وي (هغه کس چي مړي په خپل ژوند کي د هغه لپاره د مال یا بل شي وصیت کړی وي). ﴿بيت المال﴾ هغه دولتي ځای چي د عوامو مالونه پکښې جمع کیږي، سرکاري خزانه. د اسلامي دولت خزانه.

**تشريح: صورت د مسئلي:** دا دی که ادریس ووايي چي "فلانکی سړی زما ورور دی یا هغه زما اکا دی"، نو محض په دې اقرار سره هغه د ادریس ورور یا ځوی نه ګرځي؛ ځکه د ورور په صورت کي په دې اقرار سره پر پلار نسب لازمیږي؛ ځکه څوک چي د ده ورور سي نو هغه د ده د پلار ځوی ګرځي، او د اکا ویلو په صورت کي پر نیکه نسب لازمیږي؛ ځکه چي اکا د نیکه ځوی ګرځي. او له رضا او تصدیق څخه بغیر پر یو سړي د بل چا نسب لازمول صحیح نه دي. بیا که دا مقر (ادریس) مړ سي او د مقر لهٔ (ورور، اکا) څخه بغیر د هغه بل معلوم وارث موجود وي. برابره ده هغه نژدې وارث وي لکه ذوی الفروض او عصبه، یا لیري وارث وي لکه ذوی الارحام. نو د دې مقر مال به هغه معلوم (معروف نسب والا) وارث اخلي او مقر لهٔ ته به هیڅ شی نه ورکول کیږي؛ ځکه کله چي د مقر سره د مقر لهٔ نسب ثابت نه سو. نو هغه د معلوم وارث مزاحم او مقابل نه ګرځي.

ها! که چیري د مقر هیڅ وارث نه وي. نو په دې صورت کي مقر لهٔ د هغه د میراث مستحق کیږي او هغه به ېې مال اخلي، ځکه که څه هم د نسب په هکله د مقر خبره رد کړی سوې ده لېکن د مقر لهٔ د مال مستحق کېدلو په هکله د هغه اقرار نه دی رد کړی سوی (یعني په دې باره کي د مقر اقرار نه دی رد کړی سوی چي مقر لهٔ د هغه د مال مستحق کیږي)، او د وارث د نشتوالي په صورت کي مورث ته د خپل

ټوله مال د وصيت کولو حق سته. نو ځکه په دې صورت کي به د مقر لهٗ د مال مستحق کېدلو په هکله د مقر اقرار مقبول او معتبر وي.

**وليست هذه إلخ:** فرمايي: په پورتنۍ مسئله کي چي کوم اقرار دی. هغه حقيقي وصيت نه دی بلکي د وصيت په درجه کي دی، حقيقي وصيت خو په دې وجه نه دی چي که يو څوک مثلاً ادريس ووايي "خالد زما ورور دی"، بيا هغه د زيد لپاره د ټوله مال وصيت وکړي. نو مال به موصیٰ لهٗ (زيد) ته ورکول کيږي، حال دا چي کوم چا ته ادريس ورور ويلي دي يعني خالد. که چيري هغه هم موصیٰ لهٗ وای نو د وصيت مال به دواړو ته نصف. نصف حاصلېدای، لېکن نصف. نصف نه حاصلېدل د دې خبري علامت دی چي د ورور کېدلو. اکا کېدلو او داسي نور اقرار حقيقي وصيت نه دی، ها! د وصيت په درجه کي دی، همدا وجه ده که يو څوک په خپل مرضُ الموت کي ووايي چي مثلاً "حامد زما ورور دی" او حامد هم ووايي چي "هو! زه يې ورور يم". بيا مقر د هغه له قرابت څخه نکار وکړي چي "دا ځوی مړی بالکل زما ورور نه دی"، تر دې وروسته مقر د يو چا لپاره د خپل ټوله مال وصيت وکړي، نو ټوله مال به موصیٰ لهٗ ته ورکول کيږي. او که هغه د هيچا لپاره د خپل مال وصيت نه وکړي، نو د هغه مال به په بيتُ المال کي جمع کيږي؛ ځکه کله چي هغه د ورور له ورور والي څخه انکار وکړی، نو د هغه له نسب او په خپل ميراث کي يې د هغه له شرکت (شريک کېدلو) څخه رجوع وکړه، او دا رجوع صحيح ده. يعني د نسب له اقرار څخه رجوع کول صحيح دي. لکه څرنګه چي له وصيت څخه رجوع کول صحيح دي. لهذا که چيري مذکوره اقرار د وصيت په درجه کي نه وای، نو د هغه رجوع کول به صحيح نه وای.

## د پلار تر مرګ وروسته يو څوک خپل ورور ګرځول

قَالَ: وَمَنْ مَاتَ أَبُوهُ فرمايي: او که د چا پلار مړ سي فَأَقَرَّ بِأَخٍ او هغه د يو چا د ورور کېدلو اقرار وکړي لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُ أَخِيهِ نو د هغه د ورور کېدلو نسب نه ثابتيږي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَيُشَارِكُهُ فِي الْمِيرَاثِ او مقر لهٗ (ورور) د هغه (مُقِر) سره په ميراث کي شريک کيږي لِأَنَّ إِقْرَارَهُ تَضَمَّنَ شَيْئَيْنِ ځکه چي د هغه (مُقِر) اقرار پر دوو شيانو مشتمل دی حَمْلَ النَّسَبِ عَلَى الْغَيْرِ وَلَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَيْهِ [۱] پر بل چا نسب اچول [لازمول] او مقر ته د دې ولايت نسته وَالِاشْتِرَاكَ فِي الْمَالِ وَلَهُ فِيهِ وِلَايَةٌ [۲] په مال کي د مقر لهٗ شريکول او په دې باره کي مقر ته ولايت

سته فَيَثْبُتُ نو ځکه به دا [اشتراک فی المال] ثابتیږي كَالْمُشْتَرِي إِذَا أَقَرَّ عَلَى الْبَائِعِ بِالْعِتْقِ لکه کله چي مشتري پر بائع [د غلام] د آزادولو اقرار وکړي لَمْ يُقْبَلْ إِقْرَارُهُ عَلَيْهِ نو د بائع په خلاف د هغه اقرار نه قبلول کیږي حَتَّى لَا يَرْجِعَ عَلَيْهِ بِالثَّمَنِ تر دې چي مشتري پر هغه د ثمن رجوع نه سي کولای [یعني له بائع څخه ثمن واپس نه اخیستلای] وَلَكِنَّهُ يُقْبَلُ فِي حَقِّ الْعِتْقِ لېکن دا اقرار د عتق [آزادېدلو] په حق کي قبلول کیږي قَالَ: وَمَنْ مَاتَ وَتَرَكَ ابْنَيْنِ فرمایي او که څوک مړ سي او دوه ځامن پرېږدي وَلَهُ عَلَى آخَرَ مِائَةُ دِرْهَمٍ او د هغه [میت] پر بل چا سل درهمه باندي وي فَأَقَرَّ أَحَدُهُمَا أَنَّ أَبُوهُ قَبَضَ مِنْهَا خَمْسِينَ بیا له دواړو ځامنو څخه یو دا اقرار وکړي چي زما پلار له هغه سل درهمو څخه پنځوس درهمه اخیستي دي [او بل ځوی د دې انکار کوي] لَا شَيْءَ لِلْمُقِرِّ وَلِلْآخَرِ خَمْسُونَ نو د مقر ځوی لپاره هیڅ شی نسته او د بل [منکر] ځوی لپاره پنځوس درهمه دي لِأَنَّ هَذَا إِقْرَارٌ بِالدَّيْنِ عَلَى الْمَيِّتِ ځکه چي دا پر مړي [پلار] د قرض اقرار دی لِأَنَّ الِاسْتِيفَاءَ إِنَّمَا يَكُونُ بِقَبْضٍ مَضْمُونٍ ځکه چي د قرض اخیستل د ضمان والا مال په قبضه کولو سره وي [یعني د قرض اخیستلو طریقه همدا ده چي پر مضمون (پر ذمه واجب) مال باندي قبضه وسي (واخیستل سي)] فَإِذَا كَذَّبَهُ أَخُوهُ بیا چي کله د هغه ورور [منکر] د هغه تکذیب وکړی اسْتَغْرَقَ الدَّيْنُ نَصِيبَهُ نو قرض د هغه پر حصه احاطه وکړه كَمَا هُوَ الْمَذْهَبُ عِنْدَنَا لکه څرنګه چي زموږ په نېز همدا مذهب دی غَايَةُ الْأَمْرِ أَنَّهُمَا تَصَادَقَا عَلَى كَوْنِ الْمَقْبُوضِ مُشْتَرَكًا بَيْنَهُمَا ها! دا ویل کېدای سي چي دوی دواړو د مقبوض [اخیستل سوي قرض] پر مشترک کېدلو اتفاق کړی دی لَكِنَّ الْمُقِرَّ لَوْ رَجَعَ عَلَى الْقَابِضِ بِشَيْءٍ لېکن که مقر ځوی پر بائع د یو شي رجوع کړي [یعني له هغه څخه څه ثمن واپس واخلي] لَرَجَعَ الْقَابِضُ عَلَى الْغَرِيمِ وَرَجَعَ الْغَرِيمُ عَلَى الْمُقِرِّ نو قابض به پر مقروض رجوع کوي او مقروض به پر مقر رجوع کوي [یعني قابض به یې له مقروض څخه اخلي او مقروض به یې له مقر ځوی څخه اخلي] فَيُؤَدِّي إِلَى الدَّوْرِ نو دا به د دور [تسلسل] سبب وګرځي.

**اللغات**: ﴿ولایة﴾ اختیار، ﴿اسکیفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: خپل حق اخیستل، ترلاسه کول، وصولول، ﴿کذّبه﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: دروغجن ګڼل، دروغجن ګرځول، ﴿استغرق﴾

د استفعال ماضي ده: په پوره توګه نیول، په پوره توګه احاطه کول. ﴿نصیب﴾ حصه، برخه. ﴿غایة الأمر﴾ انتهائي خبره (یعني په آخر کي کم از کم دا خبره او اعتراض کېدای سي). ﴿تصادقا﴾ د تفاعل له بابه د تثنیه غائب ماضي صیغه ده: یو د بل تصدیق کول، یو تر بله پر یو خبره اتفاق کول یعني پر یو خبره د دوو کیسانو متفق کېدل. ﴿دَور﴾ مراد ځني تسلسل دی، د تسلسل معنیٰ ده: پرلپسې والي، جاري والی (روان والی)، یعني یو سلسله په لامتناهي توګه روانه پاتېدل او نه درېدل.

**تشریح**: په دې عبارت کي دوې مسئلې بیان سوي دي:

(۱)... که یو څوک مثلاً ادریس مړ سي او د هغه یو ځوی نعمان پاته سي او څه وخت وروسته نعمان دیو چا مثلاً د خالد په هکله دا اقرار وکړي چي "خالد زما حقیقي ورور دی"، نو د ورور کېدلو او د نسب ثابتېدلو په باره کي د نعمان دا اقرار معتبر نه دی؛ ځکه چي په دې اقرار کي پر بل چا یعني پر مړ سوي پلار (ادریس) نسب لازمیږي او مقر ته "ولایت الزام" حاصل نه دی (یعني هغه د دې ولایت او اختیار نسته چي پر یو کس [مثلا پر پلار] د بل چا نسب لازم کړي)، لېکن د پورتني اقرار په وجه مقر لهٗ د پلار په میراث کي شریک او حصه دار ګرځي؛ ځکه چي میراث د مقر حق دی او هغه لره دا ولایت او اختیار سته چي بل څوک په خپل دغه حق کي شریک کړي، نو ځکه په دې حواله سره د هغه دا اقرار صحیح او معتبر دی. د دې مثال داسي دی لکه زید چي له حامد څخه غلام رانیسي او هغه ته ثمن ورکړي، بیا زید دا اقرار وکړي چي "حامد خو تر خرڅولو مخکي لا دا غلام آزاد کړی وو"، نو د زید دا اقرار د بائع (حامد) په خلاف مقبول نه دی یعني د دې اقرار په وجه زید له بائع څخه د غلام ثمن واپس نه سي اخیستلای؛ ځکه چي دا هم قرار علی الغیر دی، لېکن دا اقرار په خپله د مقر یعني د زید په حق کي معتبر دی یعني د ده له طرفه به هغه غلام آزاد شُده شمارل کیږي.

(۲)... دویمه مسئله دا ده که یو څوک مثلاً ادریس مړ سي او د هغه دوه ځامن پاته سي چي د هغو پر حامد قرض باندي وي، بیا د هغه له دوو ځامنو څخه یو ځوی ووایي چي "زما پلار (ادریس) له مقروض یعني له حامد څخه پنځوس درهمه اخیستي دي، او اوس پر هغه صرف پنځوس درهمه پاته دي"، لېکن دویم ځوی ووایي چي "نه! زما پلار له مقروض څخه یو درهم هم اخیستی نه دی او پر مقروض پوره سل درهمه پاته دي"، نو په دې صورت کي به مقر ځوی ته هیڅ شی نه ورکول کیږي یعني کوم ځوی چي د پنځوس درهمو د اخیستلو اقرار کوي هغه ته یو درهم هم نه حاصلیږي؛ ځکه چي هغه د خپل مړه پلار له مال څخه د پنځوس درهمو مالک وو، او هغه د مقروض په حق کي د پنځوس درهمو په اقرار کولو سره خپل دا حق ساقط کړی. او څرنګه چي د هغه په دغه اقرار کي د بل چا (دویم ځوی) د حق ضیاع سته نو ځکه د بل چا په حق کي به دا اقرار معتبر نه وي او

هغه (دويم ځوی) ته به خپل حق يعني پنځوس درهمه ورکول کيږي؛ ځکه کوم ځوی چې د دې خبرې اقرار کوي چې زما پلار پنځوس درهمه اخيستي دي، هغه په حقيقت کې پر ميت (پلار) د قرض اقرار کوي، او د قرض اخيستل پر داسې مال په قبضه کولو (يعني د داسې مال په اخيستلو) سره ثابتيږي کوم چې پر ذمه واجب وي يعني د هغه ضمان واجب وي؛ ځکه چې قرضونه بامثالها اداء کيږي، نه باعيانها. اوس چې کله يو ځوی د مړسوي پلار په حق کې د اخيستلو منکر دی (چې ما پلار يو درهم نه دی اخيستی) او د هغه ورور په دې باره کې د هغه تکذيب کوي، نو اوس به قرض صرف د مُقِر ځوی په حصه کې اخيستل سوی ګڼل کيږي، او مابقي پنځوس درهمه به د منکر ځوی لپاره وي او په هغه کې به د مُقِر ځوی لپاره هيڅ حصه نه وي.

لېکن که دا اعتراض وسي چې کله مُقِر او منکر دواړه ځامن پر دې خبره متفق دي چې مابقي پنځوس درهمه کوم چې منکر ځوی له مقروض شخخه اخيستي دي په هغه کې خو دوی دواړه مشترک دي، يا په بله وينا دا چې مُقِر ځوی وايي چې "موږ په پنځوسو درهمو کې يو د بل شريکان يو" او منکر ځوی وايي چې "په سلو درهمو کې شريکان يو" او د شرکت (اشتراک) په هکله دواړه متفق دي او په دې اعتبار سره مقر ځوی له منکر ځوی شخخه (چې د هغه په قبضه کې قرض دی) خپله حصه واپس اخيستلای سي يا د قرض نه اخيستل کېدلو په صورت کې له مقروض شخخه (د کوم په قبضه کې چې قرض پاته دی) خپله حصه واپس اخيستلای سي، حال دا چې په نفس الأمر کې داسې نه ده؟

د دې جواب دا دی چې په دې مسئله کې مقر ځوی له قابض شخخه يو درهم هم نه سي اخيستلای؛ ځکه چې د مقر ځوی په اقرار سره مقروض پنځوس درهمه د هغه پلار ته ورکړي دي. اوس که مقر ځوی له هغه شخخه بيا خپله حصه يعني پنځويشت درهمه واپس واخلي نو د هغه په حق کې به پنځه اويا (۷۵) درهمه راسي او بيا منکر ځوی به هم له مقروض شخخه خپله حصه غواړي او څرنګه چې هغه له دې شخخه منکر دی چې مقروض زما پلار ته قرض ورکړی دی نو ځکه د هغه حصه پنځوس درهمه ده لېکن مقروض به هغه ته صرف پنځويشت درهمه ورکړي، ځکه چې د مقروض سره به اوس صرف پنځويشت درهمه پاته وي. لهذا اوس به هغه خامخا مقر ځوی تر غوږ نيسي او له هغه شخخه به پنځويشت درهمه واپس اخلي او منکر ځوی ته به يې ورکوي. او کله چې مقروض له مقر ځوی شخخه هغه واپس واخلي. نو مقر ځوی به بيا د خپل حق يعني د پنځوس درهمو د اخيستلو لپاره د مقروض لمن نيسي او د مرګ تر وخته به دا د اخيستلو او ورکولو سلسله روانه وي. نو په دې وجه په دغه مسئله کې زموږ پرېکړه او فيصله دا ده چې مابقي قرض به صرف منکر ځوی ته ورکول کيږي او مقر ځوی ته به هيڅ شی نه ورکول کيږي. والله أعلم وعلمهٗ أتم



# كِتَابُ الصُّلْحِ

(دا) کتاب د صلح (د احکامو په بیان کې) دی

**تشریح:** له "کتابُ الاقرار" څخه وروسته سمدستي د "کتابُ الصلح" د ذکر کولو وجه دا ده چې د مُقِر یا مُقَر لهٗ انکار د خصومت (دعوې) او اختلاف سبب دی. او د خصومت ختمولو غوره طریقه صلح کول دي، لېکن ځرنګه چې د صلح نوبت تر خصومت وروسته راځي، نو ځکه کتاب الاقرار پر کتاب الصلح مخکې کړی سوی دی.

**د صلح لغوي معنیٰ:** "صلح" د فساد (خرابوالي او بد والي) ضد دی. لغوي معنیٰ یې ده: صلاح، ښه والی، روغوالی.

**د صلح اصطلاحي معنیٰ:** "عَقْدٌ وُضِعَ لِرَفْعِ الْمُنَازَعَةِ" یعني صلح داسي عقد (تړون) دی کوم چې د جنګ او دعویٰ ختمولو لپاره وضع سوی دی"، په بله وینا: یو د بل په رضا سره د دعوې د ختمولو او پرېښوولو تړون ته "صُلح" وایي.

**یادونه:** پر کوم شي چې صلح واقع سي، هغه ته "مُصَالَح عَلَیْه" وایي او د کوم شي په باره کې چې صلح واقع سي هغه ته "مُصَالَح عَنْهُ" وایي او کوم شوک چې صلح وکړي هغه ته "مُصَالِح" وایي، مثلاً نعمان پر ادریس دیو کور دعویٰ وکړي چې دا کور زما دی، او ادریس ووایي چې "زه به تا ته زر درهمه درکړم، ته د هغه په عوض کې خپله دعویٰ پرېږده!" او نعمان زر درهمه واخلي او صلح وکړي (دعویٰ پرېږدي)، نو زر درهمه "مصالح علیه" دي، کور "مصالح عنه" دی او ادریس "مصالِح" دی.

## د صلح اقسام او د هغوی په جواز کې د اختلاف بیان

| |
|---|
| قَالَ: الصُّلْحُ عَلٰى ثَلَاثَةِ أَضْرُبٍ فرمایي: صلح پر درې قسمه ده صُلْحٌ مَعَ إِقْرَارٍ [۱] صلح مع اقرار وَصُلْحٌ مَعَ سُكُوتٍ وَهُوَ أَنْ لَا يُقِرَّ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ وَلَا يُنْكِرَ [۲] او صلح مع سکوت او هغه دا ده چې مدعی علیه نه اقرار وکړي او نه انکار وکړي وَصُلْحٌ مَعَ إِنْكَارٍ [۳] او صلح مع انکار وَكُلُّ ذٰلِكَ جَائِزٌ او دا ټوله |

صلحي جائز دي لِإِطْلَاقِ قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿وَالصُّلْحُ خَيْرٌ﴾ ځکه چي د الله تعالىٰ دا فرمان مطلق دی: "او صلح غوره ده" وَلِقَوْلِهِ الْعَلِيِّلاً: «كُلُّ صُلْحٍ جَائِزٌ فِيمَا بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا صُلْحًا أَحَلَّ حَرَامًا أَوْ حَرَّمَ حَلَالًا» او ځکه چي نبي ﷺ فرمايلي دي: "د مسلمانانو په مينځ کي هره صلح جائز ده مګر هغه صلح کوم چي حرام حلال وګرځوي او حلال حرام وګرځوي" وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ مَعَ إِنْكَارٍ أَوْ سُكُوتٍ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي صلح مع انکار او صلح مع سکوت جائز نه ده لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چي موږ روايت کړی وَهٰذَا بِهٰذِهِ الصِّفَةِ او دا [صلح مع انکار او صلح مع سکوت] هم پر دغه صفت دي لِأَنَّ الْبَدَلَ إِنْ كَانَ حَلَالًا عَلَى الدَّافِعِ حَرَامًا عَلَى الْآخِذِ ځکه [د صلح] بدل که څه هم پر ورکونکي حلال دي لېکن پر اخيستونکي حرام دی فَيَنْقَلِبُ الْأَمْرُ لهذا معامله به واوړي [معامله به چپه وګرځي] وَلِأَنَّ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ يَدْفَعُ الْمَالَ لِقَطْعِ الْخُصُومَةِ عَنْ نَفْسِهِ ځکه چي مدعىٰ عليه له خپل ځان څخه د خصومت [دعوې] ليري کولو لپاره مال ورکوي وَهٰذَا رِشْوَةٌ او دا رشوت دی وَلَنَا مَا تَلَوْنَا وَأَوَّلُ مَا رَوَيْنَا او زموږ دليل هغه آيت دی کوم چي موږ ولوستی او د هغه حديث اوله حصه ده کوم چي موږ روايت کړی وَتَأْوِيلُ آخِرِهِ أَحَلَّ حَرَامًا لِعَيْنِهِ كَالْخَمْرِ او دآخري حصې تأويل يې دا دی چي [مګر هغه صلح ناجائز ده کوم چي] داسي شی حرام کړي چي هغه حرام لعينه [حرام بالذات] وي لکه شراب أَوْ حَرَّمَ حَلَالًا لِعَيْنِهِ يا داسي شی حرام کړي چي هغه حلال لعينه [حلال بالذات] وي كَالصُّلْحِ عَلَى أَنْ لَا يَطَأَ الضَّرَّةَ لکه پر دې خبره [د خپلي بنځي سره د خاوند] صلح کول چي د بنْ سره به هغه وطي نه کوي وَلِأَنَّ هٰذَا صُلْحٌ بَعْدَ دَعْوَى صَحِيحَةٍ او ځکه چي دا صلح تر يو صحيح دعوىٰ وروسته [واقع سوې] ده فَيُقْضٰى بِجَوَازِهِ نو ځکه د هغه د جواز [جائز کېدلو] فيصله به کيږي لِأَنَّ الْمُدَّعِيَ يَأْخُذُهُ عِوَضًا عَنْ حَقِّهِ فِي زَعْمِهِ ځکه چي مدعي د خپل ګومان مطابق دا مال د خپل حق په عوض کي اخلي وَهٰذَا مَشْرُوعٌ او دا مشروع دي وَالْمُدَّعٰى عَلَيْهِ يَدْفَعُهُ لِدَفْعِ الْخُصُومَةِ عَنْ نَفْسِهِ او مدعى عليه له خپل ځان څخه د خصومت ليري کولو لپاره هغه ورکوي وَهٰذَا مَشْرُوعٌ أَيْضًا او دا هم مشروع دي إِذِ الْمَالُ وِقَايَةُ الْأَنْفُسِ ځکه چي مال د ځانو د حفاظت لپاره وي وَدَفْعُ الرِّشْوَةِ لِدَفْعِ

الظُّلمِ أَمْرٌ جَائِزٌ" او د ظلم دفع کولو لپاره رشوت ورکول جائز کار دی.

**اللغات**: ﴿سکوت﴾ د نصر مصدر دی: چوپ‌پتیدل، خاموشي. ﴿دافع﴾ د فتح اسم افاعل دی: ورکونکی، ځکه د "دفع" یوه معنیٰ ده: ورکول، او بله معنیٰ یې ده: دفع کول، لیرې کول، ختمول. ﴿خصومة﴾ جنګ او اختلاف، دعویٰ (دعوه). ﴿ضَرَّة﴾ بَن (بنه)، د یو خاوند دوې ښځې یوه د بلې بَن کیږي. ﴿مشروع﴾ د فتح اسم مفعول دی: په شریعت کې نافذ او جاري، په شریعت کې جائز. ﴿وقاية﴾ د ضرب مصدر دی: حفاظت کول، ساتل، ژغورل.

**تشريح**: صلح پر درې قسمه ده: ① صلح مع اقرار، یعني مدعیٰ علیه د مدعي د دعوې اقرار وکړي او بیا د هغه سره پر څه مال صلح وکړي، د دې لپاره چې هغه خپله دعویٰ پرېږدي او خوله بنده وساتي، ② صلح مع انکار، یعني مدعیٰ علیه د مدعي د دعوې انکار وکړي. بیا چې کله له مدعیٰ څخه د قسم اخیستلو غوښتنه وسي، نو هغه د قسم پر ځای مدعي ته څه مال ورکړي او د مدعي خوله وربنده کړي، ③صلح مع سکوت، یعني مدعیٰ علیه نه د دعوې اقرار وکړي او نه یې انکار وکړي. بلکې په پټه خوله د مدعي سره صلح وکړي، زموږ په نیز د صلح دغه درې سره قسمونه جائز دي، لیکن د شوافعو په نیز صرف صلح مع الاقرار صحیح ده او له دې څخه بغیر صلح مع الانکار او صلح مع السکوت صحیح نه دي.

**د امام شافعي دليل**: دا حدیث دی "كُلُّ صُلْحٍ جَائِزٌ فِيمَا بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ إِلَّا صُلْحًا أَحَلَّ حَرَامًا أَوْ حَرَّمَ حَلَالًا" چې هره صلح د مسلمانانو په مینځ کې صحیح ده، لیکن کومه صلح چې حلال شی حرام وګرځوي یا حرام حلال وګرځوي. هغه صحیح نه ده، او څرنګه چې په صلح مع الانکار او صلح مع السکوت کې دا خرابي موجوده ده، نو ځکه به هغه صحیح نه وي: ځکه د صلح عوض (بدلِ صلح) پر ورکونکي حلال دی او پر اخیستونکی حرام، ځکه چې مدعیٰ علیه د هغه د دعوې منکر دی او مدعي (اخیستونکي) په بیّنه سره خپل حق نه دی ثابت کړی. او په دې حواله سره معامله چپه سوه. یعني اوس به پر ورکونکي حرام وي او پر اخیستونکيَ به حلال وي، په بله وینا دا چې که مدعي په خپله دعویٰ کې پر حق وي نو د هغه لپاره خو تر صلح مخکې د مدعیٰ به (دعوه داره شي) اخیستل حلال دي. لیکن د دې صلح په وجه به حرام وګرځي. او که چیرې پر ناحقه وي. نو د باطله دعویٰ په ذریعه د هغه لپاره تر

صلح مخکې د مدعیٰ به اخیستل حرام دي، او د دغه صلح په وجه به حلال وګرځي، نو دغه صلح حرام کار حلال وګرځوی، نو ځکه به صحیح نه وي.

**زمونږ دلیل**: د صلح د دریو سره اقسامو د جواز او صحت په باره کې زمونږ دلیل د قرآن کریم دآیت دی: ﴿وَالصُّلْحُ خَيْرٌ﴾ [سورة النساء: ۱۲۸] چې صلح کول غوره دي، او څرنګه چې دا آیت مطلق دی او په دې کې داقرار او نکار هیڅ تفصیل نسته، نو ځکه به د صلح هر قسم جائز وي. همدارنګه د پورتنې حدیث په اوله حصه "كُلُّ صُلْحٍ جَائِزٌ فِيمَا بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ" سره هم علی الإطلاق د هرې صلحې د جواز حکم ثابتیږي او د دې حدیث په آخر کې چې کوم دا حکم ذکر سوی دی "إِلَّا صُلْحًا أَحَلَّ حَرَامًا أَوْ حَرَّمَ حَلَالًا"، له دې څخه حرام لعینه او حلال لعینه مراد دي؛ ځکه چې حَلَالًا او حَرَامًا مطلق ذکر سوي دي، او له مطلق څخه حرام لعینه او حلال لعینه مرادیږي، یعني که صلح پر یو حرام لعینه شي واقع سي لکه شراب او خنزیر، یا پر حلال لعینه شي واقع سي مثلاً خاوند د خپلې ښځې سره پر دې خبره صلح وکړي چې زه به ستا د بنې سره وطي نه کوم (حال دا چې د بنې سره وطي کول حلال دي). نو داسې صلح جائز نه ده.

دویم دلیل دا دی چې صلح مع الانکار او صلح مع السکوت هم تر صحیح دعوې وروسته واقع کیږي، په همدې وجه له مدعیٰ علیه څخه پر انکار قسم اخیستل کیږي، ښکاره خبره ده چې که دعویٰ صحیح نه وای نو له هغه څخه به قسم هم نه اخیستل کېدای، لهذا دا ثابته سوه چې په صلح مع الانکار او صلح مع السکوت کې دعویٰ صحیح وي، نو ځکه صلح به هم صحیح وي، او کله چې صلح صحیح ده، نو د دې تقریر به داسې وي چې مدعي د خپل ګومان مطابق هغه مال (د صلح بدل) د خپل حق په عوض کې اخلي او مدعیٰ علیه له خپل ځان څخه د ظلم لیرې کولو په غرض هغه ته مال ورکوي، او مالونه د همدې ځان د حفاظت لپاره وي او په همدې مقصد سره جمع کیږي. لهذا د ظلم دفع کولو لپاره رشورت ورکول جائز دي. (احسن الهدایه)

## د صلح د دریو سره اقسامو حکم او تفصیل

قَالَ: وَإِنْ وَقَعَ الصُّلْحُ عَنْ إِقْرَارٍ فرمايي: او که صلح د یو اقرار په هکله واقع سي أُعْتُبِرَ فِيهِ مَا يُعْتَبَرُ فِي الْبِيَاعَاتِ نو په دې کې به د هغه شیانو اعتبار کیږي کوم چې په بیعو کې کیږي إِنْ وَقَعَ عَنْ مَالٍ بِمَالٍ [په دې شرط] که صلح د مال په عوض کې واقع سوې وي لِوُجُودِ مَعْنَى الْبَيْعِ ځکه چې [په دې صورت کې] د بیع معنیٰ [مبادلة المال بالمال] موجوده ده وَهُوَ مُبَادَلَةُ الْمَالِ بِالْمَالِ فِي حَقِّ الْمُتَعَاقِدَيْنِ

بِتَرَاضِيهِمَا او هغه [د بیع معنیٰ] مال په مال سره بدلول دي د دواړو عاقدینو په حق کي د دوی په رضا سره فَيَجْرِيْ فِيهِ الشُّفْعَةُ إِذَا كَانَ عَقَارًا نو ځکه په هغه [یعني د مدعیٰ علیه په ورکول سوي شي] کي به شفعه جاري کیږي که چیري هغه جایداد وي [لکه ځمکه او داسي نور] وَيُرَدُّ بِالْعَيْبِ او د عیب په وجه به واپس کول کیږي وَيَثْبُتُ فِيهِ خِيَارُ الرُّؤْيَةِ وَالشَّرْطِ او په هغه کي به خیار شرط او خیار رؤیت ثابتیږي وَيُفْسِدُهُ جَهَالَةُ الْبَدَلِ او د بدل جهالت [مجهول والی] هغه فاسدوي لِأَنَّهَا هِيَ الْمُفْضِيَةُ إِلَى الْمُنَازَعَةِ ځکه چي همدا د بدل جهالت جنګ [خصومت] ته رسونکی دی دُونَ جَهَالَةِ الْمُصَالَحِ عَنْهُ نه د مصالح عنه جهالت لِأَنَّهُ يَسْقُطُ ځکه چي هغه خو ساقطیږي وَيُشْتَرَطُ الْقُدْرَةُ عَلَى تَسْلِيمِ الْبَدَلِ او [په دې صلح کي] د بدل پر ورسپارلو قادر کېدل شرط دي وَإِنْ وَقَعَ عَنْ مَالٍ بِمَنَافِعَ او که د مال په عوض کي پر منافعو صلح واقع سي يُعْتَبَرُ بِالْإِجَارَاتِ نو اعتبار به يې کیږي په اجاراتو سره [یعني هغه به پر اجاره قیاسول کیږي] لِوُجُودِ مَعْنَى الْإِجَارَةِ ځکه چي [په هغه کي] د اجارې معنیٰ موجوده ده وَهُوَ تَمْلِيكُ الْمَنَافِعِ بِمَالٍ او هغه [یعني د اجارې معنیٰ دا ده] د مال په عوض کي د منافعو مالک کول وَالِاعْتِبَارُ فِي الْعُقُودِ لِمَعَانِيهَا او په عقودو کي اعتبار معنیٰ ګانو لره دی [یعني په عقدونو کي د معنیٰ اعتبار کیږي] فَيُشْتَرَطُ التَّوْقِيتُ فِيهَا نو ځکه په هغه کي به وخت ټاکل [مودت بیانول] شرط وي وَيَبْطُلُ الصُّلْحُ بِمَوْتِ أَحَدِهِمَا فِي الْمُدَّةِ او [د صلح] په مودت کي د یوه په مړه کېدلو سره صلح باطلیږي لِأَنَّهُ إِجَارَةٌ ځکه چي دا صلح اجاره ده وَالصُّلْحُ عَنِ السُّكُوتِ وَالْإِنْكَارِ فِي حَقِّ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ لِافْتِدَاءِ الْيَمِينِ وَقَطْعِ الْخُصُومَةِ وَفِي حَقِّ الْمُدَّعِي لِمَعْنَى الْمُعَاوَضَةِ او صلح مع سکوت او صلح مع انکار د مدعیٰ علیه په حق کي د قسم د فدیه ورکولو او خصومت ختمولو لپاره ده، او د مدعي په حق کي د معاوضې په معنیٰ سره ده [په بله وینا: او هغه صلح کوم چي د سکوت یا انکار په هکله وي هغه : مدعیٰ علیه په حق کي د فدیه ورکولو او خصومت ختمولو په توګه ده او د مدعي په حق کي د معاوضي په معنیٰ سره ده] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی وَيَجُوزُ أَنْ يَخْتَلِفَ حُكْمُ الْعَقْدِ فِي حَقِّهِمَا او دا جائز دي [یعني دا کېدای سي] چي د عقد [صلح] حکم د مدعي او مدعیٰ علیه په حق کي مختلف سي كَمَا يَخْتَلِفُ حُكْمُ

الْإِقَالَةِ فِي حَقِّ الْمُتَعَاقِدَيْنِ وَغَيْرِهِمَا لکه څرنګه چې د اقالې حکم د عاقدَینو او داسې نورو په حق کې مختلف کیږي وَهٰذَا فِي الْإِنْكَارِ ظَاهِرٌ او دا د صلح مع الانکار په صورت کې ښکاره ده وَكَذَا فِي السُّكُوتِ او همدارنګه په صلح مع السکوت کې [هم ښکاره ده] لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ الْإِقْرَارَ وَالْجُحُودَ ځکه چې سکوت د اقرار او انکار دواړو احتمال لري فَلَا يَثْبُتُ كَوْنُهُ عِوَضًا فِي حَقِّهِ بِالشَّكِّ نو ځکه د شک په وجه د مدعیٰ علیه په حق کې به د هغه عوض کېدل نه ثابتیږي.

**اللغات**: ﴿بیاعات﴾ د خرڅولو او رانیولو معاملات، بیوع. ﴿عَقار﴾ (دلغت په کتابو کې د عَین په فتحه سره منقول دی) غیرِ منقوله جایداد، لکه ځمکه کور او داسې نور. ﴿مُصالَح عنه﴾ د کوم شي په هکله چې صلح سوې وي، هغه ته مصالح عنه وایي، مثال یې د کتاب الصلح په شروع کې ذکر سو. ﴿مفضیة﴾ د افعال د باب مؤنث اسم فاعل دی: رسېدونکې، رسونکې، سبب جوړېدونکې. ﴿افتداء﴾ د افتعال د باب مصدر دی: فدیه ورکول (مراد ځنې د خپل قسم اخیستلو په مقابله کې تاکلې قیمت ورکول دي [چې له قسم اخیستو څخه خلاص سي]). ﴿یمین﴾ قسم. ﴿إقالة﴾ د افعال د باب مصدر دی: اقاله کول، د بائع او مشتري دواړو په خپل رضا سره بیع فسخ کول، بیع ماتول (ختمول).

**تشریح**: په دې عبارت کې دوې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که چیرې صلح مع الاقرار وي او دا صلح د مال په عوض کې پر مال واقع سوې وي، یعني مدعي د مال دعویٰ وکړي او مدعیٰ علیه د هغه د دعوې اقرار وکړي بیا د هغه سره پر څه مال صلح وکړي، نو د دې صلح د صحیح کېدلو لپاره هغه ټوله شرطونه ضروري دي کوم چې د بیع لپاره شرط او ضروري دي؛ ځکه چې په دې کې د بیع معنیٰ یعني "مبادلة المال بالمال" موجوده ده. او که چیرې مدعیٰ بهٖ (دعوه داره شی) عقار مثلاً ځمکه وي، نو په هغه کې شفعه هم جاري کیږي. خیار شرط او رؤیت هم پکښې ثابتیږي، لکه څرنګه چې په بیع کې کیږي. او څرنګه چې د ثمن جهالت بیع فاسدوي، همداسې د صلح د عوض (بدلِ صلح) جهالت هم صلح فاسدوي؛ ځکه چې د عوض (بدل) جهالت مفضي الی النزاع دي (یعني د اختلاف او دعوې سبب جوړیږي). مثلاً مدعي له مدعیٰ علیه څخه د مال مطالبه وکړي او مدعیٰ علیه ووایي زه به تا ته څه دراهم درکړم (او مقدار یې معلوم نه کړي) او پر هغه صلح وکړي. نو د دراهمو د مجهول والي په وجه خامخا د دوی په مینځ کې فساد او اختلاف پیدا کیږي. نو ځکه د ثمن د مقدار وضاحت کول ضروري دي، لېکن مصالح عنه یعني د کوم شي په باره

کي چي صلح سوې وي، مثلاً مدعيٰ په يو کور دعویٰ وکړي چي په دې کور کي زما حصه هم شته لهذا هغه ما ته راکول پکار دي، لېکن مدعیٰ علیه هغه ته څه مال ورکړي او خوله يې ورېنده کړي، نو دا صحيح دي، يعني که څه هم په دې صورت کي د مدعي حصه مجهوله ده، لېکن د دې باوجود صلح صحيح ده، او په داسي جهالت سره د صلح پر صحت هيڅ اغېز نه لوېږي. او د صلح د صحت لپاره دا هم ضروري دي چي مدعیٰ علیه به د عوض (بدل) پر ورسپارلو قادر وي، ځکه که مدعي ته د هغه عوض حاصل نه سي، نو هغه به خپل خصومت او دعویٰ نه پرېږدي او په دې توګه به صلح فاسده سي.

وإن وقع عن مال بمنافع إلخ: او که چيري د مال په عوض کي پر منافعو صلح واقع سي، مثلاً مدعي دعویٰ وکړي چي ما پر تا درهمه باندي دي لهذا ته هغه راکړه!، او مدعیٰ علیه هغه ته په صلح کي خپل آس د سپرېدلو لپاره ورکړي (چي ته! يو څه وخت له دې آس څخه منافع (سپرتيا) حاصله کړه! او خپله دعویٰ پرېږده!) يا مثلاً خپل کور د اوسېدلو لپاره ورکړي، نو داسي صلح د اجارې په درجه کي ده او په دې کي به د اجارې د شرطونو اعتبار کيږي، لهذا په دې صلح کي د سپرېدلو يا اوسېدلو مودت ټاکل ضروري دي (چي دومره وخت پر سپور سه! يا دومره مياشتي پکښي او وسېږه!)، همدارنګه که د ټاکل سوي مودت په دوران کي مدعي يا مدعیٰ علیه مړ سي، نو صلح باطليږي. لکه څرنګه چي په اجاره کي هم دا ټوله شيان شرط او ضروري دي.

والصلح عن السكوت إلخ: (۲)... دويمه مسئله دا ده که چيري صلح مع الانکار يا مع السکوت وي (يعني مدعیٰ علیه د مدعي د دعوې په باره کي سکوت وکړي يا انکار وکړي بيا د مدعي سره صلح وکړي)، نو دا صلح د مدعي په حق کي معاوضه ده او د مدعیٰ علیه په حق کي د خصومت او قسم فديه ده؛ د مدعي په حق کي معاوضه ځکه ده چي هغه د خپل فهم او ګومان مطابق د خپل حق عوض (بدل) اخلي، او د مدعیٰ علیه په حق کي د قسم فديه ځکه ده، چي که صلح سوې نه وای نو پر مدعیٰ علیه به قسم اخيستل لازم وای او هغه به د مدعي سره خصومت او دعویٰ نه پرېښوولای.

دلته ممکنه ده چي څوک دا اعتراض وکړي چي کله عقد (صلح) په يوه صفت سره متصف سي نو بيا به هغه څنګه په بل صفت سره متصف کيږي؟ نو د دې په جواب کي فرمايي "ويجوز أن يختلف حكم العقد إلخ" يعني دا خبره ممکنه ده چي د دې صلح حکم د دواړو په حق کي مختلف سي، يعني مثلاً د مدعي په حق کي صلح بمعنیٰ بيع يا بمعنیٰ اجاره وي او د مدعیٰ علیه په حق کي نه وي، لکه څرنګه چي د اقالې په صورت کي کيږي، يعني لکه اقاله چي د دواړو عاقدَينو په حق کي

فسخ ده لېکن له عاقدَينو څخه بغير د بل چا په حق کي بيع جديد ده، همدارنګه نکاح چي د هغې حکم د خپلي ښځي په حق کي حِلت دى او د ښځي د مور (خپلي خواښي) په حق کي حرمتِ مؤبده دى.

وهذافي الانكار إلخ: فرمايي کله چي صلح مع الانکار وي، نو ښکاره خبره ده چي هغه د مدعىٰ عليه په حق کي د قسم د فديې او د خصومت ختمولو لپاره ده، او که چيري صلح مع السکوت وي، نو هغه ځکه د قسم د فديې او د خصومت ختمولو لپاره ده، چي په سکوت کي د اقرار او نکار دواړو احتمال سته، حال دا چي په صلح کي ورکول سوى شى هغه وخت عوض (بدلِ صلح) ګرځي کله چي مدعىٰ عليه اقرار وکړي، لېکن دلته هغه نه اقرار کړى دى او نه انکار، نو ځکه د شک په وجه به هغه د مدعىٰ عليه په حق کي عوض او معاوضه نه ګرځول کيږي.

## د ځمکي په صلح کي حق الشفعه نه ثابتيږي

قَالَ: وَإِذَا صَالَحَ عَنْ دَارٍ فرمايي: او کله چي مدعي د يو کور په هکله صلح وکړي لَمْ يَجِبْ فِيهَا الشُّفْعَةُ نو په هغه کور کي شفعه نه واجبيږي قَالَ: مَعْنَاهُ إِذَا كَانَ عَنْ إِنْكَارٍ أَوْ سُكُوتٍ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د امام قدوري رَحِمَهُ الله د قول مطلب دا دى چي کله صلح مع الانکار يا صلح مع السکوت وي لِأَنَّهُ يَأْخُذُهَا عَلَى أَصْلِ حَقِّهِ ځکه چي مدعىٰ عليه هغه کور د خپل اصل حق په توګه اخلي وَيَدْفَعُ الْمَالَ دَفْعًا لِخُصُومَةِ الْمُدَّعِي او د مدعي د خصومت ختمولو لپاره [هغه ته] مال ورکوي وَزَعْمُ الْمُدَّعِي لَا يَلْزَمُهُ او د مدعي ګومان پر مدعىٰ عليه نه لازميږي بِخِلَافِ مَا إِذَا صَالَحَ عَلَى دَارٍ په خلاف د هغه صورت کله چي پر يو کور صلح وکړي حَيْثُ يَجِبُ فِيهَا الشُّفْعَةُ نو په هغه کي شفعه واجبيږي لِأَنَّ الْمُدَّعِيَ يَأْخُذُهَا عِوَضًا عَنِ الْمَالِ ځکه چي مدعي هغه د مال په عوض کي اخلي فَكَانَ مُعَاوَضَةً فِي حَقِّهِ نو دا به د مدعي په حق کي معاوضه وي فَيَلْزَمُ الشُّفْعَةُ بِإِقْرَارِهِ نو ځکه د مدعي په اقرار سره به شفعه لازميږي وَإِنْ كَانَ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ يُكَذِّبُهُ که څه هم مدعىٰ عليه هغه دروغجن ګڼي.

**اللغات**: ﴿صَالَحَ﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: صلح کول، د خصومت او دعوى پر ختمولو تړون کول. ﴿يکذبه﴾ د تفعيل مضارع ده: تکذيب کول، دروغجن ګرځول، دروغجن ګڼل.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که يو کور د ادريس په قبضه کې وي او بل څوک په هغه دعوىٰ وکړي چې په دې کور زما هم حصه سته، او ادريس انکار وکړي يا چپ پاتـه سي (يعني هيڅ نه وايي) بيا د مدعي سره پر څه مال صلح وکړي، نو په دغه کور کې شفعه نه ثابتيږي، ځکه مدعىٰ عليه (ادريس) خو همدا ګومان کوي چې دا کور فقط زما دی او هغه صرف د خصومت او دعوې ختمولو لپاره مدعي ته مال ورکوي، او د مدعي د ګومان سره د مدعىٰ عليه هيڅ واسطه نسته (يعني برابره ده مدعي هغه مال د خپل حق عوض ګڼي يا بل څه، د دې سره د مدعىٰ عليه هيڅ واسطه نسته). ها! که چيري صلح پر کور واقع سي، يعني مدعىٰ عليه په صلح کې مدعي ته کور ورکړي، نو بيا په هغه کې شفعه ثابتيږي او لازميږي؛ ځکه چې په دې صورت کې مدعي هغه کور د خپل مال په عوض کې اخلي، نو دا د هغه په حق کې معاوضه سوه، لهذا که مدعي د هغه د معاوضه کېدلو اقرار کوي نو په هغه کې به شفعه لازميږي او شفيع ته به د هغه د اخيستلو حق وي، که څه هم مدعىٰ عليه په دې باره کې د مدعي د قول انکار کوي او هغه درواغجن شمېري.

## تر صلح وروسته دعوه داره (متنازَع فيه) شی د بل چا مستحق ختل

قَالَ: وَإِذَا كَانَ الصُّلْحُ عَنْ إِقْرَارٍ فرمايي: او کله چې صلح مع اقرار وي وَاسْتُحِقَّ بَعْضُ الْمُصَالَحِ عَنْهُ او د مصالح عنه څه حصه [د بل چا] مستحق وخيږي [يعني بل څوک خپل حق پکښې ثابت کړي] رَجَعَ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ بِحِصَّةِ ذٰلِكَ مِنَ الْعِوَضِ نو مدعىٰ عليه به د هغه حصې په اندازه له مدعي څخه عوض [بدلِ صلح] واپس اخلي لِأَنَّهُ مُعَاوَضَةٌ مُطْلَقَةٌ كَالْبَيْعِ ځکه چې صلح مع الاقرار د بيع په څېر مطلق معاوضه ده وَحُكْمُ الِاسْتِحْقَاقِ فِي الْبَيْعِ هٰذَا او په بيع کې د استحقاق همدغه حکم دی [يعني که د بيع په صورت کې يو څوک د مبيع مستحق وخيږي، نو هم دغه حکم دی] وَإِنْ وَقَعَ الصُّلْحُ عَنْ سُكُوتٍ أَوْ إِنْكَارٍ او که صلح مع سکوت يا صلح مع انکار وي فَاسْتُحِقَّ الْمُتَنَازَعُ فِيهِ بيا دعوه داره شی [د بل چا] مستحق وخيږي رَجَعَ الْمُدَّعِيْ بِالْخُصُومَةِ وَرَدَّ الْعِوَضَ نو مدعي به [د مستحق کس سره] خصومت کوي او عوض به [مدعىٰ عليه ته] واپس کوي لِأَنَّ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ مَا بَذَلَ الْعِوَضَ إِلَّا لِيَدْفَعَ خُصُومَتَهُ عَنْ نَفْسِهِ ځکه چې مدعىٰ عليه د همدې لپاره عوض ورکړی دی چې له خپل ځان څخه خصومت ليري کړي فَإِذَا ظَهَرَ الِاسْتِحْقَاقُ تَبَيَّنَ أَنْ لَا خُصُومَةَ لَهُ لېکن کله چې استحقاق ښکاره سو نو دا ثرګنده

سوه چي مدعیٰ علیه لره خصومت نه وو فَيَبْقَى الْعِوَضُ فِي يَدِهِ غَيْرَ مُشْتَمِلٍ عَلَى غَرَضِهِ نو ځکه دده په قبضه کي به عوض په دې توګه پاته سي چي هغه به د مدعیٰ علیه پر مقصد مشتمل نه وي فَيَسْتَرِدُّهُ نو ځکه به مدعیٰ علیه هغه [له مدعي څخه] واپس اخلي وَإِنِ اسْتُحِقَّ بَعْضُ ذٰلِكَ او که [په صلح مع انکار وسکوت کي] بعضي حصه [د بل چا] مستحق وخيږي رَدَّ حِصَّتَهُ وَرَجَعَ بِالْخُصُومَةِ فِيهِ نو مدعي به د هغه حصه [يعني د مستحق شده حصې په اندازه عوض به مدعیٰ علیه ته] واپس کوي او په هغومره حصه کي به [د مستحق کس سره] خصومت کوي لِأَنَّهُ خَلَا الْعِوَضُ فِي هٰذَا الْقَدْرِ عَنِ الْغَرَضِ ځکه چي عوض په همدومره مقدار کي له مقصد څخه خالي دی وَلَوِ اسْتُحِقَّ الْمُصَالَحُ عَلَيْهِ عَنْ إِقْرَارٍ .او که په صلح مع اقرار کي مصالح علیه [د بل چا] مستحق وخيږي رَجَعَ بِكُلِّ الْمُصَالَحِ عَنْهُ نو مدعي به ټوله مصالح عنه واپس اخلي لِأَنَّهُ مُبَادَلَةٌ ځکه چي دا مبادله ده وَإِنِ اسْتُحِقَّ بَعْضُهُ او که د مصالح علیه څه حصه [د بل چا] مستحق وخيږي رَجَعَ بِحِصَّتِهِ نو مدعي به د هغه حصې په اندازه واپس اخلي وَإِنْ كَانَ الصُّلْحُ عَنْ إِنْكَارٍ أَوْ سُكُوتٍ او که چيري صلح مع انکار يا صلح مع سکوت وي رَجَعَ إِلَى الدَّعْوٰى فِي كُلِّهِ أَوْ بِقَدْرِ الْمُسْتَحَقِّ إِذَا اسْتُحِقَّ بَعْضُهُ نو [د کُل د استحقاق په صورت کي] به مدعي په کل [ټوله حصه] کي د دعویٰ وطرف ته رجوع کوي يا که چيري د هغه څه حصه مستحق وخيږي نو د مستحق شُده حصې په اندازه به رجوع کوي لِأَنَّ الْمُبْدَلَ فِيهِ هُوَ الدَّعْوٰى ځکه چي مبدل په دې کي دعویٰ ده [په بله وينا: ځکه د کوم شي په باره کي چي بدل (عوض) ورکول سوی دی هغه دعویٰ ده] وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا بَاعَ مِنْهُ عَلَى الْإِنْكَارِ شَيْئًا او دا حکم د هغه صورت په خلاف دی کله چي مدعیٰ علیه د انکار باوجود پر هغه یو شی خرڅ کړي حَيْثُ يَرْجِعُ بِالْمُدَّعٰى ځکه [په دې صورت کي به [هغه مدعی بهٖ [ادعوه داره شی] واپس اخلي لِأَنَّ الْإِقْدَامَ عَلَى الْبَيْعِ إِقْرَارٌ مِنْهُ بِالْحَقِّ لَهُ ځکه چي پر بيع د مدعیٰ علیه اقدام کول د مدعي د حق اقرار کول دي وَلَا كَذٰلِكَ الصُّلْحُ او صلح داسي نه ده لِأَنَّهُ قَدْ يَقَعُ لِدَفْعِ الْخُصُومَةِ ځکه چي صلح کله د خصومت ليري کولو لپاره هم واقع کيږي وَلَوْ هَلَكَ بَدَلُ الصُّلْحِ قَبْلَ التَّسْلِيمِ او که [مدعي ته [له ورسپارلو څخه مخکي د صلح بدل [عوض [هلاک سي فَالْجَوَابُ فِيهِ كَالْجَوَابِ فِي الْاِسْتِحْقَاقِ فِي الْفَصْلَيْنِ نو د دې حکم هغه دی کوم چي د استحقاق دی [د اقرار او انکار [ په دواړو صور تونو کي.

**اللغات**: ﴿مُصالَح عنه﴾ د کوم شي په هکله چې صلح وسي، هغه ته مصالح عنه ووايي، مثال يې د کتاب الصلح په شروع کې تېر سو. ﴿استحقاق﴾ د استفعال د باب مصدر دی، مراد ځنې مستحق ختل دي، حق ثابتېدل، مستحق ثابتېدل. ﴿خصومة﴾ جنګ، دعویٰ (دعوه). ﴿يستردهُ﴾ د استفعال مضارع ده: واپس اخيستل. ﴿إقدام﴾ د افعال د باب مصدر دی: وړاندېتوب کول، په يو کار لاس پوري کول. ﴿تسليم﴾ د تفعيل مصدر دی: ورسپارل.

**تشريح**: په دې عبارت کې څو مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که چيري صلح مع الاقرار وي، مثلاً مدعي دعویٰ وکړي چې دا کور زما دی، او مدعیٰ عليه د هغه د دعوې اقرار وکړي او د کور په هکله پر مال صلح ور سره وکړي، بيا يو بل څوک د مصالح عنه يعني د کور په يوه حصه کي خپل استحقاق ثابت کړي (يعني په حجت او بيّنه سره دا ثابته کړي چې په دې کور کي دومره حصه زما ده)، نو مدعیٰ عليه به د هغې حصې په اندازه عوض له مدعي څخه واپس اخلي (مثلاً که مدعیٰ عليه په صلح کي مدعي ته سل درهمه مال ورکړی وي بيا بل څوک د نيم کور مستحق وخيژي يعني په نيم کور کي خپل استحقاق ثابت کړي، نو مدعیٰ عليه به له مدعي څخه پنځوس درهمه واپس اخلي)؛ ځکه چې صلح مع الاقرار په حقيقت کي د بيع په څېر مطلق معاوضه ده، او په معاضه کي همدا حکم دی چې د مستحق ختلو (استحقاق ثابتېدلو) په صورت کي رجوع د مستحق شُده حصې په اندازه وي.

وإن وقع الصلح عن سکوت إلخ: (۲)... او که چيري صلح معَ السکوت يا صلح مع الانکار وي، بيا مدعیٰ بهٖ (دعویٰ داره شی) د بل چا مستحق وخيژي، مثلاً د خالد په قبضه کي يو کور وي او زيد په هغه دعویٰ وکړي چې دا کور زما دی، او خالد له دې څخه انکار وکړي يا چپ پاته سي، بيا د زيد سره پر سل درهمو صلح وکړي، تر دې وروسته هغه کور د بل چا مثلاً د حامد مستحق وخيژي، نو په دې صورت کي حکم دا دی چې زيد له خالد څخه کوم سل درهمه اخيستي وه هغه به خالد ته واپس کوي او د مستحق کس (حامد) سره به خصومت او دعویٰ کوي، ځکه خالد په دې وجه زيد ته سل درهمه ورکړي وه چې جنګ او خصومت ختم سي او د هغه سره مدعیٰ بهٖ (کور) بلا خصومته پاته سي، ليکن کله چې هغه د بل چا مستحق وختی، نو د خالد (مدعیٰ عليه) مقصد حاصل نه سو، همدارنګه دا هم ښکاره سوه چې د خالد سره د زيد خصومت او دعویٰ بې ځايه وه، نو ځکه به خالد له زيد څخه هغه سل درهمه واپس اخلي او تر دې وروسته به زيد د مستحق کس (حامد) سره په خصومت او دعویٰ شروع کوي، ځکه چې اوس هغه د مدعیٰ عليه (خالد) قائم مقام دی.

(۳)... او كه د صلح مع الانكار يا مع السكوت په صورت كي د مدعىٰ بهٖ (كور) بعضي حصه مستحق وخيږي، نو مدعي به د مستحق شُده حصې په اندازه عوض (بدل صلح) مدعىٰ عليه ته واپس كوي، ځكه چي په هغومره مقدار كي د مدعىٰ عليه مقصد حاصل نه سو، او تر دې وروسته به مدعي په هغومره حصه او مقداره كي د مستحق كس سره خصومت او دعوىٰ كوي.

ولو استحق المصالح عليه إلخ: (۴)... او كه مصالح عليه يعني "بدل صلح" ديو چا مستحق وخيږي، مثلاً مدعي په يو موټر دعوىٰ وكړي چي دا موټر زما دی، او مدعىٰ عليه د هغه موټر په هكله د مدعي سره پر يو دوكان صلح وكړي او په مدعي دعوىٰ پرېږدي (خوله يې وربنده كړي)، بيا هغه دوكان (بدلِ صلح) د بل چا مستحق وخيږي (يعني بل څوك دعوىٰ وكړي چي دا دوكان زما دی او خپل استحقاق ثابت كړي)، نو مدعي به د خپل دعوې وطرف ته رجوع كوي، يعني بيا به دعوىٰ شروع كوي، كه چيري ټوله بدل صلح (ټوله دوكان) مستحق وخيږي نو مدعي به د ټوله مصالح عنه (ټوله موټر) دعوىٰ كوي و كه د بدل صلح بعضي حصه مستحق وخيږي نو مدعي به د هغه (موټر) د بعضي حصې دعوىٰ كوي؛ ځكه مدعي خپل دعوىٰ په دې وجه پرې ايښې وه چي د هغه په قبضه كي بدل (كوم چي دلته دوكان دی) صحيح سالم راسي يا پله وينا دا چي هغه ته د دعوې پرېښوولو په بدله كي صحيح سالم بدل وركول سوی دی (ځكه هغه ته مدعىٰ عليه ويلي دي چي په دې بدل [دوكان] كي د هيچا حق نسته)، لهذا كله چي بدل (دوكان) د بل چا مستحق وخيږي، نو ځكه اوس به مدعي د مبدل يعني د دعوې وطرف ته رجوع كوي.

وهذا بخلاف إلخ: دا پورتنی حكم په هغه صورت كي دی كله چي په صلح كي د بيع (خرڅولو) لفظ ذكر نه سي، لېكن په هغه كي د بيع يادونه وسي، مثلاً مدعي پر مدعي عليه د موټر دعوىٰ وكړي لېكن مدعىٰ عليه د هغه انكار وكړي او بيا مدعىٰ عليه د بيع په لفظ د مدعي سره پر يو پُسه صلح وكړي، په دې توګه چي مدعىٰ عليه ووايي "بِعْتُ مِنْكَ هٰذَا الشَّاةَ بِهٰذِهِ السَّيَّارَة" (ما دې موټر په عوض كي پر تا دا پُسه خرڅ كړی)، اوس كه هغه پُسه د بل چا مستحق وخيږي، نو په دې صورت كي به مدعي له مدعىٰ عليه څخه هغه دعوه داره موټر واپس اخلي، او د دعوې وطرف ته د رجوع كولو ضرورت نسته؛ ځكه چي پر بيع اقدام كول يعني د موټر په عوض كي پُسه وركول او د بيع لفظ استعمالول د مدعىٰ عليه له طرفه د مدعي د حق اقرار دی (يعني هغه د مدعي د حق اقرار كوي) چي د مدعي دعوىٰ صحيح ده او هغه د موټر حقداره دی، حال دا چي د صلح په صورت كي د مدعي حقداره كېدل ضروري نه دي، او په صلح

کولو سره دا نه لازميږي چي مدعیٰ عليه د مدعي د حق اقرار کوي؛ ځکه صلح ځيني وخت صرف د خصومت او دعوې ختمولو لپاره هم کيږي.

ولوهلك إلخ: فرمايي که چيري بدل صلح (مثلا دوکان يا پيسه) ضايع سي مخکي تر دې چي مدعیٰ عليه هغه مدعي ته وسپاري، نو ضايع کېدل (هلاکېدل) د مستحق ختلو په درجه کي دي، يعني د صلح مع الاقرار او مع السکوت په صورتونو کي چي کوم حکم د استحقاق دی، په دې صورتونو کي هغه حکم د بدل صلح د ضايع کېدلو هم دی.

## د مبهمي دعوې په هکله صلح کول

قَالَ: وَإِنِ ادَّعَىٰ حَقًّا فِي دَارٍ فرمايي: او که مدعي په يو کور کي د حق دعویٰ وکړي وَلَمْ يُبَيِّنْهُ ليکن د هغه تفصيل بيان نه کړي فَصُولِحَ مِنْ ذٰلِكَ ثُمَّ اسْتُحِقَّ بَعْضُ الدَّارِ بيا له هغه شخصه صلح وسي تر دې وروسته د کور بعضي حصه [د بل چا] مستحق وخيږي لَمْ يَرُدَّ شَيْئًا مِنَ الْعِوَضِ نو مدعي به [د صلح] له عوض څخه هيڅ شی نه واپس کوي لِأَنَّ دَعْوَاهُ يَجُوزُ أَنْ يَكُونَ فِيمَا بَقِيَ ځکه کېدای سي چي د هغه دعویٰ په ما بقي کور کي وي بِخِلَافِ مَا إِذَا اسْتُحِقَّ كُلُّهُ په خلاف د هغه صورت کله چي ټوله کور مستحق وخيږي لِأَنَّهُ يَعْرَى الْعِوَضُ عِنْدَ ذٰلِكَ عَنْ شَيْءٍ يُقَابِلُهُ ځکه په دې صورت کي عوض له داسي شي څخه خالي دی کوم چي د هغه په مقابله کي وګرځي فَيَرْجِعُ بِكُلِّهِ نو ځکه مدعیٰ عليه به خپل ټوله عوض واپس اخلي عَلَىٰ مَا قَدَّمْنَاهُ فِي الْبُيُوعِ لکه مخکي چي موږ په "بيوع" کي ذکر کړه وَلَوِ ادَّعَىٰ دَارًا او که څوک په يو کور دعویٰ وکړي فَصَالَحَ عَلَىٰ قِطْعَةٍ مِنْهَا بيا مدعیٰ عليه د کور پريوه ټوټه [د مدعي سره] صلح وکړي لَمْ يَصِحَّ الصُّلْحُ نو دا صلح نه صحيح کيږي لِأَنَّ مَا قَبَضَهُ مِنْ عَيْنِ حَقِّهِ ځکه مدعي چي پر کومه حصه قبضه کړې ده هغه د مدعي له عين حق څخه ده وَهُوَ عَلَىٰ دَعْوَاهُ فِي الْبَاقِي او هغه په ما بقي کور کي پر خپل دعویٰ قائم پاته دی وَالْوَجْهُ فِيهِ أَحَدُ الْأَمْرَيْنِ او د دې صلح په جائز کېدلو له دې دوو کارونو څخه يو کار وجهه جوړېدای سي [په بله وينا، او په دې دوو طريقو کي په يوه طريقه سره د دغه صلح جواز ته حيله جوړېدای سي] إِمَّا أَنْ يَزِيدَ دِرْهَمًا فِي بَدَلِ الصُّلْحِ [۱] يا مدعیٰ عليه دې د صلح په بدل [عوض] کي يو درهم اضافه کړي فَيَصِيرَ ذٰلِكَ عِوَضًا عَنْ حَقِّهِ فِيمَا بَقِيَ نو

دا به په ما بقي کور کي د هغه د حق عوض وګرځي أَوْ يُلْحِقَ بِهِ ذِكْرَ الْبَرَاءَةِ عَنْ دَعْوَى الْبَاقِيْ [۲] يا دي د دغه صلح سره له ما بقي کور څخه د برائت ذکر لاحق کړي [په بله وينا: يا دي د "بدل صلح" تر ورکولو وروسته له مابقي څخه برائت ښکاره کړي].

**اللغات:** ﴿لم يبيّنه﴾ د تفعيل د باب جحد صيغه ده: بيانول، وضاحت کول. ﴿يعرى﴾ د فتح د باب مضارع ده: خالي کېدل. ﴿يلحق﴾ د افعال د باب مضارع ده: لاحق کول، متصل کول (ور سره يو ځای کول).

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که د خالد په قبضه کي يو کور وي او زيد دعویٰ وکړي چي په دې کور کي زما حصه هم شته، لېکن هغه د خپلي حصې تفصيل بيان نه کړي چي کومه حصه ده او څومره ده؟. بيا مدعیٰ عليه د هغه کور پر يوه حصه د مدعي سره صلح وکړي او مدعي هغه واخلي، نو اوس که د هغه کور بعضي حصه د بل چا مستحق وخيږي، نو مدعي به له عوض (اخيستل سوي حصې) څخه لږ غوندي هم مدعیٰ عليه ته نه واپس کوي؛ ځکه چي د مدعي دعویٰ په غير مُتعيّنه (نامعلومه) حصه کي ده، نو ځکه کېدای سي چي د کور په نا مستحق شُده (غيرِ مستحَق) حصه کي د هغه دعویٰ وي او هغه د عوض په اخيستلو کي پر حق وي، نو ځکه په دې صورت کي به هغه له عوض څخه هيڅ شی نه واپس کوي، ها! که چيري ټوله کور مستحق وخيږي، نو بيا به مدعي ټوله عوض (اخيستل سوې حصه) واپس کوي، کنې عوض به له معوض او مبدل څخه خالي سي، او له معوض څخه د عوض خالي کېدل صحيح نه دي.

او که مدعي ووايي چي دا کور زما دی او مدعیٰ عليه د هغه کور يوه ټوټه مدعي ته ورکړي او صلح ور سره وکړي، نو دا صلح نه صحيح کيږي، ځکه چي په دې صورت کي مدعي د ټوله کور دعویٰ کړې ده، او پر کومه حصه (ټوټه) چي هغه قبضه کړې ده يعني کومه ټوټه چي مدعیٰ عليه هغه ته ورکړې ده، هغه هم د مدعي حق او حصه ده، لهٰذا په مابقي کور کي به د هغه دعویٰ باقي پاته وي، او کله چي دعویٰ باقي ده نو صلح به څنګه صحيح سي.

**والوجه فيه إلخ:** فرمايي مذکوره صلح (يعني د قطعه دار صُلح) په لاندينی دوو طريقو کي په يوه طريقه سره صحيح کېدای سي: ① يو دا چي مدعیٰ عليه دي په بدل صلح کي يو درهم اضافه کړي او داسي دي ووايي چي "دا درهم د مابقي کور عوض دی"، ② يا دي د بدل صلح تر ورکولو وروسته له مابقي کور څخه د برائت اظهار وکړي او دا دي ووايي چي "اوس په دې کي ستا حق نسته" (يا داسي نور)، نو په دې صورت کي مذکوره صلح صحيح ګرځي. (احسن الهدايه)



# فَصْـلٌ

دا فصل د هغه شيانو په بيان کې دی چې د هغوی په هکله صلح کول جائز دي او هغه چې د هغوی په هکله صلح کول ناجائز دي

## د کومو شيانو په هکله صلح کول جائز دي؟ (د مال د دعوې په هکله صلح کول)

| |
|---|
| وَالصُّلْحُ جَائِزٌ عَنْ دَعْوَى الْأَمْوَالِ او د مالونو د دعوې په هکله صلح کول جائز دي لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الْبَيْعِ ځکه چې دا صلح د بيع په معنیٰ سره ده عَلَى مَا مَرَّ لکه مخکې چې تېر سوه وَالْمَنَافِعِ او د منافعو د دعوې په هکله [صلح کول هم جائز دي] لِأَنَّهَا تُمْلَكُ بِعَقْدِ الْإِجَارَةِ ځکه چې منافع په عقد اجاره سره مملوک کيږي فَكَذَا بِالصُّلْحِ نو همداسې به په صلح سره هم [هغوی مملوک کيږي] وَالْأَصْلُ أَنَّ الصُّلْحَ يَجِبُ حَمْلُهُ عَلَى أَقْرَبِ الْعُقُودِ إِلَيْهِ وَأَشْبَهِهَا بِهِ او اصل دا دی چې صلح پر هغه عقد حمل کول ضروري دي کوم چې صلح ته زيات نژدې وي او کوم چې د صلح سره زيات مشابه وي احْتِيَالًا لِتَصْحِيحِ تَصَرُّفِ الْعَاقِدِ مَا أَمْكَنَ د دې لپاره چې حتی الامکان د عاقد د تصرف صحيح کولو ته حيله جوړه سي. |

**اللغات**: ﴿احتيال﴾ د افتعال د باب مصدر دی: حيله کول، حيله جوړول، چل او تدبير کول. ﴿تصحيح﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: صحيح کول، صحيح گرځول. ﴿أمكن﴾ د افعال د باب ماضي ده: ممکن کېدل، ما أمكن: تر څو چې ممکنه وي، حتی الامکان.

**تشريح**: **مسئله**: دا ده که مدعي د مال دعویٰ وکړي نو د هغه په هکله صلح کول جائز دي، مثلاً که ادريس دعویٰ وکړي چې پر نعمان زما سل درهمه باندې دي او بيا ادريس د هغه سل درهمو په هکله د نعمان سره مثلاً پر شل درهمو صلح وکړي چې دا شل درهمه وخله او بيا نوغ مه لره!، نو دا صلح جائز ده: ځکه چې د مال د دعوې په هکله صلح کول د بيع په معنیٰ سره دي، او پر مال بيع کول جائز دي نو ځکه صلح کول به هم جائز وي. همدارنگه که مدعي د منافعو دعویٰ وکړي نو د هغه په هکله هم صلح کول جائز دي، مثلاً که نعمان دعویٰ وکړي چې فلانکي سړي زما لپاره په دې کور کې تر يوه

کال پوري د اوسېدلو وصيت کړی دی (يعني فلانکي مړي ويلي دي چي ته زما په دې کور کي يو کال و اوسېږه!)، او د مړي وارثان د نعمان سره پر څه مال صلح وکړي، نو دا صلح جائز ده؛ ځکه چي د عقد اجاره په ذريعه د منافعو (اوسېدلو او داسي نورو) عوض اخيستل جائز دي، نو ځکه د عقد صلح په ذريعه به هم د منافعو عوض اخيستل جائز وي.

الأصل أن الصلح إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د منافعو، قرضونو او داسي نورو د دعوې په هکله د صلح کولو اصل قاعده دا ده چي (کله يو اشکال وي نو) صلح پر داسي عقد حمل کول پکار دي کوم چي صلح ته زيات نژدې وي او د هغه سره زيات مشابه وي، د دې لپاره چي تر څو ممکنه وي په يو حيله سره د عاقد (صلح کونکي) فعل صحيح وګرځول سي، لهذا که ممکنه وي، نو صلح به د بيع په معنىٰ سره اخيستل کيږي، کنې د اجارې په معنىٰ سره يا د عفو او برائت په معنىٰ سره به اخيستل کيږي. (اشرف الهدايه)

(لکه څرنګه چي په "باب الصلح في الدين" کي همدا قاعده جاري سوي ده، چي هغه به څه وروسته راسي)

## د قصاص او ديت په هکله صلح کول

قَالَ: وَيَصِحُّ عَنْ جِنَايَةِ الْعَمْدِ وَالْخَطَأِ فرمايي: د قتلِ عمد او قتلِ خطاء د جرم په هکله صلح کول [هم] صحيح دي أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: ﴿فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ﴾ کوم چي اول [يعني قتلِ عمد] دی نو د الله تعالىٰ د دې فرمان په وجه [د هغه په هکله صلح کول صحيح دي]: "او څوک چي معاف کړی سي د خپل ورور [مقتول] له طرفه څه هم نو..." قَالَ: ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: إِنَّهَا نَزَلَتْ فِي الصُّلْحِ ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي: چي دا آيت د صلح په باره کي نازل سوی دی وَهُوَ بِمَنْزِلَةِ النِّكَاحِ او دا صلح د نکاح په درجه کي ده حَتَّىٰ أَنَّ مَا صَلُحَ مُسَمًّى فِيهِ صَلُحَ بَدَلًا هٰهُنَا تر دې چي کوم شی په نکاح کي د مهر جوړېدلو صلاحيت لري هغه دلته د بدل [عوض] جوړېدلو صلاحيت لري إِذْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مُبَادَلَةُ الْمَالِ بِغَيْرِ الْمَالِ ځکه چي دا صلح او نکاح دواړه مبادلة المال بغير المال دي إِلَّا أَنَّ عِنْدَ فَسَادِ التَّسْمِيَةِ هٰهُنَا يُصَارُ إِلَى الدِّيَةِ لېکن دلته [په صلح کي] د تسميه [مهر ټاکلو] د فاسدېدلو په صورت کي د ديت وطرف ته رجوع کيږي لِأَنَّهَا مُوجَبُ الدَّمِ ځکه چي همدا ديت د قتل مُوجب دی وَلَوْ صَالَحَ عَلَىٰ خَمْرٍ او که چيري پر شراب صلح وکړي لَا يَجِبُ شَيْءٌ نو

هیڅ شی نه واجبیږي لِأَنَّهُ لَا يَجِبُ بِمُطْلَقِ الْعَفْوِ ځکه چې په مطلق عفو کې هیڅ شی نه واجبیږي وَفِي النِّكَاحِ يَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ فِي الْفَصْلَيْنِ او په نکاح کې په دواړو صورتونو کې مهر مثل واجبیږي لِأَنَّهُ الْمُوجَبُ الْأَصْلِيُّ ځکه چې همدا مهر مثل مُوجب اصلي دی وَيَجِبُ مَعَ السُّكُوتِ عَنْهُ حُكْمًا او د مهر په باره کې د چپ‌پدلو [یعني د مهر نه ذکر کولو] په وخت کې هم حکماً مهر مثل واجبیږي وَيَدْخُلُ فِي إِطْلَاقِ جَوَابِ الْكِتَابِ الْجِنَايَةُ فِي النَّفْسِ وَمَا دُونَهَا او د قدوري [متن] په مطلق حکم کې جنایت فی النفس [قتل] او جنایت ما دون النفس [قطع الید] دواړه داخل دي وَهٰذَا بِخِلَافِ الصُّلْحِ عَنْ حَقِّ الشُّفْعَةِ عَلَى مَالٍ او دا د هغه صلح په خلاف دي کوم چې د حق شفعه په هکله پر مال وسي حَيْثُ لَا يَصِحُّ ځکه هغه [یعني پر مال د حقِ شفعه په هکله صلح کول] صحیح نه دي لِأَنَّهُ حَقُّ التَّمَلُّكِ ځکه چې حق شفعه د تملک حق دی [یعني د شفعي حق په مبیع (عقار) کې د ملکیت حاصلولو حق دی] وَلَا حَقَّ فِي الْمَحَلِّ قَبْلَ التَّمَلُّكِ او له ملکیت حاصلېدلو څخه مخکې په محل کې هیڅ حق نسته وَأَمَّا الْقِصَاصُ فَمِلْكُ الْمَحَلِّ فِي حَقِّ الْفِعْلِ او پاته سو قصاص نو هغه د فعل [قصاص] په حق کې د ملکیت محل دی فَيَصِحُّ الِاعْتِيَاضُ عَنْهُ نو ځکه د هغه په هکله عوض اخیستل صحیح دي وَإِذَا لَمْ يَصِحَّ الصُّلْحُ او کله چې [د حق شفعه په هکله] صلح صحیح نه ده تَبْطُلُ الشُّفْعَةُ نو شفعه به باطلیږي لِأَنَّهَا تَبْطُلُ بِالْإِعْرَاضِ وَالسُّكُوتِ ځکه چې شفعه په اعراض او سکوت کولو سره باطلیږي وَالْكَفَالَةُ بِالنَّفْسِ بِمَنْزِلَةِ حَقِّ الشُّفْعَةِ او کفاله بالنفس [د یو چا د نفس حاضرولو کفیل کېدل] د حق شفعه په درجه کې دي حَتَّى لَا يَجِبَ الْمَالُ بِالصُّلْحِ عَنْهُ تر دې چې د کفاله بالنفس په هکله په صلح کولو سره مال نه واجبیږي غَيْرَ أَنَّ فِي بُطْلَانِ الْكَفَالَةِ رِوَايَتَيْنِ خو د کفالې د باطلېدلو په باره کې دوه روایتونه دي عَلَى مَا عُرِفَ فِي مَوْضِعِهِ لکه څرنګه چې په خپل ځای [یعني په مبسوط] کې معلوم سوي دي وَأَمَّا الثَّانِي وَهُوَ جِنَايَةُ الْخَطَإِ فَلِأَنَّ مُوجَبَهَا الْمَالُ او پاته سو دویم یعني جنایت خطاء [قتلِ خطاء] نو [د هغه په هکله صلح کول په دې وجه صحیح دي] ځکه چې د جنایت خطاء مُوجب مال دی فَيَصِيرُ بِمَنْزِلَةِ الْبَيْعِ نو ځکه [د هغه په هکله صلح کول] به د بیع په درجه کې وي إِلَّا أَنَّهُ لَا تَصِحُّ الزِّيَادَةُ عَلَى قَدْرِ الدِّيَةِ لیکن د

ديت پر مقدار زياتوب [اضافه] كول صحيح نه دي لِأَنَّهُ مُقَدَّرٌ شَرْعًا ځکه چي ديت شرعاً مُتعيّن [تاكل سوى] دى فَلَا يَجُوزُ إِبْطَالُهُ لهذا د هغه باطلول صحيح نه دي فَيُرَدُّ الزِّيَادَةُ نو ځکه زياتوب به واپس كيږي بِخِلَافِ الصُّلْحِ عَنِ الْقِصَاصِ په خلاف د قصاص په هکله د صلح كولو حَيْثُ تَجُوزُ الزِّيَادَةُ عَلَى قَدْرِ الدِّيَةِ ځکه [په هغه كي] د ديت پر مقدار زياتوب كول جائز دي لِأَنَّ الْقِصَاصَ لَيْسَ بِمَالٍ ځکه چي قصاص [متقوّم] مال نه دی وَإِنَّمَا يَتَقَوَّمُ بِالْعَقْدِ او هغه صرف په عقد سره متقوّم [قيمتداره] كيږي وَهٰذَا إِذَا صَالَحَ عَلَى أَحَدِ مَقَادِيرِ الدِّيَةِ او دا [حكم] په هغه صورت كي دى كله چي د ديت له مقدارونو څخه پر يو مقدار صلح وكړي أَمَّا إِذَا صَالَحَ عَلَى غَيْرِ ذٰلِكَ او كه له هغه څخه بغير پر بل شي صلح وكړي جَازَ نو [هم] جائز دي لِأَنَّهُ مُبَادَلَةٌ بِهَا ځکه چي دا په ديت سره مبادله ده [په بله وينا: ځکه چي دا ديت بدل دى] إِلَّا أَنَّهُ يُشْتَرَطُ الْقَبْضُ فِي الْمَجْلِسِ كَيْلَا يَكُونَ افْتِرَاقًا عَنْ دَيْنٍ بِدَيْنٍ لېكن په مجلس كي دننه [د صلح پر بدلو] قبضه كول شرط دي د دې لپاره چي جدايي له قرض څخه د قرض په عوض كي نه وي وَلَوْ قَضَى الْقَاضِي بِأَحَدِ مَقَادِيرِهَا او كه چيري قاضي د ديت د يو مقدار فيصله وكړي فَصَالَحَ عَلَى جِنْسٍ آخَرَ مِنْهَا بِالزِّيَادَةِ او قاتل له هغه مقدار څخه بغير پر بل جنس د زياتوب سره صلح وكړي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّهُ تَعَيَّنَ الْحَقُّ بِالْقَضَاءِ ځکه چي د قاضي په فيصله سره حق مُتعيّن سو فَكَانَ مُبَادَلَةً نو دا به مبادله [تبادله] وي بِخِلَافِ الصُّلْحِ ابْتِدَاءً په خلاف [پر بل جنس په زياتوب سره] د ابتداءً صلح كولو لِأَنَّ تَرَاضِيَهُمَا عَلَى بَعْضِ الْمَقَادِيرِ بِمَنْزِلَةِ الْقَضَاءِ فِي حَقِّ التَّعْيِينِ ځکه چي پر يوه مقدار د دواړو صلح كونكو راضي كېدل د مُتعيّن كولو په هکله د قاضي د فيصلې په درجه كي دي فَلَا تَجُوزُ الزِّيَادَةُ عَلَى مَا تَعَيَّنَ لهذا كوم څه چي [په شرع] سره مُتعيّن وي پر هغه به زياتوب كول جائز نه وي [په بله وينا: نو ځکه د شريعت پر مُتعيّن سوي مقدار به اضافه كول جائز نه وي].

**اللغات**: ﴿جناية﴾ جرم، گناه، مراد ځني قتل دى، ﴿عمد﴾ قصداً، ﴿مسى﴾ د تفعيل د باب مفعول دى: نومول سوى، مقرر شده، ټاكل سوى مهر، ﴿موجب﴾ د افعال د باب مفعول دى: واجب كړى سوى. ﴿اعتياض﴾ د افتعال د باب مصدر دى: عوض اخيستل، ﴿إعراض﴾ د افعال د باب مصدر

دی: مخ اړول (روګرداني کول)، توجه نه کول. ﴿مُقَدّر﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: مُتعین، ټاکل سوی، اندازه کړی سوی.

**تشریح: صورت د مسئلې**: دا دی که یو څوک عمداً یا خطاءً قتل وکړي، نو پر هغه قصاص لازم دی، لېکن که دا قاتل د مقتول په ولیانو (وارثانو) کې یوه ولي ته څه مال ورکړي چې "ته د خپلې حصې قصاص را معاف کړه" (ماوبخښه!)، نو د یوه ولي په معافولو (بخښلو) سره د باقي ولیانو په حق کې هم قصاص ساقطیږي، یعني اوس هغوی له قاتل څخه قصاص نه سي اخیستلای بلکې هغوی به هم مال (دیت) اخلي؛ دلیل د قرآن کریم دا آیت دی ﴿فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ﴾ [سورة البقرة: ۱۷۸]، که چا ته د خپل ورور (مقتول) له طرفه عفوه وکړی سي څه هم، یعني که د مقتول له وارثانو څخه صرف یو وارث قاتل معاف کړی، نو باقي وارثانو ته پکار دي چې په معروفه او ښه طریقه سره د قاتل مؤاخذه وکړي (یعني له هغه څخه دي مال [دیت] واخلي) او قاتل ته پکار دي چې په احسان سره کما حقهٗ مال (دیت) اداء کړي. رئیس المفسرین سیدنا حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمایلي دي چې دا آیت د صلح عن القصاص په باره کې وارد سوی دی او په همدې آیت سره د قتلِ عمد په هکله د صُلح کولو جواز ثابت سوی دی. او دا صلح د نکاح په درجه کې ده؛ ځکه څرنګه چې نکاح مبادلةُ المال بغیر المال ده، همداسې دا هم مبادلةُ المال بغیر المال ده. او کوم شی چې په نکاح کې مهر جوړېدای سي، هغه په صلح کې بدل (بدلِ صلح) جوړېدای سي لېکن فرق دا دی چې که په ټاکل سوي بدل (بدلِ صلح) کې فساد راسي، نو دیت واجبیږي، ځکه چې په دې باره کې دیت اصل دی. او که چیري پر خنزیر یا شرابو صلح وسي، نو هیڅ شی نه واجبیږي؛ ځکه چې خنزیر او شراب د مسلمان په حق کې متقوّم (قیمت لرونکی) مال نه دي، لهذا په صلح کې د هغوی ټاکل (ذکر کول) او نه ټاکل سره برابر دي، او تاسو ته معلومه ده چې که بدل صلح نه وټاکل سي نو پر صلح کونکي هیڅ شی نه واجبیږي، لهذا که خنزیر او شراب بدل صلح وټاکل سي، نو په دې صورت کې به هم پر صلح کونکي (قاتل) هیڅ شی نه واجبیږي. لېکن که په نکاح کې په ټاکل سوي مهر کې فساد راسي مثلاً خنزیر او شراب په مهر کې وټاکل سي، نو په دواړو صورتونو کې مهرِ مثل واجبیږي؛ ځکه چې په نکاح کې مهرِ مثل اصل دی.

**وهذا بخلاف إلخ**: د دې حاصل دا دی چې که مدعیٰ علیه د شفعې مستحق کس ته څه مال ورکړي او د هغه سره پر دې مال صلح وکړي چې ته د شفعې د حق دعویٰ مه کوه!، نو دا صلح صحیح نه ده؛ ځکه چې صلح د هغه چا سره کیږي کوم چې د مصالح علیه یا مصالح عنه مالک وي، حال دا چې شفیع

هغه وخت د کور مالک کیږي کله چي په شفعه کي کور واخلي، تر هغه مخکي صرف د مالک کېدلو حقدار وي، او د صلح لپاره مالک کېدل ضروري دي، صرف په مستحق کېدلو سره کار نه کيږي، او پاته سو قصاص نو په هغه کي د مقتول وليانو لره د قاتل پر نفس (ذات) ملکيت حاصل وي، نو ځکه په قصاص کي صلح صحيح ده لېکن په شفعه کي صحيح نه ده.

او د شفعي په څېر په کفاله بالنفس کي هم صلح صحيح نه ده، يعني که يو سړی د دې کفيل (ضامن) جوړ سي چي زه فلاکی کس (مدعیٰ عليه) د قاضي مجلس ته حاضروم (د هغه حاضرول پر ما دي)، بيا هغه کس (مدعیٰ عليه) د کفيل سره پر څه مال صلح وکړي چي "ته ما د قاضي مجلس ته مه حاضروه!" او کفيل د مال په لالچ کي د حاضرولو له ضمانت (ذمه واری) څخه برائت ښکاره کړي، نو دا صلح هم نه صحيح کيږي، او د کفالې د بطلان په هکله دوه روايتونه نقل سوي دي: ① د ابو حفص رَحِمَهُ الله روايت دا دی چي کفاله باطليږي، همدا مفتیٰ بهٖ قول دی، ② د ابو سليمان رَحِمَهُ الله روايت دا دی چي کفاله نه باطليږي. (نهايه، بنايه)

وأما الثاني إلخ: فرمايي د قتلِ خطاء په هکله پر مال او داسي نورو صلح کول ځکه صحيح دي چي په قتلِ خطاء کي پر قاتل صرف مال (ديت) واجبيږي او کله چي په قتلِ خطاء کي صلح وسي نو هغه د بيع په حکم سره ګرځي. لېکن د قتلِ خطاء په هکله په صلح کولو کي دا ضروري ده چي بدل صلح به له ديت څخه کم يا د هغه سره برابر وي، او د ديت پر مقدار زياتوب کول جائز نه دي؛ ځکه شريعت د قتلِ خطاء په ديت (ضمان) کي درې مقدارونه ټاکلي دي: ① زر ديناره ② يا لس زره درهمه ③ يا سل اوښان، لهذا بدل صلح له دې مقدار څخه زياتول صحيح نه دي. مګر د قصاص په هکله په صلح کولو کي بدل صلح له ديت څخه زياتول صحيح دي؛ ځکه چي قصاص مال نه وي او هغه صرف د عقد (صلح) په وجه مال ګرځي، لهذا په قصاص کي که فريقين په خپله رضا سره کوم مقدار هم وټاکي، هغه به صحيح وي، که څه هم هغه له ديت څخه زيات (اضافه) وي.

وهذا إذا صالح إلخ: د دې حاصل دا دی چي له ديت څخه پر زائد مقدار د صلح نه جائز کېدل په هغه صورت کي دي کله چي قاتل د ديت له مقدارنو (① زر ديناره، ② لس زره ديناره، ③ سل اوښان) څخه پر يوه مقدار صلح کړې وي، لېکن که هغه له دې څخه بغير پر بل شي مثلاً پر کَيلي يا وزني شي صلح کړې وي، نو پر زائد (زيات) مقدار صلح کول هم جائز دي؛ ځکه چي له مذکوره شرعي مقدارونو څخه بغير پر بل شي او پر بل مقدار صلح کول په ديت سره تبادله ده او د شريعت په ټاکل سوي مقدار کي زياتوب کول نه دي، نو ځکه به صحيح وي، لېکن په دې صورت کي د عقد په مجلس کي پر بدل صلح د مقتول د وارثانو قبضه کول شرط دي، د دې لپاره چي له قرض څخه د قرض په عوض کي

جدايي را نه سي، ځکه چي ديت پر قاتل قرض (دَين) وي لهذا که د هغه پر بدل (متبادل) قبضه نه وسي نو هغه به هم قرض وګرځي، حالانکي دا صحيح نه دي.

**ولوقضى القاضي إلخ:** مسئله دا ده که قاضي پر قاتل د ديت د يوه مقدار مثلاً د زرو دينارو فيصله وکړي، بيا قاتل پر بل مقدار په زياتوب سره مثلاً پر پنځلس زرو درهمو صلح وکړي، نو دا صلح جائز ده؛ ځکه د قاضي د فيصلې په وجه دلته د مقتول د وارثانو حق په زرو دينارو کي مُتعيّن سو، او تر دې وروسته په پنځلس زرو درهمو سره صلح کول په زرو دينارو سره تبادله ده او دا تبادله صحيح ده. هوا! که چيري د قاضي له فيصلې څخه بغير قاتل او د مقتول وارثان له شروع څخه پر پنځلس زرو درهمو صلح وکړي، نو دا صلح صحيح نه ده؛ ځکه چي په دې سره د شريعت په ټاکل سوي مقدار کي تغيّر او اضافه راځي، نو ځکه صحيح نه ده. همدا وجه که قاضي پر يو قاتل پنځلس زره درهمه ديت مقرر کړي، نو دا هم صحيح نه دي. لهذا کله چي قاضي ته دا اختيار نسته چي د شريعت په ټاکل سوي مقدار کي اضافه وکړي، نو موږ او تاسو ته به څه اختيار وي!. (احسن الهدايه)

## د حدّ او داسي نورو شيانو په هکله صلح کول

قَالَ: وَلَا يَجُوزُ الصُّلْحُ مِنْ دَعْوَى حَدٍّ فرمايي: او د حد د دعوې په هکله صلح کول جائز نه دي لِأَنَّهُ حَقُّ اللهِ تَعَالَى لَا حَقُّهُ ځکه چي حد د الله تعالىٰ حق دی، د بنده حق نه دی وَلَا يَجُوزُ الِاعْتِيَاضُ عَنْ حَقِّ غَيْرِهِ او د بل چا د حق عوض اخيستل جائز نه دي وَلِهَذَا لَا يَجُوزُ الِاعْتِيَاضُ إِذَا ادَّعَتِ الْمَرْأَةُ نَسَبَ وَلَدِهَا او په همدې وجه کله چي ښځه د خپل بچي د نسب دعوىٰ وکړي نو د هغه عوض اخيستل جائز نه دي لِأَنَّهُ حَقُّ الْوَلَدِ لَا حَقُّهَا ځکه چي نسب د بچي حق دی، د ښځي حق نه دی وَكَذَا لَا يَجُوزُ الصُّلْحُ عَمَّا أَشْرَعَهُ إِلَى طَرِيقِ الْعَامَّةِ او همدارنګه د هغه شي په هکله هم صلح کول جائز نه دي کوم چي په عامه لار کي يې جوړ کړی وي لِأَنَّهُ حَقُّ الْعَامَّةِ ځکه چي هغه د عامو خلکو [عوامو] حق دی فَلَا يَجُوزُ أَنْ يُصَالِحَ وَاحِدٌ عَلَى الِانْفِرَادِ عَنْهُ لهذا دا جائز نه دي چي تنها يو کس د هغه په هکله صلح وکړي وَيَدْخُلُ فِي إِطْلَاقِ الْجَوَابِ حَدُّ الْقَذْفِ او د قدوري [متن] په مطلق حکم کي حدّ قذف هم داخل دی لِأَنَّ الْمُغَلَّبَ فِيهِ حَقُّ الشَّرْعِ ځکه چي په هغه کي د شريعت حق غالب دی قَالَ: وَإِذَا ادَّعَى رَجُلٌ عَلَى امْرَأَةٍ نِكَاحًا وَهِيَ تَجْحَدُ فرمايي: او کله چي يو سړی پر يوې ښځي د نکاح دعوىٰ وکړي او ښځه انکار وکړي فَصَالَحَتْهُ عَلَى مَالٍ بَذَلَتْهُ حَتَّى يَتْرُكَ الدَّعْوَى بيا ښځه هغه سړي ته څه مال ورکړي او

پرهغه صلح ور سره وکړي د دې لپاره چي خپله دعوىٰ پرېږدي جَازَ نو دا صلح جائز ده وَكَانَ فِي مَعْنَى الْخُلْعِ او دا صلح به د خلع په معنىٰ سره وي لِأَنَّهُ أَمْكَنَ تَصْحِيحُهُ خُلْعًا فِي جَانِبِهِ بِنَاءً عَلَىٰ زَعْمِهِ وَفِي جَانِبِهَا بَذْلًا لِلْمَالِ لِدَفْعِ الْخُصُومَةِ ځکه چي د خاوند د ګومان [او خيال] مطابق د خاوند په جانب كي هغه [صلح] خلع ګرځول او د ښځي په جانب كي د خصومت دفع کولو په غرض هغه بذل المال [د مال ورکول] ګرځول او [په دې توګه د هغه] صحيح کول ممکن دي قَالُوا: وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَأْخُذَ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ تَعَالَىٰ إِذَا كَانَ مُبْطِلًا فِي دَعْوَاهُ مشايخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي: چي كله يو څوک په خپله دعوىٰ كي درواغجن وي نو دياتناً [فيما بينه بين الله] د هغه لپاره د دې مال اخيستل حلال نه دي قَالَ: وَإِذَا ادَّعَتِ امْرَأَةٌ عَلَىٰ رَجُلٍ نِكَاحًا فرمايي: او كله چي يوه ښځه پر يو سړي د نكاح دعوىٰ وكړي فَصَالَحَهَا عَلَىٰ مَالٍ بَذَلَهُ لَهَا بيا سړى هغې ته څه مال وركړي او پر هغه صلح ور سره وكړي جَازَ نو صلح جائز ده قَالَ: هٰكَذَا ذَكَرَهُ فِي بَعْضِ نُسَخِ الْمُخْتَصَرِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د مختصر القدوري په ځيني نسخو كي يې همداسي ذكر كړي دي وَفِي بَعْضِهَا قَالَ: لَمْ يَجُزْ او په ځيني نسخو كي يې ويلي دي: چي جائز نه دي وَجْهُ الْأَوَّلِ: أَنْ يُجْعَلَ زِيَادَةً فِي مَهْرِهَا د اول قول [يعني د صلح جائز کېدلو] دليل دا دى: چي هغه [د صلح بدل] د ښځي په مهر كي اضافه وګرځول سي وَجْهُ الثَّانِي: أَنَّهُ بَذَلَ لَهَا الْمَالَ لِتَتْرُكَ الدَّعْوَىٰ او د دويم قول دليل دا دى: چي خاوند ښځي ته د دې لپاره مال وركړى دى چي ښځه خپله دعوىٰ پرېږدي فَإِنْ جُعِلَ تَرْكُ الدَّعْوَىٰ مِنْهَا فُرْقَةً اوس كه [د ښځي] دعوىٰ پرېښوول د هغې له طرفه فرقت وګرځول سي فَالزَّوْجُ لَا يُعْطِي الْعِوَضَ فِي الْفُرْقَةِ نو خاوند په فرقت كي عوض نه وركوي وَإِنْ لَمْ يُجْعَلْ او كه هغه فرقت نه وګرځول سي فَالْحَالُ عَلَىٰ مَا كَانَ عَلَيْهِ قَبْلَ الدَّعْوَىٰ نو حال به هغه وي كوم چي له دعوې څخه مخكي وي [يعني ښځه به پر خپله دعوىٰ قائم پاته وي (احسن الهدايه)] فَلَا شَيْءَ يُقَابِلُهُ الْعِوَضُ نو داسي شى به نه وي چي د هغه په مقابله كي [د صلح] عوض راسي [يعني د عوض په مقابله كي به خاوند ته هيڅ شى حاصل نه سي] فَلَمْ يَصِحَّ نو ځكه به صلح صحيح نه وي.

**اللغات**: ﴿اعتياض﴾ د افتعال د باب مصدر دی: عوض اخيستل، بدل اخيستل، ﴿قذف﴾ د ضرب د باب مصدر دی: پر يو چا په درواغه د زنا تهمت لګول. ﴿بذلته﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: خرڅول، ورکول، ﴿مُغلّب﴾ د تفعيل د باب مفعول دی: غالب ګرځول سوی، ﴿الفُرقة﴾ جدايي، د ښځي او خاوند سره جلا کېدل.

**تشريح**: په دې عبارت کي ټوله څلور مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که يو سړی د بل چا مثلاً د زيد په خلاف د زاني يا شرابي يا محدود في القذف کېدلو دعوې کول وغواړي او مجرم (زيد) د هغه سړي سره پر څه مال صلح وکړي (چي ته زما په خلاف دا دعوی پرېږده!)، نو دا صلح جائز نه ده؛ ځکه چي "حدود" د الله تعالیٰ حق دی او د بنده لپاره د هغوی عوض اخيستل صحيح نه دي. لکه څرنګه چي د ښځي لپاره د نسب د دعوې عوض اخيستل صحيح نه دي، مثلاً که يو ښځي ته خاوند طلاق ورکړي او کله چي له هغې څخه بچی پيدا سي نو هغه دعوی وکړي چي زما د دغه بچي نسب د دې خاوند (طلاق ورکونکي) سره ثابت دی، لېکن خاوند د هغې سره پر څه مال صلح وکړي (چي دا دعوی پرېږده!)، نو دا صلح هم صحيح نه ده؛ ځکه چي نسب اوس د بچي حق دی، د ښځي حق نه دی.

(۲)... که يو چا په عامه لار کي بيت الخلاء يا د اوبو ځای جوړ کړی وي، او بيا يو سړی خصومت او دعویٰ وکړي او د هغه د نړولو ېخه اراده وکړي، نو تنها د يوه کس لپاره دا جائز نه دي چي د هغه سړي (مُخاصِم) سره پر څه مال صلح وکړي (چي ته دا مال واخله! او د هغه د نړولو دعویٰ او اراده پرېږده!)؛ ځکه چي اوس هغه ځای (بيتُ الخلاء او داسي نور) د عوامو حق ګرځېدلی دی او د هغه سره د عوامو فايده متعلق ده، لهذا تنها يوه کس ته په هغه کي د تصرف کولو ملکيت او اختيار نسته. (احسن الهدايه)

(۳)... که يو سړی مثلاً نعمان د فاطمې سره د نکاح کولو دعویٰ وکړي (چي ما د فاطمې سره نکاح کړې ده) او فاطمه له نکاح څخه انکار وکړي، بيا هغه د نعمان سره پر څه مال صلح وکړي (چي ته دا مال واخله او د آينده لپاره د نکاح کولو دعویٰ پرېږده!)، نو دا صلح صحيح ده؛ ځکه چي د نعمان د ګومان مطابق فاطمه د هغه ښځه ده، او ښځه که د مال په عوض کي له خاوند څخه خپل ځان خلاصوي نو دا په شريعت کي خلع ده او خلع جائز ده، نو ځکه پورتني صورت به خلع او جائز ګرځول کيږي. لېکن که خاوند ته دا معلومه وي چي زه په خپل قول او دعویٰ کي پر نا حقه او درواغجن يم، نو د هغه لپاره ديانتاً دا مال (بدلِ صلح) اخيستل روا نه دي.

(۴)... كه فاطمه دعوىٰ وكړي چي ادريس زما سره نكاح كړې ده، لېكن ادريس انكار وكړي او هغې ته څه مال وركړي او صلح ور سره وكړي (چي دا مال واخله! او دآينده لپاره د نكاح نعرې مه وهه!)، نو دامام قدوري رَحِمَهُ الله يو قول دا دی چي دا صلح صحيح ده، او په بعضې نسخو كي دويم قول دا ذكر سوی دی چي صحيح نه ده. د اول قول يعني د صلحي د صحيح كېدلو دليل دا دی چي په دې مسئله كي به بدل صلح (مال) د خاوند له طرفه د ښځي په مهر كي اضافه ګرځول كيږي (يعني دا به وېل كيږي چي ګواكي خاوند دا مال هغې ته د زائد مهر په توګه وركړی دی)، د دې لپاره چي د مسلمان كلام د لغو كېدلو څخه محفوظ پاته سي. او د دويم قول يعني د صلحي نه صحيح كېدلو دليل دا دی چي دلته خاوند د همدې لپاره ښځي ته مال وركړی دی چي ښځه خپله دعوىٰ پرېږدي، لېكن كه مورږ دا "ترك الدعوىٰ" (دعوىٰ پرېښوول) د ښځي له طرفه فرقت اختيارول ومنو (يعني كه د هغې دعوىٰ پرېښوول داسي وشمېرل سي چي ګواكي هغې له خاوند څخه فرقت اختيار كړی). نو پرېشاني دا ده چي په فرقت كي خاوند عوض اخلي، وركوي يې نه، حال دا چي دلته خاوند په خپله عوض وركړی دی، نو ځكه دا فرقت ګرځول ممكن نه دي، او د فرقت نه منلو په صورت كي خاوند ته پر مال وركولو هيڅ فايده نه حاصليږي؛ ځكه چي ښځه د مخكي په څېر پر خپله دعوىٰ قائمه ده، نو ځكه دلته غوره همدا ده چي دا صلح باطله وګرځول سي او خاوند چي ښځي ته كوم مال وركړی دی هغه واپس خاوند ته وركول سي. (احسن الهدايه)

## د غلامۍ او آزادۍ په دعوی كي د صلح بيان

قَالَ: وَإِذَا ادَّعٰى عَلٰى رَجُلٍ أَنَّهُ عَبْدُهُ فرمايي: او كله چي يو څوك پر يو سړي دا دعوىٰ وكړي چي هغه زما غلام دی فَصَالَحَهُ عَلٰى مَالٍ أَعْطَاهُ او مدعىٰ عليه هغه ته مال وركړي او صلح ور سره وكړي جَازَ نو دا جائز دي وَكَانَ فِي حَقِّ الْمُدَّعِي بِمَنْزِلَةِ الْإِعْتَاقِ عَلٰى مَالٍ او د مدعي په حق كي به دا عمل د مال په عوض كي د آزادولو په څېر وي لِأَنَّهُ أَمْكَنَ تَصْحِيحُهُ عَلٰى هٰذَا الْوَجْهِ فِي حَقِّهِ لِزَعْمِهِ ځكه چي د مدعي د ګومان مطابق د هغه په حق كي پر همدغه طريقه د دې تصحيح ممكن ده وَلِهٰذَا يَصِحُّ عَلٰى حَيَوَانٍ فِي الذِّمَّةِ إِلٰى أَجَلٍ او په همدې وجه تر يوه ميعاده پوري په خپله ذمه پر اخيستل سوي حيوان صلح كول صحيح دي وَفِي حَقِّ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ يَكُونُ لِدَفْعِ الْخُصُومَةِ او د مدعىٰ عليه په حق كي به د خصومت ليري كولو لپاره وي لِأَنَّهُ يَزْعُمُ أَنَّهُ حُرُّ الْأَصْلِ ځكه مدعىٰ عليه [غلام] دا ګومان كوي چي

زه له اصله آزاد یم فَجَازَ نو ځکه به صلح جائز وي إِلَّا أَنَّهُ لَا وَلَاءَ لَهُ لیکن مدعي ته د دې غلام امدعی علیه] ولاء نه حاصلیږي لِإِنْكَارِ الْعَبْدِ د غلام د انکار په وجه [په بله وینا: ځکه چې مدعیٰ علیه له خپل غلام کېدلو څخه منکر دی] إِلَّا أَنْ يُقِيمَ الْبَيِّنَةَ مګر دا چې مدعي بیّنه پېش کړي فَتُقْبَلَ وَيَثْبُتَ الْوَلَاءُ نو بیّنه به قبلول کیږي او ولاء به ثابتیږي قَالَ: وَإِذَا قَتَلَ الْعَبْدُ الْمَأْذُونُ لَهُ رَجُلًا عَمْدًا فرمایي: او که عبد ماذون لهٗ قصداً یو سړی قتل کړي لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يُصَالِحَ عَنْ نَفْسِهِ نو هغه لره جائز نه دي چې د خپل ځان په هکله صلح وکړي وَإِنْ قَتَلَ عَبْدٌ لَهُ رَجُلًا عَمْدًا او که د مأذون لهٗ خپل غلام یو سړی قصداً قتل کړي فَصَالَحَ عَنْهُ او مأذون لهٗ د خپل قاتل غلام په هکله [د مقتول د ولي سره] صلح وکړي جَازَ نو جائز دي وَوَجْهُ الْفَرْقِ أَنَّ رَقَبَتَهُ لَيْسَتْ مِنْ تِجَارَتِهِ او وجه د فرق دا ده چې د عبد مأذون لهٗ غاړه د هغه له تجارت [کاروبار] څخه نه ده [یعني هغه ته په خپل ذات کې د تجارت کولو حق نسته] وَلِهَذَا لَا يَمْلِكُ التَّصَرُّفَ فِيهِ بَيْعًا او په همدې وجه هغه په خپل غاړه [ذات] کې د خرڅولو د تصرف ملکیت نه لري [یعني خپل ځان نه سي خرڅولای] فَكَذَا اسْتِخْلَاصًا بِمَالِ الْمَوْلَى لهذا هغه به د مالک په مال سره د خپل ځان خلاصولو ملکیت هم نه لري وَصَارَ كَالْأَجْنَبِيِّ او هغه د اجنبي کس په څېر سو أَمَّا عَبْدُهُ فَمِنْ تِجَارَتِهِ وَتَصَرُّفُهُ فِيهِ نَافِذٌ بَيْعًا او پاته سو د هغه غلام نو هغه د ده له تجارت څخه دی او په هغه کې د ده د خرڅولو تصرف نافذ دی فَكَذَا اسْتِخْلَاصًا نو ځکه ده ته به د هغه د خلاصولو ملکیت هم وي وَهَذَا لِأَنَّ الْمُسْتَحَقَّ كَالزَّائِلِ عَنْ مِلْكِهِ او دا ځکه چې مستحق شُده شی داسي دی لکه د ده له ملکیت څخه چې زائل سوی وي وَهَذَا شِرَاؤُهُ او د هغه خلاصولول داسي دي لکه د هغه رانیول فَيَمْلِكُهُ نو ځکه به عبد مأذون لهٗ د دې ملکیت لري.

**اللغات:** ﴿أجل﴾ ټاکل سوی وخت، میعاد (میاد)، ﴿خصومة﴾ جنګ، دعویٰ، ﴿ولاء﴾ د آزاد سوي غلام میراث، ﴿رقبة﴾ غاړه، مراد ځني ذات (خپل ځان) دی، ﴿استخلاص﴾ د استفعال مصدر دی: خلاصول، ﴿شراء﴾ د ضرب مصدر دی: رانیول.

**تشریح:** په دې عبارت کې دوې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که خالد دعویٰ وکړي چې زید زما غلام دی لیکن زید له دې څخه انکار وکړي، بیا زید خالد ته څه مال ورکړي او صلح ور سره وکړي، نو دا صلح جائز ده، او داسي به ګڼل کیږي چې خالد د څه مال په عوض کې خپل غلام آزاد کړی، او اعتاق علیٰ مال صحیح دی، لهذا دا صلح به هم صحیح

وي، همدا وجه ده که مدعیٰ علیه مدعي ته ووايي چي زه تا ته په دومره ورځو کي څاروی (مثلاً پسه) درکوم، نو پر دغه معلوم الاجل حيوان هم صلح صحيح ده؛ ځکه د مدعي په حق کي دا صلح اعتاق علیٰ مال ده، او څرنګه چي مدعیٰ علیه (زيد) خپل ځان حُرّ الاصل ګڼي، نو د هغه په حق کي به دا صلح فقط د خصومت (دعوې) د دفع کولو لپاره وي، او د خصومت دفع کولو لپاره مال ورکول روا دي، نو ګواکي په دې مسئله کي ورکول او اخيستل دواړه روا دي.

لېکن د مدعیٰ علیه د انکار په وجه به مدعي ته د هغه ولاء نه حاصلېږي. ها! که چېري مدعي په بيّنه سره دا ثابته کړي چي مدعیٰ علیه واقعتاً زما غلام دی، نو بيا هغه د ولاء مستحق کيږي.

(۲)... که يو مأذون لهٗ غلام عمداً يو څوک قتل کړي، نو هغه ته دا جائز نه دي چي د خپل ځان له طرفه (د قتل په عوض کي) د مقتول وارثانو ته مال (ديت) ورکړي او صلح ور سره وکړي. او که مأذون لهٗ غلام په خپله يو غلام لري او هغه يو څوک عمداً قتل کړي او بيا مأذون لهٗ غلام (مالک) د خپل قاتل غلام له طرفه مال ورکړي او صلح وکړي، نو دا جائز دي. په دې دواړو مسئلو کي فرق دا دی چي مأذون لهٗ غلام ته د خپل مالک په مال کي د تجارت (کاروبار کولو) اجازت وي لېکن هغه ته د خپل ځان د خرڅولو حق نه وي او کله چي هغه ته د خپل ځان خرڅولو حق نسته، نو هغه ته به د مالک په مال سره د ځان خلاصولو حق هم نه وي؛ لهذا هغه د خپل ځان له طرفه صلح نه سي کولای، لکه يو اجنبي کس چي د بل چا له اجازت څخه بغير د هغه په مال سره صلح نه سي کولای. د دې په خلاف د مأذون لهٗ چي کوم خپل غلام دی هغه د ده له تجارت څخه دی او ده ته د خپل غلام خرڅولو پوره حق سته، او کله چي ده ته د غلام خرڅولو حق او ملکيت (اختيار) سته، نو ده ته به د مال په عوض کي د هغه د خلاصولو ملکيت هم وي؛ ځکه کله چي د ده غلام قتل وکړی او د مقتول وارثانو هغه ونيوی، نو غلام د هغو مستحق وختی او د ده له ملکيت څخه ووتی، او بيا چي کله ده يعني مأذون لهٗ غلام د مقتول وارثانو ته مال ورکړی او هغه يې خلاص کړی، نو مأذون لهٗ غلام له نوي سره د هغه رانيونکی سو، او مأذون لهٗ غلام ته د رانيولو او خرڅولو حق سته، نو ځکه هغه مذکوره غلام رانيولای سي، د دې په خلاف که مأذون لهٗ غلام په خپله قتل کړی وي او د قتل په وجه مستحق ختلی وي، نو هغه ته د خپل ځان رانيولو ملکيت(اختيار) نسته، لهذا هغه ته به د خپل ځان له طرفه د صلح کولو ملکيت هم نه وي. (احسن الهدايه)

## له متنازع شي څخه پر زيات بدل (عوض) صلح كول

قَالَ: وَمَنْ غَصَبَ ثَوْبًا يَهُودِيًّا قِيمَتُهُ دُونَ الْمِائَةِ فرمايي: او كه څوک يوه يهودي كپړه غصب كړي چې د هغې قيمت له سلو درهمو څخه كم وي فَاسْتَهْلَكَهُ او غاصب هغه ضايع كړي فَصَالَحَهُ مِنْهَا عَلَى مِائَةِ دِرْهَمٍ بيا غاصب د هغه كپړې د قيمت په هكله د مالک [مغصوب منه] سره پر سلو درهمو صلح وكړي جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا صلح جائز ده وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ*: يَبْطُلُ الْفَضْلُ عَلَى قِيمَتِهِ بِمَا لَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِيهِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د هغه پر قيمت دومره زياتوب باطل دی چې په هغه كې خلک دوكه نه خوري [په بله وينا:..دومره زياتوب باطل دی چې هغومره زياتوب (زائد مقدار) خلک نه زغمي] لِأَنَّ الْوَاجِبَ هِيَ الْقِيمَةُ ځكه چې [پر غاصب] صرف قيمت واجب دی وَهِيَ مُقَدَّرَةٌ او هغه مُتعيّن [او معلوم] دی فَالزِّيَادَةُ عَلَيْهَا تَكُونُ رِبًا لهذا پر هغه به زياتوب كول ربوا وي بِخِلَافِ مَا إِذَا صَالَحَ عَلَى عَرَضٍ په خلاف د هغه صورت كله چې پر يو سامان صلح وكړي لِأَنَّ الزِّيَادَةَ لَا تَظْهَرُ عِنْدَ اخْتِلَافِ الْجِنْسِ ځكه چې د جنس د اختلاف په صورت كې زياتوب نه ښكاره كيږي وَبِخِلَافِ مَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِيهِ او په خلاف د داسې زياتوب چې خلک په هغه كې دوكه كيږي [يعني په خلاف د غبنِ يسير] لِأَنَّهُ يَدْخُلُ تَحْتَ تَقْوِيمِ الْمُقَوِّمِينَ ځكه چې هغه د قيمت لګونكو تر قيمت لاندې داخليږي [په بله وينا: ځكه چې هغه د اندازه كونكو تر اندازې لاندې راتلای سي] فَلَا تَظْهَرُ الزِّيَادَةُ نو ځكه به زياتوب نه ښكاره كيږي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ حَقَّهُ فِي الْهَالِكِ بَاقٍ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې په هلاک سوي شي [يعني په ضايع سوې كپړه] كې د مالک حق باقي دی حَتَّى لَوْ كَانَ عَبْدًا وَتَرَكَ أَخْذَ الْقِيمَةِ همدا وجه ده كه مغصوب [د كپړې پر ځای] غلام وای [بيا غاصب هغه ضايع كړي وای] او مالک د هغه قيمت پرې ايښې وای يَكُونُ الْكَفَنُ عَلَيْهِ نو د هغه د كفن [او دفن] خرچ به پر مالک وای أَوْ حَقُّهُ فِي مِثْلِهِ صُورَةً وَمَعْنًى يا د مالک حق

---

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الهندية (ج:۴، ص:۲۴۱)، وفي كنــز الدقائق (ص:۲۹۴). [القــول الراجح ج:۲، ص:۲۰۴]

د صورت او معنیٰ په اعتبار سره د هلاک سوي شي په مثل کي دی لِأَنَّ ضَمَانَ الْعُدْوَانِ بِالْمِثْلِ ځکه چي د تعدی ضمان [تاوان] په مثل سره وي [یعني که یو څوک په تعدی (یعني ظلماً او په نا حقه) د یو چا شی هلاک کړي نو په تاوان [ضمان] کي پر هلاکونکي د هغه شي مثل واجبیږي] وَإِنَّمَا يَنْتَقِلُ إِلَى الْقِيمَةِ بِالْقَضَاءِ او دا حکم [ضمان بالمثل] صرف د قاضي په حکم سره د قیمت وطرف ته منتقل کیږي فَقَبْلَهُ إِذَا تَرَاضَيَا عَلَى الْأَكْثَرِ لهذا د قاضي تر فیصلې مخکي چي کله دواړه فریقین [غاصب او مالک] پر زیات قیمت راضي سي كَانَ اعْتِيَاضًا نو دا به [د خپل حق] عوض اخیستل وي فَلَا يَكُونُ رِبًا نو ځکه به ربوا نه وي بِخِلَافِ الصُّلْحِ بَعْدَ الْقَضَاءِ په خلاف د قاضي تر فیصلې وروسته د صح کولو لِأَنَّ الْحَقَّ قَدِ انْتَقَلَ إِلَى الْقِيمَةِ ځکه چي [تر فیصلې وروسته] حق د قیمت وطرف ته منتقل سو.

**اللغات**: ﴿ثوب يهودي﴾ دا یو قسم کپړه وه کوم چي د یهودو وطرف ته منسوبه وه او قیمت یې معلوم وو، مراد ځني هر هغه شی دی چي قیمت یې معلوم او مُتعیّن وي (عنايه)، ﴿استهلک﴾ د استفعال د باب ماضي ده: هلاکول، ضایع کول. ﴿فضل﴾ زیاتوب، زائد مقدار، اضافي مقدار، ﴿مقدّرة﴾ د تفعیل د باب مؤنث اسم مفعول دی: مُتعیّن، ټاکل سوی، ﴿هالك﴾ د ضرب د باب اسم فاعل دی، الشئ الهالك: هلاک کړی سوی شی، ضایع کړی سوی، ﴿عَرَضٌ﴾ او عَرْضٌ: سامان، جمع: عُرُوْض، ﴿لا يتغابن﴾ د تفاعل له بابه د نفي صیغه ده، تَغَابَنَ يَتَغَابَنُ تَغَابُنًا: د دغه باب خپله معنیٰ ده: یو بل ته نقصان رسول، یو بل ته دوکه ورکول، لیکن شارحینو یې دا معناوي هم ذکر کړي دي: دوکه خوړل (دوکه کېدل)، نقصان برداشت کول (تاوان زغمل)، د "لا يتغابن الناس" څخه مراد غبنِ فاحش (زیات تاوان) دی او د "يتغابن الناس" څخه مراد غبنِ یسیر (معمولي تاوان) دی، ﴿تقويم﴾ د تفعیل د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي او د صلح په بدلون سره یې معنیٰ هم بدلیږي: قیمت ټاکل، رېښ لګول، د یو شي اندازه بیانول. او مُقَوِّمِیْن د همدې باب جمع اسم فاعل دی.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی د یهودي کپړې تان غصب کړي او د هغه قیمت له سلو درهمو څخه کم وي، او تر غصبولو وروسته دا سړی (غاصب) هغه ضایع کړي، بیا غاصب پر سلو درهمو د تان د مالک (مغصوب منه) سره صلح وکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا صلح جائز او صحیح ده. صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چي که بدل صلح (دراهم) د کپړې له قیمت څخه دومره

زيات وي چي خلک هغه زيات تاوان ګڼي او په هغومره تاوان هيڅوک نه مبتلا کيږي (يعني په هغومره زياتوب هيڅوک داسي تاوان نه رانيسي)، نو په دې صورت کي زياتوب (زائد مقدار) ربوا ده. لېکن که هغه زياتوب معمولي وي يا له بل جنس څخه وي نو بيا هيڅ حرج نسته.

**د صاحبينو دليـــل**: دا دی چي په دې مسئله کي پر غاصب د مغصوب (تان) قيمت واجب دی، او څرنګه چي د هغه قيمت مُتعيّن او معلوم دی، لهذا د هغه پر مُتعيّن قيمت چي کوم زياتوب او اضافه وسي هغه به ربوا (سُود) وي او د ربوا اخيستل او ورکول دواړه حرام دي.

**د امام صاحب دليل**: دا دی چي په ضايع کړی سوي تان کي اوس هم د مالک حق باقي دی، همدا وجه ده که د تان پر ځای غلام مغصوب وای او مالک د هغه قيمت پرې اينښي وای، بيا هغه ضايع کړی سوي يا مړ سوی وای، نو د هغه د کفن دفن خرڅ به پر مالک وای. يا په بله وينا دا چي په دې ضايع کړی سوي تان کي د صورت او معنیٰ دواړو په اعتبار سره د مالک حق سته؛ ځکه چي دلته د تان ضمان بالمثل واجب دی (يعني غاصب به مالک ته خاص ديهودي کپړې تان ورکوي) او له مثل څخه د قيمت وطرف ته د قاضي په فيصله سره د هغه حق منتقل کيږي، لهذا کله چي د قاضي له فيصلې څخه مخکي غاصب او مالک دواړه پر زائد قيمت راضي سوه، نو دا به د خپل حق عوض اخيستل وي، سُود به نه وي (ځکه په عوض اخيستلو کي سود نه متحقق کيږي)، نو ځکه په دې مسئله کي پر سلو درهمو صلح کول صحيح دي. لېکن که قاضي د قيمت فيصله کړې وي نو بيا د تان له قيمت څخه پر زائد مقدار صلح کول به سُود وي، ځکه چي اوس د هغه حق د قيمت وطرف ته منتقل سو.

## د مشترک غلام د آزادولو په صورت کي د صلح کولو بيان

قَالَ: وَإِذَا كَانَ الْعَبْدُ بَيْنَ رَجُلَيْنِ فرمايي: او کله چي يو غلام د دوو خلکو په مينځ کي مشترک وي أَعْتَقَهُ أَحَدُهُمَا وَهُوَ مُوسِرٌ [او] له هغه دواړو څخه يو سړی دا غلام آزاد کړي او دا آزادونکی سړی مالدار [هم] وي فَصَالَحَهُ الْآخَرُ عَلَى أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ قِيمَتِهِ او دويم شريک د غلام له نيم قيمت څخه پر زيات قيمت د هغه [آزادونکي شريک] سره صلح وکړي فَالْفَضْلُ بَاطِلٌ نو زياتوب [زائد مقدار] باطل دی وَهٰذَا بِالِاتِّفَاقِ او دا حکم په اتفاق سره [متفق عليه] دی وَأَمَّا عِنْدَهُمَا فَلِمَا بَيَّنَّا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز خو د هغه دليل په وجه [باطل دی] کوم چي موږ بيان کړی وَالْفَرْقُ لِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّ الْقِيمَةَ فِي الْعِتْقِ مَنْصُوصٌ عَلَيْهَا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله لپاره د فرق وجه دا ده چي [د مشترک غلام] د آزادېدلو په صورت کي چي کوم قيمت دی پر هغه نص [حديث] وارد سوی دی [يعني د عتق د صورت په باره کي نص وارد سوی دی] وَتَقْدِيرُ الشَّرْعِ لَا يَكُونُ دُونَ تَقْدِيرِ

الْقَاضِي او د شريعت ټاکل [مقرر کول] د قاضي له ټاکلو څخه نه سي کمېدای [په بله وينا: او د شريعت مُتعيّن کړه [ټاکل سوی] مقدار د قاضي له مُتعيّن کړه قيمت څخه نه سي کمېدای] فَلَا يَجُوزُ الزِّيَادَةُ عَلَيْهِ نو ځکه پر هغه به زياتوب کول [اضافه کول] جائز نه وي بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د مخکنۍ مسئلې [يعني چي کله غاصب کپړه ضايع کړي] لِأَنَّهَا غَيْرُ مَنْصُوصٍ عَلَيْهَا ځکه چي پر هغه قيمت نص نه دی وارد سوی وَإِنْ صَالَحَهُ عَلَى عُرُوضٍ او که دوېيم شريک پر سامان د هغه سره صلح وکړي جَازَ نو جائز دي لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ لَا يَظْهَرُ الْفَضْلُ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی چي [داختلافُ الجنس په صورت کي] زياتوب نه ښکاره کيږي.

**اللغات**: ﴿موسر﴾ د افعال د باب اسم فاعل دی: مالدار، شتمن. ﴿منصُوص عليها﴾ د کوم شي په باره کي چي نص (حديث) وارد سوی وي هغه ته "منصوص عليه" وايي. ﴿عروض﴾ جمع د عَرَضٌ ده: سامان. ﴿فضل﴾ زياتوب، زائد مقدار.

**تشريح**: که يو غلام د دوو کسانو په مينځ کي مشترک وي نو ښکاره خبره ده چي په دوی کي هر د غلام د نيم قيمت حقداره دی، اوس که له دوی څخه يو شريک هغه غلام آزاد کړي، نو ټوله غلام آزاديږي، ځکه چي عتق (آزادي) نه سي متجزي کېدای (يعني عتق جزء، جزء [حصه، حصه] نه سي کېدای)، لهذا پر آزادونکي شريک به د بل شريک لپاره د غلام نيم قيمت واجب وي، ليکن که هغه شريک له نيم قيمت څخه پر زائد مقدار صلح وګړي مثلاً د غلام نيم قيمت پنځوس (۵۰) درهمه وي او هغه پر اويا (۷۰) درهمه صلح وکړي، نو د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله ټولو په نيز دا صلح ناجائز او زائد مقدار باطل دی.

د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د باطلېدلو وجه خو هغه ده کوم چي په تېر عبارت کي ذکر سوه (يعني د زائد مقدار سود کېدل)، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د باطلېدلو وجه دا ده چي د مشترک غلام د عتق په صورت کي قيمت شرعاً مُتعيّن دی، ځکه په دې باره کي نص يعني حديث وارد سوی دی او هغه دا حديث دی: "مَنْ أَعْتَقَ شِقْصًا مِنْ عَبْدٍ مُشْتَرَكٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَ شَرِيكِهِ، قُوِّمَ عَلَيْهِ نَصِيبُ شَرِيكِه"، نو ځکه د شريعت پر مُتعيّن کړی سوي مقدار زياتوب کول جائز نه دي.

د دې په خلاف څرنګه چي په مخکنۍ مسئله کي د "ثوب يهودي" قيمت منصوص عليها نه دی، نو ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هلته له قيمت څخه پر زائد مقدار هم صلح کېدای سي. همدارنګه په دواړو مسئلو کي د سامان په عوض کي هم صلح جائز ده، که څه هم د سامان قيمت له منصوص عليها قيمت څخه زيات وي. لما بيّنا أنه لا يظهر الفضل عند اختلاف الجنس. والله أعلم وعلمه أتم



# بَابُ التَّبَرُّعِ بِالصُّلْحِ وَالتَّوْكِيلِ بِهٖ

(دا) باب په صلح سره د احسان کولو (يعنې د بل چا له طرفه د صلح کولو)

او د صلح د وکيل جوړولو (په بيان کې) دی

**تشريح**: مخکې تر دې د هغه صلح بيان وو کوم چې يې انسان بذات خود وکړي، او اوس په دې باب کې د بل چا له طرفه د صلح کولو بيان دی، او انسان په خپل فعل کې اصل وي او د بل چا په فعل کې د هغه له طرفه نائب وي، او اصل له نائب څخه مخکې وي، نو ځکه يې دا باب تر "باب الصلح" وروسته بيان کړی دی.

**يادونه**: د "تبرّع بالصلح" مراد او مطلب دا دی چې انسان د بل چا له طرفه د هغه له حکم څخه بغير صلح وکړي، او د "توکيل بالصلح" مطلب دا دی چې انسان د بل چا له طرفه د هغه په حکم سره صلح وکړي.

## د صلح لپاره يو څوک وکيل جوړول او د وکيل صلح کول (حکم او تفصيل)

| |
|---|
| قَالَ: وَمَنْ وَكَّلَ رَجُلًا بِالصُّلْحِ عَنْهُ فرمايي: او که څوک يو سړی د خپل ځان له طرفه د صلح کولو وکيل جوړ کړي فَصَالَحَ او وکيل صلح وکړي لَمْ يَلْزَمِ الْوَكِيلَ مَا صَالَحَ عَنْهُ نو وکيل چې د کوم شي [يا د کوم چا] په هکله صلح وکړي هغه پر وکيل نه لازميږي إِلَّا أَنْ يَضْمَنَهُ مګر دا چې وکيل د هغه ضامن سي [يعني د هغه ضمانت (ذمه واري) په خپله غاړه واخلي] وَالْمَالُ لَازِمٌ لِلْمُوَكِّلِ او مال پر وکيل لازم دی وَتَأْوِيلُ هٰذِهِ الْمَسْأَلَةِ إِذَا كَانَ الصُّلْحُ عَنْ دَمِ الْعَمْدِ او د دغه مسئلې تأويل دا دی چې صلح د قتلِ عمد په هکله وي أَوْ كَانَ الصُّلْحُ عَنْ بَعْضِ مَا يَدَّعِيهِ مِنَ الدَّيْنِ يا صلح د هغه قرض د بعضې حصې په هکله وي د کوم چې مدعي دعوىٰ کوي لِأَنَّهُ إِسْقَاطٌ مَحْضٌ ځکه چې دا اسقاطِ محض [محض ساقطول] دي فَكَانَ الْوَكِيلُ فِيهِ سَفِيرًا وَمُعَبِّرًا لهذا په دې کې به وکيل صرف استازی او خبره نقلونکی وي فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ نو ځکه پر هغه به ضمان لازم نه وي كَالْوَكِيلِ بِالنِّكَاحِ لکه وکيل بالنکاح [چې سفير او معبر دی او پر هغه هيڅ ضمان (تاوان) نه لازميږي] إِلَّا أَنْ يَضْمَنَهُ مګر دا چې وکيل [په خپله] د هغه ضامن سي لِأَنَّهُ حِينَئِذٍ هُوَ مُؤَاخَذٌ بِعَقْدِ الضَّمَانِ لَا بِعَقْدِ الصُّلْحِ ځکه چې په دې وخت |

کي هغه د عقد ضمان [ضامن کېدلو] په وجه ماخوذ کيږي، نه د عقد صلح [صلح کولو] په وجه أَمَّا إِذَا كَانَ الصُّلْحُ عَنْ مَالٍ او که چيري صلح د مال په هکله وي فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الْبَيْعِ نو هغه د بيع په درجه کي ده فَتَرْجِعُ الْحُقُوقُ إِلَى الْوَكِيلِ لهذا [د هغه] حقوق به د وکيل وطرف ته راجع کيږي فَيَكُونُ الْمُطَالِبُ بِالْمَالِ هُوَ الْوَكِيلُ دُونَ الْمُوَكِّلِ او په مال به سره همدا وکيل مُطالب وي، نه مؤکل [يعني د مال مطالبه به هم له وکيل څخه کيږي. نه له مؤکل څخه].

**اللغات:** ﴿وكّل﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: يو څوک د ځان وکيل کول، وکيل جوړول. ﴿للمؤكل﴾ د دې په شروع کي چي کوم لام دی هغه د "علیٰ" په معنیٰ سره دی يعني: المال لازم على المؤكل. لکه څرنګه چي د قرآن کريم په دې آيت "وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا" کي لام د علیٰ په معنیٰ سره دی يعني: فَعَلَيْهَا". ﴿سفير﴾ استازی، پيغام رسونکی، خبره رسونکی، ﴿معبر﴾ خبره نقلونکی، بيانونکی (ترجماني کونکی). ﴿مُطالَب﴾ د مفاعلې د باب مفعول دی: مطالبه کړی سوی، له چا څخه چي مطالبه کيږي.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که زيد عمداً يو څوک قتل کړي، بيا زيد د خپل ځان له طرفه د صلح کولو لپاره ادريس وکيل جوړ کړي، يا يو څوک پر زيد د قرض دعویٰ وکړي، او زيد د قرض پر څه حصې د صلح کولو لپاره ادريس وکيل جوړ کړي، او ادريس صلح وکړي، نو بدل صلح پر مؤکل يعني پر زيد لازميږي، پر وکيل (ادريس) نه لازميږي؛ ځکه چي د قتلِ عمد په هکله صلح کول يا پر څه قرض صلح کول په حقيقت کي اسقاطِ محض دی يعني د قتل په صورت کي دا صلح له مؤکل (قاتل) څخه اسقاط قصاص دی او د قرض په صورت کي له مؤکل څخه اسقاط بعض دی (په بله وينا دا چي په دې صلح سره د مؤکل له ذمې څخه قصاص او باقي قرض ساقطيږي)، نو وکيل محض سفير و ګرځېدی، نه عاقد، لهذا حقوق به صرف د مؤکل وطرف ته راجع کيږي (يعني بدلِ صلح به صرف پر مؤکل لازميږي او وکيل به د هغه ضامن نه وي)، لکه څرنګه چي د نکاح وکيل د مهر او داسي نورو نه ضامن کيږي. ها! که چيري وکيل په خپله د بدل صلح د اداء کولو ضامن جوړ سي، نو بيا بدل صلح پر هغه لازميږي، ليکن دا د وکيل جوړېدلو په وجه نه، بلکي د ضامن جوړېدلو په وجه.

او که چيري دعویٰ د مال په هکله وي او بيا د مال په عوض کي صلح وسي، نو دا صلح د بيع په حکم سره ده (لکه مخکي چي ذکر سوه). او په بيع کي صرف د عاقد وطرف ته حقوق راجع کيږي، لهذا

په صلح عن المال کې به هم د وکیل وطرف ته حقوق راجع کیږي او صرف له وکیل څخه به د مال (بدلِ صلح) مطالبه کیږي.

## د یو چا له حکم څخه بغیر د هغه له طرفه د صلح کولو بیان

قَالَ: وَإِنْ صَالَحَ رَجُلٌ عَنْهُ بِغَيْرِ أَمْرِهِ فرمايي: او که یو [اجنبي] سړی د یو چا له طرفه د هغه له حکم څخه بغیر صلح وکړي فَهُوَ عَلَى أَرْبَعَةِ أَوْجُهٍ نو دا صلح پر څلورو صورتونو ده [څلور ډوله ده] إِنْ صَالَحَ بِمَالٍ وَضَمِنَهُ [۱] که چیرې هغه [اجنبي کس] د مال په عوض کې صلح وکړي او د هغه ضامن سي تَمَّ الصُّلْحُ نو صلح پوره سوه لِأَنَّ الْحَاصِلَ لِلْمُدَّعَى عَلَيْهِ لَيْسَ إِلَّا الْبَرَاءَةَ ځکه چې مدعیٰ علیه لره صرف برائت حاصل سوی دی وَفِي حَقِّهَا هُوَ وَالْأَجْنَبِيُّ سَوَاءٌ او د برائت په حق کې اجنبي کس [مُصالح] او مدعیٰ علیه دواړه سره برابر دي فَصَلُحَ أَصِيلًا فِيهِ إِذَا ضَمِنَهُ لهذا په دې سلسله کې اجنبي کس د اصیل جوړېدلو صلاحیت لري [په دې شرط] کله چې هغه ضامن سي كَالْفُضُولِيِّ بِالْخُلْعِ إِذَا ضَمِنَ الْبَدَلَ لکه د خلع فضولي [اجنبي] چې کله د "بدل خلع" ضامن سي وَيَكُونُ مُتَبَرِّعًا عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ او دا [اجنبي مُصالح] به پر مدعیٰ علیه تبرع کونکی وي كَمَا لَوْ تَبَرَّعَ بِقَضَاءِ الدَّيْنِ لکه یو څوک چې د قرض په اداء کولو کې تبرع وکړي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ بِأَمْرِهِ په خلاف د هغه صورت کله چې صلح د مدعیٰ علیه په حکم سره سوې وي وَلَا يَكُونُ لِهَذَا الْمُصَالِحِ شَيْءٌ مِنَ الْمُدَّعَى او د دې صلح کونکي [اجنبي] لپاره به له مدعیٰ به څخه هیڅ څه نه وي [یعني هغه ته له مدعی به څخه هیڅ شی نه حاصلیږي] وَإِنَّمَا ذَلِكَ لِلَّذِي فِي يَدِهِ [بلکي] هغه به د هماغه کس لپاره وي د چا په قبضه کې چې هغه موجود وي لِأَنَّ تَصْحِيحَهُ بِطَرِيقِ الْإِسْقَاطِ ځکه چې د دې صلح تصحیح د اسقاط په طریقه سره ده [یعني دا صلح صرف د اسقاط په طریقه سره صحیح کرځي] وَلَا فَرْقَ فِي هَذَا بَيْنَ مَا إِذَا كَانَ مُقِرًّا أَوْ مُنْكِرًا او په دې کې هیڅ فرق نسته چې مدعیٰ علیه اقرار کونکی وي یا انکار کونکی وي وَكَذَلِكَ إِنْ قَالَ: صَالَحْتُكَ عَلَى أَلْفِي هَذِهِ أَوْ عَلَى عَبْدِي هَذَا [۲] او همدارنګه کله چې اجنبي کس [مدعي ته] ووایي: ما پر خپل دغه زر درهمو یا ما پر خپل دغه غلام ستا سره صلح وکړه [یعني ستا سره پر دې صلح کوم] صَحَّ الصُّلْحُ وَلَزِمَهُ تَسْلِيمُهُ نو صلح صحیح کیږي او پر هغه د بدل [یعني د زر درهمو یا د غلام]

ورسپارل لازميږي لِأَنَّهُ لَمَّا أَضَافَهُ إِلَى مَالِ نَفْسِهِ ځکه کله چې هغه د صلح نسبت د خپل مال وطرف ته وکړی فَقَدِ الْتَزَمَ تَسْلِيمَهُ نو د هغه [مال] ورسپارل يې پر ځان لازم کړه فَصَحَّ الصُّلْحُ نو ځکه صلح صحيح کيږي وَكَذٰلِكَ لَوْ قَالَ: عَلَى أَلْفٍ [۳] او همدارنګه [صلح صحيح کيږي] که چيري صلح کونکی [اجنبي کس] ووايي: ما پر زر درهمو صلح وکړه وَسَلَّمَهَا او هغه زر درهمه [مدعي ته] وسپاري لِأَنَّ التَّسْلِيمَ إِلَيْهِ يُوجِبُ سَلَامَةَ الْعِوَضِ لَهُ ځکه چې مدعي ته ورسپارل د هغه لپاره د عوض سلامتي [سالم پاتېدل] لازموي [په بله وينا: ځکه چې مدعي ته ورسپارل د هغه لپاره د عوض د سلامتيا موجب دي] فَيَتِمُّ الْعَقْدُ نو ځکه به عقد په پوره کيږي لِحُصُولِ مَقْصُودِهِ ځکه چې د مدعي مقصد حاصل سو وَلَوْ قَالَ: صَالَحْتُكَ عَلَى أَلْفٍ [۴] او که چيري هغه [مُصالح (اجنبي)] ووايي: ما ستا سره پر زر درهمو صلح وکړه فَالْعَقْدُ مَوْقُوفٌ نو عقد [صلح] موقوف پاتيږي فَإِنْ أَجَازَهُ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ نو که چيري مدعیٰ عليه د هغه اجازت ورکړي [يعني دا عقد نافذ کړي] جَازَ وَلَزِمَهُ الْأَلْفُ نو عقد جائز کيږي او پر هغه [مُصالح] زر درهمه لازميږي وَإِنْ لَمْ يُجِزْهُ او که مدعیٰ عليه د هغه اجازت نه ورکړي بَطَلَ نو عقد باطليږي لِأَنَّ الْأَصْلَ فِي الْعَقْدِ إِنَّمَا هُوَ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ ځکه چې په دې عقد [صلح] کي صرف مدعیٰ عليه اصل دی لِأَنَّ دَفْعَ الْخُصُومَةِ حَاصِلٌ لَهُ ځکه چې د خصومت [دعوې] دفع صرف هغه لره حاصله ده إِلَّا أَنَّ الْفُضُولِيَّ يَصِيرُ أَصِيلًا بِوَاسِطَةِ إِضَافَةِ الضَّمَانِ إِلَى نَفْسِهِ مګر فضولي د خپل ځان وطرف ته د ضمان په نسبت کولو سره اصيل ګرځي فَإِذَا لَمْ يُضِفْهُ لېکن کله چې هغه د ځان وطرف ته ضمان منسوب نه کړی بَقِيَ عَاقِدًا مِنْ جِهَةِ الْمَطْلُوبِ نو هغه د مدعیٰ عليه له طرفه صرف عاقد پاته سو فَيَتَوَقَّفُ عَلَى إِجَازَتِهِ نو ځکه به دا عقد د مدعیٰ عليه پر اجازت موقوف وي قَالَ: وَوَجْهٌ آخَرُ وَهُوَ أَنْ يَقُولَ: صَالَحْتُكَ عَلَى هٰذِهِ الْأَلْفِ أَوْ عَلَى هٰذَا الْعَبْدِ صاحب د هدايي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې اله پورتني مذکوره صورتونو څخه بغير] بل صورت دا هم دی چې مصالح [اجنبي] داسي ووايي: ما پر دغه زر درهمو يا پر دغه غلام ستا سره صلح وکړه وَلَمْ يَنْسُبْهُ إِلَى نَفْسِهِ او مصالح هغه د خپل ځان وطرف ته منسوب نه کړي لِأَنَّهُ لَمَّا عَيَّنَهُ لِلتَّسْلِيمِ ځکه کله چې مصالح د ورسپارلو لپاره

هغه [زر درهمه یا غلام] مُتعیّن کړی صَارَ شَارِطًا سَلَامَتَهُ لَهُ نو مصالح د مدعي لپاره د هغه د سلامتی شرط لګونکی سو فَيَتِمُّ بِقَوْلِهِ نو ځکه د مصالح په قول سره به صلح پوره کیږي وَلَوِ اسْتُحِقَّ الْعَبْدُ أَوْ وَجَدَ بِهِ عَيْبًا فَرَدَّهُ او که [په بدلِ صلح کي ورکول سوی] غلام د بل چا مستحق وخیږي او مدعي په هغه کي یو عیب وموندي او هغه مصالح ته واپس کړي فَلَا سَبِيلَ لَهُ عَلَى الْمُصَالِحِ نو [په دې صورت کي] مدعي لره پر مصالح هیڅ لاره [او اختیار] نسته لِأَنَّهُ الْتَزَمَ الْإِيفَاءَ مِنْ مَحَلٍّ بِعَيْنِهِ ځکه چي هغه په یو مُعیّن محل [غلام] سره د اداء کولو التزام کړی وو [په بله وینا: ځکه چي مُصالح د مُعیّن غلام ورکول پر ځان لازم کړي وه] وَلَمْ يَلْتَزِمْ شَيْئًا سِوَاهُ او له هغه څخه بغیر د بل شي التزام یې کړی نه وو فَإِنْ سَلِمَ الْمَحَلُّ لَهُ نو که هغه مُتعیّن محل [غلام] د مدعي لپاره سالم پاته سو [او د بل چا مستحق نه وختی یا عیبجن نه وموندل سو] تَمَّ الصُّلْحُ نو صلح پوره سوه وَإِنْ لَمْ يَسْلَمْ لَهُ او که د هغه لپاره سالم پاته نه سو لَمْ يَرْجِعْ عَلَيْهِ بِشَيْءٍ نو مدعي به پر مصالح د هیڅ شي رجوع نه سي کولای [یعني هیڅ شی نه سي ځني اخیستلای] بِخِلَافِ مَا إِذَا صَالَحَ عَلَى دَرَاهِمَ مُسَمَّاةٍ وَضَمِنَهَا وَدَفَعَهَا په خلاف د هغه صورت کله چي مصالح پر مُتعیّنو دراهمو صلح وکړي او د هغوی ضامن سي او مدعي ته یې ورکړي ثُمَّ اُسْتُحِقَّتْ أَوْ وَجَدَهَا زُيُوفًا بیا هغه دراهم مستحق وخیږي یا مدعي هغوی کوټه وموندي حَيْثُ يَرْجِعُ عَلَيْهِ نو [په دې صورت کي] هغه پر مصالح رجوع کولای سي لِأَنَّهُ جَعَلَ نَفْسَهُ أَصِيلًا فِي حَقِّ الضَّمَانِ ځکه چي [په دې صورت کي] مصالح د ضمان په حق کي خپل ځان اصیل وګرځوی وَلِهَذَا يُجْبَرُ عَلَى التَّسْلِيمِ او په همدې وجه هغه پر ورسپارلو [ورکولو] مجبورول کیږي فَإِذَا لَمْ يَسْلَمْ لَهُ مَا سَلَّمَهُ لهذا کله چي هغه مال [زر درهمه] د مدعي لپاره سالم پاته نه سو کوم چي مصالح هغه ته سپارلی وو [ابلکي د بل چا مستحق وختی یا کوټه (زیوف) وموندل سو] يَرْجِعُ عَلَيْهِ بِبَدَلِهِ نو ځکه [اوس] به مدعي پر مصالح د هغه د بدل رجوع کوي [یعني له مصالح څخه به د هغه بدل [عوض] واپس اخلي].

**اللغات**: ﴿أوجه﴾ جمع د وَجْهٌ ده. د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه یوه معنی ده: صورت، شکل. ﴿تسليم﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: ورسپارل، ورکول، اداء کول. ﴿أجاز﴾ د افعال د باب ماضي ده: اجازت ورکول. ﴿أُسْتُحِقَ﴾ د استفعال د باب ماضي مجهوله ده: مستحق ختل.

مستحق ثابتېدل. ﴿إيفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: پوره اداء کول، ورکول. ﴿مُصالِح﴾ د مفاعلې د باب اسم فاعل دی: صلح کونکی. ﴿مسماة﴾ د تفعيل د باب مؤنث اسم مفعول دی: نومول سوی، مُتعيَن، ټاکل سوی. ﴿زيوف﴾ جمع د زَيْفٌ ده: کوټه (هغه ذراهم چي څه کوټ [غش] په کي وي).

**تشريح**: **مسئله**: دا ده که ديو سړي (مدعیٰ عليه) له طرفه بل څوک صلح وکړي او مدعیٰ عليه هغه (مُصالِح) ته د صلح حکم نه وي کړی، يعني د مدعیٰ عليه له حکم څخه بغير يو اجنبي او فضولي کس د هغه له طرفه صلح وکړي، نو دا صلح پر څلورو صورتونو مشتمله ده:

(۱)... يو صورت دا دی چي دغه اجنبي کس (مُصالِح) به د مال په عوض کي صلح کړې وي او هغه به په خپله د بدل صلح د اداء کولو ضامن سوي وای (يعني د بدلِ صلح ضمان به يې په خپله ذمه اخيستی وي). نو دا صلح صحيح ده؛ ځکه چي په دې صورت کي مدعیٰ عليه بلا عوضه بري کيږي او د دې برائت په عوض کي هغه هيڅ مال نه ورکوي، لهذا د صلح د جواز لاره بالکل صفا او خلاصه ده. لکه څرنګه چي يو فضولي کس د ښځي له حکم څخه بغير د هغې د خاوند سره خلع وکړي او هغه فضولي په خپله د بدل خلع ضامن سي، نو دا خلع صحيح ده. همداسي به دا صلح هم صحيح وي، او صلح کونکی (اجنبي) متبرّع دی (يعني د مال [بدلِ صلح] په ورکولو کي هغه د مدعیٰ عليه سره احسان کونکی دی) مطلب دا چي په دې صورت کي مصالح (اجنبي) ته دا حق نسته چي له مدعیٰ عليه څخه هغه مال واپس واخلي کوم چي يې مدعي ته په بدل صلح کي ورکړی دی. لېکن که دا صلح د مدعیٰ عليه په حکم سره سوې وي، نو بيا هغه له مدعیٰ عليه څخه بدل صلح واپس اخيستلای سي. او مدعیٰ بهٖ (دعویٰ داره شی) يعني د کوم شي په هکله چي صلح سوې وي، هغه صرف د مدعیٰ عليه لپاره دی او مصالح (اجنبي) ته به له هغه څخه هيڅ نه ورکول کيږي؛ ځکه چي دا صلح د اسقاط په طريقه سره صحيح ګرځول سوې ده، نه د مبادله په طريقه سره. نو ځکه مصالح به تر صلح ورکولو وروسته له منځه وځي.

(۲)... دويم صورت دا دی چي مصالح مدعي ته داسي ويلي وي: "زه د خپل دغه زر درهمو (أَلْفِيْ) يا د خپل دغه غلام په عوض کي ستا سره صلح کوم"، نو په دې صورت کي هم صلح صحيح ده، لېکن پر مصالح د مصالح عليه يعني د بدل صلح اداء کول (مدعي ته ورسپارل) لازم دي؛ ځکه د أَلْفِيْ او عَبْدِيْ په ويلو سره هغه د خپل ذاتي مال وطرف ته بدل صلح منسوب کړې ده او مدعیٰ عليه بلا عوضه او مفت بري کيږي. نو ځکه دا صورت هم جائز او صحيح دی.

(۳)... که مُصالِح د خپل ذاتي مال وطرف ته نسبت نه وكړي لېكن بدل صلح مدعي ته وسپاري. مثلاً هغه داسي ويلي وي: "زه ستا سره پر زرو درهمو صلح كوم". او هغه زر درهمه مدعي ته وركړي، نو دا صلح هم صحيح ده؛ ځکه چي مدعي ته خپل مقصد يعني عوض حاصل سو.

(۴)... څلورم صورت دا دی چي مصالح نه بدل صلح د خپل ذاتي مال وطرف ته منسوب كړي او نه هغه مدعي ته وسپاري او نه يې ضامن سي بلكي هغه مطلقاً داسي ويلي وي "زه پر زر درهمو ستا سره صلح كوم". نو دا صلح د مدعىٰ عليه پر اجازت موقوف كيږي: ځکه چي دلته مصالح صرف متكلم او معبر دی. او څرنګه چي دا صلح د مدعىٰ عليه له حكم څخه بغير سوې ده. نو ځکه موږ هغه وكيل هم نه سو ګرځولای. او د خصومت دفع كولو ضرورت مدعىٰ عليه لره دی. نو ځکه دا صلح به د مطلوب يعني د مدعىٰ عليه پر اجازت موقوفه وي، كه چيري هغه اجازت وركړي، نو نافذيږي به، كنې صلح به باطليږي.

(۵)... صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي له مذكوره څلورو صورتونو څخه ما سوا يو بل پنځم صورت هم سته او هغه دا دی چي مصالح مدعي ته داسي ويلي وي "زه پر دغه زر درهمو يا دغه غلام ستا سره صلح كوم" او هغه د خپل ځان وطرف ته منسوب نه كړي. نو دا صلح هم جائز او صحيح ده؛ ځکه كله چي مصالح زر درهمه يا غلام د بدل صلح لپاره مُتعيّن كړي. نو ګواكي هغه دا شرط ولګوی چي كه صلح وسي نو دا زر درهمه يا دا غلام بدل صلح دی. او د بدل صلح پهٔ تعيين سره د صلح د صحت لاره صفا كيږي. نو ځکه په دې صورت كي هم صلح صحيح ده.

<u>ولو استحق العبد إلخ</u>: د دې حاصل دا دی چي كه مصالح د بدل صلح لپاره مُتعيّن سوی غلام مدعي ته صحيح سالم وسپاري. نو صلح پوره سوه. تر دې وروسته كه هغه غلام مستحق وخيږي يا مدعي په هغه كي يو عيب وويني. نو مدعي لره پر مصالح هيڅ لاره نسته يعني له مصالح څخه هيڅ شی نه اخيستلای او نه هغه ته غلام واپس كولای سي، ځکه مصالح چي كوم غلام مُتعيّن كړی وو (يعني كوم غلام چي يې پر ځان لازم كړی وو) خاص هغه غلام يې مدعي ته وركړی دی. لهذا كه دا مُتعيّن محل (غلام) د مدعي لپاره صحيح سالم پاته سو (يعني استحقاق او عيب پكښې ثابت نه سو). نو صلح پوره سوه. او كه سالم پاته نه سو. نو هغه به له مصالح څخه هيڅ شی نه سي اخيستلای (لېكن د خپل دعوىٰ وطرف ته به رجوع كوي يعني له ابتداء څخه به دعوىٰ كوي).

د دې په خلاف كه مصالح پر څه مُتعينو دراهمو صلح وكړي بيا په خپله د هغه دراهمو ضامن سي او مدعي ته يې وركړي، تر دې وروسته هغه دراهم د بل چا مستحق وخيږي. يا مدعي هغوی كوټه وموندي. نو په دې صورت كي مدعي ته دا اختيار سته چي له مصالح څخه نور دراهم واخلي؛ ځکه چي دلته مصالح د ضمانت په حق كي خپل ځان اصيل ګرځولی دی. همداوجه چي هغه د بدل صلح پر وركولو مجبورول كيږي. لهذا كله چي هغه دراهم (بدل صلح) كوم چي مصالح وركړي وه. د مدعي لپاره سالم پاته نه سوه. نو ځکه به اوس مدعي له هغه څخه صحيح سالم دراهم (واپس) واپس اخلي.



# بَابُ الصُّلْحِ فِي الدَّيْنِ

(دا) باب د قرض په هکله د صلح کولو (په بیان کې) دی

**تشریح**: مخکې تر دې د عامو شیانو په باره کې د صلح کولو بیان وو، او اوس په دغه باب کې د خاص یعنې د قرض په باره کې د صلح کولو بیان دی، او دا ښکاره خبره ده چې عام له خاص څخه مخکې وي او خاص وروسته (مؤخر) وي.

**د زیات قرض په صورت کې پر کم مقدار صلح کول یا په کـره دراهمو کې پر کم کوټه دراهمو یا په میعادي دراهمو کې پر غیر میعادي دراهمو یا دنانیرو صلح کول (حکم او تفصیل)**

قَالَ: وَكُلُّ شَيْءٍ وَقَعَ عَلَيْهِ الصُّلْحُ وَهُوَ مُسْتَحَقٌّ بِعَقْدِ الْمُدَايَنَةِ فرمایي: او هر هغه شی چې پر هغه صلح واقع سي او هغه د قرض د معاملې په وجه واجب سوی وي لَمْ يُحْمَلْ عَلَى الْمُعَاوَضَةِ نو هغه به پر معاوضه نه حمل کیږي وَإِنَّمَا يُحْمَلُ عَلَى أَنَّهُ اسْتَوْفَى بَعْضَ حَقِّهِ وَأَسْقَطَ بَاقِيَهُ بلکې هغه به پر دې حمل کیږي چې مدعي خپل څه حق واخیستی او باقي یې ساقط کړی كَمَنْ لَهُ عَلَى آخَرَ أَلْفُ دِرْهَمٍ فَصَالَحَهُ عَلَى خَمْسِمِائَةٍ لکه د یو چا چې پر بل چا زر درهمه باندې وي او هغه پر پنځه سوه درهمه صلح ور سره وکړي وَكَمَنْ لَهُ عَلَى آخَرَ أَلْفٌ جِيَادٌ او لکه د یو چا چې پر بل چا زر کـره درهمه باندې وي فَصَالَحَهُ عَلَى خَمْسِمِائَةٍ زُيُوفٍ او هغه پر پنځه سوه کوټه درهمو صلح ور سره وکړي جَازَ نو دا جائز دي وَكَأَنَّهُ أَبْرَأَهُ عَنْ بَعْضِ حَقِّهِ او ګواکې هغه [قرضخواه] مقروض له خپل حق څخه بري کړی وَهَذَا لِأَنَّ تَصَرُّفَ الْعَاقِلِ يَتَحَرَّى تَصْحِيحَهُ مَا أَمْكَنَ او دا [حکم] ځکه دی چې حتی الامکان به د عاقل بالغ کس د تصرف د صحیح کولو کوشش کیږي وَلَا وَجْهَ لِتَصْحِيحِهِ مُعَاوَضَةً او د معاوضې په توګه د هغه صحیح کولو لره هیڅ وجه نسته لِإِفْضَائِهِ إِلَى الرِّبَا ځکه چې دا ربوا ته رسول کوي [یعنې د سود سبب جوړیږي] فَجُعِلَ إِسْقَاطًا لِلْبَعْضِ فِي الْمَسْأَلَةِ الْأُولَى وَلِلْبَعْضِ وَالصِّفَةِ فِي الثَّانِيَةِ لهذا په اوله مسئله به کې هغه د بعضې حصې اسقاط ګرځول کیږي او په دویمه مسئله کې به د بعضې حصې

او صفت [دواړو] اسقاط ګرځول کیږي وَلَوْصَالَحَ عَلٰى أَلْفٍ مُؤَجَّلَةٍ او که چیري قرضخواه پر زر میعادي [میاد والا] دراهمو صلح وکړي جَازَ نو هم جائز دي وَكَأَنَّهُ أَجَّلَ نَفْسَ الْحَقِّ او ګواکي هغه نفس حق مؤخر کړی [میعادي کړی] [په بله وینا: ګواکي هغه په اصل قرض کي مهلت ورکړی] لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ جَعْلُهُ مُعَاوَضَةً ځکه چي هغه معاوضه ګرځول ممکن نه دي لِأَنَّ بَيْعَ الدَّرَاهِمِ بِمِثْلِهَا نَسِيئَةً لَا يَجُوزُ ځکه دراهم په دراهمو سره په قرض خرڅول جائز نه دي فَحَمَلْنَاهُ عَلَى التَّأْخِيرِ نو ځکه موږ هغه پر تاخیر حمل کړي دي وَلَوْصَالَحَهُ عَلٰى دَنَانِيرَ إِلٰى شَهْرٍ او که قرضخواه د یوې میاشتي لپاره پر دنانیرو صلح وکړي لَمْ يَجُزْ نو جائز نه دي لِأَنَّ الدَّنَانِيرَ غَيْرُ مُسْتَحَقَّةٍ بِعَقْدِ الْمُدَايَنَةِ ځکه چي [دلته] دنانیر په عقد مداینه سره واجب نه دي فَلَا يُمْكِنُ حَمْلُهُ عَلَى التَّأْخِيرِ نو ځکه پر تاخیر د هغه حمل کول ممکن نه دي وَلَا وَجْهَ لَهُ سِوَى الْمُعَاوَضَةِ او د هغه له معاوضه کېدلو څخه بغیر بله وجه نسته [یعني له معاوضې څخه بغیر هغه بل څه ګرځول ممکن نه دي] وَبَيْعُ الدَّرَاهِمِ بِالدَّنَانِيرِ نَسَأً لَا يَجُوزُ حال دا چي دراهم د دنانیرو په عوض کي په قرض سره خرڅول جائز نه دي فَلَمْ يَصِحَّ الصُّلْحُ نو ځکه به دا صلح صحیح نه وي.

**اللغات**: ﴿مداينة﴾ د مفاعلې مصدر دی: یو د بل سره په قرض معامله کول، په قرض ورکول او اخیستل. ﴿استوفى﴾ د استفعال د باب ماضي ده: پوره اخیستل، ترلاسه کول. ﴿أسقط﴾ د استفعال د باب ماضي ده: ساقطول، معافول. ﴿يتحرّى﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: طلبُ الأحرٰى (دغوره او مناسب شي طلب کول [تلاش کول])، مراد: کوشش او سعی کول، طلب کول. ﴿نسيئةً﴾ په تاخیر سره، یعني په قرض سره (په پور). همدا د نَسأً معنیٰ ده. ﴿إفضاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: رسېدل، رسول، سبب جوړېدل. ﴿أجّل﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: وخت (میاد) ټاکل، میعادي کول، مؤخر کول. ﴿مؤجلة﴾ میعادي (میادي)، نېټه داره، چي د هغه لپاره وخت (میاد) ټاکل سوی وي.

**تشریح**: د دې باب قاعدهٔ کلیه دا ده چي که پر داسي شي صلح واقع سي چي هغه د عقد مداینت (مثلاً د قرضاً خرڅولو یا قرضاً ورکولو) په وجه واجب سوی وي، نو دا صلح به د بعضي حق پر اسقاط حمل کیږي. یعني دا به ویل کیږي چي مدعي خپل څه حق ساقط (معاف) کړی او نور حق یې

واخیستی، او داسي صلح به پر معاوضه نه حمل کیږي، د دې لپاره چي په عوضینو کي د کمي ویاتوب (کمي بیشي) په سبب سود لازم نه سي.

مثلاً که پر نعمان د ادریس زر درهمه قرض باندي وي او بیا ادریس پر پنځه سوه درهمه صلح ور سره وکړي یا د ادریس پر نعمان زر کَرَه درهمه باندي وي او هغه پر پنځه سوه کوټه درهمو صلح وکړي یا د هغه پر نعمان زر درهمه غیر میعادي باندي وي (یعني ادریس د هغه د اداء کولو لپاره میاد نه وي ټاکلی چي په دومره وخت کي به ته! ما ته قرض را کوې!) او بیا ادریس پر زر میعادي درهمو صلح وکړي؛ نو په دې ټولو صورتونو کي صلح جائز او صحیح ده؛ وجه دا ده چي د عاقل بالغ کس تصرف حتی الامکان صحیح ګرځول ضروري دي، او دلته د معاوضې په توګه هغه صحیح ګرځول ممکن نه دي؛ ځکه چي سود لازمیږي، نو هغه به اسقاط (معافي) وګرځول کیږي، یعني ګواکي په اول صورت کي ادریس (قرضخواه) خپل بعضې حق یعني پنځه سوه درهمه ساقط (معاف) کړل، او ګواکي په دویم صورت کي یې پنځه سوه درهمه هم معاف کړل او د کَرَه والي صفت (جودت) یې هم معاف کړی، او ګواکي په دویم صورت کي یې فی الفور واجبېدل معاف کړل، یعني نفس حق یې مؤخر کړی. او که چیري دا صلح اسقاط (معافول) نه وګرځول سي، نو د خپل مثل په عوض کي به د دراهمو خرڅول لازم سي، کوم چي جائز نه دي.

ولوصالحه علی دنانیرالخ: د دې حاصل دا دی چي که پر نعمان مثلاً د ادریس زر درهمه غیر میعادي باندي وي او بیا ادریس پر سل میعادي دنانیرو صلح ور سره وکړي (مثلا ادریس یو میاشته میاد وټاکي او نعمان ته ووایي چي ته به ما ته خامخا په یوه میاشت کي هغه دنانیر [بدل صلح] را کوې)، نو دا صلح جائز نه ده، ځکه چي دا دنانیر د عقد مداینه په وجه واجب نه دي، په بله وینا دا چي د ادریس پر نعمان دراهم باندي دي، نه دنانیر، لهذا په دې صورت کي تاجیل (میاد ټاکل) د حق پر تاخیر نه سي حمل کېدای، نو ځکه پر معاوضه به حمل کیږي، او کله چي دا صلح معاوضه سوه، نو دا بیع صَرف وګرځېده (یعني دا داسي سوه لکه نقود (نغد مال) د نقودو په عوض کي خرڅول)، او په بیع صَرف کي دراهم د دنانیرو په عوض کي په قرض سره خرڅول جائز نه دي.

## د پورتنی مسئلې نور صورتونه

| |
|---|
| قَالَ: وَلَوْكَانَتْ لَهُ أَلْفٌ مُؤَجَّلَةٌ فرمایي او که د یو چا [پر بل چا] زر درهمه میعادي قرض وي فَصَالَحَهُ عَلٰی خَمْسِمِائَةٍ حَالَّةً بیا هغه د مقروض سره پر پنځه سوه غیر میعادي درهمو صلح وکړي لَمْ يَجُزْ نو جائز نه دي لِأَنَّ الْمُعَجَّلَ خَيْرٌ مِنَ الْمُؤَجَّلِ ځکه چي معجل [نقد] له میعادي شخه غوره دي [په بله |

وينا: ځکه چي نقد (نغد) له قرض څخه غوره دی] وَهُوَغَيْرُمُسْتَحَقٍّ بِالْعَقْدِ او دا معجل [نقد] دراهم په عقد [عقدِ مداینه] سره واجب نه دي [ځکه دلته خو په عقد سره مؤجل (میعادي) دراهم واجب دي] فَيَكُونُ بِإِزَاءِ مَا حَطَّهُ عَنْهُ نو ځکه دا به د هغه دراهمو په مقابله کي وي کوم چي ده کم کړي دي [په بله وینا: نو معجل اخیستل به د کم کړده دراهمو په مقابله کي وي] وَذٰلِكَ اعْتِيَاضٌ عَنِ الْأَجَلِ حالانکي دا د میعاد [په هکله] عوض اخیستل دي وَهُوَحَرَامٌ او د میعاد عوض اخیستل حرام دي وَإِنْ كَانَ لَهُ أَلْفٌ سُودٌ او که د یو چا [پر بل چا] زر تور درهمه وي فَصَالَحَهُ عَلٰى خَمْسِ مِائَةٍ بِيْضٍ او هغه د مقروض سره پر پنځه سوه سپینو درهمو صلح وکړي لَمْ يَجُزْ نو جائز نه دي لِأَنَّ الْبِيضَ غَيْرُمُسْتَحَقَّةٍ بِعَقْدِ الْمُدَايَنَةِ ځکه چي په عقد مداینه سره سپین دراهم واجب نه دي وَهِيَ زَائِدَةٌ وَصْفًا او دا زائد وصف دی [په بله وینا: او هغه (بیض) د وصف زیاتوب دی] فَيَكُونُ مُعَاوَضَةُ الْأَلْفِ بِخَمْسِ مِائَةٍ وَزِيَادَةِ وَصْفٍ نو ځکه دا به د پنځه سوه درهمو سره د زرو درهمو معاوضه او د وصف زیاتوب وي وَهُوَرِبًوا او دا سود دي بِخِلَافِ مَا إِذَا صَالَحَ عَنِ الْأَلْفِ الْبِيْضِ عَلٰى خَمْسِ مِائَةٍ سُودٍ په خلاف د هغه صورت کله چي قرضخواه د زر سپینو درهمو په هکله پر پنځه سوه تورو درهمو صلح وکړي [نو دا جائز دي] لِأَنَّهُ إِسْقَاطٌ بَعْضِ حَقِّهِ قَدْرًا وَوَصْفًا ځکه چي دا د قدر او وصف په توګه د څه حصې ساقطول دي وَبِخِلَافِ مَا إِذَا صَالَحَ عَلٰى قَدْرِ الدَّيْنِ وَهُوَأَجْوَدُ او په خلاف د هغه صورت کله چي هغه د قرض پر مقدار صلح وکړي [مثلا قرض زر درهمه وي او صلح هم پر زر درهمو وکړي] حال دا چي د صلح مقدار زیات کره وي [یعني قرضخواه د دې مقدار د کَره کېدلو شرط ولګوي] لِأَنَّهُ مُعَاوَضَةُ الْمِثْلِ بِالْمِثْلِ ځکه چي دا د مثل معاوضه د مثل سره ده [یعني دواړو طرفونو ته برابر او مساوي دراهم دي. کمي وزیاتوب پکښي نسته] وَلَا مُعْتَبَرَبِالصِّفَةِ او صفت لره اعتبار نسته إِلَّا أَنَّهُ يُشْتَرَطُ الْقَبْضُ فِي الْمَجْلِسِ لیکن په مجلس کي [دننه] قبضه کول شرط دي وَلَوْ كَانَ عَلَيْهِ أَلْفُ دِرْهَمٍ وَمِائَةُ دِينَارٍ او که پر مقروض زر درهمه او سل دیناره باندي وي فَصَالَحَهُ عَلٰى مِائَةِ دِرْهَمٍ حَالَّةٍ أَوْإِلٰى شَهْرٍ او قرضخواه پر سل حالي [نغد] درهمو یا د یوې میاشتي تر میعاده [میاد] پوري صلح ور سره وکړي صَحَّ الصُّلْحُ نو دا صلح صحیح ده لِأَنَّهُ أَمْكَنَ أَنْ يُجْعَلَ إِسْقَاطًا لِلدَّنَانِيرِ

كُلِّهَا وَالدَّرَاهِمِ إِلَّا مِائَةً وَتَأْجِيلًا لِلْبَاقِي ځکه دا ممکنه ده چي دا صلح د ټولو دنانيرو لپاره او له سلو درهمو څخه بغير د نور دراهمو لپاره اسقاط [معافول] وګرځول سي او د باقي [سل درهمو] لپاره تاجيل [ميعاد ټاکل] وګرځول سي فَلَا يُجْعَلُ مُعَاوَضَةً تَصْحِيحًا لِلْعَقْدِ نو ځکه د عقد صحيح ګرځولو لپاره به دا معاوضه نه ګرځول کيږي أَوْ لِأَنَّ مَعْنَى الْإِسْقَاطِ فِيهِ أَلْزَمُ او ځکه چي په دې صلح کي د اسقاط معنیٰ زياته لازم ده [يعني د دې صلح سره د ساقطولو او معافولو معنیٰ زياته لګيږي].

**اللغات**: ﴿مؤجلة﴾ د تفعيل د باب مؤنث اسم مفعول دی: ميعادي، چي د هغه لپاره ميعاد (ميـاد) ټاکل سوی وي، ﴿معجّل﴾ د تفعيل د باب مذکر اسم مفعول دی: د مؤجل ضد دی، نغد، غير ميعادي، چي د هغه لپاره ميعاد نه وي ټاکل سوی بلکي في الحاله اداء کړی سي، ﴿بإزاء﴾ بالمقابل، په مقابله کي، برابر، ﴿حطّ﴾ د نصر د باب ماضي ده، حَطَّ يَحُطُّ حَطًّا: ساقطول، کمول، ﴿اعتياض﴾ د افتعال د باب مصدر دی: د يو شي عوض اخيستل (د يو شي په بدله کي بل څه اخيستل)، ﴿أجل﴾ ميعاد، ټاکل سوی مودت، ﴿سُوْد﴾ جمع د أَسْوَد ده، تور، أَلْفٌ سُوْد: زر بد او خراب دراهم، کمزوري دراهم، ﴿بِيْض﴾ جمع د أَبْيَض ده: سپين، غوره او سپېڅلي دراهم.

**تشريح**: په دې عبارت کي درې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که پر نعمان د ادريس زر درهمه باندي وي او دا زر درهمه ميعادي وي، لېکن ادريس د نعمان سره پر پنځه سوه نغد (غير ميعادي) دراهمو صلح وکړي او باقي قرض (پنځه سوه درهمه) ساقط کړي، نو دا صلح صحيح نه ده؛ ځکه چي نغد مال له ميعادي قرض څخه غوره دی، او څرنګه چي د عقد مداينت په وجه نغد دراهم واجب نه دي (بلکي هغه ميعادي دراهم دي)، نو ځکه اوس پر نغدو صلح کول په حقيقت کي د ميعاد (اجل) عوض اخيستل دي، حال دا چي د ميعاد عوض اخيستل حرام او ناجائز دی، نو ځکه دا صورت صحيح نه دی.

(۲)... که د ادريس پر نعمان زر تور درهمه باندي وي او هغه د نعمان (مقروض) سره پر پنځه سوه سپينو اصلي دراهمو صلح وکړي، نو دا صلح هم جائز نه ده؛ ځکه چي په عقد سره تور دراهم واجبُ الاداء دي (يعني ادريس تور دراهم په قرض اخيستي وه)، اوس د هغه پر ځای پنځه سوه سپين دراهم اخيستل په دې وجه صحيح نه دي چي دلته سُود (ربوا) لازميږي، ځکه دراهم به د دراهمو په مقابله کي راسي لېکن سپينوالی کوم چي وصف دی هغه به سُود وګرځي. د دې په خلاف که قرض زر درهمه سپين وي او صلح پر پنځه سوه تورو درهمو وسي، نو دا صلح صحيح ده؛ ځکه چي په دې

صورت کي د قرضخواه حق غوره دی، او هغه د خراب مال په اخیستلو سره د خپل حق په ساقطولو راضي سوی دی، نو ځکه دا د هغه له طرفه حط او معافي سوه، او د معافی په جواز کي هیڅ شبهه نسته.

همدارنګه که د قرض پر مقدار صلح وسي، مثلاً قرض زر درهمه وي او صلح هم پر زر درهمو وسي، لېکن قرضخواه پر مقروض دا شرط ولګوي چي ته به ما ته د قرض له دراهمو څخه هم غوره او کَرَه دراهم راکوې، نو دا صلح هم جائز ده، ځکه چي دلته په ورکول سوي او اخیستل سوي دواړو دراهمو کي کمي وزیاتوب نسته (بلکي په مثل سره د مثل معاوضه سوې ده)، ها! په اخیستل سوي دراهمو کي د وصف جودة څه اضافه سوې ده، او دا اضافه د صلح د صحت لپاره مانع نه ده. لېکن په دې صورت کي د عقد په مجلس کي دننه قبضه کول شرط دي، د دې لپاره چي وروسته نزاع او اختلاف پېښ نه سي.

(۳)... که د ادریس پر نعمان زر درهمه او سل دیناره باندي وي، بیا قرضخواه یعني ادریس د مقروض (نعمان) سره پر سل نغدو درهمو صلح وکړي یا د یوې میاشتي د میعاد (میاد) پر سل درهمو صلح ور سره وکړي، نو دا صلح صحیح ده؛ ځکه چي دا صورت د اسقاط (معافولو) په معنیٰ سره ګرځول ممکن دي؛ په دې توګه (یعني داسي به وبلل کیږي) چي دلته قرضخواه دنانیر ټوله ساقط (معاف) کړل او له سلو درهمو څخه بغیر نور دراهم یې هم ټوله ساقط کړل، بیا یې د سلو درهمو لپاره میعاد وټاکی، نو ځکه د صحیح ګرځولو لپاره به دا صلح د معاوضې په معنیٰ سره نه اخیستل کیږي، بلکي د اسقاط په معنیٰ سره به ګرځول کیږي. او په دې وجه هم چي په دې صلح کي د ساقطولو او معافولو معنیٰ سته، او دا معنیٰ په مذکوره طریقه کي زیاته موجوده ده.

## د قرض په صورت کي مؤقت او مشروط صلح کول

| |
|---|
| قَالَ: وَمَنْ لَهُ عَلَى آخَرَ أَلْفُ دِرْهَمٍ فرمايي: او که د يو چا پر بل چا زر درهمه باندي وي فَقَالَ: أَدِّ إِلَيَّ غَدًا مِنْهَا خَمْسَ مِائَةٍ عَلَى أَنَّكَ بَرِيءٌ مِنَ الْفَضْلِ او هغه [مقروض ته] ووايي: ته له هغه زر درهمو څخه ما ته سبا پنځه سوه درهمه راکړه پر دې شرط چي له باقي درهمو څخه ته بري يې! فَفَعَلَ او مقروض همداسي وکړي [يعني په سبا ورځ پنځه سوه درهمه ورکړي] فَهُوَ بَرِيءٌ نو هغه اله باقي درهمو څخه] بري ګرځي فَإِنْ لَمْ يَدْفَعْ إِلَيْهِ خَمْسَ مِائَةٍ غَدًا لېکن که هغه په سبا ورځ پنځه سوه درهمه نه ورکړي عَادَ عَلَيْهِ الْأَلْفُ نو پر هغه زر درهمه بېرته راګرځي وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا د طرفينو |

رَحِمَهُمَا الله قول دی وَقَالَ أَبُويُوسُفَ ❁ : لَايَعُودُ عَلَيْهِ او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي پر هغه زر درهمه بيرته نه راګرځي لِأَنَّهُ إِبْرَاءٌ مُطْلَقٌ ځکه چي دا مطلق بري کول دي أَلَا تَرَى أَنَّهُ جَعَلَ أَدَاءَ خَمْسَ مِائَةٍ عِوَضًا آيا ته نه ګورې! چي قرضخواه د پنځه سوه درهمو اداء کول عوض ګرځولي دي حَيْثُ ذَكَرَهُ بِكَلِمَةِ عَلَى ځکه چي قرضخواه هغه د "عَلَى" په کلمه سره بيان کړي دي وَهِيَ لِلْمُعَاوَضَةِ او "عَلَى" د معاوضې لپاره [مستعمل] ده وَالْأَدَاءُ لَا يَصْلُحُ عِوَضًا حالانکي اداء د عوض صلاحيت نه لري [په بله وينا: اداء کول عوض نه سي ګرځېدای] لِكَوْنِهِ مُسْتَحَقًّا عَلَيْهِ ځکه چي اداء پر مقروض واجب ده [يعني پر مقروض د هغه قرض اداء کول واجب دي] فَجَرَى وُجُودُهُ مَجْرَى عَدَمِهِ لهذا د اداء وجود د عدم وجود په درجه کي سو فَبَقِيَ الْإِبْرَاءُ مُطْلَقًا او ابراء مطلق پاته سوه فَلَا يَعُودُ نو ځکه پر مقروض به زر درهمه [قرض] بيرته نه راګرځي كَمَا إِذَا بَدَأَ بِالْإِبْرَاءِ لکه [په هغه صورت کي] کله چي قرضخواه په ابراء سره شروع وکړي [يعني اول د ابراء جمله اداء کړي] وَلَهُمَا: أَنَّ هَذَا إِبْرَاءٌ مُقَيَّدٌ بِالشَّرْطِ او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي دا ابراء په شرط سره مقيده ده فَيَفُوتُ بِفَوَاتِهِ نو ځکه د شرط په فوتېدلو سره به ابراء هم فوتيږي لِأَنَّهُ بَدَأَ بِأَدَاءِ خَمْسِ مِائَةٍ فِي الْغَدِ ځکه چي قرضخواه په غد [سبا] کي د پنځه سوه په اداء کولو سره شروع کړې ده [يعني هغه اول "اداء خمس مائة في الغد" ذکر کړي دي] وَأَنَّهُ يَصْلُحُ غَرَضًا حِذَارَ إِفْلَاسِهِ أَوْ تَوَسُّلًا إِلَى تِجَارَةٍ أَرْبَحَ مِنْهُ او دا [جمله] غرضا صحيح کېدای سي د هغه له افلاسه په ځان ساتلو سره يا تر دې د زيات نفع مند تجارت په وسيله جوړولو سره [په بله وينا: او دا په دې غرض سره صحيح کېدای سي چي قرضخواه د مقروض د مفلس والي په خيال کولو سره هغه له نور محتاجي او بد حالی څخه ساتي يا د داسي تجارت قصد کوي چي دئ د هغه په ذريعه زياته نفعه حاصله کړي] وَكَلِمَةُ عَلَى إِنْ كَانَتْ لِلْمُعَاوَضَةِ فَهِيَ مُحْتَمَلَةٌ لِلشَّرْطِ او کلمه د "عَلَى" که څه هم د معاوضې لپاره ده خو بيا هم شرط لره محتمله ده [يعني "على" چي څرنګه د معاوضې لپاره راځي همداسي په هغه کي د شرط احتمال هم ستهٔ] لِوُجُودِ مَعْنَى الْمُقَابَلَةِ فِيهِ ځکه چي په هغه کي د مقابلې معنیٰ موجوده ده فَيُحْمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في الخانية (ج:٣، ص:١٨٥)، وكذا في ملتقى الأبحر (ج:٣، ص:٤٣٥). [القول الراجح ج:٢، ص:٢٠٥]

تَعَذُّرِ الْحَمْلِ عَلَى الْمُعَاوَضَةِ نو ځکه پر معاوضې د حمل کولو د ناممکن والي په صورت کې به هغه پر شرط حمل کيږي تَصْحِيحًا لِتَصَرُّفِهِ د دې لپاره چې د قرضخواه تصرف صحيح وګرځول سي أَوْ لِأَنَّهُ مُتَعَارَفٌ يا په دې وجه [به پر شرط حمل کيږي] چې همدا په عرف کې عادت دی وَالْإِبْرَاءُ مِمَّا يَتَقَيَّدُ بِالشَّرْطِ وَإِنْ كَانَ لَا يَتَعَلَّقُ بِهِ او ابراء له هغه شيانو څخه ده کوم چې په شرط سره مقيد کيږي که څه هم هغه د شرط سره نه متعلق کيږي كَالْحَوَالَةِ لکه څرنګه چې حواله [هم داسي ده] وَسَنُخَرِّجُ الْبِدَايَةَ بِالْإِبْرَاءِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او په ابراء سره د شروع کولو تخريج [او تفصيل] به موږ انشاء الله ژر بيان کړو. [يعني امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله چې کوم دا قياس او مثال پېش کړی دی "كما إذا بدأ بالإبراء"، د دې جواب به موږ څه وروسته ذکر کړو].

**اللغات**: ﴿أدِّ﴾ د تفعيله له بابه د واحد مذکر امر حاضر صيغه ده: اداء کول. ﴿غد﴾ سبا، سبا ورځ. ﴿فضل﴾ باقي مانده، بقيه، اضافي مقدار ﴿حذار﴾ په معنىٰ سره د حَذْرًا ده: بېرېدل، احتراز کول (ځان ساتل، ځان ژغورل)، احتياط کول. ﴿إفلاس﴾ د افعال د باب مصدر دی: مفلس کېدل، غربت، تنګلاسي. ﴿أربح﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات نفع مند (زيات ګټمن). ﴿متعارف﴾ د تفاعل د باب اسم مفعول دی: په عرف کې پېژندل سوی، په عرف کې رواج او عادت.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: که د ادريس پر نعمان زر درهمه قرض باندي وي بيا قرضخواه يعني ادريس مقروض (نعمان) ته ووايي "که چيري ته زما له قرض څخه سبا ما ته صرف پنځه سوه درهم راکړې!، نو له بقيه پنځه سوه درهمو څخه ته بري يې!"، نو اوس که مقروض همداسي وکړي او قرضخواه ته په سبا ورځ پنځه سوه درهمه ورکړي، نو هغه له بقيه پنځه سوه درهمو څخه بري کيږي، لېکن که مقروض په سبا ورځ (غد) کې هغه ته پنځه سوه نه ورکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه د مخکي په څېر زر درهمه قرض باقي پاتيږي، لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز که مقروض پنځه سوه ورکړي، که نه، په هر صورت کې د هغه له غاړي څخه پنځه سوه درهمه ساقطيږي.

**د امام ابو يوسف دليل**: دا دی چې په دې مسئله کې قرضخواه د "أَدِّ إِلَيَّ مِنْهَا خَمْسَ مِائَةٍ عَلَى أَنَّكَ بَرِيْءٌ مِنَ الْفَضْلِ" په وينا سره د مطلق ابراء معامله کړې ده او د "خمس مائة" اداء کول يې د ابراء عوض ګرځولي دي (يعني هغه مقروض ته ويلي دي چې زه تا د پنځه سوه درهمو د اداء کولو په عوض کې بري

کوم)، حال دا چي دا اداء کول دابراء عوض نه سي کېدای؛ ځکه چي دا خو بغير له ابراء هم پر هغه واجب دي، لهذا اوس د قرضخواه له طرفه د اداء وجود او عدم وجود دواړه سره برابر دي او ابراء مطلق ده، نو ځکه په "غَد" کي د "خمس مائة" له اداء کولو څخه بغير به هم د هغه له طرفه ابراء ثابتيږي او مقروض به له "خمس مائة" قرض څخه بري کيږي.

كما إذا بدأ بالإبراء إلخ: امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د خپل دليل په تائيد کي يو مثال پېش کړی دی او هغه دا چي که قرضخواه اول د ابراء جمله اداء کړي يعني هغه اول داسي ووايي "أَبْرَأْتُكَ عَنْ خَمْسِ مِائَةٍ مِنْ أَلْفٍ لِيْ عَلَيْكَ" او بيا ووايي "عَلىٰ أَنْ تَؤَدِيَّ إِلَيَّ غَدًا خَمْسَ مِائَةٍ"، نو په دې صورت کي بالاتفاق مقروض له "خمس مائة" (پنځه سوه درهمو) څخه بري کيږي، برابره ده هغه په سبا ورځ کي پنځه سوه اداء کړي، که نه، همداسي به په پورتنۍ مسئله کي هم مقروض له پنځه سوو څخه بري کيږي.

**د طرفينو دليل**: دا دی چي په پورتنۍ مسئله کي "ابراء" مطلق نه ده بلکي په "غَد" کي د "خَمْس مِائَة" د اداء کولو په شرط سره مقيده ده، لهذا که شرط موجود سي، نو ابراء به ثابتيږي، او که شرط موجود نه سي، نو ابراء به هم نه ثابتيږي؛ د دې دليل دا دی چي قرضخواه (ادريس) په "غَد" کي اول کار د "خمس مائة" اداء کول ښوولی دی او د هغه پر اداء کولو يې ابراء موقوف کړې ده، لهذا که اداء کول موجود سي، نو ابراء به موجوديږي، کنې هغه به معدومه ګرځي. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دا خبره چي اداء عوض نه سي ګرځېدای، صحيح نه ده، ځکه چي دلته اداء کول په دې حواله سره عوض ګرځېدای سي چي قرضخواه دمقروض د مفلسی او محتاجی په خيال کولو سره له هغه څخه پنځه سوه درهمه واخلي او بقيه دراهم معاف کړي او يا دا فکر او قصد وکړي چي زه به په همدې پنځه سوه درهمو سره نوره نفع او ګټه کوم چي په دې سره به زما خساره په نفعي سره بدله سي، او کلمه د "عَلىٰ" چي څرنګه د عوض لپاره ده همداسي د شرط والي احتمال هم پکښي سته؛ ځکه چي په هغه کي هم د شرط او جزاء په څېر د مقابلې معنیٰ موجوده ده، او څرنګه د عاقل بالغ د کلام او تصرف د صحيح ګرځولو لپاره دلته "علیٰ" د معاوضې پر معنیٰ حمل کول ناممکن دي، نو ځکه به هغه د شرط پر معنیٰ حمل کيږي، يا په دې وجه به دلته هغه د شرط پر معنیٰ حمل کيږي چي د "علیٰ" همدا معنیٰ متعارفه ده، يعني په عرف کي پر داسي د شرط معنیٰ مرادول کيږي، او لفظ پر خپل متعارفه معنیٰ حمل کول اولیٰ او غوره دي.

والابراء ممايتقيد إلخ: دا ديو مقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چي ابراء پر شرط معلق كول باطل دي، او تعليق او تقييد دواړه يو شي دي، لهذا كله چي دابراء تعليق باطل دی نو دابراء تقييد (مقيد كول) هم باطليدل پكار دي؟ حالانكي دلته تاسو ابراء مقيد كړې ده؟.

ددې جواب دا دی چي په تقييد او تعليق كي فرق دی او تعليق كه څه هم باطل دی لېكن تقييدباطل نه دی، په تعليق بالشرط او تقييد بالشرط كي فرق دا دی چي د تقييد په صورت كي برائت موجوديږي حالانكي د تعليق بالشرط په صورت كي برائت نه موجوديږي او صرف د شرط له وجود څخه وروسته ښكاره كيږي، نو ځكه ابراء په شرط سره مقيد كول صحيح دي لكه څرنګه چي حواله هم په شرط سره مقيد كول صحيح دي او كه چيري محتال عليه د مفلس والي په حالت كي مړ سي نو حواله ختميږي او قرض بيا د محيل پر غاړه راګرځي، همداسي دلته كه په "غد" (سبا ورځ) كي مقروض "خمس مائة" اداء كړي، نو بيا خو به هغه له بقيه دراهمو څخه بري كيږي، كنې نه به بري كيږي.

## د پورتنۍ مسئلې نور صورتونه

قَالَ: وَهٰذِهِ الْمَسْأَلَةُ عَلىٰ وُجُوهٍ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: او دا مسئله پر څو صورتونو [مشتمله] ده أَحَدُهَا مَا ذَكَرْنَاهُ يو صورت هغه دی كوم چي موږ ذكر كړی وَالثَّانِيْ إِذَا قَالَ: صَالَحْتُكَ مِنَ الْأَلْفِ عَلىٰ خَمْسِ مِائَةٍ تَدْفَعُهَا إِلَيَّ غَدًا وَأَنْتَ بَرِيْءٌ مِنَ الْفَضْلِ عَلىٰ أَنَّكَ إِنْ لَمْ تَدْفَعْهَا إِلَيَّ غَدًا فَالْأَلْفُ عَلَيْكَ عَلىٰ حَالِهِ دويم صورت دا دی چي كله قرضخواه داسي ووايي: ما د زر درهمو په عوض كي په دې شرط ستا سره صلح وكړه چي ته به ما ته هغه پنځه سوه درهمه سبا راكوې! او [بيا] ته له بقيه دراهمو څخه بري يې! لېكن كه ته سبا ما ته پنځه سوه درهمه نه راكړې نو د مخكني حالت په څېر [زما] پر تا زر درهمه باقي پاته دي وَجَوَابُهُ أَنَّ الْأَمْرَ عَلىٰ مَا قَالَ او د دې حكم دا دی چي په دې صورت كي به معامله همداسي وي لكه څرنګه چي قرضخواه ويلي دي [يعني په دې صورت كي به د قرضخواه (متكلم) د قول مطابق فيصله كيږي] لِأَنَّهُ أَتىٰ بِصَرِيْحِ التَّقْيِيْدِ ځكه چي هغه صراحتاً برائت معلق كړی دی فَيُعْمَلُ بِهِ نو ځكه پر هغه به عمل كيږي وَالثَّالِثُ إِذَا قَالَ: أَبْرَأْتُكَ مِنْ خَمْسِ مِائَةٍ مِنَ الْأَلْفِ عَلىٰ أَنْ تُعْطِيَنِيْ خَمْسَ مِائَةٍ غَدًا او دريم صورت دا دی چي كله قرضخواه داسي ووايي: ما په زرو درهمو كي ته له پنځه سوه درهمو څخه بري كړې پر دې شرط چي ته به ما

ته سبا پنځه سوه راکوې! فَالْإِبْرَاءُ فِيهِ وَاقِعٌ نو په دې صورت کې ابراء واقع کیږي أَعْطَى خَمْسَ مِائَةٍ أَوْ لَمْ يُعْطِ برابره ده مقروض پنځه سوه ورکړي او که يې نه ورکړي لِأَنَّهُ أَطْلَقَ الْإِبْرَاءَ أَوَّلًا ځکه چې هغه اول ابراء مطلق کړې ده وَأَدَاءُ خَمْسِ مِائَةٍ لَا يَصْلُحُ عِوَضًا مُطْلَقًا او د پنځه سوو اداء کول د مطلق عوض جوړېدلو صلاحیت نه لري وَلَكِنَّهُ يَصْلُحُ شَرْطًا لیکن هغه د شرط جوړېدلو صلاحیت لري [يعني شرط جوړېدای سي] فَوَقَعَ الشَّكُّ فِي تَقْيِيدِهِ بِالشَّرْطِ نو د هغه په مقید بالشرط کېدلو کې شک واقع سو فَلَا يَتَقَيَّدُ بِهِ نو ځکه دا صورت به په شرط سره نه مقید کیږي بِخِلَافِ مَا إِذَا بَدَأَ بِأَدَاءِ خَمْسِ مِائَةٍ په خلاف د هغه صورت کله چې قرضخواه د "خمس مائة" په اداء سره شروع وکړي [يعني اول د "اداء کولو" خبره وکړي] لِأَنَّ الْإِبْرَاءَ حَصَلَ مَقْرُونًا بِهِ ځکه چې د دې اداء سره ابراء متصل سوه فَمِنْ حَيْثُ أَنَّهُ لَا يَصْلُحُ عِوَضًا يَقَعُ مُطْلَقًا نو په دې اعتبار سره چې ابراء مطلق عوض نه سي جوړېدای هغه مطلق ابراء ګرځي وَمِنْ حَيْثُ أَنَّهُ يَصْلُحُ شَرْطًا لَا يَقَعُ مُطْلَقًا او په دې اعتبار سره چې ابراء شرط جوړېدای سي هغه مطلق ابراء نه ګرځي فَلَا يَثْبُتُ الْإِطْلَاقُ بِالشَّكِّ نو د شک په وجه به اطلاق [مطلق والي] نه ثابتیږي فَافْتَرَقَا لهذا دواړه صوتونه سره جلا سول [يعني په دواړو کې فرق ثابت سو] وَالرَّابِعُ إِذَا قَالَ: أَدِّ إِلَيَّ خَمْسَ مِائَةٍ عَلَى أَنَّكَ بَرِيءٌ مِنَ الْفَضْلِ او څلورم صورت دا دی چې قرضخواه داسي ووايي: ته ما ته پنځه سوه درهمه راکړه! پر دې شرط چې ته له بقیه درهمو څخه بري يې وَلَمْ يُوَقِّتْ لِلْأَدَاءِ وَقْتًا او هغه د اداء کولو هیڅ وخت بیان نه کړي وَجَوَابُهُ أَنَّهُ يَصِحُّ الْإِبْرَاءُ وَلَا يَعُودُ الدَّيْنُ او د دې حکم دا دی چې ابراء صحیح کیږي او قرض [پر مقروض] واپس نه راګرځي لِأَنَّ هَذَا إِبْرَاءٌ مُطْلَقٌ ځکه چې دا مطلق ابراء ده لِأَنَّهُ لَمَّا لَمْ يُوَقِّتْ لِلْأَدَاءِ وَقْتًا ځکه کله چې قرضخواه د اداء کولو لپاره هیڅ وخت بیان نه کړي لَا يَكُونُ الْأَدَاءُ غَرَضًا صَحِيحًا نو اداء کول به صحیح غرض نه وي لِأَنَّهُ وَاجِبٌ عَلَيْهِ فِي مُطْلَقِ الْأَزْمَانِ ځکه په مطلق زمانه کې اداء کول خو پر هغه واجب دي فَلَمْ يَتَقَيَّدْ بَلْ يُحْمَلُ عَلَى الْمُعَاوَضَةِ نو ځکه ابراء مقید نه سوه بلکي پر معاوضه به حمل کیږي وَلَا يَصْلُحُ عِوَضًا حال دا چې ابراء د عوض جوړېدلو صلاحیت نه لري بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د هغه

صورت کوم چي مخکي تېر سو لِأَنَّ الْأَدَاءَ فِي الْغَدِ غَرَضٌ صَحِيحٌ ځکه چي په "غد" اسبا ورځ اکي اداء کول صحيح غرض دی وَالْخَامِسُ إِذَا قَالَ: إِنْ أَدَّيْتَ إِلَيَّ خَمْسَ مِائَةٍ أَوْ قَالَ: إِذَا أَدَّيْتَ أَوْ مَتَى أَدَّيْتَ او پنځم صورت دا دی چي کله قرضخواه داسي ووايي: که چيري ته ما ته پنځه سوه درهمه اداء کړې! يا داسي ووايي: کله چي ته [هغه] اداء کړې! يا څه وخت چي ته [هغه] اداء کړې! فَالْجَوَابُ فِيهِ أَنَّهُ لَا يَصِحُّ الْإِبْرَاءُ نو په دې صورت کي حکم دا دی چي ابراء نه صحيح کيږي لِأَنَّهُ عَلَّقَهُ بِالشَّرْطِ صَرِيحًا ځکه چي قرضخواه هغه پر صريح شرط معلق کړې ده وَتَعْلِيقُ الْبَرَاءَاتِ بِالشُّرُوطِ بَاطِلٌ حال دا چي برائت پر شرطونو معلق کول باطل دي لِمَا فِيهَا مِنْ مَعْنَى التَّمْلِيكِ ځکه چي په دې کي د تمليک معنیٰ سته حَتَّى تَرْتَدَّ بِالرَّدِّ همدا وجه ده چي برائت په ردولو سره رد کيږي بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د هغه صورت کوم چي مخکي تير سو لِأَنَّهُ مَا أَتَى بِصَرِيحِ الشَّرْطِ ځکه چي اهلته ا هغه صريح شرط نه دی راوړی [يعني هلته قرضخواه صراحتاً د شرط جمله نه ده ذکر کړې] فَحُمِلَ عَلَى التَّقْيِيدِ بِهِ نو ځکه هغه پر تقييد بالشرط حمل کړی سوه [په بله وينا: نو ځکه هغه ابراء به په شرط سره پر مقيد کېدلو حمل کيږي].

**اللغات**: ﴿مقرون﴾ د نصر د باب اسم مفعول دی: متصل، ور سره يوځای سوی. ﴿لم يُوقت﴾ د تفعيل له بابه د جحد صيغه ده: وخت ټاکل، وخت بيانول. ﴿ترتد﴾ د افتعال د باب مضارع ده: رديدل (رد کېدل).

**تشريح**: دا عبارت د مخکني مسئلې سره مربوط دی او د ابراء او اسقاط د مقيد کولو او نه مقيد کولو تر پنځه صورتونه چي له هغوی څخه يو صورت هماغه دی کوم چي په تېر عبارت کي بيان سو چي په هغه کي د امام ابو يوسف او طرفينو رَحِمَهُمَا اللهُ اختلاف وو. (۲).... دويم صورت دا دی چي قرضخواه د خپل زرو درهمو په هکله د مقروض سره پر دې شرط پر پنځه سوه درهمو صلح وکړي چي "که ته هغه (پنځه سوه) ما ته سبا راکړې، نو له بقيه دراهمو څخه ته بري يې! او که هغه سبا را نه کړې، نو ټوله زر درهمه پر تا واجب پاتيږي". د دې صورت حکم دا دی چي د قرضخواه د قول مطابق به معامله او فيصله کيږي. يعني که مقروض په سبا ورځ هغه ته "خمس مائة" (پنځه سوه درهمه) ورکړي نو هغه بري کيږي، کنې پر هغه زر درهمه واجب الاداء پاتيږي.

(۳)... درېیم صورت دا دی چي قرضخواه اول د برائت ذکر وکړي او بیا په "غد" کي د "خمس مائة" د اداء کولو خبره وکړي، نو په دې صورت کي ابراء واقع کیږي، برابره ده مقروض په سبا ورځ هغه ته "خمس مائة" ورکړي، که نه؛ ځکه چي په دې صورت کي ابراء مخکي هم ده او د "خمس مائة" د اداء کولو له قید څخه مطلق هم ده، پاته سوه د "خمس مائة" اداء کول نو دا اداء د مطلق عوض نه سي جوړېدای، ځکه چي دا خو په هر صورت کي پر مقروض واجب ده، او په دې سره هغه ته هیڅ فایده (برائت) نه حاصلیږي. ها! دا اداء شرط جوړېدای سي، لېکن څرنګه چي صراحتاً هغه ابراء مقید کړې هم نه ده، نو ځکه دابراء په مقید بالشرط کېدلو کي شک واقع سو، او د شک په وجه تقیید نه ثابتیږي، نو ځکه دلته به ابراء مقیده نه وي، لېکن که چیري قرضخواه اول د "خمس مائة" د اداء کولو خبره کړې وای لکه څرنګه چي په اول صورت کي داسي سوي دي (کوم چي په تېر عبارت کي ذکر سو)، نو په دې صورت کي به ابراء مقیده وای؛ ځکه چي په دې صورت کي ابراء د "خمس مائة" سره مقرون او متصل ده. او په ابراء او د "خمس مائة" په اداء سره د کلام شروع کولو په حواله سره د ابراء په مقید کېدلو او نه مقید کېدلو کي فرق دی (یعني دابراء په تقیید او عدمِ تقیید کي په دې حواله سره فرق دی چي قرضخواه اول برائت ذکر کړی دی او که د "خمسة مائة" اداء)، تاسو اول په دې فرق ځان پوه کړئ! او بیا مطالعه وکړئ!.

(۴)... څلورم صورت دا دی چي قرضخواه د وخت او ورځي له تعیین څخه بغیر مطلق داسي ووایي "که چیري ته ما ته پنځه سوه درهمه راکړې!، نو ته له بقیه پنځه سوو څخه بري یې!"، نو دا ابراء مطلق ده، یعني مقروض له پنځه سوه درهمو څخه فوراً بري کیږي او د بقیه پنځه سوو په اداء کولو کي ده ته اختیار دی، هر وخت چي وغواړي، هغه اداء کولای سي؛ ځکه چي دلته قرضخواه د "خمس مائة" د اداء کولو لپاره هیڅ وخت نه دی ټاکلی (چي په دې وخت کي یې راکړه!)، نو ځکه په دې صورت کي به ابراء مطلق وي او پر معاوضه به حمل کیږي، همدارنګه د لغو کېدلو څخه د متکلم (قرضخواه) د کلام ساتلو لپاره به هغه عوض نه ګرځول کیږي.

(۵)... پنځم صورت دا دی چي قرضخواه ابراء د "خمس مائة" د اداء کولو پر شرط معلقه او مشروطه کړي یعني داسي ووایي "إنْ أدَّيْتَ يا إذَا أدَّيْتَ يا مَتٰى أدَّيْتَ إلَيَّ خَمْسَ مِائَةٍ فَأنْتَ بَرِيْءٌ مِنَ الْفَضْلِ"، نو د دې صورت حکم دا دی چي ابراء صحیح نه ده؛ ځکه چي برائت پر شرط معلق کول

باطل دي؛ ځکه چي ابراء اسقاط دی او په اسقاط کي د تمليک معنیٰ موجوده ده. همدا وجه ده چي که مقروض ابراء ردّ کړي، نو هغه رديږي، نو ځکه په دې صورت کي به برائت ساقطيږي. (احسن الهدايه)

## اقرار په مهلت یا په حق کمولو سره مشروط کول

قَالَ: وَمَنْ قَالَ لِآخَرَ: لَا أُقِرُّ لَكَ بِمَالِكَ حَتّٰى تُؤَخِّرَهُ عَنِّيْ أَوْ تَحُطَّ عَنِّيْ فرمايي: که يو څوک بل چا [قرضخواه] ته ووايي: زه تر هغه وخته ستا د مال اقرار نه کوم تر دې چي ته هغه زما څخه مؤخر کړې! [ما ته مهلت را کړې!] يا يې زما څخه څه کم کړې! فَفَعَلَ او قرضخواه همداسي وکړي جَازَ عَلَيْهِ نو دا پر هغه جائز ګرځي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِمُكْرَهٍ ځکه چي هغه مُکرَه [مجبور کړی سوی] نه دی وَمَعْنَى الْمَسْأَلَةِ إِذَا قَالَ ذٰلِكَ سِرًّا او د مسئلې مطلب دا دی چي کله مقروض په پټه دا خبره کړې وي أَمَّا إِذَا قَالَ عَلَانِيَةً ليکن که هغه په ښکاره دا خبره کړې وي يُؤْخَذُ بِهِ نو هغه به په مال سره نيول کيږي [يعني له هغه څخه به مال اخيستل کيږي].

**اللغات**: ﴿تحطّ﴾ د نصر د باب مضارع ده: کمول، ساقطول، په اول صورت کي يې معنیٰ ده: چي ته زما څخه څه مال کم کړې، په دويم صورت کي يې معنیٰ ده: چي ته زما څخه مال ساقط کړې! (يعني ما معاف او بري کړې!)، شارحينو دواړي معناوي ذکر کړي دي، ﴿مُکرَه﴾ د افعال د باب مفعول دی: مجبور کړی سوی، ﴿سِرًّا﴾ په پټه، په خفيه توګه، ﴿علانية﴾ په ډاګه، په ښکاره.

**تشريح**: **مسئله**: دا ده که پر نعمان د ادريس څه مال مثلاً دراهم باندي وي او نعمان په پټه ادريس ته داسي ووايي "چي زه په هماغه صورت کي ستا د مال (دراهمو) اقرار کوم کله چي ته! ما ته د هغه د اداء کولو لپاره څه مهلت راکړې!، يا ته زما څخه څه دراهم کم کړې!"، نو اوس که قرضخواه يعني ادريس د مقروض (نعمان) خبره ومني او هغه ته مهلت ورکړي يا څه مال ځني کم کړي، نو دا جائز او صحيح دي؛ ځکه چي قرضخواه په خپل رضا سره دا کار کوي او په دې باره کي هغه مُکرَه او مجبوره نه دی، بلکي هغه د ګواهي، قسم او داسي نورو په ذريعه هم خپل قرض ثابتولای سي، نو ځکه دا قرضخواه چي په کوم اړخ هم راضي سي، د هغه مطابق به فيصله کيږي. هاں! که چيري مقروض په ښکاره پورتنۍ خبره وکړي، نو د هغه مؤاخذه به کيږي او هغه به مقر لهٗ (قرضخواه) ته پر مال ورکولو مجبورول کيږي. (احسن الهدايه)



# فَصْلٌ فِي الدَّيْنِ الْمُشْتَرِكِ

(دا) فصل د مشترک قرض (په بيان کي) دی

## له دوو شريکانو څخه د يوه د صلح کولو حکم

قَالَ: وَإِذَا كَانَ الدَّيْنُ بَيْنَ شَرِيكَيْنِ فرمايي: او کله چي قرض د دوو شريکانو په مينځ کي مشترک وي فَصَالَحَ أَحَدُهُمَا مِنْ نَصِيبِهِ عَلَى ثَوْبٍ بيا له دوی دواړو څخه يو شريک د خپل حصې په عوض کي پر يو کپړه صلح وکړي فَشَرِيكُهُ بِالْخِيَارِ نو د هغه شريک ته اختيار دی إِنْ شَاءَ اتَّبَعَ الَّذِي عَلَيْهِ الدَّيْنُ بِنِصْفِهِ که وغواړي نو د خپل نصف حصې لپاره دي په مقروض پسې سي وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ نِصْفَ الثَّوْبِ او که وغواړي نو نيمه کپړه دي واخلي إِلَّا أَنْ يَضْمَنَ لَهُ شَرِيكُهُ رُبُعَ الدَّيْنِ مګر دا چي د هغه شريک د قرض د يوې ربع [څلورمي حصې] ضامن سي وَأَصْلُ هَذَا أَنَّ الدَّيْنَ الْمُشْتَرَكَ بَيْنَ اثْنَيْنِ إِذَا قَبَضَ أَحَدُهُمَا شَيْئًا مِنْهُ او د دې اصل دا دی چي هغه قرض کوم چي د دوو کسانو په مينځ کي مشترک وي کله چي له هغو څخه يو شريک د هغه قرض پر څه حصه قبضه وکړي فَلِصَاحِبِهِ أَنْ يُشَارِكَهُ فِي الْمَقْبُوضِ نو د هغه ملګري ته دا اختيار دی چي په قبضه کړې سوي حصه کې ور سره شريک سي لِأَنَّهُ ازْدَادَ بِالْقَبْضِ ځکه چي هغه په قبضه کولو کي زياتوب اخيستی دی [پله وينا: ځکه اخيستونکي شريک له خپل حق څخه يات اخيستی دی (احسن الهدايه)] إِذْ مَالِيَّةُ الدَّيْنِ بِاعْتِبَارِ عَاقِبَةِ الْقَبْضِ ځکه چي د قرض ماليت د قبضه کولو [اخيستلو] د انجام په اعتبار سره وي [يعني د همدې قبضه کولو په اعتبار سره د قرض د ماليت علم کيږي] وَهَذِهِ الزِّيَادَةُ رَاجِعَةٌ إِلَى أَصْلِ الْحَقِّ او دا زياتوب د اصل حق وطرف ته راجع دی [يعني د اصل حق سره متعلق دی] فَتَصِيرُ كَزِيَادَةِ الْوَلَدِ وَالثَّمَرَةِ نو دا د اولاد او ميوې د زياتوب په څېر سو فَلَهُ حَقُّ الْمُشَارَكَةِ نو ځکه هغه [غير قابض] ته به د شريک کېدلو حق حاصل وي وَلَكِنَّهُ قَبْلَ الْمُشَارَكَةِ بَاقٍ عَلَى مِلْكِ الْقَابِضِ لېکن له مشارکت څخه مخکي هغه [کپړه]

د قبضه کونکي شريک پر ملکيت باقي پاتيږي لِأَنَّ الْعَيْنَ غَيْرُ الدَّيْنِ حَقِيقَةً ځکه چي دا عين [کپړه] په حقيقت کي قرض نه دی وَقَدْ قَبَضَهُ بَدَلًا عَنْ حَقِّهِ او قابض [مصالح] شريک د خپل حق د بدل په توګه پر هغه قبضه کړې ده فَيَمْلِكُهُ نو ځکه قابض به د هغه مالک وي حَتَّى يَنْفُذَ تَصَرُّفُهُ فِيهِ تر دي چي په هغه کي به د ده تصرف نافذيږي وَيَضْمَنَ لِشَرِيكِهِ حِصَّتَهُ او دا قابض به د خپل شريک لپاره د هغه د حصې ضامن کيږي وَالدَّيْنُ الْمُشْتَرَكُ يَكُونُ وَاجِبًا بِسَبَبٍ مُتَّحِدٍ او مشترک قرض دا دی چي په يو متحد سبب سره هغه واجب سوی وي كَثَمَنِ الْمَبِيعِ إِذَا كَانَ صَفْقَةً وَاحِدَةً لکه د مبيع ثمن کله چي عقد يو وي [يعني په يوه عقد سره ثمن واجب سوی وي] وَثَمَنِ الْمَالِ الْمُشْتَرَكِ وَالْمَوْرُوثِ بَيْنَهُمَا وَقِيمَةِ الْمُسْتَهْلَكِ الْمُشْتَرَكِ او لکه د مشترک مال ثمن او لکه د هغه مال ثمن کوم چي د دوو کسانو په مينځ کي موروث وي او لکه د هغه شي قيمت کوم چي په مشترکه توګه هلاک کړی سوی وي فَإِذَا عَرَفْتَ هَذَا فَنَقُولُ فِي مَسْأَلَةِ الْكِتَابِ: لَهُ أَنْ يَتْبَعَ الَّذِي عَلَيْهِ الْأَصْلُ کله چي تا ته دا معلومه سوه نو د کتاب [متن] د مسئلې په باره کي موږ وايو: چي غير مصالح [غير قابض] شريک ته دا حق سته چي په هغه کس پسې سي چي پر هغه اصل قرض دی [يعني مقروض] لِأَنَّ نَصِيبَهُ بَاقٍ فِي ذِمَّتِهِ ځکه چي د مقروض پر غاړه د هغه حصه باقي پاته ده لِأَنَّ الْقَابِضَ قَبَضَ نَصِيبَهُ ځکه چي قابض صرف پر خپله حصه قبضه کړې ده لَكِنَّ لَهُ حَقَّ الْمُشَارَكَةِ ليکن هغه [غير مُصالح] ته د شريک کېدلو حق [هم] سته وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ نِصْفَ الثَّوْبِ او که هغه وغواړي نو نيمه کپړه دي واخلي لِأَنَّ لَهُ حَقَّ الْمُشَارَكَةِ ځکه چي هغه ته د شريک کېدلو حق سته إِلَّا أَنْ يَضْمَنَ لَهُ شَرِيكُهُ رُبُعَ الدَّيْنِ مګر دا چي د هغه شريک [يعني قابض شريک] د قرض د يوې ربع ضامن سي لِأَنَّ حَقَّهُ فِي ذَلِكَ ځکه چي د هغه حق په دې کي [هم] دی.

**اللغات**: ﴿اتّبع﴾ د افتعال د باب ماضي ده: په يو چا پسې کېدل. ﴿مَن عليه الدّين﴾ پر چا چي قرض باندي وي. يعني مقروض (پوروړی). ﴿اِزْدَادَ﴾ د افتعال د باب ماضي ده: زياتېدل، اضافه کېدل. ﴿عاقبة﴾ انجام. ﴿موروث﴾ د حسب د باب اسم مفعول دی: په ميراث کي حاصل سوی (په

میراث کي تر لاسه کړی سوی شی)، ﴿مُستهلَك﴾ د استفعال د باب مفعول دی: هغه شی کوم چې قصداً هلاک کړی سوی وي، ضایع کړی سوی.

**تشریح: صورت د مسئلې**: دا دی که پر یو سړي د دوو کسانو قرض باندي وي، مثلاً دوو خلکو خپل مشترک شی پر مشتري خرڅ کړی وي او پر مشتري د هغه ثمن پاته وي، یا دوو خلکو په مشترکه توګه یو شی رانیولی وي، یا مثلاً د دوو خلکو یو قریب مړ سوی وي او دوی دواړو ته د هغه قریب په میراث کي داسي قرض حاصل سوی وي کوم چي پر یو سړي پاته وي، یا دوو کسانو دیو چا شی هلاک کړی وي او پر دوی د هغه ضمان (تاوان) واجب وي، ښکاره خبره ده چي په دې ټولو صورتونو دا قرض او مال د دوی په مینځ کي مشترک دی، اوس که له دوی څخه یو شریک په داسي مشترک قرض کي پر خپله حصه قبضه وکړي (یعني له مقروض څخه یې واخلي) یا د خپلي حصې په عوض کي پر یو شي مثلاً پر کپړې صلح وکړي، نو بل شریک ته له دوو شیانو څخه د یوه شي اختیار دی: ① یو دا چي له مقروض څخه د خپلي حصې قرض واخلي، ② یا له خپل شریک څخه (کوم چي پر کپړه قبضه کړې ده) نیمه کپړه واخلي او مابقی قرض د دواړو په مینځ کي مشترک پاته سي. لېکن که مصالح (قابض) شریک د غیر مصالح (غیر قابض) لپاره د قرض د یوې ربع (څلورمي حصې) ضامن سي (یعني د یوې رُبع ضمان [تاوان] ورکړي)، نو بیا د کپړې په هکله د غیر مصالح دعویٰ ختمیږي (یعني تر دې وروسته هغه پوره نیمه کپړه نه سي اخیستلای)، او د یوې ربع له حاصلېدلو څخه وروسته دویمه ربع چي څرنګه د ده (غیرِ مصالح) خوښه وي، هغه دې تر لاسه کړي. لنډه دا چي غیر مصالح (غیرِ قابض) شریک ته دغه پورتني اختیارات حاصلیږي؛ ځکه چي په اصل یعني په قرض کي هغه په هر اعتبار سره شریک دی، لهذا د دې قرض د اخیستلو (تر لاسه کولو) چي څومره هم صورتونه او شکلونه وي، په هغوی ټولو کي به هغه شریک او سهیم (حصه داره) وي چي د هغه کیفیت او تشریح له ترجمې څخه هم ښکاره کیږي، لهذا نور وضاحت او تشریح ته یې ضرورت نسته.

## د پورتنۍ مسئلې بل صورت

قَالَ: وَلَوِ اسْتَوْفَىٰ أَحَدُهُمَا نِصْفَ نَصِيْبِهِ مِنَ الدَّيْنِ فرمایي: او که له دوو شریکانو څخه یو د خپلي حصې قرض (له مقروض څخه) پوره واخلي كَانَ لِشَرِيْكِهِ أَنْ يُشَارِكَهُ فِيمَا قَبَضَ نو د هغه شریک ته دا اختیار سته چي په قبضه کړی سوي (اخیستل سوي) قرض کي ور سره شریک سي لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی ثُمَّ يَرْجِعَانِ عَلَى الْغَرِيمِ بِالْبَاقِيْ بیا به دوی دواړه له مقروض څخه

مابقي قرض واپس اخلي لِأَنَّهُمَا لَمَّا اشْتَرَكَا فِي الْمَقْبُوضِ ځکه کله چي په قبضه کړی سوي قرض کي دوی دواړه شریکان دي لَا بُدَّ أَنْ يَبْقَى الْبَاقِي عَلَى الشَّرِكَةِ نو مابقي قرض به [هم] ضرور پر شرکت پاتیږي [یعني مابقي قرض به خامخا مشترک وي].

**اللغات:**

**تشریح: مسئله:** دا ده که له مشترک قرض څخه یو شریک د خپلي حصې قرض واخلي، نو بل شریک ته دا حق او اختیار حاصلیږي چي له هغه (اخیستل سوي قرض) څخه نیمه حصه واخلي، او د مابقي قرض مطالبه به دوی دواړه په ګډه له مقروض څخه کوي، ځکه کله چي د دوی په مینځ کي قرض مشترک دی نو د هغه هره حصه به د دوی په مینځ کي مشترکه وي او په هر صورت کي به شرکت ثابتیږي، او کله چي مقبوضه (اخیستل سوې) حصه مشترکه ده، نو ښکاره خبره ده چي پر مقروض پاته سوې حصه به هم مشترکه وي.

## که له دوو شریکانو څخه یو د خپل قرض په عوض کي سامان رانیسي (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَلَوِ اشْتَرَى أَحَدُهُمَا بِنَصِيبِهِ مِنَ الدَّيْنِ سِلْعَةً فرمایي: او که چیري له دوی څخه یو شریک د خپل قرض د حصې په عوض کي سامان رانیسي كَانَ لِشَرِيكِهِ أَنْ يُضَمِّنَهُ رُبُعَ الدَّيْنِ نو بل شریک ته دا حق سته چي هغه د خپل قرض د یوې ربع [څلورمي حصې] ضامن وګرځوي [یعني بل شریک له هغه څخه د قرض د څلورمي حصې ضمان (تاوان) اخیستلای سي] لِأَنَّهُ صَارَ قَابِضًا حَقَّهُ بِالْمُقَاصَّةِ كَامِلًا ځکه چي رانیونکی شریک پر خپل حق د مقاصه [تبادله] په وجه په پوره توګه قابض وګرځېدی لِأَنَّ مَبْنَى الْبَيْعِ عَلَى الْمُمَاكَسَةِ ځکه چي د بیع مدار پر مماسکت دی بِخِلَافِ الصُّلْحِ په خلاف د صلح لِأَنَّ مَبْنَاهُ عَلَى الْإِغْمَاضِ وَالْحَطِيطَةِ ځکه چي د صلح مدار پر چشم پوشۍ او [د څه حق] پر ساقطولو دی فَلَوْ أَلْزَمْنَاهُ دَفْعَ رُبُعِ الدَّيْنِ نو [اوس] که موږ پر قابض [مُصالح] شریک د قرض د یوې ربع اداء کول لازم وګرځوو يَتَضَرَّرُ بِهِ نو په دې سره به هغه ته ضرر ورسیږي فَيَتَخَيَّرُ الْقَابِضُ نو ځکه به قابض ته اختیار وي كَمَا ذَكَرْنَا لکه څرنګه چي موږ ذکر کړه وَلَا سَبِيلَ لِلشَّرِيكِ عَلَى الثَّوْبِ فِي الْبَيْعِ او د بیع په صورت کي غیرِ قابض شریک ته په کپړه کي [د شریک کېدلو] هیڅ اختیار نسته لِأَنَّهُ مَلَكَهُ بِعَقْدِهِ ځکه چي قابض شریک په خپل عقد سره د هغې مالک سوی دی وَالِاسْتِيفَاءِ

بِالْمُقَاصَّةِ بَيْنَ ثَمَنِهِ وَبَيْنَ الدَّيْنِ او [د قرض] اخيستل د مبيع [کپړې] د ثمن او قرض په مينځ کي په مقاصه سره دي [يعني دلته د "قرض اخيستل" د کپړې د ثمن او د قرض په مينځ کي د مقاصه په ذريعه سوي دي] وَلِلشَّرِيكِ أَنْ يَتْبَعَ الْغَرِيمَ فِي جَمِيعِ مَا ذَكَرْنَا او غير قابض شريک ته دا حق سته چي زموږ په ذکر کړده ټولو صورتونو کي په مقروض پسې سي [يعني له هغه څخه خپله حصه واخلي] لِأَنَّ حَقَّهُ فِي ذِمَّتِهِ بَاقٍ ځکه چي د مقروض پر غاړه د هغه حق پاته دی لِأَنَّ الْقَابِضَ اسْتَوْفَى نَصِيبَهُ حَقِيقَةً ځکه قابض په حقيقت کي صرف خپله حصه اخيستې ده لَكِنْ لَهُ حَقُّ الْمُشَارَكَةِ لیکن قابض ته [د بل شريک سره] د شريک کېدلو حق سته [يعني دا حق ورته سته چي هغه په خپله حصه کي شريک کړي] فَلَهُ أَنْ لَا يُشَارِكَهُ نو ده ته دا حق هم سته چي د هغه سره شريک نه سي [يعني هغه په خپله حصه کي شريک نه کړي] فَلَوْ سَلَّمَ لَهُ مَا قَبَضَ ثُمَّ تَوَى مَا عَلَى الْغَرِيمِ بيا که هغه قابض شريک ته مقبوضه [اخيستل سوې] حصه وسپاري [يعني په د قابض سره د هغه په مقبوضه حصه کي شرکت نه وکړي] او بيا هغه قرض ضايع سي کوم چي پر مقروض پاته دی لَهُ أَنْ يُشَارِكَ الْقَابِضَ نو هغه [غير قابض شريک] ته دا حق سته چي د قابض سره شريک سي لِأَنَّهُ رَضِيَ بِالتَّسْلِيمِ لِيَسْلَمَ لَهُ مَا فِي ذِمَّةِ الْغَرِيمِ ځکه چي هغه په دې وجه په سپارلو [يعني په شرکت پرېښودلو] راضي سوی وو چي د ده لپاره هغه قرض سالم پاته سي [يعني ده ته هغه قرض حاصل سي] کوم چي پر مقروض پاته دی وَلَمْ يَسْلَمْ حالانکي هغه سالم پاته نه سو [بلکي ضايع سو او ده ته حاصل نه سو] وَلَوْ وَقَعَتِ الْمُقَاصَّةُ بِدَيْنٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنْ قَبْلُ او که چيري په يو داسي قرض سره مقاصه واقع سوې وي کوم چي پر يوه شريک له مخکي څخه باندي وي لَمْ يَرْجِعْ عَلَيْهِ الشَّرِيكُ نو بل شريک پر هغه رجوع نه سي کولای لِأَنَّهُ قَاضٍ بِنَصِيبِهِ لَا مُقْتَضٍ ځکه چي [په دې صورت کي] قابض شريک د مقروض د حق اداء کونکی دی، تقاضا کونکی [د قرض اخيستونکی] نه دی وَلَوْ أَبْرَأَهُ عَنْ نَصِيبِهِ او که چيري يو شريک له خپلي حصې څخه مقروض بري کړي فَكَذَلِكَ نو هم دغه حکم دی لِأَنَّهُ إِتْلَافٌ وَلَيْسَ بِقَبْضٍ ځکه چي دا اتلاف [ضايع کول] دي او قبضه نه ده وَلَوْ أَبْرَأَهُ عَنِ الْبَعْضِ او که چيري له څه حصې څخه مقروض بري کړي كَانَتْ قِسْمَةُ الْبَاقِي عَلَى مَا بَقِيَ مِنَ السِّهَامِ نو د باقي قرض تقسيم به د ما بقي حصو مطابق وي وَلَوْ أَخَّرَ أَحَدُهُمَا عَنْ نَصِيبِهِ او که

چیري یو شریک د خپلي حصې [اخیستل] مؤخر کړي [یعني مقروض ته په خپله حصه کي مهلت ورکړي] صَحَّ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز صحیح دی اعْتِبَارًا بِالْإِبْرَاءِ الْمُطْلَقِ پر مطلق ابراء په قیاس کولو سره وَلَا يَصِحُّ عِنْدَهُمَا ۞ او د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز صحیح نه دي لِأَنَّهُ يُؤَدِّي إِلَى قِسْمَةِ الدَّيْنِ قَبْلَ الْقَبْضِ ځکه چي دا رسول کوي [یعني دا سبب ګرځي] تر قبضې مخکي د قرض تقسیمولو ته وَلَوْ غَصَبَ أَحَدُهُمَا عَيْنًا مِنْهُ او که چیري یو شریک له مقروض ځخه یو شی غصب کړي أَوِ اشْتَرَاهَا شِرَاءً فَاسِدًا یا په فاسده توګه [له مقروض ځخه] یو شی رانیسي وَهَلَكَ فِي يَدِهِ او هغه شی د ده په قبضه کي هلاک سي فَهُوَ قَبْضٌ نو دا قبضه ده [یعني دا هم قبضه کول شمارل کیږي]. وَالِاسْتِئْجَارُ بِنَصِيبِهِ قَبْضٌ او د خپلي حصې په عوض کي [له مقروض ځخه] یو شی په کرایه اخیستل هم قبضه ده وَكَذَا الْإِحْرَاقُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ او همدارنګه [د مقروض سامان] سوځول هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز قبضه ده خِلَافًا لِأَبِي يُوسُفَ په خلاف د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله وَالتَّزَوُّجُ بِهِ إِتْلَافٌ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او د خپلي حصې په عوض کي نکاح کول اتلاف دی په ظاهر روایت کي [یعني په ظاهر روایت کي هغه اتلاف شمارل کیږي] وَكَذَا الصُّلْحُ عَلَيْهِ مِنْ جِنَايَةِ الْعَمْدِ او همدارنګه د خپلي حصې په عوض کي د قتلِ عمد په هکله صلح کول [هم اتلاف دی].

**اللغات**: ﴿سلعة﴾ سامان، ﴿مقاصة﴾ د مفاعلې مصدر دی: یو شی د بل شي سره مقابله کول، ادل بدل کول (مثلاً پر زید د خالد لس درهمه قرض باندي وي، او بیا د خالد هم پر زید لس درهمه قرض باندي سي، نو دوی خپل قرضونه سره ادل بدل کړي، دې ته مقاصه وايي)، تبادله کول، ﴿مماسكة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، مراد: قیمت کمول، قیمت په کمول (احسن الهدایه)، سختي کول، ﴿إغماض﴾ د افعال د باب مصدر دی: چشم پوشي کول (پر یو شي سترګي پټول)، رعایت او نرمي کول، ﴿حطيطة﴾ د نصر د باب مصدر دی: کمول، ساقطول (معانول)، ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: (خپل حق) پوره اخیستل، ترلاسه کول، ﴿لِيَسْلَم﴾ د سمع د باب مضارع ده، په شروع کي یې "لام جاره" دی چي تر هغه

۞ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في العنايه (ج:۷، ص: ۲۰۵)، وملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۴۳۷). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۰۷]

وروسته "أنْ ناصبه" مقدر دی: سالم پاتېدل، له عیبه پاکېدل، ﴿إتلاف﴾ د افعال د باب مصدر دی: ضایع کول، هلاکول، ﴿إحراق﴾ مخکنۍ صیغه ده: سوځول، سوزول، ﴿اسټیجار﴾ د استفعال د باب مصدر دی: په اُجرت (په کرایه) اخیستل.

**تشریح: صورت د مسئلې:** دا دی که پر یو سړي دوو کسانو مشترک قرض باندي وي او بیا له هغو څخه یو شریک (قرضخواه) د خپلي حصې په عوض کي له مقروض سړي څخه یو سامان رانیسي، نو په دې صورت کي بل شریک ته دا حق او اختیار سته چي رانیونکی شریک د قرض دیوې ربع ضامن وګرځوي (یعني دیوې رُبع ضمان [تاوان] ځني وَاخلي)؛ ځکه چي د بیع مدار پر مماسکت دی یعني بائع د خپل مال او خپل شي تر وله ثمن له مشتري څخه اخلي لېکن مشتري په کم از کم (ډېر کم) قیمت هغه اخلي، لهذا مونږ به همدا وایو چي مشتري خپل قرض تر وله اخیستی دی، لهذا هغه به د بل شریک لپاره ضامن جوړېږي او ضمان به ورکوي، لېکن د شریکانو معامله له صلح څخه جلا ده؛ ځکه چي په صلح کي عموماً کم مال اخیستل کیږي او د مقروض سره د نرمۍ او چشم پوشۍ معامله کیږي، اوس که مونږ په صلح کي پر مصالح د ربع دَین اداء کول لازم وګرځوو، نو په دې کي به د مصالح ضرر او نقصان وي، نو ځکه د صلح والا په صورت کي به قابض ته د ضمان په ورکولو کي اختیار وي.

ولا سبیل للشریك إلخ: د دې حاصل دا دی چي که یو شریک (قرضخواه) د خپلي حصې په عوض کي له مقروض څخه کپړه رانیسي، نو بل شریک ته په هغه کي د شرکت حق نه حاصلیږي؛ ځکه رانیونکي شریک په جائز طریقه سره هغه رانیولې او د هغې مالک سوی دی، او څرنګه چي صراحتاً هغه خپل قرض نه دی اخیستی او بل شریک (غیرِ قابض شریک) صرف په قرض کي د هغه شریک او سهیم کېدای سي، او دلته قرض سته نه، نو ځکه دا بل شریک (غیرِ قابض) به په هغه کپړه نه شریک کیږي، ها! دا بل شریک به له مقروض څخه خپله حصه اخلي؛ ځکه چي اصل حق پر هغه باندي دي، او دا جلا خبره ده چي رانیونکی شریک په خپله حصه کي هغه (غیرِ قابض) شریک کړي.

فلو سلّم له إلخ: فرمایي که چیري غیرِ قابض (نارانیونکی) شریک د قابض (رانیونکي) شریک سره په مقبوضه کپړه کي شریک نه سي، بیا پر مقروض ما بقي قرض هلاک سي یعني مقروض مفلس (او ډېوالي) سي یا د مفلس والي په حالت کي مړ سي، نو اوس به هغه (غیرِ قابض شریک) د قابض سره شریک کیږي؛ ځکه چي غیرِ قابض د دې لپاره په شرکت پر نه ښولو راضي سوی سو، چي د مقروض پر ذمه کوم قرض باقي دی هغه ده ته پوره حاصل سي، لېکن څرنګه چي د مقروض د مفلس والي یا مړ کېدلو په وجه له هغه څخه باقي قرض اخیستل ناممکن سوه، نو ځکه اوس له شرکت څخه بغیر بله هیڅ لاره پاته نه ده.

**ولو وقعت المقاصة إلخ:** مسئله دا ده چي که له دوارو شريکانو (قرضخواهانو) څخه پر يوه شريک د مقروض هم قرض باندي وي، او دا شريک د هغه قرض په عوض کي د خپل قرض سره مقاصه (تبادله) وکړي، نو په دې صورت کي هم بل شريک په هغه کي نه سي شريک کېداى؛ ځکه چي په دې صورت کي خو هغه (مقاصه کونکي شريک) مقروض ته د مقروض حق ورکړي دی او له هغه څخه يې اخيستی نه دی. همدا حکم د بري کولو هم دی؛ ځکه چي ابراء اتلاف دی، قبضه او استيفاء نه ده.

او که چيري له دوارو شريکانو څخه يو شريک د خپل قرض له بعضي حصې څخه مقروض بري کړي (معاف کړي)، نو په دې صورت کي چي د بري کونکي شريک د حصې څومره قرض پاته وي، د هغه مطابق به ده ته له ما بقي قرض څخه حصه ورکول کيږي، مثلاً د دوارو شريکانو پر مقروض پنځوس، پنځوس درهمه (مجموعتاً سل درهمه) باندي وي، او بيا له دوی څخه يو د خپل قرض نيمه حصه يعني پنځويشت درهمه مقروض ته ور معاف کړي، نو اوس به ما بقي قرض (يعني پنځه اويا درهمه) پر دريو حصو تقسيمول کيږي چي له هغه څخه به دوې حصې د نه بري کونکي شريک وي او يوه حصه به د بري کونکي شريک وي.

**ولو أخّر إلخ:** د دې حاصل دا دی چي که يو شريک د خپلې حصې مطالبه مؤخره کړي (مثلاً مقروض ته ووايي چي زه ستا څخه يو کال وروسته خپله حصه غواړم)، نو دا تاخير د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز صحيح دی، لکه څرنګه چي له قرض څخه د مقروض بري کول صحيح دي، ليکن د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دا تاخير صحيح نه دی؛ ځکه د کوم شريک له طرفه چي تاخير نه دی سوی، هغه ته خو في الحال د خپل قرض د مطالبه کولو حق سته او که چيري هغه مطالبه وکړي، نو پر قرض له قبضه کولو څخه مخکي به د قرض تقسيمول لازم سي، حال دا چي قبل القبض د قرض تقسيم صحيح نه دی.

**ولو غصب إلخ:** تشريح يې واضحه ده.

**والتزوّج به إتلاف إلخ:** د دې حاصل دا دی چي که پر يو ښځې د دوو کسانو قرض باندي وي او له هغو څخه يو شريک د خپلې حصې په عوض کي د هغې سره نکاح وکړي، نو دا نکاح کول پر قرض قبضه نه شمارل کيږي، بلکي پر قرض نکاح کول يعني قرض مهر ګرځول په حقيقت کي د قرض (د خپلې حصې) اتلاف دی. همدارنګه که يو شريک عمداً مقروض زخمي کړي، بيا د هغه سره د خپلې حصې په عوض کي صلح وکړي، نو دا هم قبضه نه ده، بلکي اتلاف دی، يعني له دې صورتونو څخه په يوه صورت کي هم بل شريک ته د شرکت حق نه حاصليږي. (احسن الهدايه)

## په پورتنی مسئله کي د بيع سَلم صورت

قَالَ: وَإِذَا كَانَ السَّلَمُ بَيْنَ شَرِيكَيْنِ فرمايي: او کله چي په بيع سَلم کي مسلم فيه د دوو شريکانو په مينځ کي مشترکه وي فَصَالَحَ أَحَدُهُمَا مِنْ نَصِيبِهِ عَلَى رَأْسِ الْمَالِ بيا له دوی څخه يو شريک د خپلي حصې په عوض کي پر رأسُ المال صلح وکړي لَمْ يَجُزْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا صلح جائز نه ده وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَجُوزُ الصُّلْحُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي صلح جائز ده اعْتِبَارًا بِسَائِرِ الدُّيُونِ پر نورو قرضونو په قياس کولو سره وَبِمَا إِذَا اشْتَرَيَا عَبْدًا فَأَقَالَ أَحَدُهُمَا فِي نَصِيبِهِ او پر هغه صورت په قياس کولو سره چي دوه کسان يو غلام رانيسي او بيا له دوی څخه يو په خپله حصه کي اقاله وکړي [يعني په خپله حصه کي بيع فسخ کړي] وَلَهُمَا: أَنَّهُ لَوْ جَازَ فِي نَصِيبِهِ خَاصَّةً او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي که صرف د يوه شريک په حصه کي صلح جائز سي يَكُونُ قِسْمَةَ الدَّيْنِ فِي الذِّمَّةِ نو د داسي قرض تقسيم به لازم سي کوم چي پر ذمه ثابت دی وَلَوْ جَازَ فِي نَصِيبِهِمَا او که چيري د دواړو په حصه کي صلح جائز سي لَا بُدَّ مِنْ إِجَازَةِ الْآخَرِ نو [په دې صورت کي] د بل شريک اجازت ضرورت دی بِخِلَافِ شِرَاءِ الْعَيْنِ په خلاف د عَين شي [مثلا د غلام] د رانيولو وَهٰذَا لِأَنَّ الْمُسْلَمَ فِيهِ صَارَ وَاجِبًا بِالْعَقْدِ او دا حکم ځکه دی چي د عقد په وجه مسلم فيه واجب وګرځېده وَالْعَقْدُ قَامَ بِهِمَا او عقد په دوی دواړو سره قائم [او منعقد سوی] دی فَلَا يَنْفَرِدُ أَحَدُهُمَا بِرَفْعِهِ لهذا تنها يو شريک به د عقد په فسخ کولو کي منفرد نه وي وَلِأَنَّهُ لَوْ جَازَ او ځکه که چيري د يوه شريک صلح يا فسخ جائز سي لَشَارَكَهُ فِي الْمَقْبُوضِ نو بل شريک به هم د هغه سره په قبضه کړی سوې حصه کي شريک وګرځي فَإِذَا شَارَكَهُ فِيهِ او کله چي هغه په دې کي شريک وګرځي رَجَعَ الْمُصَالِحُ عَلَى مَنْ عَلَيْهِ بِذٰلِكَ نو صلح کونکی شريک به هغه مقدار له مقروض [مسلم إليه] څخه واپس اخلي فَيُؤَدِّي إِلَى عَوْدِ السَّلَمِ بَعْدَ سُقُوطِهِ او دا به د بيع سَلم تر ساقطېدلو وروسته د هغه د راګرځېدلو [جائز ګرځېدلو] سبب جوړ سي قَالُوا: هٰذَا إِذَا خَلَطَا رَأْسَ الْمَالِ مشايخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي: چي دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي دوی دواړو رأسُ المال سره ګډ کړی وي فَإِنْ

لَمْ يَكُونَا قَدْ خَلَطَاهُ لېکن که دوی رأسُ المال سره ګډ کړی نه وي فَعَلَى الْوَجْهِ الْأَوَّلِ هُوَ عَلَى الْخِلَافِ نو په اول صورت کي دا [مسئله] پر اختلاف ده وَعَلَى الْوَجْهِ الثَّانِي هُوَ عَلَى الِاتِّفَاقِ او په دويم صورت کي هغه پر اتفاق ده.

**اللغات:** ﴿السلم﴾ بيع سلم، بيع الاجل بالعاجل، يعني څنډه من شي د نغد شي په عوض کي خرڅول، مثلاً يو سړی (بائع) له يو چا څخه ثمن في الحاله واخلي او د يوې مياشتي پر قرض غنم پر خرڅ کړي چي غنم يوه مياشت وروسته درکوم. په بيع سَلَم کي ثمن ورکونکي (مشتري) ته رَبُّ السَّلَمِ وايي او په قرض خرڅونکي (بائع) ته مُسْلَم إِلَيْه وايي او په کوم شي کي چي بيع سَلَم وسي لکه په دې مثال کي چي غنم دي، هغه ته مُسْلَمْ فِيْه وايي او ثمن ته رَأْسُ الْمَال وايي. ﴿أقَال﴾ د افعال د باب ماضي ده: اقاله کول، بيع فسخ کول (سودا ماتول). ﴿عود﴾ د نصر د باب مصدر دی: راګرځېدل، واپس کېدل (بيرته راګرځېدل).

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که چيري دوه کسان په ګډه بيع سَلَم وکړي او مسلم فيه د دوی په مينځ کي مشترکه وي، بيا له دوی څخه يو کس د خپل حصې رأسُ المال واخلي او له بيع سَلَم څخه ووځي او په دې توګه هغه صلح وکړي، نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دَ صلح صحيح نه ده، لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز دا صلح صحيح او جائز ده.

**د امام ابو يوسف دليل:** قياس دی چي څرنګه په نورو قرضونو کي صلح جائز ده، همداسي په پورتنی مسئله کي هم صلح جائز ده؛ ځکه چي مسلم فيه هم د مسلم اليه پر ذمه قرض (دَين) وي، يا مثلاً لکه څرنګه چي دوه خلک په ګډه يو غلام رانيسي بيا له دوی څخه يو شريک خپله حصه واخلي او شرکت ختم کړي، نو دا صورت هم جائز دی، لهذا همداسي به په پورتنی مسئله کي د بيع سَلَم له دوو شريکانو (عاقدَينو) څخه د يوه لپاره د خپلي حصې په عوض کي پر رأسُ المال صلح کول هم جائز وي.

**د طرفينو دليل:** دا دی چي د دې صلح د جائز ګرځولو هيڅ صورت نسته؛ ځکه که موږ دا صلح د يوه شريک يعني د مصالح شريک په حق کي صحيح وګرځوو، نو د داسي قرض تقسيم به لازم سي کوم چي تر اوسه (د مسلم إليه) پر ذمه ثابت دی او چي پر هغه قبضه نه ده سوې، حالانکي له قبضې څخه مخکي هغه قرض مشترک او غير مملوک وي، نو ځکه په هغه کي صلح جائز نه سي ګرځول کېدای، او که چيري د دواړو شريکانو په حق کي صلح جائز وګرځوو، نو د دې لپاره به د بل يوه اجازت ضروري وي، حالانکي دلته د بل يوه اجازت معدوم دی، نو ځکه د صلح د جواز لاره به هم بنده وي.

او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله چي کوم مثال پېش کړی دی، په هغه کي د بیع له پوره کېدلو څخه وروسته بیع فسخ کیږي، او تر عقد پوره کېدلو (تام کېدلو) وروسته د هغه فسخ کول صحیح او جائز دي، او په دې پورتنۍ مسئله کي پر قرض قبضه نه ده سوې، نو ځکه دلته عقد د ابتدائي عقد په درجه کي دی او تام سوی نه دی، نو ځکه پر تام عقد نا تمام عقد قیاسول صحیح نه دي. د بیع سَلم او د عَین شي په رانیولو کي یو فرق دا دی چي په بیع سَلم کي مسلم فیه د عقد په وَجه واجبیږي او څرنګه چي عقد د دواړو شریکانو په رضا سره واقع او منعقد سوی دی، نو ځکه تنها یو شریک به د هغه د فسخ کولو ملکیت (اختیار) نه لري، او دا صلح به صحیح نه وي؛ ځکه چي د صلح د جائز ګرځولو په صورت کي به دویم شریک د مصالح شریک په قبضه کړی سوي مال کي شریک وګرځي او بیا به دا مصالح شریک له مسلم الیه څخه د رأسُ المال ربع (څلورمه حصه) اخلي او په دې توګه به د هغه په حق کي بیع سَلم تر ساقطېدلو وروسته بیا واپس راوګرځي، حالانکي تر ساقطېدلو وروسته بیع سَلم واپس نه راګرځي، نو ځکه له دې خرابۍ څخه د بچ کېدلو لپاره به مذکوره صلح هم صحیح نه وي.

قالوهذا إلخ: د مشایخو رَحِمَهُمُ الله رایه دا ده چي د طرفینو او د امام ابو یوسف رَحِمَهُمُ الله دغه اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي دواړو شریکانو خپل، خپل رأسُ المال یو د بل سره ګډ کړی وي او تر ګډولو وروسته یې عقد سَلم کړی وي، لېکن که د دواړو رأسُ المال جلا، جلا وي او سره ګډ کړل سوي نه وي، نو په اول صورت کي دا مسئله مختلف فیها ده. له اول صورت څخه دا صورت مراد دی "أَنَّهُ لَو جَازَ فِيْ نَصِيْبِه خَاصَّةً يَكُوْنُ قِسْمَةَ الدَّيْنِ فى الذِّمَّة"، او په دویم صورت یعني د "لَوْ جَازَ، لَشَارَكَهُ فِي المَقْبُوْضِ" والا په صورت کي د امام ابو یوسف او طرفینو رَحِمَهُمُ الله ټولو په نېز حکم یو دی او صلح جائز ده؛ ځکه کله چي د دواړو شریکانو رأسُ المال یو له بل څخه جلا دی، نو ښکاره خبره ده چي یو شریک چي د کوم مال په عوض کي صلح کوي، په هغه کي به د بل شریک لپاره د شرکت حکم نه ثابتیږي؛ ځکه چي دا مال غیر (د بل چا مال) دی او په مال غیر کي زور او جبر جائز نه دی. والله أعلم وعلمه أتم



# فَصْلٌ فِي التَّخَارُجِ

(دا) فصل د تخارج (په بيان کي) دی

**تشريح:**

**د تخارج لغوي او اصطلاحي معنی:** "تخارج" د تفاعل د باب مصدر دی: لغوي معنی يې ده: وتل، ايستل (لازمي او متعدي)، يو د بل په رضا له مشترک مال څخه وتل.

د شريعت په اصطلاح کي د تخارج مطلب دا دی چي له ميراث څخه يو وارث (ميراث خور) ايستل د څه مال په عوض کي، يعني چي د مړي (ميت) وراثان متفق سي او يو وارث ته څه مال ورکړي او له ميراث څخه يې وباسي، د تخارج د صحيح کېدلو لپاره څو شرطونه دي: ① يو دا چي وتونکی وارث (خارج) په خپله د دې مطالبه کوي، ② او نور وارثان په دې راضي وي، ③ همدارنګه د مړي په ميراث کي د قرض اداء کول شامل نه وي او وتونکی وارث ته ورکول سوی مال د مذکوره ميراث له جنس څخه د هغه تر حق زيات وي په دې شرط که چيري ميراث سره زر يا سپين زر او داسي نور وي، او که چيري ميراث سامان يا عقار (غيرِ منقوله جايداد) وي، نو کم يا زيات ورکول کېدای سي. صاحب د معجم لغة الفقهاء د "تخارج" مختصر عربي تعريف داسي ذکر کړی دی "مُصَالَحَةُ بَعْضِ الْوَرَثَةِ عَلٰى خُرُوْجِهِ مِنَ الْقِسْمَةِ بِأَدَاءِ شَيْءٍ مُعَيَّنٍ مِنَ التَّرِكَةِ". (معجم لغة الفقهاء)

څرنګه چي تخارج ډېر کم پېښېږي، ځکه چي هيڅ وارث هم د خپل پوره حصې له اخيستلو څخه بغير له ميراث څخه وتلو ته نه اماده کېږي، همدارنګه تخارج د مړي (مورث) تر مرګ وروسته واقع کېږي، نو ځکه يې د تخارج بيان د "كتابُ الصلح" په آخر کي ذکر کړی دی.

## د تخارج تعريف، حکم او دليل

| |
|---|
| وَإِذَا كَانَتِ التَّرِكَةُ بَيْنَ وَرَثَةٍ او کله چي ميراث د څو وارثانو په مينځ کي مشترک وي فَأَخْرَجُوا أَحَدَهُمْ مِنْهَا بِمَالٍ أَعْطَوْهُ إِيَّاهُ او هغوی [وارثان] له دې ميراث څخه خپل يو وارث وباسي د څه مال په عوض کي چي هغوی يې ده ته ورکړي وَالتَّرِكَةُ عَقَارٌ أَوْ عُرُوضٌ او ميراث جايداد يا سامان وي جَازَ نو دا [باسل] جائز دي قَلِيلًا كَانَ مَا أَعْطَوْهُ إِيَّاهُ أَوْ كَثِيرًا برابره ده هغه مال کوم چي وارثانو ده ته ورکړی وي |

کم [الر] وي او که زيات وي لِأَنَّهُ أَمْكَنَ تَصْحِيحُهُ بَيْعًا ځکه چي دا صلح د بيع په توګه صحيح ګرځول ممکن دي وَفِيهِ أَثَرُ عُثْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او په دې باره کي د حضرت عثمان رضي الله عنه اثر [هم] موجود دی فَإِنَّهُ صَالَحَ تَمَاضُرَ الْأَشْجَعِيَّةَ امْرَأَةَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رُبُعِ ثُمُنِهَا عَلَى ثَمَانِينَ أَلْفَ دِينَارٍ چي هغه د عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه د ښځي "تماضر اشجعيه" سره د هغې د اتمي حصې د ربع [څلورمي حصې] په هکله پر اتيا زره دينارو صلح وکړه.

**اللغات:** ﴿التَّرِكَة﴾ (د راء په کسره سره) او التِّرْكَة: مړی چي کوم مالونه پرېږدي ايښي وي هغه ته "ترکه" ويل کيږي، ميراث، ﴿عقار﴾ غير منقوله جايداد، لکه ځمکه، کور او داسي نور، ﴿عروض﴾ جمع د عَرَضٌ ده: سامان، ﴿رُبُع﴾ او رُبْع: څلورمه حصه، کوم شی چي څلور حصې کړل سي، نو د هغه هري حصې ته يوه ربع وايي، ﴿ثُمُن﴾ صحيح دا ده چي دا لفظ ثُمُن او ثُمْن دی، نه ثَمَن، معنىٰ يې ده: اتمه حصه، کله چي خاوند مړ سي په داسي حال کي چي د هغه ځامن هم پاته سي، نو په ميراث کي د ښځو حق يو ثُمُن (اتمه حصه) ده لکه څرنګه چي په قرآن کي ذکر سوي دي ﴿فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ﴾، يعني ښځو ته به د خاوند له ميراث څخه اتمه حصه ورکول کيږي او دا اتمه حصه به د دوی په مينځ کي برابره تقسيمول کيږي، ﴿تماضر الأشجعيّة﴾ تماضر د عربو د مشهور شاعر "امرئ القيس" له نسله يوه شاعره ښځه وه کوم چي يې پر نبي کريم صلى الله عليه وسلم ايمان راوړی، نبي صلى الله عليه وسلم عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه ته د هغې سره د نکاح کولو اجازت ورکړی، نو هغه د تماضر سره نکاح وکړه او له هغې څخه يې يو ځوی "ابو سلمه" پيدا سو. تماضر نازک مزاجه او څه بد اخلاقه ښځه وه، عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه هغې ته دوه طلاقه ورکړې وه او هغه په عدت کي وه چي په دې دوران کي عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه مريض سو نو هغې ته يې دريم طلاق هم ورکړی او د هغې تر عدت تېرېدلو وروسته عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه وفات وکړی، مګر حضرت عثمان رضي الله عنه دا طلاق فرار وګرځوی او د هغې لپاره يې د خپل خاوند "عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه" په ميراث کي حصه وټاکله چي هغه يوه ربع کېدل او بيا يې د هغې سره د دغه ربع په هکله د مال په عوض کي صلح وکړه (وضاحت به يې په تشريح کي ذکر سي)، ﴿عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه﴾ له عشره مبشره وو څخه مشهوره جليل القدر صحابي وو، د اسلام په ابتدائي دور کي هغه د حضرت ابو بکر رضي الله عنه پر لاس ايمان راوړی، تر دې وروسته هغه په ټولو غزاګانو کي شرکت وکړی او د هجرت په ۳۲ کال وفات سو چي په همدې وخت کي د هغه عمر ۷۲ کاله وو او په جنت البقيع کي ښخ کړی سو، هغه ډېر مالدار او دولت من وو. کله چي د هغه د وفات وخت نژدې سو، نو په يوه ورځ يې دېرش (۳۰) غلامان آزاد کړل، په طبقات ابن سعد کي ذکر سوي ده چي کله عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه وفات وسو نو د هغه په ميراث کي له نورو شيانو څه بغير يوازي سره زر

دومره وه چي د تقسيم لپاره قربانو هغه په تبر (تبرزين) سره ټوټه ټوټه کړل، حتیٰ چي د هغوی په لاسو کي تڼاکي راپورته سوې. (طبقات ابن سعد)

**تشريح**: د تخارج اصطلاحي معنیٰ او د هغه حقيقت او کيفيت خو تاسو ته معلوم سو او دا هم معلومه سوه چي تخارج صحيح او جائز دی، د دې سلسلې واضح دليل دا دی چي د حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه څلور ښځي وې چي له هغوی څخه يوه ښځه "تماضر اشجعيه" وه، او تاسو ته معلومه سوه چي په ميراث کي د ښځو حق يو ثُمن دی او څرنګه چي دوی ټوله څلور ښځي وې، نو ځکه هري يوې ته له ثُمن څخه څلورمه حصه "ربع" رسيدل، او تماضر اشجعيه د عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه له طرفه له ميراث څخه ايستل سوې وه (لکه څرنګه چي مورږ په لغاتو کي اشاره ورته وکړه) او حضرت عثمان رضي الله عنه د هغې سره د هغې د ربع (څلورمي حصې) په هکله پر اتيا زره دينارو صلح وکړه، نو معلومه سوه چي تخارج جائز او صحيح دی، د تخارج د جواز يو دليل دا هم دی چي خارج (وتونکی وارث) چي کوم مال اخلي، هغه داسي دی لکه د ده د ميراث د حصې عوض او ثمن، يعني ګواکي هغه خپله حصه د مذکوره مال (ثمن) په عوض کي خرڅه کړه. (احسن الهدايه)

## په ميراث کي د سرو زرو او سپينو زرو د موجود والي په صورت کي د تخارج طريقه

قَالَ: وَإِنْ كَانَتِ التَّرِكَةُ فِضَّةً او که چيري ترکه سپين زر وي فَأَعْطَوْهُ ذَهَبًا او وارثان وتونکي وارث [خارج] ته سره زر ورکړي أَوْ كَانَ ذَهَبًا يا ترکه سره زر وي فَأَعْطَوْهُ فِضَّةً او وارثان هغه ته سپين زر ورکړي فَكَذٰلِكَ نو هم دغه حکم دی لِأَنَّهُ بَيْعُ الْجِنْسِ بِخِلَافِ الْجِنْسِ ځکه چي دا يو جنس د بل مخالف [جلا] جنس په عوض کي خرڅول دي فَلَا يُعْتَبَرُ التَّسَاوِيْ نو ځکه د برابرۍ اعتبار به نه کيږي وَيُعْتَبَرُ التَّقَابُضُ فِي الْمَجْلِسِ [لېکن] په مجلس کي دننه د قبضه کولو اعتبار به کيږي لِأَنَّهُ صَرْفٌ ځکه چي دا بيع صرف ده غَيْرَ أَنَّ الَّذِيْ فِيْ يَدِهٖ بَقِيَّةُ التَّرِكَةِ إِنْ كَانَ جَاحِدًا خو د کوم وارث په قبضه کي چي مابقي ترکه وي که چيري هغه [د ترکې د وجود] انکار کونکی وي يُكْتَفٰى بِذٰلِكَ الْقَبْضِ نو په همدې قبضه به اکتفاء کيږي [يعني همدا قبضه کافي ده] لِأَنَّهُ قَبْضُ ضَمَانٍ ځکه چي دا د ضمان والا قبضه ده فَيَنُوْبُ عَنْ قَبْضِ الصُّلْحِ نو ځکه دا به د صلح د قبضي قائم مقام وي وَإِنْ كَانَ مُقِرًّا او که چيري هغه وارث [د ترکې د وجود] اقرار کونکی وي لَا بُدَّ مِنْ تَجْدِيْدِ الْقَبْضِ نو قبضه نوي کول

ضروري دي [يعني په دې صورت کې له نوي سره قبضه کول لازمي دي] لِأَنَّهُ قَبْضُ أَمَانَةٍ ځکه چې هغه د امانت قبضه ده فَلَا يَنُوبُ عَنْ قَبْضِ الصُّلْحِ نو ځکه هغه به د صلح د قبضې قائم مقام نه وي وَإِنْ كَانَتِ التَّرِكَةُ ذَهَبًا وَفِضَّةً وَغَيْرَ ذٰلِكَ او که چیرې ترکه سره زر، سپین زر او داسي نور شیان وي فَصَالَحُوهُ عَلٰى ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ او وارثان د خارج [وتونکی وارث] سره صرف پر سرو زرو یا سپینو زرو صلح وکړي فَلَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ مَا أَعْطَوْهُ أَكْثَرَ مِنْ نَصِيبِهِ مِنْ ذٰلِكَ الْجِنْسِ نو دا ضروري ده چې خارج ته ورکول سوی مال به له هغه جنس څخه د ده له حصې څخه زیات وي حَتّٰى يَكُونَ نَصِيبُهُ بِمِثْلِهِ وَالزِّيَادَةُ بِحَقِّهِ مِنْ بَقِيَّةِ التَّرِكَةِ د دې لپاره چې د ده حصه د هغه په مثل سره سي او زیاتوب [زائد مقدار] د ده د هغه حق په مقابله کې راسي کوم چې په بقیه ترکه [مابقي میراث] کې دی اِحْتِرَازًا عَنِ الرِّبٰوا له سُود څخه د ځان ساتلو لپاره وَلَا بُدَّ مِنَ التَّقَابُضِ فِيمَا يُقَابِلُ نَصِيبَهُ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ او د دې خارج د حصې په مقابه کې چې کوم سره زر او سپین زر وي پر هغه قبضه کول ضروري دي لِأَنَّهُ صَرْفٌ فِي هٰذَا الْقَدْرِ ځکه چې صلح په همدې مقدار [يعني د خارج د حصې په مقدار] کې بیع صَرف ده وَلَوْ كَانَ بَدَلُ الصُّلْحِ عَرَضًا او که چیرې بدل صلح سامان وي جَازَ مُطْلَقًا نو مطلقاً صلح جائز ده لِعَدَمِ الرِّبٰوا ځکه چې [په دې صورت کې] ربوا نسته وَلَوْ كَانَ فِي التَّرِكَةِ دَرَاهِمُ وَدَنَانِيرُ وَبَدَلُ الصُّلْحِ دَرَاهِمُ وَدَنَانِيرُ أَيْضًا او که چیرې په ترکه کې دراهم او دنانیر وي او بدل صلح هم دراهم او دنانیر وي جَازَ الصُّلْحُ كَيْفَ مَا كَانَ نو هم هر ډول [په هره توګه] صلح جائز ده صَرْفًا لِلْجِنْسِ إِلٰى خِلَافِ الْجِنْسِ په ګرځولو سره د یوه جنس و مخالف جنس ته [يعني په دې صورت کې به یو جنس د خلاف الجنس عوض ګرځول کیږي] كَمَا فِي الْبَيْعِ لکه څرنګه چې په بیع کې کیږي لٰكِنْ يُشْتَرَطُ التَّقَابُضُ لیکن [په مجلس کې] قبضه شرط ده لِلصَّرْفِ د بیع صَرف کېدلو په وجه.

**اللغات**: ﴿تساوي﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: یو د بل سره برابر بېدل، برابري. ﴿تقابض﴾ مخکنی صیغه ده: یو تر بله قبضه سره کول، يعني د جانبینو قبضه. ﴿ينوب﴾ د نصر د باب مضارع ده: نائب کېدل، قائم مقام کېدل. ﴿عَرَض﴾ او عَرْض: سامان. د عَرَض جمع أعْرَض راځي او د عَرْض جمع

عُرُوْض راځي، ﴿بيع صَرف﴾ هغه بيع ته وايي چي په هغه کي دواړو طرفونو ته نقود وي. مثلاً يوه طرف ته دراهم وي او بل طرف ته دنانير وي (يعني درهم د دينار په عوض کي خرڅول يا برعکس).

﴿تجديد﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: نوي کول.

**تشريح**: په عبارت کي درې مسئلې ذکر سوي دي:

(١)... که چيري ترکه سپين زر وي او وارثان خارج ته سره زره ورکړي، يا ترکه سره زر وي او وارثان خارج ته سپين زر ورکړي، نو دغه تخارج او صلح صحيح ده. برابره ده ورکول سوی مقدار لږ وي او که ډېر؛ ځکه چي دا يو جنس د بل (جلا) جنس په عوض کي خرڅول دي او د اختلاف الجنس په صورت کي تفاضل (کمي بيشي) يعني کمي وزياتوب جائز دی، خو څرنګه چي دا بيع صَرف ده او په بيع صَرف کي پر دواړو عوضَينو په مجلس کي دننه قبضه کول ضروري دي، نو ځکه په دې صورت کي هم د عقد په مجلس کي دننه پر پر عوضَينو قبضه کول ضروري دي. بيا د کوم وارث سره چي مابقي ترکه پاته وي، که چيري هغه د ترکې له موجود والي څخه انکار وکړي يعني داسي ووايي چي "زما سره د ترکې (ميراث) مال نسته"، نو د دې انکار په وجه مخکني قبضه کافي ده او د نوي قبضې ضرورت نسته، ځکه چي مخکني قبضه هم د ضمان والا قبضه ده او د صلح قبضه هم د ضمان والا قبضه ده، نو ځکه د مجانست په وجه به يوه قبضه د بلي قبضې قائم مقام کيږي، ها! که چيري هغه وارث د ترکې د موجود والي اقرار وکړي، نو اوس دا قبضه د امانت قبضه ګرځي، او د صلح د قبضې نه قائم مقام کيږي؛ ځکه چي د صلح قبضه مضمونه (ضمان والا) قبضه ده، او قاعده دا ده چي غير مضمونه قبضه د مضمونه قبضي قائم مقام کېدای نه سي، نو ځکه په دې صورت کي به د نوي قبضې (له نوي سره د قبضه کولو) ضرورت وي.

(٢)... که په ترکه کي سره زر هم وي، سپين زر هم وي او نور سامان هم وي، او وارثان (د خارج سره) صرف پر سرو يا سپينو زرو صلح وکړي، نو په صلح کي به دومره سره زر او سپين زر د بدل صلح (بدلِ خروج) په توګه ورکول کيږي چي د هغه مقدار په موجوده سرو او سپينو زرو کي د خارج له حق او حصې څخه زيات وي، يعني که خارج ته په ميراث کي ١٠٠ ګرامه سره زر يا نيم کېلو سپين زر رسيږي، نو د تخارج په صورت کي به هغه ته له ١٠٠ ګرامو سرو زرو څخه زيات ورکول کيږي يا له نيم کېلو سپينو زرو څخه به زيات ورکول کيږي، د دې لپاره چي ١٠٠ ګرامه يا نيم کېلو د خپل جنس والا حصې سره مساوي او مقابل سي او کوم چي زائد مقدار دی، هغه د بل جنس مقابل سي او د خارج په حق کي د سُود (ربوا) شبهه پيدا نه سي. د دې په خلاف که چيري د سامان په عوض کي صلح سوې وي، نو هغه مطلق جائز ده، برابره ده خارج ته ورکول سوی مال د هغه له حصې څخه کم

وي او كه زيات وي، او برابره ده په مجلس كي پر عوض قبضه سوې وي، كه نه وي؛ ځكه چي د سامان او نقودو (دراهم و دنانيرو) جنسونه سره جلا دي او د اختلاف الجنس په صورت كي تفاضل جائز دی.

(۳)... كه تركه دراهم ودنانير وي او بدل صلح (بدلِ خروج) هم له دراهمو و دنانيرو څخه وي، نو په دې صورت كي هم مطلق تفاضل (كمي وزياتوب) جائز دي؛ ځكه چي دراهم به د دنانيرو عوض ګرځول كيږي چي اختلاف الجنس ثابت سي، لهذا كله چي يو جنس د خلاف الجنس وطرف ته وګرځول سي، نو كمي وزياتوب به هم جائز وي، لېكن څرنګه چي دا بيع صَرف ده، نو ځكه به د عقد په مجلس كي قبضه شرط وي.

## كه په ميراث كي داسي مال وي كوم چي پر خلكو قرضاً پاته وي؟

قَالَ: وَإِنْ كَانَ فِي التَّرِكَةِ دَيْنٌ عَلَى النَّاسِ فرمايي: كه چيري په تركه كي پر خلكو قرض وي [يعني په تركه كي داسي مال وي كوم چي (د مړي) پر خلكو قرضاً پاته وي] فَأَدْخَلُوهُ فِي الصُّلْحِ عَلَى أَنْ يُخْرِجُوا الْمُصَالِحَ عَنْهُ وَيَكُونَ الدَّيْنُ لَهُمْ او وارثان پر دې شرط دا قرض په صلح كي داخل كړي چي دوی به صلح كونكی [خارج] له دې قرض څخه باسي او دا قرض به ټوله د دوی [وارثانو] لپاره وي فَالصُّلْحُ بَاطِلٌ نو صلح باطله ده لِأَنَّ فِيهِ تَمْلِيكَ الدَّيْنِ مِنْ غَيْرِ مَنْ عَلَيْهِ ځكه په دې صورت كي د داسي كس [مُصالِح] له طرفه د قرض تمليک لازميږي چي پر هغه قرض نسته وَهُوَ حِصَّةُ الْمُصَالِحِ او هغه د مصالح [خارج] حصه ده وَإِنْ شَرَطُوا أَنْ يَبْرَأَ الْغُرَمَاءُ مِنْهُ وَلَا يَرْجِعُ عَلَيْهِمْ بِنَصِيبِ الْمُصَالِحِ او كه وارثان دا شرط ولګوي چي مصالح به مقروضين له هغه [خپلي حصې] څخه بري كوي او هيڅ وارث به له مقروضينو څخه د مصالح حصه نه اخلي فَالصُّلْحُ جَائِزٌ نو صلح جائز ده لِأَنَّهُ إِسْقَاطٌ ځكه چي دا اسقاط دی وَهُوَ تَمْلِيكُ الدَّيْنِ مِمَّنْ عَلَيْهِ الدَّيْنُ و دا د مقروض له طرفه د قرض تمليک دی وَهُوَ جَائِزٌ او دا جائز دي وَهَذِهِ حِيلَةُ الْجَوَازِ او دا د جواز [جائز كېدلو] حيله ده وَأُخْرَى أَنْ يُعَجِّلُوا قَضَاءَ نَصِيبِهِ مُتَبَرِّعِينَ او دويمه حيله دا ده چي وارثان د تبرّع [احسان] په توګه د مصالح حصه اداء كړي وَفِي الْوَجْهَيْنِ ضَرَرٌ بِبَقِيَّةِ الْوَرَثَةِ [لېكن] په دې دواړو صورتونو كي د نورو وارثانو نقصان دی وَالْأَوْجَهُ أَنْ يُقْرِضُوا الْمُصَالِحَ مِقْدَارَ نَصِيبِهِ وَيُصَالِحُوا عَمَّا وَرَاءَ الدَّيْنِ او غوره توجيه [او صورت] دا دی چي وارثان مصالح ته د هغه د حصې په اندازه قرض وركړي او له قرض څخه بغير په نوره تركه كي د

هغه سره صلح وکړي وَيُحِيْلهُمْ عَلَى اسْتِيفَاءِ نَصِيبِهِ مِنَ الْغُرَمَاءِ او مصالح له مقروضينو څخه د خپلي حصې د اخيستلو لپاره نور وارثان ذمه واره وګرځوي.

**اللغات**: ﴿تمليك﴾ مالک کول، مالک جوړول، مالک ګرځول، ﴿غرماء﴾ جمع د غَرِيْم ده: مقروضين، قرضداران، پوروړي، ﴿مُصَالِح﴾ د مفاعلې د باب اسم فاعل دی: صلح کونکی، ﴿إسقاط﴾ د افعال د باب مصدر دی: ساقطول، معافول، ﴿ورثة﴾ جمع د وَارِث ده: وارثان، ميراث خواره، ﴿نصيب﴾ حصه، برخه، حق، ﴿يحيلهم﴾ د افعال د باب مضارع ده: حواله کول، أَحَالَ الغَرِيْمَ بِدَيْنِهِ عَلَى آخَرَ: قرض پر بل چا حواله کول، بل څوک د قرض ذمه وار ګرځول، دلته يې مطلب دا دی چې مصالح وارث د خپل قرض اخيستل پر نورو وارثانو حواله کړي يعني له قرضدارانو څخه د خپل قرض اخيستلو په هکله بقيه وارثان ذمه واره وګرځوي او له هغوی څخه يې واخلي، ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: اخيستل، ترلاسه کول.

**تشريح**: **مسئله**: دا ده که د مورث (مړي) په ترکه کې داسي مال وي کوم چې في الحاله موجود نه وي بلکې پر يو سړي قرضاً پاته وي (يعني مُورِث هغه يو چا ته په قرض ورکړی وي)، او د هغه وارثان پر دې شرط يو وارث خارج کړي (او د هغه سره پر يو عَين شي صلح وکړي) چې دا قرض زموږ لپاره پرېږده! او خارج هم له دې قرض څخه خپله حصه ختمه کړي او هغه د وارثانو لپاره پرېږدي (ګواکي هغه وارثان د خپل قرض [خپلي حصې] مالکان جوړ کړل)، نو په دې صورت په قرض (دَين) او عَين دواړو کې صلح باطلېږي او تخارج نه صحيح کېږي؛ ځکه چې دا قرض پر مصالح (خارج) نه دی بلکې پر بل سړي باندي دی، او مصالح په عَين اخيستلو او قرض پرېښوولو سره ګواکي وارثان د دې قرض مالکان جوړ کړل، حال دا چې پر مصالح قرض باندي نه دی، نو ځکه د هغه له طرفه به د دې قرض تمليک باطل وي، ځکه د فقهي قاعده دا ده "مَنْ لَا يَمْلِكُ شَيْئًا لا يُمَلِّكُهُ غَيْرَه" يعني څوک چې د يو شي مالک نه وي هغه بل څوک د هغه شي مالک نه سي جوړولای، نو ځکه په دې قرض کې صلح باطله ده او څرنګه چې صفقه (عقد) يو دی، نو ځکه په عَين کې به هم صلح باطله وي.

وإن شرطوا إلخ: او که چېر وارثان دا شرط ولګوي چې مصالح به مقروضين له دې قرض (خپلي حصې) څخه بري کوي او له وارثانو څخه به يو هم له مقروضينو څخه د مصالح د حصې مطالبه نه کوي (يعني مُصالح به صرف له خپلي حصې څخه مقروضين بري کوي)، نو دا جائز دي؛ ځکه چې دا اسقاط دی، يا پر چا چې قرض باندي دی، هغه د قرض مالک کول دي، ګواکي دا د صلح د جواز يو حيله ده. او دويمه حيله دا ده چې وارثان څه کښته راسي او په قرض کې چې د مصالح کومه حصه ده، وارثان هغه له

خپل طرفه تبرعا مصالح ته ورکړي چي په دې سره مصالح ته کما حقهٔ د هغه حصه حاصله سي، مګر په دې دواړو صورتونو کي د وارثانو نقصان دی، په اول صورت کي په دې توګه نقصان دی چي هغوی به له مقروضینو څخه د مصالح حصه واپس نه سي اخیستلای، او په دویم صورت کي به پر هغو د مصالح لپاره د قرض په عوض کي نغد مال لازم سي (یعني هغوی به د مصالح د قرض د حصې په عوض کي مُصالح ته [تبرعا] نغد مال ورکوي)، حال دا چي "النَّقْدُ خَيْرٌ مِنَ النَّسِيْئَةِ" (نقد له قرض څخه غوره دی). نو په همدې وجه صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي غوره او غیر ضار صورت دا دی چي په قرض کي د مصالح څومره حصه وي، د هغه په اندازه وارثان مصالح ته قرض ورکړي او وروسته له مقروضینو څخه هغه مقدار واخلي، د دې لپاره چي هغوی (وارثان) له ضرر او نقصان څخه محفوظ سي. (احسن الهدایه)

## پر غیر معیّنه ترکه صلح کول (حکم او تفصیل)

وَلَوْ لَمْ يَكُنْ فِي التَّرِكَةِ دَيْنٌ او که چیري په ترکه کي قرض نه وي وَأَعْيَانُهَا غَيْرُ مَعْلُومَةٍ او د ترکې اعیان [شیان] معلوم نه وي وَالصُّلْحُ عَلَى الْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ او صلح پر کَیلي یا وزني شي وسي قِيْلَ: لَا يَجُوزُ نو ویل سوي دي: چي دا صلح جائز نه ده لِاحْتِمَالِ الرِّبَوا ځکه چي [په دې کي] د سُود احتمال سته وَقِيْلَ: يَجُوزُ او ویل سوي دي: چي جائز ده لِأَنَّهُ شُبْهَةُ الشُّبْهَةِ ځکه چي دا [د سود] شبهة الشبهه ده وَلَوْ كَانَتِ التَّرِكَةُ غَيْرَ الْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ او که چیري ترکه له کَیلي او وزني شیانو څخه بغیر نور شیان وي لَكِنَّهَا أَعْيَانٌ غَيْرُ مَعْلُومَةٍ لېکن هغه نا معلومه اعیان [شیان] وي قِيْلَ: لَا يَجُوزُ نو ویل سوي دي: چي صلح جائز نه ده لِكَوْنِهِ بَيْعًا ځکه چي دا صلح بیع ده إِذِ الْمُصَالَحُ عَنْهُ عَيْنٌ ځکه مصالح عنه عَین شی دی وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ يَجُوزُ [لېکن] زیاته صحیح دا ده چي صلح جائز ده لِأَنَّهَا لَا تُفْضِي إِلَى الْمُنَازَعَةِ ځکه چي د عَین جهالت نزاع ته رسول نه کوي [یعني د اختلاف او دعوې سبب نه جوړېږي] لِقِيَامِ الْمُصَالَحِ عَنْهُ فِي يَدِ الْبَقِيَّةِ مِنَ الْوَرَثَةِ ځکه چي مصالح عنه د نورو وارثانو په قبضه کي موجود دی وَإِنْ كَانَ عَلَى الْمَيِّتِ دَيْنٌ مُسْتَغْرِقٌ او که پر مړي مستغرق [محیط] قرض وي [یعني داسي قرض کوم چي پر ټوله ترکه یې احاطه کړې وي] لَا يَجُوزُ الصُّلْحُ وَلَا الْقِسْمَةُ نو صلح جائز نه ده او نه تقسیم جائز دی لِأَنَّ التَّرِكَةَ لَمْ يَتَمَلَّكْهَا الْوَارِثُ ځکه چي [په دې صورت کي] وارث د ترکې مالک نه

سو [په بله وينا: ځکه چې په دې صورت کې ترکه د وارث په ملکيت کې نه راځي] وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُسْتَغْرِقًا او که هغه قرض مستغرق نه وي [يعني پر مړي محيط قرض نه وي باندې، بلکې تر هغه لږ وي] لَا يَنْبَغِي أَنْ يُصَالِحُوا مَا لَمْ يَقْضُوا دَيْنَهُ نو ښکار نه ده چې وارثان د مړي له قرض اداء کولو ښخه مخکې صلح وکړي لِتَقَدُّمِ حَاجَةِ الْمَيِّتِ ځکه چې د مړي حاجت مخکې دی وَلَوْ فَعَلُوا او که [بيا هم] هغوی داسې وکړي [يعني له قرض اداء کولو ښخه مخکې صلح وکړي] قَالُوا: يَجُوزُ نو مشايخو فرمايلي دي: چې صلح جائز ده وَذَكَرَ الْكَرْخِيُّ فِي الْقِسْمَةِ: أَنَّهَا لَا تَجُوزُ اسْتِحْسَانًا وَتَجُوزُ قِيَاسًا او د تقسيم په هکله امام کرخي رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي: چې هغه استحساناً جائز نه دی او قياساً جائز دی.

**اللغات:** ﴿أعيان﴾ مُتعيّن شيان، واحد: عَيْنٌ ﴿المكيل﴾ کَيلي (مکيلي) شی، هغه شی کوم چې په کَيل (معلوم لوښي او ظرف) سره اندازه کيږي، ﴿موزون﴾ وزني (موزوني) شی، هغه شی کوم چې په وزن سره اندازه کيږي (تلل کيږي)، ﴿شبهة الشبهه﴾ د شبهې شبهه، ﴿لا تقضي﴾ د افعال له بابه د نفي صيغه ده: رسېدل، رسول، سبب جوړېدل، ﴿مُصالَح عنه﴾ د کوم شي په هکله چې صلح سوې وي، مثلاً په ترکه (ميراث) کې صرف پنځه پسونه وي او وارثان د يوه وارث (خارج) سره د هغه پسونو په هکله پر يو شي صلح وکړي (چې ته له ميراث ښخه ووځه! او پسونه [ترکه] موږ ته پرېږده!)، نو په دې صورت کې پنځه پسونه مصالح عنها دي، ﴿مستغرق﴾ د استفعال د باب فاعل دی: په پوره توګه نيونکی، احاطه کونکی.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که د مورث (مړي) په ترکه کې داسې مال نه وي کوم چې پر يو چا قرضاً پاته وي، لېکن د ترکې شيان معلوم نه وي او يو وارث (خارج) د خپلې حصې په عوض کې پر کَيلي يا وزني شي صلح وکړي، نو په دې سلسله کې له مشايخو ښخه دوه قوله نقل سوي دي: ①

اول قول کوم چې د امام ظهير الدين مرغيناني رَحِمَهُ الله دی، دا دی چې صلح جائز نه ده؛ ځکه چې د ترکې (ميراث) شيان معلوم نه دي او دا احتمال سته چې په ترکه کې هم کَيلي يا وزني شی موجود وي نو په دې اعتبار سره به د همجنسه (متحد جنس والا) شي په عوض کې صلح سوې وي او په هغه کې به کمي وزياتوب سوی وي کوم چې سُود دی، لهذا د سُود له احتمال ښخه د بچ کېدلو لپاره دلته صلح صحيح نه ده.

۲ دويم قول کوم چي د امام ابو جعفر هندواني رَحِمَهُ الله دی، دا دی چي په دې مسئله کي صلح جائز ده؛ ځکه چي دلته د شبهةُ الشبهه په وجه د سُود احتمال ستهاو په شريعت کي شبهه خو معتبره ده لېکن شبهة الشبهه لره هيڅ اعتبار نسته. دلته شبهة الشبهه په دې توګه ده چي کېدای سي په ترکه کي کَيلي او وزني شی موجود نه وي يا که موجود وي نو کېدای سي چي د وارث (خارج) حصه به له بدل صلح څخه کمه وي، او په دې دواړو صورتونو کي صلح صحيح ده، لهذا کله چي دلته د جواز دوه اړخونه دي او د عدمِ جواز صرف احتمال سته، نو ځکه د جواز والا اړخ به غالب او راجح وي. قاضي خان همدا قول اصح ګرځولی دی. (بنايه ج:۹، ص:۵۱)

ولوكانت التركة إلخ: مسئله دا ده که چيري په ترکه کي کَيلي او وزني شيان نه وي لېکن په هغه کي داسي شيان (اعيان) وي کوم چي نا معلومه وي، او بيا يو وارث (خارج) د کَيلي يا وزني شي په عوض کي صلح وکړي، نو د يوه قول مطابق دا صلح صحيح نه ده؛ ځکه چي صلح بيع ده، حال دا چي دلته مصالح عنه (اعيان) نا معلوم او مجهول دي لهذا څرنګه چي د مبيع جهالت بيع فاسدوي، همداسي د مصالح عنه جهالت هم بيع فاسدوي. لېکن په دې سلسله کي اصح او معتمد قول دا دی چي صلح جائز ده؛ ځکه که څه هم مصالح عنه مجهول دی، لېکن هغه د نورو وارثانو په قبضه کي موجود دی لهذا د هغه جهالت مفضي الی النزاع نه ګرځي، نو ځکه هغه به له صلح څخه مانع هم نه ګرځي؛ ځکه چي صرف مفضي الی النزاع جهالت له عقد څخه مانع ګرځي.

وإن كان إلخ: فرمايي که چيري پر مړي (مُورث) دومره قرض باندي وي چي هغه د ده پر ټوله ترکه احاطه کړې وي (مثلا ترکه دوه زره درهمه وي او قرض هم دوه زره درهمه يا تر دې هم زيات وي)، نو په دې صورت کي د هيڅ وارث لپاره نه صلح او تخارج کول جائز دي او نه د ترکې (ميراث) تقسيمول صحيح دي؛ ځکه چي د محيط قرض په وجه په ترکه کي د وارثانو ملکيت نه سي ثابتېدای، او له ملکيت څخه بغير صلح او تقسيم نه سي جائز کېدای. او که چيري پر مړي قرض خو باندي وي لېکن هغه محيط او مستغرق نه وي، نو هم د مړي له قرض اداء کولو څخه مخکي صلح کول مناسب نه دي؛ ځکه چي قرض پر مړي لازم شُده حق دی او د هغه اداء کول ضروري دي، لهذا غوره همدا ده چي اول د مړي قرضونه اداء کړی سي چي د هغه غاړې خلاصې سي، بيا د صلح او تخارج وطرف ته رجوع وسي، خو بيا هم که له قرض اداء کولو څخه مخکي صلح وسي، نو جائز دي؛ ځکه چي لږ قرض له ارث او صلح څخه مانع نه ګرځي، ځکه عموماً په ترکه کي څه نا څه قرضونه وي. دا خو د صلح حکم دی، او پاته سو د ترکې (ميراث) تقسيمول، نو د هغه په باره کي د امام کرخي رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي د قرض له اداء کولو څخه مخکي استحساناً تقسيم جائز نه دی، لېکن قياساً جائز دی. والله أعلم وعلمه أتم



# كِتَابُ الْمُضَارَبَةِ

(دا) کتاب د مضاربت (د احکامو په بیان کي) دی

**تشریح**: له کتابُ الصلح څخه وروسته د کتابُ المضاربة بیانولو وجه دا ده چي په صلح او مضاربت دواړو کي د نفع حصول مقصود وي، خو څرنګه چي صلح د مضاربت په مقابله کي زیاته واقع کیږي، نو ځکه صلح له مضاربت څخه مخکي بیان کړی سوې ده.

**د مضاربت لغوي او اصطلاح معنیٰ**: مضاربت له "ضرب" څخه مشتق دی چي د هغه یوه معنیٰ دہ: پر ځمکه تلل، تګ کول. لکه څرنګه چي په قرآن کریم کي ذکر سوي دي: ﴿وَاٰخَرُوْنَ يَضْرِبُوْنَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُوْنَ مِنْ فَضْلِ اللهِ﴾ [المزمل: ۲۰]

او د شریعت په اصطلاح کي د مضاربت معنیٰ ده: "هُوَ عَقْدُ شِرْكَةٍ فِي الرِّبْحِ بِمَالٍ مِنْ رَجُلٍ وَعَمَلٌ مِنْ آخَر" (یعني مضاربت په نفع کي هغه عقد شرکت دی چي مال د یوه سړي له طرفه وي او کار د بل سړي له طرفه وي). یعني مضاربت دې ته وایي چي پیسې د یوه سړي وي او عمل (کاروبار) د بل سړي وي او نفع (ګټه) د دواړو په مینځ کي مشترکه وي. مال (پیسې) چي د کوم سړي وي، هغه ته "رَبُّ الْمَال" وایي، او کوم یو چي په دغه مال سره کاروبار کوي، هغه ته "مُضَارِب" وایي.

## د مضاربت لغوي معنیٰ او عقلي دلائل

| |
|---|
| اَلْمُضَارَبَةُ مُشْتَقَّةٌ مِنَ الضَّرْبِ فِي الْأَرْضِ مضاربت له "ضرب فی الارض" څخه مشتق دی [چي د هغه معنیٰ ده: پر ځمکه تلل (تګ کول)] سُمِّيَ بِهَا لِأَنَّ الْمُضَارِبَ يَسْتَحِقُّ الرِّبْحَ بِسَعْيِهِ وَعَمَلِهِ او عقد مضاربت ځکه په مضاربت سره نومول سوی دی چي مضارب په کوښښ [زیار ایستلو] او کار کولو سره د نفع مستحق کیږي وَهِيَ مَشْرُوعَةٌ او مضاربت مشروع [په شریعت کي جائز او جاري] دی لِلْحَاجَةِ إِلَيْهَا ځکه چي هغه ته ضرورت دی [یعني د مضاربت د مشروعیت او جواز یو دلیل دا هم دی چي هغه ته د خلکو احتیاج او ضرورت سته] فَإِنَّ النَّاسَ بَيْنَ غَنِيٍّ بِالْمَالِ غَبِيٍّ عَنِ التَّصَرُّفِ فِيهِ ځکه ځیني خلک |

د مال په اعتبار سره مالداره وي لېکن په مال کې د تصرف [کاروبار کولو] په باره کې غبي [ناواقفه] وي وَبَيْنَ مُهْتَدٍ فِي التَّصَرُّفِ صِفْرِ الْيَدِ عَنْهُ او ځيني په تصرف کولو کې لار موندونکي [ماهره] وي لېکن له مال څخه بالکل خالي لاسي وي فَمَسَّتِ الْحَاجَةُ إِلَىٰ شَرْعِ هَذَا النَّوْعِ مِنَ التَّصَرُّفِ لهذا د دا ډول تصرف و مشروع کېدلو ته ضرورت پېښ سو لِيَنْتَظِمَ مَصْلَحَةُ الْغَبِيِّ وَالذَّكِيِّ وَالْفَقِيرِ وَالْغَنِيِّ د دې لپاره چې د غبي، هوښيار، فقير او مالدار مصلحتونه منظم سي [او د ټولو ضرورت پوره سي] وَبُعِثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ يُبَاشِرُونَهُ او [د مضاربت د جواز واضح نقلي دليل دا دی چې] نبي کريم ﷺ مبعوث کړی سو په داسې حال کې چې خلکو د مضاربت عقد کوی فَقَرَّرَهُمْ عَلَيْهِ نو نبي کريم ﷺ هغوی پر دغه عقد باقي پرېښوول وَتَعَامَلَتْ بِهِ الصَّحَابَةُ او صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم هم د مضاربت معامله کوله [نو ځکه په دې حوالو سره مضاربت جائز او صحيح دی] ثُمَّ الْمَدْفُوعُ إِلَى الْمُضَارِبِ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ بيا مضارب ته ورکول سوی مال د هغه په قبضه کې امانت دی لِأَنَّهُ قَبَضَهُ بِأَمْرِ مَالِكِهِ ځکه چې مضارب پر مال د هغه د مالک په حکم سره قبضه کړې ده لَا عَلَى وَجْهِ الْبَدَلِ وَالْوَثِيقَةِ د عوض او وثيقه [رهن] په توګه يې قبضه نه ده پر کړې وَهُوَ وَكِيلٌ فِيهِ [همدارنګه] مضارب په دې مال کې [د ربُ المال] وکيل دی لِأَنَّهُ يَتَصَرَّفُ فِيهِ بِأَمْرِ مَالِكِهِ ځکه چې هغه د مال د مالک په حکم سره [د هغه د منشاء او خوشۍ مطابق] تصرف کوي وَإِذَا رَبِحَ او کله چې مضارب [په هغه مال سره] نفع وکړي فَهُوَ شَرِيكٌ فِيهِ نو مضارب په هغه نفع کې شريک ګرځي لِتَمَلُّكِهِ جُزْءًا مِنَ الْمَالِ بِعَمَلِهِ ځکه چې هغه د خپل کار په وجه د مال د يوې حصې مالک کېږي فَإِذَا فَسَدَتْ او کله چې مضاربت فاسد سي ظَهَرَتِ الْإِجَارَةُ نو هغه اجاره ښکاره کېږي [يعني که چيري مضاربت فاسد سي نو هغه اجاره ګرځي او مضارب داسې ګرځي لکه أجير (په اُجرت نيول سوی مزدور)] حَتَّى اسْتَوْجَبَ الْعَامِلُ أَجْرَ مِثْلِهِ تر دې چې [په دې صورت کې] مضارب د اُجرت مثلي مستحق کېږي [يعني په دې صورت کې به ربُ المال هغه ته د خپل کار اُجرت (مزدوري) ورکوي، او هغه په نفع کې نه شريک کېږي] وَإِذَا خَالَفَ او کله چې مضارب [د ربُ المال د حکم] مخالفت وکړي [يعني د ربُ المال د حکم په خلاف کار وکړي] كَانَ غَاصِبًا نو هغه غاصب

ګرځي لِوُجُودِ التَّعَدِّي مِنْهُ عَلَى مَالِ غَيْرِهِ ځکه چي [په دې صورت کي] د مضارب له طرف د بل چا [ربُ المال] پر مال تعدی موجوده سوه.

**اللغات**: ﴿ضرب﴾ د ضرب د باب مصدر دی چي د هغه يوه معنیٰ ده: تلل، تګ او سفر کول، ﴿الربح﴾ نفع، ګټه، منافع، ﴿غبي﴾ کم ذهنه (کند ذهنه)، مراد ځني نا تجربه کار او نا واقف (لا علمه) دی، ﴿مهتد﴾ د افتعال د باب فاعل دی: لاره موندونکی (لاره پيدا کونکی)، مراد ځني واقف او ماهر (تجربه کار) دی، ﴿صفر اليد﴾ خالي لاسی (کوم چي هيڅ مال نه لري)، ﴿بعث﴾ د فتح له بابه د ماضي مجهولي صيغه ده: استول کېدل (د معلوم په صيغه سره: استول)، بُعِثَ النبيّ ﷺ: يعني کله چي نبي کريم ﷺ د الله له طرفه دې نړۍ ته واستول سو (يعني پيغمبر جوړ کړی سو)، ﴿تعاملت﴾ د تفاعل د باب ماضي ده: يو د بل سره معامله کول، ﴿وثيقة﴾ مضبوطي (مضبوطتيا)، هغه څه چي د هغه په ذريعه معامله مضبوطه کړی سي او عاقدين يو پر بل اعتماد وکړي، (او رهن هم داسي دی، يعني يو سړی چي بل سړي ته مال ورکړي او له هغه شخصه يو شی په رهن کي واخلي نو په دې رهن [مرهون شي] سره مال ورکونکي [مرتهن] ته اعتماد حاصل سي، او په دې سره د هغه لپاره خپل مال حاصلول مضبوط او لازم وګرځي)، لنډه دا چي دلته له "وثيقه" څخه مراد "رهن" دی، او د عبارت مطلب دا دی چي مضارب له مالک څخه د مضاربت مال د رهن په توګه نه دی اخيستی (يا بله وينا دا چي ربُ المال هغه ته د مضاربت په توګه مال نه دی ورکړی)، - ﴿إجارة﴾ د افعال د باب مصدر دی: په اجاره (کرايه) ورکول، په اُجرت (مزدوري) نيول، په کرايه نيول، ﴿رَبِحَ﴾ د سمع د باب ماضي ده: (په کاروبار کي) ګټه کول، نفع حاصلول، ﴿التعدّي﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: تجاوز کول، نا حقه تصرف کول.

**تشريح**: په دې عبارت کي د مضاربت لغوي معنیٰ او د هغه د جواز دلائل بيان سوي دي کوم چي له ترجمې څخه هم ښکاره دي او تشريح ته يې څه ضرورت نسته، خو دا په ياد لرئ! چي کله په يو وجه مضاربت فاسد سي، نو په دې صورت کي مضاربت په اجاره بدليږي؛ ځکه ښکاره خبره ده چي مضاربت ظاهراً اجاره ده، چي يو سړی د مالک (ربُ المال) په پيسو سره د هغه لپاره کاروبار کوي او مالک هغه ته اُجرت او مزدوري ورکوي. (احسن الهدايه)

## د مضاربت اصطلاحي تعريف او د صحت شرطونه

قَالَ: الْمُضَارَبَةُ عَقْدٌ يَقَعُ عَلَى الشَّرِكَةِ بِمَالٍ مِنْ أَحَدِ الْجَانِبَيْنِ فرمايي: مضاربت داسي عقد دی کوم چي [د نفع] پر شرکت واقع کيږي چي په هغه کي له يوه طرفه مال وي وَمُرَادُهُ الشَّرِكَةُ فِي الرِّبْحِ او له

شركت شخه مراد د نفع [ګټي] شركت دى وَهُوَ يُسْتَحَقُّ بِالْمَالِ مِنْ أَحَدِ الْجَانِبَيْنِ وَالْعَمَلِ مِنَ الْجَانِبِ الْآخَرِ او نفع مستحق كيږي له يوه طرفه د مال او له بل طرفه د كار په ذريعه [يعني د نفع (ګټي) استحقاق له يوه طرفه په مال او له بل طرفه په كار سره ثابتيږي] وَلَا مُضَارَبَةَ بِدُونِهَا او له شركت شخه بغير مضاربت نه ثابتيږي أَلَا تَرَى أَنَّ الرِّبْحَ لَوْ شُرِطَ كُلُّهُ لِرَبِّ الْمَالِ آيا ته نه ګورې! چي كله د ربُ المال لپاره ټوله نفع شرط كړى سي كَانَ بِضَاعَةً نو دا بضاعت ګرځي [يعني په دې صورت كي مضاربت عقد بضاعت ګرځي] وَلَوْ شُرِطَ جَمِيعُهُ لِلْمُضَارِبِ او كه ټوله نفع د مضارب لپاره شرط كړى سي كَانَ قَرْضًا نو دا قرض ګرځي قَالَ: وَلَا تَصِحُّ إِلَّا بِالْمَالِ الَّذِي تَصِحُّ بِهِ الشَّرِكَةُ فرمايي: او نه صحيح كيږي مضاربت مګر په هغه مال سره په كوم سره چي شركت صحيح كيږي وَقَدْ تَقَدَّمَ بَيَانُهُ مِنْ قَبْلُ او د دې بيان مخكي سوى دى وَلَوْ دَفَعَ إِلَيْهِ عَرَضًا وَقَالَ: بِعْهُ وَاعْمَلْ مُضَارَبَةً فِي ثَمَنِهِ او كه چيري ربُ المال يو چا [مضارب] ته سامان وركړي او هغه ته ووايي: چي دا خرڅ كړه! او د دې په ثمن سره مضاربت وكړه! جَازَ نو دا جائز دي لِأَنَّهُ يَقْبَلُ الْإِضَافَةَ مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ تَوْكِيلٌ وَإِجَارَةٌ ځكه چي عقد مضاربت اضافت قبلوي په دې اعتبار سره چي دا توكيل [وكيل جوړول] او اجاره [په أجرت نيول] دي فَلَا مَانِعَ مِنَ الصِّحَّةِ نو ځكه [د هغه] له صحيح والي شخه به هيڅ شى مانع نه وي وَكَذَا إِذَا قَالَ لَهُ: اِقْبِضْ مَالِي عَلَى فُلَانٍ وَاعْمَلْ بِهِ مُضَارَبَةً او همدارنګه كله چي ربُ المال مضارب ته ووايي: زما كوم مال چي پر فلانكي دى هغه واخله! او په هغه سره مضاربت وكړه! جَازَ نو دا [هم] جائز دي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ ذكر كړى بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: اِعْمَلْ بِالدَّيْنِ الَّذِي فِي ذِمَّتِكَ په خلاف د هغه صورت كله چي ربُ المال [مضارب ته] ووايي: زما كوم قرض چي ستا پر ذمه دى په هغه سره مضاربت وكړه! حَيْثُ لَا تَصِحُّ الْمُضَارَبَةُ نو [په دې صورت كي] مضاربت نه صحيح كيږي لِأَنَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ لَا يَصِحُّ هَذَا التَّوْكِيلُ ځكه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز داسي توكيل او وكيل جوړول] نه صحيح كيږي عَلَى مَا مَرَّ فِي الْبُيُوعِ لكه [مخكي] چي دا په كتاب البيوع كي تېر سوه وَعِنْدَهُمَا يَصِحُّ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز صحيح كيږي لَكِنْ يَقَعُ الْمِلْكُ فِي الْمُشْتَرَى لِلْآمِرِ

لېکن په رانيول سوي شي کي به د آمر [ربُ المال] لپاره ملکيت ثابتيږي فَتَصِيرُ مُضَارَبَةً بِالْعَرَضِ او دا به د سامان په عوض کي مضاربت وګرځي.

**اللغات**: ﴿عقد﴾ معامله، تړون. ﴿مُراد﴾ مقصود. ﴿بضاعة﴾ د دې لفظ څو معناوي وي: ① د مال يوه حصه، ② سامان (سلعة)، ③ عقد بضاعت، د "عقد بضاعت" مختصر تعريف دا دی چي "بېله اُجرته (مفت) د يو چا سامان خرڅول"، مثلاً يو څوک بل چا ته مال يا سامان ورکړي او هغه ته ووايي چي ته زما سره احسان او مرسته وکړه!، دا خرڅ کړه! او په هغه سره زما لپاره ګټه وکړه! يعني ګټه (نفع) ټوله زما ده، نو دې ته عقدِ بضاعت وايي، دلته همدا معنیٰ مراد ده. ﴿توکيل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: وکيل کول، وکيل جوړول. ﴿آمر﴾ د نصر د باب فاعل دی: امر کونکی، حکم کونکی.

**تشريح**: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي، چي يوه مسئله د مضاربت د اصطلاحي تعريف په هکله ده، يعني په مضاربت کي د يوه سړي له طرفه مال او پيسې وي او د بل سړي له طرفه کار وي او حاصل شُده نفع د دواړو په مينځ کي مشترکه وي کوم چي به د دوی د شرط مطابق د دوی په مينځ کي تقسيمول کيږي، په مضاربت کي شرکت في الربح (يعني ګټه مشترک کېدل) ضروري دي، همدا وجه ده که يو فريق د ټولي نفعي د اخيستلو شرط ولګوي، نو عقدِ مضاربت باطليږي او په عقدِ بضاعت يا په قرض سره بدليږي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده چي د مضاربت د صحت (صحيح کېدو) لپاره دا ضروري ده چي رأسُ المال (د مضاربت مال) به له نقودو څخه وي يعني له دراهمو يا دنانيرو (يا مثلاً له کلدارو يا افغانيو) څخه به وي، برابره ده هغه في الحاله نقود وي يا له خرڅولو او تغيّر څخه وروسته نقود جوړ سي، مثلاً ربُ المال مضارب ته يو سامان ورکړي او هغه ته ووايي چي "دا خرڅ کړه! او د هغه په ثمن سره مضاربت وکړه!"، نو دا د مضاربت لپاره د وکيل جوړولو په څېر صورت دی او داسي عقدِ مضاربت به د سامان خرڅولو وطرف ته مضاف کيږي، او دا د عقد له جواز څخه مانع نه دي؛ ځکه چي عقدِ مضاربت اضافت قبلوي، همدا وجه ده که يو څوک بل چا ته ووايي "چي پر فلانکي زما کوم مال باندي دی، پر هغه قبضه وکړه! (يعني هغه ځني واخله!) او په هغه سره مضاربت وکړه!" نو دا صورت هم صحيح دی؛ ځکه چي په دې صورت کي هم مضاربت د ما بعد القبض وخت وطرف ته مضاف کړی سوی دی.

د دې په خلاف که د يو چا مثلاً د خالد پر زيد قرض باندي وي او خالد زيد ته ووايي " چي زما پر تا کوم قرض باندي دی، په هغه سره مضاربت وکړه!"، نو دا صورت جائز نه دی او په دې صورت کي مضاربت نه صحيح کيږي؛ ځکه چي د اضافت والا مضاربت د توکيل په حواله سره صحيح کيږي، حال دا چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په داسي صورت کي توکيل صحيح نه دی، نو ځکه

مضاربت به هم نه صحيح کیږي. او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز که څه هم توکيل صحيح دی لیکن په هغه سره چي کوم ملکيت ثابتيږي، هغه به د آمر (ربُ المال) په حق کي ثابتيږي او دا مضاربت به مضاربت بالعرض وي، او مضاربت بالعرض فاسد دی؛ ځکه چي دا شرط او ضروري ده چي د مضاربت مال به له نقودو (دراهم يا دنانيرو او داسي نورو) څخه وي. (احسن الهدایه)

## د مضاربت د صحت نور شرطونه

قَالَ: وَمِنْ شَرْطِهَا أَنْ يَكُونَ الرِّبْحُ بَيْنَهُمَا مُشَاعًا لَا يَسْتَحِقُّ أَحَدُهُمَا دَرَاهِمَ مُسَمَّاةً مِنَ الرِّبْحِ فرمايي: د مضاربت له شرطونو څخه دا هم دي چي نفع به د دواړو په مينځ کي مشترکه وي [او] په دوی کي به يو له نفعي څخه د مُتعيَّنو دراهمو مستحق نه وي لِأَنَّ شَرْطَ ذٰلِكَ يَقْطَعُ الشَّرِكَةَ بَيْنَهُمَا ځکه چي دا شرط د دوی په مينځ کي شرکت ختموي وَلَابُدَّ مِنْهَا حال دا چي [په مضاربت کي] شرکت ضروري دي كَمَا فِي عَقْدِ الشَّرِكَةِ لکه څرنګه چي په عقد شرکت کي [شرکت ضروري دی] قَالَ: فَإِنْ شَرَطَ زِيَادَةَ عَشَرَةٍ فرمايي: که چيري [په مضاربت کي] د لسو زياتو درهمو [د اخيستلو] شرط ولګول سي فَلَهُ أَجْرُ مِثْلِهِ نو د مضارب لپاره اُجرت مثلي دی [يعني په دې صورت کي به مضارب ته صرف أجرت مثلي ورکول کيږي] لِفَسَادِهِ ځکه چي مضاربت فاسد سو فَلَعَلَّهُ لَا يَرْبَحُ إِلَّا هٰذَا الْقَدْرَ ځکه کېدای سي چي مضارب صرف همدومره مقدار نفع [ګټه] وکړي فَتَنْقَطِعُ الشَّرِكَةُ فِي الرِّبْحِ نو په نفع کي به شرکت ختم سي وَهٰذَا لِأَنَّهُ ابْتَغٰى عَنْ مَنَافِعِهِ عِوَضًا او دا [د اُجرت مثلي وجوب] په دې وجه دی چي مضارب د خپلي نفع د عوض طلب وکړی وَلَمْ يَنَلْ لِفَسَادِهِ او د مضاربت فاسدېدلو په وجه مضارب هغه حاصل نه کړی وَالرِّبْحُ لِرَبِّ الْمَالِ او [په دې صورت کي] ټوله نفع د ربُ المال لپاره ده لِأَنَّهُ نَمَاءُ مِلْكِهِ ځکه چي دا نفع صرف د هغه د ملکيت وده [او ثمره] ده وَهٰذَا هُوَ الْحُكْمُ فِي كُلِّ مَوْضِعٍ لَمْ تَصِحَّ الْمُضَارَبَةُ او دا حکم په هر هغه ځای کي دی چيري چي مضاربت نه صحيح کيږي وَلَا تُجَاوِزُ بِالْأَجْرِ الْقَدْرَ الْمَشْرُوطَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ او اُجرت مثلي به له مشروط مقدار څخه نه اضافه کيږي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز خِلَافًا لِمُحَمَّدٍ* په خلاف د امام محمد رَحِمَهُ الله كَمَا بَيَّنَّا فِي الشَّرِكَةِ لکه څرنګه چي موږ په "كتاب الشركة" کي بيان کړه وَيَجِبُ الْأَجْرُ وَإِنْ لَمْ يَرْبَحْ او [په مضاربت فاسده کي] اُجرت

---

* القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما ذكر في مجمع الأنهر (ج:٣، ص:٤٤٥)، وكذا في رد المختار (ج:٤، ص:٥٣٩). [القول الراجح ج:٢، ص:٢٠٩١]

واجبيږي كه څه هم مضارب نفع [ګټه] نه وي كړې فِي رِوَايَةِ الْأَصْلِ د مبسوط په روايت كې [يعني دا حكم په مبسوط كې مذكور دى] لِأَنَّ أَجْرَ الْأَجِيْرِ يَجِبُ بِتَسْلِيمِ الْمَنَافِعِ أَوِ الْعَمَلِ ځكه چې د مزدور أجرت واجبيږي د منافعو په ورسپارلو سره يا په كار كولو سره وَقَدْ وُجِدَ او هغه دلته موجود سوه وَعَنْ أَبِي يُوْسُفَ أَنَّهُ لَا يَجِبُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوى دى چې [په مضاربت فاسده كې] أُجرت نه واجبيږي اِعْتِبَارًا بِالْمُضَارَبَةِ الصَّحِيحَةِ پر مضاربت صحيحه په قياس كولو سره مَعَ أَنَّهَا فَوْقَهَا سره د دې چې مضاربت صحيحه له مضاربت فاسده څخه بالا [فائق] دى وَالْمَالُ فِي الْمُضَارَبَةِ الْفَاسِدَةِ غَيْرُ مَضْمُوْنٍ بِالْهَلَاكِ او په مضاربت فاسده كې د هلاكت [ضايع كېدلو] په وجه د مال ضمان نه لازميږي اِعْتِبَارًا بِالصَّحِيحَةِ پر مضاربت صحيحه په قياس كولو سره وَلِأَنَّهُ عَيْنٌ مُسْتَأْجَرَةٌ فِي يَدِهِ او ځكه چې مال خو د هغه په قبضه كې په اجاره اخيستلى سوى شى دى [يعني د مضارب په قبضه كې چې كوم مال وي، هغه داسې دى لكه په أجرت سره (د امانت په توګه) اخيستل سوى مال] وَكُلُّ شَرْطٍ يُوجِبُ جَهَالَةً فِي الرِّبْحِ او هر هغه شرط كوم چې په نفع كې جهالت پيدا كړي يُفْسِدُهُ هغه مضاربت فاسدوي لِاخْتِلَالِ مَقْصُودِهِ ځكه چې په دې سره د نفع مقصود مختل [او مختلف] كيږي [يعني په دې سره په هغه كې خلل راځي] وَغَيْرُ ذٰلِكَ مِنَ الشُّرُوطِ الْفَاسِدَةِ لَا يُفْسِدُهَا او له دې څخه بغير نور فاسد شرطونه مضاربت نه فاسدوي وَيَبْطُلُ الشَّرْطُ بلكې [په خپله] شرط باطليږي كَاشْتِرَاطِ الْوَضِيعَةِ عَلَى الْمُضَارِبِ لكه پر مضارب د تاوان شرط لګول.

**اللغات**: ﴿مشاع﴾ د ضرب د باب اسم مفعول دى، شايع شُده (خپور)، مشترک، ﴿مسماة﴾ د تفعيل د باب اسم مفعول دى: نومول سوى، مُتعيَن، ټاكل سوى، ﴿يقطع﴾ د فتح د باب مضارع ده: پرېكول (غوځول)، ختمول، ﴿ابتغى﴾ د افتعال د باب ماضي ده: طلب كول، غوښتل، ﴿لم ينل﴾ د فتح له بابه د جحد صيغه ده: حاصلول، ترلاسه كول، ﴿مستأجرة﴾ د استفعال د باب مؤنث اسم مفعول دى: په أجرت (كرايه) اخيستل سوى شى، ﴿وضيعة﴾ تاوان، نقصان، خساره.

**تشريح**: په دغه عبارت كې دوې مسئلې ذكر سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده چې د عقد مضاربت د صحت لپاره دا شرط او ضروري ده چې حاصلېدونكې نفع (ګټه) به د ربُ المال او د مضارب په مينځ كې مشتركه وي او كه چيري له دوى څخه يو د ځان

لپاره دخاص او ټاکلي مقدار اخیستلو شرط ولګوي، نو دا صحیح نه دي؛ ځکه چي دا شرط شرکت فاسدوي، حال دا چي د مضاربت د صحت لپاره شرکت ضروري دی.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که له مضارب او ربُ المال څخه یو مثلاً مضارب د خپل ځان لپاره له نفعي څخه د لس فیصده زیاتي نفعي شرط ولګوي (مثلا مضارب و ربُ المال ته داسي وايي: چي په حاصل شُده نفع [ګټه] کي به ته ! ما ته د خپلي حصي سره لس درهمه نور راکوې!)، نو په دې شرط سره عقد فاسدیږي او په دې صورت کي به مضارب ته د هغه د کار اُجرت مثلي ورکول کیږي؛ ځکه کېدای سي چي صرف همدومره مقدار ګټه وسي او د لسو درهمو څخه بغیر نوره نفع حاصله نه سي، نو ځکه به دا شرط د عقد باطلونکی وي. او کومه نفع چي حاصله سي هغه به ټوله ربُ المال ته ورکول کیږي؛ ځکه چي هغه صرف د ربُ المال په مال سره حاصل شُده نفع (ګټه) ده. لېکن کله چي مضارب ته اُجرت مثلي ورکول کیږي نو د دې خبري خیال به ساتل کیږي چي هغه ته ورکول کېدونکی اُجرت له مشروط کرده مقدار څخه زیات نه سي، مثلاً که اُجرت مثلي زر درهمه وي او په نفع کي د هغه لپاره مشروط او ټاکل سوی مقدار نهه سوه درهمه وي، نو هغه ته به نهه سوه درهمه ورکول کیږي، دا حکم د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز دی. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي هغه ته به په هر صورت کي اُجرت مثلي ورکول کیږي، برابره ده هغه له ټاکل سوي مقدار څخه زیات وي او که کم وي، وبه قالت الائمة الثلاثة. (بنایه)

ويجب الأجر الخ: فرمايي: امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي ذکر کړي دي چي برابره ده په عقد مضاربت کي نفع حاصله سي، که نه، په هر صورت کي به هغه ته اُجرت مثلي ورکول کیږي؛ ځکه چي د اُجرت مثلي دار ومدار د نفع پر ورسپارلو یا پر کار کولو دی، او څرنګه چي دلته د مضارب له طرفه کار کول (عمل) موجود دي، نو ځکه به هغه د اُجرت مستحق وي. له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی چي څرنګه په مضاربت صحیحه کي د نفعي نه حاصلېدلو (ګټه نه کېدلو) په صورت کي مضارب ته اُجرت نه ورکول کیږي، همداسي به په مضاربت فاسده کي هم د نفع نه حاصلېدلو په صورت کي هغه ته اُجرت نه ورکول کیږي، ځکه کله چي په مضاربت صحیحه کي د عدم ربح (ګټه نه کېدلو) په صورت کي مضارب د اُجرت نه مستحق کیږي، نو ښکاره خبره ده چي په مضاربت فاسده کي به هغه په درجه اولیٰ د اُجرت نه مستحق کیږي، ځکه مضاربت صحیحه له مضاربت فاسده څخه فائق او بالا دی.

والمال في إلخ: فرمايي: څرنګه چې په مضاربت صحيحه کې که د مضارب له تعدی څخه بغير مال هلاک او ضايع سي، نو پر مضارب د هغه ضمان (تاوان) نه لازميږي، همداسي به په مضاربت فاسده کي هم مال په هلاکت سره نه مضمون کيږي، او په دې وجه هم چې د مضاربت مال داسي دی لکه امانت مال، او امانت په هلاکت سره نه مضمون کيږي (لکه مخکې چې څو ځله ذکر سوه چې که امانت د امين په قبضه کي هلاک سي، نو له هغه څخه تاوان نه سي اخيستل کېدای).

وكل شرط إلخ: فرمايي: هر هغه شرط چې په هغه سره په نفع کي جهالت پيدا سي، هغه مضاربت فاسدوي، مثلاً ربُ المال د مضارب سره پر دې شرط مضاربت وکړي چې "ته! (مضارب) به ما ته تر يوه کاله پوري يو کور د اوسېدلو لپاره راکوې!"، يا "ته! به ماته تر يوه کاله پوري د کښت کرلو لپاره خپله ځمکه راکوې!"، نو په دا ډول شرط سره مضاربت فاسديږي؛ ځکه چې په داسي کولو سره به حاصل شُده نفع (ګټه) د عمل او د کور دواړو اُجرت وګرځي (يعني ګواکي ربُ المال نيمه نفع د مضارب د عمل او د کور [يا ځمکي] د اُجرت عوض وګرځوله) نو ځکه د عمل د اُجرت والا حصه به مجهوله وي او دا به د جهالت في الربح (د ګټي د مجهول والي) سبب وګرځي، او جهالت في الربح له عقد څخه مانع دی، نو ځکه داسي شرط لګول باطل او مبطل دي. او له دې څخه بغير په نورو فاسدو شرطونو سره د مضاربت پر صحت هيڅ اثر نه پرېوځي بلکي مضاربت صحيح کيږي او فاسد شرط په خپله باطليږي. مثلاً ربُ المال او مضاب پر دې شرط عقد مضاربت سره وکړي چې "نفع زما او ستا په مينځ کي مشترکه ده ليکن تاوان پر تا (مضارب) دی او په تاوان کي زه ستا سره نه شريک کېږم"، نو دا شرط د عقد (مضاربت) د مقتضاء خلاف دی، نو ځکه دا به باطليږي، ليکن عقد به صحيح کيږي. دا ګواکي د "وغير ذٰلك من الشروط إلخ" تشريح او وضاحت دی.

## د مضاربت د صحت نور شرطونه

قَالَ: وَلَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ الْمَالُ مُسَلَّمًا إِلَى الْمُضَارِبِ وَلَا يَدَ لِرَبِّ الْمَالِ فِيهِ فرمايي: او [د عقد مضاربت لپاره] ضروري ده چې مال مضارب ته ورسپارل سوی وي او په هغه کي د ربُ المال هيڅ قبضه [او اختيار] نه وي لِأَنَّ الْمَالَ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ ځکه چې مال د مضارب په قبضه کي امانت دی فَلَا بُدَّ مِنَ التَّسْلِيمِ إِلَيْهِ نو ځکه هغه ته ورسپارل ضروري دي وَهٰذَا بِخِلَافِ الشَّرِكَةِ او دا حکم د عقد شرکت په خلاف دی لِأَنَّ الْمَالَ فِي الْمُضَارَبَةِ مِنْ أَحَدِ الْجَانِبَيْنِ وَالْعَمَلَ مِنَ الْجَانِبِ الْآخَرِ ځکه چې په مضاربت کي مال صرف له يوه طرفه وي او کار له بل طرفه وي فَلَا بُدَّ مِنْ أَنْ يَخْلُصَ الْمَالُ لِلْعَامِلِ نو ځکه د کار

کونکي [مضارب] لپاره د مال خالص کېدل ضروري دي لِيَتَمَكَّنَ مِنَ التَّصَرُّفِ فِيهِ د دې لپاره چې هغه په مال کي پر تصرف کولو قادر سي أَمَّا الْعَمَلُ فِي الشَّرِكَةِ مِنَ الْجَانِبَيْنِ لېکن په عقد شرکت کي له دواړو طرفونو څخه کار وي فَلَوْ شُرِطَ خُلُوصُ الْيَدِ لِأَحَدِهِمَا لهذا که چیري خالص د یوه شریک لپاره قبضه شرط کړی سي لَمْ تَنْعَقِدِ الشَّرِكَةُ نو شرکت به نه منعقد کیږي وَشَرْطُ الْعَمَلِ عَلَى رَبِّ الْمَالِ مُفْسِدٌ لِلْعَقْدِ او پر ربُ المال د کار کولو شرط لګول عقد [مضاربت] فاسدوي لِأَنَّهُ يَمْنَعُ خُلُوصَ يَدِ الْمُضَارِبِ ځکه چي هغه د مضارب د قبضې خالص والی منع کوي [په بله وینا: ځکه چي دا شرط د مضارب لپاره پر مال مضاربت له قبضه کولو څخه مانع دی] فَلَا يَتَمَكَّنُ مِنَ التَّصَرُّفِ لهذا هغه به پر تصرف کولو قادر نه وي فَلَا يَتَحَقَّقُ الْمَقْصُودُ نو ځکه مقصود [د نفع حصول] به ثابت نه سي سَوَاءٌ كَانَ الْمَالِكُ عَاقِدًا أَوْ غَيْرَ عَاقِدٍ كَالصَّغِيرِ برابره ده مالک عقد کونکی وي او که عقد کونکی نه وي لکه کوچنی [یعني په هر صورت کي پورتنی حکم دی] لِأَنَّ يَدَ الْمَالِكِ ثَابِتَةٌ لَهُ ځکه چي پر مال د مالک قبضه ثابته ده [په بله وینا: ځکه پر مال د مالک قبضه ثابته پاتیږي] وَبَقَاءُ يَدِهِ يَمْنَعُ التَّسْلِيمَ إِلَى الْمُضَارِبِ او د مالک د قبضې باقي پاتېدل مضارب ته له ورسپارلو څخه مانع دي وَكَذَا أَحَدُ الْمُتَفَاوِضَيْنِ وَأَحَدُ شَرِيكَيِ الْعِنَانِ إِذَا دَفَعَ الْمَالَ مُضَارَبَةً وَشَرَطَ عَمَلَ صَاحِبِهِ او همدارنګه که د عقد مفاوضه له دواړو شریکانو څخه یو شریک یا د شرکتِ عنان یو شریک د مضاربت په توګه مال ورکړي او د خپل ملګري [شریک] د کار کولو شرط ولګوي [نو هم عقد فاسدیږي] لِقِيَامِ الْمِلْكِ لَهُ ځکه چي پر مال د صاحب المال ملکیت باقي پاته وي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ عَاقِدًا که څه هم هغه عاقد نه وي وَاشْتِرَاطُ الْعَمَلِ عَلَى الْعَاقِدِ مَعَ الْمُضَارِبِ وَهُوَ غَيْرُ مَالِكٍ يُفْسِدُهُ [همدارنګه] د مضارب سره پر عاقد د عمل کولو شرط لګول حال دا چي عاقد مالک [صاحبُ المال] نه وي [نو دا شرط هم] عقد فاسدوي إِنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِ الْمُضَارَبَةِ فِيهِ په دې شرط چي عاقد په هغهٔ مال کي د مضاربت کولو اهل نه وي كَالْمَأْذُونِ لکه مأذون لهٔ غلام بِخِلَافِ الْأَبِ وَالْوَصِيِّ په خلاف د پلار او وصي لِأَنَّهُمَا مِنْ أَهْلِ أَنْ يَأْخُذَا مَالَ الصَّغِيرِ مُضَارَبَةً بِأَنْفُسِهِمَا ځکه چي پلار او وصي دواړه د دې اهل دي چي بذات خود د صغیر مال د

مضاربت په ټوګه واخلي [يعني هغو ته دا اختيار سته چې په خپله د مضاربت کولو لپاره د صغير مال واخلي]
فَكَذَا اشْتِرَاطُهُ عَلَيْهِمَا بِجُزْءٍ مِنَ الْمَالِ نو همداسې به پر هغو د مال د څه حصې په عوض د کار کولو شرط لګول هم صحيح وي.

**اللغات:** ﴿مُسلَّم﴾ د تفعيل د باب مفعول دی: سپارل سوی، ﴿يد﴾ قبضه، ﴿يخلص﴾ د کَرُم د باب مضارع ده: خالص کېدل، عليحده کېدل، ﴿يتمكّن﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: قدرت پيدا کول، قادر کېدل، ﴿متفاوضين﴾ تثنيه د مُتَفَاوِضٌ ده: د شرکتِ مفاوضه عاقد (شرکتِ مفاوضه کونکی).
﴿مأذون﴾ هغه غلام چې مالک د تجارت او کاروبار اجازه ورکړې وي.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی چې کله دوه خلک په ګډه عقد مضاربت وکړي، نو د دې خبرې خاص خيال به ساتي چې مال مضاربت (د مضاربت مال) په کامله توګه د مضارب په قبضه کې وي او د هغه مال سره د ربُ المال هيڅ حق هم متعلق نه وي، د دې لپاره چې مضارب په هغه مال سره په کاروبار کولو او نفع حاصلولو کې د يو ستونزې او مشکل سره مخامخ نه سي، نو ځکه دا ضروري ده چې ربُ المال مال مضاربت په پوره توګه مضارب ته وسپاري او د هغه سره خپل تعلق ختم کړي چې مضارب په آزادۍ سره کاروبار شروع کړي، ځکه چې د عقد مضاربت همدا اُصول دی چې له يوه طرفه مال وي او له بل طرفه کار وي، په همدې وجه خو په مضاربت کې د ربُ المال لپاره د کار شرط لګول عقد فاسدوي، برابره ده ربُ المال عاقد وي او که عاقد نه وي يعني صغير (کوچنی) وي او پلار يا وصي د دې صغير مال د مضاربت لپاره ورکړی وي او په خپله د صغير د کار کولو شرط لګول سوی وي (چې هغه به کار کوي)، نو په دې شرط سره عقد مضاربت فاسدېږي؛ ځکه د عاقد نه کېدلو باوجود پر مال څه نا څه د صغير قبضه پاتېږي او د قبضې بقاء مضارب ته له مال ورسپارلو څخه مانع ده. حال دا چې د مضاربت د صحت لپاره په کامله توګه مضارب ته مال ورسپارل ضروري دي.

**وكذا أحد المتفاوضين إلخ:** فرمايي: که چيري د شرکت مفاوضه يا شرکت عنان يو شريک بل چا (مضارب) ته د مضاربت لپاره مال ورکړي او د خپل ملګري لپاره د کار کولو شرط ولګوي يعني داسې ووايي چې "زما ملګری (شريک) به د دې مضارب سره کار وي". نو په دې شرط سره هم عقد فاسدېږي؛ ځکه په هغه مال کې د ده د ملګري ملکيت هم سته او په دې حواله سره دا شرط داسې دی لکه د ربُ المال لپاره د کار کولو شرط لګول، او د ربُ المال لپاره د کار په شرط لګولو سره مضاربت فاسدېږي، نو ځکه په مذکوره شرط سره به عقد فاسدېږي. برابره ده من عليه الشرط عاقد وي، که نه وي.

واشتراط العمل إلخ: د دې حاصل دا دی چې مثلاً خالد ربُ المال دی، زيد مضارب دی او حامد د ربُ المال (خالد) له طرفه عاقد دی، که په دې صورت کې د حامد او مضارب (زيد) د کار کولو په شرط سره عقد مضاربت وسي، نو هم عقد فاسديږي، لکه مأذون لهٔ غلام چې د مضاربت لپاره خپل مال يو مضارب ته ورکړي او د مضارب سره د خپل کار کولو شرط هم ولګوي (چې مضارب به هم کاروبار کوي او زه هم)، نو په دې شرط سره عقد فاسديږي؛ ځکه مأذون لهٔ غلام که څه هم په مضاربت کې د ورکول سوي مال حقيقي مالک نه دی بلکي د هغه حقيقي مالک د ده مولیٰ دی، خو بيا هم پر هغه مال مأذون لهٔ غلام ته يدوي تصرف حاصل دی او دا شی مضارب ته له مال ورسپارلو څخه مانع دی، نو ځکه په دې صورت کي عقد فاسديږي. همداسي د ربُ المال له چي کوم عاقد (حامد) دی هغه که څه هم د مال مضاربت مالک نه دی، خو پر هغه مال ده ته يدوي تصرف حاصل دی. او دا حصول مضارب ته له مال ورسپارلو څخه مانع دی.

د دې په خلاف که د صغير پلار يا د هغه وصي يو چا ته د صغير مال د مضاربت لپاره ورکړي او د خپل کار کولو شرط ولګوي نو په دې سره د عقد (مضاربت) پر صحت هيڅ اثر نه پرېوځي؛ ځکه کله چې پلار او وصي ته دا اختيار سته چې په خپله د مضاربت کولو لپاره د صغير مال واخلي، نو ښکاره خبره ده چې هغو ته به دا اختيار هم وي چې د صغير له طرفه د هغه په عمل (کارکولو) کي شريک سي او بيا نفع حاصله کړي. (احسن الهدايه)

## هغه کارونه کوم چي د مضارب لپاره جائز يا ناجائز دي

قَالَ: وَإِذَا صَحَّتِ الْمُضَارَبَةُ مُطْلَقَةً فرمايي: او کله چي مضاربت مطلقاً صحيح سي [يعني کله چي مضاربت مطلق وګرځول سي (يعني يو ځوک د مطلق کار مضارب جوړ کړی سي)] جَازَ لِلْمُضَارِبِ أَنْ يَبِيعَ وَيَشْتَرِيَ وَيُوَكِّلَ وَيُسَافِرَ وَيُبْضِعَ وَيُودِعَ نو د مضارب لپاره خرڅول او رانيول، وکيل جوړول، سفر کول، په بضاعت [مال] ورکول او امانتاً ورکول [ټوله] جائز دي لِإِطْلَاقِ الْعَقْدِ ځکه چي عقد [مضاربت] مطلق دی وَالْمَقْصُودُ مِنْهُ الِاسْتِرْبَاحُ او مقصود له دې عقد [مضاربت] څخه نفع حاصلول دي وَلَا يَتَحَصَّلُ إِلَّا بِالتِّجَارَةِ او نفع صرف په تجارت [کاروبار] سره حاصليږي فَيَنْتَظِمُ الْعَقْدُ صُنُوفَ التِّجَارَةِ وَمَا هُوَ مِنْ صَنِيعِ التُّجَّارِ نو ځکه دا عقد به د تجارت ټولو انواعو او د تاجرانو افعالو [کارو] لره شامليږي وَالتَّوْكِيلُ مِنْ صَنِيعِهِمْ او وکيل جوړول د تاجرانو له اعمالو څخه يو عمل دی وَكَذَا

الْإِبْضَاعُ وَالْإِيدَاعُ وَالْمُسَافَرَةُ او همدارنګه بضاعتاً ورکول، امانتاً ورکول او سفر کول [هم د تاجرانو له اعمالو څخه] دي أَلَا تَرَى أَنَّ الْمُودَعَ لَهُ أَنْ يُسَافِرَ آيا ته نه ګورې! مودَع [امانت ساتونکي] ته دا اختيار سته چې [د امانت د مال سره] سفر وکړي فَالْمُضَارِبُ أَوْلَى نو مضارب ته به په درجه اولیٰ دا اختيار وي كَيْفَ وَأَنَّ اللَّفْظَ دَلِيلٌ عَلَيْهِ او څنګه به هغه ته دا اختيار نه وي حال دا چې لفظ د "مضاربت" پر همدې سفر کولو دليل دی لِأَنَّهَا مُشْتَقَّةٌ مِنَ الضَّرْبِ فِي الْأَرْضِ وَهُوَ السَّيْرُ ځکه چې "مضاربت" له ضَرب فی الارض څخه مشتق دی چې د هغه معنیٰ ده "تګ کول" وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ لَيْسَ لَهُ أَنْ يُسَافِرَ* او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چې مضارب ته [د مضاربت د مال سره] د سفر کولو اختيار نسته وَعَنْهُ وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ إِنْ دَفَعَ فِي بَلَدِهِ او له هغه او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چې که ربُ المال د مضارب په ښار کې هغه ته مال ورکړی وي لَيْسَ لَهُ أَنْ يُسَافِرَ نو هغه ته [د مال سره] د سفر کولو اختيار نسته لِأَنَّهُ تَعْرِيضٌ عَلَى الْهَلَاكِ مِنْ غَيْرِ ضَرُورَةٍ ځکه چې دا بېله ضرورته مال پر هلاکت [ضياع] پېښول دي وَإِنْ دَفَعَ فِي غَيْرِ بَلَدِهِ [ها!] که چېرې ربُ المال په يو بل ښار کې مضارب ته مال ورکړی وي لَهُ أَنْ يُسَافِرَ إِلَى بَلَدِهِ نو مضارب ته دا اختيار سته چې [د مال سره] خپل ښار ته سفر وکړي لِأَنَّهُ هُوَ الْمُرَادُ فِي الْغَالِبِ ځکه چې غالب مراد همدا وي [يعني ځکه انسان عموماً خپل منزل ته په رسېدلو سره په خپل ښار کې کاروبار او تجارت کول اختياروي] وَالظَّاهِرُ مَا ذُكِرَ فِي الْكِتَابِ او ظاهر روايت هغه دی کوم چې په قدوري [متن] کې ذکر سوی دی [چې په هغه کې مطلقاً د سفر اجازت ورکول سوی دی برابره ده ضرورت وي، که نه وي].

**اللغات:** ﴿يُبضع﴾ د افعال د باب مضارع ده، أَبْضَعَ يُبْضِعُ إِبْضَاعًا: د عقد بضاعت په توګه ورکول (بضاعتاً ورکول)، د عقد بضاعت تعريف مخکې تېر سو، د تعريف خلاصه دا ده چې يو چا ته په دې توګه مال ورکول چې نفع به ټوله زما وي او کار به ستا وي. ﴿يودع﴾ مخکنی صيغه ده: يو چا ته په امانت ايښوول، امانتاً ورکول. ﴿استرباح﴾ د استفعال د باب مصدر دی: نفع حاصلول، ګټه کول.

* القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في الخانية (ج:٢ ص:٢٢٠)، وكذا في بدائع الصنائع (ج:۶، ص:١٣۴). [القول الراجح ج:٢، ٢٠٩]

﴿صنيع﴾ عمل، کار (کارواېي)، ﴿مُودَع﴾ د افعال د باب مفعول دی: چا ته چې امانت ایښول سوی وي (چا ته چې امانتاً یو مال ورکول سوی وي)، امانت ساتونکی، ﴿سَيْر﴾ د ضربُ د باب مصدر دی: تګ کول، ﴿تعریض﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: پېشول.

**تشریح**: له دې ځایه د هغه اُمورو بیان دی کوم چې د مضارب لپاره جائز یا ناجائز دي. حاصل د عبارت دا دی چې که عقد مضاربت د مکان، زمان او تصرف خاص په قید سره مقید نه وي بلکې مطلق وي، نو د مضارب لپاره هغه ټوله کارونه جائز دي کوم چې د تاجرانو په نېز معتاد او رواج وي، لکه خرڅول او رانیول (همدارنګه په قرض خرڅول او رانیول. لېکن د ائمه ثلاثه وو په نېز په قرض خرڅول جائز نه دي. او په قرض ورکول [اقرض] زموږ په هم جائز نه دي)، وکیل جوړول، سفر کول، بضاعتاً مال ورکول، مال یو چا امانتاً ورکول، په کرایه اخیستل، په کرایه ورکول او داسې نور؛ ځکه چې دا ټوله کارونه د تاجرانو (سوداګرانو) په نېز معتاد دي او د تجارت په سلسله کې دې کارونو ته ضرورت پېښېږي. او بل دا چې د مضاربت مقصد همدا دی چې نفع حاصله سي او هغه له تجارت څخه بغیر نه سي کېدای، نو ځکه دا عقد (مضاربت) به د تجارت ټولو اقسامو لره شاملېږي.

وعن أبي يوسف إلخ: له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت نقل سوی دی چې د مضارب لپاره دا جائز نه دي چې د مضاربت مال د ځان سره په سفر یووسي یعني بل ښار ته یې نقل کړي، بناءً علی قوله فی الودیعة (مبسوط). او په دې سره هغه مال مراد دی چې د هغه پر نقل کولو خرچه پرېوځي (مثلا ربُ المال مضارب ته لس ګوني غنم ورکړي وي. یعني مال مضاربت "لس ګوني غنم" وي). او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی چې که مالک مضارب ته د هغه په ښار کې مال ورکړی وي، نو مضارب ته په سفر کې د هغه د وړلو او نقل کولو اختیار نسته... الخ. لېکن ظاهر روایت هغه دی کوم چې په متن کې مذکور دی چې علی الإطلاق د سفر اجازت سته.

## د مضارب لپاره کوم کارونه ناجائز دي؟

قَالَ: وَلَا يُضَارِبُ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ رَبُّ الْمَالِ فرمايي: او مضارب [په خپله] د مضاربت معامله نه سي کولای مګر دا چې ربُ المال هغه ته اجازت ورکړي أَوْ يَقُولَ لَهُ: اِعْمَلْ بِرَأْيِكَ یا هغه ته ووایي: چې ته په خپله رایه عمل کوه! [د خپل خوښې مطابق کار کوه!] لِأَنَّ الشَّيْءَ لَا يَتَضَمَّنُ مِثْلَهُ ځکه چې یو شی خپل هم مثل شي لره نه شاملېږي [او مضاربت د مضاربت هم مثل دی] لِتَسَاوِيهِمَا فِي الْقُوَّةِ ځکه چې

دوه هم مثله شيان په قوت کي سره برابر وي فَلَا بُدَّ مِنَ التَّنصِيصِ عَلَيْهِ أَوِ التَّفْوِيضِ الْمُطْلَقِ إِلَيْهِ لهذا د هغه صراحت يا د مضارب وطرف ته مطلقاً [عمل] ورسپارل ضروري دي وَكَانَ كَالتَّوْكِيلِ او دا به د توكيل اوكيل جوړولو] په شان وي فَإِنَّ الْوَكِيلَ لَا يَمْلِكُ أَنْ يُوَكِّلَ غَيْرَهُ إِلَّا إِذَا قِيلَ لَهُ: اِعْمَلْ بِرَأْيِكَ ځكه وكيل هم د دې ملكيت [اختيار] نه لري چي بل څوک وكيل جوړ كړي مگر دا چي كله هغه ته [د مؤكل له طرفه] وويل سوي وي: ته په خپله رايه عمل كوه! بِخِلَافِ الْإِيدَاعِ وَالْإِبْضَاعِ په خلاف د امانتاً او بضاعتاً وركولو لِأَنَّهُ دُونَهُ ځكه چي هغه له مضاربت څخه د كمي درجې دي [او د هغه هَمْ مثله نه دي] فَيَتَضَمَّنُهُ نو ځكه مضاربت به هغوى لره شامليږي وَبِخِلَافِ الْإِقْرَاضِ او په خلاف د قرضاً وركولو حَيْثُ لَا يَمْلِكُهُ وَإِنْ قِيلَ لَهُ: اعْمَلْ بِرَأْيِكَ نو مضارب د هغه ملكيت [اختيار] نه لري كه څه هم هغه ته وويل سوي وي: ته په خپله رايه عمل كوه! لِأَنَّ الْمُرَادَ مِنْهُ التَّعْمِيمُ فِيمَا هُوَ مِنْ صَنِيعِ التُّجَّارِ ځكه چي په دې [اعمل برأيک] سره په هغه كارو كي عموم پيدا كول مقصود وي كوم چي د تاجرانو له اعمالو څخه وي وَلَيْسَ الْإِقْرَاضُ مِنْهُ او قرضاً وركول له هغه څخه نه دي وَهُوَ تَبَرُّعٌ كَالْهِبَةِ وَالصَّدَقَةِ [بلكي] هغه خو د هبې او صدقې په څېر تبرّع [احساناً وركول] دي فَلَا يَحْصُلُ بِهِ الْغَرَضُ وَهُوَ الرِّبْحُ نو ځكه په هغه سره به [د مضاربت] مقصود يعني نفع نه حاصليږي لِأَنَّهُ لَا تَجُوزُ الزِّيَادَةُ عَلَيْهِ ځكه چي پر قرض زياتوب كول [زيات اخيستل] جائز نه دي أَمَّا الدَّفْعُ مُضَارَبَةً فَمِنْ صَنِيعِهِمْ پاته سو د مضاربت په توګه وركول نو هغه د تاجرانو له اعمالو څخه دي [نو ځكه هغه به جائز وي] وَكَذَا الشِّرْكَةُ وَالْخَلْطُ بِمَالِ نَفْسِهِ او همدارنګه [يو څوک] شريک كول او د خپل مال سره [د بل چا مال] ګډول [هم د تاجرانو له اعمالو څخه دي] فَيَدْخُلُ تَحْتَ هَذَا الْقَوْلِ نو ځكه هغه [هم] به تر دې قول "اعمل برأيك" لاندي داخليږي.

**اللغات**: ﴿تفويض﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: ورسپارل، ﴿صنيع﴾ عمل، كار، ﴿إقراض﴾ د افعال د باب مصدر دی: په قرض وركول (قرضاً وركول)، ﴿تبرّع﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: نېكي او احسان كول، بلا عوضه (مفت) يو شی وركول.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی چې تر څو د ربُ المال له طرفه مضارب ته صراحتاً یا دلالتاً اجازت نه ورکول سي، تر هغه وخته مضارب ته دا اختیار نسته چې د مضاربت مال بل چا ته په مضاربت ورکړي؛ ځکه چې دواړه مضاربتونه په قوت کي سره برابر دي، او شی خپل هم مثل لره نه شامليږي، نو ځکه داول مضاربت په ضمن کي به دويم مضاربت نه داخليږي. ها! كه چيري ربُ المال مضارب ته د دې اجازت ورکړی وي، نو بیا بېله شکه هغه بل څوک مضارب جوړولای سي. لکه څرنگه چي وکيل بالبيع د مؤكل له اجازت څخه بغير بل څوک وکيل نه سي جوړولای، ها! كه د مؤكل له طرفه هغه د توکيل اجازت ورکول سوی وي، نو هغه ته د وکيل جوړولو اختيار وي.

د دې په خلاف په مطلق مضاربت کي په دې وجه مضارب ته د ابضاع او ايداع اختيار سته، ځکه چي دا شيان له مضاربت څخه په درجه کي کم او کښته دي، او كله چي هغه ته د مضاربت کولو اختيار سته، نو له مضاربت څخه په کښته درجې والا شيانو کي به په درجه اولیٰ هغه ته د مال لګولو اختيار وي. لېکن مضارب ته دا اختيار نسته چي مالِ مضاربت يو چا ته په قرض ورکړي، که څه هم ربُ المال هغه ته "اعمل برأيك" ويلي وي؛ ځکه چي په "اعمل برأيك" سره په تجارت او د تجارت په اعمالو کي تعميم مقصود وي، او قرض ورکول نه تجارت دی او نه د تاجرانو له اعمالو څخه دی، بلکي هغه صرف تبرّع او احسان دی او په هغه سره د مضاربت مقصود نه حاصليږي بلکي د نفعي پر ځای نقصان پيښيږي، حالانکي مضارب ته د نفعي حاصلولو لپاره مال ورکول سوی دی، نه د بربادولو او ضايع کولو لپاره. او څرنگه چي د قرض ورکولو په عوض کي نفع اخيستل جائز نه دي، نو ځکه دا عمل به د مضاربت د روح منافي او ناجائز وي، د دې په خلاف كه مضارب ته د ربُ المال له طرفه اجازت حاصل وي، نو هغه بل چا ته په مضاربت مال ورکولای سي، همدارنګه په مال کي بل څوک شريکولای سي؛ ځکه چي مضاربت او شرکت د تجارانو له اعمالو څخه دي، نو ځکه دا اعمال به هم د ربُ المال تر دغه قول "اعمل برأيك" داخليږي او د مضارب لپاره به دا کارونه جائز او صحيح وي. (احسن الهدايه)

## په مضاربت کي قيود لګول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِنْ خَصَّ لَهُ رَبُّ الْمَالِ التَّصَرُّفَ فِي بَلَدٍ بِعَيْنِهِ أَوْ فِي سِلْعَةٍ بِعَيْنِهَا فرمايي: كه چيري ربُ المال په يو مُتعيّن ښار يا په يو مُتعيّن سامان کي تصرف کول خاص کړي لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَتَجَاوَزَهَا نو د مضارب لپاره دا جائز نه دي چي له هغه څخه تجاوز [تېرى] وکړي لِأَنَّهُ تَوْكِيلٌ ځکه چي مضاربت توکيل [وكيل جوړول] دي وَفِي التَّخْصِيصِ فَائِدَةٌ او په تخصيص [خاص کولو] کي فايده ده

فَيَتَخَصَّصُ نو ځکه هغه به خاص کیږي [په بله وینا: نو ځکه هغه به مخصوص پرېښوول کیږي] وَكَذَا لَيْسَ لَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ بِضَاعَةً إِلَى مَنْ يُخْرِجُهَا مِنْ تِلْكَ الْبَلْدَةِ او همدارنګه مضارب ته دا اختیار هم نشته چي د مضاربت مال داسي کس ته بضاعتاً ورکړي چي هغه دا مال له هغه ښاره بهر وباسي [یعني بل ښار ته یې یوسي] لِأَنَّهُ لَا يَمْلِكُ الْإِخْرَاجَ بِنَفْسِهِ ځکه چي مضارب په خپله د هغه د بهر ایستلو ملکیت [اختیار] نه لري فَلَا يَمْلِكُ تَفْوِيضَهُ إِلَى غَيْرِهِ نو ځکه مضارب به بل چا ته د هغه د ورسپارلو [د اخراج د اجازت ورکولو] ملکیت هم نه لري قَالَ: فَإِنْ خَرَجَ إِلَى غَيْرِ ذَلِكَ الْبَلَدِ فرمايي: که چیري مضارب له هغه ښار څخه بغیر بل ښار ته [د مالِ مضاربت سره] ووځي فَاشْتَرَى او [هلته] یو شی رانیسي ضَمِنَ نو هغه ضامن کیږي [یعني پر هغه ضمان [تاوان] لازمیږي] وَكَانَ ذَلِكَ لَهُ وَلَهُ رِبْحُهُ او رانیول شی او د هغه نفع [ټوله] د مضارب ګرځي لِأَنَّهُ تَصَرَّفَ بِغَيْرِ أَمْرِهِ ځکه چي هغه د ربُ المال له حکم څخه بغیر دا تصرف کړی دی وَإِنْ لَمْ يَشْتَرِ حَتَّى رَدَّهُ إِلَى الْكُوفَةِ وَهِيَ الَّتِي عَيَّنَهَا او که مضارب [هلته] شی نه رانیسي او بیا مالِ مضاربت [بیرته] کوفې ته واپس کړي او ربُ المال همدا کوفه [د تصرّف لپاره] مُتعیّن کړې وي بَرِئَ مِنَ الضَّمَانِ نو [په دې صورت کي] مضارب له ضمان څخه بري کیږي كَالْمُودَعِ إِذَا خَالَفَ فِي الْوَدِيعَةِ ثُمَّ تَرَكَ لکه مودَع [امانت ساتونکی] چي کله په امانت کي [د مودِع د حکم] مخالفت وکړي او بیا مخالفت پرېږدي [نو هغه هم له ضمان څخه بري کیږي] وَرَجَعَ الْمَالُ مُضَارَبَةً عَلَى حَالِهِ او په [دې صورت کي هغه ایستل سوی مال] پر خپل مخکني حالت مالِ مضاربت پاتیږي لِبَقَائِهِ فِي يَدِهِ بِالْعَقْدِ السَّابِقِ ځکه چي هغه [اوس هم] په مخکني عقد سره د مضارب په قبضه کي پاته دی وَكَذَا إِذَا رَدَّ بَعْضَهُ وَاشْتَرَى بِبَعْضِهِ فِي الْمِصْرِ او همدارنګه که مضارب څه مال [د مال بعضي حصه] واپس وکړي او په څه مال سره په ښار کي یو شی رانیسي كَانَ الْمَرْدُودُ وَالْمُشْتَرَى فِي الْمِصْرِ عَلَى الْمُضَارَبَةِ نو واپس کړی سوی مال او په ښار کي رانیول سوی شی دواړه پر مضاربت [پاتیږي] لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چي [اوس] مونږ ذکر کړی ثُمَّ شَرْطُ الشِّرَاءِ هَهُنَا بیا دلته [د ضمان لازمېدلو لپاره] رانیول شرط کړی سوي دي وَهُوَ رِوَايَةُ الْجَامِعِ الصَّغِيرِ او دا د جامع صغیر روایت

دی وَفِي كِتَابِ الْمُضَارَبَةِ: ضَمِنَهُ بِنَفْسِ الْإِخْرَاجِ او [د مبسوط] په کتاب المضاربت کې [ذکر سوی] دي: چې [د مالِ مضاربت] په نفس ايستلو سره مضارب ضامن كيږي وَالصَّحِيحُ أَنَّ بِالشِّرَاءِ يَتَقَرَّرُ الضَّمَانُ الْبکن] صحیح دا ده چې د رانيولو په وجه ضمان مضبوطيږي [مستحکم کيږي] لِزَوَالِ احْتِمَالِ الرَّدِّ إِلَى الْبِضْعِ الَّذِي عَيَّنَهُ ځکه د رانيولو په وجه د ربُ المال د مُتعيّن کړده ښار وطرف ته [د مالِ مضاربت] د واپس کولو احتمال ختميږي أَمَّا الضَّمَانُ فَوُجُوبُهُ بِنَفْسِ الْإِخْرَاجِ پاته سو ضمان نو هغه [د مالِ مضاربت] په نفس ايستلو سره واجبيږي وَإِنَّمَا شَرَطَ الشِّرَاءُ لِلتَّقَرُّرِ لَا لِأَصْلِ الْوُجُوبِ او رانيول [صرف] د ضمان مضبوطېدلو لپاره شرط کړی سوي دي، نه د اصل وجوب لپاره وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: عَلَى أَنْ تَشْتَرِيَ فِي سُوقِ الْكُوفَةِ او دا د هغه صورت په خلاف دي کله چې ربُ المال داسي ووايي: [زه] پر دې شرط [تا ته مال درکوم] چې ته به د کوفې په بازار کې په هغه سره رانيول کوې حَيْثُ لَا يَصِحُّ التَّقْيِيدُ نو دا تقييد [مقيّد کول] نه صحيح كيږي لِأَنَّ الْبِصْرَ مَعَ تَبَايُنِ أَطْرَافِهِ كَبُقْعَةٍ وَاحِدَةٍ ځکه چې ښار د اطرافو د تباين [توپير] باوجود د يوه ځای په حکم کې دی فَلَا يُفِيدُ التَّقْيِيدُ نو ځکه به تقييد فايده نه کوي إِلَّا إِذَا صَرَّحَ بِالنَّهْيِ مگر دا چې ربُ المال د منع صراحت وکړي [يعني په صراحت سره مضارب منع کړي] بِأَنْ قَالَ: اِعْمَلْ فِي السُّوقِ وَلَا تَعْمَلْ فِي غَيْرِ السُّوقِ په دې توگه چې [مضارب ته] ووايي: چې په فلانکي بازار کې کار [کاروبار] کوه! او له هغه بازار څخه بغير بل ځای کار مه کوه! لِأَنَّهُ صَرَّحَ بِالْحَجْرِ ځکه چې [په دې صورت کې] هغه د ممانعت صراحت کړی دی وَالْوِلَايَةُ إِلَيْهِ او ولايت [اختيار] صرف هغه ته حاصل دی وَمَعْنَى التَّخْصِيصِ أَنْ يَقُولَ: عَلَى أَنْ تَعْمَلَ كَذَا أَوْ فِي مَكَانِ كَذَا او د تخصيص مطلب دا دی چې ربُ المال [مضارب ته] داسي ووايي: پر دې شرط [مال درکوم] چې ته به فلانکی کار کوې! يا په فلانکي ځای کې به کار کوې! وَكَذَا إِذَا قَالَ: خُذْ هٰذَا الْمَالَ تَعْمَلُ بِهِ فِي الْكُوفَةِ او همدارنگه که ربُ المال ووايي: دا مال واخله! چې په هغه سره به ته په کوفه کې کار کوې! لِأَنَّهُ تَفْسِيرٌ لَهُ ځکه چې دويمه جمله [يعني تعمل به في الكوفة] د اولي جملې تفسير ده أَوْ قَالَ: فَاعْمَلْ بِهِ فِي الْكُوفَةِ يا ربُ المال داسي ووايي: نو په کوفه کې کار په کوه! او لِأَنَّ الْفَاءَ لِلْوَصْلِ

ځکه چې فاء د وصل لپاره راځي أَوْ قَالَ: خُذْهُ بِالنِّصْفِ بِالْكُوفَةِ يا داسې ووايي: چې د دې مال په نصف سره په کوفه کې کار کوه! لِأَنَّ الْبَاءَ لِلْإِلْصَاقِ ځکه چې باء د الصاق لپاره راځي أَمَّا إِذَا قَالَ: خُذْ هٰذَا الْمَالَ وَاعْمَلْ بِهِ بِالْكُوفَةِ او که چیرې ربُ المال ووايي: چې دا مال واخله! او په دې سره په کوفه کې کار کوه! فَلَهُ أَنْ يَعْمَلَ فِيهَا وَفِي غَيْرِهَا نو مضارب ته په کوفه او غير کوفه [هر ځای] کې د کار کولو اختيار سته لِأَنَّ الْوَاوَ لِلْعَطْفِ ځکه چې واو د عطف لپاره راځي فَيَصِيْرُ بِمَنْزِلَةِ الْمَشُوْرَةِ لهذا دا به د مشورې په درجه کې وګرځي وَلَوْ قَالَ: عَلَىٰ أَنْ تَشْتَرِيَ مِنْ فُلَانٍ وَتَبِيعَ مِنْهُ او که چیرې ووايي: پر دې شرط [مال درکوم] چې ته به د فلانکي څخه رانيول او پر هغه خرڅول کوې! [يعني د شراء او بيع معامله به د فلانکي سره کوې!] صَحَّ التَّقْيِيدُ نو دا تقييد صحيح کيږي لِأَنَّهُ مُفِيدٌ لِزِيَادَةِ الثِّقَةِ بِهِ فِي الْمُعَامَلَةِ ځکه چې د مقيد بهٖ [فلانکي] سره په معامله کولو کې د زيات اعتماد په حواله سره دا تقييد مفيد دی بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: عَلَىٰ أَنْ تَشْتَرِيَ بِهَا مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ په خلاف د هغه صورت کله چې ربُ المال داسې ووايي: پر دې شرط [مال درکوم] چې ته به په هغه له اهل کوفه څخه رانيول کوې! أَوْ دَفَعَ فِي الصَّرْفِ عَلَىٰ أَنْ تَشْتَرِيَ بِهِ مِنَ الصَّيَارِفَةِ وَتَبِيعَ مِنْهُمْ او يا ربُ المال په بيع صَرف کې [يعني د صرافۍ] مال ورکړي پر دې شرط چې ته به په هغه له صرافانو څخه رانيول او پر هغوی خرڅول کوې! فَبَاعَ بِالْكُوفَةِ مِنْ غَيْرِ أَهْلِهَا أَوْ مِنْ غَيْرِ الصَّيَارِفَةِ او بيا مضارب په کوفه کې له اهل کوفه څخه بغير يا له صرافانو څخه بغير پر بل چا خرڅول وکړي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّ فَائِدَةَ الْأَوَّلِ التَّقْيِيدُ بِالْمَكَانِ ځکه چې د اول قول فايده په مکان سره مقيد کول دي وَفَائِدَةَ الثَّانِي التَّقْيِيدُ بِالنَّوْعِ او د دويم قول فايده په نوع سره مقيد کول دي وَهٰذَا هُوَ الْمُرَادُ عُرْفًا او همدا عرفاً مراد دي [يعني په عرف کې له داسې قول څخه همدا مراديږي] لَا فِيمَا وَرَاءَ ذٰلِكَ او له هغه [مکان او نوع] څخه بغير بل څه مراد نه دي.

**اللغات**: ﴿سلعة﴾ سامان، ﴿تخصيص﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: خاص کول، خاص ګرځول، ﴿توكيل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: يو څوک د يو کار وکيل کول، وکيل جوړول، ﴿إخراج﴾ د افعال د باب مصدر دی: ايستل، باسل، (بهر وړل)، ﴿سوق﴾ بازار، ﴿تباين﴾ د تفاعل د باب مصدر

دي: يو له بله جلا کېدل، عليحده کېدل، ﴿بقعة﴾ د ځمکې ټوټه، قطعه، ﴿صيارفة﴾ جمع د صَيْرَفِيٌّ ده: صراف، د روپو بدلونکی.

**تشريح**: په دې عبارت کې د مضاربت د تخصيص او تقييد په هکله څو مسئلې ذکر سوي دي:

که ربُ المال مضارب ته داسي ووايي چي "ته! به صرف په فلانکي ښار کي په مال مضاربت سره کار کوې، يا صرف د فلانکي سامان تجارت به کوې!"، نو د مضارب لپاره د هغه خلاف کول صحيح نه دي؛ ځکه چي عقد مضاربت توکيل دی، او په توکيل کي وکيل د مؤکل (وکيل جوړونکي) د حکم پابندي وي، لهذا په مضاربت کي به هم مضارب د مضاربت د جهت پابند وي؛ ځکه په دې تخصيص کي فايده هم سته چي د ربُ المال مال به له ضايع کېدلو څخه محفوظ وي او د مضارب له طرفه به د خيانت امکان معدوم وي، لهذا مضارب ته به د هغه د خلاف کولو اجازت نه وي. همدارنګه مضارب ته دا اختيار هم نسته چي يو داسي سړي ته مال مضاربت بضاعتاً ورکړي کوم چي هغه مال له ښار څخه بهر نقل کړي او په بل ښار کي په هغه سره کاروبار وکړي؛ ځکه کله چي په خپله مضارب ته د بهر نقل کولو اجازت نسته، نو بل چا ته به د دې څه اجازت وي؛ د فقهي دا مشهوره قاعده ده "مَنْ لَا يَمْلِكُ شَيْئًا لا يُمَلِّكُهُ غَيْرَهُ"، يعني څوک چي په خپله د يو شي ملکيت او اختيار نه لري، هغه بل چا ته د دې شي ملکيت او اختيار نه سي ورکولای، او څرنګه چي دلته مضارب د اخراج المال اختيار نه لري، نو ځکه هغه ته به د اخراج د تمليک او تفويض اختيار هم نه وي.

او که د ربُ المال له تخصيص او تعيين څخه وروسته مضارب هغه مال له مُتعيّن کړه ښار څخه بل ښار ته نقل کړي او هلته رانيول او خرڅول وکړي، نو په دې صورت کي د هغه نفع او نقصان د مضارب ګرځي او مضارب د ربُ المال لپاره د مال مضاربت ضامن کيږي؛ ځکه چي هغه د ربُ المال د حکم او رضا په خلاف تصرف کړی دی. هوا! که چيري هغه بل ښار ته ولاړ سي، لېکن هلته په مال مضاربت سره هيڅ رانيول او خرڅول نه وکړي، بيا هغه بيرته د ربُ المال مُتعيّن کړه ښار ته واپس راسي، نو په دې صورت کي پر هغه ضمان نه لازميږي او دا مال د مخکي په څېر مال مضاربت پاتيږي. د دې مثال داسي دی لکه يو سړی چي مثلاً خالد ته يو شی په امانت ورکړي او مُودَع (خالد) د هغه سړي (مودِع) د رضا په خلاف په هغه کي تصرف وکړي، نو په دې صورت کي مُودَع (خالد) د امانت شي ضامن کيږي، لېکن که هغه له مخالفت څخه منع سي، نو له ضمان څخه بري کيږي، نو همداسي به مُتعيّن کړه ښار ته د مال مضاربت په واپس راوړلو سره مضارب هم له ضمان څخه بري کيږي.

وكذا إلخ: که ربُ المال مضارب ته مثلاً يو لک روپۍ ورکړي او هغه ته ووايي چي "ته! په دې سره په کابل کي تجارت کوه!"، لېکن مضارب په زابل کي د پنځوسو زرو په عوض کي يو شی رانيسي او باقي پنځوس زره واپس کابل ته يووسي، نو په دې صورت کي هم رانيول سوی شی او باقي مانده مال دواړه د مضاربت مالونه دي؛ ځکه چي د مخکني عقد په وجه اوس هم دا دواړه مالونه د مضارب په قبضه دي، لېکن فقهاؤ د ربُ المال د مُتعيّن کرده ښار څخه بغير په بل ښار کي د رانيول سوي شي ضمان پر هغه واجب کړی دی، ځکه چي په دې عمل کي هغه د ربُ المال مخالف کونکی دی.

ثم شرط إلخ: د دې حاصل دا دی چي پر مضارب د ضمان واجبېدلو لپاره په جامع صغير کي د اخراج (ايستلو) سره شراء (رانيول) هم مشروط کړل سوي دي، لېکن د مبسوط په کتاب المضاربت کي صرف په نفس اخراج سره ضمان واجب کړی سوی دی؟ نو د دې وجه دا ده چي ضمان خو واقعتاً په نفس اخراج سره واجبيږي، لېکن د هغه استحکام او تقرّر په شراء سره کيږي، لهذا د جامع صغير او مبسوط په عبارتونو کي څه ژور فرق نسته.

وهذا بخلاف إلخ: مسئله دا ده که چيري ربُ المال مضارب ته ووايي چي "زه پر دې شرط تا ته مال درکوم چي ته به د کوفې په بازار کي رانيول او خرڅول کوې!"، نو دا تقييد نه صحيح کيږي او مضارب ته په ټوله کوفه کي هر ځای د رانيولو او خرڅولو اختيار سته، ها! که چيري ربُ المال په صراحت سره داسي ووايي چي "ته صرف په فلانکي بازار کي کاروبار کوه! او له هغه څخه بغير بل هيڅ ځای کاروبار مه کوه!"، نو اوس مضارب د دې حکم پابند ګرځي او له مُتعيّن کرده بازار څخه بغير بل ځای د هغه لپاره رانيول و خرڅول جائز نه دي؛ ځکه چي په دې صورت کي ربُ المال په صراحت سره پر هغه پابندي لګولې ده، او صراحت له دلالت څخه فائق او بالا وي.

ومعنى التخصيص إلخ: ښکاره دې وي چي که ربُ المال مضارب ته داسي ووايي "زه پر دې شرط تا ته مال درکوم چي ته به د کوفې د خلکو سره کاروبار کوې!"، يا "پر دې شرط مال درکوم چي ته به د صرافانو سره کاروبار کوې!"، نو دا شرط و قيد صحيح او مفيد نه دی، يعني د مضارب لپاره په هغه عمل کول ضروري نه دي نو که چيري هغه د کوفې له خلکو يا له صرافانو څخه بغير د بل چا سره معامله او کاروبار وکړي، نو بيا هم مضاربت جائز دی؛ ځکه چي له اهل کوفه څخه مراد مقام کوفه (مکانِ کوفه) دی او له صرافانو څخه مراد بيع صَرف او تجارت صرافي دی، او عموماً او عرفاً له هغه څخه همدا مراد کيږي، نو ځکه په دې حواله سره د مضارب دا عمل هم صحيح دی او مضاربت هم صحيح او جائز دی. (احسن الهدايه)

## په مضاربت کي د ټاکلي وخت قيد لګول او داسي غلام رانيول کوم چي د ربُ المال په حق کي آزاديږي

قَالَ: وَكَذٰلِكَ إِنْ وَقَّتَ لِلْمُضَارَبَةِ وَقْتًا بِعَيْنِهِ فرمايي: او همدارنګه که ربُ المال د مضاربت لپاره يو مُتعيّن وخت وټاکي يَبْطُلُ الْعَقْدُ بِمُضِيِّهِ نو د هغه وخت په تېرېدلو سره عقد [مضاربت] باطليږي لِأَنَّهُ تَوْكِيلٌ ځکه چي دا عقد [مضاربت] توکيل دی فَيَتَوَقَّتُ بِمَا وَقَّتَهُ نو ځکه په هغه وخت سره به مؤقت کيږي کوم چي ربُ المال ټاکلی وي وَالتَّوْقِيتُ مُفِيدٌ او توقيت [وخت ټاکل] مفيد هم دي فَإِنَّهُ تَقْيِيدٌ بِالزَّمَانِ ځکه چي هغه په زمانه سره مقيد کول دي فَصَارَ كَالتَّقْيِيدِ بِالنَّوْعِ وَالْمَكَانِ نو دا په نوع او مکان سره د مقيد کولو په څېر سو قَالَ: وَلَيْسَ لِلْمُضَارِبِ أَنْ يَشْتَرِيَ مَنْ يَعْتِقُ عَلَى رَبِّ الْمَالِ لِقَرَابَةٍ أَوْ غَيْرِهَا فرماييي: او مضاب ته دا اختيار نسته چي داسي غلام رانيسي کوم چي د قرابت او داسي نورو په وجه پر ربُ المال آزاد سي لِأَنَّ الْعَقْدَ وُضِعَ لِتَحْصِيلِ الرِّبْحِ ځکه چي دا عقد [مضاربت] د نفع حاصلولو لپاره وضع سوی دی وَذٰلِكَ بِالتَّصَرُّفِ مَرَّةً بَعْدَ أُخْرٰى او نفع په بار، بار تصرف کولو [خرڅولو او رانيولو] سره حاصليږي وَلَا يَتَحَقَّقُ فِيهِ او دا بار، بار تصرف کول په داسي غلام کي نه ثابتيږي لِعِتْقِهِ ځکه چي [په يو ځل تصرف کولو سره] هغه آزاديږي وَلِهٰذَا لَا يَدْخُلُ فِي الْمُضَارَبَةِ شِرَاءُ مَا لَا يُمْلَكُ بِالْقَبْضِ او په همدې وجه په مضاربت کي د هغه شي رانيول نه داخليږي کوم چي په قبضه کولو سره [د انسان] په ملکيت کي نه داخليږي [يعني که انسان (مضارب) قبضه پر وکړي نو هم يې نه مالک کيږي] كَشِرَاءِ الْخَمْرِ وَالشِّرَاءِ بِالْمَيْتَةِ لکه د شرابو رانيول او د مردار سوي حيوان رانيول بِخِلَافِ الْبَيْعِ الْفَاسِدِ په خلاف د بيع فاسد لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ بَيْعُهُ بَعْدَ قَبْضِهِ ځکه چي له قبضه کولو څخه وروسته د هغه خرڅول ممکن دي [يعني په بيع فاسد سره رانيول سوی شی که مضارب قبضه پر وکړي نو بيا هغه خرڅولای سي] فَيَتَحَقَّقُ الْمَقْصُودُ نو ځکه مقصود [د نفعي حاصلول] به ثابت سي.

قَالَ: وَلَوْ فَعَلَ فرمايي: که چيري مضارب دا کار وکړي [يعني داسي غلام رانيسي کوم چي پر ربُ المال آزاديږي] صَارَ مُشْتَرِيًا لِنَفْسِهِ دُونَ الْمُضَارَبَةِ نو مضارب د خپل ځان لپاره رانيونکی ګرځي، نه د مضاربت په توګه لِأَنَّ الشِّرَاءَ مَتٰى وَجَدَ نَفَاذًا عَلَى الْمُشْتَرِيْ ځکه کله چي رانيول پر مشتري د نفاذ

لاره پيدا کړي [يعني کوم رانيول (رانيول سوی شی) چې داسې وي چې د مشتري په حق کې د هغه نافذول ممکن وي] نَفَذَ عَلَيْهِ نو هغه پر مشتري نافذول کيږي كَالْوَكِيلِ بِالشِّرَاءِ إِذَا خَالَفَ لکه د يو شي د رانيولو وکيل چې کله [د مؤکل د حکم] مخالفت وکړي.

**اللغات**: ﴿وقّت﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: وخت ټاکل (متعيّن کول)، وخت بيانول. ﴿مُضِيّ﴾ د ضرب د باب مصدر دی: وخت تېرېدل (ختمېدل)، ﴿شراء﴾ او شِرىٰ رانيول، خريداري، ﴿الميتة﴾ مردار سوی (مړ سوی) حيوان. ﴿نَفَاذ﴾ (بفتح النون) د نصر د باب مصدر دی: نافذېدل، جاري کېدل، پوره کېدل.

**تشريح**: په دې عبارت کې دوې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که چيرې ربُ المال د مضاربت لپاره وخت مُتعيّن کړي، مثلاً مضارب ته داسې ووايي چې "ته به نيم کال مضاربت کوې! (يا مثلاً زما او ستا په مينځ کې صرف د يوې مياشتې لپاره د مضاربت معامله سوې ده)! له هغه څخه وروسته به ما ته خپل مال راکوې!"، نو دا توقيت صحيح او مفيد دی او مضارب د هغه ټاکلي وخت پابند ګرځي، او څرنګه چې د "نوع" يعني د طعام او ثوب او د "مکان" مثلاً د کوفې او بصرې تعيين وا تقييد مفيد دی، همداسې به د وقت او زمان تقييد هم مفيد وي.

(۲)... مضارب په مالِ مضاربت سره داسې غلام نه سي رانيولای کوم چې په رانيولو سره پر ربُ المال آزاديږي، مثلاً داسې غلام چې هغه د ربُ المال قريب (ذو رحمِ محرم) وي يا داسې غلام چې ربُ المال د هغه د آزادولو قسم کړی وي، او ښکاره خبره ده چې داسې غلام به د مضارب په رانيولو سره سمدستي آزاد سي او په دې سره به ربُ المال ته ضرر او نقصان ورسيږي؛ ځکه چې د عقد مضاربت مقصد نفع حاصلول دي، او د نفعې حاصلولو لپاره څو ځله تصرف کولو ته ضرورت پرېوځي، حال دا چې مذکوره کسان په يوه ځل رانيولو سره آزاديږي او په هغو کې دوباره تصرف نه سي کېدای.

ولهذا لايدخل إلخ: څرنګه چې د مضاربت مقصد نفع حاصلول دي او د نفعې حاصلولو لپاره څو ځله تصرف ته ضرورت پيښيږي او د څو ځله تصرف لپاره قبضه او ملکيت ضروري دي، نو په همدې وجه فقهاؤ د داسې شي رانيول منع کړي دي کوم چې تر قبضې وروسته هم په ملکيت کې نه راځي، لکه د مسلمان لپاره شراب رانيول يا مردار سوی حيوان رانيول، ځکه چې د دې شيانو تر قبضه کولو وروسته هم مسلمان د هغوی نه مالک کيږي، نو ځکه د هغوی رانيول به په مضاربت کې نه داخليږي.

ها! د بيع فاسد معامله په مضاربت کې داخلېدای سي؛ ځکه په بيع سره د رانيول سوي شي تر قبضه کولو وروسته د هغه خرڅول او پر هغه نفع حاصلول ممکن دي، او تاسې ته معلومه ده چې د مضاربت مقصد نفع حاصلول دي، نو ځکه په مضاربت کې دا صورت داخلېدای سي.

قال ولوفعل إلخ: مخکي ذکر سوه چي د مضارب لپاره داسي غلام رانيول ناجائز او ممنوع دي کوم چي پر ربُ المال آزاديږي، نو که چيري مضارب هغه رانيسي، نو په دې صورت کي مضارب د خپل ځان لپاره رانيونکی ګرځي او په هغه غلام کي مضاربت نه واقع کيږي بلکي غلام صرف د مضارب ګرځي. لکه کله چي وکيل بالشراء د مؤکل د رضا په خلاف رانيول وکړي، نو هغه رانيول (خرايداري) د هغه د خپل ځان لپاره ګرځي او په هغه کي مؤکل نه شريک کيږي.

## که مضارب داسي غلام رانيسي کوم چي په رانيولو سره د هغه په حق کي آزاديږي

قَالَ: فَإِنْ كَانَ فِي الْمَالِ رِبْحٌ فرمايي: که چيري په مال کي څه نفع حاصله سي لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَشْتَرِيَ مَنْ يُعْتَقُ عَلَيْهِ نو د مضارب لپاره جائز نه دي چي داسي غلام رانيسي کوم چي پر مضارب آزاديږي لِأَنَّهُ يُعْتَقُ عَلَيْهِ نَصِيبُهُ وَيُفْسَدُ نَصِيبُ رَبِّ الْمَالِ ځکه چي [په داسي کولو سره] پر مضارب خپله حصه آزاديږي او د ربُ المال حصه فاسديږي أَوْ يُعْتَقُ عَلَى الِاخْتِلَافِ الْمَعْرُوفِ يا د ربُ المال حصه هم آزاديږي، بناء پر هغه اختلاف کوم چي مشهوره دی فَيَمْتَنِعُ التَّصَرُّفُ لهذا تصرف به ممتنع وګرځي فَلَا يَحْصُلُ الْمَقْصُودُ نو ځکه مقصود به حاصل نه سي وَإِنِ اشْتَرَاهُمْ او که چيري مضارب داسي غلامان [من يُعتَق عليه] رانيسي ضَمِنَ مَالَ الْمُضَارَبَةِ نو هغه د مالِ مضاربت ضامن کيږي [يعني په دې صورت کي پر هغه د مالِ مضاربت ضمان (تاوان) لازميږي] لِأَنَّهُ يَصِيرُ مُشْتَرِيًا لِلْعَبْدِ ځکه چي هغه [د خپل ځان لپاره] د غلام رانيونکی ګرځي فَيَضْمَنُ بِالنَّقْدِ مِنْ مَالِ الْمُضَارَبَةِ نو ځکه هغه به له مالِ مضاربت څخه په اداء کولو سره ضامن کيږي [په بله وژبا: نو ځکه هغه به د مالِ مضاربت د اداء کولو ضامن کيږي] وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي الْمَالِ رِبْحٌ او که چيري په مال کي نفع حاصله نه سي جَازَ أَنْ يَشْتَرِيَهُمْ نو د مضارب لپاره جائز دي چي هغوی [من يُعتَق عليه] آزاد کړي لِأَنَّهُ لَا مَانِعَ مِنَ التَّصَرُّفِ ځکه چي [اوس] له تصرف څخه هيڅ مانع نسته إِذْ لَا شَرِكَةَ لَهُ فِيهِ لِيُعْتَقَ عَلَيْهِ ځکه [اوس] په مالِ مضاربت کي شرکت نسته چي رانيول سوی غلام پر هغه آزاد سي فَإِنْ زَادَتْ قِيمَتُهُمْ بَعْدَ الشِّرَاءِ بيا که چيري تر انيولو وروسته د هغه غلامانو قيمت زيات سي عَتَقَ نَصِيبُهُ مِنْهُمْ نو له هغوی څخه د مضارب حصه آزاديږي لِمِلْكِهِ بَعْضَ قَرِيبِهِ ځکه چي مضارب د خپل قريب د بعضي حصي مالک

سوی دی وَلَمْ يَضْمَنْ لِرَبِّ الْمَالِ شَيْئًا او مضارب د ربُ المال لپاره د هيڅ شي نه ضامن کيږي لِأَنَّهُ لَا صُنْعَ مِنْ جِهَتِهِ فِي زِيَادَةِ الْقِيمَةِ ځکه چي د قيمت په زياتېدلو کي د مضارب د عمل هيڅ دخل نسته وَلَا فِي مِلْكِهِ الزِّيَادَةَ او نه د هغه په ملکيت کي قيمت زيات سوی دی لِأَنَّ هَذَا شَيْءٌ يَثْبُتُ مِنْ طَرِيقِ الْحُكْمِ ځکه چي دا شی خو د عقد [مضاربت] په حکم سره ثابتيږي فَصَارَ كَمَا إِذَا وَرِثَهُ مَعَ غَيْرِهِ نو دا داسي سوه لکه يو څوک چي د بل چا سره د خپل يو قريب غلام وارث جوړ سي [يعني دوو کسانو ته په مشترکه توګه په ميراث کي يو قريب غلام حاصل سي].

وَيَسْعَى الْعَبْدُ فِي قِيمَةِ نَصِيبِهِ مِنْهُ او غلام به د ربُ المال د حصې په اندازه قيمت کي سعی کوي [يعني کوښښ او مزدوري به کوي چي ربُ المال ته د خپل پاته حصې قيمت ورکړي او په بشپړه توګه آزاد سي] لِأَنَّهُ احْتَبَسَتْ مَالِيَّتُهُ عِنْدَهُ ځکه چي د ربُ المال ماليت د دې غلام سره محبوس پاته دی فَيَسْعَى فِيهِ نو ځکه دا غلام به د هغه په حصه کي کوښښ کوي كَمَا فِي الْوَرَاثَةِ لکه څرنګه چي په وراثت کي کيږي.

**اللغات:** ﴿ربح﴾ نفع، ګټه. ﴿نصيب﴾ حصه، حق. ﴿يمتنع﴾ د افتعال د باب مضارع ده: ممتنع کېدل، ممنوع کېدل، ناروا کېدل. ﴿احتبست﴾ د افتعال د باب ماضي ده: بندېدل، محبوس کېدل (يو شی د چا په قبضه کي راګرځېدل). ﴿يسعٰی﴾ د فتح د باب مضارع ده: کوښښ او هڅه کول (د يو چا په حق او حاجت پوره کولو کي هڅه کول)، زحمت او خواري کښل، مراد ځني کسب او مزدوري کول او د پاته حصې د آزادولو لپاره مال ګټل دي.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که مال مضاربت څه نفع او ګټه وکړي، نو ښکاره خبره ده چي هغه نفع د ربُ المال او مضارب په مينځ کي مشترکه ګرځي او د مضارب لپاره په هغه مال سره د داسي کس رانيول جائز نه دي کوم چي د مضارب قريب (ذو رحم محرم) وي، ځکه چي د مضارب د قريب کېدلو په وجه به هغه د مضارب د نفعي په حصه کي آزاد سي، او څرنګه چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز عتق نه سي متجزي کېدای (يعني آزادي جزء. جزء او ټوټه. ټوټه نه سي کېدای). نو ځکه د مالک د مال په حصه کي به هم هغه آزاد سي، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز عتق متجزي کېدای سي، نو ځکه د هغه په نيز ربُ المال ته اختيار دی چي که هغه وغواړي نو په خپله حصله کي دي عتق نافذ کړي او له مضارب څخه دي د مال مضاربت او د خپلي نفعي تاوان (ضمان) واخلي، او که وغواړي نو په خپله

حصه کې دي د غلام آزادي منع کړي او په غلام دي سعي او مزدوري وکړي. په "الاختلاف المعروف" سره همدغه اختلاف ته اشاره سوې ده او ځرنګه چې په داسې کولو سره د مضاربت مقصود نه حاصلیږي، نو ځکه د مضارب لپاره دا کار صحیح نه دی، او که هغه داسې وکړي، نو د مال مضاربت ضامن کیږي: ځکه چې هغه د عقد د مقتضاء په خلاف کار کونکی دی.

وإن لم يكن إلخ: د دې حاصل دا دی چې که مال مضاربت هیڅ نفع نه وکړي بلکې صرف مال مضاربت وي. نو مضارب خپل قریب (کوم چې د بل چا تر غلامتوب لاندې وي) رانیولای سي. ځکه چې اوس په مال مضاربت کې د هغه شرکت نسته (ځکه د هغه شرکت او ملکیت صرف په نفع کې دی)، نو ځکه رانیول سوی غلام به پر هغه آزادیږي هم نه، او دا شی به مانع د تصرف هم نه وي، لېکن که تر رانیولو وروسته د هغه غلام قیمت زیات سي او مال مضاربت نفع وکړي. نو د مضارب په حصه کې چې څومره نفع راځي، د هغه حصې په اندازه هغه غلام آزادیږي: ځکه چې اوس د مضارب په قبضه کې مال راغلی او هغه د خپل قریب د بعضې حصې مالک سو. لېکن ځرنګه چې دا ملکیت هغه ته په غیر اختیاري توګه (بلا اختیاره) حاصل سوی دی او په دې کې د مضارب د عمل هیڅ دخل نسته، نو ځکه هغه به د ربُ المال لپاره د مذکوره مال ضامن کیږي هم نه.

فصار كما إذا ورثه إلخ: د دې مثال دا دی لکه یو سړی چې د بل چا سره د خپل قریب وارث سي. صورت یې دا دی چې مثلاً ادریس د یو مالک د مینځې سره نکاح وکړي او له هغې څخه د ده یو ځوی پیدا سي (چې پر هغه د زید نوم کېښېنول سي. او تاسو ته به معلومه وي چې داسې بچی د مور تابع کیږي او د خپل مالک غلام ګرځي)، او بیا ادریس د یو آزادې ښځې سره نکاح وکړي. او هغه آزاده ښځه له مالک څخه د خپل خاوند یعنې د ادریس ځوی (زید) رانیسي. بیا دا آزاده ښځه مړه سي او خپل تر شا یو ورور او دا خاوند (ادریس) پرېږدي (یعنې د هغې صرف دوه وارثان پاته سي: ورور او خاوند)، نو ښکاره خبره ده چې د هغې میراث د دغه دوو کسانو (ورور او خاوند) په مینځ کې نصف، نصف مشترک ګرځي. لهذا د غلام (زید) نیمه حصه د ورور په ملکیت کې راغله او نیمه حصه یې د خاوند په ملکیت کې راغله کوم چې د غلام پلار دی. نو اوس دا خاوند د خپل قریب غلام (ځوی) مالک سو، نو ځکه هغه قریب غلام (ځوی) سمدستي پر خاوند آزادیږي. لېکن خاوند د ښځې د ورور لپاره د هیڅ شي نه ضامن کیږي (یعنې د مشترک غلام (ځوی) د آزادېدلو په وجه پر خاوند د خپل شریک (اخښي) ضمان نه لازمیږي)، ځکه چې خاوند په خپل اختیار سره د دې قریب (ځوی) نه دی مالک سوی بلکې د وراثت په نعمت سره هغه ته دا ملکیت حاصل سوی دی. همداسې په پورتنۍ مسئله کې هم مضارب په غیر اختیاري توګه د خپل قریب مالک سوی دی، نو ځکه هغه به هم د ربُ المال لپاره نه ضامن کیږي. لېکن ځرنګه چې د

ربُ المال په حصه کي آزادي نه واقع کيږي او د هغه ماليت په دې غلام کي محبوس پاته دی. نو ځکه دا غلام (د مضارب قريب غلام) به د ربُ المال په حصه کي سعی او مزدوري کوي او د هغه لپاره به مال ګټي او ربُ المال ته به يې ورکوي چي په بشپړه توګه آزاد سي.

## که مضارب له مالِ مضاربت څخه مينځه أمِ ولد جوړه کړي (حکم او تفصيل)

قَالَ: فَإِنْ كَانَ مَعَ الْمُضَارِبِ أَلْفٌ بِالنِّصْفِ فرمايي: که چيري د مضارب سره د نيمي نفع پر شرط زر درهمه [مالِ مضاربت] وي فَاشْتَرَى بِهَا جَارِيَةً قِيمَتُهَا أَلْفٌ بيا په هغه زر درهمو سره مضارب يو داسي مينځه رانيوله چي د هغې قيمت زر درهمه وو فَوَطِئَهَا او مضارب د هغه مينځي سره وطي وکړي فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ يُسَاوِي أَلْفًا بيا هغې يو بچی وزېږوی چي د هغه قيمت زر درهمه وو فَادَّعَاهُ او مضارب د هغه دعوىٰ وکړه [چي دا زما له نطفې څخه دی] ثُمَّ بَلَغَتْ قِيمَةُ الْغُلَامِ أَلْفًا وَخَمْسَمِائَةٍ بيا د هغه هلک قيمت يو نيم زر درهمو ته ورسېدی وَالْمُدَّعِي مُوسِرٌ او مدعي [مضارب] مالدار وو فَإِنْ شَاءَ رَبُّ الْمَالِ اسْتَسْعَى الْغُلَامَ فِي أَلْفٍ وَمِائَتَيْنِ وَخَمْسِينَ نو که د ربُ المال خوښه وي نو په دوولس نيم سوه [١٢٥٠] درهمو کي دي په غلام هلک سعي [او کسب] وکړي [يعني هغه ته دي ووايي چي کوښښ او مزدوري وکړه او زما لپاره ١٢٥٠ درهمه وګټه!] وَإِنْ شَاءَ أَعْتَقَ او که غواړي نو هغه دي آزاد کړي وَوَجْهُ ذَلِكَ: أَنَّ الدَّعْوَةَ صَحِيحَةٌ فِي الظَّاهِرِ حَمْلًا عَلَى فِرَاشِ النِّكَاحِ د دې دليل دا دی: چي په ظاهره دا دعوىٰ صحيح ده، د نکاح پر فراش [د نکاح پر وطي] په حمل کولو سره لَكِنَّهُ لَمْ يَنْفُذْ ليکن [د عتق (آزادی) په حق کي] دا دعوىٰ نه نافذيږي لِفَقْدِ شَرْطِهِ وَهُوَ الْمِلْكُ ځکه چي د عتق شرط يعني ملکيت معدوم دی لِعَدَمِ ظُهُورِ الرِّبْحِ ځکه چي نفع ښکاره نه سوه لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَعْنِي الْأُمَّ وَالْوَلَدَ مُسْتَحَقٌّ بِرَأْسِ الْمَالِ ځکه چي له دوی دواړو يعني له مور [مينځي] او أمِ ولد څخه هر يو په رأسُ المال سره مستحق سوی دی كَمَالِ الْمُضَارَبَةِ إِذَا صَارَ أَعْيَانًا كُلُّ عَيْنٍ مِنْهَا يُسَاوِي رَأْسَ الْمَالِ لکه د مضاربت مال. کله چي هغه اعيان [شيان] وګرځي او هر عين [شی] د رأسُ المال سره برابر وي لَا يَظْهَرُ الرِّبْحُ نو نفع نه ښکاره کيږي كَذَا هَذَا همداسي به دلته هم نفع نه ښکاره کيږي فَإِذَا زَادَتْ قِيمَةُ الْغُلَامِ الْآنَ او کله چي اوس د غلام قيمت زيات سو ظَهَرَ الرِّبْحُ نو نفع ښکاره سوه فَنَفَذَتِ الدَّعْوَةُ السَّابِقَةُ

نو ځکه مخکنۍ دعوىٰ به نافذيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَعْتَقَ الْوَلَدَ ثُمَّ ازْدَادَتِ الْقِيمَةُ په خلاف د هغه صورت کله چې مضارب بچی آزاد کړي بيا [د هغه] قيمت زيات سي لِأَنَّ ذٰلِكَ إِنْشَاءُ الْعِتْقِ ځکه چي دا د عتق انشاء ده فَإِذَا بَطَلَ لِعَدَمِ الْمِلْكِ او کله چي د ملکيت د نشتوالي په وجه [يو وار] انشاء باطله سوه لَا يَنْفُذُ بَعْدَ ذٰلِكَ بِحُدُوثِ الْمِلْكِ نو تر هغه وروسته به د ملکيت په موجوديدلو سره عتق نه نافذيږي أَمَّا هٰذَا فَإِخْبَارٌ او پاته سو دا دعوىٰ خو محض إخبار [خبر ورکول] دي فَجَازَ أَنْ يَنْفُذَ عِنْدَ حُدُوثِ الْمِلْكِ نو ځکه د ملکيت موجوديدلو په وخت کي د هغه نافذيدل جائز دي كَمَا إِذَا أَقَرَّ بِحُرِّيَّةِ عَبْدِ غَيْرِهِ ثُمَّ اشْتَرَاهُ لکه کله چي يو ځوک د بل چا د غلام آزاديدلو اقرار وکړي او بيا هغه غلام رانيسي وَإِذَا صَحَّتِ الدَّعْوَةُ وَثَبَتَ النَّسَبُ او کله چي دعوىٰ صحيح سوه او نسب ثابت سو عَتَقَ الْوَلَدُ نو هغه بچی به آزاديږي لِقِيَامِ مِلْكِهِ فِي بَعْضِهِ ځکه چي د بچي په بعضي حصه کي د مضارب ملکيت موجود دی وَلَا يَضْمَنُ لِرَبِّ الْمَالِ شَيْئًا مِنْ قِيمَةِ الْوَلَدِ او دا مضارب د ربُ المال لپاره د بچي له قيمت څخه د هيڅ مقدار نه ضامن کيږي لِأَنَّ عِتْقَهُ ثَبَتَ بِالنَّسَبِ وَالْمِلْكِ ځکه چي د هغه عتق په نسب و ملکيت دواړو سره ثابت سوی دی وَالْمِلْكُ آخِرُهُمَا او ملکيت د دې دواړو آخر دی [يعني ملکيت په آخر کي موجود سوی دی] فَيُضَافُ إِلَيْهِ نو ځکه حکم به د هغه وطرف ته منسوب کيږي وَلَا صُنْعَ لَهُ فِيهِ او په هغه کي د مضارب د عمل هيڅ دخل نسته وَهٰذَا ضَمَانُ إِعْتَاقٍ او دا د آزادولو ضمان [تاوان] دی فَلَا بُدَّ مِنَ التَّعَدِّي نو ځکه د تعدی موجوديدل ضروري دي وَلَمْ يُوجَدْ حال دا چي تعدی موجوده نه سوه وَلَهُ أَنْ يَسْتَسْعِيَ الْغُلَامَ او ربُ المال ته دا حق سته چي په غلام [هلک] سعي [او کسب] وکړي لِأَنَّهُ احْتَبَسَتْ مَالِيَّتُهُ عِنْدَهُ ځکه چي د رب الماليت د دې غلام سره محبوس پاته دی وَلَهُ أَنْ يُعْتِقَ او ربُ المال ته دا حق هم سته چي دا غلام آزاد کړي لِأَنَّ الْمُسْتَسْعَىٰ كَالْمُكَاتَبِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ځکه چي مستسعىٰ غلام د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د مکاتب په څېر دی [يعني د مکاتب په څېر اعتاق قبلوي] وَيَسْتَسْعِيهِ فِي أَلْفٍ وَمِائَتَيْنِ وَخَمْسِينَ او [په غلام د سعي کولو په صورت کي] رب المال به په دوولس نيم سوه درهمو کي په غلام سعي کوي لِأَنَّ الْأَلْفَ مُسْتَحَقٌّ

بِرَأْسِ الْمَالِ وَالْخَمْسِمِائَةِ رِبْحٌ ځکه چې زر درهمه خو په رأسُ المال سره مستحق سوي دي او پنځه سوه درهمه نفع ده وَالرِّبْحُ بَيْنَهُمَا او نفع د مضارب او ربُ المال په مينځ کي مشترکه ده [يعني ٢٥٠ (دوه نيم سوه درهمه) د يوه دي او ٢٥٠ د بل دي] فَلِهَذَا يَسْعَى لَهُ فِي هَذَا الْمِقْدَارِ نو ځکه غلام به په دغه مقدار [٢٥٠] کي هم د ربُ المال لپاره سعي کوي.

ثُمَّ إِذَا قَبَضَ رَبُّ الْمَالِ الْأَلْفَ بيا چي کله ربُ المال پر زرو درهمو قبضه وکړي [يعني زر درهمه واخلي] لَهُ أَنْ يُضَمِّنَ الْمُدَّعِيَ نِصْفَ قِيمَةِ الْأُمِّ نو هغه ته دا حق سته چي مدعي [يعني مضارب] د مور [مينځي] د نيم قيمت ضامن وګرځوي لِأَنَّ الْأَلْفَ الْمَأْخُوذَ لَمَّا اسْتُحِقَّ بِرَأْسِ الْمَالِ ځکه اخيستل سوي زر درهمه چي کله په رأسُ المال سره مستحق وختل لِكَوْنِهِ مُقَدَّمًا فِي الِاسْتِيفَاءِ ځکه هغوی په اخيستلو کي مخکي دي ظَهَرَ أَنَّ الْجَارِيَةَ كُلَّهَا رِبْحٌ نو ښکاره سوه چي مينځه ټوله نفع [ګټه] ده فَيَكُونُ بَيْنَهُمَا نو ځکه هغه به [هم] د دوی په مينځ کي مشترکه وي وَقَدْ تَقَدَّمَتْ دَعْوَةٌ صَحِيحَةٌ لېکن مخکي [د مضارب له طرفه] صحيح دعوی سوې ده لِاحْتِمَالِ الْفِرَاشِ الثَّابِتِ بِالنِّكَاحِ د نکاح په ذريعه د ثابتېدونکي فراش د احتمال پر بناء [يعني کېدای سي چي د نکاح په وجه په مذکوره مينځه کي د مضارب فراش ثابت سوی وي او مينځه د هغه اُم ولد ګرځېدلې وي] وَتَوَقَّفَ نَفَاذُهَا لِفَقْدِ الْمِلْكِ [لېکن] د ملکيت د نشتوالي په وجه د دې دعوې نافذېدل موقوف وه فَإِذَا ظَهَرَ الْمِلْكُ او کله چي ملکيت ښکاره سو نَفَذَتْ تِلْكَ الدَّعْوَةُ نو دا [مخکنۍ] دعوی به نافذيږي وَصَارَتِ الْجَارِيَةُ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ او مينځه به د مضارب اُم ولد ګرځي وَيَضْمَنُ نَصِيبَ رَبِّ الْمَالِ او مضارب به د ربُ المال د حصې ضامن کيږي لِأَنَّ هَذَا ضَمَانُ تَمَلُّكٍ ځکه چي دا د مالک کېدلو [مالک جوړېدلو] ضمان دی وَضَمَانُ التَّمَلُّكِ لَا يَسْتَدْعِي صُنْعًا او ضمان تملک د هيڅ عمل تقاضا نه کوي كَمَا إِذَا اسْتَوْلَدَ جَارِيَةً بِالنِّكَاحِ لکه کله چي يو سړی د نکاح په ذريعه يو مينځه اُم ولد جوړه کړي ثُمَّ مَلَكَهَا هُوَ وَغَيْرُهُ وِرَاثَةً بيا دا سړی [مستولد]

او بل یو د میراث توګه د هغه مینځي مالکان سي يَضْمَنُ نَصِيبَ شَرِيكِهِ نو دا سړی امستولد ا د خپل شریک د حصې ضامن کیږي كَذَا هٰذَا همداسي به دا وي ایعني همداسي به مضارب هم د ربّ المال د حصې ضامن کیږي ا بِخِلَافِ ضَمَانِ الْوَلَدِ په خلاف دبچي د ضمان عَلیٰ مَا مَرَّ لکه اخه امخکي چي تېر سوه.

**اللغات**: ﴿يستسعي﴾ د استفعال د باب مضارع ده: په غلام سعی او کوښښ کول. د مال ګټلو لپاره کسب او مزدوري په کول. ﴿غلام﴾ هلک، خادم (مزدور)، غلام، ﴿فراش﴾ بستره. مایند والی (د یو سړي په نکاح کېدل). په نکاح یا ملک یمین سره وطي کړل سوي ښځه (المرأة الموطوءة بالنكاح أو ملك اليمين). ﴿التعدّي﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: تجاوز کول، ناحقه تصرف کول.

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که ربّ المال مضارب ته زر درهمه ورکړي او د نیمایي نفعي شرط ولګوي (چي نفع به نیمه ستاوي او نیمه زما)، او مضارب د هغه زر درهمو په عوض کي یوه مینځه رانیسي او د هغې سره وطي وکړي چي د هغه په نتیجه کي له مینځي څخه بچی پیدا سي او دا بچی چي څه غټ سي. د هغه قیمت زر درهمه وي، او مضارب د هغه د نسب دعوىٰ وکړي چي دا هلک زما دی. بیا د هغه قیمت اضافه سي او یو نیم زر درهمو ته ورسیږي، نو ګواکي په اصل رأس المال (زر درهمه) کي پنځه سوه درهمه نفع وسوه، او مضارب مالدار هم وي. نو په دې صورت کي مضارب (د مالدار والي باوجود) د ربّ المال لپاره د هغه د حصې د نفعي یعني د ۲۵۰ درهمو نه ضامن کیږي. بلکي ربّ المال به یا د ۱۲۵۰ درهمو د اخیستلو تر وخته پوري په هغه هلک (غلام) سعی او مزدروي کوي یا هغه به آزادوي. او مضارب که څه هم مالدار دی لېکن ربّ المال ته به یو درهم ضمان (تاوان) هم نه ورکوي: ځکه چي په ظاهره د دې هلک د نسب په هکله د مضارب دعوىٰ صحیح ده. په دې توګه چي بائع به اول د مضارب سره د هغه مینځي نکاح کړې وي بیا به یې هغه پر مضارب خرڅه کړې وي، لېکن څرنګه چي د مضارب د دعوې په وخت کي نفع (ګټه) نه وه سوې او د مضارب ملکیت معدوم وو (ځکه چي د مضارب ملکیت صرف په نفع کي دی. لهذا په هغه وخت کي مینځه او د هغې بچی دواړه صرف په مال مضاربت سره رانیول سوي وه)، نو ځکه د دعوې د نفاذ لاره بنده وه، اوس چي کله نفع وسوه او د هلک قیمت ۱۵۰۰ درهمو ته ورسېدی. نو د مضارب ملکیت هم موجود سو. نو ځکه اوس د مضارب مخکنی دعوی به نافذیږي او هغه هلک به د مضارب سره ثابت النسب ګرځي، ځکه همدا قاعده ده "إِذَا زَالَ الْمَانِعُ عَادَ الْمَمْنُوعُ" (کله چي مانع زائل سي نو ممنوع شی واپس راګرځي).

ها! که چیرې مضارب په هغه وخت کې بچې آزاد کړې وای، بیا د بچې قیمت اضافه سوې وی، نو په دې صورت کې وروسته په هغه کې اعتاق (آزادول) نه نافذیږي؛ ځکه چې اعتاق په اصل کې انشاء العتق (د عتق نوې کول) دي، لېکن څرنګه چې دلته د اعتاق (آزادولو) په وخت کې ملکیت معدوم وو، لهذا دا انشاء په هغه وخت کې باطله سوه، نو ځکه وروسته به (د مضارب) د ملکیت په موجوديدلو سره دا بطلان د صحت وطرف ته نه راګرځي (يعني انشاء العتق به صحيح نه ګرځي). لېکن د نسب دعوىٰ به د ملکیت تر موجوديدلو وروسته د صحت وطرف ته راګرځي او د مضارب نسب به هم ثابتيږي او د ده په حصه کې به هغه هلک آزاديږي؛ ځکه چې مضاب د هغه د بعضي حصې مالک سوی دی، لېکن په دې ملکیت سره مضارب د ربُ المال لپاره د هيڅ شي نه ضامن کيږي؛ ځکه چې د هلک آزادي (عتق) په نسب او ملکیت دواړو سره ثابت سوی دی او ملکیت وروسته (په آخر کې) ثابت سوی دی، نو ځکه عتق به د همدې ملکیت وطرف ته مضاف او منسوب وي، او څرنګه چې په دې ملکیت کې د مضارب د عمل هيڅ دخل نسته نو ځکه هغه به نه ضامن کيږي، او بل دا چې دا ضمان اعتاق (د آزادولو تاون) دی، او د ضمان اعتاق لپاره تعدی ضروري ده، حالانکې دلته د مضارب له طرفه تعدی او نا حقه تصرف نه دی سوی، نو ځکه په دې حواله سره به هم هغه نه ضامن کيږي. ها! ربُ المال ته په خپله حصه کې په دې هلک (غلام) سره د سعی کولو حق سته، يعني هغه به کوښښ او کسب کوي او د مالک لپاره به د هغه د حصې ۱۲۵۰ درهمه ګټي (۲۵۰ د نفعي او ۱۰۰۰ د مالِ مضاربت).

ثم إذا قبض إلخ: فرمايي کله چې د مدعي يعني د مضارب دعوىٰ صحيح ده او هغه هلک د ده سره ثابت النسب دی. نو ښکاره خبره ده چې د هغه مور به هم د مضارب اُم ولد وي او مضارب به د ربُ المال د حصې يعني د نصف نفعي ضامن وي؛ ځکه چې د بچې سره، سره دا مينځه هم له نفعي څخه ده او په دې کې دواړه يعني مضارب او ربُ المال مشترک دي، نو ځکه مضارب به د ربُ المال د حصې ضامن وي؛ ځکه چې دا ضمان ملک (د ملکيت ضمان) دی او ضمان ملک د عمل د دخل تقاضا نه کوي. لکه يو کس چې د يو مينځې سره نکاح وکړي او هغه اُم ولد جوړه کړي (يعني د هغې سره وطي وکړي چې د وطي په نتيجه کې له هغې څخه بچې پيدا سي)، بيا دا مستولد (اُم ولد جوړونکی کس) او بل کس په وراثت کې د هغه مينځې مالکان سي، نو د اُم ولد جوړولو په وجه دا مستولد کس د هغه بل کس (شريک) ضامن کيږي؛ ځکه چې دا ضمان ملک دی، او ضمان ملک د تعدی او عمل محتاج نه وي. د دې په خلاف په ضمان اعتاق کې تعدی موجديدل ضروري دي او هلته تعدی معدوم ده، نو ځکه په هغه صورت کې ضمان نه لازميږي. په ضمان ملک او ضمان اعتاق کې په همدې حواله سره فرق دی، دا فرق به ياد ساتل کيږي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



# بَابُ الْمُضَارِبِ يُضَارِبُ

(دا) باب د مضارب د مضاربت کولو (په بيان کي) دی

**تشريح:** مخکي تر دې دا بيان وو چي ربُ المال يو څوک مضارب جوړ کړي، اوس په دې باب کي دا بيان دی چي مضارب په خپله بل څوک مضارب جوړ کړي (کوم ته چي مضاربتِ ثانيه وايي)، او څرنګه چي مضاربت ثانيه له مضاربت اولیٰ څخه وروسته وي، نو ځکه د هغه بيان د مضاربت اولیٰ له بيان څخه وروسته کړی سوی دی.

## د ربُ المال له اجازت څخه بغير مضاربتِ ثانيه کول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِذَا دَفَعَ الْمُضَارِبُ الْمَالَ إِلَى غَيْرِهِ مُضَارَبَةً فرمايي: او کله چي مضارب مال بل چا ته د مضاربت په توګه ورکړي وَلَمْ يَأْذَنْ لَهُ رَبُّ الْمَالِ حال دا چي ربُ المال هغه ته اجازت ورکړی نه وي لَمْ يَضْمَنْ بِالدَّفْعِ وَلَا بِتَصَرُّفِ الْمُضَارِبِ الثَّانِي نو محض په ورکولو او د دويم مضارب په تصرف کولو سره هغه [اول مضارب] نه ضامن کيږي حَتَّى يَرْبَحَ تر دې چي دويم مضارب نفع حاصله کړي [يعني په مالِ مضاربت سره ګټه وکړي] فَإِذَا رَبِحَ او کله چي هغه نفع حاصله کړي ضَمِنَ الْأَوَّلُ لِرَبِّ الْمَالِ نو اول مضارب د ربُ المال لپاره ضامن کيږي وَهٰذَا رِوَايَةُ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د حسن بن زياد روايت دی وَقَالَا[●]: إِذَا عَمِلَ بِهِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي کله دويم مضارب په دې مال سره کار [کاروبار] وکړي ضَمِنَ رَبِحَ أَوْ لَمْ يَرْبَحْ نو هغه ضامن کيږي، برابره ده هغه نفع حاصله کړي او که نه [يعني برابره ده په مالِ مضاربت سره ګټه وکړي او که يې نه وکړي] وَهٰذَا ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ او دا ظاهر روايت دی وَقَالَ زُفَرُ: يَضْمَنُ بِالدَّفْعِ عَمِلَ أَوْ لَمْ يَعْمَلْ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي محض په ورکولو سره اول مضارب ضامن کيږي، برابره ده هغه کار وکړي، که يې نه وکړي وَهُوَ

● القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَاالله، کما ذکر فی رد المحتار (ج:۴، ص:۵۴۳)، وکذا فـی بـدائع الصـنائع (ج:۶، ص:۱۴۵). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۱۰]

رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي يُوْسُفَ او همدا له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی لِأَنَّ الْمَمْلُوكَ لَهُ الدَّفْعُ عَلٰى وَجْهِ الْإِيْدَاعِ ځکه چې مملوک [يعني مضارب] ته صرف د امانت په توګه د ورکولو اختيار سته وَهٰذَا الدَّفْعُ عَلٰى وَجْهِ الْمُضَارَبَةِ حالانکې دا د مضاربت په توګه ورکول دي [نو ځکه ورکونکی (مضارب) به ضامن کيږي] وَلَهُمَا: أَنَّ الدَّفْعَ إِيْدَاعٌ حَقِيْقَةً او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې ورکول په حقيقت کې [د بل چا په قبضه کې] امانتاً ورکول دي وَإِنَّمَا يَتَقَرَّرُ كَوْنُهُ لِلْمُضَارَبَةِ بِالْعَمَلِ او د هغه د مضاربت لپاره کېدل خو په کار کولو سره ثابتيږي فَكَانَ الْحَالُ مُرَاعًى قَبْلَهُ نو ځکه تر هغه مخکې حالت به د حفاظت حالت وي وَلِأَبِي حَنِيْفَةَ: أَنَّ الدَّفْعَ قَبْلَ الْعَمَلِ إِيْدَاعٌ وَبَعْدَهُ إِبْضَاعٌ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې ورکول له کار شروع کولو څخه مخکې امانتاً ورکول [امانتاً ايښودل] دي او له کار څخه وروسته بضاعتاً ورکول دي وَالْفِعْلَانِ يَمْلِكُهُمَا الْمُضَارِبُ او مضارب د دې دواړو کارو [ايداع او إبضاع] ملکيت لري فَلَا يَضْمَنُ بِهِمَا نو ځکه د دې کارو په وجه به هغه نه ضامن کيږي إِلَّا أَنَّهُ إِذَا رَبِحَ مګر دا چې دويم مضارب نفع حاصله کړي [په مالِ مضاربت سره ګټه وکړي] فَقَدْ ثَبَتَ لَهُ شِرْكَةٌ فِي الْمَالِ نو په مال کې د هغه [دويم مضارب] شرکت ثابتيږي فَيَضْمَنُ نو ځکه به ضامن کيږي كَمَا لَوْ خَلَطَهُ بِغَيْرِهِ لکه [په هغه وخت کې چې ضامن کيږي] کله چې هغه [اول مضارب] مال مضاربت په بل مال ګډ کړي وَهٰذَا إِذَا كَانَتِ الْمُضَارَبَةُ صَحِيْحَةً او دا حکم په هغه صورت کې دی کله چې مضاربت صحيح وي فَإِنْ كَانَتْ فَاسِدَةً لېکن که مضاربت فاسد وي لَا يَضْمَنُهُ الْأَوَّلُ نو اول مضارب د مال نه ضامن کيږي وَإِنْ عَمِلَ الثَّانِي که څه هم دويم مضارب [په مال] کار وکړي لِأَنَّهُ أَجِيْرٌ فِيْهِ ځکه چې دويم مضارب په دې کې اجير [مزدور] دی وَلَهُ أَجْرُ مِثْلِهِ او د هغه لپاره خپل اُجرت مثلي دی فَلَا يَثْبُتُ الشِّرْكَةُ بِهِ نو ځکه په مال کې به د هغه شرکت نه ثابتيږي ثُمَّ ذَكَرَ فِي الْكِتَابِ: يَضْمَنُ الْأَوَّلُ وَلَمْ يَذْكُرِ الثَّانِيَ بيا په قدوري [متن] کې يې ذکر کړي دي: چې اول مضارب ضامن کيږي او د دويم مضارب [ضامن کېدل] يې نه دي ذکر کړي [ځکه چې په دې کې اختلاف دی او هغه دا چې] وَقِيْلَ: يَنْبَغِيْ أَنْ لَا يَضْمَنَ الثَّانِيْ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ ويل سوي دي: چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دويم مضارب

ضامن کېدل پکار نه دي وَعِنْدَهُمَا يَضْمَنُ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز هغه ضامن کېدل پکار دي بِنَاءً عَلَى اخْتِلَافِهِمْ فِي مُودَعِ الْمُودَعِ او دا اختلاف په مودَع المودَع کي د دوی پر اختلاف مبني دی وَقِيلَ: رَبُّ الْمَالِ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الْأَوَّلَ وَإِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الثَّانِيَ بِالْإِجْمَاعِ او ويل سوي دي: چي بالاجماع ربُ المال ته اختيار دی که وغواړي نو اول دي ضامن وګرځوي [يعني له اول مضارب څخه دي ضمان (تاوان) واخلي] او که وغواړي نو دويم مضارب دي ضامن وګرځوي وَهُوَ الْمَشْهُورُ او همدا مشهور مذهب دی وَهٰذَا عِنْدَهُمَا ظَاهِرٌ او دا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز ښکاره ده وَكَذَا عِنْدَهُ همدارنګه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هم ښکاره ده وَوَجْهُ الْفَرْقِ لَهُ بَيْنَ هٰذِهِ وَبَيْنَ مُودَعِ الْمُودَعِ أَنَّ الْمُودَعَ الثَّانِيَ يَقْبِضُهُ لِمَنْفَعَةِ الْأَوَّلِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د دې مسئلې او د مودَع المودَع والا مسئلې په مينځ کي فرق دا دی چي دويم مودَع د اول مودَع د منفعت لپاره پر مال [امانت] قبضه کوي فَلَا يَكُونُ ضَامِنًا نو ځکه هغه به نه ضامن کيږي أَمَّا الْمُضَارِبُ الثَّانِي يَعْمَلُ فِيهِ لِنَفْعِ نَفْسِهِ لېکن دويم مضارب په دې کي د خپل ځان د نفعي لپاره کار کوي فَجَازَ أَنْ يَكُونَ ضَامِنًا نو ځکه هغه ضامن کېدای سي ثُمَّ إِنْ ضَمَّنَ الْأَوَّلَ بيا که ربُ المال اول مضارب ضامن وګرځوي [يعني له هغه څخه ضمان (تاوان) واخلي] صَحَّتِ الْمُضَارَبَةُ بَيْنَ الْأَوَّلِ وَبَيْنَ الثَّانِي نو د اول و دويم مضارب په مينځ کي مضاربت صحيح کيږي وَكَانَ الرِّبْحُ بَيْنَهُمَا عَلَى مَا شَرَطَا او د هغه نفع به د دوی په مينځ کي د دوی شرط مطابق مشترکه وي لِأَنَّهُ ظَهَرَ أَنَّهُ مَلَكَهُ بِالضَّمَانِ مِنْ حِينِ خَالَفَ بِالدَّفْعِ إِلَى غَيْرِهِ لَا عَلَى الْوَجْهِ الَّذِي رَضِيَ بِهِ ځکه چي اول مضارب په ضمان ورکولو سره د مال مالک سو، له هغه وخت څخه کله چي هغه د ربُ المال مخالفت وکړی په ورکولو سره د مال وبل چا ته په داسي توګه نه چي ربُ المال په هغه راضي وي [ځکه ربُ المال په دې راضي نه دی چي مضارب مال بل چا ته د مضاربت په توګه ورکړي. (په لنډه توګه د دې جملې معنیٰ دا ده چي اول مضارب د ضمان په ورکولو سره د مال مضاربت مالک سو] فَصَارَ كَمَا إِذَا دَفَعَ مَالَ نَفْسِهِ نو دا داسي سوه لکه هغه چي [بل چا ته] خپل مال [د مضاربت لپاره] ورکړی وي وَإِنْ ضَمَّنَ الثَّانِيَ او که ربُ المال دويم مضارب ضامن وګرځوي رَجَعَ عَلَى الْأَوَّلِ بِالْعَقْدِ نو دويم مضارب به د عقد په سبب پر اول مضارب رجوع کيږي لِأَنَّهُ عَامِلٌ لَهُ ځکه چي هغه د اول مضارب لپاره کار

کونکی دی كَمَا فِي الْمُودَعِ لکه څرنګه چي د مُودَع په صورت کي دي وَلِأَنَّهُ مَغْرُورٌ مِنْ جِهَتِهِ فِي ضِمْنِ الْعَقْدِ او ځکه چي دويم مضارب د عقد په ضمن کي د اول مضارب له طرفه دوکه سوی دی [نو ځکه په دې حواله سره به هم هغه پر اول مضارب رجوع کوي] وَتَصِحُّ الْمُضَارَبَةُ وَالرِّبْحُ بَيْنَهُمَا عَلَى مَا شَرَطَا او مضاربت صحيح کيږي او نفع به د دوی د شرط مطابق د دوی په مينځ کي مشترکه وي لِأَنَّ قَرَارَ الضَّمَانِ عَلَى الْأَوَّلِ ځکه چي د ضمان ثبوت [په حقيقت کي] پر اول مضارب دی فَكَأَنَّهُ ضَمَّنَهُ ابْتِدَاءً نو ګواکي ربُ المال ابتداءً هغه ضامن ګرځولی دی [يعني ګواکي اول يې له هغه څخه ضمان (تاوان) اخيستـی دی] وَيَطِيبُ الرِّبْحُ لِلثَّانِي وَلَا يَطِيبُ لِلْأَعْلَى او نفع د دويم مضارب لپاره حلال [پاکه] ده او د اول مضارب لپاره ښه نه ده لِأَنَّ الْأَسْفَلَ يَسْتَحِقُّهُ بِعَمَلِهِ ځکه دويم مضارب د خپل کار په وجه د نفع مستحق دی وَلَا خُبْثَ فِي الْعَمَلِ او په کار کي هيڅ بدي نسته وَالْأَعْلَى يَسْتَحِقُّهُ بِمِلْكِهِ الْمُسْتَنِدِ بِأَدَاءِ الضَّمَانِ او اول مضارب د خپل هغه ملکيت په وجه د نفع مستحق دی کوم چي د ضمان اداء کولو د حالت وطرف ته منسوب دی فَلَا يَعْرَى عَنْ نَوْعِ خُبْثٍ نو ځکه دا به له يو ډول بدۍ څخه خالي نه وي.

**اللغات:** ﴿ضَمِن﴾ د سمع د باب ماضي ده: ضامن کېدل، ضمان (تلوان) پر لازمېدل، ﴿رَبِح﴾ مخکنی صيغه ده: ګټه کول، نفع حاصلول (ګټه ترلاسه کول)، ﴿إِيداع﴾ د افعال د باب مصدر دی: په امانت ورکول، امانتاً ايښوول، ﴿مُودَع﴾ د افعال د باب مفعول دی: چا ته چي امانت ايښول سوی وي (چا ته چي امانتاً يو مال ورکول سوی وي)، امانت ساتونکی، ﴿ابضَاع﴾ مخکنی صيغه ده: بضاعتاً ورکول، چي نفع به ټوله زما وي او کار به ستا وي (تفصيلي تعريف يې مخکي تېر سو)، ﴿ضَمَّن﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: ضامن ګرځول، ضمان (تاوان) ځني اخيستل، ﴿يطيب﴾ د ضرب د باب مضارع ده، د دې باب څو معناوي دي: پاکېدل، ښه کېدل (غوره کېدل)، حلال کېدل (روا کېدل) او داسې نور. (معجم وسيط)

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که چيري مضارب د ربُ المال له اجازت او رضا څخه بغير مال مضاربت د مضاربت په توګه بل چا (دويم مضارب) ته ورکړي، نو پر اول مضارب ضمان (تاوان) لازميږي، ليکن دا ضمان کله لازميږي؟ په دې سلسله کي د فقهاؤ قولونه مختلف دي: ①... له حسن بن زياد رَحِمَهُ الله څخه د امام صاحب رَحِمَهُ الله روايت دا دی چي محض دويم مضارب ته په مال ورکولو سره يا د دويم مضارب په کار شروع کولو سره اول مضارب نه ضامن کيږي، بلکي کله چي

دويم ضارب په هغه مال سره نفع (ګټه) وکړي، نو بيا هغه ضامن کيږي؛ ځکه چي اول مضارب ته دا اختيار هم سته چي مال مضاربت بل چا ته په امانت ورکړي او دا اختيار هم ورته سته چي هغه په بضاعت ورکړي، او څرنګه چي په دې صورتونو کي په نفع کي د دويم مضارب شرکت هم نه ثابتيږي (د اصل مال مستحق کېدل خو هلته پرېږده!)، نو ځکه د ورکولو او په بل چا د کار کولو په صورت کي به پر اول مضارب ضمان نه لازميږي، ها! کله چي دويم مضارب نفع حاصله کړي، نو بيا په هغه کي د دويم مضارب شرکت ثابتيږي او په دې وخت کي اول مضارب ضامن کيږي.

②... صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي کله دويم مضارب محض کار شروع کړي، نو اول مضارب ضامن کيږي، برابره ده دويم مضارب په مال سره نفع حاصله کړي، که نه؛ ځکه چي د کار شروع کولو په وجه به دا ورکول د مضاربت لپاره ثابت سي، او نفع حاصلېدل، نه حاصلېدل خو د بعد خبر ده او په هغه هيڅوک خبر نه دي، لهذا محض کار شروع کول به د مضاربت ثانيه د ثابتېدلو دليل وي، نو پر همدې به ضمان مُرتّب کيږي. همداظاهر روايت دی.

③... امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي فقط دويم مضارب ته په ورکولو سره هم اول مضارب ضامن کيږي، برابره ده دويم مضارب کار شروع کړي، که نه، و بِه قَالَتِ الائمة الثلاثة. (بناية ج:۹، ص:۸۲)

وهذا إذا كانت إلخ: دا حکم يعني پر اول مضارب د ضمان لازمېدلو حکم په هغه صورت کي دی کله چي مضاربت صحيح وي، او که چيري مضاربت فاسد وي، نو پر اول مضارب په هيڅ صورت کي هم ضمان نه لازميږي؛ ځکه چي په دې وخت کي به دويم مضارب محض اجير او مزدور وي او هغه ته به صرف د خپل کار أجرت مثلي ورکول کيږي، که څه هم هغه نفع هم حاصله کړي. بيا په متن کي صرف پر اول مضارب د ضمان لازمېدلو يادونه سوې ده او پر دويم مضارب د ضمان لازمېدلو په هکله هيڅ يادونه سوې نه ده؛ ځکه چي پر دويم مضارب د ضمان لازمېدلو حکم مختلف فيه دی، يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه ضمان نه لازميږي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هغه ضامن کيږي؛ ځکه که چيري مُودَع د امانت مال بل چا ته مثلاً خالد ته په امانت ورکړي او د دويم مُودَع (خالد) په قبضه کي هغه مال هلاک سي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر دويم مُودَع (خالد) ضمان نه لازميږي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د مال مالک ته اختيار دی که له هر مُودَع څخه ضمان اخلي، يعني که وغواړي نو له اول مُودَع څخه دي ضمان واخلي او که له هغه څخه يې نه اخلي نو له دويم مُودَع څخه دي يې واخلي، همداسي په پورتنۍ مسئله کي هم د هغو په نيز ربُ المال ته له

دواړو شخصه د ضمان اخيستلو اختيار ورکول سوی دی. او له ضمان اخيستلو شخه وروسته د اول مضارب او دويم مضارب په مينځ کي عقد مضاربت صحيح کيږي او کومه نفع چي حاصله سي، هغه به د دوی د شرط مطابق په دوی کي تقسيميږي، ليکن د دويم مضارب لپاره هغه نفع په هره توگه حلال ده؛ ځکه چي دا د هغه د خپل کار (محنت کولو) اثر او نتيجه ده. نو ځکه د هغه لپاره بېله شکه حلال ده. ليکن د اول مضارب لپاره مناسب او غوره دا ده چي هغه نفع صدقه کړي، ځکه هغه که څه هم د ده د ملکيت نفع ده ليکن د ده ملکيت د ضمان په ذريعه ثابت سوی دی او له هغه شخه د غصب بوی راځي، نو ځکه د اول مضارب لپاره د نفعي اخيستل ښه نه دي او د هغه صدقه کول غوره دي.

## د ربُ المال په اجازت سره مضاربتِ ثانيه کول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِذَا دَفَعَ إِلَيْهِ رَبُّ الْمَالِ مُضَارَبَةً بِالنِّصْفِ فرمايي: او کله چي ربُ المال مضارب ته د نيمي نفعي پر شرط مال ورکړي وَأَذِنَ لَهُ بِأَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى غَيْرِهِ او ربُ المال مضارب ته د دې اجازت ورکړي چي هغه دا مال بل چا ته [د مضاربت لپاره] ورکولای سي فَدَفَعَهُ بِالثُّلُثِ بيا مضارب د ثلث [دريمي حصې] نفعي پر شرط بل چا [دويم مضارب] ته مال ورکړی وَقَدْ تَصَرَّفَ الثَّانِي وَرَبِحَ او دويم مضارب [په هغه مال سره] کار وکړی او نفع يې حاصله کړه فَإِنْ كَانَ رَبُّ الْمَالِ قَالَ لَهُ: عَلَى أَنَّ مَا رَزَقَ اللهُ فَهُوَ بَيْنَنَا نِصْفَانِ نو که چيري ربُ المال اول مضارب ته داسي ويلي وي: کومه نفع چي الله پاک [موږ ته] را روزي کړي هغه به زموږ په مينځ کي نصف نصف وي فَلِرَبِّ الْمَالِ النِّصْفُ وَلِلْمُضَارِبِ الثَّانِي الثُّلُثُ وَلِلْمُضَارِبِ الْأَوَّلِ السُّدُسُ نو [په دې صورت کي] د ربُ المال لپاره [د حاصل شُده نفعي] نيمه حصه ده، د دويم مضارب لپاره دريمه حصه ده او د اول مضارب لپاره شپږمه حصه ده لِأَنَّ الدَّفْعَ إِلَى الثَّانِي مُضَارَبَةً قَدْ صَحَّ ځکه چي دويم مضارب ته د مضاربت لپاره مال ورکول صحيح سوه لِوُجُودِ الْأَمْرِ بِهِ مِنْ جِهَةِ الْمَالِكِ ځکه د مالک [ربُ المال] له طرفه د ورکولو حکم موجود سو وَرَبُّ الْمَالِ شَرَطَ لِنَفْسِهِ نِصْفَ جَمِيعِ مَا رَزَقَ اللهُ تَعَالَى او ربُ المال د خپل ځان لپاره د هغه ټولي نفعي د نصف شرط لګولی دی کوم چي الله تعالیٰ [دوی ته] روزي کړي [په بله وينا: او ربُ المال د ځان لپاره د ټولي حاصل شُده نفعي شخه نيمه نفع د ځان لپاره شرط کړې ده] فَلَمْ يَبْقَ لِلْأَوَّلِ إِلَّا النِّصْفُ لهذا د اول مضارب لپاره صرف نصف نفع باقي پاته سوه فَيَنْصَرِفُ تَصَرُّفُهُ إِلَى نَصِيبِهِ نو ځکه د اول مضارب

تصرف به د هغه د حصې وطرف ته راجع كيږي وَقَدْ جَعَلَ مِنْ ذٰلِكَ بِقَدْرِ ثُلُثِ الْجَمِيعِ لِلثَّانِيْ او هغه له خپلې حصې څخه د ټولې نفعې د ثلث [دريمې حصې] په اندازه نفع د دويم مضارب لپاره شرط كړې ده فَيَكُوْنُ لَهُ نو هغه [د ټولې نفعې ثلث] به د دويم مضارب لپاره وي فَلَمْ يَبْقَ إِلَّا السُّدُسُ نو ځكه صرف سدس [شپږمه حصه نفع] پاتې سوه وَيَطِيْبُ لَهُمَا ذٰلِكَ او دا نفع د دواړو مضاربانو لپاره حلال ده لِأَنَّ فِعْلَ الثَّانِي وَاقِعٌ لِلْأَوَّلِ ځكه چې د دويم مضارب فعل د اول مضارب لپاره واقع سوى دى كَمَنِ اسْتُؤْجِرَ عَلٰى خِيَاطَةِ ثَوْبٍ بِدِرْهَمٍ لكه يو خياط [درزي] چې د يوه درهم په عوض كې د كپړې د ګنډلو [كالي جوړولو] لپاره په أجرت ونيول سي وَاسْتَأْجَرَ غَيْرَهُ عَلَيْهِ بِنِصْفِ دِرْهَمٍ او بيا دا خياط بل څوک د نصف درهم په عوض كې د هغه كپړې د ګنډلو لپاره په أجرت ونيسي وَإِنْ كَانَ قَالَ لَهُ: عَلٰى أَنَّ مَا رَزَقَكَ اللّٰهُ او كه ربُ المال اول مضارب ته داسي ويلي وي: كومه نفع چې الله تا ته روزي كړي [كومه نفع چې تا ته حاصله سي] فَهُوَ بَيْنَنَا نِصْفَانِ نو هغه زموږ په مينځ كې نصف، نصف ده فَلِلْمُضَارِبِ الثَّانِي الثُّلُثُ وَالْبَاقِي بَيْنَ الْمُضَارِبِ الْأَوَّلِ وَرَبِّ الْمَالِ نِصْفَانِ نو [په دې صورت كې] د دويم مضارب لپاره [د ټولې نفعې] دريمه حصه ده او باقي نفع د اول مضارب او ربُ المال په مينځ كې نصف، نصف ده لِأَنَّهُ فَوَّضَ إِلَيْهِ التَّصَرُّفَ وَجَعَلَ لِنَفْسِهِ نِصْفَ مَا رُزِقَ الْأَوَّلُ ځكه چې ربُ المال اول مضارب ته تصرف ور سپارلى دى او د ځان لپاره يې د هغه نفعې د نصف شرط لګولى دى كوم چې اول مضارب ته حاصله سي [روزي] وَقَدْ رُزِقَ الثُّلُثَيْنِ او هغه [اول مضارب] ته دوه ثلثه نفع حاصله سوې ده فَيَكُوْنُ بَيْنَهُمَا نو ځكه هغه به د دوى په مينځ كې مشتركه وي بِخِلَافِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول صورت لِأَنَّهُ جَعَلَ لِنَفْسِهِ نِصْفَ جَمِيْعِ الرِّبْحِ ځكه چې [په هغه كې] رب المال د ټولې نفعې نصف د ځان لپاره شرط كړى دى فَافْتَرَقَا نو ځكه دواړه صورتونه سره جلا سول [يعني په دواړو مسئلو كې فرق ثابت سو].

**اللغات**: ﴿أُذِن﴾ د سمع د باب ماضي ده: اجازت وركول (اجازه وركول)، ﴿ثُلُث﴾ او ثُلْث: دريمه حصه، ﴿سُدُس﴾ او سُدْس: شپږمه حصه، ﴿نصيب﴾ حصه، حق. ﴿فوّض﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: ورسپارل، ﴿استؤجر﴾ او استوجر، د افعال د باب ماضي مجهوله ده: په أجرت نيول كېدل، (په

مزدوري [په کرایه] نیول کېدل)، استأجر: په أجرت نیول، ﴿خیاطة﴾ د ضرب د باب مصدر دی، خیاطة الثوب: کپړه ګنډل، کالي (جامه) جوړول.

**تشریح**: په دې عبارت کې دوې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که ربُ المال مضارب ته د بل چا سره د مضاربت کولو اجازت ورکړي او هغه ته داسې ووايي چې "ته بل چا ته هم دا مال په مضاربت ورکولای سې!، زما له طرفه تا ته پوره اختیار دی، خو کومه نفع چې حاصله سي، هغه به زما او ستا په مینځ کې نصف، نصف وي"، بیا هغه مضارب دا مال د ثلث نفعې پر شرط بل چا (دویم مضارب) ته د مضاربت کولو لپاره ورکړي، او هغه دویم مضارب په دې مال سره مثلاً ۱۲۰۰ (دوولس سوه روپۍ) نفع حاصله کړي، نو له هغه څخه به نصف نفع یعني ۶۰۰ روپۍ ربُ المال ته ورکول کیږي او ثلث یعني ۴۰۰ به دویم مضارب ته حاصلیږي او سدس یعني ۲۰۰ به اول مضارب ته ورکول کیږي، او د دواړو مضاربانو لپاره دا حاصل شُده نفع حلال او پاکه ده؛ ځکه که څه هم د اول مضارب له طرفه عمل (کار) نه دی موجود سوی لېکن د دویم مضارب عمل د اول مضارب د عمل قائم مقام دی، ځکه چې په حقیقت کې همدا اول مضارب د دواړو مضاربتونو مُباشِر (کونکی) دی. د دې مثال داسې دی لکه زید چې یو خیاط ته د خپلو کالو (جامو) د جوړولو لپاره یو درهم ورکړي او خیاط د نیم درهم په عوض کې هغه کالي په بل چا جوړ کړي مثلاً په ادریس یې جوړ کړي، نو داسې معامله جائز ده او دا مزدوري یعني نصف، نصف درهم د دواړو لپاره حلال دي، همداسې په پورتنۍ مسئله کې هم د دواړو مضاربانو لپاره نفع اخیستل حلال او جائز دي.

(۲)... دویمه مسئله بعینہٖ د اولې مسئلې په څېر ده، فرق صرف دومره دی چې په دې کې ربُ المال د نفع په شرط کې "كَ" د خطاب ضمیر استعمال کړی دی او مضارب یې په هغه سره مخاطب کړی دی "عَلَى أَنَّ مَا رَزَقَكَ اللهُ تَعَالَى فَهُوَ بَيْنَنَا نِصْفَانِ"، نو په دې صورت کې حکم دا دی چې دویم مضارب ته به ثلث یعني ۴۰۰ روپۍ ورکول کیږي او ما بقي ۸۰۰ روپۍ به د اول مضارب او ربُ المال په مینځ کې نصف، نصف تقسیمول کیږي یعني هر یوه ته به ۴۰۰ ورکول کیږي؛ ځکه چې په دې صورت کې ربُ المال د ځان لپاره له هغه نفعې څخه د نصف نفعې شرط لګولی دی کوم چې اول مضارب ته حاصله سي (یعني په دې صورت کې هغه اول مضارب ته ویلي دي چې "کومه نفع تاته حاصله سي [تا ته یې الله روزي کړي]. له هغه څخه نیمه نفع زما ده)، لېکن په اول صورت کې هغه له ټولې نفعې څخه د نصف اخیستلو شرط لګولی دی، وهو الفرق بینهما.

## مضاربت ثانيه د نصف نفعي پر شرط کول (حکم او تفصيل)

وَلَوْكَانَ قَالَ لَهُ: فَمَا رَبِحْتَ مِنْ شَيْءٍ فَبَيْنِيْ وَبَيْنَكَ نِصْفَانِ او كه چيري ربُ المال هغه [اول مضارب] ته ويلي وي: کومه نفع چي ته حاصله کړې! [څومره گټه چي وکړې!] نو هغه زما او ستا په مينځ کي نصف، نصف ده وَقَدْ دَفَعَ إِلَى غَيْرِهِ بِالنِّصْفِ او اول مضارب د نصف نفع پر شرط دا مال بل چا [دويم مضارب] ته ورکړي فَلِلثَّانِي النِّصْفُ نو د دويم مضارب لپاره نصف نفع ده وَالْبَاقِي بَيْنَ الْأَوَّلِ وَرَبِّ الْمَالِ او بقيه نفع د اول مضارب او ربُ المال په مينځ کي [مشترکه] ده لِأَنَّ الْأَوَّلَ شَرَطَ لِلثَّانِي نِصْفَ الرِّبْحِ ځکه چي اول مضارب د دويم مضارب لپاره د نصف نفعي شرط لګولی دی وَذٰلِكَ مُفَوَّضٌ إِلَيْهِ مِنْ جِهَةِ رَبِّ الْمَالِ او دا [شرط لګول] هغه ته د ربُ المال له طرفه سپارل سوي دي [يعني د ربُ المال له طرفه هغه ته د دې اختيار هم ورکول سوی دی] فَيَسْتَحِقُّهُ نو ځکه دويم مضارب به د نصف نفعي مستحق کيږي وَقَدْ جَعَلَ رَبُّ الْمَالِ لِنَفْسِهِ نِصْفَ مَا رَبِحَ الْأَوَّلُ او ربُ المال د خپل ځان لپاره د هغه نفعي د نصف شرط لګولی دی کوم چي اول مضارب حاصله کړي وَلَمْ يَرْبَحْ إِلَّا النِّصْفَ او هغه صرف نصف نفع حاصله کړې ده فَيَكُونُ بَيْنَهُمَا نو ځکه هغه به د دوی په مينځ کي [نصفا] مشترکه وي وَلَوْكَانَ قَالَ لَهُ: عَلَى أَنَّ مَا رَزَقَ اللهُ تَعَالَى فَلِيْ نِصْفُهُ او كه چيري ربُ المال اول مضارب ته داسي ويلي وي: کومه نفع چي الله تعالیٰ [موږ ته] را روزي کړي نو د هغه نصف زما دی أَوْقَالَ: فَمَا كَانَ مِنْ فَضْلٍ فَبَيْنِيْ وَبَيْنَكَ نِصْفَانِ يا ربُ المال داسي ويلي وي: کومه اضافه چي وسي [يا کوم څه چي زيات سي] نو هغه زما او ستا په مـ ـ ـ کي نصف، نصف ده وَقَدْ دَفَعَ إِلَى آخَرَ مُضَارَبَةً بِالنِّصْفِ او اول مضارب د نصف نفع پر شرط دا مال بل چا ته د مضاربت په توګه ورکړي فَلِرَبِّ الْمَالِ النِّصْفُ وَلِلْمُضَارِبِ الثَّانِي النِّصْفُ وَلَا شَيْءَ لِلْمُضَارِبِ الْأَوَّلِ نو د ربُ المال او دويم مضارب لپاره نصف نفع ده او د اول مضارب لپاره

هيڅ شی نسته لِأَنَّهُ جَعَلَ لِنَفْسِهِ نِصْفَ مُطْلَقِ الْفَضْلِ ځکه چي ربُ المال د خپل ځان لپاره د مطلق اضافي [د مطلق زائد مقدار] د نصف شرط لګولی دی فَيَنْصَرِفُ شَرْطُ الْأَوَّلِ النِّصْفَ لِلثَّانِي إِلَى جَمِيعِ نَصِيبِهِ نو ځکه د دویم مضارب لپاره د اول مضارب [د نصف نفعي] شرط به د هغه د ټولي حصې وطرف ته راجع کیږي فَيَكُونُ لِلثَّانِي بِالشَّرْطِ وَيَخْرُجُ الْأَوَّلُ بِغَيْرِ شَيْءٍ نو ځکه د شرط په وجه به د دویم مضارب لپاره نصف وي او مضارب به بغیر له څه شي [خالي لاس] له منځه وځي كَمَنِ اسْتُؤْجِرَ لِيَخِيطَ ثَوْبًا بِدِرْهَمٍ لکه يو خياط چي د دې لپاره په أجرت ونیول سي چي ديوه درهم په عوض کي کپړه وګنډي [کالي جوړ کړي] فَاسْتَأْجَرَ غَيْرَهُ لِيَخِيطَهُ بِمِثْلِهِ بیا دا خیاط بل څوک د دې لپاره په أجرت ونيسي چي هغه ديوه درهم په عوض کي کپړه وګنډي [نو په دې صورت کي خياط ته هيڅ شی نه حاصلیږي].

**اللغات:** ﴿رَبِحتَ﴾ د سمع له بابه د واحد مذکر مخاطب ماضي صيغه ده: ګټل (ګټه کول)، نفع حاصلول، ﴿مفوّض﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: ورسپارل سوی، ﴿يخيط﴾ د ضرب د باب مضارع ده: ګنډل، کپړه ګنډل (کالي جوړول)، ﴿فضل﴾ اضافه، اضافي مقدار (زائد مقدار)، باقي مانده.

**تشريح:** په دې عبارت کي دوې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که ربُ المال و مضارب اول ته داسي ويلي وي "څومره نفع چي ته حاصله کړې!، هغه زما او ستا په مينځ کي نصف، نصف ده"، او بيا هغه د ربُ المال په اجازت سره مال مضاربت د نصف نفعي پر شرط دويم مضارب ته ور کړي، نو په دې صورت کي به د حاصل شُده نفعي نصف دويم مضارب ته ورکول کيږي او په پاته نصف کي به هغوی دواړه يعني اول مضارب او ربُ المال شريک کيږي؛ ځکه چي اول مضارب ته صرف همدا نصف په نفع کي حاصل سوی دی.

(۲)... که ربُ المال داسي ويلي دي" چي کومه نفع الله پاک را روزي کړي" يا هغه ويلي وي "پر رأسُ المال چي څومره اضافه وسي (يا تر مالِ مضاربت چي څومره مقدار زائد سي)"، "هغه زما او ستا په مينځ کي نصف نصف دی"، بيا اول مضارب هم د نصف نفعي پر شرط مال مضابت دويم مضارب ته ور کړي، نو په دې صورت کي به د ټولي نفعي نصف ربُ المال ته ورکول کيږي او کوم نصف چي پاته سي هغه به دويم مضارب اخلي او اول مضارب ته هيڅ شی نه حاصليږي او يوه روپۍ به هم نه

ورکول کيږي، د دې مثال دا دی لکه زيد چې يو خياط ته د خپلو کالو (جامو) د جوړولو لپاره يو درهم ورکړي او خياط د يوه درهم په عوض کي هغه کالي په ادريس جوړ کړي، نو په دې صورت کي خياط ته هيڅ شی نه حاصليږي بلکي هغه درهم به ادريس ته ورکول کيږي، همداسي به په پورتنۍ مسئله کي هم اول مضارب ته هيڅ شی نه حاصليږي. (احسن الهدايه)

## مضاربت ثانيه د زياتي نفعي پر شرط کول

وَإِنْ شَرَطَ لِلْمُضَارِبِ الثَّانِي ثُلُثَيْ الرِّبْحِ او که اول مضارب د دويم مضارب لپاره د نفعي د دوو ثلثو [دريمو حصو] شرط ولګوي [مثلا داسي ورته ووايي چي: په حاصل شُده نفع کي دوې حصې ستا دي] فَلِرَبِّ الْمَالِ النِّصْفُ وَلِلْمُضَارِبِ الثَّانِي النِّصْفُ نو نصف نفع د ربُ المال لپاره ده او نصف نفع د دويم مضارب لپاره ده وَيَضْمَنُ الْمُضَارِبُ الْأَوَّلُ لِلثَّانِي سُدُسَ الرِّبْحِ فِي مَالِهِ او اول مضارب د دويم مضارب لپاره له خپل مال څخه د نفعي د سدس [شپږمي حصې] ضامن کيږي لِأَنَّهُ شَرَطَ لِلثَّانِي شَيْئًا هُوَ مُسْتَحَقٌّ لِرَبِّ الْمَالِ ځکه چي هغه د دويم مضارب لپاره داسي شرط لګولی دی کوم چي د ربُ المال مستحق دی فَلَمْ يَنْفُذْ فِي حَقِّهِ لِمَا فِيهِ مِنَ الْإِبْطَالِ نو د ربُ المال په حق کي به دا شرط نه نافذيږي؛ ځکه چي په دې [د هغه د حق] باطلول سته لَكِنَّ التَّسْمِيَةَ فِي نَفْسِهَا صَحِيحَةٌ لېکن تسميه [تاکل (يعني شرط لګول)] بذات خود صحيح دي [يعني اول مضارب چي د دويم مضارب لپاره د نفعي دوه ثلثه ټاکلي او شرط کړي دي، دا ټاکل او شرط کول بذاتِ خود صحيح دي] لِكَوْنِ الْمُسَمَّى مَعْلُومًا فِي عَقْدٍ يَمْلِكُهُ ځکه چي ټاکل سوی مقدار [دوه ثلثه] په داسي عقد کي مُتعيّن [او ټاکل سوی] دي چي اول مضارب د هغه مالک دی وَقَدْ ضَمِنَ لَهُ السَّلَامَةَ او [ځرنګه چي] اول مضارب د دويم مضارب لپاره د سلامتيا ضمانت اخيستی دی [يعني هغه د دويم مضارب سره د پورتني شرط د پوره کولو عهد او تړون کړی دی] فَيَلْزَمُهُ الْوَفَاءُ بِهِ نو ځکه د هغه پوره کول به پر اول مضارب لازم وي وَلِأَنَّهُ غَرَّهُ فِي ضِمْنِ الْعَقْدِ او ځکه چي اول مضارب د عقد په ضمن کي دويم مضارب ته دوکه ورکړې ده وَهُوَ سَبَبُ الرُّجُوعِ او دوکه ورکول د رجوع کولو سبب وي

فَلِهَذَا يَرْجِعُ عَلَيْهِ نو په همدې وجه به دويم مضارب پر اول مضارب [د نفعې د سدس لپاره] رجوع کوي [يعني سدس (شپږمه حصه نفع) به هغه له اول مضارب څخه اخلي] وَهُوَ نَظِيرُ مَنِ اسْتَأْجَرَ خَيَّاطًا لِخِيَاطَةِ ثَوْبٍ بِدِرْهَمٍ او د دې مثال دا دی چې يو خياط د يوه درهم په عوض کې د کپړې ګنډلو [کالي جوړولو] لپاره په اُجرت ونيول سي فَدَفَعَهُ إِلَى مَنْ يَخِيطُهُ بِدِرْهَمٍ وَنِصْفٍ بيا دا خياط بل چا ته کپړه ورکړي چې هغه يې په يو نيم درهم وګنډي.

**اللغات**: ﴿ثُلثي﴾ دوه ثلثه، دوې درېيمې حصې، يعني له دريو حصو څخه دوې حصې، ﴿سُدس﴾ شپږمه حصه، ﴿مُسمّٰى﴾ د تفعيل د باب مفعول دی: نومول سوی، ټاکل سوی، مقرر.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که ربُ المال له ټولې نفع څخه د خپل ځان لپاره د نصف نفعې شرط لګولی وي (چې نفع زما او ستا په مينځ کې نصف، نصف ده). بيا اول مضارب د دوه ثلثه نفعې پر شرط دويم مضارب ته مال ورکړي، نو په دې صورت کې به له حاصل شُده نفعې څخه نصف (نيمه نفع) رب المال ته ورکول کيږي او د دويم مضارب حق دوه ثلثه دی کوم چې د نفعې له مقدار څخه زيات دی، نو ځکه هغه ته خو به يو د نفعې مابقي نصف ورکول کيږي او تر دې وروسته د هغه حق يو سدس (شپږمه حصه) پاتيږي. لهذا هغه به دا اول مضارب پر ذمه قرض وي (تکملةً للثلثين). او هغه سُدس به صرف د اول مضارب له مال څخه اداء کيږي او دويم مضارب ته به ورکول کيږي؛ ځکه چې همدې اول مضارب د هغه لپاره د دوه ثلثو شرط لګولی دی. نو ځکه د هغه پوره کول به هم صرف د اول مضارب پر ذمه لازم وي. لکه زيد چې يو خياط ته د خپلو کالو (جامو) د جوړولو لپاره يو درهم ورکړي او خياط د يو نيم درهم په عوض کې هغه کالي په ادريس جوړ کړي، نو په دې صورت کې به زيد (د کپړې مالک) ادريس ته يو درهم ورکوي او مابقي نيم درهم به خياط اداء کوي، ځکه چې د نيم درهم اضافه د همدې خياط له طرفه سوې ده، نو ځکه د هغه اداء کول به هم صرف پر خياط لازم وي.



# فَصْلٌ (فِيْ بَيَانِ إِدْخَالِ الْغَيْرِ مَعَ الْمُضَارِبِ)

(دا) فصل (د مضارب سره د بل چا د شاملولو په بيان كي) دى

## د مضارب سره بل څوک شريک کول (حکم او تفصيل)

وَإِذَا شَرَطَ الْمُضَارِبُ لِرَبِّ الْمَالِ ثُلُثَ الرِّبْحِ او كه چيري مضارب د ربُ المال لپاره د نفعي د ثلث[دريمي حصې] شرط ولګوي وَلِعَبْدِ رَبِّ الْمَالِ ثُلُثَ الرِّبْحِ عَلَى أَنْ يَعْمَلَ مَعَهُ او د ربُ المال د غلام لپاره د نفعي د ثلث شرط ولګوي پر دې شرط چي غلام به د ده سره كار كوي وَلِنَفْسِهِ ثُلُثَ الرِّبْحِ او د خپل ځان لپاره [هم] د نفعي د ثلث شرط ولګوي فَهُوَ جَائِزٌ نو دا جائز دي لِأَنَّ لِلْعَبْدِ يَدًا مُعْتَبَرَةً خُصُوصًا إِذَا كَانَ مَأْذُونًا لَهُ ځکه چي د غلام قبضه معتبره ده، خصوصاً په هغه صورت کي كله چي غلام ته [د كاروبار] اجازت وركول سوې وي وَاشْتِرَاطُ الْعَمَلِ إِذْنٌ لَهُ او [د هغه] د كار كولو شرط لګول د هغه لپاره اجازت دى وَلِهٰذَا لَا يَكُونُ لِلْمَوْلَى وِلَايَةُ أَخْذِ مَا أَوْدَعَهُ الْعَبْدُ او له همدې كبله مالک ته د هغه شي د اخيستلو ولايت [اختيار] نسته كوم چي غلام امانتاً اېښى وي وَإِنْ كَانَ مَحْجُورًا عَلَيْهِ كه څه هم هغه محجور غلام وي وَلِهٰذَا يَجُوزُ بَيْعُ الْمَوْلَى مِنْ عَبْدِهِ الْمَأْذُونِ لَهُ او له همدې كبله د مالک لپاره پر خپل مأذون لهٔ غلام [يو شى] خرڅول جائز دي وَإِذَا كَانَ كَذٰلِكَ لَمْ يَكُنْ مَانِعًا مِنَ التَّسْلِيمِ وَالتَّخْلِيَةِ بَيْنَ الْمَالِ وَالْمُضَارِبِ او كله چي خبره داسي ده نو مذكوره شرط [يعني د كاركولو شرط] به مانع وي د مال له ورسپارلو او مضارب ته له مال ور پرېښودلو څخه بِخِلَافِ اشْتِرَاطِ الْعَمَلِ عَلَى رَبِّ الْمَالِ په خلاف پر ربُ المال د كار كولو شرط لګول لِأَنَّهُ مَانِعٌ مِنَ التَّسْلِيمِ ځكه چي دا شرط له ورسپارلو څخه مانع دى عَلَى مَا مَرَّ لكه مخكي چي تېر سوه وَإِذَا صَحَّتِ الْمُضَارَبَةُ

يَكُونُ الثُّلُثُ لِلْمُضَارِبِ بِالشَّرْطِ وَالثُّلُثَانِ لِلْمَوْلٰى او کله چې مضاربت صحيح سو نو ثلث نفع به د مضارب وي او دوه ثلثه به د مالک وي لِأَنَّ كَسْبَ الْعَبْدِ لِلْمَوْلٰى إِذَا لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ دَيْنٌ ځکه چې د غلام ګټه د مالک وي، کله چې پر غلام قرض نه وي وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ فَهُوَ لِلْغُرَمَاءِ او که چيري پر هغه قرض وي نو د هغه ګټه د قرضخواهانو وي هٰذَا إِذَا كَانَ الْعَاقِدُ هُوَ الْمَوْلٰى دا حکم په هغه صورت کې دی کله چې عقد کونکی [د غلام] مالک وي وَلَوْ عَقَدَ الْعَبْدُ الْمَأْذُونُ عَقْدَ الْمُضَارَبَةِ مَعَ أَجْنَبِيٍّ وَشَرَطَ الْعَمَلَ عَلَى الْمَوْلٰى او که چيري مأذون لهٗ غلام د يو اجنبي کس سره عقد مضاربت وکړي او د مالک د کار کولو شرط ولګوي لَا يَصِحُّ إِنْ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ دَيْنٌ نو دا نه صحيح کيږي، که چيري پر هغه قرض نه وي لِأَنَّ هٰذَا اشْتِرَاطُ الْعَمَلِ عَلَى الْمَالِكِ ځکه چې دا پر مالک د کار کولو شرط لګول دي وَإِنْ كَانَ عَلَى الْعَبْدِ دَيْنٌ او که چيري پر مأذون لهٗ غلام قرض وي صَحَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا شرط صحيح دی لِأَنَّ الْمَوْلٰى بِمَنْزِلَةِ الْأَجْنَبِيِّ عِنْدَهٗ ځکه چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [د مقروض غلام] مالک د اجنبي کس په څېر دی عَلٰى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چې معلومه سوې ده.

**اللغات**: ﴿يد﴾ قبضه. ﴿محجور عليه﴾ هغه غلام چې د تجارت پابندي پر لګول سوې وي (يعني له کاروبار څخه منع سوی وي). ﴿تسليم﴾: د تفعيل د باب مصدر دی: ورسپارل. ﴿تخلية﴾ د تفعيل د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوې دي چې د صلې په بدلون سره يې معنیٰ هم بدليږي: آزادول، دوه شيان يا دوه کسان په خپل مينځ کې سره پرېښوول او داسې نور. کله چې د مبيع او داسې نورو سره ذکر سي، نو د "ورسپارلو" معنیٰ ورکوي، يعني له مبيع څخه خپل قبضه ختمول او د مشتري په قبضه کې ورکول (د مشتري لپاره په هغه کې تصرف مباح کول). مشتري د مبيع قابض ګرځول. ﴿غرماء﴾ جمع د غَرِيْمٌ ده. دا لفظ له اضدادو څخه دی، يعني مقروض ته هم وايي او قرضخواه (قرض غوښتونکي) ته هم وايي، يعني هغه کس چې مقروض ته يې قرض ورکړی وي، د قرض مالک. ﴿أجنبي﴾ پردی کس، له عقد څخه وتلی کس (کوم چې د عاقدينو سره هيڅ تعلق نه لري، يعني کوم چې د عقد له اطرافو څخه نه وي).

**تشریح**: صورت د مسئلې واضح او آسانه دی، غور چاڼ یې دا دی چې څرنګه د مضارب لپاره د مضاربت په توګه دویم مضارب ته مال ورکول او له هغه شخصه دویم مضارب ته نفع ورکول صحیح دي، همداسې د مضارب یا د ربُ المال غلام د کار کولو پر شرط په مضاربت او نفع کې شریکول هم صحیح او جائز دي؛ ځکه چې غلام هم پر مال قبضه کوي او د هغه قبضه معتبره هم ده، خصوصاً کله چې هغه مأذون لهٔ وي، او دا ښکاره خبره ده چې کله د مالک (مولیٰ) مخته د غلام د کار شرط ولګول سي او هغه په مضاربت کې شریک کړی سي، نو دا د غلام په حق کې د مالک له طرفه اذن (اجازت) دی. او څرنګه چې د مالک لپاره د خپل مأذون لهٔ غلام سره بیع و شراء کول صحیح دي، همداسې د مأذون لهٔ غلام لپاره د مالک په مال کې مضاربت کول هم صحیح دي. او د شرط یعني د غلام د کار کولو د شرط په وجه پر رأسُ المال د مضارب د قابض کېدلو په حواله سره هیڅ مانع هم نسته (یعني دا شرط له دې شخه مانع نه دی چې رأسُ المال [اصل مالِ مضاربت] د مضارب په قبضه کې پاته سي، بلکې د دې شرط باوجود مال د هغه په قبضه کې پاتېږي او هغه قابض ګرځي)، نو په دې وجه هم دا شرط صحیح دی. لهذا مضاربت به صحیح کېږي او کومه نفع چې حاصله سي، له هغه شخه به یو ثلث مضارب ته ورکول کېږي او دوه ثلثه به مالک یعني ربُ المال ته ورکول کېږي؛ ځکه مأذون لهٔ غلام که مقروض نه وي، نو د هغه ګټه صرف د مالک (مولیٰ) وي، لېکن د مقروض کېدلو په صورت کې د هغه ګټه قرضخواهان اخلي؛ لأنـه يَكسب لهم لتخليص الرقبة عن ديونهم.

هذا إلخ: د دې حاصل دا دی چې پورتنی حکم په هغه صورت کې دی کله چې مالک (مولیٰ) عاقد وي، او که چېرې د مالک پر ځای په خپله مأذون لهٔ غلام عقد مضاربت وکړي او په مضاربت کې د خپل مالک د کار کولو شرط ولګوي، نو په دې صورت کې حکم دا دی چې که هغه مقروض نه وي، نو دا شرط نه صحیح کېږي؛ ځکه چې دا پر مالک د عمل شرط لګول دي، او پر مالک د عمل شرط لګول عقد فاسدوي، او که چېرې هغه مأذون لهٔ غلام مقروض وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا شرط صحیح کېږي؛ ځکه چې د هغه په نېز د مقروض غلام مالک د اجنبي په حکم کې دی، او پر اجنبي کس شرط لګول صحیح دي. والله أعلم وعلمهٔ أتم



# فَصْــلٌ فِي الْعَزْلِ وَالْقِسْمَةِ

(دا) فصل د مضارب معزوله کولو او د نفعې تقسیمولو (په بیان کې) دی

**تشريح**: څرنګه چې عزل له تحقق او ثبوت څخه وروسته په وجود کې راځي، همداسې د نفعې تقسیم هم د نفعې له تحصیل څخه وروسته کیږي، نو ځکه د عزل او تقسیم بیان د مضاربت او د تحصیل نفع له بیان څخه وروسته کړی سوی دی. (بنايه)

## د ربُ المال یا مضارب د مړه کېدلو حکم

قَالَ: وَإِذَا مَاتَ رَبُّ الْمَالِ أَوِ الْمُضَارِبُ فرمايي: او كله چي ربُ المال يا مضارب مړ سي بَطَلَتِ الْمُضَارَبَةُ نو مضاربت باطليږي لِأَنَّهُ تَوْكِيلٌ ځكه چي مضاربت توكيل دى عَلَى مَا تَقَدَّمَ لكه مخكې چي تېر سوه وَمَوْتُ الْمُوَكِّلِ يُبْطِلُ الْوَكَالَةَ او د مؤكل [وكيل جوړونكي] مرګ وكالت باطلوي وَكَذَا مَوْتُ الْوَكِيلِ همدارنګه د وكيل مرګ هم [وكالت باطلوي] وَلَا تُوَرَّثُ الْوَكَالَةُ او وكالت نه ميراث كيږي [يعني په وكالت كي ميراث (وراثت) نه جاري كيږي يعني داسې نه كيږي چي كه وكيل مړ سي نو د هغه وارث وكيل ګرځي، بلكي د وكيل په مرګ سره سمدستي وكالت باطليږي] وَقَدْ مَرَّ مِنْ قَبْلُ او دا مخكې تېر سوي دي وَإِنِ ارْتَدَّ رَبُّ الْمَالِ عَنِ الْإِسْلَامِ وَالْعِيَاذُ بِاللهِ وَلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ او كه چيري ربُ المال (نعوذ بالله) له اسلام څخه وګرځي [مرتد سي] او دارُ الحرب ته ولاړ سي بَطَلَتِ الْمُضَارَبَةُ نو [هم] مضاربت باطليږي لِأَنَّ اللُّحُوقَ بِمَنْزِلَةِ الْمَوْتِ ځكه چي دارُ الحرب ته تلل د مړه كېدلو په درجه كي دي أَلَا تَرَى أَنَّهُ يُقَسَّمُ مَالُهُ بَيْنَ وَرَثَتِهِ آيا ته نه ګورې! چي [تر لحوق] وروسته د هغه مال د هغه د وارثانو په مينځ كي تقسيمول كيږي وَقَبْلَ لُحُوقِهِ يَتَوَقَّفُ تَصَرُّفُ مُضَارِبِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دارُ الحرب ته د هغه تر تللو مخكې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هغه د مضارب تصرف موقوف كيږي لِأَنَّهُ يَتَصَرَّفُ لَهُ ځكه چي مضارب د هغه لپاره تصرف كوي فَصَارَ كَتَصَرُّفِهِ بِنَفْسِهِ نو دا

داسي سوه لكه په خپله د مرتد تصرف [چي هغه موقوف كيږي] وَلَوْكَانَ الْمُضَارِبُ هُوَ الْمُرْتَدُّ او كه مضارب [په خپله] مرتد وي فَالْمُضَارَبَةُ عَلٰى حَالِهَا نو مضاربت پر خپل حال باقي پاتيږي لِأَنَّ لَهُ عِبَارَةً صَحِيحَةً ځكه چي د مضارب عبارت [او خبره] يو صحيح عبارت دی وَلَا تَوَقُّفَ فِي مِلْكِ رَبِّ الْمَالِ او د ربُ المال په ملكيت كي هيڅ توقف نسته فَبَقِيَتِ الْمُضَارَبَةُ نو ځكه مضاربت به باقي پاتيږي.

**اللغات**: ﴿توكيل﴾ يو څوک د خپل كار وكيل جوړول، وكيل كول، ﴿لَحِق﴾ د سمع د باب ماضي ده: لَحِقَ يَلْحَقُ لُحُوْقًا وَلحَاقًا: لاحق كېدل، متصل كېدل، يو شی د بل شي سره يو ځای كېدل (يو څوک د بل چا سره يو ځای كېدل)، ﴿يتوقّف﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: موقوف كېدل (موقوف پاتېدل).

**تشريح**: **مسئله**: دا ده چي مضاربت توكيل دی او څرنگه چي د وكيل يا مؤكل په مرگ سره وكالت باطليږي، همداسي د مضارب يا ربُ المال په مرگ سره مضاربت هم باطليږي. او څرنگه چي په وكالت كي ميراث نه جاري كيږي، لكه مخكي چي ذكر سوه، نو ځكه په مضاربت كي به هم ميراث نه جاري كيږي. همدارنگه د ربُ المال د مرتد كېدلو او دارُ الحرب ته د تللو په وجه هم مضاربت باطليږي؛ ځكه دارُ الحرب ته تلل د مرگ په درجه كي دي او په مرگ سره مضاربت باطليږي، نو ځكه دارُ الحرب ته د تللو په وجه به هم مضاربت باطليږي.

لېكن كه ربُ المال صرف مرتد سي او دارُ الحرب ته ولاړ نه سي، يا ولاړ سي لېكن امام او قاضي تر اُوسه د هغه د تللو فيصله نه وي كړي، نو د هغه د مضارب تصرف د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز موقوف پاتيږي؛ ځكه چي مضارب صرف د ربُ المال لپاره تصرف كوي، نو دا په خپله د ربُ المال د تصرف كولو په څېر سو، او ښكاره خبره ده چي كه ربُ المال په خپله عاقد او تصرف كونكی وي، نو په پورتني حالت كي د هغه تصرف موقوف پاتيږي، نو ځكه د هغه د مضارب تصرف به هم موقوف پاتيږي. د دې په خلاف كه خودي مضارب مرتد سي، نو مضاربت باقي پاتيږي او هغه چي كوم رانيول او خرڅول كړي وي، هغه ټوله صحيح كيږي او حاصل شُده نفع (گټه) به د دوی په مينځ كي مشترکه گرځي علٰى حسب ما شرط؛ ځكه چي د مرتد كېدلو باوجود د هغه ادميت (انسان والي) باقي پاتېږي او د هغه كلام او خبري صحيح كيږي. او څرنگه چي د ربُ المال په ملكيت كي هم هيڅ توقف او خرابي يا كمي نسته، نو ځكه د مضاربت په پاتېدلو او صحيح كېدلو كي به هيڅ شک نه وي.

## مضارب له مضاربته معزوله کول (حکم او تفصيل)

قَالَ: فَإِنْ عَزَلَ رَبُّ الْمَالِ الْمُضَارِبَ فرمايي: كه چيري ربُ المال مضارب معزوله كړي وَلَمْ يَعْلَمْ بِعَزْلِهِ او مضارب په خپل معزول والي خبر نه سي حَتَّى اشْتَرَى وَبَاعَ تر دې چي رانيول او خرڅول [شراء او بيع] وكړي فَتَصَرُّفُهُ جَائِزٌ نو د هغه تصرف جائز دى لِأَنَّهُ وَكِيلٌ مِنْ جِهَتِهِ ځكه چي هغه د ربُ المال له طرفه وكيل دى وَعَزْلُ الْوَكِيلِ قَصْدًا يَتَوَقَّفُ عَلَى عِلْمِهِ او د وكيل قصداً [بالقصد] معزوله كول د هغه پر علم موقوف كيږي وَإِنْ عَلِمَ بِعَزْلِهِ وَالْمَالُ عُرُوضٌ او كه چيري مضارب ته د خپل معزو والي خبر وي او مال مضاربت سامان وي فَلَهُ أَنْ يَبِيعَهَا نو مضارب ته د هغه د خرڅولو اختيار سته وَلَا يَمْنَعُهُ الْعَزْلُ مِنْ ذَلِكَ او معزول والى مضارب له دې څخه نه منع كوي لِأَنَّ حَقَّهُ قَدْ ثَبَتَ فِي الرِّبْحِ وَإِنَّمَا يَظْهَرُ بِالْقِسْمَةِ ځكه چي په نفع كي د مضارب حق ثابت سوى دى كوم چي [صرف] په تقسيمولو سره ښكاره كيږي وَهِيَ تُبْتَنَى عَلَى رَأْسِ الْمَالِ او تقسيم د رأسُ المال پر جلا كولو مبني دى وَإِنَّمَا يَنِضُّ بِالْبَيْعِ او رأسُ المال [كوم چي دلته سامان دى] په خرڅولو سره نقد ګرځي [په بله وينا: او رأسُ المال په بيع سره حاصليږي] قَالَ: ثُمَّ لَا يَجُوزُ أَنْ يَشْتَرِيَ بِثَمَنِهَا شَيْئًا آخَرَ فرمايي: بيا [له سامان خرڅولو څخه وروسته] مضارب ته دا جائز نه دي چي د هغه په ثمن سره بل شى رانيسي لِأَنَّ الْعَزْلَ إِنَّمَا لَمْ يَعْمَلْ ضَرُورَةَ مَعْرِفَةِ رَأْسِ الْمَالِ ځكه چي معزول والي د رأسُ المال د معرفت [د رأسُ المال حاصلولو] د ضرورت په وجه خپل اثر نه دى كړى دى وَقَدِ انْدَفَعَتْ حَيْثُ صَارَ نَقْدًا او د رأسُ المال د نقد ګرځېدلو په وجه دا ضرورت دفع سو فَيَعْمَلُ الْعَزْلُ نو ځكه معزول والي به [اوس] خپل اثر كوي فَإِنْ عَزَلَهُ وَرَأْسُ الْمَالِ دَرَاهِمُ أَوْ دَنَانِيرُ او كه چيري ربُ المال مضارب معزوله كړي او رأسُ المال دراهم يا دنانير وي وَقَدْ نَضَّتْ او هغوى نقد ګرځېدلي وي [يعني سامان خرڅ سوى وي چي د هغه په عوض كي مضارب ته نغد دراهم يا دنانير په لاس ورغلي وي] لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَتَصَرَّفَ فِيهَا نو د مضارب لپاره په هغوى كي تصرف كول جائز نه دي لِأَنَّهُ لَيْسَ فِي إِعْمَالِ عَزْلِهِ إِبْطَالُ حَقِّهِ فِي الرِّبْحِ ځكه چي [اوس] د هغه د معزول والي په مؤثر كولو كي په نفع كي د هغه د حق باطلول نسته [يعني ځكه چي اوس د هغه

معزول والي ته په عمل ورکولو کي د مضارب د حق باطلول نسته (يا په بله وينا داسي هم ويل کېدای سي: د ربُ المال د معزولو کولو کار دا نه دی چي هغه د مضارب د نفعې حصه ختمه کړي) فَلَا ضَرُورَةَ نو ځکه د هغه هيڅ ضرورت نسته قَالَ رضي الله عنه: وَهٰذَا الَّذِي ذَكَرَهُ إِذَا كَانَ مِنْ جِنْسِ رَأْسِ الْمَالِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د امام قدوري رَحِمَهُ الله دغه ذکر سوی حکم په هغه صورت کي دی کله چي موجوده نقد مال د رأسُ المال له جنس څخه وي فَإِنْ لَمْ يَكُنْ و که چيري د هغه له جنس څخه نه وي بِأَنْ كَانَ دَرَاهِمَ وَرَأْسُ الْمَالِ دَنَانِيرَ په دې توګه چي موجوده نقد مال دراهم وي او رأسُ المال دنانير وي أَوْ عَلَى الْقَلْبِ يا د دې برعکس وي لَهُ أَنْ يَبِيعَهَا بِجِنْسِ رَأْسِ الْمَالِ اسْتِحْسَانًا نو استحساناً مضارب ته دا اختيار سته چي هغه موجوده مال د رأسُ المال د جنس په عوض کي خرڅ کړي لِأَنَّ الرِّبْحَ لَا يَظْهَرُ إِلَّا بِهِ ځکه چي له دې څخه بغير نفع نه ښکاره کيږي وَصَارَ كَالْعُرُوضِ او دا د سامان په څېر سوه وَعَلَى هٰذَا مَوْتُ رَبِّ الْمَالِ فِي بَيْعِ الْعُرُوضِ وَنَحْوِهَا او پر همدغه حکم دي د سامان او داسي نورو په بيع کي د ربُ المال مړه کېدل.

**اللغات:** ﴿عزل﴾ د ضرب مصدر دی: معزوله کول، له منصبه ليري کول (ګوښه کول)، له کار څخه برطرفه کول. ﴿يَنِضُّ﴾ د ضرب د باب مضارع ده، نَضَّ يَنِضُّ نَضِيضًا، د دې باب څو معناوي دي چي د صلې په بدلون سره يې معنیٰ هم بدليږي، کله چي د دې باب په صله کي ثمن او داسي نورو راسي نو معنیٰ يې ده: حاصلېدل، ترلاسه کېدل، او کله چي يې په صله کي سامان او داسي نور راسي نو معنیٰ يې ده، نقد کېدل، سامان په نغدو سره بدلېدل (سامان خرڅېدل او د هغه په عوض کي نغدي پيسې ترلاسه کېدل)، او کله چي په يې صله کي اوبه او داسي نور راسي، نو معنیٰ يې ده: په کراره، کراه بهېدل، په څاڅکي، څاڅکي راوتل، دلته مخکني معنیٰ مراد ده، ﴿عروض﴾ جمع د عَرَضٌ ده: سامان، ﴿ربح﴾ نفع، ګټه.

**تشريح: مسئله:** دا ده که چيري ربُ المال د مضاربت له معاملې څخه مضارب معزوله او برطرفه کړي، نو تر څو چي مضارب په دې معزول والي خبر نه سي، تر هغه وخت عزل نه ثابتيږي او په دې دوران کي چي مضارب کوم څه رانيول او خرڅول وکړي، هغه ټوله صحيح کيږي؛ ځکه چي مضارب د ربُ المال وکيل وي، او وکيل که چيري قصداً معزوله کړی سي، نو په خپل عزل د هغه خبرېدل ضروري دي، حال دا چي دلته مضارب په عزل خبر نه دی، نو ځکه به دا عزل نه صحيح

کېږي. او که چیري مضارب په خپل عزل خبر سي، لېکن د هغه سره چي کوم مالِ مضاربت وي هغه سامان وي (او تر اوسه خرڅ سوی نه وي)، نو هم د مضارب لپاره د هغه سامان خرڅول صحیح دي؛ ځکه چي د مضارب کېدلو په وجه په نفع کي د هغه حق ثابت سوی دی، او د هغه د ظهور او تقسیم دار ومدار د رأسُ المال (سامان) پر نقد کېدلو دی (یعني په نفع کي د دې مضارب حق هغه وخت ښکاره کېږي کله چي نفع تقسیم کړی سي او د نفعي ښکاره کېدل او تقسیمول هغه وخت ممکن دي کله چي سامان په نغدو پیسو سره بدل کړی سي)، او د سامان د نقد کېدلو لاره صرف بیع (خرڅول) دي؛ نو ځکه په عزل د خبرېدلو باوجود به د مضارب لپاره مذکوره سامان خرڅول صحیح وي.

وإن عزله إلخ: د دې حاصل دا دی چي که ربُ المال مضارب معزوله کړي او د مضارب سره چي کوم د مضاربت مال او سامان موجود وي، هغه خرڅ کړل سوي وي او د نغد دراهمو یا دنانیرو په شکل موجود وي او حاصل شُده نفع هم نغده وي، سامان نه وي، نو په دې صورت کي په عزل له خبرېدلو څخه وروسته د مضارب لپاره تصرف کول جائز نه دي، لېکن که موجوده مال او حاصل شُده نفع د رأسُ المال (اصل مالِ مضاربت) له جنس څخه نه وي، په دې توګه چي د موجوده نفعي مال دراهم وي او رأسُ المال دنانیر وي، یا موجوده مال دنانیر وي او رأسُ المال دراهم وي، نو په دې صورت کي استحساناً حکم دا دی چي په عزل له خبرېدلو څخه وروسته هم د مضارب لپاره دا اجازت سته چي د رأسُ المال سره د همجنسه کولو لپاره هغه مال خرڅ کړي (یعني د دې لپاره یې خرڅ کړي چي د هغه په عوض کي د رأسُ المال د جنس په څېر شی حاصل کړي)؛ ځکه چي د رأسُ المال او د نفعي د همجنسه کېدلو په صورت کي به د نفعي تقسیمول او اخیستل آسانه وي، لهذا په یوه اعتبار سره دلته هم بیع (خرڅولو) ته ضرورت سته، نو ځکه استحساناً د هغه اجازت سته، لکه څرنګه چي په هغه وخت کي مضارب ته د موجوده مال د خرڅولو اجازت سته کله چي هغه سامان وي، همداسي به دلته هم هغه ته د دې اجازت وي.

وعلى هذا موت رب المال إلخ: د دې حاصل دا دی چي که ربُ المال مړ سي او د مضارب سره موجوده مال سامان وي، نو په دې صورت کي هم د ربُ المال په مرګ سره مضاربت نه باطلېږي، بلکي د مذکوره سامان د خرڅولو، نقد کولو او د رأسُ المال سره د همجنسه کولو تر وخته پوري مضاربت باقي پاتېږي؛ ځکه چي له دې څخه بغیر د نفعي تقسیمول ممکن نه دي. (احسن الهدایه)

## له مضاربت ختمېدلو څخه وروسته به قرضونه څوک اداء کوي؟

قال: وَإِذَا افْتَرَقَا وَفِي الْمَالِ دُيُونٌ فرمایي: او کله چي مضارب او ربُ المال [مضاربت ختم کړي لوا] یو له بله جلا سي او په مالِ مضاربت کي قرضونه وي وَقَدْ رَبِحَ الْمُضَارِبُ فِيهِ او مضارب په هغه مال سره

نفع اخته] کړې وي أَجْبَرَهُ الْحَاكِمُ عَلَى اقْتِضَاءِ الدُّيُونِ نو قاضي به مضارب د قرضونو پر اخيستلو مجبوره کوي لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْأَجِيرِ ځکه چې مضارب د مزدور په درجه کې دی وَالرِّبْحُ كَالْأَجْرِ لَهُ او نفع د هغه لپاره د أجرت [مزدورۍ] په څېر ده وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ رِبْحٌ او که چېرې د مضارب لپاره نفع نه وي [يعني په مالِ مضاربت سره يې نفع نه وي کړې] لَمْ يَلْزَمْهُ الِاقْتِضَاءُ نو پر هغه د قرضونو اخيستل نه لازميږي لِأَنَّهُ وَكِيلٌ مَحْضٌ ځکه چې هغه خو صرف وکيل دی وَالْمُتَبَرِّعُ لَا يُجْبَرُ عَلَى إِيفَاءِ مَا تَبَرَّعَ بِهِ او احسان کونکی [احساناً کار کونکی] د هغه څه پر پوره کولو نه مجبورول کيږي کوم چې هغه احساناً کړي وي وَيُقَالُ لَهُ: وَكِّلْ رَبَّ الْمَالِ فِي الِاقْتِضَاءِ او مضارب ته به ويل کيږي: چې د قرضونو د اخيستلو لپاره ربُ المال وکيل جوړ کړه! لِأَنَّ حُقُوقَ الْعَقْدِ تَرْجِعُ إِلَى الْعَاقِدِ ځکه چې د عقد حقوق د عاقد وطرف ته راجع کيږي فَلَا بُدَّ مِنْ تَوْكِيلِهِ وَتَوَكُّلِهِ لهذا د هغه وکيل جوړول او [په خپله] د هغه وکيل جوړېدل ضروري دي كَيْ لَا يَضِيعَ حَقُّهُ د دې لپاره چې د ربُ المال حق ضايع نه سي وَقَالَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: يُقَالُ لَهُ أَحِلْ مَكَانَ قَوْلِهِ وَكِّلْ او په جامع صغير کې امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چې مضارب ته به د "وَكِّلْ" [وکيل جوړولو] پر ځای د "أَحِلْ" [حواله کولو] ويل کيږي وَالْمُرَادُ مِنْهُ الْوَكَالَةُ او له حواله کولو څخه [هم] وکالت مراد دی وَعَلَى هٰذَا سَائِرُ الْوَكَالَاتِ او ټوله وکالتونه پر همدغه حکم دي وَالْبَيَّاعُ وَالسِّمْسَارُ يُجْبَرَانِ عَلَى التَّقَاضِيْ او دلال او دريمګړی [منځګړی] به د قرض پر اخيستلو مجبورول کيږي لِأَنَّهُمَا يَعْمَلَانِ بِأُجْرَةٍ عَادَةً ځکه چې دوی دواړه عموماً په أجرت کار کوي.

**اللغات**: ﴿افترقا﴾ د افتعال له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده: يو له بله جلا کېدل. ﴿ديون﴾ جمع د دَيْنٌ ده: قرضونه، پوروونه. ﴿حاكم﴾ د نصر د باب اسم فاعل دی: قاضي، د ښار او ملک ستر رئيس (مشر). ﴿اقتضاء﴾ د افتعال د باب مصدر دی: کله چې د دې باب په صله کې مال، قرض يا بل حق ذکر سي نو معنیٰ يې ده: اخيستل، ترلاسه کول، حاصلول. ﴿متبرّع﴾ د تفعّل د باب اسم فاعل دی: احسان کونکی (احساناً بلا أجرته کار کونکی). ﴿إيفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: پوره کول، پوره اداء کول. ﴿بيّاع﴾ د ضرب له بابه د صفت مشبه صيغه ده: هغه کس چې په أجرت د بل چا مال

خرڅوي، دلال، هغه کس چې د مال خرڅولو لپاره په أجرت ونيول سي، ﴿سِمْسَار﴾ د فَعْلَلَةٌ (سَمْسَر) له بابه اسم فاعل دی: د مشتري او بائع ترمينځ جوړه کونکی کس، (دريمګړی کوم چې په أجرت بائع او مشتري پر قيمت سره جوړوي او د بائع يا مشتري لپاره کار کوي) (معجم لغة الفقهاء)، هغه کس کوم چې په أجرت له نېول کېدلو څخه بغير ديو چا لپاره شی په أجرت خرڅوي يا يې رانيسي، داسي معلومېږي چې د معنیٰ په اعتبار سره د "بياع" او "سمسار" په مينځ کي ډېر فرق نسته، او په رد المحتار کي ذکر سوي دي: د "سمسار" او "دلال" په مينځ کي هيڅ فرق نسته (يعني په عربي ژبه کي د دواړو معنیٰ يوه ده)، او فقهاؤ يې فرق کړی دی، کوم چې په تفصيل سره په حاشيه کي ذکر سوی دی.

**تشريح: صورت د مسئلې:** دا دی که چيري مضارب او ربُ المال د عقد مضاربت له فسخ کولو (ماتولو) څخه وروسته يو له بل څخه جلا سي، حال دا چې مال مضاربت پر خلګو قرض وي او مضارب په تجارت کي نفع حاصله کړې وي، نو قاضي به له هغه خلکو څخه د قرضونو پر اخيستلو مضارب مجبوره کوي؛ ځکه چې د مضارب حيثيت د مزدور په څېر دی او هغه ته حاصل شُده نفع د أجرت مشابه ده، لهذا کله چې هغه نفع حاصله کړي (نو ګواکي هغه ته أجرت ورکول سو)، نو ځکه اوس دا ضروري ده چې هغه د ربُ المال مال او حق په هر اعتبار سره فارغ او خالص کړي او هغه ته يې وسپاري. لېکن که چيري هغه نفع نه وي حاصله کړي، نو په دې صورت کي هغه محض وکيل او متبرّع (احساناً مضاربت کونکی) دی (ځکه چې هغه ته د خپل کار کولو أجرت نه دی حاصل سوی)، او پر متبرّع کس جبر او زور کول صحيح نه دی، خو هغه ته به صرف دا ويل کيږي چې "له ربُ المال څخه دا غوښتنه وکړه! او هغه وکيل جوړ کړه! (يا ربُ المال دي بل څوک وکيل جوړ کړي) چې مذکوره قرضونه له مقروضه خلکو څخه واخلي" او مضارب دي (ربُ المال ته) د مقروضه خلکو نومونه او د قرضونو تفصيلات واضح وکړي، د دې لپاره چې د مالک حق ضايع نه سي.

قال في الجامع إلخ: فرمايي چې په جامع صغير کي امام محمد رَحِمَهُ الله د "وَكِّلْ" پر ځای د "أَحِلْ" لفظ استعمال کړی دی، حالانکي د "وَكِّلْ" او "أَحِلْ" دواړو مراد يو دی. او د تمام وکالتونو همدغه حکم دی چې که وکيل ته أجرت حاصل سوی (ورکول سوی) وي، نو د قرضونو پر اخيستلو به هغه مجبورول کيږي، او که هغه ته أجرت نه وي حاصل سوی، نو هغه به نه مجبورول کيږي. په همدې وجه د "دلال" او "أجرتي دريمګړي" په باره کي حکم دا دی چې هغوی به د قرضونو پر اخيستلو مجبورول کيږي؛ ځکه چې دوی عموماً د خپل کار أجرت او حق الزحمه غواړي او له أجرت اخيستلو څخه بغير کار نه کوي. (احسن الهدايه)

## په مالِ مضاربت کي به هلاک سوی مقدار له نفعي څخه ایستل کیـږي

قَالَ: وَمَا هَلَكَ مِنْ مَالِ الْمُضَارَبَةِ فرمايي: او څه چي له مالِ مضاربت څخه هلاک سي فَهُوَ مِنَ الرِّبْحِ دُونَ رَأْسِ الْمَالِ نو هغه له نفعي څخه دي، نه له رأسُ المال څخه [يعني هغه به له نفعي څخه شمارل کيږي او ايستل کيږي، نه له رأسُ المال څخه] لِأَنَّ الرِّبْحَ تَابِعٌ ځکه چي نفع تابع ده وَصَرْفُ الْهَلَاكِ إِلَى مَا هُوَ التَّبَعُ أَوْلَى او هلاک سوی شی د تابع وطرف ته ګرځول زيات غوره دي كَمَا يُصْرَفُ الْهَلَاكُ إِلَى الْعَفْوِ فِي الزَّكَاةِ لکه څرنګه چي د زکاة په نصاب کي هلاک سوی مقدار د عفو وطرف ته ګرځول کيږي فَإِنْ زَادَ الْهَالِكُ عَلَى الرِّبْحِ او که چيري هلاک سوی مقدار له نفعي څخه زيات سي فَلَا ضَمَانَ عَلَى الْمُضَارِبِ نو پر مضارب [د هغه] ضمان نسته لِأَنَّهُ أَمِينٌ ځکه چي هغه امين دی [يعني د امانت ساتونکي په درجه کي دی] وَإِنْ كَانَا يَقْتَسِمَانِ الرِّبْحَ وَالْمُضَارَبَةُ بِحَالِهَا ثُمَّ هَلَكَ الْمَالُ بَعْضُهُ أَوْ كُلُّهُ او که چيري ربُ المال او مضارب نفع تقسيموي او مضاربت پر خپل حال پاته وي بيا څه مال يا ټوله مال هلاک سي تَرَادَّا الرِّبْحَ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ رَبُّ الْمَالِ رَأْسَ الْمَالِ نو دواړه به نفع واپس کوي تر دې چي ربُ المال رأسُ المال واخلي [يعني تر دې چي هغه ته خپل رأسُ المال پوره حاصل سي] لِأَنَّ قِسْمَةَ الرِّبْحِ لَا تَصِحُّ قَبْلَ اسْتِيفَاءِ رَأْسِ الْمَالِ ځکه چي د پوره رأسُ المال له اخيستلو څخه مخکي د نفعي تقسيمول صحيح نه دي لِأَنَّهُ هُوَ الْأَصْلُ ځکه چي همدا رأسُ المال اصل دی وَهٰذَا بِنَاءٌ عَلَيْهِ وَتَبَعٌ لَهُ او نفع پر هغه مبني ده او د هغه تابع ده فَإِذَا هَلَكَ مَا فِي يَدِ الْمُضَارِبِ أَمَانَةً لهذا کله چي د مضارب په قبضه کي د امانت په توګه اينبوول سوی مال هلاک سو تَبَيَّنَ أَنَّ مَا اسْتَوْفَيَاهُ مِنْ رَأْسِ الْمَالِ نو دا څرګنده سوه چي مضارب او ربُ المال چي کوم مال [د نفعي په توګه] اخيستی دی، هغه د رأسُ المال مال دی فَيَضْمَنُ الْمُضَارِبُ مَا اسْتَوْفَاهُ نو ځکه به مضارب د هغه مقدار ضامن کيږي کوم چي ده اخيستی وي لِأَنَّهُ أَخَذَهُ لِنَفْسِهِ ځکه چي ده هغه مال د خپل ځان لپاره اخيستی دی وَمَا أَخَذَهُ رَبُّ الْمَالِ مَحْسُوبٌ مِنْ رَأْسِ مَالِهِ او کوم مقدار چي ربُ المال اخيستی وي، هغه مقدار به له رأسُ المال څخه شمارل کيږي وَإِذَا اسْتَوْفَى رَأْسَ الْمَالِ فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ كَانَ بَيْنَهُمَا او کله چي ربُ المال رأسُ المال واخلي [يعني هغه ته خپل پوره رأسُ المال حاصل سي] نو که [تر دې وروسته] څه مال اضافه پاته سي نو

هغه به د مضارب او ربُ المال په مينځ کي مشترک وي لِأَنَّهُ رِبْحٌ ځکه چي هغه نفع ده وَإِنْ نَقَصَ او که څه مال کم سي فَلَا ضَمَانَ عَلَى الْمُضَارِبِ نو پر مضارب [د هغه] ضمان نسته لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی فَلَوِ اقْتَسَمَا الرِّبْحَ وَفَسَخَا الْمُضَارَبَةَ ثُمَّ عَقَدَاهَا فَهَلَكَ الْمَالُ او که چيري دوی دواړه نفع سره تقسيم کړي او عقد مضاربت فسخ کړي بيا دوباره عقد مضاربت وکړي او [تر دې وروسته] مال هلاک سي لَمْ يَتَرَادَّا الرِّبْحَ الْأَوَّلَ نو دوی به اوله نفع نه واپس کوي لِأَنَّ الْمُضَارَبَةَ الْأُولَى قَدِ انْتَهَتْ ځکه چي اول مضاربت خو پوره سو وَالثَّانِيَةَ عَقْدٌ جَدِيدٌ او دويم مضاربت يو نوی عقد دی فَهَلَاكُ الْمَالِ فِي الثَّانِي لَا يُوجِبُ انْتِقَاضَ الْأَوَّلِ نو ځکه په دويم عقد کي د مال هلاکېدل به د اول عقد ماتېدل نه لازموي [يعني دا به په اول عقد کي د اخيستل سوي مال د ختمولو سبب نه ګرځي] كَمَا إِذَا دَفَعَ إِلَيْهِ مَالًا آخَرَ لکه کله چي ربُ المال و مضارب ته بل مال ورکړی وي.

**اللغات:** ﴿ربح﴾ نفع، ګټه. ﴿رأسُ المال﴾ اصل مال (اصل مالِ مضاربت کوم چي د ربُ المال له طرفه مضارب ته ورکول سوی وي). ﴿صَرْف﴾ د ضرب د باب مصدر دی: ګرځول، راجع کول. ﴿الهلاك﴾ هلاک کړی سوی، هلاک شُده. ﴿تراڈا﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده: يو تر بله واپس کول (د دوو کسانو له طرفه د يو شي واپس کول)، يو تر بله ردول.

**تشريح:** په دې عبارت کي درې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که چيري له مالِ مضاربت څخه څه مال هلاک او ضايع سي، نو دا هلاکت (ضياع) به له نفعي څخه شمارل کيږي او له رأسُ المال څخه به نه ايستل کيږي؛ ځکه چي رأسُ المال اصل دی او نفع تابع ده، او په عامه توګه هلاکت او داسي نور د تابع سره متعلق کيږي. د دې مثال دا دی لکه د زکاة له نصابه که چيري څه نصاب هلاک سي، نو دا هلاکت د عفو يعني له نصاب څخه د زائد مقدار وطرف ته ګرځول کيږي او د نصاب سره نه متعلق کيږي، همداسي به دلته هم هلاکت له رأسُ المال څخه د زائد مقدار يعني د نفعي وطرف ته ګرځول کيږي او د هغه سره به متعلق کيږي، نه د اصل رأسُ المال سره: ها! که چيري هلاک سوی مال له نفعي څخه زيات وي، نو بيا به هغه له رأسُ المال څخه ايستل کيږي او د هغه سره به متعلق کيږي، او پر مضارب به د هغه ضمان نه لازميږي؛ ځکه چي مضارب امين دی او پر امين ضمان نه لازميږي.

وإن كان يقتسمان إلخ: (۲)... دويمه مسئله دا ده چي كه مضارب او ربُ المال په خپل مينځ كي نفع تقسيموي او مضاربت باقي وي، فسخ سوی نه وي، بيا څه مال هلاك سي يا ټوله مال هلاك سي، نو په دې صورت كي به دوی دواړه نفع واپس كوي او نه به يې اخلي؛ ځكه چي د څه مال يا ټوله مال د هلاكېدلو په وجه به اوس ربُ المال ته په پوره توګه رأسُ المال نه رسيږي، حال دا چي ربُ المال ته د پوره رأسُ المال له رسېدلو څخه مخكي د نفعي تقسيم صحيح نه دی؛ ځكه چي رأسُ المال اصل دی او د هغه پوره كول (تكميل) ضروري دي، نو ځكه كه چيري د نفعي مال د دواړو سره موجود وي، نو دواړه به هغه واپس كوي، او كه له دواړو څخه خرچ سوی وي، نو مضارب به د هغه ضمان (تاوان) وركوي؛ ځكه چي دا مال هغه د خپل ځان لپاره اخيستی دی، او ربُ المال كه هغه واپس كړي، نو صحيح ده، كنې د هغه په اندازه مال به له رأسُ المال څخه ايستل كيږي او مابقي مال به رأسُ المال ګرځول كيږي.

او كه چيري د نفعي تر واپس كولو وروسته له هغه څخه څه مال زائد پاته سي، نو هغه د نفعي مال دی او د مضارب او ربُ المال په مينځ كي مشترك دی كوم چي به د دوی د شرط مطابق د دوی په مينځ كي تقسيمول كيږي. او كه څه مال كم سي، نو په دې صورت كي هم پر مضارب ضمان نه لازميږي؛ ځكه چي هغه امين دی، ولا ضمان على الأمين.

(۳)... كه چيري مضارب او ربُ المال د نفعي له تقسيمولو او د عقد (مضاربت) له فسخ كولو څخه وروسته دويم وار عقد وكړي او په دويم عقد كي مال هلاك سي، نو كه چيري په دويم عقد (دويم مضاربت) كي نفع سوې وي، نو ښكاره خبره ده چي دوی دواړه به هغه نفع واپس كوي، لېكن كه په دويم عقد كي نفع نه وي سوې، نو په اول عقد سره حاصل شُده نفع به دوی نه واپس كوي؛ ځكه چي د فسخ كولو په وجه اول عقد پوره سو او دويم عقد (دويم مضاربت) نوی عقد دی، نو ځكه د دويم عقد كمي به د اول عقد والا په نفعي سره نه پوره كول كيږي. د دې مثال دا دی لكه ربُ المال چي مضاربت ته له مال مضاربت څخه ماسوا بل مال وركړی وي او بيا مال مضاربت هلاك او ضايع سي، نو دا هلاكت (ضياع) به په هغه بل مال سره نه پوره كول كيږي، همداسي به دلته هم په دويم عقد كي د هلاك سوي مال تلافي د اول عقد په حاصل شُده نفعي سره نه كيږي.



# فَصْلٌ فِيْمَا يَفْعَلُهُ الْمُضَارِبُ

(دا) فصل په (بيان د) هغه امورو کي دی کوم چي يې مضارب

کوي.

## مالِ مضاربت په نغدو یا په قرض سره خرڅول

قَالَ: وَيَجُوزُ لِلْمُضَارِبِ أَنْ يَبِيعَ بِالنَّقْدِ وَالنَّسِيئَةِ فرمايي: او جائز دي د مضارب لپاره چي په نغدو يا په قرض سره خرڅول وکړي لِأَنَّ كُلَّ ذَلِكَ مِنْ صَنِيعِ التُّجَّارِ ځکه چي دا ټوله د تاجرانو له اعمالو څخه دي فَيَنْتَظِمُهُ إِطْلَاقُ الْعَقْدِ نو ځکه مطلق عقد به نقد او قرض دواړو لره شامليږي إِلَّا إِذَا بَاعَ إِلَى أَجَلٍ لَا يَبِيعُ التُّجَّارُ إِلَيْهِ مګر دا چي مضارب تر دومره اوږد مودته [په قرض] خرڅول وکړي چي تر هغه مودته تاجران خرڅول نه کوي [يعني تر هغومره وخته پوري تجارت او کاروبار والا خلک چا ته قرض نه ورکوي] لِأَنَّ لَهُ الْأَمْرَ الْعَامَّ الْمَعْرُوفَ بَيْنَ النَّاسِ ځکه چي مضارب ته د هغه شي [او د هغه کار] اختيار سته کوم چي د خلکو [تجارانو] په مينځ کي عام او مشهوره [عادت] وي وَلِهَذَا كَانَ لَهُ أَنْ يَشْتَرِيَ دَابَّةً لِلرُّكُوبِ وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَشْتَرِيَ سَفِينَةً لِلرُّكُوبِ او په همدې وجه هغه ته د سپرېدلو لپاره د څاروي رانيولو اختيار سته [لېکن] هغه ته د سپرېدلو لپاره د کښتۍ رانيولو اختيار نسته وَلَهُ أَنْ يَسْتَكْرِيَهَا اعْتِبَارًا لِعَادَةِ التُّجَّارِ [خو] د تاجرانو د عادت په اعتبار کولو سره هغه ته په کرايه د کښتۍ اخيستلو اختيار سته وَلَهُ أَنْ يَأْذَنَ لِعَبْدِ الْمُضَارَبَةِ فِي التِّجَارَةِ فِي الرِّوَايَةِ الْمَشْهُورَةِ [همدارنګه] په مشهوره روايت کي مضارب ته دا اختيار هم سته چي د مضاربت غلام ته د تجارت [کاروبار کولو] اجازت ورکړي لِأَنَّهُ مِنْ صَنِيعِ التُّجَّارِ ځکه چي دا [هم] د تاجرانو له اعمالو څخه دي وَلَوْ بَاعَ بِالنَّقْدِ ثُمَّ أَخَّرَ الثَّمَنَ او که چيري مضارب په نغدو سره [يو شی] رانيسي بيا ثمن وځنډوي [يعني بيا مشتري ته مهلت ورکړي چي ثمن دومره وخت وروسته راوړه!] جَازَ بِالْإِجْمَاعِ نو دا بالاتفاق جائز دي أَمَّا عِنْدَهُمَا فَلِأَنَّ الْوَكِيلَ يَمْلِكُ ذَلِكَ د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز خو ځکه [دا جائز دي] چي وکيل د تاخير

[ځنډولو] ملکيت لري فَالْمُضَارِبُ أَوْلىٰ نو ځکه مضارب به په درجه اولیٰ د هغه ملکيت لري إِلَّا أَنَّ الْمُضَارِبَ لَا يَضْمَنُ لېکن مضارب نه ضامن کيږي لِأَنَّ لَهُ أَنْ يُقَايِلَ ثُمَّ يَبِيعَ نَسِيئَةً ځکه چي مضارب ته دا اختيار [هم] سته چي اقاله وکړي [بيع فسخ کړي] بيا هغه په قرض خرڅ کړي وَلَا كَذٰلِكَ الْوَكِيلُ او وکيل داسي نه دی لِأَنَّهُ لَا يَمْلِكُ ذٰلِكَ ځکه چي هغه د دې ملکيت [اختيار] نه لري وَأَمَّا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ فَلِأَنَّهُ يَمْلِكُ الْإِقَالَةَ ثُمَّ الْبَيْعَ بِالنَّسَاءِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز ځکه [هغه جائز دي] چي مضارب د اقالې ملکيت هم لري او بيا [تر هغه وروسته] په قرض د خرڅولو ملکيت هم لري بِخِلَافِ الْوَكِيلِ په خلاف د وکيل لِأَنَّهُ لَا يَمْلِكُ الْإِقَالَةَ ځکه چي هغه د اقالې ملکيت نه لري.

**اللغات**: ﴿نسيئة﴾ تاخير، ځنډول، مراد ځني په قرض ورکول دي، ﴿صنيع﴾ هر عمل، کار، ﴿دابة﴾ څاروی، ﴿سفينة﴾ کښتي، ﴿يملك﴾ د ضرب د باب مضارع ده: مالک کېدل، ملکيت لرل، ﴿إقالة﴾ بيع فسخ کول (سودا ماتول).

**تشريح: صورت د مسئلې**: دا دی چي د مضارب لپاره په مالِ مضاربت سره په قرض او په نغدو خرڅول دواړه جائز دي او همدا حکم د رانيولو دی (لنډه دا چي څرنګه هغه مناسب وګڼي هغسي خرڅول او رانيول به کوي، مثلاً که هغه له مال مضاربت څخه يو شی په قرض خرڅول مناسب وګڼي، نو په قرض به يې خرڅوي)؛ ځکه چي تاجران او کاروبار والا خلک په قرض سره هم معامله کوي او په نغدو سره هم معامله کوي، نو ځکه په مطلق مضاربت کي به د نقد او قرض دواړو کاروبار شامليږي، لېکن د ډېر زيات مودت مثلاً د شلو کالو لپاره د قرض ورکولو (قرضاً خرڅولو) اجازت نسته؛ ځکه چي د ډېر زيات مودت لپاره کاروباري حضرات هيڅا ته قرض نه ورکوي.

لأن له الأمر العام المعروف إلخ: د دې تشريح واضحه ده.

ولو باع بالنقد ثم أخر إلخ: فرمايي چي که مضارب پر مشتري په نغدو يو شی خرڅ کړي بيا مشتري ته د ثمن په هکله مهلت ورکړي، نو د هغه لپاره دا تاخير او مهلت ورکول جائز دي، او دا جواز د طرفينو او امام ابو يوسف رَحِمَهُمُ الله په نېز برابر دی؛ د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د دې جواز وجه دا ده چي وکيل بالبيع د ثمن د تاخير ملکيت لري، نو مضارب به په درجه اولیٰ د هغه ملکيت لري؛ ځکه چي مضارب په نفع کي د ربُ المال سره شريک کيږي، لېکن وکيل د مؤکل سره په نفع کي نه شريک کيږي، او د مضارب اختيارات د وکيل له اختياراتو څخه زيات وي، همدارنګه که مضارب تر ډېر

مودته ثمن مؤخر کړي (يعني مشتري ته ډېر مهلت ورکړي)، نو هغه نه ضامن کيږي. لېکن وکيل ضامن کيږي، همدارنګه مضارب ته دا اختيار سته چي بيع فسخ کړي او دوباره شی په قرض خرڅ کړي. حالانکي وکيل ته دا اختيار نه وي، نو ځکه په دې حوالو سره په مضارب او وکيل کي فرق سته. لهذا کله چي وکيل هم د ثمن د تاخير اختيار لري کوم چي په ډېرو اُمورو کي له مضارب څخه په رتبه کي کم دی، نو مضارب به په درجه اولیٰ او خامخا د هغه اختيار لري.

واماعند أبي يوسف إلخ: او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د تاخير د جواز وجه دا ده چي مضارب ته دا اختيار سته چي بيع فسخ کړي او دوباره شی په قرض خرڅ کړي، لهذا کله چي هغه ته دا اختيار سته چي ابتداءً په قرض شی خرڅ کړي، نو ښکاره خبره ده چي هغه ته به دا اختيار هم وي چي په نغدو د شي له خرڅولو څخه وروسته د ثمن په هکله مهلت ورکړي او ثمن مؤخر کړي؛ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز وکيل د اقالې يعني د بيع فسخ کولو ملکيت نه لري، نو ځکه هغه ته به د تاخير ملکيت او اختيار هم نه وي. (احسن الهدايه)

## د مضارب لپاره حواله قبلول او داسي نورو کارونه کول (حکم او تفصيل)

وَلَوِاحْتَالَ بِالثَّمَنِ عَلَى الْأَيْسَرِ أَوِ الْأَعْسَرِ او که چيري مضارب پر يو مالدار يا غريب کس د ثمن حواله کول قبول کړي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّ الْحَوَالَةَ مِنْ عَادَةِ التُّجَّارِ ځکه چي حواله کول د تاجرانو له عادت څخه دي بِخِلَافِ الْوَصِيِّ يَحْتَالُ بِمَالِ الْيَتِيمِ د دې په خلاف که وصي د يتيم د مال حواله قبوله کړي حَيْثُ يُعْتَبَرُ فِيهِ الْأَنْظَرُ نو په هغه کي به د شفقت [او مصلحت] اعتبار کيږي لِأَنَّ تَصَرُّفَهُ مُقَيَّدٌ بِشَرْطِ النَّظَرِ ځکه چي د وصي تصرف په شفقت [او مصلحت] سره مقيد دی [او پر غريب کس د حواله په قبلولو کي هيڅ مصلحت او ښېګڼه نسته. نو ځکه هغه به پر غريب کس د يتيم د مال حواله نه قبلوي] وَالْأَصْلُ أَنَّ مَا يَفْعَلُهُ الْمُضَارِبُ ثَلَاثَةُ أَنْوَاعٍ او اصل دا دی چي کوم افعال [کارونه] چي مضارب کوي هغه پر درې قسمه دي نَوْعٌ يَمْلِكُهُ بِمُطْلَقِ الْمُضَارَبَةِ [۱] يو قسم هغه دي چي مضارب په مطلق مضاربت سره د هغه مالک کيږي وَهُوَ مَا يَكُونُ مِنْ بَابِ الْمُضَارَبَةِ وَتَوَابِعِهَا او دا هغه افعال دي کوم چي د مضاربت له بابه او د هغه له توابعو څخه دي وَهُوَ مَا ذَكَرْنَا او دا هغه دي کوم چي موږ ذکر کړه وَمِنْ جملته التَّوْكِيلُ بِالْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ چي د هغه له جملې څخه د خرڅولو او رانيولو وکيل جوړول دي

لِلْحَاجَةِ إِلَيْهِ ځکه چي هغه ته ضرورت سته وَالرَّهْنُ وَالِارْتِهَانُ او مال په رهن [په ګرو] ورکول او په رهن اخيستل دي لِأَنَّهُ إِيفَاءٌ وَاسْتِيفَاءٌ ځکه چي دا اداء کول او ترلاسه کول [اخيستل] دي وَالْإِجَارَةُ وَالِاسْتِئْجَارُ او مال په اجاره [په کرايه] ورکول او په اجاره اخيستل دي وَالْإِيدَاعُ وَالْإِبْضَاعُ وَالْمُسَافَرَةُ [همدارنګه د هغه له جملې څخه] مال په امانت ورکول، په بضاعت ورکول او [د مال سره] سفر کول دي [يعني مال په سفر وړل او بل ښار ته نقل کول] عَلَىٰ مَا ذَكَرْنَاهُ مِنْ قَبْلُ لکه مخکي چي موږ دا ذکر کړه

وَنَوْعٌ لَا يَمْلِكُهُ بِمُطْلَقِ الْعَقْدِ وَيَمْلِكُهُ إِذَا قِيلَ لَهُ: اِعْمَلْ بِرَأْيِكَ [۲] او دويم قسم هغه [افعال] دي چي مضارب په مطلق عقد [مضاربت] سره د هغه نه مالک کيږي بلکي په هغه صورت کي يې مالک کيږي کله چي [د ربُ المال له طرفه] هغه ته وويل سي: ته په خپل رايه عمل کوه! [يعني د خپل رضا او خوښې مطابق کار کوه!] وَهُوَ مَا يَحْتَمِلُ أَنْ يَلْحَقَ بِهِ او دا هغه افعال دي کوم چي د اول قسم سره د لاحق کېدلو احتمال لري فَيَلْحَقَ عِنْدَ وُجُودِ الدَّلَالَةِ نو ځکه د يو دلالت د موجودېدلو په وخت کي به هغوی د اول قسم سره لاحقول کيږي وَذٰلِكَ مِثْلُ دَفْعِ الْمَالِ مُضَارَبَةً أَوْ شِرْكَةً إِلَىٰ غَيْرِهِ وَخَلْطِ مَالِ الْمُضَارَبَةِ بِمَالِهِ أَوْ بِمَالِ غَيْرِهِ او دا مثلاً لکه مال بل چا ته د مضاربت يا شرکت په توګه ورکول او [لکه] د مضاربت مال د خپل مال يا د بل چا د مال سره ګډول لِأَنَّ رَبَّ الْمَالِ رَضِيَ بِشِرْكَتِهِ لَا بِشِرْكَةِ غَيْرِهِ ځکه چي ربُ المال صرف د مضارب په شرکت راضي دی، د بل چا په شرکت راضي نه دی وَهُوَ أَمْرٌ عَارِضٌ لَا يَتَوَقَّفُ عَلَيْهِ التِّجَارَةُ او دا يو عارضي امر دی چي پر هغه تجارت نه موقوف کيږي فَلَا يَدْخُلُ تَحْتَ مُطْلَقِ الْعَقْدِ نو ځکه دا افعال به تر عقد مضاربت لاندي نه داخليږي وَلٰكِنَّهُ جِهَةٌ فِي التَّثْمِيرِ ليکن څرنګه چي دا [يعني له مذکوره افعالو څخه هر فعل] هم د مال زياتولو [نفع حاصلولو] يو طريقه ده فَمِنْ هٰذَا الْوَجْهِ يُوَافِقُهُ نو له دې وجهي دا هم د عقد مضاربت سره موافق دي فَيَدْخُلُ فِيهِ عِنْدَ وُجُودِ الدَّلَالَةِ نو ځکه د يو دلالت د موجودېدو په وخت کي به دا په مضاربت کي داخليږي

وَقَوْلُهُ: اعْمَلْ بِرَأْيِكَ دَلَالَةٌ عَلَىٰ ذٰلِكَ او دا ربُ المال دا قول: "اعمل برأيك" پر همدې دلالت دی [يعني په عقد مضاربت کي د مذکوره افعالو پر داخلېدلو دليل دی] وَنَوْعٌ لَا يَمْلِكُهُ بِمُطْلَقِ الْعَقْدِ وَلَا بِقَوْلِهِ: اعْمَلْ

بِرَأْيِكَ إِلَّا أَنْ يَنُصَّ عَلَيْهِ رَبُّ الْمَالِ [۳] او درېيم قسم هغه [افعال] دي چي مضارب نه په مطلق عقد سره د هغه مالک كيږي او نه د ربُ المال په دې قول: "اعمل برأيك" سره د هغه مالک كيږي، مگر دا چي ربُ المال په وضاحت سره د هغه [افعالو] صراحت وکړي وَهُوَ الِاسْتِدَانَةُ او هغه په قرض اخيستل دي [يعني له هغه افعالو څخه يو فعل استدانت دی] وَهُوَ أَنْ يَشْتَرِيَ بِالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ بَعْدَمَا اشْتَرَى بِرَأْسِ الْمَالِ السِّلْعَةَ وَمَا أَشْبَهَ ذٰلِكَ او د هغه صورت دا دی چي مضارب په رأسُ المال سره تر سامان رانيولو وروسته په دراهمو او دنانيرو يا د هغوی په مثل شي سره رانيول وکړي لِأَنَّهُ يَصِيرُ الْمَالُ زَائِدًا عَلٰى مَا انْعَقَدَ عَلَيْهِ الْمُضَارَبَةُ ځکه چي [په دې صورت کې] مالِ مضاربت تر [خپل] هغه مقدار زائد گرځي پر کوم چي مضاربت منعقد سوی دی فَلَا يَرْضٰى بِهِ وَلَا يَشْغَلُ ذِمَّتَهُ بِالدَّيْنِ نو ځکه په هغه [زائد] به ربُ المال راضي نه وي او نه هغه خپله ذمه په قرض سره مشغوله کوي [يعني په دې نه راضي کيږي چي پر هغه قرض باندي سي] وَلَوْ أَذِنَ لَهُ رَبُّ الْمَالِ بِالِاسْتِدَانَةِ او که چيري ربُ المال مضارب ته د قرض اخيستلو اجازت ورکړی وي صَارَ الْمُشْتَرٰى بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ بِمَنْزِلَةِ شَرِكَةِ الْوُجُوهِ نو هغه زائد رانيول سوی شی د شرکت وجود په څېر د دوی په مينځ کي مشترک گرځي وَأَخْذُ السَّفَاتِجِ او سفاتج اخيستل [هم دا حکم لري] لِأَنَّهُ نَوْعٌ مِنَ الِاسْتِدَانَةِ ځکه چي هغه [هم] د قرض اخيستلو يو قسم دی وَكَذَا إِعْطَاؤُهَا او همدارنګه سفاتج ورکول هم دي لِأَنَّهُ إِقْرَاضٌ ځکه چي هغه په قرض ورکول دي وَالْعِتْقُ بِمَالٍ وَبِغَيْرِ مَالٍ وَالْكِتَابَةُ او په مال سره يا بغير له ماله آزادول او مکاتب جوړول [هم له هغه افعالو څخه دي] لِأَنَّهُ لَيْسَ بِتِجَارَةٍ ځکه چي دا تجارت نه دي [يعني د تجارت له اعمالو څخه نه دي] وَالْإِقْرَاضُ وَالْهِبَةُ وَالصَّدَقَةُ او [همدارنګه] قرض ورکول، هبه کول او صدقه کول [هم له هغه افعالو څخه دي. يعني د ربُ المال له صراحت څخه بغير مضارب د هغوی نه مالک کيږي] لِأَنَّهُ تَبَرُّعٌ مَحْضٌ ځکه چي دا ټوله محض احسان کول دي [يعني د تبرع او احسان له قبيلې څخه دي، د تجارت له اعمالو څخه نه دي].

**اللغات**: ﴿احتيال﴾ د افتعال د باب ماضي ده: حواله قبلول. ﴿أيسر﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: مالدار، شتمن. ﴿أعسر﴾ مخکنۍ صيغه ده: غريب، تنګلاسی. ﴿وصي﴾ چا ته چي مړي وصيت

کړي وي، چا ته چي د يو کار وصيت سوی وي. ﴿إيفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: اداء کول (پوره اداء کول)، ﴿استيفاء﴾ د استفعال مصدر دی: اخيستل (پوره اخيستل)، تر لاسه کول. ﴿ارتهان﴾ د افتعال مصدر دی: په رهن اخيستل، په ګرو (په ګروي) اخيستل. ﴿إجارة﴾ د افعال د باب مصدر دی: په اُجرت او مزدوري ورکول، په کرايه ورکول. ﴿إيداع﴾ مخکنی صيغه ده: په امانت ايښوول، امانتاً ورکول. ﴿إبضاع﴾ مخکنی صيغه ده: بضاعتاً ورکول چي يو څوک بل چا ته ووايي: ته! په کار کي مرسته او ښه راسره وکړه!، يعني په مال سره کاروبار ته وکړه او نفع به ټوله زما وي (تفصيلي تعريف يې مخکي تېر سو). ﴿يلحق﴾ د سمع مضارع ده: لاحق کېدل، ور سره يو ځای کېدل، متصل کېدل. ﴿تثمير﴾ د تفعيل مصدر دی: زياتول، اضافه کول. ﴿سلعة﴾ سامان. ﴿إقراض﴾ د افعال مصدر دی: په قرض ورکول (په پور ورکول). ﴿تبرع﴾ د تفعّل مصدر دی: نېکي او احسان کول، بلا عوضه (مفت) يو شی ورکول. ﴿سَفَاتِج﴾ جمع د سُفْتَجَةٌ ده (بضم السين وفتح التاء). د "سفاتج" صورت دا دی چي مثلاً د خالد دوکان او کاروبار په کندهار کي وي او هغه له حامد څخه په هلمند کي پر دې شرط قرض واخلي چي زه تا ته په کندهار کي دغه قرض درکوم (يا ته ورسه! په کندهار کي زما له دوکان څخه دا قرض واخله!)، او په دې توګه هغه د لاري له خطراتو څخه خپل مال وساتي (يعني د خالد مطلب دا وي چي که زه له کندهاره د ځان سره هلمند ته مال يوسم نو شايد غلا به سي، نو په دې غرض سره هغه په هلمند کي له حامد څخه قرض واخلي)، د سفاتج نور صورتونه هم سته، او د دې پوره تحقيق د "کتاب الحواله" په آخري عبارت کي ذکر سو، دلته همدا صورت مراد دی.

**تشريح**: په دغه عبارت کي څو مسئلې ذکر سوي دي چي له هغوی څخه اُوله مسئله دا ده چي که مضارب پر يو سړي له مال مضاربت څخه يو شی خرڅ کړي او هغه سړی د ثمن اداء کول پر بل چا حواله کړي (يعني مضارب ته ووايي چي ته د دې شي ثمن [پيسې] له زيد څخه واخله!) او مضارب د هغه حواله قبوله کړي (يعني د هغه مذکوره خبره ومني او له زيد څخه د ثمن اخيستلو اراده وکړي)، نو دا جائز او صحيح دي. برابره ده محتال عليه (زيد) مالدار وي، که غريب وي؛ ځکه چي حواله قبلول هم د تاجرانو له کړنو څخه دي. ها! که چيري يو وصي د يتيم د مال حواله قبوله کړي، نو په دې صورت کي به د شفقت او

مصلحت خيال ساتل کيږي، لهذا دا حواله که چيري مبني بر شفقت او مصلحت وي، نو وصي به هغه قبلوي، کنې نه به يې قبلوي.

والأصل أن ما يفعله إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله له دې ځايه د مضارب د افعالو او اختياراتو په هکله يوه قاعده ذکر کوي، فرمايي مضارب ته چې د کومو افعالو د کولو يا نه کولو اختيار او اجازت سته، هغه پر درې قسمه دي: ① ... اول قسم هغه افعال دي چې مضارب په نفسِ عقد سره د هغوی د کولو او اداء کولو مالک کيږي، مثلاً په قرض او نغدو خرڅول، د ثمن اخيستلو په هکله مهلت ورکول او داسې نور، دا ټوله شيان له تجارت او د تجارت د اعمالو سره متعلق دي، او يو وخت نه يو وخت په مضاربت کې هغوی ته ضرورت پيښيږي، نو ځکه په نفسِ عقد سره به مضارب د هغوی مالک کيږي.

② ... دويم قسم هغه افعال او اختيارات دي چې په نفسِ عقد سره مضارب د هغوی نه مالک کيږي، بلکې که چيري ربُ المال هغه ته "اِعْمَلْ بِرَأْيِكَ" وواېي او هغه ته د خپل رضا مطابق د کار کولو اختيار او اجازت ورکړي (چې څنګه ستا خوښه وي، هغسې کوه!)، نو بيا مضارب بل چا ته په مضاربت د مال ورکولو او د خپل مال يا د بل چا د مال سره د مال مضاربت ګډولو مستحق کيږي، او څرنګه چې په ګډولو او د بل چا په شريکولو سره په مال کې اضافه ممکن ده، نو ځکه د ربُ المال له طرفه د اختيار حاصلېدلو په صورت کې به مضارب ته د دغو افعالو اختيار حاصليږي.

(۳)... درېيم قسم هغه افعال دي چې مضارب ته د هغوی د کولو اختيار او ملکيت نه په مطلق عقد سره حاصليږي او نه د ربُ المال په "اِعْمَلْ بِرَأْيِكَ" ويلو سره، ها! کله چې د ربُ المال له طرفه په صراحت سره هغه ته اجازت حاصل سي، نو بيا هغه د دې لاندې افعالو مالک کيږي:

① ... قرض اخيستل، چې د هغه صورت دا دی چې مضارب په ټوله رأسُ المال سره سامان رانيسي بيا په قرض د دراهمو او دنانيرو يا د بل شي په عوض کې نور سامان رانيسي، نو ښکاره خبره دا چې دا رانيول له رأسُ المال څخه زائد دي او کېدای سي چې ربُ المال به په دې او د دغه زائد رانيولو په وجه پر هغه په قرض لازمېدلو راضي نه وي، نو ځکه دا ټول افعال به هغه وخت مضارب کوي، کله چې د ربُ المال له طرفه هغه ته صريح اجازت حاصل سي، کنې له هغه څخه به بالکل ځان ساتي. ② د سفاتج معامله کول. ③ قرض ورکول. ④ د مال په عوض کې يا بغير له ماله (مُفت) غلام آزادول. ⑤ مکاتب جوړول. ⑥ هبه کول. ⑦ صدقه کول. دا ټوله هغه کارونه دي چې تر څو ربُ المال په

صراحت سره مضارب ته د هغوی د کولو حق او اختيار نه وي ورکړی، تر هغه وخته مضارب ته د هغوی د کولو سوچ کول هم صحيح نه دي، د هغوی ترسره کول خو هلته پرېږده!.

## په مالِ مضاربت سره د غلام او مينځې نکاح کول

قَالَ: وَلَا يُزَوِّجُ عَبْدًا وَلَا أَمَةً مِنْ مَالِ الْمُضَارَبَةِ فرمايي: چې مضارب د مالِ مضاربت د يو غلام او مينځې نکاح نه سي کولای وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ✿ أَنَّهُ يُزَوِّجُ الْأَمَةَ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چې هغه د مينځې نکاح کولای سي لِأَنَّهُ مِنْ بَابِ الِاكْتِسَابِ ځکه چې دا د ګټې له باب څخه دي [يعني دا هم د نفعې او ګټې حاصلولو يو طريقه ده] أَلَا تَرَى أَنَّهُ يَسْتَفِيدُ بِهِ الْمَهْرَ وَسُقُوطَ النَّفَقَةِ آيا ته نه ګورې! چې په دې سره به مضارب د مهر او د نفقې ساقطېدلو فايده حاصله کړي وَلَهُمَا: أَنَّهُ لَيْسَ بِتِجَارَةٍ او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې نکاح تجارت نه دی وَالْعَقْدُ لَا يَتَضَمَّنُ إِلَّا التَّوْكِيلَ بِالتِّجَارَةِ او عقدِ مضاربت صرف د تجارت وکيل جوړولو لره شامليږي وَصَارَ كَالْكِتَابَةِ وَالْإِعْتَاقِ عَلَى مَالٍ لِأَنَّهُ اكْتِسَابٌ او دا د مکاتب جوړولو او د مال په عوض کې د آزادولو په څېر سوه، ځکه چې هغه هم ګټه کول دي وَلَكِنْ لَمَّا لَمْ يَكُنْ تِجَارَةً لېکن څرنګه چې هغه تجارت نه دي [يعني د تجارت له اعمالو څخه نه دي] لَا يَدْخُلُ تَحْتَ الْمُضَارَبَةِ نو ځکه هغه تر مضاربت لاندې نه داخليږي [لکه څرنګه چې مخکې ذکر سوه] فَكَذَا هَذَا نو همداسې به دا هم وي [يعني همداسې به تزويجُ الأمه هم تر مضاربت لاندې نه داخليږي].

**اللغات**: ﴿لا يزوّج﴾ د تفعيل له بابه د نفيِ صيغه ده: نکاح ورکول، نکاح تړل. ﴿اكتساب﴾ د افتعال مصدر دی: ګټه کول، نفع کول. ﴿يستفيد﴾ د استفعال مضارع ده: حاصلول، فايده اخيستل (ترلاسه کول). ﴿لا يتضمن﴾ د تفعّل له بابه د نفي صيغه ده: متضمن کېدل، ضمناً شاملېدل.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که چيري په مالِ مضاربت کې غلام يا مينځه موجوده وي، نو مضارب ته دا اختيار نسته چې هغه غلام ته د نکاح کولو اجازت ورکړي يا په خپله هغه ته نکاح او واده وکړي، يا مينځه ديو چا په نکاح کې ورکړي، همدا د احنافو مشهور، اصح او معتمد قول دی،

✿ القول الراجح: قول الطرفين، كما ذكر في الدر المختار (ج:۴، ص:۵۴۲)، وكذا في مجمع الأنهر (ج:۳، ص:۴۵۱). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۱۱]

لېکن په "نوادر" کې له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا نقل سوی دی چې مضارب هغه مېنځه د مهر په عوض کې په نکاح ورکولای سي؛ ځکه چې دا هم یو ګټه او نفع ده چې په دې فعل سره به مضارب ته مهر حاصل سي او د هغه له غاړې څخه به د مېنځې نفقه ساقطه سي. (نو د "نوادر" د روایت مطابق امام ابو یوسف له طرفینو څخه جلا دی)

د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چې دا ټوله خو موږ تسلیموو، لېکن په عقد مضاربت کې مضارب صرف وکیل بالتجارة (د تجارت او کاروبار کولو وکیل) دی، حال دا چې نکاح کول تجارت نه دي، نو ځکه دا عقد (مضاربت) به دغه کار یعني نکاح لره نه شاملېږي. نو د مېنځې نکاح کول داسي سو لکه د مضاربت غلام مکاتب کول یا د مال په عوض کې غلام آزادول چې په دې سره هم ګټه او نفع حاصلېږي، لېکن څرنګه چې دا تجارت له اعمالو څخه نه دي، نو ځکه په مضاربت کې نه داخلېږي، نو همداسي به مېنځه په نکاح ورکول هم په مضاربت کې نه داخلېږي.

## رب المال ته د کاروبار لپاره مال مضاربت ورکول (حکم او تفصیل)

قَالَ: فَإِنْ دَفَعَ شَيْئًا مِنْ مَالِ الْمُضَارَبَةِ إِلَى رَبِّ الْمَالِ بِضَاعَةً فرمايي: که چیري مضارب له مال مضاربت څخه څه مال بضاعتاً [د کاروبار لپاره] رب المال ته ورکړي فَاشْتَرَى رَبُّ الْمَالِ وَبَاعَ بیا رب المال [په هغه سره] رانیول او خرڅول وکړي فَهُوَ عَلَى الْمُضَارَبَةِ نو هغه [هم] پر مضاربت دی وَقَالَ زُفَرُ*: تَفْسُدُ الْمُضَارَبَةُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې مضاربت فاسدېږي لِأَنَّ رَبَّ الْمَالِ مُتَصَرِّفٌ فِي مَالِ نَفْسِهِ ځکه چې [په دې مضاربت کې] ربُ المال په خپل ذاتي مال کې تصرف کونکی دی فَلَا يَصْلُحُ وَكِيلًا فِيهِ نو ځکه په دې مال کې هغه [ربُ المال] د وکیل جوړېدلو صلاحیت نه لري [ځکه چې څوک په خپل مال کې د بل چا وکیل نه سي جوړېدای] فَيَصِيرُ مُسْتَرِدًّا نو ځکه هغه به واپس اخیستونکی وګرځي وَلِهٰذَا لَا تَصِحُّ إِذَا شَرَطَ الْعَمَلَ عَلَيْهِ ابْتِدَاءً او په همدې وجه په هغه صورت کې مضاربت نه صحیح کېږي کله چې په شروع کې پر ربُ المال د کار شرط ولګول سي وَلَنَا: أَنَّ التَّخْلِيَةَ فِيهِ قَدْ تَمَّتْ او زموږ دلیل دا دی چې [د مال او مضارب ترمېنځ] تخلیه پوره سوه وَصَارَ التَّصَرُّفُ حَقًّا لِلْمُضَارِبِ او تصرف کول د مضارب حق وګرځېدلی فَيَصْلُحُ رَبُّ الْمَالِ وَكِيلًا عَنْهُ فِي التَّصَرُّفِ نو ځکه ربُ المال به په نفس تصرف کې د

---

* القول الراجح: قول الجمهور (أي هو على المضاربة، ولا تفسد المضاربة)، كما ذكر في رد المحتار (ج:۴، ص:۵۴۰)، وكذا في البحر الرائق (ج:۴، ص:۲۶۸). [القول الراجح ج:۲، ص: ۲۱،۲]

مضارب د وکيل جوړېدلو صلاحيت لري وَالْإِبْضَاعُ تَوْكِيلٌ مِنْهُ او بضاعتاً مال ورکول د مضارب له طرفه وکيل جوړول دي فَلَا يَكُونُ اسْتِرْدَادًا نو ځکه دا به واپس اخيستل نه وي بِخِلَافِ شَرْطِ الْعَمَلِ عَلَيْهِ فِي الِابْتِدَاءِ په خلاف پر ربُ المال په شروع کي د کار د شرط لګولو لِأَنَّهُ يَمْنَعُ التَّخْلِيَةَ ځکه چي هغه تخليه منع کوي [يعني له تخليه څخه مانع دي] وَبِخِلَافِ مَا إِذَا دَفَعَ الْمَالَ إِلَى رَبِّ الْمَالِ مُضَارَبَةً او په خلاف د هغه صورت کله چي مضارب و ربُ المال ته د مضاربت په توګه مال ورکړی وي حَيْثُ لَا يَصِحُّ نو هغه [دويم مضاربت] نه صحيح کيږي لِأَنَّ الْمُضَارَبَةَ تَنْعَقِدُ شَرِكَةً عَلَى مَالِ رَبِّ الْمَالِ وَعَمَلِ الْمُضَارِبِ ځکه چي مضاربت د ربُ المال پر مال او د مضارب پر عمل د شرکت په توګه واقع کيږي [يعني د ربُ المال د مال او د مضارب د عمل دواړو په يو ځای کېدلو سره په مشترکه توګه مضاربت منعقد کيږي] وَلَا مَالَ هٰهُنَا او دلته [په دويم مضاربت کي] مال نسته فَلَوْ جَوَّزْنَاهُ او که چيري موږ دا جائز وګرځوو يُؤَدِّي إِلَى قَلْبِ الْمَوْضُوعِ نو هغه به د موضوع اوښتلو [چپه کېدلو] سبب وګرځي وَإِذَا لَمْ يَصِحَّ او کله چي دويم عقدِ مضاربت صحيح نه سو بَقِيَ عَمَلُ رَبِّ الْمَالِ بِأَمْرِ الْمُضَارِبِ نو د ربُ المال عمل به د مضارب په حکم سره باقي پاته سي فَلَا تَبْطُلُ بِهِ الْمُضَارَبَةُ الْأُولَى نو ځکه په دې سره به اول مضاربت نه باطليږي.

**اللغات:** ﴿بضاعة﴾ د بضاعت په توګه مال ورکول چي ته په کار کي مرسته او ښه راسره وکړه! يعني په مال سره کاروبار ته وکړه! او نفع به ټوله زما وي، کوم ته چي عقدِ بضاعت وايي. ﴿مُستَرِد﴾ د استفعال اسم فاعل دی: د واپسی طلب کونکی، واپس اخيستونکی. ﴿تخلية﴾ د تفعيل مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي چي د صلې په بدلون سره يې معنیٰ هم بدليږي: آزادول، دوه شيان يا دوه کسان په خپل مينځ کي سره پرېښوول او داسي نور. کله چي د مبيع او داسي نورو سره ذکر سي، نو د "ورسپارلو" معنیٰ ورکوي، يو چا ته يو شی سپارل، يو شی د چا په قبضه کي ورکول او هغه يې قابض ګرځول.

**تشريح: صورت د مسئلي:** دا دی چي مثلاً ادريس مضارب دی او خالد ربُ المال دی، اوس که مضارب يعني ادريس د مرستي غوښتلو او د مضاربت باقي ساتلو په غرض خالد (ربُ المال) ته د کاروبار لپاره څه مال ورکړي او خالد کاروبار وکړي، نو زموږ په نيز دا معامله صحيح ده او خالد چي

څومره نفع حاصله کړي هغه ټوله به په مضاربت کي شامليږي. لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز دا معامله صحيح نه ده او په داسي معامله سره مضاربت فاسديږي؛ ځکه چي په دې کي ربُ المال (خالد) په خپل مال کي تصرف کوي، ځکه مضارب (ادريس) چي هغه ته کوم مال ورکړی دی، هغه د ربُ المال خپل مال دی، او انسان چي کله په خپل مال کي تصرف کوي، نو هغه اصيل وي، وکيل نه وي؛ نو ځکه د مضارب له طرفه ربُ المال ته مال ورکول په حقيقت کي ربُ المال ته مال مضاربت واپس کول دي او د ربُ المال لپاره د هغه اخيستل د مال مضاربت واپس اخيستل دي، او د مال مضاربت په واپس اخيستلو سره مضاربت فاسديږي، نو ځکه دلته به هم مضاربت فاسديږي. لکه څرنګه چي د عقد مضاربت په شروع کي پر ربُ المال د کار په شرط لګولو سره مضاربت فاسديږي.

ولنا إلخ: زموږ دليل دا دی چي په دې مسئله کي ربُ المال مخکي لا مضارب ته مال سپارلی او له هغه څخه جلا سوی دی او مضاربت تام او پوره سوی دی او اوس په دې مال کي مضارب ته د تجارت سره متعلق هر ډول تصرف او اختيار حاصل سوی دی، او څرنګه چي مضارب د همدې تجارت او کاروبار لپاره ربُ المال ته دا مال ورکړی دی، نو ځکه ربُ المال به د مضارب وکيل وي، او څرنګه چي اوس ربُ المال د مضارب په حق کي اجنبي ګرځېدلی دی، نو ځکه د مضارب له طرفه به د هغه وکيل جوړېدل صحيح وي او په دې سره به د مضاربت پر صحت هيڅ اثر نه لوېږي. د دې په خلاف که چيري په شروع کي پر ربُ المال د کار کولو شرط ولګول سي (يعني چي تر اوسه ربُ المال و مضارب ته مال نه وي سپارلی، په هغه وخت کي د کار شرط پر ولګول سي)، نو دا شرط به له تخليه (مال ورسپارلو) څخه مانع وي، نو ځکه په دې صورت کي به عقد مضاربت فاسديږي. لنډه دا چي يو ابتداءً پر ربُ المال د کار شرط لګول دي او بل انتهاءً (يعني مضارب ته له مال ورسپارلو او مضاربت پوره کېدلو څخه وروسته) پر ربُ المال د کار شرط لګول دي، او په دې دواړو کي ښکاره فرق دی، نو ځکه يو پر بل قياسول صحيح نه دي.

وبخلاف ما إذا دفع إلخ: د دې حاصل دا دی چي که په پورتنۍ مسئله کي مضارب و ربُ المال ته د کاروبار لپاره مال نه وي ورکړی بلکي د مضاربت لپاره يې ورکړی وي، نو مضاربت نه صحيح کيږي يعني دويم مضاربت فاسديږي؛ ځکه چي دلته د ربُ المال له طرفه مال نسته بلکي کوم مال چي مضارب ورکړی دی هغه په خپله د ربُ المال مال دی، اوس که موږ دويم مضاربت جائز وګرځوو، نو په دې سره به قلب موضوع لازم سي يعني موضوع به پر بل مخ واوړي چي مال والا (ربُ المال) به مزدور (مضارب) وګرځي او مزدور به مالک وګرځي، نو ځکه به دا دويم مضاربت فاسديږي، لېکن دا فساد د اول مضاربت وطرف ته نه متعدي کيږي او هغه جائز او صحيح پاتيږي. (احسن الهدايه)

## د مضارب د خرڅو (اخراجاتو) مسئله

قَالَ: وَإِذَا عَمِلَ الْمُضَارِبُ فِي الْمِصْرِ فرمايي: او کله چې مضارب په خپل ښار کې کار [کاروبار] کوي فَلَيْسَتْ نَفَقَتُهُ فِي الْمَالِ نو په مالِ مضاربت کې د هغه نفقه نسته [يعني په دې صورت کې به مضارب له مال مضاربت څخه نفقه (د خوراک او داسې نورو خرڅه) نه اخلي] وَإِنْ سَافَرَ او که چيرې [هغه د کاروبار لپاره] سفر وکړي فَطَعَامُهُ وَشَرَابُهُ وَكِسْوَتُهُ وَرُكُوبُهُ وَمَعْنَاهُ شِرَاءٌ وَكِرَاءٌ فِي الْمَالِ نو د هغه د خوراک او څښاک شيان او د هغه کپړه او سپارلي يعني رانيول او کرايه کول [د څاروي] دا ټوله په مالِ مضاربت کې دي [يعني د دې ټولو خرڅه به له مالِ مضاربت څخه اخلي] وَوَجْهُ الْفَرْقِ أَنَّ النَّفَقَةَ تَجِبُ بِإِزَاءِ الِاحْتِبَاسِ او [په دې دوو صورتونو کې] د فرق وجه دا ده چې نفقه د محبوس کېدلو [او منع کېدلو] په مقابله کې وي كَنَفَقَةِ الْقَاضِي وَنَفَقَةِ الْمَرْأَةِ لکه نفقه د قاضي او نفقه د ښځې [ځکه چې قاضي د عوامو د فيصلو او مصالحو لپاره محبوس وي او هغه له هر شغل څخه ځان منع کړی وي او ښځه د خاوند په کور او قبضه کې د هغه د خدمت لپاره محبوسه وي] وَالْمُضَارِبُ فِي الْمِصْرِ سَاكِنٌ بِالسُّكْنَى الْأَصْلِيِّ حال دا چې مضارب په خپل ښار کې د اصلي سکونت په توګه اوسيږي وَإِذَا سَافَرَ [لېکن] کله چې هغه سفر وکړي صَارَ مَحْبُوسًا بِالْمُضَارَبَةِ نو [بيا] هغه په مضاربت سره محبوس وګرځي [او په مضاربت کې مشغول پاته سي] فَيَسْتَحِقُّ النَّفَقَةَ فِيهِ نو ځکه [په دې وخت کې] به هغه په مالِ مضاربت کې د نفقې مستحق کيږي وَهَذَا بِخِلَافِ الْأَجِيرِ او دا حکم د مزدور په خلاف دی لِأَنَّهُ يَسْتَحِقُّ الْبَدَلَ لَا مَحَالَةَ ځکه چې اجير په هر حال کې د عوض [مزدورۍ] مستحق کيږي فَلَا يَتَضَرَّرُ بِالْإِنْفَاقِ مِنْ مَالِهِ نو ځکه له خپل مال څخه په خرڅه کولو کې به هغه ته ضرر [تاوان] نه رسيږي أَمَّا الْمُضَارِبُ فَلَيْسَ لَهُ إِلَّا الرِّبْحُ پاته سو مضارب نو د هغه لپاره صرف نفع وي وَهُوَ فِي حَيِّزِ التَّرَدُّدِ او نفع هم د شک په ځای کې وي [يعني نفع مشکوکه وي چې آيا حاصله به سي، که نه؟] فَلَوْ أَنْفَقَ مِنْ مَالِهِ لهذا که مضارب له خپل مال څخه خرڅه وکړي يَتَضَرَّرُ بِهِ نو په دې سره به هغه ته ضرر [تاوان] ورسيږي وَبِخِلَافِ الْمُضَارَبَةِ الْفَاسِدَةِ او په خلاف د مضاربت فاسده لِأَنَّهُ أَجِيرٌ ځکه [په مضاربت فاسده کې] مضارب مزدور وي وَبِخِلَافِ الْبِضَاعَةِ

او په خلاف د بضاعت لِأَنَّهُ مُتَبَرِّعٌ ځکه چي [په عقدِ بضاعت کي] هغه احساناً کار کونکی وي.

**اللغات**: ﴿طعام﴾ خوراک (خورکه)، د خوراک شی، كُلُّ مَا يُؤْكَلُ وَبِهِ قِوَامُ الْبَدَنِ. ﴿شراب﴾ هر د څیښلو شی، كُلُّ مَا يُشْرَبُ مِنَ الْمَائِعَاتِ. ﴿كسوة﴾ کپړه، اللِّبَاسُ الَّذِيْ يَسْتَتِرُ بِهِ وَيَتَجَمَّلُ بِهِ. ﴿ركوب﴾ سپرتیا، سپرېدل. ﴿كراء﴾ کرایه. ﴿بإزاء﴾ بمقابله، په مقابله کي. ﴿احتباس﴾ د افتعال د باب مصدر دی: محبوس کېدل (بند پاتېدل)، منع کېدل، راګرځېدل. ﴿أجير﴾ په أجرت (مزدوري) سره کار کونکی، مزدور. ﴿يتضرّر﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: تاواني کېدل، ضرر او نقصان رسېدل. ﴿حيّز﴾ پر وزن د فَيْعِل دی او حَيْز هم ویل کېدای سي: مکان، ځای، ګوښه، یو شي ته څرمه ځای، څنګ. ﴿متبرّع﴾ د تفعّل د باب اسم فاعل دی: احسان کونکی (احساناً او بلا أجرته (د مرستي په توګه) کارکونکی).

**تشريح**: مسئله خو آسانه ده چي که مضارب په خپله علاقه او خپل ښار کي کاروبار کوي، نو هغه به له خپل مال څخه نفقه نه اخلي او که چیري هغه د کاروبار او تجارت لپاره سفر وکړي او له ښاره بهر ولاړ سي، نو بیا به له مال مضاربت څخه نفقه او خرچه اخلي؛ ځکه د نفقې په هکله قاعده او قانون دا دی چي هغه د احتباس او اشتغال یعني د بل چا په کار کي د محبوس او مشغول پاتېدلو په عوض کي واجبیږي، او څرنګه چي په خپل ښار کي احتباس نه ثابتیږي، نو ځکه په خپل ښار کي د کار کولو په بدله کي به نفقه هم نه واجبیږي، لېکن له خپل ښاره د بهر وتلو او سفر کولو په صورت کي احتباس ثابتیږي، نو ځکه په دې صورت کي به مضارب له مال مضاربت څخه د نفقې هم مستحق کیږي. لکه څرنګه چي قاضي هم په دې وجه د نفقې مستحق وي چي هغه د مسلمانانو په کار کي محبوس او مشغول اووسي، نو ځکه له بیتُ المال څخه د هغه لپاره نفقه ټاکل سوې ده، همدارنګه ښځه د خاوند په قبضه کي د هغه د خدماتو او کورنیو چارو لپاره محبوسه وي، نو ځکه د خاوند په مال کي د هغې لپاره نفقه ټاکل سوې ده. همداسي مضارب هم چي تر کومه وخته د مضاربت په کاروبار کي محبوس او مشغول وي، تر هغه وخته به له مال مضاربت څخه د نفقې مستحق وي او خپل مال به نه خرچوي؛ ځکه چي د هغه حق صرف نفع ده او د نفعي حاصلېدل مشکوک وي، لهذا که د مضارب خرچه د هغه په ذاتي مال کي واجب کړی سي، نو هغه ته به تاوان ورسیږي. د دې په خلاف د مزدور نفقه په دې وجه په خپل مال کي واجبیږي چي هغه ته په هر حال کي خپل أجرت او مزدوري

حاصلېږي (او دأجرت حاصلېدل مشکوک نه وي)، لهذا اوس چې هغه کوم څه مال خرچوي (صرفوي)، وروسته به هغه مال د خپل أجرت په کاته کې له مالک څخه اخلي.

بخلاف المضاربة الفاسدة إلخ: فرمايي چې پورتني احکام د مضاربت صحيحه دي، او پاتـه سو مضاربت فاسده، نو په هغه کي به مضارب ته له مال مضاربت څخه نفقه نه ورکول کيـږي؛ ځکه چې هلته مضارب صرف مزدور وي، او مزدور مستحق د نفقې نه وي، همداسي د بضاعت په توګه کاروبار کونکی هم د نفقې مستحق نه دی؛ ځکه چې هغه متبرّع يعني د احسان او مرستي په توګه کاروبار کونکی وي، او نفقه اخيستل د تبرّع د شان خلاف دي. (احسن الهدايه)

## د پورتنی مسئلې نور وضاحت او په خرچو کي به د عُرف لحاظ ساتل کيـږي

قَالَ: وَلَوْ بَقِيَ شَيْءٌ فِي يَدِهِ بَعْدَمَا قَدِمَ مِصْرَهُ فرمايي: او که چيري خپل ښار ته له راتللو څخه وروسته د مضارب په قبضه کي [د نفقې] يو شی پاته سي رَدَّهُ فِي الْمُضَارَبَةِ نو هغه دي په مضاربت کي واپس کړي لِانْتِهَاءِ الِاسْتِحْقَاقِ ځکه چي اوس د هغه حق ختم سو وَلَوْ كَانَ خُرُوجُهُ دُونَ السَّفَرِ فَإِنْ كَانَ بِحَيْثُ يَغْدُو ثُمَّ يَرُوحُ فَيَبِيتُ بِأَهْلِهِ او که د هغه وتل له سفر څخه په کمه مسافه وي [يعني له دريو ورځو څخه پر کمه مسافه ووځي] نو که چيري هغه په دې توګه وي چي سهار ولاړ سي او ماښام ته واپس راسي او په خپل کور کي شپه تېره کړي فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ السُّوقِيِّ فِي الْمِصْرِ نو هغه په ښار کي د بازاري کس په درجه کي دی [کوم چي په بازار کي استوګن وي، نو ځکه هغه به له مال مضاربت څخه نفقه نه اخلي] وَإِنْ كَانَ بِحَيْثُ لَا يَبِيتُ بِأَهْلِهِ او که په داسي توګه وي [يعني پر دومره ليري مسافه ووځي] چي په خپل کور کي شپه نه سي تېرولای فَنَفَقَتُهُ فِي مَالِ الْمُضَارَبَةِ نو د هغه نفقه په مضاربت کي ده [يعني په دې صورت کي به له مال مضاربت څخه نفقه او خرچه اخلي] لِأَنَّ خُرُوجَهُ لِلْمُضَارَبَةِ ځکه چي د هغه وتل د مضاربت لپاره دي وَالنَّفَقَةُ هِيَ مَا يُصْرَفُ إِلَى الْحَاجَةِ الرَّاتِبَةِ او نفقه هغه ده کوم چي د دائمي ضرورت وطرف ته ګرځول کيـږي [په بله وينا: او نفقه هغه خرچه ته وايي کوم چي په دائمي ضروررياتو کي صرفول کيږي (يعني هغه ضروريات کوم چي هره ورځ او هره وخت پيښيږي)، لکه خوراک، څښاک، کالي (جامې) او داسي نور] وَهُوَ مَا ذَكَرْنَا او دا هغه څه دي کوم چي موږ ذکر کړه [يعني طعام، شراب، کسوة او رُکوب] وَمِنْ جُمْلَةِ ذَلِكَ غَسْلُ ثِيَابِهِ وَأُجْرَةُ أَجِيرٍ يَخْدُمُهُ او د هغه [حاجت راتبه] له جملې څخه د مضارب د کپړو پرېولل دي او

[همدارنګه] د هغه مزدور اُجرت هم دی کوم چې د مضارب خدمت کوي [مثلاً د هغه لپاره ډوډۍ او سالن پخوي، يا مثلاً د هغه کالي مينځي] وَعَلَفُ دَابَّةٍ يَرْكَبُهَا وَالدُّهْنُ فِي مَوْضِعٍ يَحْتَاجُ إِلَيْهِ عَادَةً كَالْحِجَازِ او [د حاجت راتبه له جملې څخه] د هغه څاروي خورکه هم ده کوم چې مضارب پر سپريږي او [د هغه له جملې څخه] روغن هم دي، په هغه ځايو کې چې هلته د روغنو استعمالولو [تېل لګولو] عادت وي لکه حجاز [ځکه د حجاز علاقه ګرمه ده چې د هغه اوسېدونکي د بدن نرم او تازه ساتلو لپاره ډول، ډول روغنو ته محتاج وه] وَإِنَّمَا يُطْلَقُ فِي جَمِيعِ ذٰلِكَ بِالْمَعْرُوفِ او په دې ټولو شيانو کې به د قاعدې مطابق [يا معنیٰ دا چې په عُرفي طريقه سره] مضارب ته اجازت ورکول کيږي [أي بقدر دفع الضرورة بلا إسراف] حَتّٰى يَضْمَنَ الْفَضْلَ إِنْ جَاوَزَهُ همدا وجه ده که چيرې مضارب له معروف څخه تجاوز [او اسراف] وکړي نو هغه د زائد مقدار ضامن کيږي اِعْتِبَارًا لِلْمُتَعَارَفِ بَيْنَ التُّجَّارِ د هغه څه په اعتبار کولو سره کوم چې د تاجرانو په مينځ کې مُتعارف [او عادت] دي [يعني کوم چې د تاجرانو په عُرف کې مُتعيّن دي] وَأَمَّا الدَّوَاءُ فَفِي مَالِهِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او پاتې سوه دواء نو په ظاهر روايت کې هغه به د مضارب له مال څخه وي [يعني مضارب به له خپل مال څخه دواء کوي] وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ يَدْخُلُ فِي النَّفَقَةِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چې دواء هم په نفقه کې داخليږي لِأَنَّهُ لِإِصْلَاحِ بَدَنِهِ ځکه چې دواء د بدن د روغتيا لپاره وي وَلَا يَتَمَكَّنُ مِنَ التِّجَارَةِ إِلَّا بِهِ. او د بدن له روغتيا څخه بغير مضارب پر تجارت نه سي قادر کېدای [يعني له روغتيا څخه بغير هغه کاروبار نه سي کولای] فَصَارَ كَالنَّفَقَةِ نو هغه د نفقې په څېر سوه وَجْهُ الظَّاهِرِ أَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى النَّفَقَةِ مَعْلُومَةُ الْوُقُوعِ وَإِلَى الدَّوَاءِ بِعَارِضِ الْمَرَضِ د ظاهر روايت دليل دا دی چې د نفقې ضرورت واقع کېدل معلوم دي او د دواء ضرورت د مرض د عارض په وجه دي [يعني د نفقې ضرورت خو په يقيني توګه معلوم دی حالانکې دواء ته د مرض پېښېدلو په وخت کې ضرورت پېښيږي، کوم چې نامعلوم دي] وَلِهٰذَا كَانَتْ نَفَقَةُ الْمَرْأَةِ عَلَى الزَّوْجِ وَدَوَاؤُهَا فِي مَالِهَا او په همدې وجه د ښځې نفقه پر خاوند وي او د ښځې دواء د هغې له مال څخه وي.

**اللغات:** ﴿قدم﴾ د سمع د باب ماضي ده: راتلل. ﴿يغدو﴾ د نصر د باب مضارع ده: د سهار په وخت کې تلل يا راتلل يا بل کار کول. ﴿يروح﴾ مخکنی صيغه ده: د مانبام په وخت کې راتلل يا تلل. د کثرت استعمال په وجه دا دواړه بابونه د مطلق تګ راتګ لپاره هم استعماليږي، هغه که په هر وخت

کي وي، ﴿السوقي﴾ بازار والا، بازاري، ﴿علف﴾ د څارويو خوړکه يعني وابښه، پروړ او داسي نور، ﴿دهن﴾ تېل، روغن، ﴿راتبة﴾ دائمي، ثابت، همېشنی او ورځنی (هغه ضرورت کوم چي هر وخت او هره ورځ پېښيږي)، او "راتب" مزدوري او تنخا هم ته وايي (کوم چي هره مياشت ورکول کيږي)، دلته اوله معنیٰ مراد ده.

**تشريح:** په دې عبارت کي بيان سوي مسئلې ټوله واضحه او څرګنده دي، خو د خلاصې په توګه تاسي دا په ياد ساتئ! چي د تاجرانو او کاروباري حضراتو په عرف او عادت کي او د هغوی د معاملاتو او ټولني په اعتبار سره چي په کومو ځايو او مواقعو کي د نفقې ضرورت پرېوځي، مضارب هم د شرعي دستور او ضرورت مطابق په هغه ځايو کي د نفقاتو مستحق کيږي، لېکن په هر حال کي به مضارب له اسراف او فضول خرچی څخه لازماً ځان ساتي، کنې د زائد او فضول خرچ کړي سوي مقدار ضمان (تاوان) پر هغه لازميږي.

## د مضارب د خرچ کړل سوي مال بيان

قَالَ: وَإِذَا رَبِحَ فرمايي: او کله چي مضارب نفع [ګټه] وکړي أَخَذَ رَبُّ الْمَالِ مَا أَنْفَقَ مِنْ رَأْسِ الْمَالِ نو ربُ المال دي هغه مال واخلي کوم چي مضارب له رأسُ المال څخه خرچ کړی وي فَإِنْ بَاعَ الْمَتَاعَ مُرَابَحَةً او که چيري مضارب د بيع مرابحه په توګه سامان خرڅ کړی وي حَسَبَ مَا أَنْفَقَ عَلَى الْمَتَاعِ مِنَ الْحُمْلَانِ وَنَحْوِهِ نو مضارب دي هغه خرڅه وشماري [يعني هغه مال او خرچه دي په اصل قيمت کي شامله کړي] کوم چي هغه پر سامان خرچ کړی وي لکه د بارولو [بار وړلو] خرچه او داسي نور وَلَا يَحْتَسِبُ مَا أَنْفَقَ عَلَى نَفْسِهِ او هغه خرچه دي نه شماري کوم چي يې پر خپل ځان خرچ کړې وي لِأَنَّ الْعُرْفَ جَارٍ بِإِلْحَاقِ الْأَوَّلِ دُونَ الثَّانِي ځکه چي عرف د اول په لاحقولو [او شمارلو] سره جاري دی، نه د دويم [يعني عرف دا دی چي صرف د سامان خرچه په اصل قيمت کي شاملول کيږي او شمارل کيږي، نه د خپل ځان خرچه] وَلِأَنَّ الْأَوَّلَ يُوجِبُ زِيَادَةً فِي الْمَالِيَّةِ بِزِيَادَةِ الْقِيمَةِ او ځکه چي اول [اول الحاق] د قيمت زياتولو په حواله سره د ماليت زياتوب ثابتوي وَالثَّانِي لَا يُوجِبُهَا او دويم د ماليت زياتوب نه ثابتوي. [يعني په دويم الحاق سره د ماليت زياتوالی نه حاصليږي]

**اللغات:** ﴿رَبِحَ﴾ د سمع ماضي ده: ګټه کول، نفع حاصلول. ﴿أنفق﴾ د افعال ماضي ده: خرچول، خرچ کول (صرفول)، ﴿رأس المال﴾ اصل مال، د شي هغه قيمت په کوم سره چي شی پروت وي

(مثلاً يو سامان په پنځوس درهمه رانيول سي او د هغه پر بارولو [نقل کولو] لس درهمه ورکول سي. نو د هغه سامان رأسُ المال [اصل قيمت] شپېته درهمه دي). ﴿حَسَبَ﴾ د نصر ماضي ده: شمارل (شمېرل). ﴿لا يحتسب﴾ د افتعال له بابه د نفي صيغه ده، د دې باب هم يوه معنیٰ د "شمارلو" ده (مصباح اللغات). ﴿مرابحة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو شی په خپل اصل قيمت (رأسُ المال) سره پر معلومه نفع خرڅول (مثلاً بائع مشتري ته ووايي چي دا سامان ما ته په شپېته درهمه پروت دی [يعني د دغه سامان اصل قيمت شپېته درهمه دی] او پر هغه زه نور لس درهمه نفع اخچوم او په اويا درهمه يې درکوم). ﴿حُملان﴾ د بارولو او له يوه ځای شخه بل ځای ته د نقل کولو اُجرت او مزدوري، ﴿إلحاق﴾ د افعال مصدر دی: ور سره يو ځای کول، شاملول. ﴿المالية﴾ مال والی، قيمتي حيثيت، مال، ﴿قيمة﴾ نرخ، د شي بازاري قيمت. رېټ.

**تشريح: مسئله:** دا ده چي کله مضارب په مالِ مضاربت سره نفع (ګټه) وکړي، نو مالک يعني ربُ المال دي تر ټولو مخکي له نفعي شخه هغومره مال جلا کړي کوم چي مضارب له رأسُ المال شخه په خپل نفقه او ضروورياتو کي خرڅ کړی وي او ربُ المال دي هغه په خپل رأسُ المال کي شامل کړي، د دې لپاره چي اصل سرمايه پوره سي او بيا چي کومه نفع پاته سي هغه دي په خپل مينځ کي تقسيم کړي؛ ځکه چي د رأسُ المال له پوره کولو شخه مخکي نفع تقسيمول صحيح نه دي.

فإن باع إلخ: او کله چي مضارب د مرابحې په توګه د مضاربت مال (سامان) خرڅول غواړي، نو د هغه مال پر وړلو او نقل کولو چي څومره خرچه سوې وي، هغه خرچه به د مال د اصل قيمت سره يو ځای کول کيږي او داسي به ويل کيږي چي دا مال (سامان) ما ته په دومره قيمت پروت دی (يا مثلاً د مضاربت مال [سامان] کپړه وي، او مضارب هغه په بل چا [دُوبي] پرېولې وي يا په رنګريز يې رنګولې وي، نو د هغه د أجرت خرچه به هم په اصل قيمت [رأسُ المال] کي شاملوي او هغه ټوله به د کپړې قيمت ګرځوي)، او مضارب چي کوم شه پر ځان خرچ کړي وي، هغه به د اصل قيمت سره نه يو ځای کوي (يعني خپل ذاتي خرچه به د اصل قيمت سره نه جمع کوي)، ځکه عُرف او رواج همدا دی چي کوم شه پر سامان (کپړه او داسي نورو) خرچ کړی سي هغه د اصل قيمت سره يو ځای کول کيږي، لېکن خپل ذاتي خرچه د هغه سره نه يو ځای کول کيږي. همدارنګه په دې وجه هم چي د اصل قيمت سره د سامان د خرچې په يو ځای کولو سره د سامان ماليت او قيمت اضافه کيږي، لېکن د هغه سره د ذاتي خرچې په يو ځای کولو سره دا اضافه نه حاصليږي.

## د مالِ مضاربت اضافي خرڅې (اخراجات)

قَالَ: فَإِنْ كَانَ مَعَهُ أَلْفٌ فرمايي: او كه چيري د مضارب سره زر درهمه وي فَاشْتَرَى بِهَا ثِيَابًا فَقَصَّرَهَا أَوْحَمَلَهَا بِمِائَةٍ مِنْ عِنْدِهِ او مضارب په هغه زر درهمو سره كپړې رانيسي بيا مضارب د خپل ځان په سلو درهمو سره هغه كپړې [په بل چا (دوبي)] پرېولي يا هغوی [پريو ښاروي] را بار كړي وَقَدْ قِيلَ لَهُ: اِعْمَلْ بِرَأْيِكَ حال دا چي مضارب ته [د ربُ المال له طرفه] ويل سوي وي: چي ته په خپله رايه [رضا] سره عمل كوه! [يعني څنګه چي ستا خوښه وي هغسي كوه!] فَهُوَ مُتَطَوِّعٌ نو مضارب [د هغه سلو درهمو په خرڅولو كي] متبرّع دی لِأَنَّهُ اِسْتِدَانَةٌ عَلَى رَبِّ الْمَالِ ځكه چي دا پر ربُ المال قرض اخيستل دي فَلَا يَنْتَظِمُهُ هَذَا الْمَقَالُ نو ځكه د ربُ المال دا قول "اعمل برأيك" به دغه فعل لره نه شامليږي عَلَى مَا مَرَّ لكه مخكي چي تېر سوه وَإِنْ صَبَغَهَا أَحْمَرَ او كه مضارب هغه كپړې په سور رنګ سره ورنګوي [يعني سور رنګ وركړي] فَهُوَ شَرِيكٌ بِمَا زَادَ الصَّبْغُ فِيهَا وَلَا يَضْمَنُ نو په رنګولو سره چي په قيمت كي څومره اضافه راسي په هغه مقدار كي مضارب د ربُ المال شريک كيږي لِأَنَّهُ عَيْنُ مَالٍ قَائِمٍ بِهِ ځكه چي رنګ داسي عَين مال دی كوم چي په كپړه سره قائم [موجود] دی حَتَّى إِذَا بِيْعَ تر دې چي كله رنګول سوې كپړه خرڅ كړی سي كَانَ لَهُ حِصَّةُ الصَّبْغِ نو د مضارب لپاره به د رنګ حصه وي [يعني هغه ته به د خپل رنګولو حصه او ثمن وركول كيږي] وَحِصَّةُ الثَّوْبِ الْأَبْيَضِ عَلَى الْمُضَارَبَةِ او د سپيني كپړې [د ثمن] حصه به پر مضاربت وي بِخِلَافِ الْقِصَارَةِ وَالْحَمْلِ په خلاف [په دوبي] سره د پرېوللو او بارولو لِأَنَّهُ لَيْسَ بِعَيْنِ مَالٍ قَائِمٍ بِهِ ځكه چي هغه داسي شی نه دي كوم چي په كپړه سره قائم وي وَلِهَذَا إِذَا فَعَلَهُ الْغَاصِبُ همدا وجه ده كه غاصب داسي كار وكړي ضَاعَ نو د هغه عمل ضايع كيږي وَلَا يَضِيعُ إِذَا صَبَغَ الْمَغْصُوبَ [لېكن] كله چي غاصب و غصب كړی سوي كپړې ته رنګ

ورکړي نو عمل نه ضایع کیږي وَإِذَا صَارَ شَرِيكًا بِالصَّبْغِ لهذا کله چي د رنګولو په وجه مضارب د
ربُ المال شریک سو اِنْتَظَمَهُ قَوْلُهُ: اِعْمَلْ بِرَأْيِكَ انْتِظَامَهُ الْخَلْطَ نو د ربُ المال دا قول "اعمل بر أيك"
به هم داسي هغه [یعني رنګولو] لره شاملیږي لکه څرنګه چي دا قول [د بل چا په مال یا په خپل مال کي د
مالِ مضاربت] ګډولو لره شاملیږي فَلَا يَضْمَنُهُ نو ځکه مضارب به [د رنګولو په وجه] د کپړې نه ضامن
کیږي.


**اللغات**: ﴿قَصَّرَ﴾ د تفعیل د باب ماضي ده، د دې باب څو معناوي دي، کله چي د کپړې او جامې سره
ذکر سي، نو معنیٰ یې ده: جامه (کالي) پرېولل او د پرېوللو پر مهال ټکول او سپینول چي پښوا به
دوبیانو همداسي کالي پرېولل، او اَلْقَصَارَةَ د همدې باب مصدر دی: کالي پرېولل، او القِصَارة (بکسر
القاف): د دوبي پېشه، ﴿حمل﴾ د ضرب ماضي ده: باروول، بار وړل، یعني پورته کول او له یوه ځایه بل
ځای ته وړل، ﴿استدانة﴾ د استفعال مصدر دی: قرض اخیستل، پور غوښتل، ﴿صَبَغَ﴾ د فتح او
نصر د باب ماضي ده، صَبَغَ يَصْبَغُ (او يَصْبُغُ) صَبْغًا: رنګول، رنګ ورکول، ﴿الأبيض﴾ سپینه چي له
رنګ څخه پاکه وي، نا رنګول سوې (نارنګېدلې) کپړه، ﴿الخَلط﴾ د ضرب د باب مصدر دی: سره
ګډول، سره یو ځای کول.

**تشریح**: په دې عبارت کي دوې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که د مضارب سره د مضاربت مال مثلاً زر درهمه موجود وي او مضارب په هغه سره د کپړې یو
څو تانونه رانیسي او بیا مضارب هغه تانونه یو دوبي ته د پرېوللو لپاره ورکړي او هغه یې پرېولي یا
مضارب هغه تانونه له یوه ځایه بل ځای ته نقل کړي او په دې کار کي سل درهمه خرچ سي او ربُ
المال د مضاربت په شروع کي مضارب ته داسي ویلي وي "اِعْمَلْ بِرَأْيِكَ"، نو د دغه سل درهمو په
خرچولو کي هغه متبرع یعني د ربُ المال سره احسان کونکی دی، نو ځکه مضارب به دا له ربُ المال
څخه نه اخلي؛ ځکه چي دا سل درهمه له رأسُ المال څخه زائد دي او پر ربُ المال یو ډول قرض دی،
حالانکي په "اِعْمَلْ بِرَأْيِكَ" کي قرض اخیستل (استدانت) نه داخلیږي لکه مخکي چي ذکر سوه، نو

ځکه دا کار به د مضارب له طرفه تبرّع (احسان) وي او مضارب ته به دا حق او اختيار نه وي چي هغه له ربُ المال څخه واخلي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده چي که مضارب په زر درهمه د کپړې تانونه رانيسي او هغه ته سور رنګ ورکړي، نو د دې رنګ ورکولو په وجه چي د هغوی په قيمت کي څومره اضافه راسي، هغه اضافي مقدار د ربُ المال او مضارب په مينځ کي مشترک ګرځي او د دې فعل (رنګولو) په وجه مضارب نه ضامن کيږي؛ ځکه چي هغه داسي کار کړی دی او داسي شی يې استعمال کړی دی کوم چي په کپړه سره قائم او موجود دی او په دې صورت حال کي د ربُ المال قول "اِعْمَلْ بِرَأْيِكَ" دغه فعل (رنګولو) لره هم شامليږي لکه څرنګه چي د هغه دا قول د مضارب د خلط فعل لره شامليږي يعني چي مضارب خپل مال يا د بل چا مال په مالِ مضاربت ګډ کړي، لهذا کله چي د ربُ المال قول رنګولو لره هم شامليږي. نو ځکه به مضارب له ضمان څخه بري کيږي؛ ځکه دا داسي ده لکه مضارب چي د ربُ المال په حکم سره دا کار کړی وي، او تاسي ته معلومه ده چي کوم کار د ربُ المال په حکم سره وسي، هغه د ضمان مُوجِب نه ګرځي. او څرنګه چي رنګ داسي شی دی کوم چي په کپړه سره قائم او موجود دی، نو په همدې وجه که د مضاوب رنګول سوې کپړه خرڅه کړی سي، نو مضارب ته به د رنګ د حصې ثمن ورکول کيږي او د سپينې (نارنګول سوي) کپړې د ثمن حصه به پر مضاربت وي، مثلاً که د نا رنګول سوي کپړې قيمت زر درهمه وي او له رنګولو څخه وروسته د هغې قيمت دوولس سوه درهمه سي، نو زر درهمه به پر مضاربت پاتيږي او دوه سوه درهمه به د مضارب د مال يعني د هغه د رنګ عوض او قيمت وي، دا حکم خو د رنګولو دی، لېکن په دوبي سره د پرېوللو يا نقل کولو (بارولو) حکم د هغه په خلاف دی؛ ځکه چي له دې کارو څخه يو هم موجود پاتېدونکی شی نه دی. همدا وجه ده که يو غاصب د کپړې تانونه غصب کړي او بيا هغه په يو دوبي سره پرېولي يا يې بل خای ته نقل کړي، نو د هغه اُجرت نه لازميږي، لېکن که غاصب هغوی ته رنګ ورکړي، نو په دې صورت کي به هغه ته د رنګ عوض او قيمت ورکول کيږي.



# فَصْلٌ اٰخَرُ

## (فِيْ بَيَانِ الْمَسَائِلِ الْمُتَفَرِّقَةِ الْمُتَعَلِّقَةِ بِالْمُضَارَبَةِ)

(دا) بل فصل دی (د مضاربت سره د اړوند بېلا بېلو مسئلو په بيان کي)

### په مضاربت کي د نقصان يو صورت

قَالَ: فَإِنْ كَانَ مَعَهُ أَلْفٌ بِالنِّصْفِ [امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي] فرمايي: که چيري د مضارب سره زر درهمه وي د نيمي نفعي پر شرط فَاشْتَرَى بِهَا بَزًّا بيا مضارب په هغه سره پمبيبزه کپړې رانيسي فَبَاعَهُ بِأَلْفَيْنِ او هغه په دوه زر درهمه خرڅي کړي ثُمَّ اشْتَرَى بِالْأَلْفَيْنِ عَبْدًا بيا په دوه زره درهمه يو غلام رانيسي فَلَمْ يَنْقُدْهُمَا حَتَّى ضَاعَا لېکن دوه زر درهمه [د غلام بائع ته] ورنه کړي تر دې چي هغه ضايع سي [يعني د غلام مالک ته له ورکولو څخه مخکي هغه دوه زره درهمه ضايع سي] يَغْرَمُ رَبُّ الْمَالِ أَلْفًا وَخَمْسَمِائَةٍ وَالْمُضَارِبُ خَمْسَمِائَةٍ نو [په دې صورت کي] ربُ المال د يو نيم زر درهمو ضامن کيږي او مضارب د پنځه سوه درهمو ضامن کيږي وَيَكُونُ رُبْعُ الْعَبْدِ لِلْمُضَارِبِ وَثَلَاثَةُ أَرْبَاعِهِ عَلَى الْمُضَارَبَةِ او د غلام يوه ربع [څلورمه حصه] به د مضارب وي او د هغه درې ربعي به پر مضاربت وي

قَالَ: هَذَا الَّذِي ذَكَرَهُ حَاصِلُ الْجَوَابِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: دغه کوم څه چي امام محمد رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي هغه د جواب خلاصه ده لِأَنَّ الثَّمَنَ كُلَّهُ عَلَى الْمُضَارِبِ ځکه چي [په حقيقت کي] ټوله ثمن پر مضارب لازم دي إِذْ هُوَ الْعَاقِدُ ځکه صرف هغه عقد کونکی دی إِلَّا أَنَّ لَهُ حَقَّ الرُّجُوعِ عَلَى رَبِّ الْمَالِ بِأَلْفٍ وَخَمْسِمِائَةٍ لېکن هغه ته پر ربُ المال په يو نيم زر درهمو سره د رجوع کولو اختيار سته [په بله وينا: مګر هغه ته له ربُ المال څخه د يو نيم زر درهمو د اخيستلو حق سته] عَلَى مَا نُبَيِّنُ لکه څرنګه چي دا به موږ بيان کړو فَيَكُونُ عَلَيْهِ فِي الْآخِرَةِ نو په آخر کي به دا ثمن [يعني يو نيم زر درهمه] صرف پر ربُ المال واجب وي وَوَجْهُهُ أَنَّهُ لَمَّا نَضَّ الْمَالُ او د دې دليل دا دی چي کله مال

نقد سو ظَهَرَ الرِّبْحُ نو نفع ښکاره سوه وَهُوَ خَمْسُمِائَةٍ او هغه پنځه سوه درهمه دي فَإِذَا اشْتَرَى بِالْأَلْفَيْنِ عَبْدًا بيا چي کله مضارب په دوه زره درهمه غلام رانيوی صَارَ مُشْتَرِيًا رُبْعَهُ لِنَفْسِهِ وَثَلَاثَةَ أَرْبَاعِهِ لِلْمُضَارَبَةِ نو هغه د خپل ځان لپاره د غلام د يوې ربعي او د مضاربت لپاره د غلام د درېو ربعو رانيونکی سو عَلَى حَسَبِ انْقِسَامِ الْأَلْفَيْنِ د دوه زره درهمو د تقسيمېدلو مطابق وَإِذَا ضَاعَتِ الْأَلْفَانِ او کله چي دوه زره درهمه ضاع سول وَجَبَ عَلَيْهِ الثَّمَنُ نو پر هغه ثمن واجب سو لِمَا بَيَّنَّاهُ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَلَهُ الرُّجُوعُ بِثَلَاثَةِ أَرْبَاعِ الثَّمَنِ عَلَى رَبِّ الْمَالِ او هغه ته پر ربُ المال د ثمن په درېو ربعو سره د رجوع کولو حق سته لِأَنَّهُ وَكِيلٌ مِنْ جِهَتِهِ فِيهِ ځکه چي هغه په دې کي د ربُ المال له طرفه وکيل دی وَيَخْرُجُ نَصِيبُ الْمُضَارِبِ وَهُوَ الرُّبْعُ مِنَ الْمُضَارَبَةِ او د مضارب حصه يعني ربع [څلورمه حصه] به له مضاربت څخه وځي لِأَنَّهُ مَضْمُونٌ عَلَيْهِ ځکه چي دا حصه پر هغه مضمونه ده [يعني د دې ضمان (تاوان) پر هغه لازم دی] وَمَالُ الْمُضَارَبَةِ أَمَانَةٌ حال دا چي مالِ مضاربت امانت دی وَبَيْنَهُمَا مُنَافَاةٌ او په مضمون او امانت مال کي منافات دی وَيَبْقَى ثَلَاثَةُ أَرْبَاعِ الْعَبْدِ عَلَى الْمُضَارَبَةِ او د غلام درې ربعي به پر مضاربت پاتېږي لِأَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ مَا يُنَافِي الْمُضَارَبَةَ ځکه چي په دې کي [يعني پر مضاربت د هغوی په پاتېدلو کي] داسي شی نسته کوم چي د مضاربت منافي وي وَيَكُونُ رَأْسُ الْمَالِ أَلْفَيْنِ وَخَمْسَمِائَةٍ او اوس به رأسُ المال دوه نيم زر درهمه وي لِأَنَّهُ دَفَعَ مَرَّةً أَلْفًا وَمَرَّةً أَلْفًا وَخَمْسَمِائَةٍ ځکه چي ربُ المال يو ځل زر درهمه ورکړه او يو ځل يې يو نيم زر درهمه ورکړه وَلَا يَبِيعُهُ مُرَابَحَةً إِلَّا عَلَى أَلْفَيْنِ او مضارب به پر دوه زره درهمه هغه د مرابحې په توګه خرڅوي [يعني که مضارب پر دې غلام ګټه کوي او د هغه پر قيمت نفع اخلي، نو پر دوه زره درهمو به نفع اخلي، نه له دې څخه پر زيات مقدار] لِأَنَّهُ اشْتَرَاهُ بِأَلْفَيْنِ ځکه چي هغه دا غلام په دوه زر درهمه رانيولی دی وَيَظْهَرُ ذَٰلِكَ فِيمَا إِذَا بِيعَ الْعَبْدُ بِأَرْبَعَةِ آلَافٍ او د دې [مذکوره ټوله بيان] فايده هغه وخت ښکاره کيږي کله چي دا غلام په څلور زره درهمه خرڅ کړی سي فَحِصَّةُ الْمُضَارَبَةِ ثَلَاثَةُ آلَافٍ يَرْفَعُ رَأْسَ الْمَالِ وَيَبْقَى خَمْسُمِائَةٍ رِبْحٌ بَيْنَهُمَا نو د مضاربت حصه به درې زر درهمه وي چي له هغه څخه به د رأسُ

المال حصه [دوه نيم زره درهمه] ايستل کيږي او ما بقي پنځه سوه درهمه به د دوی په مينځ کي نفع پاتيږي [يعني پنځه سوه درهمه به د نفعي وي چي هغه به د دوی په مينځ کي مشترک وي].

**اللغات**: ﴿البَزّ﴾ (بفتح الباء)، د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغه څخه يوه معنیٰ ده: له پمبې څخه جوړي سوي کپړې (کاټن کپړې). ﴿ينقد﴾ د نصر د باب مضارع ده: نغد اداء کول. ورکول. ﴿يغرم﴾ د سمع د باب مضارع ده: ضامن کېدل. ضمان (تاوان) پر لازمېدل. ﴿أرباع﴾ جمع د رُبع ده: څلورمه حصه، يو شی چي څلور حصې کړل سي، نو د هغه هري حصې ته "ربع" وايي؛ ځکه چي هره حصه يې د شي څلورمه حصه کيږي. ثلاثة أرباع: درې څلورمي حصې (د هغه شي درې حصې کوم چي څلور حصې وګرځول سي). ﴿منافاة﴾ تضاد، اختلاف. ﴿مرابحة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: په اصل قيمت (رأسُ المال) سره يو شی پر معلومه نفع خرڅول (مثلا بائع مشتري ته ووايي چي دا غلام ما ته په دوه زر درهمه ولاړ دی او پر هغه زه دوه سوه درهمه نفع اچوم او په دوه ويشت سوه درهمه يې درکوم [په مرابحه کي دا ضروري ده چي بائع به مشتري د شي په اصل قيمت او نفعي دواړو خبروي چي د شي اصل قيمت دومره دی او نفع دومره پر اچوم]).

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دی چي که ربُ المال د نصف نفعي پر شرط مضارب ته زر درهمه ورکړي (چي نفع به زما او ستا په مينځ کي نصف. نصف وي) او مضارب په هغه سره د کپړې تانونه رانيسي او بيا هغه تانونه په دوه زره درهمه خرڅ کړي، نو زر درهمه نفع حاصله سوه چي له هغه څخه پنځه سوه د مضارب دي او پنځه سوه د ربُ المال دي. لېکن بيا له تقسيم څخه مخکي مضارب په هغه دوه زره درهمه له يو چا (مالک) څخه غلام رانيسي او مالک ته له ثمن ورکولو څخه مخکي هغه دوه زره درهمه ضايع سي، نو په دې صورت کي ربُ المال د مالک لپاره د يو نيم زر درهمو ضامن کيږي او مضارب د پنځه سوه درهمو ضامن کيږي (په لنډه توګه دا چي يو نيم زر به ربُ المال د غلام مالک ته ورکوي او پنځه سوه به مضارب ورکوي)؛ ځکه چي له رانيول سوي غلام څخه يوه ربع (يوه حصه) مضارب د خپل ځان لپاره اخيستې ده او ما بقي درې ربعې هغه د مضاربت لپاره اخيستي دي، او څرنګه چي پر هغه خپله حصه مضمونه ده (يعني د خپلي حصې ضمان پر لازم دی)؛ ځکه چي نفع د هغه په ملکيت کي راغلې ده (او مخکي ضمناً ذکر سوه چي پر مضارب هغه وخت د ضياع او هلاکت ضمان لازميږي کله چي هغه ته نفع حاصله سي [يعني په ملکيت کي يې نفع راسي]، ځکه د هغه حق او ملکيت صرف په نفع کي دی او مال مضاربت د هغه په قبضه کي امانت وي. او دلته هغه ته نفع حاصله سوې ده)، لهذا په دې مضاربت کي د هغه خپله حصه د ضمانت په توګه ده حالانکي د مضلوبت والا حصه د امانت په توګه ده، او په امانت او ضمانت کي ښکاره منافات دی، نو ځکه به دواړه نه جمع کيږي او د مضارب حصه يعني د غلام يوه ربع به د

مضارب لپاره خالص ګرځي او درې حصې به پر مضاربت وي. او کوم چې رأسُ المال دی، د هغه مقدار به دوه نيم زر درهمه وي؛ ځکه چې ربُ المال اول مضارب ته زر درهمه ورکړي دي او بيا يې د غلام د ضايع کېدلو په ضمان کې يو نيم زر درهمه اداء کړي دي. خو بيا هم په دې صورت کې د مضارب لپاره له دوه زره درهمو څخه پر زائد مقدار د مرابحې په توګه د دې غلام خرڅول صحيح نه دي؛ ځکه چې هغه په همدې دوه زر درهمه دا غلام رانيولی دی. ها! که چيرې دا غلام په څلور زر درهمه خرڅ کړی سي، نو له هغه څخه به زر درهمه د مضارب وي او ما بقي درې زره درهمه به د مضاربت وي چې له هغه څخه به دوه نيم زره درهمه د رأسُ المال ايستل کيږي او ما بقي پنځه سوه درهمه به د ربُ المال او مضارب دواړو په مينځ کې مشترک وي. (احسن الهدايه)

## د مضاربت کې د مرابحه يو صورت

قَالَ: وَإِنْ كَانَ مَعَهُ أَلْفٌ فرمايي: او که چيرې د مضارب سره زر درهمه وي فَاشْتَرَى رَبُّ الْمَالِ عَبْدًا بِخَمْسِمِائَةٍ وَبَاعَهُ إِيَّاهُ بِأَلْفٍ بيا ربُ المال [له بل څخه] يو غلام رانيسي او پر مضارب هغه په زر درهمه خرڅ کړي فَإِنَّهُ يَبِيعُهُ مُرَابَحَةً عَلَى خَمْسِمِائَةٍ نو مضارب به پر پنځه سوه درهمه هغه د مرابحې په توګه خرڅوي [يعني که مضارب هغه مرابحتاً خرڅول غواړي، نو پر پنځه سوه درهمه به ربح (نفع) اچوي] لِأَنَّ هَذَا الْبَيْعَ مَقْضِيٌّ بِجَوَازِهِ لِتَغَايُرِ الْمَقَاصِدِ دَفْعًا لِلْحَاجَةِ ځکه چې د حاجت دفع کولو په خاطر د مقاصدو مختلف کېدلو په وجه دا بيع جائز ګرځول سوې ده وَإِنْ كَانَ بَيْعَ مِلْكِهِ بِمِلْكِهِ که څه هم دا د خپل ملکيت په عوض کې د خپل ملکيت خرڅول دي [يعني که څه هم په دې بيع کې د ربُ المال ملکيت د هغه د ملکيت په عوض کې خرڅ کړی سوی دی] إِلَّا أَنَّ فِيهِ شُبْهَةَ الْعَدَمِ ليکن په دې کې د عدمِ جواز شبهه سته وَمَبْنَى الْمُرَابَحَةِ عَلَى الْأَمَانَةِ وَالِاحْتِرَازِ عَنْ شُبْهَةِ الْخِيَانَةِ حال دا چې د مرابحې مدار پر امانت او د خيانت له شبهې څخه پر بچ کېدلو دی فَاعْتُبِرَ أَقَلُّ الثَّمَنَيْنِ نو ځکه [په مرابحه کې] به د کمتر ثمن اعتبار کيږي وَلَوِ اشْتَرَى الْمُضَارِبُ عَبْدًا بِأَلْفٍ وَبَاعَهُ مِنْ رَبِّ الْمَالِ بِأَلْفٍ وَمِائَتَيْنِ او که چيرې مضارب د زر درهمو په عوض کې يو غلام رانيسي او پر ربُ المال هغه په دوولس سوه درهمه خرڅ کړي بَاعَهُ مُرَابَحَةً بِأَلْفٍ وَمِائَةٍ نو ربُ المال به مرابحتا هغه په يوولس سوه درهمه خرڅوي لِأَنَّهُ اُعْتُبِرَ عَدَمًا فِي حَقِّ نِصْفِ الرِّبْحِ وَهُوَ نَصِيبُ رَبِّ الْمَالِ ځکه چې دا بيع د نصف نفعې په

حق کي (کوم چي د ربُ المال حصه ده) کالعدم شمارل سوي ده وَقَدْ مَرَّ فِي الْبُيُوعِ او دا بيان په کتاب البيوع کي تېر سوى دى قَالَ: فَإِنْ كَانَ مَعَهُ أَلْفٌ بِالنِّصْفِ فرمايي: که چيري د مضارب سره د نصف نفعي پر شرط زر درهمه وي فَاشْتَرَى بِهَا عَبْدًا قِيمَتُهُ أَلْفَانِ بيا مضارب په هغه داسي غلام رانيسي چي د هغه قيمت دوه زره درهمه وي فَقَتَلَ الْعَبْدُ رَجُلًا خَطَأً بيا هغه غلام خطاءً يو سړی قتل کړي فَثَلَاثَةُ أَرْبَاعِ الْفِدَاءِ عَلَى رَبِّ الْمَالِ وَرُبُعُهُ عَلَى الْمُضَارِبِ نو د فديې درې ربعي پر ربُ المال دي او د هغه يوه ربع پر مضارب ده لِأَنَّ الْفِدَاءَ مُؤْنَةُ الْمِلْكِ ځکه چي فديه د ملکيت [پاتېدلو] خرچه ده فَيَتَقَدَّرُ بِقَدْرِ الْمِلْكِ نو ځکه هغه به د ملکيت په اندازه ټاکل کيږي وَقَدْ كَانَ الْمِلْكُ بَيْنَهُمَا أَرْبَاعًا او دا ملکيت د مضارب او ربُ المال په مينځ کي د څلورو حصو په حساب سره دى [يعني دا ملکيت څلور حصې ګرځول سوى دى چي په هغه کي درې حصې (درې رُبعي) د مضارب دي او يوه حصه د مضارب ده. نو ځکه ضمان (فديه) به هم په دغه حساب سره پر هغو لازم وي] لِأَنَّهُ لَمَّا صَارَ الْمَالُ عَيْنًا وَاحِدًا قِيمَتُهُ أَلْفَانِ ځکه کله چي مال داسي عَين شى وګرځېدى چي د هغه قيمت دوه زره درهمه دي ظَهَرَ الرِّبْحُ نو نفع ښکاره سوه وَهُوَ أَلْفٌ بَيْنَهُمَا وَأَلْفٌ لِرَبِّ الْمَالِ بِرَأْسِ مَالِهِ او هغه زر درهمه [د نفعي په توګه] په دواړو کي مشترک دي او زر درهمه د ربُ المال لپاره د خپل رأسُ المال په بدله کي دي لِأَنَّ قِيمَتَهُ أَلْفَانِ ځکه چي د هغه [يعني د رانيول سوي غلام] قيمت دوه زر درهمه دي وَإِذَا فَدَيَا او کله چي دوى دواړه فديه ورکړي خَرَجَ الْعَبْدُ عَنِ الْمُضَارَبَةِ نو غلام له مضاربت څخه وځي أَمَّا نَصِيبُ الْمُضَارِبِ فَلِمَا بَيَّنَّاهُ کوم چي د مضارب حصه ده نو د هغه دليل په وجه چي هغه موږ بيان کړى وَأَمَّا نَصِيبُ رَبِّ الْمَالِ فَلِقَضَاءِ الْقَاضِي بِانْقِسَامِ الْفِدَاءِ عَلَيْهِمَا او کوم چي د ربُ المال حصه ده نو هغه په دې وجه [خارجيږي] چي قاضي پر دوى دواړو د فديې د تقسيم فيصله کړې ده لِمَا أَنَّهُ يَتَضَمَّنُ قِسْمَةَ الْعَبْدِ بَيْنَهُمَا ځکه چي دا فيصله د دوى دواړو په مينځ کي د غلام تقسيم لره شامله ده وَالْمُضَارَبَةُ تَنْتَهِي بِالْقِسْمَةِ او په تقسيم سره مضاربت پای ته رسيږي بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د هغه صورت کوم چي مخکي تېر سو [يعني په خلاف د مخکنۍ مسئلې] لِأَنَّ جَمِيعَ الثَّمَنِ فِيهِ عَلَى

... وَإِنْ كَانَ لَهُ حَقُّ الرُّجُوعِ ځکه چي په هغه کي تولـه ثمن پر مضارب لازم دی، که څه هم هغه ته [پر ربُ المال] د رجوع کولو اختیار سته [یعني که څه هم مضارب ته له ربُ المال څخه د واپس اخیستلو حق سته] فَلَا حَاجَةَ إِلَى الْقِسْمَةِ لهذا تقسیم ته ضرورت نسته وَلِأَنَّ الْعَبْدَ كَالزَّائِلِ عَنْ مِلْكِهِمَا بِالْجِنَايَةِ او ځکه چي د جرم کولو په وجه دا غلام ګواکي د دوی له ملکیت څخه زائل سوی دی وَدَفْعُ الْفِدَاءِ كَابْتِدَاءِ الشِّرَاءِ او فدیه ورکول د ابتدائي رانیولو په څېر دي فَيَكُونُ الْعَبْدُ بَيْنَهُمَا أَرْبَاعًا لَا عَلَى الْمُضَارَبَةِ نو ځکه غلام به د دوی په مینځ کي د څلورو حصو په حساب سره مشترک وي، نه د مضاربت په توګه يَخْدُمُ الْمُضَارِبَ يَوْمًا وَرَبَّ الْمَالِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ لهذا دا غلام به یوه ورځ د مضارب خدمت کوي او درې ورځي به د ربُ المال خدمت کوي بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د هغه صورت کوم چي مخکي تېر سو.

**اللغات**: ﴿مَقضيّ﴾ د ضرب اسم مفعول دی: فیصله کړی سوی، ﴿تَغَايُر﴾ د تفاعل مصدر دی: مختلف کېدل، متضاد کېدل، ﴿مرابحة﴾ د تېر عبارت په لغاتو کي د دې تعریف ذکر سو، ﴿احتراز﴾ د افتعال مصدر دی: بچ کېدل، ځان ساتل، پرېز کول، ﴿الفداء﴾ فدیه، ټاکلی مقدار کوم چي (د غلام) د ځان ژغورني لپاره ورکول کیږي، ﴿مؤنة﴾ لګښت، خرچه (صرفه)، مشقت، بار، د یو شي د بقاء (پاتېدلو) سبب او خرچې ته مؤنت ویل کیږي، لکه څرنګه چي نفقې ته هم مؤنت ویل کیږي چي هغه د ښځي د بقاء او پاتېدلو سبب او خرچه ده، همدارنګه دلته فدیه هم د ربُ المال او مضارب د ملکیت پاتېدلو سبب او خرچه ده چي که دوی د غلام د قتل فدیه نه ورکړي نو هغه د دوی له ملکیته وځي، او که یې ورکړي، نو بیا هغه د دوی غلام پاتېږي، ﴿یتقدّر﴾ د تفعّل مضارع ده: اندازه کېدل، مقدار ټاکل کېدل، مُتعیّن کېدل، ﴿الزائل﴾ د نصر د باب اسم فاعل دی: لیري سوی، ختم سوی.

**تشریح**: په دې عبارت کي درې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که مضارب ربُ المال ته زر درهمه د مضاربت لپاره ورکړي، بیا ربُ المال له یو بل سړي څخه په پنځه سوه درهمه یو غلام رانیسي او پر مضارب یې په زر درهمه خرڅ کړي، نو دا بیع جائز ده که څه هم په دې کي د عدم جائز (نه جائز کېدلو) شبهه سته په دې توګه چي مضارب د ربُ المال وکیل دی او دا بیع په حقیقت کي د خپل ملکیت خرڅول او اخیستل دي؛ ځکه ربُ المال چي مضارب ته کوم غلام ورکړی دی هغه هم د ربُ المال خپل ملکیت دی او مضارب چي هغه ته کوم ثمن ورکوي

هغه هم د ربُ المال ملکيت دی. نو ځکه په دې حواله سره دا بيع صحيح کېدل پکار نه دي. لېکن ځرنګه چي دلته موږ مضارب د ربُ المال په حق کي اجنبي ګرځولی دی (لکه مخکي چي ذکر سوه) از بل دا چي د ربُ المال مقصد د مال يعني د أَلف (زرو درهمو) حاصلول دي او د مضارب مقصد پر هغه غلام قبضه کول دي، نو ځکه د مقاصدو د اختلاف او حاجت دفع کولو په خاطر موږ دا بيع جائز او صحيح ګرځولې ده. او اوس که چيري مضارب دا غلام د مرابحې په توګه خرڅول غواړي. نو پر پنځه سوه درهمه به يې مرابحتا خرڅوي؛ ځکه چي دا مقدار له أَلف څخه کم دی او د عدمِ جواز له شبهې څخه خالي دي او د مرابحې مقصد همدا دی چي په هغه کي د امانتداری پوره خيال وساتل سي او له خيانت او د هغه له شبهې څخه ځان وساتل سي.

(۲)... که چيري مضارب د مال مضاربت د زر درهمو په عوض کي يو غلام رانيسي او پر ربُ المال هغه غلام په دوولس سوه درهمه خرڅ کړي، اوس که ربُ المال دا غلام د مرابحې په توګه خرڅول غواړي، نو په يوولس سوه درهمه به يې خرڅوي؛ ځکه کوم دوه سوه درهمه چي د نفعې دي، له هغه څخه نصف نفع يعني سل درهمه د ربُ المال دي او نصف نفع د مضارب ده، او نصف نفع کوم چي د ربُ المال حصه ده، د هغه په حق کي دا بيع کالعدم ده لکه په کتاب البيوع کي چي تېر سوه، نو ځکه له دوولس سوو درهمو څخه به سل درهمه ايستل کيږي او پر يوولس سوو درهمو به بيع مرابحه کيږي.

(۳)... که د مضارب سره د نصف نفعې پر شرط زر درهمه وي او مضارب په هغه زر درهمو داسي غلام رانيسي چي د هغه قيمت دوه زره درهمه وي او بيا دا غلام خطاءً قتل وکړي، نو د ده په فديه کي چي کوم مال ورکول کيږي، د هغه درې ربعي (درې حصې) به ربُ المال ورکوي او يوه ربع به مضارب ورکوي، مثلاً که فديه زر درهمه جوړيږي، نو له هغه څخه به اووه نيم سوه (۷۵۰) رب المال ورکوي او دوه نيم سوه (۲۵۰) به مضارب ورکوي؛ ځکه چي فديه د دوی د ملکيت پاتېدلو خرڅه او لګښت دی، او په دې غلام کي په همدې حساب سره د دوی ملکيت سته، نو ځکه د هغه فديه به هم په همدې حساب سره واجبيږي، ځکه چي د ربُ المال ټوله مال (يعني نفع او رأسُ المال ټوله) ۱۵۰۰ درهمه دي، او د مضارب په حصه کي صرف پنځه سوه نفع ده، نو ځکه فديه به هم پر هغه په همدې حساب سر واجب وي. او له فديه ورکولو څخه وروسته مذکوره غلام له مضاربت څخه وځي؛ د مضاب حصه خو به په دې وجه وځي چي هغه پر مضارب مضمونه ده او د ربُ المال حصه په دې وجه وځي چي قاضي پر دوی فديه تقسيم کړې ده، او د فديې تقسيمول داسي دي لکه د غلام تقسيمول، او مخکي تاسو ته ذکر سوه چي په تقسيم سره مضاربت ختميږي، نو ځکه د دې وجوهاتو پر بناء به دلته مضاربت ساقطيږي.

د دې په خلاف په مخکنۍ مسئله کې يعني کله چې مال ضايع سي، نو پر ربُ المال او مضارب دواړو د غلام ضمان لازميږي، نو هلته مضاربت په دې وجه نه ساقطيږي بلکې باقي پاتيږي؛ ځکه چې هغه د تجارت ضمان دی او دا د جنايت (قتل) ضمان دی او په تجارت او ضمانت کې فرق دی. همدارنګه په مخکنۍ مسئله کې ټوله ضمان (د ثمن ضمان) پر مضارب واجبيږي که څه هم وروسته هغه له ربُ المال څخه د هغه د حصې ثمن واپس واخلي، ليکن بيا هم په دې اخيستلو او ورکولو وسوره تقسيم نه لازميږي، حالانکې په دغه مسئله کې تقسيم لازميږي، نو په دې وجه هم په دواړو مسئلو کې فرق دی.

ولأن العبد كالزائل عن إلخ: په دواړو مسئلو کې د فرق دويمه وجه دا ده چې د جنايت (قتل) کولو په وجه غلام د ربُ المال او مضارب له ملکيت څخه زائل سو، او کله چې دوی د هغه فديه ورکړه نو ګواکې دوی هغه له نوي سره رانيوی، نو ځکه دا رانيول به مضاربت نه وي، بلکې دا غلام به د دوی په مينځ کې ارباعاً يعني د څلورو حصو په اعتبار سره مشترک وي، او د دغه اشتراک په وجه به هغه يوه ورځ د مضارب خدمت کوي او درې ورځې به د ربُ المال خدمت کوي.

## د مالِ مضاربت هلاکېدلو حکم

قَالَ: وَإِنْ كَانَ مَعَهُ أَلْفٌ فرمايي: او که چيرې د مضارب سره زر درهمه وي فَاشْتَرَى بِهَا عَبْدًا بيا مضارب په هغه سره يو غلام رانيسي فَلَمْ يَنْقُدْهَا حَتَّى هَلَكَتْ ليکن مضارب [د غلام بائع ته] زر درهمه نه ورکړي تر دې چې هغه هلاک سي يَدْفَعُ رَبُّ الْمَالِ ذَلِكَ الثَّمَنَ نو ربُ المال به هغه ثمن [زر درهمه] اداء کوي ثُمَّ وَثُمَّ بيا او بيا [يعني که تر دې وروسته بيا دا زر درهمه هلاک سي نو بيا به يې ربُ المال اداء کوي او که بيا هلاک سي نو بيا...إلى ما لا يتناهى] وَ رَأْسُ الْمَالِ جَمِيعُ مَا يَدْفَعُ إِلَيْهِ رَبُّ الْمَالِ او رأسُ المال به هغه ټوله وي کوم چې يې ربُ المال مضارب ته ورکوي [يعني ربُ المال چې مضارب ته څومره مال ورکوي هغه به ټوله رأسُ المال وي] لِأَنَّ الْمَالَ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ ځکه چې د مضارب په قبضه کې دا مال امانت وي وَالِاسْتِيفَاءُ إِنَّمَا يَكُونُ بِقَبْضٍ مَضْمُونٍ او اخيستل [احق ترلاسه کول] په ضمان والا قبضه سره کيږي [په بله وينا: او ضمان په هغه صورت کې اخيستل کيږي کله چې قبضه د ضمانت وي] وَحُكْمُ الْأَمَانَةِ يُنَافِيهِ او د امانت حکم د ضمانت خلاف دی فَيَرْجِعُ مَرَّةً بَعْدَ أُخْرَى نو ځکه له يوه ځل وروسته به بل ځل هم [پر ربُ المال] رجوع کوي [يعني له يوه وار وروسته به بل وار هم مضارب له ربُ المال څخه ثمن واپس اخلي] بِخِلَافِ الْوَكِيلِ بِالشِّرَاءِ إِذَا كَانَ الثَّمَنُ مَدْفُوعًا إِلَيْهِ قَبْلَ الشِّرَاءِ وَهَلَكَ بَعْدَ الشِّرَاءِ په خلاف [د يو شي] د رانيولو وکيل. کله چې تر رانيولو مخکې هغه ته ثمن ورکول سوی وي او تر رانيولو وروسته هغه ثمن هلاک سي حَيْثُ لَا يَرْجِعُ إِلَّا مَرَّةً نو هغه صرف يو ځل [پر موکل] رجوع کولای سي [يعني صرف يو ځل له موکل څخه ثمن اخيستلای سي] لِأَنَّهُ أَمْكَنَ جَعْلُهُ مُسْتَوْفِيًا ځکه چې وکيل مستوفي ګرځول ممکن دي

[صاحب د احسن الهدايه داسي ترجمه کړي ده: ځکه چي له وکيل څخه ضمان اخيستل ممکن دي] لِأَنَّ الْوَكَالَةَ تُجَامِعُ الضَّمَانَ ځکه وکالت د ضمان سره جمع کېداى سي كَالْغَاصِبِ إِذَا تَوَكَّلَ بِبَيْعِ الْمَغْصُوبِ لکه کله چي غاصب د غصب کړي سوي شي د خرڅولو وکيل جوړ سي ثُمَّ فِي الْوَكَالَةِ فِي هٰذِهِ الصُّورَةِ يَرْجِعُ مَرَّةً بيا د وکالت په دغه صورت کي وکيل [پر مؤکل] يو ځل رجوع کولاى سي وَفِيمَا إِذَا اشْتَرَى ثُمَّ دَفَعَ الْمُوَكِّلُ إِلَيْهِ الْمَالَ فَهَلَكَ او په هغه صورت کي کله چي وکيل يو شى رانيسي بيا مؤکل هغه ته مال ورکړي او هغه مال هلاک سي لَا يَرْجِعُ نو رجوع نه سي کولاى [يعني په دې صورت کي وکيل له مؤکل څخه دويم وار ثمن نه سي اخيستلاى] لِأَنَّهُ ثَبَتَ لَهُ حَقُّ الرُّجُوعِ بِنَفْسِ الشِّرَاءِ ځکه چي محض په رانيولو سره د وکيل لپاره د رجوع حق حاصل سو فَجُعِلَ مُسْتَوْفِيًا بِالْقَبْضِ بَعْدَهُ نو تر رانيولو وروسته پر مال په قبضه کولو سره هغه د خپل حق اخيستونکى [حاصلونکى] وګرځېدى أَمَّا الْمَدْفُوعُ إِلَيْهِ قَبْلَ الشِّرَاءِ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ لېکن تر رانيولو مخکي ورکول سوى مال د وکيل په قبضه کي امانت وي وَهُوَ قَائِمٌ عَلَى الْأَمَانَةِ بَعْدَهُ او هغه تر رانيوو وروسته هم پر امانت قائم پاتيږي فَلَمْ يَصِرْ مُسْتَوْفِيًا نو ځکه [په دې صورت کي] هغه د خپل حق اخيستونکى [حاصلونکى] نه وګرځېدى فَإِذَا هَلَكَ او کله چي [يو ځل] ثمن هلاک سي رَجَعَ عَلَيْهِ مَرَّةً ثُمَّ لَا يَرْجِعُ نو وکيل به يو ځل پر مؤکل رجوع کوي بيا به رجوع نه پر کوي لِوُقُوعِ الْاِسْتِيفَاءِ ځکه چي د حق اخيستل واقع [او پوره] سوه عَلَى مَا مَرَّ لکه مخکي چي تېر سو.

**اللغات**: ﴿لم ينقدها﴾ د نصر له بابه د جحد صيغه ده: نغد ورکول، اداء کول. ﴿الاستيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دى: (خپل حق) پوره اخيستل، ترلاسه کول، حاصلول. ﴿المدفوع﴾ د فتح له بابه د اسم مفعول صيغه ده: ورکول سوى.

**تشريح**: **صورت د مسئلې**: دا دى که ربُ المال د مضاربت کولو لپاره مضارب ته زر درهمه ورکړي او مضارب په هغه سره يو غلام رانيسي، لېکن د غلام مالک ته له ورکولو څخه مخکي هغه زر درهمه د مضارب په قبضه کي هلاک او ضايع سي، نو اوس به مضارب له ربُ المال څخه هغومره ثمن (زر درمه) اخلي، او که چيري د غلام مالک ته له ورکولو څخه مخکي دا زر درهمه بيا هلاک سي نو مضارب به دريم او څلورم وار بيا له ربُ المال څخه هغومره ثمن واخلي او دا سلسله به همداسي په لامتناهي توګه روانه وي، او ربُ المال چي څومره ثمن او مال هغه ته ورکوي، هغه ټول له رأسُ المال جوړيږي: او په دې صورت کي پر مضارب د ثمن ضمان په دې وجه نه لازميږي، ځکه د مضارب

سره چي کوم مال وي. هغه د امانت په توګه وي، او له امين څخه ضمان نه اخيستل کيږي. نو ځکه په هر وار اخيستل سوي ثمن کي مضارب امين شمارل کيږي نو پر هغه به ضمان نه لازميږي؛ ځکه د مضارب چي پر اول ثمن کومه قبضه وي، هغه د امانت قبضه وي، اوس که په وروسته والا ثمن کي موږ پر هغه ضمان واجب کړو، نو د امانت او ضمانت اجتماع به لازم سي، حالانکي امانت او ضمانت دواړه نه سي سره جمع کېدای. د دې په خلاف که يو سړی بل څوک وکيل بالشراء (د رانيولو) وکيل جوړ کړي او هغه ته له شراء (رانيولو) څخه مخکي څه مال ورکړي او بيا تر شراء وروسته او بائع ته له ورکولو څخه مخکي هغه مال "ثمن" ضايع سي، نو وکيل صرف يو ځل له مؤکل څخه د ثمن مال اخيستلای سي؛ ځکه چي وکيل تر شراء وروسته د هغه مال حقدار ګرځي، نو ځکه تر شراء وروسته به هغه ته يو ځل د رجوع (واپس اخيستلو) حق حاصليږي او په دويم ځل کي به وکيل ضامن ګرځي؛ ځکه چي د وکالت او ضمانت اجتماع ممکن ده، د دې مثال دا دی لکه يو سړی چي د بل چا (مثلاً د خالد) پسه غصب کړي نو دا غاصب سړی د مغصوب شي (پسه) ضامن دی (يعني پر هغه د پسه تاوان واجب دی) ، اوس که چېري مالک (يعني خالد) همدا غاصب سړی د مغصوب شي (پسه) د خرڅولو وکيل جوړ کړي، نو د دې غاصب لپاره وکيل جوړېدل او مغصوب شی خرڅول هم جائز دي، همداسي په پورتني مسئله کي وکيل بالشراء د دويم ځل اخيستل سوي ثمن ضامن ګرځول (ضمان ځني اخيستل) ممکن دي، لهذا د دې وکيل په حق کي خير او ښېګنه همدا ده چي تر يوه ځل ثمن ضايع کېدلو وروسته خپله دفاع ټينګه کړي او دويم ځل ثمن له ضايع کېدلو څخه وساتي.

ثم في الوكالة في هذه الصورة إلخ: فرمايي چي په مخکني صورت کي يو ځل خو وکيل له مؤکل څخه ثمن اخيستلای سي، لېکن که مؤکل هغه صرف وکيل بالشراء جوړ کړی وي او مال (ثمن) يې نه وي ورکړی بلکي تر شراء وروسته يې ثمن ورکړی وي او بيا بائع ته له ورکولو څخه مخکي هغه ثمن ضايع سي، نو په دې صورت کي وکيل د رجوع (ثمن اخيستلو) په هکله خوله هم نه سي خلاصولای؛ ځکه په نفس شراء سره هغه د ثمن اخيستلو مستحق وګرځېدی، او تر شراء وروسته مؤکل هغه ته ثمن ورکړی، لهذا اوس وکيل پوه سو او کار يې پوه سو؛ ځکه چي تر شراء (رانيولو) مخکي د ثمن ورکولو په صورت هغه ثمن د ده سره امانت وي او تر شراء وروسته هم هغه پر امانت قائم پاتېږي، نو ځکه په دې صورت کي هغه ته يو ځل د رجوع حق حاصليږي، لېکن تر شراء (رانيولو) وروسته د اخيستلو په صورت کي د هغه حق ختميږي او هغه له امانت څخه وځي. والله أعلم وعلمه أتم



# فَصْلٌ فِي الْاِخْتِلَافِ

(دا) فصل په (بیان د مضارب او ربُ المال تر مینځ) اختلاف کي دی

## د مال مضاربت په هکله د مضارب او ربُ المال اختلاف کول

قَالَ: وَإِذَا كَانَ مَعَ الْمُضَارِبِ أَلْفَانِ فرمايي: او كله چي د مضارب سره دوه زره درهمه وي فَقَالَ: دَفَعْتَ إِلَيَّ أَلْفًا وَرَبِحْتُ أَلْفًا او هغه [ربُ المال ته] ووايي: تا ما ته زر درهمه راکړه او زر درهمه ما نفع [ګټه] وکړه وَقَالَ: رَبُّ الْمَالِ: لَا بَلْ دَفَعْتُ إِلَيْكَ أَلْفَيْنِ او ربُ المال ووايي: چي نه! بلکي ما تا ته دوه زر درهمه درکړه فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُضَارِبِ نو قول د مضارب معتبر دی وَكَانَ أَبُو حَنِيفَةَ يَقُولُ أَوَّلًا: الْقَوْلُ قَوْلُ رَبِّ الْمَالِ او امام صاحب رَحِمَهُ الله به اول فرمايل: چي قول د ربُ المال معتبر دی وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ ❁ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول هم دی لِأَنَّ الْمُضَارِبَ يَدَّعِي عَلَيْهِ الشَّرِكَةَ فِي الرِّبْحِ وَهُوَ يُنْكِرُ ځکه چي مضارب پر ربُ المال په نفع کي د شرکت دعوىٰ کوي او ربُ المال د دې انکار کوي وَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُنْكِرِ او قول د منکر معتبر وي ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مَا ذَكَرَ فِي الْكِتَابِ بيا امام صاحب رَحِمَهُ الله د هغه حکم وطرف ته رجوع وکړه کوم چي په قدوري [متن] کي ذکر سوی دی لِأَنَّ الِاخْتِلَافَ فِي الْحَقِيقَةِ فِي مِقْدَارِ الْمَقْبُوضِ ځکه چي دا اختلاف حقیقتاً په قبضه کړی سوي مقدار کي اختلاف دی [پر کوم چي مضارب قبضه کړې ده] وَفِي مِثْلِهِ الْقَوْلُ قَوْلُ الْقَابِضِ او په داسي صورت کي قول د قابض معتبر وي ضَمِينًا كَانَ أَوْ أَمِينًا برابره ده هغه ضامن وي او که امين وي لِأَنَّهُ أَعْرَفُ بِمِقْدَارِ الْمَقْبُوضِ ځکه چي هغه په قبضه کړی سوي مقدار [له غير قابض څخه] زيات خبر وي وَلَوِ اخْتَلَفَا مَعَ ذَلِكَ فِي مِقْدَارِ الرِّبْحِ او که په رأسُ المال کي د اختلاف سره، سره د نفعي په مقدار کي هم دوی دواړه اختلاف

---

❁ القول الراجح: قول الجمهور (أى فالقول قول المضارب)، كما ذكر في الدر المختار (ج:۴، ص:۵۴۸)، وكذا في الهندية(ج:۴، ص:۳۲۴). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۱۳]

وکړي ﴿فَالْقَوْلُ فِيهِ لِرَبِّ الْمَالِ﴾ نو د نفعي په باره کې د ربُ المال قول معتبر دی ﴿لِأَنَّ الرِّبْحَ يُسْتَحَقُّ بِالشَّرْطِ﴾ ځکه چې نفع په شرط سره مستحقه کيږي [يعني د نفعي استحقاق د شرط په وجه وي] ﴿وَهُوَ يُسْتَفَادُ مِنْ جِهَتِهِ﴾ او شرط د ربُ المال له طرفه حاصليږي [يعني شرط د هغه له طرفه لګول کيږي] ﴿وَأَيُّهُمَا أَقَامَ الْبَيِّنَةَ عَلَى مَا ادَّعَى مِنْ فَضْلٍ﴾ او له دوی دواړو څخه چې کوم يو هم د خپل دعوی کړده زياتوب په هکله بيّنه پېش کړي ﴿قُبِلَتْ﴾ نو [د هغه] بيّنه به قبلول کيږي ﴿لِأَنَّ الْبَيِّنَاتِ لِلْإِثْبَاتِ﴾ ځکه چې بينې [ګواهياني] د شي د ثابتولو لپاره وي.

**اللغات:** ﴿ربحتُ﴾ د سمع له بابه د واحد متکلم ماضي صيغه ده: ګټه کول، نفع حاصلول، ﴿ضمين﴾ ضامن، ذمه وار، هغه کس چې پر هغه ضمان (تاوان) لازم وي، ﴿أمين﴾ امانت ساتونکی، امانتدار، چې که بغير له تعدی له هغه څخه شی هلاک سي نو هغه نه ضامن کيږي، ﴿يُستفاد﴾ د استفعال له بابه د مضارع مجهولي صيغه ده: حاصلېدل، ترلاسه کېدل، ﴿جهة﴾ طرف، اړخ، کناره، ﴿البيّنات﴾ جمع د بَيِّنَةٌ ده: ګواهياني، دلائل.

**تشريح: مسئله:** دا ده که چيري د مال مضاربت يعني د رأسُ المال په هکله مضارب او ربُ المال اختلاف وکړي، مثلاً ربُ المال مضارب ته ووايي چې ''ما تا ته دوه زره درهمه درکړي وه'' او مضارب ووايي ''چې تا ما ته زر درهمه راکړي وه او زر درهمه خو ما نفع (ګټه) کړې ده''، نو په دې صورت کې د مضارب قول معتبر دی، يعني د هغه قول او دعوی به قبلول کيږي، همدا مشهور او معتمد قول دی. د امام صاحب رَحِمَهُ الله اول قول او د امام زفر رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې قول د ربُ المال معتبر دی؛ ځکه چې مضارب د دوه زر درهمو په دعوی سره په نفع کې د شرکت دعوی کوي، حال دا چې ربُ المال د دې منکر دی، او قاعده دا ده چې قول د منکر معتبر وي، نو ځکه دلته به هم د منکر يعني د ربُ المال قول معتبر وي.

د قول مشهور دليل دا دی چې دا اختلاف حقيقتاً په هغه مقدار کې دی کوم چې د مضارب په قبضه کې دی او د مقبوض مقدار په اختلاف کې همېشه د قابض قول معتبر وي، ځکه چې هغه په دې مقدار له غير قابض څخه زيات واقف او خبر وي

او که چيري د پورتني اختلاف سره، سره د نفع په مقدار کې هم دواړه اختلاف وکړي، مثلاً مضارب ربُ المال ته ووايي ''چې تا زما لپاره نيمه نفع (نصف ګټه) ټاکلې وه'' او ربُ المال وايي چې

"ما ستا لپاره د نفعي دريمه حصه (ثلث ګټه) تاکلې وه او باقي نفع مې د ځان لپاره شرط کړې وه"، نو د نفعي په باره کي د ربُ المال قول معتبر او مقبول دی؛ ځکه چي د نفعي مقدار د ربُ المال له طرفه تاکل کيږي او په دې سلسله کي د هغه معلومات او خبر له مضارب څخه زيات وي، نو ځکه د هغه قول به راجح او مقبول وي.

وأيهما قام الخ: د دې حاصل دا دی چي که په پورتني اختلاف کي ربُ المال د رأسُ المال پر زياتوب (مثلا پر دوه زره رأسُ المال) بيّنه پېش کړي يا مضارب د نفعي د مقدار پر زياتوب (مثلا پر نصف نفعي) بيّنه پېش کړي، نو د هغه بيّنه معتبره ده او هغه به قبلول کيږي؛ ځکه چي بينات د اثبات (ثابتولو) لپاره وي، نو ځکه دلته به هم د هغه يوه بيّنه قبلول کيږي کوم چي زياتوب ثابتوي.

## د اختلاف يو بل صورت

قَالَ: وَمَنْ كَانَ مَعَهُ أَلْفُ دِرْهَمٍ فرمايي: او که د يو چا سره [مثلا د زيد سره] زر درهمه وه فَقَالَ: هِيَ مُضَارَبَةٌ لِفُلَانٍ بِالنِّصْفِ او هغه ووېل: چي دا زر درهمه د نصف نفعي پر شرط د فلانکي لپاره پر مضاربت دي وَقَدْ رَبِحَ أَلْفًا حال دا چي هغه [زيد] زر درهمه نفع [ګټه] کړې وه وَقَالَ فُلَانٌ: هِيَ بِضَاعَةٌ او فلانکي ووېل: چي دا زر درهمه د بضاعت په توګه دي [يعني دا ما زيد ته د دې لپاره ورکړي دي چي نفع به ټوله زما وي او هغه به محض زما سره د احسان په توګه په دغه زر درهمو کار (تجارت) کوي] فَالْقَوْلُ قَوْلُ رَبِّ الْمَالِ نو قول د ربُ المال [فلانکي] معتبر دی لِأَنَّ الْمُضَارِبَ يَدَّعِي عَلَيْهِ تَقْوِيمَ عَمَلِهِ أَوْ شَرْطًا مِنْ جِهَتِهِ أَوْ يَدَّعِي الشَّرِكَةَ ځکه چي [دلته] مضارب د ربُ المال په خلاف د خپل کار د قيمتي کېدلو دعویٰ کوي يا د ربُ المال له طرفه د شرط دعویٰ کوي يا [په نفع کي] د شرکت دعویٰ کوي وَهُوَ يُنْكِرُ او ربُ المال د دې انکار کوي وَلَوْ قَالَ الْمُضَارِبُ: أَقْرَضْتَنِي او که چيري مضارب ووايي: تا ما ته [هغه زر درهمه] په قرض راکړي دي وَقَالَ رَبُّ الْمَالِ: هُوَ بِضَاعَةٌ أَوْ وَدِيعَةٌ او ربُ المال ووايي: چي هغه د بضاعت يا امانت په توګه دي فَالْقَوْلُ لِرَبِّ الْمَالِ نو قول د ربُ المال معتبر دی وَالْبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ الْمُضَارِبِ او بيّنه د مضارب معتبره ده [يعني که دوی دواړه ګواهي پېش کړي، نو د مضارب ګواهي به قبلول کيږي] لِأَنَّ الْمُضَارِبَ يَدَّعِي عَلَيْهِ التَّمَلُّكَ ځکه چي مضارب پر ربُ المال [د نفعي] د مالک کېدلو دعویٰ کوي وَهُوَ يُنْكِرُ او هغه د دې انکار کوي وَلَوِ ادَّعَى رَبُّ الْمَالِ الْمُضَارَبَةَ فِي نَوْعٍ او که چيري ربُ المال په يو خاص

[او ټاکلي] قسم کي د مضاربت [او تجارت] دعویٰ وکړي وَقَالَ الْآخَرُ: مَا سَمَّيْتَ لِي تِجَارَةً بِعَيْنِهَا او مضارب ووايي: چي تا زما لپاره مُتعيّن تجارت ټاکلی نه وو فَالْقَوْلُ لِلْمُضَارِبِ نو قول د مضارب معتبر دی لِأَنَّ الْأَصْلَ فِيهِ الْعُمُومُ وَالْإِطْلَاقُ ځکه چي اصل په مضاربت کي عام والی او مطلق والی دی وَالتَّخْصِيصُ بِعَارِضِ الشَّرْطِ او خاص ګرځول د عارض شرط پر بنياد وي [يعني تخصيص د شرط عارضېدلو په وجه وي. لهذا هغه ثابتول پکار دي] بِخِلَافِ الْوَكَالَةِ په خلاف د وکالت لِأَنَّ الْأَصْلَ فِيهِ الْخُصُوصُ ځکه چي اصل په هغه کي خاص والی دی وَلَوِ ادَّعَى كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نَوْعًا او که چيري له مضارب او ربُ المال دواړو څخه هر يو د يو [جلا] قسم تجارت دعویٰ وکړي فَالْقَوْلُ لِرَبِّ الْمَالِ نو قول د ربُ المال معتبر دی لِأَنَّهُمَا اتَّفَقَا عَلَى التَّخْصِيصِ ځکه چي [په دې صورت کي] دواړه پر خاص ګرځولو متفق دي وَالْإِذْنُ يُسْتَفَادُ مِنْ جِهَتِهِ او اجازت صرف د ربُ المال له طرفه حاصلېږي وَالْبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ الْمُضَارِبِ او بيّنه د مضارب معتبره ده لِحَاجَتِهِ إِلَى نَفْيِ الضَّمَانِ وَعَدَمِ حَاجَةِ الْآخَرِ إِلَى الْبَيِّنَةِ ځکه چي هغه [له خپل ځان څخه] ضمان ليري کولو ته محتاج دی او بل يو [يعني ربُ المال] بينې ته محتاج نه دی وَلَوْ وَقَّتَتِ الْبَيِّنَتَانِ وَقْتًا او که چيري دواړه بينې [ګواهياني] يو [جلا] تاريخ بيان کړي فَصَاحِبُ الْوَقْتِ الْأَخِيرِ أَوْلَى نو د اخرني تاريخ والا بيّنه اولیٰ [او معتبره] ده لِأَنَّ آخِرَ الشَّرْطَيْنِ يَنْقُضُ الْأَوَّلَ ځکه چي په دوو شرطونو کي آخري شرط اول شرط ماتوي.

**اللغات**: ﴿مضاربة بالنصف﴾ د نيمي نفعي پر شرط مضاربت (چي نيمه نفع به زما وي او نيمه د مضارب)، ﴿تقويم﴾ د تفعيل مصدر دی: قيمت لګول، قيمت ټاکل، قيمتداره ګرځول، ﴿بضاعة﴾ د بضاعت په توګه مال ورکول چي ته زما سره دا مرسته او احسان وکړه! چي زما مال په کاروبار کي ولګوه! او نفع به ټوله زما وي. ﴿وديعة﴾ امانت، امانتاً ايښوول سوی شی، ﴿سَمَّيْتَ﴾ د تفعيل له بابه د واحد مذکر مخاطب صيغه ده: نومول، ذکر کول، ټاکل (مقرر کول)، ﴿التملك﴾ د تفعّل مصدر دی: مالک جوړېدل، مالک کېدل، ﴿تخصيص﴾ د تفعيل مصدر دی: خاص کول، خاص ګرځول (مخصوص ګرځول)، ﴿عارض﴾ عارضېدونکی، پېښېدونکی، خلاف اصلي.

**تشريح**: په دغه عبارت کي پنځه مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... د زيد سره زر درهمه دي، هغه وايي چي "دا د خالد مال دی او هغه ما ته د نصف نفعي پر شرط د مضاربت لپاره راکړی دی او په دې سره ما زر درهمه نفع (ګټه) هم کړې ده"، ليکن خالد يعني رب

المال ووايي چي "ما زيد ته صرف د بضاعت لپاره دا مال ورکړی دی چي هغه زما سره د احسان او مرستي په توګه په دې سره کاروبار وکړي، د مضاربت لپاره مي نه دی ورکړی"، نو په دې صورت کي د ربُ المال (خالد) قول معتبر دی، يعني د خالد قول او دعویٰ به قبلول کيږي او هغه دوه زر درهمه به خالد ته ورکول کيږي؛ ځکه چي دلته مضارب (زيد) د خپل کار د قيمتي کېدلو يعني د خپل کار د عوض اخيستلو دعویٰ کوي (چي زه مُبضع او متبرّع نه يم بلکي مضارب يم نو ما ته دي د خپل کار قيمت او عوض راکول سي)، يا دلته مضارب د ربُ المال له طرفه د نفعي د شرط کېدلو دعویٰ کوي (چي هغه زما لپاره نصف نفع شرط کړې ده)، يا دلته هغه د شرکت في النفع دعویٰ کوي (چي زه په نفع کي ور سره شريک يم)، حالانکي ربُ المال په هره توګه د هغه د دعوې انکار کوي، او قول د منکر معتبر وي، نو ځکه دلته به هم د منکر يعني د ربُ المال قول د قسم سره معتبر وي.

(۲)... که زيد ووايي چي "خالد ما ته دا مال (زر درهمه) په قرض راکړی دی" او خالد ووايي چي "ما د بضاعت يا د وديعت (امانت) په توګه ورکړی دی يا د مضاربت لپاره مي ورکړی دی"، نو د ربُ المال (خالد) قول معتبر دی؛ ځکه چي د مال مالک صرف هغه دی او د ورکولو په جهت هغه ښه واقف هم دی. ها! که چيري دواړه پر خپله دعویٰ بيّنه پېش کړي، نو د مضارب يعني د زيد بيّنه به قبلول کيږي، ځکه چي دلته مضارب پر ربُ المال د نفعي د مالک کېدلو دعویٰ کوي (يعني ګواکي مضارب دا دعویٰ کوي چي ټوله نفع زما په ملکيت کي ده او زه يې مالک يم. يا د "تملک" معنیٰ دا چي هغه د مال د مالک کېدلو دعویٰ کوي چي اوس د مال مالک زه يم)، او ربُ المال د دې منکر دی، او بيّنه د مدعي معتبره ده، ځکه چي بيّنه د اثبات لپاره وضع سوې ده نو ځکه کوم يو چي د اثبات دعویٰ کوي، د هغه قول او بيّنه به معتبره وي.

(که څوک اعتراض وکړي چي په پورتنۍ مسئله کي مدعي يعني زيد مضارب نه دی، حالانکي په کتاب [متن] کي هغه ته مضارب ويل سوي دي، نو صاحب د عنايې د هغه په جواب کي ليکلي دي چي دا د دې احتمال پر بناء دي چي شايد هغه مخکي مضارب وي او ربُ المال هغه ته قرض ورکړی وي. يا هغه ته مضارب ويل مبني بر مشاکلت دي).

(۳)... که ربُ المال ووايي چي "ما مضارب ته پر دې شرط مال ورکړی وو چي هغه به د کپړې کاروبار (تجارت) کوي"، او مضارب ووايي چي "هغه ما ته بغير له شرطه د مطلق کاروبار لپاره مال راکړی وو"، نو د مضارب قول معتبر او مقبول دی؛ ځکه چي په مضاربت کي عموم او اطلاق اصل دی او زياتره وخت د مطلق کاروبار لپاره مال ورکول کيږي؛ نو ځکه ظاهري حال به د مضارب په حق کي

ګواه وي او صرف د هغه قول به معتبر وي. او که چیرې دا ډول اختلاف د وکیل او مؤکل په مینځ کې واقع سي، نو په دې صورت کې د مؤکل قول معتبر دی؛ ځکه چې په وکالت کې تخصیص اصل دی او زیاتره وخت د یو مخصوص شي د رانیولو لپاره وکیل جوړول کیږي.

(۴)... که ربُ المال ووایي چې "ما تا ته د کپړې د کاروبار لپاره مال درکړی وو"، او مضارب ووایي چې "تا ما ته د فرشونو د کاروبار (یا مثلاً د پرچون) لپارهٔ مال راکړی وو"، نو په دې صورت کې د ربُ المال قول معتبر دی؛ ځکه چې په دې صورت کې دواړه پر تخصیص متفق دي (چې کاروبار مطلق نه دی بلکې د مخصوص شي کاروبار دی)، او څرنګه چې تخصیص د ربُ المال له طرفه کیږي او دلته دواړه د تخصیص دعویٰ کوي، نو ځکه د ربُ المال قول او دعویٰ به معتبره وي، او که چیرې په دې صورت کې دواړه بیّنه پېش کړي، نو د مضارب بیّنه به قبلول کیږي؛ ځکه مضارب چې د کوم نوع کاروبار دعویٰ کوي، د هغه د اجازت ثابتولو ضرورت مضارب ته دی (یعني صرف مضارب محتاج دی چې دا ثابته کړي چې ما ته ربُ المال خاص د فلانکي کاروبار اجازت راکړی وو) د دې لپاره چې له هغه څخه ضمان (تاوان) لیرې سي، او ربُ المال ته د بینې پېشولو ضرورت نسته؛ ځکه چې د کاروبار د جهت په تعیین کې هغه اصل دی (یعني په اصل کې د تجارت او کاروبار نوع د هغه له طرفه ټاکل کیږي)، نو ځکه هغه ته د بینې ضرورت نسته، لهذا کوم یوه ته چې د بینې ضرورت دی (یعني کوم یو چې بیّنې ته محتاج دی)، د هغه بیّنه به قبلول کیږي.

(۵)... که په پورتني صورت کې مضارب او ربُ المال او د دواړو ګواهان تاریخ هم بیان کړي، نو د کوم یوه تاریخ چې مؤخر او وروستی وي، د هغه بیّنه به قبلول کیږي؛ ځکه دا خو عامه خبره ده چې مقدم د مؤخر لپاره ناسخ او ناقض ګرځي، نو ځکه دلته هم چې د کوم یوه د بینې (ګواهی) تاریخ مؤخر وي، د هغه بیّنه به معتبره وي او په هغه سره د بل یوه بیّنه نامعتبره ګرځي.



# کِتَابُ الْوَدِیْعَةِ

## (دا) کتاب د امانت (د احکامو په بیان کې) دی

**تشریح:** د "کتابُ المضاربة" سره متصلاً د "کتابُ الودیعة" بیانولو وجه دا ده چې په مضاربت او ودیعت دواړو کې مال د بل چا سره امانت وي، لېکن د مضاربت امانت عام دی او د ودیعت امانت خاص دی، او ښکاره خبره ده چې عام له خاص څخه مخکې وي، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله هم مضاربت له ودیعت څخه مخکې بیان کړی دی.

**د ودیعت لغوي او اصطلاحي معنیٰ:** "وَدِیْعَةٌ" پر وزن د فَعِیْلَةٌ په معنیٰ سره د مَفْعُوْلَةٌ دی (یعني مَتْرُوْکَةٌ)، نو د ودیعت لغوي معنیٰ ده: "امانتاً پرېښوول سوي مال"، "په امانت ایښوول سوی شی"، جمع یې وَدَائِع راځي. د "و دع" ماده په ثلاثي مجرد کي د فَتَحَ له بابه راځي "وَدَعَ یَدَعُ وَدْعًا" (چي د هغه معنیٰ ده: پرېښوول)، او په غیرِ ثلاثي مجرد کي د افعال او استفعال له بابه راځي "أَوْدَعَ یُوْدِعُ إِیْدَاعًا" او "اِسْتَوْدَعَ یَسْتَوْدِعُ اِسْتِیْدَاعًا"، د امانت په باب کي د دغه ټولو بابونو مطلب او معنیٰ یوه ده، یعني: یو چا ته خپل مال په امانت ایښوول، امانتاً پرېښوول. ودیعة (امانت مال) ته ځکه ودیعة ویل کیږي چي هغه د امانت ساتونکي سره پرېښوول کیږي.

د شریعت په اصطلاح کي د ودیعت معنیٰ ده: "هِيَ أَمَانَةٌ تُرِکَتْ عِنْدَ الْغَیْرِ لِلْحِفظِ قَصْدًا" (هغه امانت مال کوم چي د حفاظت په غرض د بل چا سره قصداً (بالقصد) پرېښوول سي). یعني ودیعت صرف هغه مال او هغه شي ته وایي کوم چي یو چا ته په قصد او اراده سره د حفاظت کولو لپاره ورکول سي، لېکن "امانة" هغه مال او هغه شي ته هم وایي کوم چي بغیر له قصده د انسان په لاس کي راسي. یعني ودیعت خاص دی او امانت عام دی چي تفصیل به لاندي ذکر سي. (تعریفات للجرجاني)

او صاحب د احسنُ الهدایې د ودیعت شرعي تعریف داسي بیان کړی دی: "تَسْلِیْطُ الْغَیْرِ عَلٰی حِفْظِ الْمَالِ" (بل څوک د خپل مال پر ساتل ګومارل)، یعني بل چا ته امانتاً د حفاظت لپاره مال ایښوول.

کوم چا ته چي امانتاً (په امانت) مال کښېښنول سي، هغه ته "مُوْدَع" وايي (چي په بله وينا هغه ته "مُسْتَوْدَع" او "أُمين" [امانت ساتونکی] هم وايي)، او کوم څوک چي بل چا ته امانتاً مال کښېږدي، هغه ته "مُوْدِع" (بکسر الدال) وايي.

**د وديعت او امانت په مينځ کي فرق**: په عربي ژبه کي د وديعت او امانت تر مينځ فرق سته، او هغه صرف د عموم او خصوص فرق دی، يعني امانت عام دی او وديعت خاص دی؛ ځکه په وديعت کي په بل چا سره د خپل مال حفاظت کول قصداً مطلوب وي او امانت ځيني وخت بلا قصده هم وي، مثلاً که د باد (هوا) په وجه د يو چا کپړه د بل سړي کور ته واوړي نو دا کپړه د هغه سړي سره امانت ده، يا مثلاً که يو سړی په لاره کي يو شی پيدا کړي او هغه راپورته کړي (کوم ته چي لُقطه وايي)، نو هغه شی د پيدا کونکي سړي په لاس کي امانت دی، خلاصه دا چي وديعت دې ته وايي چي انسان په خپل قصد او اراده سره (د عقد په ذريعه) بل چا ته د حفاظت لپاره خپل شی ورکړي، او امانت هر هغه شي ته وايي چي پر انسان د هغه حفاظت کول ضروري وي، برابره ده دا شی هغه ته يو چا په قصد او د عقد په ذريعه ورکړی وي، يا د يو چا له قصد او عقد څخه بغير د هغه لاس ته راغلی وي.

## د وديعت حکم

قَالَ: الْوَدِيعَةُ أَمَانَةٌ فِي يَدِ الْمُودَعِ فرمايي: وديعت [امانتاً اېښوول سوی مال] د مُودَع په قبضه کي امانت وي إِذَا هَلَكَتْ کله چي وديعت هلاک [ضايع] سي لَمْ يَضْمَنْهَا نو مُودَع د هغه نه ضامن کيږي لِقَوْلِهِ الْعَلَيْهِ[1]: «لَيْسَ عَلَى الْمُسْتَعِيرِ غَيْرِ الْمُغِلِّ ضَمَانٌ وَلَا عَلَى الْمُسْتَوْدَعِ غَيْرِ الْمُغِلِّ ضَمَانٌ» ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "پر هغه عاريتاً اخيستونکي ضمان نسته کوم چي خائن [خيانت کونکی] نه وي او نه پر هغه مُودَع ضمان سته کوم چي خائن نه وي" وَلِأَنَّ بِالنَّاسِ حَاجَةً إِلَى الِاسْتِيدَاعِ او ځکه چي امانتاً اېښوولو ته د خلکو ضرورت وي فَلَوْ ضَمَّنَّاهُ نو که چيري موږ مُودَع ضامن وګرځوو يَمْتَنِعُ النَّاسُ عَنْ قَبُولِ الْوَدَائِعِ نو خلک به د وديعتونو [امانتونو] له قبلولو څخه منع سي فَيَتَعَطَّلُ مَصَالِحُهُمْ او د خلکو مصلحتونه [ضرورتونه] به بلا عمله [او نا حل] پاته سي قَالَ: وَلِلْمُودَعِ أَنْ يَحْفَظَهَا بِنَفْسِهِ وَبِمَنْ فِي عِيَالِهِ فرمايي: او مُودَع ته دا اختيار سته چي په خپله د ويعت [امانت مال] حفاظت وکړي يا د هغه

[1] تخريج: رواه دار قطني في سُنَنه، رقم الحديث: ۱۷۰. وعبد الرازق في مصنفه، رقم الحديث: ۱۴۷۸۲.

کسانو په ذریعه د هغه حفاظت وکړي کوم چې د ده له کورنۍ څخه وي لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّهُ يَلْتَزِمُ حِفْظَ مَالِ غَيْرِهِ عَلَى الْوَجْهِ الَّذِي يَحْفَظُ مَالَ نَفْسِهِ ځکه ښکاره همدا ده چې مُودَع به د بل چا د مال حفاظت په داسې توګه پر ځان لازموي لکه څرنګه چې د خپل مال حفاظت کوي وَلِأَنَّهُ لَا يَجِدُ بُدًّا مِنَ الدَّفْعِ إِلَى عِيَالِهِ او ځکه چې خپل کورنۍ والا ته له ورکولو څخه هغه هیڅ چاره نه لري لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُهُ مُلَازَمَةُ بَيْتِهِ وَلَا اسْتِصْحَابُ الْوَدِيعَةِ فِي خُرُوجِهِ ځکه چې د هغه لپاره نه د کور لازم نیول [همېشه پکښې اوسېدل] ممکن دي او نه د بهر تللو په صورت کې [همېشه] ودیعت د ځان سره ساتل ممکن دي فَكَانَ الْمَالِكُ رَاضِيًا بِهِ نو ځکه مالک [مُودِع] به په داسې حفاظت سره راضي وي [یعني په دې به راضي وي چې مُودَع په خپل کورنۍ والا د ودیعت حفاظت وکړي] فَإِنْ حَفِظَهَا بِغَيْرِهِمْ أَوْ أَوْدَعَهَا غَيْرَهُمْ او که چیرې مودَع له خپل کورنۍ والا څخه بغیر په بل چا د ودیعت حفاظت وکړي یا ودیعت بل چا ته امانتاً کېښېږدي ضَمِنَ نو هغه ضامن کېږي لِأَنَّ الْمَالِكَ رَضِيَ بِيَدِهِ لَا بِيَدِ غَيْرِهِ ځکه چې مالک [مودِع] صرف د هغه په قبضه راضي سوی دی، نه د بل چا په قبضه وَالْأَيْدِي تَخْتَلِفُ فِي الْأَمَانَةِ او په امانت [ساتلو] کې د خلکو قبضې مختلفه وي وَلِأَنَّ الشَّيْءَ لَا يَتَضَمَّنُ مِثْلَهُ او ځکه چې یو شی هم خپل مثل لره نه شاملیږي كَالْوَكِيلِ لَا يُوَكِّلُ غَيْرَهُ لکه څرنګه چې وکیل بل څوک وکیل نه سي جوړولای وَالْوَضْعُ فِي حِرْزِ غَيْرِهِ إِيدَاعٌ او د بل چا په محفوظه ځای کې ایښوول هم امانتاً ایښوول دي إِلَّا إِذَا اسْتَأْجَرَ الْحِرْزَ مګر دا چې مودَع د بل چا محفوظه ځای په کرایه ونیسي فَيَكُونُ حَافِظًا بِحِرْزِ نَفْسِهِ نو په دې صورت کې به هغه په خپل ذاتي محفوظه ځای سره حفاظت کونکی وي قَالَ: إِلَّا أَنْ يَقَعَ فِي دَارِهِ حَرِيقٌ فَيُسَلِّمَهَا إِلَى جَارِهِ فرمایي: مګر دا چې د مودَع کور اُور واخلي او هغه خپل همسایه ته ودیعت وسپاري أَوْ يَكُونَ فِي سَفِينَةٍ فَخَافَ الْغَرَقَ فَيُلْقِيهَا إِلَى سَفِينَةٍ أُخْرَى یا مودَع په کښتۍ کې وي او د غرقېدلو [ډوبېدلو] ېره وي او هغه بلې کښتۍ ته ودیعت وغورځوي [نو په دې صورتونو کې مودَع نه ضامن کېږي] لِأَنَّهُ تَعَيَّنَ طَرِيقًا لِلْحِفْظِ فِي هَذِهِ الْحَالَةِ ځکه چې په دې حالت کې د حفاظت کولو لپاره همدا طریقه مُتعینه ده [یعني په دې صورت کې د حفاظت همدا یوازینی لاره ده] فَيَرْتَضِيهِ الْمَالِكُ نو ځکه

مالک به په دې راضي وي وَلَا يُصَدَّقُ عَلٰى ذٰلِكَ إِلَّا بِبَيِّنَةٍ او په دې باره کې به له بيّنه [ګواهي] څخه بغير د مودَع تصديق نه کيږي لِأَنَّهُ يَدَّعِي ضَرُورَةً مُسْقِطَةً لِلضَّمَانِ بَعْدَ تَحَقُّقِ السَّبَبِ ځکه چې هغه د يو داسي ضرورت دعوىٰ کوي کوم چې [د ضمان] د سبب تر ثابتېدلو وروسته د ضمان ساقطونکی دی فَصَارَ كَمَا إِذَا ادَّعَى الْإِذْنَ فِي الْإِيدَاعِ نو دا داسي سوه لکه مودَع چې د امانتاً اېښوولو په هکله [د مودِع] د اجازت دعوىٰ وکړي [چې ما ته خو مودِع د "ايداع" اجازت راکړی وو] قَالَ: فَإِنْ طَلَبَهَا صَاحِبُهَا فرمايي: که چيري د وديعت مالک د وديعت طلب [مطالبه] وکړي فَحَبَسَهَا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلٰى تَسْلِيمِهَا او مودَع هغه [وديعت] منع کړي حال دا چې مودَع د هغه پر ورسپارلو قدرت لري ضَمِنَهَا نو مودَع د هغه ضامن کيږي وَلِأَنَّهُ مُتَعَدٍّ بِالْمَنْعِ ځکه چې د منع کولو په وجه هغه تجاوز کونکی [تعدی کونکی] دی وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَمَّا طَالَبَهُ او دا حکم ځکه دی چې کله مودِع [د وديعت مالک] له هغه څخه مطالبه وکړه لَمْ يَكُنْ رَاضِيًا بِإِمْسَاكِهِ بَعْدَهُ نو مودِع تر دې وروسته د مودَع په راګرځولو راضي نه سو [يعني تر دې وروسته مودِع په دې راضي نه دی چې مودَع د هغه وديعت راوګرځوي او د ځان سره يې وساتي] فَيَضْمَنُهَا بِحَبْسِهِ عَنْهُ نو ځکه له مودِع څخه د هغه د منع کولو [راګرځولو] په وجه به ضامن کيږي.

**اللغات**: ﴿امانـة﴾ امانت، هغه څه چې د هغه حفاظت کول ضروري وي (مَا وَجَبَ حِفْظُهُ)، ﴿المستعير﴾ هغه کس چې په عاريت يعني په خواست امانتاً له بل چا څخه شی واخلي چې زه يې بيرته درکوم. ﴿المُغِلّ﴾ د افعال د باب فاعل دی: نقصان کونکی، خيانت کونکی، ﴿المستودَع﴾ مودَع، چا ته چې د امانت په توګه مال اېښوول سوی وي، ﴿يتعطّل﴾ د تفعّل مضارع ده: بې کاره کېدل، بلا عمله پاتېدل، ختمېدل، ﴿المصالح﴾ جمع د مَصْلَحَةٌ ده: ښېګڼې، منافع، ﴿يتضمن﴾ د تفعّل مضارع ده: متضمن کېدل، ضمناً شاملېدل، ﴿عِيَال﴾ کورنۍ والا، د کورنۍ غړي کوم چې د سړي (مودَع) سره اوسيږي او د هغه نفقه خوري لکه ښځه، بچيان، غلامان، سپين ږيري او داسي نور، صاحب د معجم يې همداسي تعريف کړی دی: عيال الرجل: الذي يسكنون معه وينفق عليهم كامرأته وأولاده وغلامه، وأمّه وأباه الشيخيان الفانيان الفقيران، ﴿ملازمة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: د يو شي سره لازم او متصل اوسېدل، ﴿استصحاب﴾ د استفعال مصدر دی: د ځان سره ساتل (د ځان سره لرل)، ﴿حِرز﴾ د

حاء په کسره سره: محفوظه ځای (خوندي ځای)، د حاء په فتحه سره حَرْز: حفاظت، ساتنه، ﴿حريق﴾ اُور، ﴿يرتضي﴾ د افتعال مضارع ده: راضي کېدل، خوښوول.

**تشريح**: په دې عبارت کې څلور مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده چې د وديعت مال د مودَع سره امانت وي او که چيري د هغه له تجاوز او خيانت څخه بغير د وديعت مال ضايع سي، نو پر مودَع د هغه ضمان (تاوان) نه لازميږي؛ لکه څرنګه چې په حديث مبارک کې د دې صراحت سوی دی، او بل دا چې امانت ايښوولو ته د خلکو ضرورت هم پيښيږي، اوس که چيري پر مودَع او امين د وديعت ضايع کېدلو ضمان (تاوان) لازم کړی سي، نو د ضمان (تاوان) له بيري به خلک د چا وديعت نه قبلوي او دا به د دغې نقصان سبب وګرځي.

(۲)... مودَع په خپله هم د وديعت حفاظت کولای سي او د خپل کورنۍ په افرادو هم د هغه حفاظت کولای سي، او د کورنۍ په افرادو له حفاظت کولو څخه بغير مودَع بله هيڅ چاره نه لري؛ ځکه چې مودَع نه همېشه په کور کې اوسېدای سي او نه له کور څخه بهر د وديعت مال هر وخت په غاړه ګرځولای سي، نو ځکه خامخا به هغه په خپل کورنۍ والا سره د وديعت حفاظت کوي، او څرنګه چې د مالک (مودِع) مقصود او مطلب دا دی چې د هغه د مال حاظت وسي، نو ځکه مالک به هم په دې راضي وي، ها! مالک د مودَع او د هغه د کورنۍ والا څخه بغير په بل چا سره د وديعت په حفاظت کولو راضي نه وي، لهذا که چيري مودَع له خپل کورنۍ والا څخه بغير په بل چا د وديعت حفاظت وکړي، نو پر هغه ضمان لازميږي؛ ځکه چې مالک صرف پر مودَع او د هغه په ضمن کې د هغه پر کورنۍ والا اعتماد کړی دی، او د امانت ساتلو په هکله د خلکو حالات او قبضې مختلفه وي، نو ځکه ممکنه ده چې بل څوک د هغه دومره حفاظت نه وکړی سي او خيانت وکړي او په دې توګه د مالک مال ضايع سي.

والوضع في الحرز إلخ: د دې حاصل دا دی چې څرنګه بل چا ته د وديعت په ايښوولو سره پر مودَع ضمان لازميږي، همداسې د بل چا په محفوظه ځای کې د وديعت په خوندي کولو سره هم ضمان لازميږي؛ ځکه چې دا هم بل چا ته وديعت ايښوول دي. ها! که چيري مودَع هغه ځای په کرايه واخلي، نو بيا ضمان ختميږي؛ ځکه دا داسي ده لکه په خپل محفوظه ځای کې په خپله د هغه حفاظت کول، او په خپله د مودَع د حفاظت په صورت کې پر هغه ضمان نه لازميږي.

(۳)... دريمه مسئله دا ده چې مودَع د وديعت مال په خپل کور کې ايښی وي لېکن کور اُور واخلي او هغه دا مال د خپل همسايه کور ته ورسوي، يا د وديعت مال په کښتۍ کې وي او کښتۍ غرقېدلو ته نژدې سي او مودَع دا مال بلې کښتۍ ته وغورځوي، نو په دې صورت کې پر هغه ضمان نه لازميږي؛ ځکه چې په دې صورت کې بل ځای ته له منتقل کولو څخه بغير د هغه مال حفاظت ممکن نه دی

بلکي اوس د حفاظت همدا يوازينی لاره ده، نو ځکه مالک به په دې راضي وي او مودَع به په دې فعل کي متعدي او تجاوز کونکی نه وي. لېکن د اُور لګېدلو او د کښتئ غرقېدلو په هکله به د مودِع قول او دعویٰ هغه وخت منل کېږي، کله چي هغه پر خپل قول او دعویٰ بيّنه پېش کړي؛ ځکه چي په دې دعویٰ سره مودَع له خپل ځان څخه ضمان (يعني د وديعت تاوان) ليري کوي، حال دا چي د هغه د دې فعل په وجه پر هغه ضمان لازم او ثابت دی، نو ځکه له خپل ځان څخه د ضمان ليري کولو لپاره به پر هغه بيّنه پېشول لازم وي. د دې مثال دا دی چي که مودَع بل چا ته وديعت کښېږدي او بيا دا دعویٰ وکړي چي "مودِع (مالک) ما ته د دې اختيار او اجازت راکړی وو چي زه وديعت بل چا ته کښېږدم"، او مودِع د دې انکار کوي، نو په دې صورت کي هم پر مودَع بيّنه پېشول لازم دي؛ ځکه چي دلته هغه د ضمان ساقطېدلو مدعي دی، همداسي په پورتنئ مسئله کي هم هغه د ضمان ساقطېدلو مدعي دی، نو ځکه په دې حواله سره پر هغه بيّنه پېشول ضروري دي.

(۴)... که چيري مودِع (مالک) له مودَع څخه د خپل وديعت مطالبه وکړي چي "زما امانتاً ايښوول سوی مال ما ته وسپاره!"، لېکن مودَع د قدرت علی التسليم باوجود هغه راو نه ګرځوي او مودِع ته يې نه وسپاري، نو دا د مودَع له طرفه تعدی او تجاوز دی او د دې راګرځولو په وجه پر هغه ضمان لازميږي؛ ځکه چي د مودِع (مالک) له طرفه له مودَع څخه د خپل وديعت غوښتل د دې خبري دليل دا دی چي تر دې وروسته مودِع (مالک) د هغه سره د وديعت په ايښوولو راضي نه دی، نو ځکه اوس به د وديعت په منع کولو او راګرځولو سره پر مودَع ضمان لازميږي.

## د بل مال سره د وديعت ګډولو حکم

قَالَ: وَإِنْ خَلَطَهَا الْمُودَعُ بِمَالِهِ حَتّٰى لَايَتَمَيَّزَ فرمايي: او که چيري مودَع د وديعت مال په خپل مال داسي ګډ کړي چي [له وديعت څخه] نه سي جلا کېدای ضَمِنَهَا نو مودَع د وديعت ضامن کېږي ثُمَّ لَا سَبِيلَ لِلْمُودِعِ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ بيا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز [تر دې وروسته] د مودِع لپاره پر دې وديعت هيڅ لاره [او اختيار] نسته وَقَالَا❀: إِذَا خَلَطَهَا بِجِنْسِهَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي که مودَع د وديعت په همجنس مال هغه ګډ کړي شَرِكَهُ إِنْ شَاءَ نو مودَع د مودِع [مالک] سره شريک کېږي که چيري د مودِع خوښه وي مِثْلُ أَنْ يَخْلِطَ الدَّرَاهِمَ الْبِيضَ بِالْبِيضِ وَالسُّودَ بِالسُّودِ مثلاً

❀ القول الراجح: قول الإمام أعظم رَحِمَهُ الله، كما ذكر في ملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۴۷۱)، وكـذا فـي رد المختـار (ج:۴، ص:۵۵۴). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۱۴]

مودَع سپين دراهم په سپينو دراهمو ګډ کړي يا تور دراهم په تورو ګډ کړي وَالْحِنْطَةَ بِالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرَ بِالشَّعِيرِ يا غنم په غنمو ګډ کړي يا اوربشي په اوربشو ګډې کړي لَهُمَا: أَنَّهُ لَا يُمْكِنُهُ الْوُصُولُ إِلَى عَيْنِ حَقِّهِ صُورَةً د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي [دلته] د مالک لپاره صورتاً خپل عَين حق ته رسېدل [ترلاسه کول] ممکن نه دي وَأَمْكَنَهُ مَعْنًى بِالْقِسْمَةِ او د تقسيم په ذريعه د هغه لپاره دا ممکن دي فَكَانَ اسْتِهْلَاكًا مِنْ وَجْهٍ دُونَ وَجْهٍ نو ځکه دا به په يوه اعتبار سره هلاکول [ضايع کول] او په يوه اعتبار سره به هلاکول نه وي فَيَمِيلُ إِلَى أَيِّهِمَا شَاءَ نو ځکه په دې دواړو کي چي مودِع کوم يوه ته خوښه ميلان دي وکړي وَلَهُ: أَنَّهُ اسْتِهْلَاكٌ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي دا په هر اعتبار سره هلاکول دي لِأَنَّهُ فِعْلٌ يَتَعَذَّرُ مَعَهُ الْوُصُولُ إِلَى عَيْنِ حَقِّهِ ځکه دا يو داسي فعل دی چي د هغه سره خپل عَين حق ته رسېدل [ترلاسه کول] ناممکن دي وَلَا مُعْتَبَرَ بِالْقِسْمَةِ او تقسيم لره هيڅ اعتبار نسته لِأَنَّهَا مِنْ مُوجَبَاتِ الشَّرِكَةِ ځکه چي هغه د شرکت له احکامو څخه دي فَلَا تَصْلُحُ مُوجِبَةً لَهَا نو ځکه تقسيم به د شرکت د مُوجب کېدلو صلاحيت نه لري وَلَوْ أَبْرَأَ الْخَالِطَ او که چيري مودِع ګډونکی [مودَع] بري کړي [معاف يې کړي] لَا سَبِيلَ لَهُ عَلَى الْمَخْلُوطِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر ګډ کړی سوي مال د هغه هيڅ لاره [او اختيار] نسته لِأَنَّهُ لَا حَقَّ لَهُ إِلَّا فِي الدَّيْنِ ځکه چي د هغه حق صرف په دَين [ضمان] کي دی وَقَدْ سَقَطَ حال دا چي [د ابراء په وجه] دا حق ساقط سو وَعِنْدَهُمَا بِالْإِبْرَاءِ يَسْقُطُ خِيَرَةُ الضَّمَانِ فَيَتَعَيَّنُ الشَّرِكَةُ فِي الْمَخْلُوطِ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په ابراء سره د ضمان اخيستلو اختيار ساقطېږي او په مخلوط مال کي شرکت مُتعيّن کېږي وَخَلْطُ الْخَلِّ بِالزَّيْتِ وَكُلِّ مَائِعٍ بِغَيْرِ جِنْسِهِ يُوجِبُ انْقِطَاعَ حَقِّ الْمَالِكِ إِلَى الضَّمَانِ او د کونجتو تېل د زيتون په تېلو ګډول او هر بهېدونکي [اوبلن (نرم)] شی د هغه له جنس څخه بغير په بل جنس ګډول د ضمان وطرف ته د مالک د حق ختمېدل لازموي [يعني په دې سره د مودِع حق ختمېږي او په ضمان بدلېږي] وَهٰذَا بِالْإِجْمَاعِ او دا په اجماع سره دي [يعني دا حکم متفق عليه دی] لِأَنَّهُ اسْتِهْلَاكٌ صُورَةً وَكَذَا مَعْنًى ځکه چي دا هم د صورت په اعتبار سره هلاکول دي او هم د معنیٰ په

اعتبار سره لِتَعَذُّرِ الْقِسْمَةِ بِاعْتِبَارِ اخْتِلَافِ الْجِنْسِ ځکه چي [دلته] د جنس د مختلف کېدلو په اعتبار سره تقسیم ناممکن دی وَمِنْ هَذَا الْقَبِيلِ خَلْطُ الْحِنْطَةِ بِالشَّعِيرِ فِي الصَّحِيحِ او د صحيح قول مطابق غنم په اوربشو ګډول هم له دغه قبيلې څخه دي لِأَنَّ أَحَدَهُمَا لَا يَخْلُو عَنْ حَبَّاتِ الْآخَرِ ځکه چي په دوی کي يو د بل يوه له دانو څخه نه خالي کيږي [بلکي په هريوه کي د بل يوه داني ګډي پاتيږي] فَتَعَذَّرَ التَّمْيِيزُ وَالْقِسْمَةُ نو ځکه [دلته هم] هم تمييز [سره جلا کول] او تقسيم مشکل دی وَلَوْ خَلَطَ الْمَائِعَ بِجِنْسِهِ او که چيري بهيدونکی شی په خپل همجنس شي ګډ کړي فَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ يَنْقَطِعُ حَقُّ الْمَالِكِ إِلَى ضَمَانٍ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مالک حق د ضمان وطرف ته ختميږي [يعني په ضمان سره بدليږي] لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ يُجْعَلُ الْأَقَلُّ تَابِعًا لِلْأَكْثَرِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز زيات مقدار والا ېه د کم مقدار والا تابع ګرځول کيږي اعْتِبَارًا لِلْغَالِبِ أَجْزَاءً د اجزاؤ په توګه د غالب مقدار په اعتبار کولو سره [د زياتو اجزاؤ په عتبار کولو سره] وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ* شَارَكَهُ بِكُلِّ حَالٍ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز مودِع په هر حال کي د مودَع شريک کيږي لِأَنَّ الْجِنْسَ لَا يَغْلِبُ الْجِنْسَ عِنْدَهُ ځکه چي د هغه په نېز جنس پر جنس نه غالب کيږي عَلَى مَا مَرَّ فِي الرَّضَاعِ لکه مخکي چي په کتاب الرضاع کي [دا مسئله] تېره سوه وَنَظِيرُهُ خَلْطُ الدَّرَاهِمِ بِمِثْلِهَا إِذَابَةً او د دې اختلاف مثال د ويعت دراهم په خپل هممثل دراهمو ګډول دي د ويلي کولو په توګه لِأَنَّهُ يَصِيرُ مَائِعًا بِالْإِذَابَةِ ځکه چي په ويلي کولو سره ټول دراهم مايع ګرځي.

**اللغات:** ﴿يتميز﴾ د تفعّل مضارع ده: جلا کېدل، عليحده کېدل، ﴿اندراهم البيض﴾ سپين دراهم، خالص او اصلي دراهم، ﴿استهلاك﴾ د استفعال مصدر دی: هلاکول، ضايع کول، ﴿يتعذّر﴾ د تفعّل مضارع ده، د دې باب دوې معناوي دي: ناممکن کېدل، مشکل کېدل، ﴿يميل﴾ د ضرب مضارع ده: ميلان کول، يو طرف ته رغبت کول، ﴿خيرة﴾ اختيار، ﴿الحَلّ﴾ په حاء سره: د کونجتو تېل چي هغه ته "شيرج" هم وايي (معجم الوسيط، مصباح اللغات)، ﴿الزيت﴾ د زيتون تېل (روغن)،

* القول الراجح: قول الإمام أعظم رَحِمَهُ الله، كما ذكر في ملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۴۷۱)، و كذا في الدر المختار (ج:۴، ص ۵۵۴)، و الهندية (ج:۴، ص:۳۴۸). [القول الراجح ج:۲ ص:۲۱۵]

مطلق ټېلو ته هم وايي، ﴿مائع﴾ بهېدونکی، اوبلن، نرم، ویلېدونکی شی، ﴿إذابة﴾ د افعال د باب مصدر دی: ویلي کول، مایع کول، ټینګ مواد د حرارت په واسطه اوبه کول.

**تشریح**: په دې عبارت کې درې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که چیري مودَع د مال ودیعت سره خپل مال داسي ګډ کړي چي د دواړو سره جلا کول ناممکن وي، نو پر مودَع د ودیعت ضَمان واجبېږي؛ ځکه چي د ګډولو په وجه هغه تعدی (ناحقه تصرف) وکړی، او د تعدی کولو په صورت کي امین هم ضامن کیږي، او د ضمان ورکولو په وجه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز له دغه مال ودیعت څخه د مودِع (مالک) حق ختمیږي، کنې د ضمان او عَین (مال) اجتماع به لازم سي کوم چي ناممکنه ده. او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دلته مودِع ته دوه اختیاره حاصلیږي: ① یا هغه دي د مال دیعت ضمان (تاوان) واخلي او ودیعت دي پرېږدي، ② یا هغه دي په مخلوط (ګډ کړی سوي) مال کي د مودَع سره شریک سي، لېکن دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي ګډ کړی سوی مال د ودیعت له جنس څخه وي، مثلاً ودیعت سپین دراهم یا غنم وي او مودَع هم په هغه سپین دراهم یا غنم ګډ کړي وي.

د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز مودِع ته د اختیار حاصلېدلو دلیل دا دی چي د خلط او ګډېدلو په وجه اوس صورتاً مودِع خپل عَین حق نه سي اخیستلای، ها! معناً خپل حق اخیستلای سي په دې توګه چي د مودَع سره شریک سي او دوی دا مخلوط مال سره تقسیم کړي، نو ځکه مودِع ته به له پورتني دوو کارو څخه دیوه اختیار حاصلیږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي سره ګډول او خلط کول په هر اعتبار سره استهلاک او ضایع کول دي؛ ځکه چي د دواړو مالونو د ګډېدلو په وجه د مودِع لپاره بعینهٖ خپل حق ترلاسه کول ناممکن سوه، او اوس له ضمان اخیستلو څخه بغیر بله هیڅ چاره نسته، نو ځکه مودِع به ضمان اخلي او پر خپله لار به ځي. او د تقسیم په ذریعه به مودِع د حق ترلاسه کونکی (اخیستونکی) نه ګرځول کیږي؛ ځکه چي تقسیم د شرکت له احکامو څخه دی او د شرکت لپاره تقسیم علت مُوجِبه ګرځېدل صحیح نه دي؛ ځکه چي د هیڅ شي حکم هم د هغهٔ شي لپاره علت نه سي ګرځېدای، نو ځکه دلته به نه په مخلوط مال کي مودِع شریک کیږي او نه به هغه تقسیمول کیږي.

(۲)... که چیري مودِع له ضمان څخه ګډونکي (خالط) یعني مودَع بري کړي، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مودِع حق په بشپړه توګه ساقطیږي؛ ځکه چي د هغه حق په ضمان کي دی او هغه په ابراء (بري کولو سره) خپل دغه حق ساقط کړی، نو ځکه اوس به هغه ته هیڅ شی نه

ورکول کيږي. او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په ابراء سره فقط د ضمان حق ساقطيږي او له ضمان ساقطېدلو څه وروسته شرکت مُتعيّن کيږي (دا ګواکي د مخکنۍ مسئلې د اختلاف ثمره ده)

(۳)... که چيري د مودَع سره د کونجتو تېل د وديعت (امانت) په توګه پراته وي او مودَع په هغه خپل د زيتون تېل ګډ کړي، يا د مودَع سره داسي بل بهېدونکی شی وديعتاً پروت وي او مودَع په هغه د خلاف جنس بهېدونکی شی ګډ کړي، نو په دې صورت کي بالاتفاق له وديعت څخه د مالک حق ختميږي او پر مودَع د هغه ضمان واجبيږي؛ ځکه بهيدونکي شيان سره ګډول مِن کُلّ وجه استهلاک دی او اختلاف الجنس دا استهلاک نور مؤکد او مضبوط ګرځوي.

ولوخلط المائع إلخ: او که چيري مودَع د وديعت بهېدونکی شی د خپل هممثل شي سره ګډ کړي (مثلا وديعت شلومبې وي او مودَع خپلې شلومبې په هغه ګډې کړي)، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حکم دا دی چي د مالک (مودِع) حق ختميږي او په ضمان سره بدليږي يعني مودَع به هغه ته صرف ضمان (تاوان) ورکوي، بله چاره نسته؛ ځکه چي دا مِن کُلّ وجه استهلاک دی، په "لِمَا ذَكَرْنَا" سره همدې طرف ته اشاره سوې ده.

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز حکم دا دی چي په دواړو شيانو کي چي د کوم يوه مقدار کم وي، هغه به د زيات (غالب) مقدار والا تابع ګرځول کيږي، لهذا که د وديعت مقدار زيات او غالب وي، نو ټوله مال به مودِع ته ورکول کيږي او مودِع به مودَع ته د هغه مال په اندازه پيسې ورکوي، او که د مودَع د مال مقدار زيات او غالب وي، نو ټوله مال به مودَع اخلي او د هغه په عوض کي به مودِع ته ضمان (تاوان) ورکوي.

د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز حکم دا دی چي دلته مودِع په هر حال کي د مودَع شريک ګرځي، برابره ده وديعت غالب وي او که مال مخلوط غالب وي؛ ځکه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز يو جنس پر خپل هممثل جنس نه غالب کيږي، لکه مخکي چي ذکر سوه چي که د دوو ښځو شيدې سره ګډې کړل سي او بيا هغه شيدې په يو بچي ورودل سي، نو په دې صورت کي د غالب او نا غالب اعتبار نه کيږي بلکي د دواړو ښځو سره رضاعت ثابتيږي (يعني دواړي ښځي د هغه بچي رضاعي مندي ګرځي)، همداسي به په پورتنۍ مسئله کي هم د غالب او اکثر اعتبار نه کيږي او مودِع به د مودَع سره شريک کيږي.

ونظيره خلط الدراهم إلخ: فرمايي چي د پورتني اختلاف مثال دا دی چي د مودَع سره مثلاً زر درهمه وديعتاً (امانتاً) پراته وي او مودَع خپل دراهم وريلي کړي او په هغه دراهمو يې ګډ کړي، نو د امام

صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دامِن كُلِّ وجه استهلاک دی نو مالک ته به صرف ضمان ورکول کېږي. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز کم مقدار والا د زيات (غالب) مقدار والا تابع کېږي. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز مودِع په هر حال کې د مودَع شريک گرځي.

## د بل مال سره د وديعت گډېدلو حکم

قَالَ: وَإِنِ اخْتَلَطَتْ بِمَالِهِ مِنْ غَيْرِ فِعْلِهِ فرمايي: او که چيري د وديعت مال د مودَع له فعل څخه بغير د هغه په مال گډ سي فَهُوَ شَرِيكٌ لِصَاحِبِهَا نو مودَع د وديعت د مالک [مودِع] شريک گرځي كَمَا إِذَا انْشَقَّ الْكِيسَانِ مثلاً دوې خلتې څيري سي فَاخْتَلَطَا او دواړي سره گډې سي لِأَنَّهُ لَا يَضْمَنُهَا لِعَدَمِ الصُّنْعِ مِنْهُ ځکه [په دې صورت کې] د مودَع له طرفه د عمل [دخل] د نشتوالي وجه هغه د وديعت نه ضامن کېږي فَيَشْتَرِكَانِ نو ځکه دواړه به [په وديعت کې] شريک کېږي وَهٰذَا بِالِاتِّفَاقِ او دا [حکم] متفق عليه دی قَالَ: فَإِنْ أَنْفَقَ الْمُودَعُ بَعْضَهَا ثُمَّ رَدَّ مِثْلَهُ فَخَلَطَهُ بِالْبَاقِي فرمايي: که چيري مودَع د مالِ وديعت څه مال خرچ کړي [ځان ته نفقه په رانيسي] بيا د هغه په ځېر مال واپس کړي او په مال وديعت يې گډ کړي ضَمِنَ الْجَمِيعَ نو هغه د ټوله مالِ وديعت ضامن کېږي لِأَنَّهُ خَلَطَ مَالَ غَيْرِهِ بِمَالِهِ ځکه چې هغه د بل چا مال په خپل مال گډ کړی فَيَكُونُ اسْتِهْلَاكًا نو ځکه دا به هلاکول [ضايع کول] وي عَلَى الْوَجْهِ الَّذِي تَقَدَّمَ په هغه توگه کوم چې مخکې تېر سوه قَالَ: وَإِذَا تَعَدَّى الْمُودَعُ فِي الْوَدِيعَةِ فرمايي: او که چيري مودَع په وديعت کې تعدی [ناحقه تصرّف] وکړي بِأَنْ كَانَتْ دَابَّةً فَرَكِبَهَا په دې توگه چې وديعت څاروی وي او مودَع پر هغه سپور سي أَوْ ثَوْبًا فَلَبِسَهُ يا وديعت کپړه وي او مودَع هغه واغوندي أَوْ عَبْدًا فَاسْتَخْدَمَهُ يا غلام وي او مودَع له هغه څخه خدمت واخلي أَوْ أَوْدَعَهَا غَيْرَهُ يا مودَع دا وديعت بل چا ته امانتاً کېښېږدي ثُمَّ أَزَالَ التَّعَدِّيَ فَرَدَّهَا إِلَى يَدِهِ بيا مودَع دغه تعدی [ناحقه تصرف] ختم کړي او وديعت بېرته خپل لاس ته راوړي [يعني په خپل قبضه کې يې واخلي] زَالَ الضَّمَانُ نو ضمان زائليږي [يعني په دې صورت کې مودَع له ضمان څخه بري کېږي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَبْرَأُ عَنِ الضَّمَانِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې مودَع له ضمان څخه نه بري کېږي لِأَنَّ عَقْدَ الْوَدِيعَةِ

ارْتَفَعَ حِينَ صَارَ ضَامِنًا ځکه چي [دلته] د هغه د ضامن ګرځېدلو سره سمدستي عقد وديعت ختم سو لِلْمُنَافَاةِ د منافات په وجه [يعني ځکه چي د ضمان او امانت په مينځ کي منافات او اختلاف دی] فَلَا يَبْرَأُ إِلَّا بِالرَّدِّ عَلَى الْمَالِكِ نو ځکه هغه به [له ضمان څخه] نه بري کيږي مګر په واپس کولو سره و مالک ته وَلَنَا: أَنَّ الْأَمْرَ بَاقٍ او زموږ دليل دا دی: چي د وديعت امر [حکم] اوس هم باقي دی [يا په بله وينا دا چي د وديعت معامله اوس هم باقي پاته ده] لِإِطْلَاقِهِ ځکه امر مطلق دی [يعني ځکه چي مالک مودَع ته د وديعت د حفاظت کولو مطلق امر او حکم کړی دی] وَارْتِفَاعُ حُكْمِ الْعَقْدِ ضَرُورَةَ ثُبُوتِ نَقِيضِهِ او د عقد حکم ختمېدل د هغه د نقيض [ضمان] ثابتېدلو د ضرورت په وجه دي فَإِذَا ارْتَفَعَ لېکن کله چي نقيض ختم سي عَادَ حُكْمُ الْعَقْدِ نو د عقد حکم به واپس راګرځي كَمَا إِذَا اسْتَأْجَرَهُ لِلْحِفْظِ شَهْرًا لکه يو سړی چي بل څوک د حفاظت [چوکيداری] لپاره يوه مياشت په أجرت [په نوکري] ونيسي فَتَرَكَ الْحِفْظَ فِي بَعْضِهِ بيا هغه [نوکر (مودَع)] د مياشتي په څه ورځو کي حفاظت [چوکيداري] پرېږدي ثُمَّ حَفِظَ فِي الْبَاقِي بيا په ما بقي ورځو کي حفاظت وکړي [نو هغه ټوله مياشت حفاظت کونکی شمارل کيږي] فَحَصَلَ الرَّدُّ إِلَى نَائِبِ الْمَالِكِ نو [په دې مسئله کي] د مالک و نائب ته واپس کول موجود سوه.

**اللغات**: ﴿اختلط﴾ د افتعال ماضي ده: سره ګډېدل (يو په بل ګډېدل)، ﴿انشق﴾ د انفعال ماضي ده: څيرېدل (څيري کېدل)، خلاصېدل، ﴿الكيسان﴾ تثنيه د كِيْسٌ ده: هغه خلته کوم چي له ټوکر څخه جوړه سوې وي چي په هغه کي به سپين زر، سره زره (دراهم او دنانير)، ملغلري، ياقوت او داسي نور مالونه ساتل کېدل، جمع: أَكْيَاس، ﴿الصنع﴾ عمل، کار، ﴿تَعَدّٰى﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: تجاوز او زياتوب کول، ناحقه تصرف کول، ﴿ارتفع﴾ د افتعال ماضي ده: پوره ته کېدل (ليري کېدل)، ختمېدل.

**تشريح**: په دې عبارت کي درې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که مودَع په يوه خلته کي خپل مال اېښی وي او په بله خلته کي يې د وديعت مال اېښی وي، بيا هغه دواړي خلتي څيري سي او دواړه مالونه يو د بل سره ګډ سي، نو په دې صورت کي مودَع نه ضامن کيږي؛ ځکه چي د هغه له طرفه هيڅ تعدی (ناحقه تصرف) موجود نه سو، ها! مودَع او مودِع

دواړه په دغه مال کې شریک کیږي؛ ځکه چې د دواړو مالونه سره ګډ سوه او اوس له شرکت څخه بغیر د تقسیم هیڅ صورت نسته.

(۲)... که مودَع له مال ودیعت څخه بعضي مال خرچ کړې لېکن بیا د خرچ کړی سوي مال په اندازه مال په مال ودیعت ګډ کړي، نو په دې صورت کې هغه د ټوله مال ضامن کیږي؛ د بعضي مال ضمان د انفاق (خرچ کولو) په وجه پر لازمیږي او د بعضي ضمان د خلط (ګډولو) په وجه پر لازمیږي؛ ځکه چې انفاق او خلط دواړه د تعدی له قبیلې څخه دي.

(۳)... دریمه مسئله دا ده چې که مودَع په ودیعت کې تعدی او نا حقه تصرف وکړي، مثلاً ودیعت آس یا موټر سایکل او مودَع پر هغه سپور سي، یا ودیعت یو کپړه وي او مودَع هغه واغوندي، یا ودیعت غلام وي او مودَع په هغه د ځان خدمت وکړي، یا ودیعت بل چا ته کښېږي، لېکن بیا هغه دا کارونه پرېږدي او تعدی ختم کړي او ودیعت په خپله قبضه کې واخلي، نو زموږ په نیز مودَع له ضمان څخه بري کیږي

لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله له ضمان څخه نه بري کیږي؛ ځکه چې په دې ودیعت کې د تعدی او نا حقه تصرف کولو په وجه یو وار ضامن سو، او کله چې هغه ضامن سو، نو عقد ودیت ختم سي، نو ځکه اوس دویم وار دا عقد نه بحاله کیږي؛ ځکه چې په ضمان او امانت کې تضاد او اختلاف دی، نو ځکه اوس له ضمان ورکولو څخه بغیر د مودَع لپاره بله چاره نسته.

زموږ دلیل دا دی چې مودِع (مالک) ومودَع ته د ودیعت د مطلق حفاظت حکم کړی دی (احفظ هذا المال [د دې امانت مال حفاظت وکړه!) کوم چې ټولو وختونو لره شامل دی، لهذا د تعدی له ختمېدلو څخه وروسته به دا حکم باقي پاتیږي، هاا څرنګه چې د تعدی په وخت کې د دغه حکم (امانت) نقیض د ضمان په شکل ثابت سوی وي، نو ځکه په هغه وخت کې دا عقد ضرور تاً ختم سوی وي، لېکن کله چې مودع تعدی ختم کړي، نو نقیض هم ختم سي، نو ځکه دوباره به حکم واپس راګرځي او مودَع به د مالک (یعني د مودِع) نائب کیږي، نو ځکه د هغه په خپل قبضه کې ودیعت واپس کول (خپل لاس ته راوړل) د مالک د واپس اخیستلو په څېر دي (یعني ګواکي مالک خپل ودیعت له مالک څخه واپس واخیستی او قبضه یې پر وکړه) او د مالک د واپس اخیستلو په صورت کې پر مودَع ضمان نه لازمیږي، نو ځکه په پورتنۍ مسئله کې به هم پر مودَع ضمان نه لازمیږي. د دې مثال دا دی لکه حامد چې د خپل سامان د حفاظت لپاره زید یوه میاشته د چوکیدار او محافظ په توګه وټاکي، او زید پنځلس ورځې چوکیداري وکړي او پنځه ورځې هغه پرېږدي بیا په آخر کې لس ورځې چوکیداري وکړي، نو زید ټوله میاشت چوکیدار او حفاظت کونکی شمارل کیږي او پر هغه د پنځه ورځو ضمان (تاوان) نه لازمیږي. همداسې به په پورتنۍ مسئله کې هم د ودیعت له استعمالولو څخه وروسته د

استعمال او تعدی په ختمولو سره مودَع د مخکې په شان مودَع شمارل کيږي او پر هغه به ضمان نه لازميږي.

## له وديعت څخه د مودَع د انکار کولو حکم

قَالَ: فَإِنْ طَلَبَهَا صَاحِبُهَا فرمايي: که چيري د وديعت مالک [مودِع] د خپل وديعت طلب وکړي [چې ما ته خپل وديعت واپس کړه!] فَجَحَدَهَا او مودَع د هغه انکار وکړي [چې تا ما ته وديعت نه دی ايښی] ضَمِنَهَا نو مودَع د وديعت ضامن کيږي لِأَنَّهُ لَمَّا طَالَبَهُ بِالرَّدِّ ځکه کله چې مودِع [مالک] له مودَع څخه د واپسی مطالبه وکړه فَقَدْ عَزَلَهُ عَنِ الْحِفْظِ نو هغه مودَع [د خپل وديعت] له حفاظت کولو څخه معزوله کړی فَبَعْدَ ذٰلِكَ هُوَ بِالْإِمْسَاكِ غَاصِبٌ مَانِعٌ نو تر دې وروسته مودَع د وديعت په راګرځولو سره غصب کونکی او منع کونکی دی فَيَضْمَنُهَا نو ځکه هغه به د وديعت ضامن کيږي فَإِنْ عَادَ إِلَى الِاعْتِرَافِ او که چيري [تر دې وروسته] مودَع اقرار ته راوګرځي [يعني د وديعت اقرار وکړي] لَمْ يَبْرَأْ عَنِ الضَّمَانِ نو هغه له ضمان څخه نه بري کيږي لِارْتِفَاعِ الْعَقْدِ ځکه چې عقد ختم سو إِذِ الْمُطَالَبَةُ بِالرَّدِّ رَفْعٌ مِنْ جِهَتِهِ ځکه د واپسی مطالبه کول د مودِع له طرفه د عقد ختمول دي وَالْجُحُودُ فَسْخٌ مِنْ جِهَةِ الْمُودَعِ او نکار کول د مودَع له طرفه فسخ ده كَجُحُودِ الْوَكِيلِ الْوَكَالَةَ لکه له وکالت څخه د وکيل انکار کول وَجُحُودِ أَحَدِ الْمُتَعَاقِدَيْنِ الْبَيْعَ او لکه له بيع څخه د يوه عاقد انکار کول فَتَمَّ الرَّفْعُ نو ځکه رفع [د عقد ختمېدل] پوه سوه [يعني د وديعتا ايښودلو عقد فسخ سو] أَوْ لِأَنَّ الْمُودَعَ يَتَفَرَّدُ بِعَزْلِ نَفْسِهِ بِمَحْضَرٍ مِنَ الْمُسْتَوْدِعِ يا په دې وجه [عقد ختميږي] چې د مودِع په موجوديت کې مودع د خپل ځان په معزوله کولو کې مستقل دی [مطلب دا چې مودَع د خپل ځان معزوله کولو ملکيت (اختيار) لري] كَالْوَكِيلِ يَمْلِكُ عَزْلَ نَفْسِهِ بِحَضْرَةِ الْمُوَكِّلِ لکه وکيل چې د مؤکل په موجوديت کې د خپل ځان معزوله کولو ملکيت لري وَإِذَا ارْتَفَعَ او کله چې عقد ختم سي لَا يَعُودُ إِلَّا بِالتَّجْدِيدِ نو له نوي کولو څخه بغير هغه واپس نه راګرځي فَلَمْ يُوجَدِ الرَّدُّ إِلَى نَائِبِ الْمَالِكِ لهذا د مالک د نائب وطرف ته [دوديعت] واپس کول موجود نه سوه بِخِلَافِ الْخِلَافِ ثُمَّ الْعَوْدِ إِلَى الْوِفَاقِ په خلاف [د عقد په حکم کې] د مخالفت کولو او بيا د اتفاق [موافقت] وطرف ته د واپس کېدلو وَلَوْ جَحَدَهَا عِنْدَ غَيْرِ صَاحِبِهَا او که

چيري مودَع د وديعت له مالک څخه بغير د بل چا سره د وديعت انکار و کړي ايعني د بل چا مخته ووايي چي هغه ما ته هيڅ وديعت نه دی ايښی] لَا يَضْمَنُهَا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز نه ضامن کيږي خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله لِأَنَّ الْجُحُودَ عِنْدَ غَيْرِهِ مِنْ بَابِ الْحِفْظِ ځکه چي د بل چا سره انکار کول [هم] د حفاظت يوه طريقه ده لِأَنَّ فِيهِ قَطْعَ طَمَعِ الطَّامِعِينَ ځکه په دې سره د طمع کونکو [يعني د وديعت د غلا او غصب اراده کونکو] طمع ختميږي وَلِأَنَّهُ لَا يَمْلِكُ عَزْلَ نَفْسِهِ بِغَيْرِ مَحْضَرٍ مِنْهُ أَوْ طَلَبِهِ او ځکه چي د مودِع له موجوديت يا د هغه له طلب څخه بغير مودَع د خپل ځان معزوله کولو ملکيت [اختيار] نه لري فَبَقِيَ الْأَمْرُ نو ځکه معامله [عقد] باقي پاته سو بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ بِحَضْرَتِهِ په خلاف د هغه صورت کله چي انکار [جحود] د مودِع په موجوديت کي وي.

**اللغات:** ﴿جحد﴾ د فتح ماضي ده: د علم باوجود انکار کول (يعني د يو شي په باره کي د خبر لرلو باوجود د هغه انکار کول)، د يو چا د حق انکار کول. ﴿عزل﴾ د ضرب مصدر دی: معزوله کول، برطرفه کول، له کار او منصبه ليري کول. ﴿الإمساك﴾ د افعال مصدر دی: منع کول، راګرځول. ﴿فسخ﴾ د فتح مصدر دی: معامله (عقد) ماتول، ختمول. ﴿يتفرد﴾ د تفعّل مضارع ده: يوازينی کېدل (په يو کار سره مستقل کېدل)، عليحده کېدل. ﴿طمع﴾ تمه، لالچ، اسره.

**تشريح:** مسئله خو ښکاره ده چي که مودِع (مالک) له مودَع څخه د وديعت د واپسۍ مطالبه وکړي او مودَع د وديعت انکار وکړي يا له ورکولو څخه منع وکړي، نو په دې صورت کي مودَع ضامن کيږي؛ ځکه چي د مودِع له طرفه د واپسۍ مطالبه کول په حقيقت کي مودَع د حفاظت له منصبه ليري کول او معزوله کول دي، لهذا د واپسۍ تر مطالبې د هغه انکار کول يا نه ورکول ظلم دي، او ظالم ضامن ګرځي (يعني پر هغه د خپل ظلم ضمان [تاوان] لازميږي)، نو ځکه دا مودَع به هم ضامن ګرځي. او دا ضمان پر هغه باقي پاتيږي حتیٰ که هغه له انکار څخه وروسته اقرار وکړي، نو بيا هم محض په اقرار سره هغه له ضمان څخه نه بري کيږي، هـا! کله چي هغه و مودِع (مالک) ته وديعت وسپاري، نو بيا هغه خلاصيږي؛ ځکه چي د مالک له طرفه د واپسۍ مطالبه کول داسي دي لکه عقد ختمول (يعني لکه د وديعت عقد ختمول) همدارنګه د مودَع انکار کول داسي دي لکه عقد فسخ کول (يعني لکه د وديعت عقد ماتول او ختمول)، نو په ختمولو او فسخ کولو سره خو د عقد نوم و نشان هم ختم سو. لهذا اوس له نوي

عقد (عقدِ جديد) شخخه بغير دا عقد واپس نه سي راګرځېداى، نو ځکه مودَع ته پکار دي چي ژر تر ژره مودِع ته وديعت واپس کړي او خپل ځان خلاص کړي.

**أو لأن المودَع إلخ:** فرمايي چي په پورتنۍ مسئله کي د عقد ماتېدلو او ختمېدلو دويم دليل دا دى چي د مودِع (مالک) په موجوديت کي مودَع تن تنها د ځان معزوله کولو يعني د عقد فسخ کولو او ماتولو ملکيت لري، او د هغه انکار د فسخ کولو او ماتولو علامت دى، نو ځکه په دې حواله سره هم عقد ختم سو، لهذا له نوي عقد شخخه بغير اوس مودَع د وديعت ساتلو مستحق نه دى؛ ځکه چي تر انکار (جحود) وروسته هغه د مالک (مودِع) له طرفه نائب پاته نه سو چي د هغه قبضه د مالک قبضه وشمارل سي او عقد باقي پاته سي. د دې په خلاف په مخکنۍ مسئله کي يعني کله چي مودَع د عقد د حکم په خلاف کار وکړي او کار پرېږدي، نو بيا هم هغه د مالک نائب پاتېږي؛ ځکه د عقد په خلاف کار کولو سره عقد فاسد يا ختم نه ګرځي.

**ولو جحدها إلخ:** د دې حاصل دا دى چي که مودَع له مودِع (مالک) شخخه بغير د بل چا مخته د وديعت انکار وکړي، نو په دې سره عقد (د وديعت عقد) نه فسخ کيږي؛ ځکه چي د بل چا له غلا، غصب او شر شخخه د بچ کېدلو لپاره مودَع او امين همداسي حربې استعمالوي، نو ځکه دا به د حفاظت مؤکد کول وي نه ختمول. دويم دليل دا دى چي د مودِع (مالک) په ناموجوديت کي يا د هغه له مطالبې شخخه بغير مودَع تنها د وديعت عقد نه سي ختمولاى او ځان نه سي معزوله کولاى، نو ځکه په دې حواله سره هم د مودِع (مالک) په ناموجوديت کي د بل چا مخته د مودَع انکار کول به فسخ نه شمارل کيږي.

## د سفر په وخت کي د ځان سره د وديعت ساتلو حکم او تفصيل

قَالَ: وَلِلْمُودَعِ أَنْ يُسَافِرَ بِالْوَدِيعَةِ وَإِنْ كَانَ لَهَا حِمْلٌ وَمُؤْنَةٌ فرمايي: او موع ته دا اختيار سته چي د وديعت سره سفر وکړي که څه هم وديعت لره بوج او خرچه وي [يعني که څه هم وديعت درووند او بار والا شى وي چي د هغه پر وړلو أجرت او خرچه پرېوځي] عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ [دا حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دى وَقَالَا[*]: لَيْسَ لَهُ ذٰلِكَ إِذَا كَانَ لَهَا حِمْلٌ وَمُؤْنَةٌ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي که وديعت لره بوج او خرچه وي نو مودَع ته دا اختيار نسته [چي په سفر کي هغه د ځان سره يووسي] وَقَالَ: الشَّافِعِيُّ: لَيْسَ لَهُ ذٰلِكَ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په دواړو صورتونو کي هغه ته د دې

---

[*] القول الراجح: قول الإمام، كما ظهر من داب المصنف رَحِمَهُ الله، لأنه أجاب عن قولهما بقوله "قلنا مؤنة الردّ يلزمه في ملكه ضرورة امتثال امره..."، وكذا في رد المحتار (ج:۴، ص:۵۵۶)، والهندية (ج:۴، ص:۳۴۳). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۱۵]

اختيار نسته لِأَبِيْ حَنِيْفَةَ إِطْلَاقُ الْأَمْرِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل د حكم مطلق والي دى ايعني مودِع و مودَع ته د حفاظت كولو مطلق حكم كړى دى] وَالْمَفَازَةُ مَحَلٌّ لِلْحِفْظِ إِذَا كَانَ الطَّرِيْقُ آمِنًا او كله چي لاره په امن وي نو دښت [صحرا] هم د حفاظت محل دى وَلِهٰذَا يَمْلِكُهُ الْأَبُ وَالْوَصِيُّ فِيْ مَالِ الصَّبِيِّ او په همدې وجه پلار او وصي د بچي په مال كي د دې [يعني د بچي د مال سره د سفر كولو] اختيار لري وَلَهُمَا: أَنَّهُ تَلْزَمُهُ مُؤْنَةُ الرَّدِّ فِيْمَا لَهُ حِمْلٌ وَمُؤْنَةٌ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چي كوم مال لره بوج او خرچه وي هغه خرچه پر مالک لازميږي وَالظَّاهِرُ أَنَّهُ لَا يَرْضٰى بِهِ او ښكاره دا ده چي مالک به په دې راضي نه وي فَيَتَقَيَّدُ بِهِ نو ځكه دا [د سفر اختيار] به په هغه شي سره مقيد كيږي [چي هغه لره بوج او خرچه نه وي] وَالشَّافِعِيُّ يُقَيِّدُهُ بِالْحِفْظِ الْمُتَعَارَفِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله هغه په متعارف حفاظت سره مقيد كوي وَهُوَ الْحِفْظُ فِي الْأَمْصَارِ او هغه [متعارف] په ښارونو كي حفاظت كول دي وَصَارَ كَالْاِسْتِحْفَاظِ بِأَجْرٍ او دا داسي سوه لكه په أُجرت سره په بل چا حفاظت كول قُلْنَا: مُؤْنَةُ الرَّدِّ تَلْزَمُهُ فِيْ مِلْكِهِ ضَرُوْرَةَ امْتِثَالِ أَمْرِهِ موږ [جوابا] وايو: چي پر مالک د واپسۍ خرچه د هغه په ملكيت كي د هغه د حكم پوره كولو په ضرورت سره لازميږي فَلَا يُبَالِيْ بِهِ نو ځكه په هغه به پروا نه كيږي وَالْمُعْتَادُ كَوْنُهُمْ فِي الْمِصْرِ لَا حِفْظُهُمْ او عادت [او متعارف] په ښار كي د حفاظت كونكو اوسېدل دي نه [په ښار كي] د دوى حفاظت كول وَمَنْ يَكُوْنُ فِي الْمَفَازَةِ يَحْفَظُ مَالَهُ فِيْهَا او څوک چي په دښت كي وي [لكه كوچيان] نو هغوى هلته د خپل مال حفاظت كوي بِخِلَافِ الْاِسْتِحْفَاظِ بِأَجْرٍ په خلاف په أُجرت سره په بل چا حفاظت كول لِأَنَّهُ عَقْدُ مُعَاوَضَةٍ ځكه چي دا د معاوضې عقد دى فَيَقْتَضِي التَّسْلِيْمَ فِيْ مَكَانِ الْعَقْدِ نو هغه د عقد په ځاى كي د ورسپارلو تقاضا كوي وَإِذَا نَهَاهُ الْمُودِعُ أَنْ يَخْرُجَ الْوَدِيْعَةَ او كله چي مودِع هغه [مودَع] له دې څخه منع كړي چي وديعت [له ښاره] بهر وباسي فَخَرَجَ بِهَا بيا مودَع هغه [له ښاره] بهر وباسي ضَمِنَ نو ضامن كيږي لِأَنَّ التَّقْيِيْدَ مُفِيْدٌ ځكه چي دا قيد لګول مفيد دي إِذِ الْحِفْظُ فِي الْمِصْرِ أَبْلَغُ ځكه چي په ښار كي حفاظت كول زيات كامل دي [يعني په ښار كي د شي پوره حفاظت كيږي] فَكَانَ صَحِيْحًا نو ځكه دا قيد لګول به صحيح وي.

**اللغات**: ﴿حِمْلٌ﴾ دلغت په كتابو كي دا لفظ د حاء په كسره سره د څو معناوو لپاره استعمال سوى دى چي له هغه څخه دوې معناوي دا دي: (١) درروند والى (بوج، ثقل)، هغه شى كوم چي (دانسان يا څاروي) پر شا پورته

کړی سي، يعني بار...، او په حاشيه کي ذکر سوي دي چي حمل د حاء په فتحه سره د هغه معنیٰ ده: پورته کول. ﴿مؤنة﴾ خرچه، لګښت (مصرف)، مشقت. ﴿المفازة﴾ دښت، بيابان، صحرا. ﴿المتعارف﴾ د تفاعل اسم فاعل دی: په عرف کي مشهوره او رواج. الحفظ المتعارف: داسي حفاظت کوم چي د خلګو په عرف کي رواج او عادت وي. ﴿الاستحفاظ﴾ د استفعال مصدر دی: له يو چا څخه د حفاظت طلب کول (په بل چا حفاظت کول)، محافظ او چوکيدار جوړول. ﴿امتثال﴾ د افتعال مصدر دی: حکم او فرمان منل (پر ځای کول)، حکم پوره کول.

**تشريح : مسئله** : دا ده چي مودَع د وديعت شی په سفر د ځان سره وړلای سي، برابره ده د هغه پر وړلو خرچه پرېوځي، که نه (يعني برابره ده هغه درونداو بار والا شی وي کوم چي په اُجرت او خرچه سره وړل کيږي او که سپک شی وي)، دا حکم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی. صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي که د هغه پر وړلو خرچه نه پرېوځي، نو مودَع هغه په سفر وړلای سي، لېکن که خرچه پرېوځي، نو هغه ته د دې اختيار او اجازت نسته. امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي برابره ده خرچه پرېوځي، که نه، په دواړو صورتونو کي مودَع د وديعت شی په سفر نه سي وړلای.

**د امام صاحب دليل** : دا دی چي مودِع (مالک) و مودَع ته د مطلق حفاظت حکم کړی دی او مطلق وديعت يې ورسپارلی دی او په دې کي يې هيڅ قيد نه دی لګولای، نو ځکه به مودَع ته د وديعت سره د سفر کولو او د هغه د وړلو اختيار وي، برابره ده د هغه پر وړلو خرچه پرېوځي، که نه. په همدې وجه خو د بچي پلار او د هغه وصي ته دا اختيار سته چي د بچي مال په سفر يووسي، حال دا چي د هغو ولايت مبني بر شفقت او مصلحت وي (لکه مخکي چي شو ځله ذکر سوي دي) او په سفر کي د بچي د مال په وړلو کي شفقت او مصلحت نسته (ځکه چي د ضايع کېدلو خطره يې سته)، لهذا کله چي وصي او پلار ته هم دا اختيار سته، نو مودَع ته به په درجه اولیٰ دا اختيار حاصل وي؛ ځکه چي د هغه ولايت مبني بر شفقت او مصلحت نه وي.

**د صاحبينو دليل** : دا دی چي که د وديعت پر وړلو او راوړلو خرچه پرېوځي نو دا خرچه پر مالک لازميږي، حال دا چي مالک به د وديعت د خرچې په زغملو او اداء کولو راضي نه وي، نو ځکه په سفر کي د وديعت وړلو اختيار به په هغه شي سره مقيد کيږي چي د هغه پر وړلو او راوړلو خرچه نه پرېوځي.

**د امام شافعي دليل** : امام شافعي رَحِمَهُ الله د وديعت حفاظت په حفظ مُتعارف سره مقيد کړی دی، او حفظ متعارف دا دی چي مودَع په ښار کي د هغه حفاظت وکړي، او په ښار کي د حفاظت کولو لپاره د

خرڅې او سفر ضرورت نه پرېوځي، نو ځکه مودَع ته به د سفر کولو اختیار نه وي. لکه کله چې یو سړی د خپل سامان د حفاظت او چوکیدارۍ لپاره یو څوک په اُجرت (په مزدورۍ) ونیسي، نو دغه استحفاظ بالاجر د ښار سره خاص وي او محافظ (چوکیدار) ته په سفر د هغه سامان وړلو اجازت نه وي.

قلنا إلخ: دا د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله د دلیل جواب دی، حاصل یې دا دی چې ستاسو دا وینا چې "په دې سره پر مالک د وړلو او راوړلو خرچه لازمیږي" موږ نه تسلیموو؛ ځکه چې دا خرچه د هغه د حکم (یعني د مالک د حفاظت کولو د حکم) د پوره کولو په وجه پرېوځي او که چیرې مودَع دا ودیعت پریږدي او په سفر ولاړ سي او ودیعت ضایع او هلاک سي نو بیا به څه کیږي!؟. لهذا د معمولي خرڅې په خاطر به ټوله مالِ ودیعت په هلاکت کې نه اچول کیږي. همدارنګه امام شافعي رَحِمَهُ الله چې حفظ ودیعت د حفظ في الأمصار سره خاص کړی دی، دا هم صحیح نه دي بلکې له هغه څخه مراد دا دي چې که مودَع په ښار کې وي نو هلته دې حفاظت کوي او که په صحرا کې وي نو په صحرا کې دې حفاظت کوي؛ ځکه چې په صحرا کې اوسېدونکي خلک (مثلا کوچیان) هم هلته د خپل او نورو خلکو د سامان حفاظت کوي. او امام شافعي رَحِمَهُ الله چې هغه پر استحفاظ بالاجر قیاس کړی دی، دا هم صحیح نه دي؛ ځکه چې استحفاظ عقد معاوضه دی، او په عقد معاوضه کې د عقد په ځای کې تسلیم (ورسپارل) ضروري وي او په سفر کې د سامان په وړلو سره تسلیم نه متحقق کیږي.

وإذا نهاه إلخ: د دې حاصل دا دی چې که مودِع (مالک) د ودیعت له بهر ایستلو څخه مودَع منع کړی وي چې "ته! به له ښاره بهر (دباندې) ودیعت نه باسې"، لېکن بیا هم مودَع دا ودیعت بهر یووسي، نو هغه ضامن کیږي؛ ځکه چې دا ممانعت (منع کول) مفید دي؛ ځکه په ښار کې حفاظت کول زیات کامل او بلیغ دي، نو ځکه په دې صورت کې د مودَع لپاره د هغه د حکم مخالفت کول صحیح نه دي، او که هغه مخالفت وکړي، نو ضمان به اداء کوي.

## د مشترکه ودیعت حکم

قَالَ: وَإِذَا أَوْدَعَ رَجُلَانِ عِنْدَ رَجُلٍ وَدِيعَةً فرمایي: او کله چې دوه خلک د یوه سړي سره ودیعت کښېږدي (یعني هغه ته یو شی امانتاً کښېږدي) فَحَضَرَ أَحَدُهُمَا وَطَلَبَ نَصِيبَهُ مِنْهَا بیا له هغه دوو خلکو څخه یو سړی (یو مودع) راسي او له ودیعت څخه خپله حصه طلب کړي لَمْ يَدْفَعْ إِلَيْهِ حَتَّى يَحْضُرَ الْآخَرُ نو تر څو چې دویم سړی (دویم مودِع) رانه سي تر هغه وخته به ده ته خپله حصه نه ورکول

كيږي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ [دا حكم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [دى] وَقَالَا ❁: يُدْفَعُ إِلَيْهِ نَصِيبُهُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي ده ته به خپله حصه وركول كيږي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: ثَلَاثَةٌ اِسْتَوْدَعُوا رَجُلًا أَلْفًا او په جامع صغير كي [داسي ذكر سوي] دي: درې كسانو يو سړي ته زر درهمه په امانت كښېښول فَغَابَ اثْنَانِ بيا دوه كسان غائب سول فَلَيْسَ لِلْحَاضِرِ أَنْ يَأْخُذَ نَصِيبَهُ عِنْدَهُ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حاضر كس ته دا اختيار نسته چي خپله حصه واخلي وَقَالَا: لَهُ ذٰلِكَ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي حاضر ته د دې اختيار سته وَالْخِلَافُ فِي الْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ او دا اختلاف په كَيلي او وزني شي كي دى وَهُوَ الْمُرَادُ بِالْمَذْكُورِ فِي الْمُخْتَصَرِ او په مختصر القدوري [متن] كي چي كوم اختلاف ذكر سوى دى له هغه څخه هم دغه اختلاف مراد دى لَهُمَا: أَنَّهُ طَالَبَهُ بِدَفْعِ نَصِيبِهِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چي اول مودِع [حاضر] له مودَع څخه د خپلي حصې د وركولو مطالبه كړې ده [چي ما ته خپله حصه راكړه!] فَيُؤْمَرُ بِالدَّفْعِ إِلَيْهِ نو ځكه مودَع ته به د [هغه د حصې] وركولو حكم كيږي كَمَا فِي الدَّيْنِ الْمُشْتَرَكِ لكه څرنګه چي په مشترک قرض كي كيږي وَهٰذَا لِأَنَّهُ يُطَالِبُهُ بِتَسْلِيمِ مَا سَلَّمَ إِلَيْهِ او دا حكم په دې وجه دى چي اول مودِع [حاضر] له مودَع څخه د هغه څه د سپارلو مطالبه كوي كوم چي ده هغه ته ورسپارلي دي وَهُوَ النِّصْفُ او هغه نصف [د وديعت نيمه حصه] ده وَلِهٰذَا كَانَ لَهُ أَنْ يَأْخُذَهُ او په همدې وجه هغه ته د خپل حق اخيستلو اختيار سته فَكَذَا يُؤْمَرُ هُوَ بِالدَّفْعِ إِلَيْهِ نو مودَع ته به هم دا حكم كيږي چي مودِع [حاضر] ته [خپله حصه] وركړي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ طَالَبَهُ بِدَفْعِ نَصِيبِ الْغَائِبِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي اول مودِع [حاضر] د غائب [دويم مودِع] د حصې د وركولو مطالبه كړې ده لِأَنَّهُ يُطَالِبُهُ بِالْمُفْرَزِ ځكه چي هغه د خپل جلا حصې [حق] مطالبه كوي وَحَقُّهُ فِي الْمُشَاعِ حالانكي د هغه حق په مشتركه حصه كي دى [ځكه چي د هغه حق مشترک سوى دى] وَالْمُفْرَزُ الْمُعَيَّنُ يَشْتَمِلُ عَلَى الْحَقَّيْنِ او مُعينه جلا حصه پر

---

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر فى العناية (ج:٧، ص:٤٥٩)، وفى رد المحتار (ج:۴، ص:٥٥٧). [القول الراجح ج:٢، ص:٢١۶]

دوارو حقونو مشتمله وي وَلَا يَتَمَيَّزُ حَقُّهُ إِلَّا بِالْقِسْمَةِ او د اول مودع [حاضر] حق له تقسيم شخه بغیر نه سي جلا کېدای وَلَيْسَ لِلْمُودَعِ وِلَايَةُ الْقِسْمَةِ او مودَع ته د تقسیم ولایت [اختیار] نسته وَلِهٰذَا لَا يَقَعُ دَفْعُهُ قِسْمَةً بِالْإِجْمَاعِ او په همدې وجه د هغه ورکول بالاتفاق تقسیم نه ګرځي بِخِلَافِ الدَّيْنِ الْمُشْتَرَكِ په خلاف د مشترک قرض لِأَنَّهُ يُطَالِبُهُ بِتَسْلِيمِ حَقِّهِ ځکه چي [په هغه کي] یو شریک د خپل حق د سپارلو مطالبه کوي لِأَنَّ الدُّيُونَ تُقْضٰى بِأَمْثَالِهَا ځکه چي قرضونه بالمثل ادا کیږي قَوْلُهُ "لَهُ أَنْ يَأْخُذَهُ" قُلْنَا: لَيْسَ مِنْ ضَرُورَتِهِ أَنْ يُجْبَرَ الْمُودَعُ عَلَى الدَّفْعِ او د ماتن د دې قول "له أن يأخذه" له طرفه موږ [جواباً] وایو: چي د اخیستلو [یا د اخیستلو د جائز کېدلو] لپاره دا ضروري نه ده چي مودَع پر ورکولو مجبوره کړی سي كَمَا إِذَا كَانَ لَهُ أَلْفُ دِرْهَمٍ وَدِيعَةً عِنْدَ إِنْسَانٍ وَعَلَيْهِ أَلْفٌ لِغَيْرِهِ لکه کله چي د یو سړي زر درهمه د بل انسان سره د ودیعت په توګه موجود وي او پر هغه سړي د بل چا [مثلا د حامد] زر درهمه قرض باندي وي فَلِغَرِيمِهِ أَنْ يَأْخُذَهُ إِذَا ظَفِرَ بِهِ نو د هغه سړي قرضخواه [حامد] ته دا اختیار سته چي [د هغه] د ودیعت زر درهمه واخلي کله چي پر هغه زر درهمو موقع پیدا کړي وَلَيْسَ لِلْمُودَعِ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَيْهِ [لیکن] مودَع ته دا حق نسته چي هغه قرضخواه ته ورکړي.

**اللغات**: ﴿نصيب﴾ حصه، حق، ﴿استودع﴾ د استفعال ماضي ده: په امانت ایښوول (امانتاً ورکول)، ﴿المكيل﴾ په کَیل (معلومه پیمانه سره) اندازه کېدونکی شی، پیمانه کېدونکی شی، ﴿مفرز﴾ د افعال اسم مفعول دی: جلا کړی سوی، علیحده کړی سوی، ﴿غريم﴾ دا لفظ له اضدادو څخه دی مقروض او قرضخواه دواړو ته وایي، دلته قرضخواه (د قرض مالک) څني مراد دی، ﴿ظفر﴾ د سمع د باب ماضي ده: کامیابېدل، بری ترلاسه کول، غالبېدل، دیو شي حاصلول (موقع حاصلول).

**تشریح**: **صورت د مسئلې**: دا دی که دوه خلک په مشترکه توګه دیوه مال مالکان وي او دوی خپل دا مشترک مال یو سړي مثلاً خالد ته په امانت کښېږدي، بیا له دوی څخه یو مودِع (مالک) یو خوا ته ولاړ سي او بل مودِع موجود وي او هغه له مودَع (خالد) څخه خپله حصه وغواړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي تر څو دویم (غائب) مودِع حاضر نه سي، تر هغه وخته به موجوده مودِع ته خپله حصه نه ورکول کیږي. او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دیوه مودِع (مالک) په ناموجودیت کي دویم مودِع ته خپله حصه ورکول کېدای . . . خن دا اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي

مال وديعت وزني او کَيلي شی وي او په هغه کي د کمي وزیاتوب خطره او شبهه وي، لېکن که مالِ وديعت له وزني او کَيلي څخه بغير بل شی وي نو د هغه حکم جلا دی.

**د صاحبينو دليل**: دا دی چي دلته يوه مودِع له مودَع (خالد) څخه خپله حصه غوښتې ده او دا حصه هغه مودَع ته سپارلې ده، نو ځکه پر مودَع د دې حصې واپس کول لازم دي. د دې مثال دا دی لکه دوه کسان چي په يوه قرض کي شريکان وي او له هغو څخه يو غائب وي نو د حاضر کس لپاره دا اختيار سته چي له مقروض څخه خپل حق واخلي. او بل دا چي مودَع د مالک نائب دی، او مالک چي هر وخت وغواړي خپل حق اخيستلای سي، نو ځکه مودَع ته هم پکار دي چي هر کله اصل مالک د خپل حق او حصې مطالبه وکړي، نو هغه ته دي خپل حق واپس کړي.

**د امام صاحب دليل**: دا دی چي دلته د دواړو مودعانو (مالکانو) مال يو د بل سره ګډ او مشترک دی، حال دا چي اول مدعي (حاضر مالک) خپله حصه جلا غواړي، حالانکي حصه جلا نه ده، نو ګواکي دا مودِع د دويم غائب مودِع حصه غواړي، او هغه ته د دويم مودِع د حق او حصې غوښتلو هيڅ اختيار نسته، او نه مودَع (خالد) ته دا اختيار سته چي په خپله د وديعت مال تقسيم کړي او د اول مودِع (حاضر) حصه ورکړي، لهذا دلته يوه مودِع ته د حصې ورکولو هيڅ صورت نه جوړېږي، نو ځکه تر څو چي دويم غائب مودِع واپس را نه سي، تر هغه وخته به د اول مودِع مطالبه نه قبلول کيږي.

او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دا پر مشترک قرض قياسول صحيح نه دي؛ ځکه چي قرض قضاء (د اداء په اعتبار سره) مشترک نه وي او بل دا چي قرضونه بالمثل اداء کيږي او اخيستل کيږي، لهذا په هغه کي که څه هم ظاهراً اشتراک وي لېکن معناً او باطناً اشتراک نه وي او د حاضر شريک پر مطالبه او غوښتنه هغه ته خپل حق ورکول کيږي.

<u>وقوله أن يأخذه إلخ</u>: فرمايي اول مدعي (حاضر) ته د خپلي حصې ورکولو په دليل او تاکيد د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دا خبره چي "مالک ته د خپل حق اخيستلو اختيار سته" موږ نه تسليموو؛ ځکه د مالک د دې حق دا مطلب نه دی چي د اول مودِع (حاضر) پر مطالبه مودَع د هغه د حق پر ورکولو مجبوره کړی سي؛ ځکه کله چي دواړو په ګډه مودَع ته وديعت ايښی دی، نو ښکاره خبره ده چي د قاعدې مطابق دي د دواړو په موجوديت کي هغو ته خپل حق ورکول سي، او يوه ته د ورکولو په هکله پر مودَع زور او جبر کول صحيح نه دي. د دې مثال داسي دی لکه ادريس چي وزيد ته زر درهمه وديعتاً ايښی وي او پر ادريس د خالد زر درهمه قرض باندي وي، نو خالد ته دا اختيار سته چي کله هم د ادريس مال د يو چا سره ووينې او پر هغه موقع پيدا کړي، نو هغه دي واخلي، لېکن مودَع يعني زيد ته دا اختيار نسته چي د خالد سره مرسته او ښېګڼه وکړي او په خپله خوښه هغه ته د وديعت مال

ورکړي، همداسي حکم په پورتني مسئله کي هم دی چي مالک خو خپل حق اخيستلای سي، لېکن د ده نائب يعني مودَع په خپله خوښه هغه چا ته نه سي ورکولای.

## دوو کسانو ته قابلِ تقسيم وديعت ايښوول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَإِنْ أَوْدَعَ رَجُلٌ عِنْدَ رَجُلَيْنِ شَيْئًا مِمَّا يُقْسَمُ فرمايي: او که يو سړی دوو خلکو ته داسي شی کښېږدي کوم چي تقسيمېدلای سي لَمْ يَجُزْ أَنْ يَدْفَعَهُ أَحَدُهُمَا إِلَى الْآخَرِ نو جائز نه دي چي په دوی کي يو هغه شی بل يوه ته ورکړي وَلٰكِنَّهُمَا يَقْتَسِمَانِهِ لېکن دوی دواړه به هغه تقسيموي فَيَحْفَظُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصْفَهُ نو له دوی څخه هر يو [هر مودَع] به د هغه شي د نصف حفاظت کوي وَإِنْ كَانَ مِمَّا لَا يُقْسَمُ او که چيري هغه داسي شی وي کوم چي نه سي تقسيمېدلای [يعني د وديعت شی ناقابلِ تقسيم وي] جَازَ أَنْ يَحْفَظَهُ أَحَدُهُمَا بِإِذْنِ الْآخَرِ نو جائز دي چي يو مودَع د بل يوه له اجازت څخه بغير د هغه حفاظت وکړي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَكَذٰلِكَ الْجَوَابُ عِنْدَهُ فِي الْمُرْتَهِنَيْنِ وَالْوَكِيلَيْنِ بِالشِّرَاءِ إِذَا سَلَّمَ أَحَدُهُمَا إِلَى الْآخَرِ او همدا حکم دی د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه دوو کسانو په هکله کوم ته چي رهن ايښوول سوی وي يا هغوی [د يو شي] د رانيولو وکيلان وي، کله چي له دوی څخه يو بل يوه ته [رهن يا رانيول سوی شی] وسپاري وَقَالَا❁: لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَحْفَظَ بِإِذْنِ الْآخَرِ فِي الْوَجْهَيْنِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي په دواړو صورتونو کي يوه ته د بل يوه له اجازت څخه بغير د حفاظت کولو اختيار سته لَهُمَا: أَنَّهُ رَضِيَ بِأَمَانَتِهِمَا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي مودِع [مالک] د دوی دواړو په امانت راضي سوي دی فَكَانَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنْ يُسَلِّمَ إِلَى الْآخَرِ نو ځکه له دوی څخه به هر يوه ته دا اختيار وي چي بل يوه ته يې وسپاري وَلَا يَضْمَنُهُ كَمَا فِيمَا لَا يُقْسَمُ او ورسپارونکی به نه ضامن کېږي لکه څرنګه چي په هغه شي کي دا حکم دی کوم چي تقسيمېدلای نه سي وَلَهُ: أَنَّهُ رَضِيَ بِحِفْظِهِمَا وَلَمْ يَرْضَ بِحِفْظِ أَحَدِهِمَا كُلِّهِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي مودِع [مالک] د دوی دواړو په حفاظت راضي سوی دی او په دي

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في العناية (ج:٧، ص:٤٦٠)، و في الدر المختار (ج:٣، ص:٥٥٧)، ومجمع الأنهر (ج:٣، ص:٢٧٤). [القول الراجح ج:٢، ص:٢١٩]

نه دی راضي سوی چي له دوی څخه صرف يو د هغه د ټوله مال [وديعت] حفاظت وکړي لِأَنَّ الْفِعْلَ مَتَى أُضِيفَ إِلَى مَا يَقْبَلُ الْوَصْفَ بِالتَّجَزِّيْ ځکه فعل [حفاظت] چي کله د داسي شي وطرف ته منسوب کړی سي کوم چي د تجزي په ذريعه وصف [تقسيم] قبلوي يَتَنَاوَلَ الْبَعْضَ دُونَ الْكُلِّ نو هغه فعل د دې شي بعضي حصې لپاره شامليږي، نه ټولي حصې لره فَوَقَعَ التَّسْلِيمُ إِلَى الْآخَرِ مِنْ غَيْرِ رِضَا الْمَالِكِ لهذا [دلته] بل يوه ته ورسپارل د مالک له اجازت څخه بغير واقع سوه فَيَضْمَنُ الدَّافِعُ نو ځکه ورکونکی [ورسپارونکی] به ضامن کيږي وَلَا يَضْمَنُ الْقَابِضُ او اخيستونکی به نه ضامن کيږي لِأَنَّ مُودَعَ الْمُودَعِ عِنْدَهُ لَا يَضْمَنُ ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نېز د مودَع مودَع نه ضامن کيږي وَهَذَا بِخِلَافِ مَا لَا يُقْسَمُ او دا حکم د نا تقسيمېدونکي [غير قابل تقسيم] شي په خلاف دی لِأَنَّهُ لَمَّا أَوْدَعَهُمَا وَلَا يُمْكِنُهُمَا الِاجْتِمَاعُ عَلَيْهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَأَمْكَنَهُمَا الْمُهَايَأَةُ ځکه کله چي مو دِع [مالک] دوو خلکو ته وديعت ايښی دی، حال دا چي د دوی دواړو لپاره شپه او ورځ د هغه شي [د حفاظت] په هکله جمع کېدل ممکن نه دي او د دوی لپاره نوبت [واری] ټاکل ممکن دي كَانَ الْمَالِكُ رَاضِيًا بِدَفْعِ الْكُلِّ إِلَى أَحَدِهِمَا فِي بَعْضِ الْأَحْوَالِ نو په ځيني احوالو کي به مالک صرف يوه مودَع ته د ټوله وديعت په ورکولو [ورسپارلو] راضي وي.

**اللغات**: ﴿مرتهن﴾ د افتعال د باب اسم فاعل دی: هغه کس کوم ته چي رهن (مرهون شی) ايښوول سوی وي، مثلاً زيد له خالد څخه قرض واخلي او د قرض په بدله کي يو شی خالد ته په گرو (په رهن) کښېږدي. نو زيد ته رَاهِن وايي او خالد ته مُرتَهِن وايي او کوم شی چي په گرو ايښول سوی دی هغه ته مَرْهُوْن وايي. ﴿أُضِيف﴾ د افعال له بابه د ماضي مجهولي صيغه ده: يو شی بل شي ته منسوب کول. نسبت يې کول. ﴿تجزي﴾ د تفعّل مصدر دی: جزء، جزء (حصه، حصه) کېدل، ټوکړه، ټوکړه کېدل. پر څو حصو تقسيمېدل. ﴿يتناول﴾ د تفاعل مضارع ده: شامليدل. ﴿المهايأة﴾ د مفاعلې مصدر دی: په نوبت. نوبت يو کار کول. مطلب دا چي د وديعت حفاظت په وار او نوبت سره کول چي زه به په فلانکي وخت کي د ټوله وديعت حفاظت کوم. او ته! به په دې وخت کي د هغه حفاظت کوې!.

**تشريح**: **صورت د مسئلي**: دا دی که يو سړی د وديعت (امانت) په توگه دوو خلکو ته داسي مال کښېږدي کوم چي تقسيم قبلوي او په تقسيمولو سره نه عيبداره کيږي لکه وزني او کَيلي شی (مثلا

غنم، وربجي او داسي نور)، نو په دې صورت کې له دواړو مودَعانو څخه پر هر يوه د نصف، نصف مال وديعت حفاظت کول لازم دي او تنها ديوه مودَع په قبضه کې ټوله مال ورکول صحيح نه دي. ها! که چيرې هغه مال تقسيم قبلوي، نو ديوه مودَع لپاره د هغه حفاظت کول صحيح او جائز دي. دا حکم دا امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی. او دوو مرتهنانو ته مرهون شي اېښوول او دوه کسان د رانيولو وکيلان جوړول هم دا امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر دغه حکم دي، يعنې که مرهون شي او مؤکل به شي تقسيم قبلوي، نو د دواړو لپاره خپل، خپل ذمه واري اداء کول ضروري دي او که هغه تقسيم نه قبلوي، نو صرف يو مرتهن پوره شي په رهن اېښوولای سي او صرف يو وکيل شي رانيولای سي.

د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چې وديعت که تقسيم قبلوي او که يې نه قبلوي، په دواړو صورتونو کې له دوی څخه صرف يوه مودَع ته دا اختيار سته چې د بل مودَع په اجازه سره د وديعت حفاظت وکړي.

**د صاحبينو دليل:** دا دی چې کله مودِع (مالک) دواړو خلکو ته مال وديعت سپارلی دی او دواړه يې امين ګرځولي دي، نو هغه د دوی دواړو په امانت راضي سوی دی، او د دواړو په امانت راضي کېدلو مطلب دا دی چې په دوی کې چې هر يو وغواړي، هغه دې وديعت د خپل ځان سره کښېږدي او مودِع (مالک) ته به نه پر دې څه اعتراض وي او نه به يو ضامن کيږي، لکه څرنګه چې په ناقابل تقسيم شيانو کې صرف يو مودَع د ټوله مال حفاظت کولای سي.

**د امام صاحب دليل:** دا دی چې کله مودِع دواړه خلک امين (امانت ساتونکي) ګرځولي دي، نو هغه د دوی دواړو په حفاظت راضي سوی دی او په دې نه دی راضي سوی چې له هغوی دواړو څخه صرف يو د ټوله وديعت حفاظت وکړي، ځکه که هغه په دې راضي وای، نو بيا به يې دوو خلکو ته زحمت نه ورکولای. او څرنګه چې دلته د حفاظت فعل او حکم د داسي شي سره متعلق دی کوم چې تقسيم او تجزي قبلوي. نو ځکه د مالک (مودِع) د حفاظت حکم به په دواړو مودَعانو کې هر يوه لره نصف، نصف شامل وي او يوه مودَع ته به ټوله مال ورکول، د مالک د حکم او د هغه د رضا خلاف وي او ورکونکی به ضامن کيږي، نه اخيستونکی (قابض)؛ ځکه چې اخيستونکی مودَع المودَع دی. او مودع المودَع دا امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز نه ضامن کيږي.

ها! په نا قابل تقسيم وديعت کې دا امام احب رَحِمَهُ الله په نېز هم يو مودَع د ټوله وديعت حفاظت کولای سي؛ ځکه چې د نا قابل تقسيم کېدلو په وجه د هغه تقسيمول ناممکن وي او هر وخت د دواړو مودعانو اجتماع هم ناممکنه ده. نو ځکه په دې صورت کې دي دواړه مودَعان نوبت او واري وټاکي او په خپل واري کې دي هر مودَع يوازې د ټوله وديعت حفاظت کوي، د دې لپاره چې وديعت

له ضايع کېدلو څخه وساتل سي او په داسي کولو به مالک هم راضي وي؛ ځکه کله چي د هغه مقصد (د وديعت حفاظت) حاصل سي، نو ښکاره خبره ده چي هغه به په دې هم راضي وي چي يوازي يو مودَع د ټوله وديعت حفاظت وکړي. لېکن دا راضي کېدل (رضامندي) د مجبورۍ په وجه دي؛ ځکه چي نا قابل تقسيم شی تقسيم نه قبلوي، نو ځکه پر نا قابل تقسيم شي قابل تقسيم شی قياسول او هلته هم يوازي ديوه مودَع لپاره حفاظت جائز ګرځول صحيح نه دي.

## د مودِع (مالک) د منع کولو باوجود خپلي ښځي يا خپل کورنۍ والا ته وديعت ورکول

قَالَ: وَإِذَا قَالَ: صَاحِبُ الْوَدِيعَةِ لِلْمُودَعِ: لَا تُسَلِّمْهَا إِلَى زَوْجَتِكَ فرمايي: او که چيري د وديعت مالک و مودَع ته ووايي: چي خپلي ښځي ته دا وديعت مه سپاره! فَسَلَّمَهَا إِلَيْهَا لېکن مودَع هغې ته وديعت وسپاري لَا يَضْمَنُ نو مودَع نه ضامن کيږي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: إِذَا نَهَاهُ أَنْ يَدْفَعَهَا إِلَى أَحَدٍ مِنْ عِيَالِهِ او په جامع صغير کي [ذکر سوي] دي: که چيري مودِع [مالک] مودَع له دې څخه منع کړي چي هغه په خپل کورنۍ والا کي يوه ته وديعت ورکړي فَدَفَعَهَا إِلَى مَنْ لَا بُدَّ لَهُ مِنْهُ او مودع داسي کس ته وديعت ورکړي چي له هغه څخه د ده چاره نه وي لَا يَضْمَنُ نو نه ضامن کيږي كَمَا إِذَا كَانَتِ الْوَدِيعَةُ دَابَّةً فَنَهَاهُ عَنِ الدَّفْعِ إِلَى غُلَامِهِ لکه کله چي وديعت يو څاروی [سپارلی] وي او مودِع [مالک] له دې څخه مودَع منع کړي چي هغه دا څاروی خپل غلام ته ورکړي وَكَمَا إِذَا كَانَتْ شَيْئًا يُحْفَظُ فِي يَدِ النِّسَاءِ فَنَهَاهُ عَنِ الدَّفْعِ إِلَى امْرَأَتِهِ او لکه کله چي وديعت داسي شی وي کوم چي د ښځو په لاس کي د هغه حفاظت کيږي او مالک [مودِع] له دې څخه مودَع منع کړي چي هغه دا شی خپلي ښځي ته ورکړي وَهُوَ مَحْمَلُ الْأَوَّلِ او د اول صورت محمل هم دا دی لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ إِقَامَةُ الْعَمَلِ مَعَ مُرَاعَاةِ هَذَا الشَّرْطِ وَإِنْ كَانَ مُفِيدًا ځکه چي د دې شرط د رعايت کولو سره د کار اداء کول [يعني حفاظت کول او د مودِع (مالک) حکم پر ځای کول] ممکن نه دي، که څه هم دا شرط مفيد دی فَيَلْغُو نو ځکه [د مفيد والي باوجود] به دا شرط لغو کيږي وَإِنْ كَانَ لَهُ مِنْهُ بُدٌّ او که چيري له هغه څخه د مودَع چاره وي ضَمِنَ نو بيا مودَع [په وديعت ورکولو سره] ضامن کيږي لِأَنَّ الشَّرْطَ مُفِيدٌ ځکه چي دا شرط مفيدا دی لِأَنَّ مِنَ الْعِيَالِ مَنْ لَا يُؤْتَمَنُ عَلَى الْمَالِ ځکه [ځيني وخت] له کورنۍ والا څخه داسي څوک هم وي چي د مال [د حفاظت]

په باره کې پر هغه اعتماد نه سي کېدای وَقَدْ أَمْكَنَ الْعَمَلُ بِهِ مَعَ مُرَاعَاةِ هٰذَا الشَّرْطِ او د دې شرط د رعایت کولو سره د مودَع لپاره عمل کول ممکن هم دي فَاعْتُبِرَ نو ځکه به دا شرط معتبر وي وَإِنْ قَالَ: إِحْفَظْهَا فِي هٰذَا الْبَيْتِ او که مودِع [مالک] ووايي: چې ته! په دغه خونه [کمره] کې وديعت محفوظ کړه! فَحَفِظَهَا فِي بَيْتٍ آخَرَ مِنَ الدَّارِ او مودَع له هغه خونې څخه بغير د کور په بله خونه کې وديعت محفوظ کړي لَمْ يَضْمَنْ نو نه ضامن کيږي لِأَنَّ الشَّرْطَ غَيْرُ مُفِيدٍ ځکه چې دا شرط مفيد نه دی فَإِنَّ الْبَيْتَيْنِ فِي دَارٍ وَاحِدَةٍ لَا يَتَفَاوَتَانِ فِي الْحِرْزِ ځکه د يوه کور دوې خونې د حفاظت په هکله سره متفاوت [او عليحده] نه وي [يعني د حفاظتګاه کېدلو په هکله په دواړو کې فرق او تفاوت نه وي] وَإِنْ حَفِظَهَا فِي دَارٍ أُخْرٰى او که مودَع هغه وديعت په بل کور کې محفوظ کړي ضَمِنَ نو ضامن کيږي لِأَنَّ الدَّارَيْنِ يَتَفَاوَتَانِ فِي الْحِرْزِ ځکه چې د حفاظت په هکله دوه کورونه سره متفاوت وي فَكَانَ مُفِيدًا نو دا شرط به مفيد وي فَيَصِحُّ التَّقْيِيدُ نو ځکه [د دغه] قيد لګول به صحيح وي وَلَوْ كَانَ التَّفَاوُتُ بَيْنَ الْبَيْتَيْنِ ظَاهِرًا که چيري [د يوه کور] په دوو خونو کې ښکاره تفاوت [فرق] وي بِأَنْ كَانَتِ الدَّارُ الَّتِي فِيهَا الْبَيْتَانِ عَظِيمَةً وَالْبَيْتُ الَّذِي نَهَاهُ عَنِ الْحِفْظِ فِيهِ عَوْرَةٌ ظَاهِرَةٌ په دې توګه چې هغه کور غټ وي په کوم کې چې دوې خونې وي او په هغه خونه کې ښکاره عيب وي په کومه خونه کې چې مودِع [مالک] هغه له حفاظت کولو څخه منع کړې وي صَحَّ الشَّرْطُ نو بيا شرط صحيح کيږي.

**اللغات**: ﴿وديعة﴾ امانت، امانتاً ايښوول سوی شی، ﴿عيال﴾ کورنۍ والا، هغه کسان کوم ته چې سړی نفقه ورکوي، لکه ښځه، بچيان او داسې نور، ﴿بُدّ﴾ چاره، ﴿يؤتمن﴾ د افتعال مضارع مجهول ده: يو څوک امين او قابل اعتماد ګڼل، پر يو چا اعتماد او بروسه کول، ﴿يتفاوت﴾ د تفاعل له بابه مضارع ده: مختلف کېدل، يو شی له بل شي څخه بدلېدل (يعني فرق او توپير پکښې راتلل)،

﴿حرز﴾ د حاء په فتحه سره: حفاظت، ساتنه، د حاء په کسر سره حِرْز: محفوظه ځای.

**تشريح**: **مسئله**: دا ده چې که مودِع (مالک) و مودَع ته مال وديعت کښېږدي او هغه ته ووايي چې "دا خپل ښځې ته مه ورکوه!"، نو په داسې صورت کې به دې ته کتل کيږي چې خپل ښځې ته له ورکولو څخه بغير مودَع د هغه وديعت حفاظت کولای سي، که نه؟ که چيري خپل ښځې ته له ورکولو څخه بغير د وديعت حفاظت ممکن نه وي او د هغې له حفاظت څخه د ده هيڅ چاره نه وي، نو

ښځي ته په ورکولو سره مودَع نه ضامن کیږي، او که چیري هغې ته له ورکولو څخه بغیر هم حفاظت ممکن وي. نو په دې صورت کي مودَع ښځي ته د ودیعت په ورکولو سره ضامن کیږي. همدا حکم د هر هغه کس دی چي هغه له ورکولو څخه بغیر حفاظت ممکن وي یا نه وي، یعني که حفاظت ممکن نه وي. نو مودَع نه ضامن کیږي، او که هغه ته له ورکولو څخه بغیر هم د ودیعت حفاظت کېدای سي، نو مودع ضامن کیږي، مثلاً که مودِع (مالک) و مودَع ته یو آس امانتاً ورکړي او هغه ته ووایي چي "دا خپل غلام ته مه ورکوه!". نو معلومه خبره ده چي مودَع د آس په پالنه او خوراک ورکولو کي دې ته محتاج دی چي آس غلام ته ورکړي، نو ځکه په دې صورت کي به شرط د مفید کېدلو باوجود لغو کیږي او هغه لره به هیڅ اعتبار نه وي.

<u>وإن قال: احفظها في هذا البيت</u>: او که مودِع (مالک) ومودَع ته ووایي چي "ته د خپل کور په دویمه خونه کي دا ودیعت محفوظ کړه!"، لېکن مودَع د خپل کور په څلورمه خونه کي هغه محفوظ کړي او د دواړو خونو غولی (صحن) یو وي، نو مودَع نه ضامن کیږي؛ ځکه چي د حفاظت په حواله سره د یوه کور په دوو خونو کي فرق نه وي، نو ځکه مودَع به د مودِع (مالک) د حکم مخالفت کونکی نه شمارل کیږي، فلا يضمن. صاحب د کفایې رَحِمَهُ الله لیکلي دي چي دلته د ضمان نه لازمېدلو مسئله مبني بر استحسان ده. کنې قیاساً مودَع ضامن کیږي؛ ځکه چي د حفاظت په حواله سره په دوو خونو کي هم فرق وي، په دې توګه چي یوه خونه د یو چا د کور سره متصله وي او د هغې په هکله دا خطره نه وي چي غل به د هغې په دېوال کي سوری او نقب (نغم) جوړ کړي او مال به یووسي، لېکن بله خونه د لاري او ګلي سره متصله وي چي له هغې څخه غل (نقب زن) په آسانه توګه د سوري او نقب جوړولو د لاري مال وړلای سي لهذا په هغه خونه کي د غلا خطره او امکان زیات وي، نو ځکه په پورتني صورت کي به هم مودَع د مودِع د حکم مخالفت کونکی وي، فيضمن. او که چیري واقعتاً او ظاهراً په دواړو خونو کي فرق وي او د حفاظت په حواله سره یوه خونه له بلي خوني څخه زیاته محفوظه وي، نو په دې صورت کي ښکاره خبره ده چي د مودِع(مالک) د مخالفت کولو په وجه مودَع ضامن کیږي. همدارنګه مودِع(مالک) چي کوم کور ټاکلی وي، له هغه څخه بغیر په بل کور کي د ودیعت په محفوظه کولو سره هم مودع ضامن کیږي، ځکه کله چي په دوو خونو کي هم فرق راځي، نو په دوو کورنو کي خو به د ځمکي او آسمان فرق وي.

## بل چا ته وديعت ورکول او د هغه په قبضه کي وديعت ضايع کېدل

قَالَ: وَمَنْ أَوْدَعَ رَجُلًا وَدِيْعَةً او که څوک بل چا ته وديعت [امانت] کښېښودي فَأَوْدَعَهَا آخَرَ او دا سړى [مودَع] هغه وديعت بل چا ته کښېښودي فَهَلَكَتْ بيا هغه وديعت هلاک سي فَلَهُ أَنْ يُضَمِّنَ الْأَوَّلَ وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُضَمِّنَ الْآخَرَ نو مودِع [مالک] ته دا اختيار سته چي له اول مودَع څخه ضمان [تاوان] واخلي او هغه ته دا اختيار نسته چي له دويم مودَع څخه ضمان واخلي [يعني په دې صورت کي مالک صرف له اول مودَع څخه د وديعت تاوان اخيستلای سي، نه له دويم مودَع څخه] وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دى وَقَالَا❁: لَهُ أَنْ يُضَمِّنَ أَيَّهُمَا شَاءَ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي ده ته دا اختيار سته چي په دوى دواړو کي له هر يوه څخه د ده خوښه وي ضمان واخلي فَإِنْ ضَمَّنَ الْآخَرَ نو که چيري مودِع له دويم مودَع څخه ضمان واخلي رَجَعَ عَلَى الْأَوَّلِ نو دويم مودَع به پر اول مودَع رجوع کوي [يعني هغه به له اول مودَع څخه تاوان (مال) اخلي] لَهُمَا: أَنَّهُ قَبَضَ الْمَالَ مِنْ يَدِ ضَمِيْنٍ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي دويم مودَع د يو ضامن [ذمه وار] کس له قبضې څخه مال اخيستى دى فَيَضْمَنُهُ نو ځکه هغه به هم ضامن کيږي كَمُوْدَعِ الْغَاصِبِ لکه د مودَع غاصب وَهٰذَا لِأَنَّ الْمَالِكَ لَمْ يَرْضَ بِأَمَانَةِ غَيْرِهِ او دا [حکم] په دې وجه دی چي مالک له اول مودَع څخه بغير د بل چا په امانت راضي نه دی فَيَكُوْنُ الْأَوَّلُ مُتَعَدِّيًا بِالتَّسْلِيْمِ وَالثَّانِيْ بِالْقَبْضِ نو اول مودَع به د ورسپارلو او دويم مودَع به د قبضه کولو [اخيستلو] په وجه تعدی کونکی وي فَيُخَيَّرُ بَيْنَهُمَا نو ځکه مودِع [مالک] ته به د دوى په مينځ کي اختيار ورکول کيږي غَيْرَ أَنَّهُ إِنْ ضَمَّنَ الْأَوَّلَ خو که مالک له اول مودَع څخه ضمان واخلي لَمْ يَرْجِعْ عَلَى الثَّانِيْ نو اول مودَع به پر دويم مودَع رجوع نه کوي لِأَنَّهُ مَلَكَهُ بِالضَّمَانِ فَظَهَرَ أَنَّهُ أَوْدَعَ مِلْكَ نَفْسِهِ ځکه چي په ضمان ورکولو سره اول مودَع د مال وديعت مالک سو او دا ښکاره سوه چي [ګواکي] هغه خپل ملکيت [دويم مودَع ته] ايښى دى وَإِنْ ضَمَّنَ الثَّانِيْ او که مودِع [مالک] له دويم مودَع څخه ضمان واخلي رَجَعَ عَلَى الْأَوَّلِ نو هغه به پر اول مودَع رجوع کوي لِأَنَّهُ عَامِلٌ لَهُ ځکه چي دويم مودَع د هغه لپاره

---

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الخانية (ج:۴، ص:۳۴۶)، وملتقى الأبحر (ج:۳، ص:۳۷۵)، والدر المختار (ج:۴، ص:۵۵۶). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۲۰]

کار کونکی دئ فَيَرْجِعُ عَلَيْهِ بِمَا لَحِقَهُ مِنَ الْعُهْدَةِ نو دويم مودَع به پر هغه رجوع کوي په هغه ذمه واری [تاوان] سره کوم چي ده ته رسېدلی دی وَلَهُ: أَنَّهُ قَبَضَ الْمَالَ مِنْ يَدِ أَمِينٍ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي دويم مودَع د امين [امانت ساتونکي] له قبضې څخه مال اخيستی دی لِأَنَّهُ بِالدَّفْعِ لَا يَضْمَنُ مَا لَمْ يُفَارِقْهُ ځکه اول مودَع محض په ورکولو سره نه ضامن کيږي تر څو چي [تر ورکولو وروسته] له هغه څخه جلا نه سي لِحُضُورِ رَأْيِهِ ځکه چي [تر مفارقت مخکي] د اول مودَع رايه په دې کي شامله وي فَلَا تَعَدِّيَ مِنْهُمَا لهذا د دوی دواړو له طرفه هيڅ تعدی [نا حقه تصرّف] موجود نه سو فَإِذَا فَارَقَهُ فَقَدْ تَرَكَ الْحِفْظَ الْمُلْتَزَمَ لېکن کله چي اول مودَع له هغه څخه جلا سي نو اول مودَع پر خپل ځان لازم کړی سوی حفاظت پرېښووی فَيَضْمَنُهُ بِذٰلِكَ نو ځکه د دې په پرېښوولو سره به هغه ضامن کيږي وَأَمَّا الثَّانِي فَمُسْتَمِرٌّ عَلَى الْحَالَةِ الْأُولٰى او پاته سو دويم مودَع نو هغه برابر پر اول حالت باقي دی وَلَمْ يُوجَدْ مِنْهُ صُنْعٌ او د هغه له طرفه هيڅ عمل [او نا حقه تصرّف] نه دی موجود سوی فَلَا يَضْمَنُهُ نو ځکه هغه به نه ضامن کيږي كَالرِّيحِ إِذَا أَلْقَتْ فِي حِجْرِهِ ثَوْبَ غَيْرِهِ لکه کله چي باد د يو سړي په غېږه کي د بل چا کپړه واچوي [نو هغه سړی نه ضامن کيږي].

**اللغات**: ﴿اودع﴾ د افعال ماضي: امانتاً ايښوول، ﴿يُضَمِّن﴾ د تفعيل مضارع ده: ضامن ګرځول، ضمان (تاوان) څني اخيستل، ﴿يُخَيِّر﴾ د مخکني باب مضارع مجهوله ده: اختيار ورکول، ﴿متعدی﴾ د تفعّل د باب اسم فاعل دی، چي د هغه يوه معنیٰ ده: تعدی او تجاوز کونکی، نا حقه تصرف کونکی، ﴿لَحِقَه﴾ د سمع ماضي ده: لاحق کېدل، متصل کېدل، ور سره يو ځای کېدل (رسېدل)، ﴿الْمُلْتَزَم﴾ د افتعال اسم مفعول دی: پر ځان لازم کړی سوی، اِلْتَزَمَ يَلْتَزِمُ اِلْتِزَامًا: پر ځان لازمول، ﴿مستمر﴾ د استفعال اسم فاعل دی: برابر جاري، مسلسل، ﴿صنع﴾ عمل، ﴿ألقت﴾ د افعال ماضي ده: غورځول، اچول، ﴿الريح﴾ باد، هوا.

**تشريح**: **مسئله**: دا ده که ادريس د وديعت په توګه د کپړې يو تان و خالد ته کښېښودي او خالد هغه تان و حامد ته کښېښودي، بيا د حامد په قبضه کي هغه تان هلاک او ضايع سي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ

الله په نیز مودِع (ادریس) صرف له اول مودَع یعني له خالد څخه ضمان اخیستلای سي او له دویم مودَع یعني له حامد څخه ضمان نه سي اخیستلای، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز مودِع (ادریس) ته اختیار دی که وغواړي نو له خالد څخه دي ضمان واخلي او که وغواړي نو له حامد څخه دي یې واخلي. لیکن کله چي مودِع له اول مودَع (خالد) څخه ضمان واخلي، نو دا مودَع به له دویم مودَع (حامد) څخه هیڅ څه واپس نه اخلي، او که چیري مودِع له دویم مودَع څخه ضمان واخلي، نو دویم مودَع به د ضمان مال (پیسې) له اول مودَع څخه اخلي.

**د صاحبینو دلیل**: دا دی چي د مودِع (ادریس) له رضا څخه بغیر دویم مودَع ته په ودیعت ورکولو سره اول مودَع په خپله د دې ودیعت ضامن (ضمین) سوی دی، لهذا دویم مودَع دا ودیعت له ضامن کس (ضمین) څخه اخیستی دی، نو ځکه اول مودَع به د ورکولو په وجه ضامن وي او دویم یو به د اخیستلو په وجه ضامن وي؛ ځکه چي د دواړو له طرفه تعدي موجوده سوه، نو ځکه مالک ته به له دواړو څخه د ضمان اخیستلو اختیار وي. ها! که چیري مالکُ له اول مودَع څخه ضمان واخلي، نو اول مودَع په دې وجه له دویم مودَع څخه هیڅ څه نه سي اخیستلای، ځکه چي د ضمان ورکولو په وجه اول مودَع د ودیعت مالک سو، او دویم مودَع د ده په حق کي امین او عامل دی او پر امین ضمان نه لازمیږي، همدا وجه ده که مالک له دې دویم مودَع څخه ضمن واخلي، نو دویم مودَع به له اول مودَع څخه د ضمان مال واپس اخلي؛ ځکه چي هغه امین دی او پر امین ضمان نه لازمیږي، ها! د مودِع (مالک) سره د آسانۍ او نرمۍ کولو لپاره هغه په عارضي توګه ضامن ګرځول سوی دی.

**د امام صاحب دلیل**: دا دی چي دلته دویم مودَع له ضامن (ضمین) څخه ودیعت نه دی اخیستی بلکي له امین څخه یې اخیستی دی؛ ځکه چي اول مودَع محض دویم مودَع ته په ورکولو سره نه ضامن کیږي، بلکي کله چي تر ورکولو وروسته له هغه ځای څخه جلا سي، نو ضامن کیږي او پر دویم مودَع اصلي ضمان هیڅکله نه لازمیږي؛ ځکه چي د هغه له طرفه هیڅ تعدي او نا حقه تصرف نه دی موجود سوی. لکه کله چي د تېز باد په وجه د یو سړي څادر (پټو) مثلاً د خالد په غېږه یا د هغه په کور کي ولوېږي، نو محض د څادر په راتللو سره خالد نه ضامن کیږي؛ ځکه چي د هغه له طرفه هیڅ تعدي او نا حقه تصرف نه دی سوی، همداسي دلته هم د دویم مودَع له طرفه هیڅ تعدي او نا حقه تصرف نه دی سوی، فلا یضمن.

## د يوه وديعت په باره کي د دوو کسانو دعوىٰ کول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ كَانَ فِي يَدِهِ أَلْفٌ فرمايي: او د چا په قبضه کي چي زر درهمه وي فَادَّعَاهُ رَجُلَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنَّهَا لَهُ أَوْدَعَهَا إِيَّاهُ بيا په هغه زر درهمو دوه خلک دعوىٰ وکړي چي له هغوى ځخه هر يو [دا دعوىٰ کوي چي] هغه زر درهمه زما دي او هغه ما ته قابض وديعتاً ايښي دي وَأَبَى أَنْ يَحْلِفَ لَهُمَا او قابض د دوى دواړو لپاره له قسم اخيستلو ځخه انکار وکړي [يعني کله چي له قابض ځخه د قسم اخيستلو غوښتنه وسي. چي ته داسي دا قسم واخله! چي زر درهمه د دوى نه دي، نو قابض له قسم ځخه انکار وکړي. او تاسو ته معلومه ده چي د دواړو لپاره له قسم اخيستلو ځخه د انکار کولو مطلب دا دى چي قابض د دواړو لپاره د زر درهمو اقرار کوي] فَالْأَلْفُ بَيْنَهُمَا وَعَلَيْهِ أَلْفٌ أُخْرَىٰ بَيْنَهُمَا نو هغه زر درهمه د دواړو مدعيانو په مينځ کي مشترک دي او پر قابض زر درهمه نور واجب دي چي هغه به هم د دوى په مينځ کي مشترک وي وَشَرْحُ ذَٰلِكَ أَنَّ دَعْوَىٰ كُلِّ وَاحِدٍ صَحِيحَةٌ او د دې تشريح دا ده چي [دلته] د هر يوه مدعي دعوىٰ صحيح ده لِاحْتِمَالِهَا الصِّدْقَ ځکه چي د دوې د رښتيا والي احتمال سته فَيَسْتَحِقُّ الْحَلِفَ عَلَى الْمُنْكِرِ بِالْحَدِيثِ لهذا د حديث له رويه به هر مدعي پر منکر [قابض] د قسم اخيستلو مستحق وي وَيُحَلَّفُ لِكُلِّ وَاحِدٍ عَلَى الِانْفِرَادِ او له هغه [قابض] ځخه به د هر يوه لپاره جلا قسم اخيستل کيږي [يعني قاضي به په قابض د هر مدعي لپاره جلا قسم اخلي] لِتَغَايُرِ الْحَقَّيْنِ ځکه چي د دواړو حقونه سره جلا دي وَبِأَيِّهِمَا بَدَأَ الْقَاضِي جَازَ او په هر يوه چي قاضي شروع وکړي، جائز دي لِتَعَذُّرِ الْجَمْعِ بَيْنَهُمَا وَعَدَمِ الْأَوْلَوِيَّةِ ځکه [په يوه وخت کي] د دواړو تر مينځ جمع کول نا ممکن دي او ځکه چي اولىٰ والي نسته [يعني يو تر بل اولىٰ او مقدم نه دى] وَلَوْ تَشَاحَّا او که چيري دوى دواړه [د مخکي قسم اخيستلو لپاره] تنازع [او اختلاف] وکړي [يعني هر يو ووايي چي اول دي زما لپاره له قابض ځخه قسم واخيستل سي] أَقْرَعَ بَيْنَهُمَا نو قاضي دي د دوى په مينځ کي قرعه اندازه وکړي تَطْيِيبًا لِقَلْبِهِمَا وَنَفْيًا لِتُهْمَةِ الْمَيْلِ د دې لپاره چي د دواړو زړونه خوشاله سي او [له قاضي ځخه] د طرفدارۍ کولو تهمت ليري سي ثُمَّ إِنْ حَلَفَ لِأَحَدِهِمَا بيا چي کله د يوه لپاره له قابض ځخه قسم واخيستل سي يُحَلَّفُ لِلثَّانِي نو د دويم مدعي لپاره به هم قسم ځني اخيستل کيږي فَإِنْ حَلَفَ او که چيري قابض قسم واخلي

[چي هو! په الله قسم! دا زر درهمه د دوی نه دي، یا مثلاً په الله! قسم! دوی په خپله دعویٰ کي دروغجن دي] فَلَا شَيْءَ لَهُمَا نو د دوی لپاره هيڅ شی نسته [يعني په دې صورت کي د دواړو مدعيانو حق ختميږي] لِعَدَمِ الْحُجَّةِ ځکه چي دليل موجود نه سو وَإِنْ نَكَلَ أُعْطِيَ لِلثَّانِي او که چيري قابض له قسم اخيستلو څخه انکار وکړي يعني د دويم مدعي لپاره يُقْضَى لَهُ نو د دويم مدعي لپاره به [د زرو درهمو] فيصله کيږي لِوُجُودِ الْحُجَّةِ ځکه چي دليل موجود سو وَإِنْ نَكَلَ لِلْأَوَّلِ او که قابض د اول مدعي لپاره له قسم اخيستلو څخه انکار وکړي يُحَلَّفُ لِلثَّانِي نو د دويم مدعي لپاره به قسم ځني اخيستل کيږي وَلَا يُقْضَى بِالنُّكُولِ او د انکار په وجه به د اول مدعي لپاره [سمدستي] فيصله نه کيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَقَرَّ لِأَحَدِهِمَا په خلاف د هغه صورت کله چي قابض [صرف] د يوه لپاره اقرار وکړي لِأَنَّ الْإِقْرَارَ حُجَّةٌ مُوجِبَةٌ بِنَفْسِهِ ځکه چي اقرار داسي دليل دی کوم چي بذات خود [د حکم] واجبونکی دی فَيُقْضَى بِهِ نو ځکه د اقرار په وجه به [سمدستي د مُقَرلهٗ مدعي لپاره] فيصله کيږي أَمَّا النُّكُولُ إِنَّمَا يَصِيرُ حُجَّةً عِنْدَ الْقَضَاءِ او کوم چي له قسم څخه انکار کول دي نو هغه [صرف] د قاضي د فيصلې په وخت کي حجت ګرځي فَجَازَ أَنْ يُؤَخِّرَهُ لِيُحَلِّفَ لِلثَّانِي فَيَنْكَشِفَ وَجْهُ الْقَضَاءِ نو ځکه دا جائز دي چي هغه وځنډول سي، د دې لپاره چي له قابض څخه د دويم مدعي لپاره قسم واخيستل سي او د فيصلې جهت [او نوعيت] واضح سي وَلَوْ نَكَلَ لِلثَّانِي أَيْضًا او که چيري قابض د دويم مدعي لپاره هم له قسم اخيستلو څخه انکار وکړي يُقْضَى بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ نو د دواړو لپاره به د نصف، نصف فيصله کيږي عَلَى مَا ذُكِرَ فِي الْكِتَابِ لکه څرنګه چي په متن کي ذکر سوي دي لِاسْتِوَائِهِمَا فِي الْحُجَّةِ ځکه چي اوس دوی په دليل کي سره برابر دي كَمَا إِذَا أَقَامَا الْبَيِّنَةَ لکه [په هغه صورت کي چي د دواړو لپاره د نصف، نصف فيصله کيږي] کله چي دواړه بيّنه پيش کړي وَيَغْرَمُ أَلْفًا أُخْرَى بَيْنَهُمَا او قابض به د نورو زر درهمو [هم] ضامن کيږي لِأَنَّهُ أَوْجَبَ الْحَقَّ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِبَذْلِهِ أَوْ بِإِقْرَارِهِ ځکه چي قابض په خپل فعل [انکار] يا په خپل اقرار سره په دوی کي د هر يوه لپاره حق واجب کړی دی وَذَلِكَ حُجَّةٌ فِي حَقِّهِ او دا [اقرار يا بذل] د دې قابض په حق کي حجت دی وَبِالصَّرْفِ إِلَيْهِمَا صَارَ قَاضِيًا

نِصْفَ حَقِّ كُلِّ وَاحِدٍ بِنِصْفِ حَقِّ الْآخَرِ او د دواړو لپاره د زر درهمو په ګرځولو سره قابض د يوه د نصف حق په ذريعه د بل يوه د نصف حق اداء کونکی وګرځېدی [يعني کله چي قابض هغه مقبوضه زر درهمه د دواړو مدعيانو په مينځ کي تقسيم کړل، نو قابض له هغوی څخه د هر يوه د نصف حق په ذريعه د بل يوه د نصف حق اداء کونکی سو] فَيَغْرَمُهُ نو ځکه به هغه د نصف حق [يعني د نورو زر درهمو] ضامن کيږي فَلَوْ قَضَى الْقَاضِيْ لِلْأَوَّلِ حِيْنَ نَكَلَ او که چيري په هغه وخت کي کله چي قابض [د اول مدعي لپاره] له قسم څخه انکار وکړي، قاضي [سمدستي] د اول مدعي لپاره فيصله وکړي ذَكَرَ الْإِمَامُ الْبَزْدَوِيُّ فِيْ شَرْحِ الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ أَنَّهُ يُحَلِّفُ لِلثَّانِيْ نو [په دې باره کي] امام بزدوي رَحِمَهُ الله د جامع صغير په شرح کي ذکر کړي دي چي د دويم مدعي لپاره به هم له قابض څخه قسم څخه اخيستل کيږي وَإِذَا نَكَلَ او که چيري هغه [د دويم مدعي لپاره] له قسم اخيستلو څخه انکار وکړي يَقْضِيْ بَيْنَهُمَا نو قاضي به د دواړو مدعيانو په مينځ کي [د زر درهمو] فيصله کوي لِأَنَّ الْقَضَاءَ لِلْأَوَّلِ لَا يُبْطِلُ حَقَّ الثَّانِيْ ځکه چي د اول مدعي په حق کي فيصله کول د دويم مدعي حق نه باطلوي لِأَنَّهُ يُقَدِّمُهُ إِمَّا بِنَفْسِهِ أَوْ بِالْقُرْعَةِ ځکه قاضي اول مدعي [له دويم مدعي څخه] په خپل اختيار يا په قرعه اندازۍ سره مخکي کوي وَكُلُّ ذٰلِكَ لَا يُبْطِلُ حَقَّ الثَّانِيْ او له دې څخه يو شی هم د دويم مدعي حق نه باطلوي وَ ذَكَرَ الْخَصَّافُ أَنَّهُ يَنْفُذُ قَضَاؤُهُ لِلْأَوَّلِ او امام خصاف رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي چي د اول مدعي په حق کي به د قاضي فيصله نافذيږي وَوَضَعَ الْمَسْأَلَةَ فِي الْعَبْدِ او امام خصاف رَحِمَهُ الله [د أَلف پر ځای] په عَبْد [غلام] کي مسئله وضع کړې ده [يعني هغه د زر درهمو پر ځای غلام ذکر کړی دی] وَإِنَّمَا نَفَذَ لِمُصَادَفَتِهِ مَحَلَّ الْاِجْتِهَادِ او [د اول مدعي په حق کي به] په دې وجه د قاضي فيصله نافذيږي ځکه چي هغه د اجتهاد سره متصل ده لِأَنَّ مِنَ الْعُلَمَاءِ مَنْ قَالَ: يَقْضِيْ لِلْأَوَّلِ وَلَا يَنْتَظِرُ ځکه بعضي علماؤ ويلي دي: چي قاضي به د اول مدعي په حق کي فيصله کوي او د دويم مدعي لپاره به انتظار نه کوي لِكَوْنِهِ إِقْرَارًا دَلَالَةً ځکه چي له قسم اخيستلو څخه انکار کول دلالتاً اقرار دی ثُمَّ لَا يُحَلِّفُ لِلثَّانِيْ: مَا هٰذَا الْعَبْدُ لِيْ بيا قاضي به د دويم مدعي لپاره له قابض څخه داسي قسم نه اخلي چي: دا غلام زما نه دی لِأَنَّ نُكُوْلَهُ لَا يُفِيْدُ بَعْدَمَا صَارَ لِلْأَوَّلِ ځکه کله چي هغه غلام د اول مدعي ګرځېدلی دی نو اوس [د دويم مدعي لپاره] له

قسم اخيستلو څخه د قابض انكار كول فايده نه كوي وَهَلْ يُحَلِّفُهُ: بِاللهِ مَا لِهٰذَا عَلَيْكَ هٰذَا الْعَبْدُ وَلَا قِيمَتُهُ وَهُوَ كَذَا وَكَذَا وَلَا أَقَلَّ مِنْهُ او آيا قاضي به له قابض څخه داسي قسم اخلي چي: په الله قسم! د دغه دويم مدعي لپاره نه پر تا دا غلام پاته دی او نه يې د هغه دومره او دومره قيمت او نه يې تر هغه كم قيمت پر تا پاته دی. قَالَ: يَنْبَغِيْ أَنْ يُحَلِّفَهُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ نو امام خصاف رَحِمَهُ الله [په دې باره كي] ويلي دي: چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز له قابض څخه دا قسم اخيستل پكار دي خِلَافًا لِأَبِي يُوسُفَ په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله بِنَاءً عَلٰى أَنَّ الْمُودَعَ إِذَا أَقَرَّ الْوَدِيعَةَ وَدَفَعَ بِالْقَضَاءِ إِلٰى غَيْرِهِ او دا اختلاف پر دې مبني دی چي كه مودَع د يو چا لپاره د وديعت اقرار وكړي حال دا چي هغه د قاضي په فيصله سره بل چا ته وديعت وركړي وي يَضْمَنُهُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دا مودَع [د مُقَر لهٗ لپاره] ضامن كيږي خِلَافًا لَهُ په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله وَهٰذِهِ فُرَيْعَةُ تِلْكَ الْمَسْأَلَةِ او دا مسئله [يعني د "تحليف القاضي للمودَع الثاني بعد قضائه للأول" مسئله] د دغه اختلافي مسئلې فرع ده وَقَدْ وَقَعَ فِيهِ بَعْضُ الْإِطْنَابِ او په دغه اختلافي مسئله كي [په مبسوط كي] څه طوالت [او تفصيل] هم واقع سوی دی.

**اللغات**: ﴿يَحْلِفُ﴾ د ضرب له بابه د مضارع صيغه ده: په خپله قسم اخيستل (قسم كول)، ﴿يُحَلِّفُ﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: په بل چا قسم اخيستل، له بل چا څخه قسم اخيستل، ﴿يستحق﴾ د استفعال مضارع ده: مستحق كېدل، حقداره كېدل. ﴿التغاير﴾ د تفاعل مصدر دی: اختلاف، توپير، يو له بل څخه جلا كېدل، ﴿تَشَاحَّا﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده، له شُحّ څخه مشتق دی كوم چي بخل او حرص ته وايي. لكه څرنګه چي په عربي كي ويل كيږي: "تَشَاحَّ الرَّجُلَانِ عَلٰى هٰذَا الأَمْرِ" دوو خلكو پر دغه شي حرص وكړی يعني هر يوه دا غوښتل چي زما څخه فوت نه سي، "أَيْ حَرَصَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلٰى أَنْ لَا يَفُوْتَهُ هٰذَا الأَمْرِ"، دلته ځني مراد تنازع ده يعني جنګ او جنجال كول دي. لكه څرنګه چي په حاشيه كي ذكر سوي دي، ﴿أقرع﴾ د افعال ماضي ده: قرعه اندازي كول. ﴿تطييب﴾ د تفعيل مصدر دی: ښه كول، خوشاله

کول، دلجويي (دل اسايي) کول. ﴿الميل﴾ د ضرب مصدر دی: ميلان کول، طرفداري کول. ﴿يغرم﴾ د سمع مضارع ده: تاواني کېدل، ضامن کېدل، يعني تاوان (ضمان) پر لازمېدل. ﴿نَكَلَ﴾ د فتح ماضي ده (او په يوه لغت کي د سمع له بابه هم راځي): له قسم څخه انکار کول. ﴿نفذ﴾ د نصر ماضي ده: نافذېدل، جاري کېدل، پوره کېدل. ﴿مصادفة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو شی د بل شي سره مخامخ کېدل، متصل کېدل، واقع کېدل. ﴿فريعة﴾ د فرع تصغير دی: فرع، ښاخ. ﴿الإطناب﴾ د افعال د باب اسم مصدر دی: طوالت (اوږدوالی)، مبالغه.

**تشريح: صورت د مسئلې**: دا دی که (مثلا) د خالد سره زر درهمه موجود وي، بيا دوه خلک مثلاً ادريس او نعمان په هغه دعوىٰ وکړي او هر يو ووايي چي "دا زر درهمه زما دي او دا ما وخالد ته وديعتاً (امانتا) ورکړي دي"، حال دا چي خالد د دوی دواړو له دعوې څخه منکر وي، نو په دې حديث "البَيِّنَةُ عَلَى المُدَّعِيْ وَالْيَمِيْنُ عَلىٰ مَنْ أَنْكَرَ" (بينه پېشول پر مدعي دي او قسم اخيستل پر منکر دي) په عمل کولو سره که دغه مدعيان بينه پېش نه کړی سي نو ښکاره خبره ده چي پر منکر قسم اخيستل لازم دي چي هغه دلته قابض (خالد) دی (چي د هغه په قبضه کي زر درهمه دي)، او څرنګه چي دلته دوه خلک مدعيان دي او د دواړو دعوىٰ يو له بل څخه جلا ده، نو ځکه قابض (منکر) به د دواړو لپاره جلا قسم اخلي (او قسم به مثلاً په داسي الفاظو سره اخلي چي "په الله قسم! دا زر درهمه د دغه مدعي نه دي او ده ما ته وديعتاً نه دي ايښي)، نو که چيري هغه د دواړو لپاره له قسم اخيستلو څخه انکار وکړي (يعني داسي ووايي چي زه دا قسم نه اخلم چي دا زر درهمه د دوی نه دي)، نو د هر يوه په حق کي به د پنځه سوه درهمو فيصله کيږي (يعني هر مدعي ته به پنځه سوه ورکول کيږي) او پر قابض د دوی لپاره پنځه، پنځه سوه درهمه نور واجبيږي (يعني د هر يوه لپاره پر قابض پنځه سوه درهمه قرض پاتيږي چي هغه به وروسته قابض ورکوي)، او که چيري قابض د يوه مدعي لپاره قسم واخلي (يعني داسي ووايي چي په الله قسم! دا زر درهمه د هغه نه دي او هغه ما ته دا وديعتاً نه دي راکړي) او د دويم مدعي په حق کي له قسم څخه انکار وکړي (مثلا داسي ووايي چي زه پر دې قسم نه اخلم چي دا زر درهمه د هغه نه دي)، نو د دې دويم مدعي دعوىٰ ثابتيږي او د هغه لپاره به د ټوله زر درهمو فيصله کيږي.

ها! که چیري قابض د اول مدعي لپاره انکار وکړي، نو محض د دې اول په حق کي په انکار کولو سره به د هغه لپاره فیصله نه کیږي، بلکي د دویم مدعي په حق کي به د منکر د قسم انتظار کیږي، نو که چیري هغه د دویم مدعي لپاره هم له قسم اخیستلو څخه انکار وکړي، نو د دواړو لپاره به د نصف، نصف یعني د پنځه، پنځه سوه نغدو درهمو او د پنځه، پنځه سوه قرض فیصله کیږي. او که چیري قابض د دویم مدعي لپاره قسم واخلي (چي دا زر درهمه د هغه نه دي)، نو د اول مدعي په حق کي به د ټوله زر درهمو فیصله کیږي.

باقي عبارت واضح دی کوم چي له ترجمې څخه هم معلومیږي.

وذكر الخصاف إلخ: د دې حاصل دا دی چي امام خصاف رَحِمَهُ الله دغه پورتنی مسئله د غلام په هکله وضع کړې ده او داسي یې ویلي دي چي: که یو غلام د یو چا په قبضه کي وي او بیا دوه خلک په هغه دعویٰ وکړي او هریو ووایي چي "دا زما غلام دی او دا ما قابض ته ودیعتاً ورکړی دی"، لېکن دوی دواړه بیّنه پېش نه کړی سي او کله چي له قابض (منکر) څخه د قسم اخیستلو نوبت راسي، نو هغه د اول مدعي لپاره له قسم اخیستلو څخه انکار وکړي، نو قاضي به د همدې اول مدعي لپاره د ټوله غلام فیصله کوي او د دویم مدعي لپاره به له قابض څخه د قسم اخیستلو انتظار نه کوي؛ ځکه چي نکول یعني له قسم څخه انکار کول دلالتاً اقرار کول دي، او د اقرار په صورت کي سمدستي فیصله کیږي او د بل مدعي لپاره له قابض څخه د قسم اخیستلو ته انتظار نه کیږي، نو ځکه په دې مسئله کي به سمدستي (بېله ځنډه) د اول مدعي په حق کي فیصله کیږي. او تر دې وروسته به د دویم مدعي لپاره له قابض څخه داسي قسم نه اخیستل کیږي چي "دا غلام د هغه نه دی"؛ ځکه اوس که څه هم قابض انکار وکړي، نو هغه فایده نه کوي؛ ځکه دا غلام خو مخکي لا د اول مدعي گرځېدلی دی، لهذا اوس هغه دویم مدعي ته نه سي حاصلېدای. له همدې کبله د امام خصاف رَحِمَهُ الله رایه دا ده چي په داسي معامله کي د فیصله کولو ښه طریقه دا ده چي قاضي د دویم مدعي لپاره له قابض څخه داسي قسم واخلي چي " پر ما نه د دویم مدعي لپاره دا غلام پاته دی او نه یې پر ما د هغه قیمت یا د هغه په هکله یو بل حق پاته او واجب دی". د دې لپاره چي قابض په هره توگه له ضمان څخه بري سي او پر هغه قیمت هم واجب نه سي، لېکن دا حکم د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دی. د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي له منکر څخه به داسي قسم (مذکوره قسم) نه اخیستل کیږي.